مظاهر حق

د مشكوة المصابيح پښتو شرحه

تاليف

علامه نواب محمد قطب الدين خان دهلوی

تشريح او ترجمه

مولانا عبدالله جاويد غازی پوری (فاضل دار العلوم ديوبند)

نهم جلد ۹

۱. د حديثونو د اعراب سره
۲. تحت لفظي ترجمه
۳. د حديثونو تخريج
۴. د لغاتو حل

كتاب الفتن

كتاب الفضائل والشمائل

بسم الله الرحمن الرحیم

(د مشکٰوة المصابیح پښتو شرحه)

مظاهر حق

تالیف: نواب محمدقطب الدین خان دهلوي رحمة الله علیه

ترتیب او تزئین: مولاناعبدالله جاوید غازي پوري (فاضل دیوبند)

خپرندوی: صداقت خپرندویه ټولنه

پښتو ژباړه: محمد رسول سعید

تصحیح کوونکي: بسم الله رحیمي، مولوي عبدالکریم کریمي، مولوي عبدالجبار

لومړی چاپ: ۱۳۹۲ش - ۲۰۱٤ ع.

پنځم چاپ :۱۳۹۹ل. / ۲۰۲۰م.

د خپرونو لړ: ۱۸۳

چاپ شمېر: ۱۰۰۰ ټوکه

د تر لاسه کولو ځایونه:

صداقت خپرندویه ټولنه-کندهار

اوله ناحیه، نوی سړک- کریم اعتماد مارکېټ

Sadaqat.books@gmail.com / ۰۷۰۰۳۰۵۴۰۷

کندهار: صداقت خپرندویه ټولنه- ارگ بازار- قلم او کتاب مارکېټ **۰۷۰۰۳۰۹۲۴۴** .

کابل: صداقت خپرندویه ټولنه،کوټه سنگي مینه یار مارکېټ او **اکسوس کتاب پلورنځی**. **هلمند** :تاج منور خپرندویه ټولنه. **هرات:** صداقت کتاب پلورنځی- کوچه گدام. **جلال آباد:** مومند خپرندویه ټولنه.ننگرهار مارکېټ. **غزني:** نعماني کتاب پلورنځی. **پکتیکا:** مجاهد کتاب پلورنځی. **خوست:** اسلامي کتاب پلورنځی.

د مظاهر حق نهم جلد فهرست

بَابُ اَشْرَاطِ السَّاعَةِ

(د قيامت د نښو بيان)

(شرط)، د راء په وړغندي سره معنى يې د يو شي د بل شي سره يو ځاى كول يا د يو شي لازمول دي لكه چي ويل كيږي كه داسي وي نو داسي به وسي، جمع يې شروط ده، او (شَرَط) د راء په زور سره معنى يې د نښي ده يعني هغه شى چي يو پېښېدونكى شى ظاهر كړي، جمع يې اشراط ده نو دلته د اشراط څخه مراد هغه نښي دي چي د قيامت واقع كېدل څرګندوي، او په لغت كي د شرط معنى د يو شي د اول، د مال د زوال او لږ مال هم ليكلې ده.

(ساعة): د شپې او ورځي د برخو څخه يوې برخي ته هم وايي، دغه لفظ د اوسني وخت په معنى كي هم استعماليږي نو قيامت يا د قيامت راتلو ته ساعت ځكه ويل كيږي چي د هغه وخت معلوم نه دى او هر وخت راتللاى سي تر دې چي راتلونكى هر وخت دا امكان لري چي هغه وخت قيامت نه راسي.

علماؤ وضاحت كړى دى چي د اشراط ساعت يعني د قيامت د نښو څخه مراد هغه نسبتا كوچني شيان دي چي د قيامت راتلو مخكي به واقع سي چي خلك به يې د قيامت نښي نه ګڼي، د مثال په توګه د مينځي د خپل بادار زېږول، لوړي ماڼۍ جوړول او په هغو فخر كول، د جهل، ناپوهۍ، زنا او شرابو زياتوب، د نارينوو كمي او د ښځو زياتوب، او داسي نوري خرابۍ چي د هغو يادونه به په دغه باب كي راسي.

د اشراط وضاحت په دغه معنى سره ځكه كيږي چي هغه لوى نښي د قيامت به قيامت ته نږدې څرګنده سي او د هغو يادونه به په راتلونكي باب كي راسي چي د دغه كوچنيو نښو څخه علاوه دي،

پاته سوه دا خبره چي خلك به د ذكر سوو شيانو د قيامت د نښو منلو څخه ولي انكار كوي، نو د دې وجه به دا وي چي داسي شيان به په دغه دنيا كي د تل څخه را روان وي نو خلك به دا ګڼي چي دغه شيان خو په دنيا كي د تل څخه را روان دي اوس په دې كي څه ځانګړتيا پيدا سوې ده چي د قيامت نښي ورته ويل كيږي، څرګنده دي وي چي د ذكر سوو شيانو محض وجود د قيامت نښي نه دي بلكه د دغه شيانو زياتوب او زيات واقع كېدل د قيامت نښي دي، يوه بله خبره هم ښودل ضروري ده چي په دې باب كي د حضرت امام مهدي عليه السلام د څرګندېدو يادونه هم

ده ، حال دا چي د هغه څرګندېدل د حضرت عيسى عليه السلام د نزول او د دجال د پيدا کېدو سره تعلق لري، نو په دې اړه څه اشکال واقع کېدل پکار نه دي ځکه چي په دغه باب کي د حضرت مهدي عليه السلام د څرګندېدو يادونه د جنګونو او فتنو د ذکر په څنګ کي سوې ده نه په ځانګړې توګه ، په دې اړه نور زيات وضاحت به په راتلونکي باب کي راسي.

اَلْفَصْلُ الْأَوَّلُ . (لومړی فصل)

د قيامت نښي

﴿۵۲۰۳﴾: عَنْ اَنَسٍ قَالَ سَمِعْتُ رَسُولَ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ يَقُولُ إِنَّ

د حضرت انس رضي الله عنه څخه روايت دى چي ما د رسول الله ﷺ څخه دا اوريدلي دي چي

مِنْ أَشْرَاطِ السَّاعَةِ أَنْ يُرْفَعَ الْعِلْمُ وَيَكْثُرَ الْجَهْلُ وَيَكْثُرَ الزِّنَا وَيَكْثُرَ شُرْبُ

د قيامت نښي دا دي : علم به پورته کړل سي ، جهالت به زيات سي ، زنا به ډېره کيږي، شراب به

الْخَمْرِ وَيَقِلَّ الرِّجَالُ وَتَكْثُرَ النِّسَاءُ حَتَّى يَكُونَ لِخَمْسِينَ امْرَأَةً الْقَيِّمُ

الْوَاحِدُ، وفي رواية يقل العلم ويظهر الجهل . متفق عليه.

زيات څښل کيږي د نارينوو شمېر به کم سي د ښځو شمير به زيات سي تر دې چي د پنځوسو ښځو خير خواهي کونکی به يو سړی وي او په يوه روايت کي دا الفاظ دي چي علم به کم سي او جهالت به زيات سي . بخاري او مسلم.

تخريج: صحيح البخاري (فتح الباري): ۱۱\۱۷۸، رقم: ۸۰، ومسلم ۴\۲۰۵۶، رقم: ۹- ۲۶۷۱.

د قيامت يوه خاص نښه

﴿۵۲۰۴﴾: وَعَنْ جَابِرِ بْنِ سَمُرَةَ قَالَ سَمِعْتُ النبي صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ يَقُولُ إِنَّ بَيْنَ يَدَيِ السَّاعَةِ كَذَّابِينَ فَاحْذَرُوهُمْ . رواه مسلم.

د حضرت جابر بن سمره رضي الله عنه څخه روايت دى چي ما د رسول الله ﷺ څخه اوريدلي دي چي فرمايل يې د قيامت د راتلو څخه مخکي به ډېر درواغجن پيدا سي تاسو د هغوئ څخه ځان

وساتئ . مسلم.

تخريج: صحيح مسلم ۳\ ۱۴۵۴، رقم: ۱۰- ۱۸۲۲.

تشريح: د دروا‌غجن څخه مراد يا خو هغه خلک دي چې د درواغو حديثونه جوړوي يا هغه خلک مراد دي چې د نبوت درواغجنه دعوه کوي او زيات هغه خلک مراد دي چې بدعتونه رواجوي د خپلو غلطو عقيدو او خيالاتو د صحيح او جائز ثابتولو لپاره د هغه نسبت صحابه کرامو او مخکنيو بزرګانو ته کوي.

ابن ملک رحمة الله عليه په شرح مشارق کې ليکلي دي چې د (فاحذروهم) جمله په صحيح مسلم کې ذکر سوې نه ده بلکه ځينو حضراتو ويلي دي چې دغه جمله په اصل حديث کې يعني د رسول الله ﷺ د ارشاد برخه نه ده بلکه د حضرت جابر رضي الله عنه خپل قول دی، او په جامع کې دغه روايت بعينه داسې منقول دی لکه څرنګه چې دلته په مشکوة کې نقل سوی دی، اوصاحب جامع ويلي دي چې دغه روايت امام احمد رحمة الله عليه او مسلم رحمة الله عليه د حضرت جابر بن سمره رضي الله عنه څخه نقل کړی دی.

﴿۵۲۰۵﴾: وَعَنْ أَبِي هُرَيْرَةَ قَالَ بَيْنَمَا النَّبِيُّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ يُحَدِّثُ إِذْ

د حضرت ابوهريرة رضي الله عنه څخه روايت دی چې رسول الله ﷺ خبرې کولې چې

جَاءَ أَعْرَابِيٌّ فَقَالَ مَتَى السَّاعَةُ قَالَ إِذَا ضُيِّعَتْ الْأَمَانَةُ فَانْتَظِرْ السَّاعَةَ قَالَ

يو صحرايي سړی راغلی او د رسول الله ﷺ څخه يې پوښتنه وکړه چې قيامت به کله راځي؟ رسول الله ﷺ ورته وفرمايل هر کله چې امانت ضائع سي بيا ته د قيامت انتظار کوه، هغه ويل

كَيْفَ إِضَاعَتُهَا قَالَ إِذَا وُسِّدَ الْأَمْرُ إِلَى غَيْرِ أَهْلِهِ فَانْتَظِرْ السَّاعَةَ. رواه البخاري

امانت به څنګه ضائع سي؟ رسول الله ﷺ وفرمايل هر کله چې حکومت نااهلو ته وسپارل سي نو ته د قيامت انتظار کوه. بخاري.

تخريج: صحيح البخاري (فتح الباري): ۱\۱ ۱۴۱، رقم: ۵۹.

تشريح: د امانت څخه مراد د شريعت له لوري عائد سوي ذمه دارۍ او د دين احکام دي، لکه چې په قرآن کريم کې د (انا عرضنا الامانة) همدغه مفهوم دی، يا د امانت څخه د خلکو حقوق او د هغوئ امانتونه مراد دي، خلاصه دا چې رسول الله ﷺ د هغه صحرايي په پوښتنه څرګنده کړل

چي د قیامت تاکل سوی وخت د عالم الغیوب څخه پرته بل هیچا ته معلوم نه دی او نه الله ﷻ چا ته هغه ذریعه ښودلې ده چي په هغه سره د قیامت تاکل سوی وخت و پېژندل سي، مګر داسي نښي یې ټاکلي دي چي د قیامت څخه مخکي به څرګنده سي او دا به څرګنده سي چي اوس قیامت نژدې دی، نو د هغه نښو څخه یوه نښه د امانتونو ضائع کول دي چي خلک به په امانت کي خیانت کول پیل کړي.

د نااهل څخه مراد هغه خلک دي چي په ځان کي د حکومت او مشرتوب د شرطو نه لرلو په وجه د مشر کېدو حق نه لري لکه ښځي، ماشومان، ناپوهان، فاسقان، بخیل او داسي نور. همدارنګه کوم څوک چي په اصل قریشي نه وي هغه به هم په دغه باب کي د نااهل په ډله کي شمېرل کیږي که څه هم هغه د پاچاهانو دنسل څخه وي مګر ددغه شرط تعلق یوازي د خلافت سره دی، د حدیث ددغه برخي خلاصه داده که ددین او دنیا د چارو نظم د داسي سړي لاس ته ورسي چي هغه د ذمه دارۍ پوره کولو اهل نه وي نو یقینا د هغه چارو په ښه توګه تر سره کول به ممکن نه وي او ډول ډول خرابۍ به پکښي پیدا سي چي د هغه نتیجه به دا وي چي د خلکو حقوق به ضائع او تر پښنو لاندي کیږي او هر څوک به بې ارامه او پریشانه وي.

د (وسد) لفظ د مجهول په صیغه سره او د سین په شد سره یا بیله شده په اصل کي د و سادة څخه مشتق دی چي لغوي معنی یې د تکیې ده نو کوم چا ته چي یو کار وسپارل سي نو د هغه کار په اعتبار پر هغه سړي تکیه کیږي؟

د مال زیاتوب د قیامت د نژدې کېدو نښه ده

﴿۵۲۰۶﴾: وَعَنْهُ قَالَ قَالَ رَسُولَ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ لَا تَقُومُ السَّاعَةُ

د حضرت ابوهریره رضي الله عنه څخه روایت دئ چي رسول الله ﷺ وفرمایل : قیامت به را نه سي

حَتَّى يَكْثُرَ الْمَالُ وَيَفِيضَ حَتَّى يَخْرُجَ الرَّجُلُ زكاة مَالِهِ فَلَا يَجِدُ أَحَدًا

تر څو پوري چي مال او دولت دومره زیات نه سي چي په څلورو خواوو کي به د اوبو په ډول بهیږي تر دې چي خلک د خپل مال زکات وباسي

يَقْبَلُهَا مِنْهُ وَحَتَّى تَعُودَ أَرْضُ الْعَرَبِ مُرُوجًا وَأَنْهَارًا. رواه مسلم وفي رواية له قال تبلغ المساكين اهاب او يهاب

نو هيڅوک به يې قبول نه کړي او تر هغه وخته پورې به قيامت نه راځي تر څو پورې چې د عربو مځکه شنه ، باغونه او ويالو والا جوړه نه سي . مسلم او د مسلم په يوه روايت کې دا الفاظ دي چې قيامت به نه راځي تر څو پورې چې عمارتونه او آبادي آهاب يا يهاب ته نه رسيږي . (آهاب يا يهاب مدينې ته نژدې يو کلی دی).

تخريج: صحيح مسلم ۲\۷۰۱، رقم: ۶۰ – ۱۵۷.

د لغاتو حل: يهاب: هي موضع قرب المدينة (مدينې منورې ته نژدې يو ځای)

تشريح: (ويفيض) دغه لفظ په اصل کې عطف تفسيري دی يعنې د مال او دولت به داسې پراختيا وي چې د ځلورو خواوو څخه به د اوبو په ډول بهيږي او خلک به د خپل ضرورت او اړتيا څخه د ډېر زيات مال او دولت څښتنان وي .

اهاب او يهاب (په يوه نسخه کې د ياء په زېر سره دی يعنې يِهاب)، دغه دواړه لفظونه د سيمو نومان دي چې د مدينې شاوخوا واقع دي، په اهاب او يهاب کې د (او) حرف د تنويع لپاره دی ، د دوهم روايت د الفاظو مراد دا څرګندول دي چې په آخره زمانه کې به دومره ماڼۍ جوړې سي چې د هغو لړۍ به د ښار شاوخوا سيمو ته ورسيږي .

شيخ عبد الحق رحمة الله عليه ليکلي دي چې د اهاب لفظ د الف په زور سره د سحاب پر وزن دی او دا له مدينې څخه پر څو ميله فاصله باندې واقع د يو کلي نوم دی او دغه لفظ د الف په زېر سره هم منقول سوی دی .

د امام مهدي په اړه پيشګوئي

﴿۵۲۰۷﴾: وَعَنْ جَابِرٍ قَالَ قَالَ رَسُولُ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ يَكُونُ فِي آخِرِ الزَّمَانِ خَلِيفَةٌ يَقْسِمُ الْمَالَ وَلَا يَعُدُّهُ. و في رواية قال يكون في آخر امتي خليفة يحثي المال حثيا ولا يعده عدا. رواه مسلم

د حضرت جابر رضي الله عنه څخه روايت دئ چې رسول الله ﷺ وفرمايل : په آخري زمانه کې به يو خليفه وي (يعنې امام مهدي عليه السلام چې مال به په خلکو کې ښه وويشي او د ځان سره به يې نه جمع کوي ، او په يوه روايت کې دا الفاظ دي چې زما د امت په آخر کې به يو خليفه وي چې ډکې لپې مال به ويشي او شميري به يې نه . مسلم

تخريج: صحيح مسلم: ۴\۲۲۳۵، رقم: ۶۹ – ۲۹۱۴.

تشريح: د خليفه څخه مراد حضرت امام مهدي عليه السلام دى چي په آخره زمانه كي به څرګند سي، د حديث خلاصه داده چي د هغوئ د حكومت مالي حالت به ډېر ښه وي، د فتوحاتو او غنيمتو په ذريعه به د هغوئ د آمدني حساب نه وي.

مګر هغه به دغه مال او دولت د خپل شان او شوكت زياتولو او د خپل ژوند په عيش كي كولو ليپاره نه مصرفوي يا په جمع كولو سره به يې په خپلو خزانو كي نه جمع كوي لكه چي زموږ د زمانې د پاچاهانو رواج دى، بلكه هغه به د مسلمانانو د كاميابۍ او پرمختګ او د هغوئ د ارتياوو په پوره كولو كي مصرفوي او د خپل طبعي سخاوت په وجه به د دواړو لاسونو په ډكولو سره په خلګو ويشي.

د فرات سيند څخه د خزانې راوتلو پيشګوئي

﴿۵۲۰۸﴾: وَعَنْ أَبِي هُرَيْرَةَ قَالَ قَالَ رَسُولُ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ يُوشِكُ الْفُرَاتُ أَنْ يَحْسِرَ عَنْ كَنْزٍ مِنْ ذَهَبٍ فَمَنْ حَضَرَهُ فَلَا يَأْخُذْ مِنْهُ شَيْئًا. متفق عليه.

د حضرت ابوهريره رضي الله عنه څخه روايت دئ چي رسول الله صلى الله عليه وسلم وفرمايل: په نژدې وخت كي به د فرات رود وچ سي او تر هغه لاندې به د سرو زرو خزانه راووځي ځوک چي هغه وخت موجود وي هغه دې د دې څخه هيڅ نه اخلي، بخاري او مسلم

تخريج: صحيح البخاري (فتح الباري): ۱۳\۷۸، رقم: ۷۱۱۹، ومسلم ۴\۲۲۱۹، رقم: ۳۰- ۲۸۹۴.

تشريح: د هغه خزانې څخه د نه اخيستلو منع له دې كبله ده چي د هغه په وجه به د جګړې او قتل و قتال صورت پيدا نسي لكه چي په مخكني حديث كي وضاحت سوى دى، او ځينو حضراتو ليكلي دي چي د هغه خزانو څخه نه اخيستل ځكه منع دي چي په خاصه توګه د هغه خزانو څخه څه اخيستل به د آفاتو او مصيبتو د اثر سبب وي، او دا خبره د قدرت الهي د نښو څخه يوه نښه ده، او ځينو حضراتو دا ليكلي دي چي د دغه منع سبب دادى چي هغه خزانه به د مغضوب او مكروه مال په حكم كي وي لكه څرنګه چي د قارون خزانه وه نو د هغه خزانو څخه ګټه اخيستل به حرام وي.

﴿۵۲۰۹﴾: وَعَنْهُ قَالَ قَالَ رَسُولُ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ لَا تَقُومُ السَّاعَةُ

د حضرت ابو هریره رضی الله عنه څخه روایت دئ چي رسول الله ﷺ وفرمایل: قیامت به نه راځي تر څو

حَتَّى يَحْسِرَ الْفُرَاتُ عَنْ جَبَلٍ مِنْ ذَهَبٍ يَقْتَتِلُ النَّاسُ عَلَيْهِ فَيُقْتَلُ مِنْ

پوري چي د فرات رود وچ نه سي او تر هغه لاندي د سرو زرو غر راووځي خلک به د هغه خزانې تر لاسه کولو لپاره جنګ کوي او په هغه جنګ کونکو کي به

كُلِّ مِائَةٍ تِسْعَةٌ وَتِسْعُونَ وَيَقُولُ كُلُّ رَجُلٍ مِنْهُمْ لَعَلِّي أَكُونُ أَنَا الَّذِي أَنْجُو.

رواه مسلم

۹۹فیصده ووژل سي او په هغوئ کي به هر څوک دا وايي چي شاید زه ژوندی پاته سم او پر دغه خزانه قبضه وکړم. مسلم

تخریج: صحیح مسلم ۴\۲۲۱۹، رقم: ۲۹– ۲۸۹۴.

تشریح: په څرګنده دا معلومېږي چي یوه خبره په دوو مختلفو ځایو کي په مختلفو الفاظو بیان سوې ده نو د دواړو حدیثونو خلاصه دا ده چي د فرات سند لاندي به د سرو زرو یوه لویه خزانه راووځي چي د هغه اندازه به دغره برابر وي مګر دا هم کیدای سي چي دلته په حدیث کي د غره په اندازه د زرو د کومي خزانې ذکر چي سوی دی هغه ددغه خزانې څخه پرته ده چي د هغه یادونه په مخکني حدیث کي سوې ده او د زرو د غره څخه مراد د سرو زرو کان دی.

کله چي مځکه خپل خزانې راوغورځوي

﴿۵۲۱۰﴾: وَعَنْهُ قَالَ قَالَ رَسُولُ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ تَقِيءُ الْأَرْضُ أَفْلَاذَ

د حضرت ابو هریره رضی الله عنه څخه روایت دئ چي رسول الله ﷺ وفرمایل: مځکه به د خپل ځیګر

كَبِدِهَا أَمْثَالَ الْأُسْطُوَانِ مِنَ الذَّهَبِ وَالْفِضَّةِ فَيَجِيءُ الْقَاتِلُ فَيَقُولُ فِي هَذَا

ټوټې د باندي راوغورځوي چي د سرو او سپینو زرو د میلانو په ډول به وي چا چي ددغه مال لپاره خلک قتل کړي وي هغه به راسي او وايي به ایا ددغه مال تر لاسه کولو لپاره

قَتَلْتُ وَيَجِيءُ الْقَاطِعُ فَيَقُولُ فِي هَذَا قَطَعْتُ رَحِمِي وَيَجِيءُ السَّارِقُ فَيَقُولُ فِي هَذَا قُطِعَتْ يَدِي ثُمَّ يَدَعُونَهُ فَلَا يَأْخُذُونَ مِنْهُ شَيْئًا. رواه مسلم.

ما خلک قتل کړي دي بيا به هغه کس راسي چي هغه د خپلوانو سره تعلق قطع کړی وي او وايي به د دغه مال لپاره ما د خپلوانو سره تعلق ختم کړی وو بيا به غل راسي او وايي به ايا د دغه مال لپاره زما لاس پريکړل سوی دی په هغوئ کي به هيڅوک هم د دغه مال څخه هيڅ وانخلي او همداسي به يې پر ځای پرېږدي . مسلم.

تخريج: صحيح مسلم: ۲۲۳۱\۴، رقم: ۵۴- ۱۵۷.

تشريح: (افلاذ)، په اصل کي د فلذة جمع ده چي معنی يې د هر هغه شي د ټوټې ده چي هغه په اوږدوالي کي پرې سوی وی، په قاموس کي ليکلي دي چي د فلذ معنی د اوښ د اينې ده او د فلذة معنی د ځيگر د ټوټې ، د سرو او سپينو زرو د ټوټې او د غوښو د ټوټې ده .

څرکنده دي وي چي د مځکي د ځيگر د ټوټې څخه مراد د مځکي لاندي پټې خزانې يعني معدنيات دي لکه د اوښ تر ټولو اصل شی چي د هغه ځيگر دی او معدنيات د مځکو په شيانو کي تر ټولو زيات د توجه وړ او تر ټولو زيات غوره شی دی لکه څرنگه چي په نس کي ځيگر (اينه) تر ټولو غوره شی دی .

په هر حال د حديث خلاصه داده چي په آخره زمانه کي به د مځکي سينه ډيره پراخه سي او د ننه ټولي خزانې به د باندي راوباسي هري خوا ته به د معدنياتو کاروبار په زور سره جاري وي او په هر هيواد کي به د مختلفو ګټور او قيمتي شيانو کانونه را وايستل سي چي د هغو په ذريعه به انساني نسل د مال او دولت په پراختيا کي ډوب سي .

د آخري زمانې په باره کي يو پيشگوئي

﴿۵۲۱۱﴾ : وَعَنْهُ قَالَ قَالَ رَسُولُ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ وَالَّذِي نَفْسِي بِيَدِهِ لَا تَذْهَبُ الدُّنْيَا حَتّٰى يَمُرَّ الرَّجُلُ عَلَى الْقَبْرِ فَيَتَمَرَّغُ عَلَيْهِ وَيَقُولُ يَا لَيْتَنِي كُنْتُ مَكَانَ صَاحِبِ هٰذَا الْقَبْرِ وَلَيْسَ بِهِ الدِّينُ إِلَّا الْبَلَاءُ . رواه مسلم .

د حضرت ابو هريره رضي الله عنه څخه روايت دئ چي رسول الله ﷺ وفرمايل : په هغه ذات دي مي قسم وي د چا په لاس کي چي زما ساه ده دنيا به تر هغه وخته ختمه نه سي تر هغه چي يو سړی به پر يو قبر تېرېږي پر قبر به راوغورځيږي او وايي به چي کاشکي زه په دې قبر کي وای او هغه به دين دار نه وي بلکه په مصيبت کي به اخته وي . مسلم.

تخريج: صحيح مسلم: ۲۲۳۱\۴، رقم: ۴۵- ۱۵۷.

تشریح: علماء کرامو د حدیث د آخري جملې (او دا به د هغه دین نه وي ...الخ) دوه مطلبه بیان کړي دي، یو خو دا چي د دین څخه مراد عادت دی او دین د عادت په معنی کي هم راځي ، نو مطلب دادی چي کوم څوک له قبر سره تېرېږي او بیا بېرته قبر ته راسي او د خپل ذکر سوي خواهش اظهار وکړي نو د هغه بېرته راتلل او د خواهش اظهار کول به د هغه د عادت په توګه نه وي بلکه د هغه فتنو او مصیبتو په وجه به وي چي په هغو کي دی اخته وي، دوهم مطلب دادی چي د دین څخه مراد د هغه مشهوري معنی دین او مذهب دی ، په دغه صورت کي د دغه جملې وضاحت دادی چي د هغه قبر ته راتلل او هلته د خپل ذکر سوي خواهش څرګندول به د یو مصیبت او فتنې په وجه نه وي چي د هغه دین او د هغه اُخروي چارو ته د تاوان رسولو سبب وي بلکه د یو داسې مصیبت د اخته کېدو په وجه به وي چي هغه د ده دنیا ته تاوان رسولی وي یا تباه کړی یې وي، د دغه دواړو وضاحتو څخه پرته یو بل وضاحت دا هم کیدای سي چي د هغه قبر ته بېرته راتلل او د ذکر سوي خواهش څرګندول به د مرګ خواهش کول وي کله چي د هغه فتنې او مصیبت په وجه د هغه دین ځي او هغه وخت به د هغه سره د هغه فتنې او مصیبت د مضرو اثراتو څخه پرته بل هیڅ نه وي .

د یو اور په باره کي پشګوئي

﴿۵۲۱۲﴾: وَعَنْهُ قَالَ قَالَ رَسُولُ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ لَا تَقُومُ السَّاعَةُ حَتّٰى تَخْرُجَ نَارٌ مِنْ أَرْضِ الْحِجَازِ تُضِيءُ أَعْنَاقَ الْإِبِلِ بِبُصْرٰى. متفق علیه

د حضرت ابوهریره رضی الله عنه څخه روایت دئ چي رسول الله ﷺ وفرمایل : قیامت به تر هغه وخته پوري نه راځي تر څو چي د حجاز څخه یو اور راووځي چي د بصرې د اوښانو غاړي به روښانه کړي . بخاري او مسلم.

تخریج: صحیح البخاري (فتح الباري): ۱۳\۷۸، رقم: ۷۱۱۸، ومسلم ۴\۲۲۲۷، رقم: ۴۲- ۲۹۰۲.

تشریح: (بصری) د شام هیواد د یو ښار نوم دی چي د دمشق څخه پر درې پړاوه پروت دی، او حجاز د جزیرة العرب هغه سیمو ته وایي چي په هغو کي مکه او مدینه هم شامل دي، په دغه حدیث کي چي د کوم اور ذکر سوی دی د هغه په اړه په تواتر سره دا روایت بیانیږي چي د هغه اور د څرګندېدو پېښه رامنځته سوې ده او د هغه روایاتو څخه څرګندیږي چي که څه هم د هغه اور زیات اثر د مدینې منورې پر سیمه مشتمل وو مګر الله جل جلاله د رسول الله ﷺ د برکته د

مدينې ښارونه د هغه اور د آفت او تباهۍ څخه خوندي وساتل ، ويل کيږي چې په ۳ جمادي الثاني ۶۵۰ ھ ، د جمعې په ورځ هغه اور څرګند سو او تر ۲۷ رجب ۶۵۰ ھ د يکشنبې تر ورځې پورې يعني پرله پسې د وولس ورځو پورې څرګند وو ، راويانو د هغه کيفيت دا ليکلی دی چې ناڅاپه د حجاز له لوري هغه اور راڅرګند سو او داسې معلومېده چې د اور يو پوره ښار دی چې په هغه کې د قلعو او برجونو په ډول شيان موجود دي او د انسانانو رش دغه ښار راکشوي، د هغه اور لړۍ چې کوم غره ته رسيدل هغه به يې د شيشې او موم په ډول ويلي کوی ، د هغه اور په شغلو کې د برېښنا په ډول ګړزهاری او د رباب د موج په ډول جوش وو ، او دا محسوس کېده لکه په هغه اور کې دننه چې سره او شنه دريابونه وي، هغه اور په دغه کيفيت سره مدينې منورې ته راوسېدی مګر عجيبه خبره داده چې د هغه شغلو څخه کومه هواء مدينې منورې ته راتلل هغه يخه وه، علماؤ ليکلي دي چې د هغه اور لمبو د مدينې ټول ځنګلونه منور کړي وه تر دې چې د حرم او مدينې په ټولو کورونو کې د لمر د رڼا په ډول خپرې سوې وې خلکو به د شپې د هغه په ڼا کې خپل ټول کارونه کول، بلکه په دغه ورځو کې پر ټوله سيمه باندې د لمر او سپوږمۍ رڼا معطل او بې ځلا پاته سوې وه، د مکې مکرمې ځينو خلکو دا شاهدي ورکړل چې هغوئ د غه رڼا تر يمامه او بصری پورې ولېدل، ددغه اور له عجيبه ځانګړتياوو څخه يوه خاص خبره داده چې په هغه کې به ډبري هم په سوځلو سره سکاره سول مګر پر درختو يې هيڅ اثر نه وو ، ويل کيږي چې په ځنګل کې يوه ډېره لويه ډبره پرته وه چې د هغې نيمه برخه د حرم مدينه په حدودو کښې وه او نيمه برخه د حرم د حدودو څخه دباندې وه، اور د ډبري هغه برخه سکاره کړې وه کوم چې د حرم څخه دباندې وه مګر کله چې هغه نيمې برخې ته ورسېده چې په حرم کښې وه نو اور يخ سو او د ډبري هغه نيمه برخه بالکل خوندي پاته سوه. په هر حال دغه عجيب او غريب اور پر اهل مدينه باندې ډېره وېره خپره کړل خلکو په ژړا او زاری ددغه فتنې د دفع لپاره دعاوې کولې ، خپل عملي او ديني کوتاهيو ته متوجه سول د چا پر ذمه چې د چا حق وو د هغه ادا کول يې پيل کړل ، صدقه ، خيرات او غلامان ازادول يې پېل کړل ، د جمعې په شپه ټول د مدينې اوسېدونکي تر دې چې ښځې او ماشومان هم په حرم شريف کې جمع سول، ټول خلک د حجرې شريفي (روضې) څلورو خواوو ته سرتور ناست وه ژړا او زاری يې کولې او د الله ﷻ څخه يې د ساتنې او حفظ دعاوې غوښتلې نو الله ﷻ هغه اور د شمال په لور وګرځوی او مدينه منوره يې خوندي کړل ، علماؤ ليکلي دي چې د اور ظاهرېدل د قدرت الهي يوه عجيبه نښه وه ، په دغه کال کې په ټوله نړۍ کې د ډول ډول عجيبه او غريبو پېښو څرګندېدل وسول او د

هغه څخه لږ وخت وروسته په مختلفو سيمو کي د وژني او قتل و قتال پېښي رامنځته سوې چي د بغداد په ډول عظيم ښاريې برباد کړ او د تاتاريانو د فتنې په صورت کښي اسلامي نړۍ ته سخت تاوانونه ورسېدل.

د قيامت لومړنۍ نښه

﴿۵۲۱۳﴾: وَعَنْ اَنَسٍ اَنَّ رَسُوْلَ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ قَالَ أَوَّلُ أَشْرَاطِ السَّاعَةِ نَارٌ تَحْشُرُ النَّاسَ مِنَ الْمَشْرِقِ إِلَى الْمَغْرِبِ. رواه البخاري.

د حضرت انس رضي الله عنه څخه روايت دئ چي رسول الله ﷺ وفرمايل: د قيامت د راتلو څخه اوله نښه هغه اور دی چي خلک به د مشرق څخه د مغرب طرف ته شړي. بخاري

تخريج: صحيح البخاري (فتح الباري): ٦\٣٦٢، رقم: ٣٣٢٩.

تشريح: مطلب دادی چي کومي نښي قيامت ته نژدې رامنځته کيږي په هغو کي به تر ټولو لومړۍ نښه هغه اور وي چي خلک به د لوېديځ څخه ختيځ ته بوځي، څرګنده ده چي هغه اور د قيامت تر ټولو لومړۍ نښه څرنګه کيدای سي چي رسول الله ﷺ هغه اور هم د قيامت د نښو څخه شمېرلی دی چي د هغه يادونه په ذکر سوي حديث کي وسول او د روايت سره سم په ۶۵۰ ه، کال کي څرګنده سوې هم وه.

اَلْفَصْلُ الثَّانِي (دوهم فصل)

د زمانې تېز رفتار د قيامت د نښو څخه دی

﴿۵۲۱۴﴾: عَنْ أَنَسٍ قَالَ قَالَ رَسُوْلُ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ لَا تَقُوْمُ السَّاعَةُ

د حضرت انس رضي الله عنه څخه روايت دئ چي رسول الله ﷺ وفرمايل: قيامت به نه قائميږي

حَتَّى يَتَقَارَبَ الزَّمَانُ فَتَكُوْنُ السَّنَةُ كَالشَّهْرِ وَالشَّهْرُ كَالْجُمُعَةِ وَتَكُوْنُ

تر څو پوري چي زمانه به رانژدې سي (يعني د زمانې برخي به ژر ژر تيريږي) يعني کال به د مياشتي برابر سي، مياشت به د هفتې برابر

الْجُمُعَةُ كَالْيَوْمِ وَيَكُوْنُ الْيَوْمُ كَالسَّاعَةِ وَتَكُوْنُ السَّاعَةُ كَالضَّرَمَةِ بِالنَّارِ.

رواه الترمذي.

او هفته به دورځي برابر او هغه وخت به ورځ يو ساعت وي او ساعت به د اور د يوې شعلې برابر وي. ترمذي.

تخريج: سنن الترمذي ۴\۴۹۰، رقم: ۲۲۳۲.

تشريح: مطلب دادی چي په آخره زمانه کي به په ورځو او ساعتونو کي برکت کم سي، وخت به دومره تېز تيرېدل ځرګندېږي چي د هغه ګټور کېدل به ورک سي، او يا دا مراد دی چي په هغه زمانه کي به خلک په فکر او پريشانيو کي وي او د فتنو، مصيبتو او ډول ډول بوختياوو په وجه به د وخت د تېرېدو احساس نسي کولای او هغوئ ته به دا پېژندل ستونزمن سي چي کله ورځ تېره سول او کله شپه ختمه سول،

خطابي رحمة الله عليه ليکلي دي چي رسول الله ﷺ د زمانې او وخت د کومي تيزي يادونه فرمايلې ده د هغه ځرګندېدل به د حضرت عيسى عليه السلام او امام مهدي عليه السلام په زمانه کي وي.

د مدينې څخه د دار الخلافت نقل کول

﴿۵۲۱۵﴾: وَعَنْ عَبْدِ اللّٰهِ بْنِ حَوَالَةَ قَالَ بَعَثَنَا رَسُولُ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ

د حضرت عبدالله بن حواله رضي الله عنه څخه روايت دی چي رسول الله ﷺ موږ وليږلو د جهاد لپاره

لِنَغْنَمَ عَلَى أَقْدَامِنَا فَرَجَعْنَا فَلَمْ نَغْنَمْ شَيْئًا وَعَرَفَ الْجَهْدَ فِي وُجُوهِنَا

پر پښو چي موږ د غنيمت مال تر لاسه کړو موږ د جهاد څخه راغلو او د غنيمت د مال څخه موږ ته هيڅ په لاس نه راغلل، رسول الله ﷺ زموږ مخونه ليدلو سره زموږ د محنت او ستړيا حال

فَقَامَ فِينَا فَقَالَ اللّٰهُمَّ لَا تَكِلْهُمْ إِلَيَّ فَأَضْعُفَ عَنْهُمْ وَلَا تَكِلْهُمْ إِلَى أَنْفُسِهِمْ

معلوم کړنو رسول الله ﷺ زموږ په منځ کي ودريدی او وه يې فرمايل: اې الله! د دغه خلکو امور ما ته حواله مه کړې

فَيَعْجِزُوا عَنْهَا وَلَا تَكِلْهُمْ إِلَى النَّاسِ فَيَسْتَأْثِرُوا عَلَيْهِمْ ثُمَّ وَضَعَ يَدَهُ عَلَى

چي زه به د دوئ د مرستي څخه تر شا پاته سم. او اې الله! مه دوئ د دوئ نفس ته حواله کړې چي د خپل نفس امور به سرته رسولو څخه عاجز سي او اې الله! مه دوئ د خلکو اړ کړې چي

خلک خپل ضرورتونه او اړتیاوي پر دوئ مقدم کړي، ددې څخه وروسته رسول الله ﷺ زما پر

رَأْسِي ثُمَّ قَالَ يَا ابْنَ حَوَالَةَ إِذَا رَأَيْتَ الْخِلَافَةَ قَدْ نَزَلَتْ أَرْضَ الْمُقَدَّسَةِ

سر لاس کښېښود او وه يې فرمايل اې ابن حواله! هر کله چې ته ووينې چې خلافت مقدسې

فَقَدْ دَنَتْ الزَّلَازِلُ وَالْبَلَابِلُ وَالْأُمُورُ الْعِظَامُ وَالسَّاعَةُ يَوْمَئِذٍ أَقْرَبُ مِنَ النَّاسِ مِنْ يَدِي هَذِهِ إِلَى رَأْسِكَ. رواه ابوداؤد.

مځکې ته ورسيدې نو پوه سه چې زلزلې، لوی لوی نښې او فتنې نژدې سوې دغه وخت به قيامت خلکو ته دومره نژدې سي لکه زما لاس چې ستا سر ته نژدې دی. ابوداؤد.

تخریج: سنن ابي داود ۳\۴۱، رقم: ۲۵۳۵.

د لغاتو حل: البلابل: الهموم والاحزان.

تشريح: چې مور ته د غنيمت مال تر لاسه سي: په څرګنده دا معلوميږي چې د حضرت عبدالله ابن حواله رضي الله عنه او د هغه د ملګرو مالي حالت ډېر تنګ وو، او هغوئ به سخت غريبان او مفلس وه، نو رسول الله ﷺ هغوئ د جهاد لپاره په خاصه توګه وټاکل چې په جهاد کې د غنيمت مال تر لاسه کړي، او د هغه مال په ذريعه به دغه خلک د خپل ژوند اړتياوي پوره کړي، غالبا په دې وجه د غزا څرګنده يادونه يې ونه کړل بلکه د غنيمت په يادونه يې اکتفاء وفرمايل.

دغه خلک ما ته مه سپاره: مطلب دا وو چې دغه خلک غريبان او مفلس دي او ما ددغه غربت او مفلسۍ په وجه دوئ جهاد ته لېږلي وه چې دجهاد فرض هم ادا کړي او د تر لاسه کېدونکي غنيمت په ذريعه دوئ ته د خپل اړتيا او مسکينۍ د ليرې کولو ذريعه هم په لاس ورسي، مګر د قسمت خبره ده چې په دغه جهاد کې دوئ ته د غنيمت مال هم تر لاسه نه سو، نو اې الله! اوس ته د دوئ د اړتياوو د پوره کولو يوه بله ذريعه پيدا کړې، د دوئ ذمه داري زما پر سر مه اچوې ځکه زه د دوئ د غمخورۍ او خبر اخيستني د بار توان نه لرم، څرګنده دې وي چې رسول الله ﷺ دغه خبره له دې کبله وفرمايل چې انسان د خپل ذات په اعتبار هيڅ توان او قوت نه لري که د الله جل جلاله له لوري هغه ته وسائل او ذرائع تر لاسه نه وي نو هغه خپله د خپل ځان د خبر اخيستني څخه عاجز دی نو څه به د بل چا د خبر اخيستني باور پوره ته کړي، ځکه په يوه دعاء کې رسول الله ﷺ د الله جل جلاله په دربار کې داسې عرض وکړ: (اللهم لاتكلني الى نفسي طرفة عين).

يعني اې الله! د سترګو د رپ په اندازه هم ما ځان ته مه سپارې، بلکه زما ساتنه او ضمانت ته په خپله وکړې، او همدارنګه د الله ﷻ ارشاد دى: (قل لا املک لنفسي نفعا ولا ضرا الا ماشاء الله)، يعني اې محمد (ﷺ) ووايه! چي د خپل ذات په اړه زه نه د ګټي څښتن يم او نه د تاوان پرته د هغه شي څخه چي الله ﷻ ته خوښه وي، له دې څخه ثرګنده سوه چي د انسان د کمال عبديت تقاضا داده چي هغه خپل ځان عاجز وګڼي او دا اقرار وکړي چي د الله تعالى د مرستي او توفيق او د هغه د حکم او فيصلې څخه پرته هيڅ يو لوى سړى هم د يو کوچنۍ ذمه دارۍ پوره کولو توان او قدرت نه لري نو د توحيد کامل دا هغه سبق دى چي په (لاحول ولاقوة الابالله) کښي ذکر سوى دى، او هر بنده په خپله ژبه سره پر هغه د يقين درلودلو او ويلو پابند سي، ابن عدي رحمه الله په کتاب کامل کي دا حديث نقل کړى دى چي حضرت الياس او حضرت خضر عليهما السلام هر کال په يو وخت کي يو ځاى کيږي، کله چي د هغوئ د يو ځاى کېدو وخت سي نو په هغوئ کي هر يو د بل پلټنه کوي او بيا د ليدني وروسته دواړه د دغه الفاظو په ويلو سره له يو بل څخه بېليږي: (بسم الله ماشاء الله لايسوق الخير الا الله ماشاء الله لا يصرف السوء الا الله ماشاء الله ماکان من نعمة فمن الله لاحول ولا قوة الا بالله).

د رسول الله ﷺ ذات مبارک د الله ﷻ په دربار کي تر ټولو زيات قرب لري ځکه رسول الله ﷺ د دغه خلکو د ذمه دارۍ نه سپارلو دعاء تر ټولو وړاندي د خپل ذات په اړه کړې ده، او له دې وروسته يې په دغه دعاء کي نور خلک هم شامل کړي دي چي ثرنګه زه د خپلي کمزورۍ او عجز په وجه د هغوئ د خبر اخيستني ذمه داري سرته نه سم رسولاى همدارنګه نور خلک خپله د خپل ذات ګټي او تاوان ته د ترجيح ورکولو په وجه د هغوئ خبر اخيستنه نه سي کولاى، نو حقيقت هم داډى چي کوم کسان د ځان ځانۍ ښکار وي او يوازي د خپل ځان په ګټي او تاوان اخته وي نو هغوئ د بل چا ضرورت ته پر خپل کوچني غوندي ضرورت باندي هم ترجيح نه ورکوي او که هغوئ ته يوه ذمه دارۍ سپارل سوې وي نو هغوئ د دغه ذمه دارۍ په سرته رسولو کښي په هر پړاو کي د خپل ځان ګټه مقدم کوي.

په هر حال د رسول الله ﷺ د دعاء خلاصه داوه چي اې پروردګاره! د دغه خلکو ذمه داري ما ته مه سپارې ځکه چي زه د دوئ د کفالت او ذمه دارۍ سرته رسولو توان او قدرت نه لرم او مه خپله دوئ د خپلو ځانو ذمه دار ګرځوې ځکه چي دا خلک د ذاتي وسائلو او ذرائعو نه درلودلو په وجه د خپل ذات د کفالت د بار وړلو زغم نه لري، دوهم دا چي کيداى سي دا خلک د خواهشاتو د زياتوب او بې لارۍ ښکار سي او د خپل ټولنيز ژوند د خوشحالۍ لپاره پر داسي

لارو روان سي چي د دوئ ددين او آخرت لپاره د تاوان سبب سي، همدارنګه اې پروردګاره! د دوئ ذمه داري نورو خلکو ته هم مه سپارې اومه دوئ د چا محتاجه کوې ځکه چي هغه نور خپل ذاتي مفاداتو ته د دوئ پر مفاداتو ترجيح ورکوي او د دوئ د ذمه دارۍ حق به ادا نه کړي چي په هغه سره به دوئ ته نور زياتې تاوان ورسيږي نو اې الله! دا ستا بندګان او ستا د نوم اخيستونکي دي ته د وئ خپل محتاج کړې او له دوئ سره هغه معامله وکړې لکه څرنګه چي يو باداريې د خپلو غلامانو سره کوي.

له دغه څرګندوني څخه دا خبره معلومه سوه چي ددغه دعاء څخه د رسول الله ﷺ اصل مقصد امت ته ددې ښوونه او تقلين کول دي چي بنده ته پکار ده چي هغه خپل هر کار او خپله هره معامله الله تعالى ته وسپاري يعني خپل تدبير او سعي او ظاهري وسائلو باندي باور ونه کړي، د بل چا څخه اميد ونه لري ځکه چي کوم څوک يوازي پر الله تعالى باندي باور لري نو الله ﷻ يقينا د هغه هر کار سرته رسوي او د هغه هر کار چي ديني وي يا دنيوي په ښه توګه سرته رسوي، خپله الله ﷻ فرمايي: (ومن يتوكل على الله فهو حسبه) يعني کوم څوک چي په الله ﷻ باور وکړي نو الله ﷻ د هغه لپاره کافي دی،

د زلزله مطلب د مځکي ښوئيدل او زلزلې راتلل دي، ځکه د بلبل څخه مراد مختلف ډول غمونه او پريشانۍ دي، او لکه دا شيان چي د قيامت تر ټولو لويو زلزلو د راتلو علامه او مقدمه بهٔ وي چي د هغه په نتيجه کي به دا ټول کائنات نيست و نابو د سي او ددنيا خاتمه به وسي چي د هغه خبر الله ﷻ په دغه الفاظو ورکړی دی: (اذا زلزلت الارض زلزالها)، څرګنده دي وي چي ذکر سوي خبري به په آخري زمانه کي واقع کيږي کله چي بيت المقدس فتح سي او پر هغه به د مسلمانانو واک وي.

د مشکوة شريف په اصل نسخه کښي د رواه څخه وروسته خالي ځای دی، مګر جزري رحمة الله عليه ددغه لفظ وروسته دغه عبارت راوړی دی (ابوداؤد واسناده حسن و رواه الحاكم في صحيحه) يعني دغه روايت ابوداؤد نقل کړی دی او اسناد يې حسن دی او دغه روايت حاکم هم په خپل صحيح کښي نقل کړی دی.

د قيامت نښي

﴿۵۲۱۶﴾: وَعَنْ أَبِي هُرَيْرَةَ قَالَ قَالَ رَسُولُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ إِذَا اتُّخِذَ

د حضرت ابوهريره رضي الله عنه څخه روايت دئ چي رسول الله ﷺ وفرمايل: هر کله چي د غنيمت مال

الْفَيْءُ دِوَلاً وَالْأَمَانَةُ مَغْنَمًا وَالزَّكَاةُ مَغْرَمًا وَتُعُلِّمَ لِغَيْرِ الدِّيْنِ وَأَطَاعَ الرَّجُلُ

دولت وګرځول سي (يعني هر کله چي د غنيمت مال اميران او صاحب منصب خلک دولت وګرځوي او خپله يې اخلي) او ضعيفو خلکو ته په هغه کي برخه ورنه کړي، او هر کله چي د امانت مال غنيمت وګڼل سي او هر کله چي زکوة تاوان وګڼل سي ، او هر کله چي د علم د زده کړي څخه دين مقصد نه وي ، او هر کله چي سړی

امْرَأَتَهُ وَعَقَّ أُمَّهُ وَأَدْنٰى صَدِيْقَهُ وَأَقْصٰى أَبَاهُ وَظَهَرَتِ الْأَصْوَاتُ فِي الْمَسَاجِدِ

د ښځي اطاعت پيل کړي او هر کله چي زوی د مور نافرماني پيل کړي او هغې ته تکليف ورکوي ، او هر کله چي سړی دوست خپل ملګری جوړ کړي او پلار د ځان څخه ليري کړي، او هر کله چي په مسجد کي په زوره زوره خبري او شور پيل سي،

وَسَادَ الْقَبِيْلَةَ فَاسِقُهُمْ وَكَانَ زَعِيْمُ الْقَوْمِ أَرْذَلَهُمْ وأُكْرِمَ الرَّجُلُ مَخَافَةَ

او هر کله چي د قوم سرداري يو فاسق سړی کوي، او هر کله چي د قوم پر کارونو د قوم مشر د قوم احمق سړی وي، او هر کله چي د يو سړي تعظيم د هغه د شر څخه د ځان ساتني لپاره وسي،

شَرِّهِ وَظَهَرَتِ الْقَيْنَاتُ وَالْمَعَازِف وَشُرِبَتِ الْخُمُوْرُ وَلَعَنَ آخِرُ هٰذِهِ الْأُمَّةِ

او هر کله چي سندري ويونکي ښځي ښکاره سي ، او هر کله چي سرودونه ښکاره سي ، او هر کله چي شراب څښنل کيږي ، او هر کله چي ددې امت وروستني خلک

أَوَّلَهَا فَارْتَقِبُوا عِنْدَ ذٰلِكَ رِيْحًا حَمْرَاءَ وَزَلْزَلَةً وَخَسْفًا وَّمَسْخًا وَقَذْفًا وَآيَاتٍ

تَتَابَعُ كَنِظَامٍ قُطِعَ سِلْكُهُ فَتَتَابَعَ . رواه الترمذي.

مخکنيو خلکو ته بد وايي او پر هغوئ لعنت کوي نو دغه وخت ته ددغه شيانو انتظار کوه : د سرې سيلۍ، د زلزلو، په مځکه کي د ننه ايستلو، د شکلونو د مسخ کيدو، د ډبرو د اوريدو، او د هغه پرله پسې نښو چي د قيامت څخه به مخکي ظاهريږي ، لکه د ملغلرو اميل چي تناو يې پرې سي او يو په بل پسې راتوی سي . ترمذي.

تخريج: سنن الترمذي ۴\۴۲۸، رقم: ۲۲۱۱.

د لغاتو حل: دولا: ای غلبة في المداولة والمناولة. القينات: الاماء المغنيات.

تشريح: په دغه حديث کي د هغه خرابيو يادونه سوې ده چي که څه هم په دنيا کي شتون لري او هيڅ زمانه ددغه خرابيو څخه خالي سوې نه ده مګر کله چي په ټولنه کي دغه خرابۍ زياتي خپرې سي نو بايد پوه سو چي د الله ﷻ سخت عذاب که هغه په هر شکل او صورت کي وي پر هغه ټولنه نازلېدونکی دی او د دنيا د خاتمې وخت رانژدې سوی دی.

(دَوَل)، په اصل کي د دَولة يا دُولَة جمع ده چي لغوي معنی يې د انقلابي زمانې ده او هر هغه شي ته هم دولت وايي چي کله له يو چا سره وي او کله له بل چا سره وي، ددغه لفظ اطلاق پر مال او اقتدار باندي هم کيږي، ځينو حضراتو ويلي دي چي د دولة لفظ د هر هغه شي نوم دی چي د مال د ډول څخه يو شی حاصل کړي، يعني د غنيمت مال، او د دال په زور سره يعني دَولة معنی يې د يوه حال څخه بل حال ته ګرځېدل دي، يعني د سختۍ، پريشانۍ او مفلسۍ حالت ختمېدل او د اطمينان، راحت او خوشحالۍ حالت راتلل، په هر حال د غنيمت د مال د دولت ګرځولو مطلب دادی چي د جهاد په ذريعه له دښمنانو څخه کوم مال تر لاسه کيږي او هغه ته د غنيمت مال ويل کيږي نو هغه په شرعي توګه د ټولو غازيانو او مجاهدينو ګډ حق دی، او د هغه مال پر ټولو حقدارانو باندي ويشل واجب دي، مګر د اسلامي لښکر او پاچاهۍ اهل طاقت او شتمنۍ والا خلک د غنيمت مال د شرعي حکم سره سم ټولو حقدارانو ته د ويشلو پر ځای په خپل منځ کي وويشي او محتاج، اړ او کمزوري خلک د هغه څخه محروم کړي، نو ددې به دا معنی وي چي هغوئ دغه د غنيمت مال د ټولو مجاهدينو مشترک حق نه ګڼي بلکه خپل ذاتي مال او دولت يې ګڼي.

د امانت د غنيمت ګڼلو څخه مقصد دادی چي د کومو خلکو سره امانتونه ساتل سوي وي هغوئ به خيانت پکښي کوي او د امانت مال به د غنيمت د مال په ډول خپل ذاتي مال ګڼي.

د زکوة تاوان ګڼل: مطلب دادی چي زکوة ادا کول به پر خلکو باندي داسي بار وي لکه چي د هغوئ څخه په زور اخيستل کيږي او لکه يو څوک چي د تاوان او جرمانې ادا کولو په وخت کي تنګي او پريشاني محسوس کوي.

علم د دين څخه پرته د بل مقصد لپاره د زده کولو او ښوولو مطلب دادی چي د علم ښوولو او خپرولو اصل مقصد په دين او شريعت عمل کول او د اخلاقو درست کول او د الله ﷻ او د هغه د رسول ﷺ قرب او رضا تر لاسه کول دي بلکه ددې په ذريعه د دنيا عزت، مال، منصب او مشرتابه کښي لوړتيا تر لاسه کول مقصد وي.

نارينه لره د ښځي اطاعت كول: يعني دا چي خاوند د ښځي مريد سي او د ښځي هر حكم ومني او د هغې هره اړتيا پوره كوي چي د هغه په وجه د الله ﷻ د حكم او هدايت څرګند خلاف ورزي وي.

د مور نافرماني كول: مقصد دادی چي دمور د اطاعت او فرمانبرداری چي كوم حق دی هغه به له لاسه وركړي او د يو شرعي وجه څخه پرته د هغې نافرماني كوي او هغې ته تكليف رسوي، څرګنده دې وي چي دلته د مور خاصوالي په دې اعتبار دی چي د اولاد لپاره د پلار په نسبت مور زياته مهربانه او تكليف زغمونكې وي ځكه نو هغه پر اولاد زيات حق لري.

د ملګرو نژدې كولو او پلار ليري كولو څخه مراد دادی چي خپل وخت به د پلار په خدمت كي د حاضرېدو پر ځای د پالتو ملګرو سره ناسته ولاړه او له هغوئ سره په بازی كي تيروي او د خپلو كړنو څخه به داسي څرګند وي چي د هغه له ملګرو سره تر پلار زيات تعلق او محبت دی.

په مسجد كي د شور كولو څخه مراد دادی چي په مسجدونو كښي په زوره خبري كوي، د چغو او نعرو په ذريعه د مسجد په سكون كي خنډ اچول كيږي او د هغه د اداب او احترام څخه بې پرواهي وكړل سي ، څرګنده دي وي چي ځينو علماؤ ليكلي دي چي په مسجد كي آواز لوړول حرام دي كه څه هم د هغه تعلق د الله ﷻ له ذكر سره وي.

د يو قوم د مشر د هغه قوم د فاسق سړي كېدو څخه مراد دادی چي مشرتوب به داسي خلكو ته وسپارل سي چي بدعمله، بدمعاش او بې ايمانه به وي، نو دا خبره به د ټول قوم او ډلي لپاره د تباهۍ نښه وي، څرګنده دي وي چي د يو قوم په ډله كي ښار، كلی او سيمه هم شامل دي، همدارنګه كه چيري د يو قوم مشران هغه خلک وګرځول سي چي د خپل قوم او ډلي بدعمله او رزيل خلک وي نو پوه سئ چي د هغه قوم او ډلي د تباهۍ وخت راغلی دی.

د سړي عزت د هغه د فتنې او شر له بيري څخه كول: مطلب دادی چي د يو سړي د عزت او احترام معيار به د هغه ذاتي فضيلت او عظمت نه وي بلكه د هغه د بدۍ او شر د بيري څخه به وي يعني د يو سړي عزت به د دې لپاره كيږي چي هغه نورو ته په تكليف رسولو او تاوان رسولو طاقت لري لكه چي يو فاسق او بدعمله سړي ته طاقت او غلبه تر لاسه سي او خلک د هغه عزت او تعظيم كولو باندي مجبور وي.

د غزلو ويونكو ښځو څخه مراد سندري ويونكي او نڅا كوونكي ښځي دي ، قينات د قينة جمع ده چي اصل معنی يې د غزل ويونكي مينځي ده ، همدارنګه د سرود څخه مراد هر ډول د سرود سامان دی چي هغه ته د شريعت په اصطلاح كي مزامير ويل كيږي لكه ډول، هارمونيم،

رباب، شپیلۍ او داسي نور .

د شراب په اړه د جمع صیغه استعمال سوې ده ځکه چي دلته د شرابو ټول انواع او هر ډول نشه یې شیان مراد دي .

کله چي د دغه امت وروستني خلک د مخکنیو خلکو بد ویل پیل کړي، دلته اشاره ده چي دغه خرابي له دغه امت سره خاص ده ، په تېرو امتونو کي د دغه بدۍ رواج نه وو ، په مسلمانانو کي روافض په دغه بدۍ اخته دي چي هغوئ د تېرو سوو بزرګانو او صحابه کرامو په اړه بد رد وایي چي الله ﷻ د هغوئ په اړه داسي فرمایي :

وَالسَّابِقُونَ الأَوَّلُونَ مِنَ الْمُهَاجِرِينَ وَالأَنصَارِ وَالَّذِينَ اتَّبَعُوهُم بِإِحْسَانٍ رَّضِيَ اللّهُ عَنْهُمْ،

ژباړه: کومو کسانو چي وړاندي والي وکړ (یعني تر ټولو وړاندي یې ایمان راوړ) له مهاجرینو څخه او له انصارو څخه او چا چي په نیکۍ سره د هغوئ پیروي وکړه نو الله ﷻ له هغوئ ټولو څخه راضي دی .

همدارنګه په بل آیت کریمه کي فرمایي:

لَقَدْ رَضِيَ اللَّهُ عَنِ الْمُؤْمِنِينَ إِذْ يُبَايِعُونَكَ تَحْتَ الشَّجَرَةِ.

ژباړه: (اې محمد ﷺ!) کوم وخت چي مؤمنانو ستا سره تر درختي لاندي بیعت کوی نو الله ﷻ د هغوئ څخه راضي سو .

څومره د بدبختۍ خبره ده چي د کومو کسانو څخه الله ﷻ راضي سو د هغوئ څخه ناراضي څرګنده کړل سي او دهغوئ پر خلاف بد او رد وویل سي، د هغه بندګانو د مناقبو او فضائلو څخه قرآن او حدیث ډک دي، د هغوئ پاک نفسونه داسي عظیم ذاتونه دي چي هغوئ تر ټولو مخکي د الله ﷻ دین قبول کړ ، په سختو حالاتو کي یې د الله ﷻ د نبي ﷺ مرسته او حمایت وکړ، د الله ﷻ د دین د بیرغ لوړولو لپاره یې خپل سرونه قربان کړل، د جهاد په ذریعه یې د اسلام شان او شوکت زیات کړ ، لوی لوی ښارونه او هیوادونه یې فتح کړل، د یو واسطې پرته یې د سید الامام علیه الصلوة والسلام څخه د دین علم تر لاسه کړ ، د شریعت احکام او مسائل یې زده کړل، د دین بنیاد یعني قرآن کریم یې تر ټولو زیات وپېژندی او د مقدسو کسانو په اړه الله تعالی د قرآن کریم په ذریعه د امت ټولو خلکو ته دا تقلین وکړ چي د هغوئ په اړه داسي ووایي :

رَبَّنَا اغْفِرْ لَنَا وَلِإِخْوَانِنَا الَّذِينَ سَبَقُونَا بِالإِيمَانِ.

ژباړه: اې پروردګاره! موږ و بخښې او زموږ هغه وړونه و بخښې چې هغوئ په ایمان منلو کې پر موږ سبقت حاصل کړی دی.

مګر د رافضیانو هغه خلک چې یا خو یې د ایمان رڼا د لاسه ورکړې ده او یا لیونیان سوي دي د دغه مقدسو کسانو او د امت تر ټولو غوره خلکو په اړه یوازې دلعن او طعن ژبه په اوږدولو باندې اکتفاء نه کوي بلکه محض د خپلو خرابو خیالاتو او نظریاتو په وجه په دې ویلو سره هغه پاکو کسانو ته د کفر نسبت هم کوي چې ابوبکر، عمر، او عثمان رضی اللہ عنہم بېله استحقاقه پر خلافت قبضه وکړه ځکه چې د رسول الله ﷺ څخه وروسته د خلافت اصل مستحق حضرت علي رضی اللہ عنہ وو، الله جل جلالہ دې دغه د عقل ړندو ته د بصیرت سترګې ورکړي، دوئ په دې ولې نه پوهیږي چې د دغه امت مخکنیو او وروستنیو ټولو خلکو دا خبره غلطه او باطله ګرځولې ده، په قرآن او حدیث کې هیڅ داسې دلیل نسته چې د هغه څخه دا څرګندیږي چې د رسول الله ﷺ څخه وروسته لومړی خلیفه حضرت علي رضی اللہ عنہ دی او په صحابه کرامو کې چې کومو خلکو د حضرت علي رضی اللہ عنہ د خلافت په زمانه کې د هغوئ سره اختلاف وکړ نو هغوئ نعوذ باالله د یو بدغرض په وجه د حضرت علي رضی اللہ عنہ مخالفت ونه کړ بلکه دهغوئ اختلاف د هغوئ د اجتهادي رایې سره سم وو، که دا وویل سي چې هغوئ په خطاء اجتهادي کې اخته سوي وه مګر د دې په وجه هم پر هغوئ بد ویل او دهغوئ په حق کې بې ادبي خبرې د خولې څخه را ایستل د ډېر ناروا بلکه څرګند زیاتوب دی، بلکه موږ دا وایو که دا هم ومنل سي چې په هغوئ کې چا د حضرت علي رضی اللہ عنہ مخالفت د حق لارې څخه د لیرې کېدو په وجه وکړ او هغوئ فسق وکړ نو هم هغوئ ته په کومه وجه بد او رد ویل کیدای سي چې هغوئ د مرګ څخه مخکې د خپلې غلطۍ توبه وکړه او که توبه یې نه وي کړې نو د الله جل جلالہ څخه دا غالب ګمان درلودل پکار دي چې هغه به د خپل رحمت په صدقه د هغوئ د تېرو خدمتونو په بدله کې د هغوئ مغفرت وکړي.

ابن عساکر رحمۃ اللہ علیہ د حضرت علي رضی اللہ عنہ څخه دا مرفوع روایت نقل کړی دی چې رسول الله ﷺ وفرمایل: که چیرې زما ځیني صحابه د لړزې ښکار سي نو الله جل جلالہ دې هغوئ زما د ملګرتیا او زما سره د تعلق په برکت وبخښي، دا خبره داسې هم کیدای سي چې موږ زیات وختونه کوچني او لوی ګناهونه کوو مګر د دې سربېره د خپل پروردګار د رحمت او د رسول الله ﷺ د شفاعت امید لرو نو ایا هغه خلک چې د دغه امت تر ټولو افضل او بزرګ خلک وه د دې خبرې مستحق نه دي چې دهغوئ په حق کې دا نیک ګمان وکړل سي، که چیرې دهغوئ څخه یو خطا سوې وي نو یقینا الله جل جلالہ به د هغوئ د درجې د عظمت او دهغوئ د صحابیت د شرف په برکت

هغوئ ته معافي وکړي.

د صحابيت د مرتبې د تقدس او شرف داغ کونکو ناپوهانو! فکر وکړئ چې تاسو د کومو مقدسو کسانو په شان کې په بې ادبي کولو سره خپله ژبه مرداروئ او ستاسو دغه عمل به رحمة للعالمين ﷺ ته څومره تکليف رسوي؟ ايا تاسو له دې څخه بې خبره ياست چې نيک بخته خلک هغه دي چې خپل عيبونه يې د بل د عيب ويني څخه منع کړي ايا تاسو ددغه نبوي فرمان د صداقت منکر ياست چې د خپلو مړو يادونه په بدي سره مه کوئ، ايا د رسول الله ﷺ ارشاد مبارک نه دی چې کله ستاسو په وړاندي زما د صحابوو يادونه وسي نو خپله ژبه په واک کې کړئ، که تاسو لږ هم د ايمان او عقل دعوه کوئ نو واورئ چې رسول الله ﷺ فرمايلي دي: د ابوبکر او عمر رضي الله عنهما مينه د ايمان ښاخ دی او له دوئ دواړو سره بغض او دښمني د کفر نښه ده، د انصارو مينه د ايمان يو ښاخ دی او له هغوئ سره بغض او عداوت کفر دی، د اهل عربو مينه د ايمان ښاخ دی او له هغوئ سره کينه او دښمني کفر دی، چا چې زما صحابه په بدو الفاظو ياد کړل نو هغه د الله ﷻ د لعنت وړ سو او چا چې د هغوئ په اړه زما د حکم خيال وساتئ نو زه به د قيامت په ورځ د هغه خيال وساتم، اې الله! ته دغه کسانو ته عقل سليم او د بصيرت سترګې ورکړې او هدايت ورپه برخه کړې، کوم چې د ناپوهۍ او تعصب په وجه ستا د محبوب ﷺ د صحابوو او ملګرو په اړه بې ادبي کوي او د هغوئ په اړه د بدويني ژبه اوږدوي او خپل ځان د دوږخ پيلوزي ګرځوي.

﴿۵۲۱۷﴾: وَعَنْ عَلِيٍّ قَالَ قَالَ رَسُوْلُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ إِذَا فَعَلَتْ أُمَّتِيْ

د حضرت علي ﷺ څخه روايت دئ چې رسول الله ﷺ وفرمايل: هر کله چې زما امت هغه

خَمْسَ عَشَرَةَ خَصْلَةً حَلَّ بِهَا الْبَلَاءُ وَعَدَّ هٰذِهِ الْخِصَالَ وَلَمْ يَذْكُرْ تُعَلِّمَ

پنځلس کارونه وکړي (کوم چې په پوتني حديث کې ذکر سوي دي) نو هغه بلا به پر نازله سي چې په پورته حديث کې د هغې بيان سوی دی، حضرت علي ﷺ دغه پنځلس خبري وشميرلې مګر په هغو کې يې

لِغَيْرِ الدِّيْنِ قَالَ وَبَرَّ صَدِيْقَهُ وَجَفَا أَبَاهُ وَقَالَ شُرِبَ الْخَمْرُ وَلُبِسَ الْحَرِيْرُ.

رواه الترمذي.

علم د دين لپاره نه بلكه د دنيا تر لاسه كولو لپاره د زده كولو ذكر ونه كړ او هر كله چي سړى خپل دوست خپل ملګرى جوړ كړي او خپل پلار د ځان څخه ليري كړي پر ځاى دا الفاظ بيان كړي دي : چي د دوست سره احسان وكړي او پر پلار ظلم وكړي او چي شراب څښل كيږي ، پر ځاى : چي ريښم به اغوستل كيږي الفاظ بيان كړل . ترمذي.

تخريج : سنن الترمذي ۴\ ۴۲۸، رقم: ۲۲۱۰.

تشريح : (وعد هذه الخصال) او بيا رسول الله ﷺ هغه پنځلس خبري وشمېرلې، دغه الفاظ د صاحب مصابيح دي ، دليل يې دادى چي ترمذي دواړه حديثونه يو په بل پسې نقل كړي دي او په دواړو حديثونو كي بېل بېل دغه پنځلس خبري نقل سوي دي .

صاحب مختصر ليكلي دي چي د حضرت علي رضي الله عنه په دغه روايت كي د (ولبس الحرير) يعني كله چي د ريشمو جامې اغوستل پيل سي، دغه الفاظ كله چي علم د دين څخه پرته د بل مقصد لپاره ښودل پيل سي ، پر ځاى نه دي بلكه هر كله چي ددغه امت وروستني خلك مخكنيو خلكو ته بد او رد ويل پيل كړي ، پر ځاى منقول نه دي مګر دا خبره صحيح نه ده ځكه چي د حضرت علي رضي الله عنه په روايت كي (كله چي ددغه امت وروستني خلك ...) الفاظ راغلي دي نو صحيح داده چي حضرت علي رضي الله عنه د (ولبس الحرير الفاظ د تعلم لغير الدين) پر ځاى نقل كړي دي ، له دې سره سم د پنځلسو خبرو يادونه د دواړو روايتو متعلق صحيح كيږي، دا چي امام طيبي رحمة الله عليه ويلي دي بالكل يې صحيح ويلي دي چي د ذكر سوو پنځلسو خبرو يادونه په دواړو روايتو كي په هريوه كي ده او د صاحب مختصر دا قول صحيح نه دى چي د پنځلسو خبرو يادونه د ذكر مجموعي په توګه په دواړو روايتو كي دى ، مګر په لومړني حديث كي د ذكر سوو خبرو شمېر پنځلس نه دى بلكه شپاړلس دى .

د امام مهدي په باركي پېشګوئي

﴿۵۲۱۸﴾ : وَعَنْ عَبْدِ اللهِ بْنِ مَسْعُوْدٍ قَالَ قَالَ رَسُوْلُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ

د حضرت عبدالله بن مسعود رضي الله عنه څخه روايت دئ چي رسول الله ﷺ وفرمايل :

لاَ تَذْهَبُ الدُّنْيَا حَتّٰى يَمْلِكَ الْعَرَبَ رَجُلٌ مِّنْ اَهْلِ بَيْتِيْ يُوَاطِئُ اِسْمُهٗ

دنيا به تر هغه وخته پوري نه فنا كيږي تر څو پوري چي پر عربو باندي به يو سړى پاچا سي دا سړى به زما د خاندان څخه وي او د هغه نوم به

اِسْمِيْ .رواه الترمذي وأبو داود . وفي رواية له قال لو لم يبق من الدنيا إلا

زما په نامه وي، ترمذي، ابوداؤد، او د ابوداؤد په يو بل روايت كي داسي راغلي دي چي رسول الله ﷺ وفرمايل : كه په دنيا فنا كيدو كي يو ازي

يوم لطول الله ذلك اليوم حتى يبعث الله فيه رجلا مني أو من أهل بيتي

يوه ورځ باقي پاته سي نو الله تعالى به هغه ورځ اوږده كړي تر دې چي الله تعالى به زما د خاندان څخه يو سړى راوليږي چي

يواطئ اسمه اسمي واسم أبيه اسم أبي يملأ الأرض قسطاً وعدلا كما ملئت ظلماً وجورا .

د هغه نوم به زما په نامه وي چي د هغه د پلار نوم به زما د پلار په نامه وي هغه به مځكه په عدل او انصاف سره معموره كړي لكه څرنګه چي تر دې مخكي په ظلم او ستم سره معموره وه .

تخريج: سنن ابي داود ۴\ ۴۷۳، رقم: ۴۲۸۲، والترمذي ۴\ ۴۳۸، رقم: ۲۲۳۰.

تشريح: په دغه حديث كي چي كوم چا ته اشاره سوې ده د هغه څخه مراد حضرت امام مهدي عليه السلام دى، د هغه اصل نوم به (محمد) وي او لقب به يې مهدي وي، د رسول الله ﷺ له كورنۍ سره به تعلق لري مګر په دې اړه اختلافي قولونه دي چي ايا هغه به د امام حسن رضي الله عنه له اولاد څخه وي كه د حضرت امام حسين رضي الله عنه د اولاد څخه، مګر په څرګنده دا خبره زياته قياس ته نژدې ده چي هغه به د پلار له خوا حسني وي او د مور له خوا به حسيني وي، د رسول الله ﷺ په ذكر سوي ارشاد كي دې ته هم اشاره ده چي د رسول الله ﷺ سره به د هغه تعلق يوازي نسبي او نسلي نه وي بلكه روحاني او شرعي به هم وي، يعني د هغه طريقه د هغه عادات او معمولات به د رسول الله ﷺ د طريقو او عاداتو سره سم وي .

څرګنده دي وي چي په حديث كي امام مهدي عليه السلام ته يوازي د عربو نسبت (چي د هغه قبضه به پر عربو وي) محض د هغه د نسلي او وطني عظمت او شرف په وجه دى كنه نو په نورو حديثو كي راغلي دي چي د هغه واک او قبضه به پر ټوله نړۍ وي كه هغه عرب وي يا غير عرب وي، مګر دا توجيه زياته مناسبه ده چي محض د عرب په يادونه اكتفاء كول له دې كبله دي چي د ټولي نړۍ مسلمانان په روحاني توګه د عربو تابع دي ، نو پر عربو باندي د هغه تسلط او اقتدار

په بالواسطه توګه سره د ټولي دنيا پر مسلمانانو باندي د تسلط او اقتدار مترادف دی، دلته دا خبره هم څرګنده سول چي د دنيا هر مسلمان په روحاني توګه سره عربي دی ، دلته يوه خاص خبره دا هم ښودل ضروري دي چي رسول الله ﷺ امام مهدي عليه السلام ته په اشاره کولو سره دا فرمايلي دي چي د هغه نوم به زما د نامه په ډول او د هغه د پلار نوم به زما د پلار د نامه په ډول وي نو په دې خبره سره د شيعه ګانو ترديد کيږي چي مهدي موعود قائم او منتظر دی او هغه د حسن عکري زوی محمد دی.

هغه به ټوله ځمکه د عدل او انصاف څخه ډکه کړي: مطلب دادی چي هغه به تر خپل واک لاندي سيمو ټول خلک په پوره عدل او انصاف سره ونازوي او له هيچا سره به بې انصافي او بې عدلي نه کيږي، پوهېدل پکار دي چي يقسط او عدل د دواړو معنی تقريبا يوه ده لکه چي د ظلم او جور معنی يوه ده ، په صراح کي ليکلي دي چي د قسط معنی د انصاف او عدل ده.

همدارنګه د جود معنی ده يو چا ته داسي حکم ورکول چي پر هغه ظلم وي او د اصل په اعتبار جور دې ته وايي چي يو شی دهغه په غير محل کي کښېښودل سي نو په حديث کي په دواړو ځايو کي د يوې معنی حامل دوه لفظونه استعمالول محض د تاکيد او تکرار لپاره دي ، يا دا هم ويل کيږي چي رسول الله ﷺ دواړه لفظونه په بېلو بېلو معناوو کي استعمال کړي دي مثلا د قسط څخه مراد انصاف غوښتونکو ته انصاف ورکول دي او د عدل څخه مراد په حقوقو کي برابري او مساوات کول دي ، همدارنګه د ظلم څخه مراد د انصاف غوښتونکو ته انصاف تر لاسه کېدل دي او د جور څخه مراد په حقوق کي عدم مساوات او نابرابري ده.

امام مهدي به د رسول الله ﷺ د اولاد څخه وي

﴿۵۲۱۹﴾: وَعَنْ أُمِّ سَلَمَةَ قَالَتْ سَمِعْتُ رَسُولَ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ يَقُولُ الْمَهْدِيُّ مِنْ عِتْرَتِي مِنْ وَلَدِ فَاطِمَةَ. رواه ابوداؤد.

د حضرت ام سلمه رضي الله عنها څخه روايت دی چي ما د رسول الله ﷺ څخه دا اوريدلي دي چي فرمايل يې : مهدي به زما د عترت (اولاد) څخه وي يعني د بي بي فاطمې د اولاد څخه به وي . ابوداؤد.

تخريج: سنن ابي داود ۱۴\۴۷۴، رقم: ۴۲۸۴.

تشريح: د عترت معنی د نسل او نژدې قرابت ده، د يو سړي هغه نژدې قريب چي مخکي تېر سوي وي يا په وروسته کي پيدا کيږي په عترت سره تعبير کيږي ، په صراح کي دا هم ليکلي دي

چي عزت د يو سړي قريب او لو احقينو ته وايي، په نهايه كي ليكلي دي د عترت معنى د عزيز او قريبانو ده ، د رسول الله ﷺ د عترت څخه مراد د رسول الله ﷺ د نيكه عبد المطلب اولاد دى حال دا چي ځيني كسان د عترت اطلاق پر نژدې اهل بيتو باندي هم كوي.

ځيني علماء وايي چي ټول قريش د رسول الله ﷺ نسبت دى او مشهور قول دادى چي د عترت څخه مراد هغه خلک دي چي هغوئ ته د زكوة اخيستل حرام دي يعني د بني هاشم اولاد.

په هر حال د حديث خلاصه داده چي د حضرت مهدي عليه السلام نسلي تعلق به د رسول الله ﷺ سره وي او هغه به د بي بي فاطمې رضي الله عنها د اولاد څخه وي.

﴿۵۲۲۰﴾ : وَعَنْ أَبِي سَعِيدٍ الْخُدْرِيِّ قَالَ قَالَ رَسُولُ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ الْمَهْدِيُّ مِنِّي أَجْلَى الْجَبْهَةِ أَقْنَى الْأَنْفِ يَمْلَأُ الْأَرْضَ قِسْطًا وَعَدْلًا كَمَا مُلِئَتْ جَوْرًا وَظُلْمًا يَمْلِكُ سَبْعَ سِنِينَ . رواه ابوداؤد.

د حضرت ابوسعيد خدري رضي الله عنه څخه روايت دئ چي رسول الله ﷺ وفرمايل : مهدي زما د اولاد څخه دى ، روښانه او پراخ تندي والا جګه پزه والا ، هغه به داسي د عدل او انصاف څخه مځكه ډكه كړي لكه څرنګه چي مخكي د ظلم او زور څخه ډكه وه هغه به اووه كاله د مځكي مالک وي. ابوداؤد

تخريج: سنن ابي داود ۴\۴۷۴، رقم: ۴۲۸۵.

تشريح: په دغه روايت كي د سبع سنين څخه وروسته او ثمان سنين او تسع سنين (يعني اته يا نهه كاله) الفاظ هم بيان سوي دي چي د راوي خپل الفاظ دي او د هغه شک ظاهروي، مګر دلته دغه الفاظ نقل سوي نه دي ځكه چي كيداى سي مصنف ته د اوو كالو پر لفظ يقين تر لاسه سوى وي لكه چي د بي بي ام سلمه رضي الله عنها څخه د ابوداؤد په روايت كي نقل سوي دي چي مخته به راسي، مګر دا هم كيداى سي چي د اوو او اتو كالو په منځ كي شک موجود وي مګر د مصنف په نزد زيات يقيني لفظ د اوو كالو وي ځكه هغه د شک ظاهرونكي الفاظ نقل كولو پر ځاى يوازي پر يقيني الفاظو باندي اكتفاء وكړه.

د حضرت مهدي عليه السلام سخاوت

﴿۵۲۲۱﴾ : وَعَنْهُ عَنِ النَّبِيِّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ فِي قِصَّةِ الْمَهْدِيِّ قَالَ فَيَجِيءُ

إِلَيْهِ رَجُلٌ فَيَقُولُ يَا مَهْدِيُّ أَعْطِنِي أَعْطِنِي قَالَ فَيَحْثِي لَهُ فِي ثَوْبِهِ مَا اسْتَطَاعَ أَنْ يَحْمِلَهُ. رواه الترمذي.

د حضرت ابوسعيد خدري ؓ څخه روايت دى چي رسول الله ﷺد مهدي د واقعې په لړ كي وفرمايل : مهدي ته به يو سړى راسي اووايي به ما ته راكړه، ما ته راكړه نبي كريم ﷺ وويل نو دده په كالو كي به په لپو مال ور واچول سي څومره چي دى وړلاى سي . ترمذي.

تخريج: سنن الترمذي ۴\۴۳۹، رقم: ۲۲۳۲.

تشريح: حضرت مهدي ؑ به د سوال كوونكي د حرص په لېدو سره هغه ته بې شمېره روپۍ او مال وركړي چي په راتلونكي كي هغه چا ته د سوال لاس و نه غزوي او په خپل زړه كي تنګي او غم محسوس نه كړي.

د امام مهدي د ظهور پيشګوئي

﴿۵۲۲۲﴾: وَعَنْ أُمِّ سَلَمَةَ عَنِ النَّبِيِّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ قَالَ يَكُونُ اخْتِلَافٌ

د حضرت ام سلمه (رض) څخه روايت دى چي رسول الله ﷺ وفرمايل : اختلاف به رامنځته سي

عِنْدَ مَوْتِ خَلِيفَةٍ فَيَخْرُجُ رَجُلٌ مِنْ أَهْلِ الْمَدِينَةِ هَارِبًا إِلَى مَكَّةَ فَيَأْتِيهِ

د يو خليفه پر مرګ باندي بيا به يو سړى د مدينې څخه راووځي او د مكې و طرف ته به وتښتي

نَاسٌ مِنْ أَهْلِ مَكَّةَ فَيُخْرِجُونَهُ وَهُوَ كَارِهٌ فَيُبَايِعُونَهُ بَيْنَ الرُّكْنِ وَالْمَقَامِ

د مكې خلک به هغه ته راسي هغه به د كور څخه د هغه په ناخوښۍ دباندي وباسي او د حجر اسود او مقام ابراهيم په منځ كي به د هغه په لاس سره بيعت وكړي

وَيُبْعَثُ إِلَيْهِ بَعْثٌ مِنْ أَهْلِ الشَّامِ فَيُخْسَفُ بِهِمْ بِالْبَيْدَاءِ بَيْنَ مَكَّةَ

او هغه به خپل خليفه جوړ كړي حال دا چي هغه سړى به په دې خوشحاله نه وي (دا سړى به امام مهدي وي) بيا به د شام (د پاچا د لوري) څخه د هغه د مقابلې لپاره يو لښكر راوليږل سي چي

وَالْمَدِينَةِ فَإِذَا رَأَى النَّاسُ ذَلِكَ أَتَاهُ أَبْدَالُ الشَّامِ وَعَصَائِبُ أَهْلِ الْعِرَاقِ

هغه به د مکې او مدينې په منځ کي په بيداء نامي ځاى کي ژوندي خسف (ډوب) کړل سي ، هر کله چي خلک خبر سي او دا حال ورته معلوم سي نو د شام ابدال او د عراق ډېر خلک به د هغه په

فَيُبَايِعُونَهُ بَيْنَ الرُّكْنِ وَالْمَقَامِ ثُمَّ يَنْشَأُ رَجُلٌ مِنْ قُرَيْشٍ أَخْوَالُهُ كَلْبٌ

خدمت کي حاضر سي او د هغه په لاس به بيعت وکړي بيا به د قريشو څخه يو بل سړى پيدا سي چي د هغه نيکونه به قبيله کلب وي ،

فَيَبْعَثُ إِلَيْهِمْ بَعْثًا فَيَظْهَرُونَ عَلَيْهِمْ وَذٰلِكَ بَعْثُ كَلْبٍ وَيَعْمَلُ فِي النَّاسِ

دا سړى به هم د هغه سړي خلاف لښکر وليږي او پر هغه لښکر به د امام لښکر غالب سي او دا فتنه د کلب د لښکر فتنه ده ، امام به د خلکو په منځ کي

بِسُنَّةِ نَبِيِّهِمْ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ وَيُلْقِي الْإِسْلَامُ بِجِرَانِهِ فِي الْأَرْضِ فَيَلْبَثُ سَبْعَ سِنِينَ ثُمَّ يُتَوَفَّى وَيُصَلِّي عَلَيْهِ الْمُسْلِمُونَ. رواه ابوداؤد.

د خپل پيغمبر (حضرت محمد ﷺ) د احکامو سره سم عمل کوي او اسلام ته به خپل غاړه پر مځکه کښېږدي امام به تر اووه کالو پوري قائم وي بيا به وفات سي او د هغه پر جنازه به مسلمانان لمونځ وکړي. ابوداؤد

تخريج: سنن ابي داود ۴\۴۷۵، رقم: ۴۲۸۶.

د لغاتو حل: الابدال: قوم من الصالحين لاتخلو الدنيا منهم اذا مات واحد ابدل الله مکانه باخر. جرانه: اى مقدم عنقه. (د مخ غاړه)

تشريح: په حديث کي چي د چا په اړه يادونه سوې ده د هغه څخه مراد حضرت امام مهدي عليه السلام دى، دليل يې دادى چي ابوداؤد دغه روايت په باب المهدي کي نقل کړى دى ، له مدينې څخه مراد يا خو مدينه منوره ده يا هغه ښار مراد دى چيري چي ذکر سوى خليفه وفات سي او د خليفه پر ټاکلو باندي به د خلکو اختلاف پيدا سي په دغه وخت کي به د حضرت امام مهدي عليه السلام مکې ته تېښته د ذکر سوي اختلاف د فتنې څخه د ساتنې لپاره وي او د مکې تګ ته به ځکه ترجيح ورکړي چي هغه ښار به نه يوازي دا چي د هر چا لپاره د امن ځاى وي بلکه په سکون او عافيت سره د الله جل جلاله په عبادت کي د بوختيا غوره ځاى هم دى .

بيداء: په اصل کي ځنګل او هواري مځکي ته وايي او پر سراى باندي يې هم اطلاق کيږي

مگر دلته په حديث كي د بيداء څخه مراد يو ځاى دى چي د مكې او مدينې په منځ كي واقع دى.
د شام د لښكر څخه مراد سفياني لښكر دى او ددغه لښكر د امام مهدي پر خلاف راتلل به په
اصل كي د سفياني حكومت پيدا سوې يوه فتنه وي چي د امام مهدي د ځرګندېدو د نښو څخه
يوه نښه ده، په دې اړه تقريبا په تواتر سره ډېر حديثونه منقول دي په هغو كي يو صحيح حديث
هغه دى كوم چي امير المؤمنين حضرت علي رضي الله عنه داسي نقل كړى دى چي هغه سفياني به په
نسلي توګه د خالد بن يزيد ابنٰ معاويه سره تعلق لري هغه به د لوى سر او ټپين مخ والا وي، د
هغه په سترګه كي به يو سپين داغ وي د دمشق په لور به دهغه ظهور وي د هغه د تابعدارانو د
ډلي به زيات د كلب د قبيلې سره تعلق لرونكي خلک وي ، د خلكو وينه بيول به دهغوئ خاص
عادت وي تر دې چي هغوئ به د حامله ښځو نس په ځيرلو سره ماشومان هم هلاک كړي هغوئ
چي د حضرت امام مهدي عليه السلام د ظهور خبر واوري نو د هغه سره د جنګ كولو لپاره به
يو لښكر وليږي چي ماته به وخوري، ددې څخه وروسته به هغه سفيان په خپله د يو لښكر په
ايستلو سره د حضرت امام مهدي عليه السلام د مقابلې لپاره ولاړ سي مگر هغه به د بيداء په ځاى كي د
خپل ټول لښكر سره په مځكه كي غرق سي او هيڅوک به پكښي ژوندى پاته نسي ، يوازي يو
سړى به پاته سي چي حضرت امام مهدي عليه السلام ته به د سفيان او د هغه د لښكر د
برتناک حشر خبر وركړي.

(ابدال) : د اولياء الله يوې ډلي ته وايي چي د هغوئ له بركته الله جل جلاله ددغه كائناتو نظام
هموار ساتلى دى، په دنيا كي د ټولو ابدالو شمېر اويا دى چي څلوېښت يې په شام كي دي او
دېرش نور په نورو هيوادو كي دي، اولياء الله ته ابدال ځكه وايي چي د دوئ بدلي كيږي يعني
كله چي په دوئ كي يو څوک وفات سي نو د هغه په بدله كي بل څوک وټاكل سي ، او يا دوئ ته
ابدال په دې اعتبار وايي چي هغوئ داسي مقدس كسان دي چي د عبادت او رياضت په ذريعه
په ځان كي ټول خراب عادتونه او خصلتونه ختم كړي او د هغه په بدله كي نيک عادتونه او
غوره اخلاق پيدا كړي، ددغه مقدسو ډلو په اړه په حديثو كي راغلي دي ، كه څه هم سيوطي
رحمة الله عليه د سنن ابوداؤد په تشريح كي ليكلي دي چي د ابدال يادونه په صحاح سته كي نه ده
راغلې پرته د ابوداؤد ددغه حديث څخه چي دلته نقل سوى دى، دغه حديث حاكم هم نقل كړى
دى او صحيح يې ګرځولى دى، مگر سيوطي رحمة الله عليه د صحاح سته څخه پرته د نورو مستندو او
معتبرو كتابو څخه داسي ډېر احاديث په جمع الجوامع كي نقل كړي دي، چي په هغو كي دابدال
يادونه ده، په ډېرو حديثونو كي د څلوېښت شمېر راغلى دى او په ځينو كي د دېرشو شمېر

راغلی دی، هغوئ د حضرت علي ﷛ یو دا روایت هم نقل کړی دی چي ابدالو کومه لوړه درجه تر لاسه کړې ده نو هغه د ډېرو لمونځو او روژو په وجه نه ده او نه هغه د عبادتو په وجه ده بلکه هغوئ دو مره په لوړه کچه سخي ، د زړه په سلامتیا او د مسلمانانو سره د خیرخواهۍ د درلودلو په وجه دغه لوړي درجې تر لاسه کړي دي، رسول الله ﷺ وفرمایل: اې علي! زما په امت کي د داسي خلکو وجود چي د ابدالي د صفت درلودنکي وي ډېر زیات نادر دي، یعني ابدال هم کم وي او په یوه حدیث کي چي د حضرت معاذ بن جبل ﷛ څخه منقول دی، دافرمایل سوی دي چي په کوم چا کي درې صفتونه یعني رضا ، د ممنوعاتو څخه په پوره توګه پرهیز او د الله ﷻ د دین لپاره غصه کول وي، نو د هغه شمېر د ابدال په ډله کي کیږي، امام غزالي ﵀ په احیاء العلوم کي نقل کړي دي چي کوم
څوک هره ورځ درې ځله دغه دعاء وایي نو د هغه لپاره د ابدال درجه لیکل کیږي، دعاء دا ده:

اللهم اغفر لامة محمد ، اللهم ارحم امة محمد ، اللهم تجاوز عن امة محمد .

ژباړه: اې الله! امت محمدي (ﷺ) ته بخښنه وکړې ، اې الله! پر امت باندي رحم وکړې او اې الله! د امت محمدي ګناهونه معاف کړې .

خلاصه دا چي څوک د خپل ځان څخه ټولي انساني او اخلاقي خرابۍ لیري کړي ، خپل ځان په پوره توګه پاک او مهذب جوړ کړي او د مخلوق خیر خواه سي نو د هغه شمېر د ابدالو په ډله کي کیږي .

عصائب: هم د اولیاء الله د یوې ډلي نوم دی لکه څرنګه چي ابدال دي، له حضرت علي ﷛ څخه منقول دي چي ابدال د شام په هیواد کي اوسیږي او عصائب د عراق په هیواد کي او نجباء د مصر په هیواد کي (د ابدال او عصائبو په ډول نجباء هم د اولیاء الله د ډولو څخه یو ډول دی) او ځینو حضراتو دا ویلي دي چي عصائب هغه خلکو ته وایي چي په خپله ټولنه کي تر ټولو زیات عابد ، زاهد او نېک وي، دغه وضاحت غالبا د لغوي معنی په اعتبار دی ځکه چي په لغت کي عصب القوم د قوم نیکو خلکو ته وایي .

د کلب قبیلې لښکر جوړول او د هغوئ له خوا قتل و قتال رامنځته کېدل به په آخره زمانه کي د یوې فتنې په توګه څرګندیږي، او دا فتنه هم د حضرت امام مهدي ﵇ د ظهور د نښو څخه یوه نښه ده او د مسلمانانو دین به پر خپل غاړه وي، مطلب دادي چي دین اسلام به قائم سي د شریعت قوانین به په پوره سکون او اطمینان سره جاري سي او ټول مسلمانان به په ارامه او ډاډ سره ژوند تېروي، څرګنده دي وي چي (جران) د اوښ د غاړي هغه مخکنۍ برخي ته وایي چي د

ذبح د ځای ځخه د نحر تر ځای پوري وي، کله چي اوښ په تللو سره و دريږي او د آرام کولو لپاره کښيني نو د خپلي غاړي هغه برخه پر مځکه اوږده کړي چي په دې سره هغه ته ډېر آرام تر لاسه کيږي، دلته د اوښ د غاړي سره د تشبيه ورکولو مقصد دادی چي د حضرت امام مهدي عليه السلام په زمانه کي به اسلام ته ثبات او قرار تر لاسه سي چي د مسلمانانو په منځ کي به مخالفت، مناقشت او د جنګ جګړو نوم او نښان نه وي، د دين او اسلام لوړتيا، د احکام سنت پابندي او د ملي نظام د خوشحالۍ او استحکام دور به وي.

د مهدويت د دروا غو دعوه کوونکو ترديد

دلته دا ښوول ضروري دي چي ډېرو خلکو ددې خبري دعوه کړې ده چي هغوئ مهدي دي، په هغوئ کي ځيني خلک هغه دي چي د مهدي لغوي معنی د هدايت کونکي اخلي او ځان ته مهدي وايي، ځرګنده ده چي د داسي خلکو په اړه يو ترديدي خبره نه ويل کيږي ځکه که هغوئ په حقيقت کي د هدايت رښا خپرونکي وي او د هغوئ په ذريعه مخلوق ته د دين او آخرت صحيح لارښوونه تر لاسه کيږي نو په لغوي توګه هغوئ ته مهدي ويل کيږي مګر هغه خلک چي محض د دنيا په فريب کي په اخته کېدو سره او د خپل شخصيت په لوړلو سره ځان ته مهدي وايي نو په دې کي شک نسته چي هغه بالکل دروا غجن او مکار دی، نو د داسي خلکو مکر او فريب د مسلمانانو د خطا ايستلو او هغوئ د ځان پيروان کولو لپاره وي، او د هغوئ په ذريعه نه يوازي دا چي د مهدي کېدو دعوه کوي بلکه په ځينو ښارو او هيوادو کي يې فتنه او فساد خپور کړی وي، او په پای کي د هغوئ انجام ډېر خراب سو.

صحيح العقيده مسلمانانو د هغوئ پوره دفع کړې ده او هغوئ ته د تبليغ کولو سره د هغوئ ښارونو او هيوادو خلکو ته يې د هغوئ د فتنې او فساد ځخه خلاصون ورکړ، زموږ په پاکستان او هندوستان کي د يو داسي ګمراه خلکو ډلي پيدا سوي دي چي ځان ته مهدويه وايي ددې ډلي خلک ډېر جاهل وه، د دوئ عقيده وه چي مهدي موعود زموږ د پيشوا په صورت کي ظاهر سو او بيا وفات سو او د خراسان په يو ښار کي د فن سو، د هغوئ د ګمراهيو ځخه يوه لويه ګمراهي دا عقيده وه چي کوم ځوک زموږ د نظر او خيال عقيده نه لري او زموږ له خبري سره متفق نه وي نو هغوئ کافر دي، له دې کبله په دغه زمانه کي د مکې د ځلورو مذهبو علماؤ په اتفاق سره دا فتوا ورکړې ده چي پر صاحب اقتدار مسلمانانو باندي واجب دي چي دا خلک قتل کړي او همدارنګه د شيعه دغه عقيده او قول هم بالکل فاسد دی چي مهدي موعود په

اصل كي محمد ابن احمد عسكري دی چي هغه وفات سوی نه دی بلکه هغه د نظرو څخه پټ سوی دی ، هغه د زمانې امام دی او پر خپل وخت باندي په ظاهرېدو سره د خپل امامت او حاکیمت اعلان کوي ، د اهل سنت والجماعت په نزد دا قول هم د سره غلط او باطل دی او ددې په تردید کي د علم کلام کتابونه د دلائلو څخه ډک دی ددې څخه پرته په عروة الوثقی کي په وضاحت سره لیکل سوي دي چي حضرت محمد ابن حسن عسکري وفات سوی دی .

﴿۵۲۲۳﴾: وَعَنْ أَبِيْ سَعِيْدٍ قَالَ ذَكَرَ رَسُوْلُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ بَلَاءً

د حضرت ابوسعید ﷺ څخه روایت دی چي رسول الله ﷺ د یوې بلا ذکر وکړ

يُصِيْبُ هٰذِهِ الْأُمَّةَ حَتّٰى لَا يَجِدَ الرَّجُلُ مَلْجَأً يَلْجَأُ إِلَيْهِ مِنَ الظُّلْمِ فَيَبْعَثُ

چي پر دې امت به نازلیږي تر دې چي هیڅوک به د هغې بلا څخه د پناه تر لاسه کولو ځای تر لاسه نه کړي بیا به

اللهُ رَجُلاً مِنْ عِتْرَتِيْ وَأَهْلِ بَيْتِيْ فَيَمْلَأُ بِهِ الْأَرْضَ قِسْطًا وَّعَدْلاً كَمَا مُلِئَتْ

الله تعالی یو سړی ولېږي چي زما د اولاد او کورنۍ څخه به وي هغه به مځکه د عدل او انصاف څخه داسي معموره کړي لکه څرنګه چي مځکي

ظُلْمًا وَجَوْرًا يَرْضٰى عَنْهُ سَاكِنُ السَّمَاءِ وَسَاكِنُ الْأَرْضِ لَا تَدَعُ السَّمَاءُ مِنْ

د ظلم او ستم څخه معموره وه په دې سره به د مځکي خلک هم خوشحاله سي او آسمان والا هم،

قَطْرِهَا شَيْئًا إِلَّا صَبَّتْهُ مِدْرَارًا وَلَا تَدَعُ الْأَرْضُ مِنْ نَبَاتِهَا شَيْئًا إِلَّا أَخْرَجَتْهُ

(د هغه په زمانه کي) به د آسمان د باران د څاڅکو څخه هیڅ باقي پرې نه ږدي یعني باران به ډیر وي او مځکه به د خپل شنګیاوو او وښو څخه هیڅ باقي پرې نه ږدي یعني هر څه به راشنه کوي

حَتّٰى يَتَمَنَّى الْأَحْيَاءُ الْأَمْوَاتَ يَعِيْشُ فِيْ ذٰلِكَ سَبْعَ سِنِيْنَ أَوْ ثَمَانَ سِنِيْنَ أَوْ

تِسْعَ سِنِيْنَ. رواه حاكم.

تر دې چي ژوندي خلک به ددې خبري ارمان کوي چي مړه خلک په دغه ښه وخت کي ژوندي

واى ، دا سړى به داسي ژوندى وي دا سړى به همداسي ژوندى وي اووه کاله، يا اته کاله او يا نهه کاله به تير کړي . حاکم

تخريج: قال ملا علي القاري في مرقاة المفاتيح ۵\ ۱۸۴،

تشريح: آسمان به د خپل باران د څاڅکو...ترپايه: خلاصه داده چي د حضرت مهدي ؑ په زمانه کي به دخير او برکت دا حال وي چي باران به د وخت او ضرورت سره سم په پوره توګه اوري، کښتونه او د مځکي څخه تر لاسه کېدونکي شيان به ډېر پراخه سي او همدارنګه هري خوا ته به خوشحالي او ارام وي، او خلک به ډېر خوشحاله ژوند تېروي؛

ژوندي خلک به د مړو خواهش کوي: مطلب دادی چي د هغه زمانې خلک به دومره خوشحاله ژوند تېروي چي د مړو وجود او ژوند خواهش به کوي او دا به وايي چي ارمان هغه خلک زموږ په زمانه کي واى نو هغوئ ته به ددغه خوشحاله ژوند لېدل په برخه سوي واى، څرګنده دي وي چي ځينو کسانو د (احياء) لفظ د الف په زېر سره يعني مصدر ويلى دى چي معنى يې د ژوند کول دي، په دغه صورت کي به ددغه جملې مفهوم دا وي چي خپله مړي به دا خواهش کوي چي الله ﷻ هغوئ ته دوهم ځل په ژوند ورکولو سره دنيا ته راوليږي چي هغوئ هم د خوشحالۍ زمانه ووينې مګر دا خبره د مبالغې د اظهار لپاره د يو ناممکن شي د ممکن فرض کولو په توګه ده ، په شرط ددې چي احياء د الف په زېر سره ثابت وي کنه نو ددې خبري د يو احتمال څخه پرته بل هيڅ ازربنت نسته.

اته يا نهه کاله: دغه الفاظ يا خو د راوي د شک څرګندولو لپاره دي چي د روايت د نقل کولو په وخت کي راوي ته په صحيح توګه ياد نه وه چي رسول الله ﷺ دلته د اوو کالو شمېر ذکر کړ که د اتو او که د نهو ، يا دغه الفاظ خپله رسول الله ﷺ فرمايلي دي چي مطب يې دادی چي ددغه حديث فرمايلو تر وخت پوري رسول الله ﷺ ته هم په مبهمه توګه سره معلوم وو چي رسول الله ﷺ د اوو ، اتو او يا نهو په ذريعه بيان وفرمايه مګر بيا وروسته د الله ﷻ له خوا رسول الله ﷺ ته په يقين سره د اوو کالو وخت ونبودل سو ، نو رسول الله ﷺ له هغه څخه وروسته په حديثو کي يوازي د اوو کلو يادونه فرمايلې ده .

د مشکوة په اصل نسخه کي د رواه څخه وروسته خالي ځاى دى مګر وروسته دا عبارت ليکل سوى دى (الحاکم في مستدرکه وقال صحيح) يعني دغه روايت حاکم په خپل مستدرک کي نقل کړى دى او ويلي يې دي چي دا حديث صحيح دى .

يوه پېشگوئي

﴿۵۲۲۴﴾: وَعَنْ عَلِيٍّ قَالَ قَالَ رَسُوْلُ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ يَخْرُجُ رَجُلٌ

د حضرت علي رضی اللہ عنہ څخه روايت دئ چي رسول الله ﷺ وفرمايل: يو سړی به په دغه ښارونو کي

مِنْ وَرَاءِ النَّهْرِ يُقَالُ لَهُ الْحَارِثُ حَرَّاثٍ عَلَى مُقَدِّمَتِهِ رَجُلٌ يُقَالُ لَهُ مَنْصُورٌ

چي د ويالې (ماوراء النهر) ترشا واقع دي څرګند سي چي په حارث حراثه به بلل کيږي د ده پر لومړني لښکر به يو سړی وي د هغه نوم به منصور وي،

يُوَطِّئُ أَوْ يُمَكِّنُ لِآلِ مُحَمَّدٍ كَمَا مَكَّنَتْ قُرَيْشٌ لِرَسُوْلِ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ وَجَبَ عَلَى كُلِّ مُؤْمِنٍ نَصْرُهُ أَوْ قَالَ إِجَابَتُهُ. رواه ابوداؤد.

دا حارث به د حضرت محمد ﷺ اولاد ته تمځای ورکړي لکه څرنګه چي د قريشو هغه خلکو چي ايمان يې راوړی وو حضرت محمد ﷺ ته ځای ورکړی وو پر هر چا د دغه سړي مرسته واجب ده، يا وه يې فرمايل چي قبلول يې واجب دي. ابوداؤد

تخريج: سنن ابي داود ۴\۴۷۷، رقم: ۴۲۹۰.

د لغاتو حل: مقدمته: اى مقدمة جيشه، يوطن: اي يقرر و يثبت الامر.

تشريح: د ماوراء النهر معنی د هغه سيمي ده چي د ويالې شاته وي او ددې څخه مراد هغه خطه ده چي په هغه کي بخارا، سمرقند او نور ښارونه واقع دي، په حارث حراث کي حارث اصلي نوم دی او حراث د هغه صفت دی يعني کښت کوونکی.

(يوطن او يمكن) يعني ځای به ورکړي، دلته د او حرف يا خو د راوي د شک څرګندولو لپاره دی او يا د او په معنی کي دی، په دغه صورت کي به د جملې مفهوم دا وي چي هغه سړی به د محمد ﷺ د اولاد له لوري مال، اسباب، وسله او روپۍ ورکوي د هغوئ حکومت او خلافت به مستحکم وي، په مختلفو ذرائعو او طريقو به هغوئ ته تقويت رسوي او د خپل لښکر په ذريعه به د هغوئ مرسته کوي.

د محمد ﷺ د اولاد څخه مراد په عامه توګه ټوله کورنۍ او د رسول الله ﷺ اهل بيت دي، او په خاصه توګه د حضرت امام مهدي علیہ السلام ذات مراد دی، دا هم ويل کيږي چي د دغه الفاظ (د محمد ﷺ اولاد) زائد دی او د محمد ﷺ څخه مراد حضرت امام مهدي علیہ السلام دی.

له قريشو څخه مراد هغه خلک دي چې هغوئ ايمان قبول کړی وو او په هر څه سره يې د رسول الله ﷺ مرسته او اعانت کړی وو لکه حضرت ابوبکر صديق ﷺ او داسي نور کسان، مګر رسول الله ﷺ ته په ځای ورکولو کي ابوطالب هم شامل دي که څه هم هغه ايمان نه وو قبول کړی ، يا دايې وفرمايل چې هغه سړي قبول کړئ ، دغه الفاظ د راوي له خوا د هغه د شک ثرګندولو لپاره دي، رسول الله ﷺ دلته يا خو د نصره لفظ وفرمايه او يا د اجابته لفظ، ددغه حديث د سياق څخه او په دې اړه منقول نور حديثو د اسباق څخه دا معلوميږي چې رسول الله ﷺ د کوم چا د ثرګندېدو وړاند وينه فرمايلې وه هغه به د خپل امامت او خلافت په دعوه سره ثرګند سي يعني د هغه ظهور به د حکومت د مشرتابه په صورت کي وي او د هغه اطاعت او فرمانبرداري به پر مسلمانانو واجب دي، او منصور نامی سړی به د هغه د لښکر قومندان وي ، د ځينو کسانو دا وينا ده چې رسول الله ﷺ د منصور په فرمايلو سره اشاره وفرمايل چې د هغه ثرګندونه سوې ده او هغه مشهور عالم حضرت ابومنصور ماتريدي وو چې د هغه درجه د حنفي فقه د اصول د مدون حيثيت سره په حنفيه کي امام کمل کيږي او د هغه ذات د حنفي اصول فقه مدار دی .

﴿۵۲۲۵﴾: وَعَنْ أَبِي سَعِيدٍ الْخُدْرِيِّ قَالَ قَالَ رَسُولُ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ

د حضرت ابوسعيد ﷺ څخه روايت دئ چي رسول الله ﷺ وفرمايل :

وَالَّذِي نَفْسِي بِيَدِهِ لَا تَقُومُ السَّاعَةُ حَتَّى تُكَلِّمَ السِّبَاعُ الْإِنْسَ وَحَتَّى تُكَلِّمَ

په هغه ذات دي مي قسم وي د چا په واک کي چي زما روح ده قيامت به نه راځي تر څو پوري چي درندګان د خلکو سره خبري ونه کړي او تر څو پوري چي خبري ونه کړي

الرَّجُلَ عَذَبَةُ سَوْطِهِ وَشِرَاكُ نَعْلِهِ وَتُخْبِرَهُ فَخِذُهُ بِمَا أَحْدَثَ أَهْلُهُ بَعْدَهُ. رواه الترمذي

د سړي د دُرې تسمې او د څپليو تسمې د هغه سره تر دې چي سړي ته به خپل ورون وو ايي چي د هغه په نه شتون کي د هغه اهل او عيال څه څه کړي دي . ترمذي

تخريج: سنن الترمذي ۴\۴۱۳، رقم: ۲۱۸۱.

اَلْفَصْلُ الثَّالِث (دريم فصل)

د قيامت نښي به كله ظاهريږي

﴿۵۲۲۶﴾ : عَنْ أَبِي قَتَادَةَ قَالَ قَالَ رَسُولُ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ الْآيَاتُ بَعْدَ الْمِائَتَيْنِ. رواه ابن ماجه.

د حضرت ابو قتاده رضي الله عنه څخه روايت دئ چي رسول الله ﷺ وفرمايل : (د قيامت) نښي به دوه سوه كاله وروسته شروع سي. ابن ماجه

تخريج: سنن ابن ماجه ۲\۱۳۴۸، رقم: ۴۰۵۷.

تشريح: د رسول الله ﷺ دوينا مطلب دا وو چي كوم شيان او كومي خبري د قيامت نښي ګرځول سوي دي د هغو څرګندېدل او پيښېدل به د دوو سوو كالو وروسته پيل سي، ياته سوه دا خبره چي دغه دوه سوه كاله له څه وخت څخه مراد دي نو د هجرت نبوي دوخت څخه يا د اسلام د رڼا د ظهور دوخت څخه او يا د رسول الله ﷺ د وفات د وخت څخه دوه سوه كاله وخت مراد دی، او دا هم كيدای سي چي پر المائتين باندي د لام حرف د عهد لپاره وي چي مطلب يې دادی چي د قيامت نښي به د دوو سوو كالو وروسته وي، د نور زيات وضاحت لپاره دا سي ويل كيږي چي د دوو سوو كالو څخه دوولس سوه كاله مراد دي او دا به هغه زمانه وي چي د قيامت كوچنۍ نښي به څرګنده سوي وي او لوی نښي لكه د حضرت مهدي عليه السلام څرګندېدل، دحضرت عيسی عليه السلام نزول، د دجال راوتل او نوري پرله پسې نښي څرګندېدل يعني لمر د ختيځ پر ځای د لوېديځ څخه راختل، د دابة الارض راوتل، او د ياجوج ماجوج وغيره څرګندېدو وخت رانژدې سي او اهل علم به محسوس كړي چي دنيا دخپل عمر اخري حدودو ته رسېدلې ده.

يوه لارښوونه

﴿۵۲۲۷﴾ : وَعَنْ ثَوْبَانَ قَالَ قَالَ رَسُولُ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ إِذَا رَأَيْتُمُ الرَّايَاتِ السُّودَ قَدْ جَاءَتْ مِنْ قبل خُرَاسَانَ فَأْتُوهَا فَإِنَّ فِيهَا خَلِيفَةَ اللّٰهِ الْمَهْدِيَّ. رواه احمد والبيهقي في دلائل النبوة.

د حضرت ثوبان رضي الله عنه څخه روايت دئ چي رسول الله ﷺ وفرمايل : هر كله چي تاسو د خراسان د لوري تور بيرغونه راتلل ووينئ نو هغه خوا متوجه سئ (يعني په هغه خلكو كي ګډ سئ) ځكه چي په هغه بيرغو كي به د الله جل جلاله خليفه مهدي وي . احمد او بيهقي.

تخريج: مسند الامام احمد ۵\ ۲۷۷.

تشريح: د توري نښي څخه مراد حارث او د منصور لښكر دى چي د هغه په اړه په يو تير سوي يو حديث كي ذكر وسو، او د متوه كېدو څخه مراد په هغه لښكر كي شامليدل او د راتلونكو اميرانو او حاكمانو اطاعت او فرمانبرداري كول دي.

د مهدي څخه مراد د هغه لغوي معنى ده يعني هغه خليفه او مشر چي يو معمولي سړى نه وي بلكه د الله جل جلاله له خوا هدايت يافته وي او خلك به د هدايت پر لار بيايي چي د هغه مشرتوب قبلول او د هغه اطاعت كول به واجب وي.

په دغه ارشاد كي له مهدي څخه نه خو حضرت مهدي عليه السلام مراد دى او نه ددې خبري تضاد معلوميږي چي د مهدي ظهور به د حرمين شريفين څخه كيږي.

امام مهدي به د حضرت حسن رضي الله عنه د اولاد څخه وي

﴿۵۲۲۸﴾: وَعَنْ أَبِي إِسْحَقَ قَالَ قَالَ عَلِيٌّ رَضِيَ اللهُ عَنْهُ وَنَظَرَ إِلَى ابْنِهِ الْحَسَنِ

د حضرت ابو اسحاق رضي الله عنه څخه روايت دى چي حضرت علي رضي الله عنه خپل زوى حسن رضي الله عنه ته وكتل

وَقَالَ إِنَّ ابْنِي هٰذَا سَيِّدٌ كَمَا سَمَّاهُ رسول الله صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ وَسَيَخْرُجُ

او وه يې ويل : زما دا زوى څرنګه چي رسول الله ﷺ فرمايلي دي سردار دى، ډير ژر به ده د

مِنْ صُلْبِهِ رَجُلٌ يُسَمَّى بِاسْمِ نَبِيِّكُمْ يُشْبِهُهُ فِي الْخُلُقِ وَلَا يُشْبِهُهُ فِي الْخَلْقِ

ثُمَّ ذَكَرَ قِصَّةً يَمْلَأُ الْأَرْضَ عَدْلًا . رواه ابوداؤد ولم يذكر القصة.

ملا څخه يو سړى پيدا سي چي د هغه نوم به ستاسو د نبي په نامه وي، په اخلاقو او عاداتو كي به د هغه ﷺ متشابه وي، په صورت او شكل كي به مشابه نه وي، ددې څخه وروسته حضرت علي رضي الله عنه د هغه سړي د عدل او انصاف واقعه بيان كړل چي مځكه به دعول څخه ډكه كړي. ابوداؤد

تخريج: سنن ابي داود ۴\ ۴۴۷، رقم: ۴۲۹۰.

تشريح: لكه څرنګه چي رسول الله ﷺ د هغه په اړه فرمايلي دي، ددغه قول په ذريعه حضرت

علي رضي الله عنه د رسول الله ﷺ دغه ارشاد ته اشاره وفرمايل : ابني هذا سيد ولعل الله ان يصلح به بين فئتين عظيمتين من المسلمين ، يعني زما دغه زوی سيد (سردار) دی او اميد دی چي الله جل جلاله به دده په ذريعه د مسلمانانو د دو ولويو ډلو په منځ کي صلح راولي .

په ظاهري شکل او صورت کي به د رسول الله ﷺ مشابه نه وي يعني حضرت مهدي عليه السلام به په ټولو شيانو کي او په هر اعتبار د رسول الله ﷺ د ظاهر شکل او صورت مشابه نه وي ، مګر په ځيني اعتبار سره د هغه له رسول الله ﷺ سره ظاهري مشابهت ثابت دی لکه چي مخکي بيان سول، دغه حديث د دې خبري دليل دی چي حضرت امام مهدي عليه السلام به د حضرت امام حسن رضي الله عنه له اولاد څخه وي او حضرت امام حسن رضي الله عنه ته د هغه نسبت به د مور له طرفه وي او په دې سره د شيعه ګانو د دغه قول ترديد کيږي چي امام مهدي عليه السلام په اصل کي محمد ابن حسن عسکري دی چي په دغه دنيا کي موجود دی، مګر د نظرونو څخه پټ سوی دی، او په خپل وخت به ظاهريږي، د شيعه ګانو دا قول ځکه صحيح نه دی چي محمد ابن حسن عسکري رضي الله عنه په اتفاق سره حسيني دی هغه د حضرت امام حسن رضي الله عنه د اولاد څخه نه دی که دا وويل سي چي حضرت علي رضي الله عنه د امام حسن رضي الله عنه د اولاد څخه د يو سړي پيدا کېدو ته اشاره کړې ده ، کيدای سي د دې څخه مراد د امام مهدي عليه السلام څخه پرته بل څوک وي، نو دا خبره هم خلاف حقيقت وي ځکه چي مځکه د عدل او انصاف څخه د ډکونکې خبره د دې ترديد کوي، نو په هيڅ روايت کي هم حسني يا حسيني ساداتو څخه د هيڅ داسي سړي ذکر نسته چي هغه ته د مځکي د عدل او انصاف څخه د ډکونکي خبري نسبت سوی وي پرته له دې څخه چي دغه صفت د مهدي عليه السلام په باره کي نقل کيږي .

د ملخانو ختمېدل د قيامت د نښو څخه دی

﴿۵۲۲۹﴾ : وَعَنْ جَابِرِ بْنِ عَبْدِ اللهِ قَالَ فُقِدَ الْجَرَادُ فِيْ سَنَةٍ مِّنْ سِنِيْ عُمَرَ

حضرت جابر بن عبد الله رضي الله عنه وايي په کوم کال چي حضرت عمر رضي الله عنه وفات سوی دی په هغه کال ملخان نه راغلل ، حضرت عمر رضي الله عنه

الَّتِيْ تُوُفِّيَ فِيْهَا فَاهْتَمَّ بِذٰلِكَ هَمًّا شَدِيْدًا فَبَعَثَ إِلَى الْيَمَنِ رَاكِبًا وَرَاكِبًا إِلَى

دا په خاصه توګه محسوسه کړه او پر ملخانو نه راتلو باندي غمګين سو ، بيا يې د يمن په لور يو

الْعِرَاقِ وَرَاكِبًا إِلَى الشَّامِ يَسْأَلُ عَنِ الْجَرَادِ هَلْ أُرِيَ مِنْهُ شَيْئًا فَأَتَاهُ الرَّاكِبُ

سپور وليږی او د عراق په لور يې يو سپور وليږي او د شام په لور يې يو سپور وليږی چي هلته په رسيدو

سره د ملخانو په باره کي پوښتنه وکړي چي يو چا چيري ليدلي دي، کوم سپور چي

الَّذِيْ مِنْ قِبَلِ الْيَمَنِ بِقَبْضَةٍ فَنَثَرَهَا بَيْنَ يَدَيْهِ فَلَمَّا رَآهَا عُمَرُ كَبَّرَ وَقَالَ

يمن ته ليږل سوی وو هغه يو موټ ملخان راوړل او د حضرت عمر رضي الله عنه مخ ته يې ايله کړل د هغه په ليدو سره حضرت عمر رضي الله عنه الله اكبر وو ايه، بيا يې دا بيان وکړ چي

سَمِعْتُ رَسُوْلَ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ يَقُوْلُ إِنَّ اللهَ عَزَّ وَجَلَّ خَلَقَ أَلْفَ

ما د رسول الله ﷺ څخه دا اوريدلي دي چي الله تعالى زر امتونه پيدا کړي دي

أُمَّةٍ سِتُّمِائَةٍ مِنْهَا فِي الْبَحْرِ وَأَرْبَعَمِائَةٍ فِي الْبَرِّ فَإِنَّ أَوَّلَ هَلَاكِ هٰذِهِ الْأُمَّةِ

په دې کي شپږ سوه په درياب کي دي او څلور سوه په وچه کي دي، په حيوانانو کي به تر ټولو

الْجَرَادُ فَإِذَا اَهْلَكَ الْجَرَادُ تَتَابَعَتِ الْأُمَمُ كَنِظَامِ السِّلْكِ. رواه البيهقي في شعب الإيمان.

اول ملخان هلاک سي، بيا به د حيوانانو نور ډولونه يو په بل پسې هلاکيږي لکه څرنګه چي د ملغلرو تار خلاص سي او ملغلري يو په بل پسې ايله کيږي. بيهقي.

تخريج: البيهقي في شعب الايمان ١٧\ ٢٣٤، رقم: ١٠١٣٢.

==============

بَابُ الْعَلَامَاتِ بَيْنَ يَدَيِ السَّاعَةِ وَذِكْرِ الدَّجَّالِ

(د قيامت څخه مخکي د څرګندېدونکو نښو او د دجال يادونه)

په دغه باب کي د آخري زمانې د هغه نښو او علاماتو يادونه سوې ده چي قيامت ته نژدې به څرګنده سي لکه چي په تېر سوي باب کي د کوچنيو نښو يادونه وه.

بايد چي د حضرت امام مهدي عليه السلام د څرګندېدو يادونه هم په دغه باب کي سوې وای ځکه چي د هغه د وجود تعلق د حضرت عيسى عليه السلام او دجال سره دی مګر د حضرت مهدي عليه السلام ذکر د تېرو بابو په هغه حديثو کي سوی دی چي په هغو کي د داسي فتنو او جګړو يادونه وه چي د امام مهدي عليه السلام د څرګندېدو څخه مخکي به واقع کيږي، او د هغه د ظاهرېدو وروسته به ختم سي

ځکه په دغه باب کي د هغه یادونه ونه سول.
د قیامت ځنځه مخکي چي د کومو لسو نښو یادونه کیږي او د کتاب مؤلف دلته نقل کړي دي د هغو ظاهرېدل او واقع کېدو چي کوم ترتیب په حدیثو او روایاتو کي منقول دي په هغو کي اختلاف دی چي په ځینو حدیثو او روایتو کي په یوه ترتیب سره نقل سوي دي او په ځینو کي په بل ترتیب سره منقول دي، شارحینو د هغو په منځ کي مطابقت او موافقت پیدا کولو لپاره ډېر څه لیکلي دي چي د هغه یو څه برخه به د حدیثو د تشریح په څنګ کي ذکر کړل سي، مګر دا خبره باید په ذهن کي وي چي په دغه لسو نښو کي تر ټولو لویه او سخته نښه د دجال ښکارېدل دي چي د هغه په اړه ډېر زیات مشهور احادیث منقول دي.

د دجال او مسیح معنی

د (دجال) لفظ د دجل څخه ایستل سوی دی چي معنی یې د غلط، مکر او د تلبیس ده، کله چي یو څوک یوه صحیح خبره د یوې غلطي خبري سره ګډوي او چمبازي کوي نو ویل کیږي چي دجل الحق بالباطل، یعني هغه حق د باطل سره ګډ وډ کړ، د دجل معنی د کذب یعني دروغو هم ده نو د دجال په ذات کي دغه دواړي معناوي تر لاسه کېدل بالکل ښکاره خبره ده، له دې څخه پرته په قاموس او نورو کتابو کي د دجال نوري د تسمیې وجهي هم ذکر سوي دي.
مسیح یو داسي مشترک نوم دی چي د حضرت عیسی علیه السلام او دجال دواړه لپاره استعمالیږي، مګر په عامه توګه سره دا کیږي چي کله دغه لفظ د دجال لپاره استعمالیږي نو هغه یوازي د دجال سره مقید کوي یعني مسیح دجال ورته وایي او کله چي د حضرت عیسی علیه السلام لپاره استعمالیږي نو دغه لفظ مطلق استعمالوي یعني یوازي مسیح ورته وایي، حضرت عیسی علیه السلام ته مسیح ځکه ویل کیږي چي هغه به یو ړوند یا پیس یا بل ناروغ باندي لاس راتېر کړ نو هغه به روغ سو، یا دا چي د حضرت عیسی علیه السلام پښه د عامو خلکو په ډول نه وه بلکه هواره وه ځکه حضرت عیسی علیه السلام ته مسیح ویل کیږي، یا دا چي حضرت عیسی علیه السلام د مور د نس څخه بالکل ممسوح یعني پاک پیدا سوی وو، د زېږېدو په وخت کي ماشوم چي د کومو شیانو سره د مور له نس څخه راوځي هغه خیري دده سره نه وي بالکل پاک د مور د نس څخه راغلی دی، په دې اعتبار ورته مسیح ویل کیږي، د ځینو علماوو په نزد د مسیح معنی د صدیق ده په دې اعتبار ورته مسیح ویل بالکل ښکاره خبره ده، یوه خبره دا هم کیږي چي حضرت عیسی علیه السلام به د مځکي فاصله ډېر ژر پرې کول نو د مساحت په مناسبت سره نو موړي ته مسیح ویل کیږي.

دجال ته هم د مسيح ويلو يوه وجه داوه چي هغه به تقريبا د ټولي مځکي تګ کوی او په ټوله دنيا کي به ګرځي او دغه ملعون ته د مسيح ويلو نوري وجهي هم دي يو خو دا چي د هغه يوه سترګه به غائبه وي او يوې خوا ته مخ به يې ممسوح وي ، دوهم دا چي هغه به يو داسي کس وي چي د هغه څخه خير او نيکي ليري کړل سوې ده لکه څرنګه چي د حضرت عيسى عليه السلام د ذات څخه بدي او خيري ليري کړل سوي دي، نو حضرت عيسى عليه السلام خو مسيح الله او دجال ملعون مسيح الضلالت دی، ځينو حضراتو ويلي دي چي د دجال لپاره د مسيح لفظ دی چي د هغه معنی د بد شکل او بد صورت ده او د حضرت عيسى عليه السلام لپاره د مسيح لفظ دی ، دا چي ځينو خلکو ويلي دي چي د دجال لپاره د مسخ لفظ دی نو دا خبره غلطه ده .

اَلْفَصْلُ الْأَوَّلُ (لومړی فصل)

د قيامت د راتللو لس غټي نښي

﴿۵۲۳۰﴾: عَنْ حُذَيْفَةَ بْنِ أَسِيدٍ الغفاري قَالَ اِطَّلَعَ النَّبِيُّ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ

د حضرت حذيفه بن اسيد غفاري رضي الله عنه څخه روايت دی چي موږ د قيامت ذکر کوی چي رسول الله

وَسَلَّمَ عَلَيْنَا وَنَحْنُ نَتَذَاكَرُ فَقَالَ مَاتَذَاكَرُونَ قَالُوا نَذْكُرُ السَّاعَةَ قَالَ إِنَّهَا

صلى الله عليه وسلم زموږ و طرف ته وکتل او وه يې فرمايل چي تاسو څه بحث کوئ ؟ موږ وويل چي د قيامت خبري کوو ، هغوئ وفرمايل چي قيامت به

لَنْ تَقُومَ حَتَّى تَرَوْنَ قَبْلَهَا عَشْرَ آيَاتٍ فَذَكَرَ الدُّخَانَ وَالدَّجَّالَ وَالدَّابَّةَ

تر هغه وخته پوري نه راځي تر څو پوري چي تاسو لس نښي وه نه وينئ، ددې څخه وروسته رسول الله صلى الله عليه وسلم د هغه نښو ذکر وکړ او وه يې فرمايل : دود چي په مشرق او مغرب کي به تر ځلوېښتو ورځو پوري خپرېږي، دجال، دابه (يعني د دابة الارض ظهور)، (دابة الارض يو حيوان دی چي شپيته ګزه اوږد د هغه سره به د حضرت موسى عليه السلام همسا او د حضرت سليمان عليه السلام ګوتمۍ وي، په ځغاسته کي به هيڅوک د هغه مقابله نه سي کولای هغه به پر مؤمن د موسى عليه السلام همسا ووهئ او د هغه پر مخ به مؤمن وليکل سي او د کافر پر مخ به مهر لګولو سره کافر وليکي)

وَطُلُوعَ الشَّمْسِ مِنْ مَغْرِبِهَا وَنُزُولَ عِيسَى ابْنِ مَرْيَمَ وَيَأْجُوجَ وَمَأْجُوجَ

د لمر د مغرب څخه راختل، د عیسی بن مریم علیه السلام نازلیدل، یاجوج او ماجوج ،

وَثَلَاثَةَ خُسُوفٍ خَسْفٌ بِالْمَشْرِقِ وَخَسْفٌ بِالْمَغْرِبِ وَخَسْفٌ بِجَزِيرَةِ

پر درو ځایونو باندې د مځکې خسف یو په مشرق کې، دویم په مغرب کې او دریم په جزیره

الْعَرَبِ وَآخِرُ ذٰلِكَ نَارٌ تَخْرُجُ مِنَ الْيَمَنِ تَطْرُدُ النَّاسَ إِلَى مَحْشَرِهِمْ، وفي

عرب کې، هغه اور چې د عدن ددې غاړې څخه به وځي او خلک به د حشر په لور بیایي . . او په

رواية نَارٌ تَخْرُجُ مِنْ قُعْرَةِ عَدَنٍ تسوق النَّاسَ اِلَى الْمَحْشَر . وفي رواية في العاشرة وَرِيحٌ تُلْقِي النَّاسَ فِي الْبَحْرِ . رواه مسلم

یوه روایت کې لسمه نښه یوه هواء بیان سوې ده چې خلک به په دریاب کې وغورځوي . مسلم

تخریج: صحیح مسلم: ۱۴\ ۲۲۲۵، رقم: ۳۹- ۲۹۰۱.

تشریح: په حدیث کې چې د قیامت د کومو لسو لویو نښو یادونه سوې ده په هغو کې د لومړنۍ نښې په توګه د دود یادونه ده ، هغه به یو داسې لوی دود وي چې په ځرګندېدو سره به له ختیځ څخه تر لوېدیځ پورې په ټوله مځکه کې خپور سي او تر پرله پسې څلوېښتو ورځو پورې به خپور وي، ددې په وجه به ټول خلک سخت پریشان سي ، مسلمانان به یوازې د دماغ، حواسو او زکام په خرابۍ کې اخته سي او منافقین او کفار به بې هوشه سي او دهغوئ هوش او حواس به داسې خراب سي چې ځیني به تر ثو ورځو پورې په هوش کې نه راځي، ځرګنده دې وي چې په قرآن کریم دا فرمایل سوي دي : (فارتقب یوم تاتي السماء بدخان مبین) نو دحضرت حذیفه رضی الله عنه او د تابعینو د ټولو مطابق په دغه آیت کې هغه دود ته اشاره سوې ده مګر د حضرت ابن مسعود رضی الله عنه او د هغه د تابعینو په نزد په دغه آیت کې د دود څخه مراد د غلې هغه وچ کالي ده کوم چې د رسول الله صلی الله علیه وسلم په زمانه کې د مکې پر قریشو نازل سوې وه او د هغه حقیقي سبب د رسول الله صلی الله علیه وسلم دغه ښېرا وه چې اې الله! ته پر دغه خلکو (چې سرکښ دي او د اسلام په دښمنۍ کې د حد څخه تېرې کوي) اووه کاله قحط نازل کړې، لکه ځرنګه چې یو وړې سړی د ضعف او کمزورۍ د سختوالي په وجه تر سترګو تیاره محسوس کوي او د فضاء څخه ډکه هوا ورته د

دود په ډول معلومیږي همدا رنګه چي په یوه سیمه کي وچ کالي خپره سي نو د باران نه کېدو په وجه په ټول چاپیریال کي چي د کومي وچ کالۍ د غبار زیاتوب سي نو هغه فضاء داسي چټله کړي چي ګڅلورو خواوو ته د دود په صورت کي تیاره معلومیږي.

د (دابة الارض) څخه مراد یو عجیب الخلقت او د نادر شکل حیوان دی چي په مسجد حرام کي به د صفا او مروه له مینځ څخه راوځي او د هغه یادونه په قرآن کریم کي هم په دغه الفاظو سوې ده (اخرجنالهم دابة من الارض)، علماوو لیکلي دي چي هغه حیوان به د درنده په شکل کي وي چي دهغه اوږدوالی به شپېته ګزه وي او ځینو لیکلي دي چي د هغه عجیب الخلقت حیوان شکل به داسي وي چي مخ به یې د انسانانو په ډول، پښې به یې د اوښ په ډول، غاړه به یې د آس په ډول، لکۍ به یې د شرموښ په ډول، کوناټې به یې د هوسۍ په ډول، لاسونه به یې د بېزو په ډول وي او د هغه د ځرګندېدو صورت به دا وي چي د صفا غر به ناڅاپه په زلزلې سره وچوي او د هغه څخه به دغه حیوان راووځي، د هغه په یوه لاس کي به د حضرت موسی علیه السلام لکړه وي په دوهم لاس کي به د حضرت سلیمان علیه السلام ګوتمۍ وي، په ټولو ښارو او سیمو کي به داسي تیز سفر کوي چي هیڅوک به یې لاندي کولای نسي او په ځغاسته کي به د هغه په مقابله کولو سره خلاصیدای نه سي، هر ځای چي ځي پر هغه سړي به ښنبه لګوي څوک چي صاحب ایمان وي او هغه به د حضرت موسی علیه السلام په لکړه سره کوي، او د هغه پر تندي به مؤمن لیکي او کوم چي کافر وي پر هغه به د حضرت سلیمان علیه السلام په ګوتمۍ سره تور مهر وهي، او دهغه پر مخ به کافر لیکي، ځینو حضراتو دا ویلي دي چي دابة الارض به درې واره راوځي، یو ځل د امام مهدي علیه السلام په زمانه کي بیا د حضرت عیسی علیه السلام په زمانه کي او بیا په آخري ځل د لمر د لوېدیځ له خوا راختلو څخه وروسته.

د لمر د لویدیځ له خوا د راختلو په اړه وضاحت به د راتلونکي یو حدیث په تشریح کي بیان سي، د آسمان څخه د حضرت عیسی علیه السلام نازلېدل به د حضرت امام مهدي علیه السلام د ظهور څخه وروسته وي نو هغه به یوه ورځ ماښام د آسمان څخه ددمشق د جامع مسجد پر مشرقي سپینه مناره باندي راکښته سي بیا به د دجال په پلټنه کولو سره هغه پر لد دروازه باندي قتل کړي، لد په شام کي د یو ځای نوم دی او ځینو حضراتو د فلسطین د یو ځای نوم ورته ویلي دي، ځرګنده دي وي چي په دغه حدیث کي د کومو لسو ښنبو یادونه سوې ده د هغه د ترتیب په باره کي دا خبره سوې ده چي په هغه کي به تر ټولو مخکي د کومي ښنبي ظهور وي هغه دود دی، د هغه څخه وروسته به دجال راوځي، بیا به حضرت عیسی علیه السلام د آسمان څخه راکښته کیږي بیا به

ياجوج او ماجوج راوځي بيا به دابة الارض راوځي بيا به لمر د لويديځ څخه راخيژي ، دا خبره ځکه کیږي چي د حضرت عیسی علیه السلام په زمانه کي به پر ټوله مځکه دمؤمنانو څخه پرته بل هيڅوک نه وي ځکه ټول کفار به مسلمانان سي او د هغوئ ايمان به مقبول سي ، ددې پر خلاف که چيري دا وويل سي چي د لويديځ څخه د لمر راختل به د دجال راوتلو او د حضرت عیسی علیه السلام د نازلېدو څخه مخکي وي، نو ځرګنده ده چي کوم کفار د حضرت عیسی علیه السلام په زمانه کي مسلمانان سوي وي د هغوئ ايمان راوړل به مقبول ونه ګرځي ځکه چي لمر د لويديځ څخه راختلو وروسته د توبې دروازه بنديږي او هغه وخت د هيڅ کافر ايمان قبلېدل اعتبار نه لري، حال دا چي د حضرت عیسی علیه السلام په زمانه کي د ايمان قبلونکو ټولو خلکو ايمان به معتبر وي او هغوئ به مسلمانان منل کيږي نو په حديث کي چي ذکر سوي نښي په کوم ترتيب سره ذکر سوي دي د هغو نښو واقع کېدل په اصل ترتيب سره نه دي او نه دلته د اصل ترتيب ذکر کول مراد دي بلکه اصل مقصد د هغه نښو يو ځای ذکر کول دي نو د ترتيب د لحاظ پرته هغه يو ځای ذکر کړل سول نو دا اشکال نه سي رامنځته کیدای چي کله د حضرت عیسی علیه السلام نزول د لمر د لويديځ څخه د راختلو د واقعې څخه مخکي به وي نو دلته د نزول عیسی علیه السلام د لمر څخه وروسته ولي ذکر وسو .

ياجوج او ماجوج په اصل کي د دوو قبيلو نومونه دي چي د يافث ابن نوح د اولاد څخه دي، دغه دواړي قبيلې ډيري وحشي مګر طاقتور دي د هغوئ خاص بوختيا غلاوي او پر مځکه باندي فتنه او فساد خپرول وو، دغه قبيلې چي په کوم ځای کي اوسېدلې هغه ذوالقرنين په يو داسي دېوال سره چي د هغه لوړوالی د هغه ځای د دواړو خواوو د غرونو څوکي ته رسيږي او پنډوالي يې شپېته ګزه دی، بند کړی وو چي خلک ددغه قبيلو د شر او فساد څخه خوندي پاته سي ، کله چي قيامت رانژدې سي او دياجوج اوماجوج د راتللو وخت سي نو دېوال به مات سي.

رسول الله صلی الله علیه وسلم د درو خسوفو (لمر تورېدو) يادونه وکړل، په دې اړه ابن مالک رحمة الله علیه ويلي دي چي د عذاب الهي په توګه د مځکي غرقيدل په مختلفو زمانو کي او مختلفو سيمو کي واقع سوي دي مګر احتمال دی چي دلته په حديث کي د کوم درو خسوفو يادونه سوې ده هغه د مخکي څخه واقع کېدونکو خسوفو څخه پرته دي او تر هغه هم زيات سخت وي .

او خلک به په شړلو سره د حشر مځکي ته بيايي: دلته د حشر د مځکي څخه مراد د شام هغه سيمه ده چيري چي به يې هغه اور په شړلو سره پرېږدي ، ځينو حضراتو ويلي دي چي صحيح خبره داده چي د هغه اور پيل به د شام له هيواد څخه کيږي يا دا چي د شام هيواد به دومره

وسيع او پراخ كړل سي چې د ټولې نړۍ خلك به په هغه كي جمع كړل سي ، په هر حال د حديث ددغه جملې مفهوم دا نه دى چې ددغه اور د خلكو شړل به د حشر څخه وروسته وي كه د حشر د مځكې څخه مراد د حُشر ميدان واخيستل سي نو يقينا دا مفهوم به پيدا كېدى او په دې به اعتراض هم واقع كيدى مگر كله چې دلته د حشر ميدان مراد نه دى نو بيا اعتراض هم نه پيدا كيږي، په يوه روايت كي دا منقول دي چې هغه اور به د حجاز د مځكې څخه څرگنديږي ، حال دا چې دلته په حديث كي د هغه د يمن له خوا څخه ښكاره كېدل ذكر سوي دي، نو قاضي عياض رحمة الله عليه ويلي دي چې كيداى سي د قيامت د نښنو په توگه چې د كوم اور يادونه سوې ده هغه يو نه بلكه دوه وي او هغه دواړه د خلكو په شړلو سره د حشر مځكې ته بيايي يا دا چې هغه اور خو يو وي چې په پيل كي د يمن څخه راځي مگر د هغه ظهور به د حجاز څخه وي، دلته ددې خبري وضاحت هم ضروري دى چې په دې اړه د بخاري كوم روايت دى په هغه كي دا فرمايل سوي دي چې د قيامت د نښنو څخه تر ټولو لومړنۍ نښنه به هغه اور وي چې خلك به د ختيځ څخه په شړلو سره لويديځ ته بيايي، حال دا چې په حقيقت كي هغه اور به تر ټولو آخري نښنه وي لكه چې دلته په حديث كي په ذكر سوي ترتيب سره څرگنديږي، نو دغه تقضاء ددغه تاويل په ذريعه ليري كيږي چې د اور تر ټولو آخري نښنه كېدل خو د مذكوره نښنو په اعتبار دي چې دلته په حديث كي د كومو نښنو يادونه سوې ده په هغو كي تر ټولو آخري نښنه به ذكر سوى اور وي، د بخاري په روايت كي اور چې تر ټولو لومړنۍ نښنه گرځول سوې ده نو هغه په دې اعتبار چې اور به د قيامت د نښنو تر ټولو لومړنۍ نښنه وي چې د هغه څخه وروسته به د دنيا د شيانو څخه هيڅ شى پاته نه سي بلكه ددغه نښنو په واقع كېدو سره به شپيلۍ پوه كړل سي ددې پر خلاف دلته په حديث كي چې د كومو نښنو يادونه سوې ده په هغو كي د هري نښني څخه وروسته به هم د دنيا شيان پاته وي.

د يوې داسي هواء يادونه سوې ده چې خلك به په درياب كي وغورځوي، دغه روايت په ظاهره د هغه روايت خلاف دى چې په هغه كي داور يادونه ده نو ددغه دواړو روايتونو په منځ كي مطابقت پيدا كولو لپاره دا ويل سوي دي چې په دغه دوهم روايت كي د (ناس) يعني خلكو څخه مراد كفار دي او دهغوئ شړونكى اور به په سخت باد سره يو ځاى سوى وي چې د هغه كفارو په درياب كي د غورځولو عمل به په زياتي تيزي سره پوره سي، او ذكر سوى اور چې د هغه او به د اور په صورت كي سي د قرآن كريم په دغه الفاظو (و اذا البحار سجرت) كي دغه حقيقت ته اشاره سوې ده ، ددې پر خلاف د مؤمنانو لپاره چې كوم اور وي هغه به محض د

بېرولو لپاره وي او د دُرې په ډول به دهغه کار وي، چي هغوئ به په شړلو سره د حشر میدان او موقف اعظم ته بیایي.

د قیامت هغه شپږ نښي چي د هغه د ظاهر یدو څخه مخکي زیات اعمال صالحه اختیار کړئ

﴿۵۲۳۱﴾: وَعَنْ أَبِي هُرَيْرَةَ قَالَ قَالَ رَسُولُ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ بَادِرُوا بِالْأَعْمَالِ سِتًّا الدُّخَانَ وَالدَّجَّالَ وَدَابَّةَ الْأَرْضِ وَطُلُوعَ الشَّمْسِ مِنْ مَغْرِبِهَا أَمْرَ الْعَامَّةِ وَخُوَيْصَةَ أَحَدِكُمْ. رواه مسلم.

د حضرت ابوهریره ﷺ څخه روایت دی چي رسول الله ﷺ وفرمایل: (د قیامت) ددغه شپږو نښو د ښکاره کېدو مخکي پر ښه اعمالو تلوار وکړئ (او هغه نښي دادي): دود، دجال، دابة الارض، د مغرب څخه دلمر ختل، عامه فتنه، خاصه فتنه، یعني هغه فتنه چي په تاسو کي د چا سره خاصه وي. مسلم

تخریج: صحیح مسلم: ۲۲۲۷\۴، رقم: ۱۲۹- ۲۹۴۷.

تشریح: د شپږو شیانو په وجه...ترپایه: مطلب دادی چي د قیامت ددغه شپږو شیانو ظاهر یدو او دهغه د رارسېدو څخه مخکي چي څومره زیات کیدای سي نیک کارونه کوئ ځکه چي ددغه شیانو رامنځته کېدو وروسته به یا خو نیک کارونه کول مشکل سي او یادا که یو نیک کار وکړل سي نو د هغه اعتبار به نه وي.

د (امر عامه) څخه مراد د بدی او دین څخه د بېزاری هغه فتنه ده چي په اجتماعي توګه ټول خلک راګیر کړي او ټوله ټولنه د هغه په غیږ کي راسي، د خاص فتنې څخه مراد هغه مخصوص مسائل او آفات دي چي په انفرادي توګه به یو سړی دومره پریشانه کوي چي هغه د دین او آخرت معاملاتو ته زیاته توجه ورکولو والا نه سي، لکه خپل او خپل اهل وعیال او مال کي مختلف ډول پریشانی او بوختیا، یو احتمال دا هم دی چي دلته د امر عامه څخه مراد قیامت او فتنه خاص څخه مراد مرګ وي، په دغه صورت کي به ویل کیږي چي د حدیث مقصد د خلکو د قیامت د نښو څخه ویرول دي ځکه ددغه نښو په څنګ کي خپله د قیامت او د قیامت صغری (یعني مرګ) راتلو څخه هم بېرول سوي دي.

پاته دوو. څخه مخکي ذکر سوي دي حال دا چي د واقع کېدو په اعتبار لمر وروسته دی نو ددې وجه داده چي د ايمان نه قبلېدو اصل مدار پر دې دی، يعني د توبې او ايمان نه قبلېدل به هغه وخت وي کله چي لمر د لويديځ څخه راوخيژي ځکه نو دا مخکي ذکر کړل سو، او له دې سره دوې نوري نښي يعني دجال او دابة الارض راوتل هم يو ځای کړل سول.

کله چي د لمر د مغرب څخه د راختلو حکم وسي

﴿۵۲۲۴﴾: وَعَنْ أَبِي ذَرٍّ قَالَ قَالَ رَسُولُ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ حِيْنَ غَرَبَتِ

د ابوذر رضي الله عنه څخه روايت دی چي رسول الله ﷺ ما ته د لمر لويدو په وخت کي وفرمايل:

الشَّمْسُ أَتَدْرِيْ أَيْنَ تَذْهَبُ هَذِهِ قُلْتُ اَللّٰهُ وَرَسُوْلُهُ أَعْلَمُ قَالَ فَإِنَّهَا تَذْهَبُ

تاته معلومه ده چي لمر لوېږي نو چيري ځي؟ ما عرض وکړ الله جل جلاله او د هغه رسول ﷺ ښه پوهېږي، رسول الله ﷺ وفرمايل: هغه ځي

حَتّٰى تَسْجُدَ تَحْتَ الْعَرْشِ فَتَسْتَأْذِنُ فَيُؤْذَنُ لَهَا وَيُوْشِكُ اَنْ تَسْجُدَ وَلاَ

تر دې چي د عرش لاندي ورسيږي سجده کوي بيا د رب العزت په حضور کي حاضري کولو سره اجازه غواړي هغه ته اجازه ورکول سي او حکم ورکول سي چي د مشرق په لور ولاړ سي او د هغه

يُقْبَلُ مِنْهَا وَتَسْتَأْذِنُ فَلاَ يُؤْذَنُ لَهَا وَيُقَالُ لَهَا ارْجِعِي مِنْ حَيْثُ جِئْتِ

ځای څخه راوخيژي او هغه وخت قريب دی چي هغه به سجده وکړي او د هغه سجده به قبوله نه سي او د حاضرۍ او راختلو اجازه به غواړي او اجازه به ورنه کړل سي او دا حکم به ورکړل سي د کومي خوا څخه چي راغلې يې هغې خوا ته بيرته ولاړ سه،

فَتَطْلَعُ مَنْ مَغْرِبِهَا فَذَالِكَ قَوْلُهُ تَعَالٰى وَالشَّمْسُ تَجْرِيْ لِمُسْتَقَرٍّ لَّهَا قَالَ وَ مُسْتَقَرُّهَا تَحْتَ الْعَرْشِ. رواه مسلم

نو هغه به د مغرب څخه راوخيژي او دا مراد دی د الله تعالی ددغه قول: (والشمس تجري لمستقر لها) يعني لمر په خپل مستقر يعني د قرار ځای ته ځي، رسول الله ﷺ د مستقر په اړه فرمايلي دي چي هغه د عرش الهي لاندي دی. مسلم

تخريج: صحيح البخاري (فتح الباري): ٦\٢٩٧، رقم: ٣١٩٩، ومسلم ١\١٣٨، رقم: ٢٥٠- ١٥٩.

تشريح: ځينو علماؤ ليکلي دي چي په دغه حديث کي د (فانها تذهب حتى تسجد تحت العرش) الفاظ د قرآن کريم د دغه آيت خلاف نه دي چي په هغه کي دا فرمايل سوي دي چي:

(حَتَّىٰ إِذَا بَلَغَ مَغْرِبَ الشَّمْسِ وَجَدَهَا تَغْرُبُ فِي عَيْنٍ حَمِئَةٍ)

ځکه چي د دغه آيت مطلب په اصل کي د حد نظر بيانول دي ، حال دا چي دلته په حديث کي دا بيان سوي دي چي د لمر لوېدو څخه وروسته د عرش لاندي رسېدو سره سجده کوي .

خطابي رحمه الله عليه دا احتمال بيان کړی دی چي تر عرش لاندي د رسېدو سره د لمر د سجدې کولو چي کومه خبره فرمايل سوې ده د هغه دا مراد هم کېدای سي چي لمر تر عرش لاندي په رسېدو سره مستقر کيږي، پاته سوه دا خبره چي د هغه د مستقيم کېدو کيفيت او حقيقت څه دی نو د دې ادراک او اظهار د انساني علم د احاطې څخه وتلی دی .

په (تستاذن) کي د استيذان څخه مراد د الله جل جلاله په حضور کي د حاضرۍ اجازه غوښتل دي مګر د دغه لفظ زيات واضح مفهوم دا کېدای سي چي لمر تر عرش لاندي د سجدې کولو څخه وروسته د خپل معمول سره سم د راختلو اجازه غواړي او هغه ته اجازه ورکول کيږي .

د لمر مستقر تر عرش لاندي دی: مطلب دا دی چي لمر د غروب کېدو وروسته تر عرش لاندي ځي او هلته سجده کوي بيا هغه اجازه غواړي نو هغه ته اجازه ورکول کيږي ، څرګنده دي وي چي د ذکر سوي آيت (والشمس تجري لمستقر لها) په تفسير کي بيضاوي د مستقر څو معناوي بيان کړي دي، مګر عجيبه خبره داده چي هغوئ د مستقر د هغه وضاحت هيڅ ذکر نه دی کړی کوم چي د بخاري او مسلم په ذکر سوو حديثو کي د بيانولو په وجه تر ټولو زيات د باور وړ دی او د هغه څخه دا متعين کيږي چي د مستقر څخه څه مراد دی .

د دجال د فتنې څخه لويه هيڅ فتنه نه سته

﴿۵۲۳۵﴾: وَعَنْ عِمْرَانَ ابْنِ حُصَيْنٍ قَالَ سَمِعْتُ رَسُولَ اللّٰهِ ﷺ يَقُولُ مَا بَيْنَ خَلْقِ آدَمَ إِلَى قِيَامِ السَّاعَةِ أَمْرٌ أَكْبَرُ مِنَ الدَّجَّالِ. رواه مسلم.

د حضرت عمران بن حصين رضي الله عنه څخه روايت دی چي ما د رسول الله ﷺ څخه اوريدلي دي چي فرمايل يې : د آدم عليه السلام د زېږېدني څخه تر قيامت قائمېدو پوري د دجال څخه لويه فتنه بله نسته . مسلم.

تخریج: صحیح مسلم: ۴\۲۲۶۷، رقم: ۱۲۶- ۲۹۴۶.

دجال یو سترگی دی

﴿۵۲۳۶﴾: وَعَنْ عَبْدِ اللّٰهِ قَالَ قَالَ رَسُولُ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ إِنَّ اللّٰهَ لَا يَخْفَى عَلَيْكُمْ إِنَّ اللّٰهَ لَيْسَ بِأَعْوَرَ وَإِنَّ الْمَسِيحَ الدَّجَّالَ أَعْوَرُ عَيْنِ الْيُمْنَى كَأَنَّ عَيْنَهُ عِنَبَةٌ طَافِيَةٌ. متفق عليه.

د حضرت عبد الله رضی الله عنه څخه روایت دی چي رسول الله ﷺ وفرمایل: الله تعالی پر تاسو مخفي نه دی (یعني تاسو د هغه د حقیقت څخه خبر یاست) هغه ړوند نه دی او مسیح دجال ړوند دی یعني د هغه راسته سترگه ړنده ده لکه هغه چي د انگور یوه پړسیدلې دانه ده. بخاري او مسلم

تخریج: صحیح البخاري (فتح الباري): ۱۳\۳۸۹، رقم: ۷۴۰۷، ومسلم ۴\۲۲۴۷، رقم: ۱۰۰- ۱۶۹.

تشریح: الله جل جلاله پر تاسو پټ نه دی، دغه جمله په اصل کي د مخکني عبارت (الله جل جلاله ړوند نه دی ...ترپایه) د تمهید په توگه ده، مطلب یې دادی چي د شریعت د بنوول سوو خبرو په رڼا کي تاسو د الله تعالی د حقیقت څخه خبر یاست او د هغه ذات تاسو د هغه په صفات کامله سره پېژندلی دی نو هر کله چي د دجال ظهور وسي او هغه د خپلو چمبازیو په ذریعه تاسو د خپل پرودرگار په دربار کي گمراه کول غواړي نو تاسو مه گمراه کیږئ.

الله جل جلاله یو سترگی نه دی... ترپایه: د دغه جملې په ذریعه د الله جل جلاله په ذات او صفاتو کي د یو نقصان او عیب نفي کول مراد دي، نه دا چي د هغه ذات لپاره د یو بدني اندام او د هغه اندام صحیح او سالم ثابتول مراد دي، یعني اصل مقصد دا ثرگندول دي چي الله جل جلاله د انسان د جنس څخه نه دی او نه د هغه د خلکو په ډول سترگه ده چي هغه دي ړنده وي.

د طافية لفظ دلته په یاء سره منقول دي، مگر په ځینو روایتو کي دغه لفظ په همزه سره هم منقول سوی دی، لغوي معنی یې د لوړ ده نو د عنبة طافية مفهوم د انگور د پړسېدلي دانې ده، ثرگنده دي وي چي د دجال د سترگي په اړه دا روایت د هغه روایت خلاف نه دی چي په هغه کي فرمایل سوي دي چي (انها لیت بناتئة ولاحجراء) یعني د هغه سترگه نه راپورته سوې او نه ډوبه سوې ده، د دغه دواړو روایتو په منځ کي منافات په دې اعتبار نه دی چي کیدای سي دغه دواړي خبري د هغه په سترگو کي موجود وي یعني د هغه یوه سترگه خو داسي وي لکه د انگور

پړسېدلې دانه او دوهمه ستر ګه يې داسي وي چي نه خو پړسېدلي وي او نه ننوتلې وي،
توربشتي رحمة الله عليه ويلي دي : ددجال د بدني حالت په خاصه توګه د ستر ګي په اړه چي کوم حديثونه نقل سوي دي په هغو ټولو کي زيات تضاد او تعارض دى او ډېر ځله په هغو کي مطابقت پيدا کول مشکل کيږي ، دمثال په توګه دلته چي کوم حديث نقل سوى دى په هغه کي خو دا بيان سوي دي چي د هغه ستر ګه به طافيه (راوتلې) وي لکه د انګور پړسېدلې دانه، په بل حديث کي دي چي هغه به جاحظ العين (يعني پړسېدلي ستر ګي والا) وي، او پړسېدلې ستر ګه به هم داسي وي لکه چي يو ستورى پکښې ايښودل سوى وي، او په بل روايت کي دي چي د هغه ستر ګه به نه پړسېدلي وي او نه به ننوتلې وي، نو په دغه ټولو روايتو کي د مطابقت لپاره دا ويل کيداى سي چي دهغه د ستر ګي چي مختلف صورتونه بيان سوي دي د هغه تعلق ددواړو ستر ګو د يوې د بلي ځخه مختلف کېدل دي يعني يوه ستر ګه به داسي وي او بله به هغسي، چي د هغه تائيد د عبدالله رضي الله عنه د ذکر سوي روايت ځخه هم کيږي چي په هغه کي ددجال پر راسته ستر ګه باندي د ړندوالي کېدل نقل سوي دي، په دې اړه چي کوم روايت د حضرت ابوحذيفه رضي الله عنه ځخه منقول دي په هغه کي دادي چي هغه به ممسوح العين يعني مسح کړل سوى ستر ګه والا وي او د هغه ستر ګه به غټه وي او په يوه روايت کي دا هم راغلي دي چي هغه به په چپه ستر ګه ړوند وي ، ددغه روايتو په منځ کي د مطابقت پيدا کولو لپاره دا هم ويل کيږي چي د هغه د ستر ګي د عيب دار کېدو چي کوم مختلف بيانونه سوي دي هغه بېل بېل ددواړو ستر ګو په اعتبار دي يعني د هغه يوه ستر ګه خو به بالکل غائبه وي او بله به هم عيب داره وي همدارنګه د هغه پر دواړو ستر ګو باندي د عور اطلاق کيداى سي ځکه چي د عور اصل معنى د عيب ده نو د هغه راسته ستر ګه به هم عيب لرونکې وي او چپه ستر ګه هم .

هر نبي خپل امت ددجال ځخه بېرولى دى

﴿۵۲۳۷﴾ : وَعَنْ اَنَسٍ قَالَ قَالَ رَسُولُ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ مَا مِنْ نَبِيٍّ إِلَّا قَدْ أَنْذَرَ اُمَّتَهُ الْأَعْوَرَ الْكَذَّابَ اَلَا إِنَّهُ أَعْوَرُ وَإِنَّ رَبَّكُمْ لَيْسَ بِأَعْوَرَ مَكْتُوبٌ بَيْنَ عَيْنَيْهِ ك ف ر . متفق عليه.

د حضرت انس رضي الله عنه ځخه روايت دئ چي رسول الله صلى الله عليه وسلم وفرمايل : هيڅ يو نبي داسي نه دى تير سوى چي هغه خپل امت د دروا غجن ړانده ځخه بيرولى نه وي ، خبردار! دجال ړوند دى او

ستاسو پروردګار ړوند نه دی او ددجال د دواړو سترګو په منځ کي ک ف ر (يعني کفر) ليکلي سوی دی. بخاري او مسلم.

تخریج: صحيح البخاري (فتح الباري): ۱۳\۹۱، رقم: ۷۱۳۱، ومسلم ۴\۲۲۴۸، رقم: ۱۰۱- ۲۹۳۳.

تشريح: داسي هيڅ نبي نه دی تېر سوی ...تر پايه: دا خبره څرګنديږي چي الله ﷻ د دجال د ظاهرېدو هيڅ يو ټاکلی وخت نه دی فرمايلی، يوازي دومره څرګنده ده چي هغه به دقيامت څخه مخکي څرګنديږي او د قيامت د راتللو ټاکلی وخت هيڅا ته معلوم نه دی ځکه نو ددجال د ظاهرېدو وخت هم چا ته معلوم نه دی.

ستاسو پروردګار ړوند نه دی: يعني الله ﷻ ددې څخه پاک دی چي دهغه په ذات او صفاتو کي دي يو عيب او نقص وي، څرګنده دي وي چي رسول الله ﷺ دغه خبره د تکلم مع الناس على قدر عقولهم، سره سم د عامو خلکو د پوهېدو لپاره وفرمايل چي د هغوئ په عقل او فهم کي راسي چي عبادت او طاعت د هغه ذات کيدای سي چي هغه په خپل ذات او صفاتو کي د هر ډول عيب او نقصان څخه پاک وي.

د (ک ف ر) څخه د کفر لفظ مراد دی، په مصابيح او د مشکوة په نسخه کي دغه درې سره حرفونه بېل بېل ليکل سوي دي او ددې څخه دا مفهوم اخيستل کيږي چي د دجال پر مخ به د کفر لفظ داسي ليکلی وي او ددې څخه دې ته اشاره ده چي دجال په اصل کي تباهۍ او هلاکت يعني کفر ته بلونکی او د کفر خپرولو باعث دی، نه د فلاح او کاميابۍ طرف ته بلونکی، نو د هغه څخه ځان ساتل او د هغه اطاعت نه کول واجب دي، په حقيقت کي دا د الله تعالى له لوري ددغه امت په حق کي يو لوی نعمت دی چي ددجال ددواړو سترګو په منځ کي به د کفر لفظ څرګند وي چي د هغه څخه به هر صاحب ايمان ته د هغه د مکر او فريب څخه د ځان ساتني اساني وي.

د دجال جنت او دوږخ

﴿۵۲۳۸﴾: وَعَنْ اَبِيْ هُرَيْرَةَ قَالَ قَالَ رَسُوْلُ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ اَلَا اُحَدِّثُكُمْ

د حضرت ابوهريره رضي الله عنه څخه روايت دئ چي رسول الله ﷺ وفرمايل: ايا زه تاسو ته ددجال په

حَدِيثًا عَنِ الدَّجَّالِ مَا حَدَّثَ بِهِ نَبِيٌّ قَوْمَهُ إِنَّهُ أَعْوَرُ وَإِنَّهُ يَجِيءُ مَعَهُ بِمِثَالِ

باره کي هغه خبره و نه بنيم کومه چي هيڅ يو نبي خپل قوم ته نه ده کړې هغه به ړوند وي او د ځان

الْجَنَّةِ وَالنَّارِ فَالَّتِي يَقُولُ إِنَّهَا الْجَنَّةُ هِيَ النَّارُ وَإِنِّي أُنْذِرُكُمْ كَمَا أَنْذَرَ بِهِ نُوحٌ قَوْمَهُ. متفق عليه.

سره به د دوږخ او جنت په ډول دوه شيان راوړي كوم شي ته چي هغه جنت وايي هغه به په حقيقت كي دوږخ وي او كوم شي ته چي دوږخ وايي هغه به جنت وي) زه تاسو د هغه څخه بيروم لكه څرنګه چي نوح عليه السلام خپل قوم د هغه څخه بيرولى وو . بخاري او مسلم.

تخريج: صحيح البخاري (فتح الباري): ٦\٣٧٠، رقم: ٣٣٣٨، ومسلم ٤\٢٢٥٠، رقم: ١٠٩- ٢٩٣٦.

تشريح: مطلب دا دى چي دد جال سره به ډېر طلسماني طاقت وي څكه هغه به د ځان سره يو ډېر لوى باغ او د اور بېرغ ګرځوي چي هغه به يې په خپل جنت او دوږخ سره تعبير كوي، يا د جنت څخه مراد د راحت او عيش سامان دى او له دوږخ څخه مراد د تكليف او غم شيان دى او د هغه تكليف رسول دي .

په حقيقت كي هغه به اور وي...ترپايه: ددغه جملې وضاحت يو شارح دا كړى دى چي د يو سړي دد جال په جنت كي داخلېدل او هغه قبلول په حقيقت كي په الهي عذاب كي اخته كېدل او دوږخ ته د تللو لار اختيارول، په دې قياس كولو سره نور اجزاء داسي بيانيږي چي د جال كوم شي ته دوږخ وايي په حقيقت كي هغه به جنت وي يعني كوم څوک چي د هغه اطاعت نه كوي او د هغه په وجه هغه په خپل دوږخ كي اچوي نو هغه سړى به په حقيقت كي دد جال د تكذيب كولو او د هغه په وړاندي د كښېته كېدو څخه د انكار كولو په سبب په جنت كي داخليږي ، يو وضاحت دادى ، مګر زيات ښه مفهوم دا معلوميږي چي د جال كوم شي ته خپل جنت او كوم شي ته خپل دوږخ وايي او په هغه كي كوم خلک داخل كړي هغه دواړه به د هغوئ لپاره بالكل برعكس ثابتيږي او د هغوئ فعل به سرچپه سي يعني كوم خلک چي په تكليف كي اخته كولو سره په دوږخ كي واچوي نو دا به د هغوئ لپاره د تكليف پر ځاى د اطمينان او راحت ځاى جوړ سي او كومو خلكو ته چي د عيش په وركولو سره په جنت كي داخل كړي نو هغه به د هغوئ لپاره د عيش او راحت پر ځاى د تكليف او غم ځاى جوړ سي او دا داسي ده لكه چي فرمايل سوي دي: (القبر روضة من رياض الجنة او حفرة من حفر النيران) يعني قبر يا خو د جنت د باغچو څخه يوه باغچه ده او يا دد وږخ له كندو څخه يوه كنده ده، يعني دقبر ماحول او د هغه فعل د بندګانو په اعتبار مختلف وي د كوم بنده څخه چي الله تعالى ناراضه وي د هغه لپاره د هغه قبر د غم او

تكليف ځای جوړ سي او ددې قبيل څخه د الله تعالى دغه ارشاد دی :

(يَا نَارُ كُونِي بَرْدًا وَسَلاَمًا عَلَى إِبْرَاهِيمَ)

اې اوره! ته د ابراهيم عليه السلام لپاره يخ او د سلامتيا سبب جوړ سه، او همدغه حال ددغه مكدر دنيا دی چي بنديخانه ورته ويل سوي دي، يعني دغه بنديخانه دخپلو ټولو سختيو سربېره د هغه عارفينو او اهل الله لپاره د جنت شكل اختياروي كوم چي پر رضا باندي فائز وي او دالله جل جلاله د رضا لپاره ددغه ځای پر هره تنګي او تكليف باندي صبر او عزيمت او په ښه زړه سره وګالي نو د هغه لپاره دوه جنتونه دي يو خو دادنيا د هغوئ لپاره جنت جوړيږي او يو جنت هغوئ ته په عقبى كي وركول كيږي ځكه د عارفينو په نظر كي دنيا بالكل برعكس معلوميږي چي د هغوئ په نزد نعمت او راحت په حقيقت كي نقمت يعني عذاب وي او ددغه ځای نقممت په حقيقت كي نعمت وي .

ښكاره دي وي چي د حديث اصل مقصد خلك د دجال د چمبازيو څخه بېرول دي ځكه چي دلته يوازي د لومړنى برخي يعني ددجال د جنت د حقيقت پر يادونه اكتفاء وسوه، كه څه هم په ځينو نورو حديثو كي ددويمي برخي ، يعني د هغه د دوږخ د حقيقت هم بيان سوی دی، نو دمفهوم په اعتبار دلته پوره عبارت به داسي وي ، هغه چي كوم شي ته جنت وايي هغه به په حقيقت كي اور وي او كوم شي ته چي دوږخ وايي هغه به په حقيقت كي جنت وي .

ددجال په اړه مخكي په عامه توګه د هر نبي ذكر كولو څخه وروسته بيا په پای كي په خاصه توګه د حضرت نوح عليه السلام ذكر كول له دې كبله دي چي په مشهورو نبيانو كي د هغه ذات مقدم دی.

دجال چي كوم څوك په مصيبت كي واچوي هغه به په حقيقت كي راحت وي

﴿۵۲۳۹﴾: وَعَنْ حُذَيْفَةَ عَنِ النَّبِيِّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ قَالَ إِنَّ الدَّجَّالَ

د حضرت حذيفه رضي الله عنه څخه روايت دئ چي رسول الله صلى الله عليه وسلم وفرمايل : دجال به

يَخْرُجُ وَإِنَّ مَعَهُ مَاءً وَنَارًا فَأَمَّا الَّذِي يَرَاهُ النَّاسُ ماء فنار يحرق واما

د اوبو او اور سره راووځي ، هغه شی چي خلك يې اوبه ګڼي هغه به سوځونكي اور وي او كوم

الذي يراه الناس نَارًا فَمَاءٌ بَارِدٌ عَذْبٌ فَمَنْ أَدْرَكَ ذَلِكَ مِنْكُمْ فَلْيَقَعْ فِي

شی چي د اور خيال پر كيږي په حقيقت كي به هغه يخي او خوږې اوبه وي ، په تاسو كي چي

ځوک دجال ترلاسه کړي نو هغه دي په هغه شي کي غور ځيدل

الَّذِي يَرَاهُ نَارًا فَإِنَّهُ مَاءٌ عَذْبٌ طَيِّبٌ ، متفق عليه و زاد مسلم وَإِنَّ لدَّجَّالُ

خوښ کړي کوم چي په خپلو سترګو سره اورويني ځکه چي هغه اور په حقيقت کي خوږې او يخي اوبه دي. بخاري او مسلم، د مسلم په يوه روايت کي ذا الفاظ زيات ليکلي دي چي د دجال

مَمْسُوحُ الْعَيْنِ عليها ظفرة غليظة مَكْتُوبٌ بَيْنَ عَيْنَيْهِ كَافِرٌ يقرئه كل مؤمن كاتب وغير كاتب .

يوه سترګه به ناسته وي او په دويمه سترګه به غټه سرمن وي د هغه د سترګو په منځ کي به کافر ليکلي وي چي هغه به هر مؤمن که ويونکی وي او نا ويونکي وړيلای سي .

تخريج: صحيح البخاري (فتح الباري): ٦\ ٤٩٤، رقم: ٣٤٥٠، ومسلم: ٤\ ٢٢٤٩، رقم: ١٠٥- ٢٩٣٤.

د لغاتو حل: ظفرة: اى لحمة غليظة او جلدة (پنډه غوښه يا پوست)

تشريح: د هغه سره به اوبه وي: دلته د اوبو ځخه مراد د عيش او راحت هغه اسباب دي چي د هغو ظاهري تعلق د اوبو سره وي او د هغه په ذريعه هغه خلک خپل اتباع ته مائل کوي ، همدارنګه د اور ځخه مراد هغه شی دی چي په ظاهره تکليف ورکوونکي وي کنه نو د حقيقت په اعتبار هغه به خلکو ته تکليف او اذيت نه سي ورکولای کوم چي دجال يې ګڼي، و د هغه د اتباع ځخه انکار کوي .

خلک چي کوم شی اوبه ګڼي ...ترپايه: مطلب دادی چي دجال کوم شيان د خلکو په نظر کي د عيش او راحت شيان ښيي يا کوم شيان چي هغه تکليف رسوونکي ظاهروي هغه به د حقيقت په اعتبار برعکس وي ، دمثال په توګه ځوک چي دخپل اتباع کولو په صلح کي هغه په اوبو سره ونازوي نو په پای کي به هغه خلک د تل لپاره په اور کي سوځي، همدارنګه هغه چي کومو خلکو ته د خپلي نافرمانۍ په سزا کي اور ته وسپاري نو هغه اور ته الله ﷻ يخ والی او راحت ورکولو لپاره د اوبو تاثير ورکړی دی، لکه چي د ابراهيم ؑ لپاره د غرو اور يې يخ او د راحت باعث وګرځوی، نو خلاصه دا سوه چي کوم شيان ددجال په ذريعه ظاهر سي او دفتنې باعث جوړ سي د هغه حقيقت به هغه نه وي کوم چي په ظاهره معلوميږي بلکه هغه طلسماني او خيالي شيان دي لکه چي طلسم والا خپل کړنه ښيي مګر ځرنګه چي مخکي وښودل سول دا هم

كيداى سي چي د هغه په ذريعه ښوونكي شيان حقيقي وي مگر د الله تعالى دقدرت كامله په حكم سره د هغه تاثير به بدل كړل سي چي اوبه خوبه يې سوز وي او اور به ورته يخ والى رسوي ځكه چي هغه به ډيري خوږې او غوره اوبه وي يعني په ظاهره اور به معلوميږي يا خو به د حقيقت په اعتبار يا د ماهيت بدلېدو په اعتبار يا دمال په اعتبار به اوبه وي چي د يخ والي او راحت رسولو باعث به وي ، څرګنده دي وي چي په حديث كي دلته د اختصار څخه كار اخيستل سوى دى او يوازي د يوې برخي په يادونه اكتفاء سوې ده كنه په حقيقت كي د هغه دوهمي برخي مفهوم هم پټ دى، نو پكار ده چي هغه د اوبو يعني د هغه د عيش او راحت اسبابو ته په مائل كېدو سره د دجال تصديق او اتباع ونه كړي ځكه چي په حقيقت كي به هغه اوبه نه وي بلكه يو ډول عذاب او حجاب به وي .

دجال به ممسوح العين وي...ترپايه: په دې اړه څرنګه چي د ژباړي په وخت كي وضاحت سوى دى دا خبره بايد په ذهن كي وي چي دحديث د ظاهري الفاظو څخه دا مفهوم اخيستل كيږي چي د ننوتلي تعلق د هغه ستركي سره وي چي هغه ته ممسوح العين فرمايل سوي دي حال دا چي دا خبره مناسب نه ده ځكه چي دممسوح العين معنى داده چي د هغه د ستركي پر ځاى بالكل ستركه او ورځي نه وي بلكه هغه ځاى بالكل هوار وي نو كله چي ستركه نه وي نو هغه ته دننوتلې ستركي ويل څه معنى لري، دا به ويل كيږي چي ننوتلې به هغه ستركه وي چي بلي خوا ته وي ، هو كه د ممسوح څخه مراد محض عيب واخيستل سي نو په دغه صورت كي د حديث الفاظ پر خپل ظاهري معنى باندي محمول كيداى سي .

د دجال پېژندنه

﴿۵۲۴۰﴾: وَعَنْهُ قَالَ قَالَ رَسُولُ اللّٰهِ ﷺ الدَّجَّالُ أَعْوَرُ الْعَيْنِ الْيُسْرَى جُفَالُ الشَّعَرِ مَعَهُ جَنَّةٌ وَنَارٌ فَنَارُهُ جَنَّةٌ وَجَنَّتُهُ نَارٌ. رواه مسلم.

د حضرت حذيفه رضي الله عنه څخه روايت دئ چي رسول الله ﷺ وفرمايل : دجال په چپه ستركه ړوند دى وريښتان به يې ډېر وي دده سره به جنت او اور وي ، دده اور به جنت او جنت به يې اور وي . مسلم

تخريج: صحيح مسلم: ۱۴\۲۲۴۸، رقم: ۱۰۴– ۲۹۳۴.

د لغاتو حل: جُفال: اى كثير الشعر المجتمعة (ببر سر)

تشريح: په دغه حديث شريف كي فرمايل سوي دي چي د دجال چپه ستركه به نه وي، حال دا

چي په دې اړه په مخکني حديث کي تېر سوي دي د هغه به راسته سترګه ړنده وي او د هغه يوه سترګه به بالکل غائبه وي، نو ددغه دواړو حديثونو په منځ کي چي کوم ظاهري تضاد دی د هغه ختمولو لپاره ويل کيږي چي د هغه سترګه به بالکل غائبه وي او بلي خوا ته سترګه به يې بالکل عيب داره وي، په دې اعتبار زيات صحيح خبره داده چي د هغه هري سترګي ته اعور ويل کيږي ځکه چي د اعور اصل معنی د عيب ده ، ځينو حضراتو ددغه حديثونو په منځ کي په دا ويلو سره د مطابقت پيدا کولو هڅه کړې ده چي د دجال اعور کېدل به د خلکو د فرق په نسبت سره وي يعني ځيني خلک به د هغه د چپه سترګي عيب ويني او ځيني خلک به د هغه د راسته سترګي عيب ويني او داسي به ځکه وي چي د هغه درواغجن کېدل بالکل ظاهر سي ځکه د ټولو خلکو په نظر کي که د هغه اصل حيثيت او حالت رانسي بلکه هغوئ د سترګو په اعتبار کله هغه يو ډول او کله بل ډول ويني نو خلک به دا ګڼي چي هغه جادوګر دی او دخپل جادو په ذريعه مختلف شکل اختياروي.

دا هم کيدای سي چي په دغه دواړو حديثو کي د يو حديث له راوي څخه سهوه سوې وي چي د هغه د راسته سترګي پر ځای يې چپه سترګه يا د چپه سترګي پر ځای يې راسته سترګه ذکر کړې وي.

د دجال کارنامې او د ياجوج ماجوج ذکر

﴿۵۲۴۱﴾: وَعَنِ النَّوَّاسِ بْنِ سَمْعَانَ قَالَ ذَكَرَ رَسُولُ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ

د نواس بن سمعان رضي الله عنه څخه روايت دی چي رسول الله ﷺ د دجال د ذکر کولو سره وفرمايل:

الدَّجَّالَ فَقَالَ إِنْ يَخْرُجْ وَأَنَا فِيكُمْ فَأَنَا حَجِيجُهُ دُونَكُمْ وَإِنْ يَخْرُجْ وَلَسْتُ

که دجال خروج وکړي او زه په تاسو کي موجود يم نو زه به د هغه سره ستاسو په مخکي بحث او خبري وکړم (او پر هغه به غالب سم) او که هغه وخت راووځي چي زه په تاسو کي موجود نه يم

فِيكُمْ فَامْرُؤٌ حَجِيجُ نَفْسِهِ وَاللَّهُ خَلِيفَتِي عَلَى كُلِّ مُسْلِمٍ إِنَّهُ شَابٌّ قَطَطٌ عَيْنُهُ

نو په تاسو کي به هر سړی د خپل لوري څخه د هغه سره بحث او خبري کونکي ياست (يعني د هغه د بدۍ د دفع کونکي او خپل ځان به د هغه څخه ساتونکي ياست) او پر مسلمانانو زما وکيل او خليفه الله تعالی دي ، دجال به ځوان وي آلوول وريښتان به يې وي او د هغه سترګه به

طَافِئَةٌ كَأَنِّي أُشَبِّهُهُ بِعَبْدِ الْعُزَّى بْنِ قَطَنٍ فَمَنْ أَدْرَكَهُ مِنْكُمْ فَلْيَقْرَأْ عَلَيْهِ فَوَاتِحَ

بو که راوتلې وي ګويا زه هغه ته د قطن د زوی عبدالعزی سره تشبيه ورکولای سم، په تاسو کي چي څوک هغه ووينې د هغه په مخکي دي

سُورَةِ الْكَهْفِ وفي رواية فليقرا عليه بفواتح سورة الكهف فانها جواركم من

د سورة کهف لومړني آیاتونه ووایي ځکه چي دا آیاتونه به تاسو د دجال د فتني څخه وساتي، او په يوه روايت کي راغلي دي چي د سورة کهف اول اياتونه پر وایاست ځکه چي بېشکه دا

فتنته انه خَارِجٌ خَلَّةً بَيْنَ الشَّأْمِ وَالْعِرَاقِ فَعَاثَ يَمِينًا وَعَاثَ شِمَالًا يَا عِبَادَ اللهِ

ستاسو د امن سبب دی له فتنې دده څخه، دجال به پر هغه لار راځي چي د شام او عراق په منځ کي واقع ده او راسته او چپه خوا به فساد خپروي، اې د الله ﷻ بندګانو

فَاثْبُتُوا قُلْنَا يَا رَسُولَ اللهِ وَمَا لَبْثُهُ فِي الْأَرْضِ قَالَ أَرْبَعُونَ يَوْمًا يَوْمٌ كَسَنَةٍ

خپل دين محكم كړئ، موږ عرض وکړ اې دالله رسوله! هغه به تر څو پوري په مځکه کي وي ؟ رسول الله ﷺ وفرمايل څلوېښت ورځي، هغه يوه ورځ به د يوه کال برابر وي

وَيَوْمٌ كَشَهْرٍ وَيَوْمٌ كَجُمُعَةٍ وَسَائِرُ أَيَّامِهِ كَأَيَّامِكُمْ قُلْنَا يَا رَسُولَ اللهِ فَذَلِكَ

او يوه ورځ به يې د يوې مياشتي برابر وي او يوه ورځ به يې د يوې هفتې برابر وي او پاته ورځي به يې زموږ د ورځو برابري وي، موږ عرض وکړ اې دالله رسوله!

الْيَوْمُ الَّذِي كَسَنَةٍ أَتَكْفِينَا فِيهِ صَلَاةُ يَوْمٍ قَالَ لَا اقْدُرُوا لَهُ قَدْرَهُ قُلْنَا يَا رَسُولَ

د هغه يوه ورځ چي د يوه کال برابر وي نو ايا په هغه ورځ به زموږ د يوې ورځي لمونځ کافي وي ؟ رسول الله ﷺ وفرمايل :يا، بلکه په هغه ورځ به د يوې ورځي اندازه کولو سره لمونځ کول وي (يعني يوه يوه ورځ به اندازه کولو سره لمونځ کوي) موږ عرض وکړ اې دالله رسوله!

اللهِ وَمَا إِسْرَاعُهُ فِي الْأَرْضِ قَالَ كَالْغَيْثِ اسْتَدْبَرَتْهُ الرِّيحُ فَيَأْتِي عَلَى الْقَوْمِ

هغه به په مځکه کي څومره په تيزي سره ځي؟ رسول الله ﷺ وفرمايل : هغه به د باران په ډول تيز رفتاره وي چي په هغه پسي به هوا لګيدلې وي هغه به يو قوم ته ورسی

فَيَدْعُوهُمْ فَيُؤْمِنُونَ بِهِ فَيَأْمُرُ السَّمَاءَ فَتُمْطِرُ وَالْأَرْضَ فَتُنْبِتُ فَتَرُوحُ عَلَيْهِمْ

او هغوئ ته به خپل دعوت ورکړي خلک به پر هغه ایمان راوړي بیا به هغه آسمان ته د باران حکم ورکړي نو باران به و اوروي او مځکي ته به حکم ورکړي نو مځکه به شنه او زرغونه کړي

سَارِحَتُهُمْ أَطْوَلَ مَا كَانَتْ ذُرًا وَأَسْبَغَهُ ضُرُوعًا وَأَمَدَّهُ خَوَاصِرَ ثُمَّ يَأْتِي الْقَوْمَ

بیا به مانښام د هغه قوم حیوانان د څرند ځخه راسي د هغوئ قبونه به غټ غټ سي غولانزي به يې غټي سي او د شيدو ځخه به ډکي سي او اړخونه به يې ښه را و ایستل سي بیا به دجال یو بل قوم

فَيَدْعُوهُمْ فَيَرُدُّونَ عَلَيْهِ قَوْلَهُ فَيَنْصَرِفُ عَنْهُمْ فَيُصْبِحُونَ مُمْحِلِينَ لَيْسَ

ته ورسیږي او هغوئ ته به خپل دعوت ورکړي هغه قوم به د هغه دعوت رد کړي نو هغوئ به پر ځای پریږدي د هغوئ ځخه به ولاړ سي او هغوئ به قحط وهلي وي

بِأَيْدِيهِمْ شَيْءٌ مِنْ أَمْوَالِهِمْ وَيَمُرُّ بِالْخَرِبَةِ فَيَقُولُ لَهَا أَخْرِجِي كُنُوزَكِ فَتَتْبَعُهُ

د هغوئ د مال ځخه به د هغوئ سره هیڅ پاته نه سي بیا به دجال په یوه کنډواله یا خرابه تیر سي او هغې ته به حکم ورکړي چي هغه خپلي خزانې راوباسي نو هغه خرابه به د هغه د حکم سره سم

كُنُوزُهَا كَيَعَاسِيبِ النَّحْلِ ثُمَّ يَدْعُو رَجُلًا مُمْتَلِئًا شَبَابًا فَيَضْرِبُهُ بِالسَّيْفِ

خزانې راوباسي او هغه خزانې به داسي پر له پسې وي لکه د شاتو د مچیو ملکې پسې چي موچې وي بیا به دجال یو سړی چي د ځوانۍ د جوش ځخه به ډک وي هغه ته به خپل (د خدايي) دعوت ورکړي هغه زلمی به د دجال دعوت رد کړي دجال به ورته غضب ناک سي په توره به يې ووهي

فَيَقْطَعُهُ جَزْلَتَيْنِ رَمْيَةَ الْغَرَضِ ثُمَّ يَدْعُوهُ فَيُقْبِلُ وَيَتَهَلَّلُ وَجْهُهُ يَضْحَكُ

هغه زلمی به دوې ټوټې سي او هره ټوټه به د بلي ځخه دومره لیري وغورځیږي چي د دواړو په منځ کي به د ویشتلي غشي برابر فاصله وي بیا به دجال هغه ټوټې راوبلي نو هغه زلمی به ژوندی راسي دغه وخت به د دجال مخ خوشحاله وي او هغه به د خپل الوهیت په دې کارنامه خاندي

فَبَيْنَمَا هُوَ كَذَلِكَ إِذْ بَعَثَ اللَّهُ الْمَسِيحَ ابْنَ مَرْيَمَ فَيَنْزِلُ عِنْدَ الْمَنَارَةِ الْبَيْضَاءِ

غرض دجال به دغسي خپلو کارونو کي مشغول وي چي په دغه وخت کي به ناڅاپه الله تعالی

مسيح ابن مريم عليه السلام راوليږي چي د دمشق په شرقي كي به پر سپينه مناره نازل سي

شَرْقِيَّ دِمَشْقَ بَيْنَ مَهْرُودَتَيْنِ وَاضِعًا كَفَّيْهِ عَلَى أَجْنِحَةِ مَلَكَيْنِ إِذَا طَأْطَأَ رَأْسَهُ

دغه وخت به حضرت عيسى عليه السلام دوې ژړي جامې اغوستي وي او خپل دواړه لاسونه به يې د ملائكو پر وزرو ايښي وي (يعني عيسى عليه السلام به د ملائكو پر وزرونو باندي لاسونه ايښي د آسمان څخه راكښته سي) هغه چي خپل سر كښته كړي

قَطَرَ وَإِذَا رَفَعَهُ تَحَدَّرَ مِنْهُ مثل جُمَانٌ كَاللُّؤْلُؤِ فَلَا يَحِلُّ لِكَافِرٍ يَجِدُ من رِيحَ

نو خوله به ځيني څاڅي او چي سر پورته كړي نو د هغه د سر څخه به د سپينو زرو د دانو په ډول چي د غميانو په ډول به وي څاڅكي بهيږي ، كوم كافر چي د هغه د ساه هواء ووينې

نَفَسِهِ إِلَّا مَاتَ وَنَفَسُهُ يَنْتَهِي حَيْثُ يَنْتَهِي طَرْفُهُ فَيَطْلُبُهُ حَتَّى يُدْرِكَهُ بِبَابِ لُدٍّ

نو مړ به سي او د حضرت عيسى عليه السلام د ساه هوا به د نظر تر حده پوري ځي بيا به عيسى عليه السلام دجال ولټوي او هغه به په باب لد (چي په شام كي يو غر دى) تر لاسه كړي

فَيَقْتُلُهُ ثُمَّ يَأْتِي عِيسَى ابْنَ مَرْيَمَ الى قوم قد عصمهم الله مِنْهُ فَيَمْسَحُ عَنْ

او قتل به يې كړي ، بيا به حضرت عيسى عليه السلام ته يو قوم راسي چي الله تعالى به د دجال د فتنې څخه محفوظ ساتلى وي ، عيسى عليه السلام به د هغوئ د مخ څخه ګرد صاف كړي ا

وُجُوهِهِمْ وَيُحَدِّثُهُمْ بِدَرَجَاتِهِمْ فِي الْجَنَّةِ فَبَيْنَمَا هُوَ كَذَلِكَ إِذْ أَوْحَى اللَّهُ إِلَى

و د هغه درجو خوشخبري به وركړي چي هغوئ ته په جنت كي حاصلي وي ، حضرت عيسى عليه السلام به په دې حالت كي وي چي الله تعالى به هغه ته وحي راوليږي

عِيسَى إِنِّي قَدْ أَخْرَجْتُ عِبَادًا لِي لَا يَدَانِ لِأَحَدٍ بِقِتَالِهِمْ فَحَرِّزْ عِبَادِي إِلَى الطُّورِ

او ورته وه به ښيي چي ما خپل ډير بندګان داسي پيدا كړي دي چي د هغوئ سره د جنګ كولو طاقت د هيچا نه سته ، ته زما بندګان كوه طور ته بوځه او هلته د هغوئ حفاظت كوه

وَيَبْعَثُ اللَّهُ يَأْجُوجَ وَمَأْجُوجَ وَهُمْ مِنْ كُلِّ حَدَبٍ يَنْسِلُونَ فَيَمُرُّ أَوَائِلُهُمْ عَلَى

بيا به الله تعالى ياجوج او ماجوج راوليږي چي د هري لوړي مځكي څخه به راكښته كيږي او

ځغلي به د دوئ لومړی ډله به

بُحَيْرَةِ طَبَرِيَّةَ فَيَشْرَبُونَ مَا فِيهَا وَيَمُرُّ آخِرُهُمْ فَيَقُولُ لَقَدْ كَانَ بِهٰذِهِ مَرَّةً مَاءٌ

د طبريه (په شام كي) بحيرې ته ورسيږي او د هغه ځاى ټولي اوبه به وڅښني تر دوئ وروسته چي هلته څوک تېرېږي هغه به دا فكر كوي چي دلته هيڅ وخت اوبه نه وې

ثُمَّ يَسِيرُونَ حَتَّى يَنْتَهُوا إِلَى جَبَلِ الْخَمَرِ وَهُوَ جَبَلُ بَيْتِ الْمَقْدِسِ فَيَقُولُونَ

بيا به ياجوج ماجوج پر مخ ځي او جبل خمر ته به ورسيږي چي د بيت المقدس يو غر دى (دلته چي تم سي نو وايي به)

لَقَدْ قَتَلْنَا مَنْ فِي الْأَرْضِ هَلُمَّ فَلْنَقْتُلْ مَنْ فِي السَّمَاءِ فَيَرْمُونَ بِنُشَّابِهِمْ إِلَى

پر مځكه چي كوم خلک وه هغوئ مو مړه كړل راځي چي اوس آسمان والا قتل كړو نو هغوئ به د آسمان په لور غشي وولي

السَّمَاءِ فَيَرُدُّ اللّٰهُ عَلَيْهِمْ نُشَّابَهُمْ مَخْضُوبَةً دَمًا وَيُحْصَرُ نَبِيُّ اللّٰهِ وَأَصْحَابُهُ حَتَّى

او الله تعالى به هغه غشي په وينو لړلي راكښته كړې او د الله تعالى نبي او د هغه ملګري به په كوه طور كي تم كړل سي تر دې چي

يَكُونَ رَأْسُ الثَّوْرِ لِأَحَدِهِمْ خَيْرًا مِنْ مِائَةِ دِينَارٍ لِأَحَدِكُمُ الْيَوْمَ فَيَرْغَبُ نَبِيُّ

د لوږي او غذا په اړتيا كي به د هغوئ حالت دې درجې ته ورسيږي چي په هغوئ كي به د هر سړي په نزد د غوايي سر د سلو دينارو څخه غوره وي، د هغه دينارو څخه چي نن ستاسو په نزد ډير قيمتي دي (هر كله چي دا حالت سي) نو د الله تعالى نبي

اللّٰهِ عِيسَى وَأَصْحَابُهُ فَيُرْسِلُ اللّٰهُ عَلَيْهِمُ النَّغَفَ فِي رِقَابِهِمْ فَيُصْبِحُونَ فَرْسَى

عيسى عليه السلام او د هغه ملګري به د الله تعالى څخه دعا وغواړي چي هغه ياجوج ماجوج هلاک كړي نو الله تعالى به د هغوئ په څټونو كي چينجي پيدا كړي او هغوئ به يو دم ټول مړه سي

كَمَوْتِ نَفْسٍ وَاحِدَةٍ ثُمَّ يَهْبِطُ نَبِيُّ اللّٰهِ عِيسَى وَأَصْحَابُهُ إِلَى الْأَرْضِ فَلَا يَجِدُونَ

بيا به عيسى عليه السلام او د هغه ملګري د غره څخه مځكي ته راكښته سي.او په مځكه كي به يوه

فِي الْأَرْضِ مَوْضِعَ شِبْرٍ إِلَّا مَلَأَهُ زَهَمُهُمْ وَنَتْنُهُمْ فَيَرْغَبُ نَبِيُّ اللّٰهِ عِيسَى وَأَصْحَابُهُ

لو يشت اندازه ځای تر لاسه نه کړي چي د ياجوج ماجوج د بوی د اثر څخه خوندي وي، عيسى عليه السلام او د هغه ملګري به الله تعالى ته سوال وکړي چي

إِلَى اللّٰهِ فَيُرْسِلُ اللّٰهُ طَيْرًا كَأَعْنَاقِ الْبُخْتِ فَتَحْمِلُهُمْ ... فتطرحهم حيث شاء

د دغه مصيبت څخه هغوئ خلاص کړي نو الله تعالى به داسي مرغان راوليږي چي د هغوئ څټونه به د خراساني آسانو په ډول وي دا مرغان به د ياجوج ماجوج مړه بدنونه پورته کړي او چيري چي د الله جل جلاله مرضي وي هلته به يې وغورځوي

اللّٰه . وفي رواية تَطْرَحُهُمْ بِالْنَهْبِلِ وَيَسْتَوْقِدُ الْمُسْلِمُونَ مِنْ قِسِيِّهِمْ وَنُشَّابِهِمْ

او په يوه روايت کي د االفاظ دي چي دغه مرغان به هغه جسدونه په نهبل کي وغورځوي (نهبل هغه ځای دی چي لمر ځيني راخيژي) مسلمانان به د ياجوج ماجوج ليندۍ غشي او تير کشان

وَجِعَابِهِمْ سَبْعَ سِنِينَ ثم يُرْسِلُ اللّٰهُ عَلَيْهِمْ مَطَرًا لَا يُكِنُّ مِنْهُ بَيْتُ وَبَرٍ وَلَا

تر اوو کالو پوري سوځوي ،بيا به الله تعالى يو لوی باران وکړي چي د هغه څخه به هيڅ يو داسي ابادي خالي پاته نه سي (چي هلته باران ونه سي)

مَدَرٍ فَيَغْسِلُ الْأَرْضَ حتي يَتْرُكُهَا كَالزَّلَفَةِ ثُمَّ يُقَالُ لِلْأَرْضِ انبتي ثَمَرَتَكِ

دا باران به مځکه پريولي صفا به يې کړي او هغه به د هوار کاڼي په ډول سي ، بيا به مځکي ته وويل سي چي خپلي ميوې راوباسي

وَرُدِّي بَرَكَتَكِ فَيَوْمَئِذٍ تَأْكُلُ الْعِصَابَةُ مِنَ الرُّمَّانَةِ وَيَسْتَظِلُّونَ بِقَحْفِهَا وَيُبَارَكُ

او خپل برکت بيرته راوباسه ، نو په دغه ورځو کي به د لسو څخه تر څلوېښتو کسانو پوري يوه ډله په يوه انار مړيږي او د انار د پوستکي څخه به خلک د سايې کار اخلي ،

فِي الرِّسْلِ حَتَّى اِنَّ اللِّقْحَةَ مِنَ الْإِبِلِ لتكفي الفنام من الناس وللِّقْحَة مِنَ

او په شيدو کي به برکت واچول سي تر دې چي د يوې اوښي شيدې به د يوې ډلي لپاره بس وي

الْبَقَرِ لتكفي القبيلة من الناس واللِّقْحَة مِنْ الْغَنَمِ لتكفي الفخذ من الناس

او لنگه غوا به د يوې ډلي بس کيږي او لنگه مېږه به د کوچنۍ ډلي بس کيږي ،

فَبَيْنَمَا هُمْ كَذَلِكَ إِذْ بَعَثَ اللّٰهُ رِيحًا طيبة فتاخذهم تحت اباطهم فتقبض

خلک به په داسي خوشحالۍ او آرام سره ژوند تيروي چي الله تعالى به يوه خوشبوداره هواء راوليږي چي د هر مؤمن او مسلمان تر بغل لاندي به ورسيږي

رُوحَ كُلِّ مُؤْمِنٍ وكل مسلم وَيَبْقَى شرار النَّاسِ يَتَهَارَجُونَ فيها تهارج الحمر

او د مؤمن مسلمان روح به قبض کړي او په دنيا کي به يوازي شرير او خراب خلک باقي پاته سي چي په خپل منځ کي به د خرونو په ډول جگړې كوي

فَعَلَيْهِمْ تَقُومُ السَّاعَةُ. رواه مسلم الا الرواية الثانية وهو قوله تطرحهم بالنهبل الى قوله سبع سنين رواهما الترمذي.

او پر دغه خلکو به قيامت قائم سي ، دا مسلم روايت کړی دی خو دويم روايت يعني تطرحهم بالنهبل څخه تر سبع سنين پوري ترمذي روايت کړی دی .

تخريج: صحيح مسلم: ۴\۱ ۲۲۵۰، رقم: ۱۱۰- ۲۹۳۷.

د لغاتو حل: قطط: اى شديد جعودة الشعر. خلة: اى طريقا واقعا بين الشام والعراق. ذُري: جمع ذروة وهي اعلى السنام، واسبغة: اى اتم ما كانت. ممحلين: اى داخلين في المحل.

تشريح: (نو زه به د هغه سره ستاسو وړاندي... ترپايه) په دغه جمله کي اشاره ده که چيري دجال څرګند سو نو رسول الله ﷺ به د دليل په ذريعه پر هغه باندي په غالب کېدو سره په خپل امت کي د يو چا د مرستي اړ نه وي، په هر حال د ذکر سوې جملې په وضاحت کي دا خبره بايد په ذهن کي وي چي دغه خبره خپله رسول الله ﷺ ته څرګنده وه چي د دجال څرګندېدل به زما څخه وروسته وي لکه چي په زيات يقين سره يې بيانولو او د هغه د ظهور د وخت مبهم کېدو ته په اشاره کولو او د کومو خلکو چي د دجال سره مخا مخ کېدل دي د هغوئ د هغه د فتنې څخه بېرولوو.
نو بيا په تاسو کي هر څوک د خپل ځان له لوري د هغه سره جګړه کوونکی... ترپايه: مطلب دادی چي د دجال د څرګندېدو په وخت کي چي کوم مسلمانان په دنيا کي موجود وي په هغوئ

کي به د هر يوه ذمه داري وي چي د هغه د شر څخه د ژغورني لپاره د شرعي، قطعي او عقلي دلائلو په ذريعه د هغه سره بحث او مباحثه وکړي او پر هغه غالب سي، مګر دا خبره د امکان ده چي دجال د هغوئ خبره واوري او وه يې مني، کنه نو ددغه جملې اصلي معنی به دا وي چي هغه وخت به د هر مؤمن دا ذمه داري وي چي هغه ددجال د تکذيب کولو ، د هغه د خبري منلو او هغه ته د تکليف او اذيت اختيارولو په ذريعه دهغه د شر څخه ځان وساتي.

زما وکيل او خليفه د هر مسلمان لپاره الله جَلَّ جَلَالُهُ دی، دلته په حقيقت کي دې ته اشاره ده چي زما څخه وروسته به الله تعالی د هر مؤمن او مسلمان حافظ او ناصر وي او ددجال د فتنې څخه په ساتنه کي به مرسته ورسره کوي، نو دا ددې خبري دليل دی چي کامل يقين لرونکی مؤمن به تل مرسته تر لاسه کوي که څه هم د هغوئ په منځ کي نبي او امام موجود نه وي، په دې اعتبار سره دغه حديث د اماميه ډلي خلاف يو ټينګ دليل دی.

دجال به زلمی وي: ځرګنده سول چي پر ابن صياد باندي ددجال اطلاق کول صحيح نه دی لکه چي ځينو خلکو فکر کړی دی، په دغه الفاظو کي دې ته هم اشاره ده چي د سپينو وېښتانو په صورت کي چي يو سړي ته وقار تر لاسه کيږي د هغه څخه به دجال محروم وي.

عبدالعزی ابن قطن د يو يهودي نوم وو، په ځرګنده دا معلوميږي چي هغه مشرک وو ځکه چي عزی د يو بت نوم دی او هغه ته د عبد يعني بنده نسبت کوونکي مشرک دی، ددې تائيد د ځينو حضراتو ددغه قول څخه هم کيږي چي عبدالعزی د خزاعه قبيلې يو سړی وو چي د جاهليت په زمانه کي مړ سوی دی، دا چي رسول الله ﷺ دجال ته د عبدالعزی سره تشبيه ورکړل نو په دې کي يې د جزم اظهار ونه فرمايه بلکه د لکه لفظ د اظهار شک ذکر سوې تشبيه په انداز کي د بيانولو لپاره دی، ملا علي قاري رحمة الله عليه هم وضاحت کړی دی چي (کاني) يعني لکه لفظ د شک د اظهار لپاره نه دی بلکه اصل خبره داده چي له کوم چا سره تشبيه ورکړل سوې ده يعني عبدالعزی د هغه تعارف رسول الله ﷺ ته په عالم کشف يا په خوب کي تر لاسه سوی وو، ځکه نو د هغه سره د دجال د تشبيه په وخت کي رسول الله ﷺ د کاني لفظ استعمال کړ، لکه څرنګه چي د يو خوب بيانولو دغه طرز معتبر وي.

د سورة کهف د لومړنيو آياتو څخه مراد د پيل څخه تر (ان يقولون الا کذبا) پوري آياتونه دي، ددغه آياتونو د دجال په وړاندي د ويلو حکم ځکه ورکړل سوی دی چي په دې کي کوم مضامين مذکور دي هغه د الله تعالی د ذات او صفات معرفت د هغه کتاب او د آيات بينات ثبوت د هغه د رسول د صداقت او د رسول پر هغه اعجازي شان باندي دلالت کوي چي د هغه په

بركت سره به دد جال محير العقول كړني برباد سي او د هغه اتباع كوونكي به د هلاكت او تباهي څخه پرته نور هيڅ تر لاسه نه كړي، طيبي رحمة الله عليه دا مطلب بيان كړى دى چي د سورة كهف لومړني آياتونه دا خاصيت لري چي ددغه آياتو ويونكي به دد جال د فتنې څخه په امن كي وي لكه څرنگه چي اصحاب كهف د خپلي زمانې تر ټولو لوى طاقت د شر او فتنې څخه خلاصون تر لاسه كړى وو ، څرگنده دي وي چي په ځينو احاديثو كي دغه آيتونه د شپې د بېده كېدو په وخت كي ويل هم منقول دي، د مسلم په بل روايت كي چي دا فرمايل سوي دي : (فانها جواركم من فتنة) ځكه چي دغه آياتونه به تاسو ددجال دفتنې څخه خوندي وساتي، نو په زياتو صحيح نسخو كي د جوار لفظ د جيم په زېر سره او په پاى كي په راء سره دى چي د هغه معنى د امان وي، مگر په ځينو نسخو كي دغه لفظ د جيم په زېر او د پاى په زاء سره يعني جواز، منقول دى چي معنى يې د هغه پيروي ده چي دهغه پر بنياد باندي يو سړى سفر كوي او په لاره كي د هغه څوک بنديز نه كوي ، په ځينو شرحو كي د جوار لفظ د جيم په زېر او پېښ سره بيان سوى دى مگر حقيقت دادى چي دغه لفظ د جيم په زور سره زيات فصيح دى ، دلته دا فصاحت هم ضروري دي چي په حصن حصين كي د سورة كهف په اړه زيات روايتونه منقول دي ، د مثال په توگه په يوه روايت كي دادي چي كوم څوک سورة كهف ووايي نو هغه ته تر مكې پوري نورانيت تر لاسه كيږي، او كوم څوک چي ددغه سورت آخري لس آياتونه ووايي او بيا د هغه په زمانه كي دجال راووځي نو دجال به پر هغه واک ترلاسه نه كړي ، په بل روايت كي دي چي كوم څوک د سورة كهف لومړني لس آياتونه ياد كړي نو هغه به ددجال څخه خوندي وي، په بل روايت كي داسي فرمايل سوي دي چي كوم څوک د سورة كهف لومړني درې آياتونه ووايي نو هغه به د دجال څخه خوندي وي، په دغه درې سره روايتو كي د لسو آياتونو او درو آياتونو په صورت كي كوم چي ظاهر تضاد دى د هغه ختمولو لپاره ډېر اقوال دي، مگر زيات واضح قول دادى چي د سورة كهف كم تركمه برخه چي دهغه ويل ددجال د شر څخه ساتنه كوي درې آياتونه دي او ددغه درو آياتو يادول غوره دي، نو دا خبره پرزياته برخه يعني د لسو آياتونو يا د هغه د يادولو خلاف نه ده .

او هغه به چپه خوا ته فساد خپروي: دلته په حقيقت كي دې ته اشاره كول مقصد دي چي دجال د كومو ښارو او سيمو سره تيريږي يوازي پر هغه ځايو باندي به فتنه او فساد نه خپروي بلكه هغه به خپل راسته او چپه خوا ته چيري چي تللاى نسي ، دخپل لښكر او دخپلو پيروانو ډلي به استوي همدا رنگه د هغه د فتنې او شر څخه به هيڅ مؤمن په امن كي نه وي او داسي هيڅ

ځای به پاته نه سي چيري چي د هغه فتنه ونه رسيږي.

اې د الله بندګانو! تاسو ثابت قدمه اوسئ، د غه خطاب هغه مؤمنانو ته دی چي د دجال په زمانه کي به وي، يا دا چي رسول الله ﷺ دغه خبره خپلو صحابه کرامو ته وفرمايل، که چيري تاسو د دجال زمانه تر لاسه کړئ نو هغه وخت پر دين باندي قائم اوسئ.

د څلويښتو ورځو په اړه بايد دا په ذهن کي وي چي دلته د مسلم په روايت کي خو د دجال د قيام وخت څلويښت ورځي فرمايل سوي دي، حال دا چي په راتلونکي يوه حديث کي دغه وخت څلويښت کاله بيان سوی دی، بغوي رحمه الله په شرح السنة کي ليکلي دي چي د څلويښتو کالو حديث د صحت او اسناد په اعتبار ددې درجې نه دی چي هغه د مسلم ددغه روايت معارض وګرځول سي او که چيري هغه حديث صحيح ومنل سي نو دا به ويل کيږي چي په دغه دواړو حديثو کي چي بېل بېل وختونه بيان سوي دي په دې کي يو وخت خو هغه دی چي په هغو کي پر خلکو باندي د هغه ظهور نه کيږي بلکه په دغه دنيا کي به د هغه شتون غير معلوم وي او دوهم خاص وخت دی چي د هغه په دوران کي به هغه پر خلکو باندي ظاهر وي او هغوئ ته به په تعين سره د هغه د موجودتيا علم وي.

د لمونځ کولو لپاره به د يوې ورځي حساب لګول کيږي، مطلب دا دی چي د لمر راختلو څخه وروسته به دومره وخت تېر سي کوم چي د عامو ورځو په اعتبار د سهار او ماپښين په منځ کي وي نو هغه وخت دي د ماپښين لمونځ وکړل سي او هر کله چي د ماپښين د لمانځه څخه وروسته دومره وخت تېر سي چي په عامو ورځو کي د ماپښين او مازديګر په منځ کي وي نو هغه وخت دي د مازديګر لمونځ وکړل سي او د مازديګر څخه وروسته چي څومره وخت تېر سي چي په عامه توګه د مازديګر او ماښام په منځ کي وي نو د ماښام لمونځ دي وکړل سي، په دې حساب سره دي د ماخستن او سهار لمونځ وکړل سي، خلاصه دا چي پنځه سره لمونځونه به په دغه حساب سره کيږي تر دې چي هغه ورځ د يوه کال برابر کېدو سره تېره سي او دغه اندازه او حساب به په هغه ورځو کي اختياريږي کله چي يوه مياشت او يوه اونۍ برابر وي، څرګنده دي وي چي د ذکر سوو ورځو اوږدوالی ذکر سوی دی هغه به په حقيقت کي دومره اوږد وي او يقينا الله تعالی پر دې قادر دی چي هغه د شپې او ورځي ګردش مختصر او طويل کړي، دا چي ځينو علماوو ويلي دي چي هغه ورځي به په حقيقت کي دومره اوږدې نه وي بلکه د هجوم او تکليفونو د زياتوب په وجه به دومره اوږدې معلوميږي نو دا خبره بالکل صحيح نه ده، ددې تر ټولو لوی دليل د صحابه کرامو د رسول الله ﷺ څخه د ذکر سوي سوال کول دي او د رسول الله

ﷺ هغوئ ته دغه جواب ورکول دي چي د لمانځه کولو لپاره د يوې ورځي حساب لګول کيږي، او دا چي ځينو حضراتو دا اشکال ظاهر کړی دی چي لمونځ خو د وختونو يعني د لمر د راختلو او لوېدلو او نورو په اعتبار تړاکل سوی دی او کله چي ددغه راختلو او لوېدلو وغيره وخت نه وي نو لمونځونه به څرنګه کيږي، نو دغه اشکال بالکل لغو دی ، حقيقت دادی چي اصل شی د شارع حکم دی ، کله چي شارع د هغه خاصو ورځو لپاره ذکر سوی حکم فرمايلی دی نو دچا پوښتنه او اشکال به د څه لپاره وي، توربشتي رحمة الله عليه او نورو علماوو دلته نور جوابونه هم ليکلي دي ، اهل علم يې په مرقات کي کتلای سي.

د هغوئ بوکونه به لوی سي، دلته د بوکونو معنی د ذرې ده چي د زروه جمع ده او اصل معنی يې د لوړ ځای ده، په دې اعتبار سره د اوښ پر بوک باندي هم د ذروة اطلاق کيږي، ددغه جملې خلاصه داده چي کوم څاروي د څرلو لپاره ځنګل ته تللي وي هغه به په ډېر چاغېدو سره بېرته راسي.

بيا به هغه خلک د وچ کالی ښکار سي: ددغه جملې په ذريعه دې ته اشاره کول مقصد دي چي مؤمن به ددجال د خبري په منلو او د هغه د پيروۍ څخه انکار کوي ځکه هغوئ به ددجال له خوا په ډول ډول سختيو کي اخته کيږي مگر هغوئ به ټولي سختۍ او تکليفونه په صبر او شکر سره زغمي او خپل دين او عقيده به قائم اوسي او دا به له دې کبله وي چي الله تعالی به دخپل محبوب نبي ﷺ په برکت هغه مؤمنانو ته د اولياء کاملين صفات او خصوصيات ورکړي.

(فتتبعه کنوزها کيعا سبب النحل) هغه خزانې به داسي په هغه پسې وي لکه چي د عسلو موچۍ په خپل مشر پسې وي، يعاسيب په اصل کي د يعسوب جمع ده چي معنی يې د عسلو د موچيو د مشر ده، خلاصه دا چي څرنګه چي يعسوب مخکي وي او د عسلو موچۍ په هغه پسې وي همدارنګه به ددجال سره خزانې په هغه پسې وي او د مشر د تعلق په مناسبت سره د قوم او ډلي مشر ته هم يعسوب ويل کيږي لکه چي ديلمي رحمة الله عليه د حضرت علي رضي الله عنه په اړه دا مرفوع حديث نقل کړی دی چي : علي يعسوب المؤمنين والمال يعسوب المنافقين، يعني علي رضي الله عنه د مؤمنانو مشر دی او مال دمنافقانو مشر دی ، او همدارنګه د حضرت ابوبکر صديق رضي الله عنه په مدح کي منقول دي چي حضرت علي رضي الله عنه د هغه د رتبې په اړه فرمايلي وه: کنت للدين يعسوب، يعني اې ابوبکر ! تاسو ددين رئيس او مشر ياست.

چي ددمشق د لويديځي خواپر سپيني منارې به راکښته کيږي، ددغه روايت څخه دا معلوميږي چي حضرت عيسی عليه السلام به په دمشق کي راکښته کيږي مگر په يوه روايت کي دابيان

سوی دی چي د هغه په بیت المقدس کي او په یوه روایت کي د هغه راکښته کېدل په اُردن کي منقول دي، او په یوه روایت کي دادي چي د مسلمانانو په ټولن ځای کي به راکښته کیږي، څرګنده دي وي چي په کوم روایت کي دحضرت عیسی علیه السلام پر بیت المقدس باندي راکښته کېدل منقول دي هغه دابن ماجه روایت دی او هغه راجح ګرځول کیږي ځکه چي په حقیقت کي دغه روایت د نورو روایتو خلاف نه دی، په دې وجه چي بیت المقدس د دمشق په لویدیځ کي واقع دی، بیت المقدس د مسلمانانو ټولن ځای هم دی او بیت المقدس د اردن سیمه هم ده، یوازي یو شی پاته کیږي او هغه دا چي په بیت المقدس کي سپینه مناره نسته مګر په دې سره څه بدلون نه رامنځته کیږي ځکه چي د حضرت عیسی علیه السلام د راکښته کېدو څخه مخکي سپینه مناره هم جوړیدلای سي.

(بین مهزودتین) هغه وخت به حضرت عیسی علیه السلام ژړ کالي اغوستي وي، دلته د مهزودتین لفظ په دال سره منقول دی او په ذال سره هم منقول سوی دی، ددغه جملې خلاصه داده چي د آسمان څخه د راکښته کېدو په وخت کي به د حضرت عیسی علیه السلام پر بدن اغوستلي جامې د زعفرانو یا ورس په رنګ سره رنګ سوي وي.

(واذا رفعه تحدر منه مثل جمان کالؤلؤ): او کله چي سر پورته کړي نو د هغه د وېښتانو څخه به د سپینو زرو ددانو په ډول څاڅکي راڅڅیږي چي دملغرو په ډول وي، مطلب دادی چي هغه څڅېدونکي څاڅکي به دومره سپین وي لکه د سپینو زرو د ملغلرو په ډول.

په نهایه کي لیکلي دي چي د جمان لفظ د عذاب پر وزن دی او معنی یې د سپینو زرو څخه جوړ سوي لوی لوی ملغلري دي، مفرد لفظ یې جمانة دی، طیبي رحمه الله ویلي دي: د حضرت عیسی علیه السلام د خولې څاڅکو ته مخکي خو په غټوالي کي په جمان سره تشبیه ورکړل سوه او بیا د پاکوالي په اعتبار جمان ته په ملغلري سره تشبیه ورکړل سوه، او ځینو حضراتو ویلي دي چي د جمان لفظ د میم په تشدید سره کوچنۍ ملغلري ته وایي او جمان د جیم د تشدید پرته هغه دانو ته وایي چي د سپینو زرو څخه جوړي سوي وي، دلته دغه دوهمه معنی مراد ده، خلاصه دا چي حضرت عیسی علیه السلام خپل سر کښته کړي نو د هغه د سر په وېښتانو کي به نوراني څاڅکي څرګند سي او کوم وخت چي هغه سر را پورته کړي نو هغه څاڅکي به ور څخه څاڅي، یعني دا د حضرت عیسی علیه السلام د ښکلا او جمال کنایه ده.

دا ناممکنه ده چي یو کافر ته د حضرت عیسی علیه السلام د ساه هواء ورسیږي او هغه مړ نسي، ددغه جملې څخه دا سوال پیدا کیږي چي په دغه حکم کي دی خپله دجال ولي نه شاملوي؟

جواب دادی چي دجال ددغه حکمت له کبله ددغه حکم څخه مستثنی سوی دی چي هغه د حضرت عیسی علیه السلام په لاس قتل سي او هغه دده په وینو لړلې خپل نیزه خلکو ته وښيي چي دمؤمنانو په ذهن کي ددجال د ساحر او چمباز کېدل یقیني سي او په خپلو سترګو سره د هغه د چمبازۍ پرده وشکوي او ویني یا دا هم ویل کیږي چي د حضرت عیسی علیه السلام د ساه په هواء سره د کافر مړ کېدل به د هغه یو داسي کرامت وي چي د هغه آسمان څخه د راکښته په وخت کي یا د هغه وخت څخه وروسته به څرګند وي، او بیا چي هغه دجال ته متوجه سي نو دغه کرامت به پورته کړل سي نو د یوه کرامت لپاره دا ضروري نه ده چي هغه دي تل او هر وخت څرګند وي او ځينو حضراتو ویلي دي چي دغه کرامت د هغه د معمول د هر راتلونکي ساه نه وي بلکه ددې تعلق یوازي د هغه خاص ساه سره وي چي دهغه په ذریعه یو کافر هلاکول مقصد وي نو د حضرت عیسی علیه السلام د ساه په هواء سره به دجال په دې وجه نه مړ کیږي چي هغه به داسي وژل مقصد نه وي ، سبحان الله! د حضرت عیسی علیه السلام د اعجازي شان به څه وایو ، یو هغه وخت وو چي هغه به په خپل پوه سره مړي ژوندي کول او یو به هغه وخت وي چي د هغه د ساه په هواء سره به خلک د مرګ په کنده کي لویږي .

(لُد) د لام په پېښ او ددال په تشدید سره، د شام د یوه غره نوم دی او ځينو حضراتو ویلي دي چي لُد د بیت المقدس د یو کلي نوم دی او د ځينو په نزد د فلسطین د یو کلي نوم دی، حضرت عیسی علیه السلام به د هغه خلګو د موخانو څخه ګرد پاکوي کیدای سي چي د مخ څخه د ګرد پاکول یعني پر خپل ظاهري معنی باندي محمول دی چي په حقیقت کي حضرت عیسی علیه السلام د لطف او کرم له موخي د هغه خلکو مخونه دګرد څخه پاکوي یا ددغه جملې په ذریعه دې ته اشاره کول مقصد دي چي حضرت عیسی علیه السلام به د هغه خلکو د زړونو څخه د دجال بېره لیري کړي او هغوئ ته به دراحت او آرام په ورکولو سره دهغوئ تکلیف ختم کړي .

بحیره طبریه په اضافت سره دی او لفظ د بحیره په اصل کي د بحرة تصغیر دی چي معنی يې د هغه ځای ده چیري چي اوبه جمع کیږي لکه دریاب ، نو د بحیر معنی د کوچني دریاب یعني کاسې ده، بحیره طبریه هغه کاسې ته وایي چي لس کوسه اوږده وي او د شام سیمه په طبریه کي واقع ده .

جبل خمر د یو غره نوم دی ، خمر په اصل کي هغه ځمکي ته وایي چي په درختو او خاشو کي پټه وي، پر دغه غره باندي درختي او خاشې ډیري دي ځکه دې ته جبل خمر وایي .

د هغوئ لپاره د غوایي سر به ستاسو د نن سل دینارو څخه غوره وي، ددغه جملې په ذریعه

دې ته اشاره کول مقصد دي چي د شيانو د لړوالي او ډيري گراني په وجه به خلک داسي وي چي معمولي شی به په لوی قيمت باندي په مشکله تر لاسه کيږي د مثال په توگه د يو څاروي په ټولو برخو کي د سر غوښه تر ټولو ارزانه او معمولي گڼل کيږي خو هغه وخت به د هغه خلکو په نزد د هغه سر غوښه هم په سل ديناره تر لاسه کول غنيمت گڼي ، د دې څخه اندازه لگول کيږي چي د غوښو د نورو برخو ارزښت به د هغوئ په نزد څومره دي او هغه به څومره گران بيه وي.

هغه مرغان به د دوئ مړي په نهبل کي وغورځوي: د غه لفظ د ها ء په جزم او د باء په زېر سره دی او د مشکوة په اکثرو نسخو کي داسي منقول دی، د غه لفظ په اصل کي د يو ځای نوم دی چي د بيت المقدس په سيمه کي واقع دی مگر په مجمع البحار کي د کرماني رحمة الله عليه څخه منقول دي چي د غه لفظ په ميم سره دی يعني منهل، او معنی يې د غره څخه د ايله کولو ليکلې ده او وايي چي ترمذي د دجال سره اړوند حديث کي (فتطرحهم بالنهاب) يعني د نهبل لفظ يې ويلی دی حال دا چي زيات صحيح په ميم سره يعني منهل دی .

چي د هغه څخه به هيڅ ځای که د خاورو وي يا د ډبرو وي او يا د وړيو وي ونه ساتل سي، دلته د خاورو يا ډبرو د ځايو څخه د ښار سيمي او د صوف (وړی) څخه د کلي سيمي مراد دي، خلاصه دا چي هغه باران به هر ځای او په هره سيمه کي اوريږي داسي هيڅ ځای به نه وي چيري چي د هغه باران او به ونه رسيږي او هيڅ ديوال او خيمه به هغه او به هيڅ يو ځای ته د رسېدو څخه منع نه کړلای سي ، څرگنده دي وي چي لفظ د لايکن د ياء په زور او د کاف په پېښ سره دی او كُن هم منقول دی ، او همدا رنگه د ياء په پېښ او د کاف په زور سره يعني کنان هم نقل سوی دی ، معنی د دواړو يوه ده يعني ساتنه او پټ والی .

او د هغه انارو د پوستکي څخه به خلک سايه تر لاسه کوي: په دې اړه يو شارح ويلي دي چي د پوستکي څخه مراد د آنار سربېره نيم پوست دی، قحف په اصل کي هغه گردي هډوکي (يعني کوپړی) ته وايي چي پر دماغ سربېره وي او د لرگي پيالې ته هم قحف وايي، نو د دغه مشابهت په وجه په حديث کي د آنار پوستکی په قحف سره تعبير سوی دی .

(الفئام من الناس) د خلکو يوه لويه ډله، دلته د فئام لفظ د دجال پر وزن په همزه سره دی او په عامه اصطلاح کي همزه په ياء بدلوي په هر حال د غه لفظ د خلکو ډلي په معنی دی او دلته مراد د خلکو دومره لويه ډله ده چي پر هغوئ د قبيلې څخه د زياتو خلکو اطلاق وي لکه چي د قبيلې اطلاق د خلکو پر هغه ډلي کيږي چي د فخذ څخه زيات وي او فخذ دلته د فاء په زور او د خاء په جزم سره دی چي د هغه معنی يوازي د قريب او ډلي ده او د دې اطلاق د خلکو پر

هغه ډله باندي هم کيږي چي د بطن څخه کم وي او د بطن اطلاق د قبيلې څخه پر لږ ډلي باندي کيږي ، فخذ د خاء په زبر سره بلکه د خاء په جزم سره د ورانه په معنی دی.

او بیا به هغه هواء د هر مؤمن او مسلمان روح قبض کړي، دلته هواء ته د روح قبض کولو نسبت مجازي دي، په حقيقت کي د روح قبض کولو کار د ملک الموت (عزرائيل علیه السلام) دی چي د الله جل جلاله په حکم سره به روحونه قبض کوي، دا خبره پر خپل ځای بيان سوې ده چي مؤمن او مسلم دواړه يو دي ، څوک چي مؤمن وي هغه مسلمان دی او څوک چي مسلمان وي هغه مؤمن دی، مګر ددواړو په منځ کي چي کوم لږ فرق علماوو بيان کړی دی هغه دادی چي مؤمن خو د تصديق قلبي په اعتبار ورته وايي چي د هغه تعلق د باطن سره دی او مسلمان د ظاهري اعتبار او طاعت په اعتبار ورته وايي نو دلته ددغه دواړو الفاظو بيانولو څخه مراد تاکيد هم دی او تعميم هم دی، ددغه حکم د دائرې څخه يو هم وتلی نه دی .

چي په خپلو کي به دخرو په ډول ګډوډ سي، په دې اړه ځينو شارحينو ويلي دي چي دلته د اختلاط څخه مراد جماع کول دي يعني هغه خلک به په بې حياء کېدو سره په ډاګه د خلکو په وړاندي جماع کوي لکه چي خرونه يې کوي نو د هرج لفظ د جماع په معنی کي هم راځي .

او پر دغه خلکو به قيامت قائم سي: مطلب دادی چي کله قيامت راسي نو هغه وخت به په دغه دنيا کي يوازي هغه بدکاره او شرير خلک يعني کفار او فاجران پاته وي، ددوئ برعکس خلک يعني مؤمنان او صالحين به هغه وخت په دنيا کي موجود نه وي او نه به پر هغوئ قيامت راځي، مخته يو حديث راځي چي په هغه کي فرمايل سوي دي چي قيامت به تر هغه وخته پوري نه قائميږي تر څو چي د ځمکي پر مخ د الله ، الله ويل بند نه سي يعني قيامت به هغه وخت راسي کله چي د ځمکي پر مخ يو هم د الله نوم اخيستونکی پاته نسي .

د دجال د کارنامو بيان

﴿۵۲۴۲﴾: وَعَنْ أَبِي سَعِيدٍ الْخُدْرِيِّ قَالَ قَالَ رَسُولُ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ

د حضرت ابوسعيد خدري رضی الله عنه څخه روايت دئ چي رسول الله صلی الله علیه وسلم وفرمايل :

يَخْرُجُ الدَّجَّالُ فَيَتَوَجَّهُ قِبَلَهُ رَجُلٌ مِنَ الْمُؤْمِنِينَ فَيَلْقَاهُ الْمَسَالِحُ مَسَالِحُ

دجال به راووځي او يو مسلمان سړی به د هغه طرف ته متوجه سي (يعني حضرت خضر عليه السلام) او يو څو وسله لرونکي خلک به د دجال سره يو ځای سي

الدَّجَّالِ فَيَقُولُونَ لَهُ أَيْنَ تَعْمِدُ فَيَقُولُ أَعْمِدُ إِلَى هَذَا الَّذِي خَرَجَ قَالَ

چي د هغه محافظ به وي دا محافظ خلک به د هغه مسلمان سړي څخه پوښتنه کوي چي د کوم ځای اراده لرې؟ هغه به ورته وايي زه هغه خوا ته ځم چي هغه خروج کړی دی (يعني د دجال په

فَيَقُولُونَ لَهُ أَوَ مَا تُؤْمِنُ بِرَبِّنَا فَيَقُولُ مَا بِرَبِّنَا خَفَاءٌ فَيَقُولُونَ اقْتُلُوهُ فَيَقُولُ

لور)، رسول الله ﷺ و فرمايل: ددې اوريدو سره به د دجال محافظان هغه ته ووايي ته زموږ رب (يعني دجال) باندي ايمان ولي نه راوړې؟ هغه سړی به وايي زموږ د پروردګار صفات پر هيچا پټ نه وي، ددې اوريدو سره به د دجال خلک په خپل منځ کي ووايي چي دی قتل کړئ مګر

بَعْضُهُمْ لِبَعْضٍ أَلَيْسَ قَدْ نَهَاكُمْ رَبُّكُمْ أَنْ تَقْتُلُوا أَحَدًا دُونَهُ قَالَ فَيَنْطَلِقُونَ

ځيني به دا خبره ګرځنده کړي چي ايا زموږ پروردګار (يعني دجال) موږ ته دا حکم نه دی راکړی چي د هغه د حکم څخه پرته به موږ څوک نه قتلوو، غرض دا چي هغه به هغه سړی دجال ته بوځي

بِهِ إِلَى الدَّجَّالِ فَإِذَا رَآهُ الْمُؤْمِنُ قَالَ يَا أَيُّهَا النَّاسُ هَذَا الدَّجَّالُ الَّذِي ذَكَرَ

کوم وخت چي دا مسلمان دجال ووينې نو خلک به مخاطب کړي ورته به وايي اې خلکو! دا هغه دجال دی چي رسول الله ﷺ يې ذکر فرمايلی دی،

رَسُولُ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ قَالَ فَيَأْمُرُ الدَّجَّالُ بِهِ فَيُشَبَّحُ فَيَقُولُ خُذُوهُ

ددې اوريدو سره به دجال د هغه مسلمان سړی د پړمو خې پرې ايستلو حکم ورکړي نو هغه به پرې ايستل سي بيا به دجال حکم ورکړي چي دی ونيسئ

وَشُجُّوهُ فَيُوسَعُ ظَهْرُهُ وَبَطْنُهُ ضَرْبًا قَالَ فَيَقُولُ أَوَ مَا تُؤْمِنُ بِي قَالَ فَيَقُولُ

سر يې ورميده کړئ نو په ښه وهلو سره به د هغه شا او نس نرم کړل سي، ددې څخه وروسته به دجال د هغه مسلمان سړي څخه پوښتنه وکړي ايا ته پر ما ايمان نه راوړې؟ هغه مسلمان سړی به ورته په جواب کي ووايي چي

أَنْتَ الْمَسِيحُ الْكَذَّابُ قَالَ فَيُؤْمَرُ بِهِ فَيُؤْشَرُ بِالْمِئْشَارِ مِنْ مَفْرِقِهِ حَتَّى يُفَرَّقَ

ته دروا غجن مسیح یې بیا به د دجال په حکم سره هغه مسلمان سړی په اره سره څیري کړل سي او دوې ټوټې به کړل سي

بَيْنَ رِجْلَيْهِ قَالَ ثُمَّ يَمْشِي الدَّجَّالُ بَيْنَ الْقِطْعَتَيْنِ ثُمَّ يَقُولُ لَهُ قُمْ فَيَسْتَوِي

او هغه دواړې ټوټې به بیل بیل کښېښودل سي بیا به دجال د هغه دواړو ټوټو په منځ کي وګرځي او وه به وایي چي ودرېږه نو هغه مسلمان سړی به بالکل سیده ودرېږي

قَائِمًا قَالَ ثُمَّ يَقُولُ لَهُ أَتُؤْمِنُ بِي فَيَقُولُ مَا ازْدَدْتُ فِيكَ إِلَّا بَصِيرَةً قَالَ ثُمَّ

دجال به بیا هغه ته وو ایي ته پر ما ایمان راوړې ؟ هغه مسلمان سړی به ورته وو ایي اوس خو زما یقین او زما بصیرت نور هم زیات سوی دی یعني اوس خو زما پر دې خبره پوره یقین سوی دی چي ته دجال او دروا غجن مسیح یې ، ددې څخه وروسته به هغه مسلمان سړی خلک مخاطب

يَقُولُ يَا أَيُّهَا النَّاسُ إِنَّهُ لَا يَفْعَلُ بَعْدِي بِأَحَدٍ مِنَ النَّاسِ قَالَ فَيَأْخُذُهُ

کړي ورته به وو ایي اې خلکو ! دغه دجال چي زما سره څه وکړل اوس هغه د بل چا سره نه سي کولای ، ددې څخه وروسته به

الدَّجَّالُ لِيَذْبَحَهُ فَيُجْعَلَ مَا بَيْنَ رَقَبَتِهِ إِلَى تَرْقُوَتِهِ نُحَاسًا فَلَا يَسْتَطِيعُ

دجال هغه مسلمان د ذبح کولو لپاره ونسي مګر د هغه غاړه به د مسو څخه جوړه کړل سي (یعني الله تعالی به د هغه غاړه د مسو څخه جوړه کړي چي دجال یې ذبح کولای نه سي)

إِلَيْهِ سَبِيلًا قَالَ فَيَأْخُذُ بِيَدَيْهِ وَرِجْلَيْهِ فَيَقْذِفُ بِهِ فَيَحْسِبُ النَّاسُ أَنَّمَا

نو دجال به یې ذبح نه کړلای سي عاجزه به پاته سي نو د هغه لاسونه او پښې به ونیسي هغه به پورته کړي او وه به یې غورځوي ، خلک به دا خیال وکړي چي هغه یې

قَذَفَهُ إِلَى النَّارِ وَإِنَّمَا أُلْقِيَ فِي الْجَنَّةِ فَقَالَ رَسُولُ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ هَذَا أَعْظَمُ النَّاسِ شَهَادَةً عِنْدَ رَبِّ الْعَالَمِينَ . رواه مسلم .

په اور کي وغورځوی مګر په حقیقت کي به هغه په جنت کي غورځول سوی وي ، ددې بیان کولو

سره رسول الله ﷺ وفرمایل : دا سړی به د الله تعالی په نظر کي د شهادت د اعتبار د ډیري لوړی درجې سړی وي . مسلم.

تخریج : صحیح مسلم: ۲۲۵٦\۴، رقم: ۱۱۳– ۲۹۳۸.

د لغاتو حل : المسالح: جمع المسلحة وهو القوم ذووالسلاح یحفظون الثغور. ترقونه: العظم الذي بین النحر والعاتق.

تشریح: په مسلمانانو کي یو سړی، په دې اړه د ځینو حضراتو وینا ده چي هغه حضرت خضر علیه السلام دی، ددې څخه دا ثابته سول چي حضرت خضر علیه السلام ژوندی دی او په دغه دنیا کي موجود دی خو په دې اړه د علماوو اختلاف دی، دفقهاوو او محدثینو اکثریت او د ځینو صوفیانو قول دادی چي هغه وفات سوی دی حال دا چي د صوفیانو اکثریت او ځیني فقهاء وایي چي هغه ژوندی دی او نووي رحمه الله علیه ویلي دي چي دا خبره صحیح ده .

د مسالح لفظ د میم په زور او دلام په زېر سره په اصل کي د مسلحة جمع ده ، چي لغوي معنی یې د سرحد وغیره ده ، په عامه اصطلاح کي ددغه لفظ اطلاق پر هغه وسله تړلو خلکو باندي کیږي چي دخپلو سرحدونو ساتنه کوي دلته دغه معنی مراد ده .

زموږ د پروردګار صفات دچا څخه پټ نه دي، مطلب دادی چي د هغه د رب کېدو دلیلونه بالکل څرګند او واضح دي لکه پیدا کول، رزق ورکول او داسي نور، او هغه د ټولو کمالاتو صفات لري چي په هغه کي هیڅ ډول نقص او عیب نسته ، حال دا چي په دجال کي د نقص او عیب شیان وي او دهغه ناقص او عیب داره کېدل بالکل څرګند دي نو په کوم ذات کي چي د ربوبیت او کمال واضح دلیلونه موجود وي د هغه شریک ناقص بنده.څرنګه کیدای سي او په دې اعتبار سره رب کېدل یوازي د هغه پاک ذات وړ دي، نه د بل چا لپاره .

(فیشج فیقول خذوه شجوه فیوسع ظهره و بطنه ضربا) نو هغه سړي به پرې ایستل سي...ترپایه، دلته د یوسع لفظ د واو په جزم او دسین په تخفیف سره د وسع څخه دی او په ځینو نسخو کي دغه لفظ د واو په زور او دسین په تشدید سره چي دتوسیع څخه مشتق کېدل یې صحیح ګرځول سوي دي ، همدارنګه د یشج لفظ د تشج څخه د مجهول صیغه ده چي معنی یې د یو شي پلن کول دي، په دې مناسبت سره ددې ژباړه پوړموخي پرې ایستل کیږي، او د شجوة لفظ د امر صیغه ده چي معنی یې د سر د زخمي کولو ده لکه چي د صحیح مسلم په تشریح کي ویل سوي دي، دغه قول زیات صحیح دی ، دوهم قول دادی چي څرنګه یشج د

تشبیج څخه مشتق دی همدارنګه شجوة هم ددغه باب څخه دامر صیغه ده او دریم قول دادی چي یشج او شجوه دواړه لفظونه د شج څخه مشتق دي چي معنی یې د سر د زخم ده.

له دې وروسته به ددواړو پښنو د مینځ څخه هغه دوې ټوټې کړل سي، یعني هغه د سر څخه تر پښنو پوري په څېرلو سره ټول بدن به یې دوې ټوټې کړل سي ، څرګنده دي وي چي د فیوشر په اړه احتمال دی چي په همزه سره وي اودوهم احتمال دادی چي په واو سره دی ، او د میشار لفظ په همزه سره منقول دی او په یاء سره هم منقول دی، په دواړو صورتو کي یې معنی د اره ده یعني هغه آله چي دهغه په ذریعه یو شی پرې کیږي، منشار یعني په نون سره هم نقل سوی دی.

بیا به دبل چا سره داسي نه سي کولای، دا ددې خبرتیا ده چي الله تعالی هغه ته د ملهت ورکولو لپاره چي هغه ته دومره زیات طاقت او قدرت ورکړی دی چي هغه څوک غواړي مړ کیږي او بیا دوهم ځل یې ژوندی کړي نو هغه طاقت او قدرت به د هغه څخه سلب کړل سوی وي نو اوس دهغه څخه چا ته د بېرېدو ضرورت نسته.

مګر په حقیقت کي به هغه په جنت کي واچول سي...تر پایه، دلته د جنت څخه مراد یا خو دنیوي او د بدني راحت او سکون ځای دی لکه یو باغچه یا بل ځای ، یا دا مراد دی چي دجال به هغه سړی په اور کي واچوي کوم چي هغه د ځان سره ګرځوي مګر هغه اور به د هغه سړي لپاره یخ سي او د سلامتیا باعث به جوړ سي لکه چي د حضرت ابراهیم علیه السلام لپاره دنمرود اور یخ او دسلامتیا ذریعه ګرځېدلی وو. په هر حال مطلب دادی چي ددجال دلاسه به د هغه سړي مرګ دوهم ځل نه واقع کیږي که څه هم هغه هر څومره کوښښ وکړي.

دغه سړی به د الله رب الغالمین په نزد د شهادت په اعتبار د ډیري لوړي درجې خاوند وي، دلته هغه سړي ته شهید د هغه د لومړني مرګ په اعتبار فرمایل سوي دي چي ددجال دلاسه واقع سي که څه هم وروسته به هغه ژوندی سي یا هغه به په دې اعتبار شهید وي چي دجال به د هغه د ذبح کولو قصد وکړي خو هغه به په خپل مقصد کي کامیاب نه سي او دا هم کیدای سي چي د شهادت څخه مراد د الله تعالی په نزد حاضرېدل او شاهدي ورکول دي.

د دجال د بیري څخه به خلک غرونو ته وتښتي

﴿۵۲۴۳﴾: وَعَنْ أُمِّ شَرِيكٍ قَالَتْ قَالَ رَسُولُ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ لَيَفِرَّنَّ النَّاسُ مِنَ الدَّجَّالِ حتى يلحقوا بالْجِبَالِ قَالَتْ أُمُّ شَرِيكٍ قلت يا رَسُولَ

اللّٰهِ فَأَيْنَ الْعَرَبُ يَوْمَئِذٍ قَالَ هُمْ قَلِيلٌ. رواه مسلم

د حضرت ام شریک (رض) څخه روایت دئ چي رسول الله ﷺ وفرمایل: خلک به د دجال (د چم او مکر او فتنې) څخه تښتي او په غرونو کي به پټیږي، ام شریک وایي د دې اوریدو سره ما پوښتنه وکړه اې د الله رسوله! عرب به په دغه ورځو کي په کوم ځای کي وي؟ رسول الله ﷺ وفرمایل: عرب به په دغه زمانه کي لږ وي. مسلم

تخريج: صحيح مسلم: ۴\۲۲۶۶، رقم: ۱۲۵- ۲۹۴۵.

تشريح: (فاين) دلته د فاء حرف د شرط محذوف بنیاد دی، یعني پوره جمله داسي ده چي کله خلک د دجال د بیري څخه وتښتي او پټیږي نو هغه وخت به عرب چیري وي، چي د هغوئ کار د الله جَلّ جَلَالُهُ په لاره کي جهاد کول او دین ته د تاوان رسونکي د هري فتنې او فساد دفع کول دي.

د دجال تابعداري به یهودیان کوي

﴿۵۲۴۴﴾: وَعَنْ اَنَسٍ عَنْ رَسُولِ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ قَالَ يَتْبَعُ الدَّجَّالَ مِنْ يَهُودِ أَصْبَهَانَ سَبْعُونَ أَلْفًا عَلَيْهِمُ الطَّيَالِسَةُ. رواه مسلم

د حضرت انس رضي الله عنه څخه روایت دئ چي رسول الله ﷺ وفرمایل: د اصفهان اویا (۷۰) زره یهودیان به د دجال پیروي او اطاعت وکړي چي د هغوئ پر سرونو به طیالسي څادرونه پراته وي. مسلم.

تخريج: صحيح مسلم: ۴\۲۲۶۶، رقم: ۱۲۴- ۲۹۴۴.

تشريح: د یتبع لفظ د یاء په زور، د تاء په جزم او د باء په زبر سره دی چي معنی یې د ملګرتیا ده، مګر یو شارح ویلي دي چي دغه لفظ اتباع یعني د تاء په تشدید سره دی چي معنی یې د پیروي کولو ده، اصفهان د الف په زور او زبر دواړو سره د یو مشهور ښار نوم دی چي په ایران کي واقع دی، په یوه روایت کي د اوویا زرو پر ځای د نیوي زرو الفاظ دي مګر د مشهور روایت مطابق صحیح د اوویازره شمېر دی، طیالسة په اصل کي د طیلسان جمع ده چي په عربو کي د یوې مشهوري جامې نوم دی او د څادر په صورت کي وي، قاضي عیاض رحمه الله دا نقل کړي دي چي د طیلسان لفظ معرب دی یعني په اصل کي دغه لفظ تالستان وو چي په عربي کي طیلسان کړل سو، څرګنده دي وي چي ځینو علماوو د دغه حدیث څخه دا استدلال کړی دی چي

طيلسان يوه ناخوښه جامه ده ، دغه حضراتو د حضرت انس ﷛ دغه روايت هم دخپل قول په تائيد كي وړاندي كړى دى چي هغوئ ځيني خلک د طيلسان جامي اغوستونكي ولېدل نو وه يې فرمايل چي دا خلک د خيبر ديهوديانو په ډول معلوميږي ، مګر حقيقت دادى چي په طيلسان كي څه خرابي نسته او استعمال يې پروا نه لري بلكه د سر په ځادر سره د پټولو په توګه د طيلسان استعمال مسنون هم دى، په دې اړه د رسول الله ﷺ او صحابه كرامو سره اړوند ډېر حديثونه نقل سوي دي ، كه څه هم دا كيديا سي چي په يوه زمانه كي يوازي د يهوديانو د خاص جامې سره تعلق درلود او حضرت انس ﷛ په دې اعتبار سره د هغه استعمال يې په غوره نظر سره نه وي ليدلى يا هغه په دې سبب دخپلي ناخوښۍ اظهار كړى وي چي هغه خلكو هغه وخت كوم طيلسان استعمالوى د هغه رنګ ژړ وو ، دلته دا ښودل هم ضروري دي چي د طيلسان په اړه د علماؤ په منځ كي چي كوم اختلاف دى هغه يوازي د هغه ځادر په توګه د داسي استعمالولو اړوند دى چي د هغه څوكه پر سر باندي واچول سي او د هغه غاړه پر اوږو واچول سي چي هغه ته تفنع او قناع هم ويل كيږي ، په هر حال كوم حضرات چي د طيلسان خلاف دي د هغوئ وينا ده چي د طيلسان د استعمالولو په اړه د رسول الله ﷺ او صحابه كرامو څخه څه منقول دي د هغه تعلق د خاصو حالاتو او ضرورت سره دى چي رسول الله ﷺ او صحابه كرامو د يو خاص ضرورت په وجه هغه وخت د لمر د ګرمۍ څخه د ساتني لپاره پر خپل سر اچولى دى، مګر جمهور علماء د طيلسان استعمالول بېله كراهته مطلق جائز ګرځوي ، لكه چي په يو حديث كي راغلي دي چي سر په طيلسان سره پټوئ ځكه چي د ځادر استعمالول د عربو جامه ده او اقتناع (يعني طيلسان په ذكر سوې طريقه استعمالول) د اهل ايمان جامه ده، په يوه حديث كي داسي راغلي دي چي په طيلسان سره سرپټول په ورځ كي نفقه ده او په شپه كي زينت، په يوه روايت كي د حضرت انس ﷛ څخه منقول دي چي رسول الله ﷺ به قناع زيات اختياروى همدارنګه صحابه كرامو هم، او په دې اړه ډېر زيات آثار او اخبار ثابت دي .

دجال په مدينه كي نه داخلېږي

﴿۵۲۴۵﴾ : وَعَنْ اَبِيْ سَعِيْدٍ قَالَ قَالَ رَسُوْلُ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ يَأْتِي الدَّجَّالُ

د حضرت ابو سعيد ﷛ څخه روايت دئ چي رسول الله ﷺ وفرمايل : د جال به د مديني په لور

وَهُوَ مُحَرَّمٌ عَلَيْهِ أَنْ يَدْخُلَ نِقَابَ الْمَدِيْنَةِ فَيَنْزِلُ بَعْضَ السِّبَاخِ الَّتِي تَلِي

متوجه سي د الله تعالی په حکم سره به هغه د مدينې په لارو کي داخل نه سي آخر به هغه د مدينې

الْمَدِينَةَ فَيَخْرُجُ إِلَيْهِ يَوْمَئِذٍ رَجُلٌ وَهُوَ خَيْرُ النَّاسِ أَوْ مِنْ خِيَارِ النَّاسِ

منورې سره نژدې په يو مځکه کي تم سي ، ددې څخه وروسته به يو سړی راسي چي د هغه زمانې د غوره خلکو څخه به وي

فَيَقُولُ أَشْهَدُ أَنَّكَ الدَّجَّالُ الَّذِي حَدَّثَنَا رَسُولُ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ

او هغه (دجال) ته به ووايي زه شاهدي وايم چي ته دجال يې چي رسول الله ﷺ يې خبر راکړی دی

حَدِيثَهُ فَيَقُولُ الدَّجَّالُ أَرَأَيْتُمْ إِنْ قَتَلْتُ هَذَا ثُمَّ أَحْيَيْتُهُ هَلْ تَشُكُّونَ فِي

دجال به خپلو خلکو ته وايي که زه دا سړی قتل کړم دويم وار يې راژوندی کړم ايا بيا به هم زما

الْأَمْرِ فَيَقُولُونَ لَا فَيَقْتُلُهُ ثُمَّ يُحْيِيهِ فَيَقُولُ وَاللَّهِ مَا كُنْتُ فِيكَ أَشَدَّ

په باره کي شک کوئ هغوئ به وايي موږ به بيا هيڅ شک نه کوو نو دجال به هغه سړی قتل کړي او بيا به يې راژوندی کړي بيا به د ژوندي کيدو څخه وروسته هغه ورته ووايي قسم په خدای

بَصِيرَةً مِنِّي الْيَوْمَ فَيُرِيدُ الدَّجَّالُ أَنْ يَقْتُلَهُ فَلَا يُسَلَّطُ عَلَيْهِ. متفق عليه.

هغه وخت ستا په باره کي زما دومره يقين نه وو څومره چي مي اوس يقين دی بيا به دجال دويم وار د هغه د قتل کولو کوښښ کوي مګر پر هغه به واک ترلاسه نه کړي . بخاري او مسلم

تخريج : صحيح البخاري (فتح الباري): ۱۴\۹۵، رقم: ۱۸۸۲، ومسلم ۴\۲۲۵۶، رقم: ۱۱۲– ۲۹۳۸.

د لغاتو حل : نقاب: جمع نقب وهو الطريق بين الجبلين (د دوو غرونو په منځ کي لاره)

تشريح : نو هغه خلک به جواب ورکړي چي بيا به موږ ته هيڅ شک او شبه نه وي، په دغه جمله کي د خلکو څخه مراد که چيري هغه خلک وي کوم چي د دجال پيروان وي نو دغه جمله بالکل څرګنده ده او پر خپل اصل معنی باندي محمول ده مګر که چيري د خلکو څخه اهل ايمان هم مراد واخيستل سي نو بيا د دغه جملې تاويل به دا وي چي د هغه خلکو ذکر سوی جواب ورکول به په اصل کي د بيرې په وجه وي ، دا هم کيدای سي چي له دې څخه مراد د کنايې په توګه د دجال د دروغو او چمبازۍ شک او شبه نه کول وي .

خو هغه به پر هغه قادر نه سي: دلته ددې خبرې دليل دى چې دجال ته د مهلت ورکولو لپاره چې مافوق الفطرت طاقت او قدرت ورکول کيږي هغه به په پيل کي د څه وخت لپاره وي وروسته به هغه قدرت او طاقت سلب کړل سي چې د هغه نتيجه به دا وي چې هغه به خپل ځان پر هغه قادر نهويني چې څه غواړي هغه وکړي.

《۵۲۴۶》: وَعَنْ أَبِي هُرَيْرَةَ عَنْ رَسُولِ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ قَالَ يَأْتِي الْمَسِيحُ مِنْ قِبَلِ الْمَشْرِقِ هِمَّتُهُ الْمَدِينَةُ حَتَّى يَنْزِلَ دُبُرَ أُحُدٍ ثُمَّ تَصْرِفُ الْمَلَائِكَةُ وَجْهَهُ قِبَلَ الشَّامِ وَهُنَالِكَ يَهْلِكُ. متفق عليه.

د حضرت ابوهريره ﷺ څخه روايت دئ چي رسول الله ﷺ وفرمايل: مسيح دجال به د مشرق د طرف څخه راسي او د مدينې قصد به وکړي تر دې چې هغه به د احد شا ته ورسيږي بيا به ملائکي د هغه مخ د شام په لور وګرځوي او هغه به په شام کي هلاک سي. بخاري او مسلم

تخريج: صحيح مسلم ۱۲\۱۰۰۵، رقم: ۴۸۶-۱۴۳۸۰. ولم نجده عند البخاري.

تشريح: ملائکي به د هغه مخ د شام په لور وګرځوي، دغه خبره ددجال د درواغجن ثابتولو لپاره يو لوى دليل دى او دهغه د عجز او نقصان ننبه به وي او هغه به دخپل دومره طاقت او قدرت سربېره په مقدس ښار کي پر داخلېدو باندي قادر نسي چې په هغه کي سيدالورى ﷺ آرام فرما دى، ددې څخه دا هم ثرګندېږي سوه چې دجال مدينې منورې ته داخلېدلاى نه سي نو مکې ته په درجه اولى نه سي داخلېدلاى.

《۵۲۴۷》: وَعَنْ أَبِي بَكْرَةَ عَنِ النَّبِيِّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ قَالَ لَا يَدْخُلُ الْمَدِينَةَ رُعْبُ الْمَسِيحِ الدَّجَّالِ لَهَا يَوْمَئِذٍ سَبْعَةُ أَبْوَابٍ عَلَى كُلِّ بَابٍ مَلَكَانِ.

رواه البخاري.

د حضرت ابوبکره ﷺ څخه روايت دئ چي رسول الله ﷺ وفرمايل: په مدينه کي به د دجال رعب او خوف نه داخليږي، په دغه ورځو کي به دمدينې اووه دروازې وي او پر هره دروازه به دوې ملائکي ټاکلي وي. بخاري

تخريج: صحيح البخاري (فتح الباري): ۹۵\۱۴، رقم: ۱۸۷۹.

تشريح: سيوطي رحمة الله عليه ويلي دي: دا چي په خلكو كي مشهوره ده چي د رسول الله ﷺ ددغه دنيا څخه د رخصتېدو وروسته د حضرت جبرائيل عليه السلام مځكي ته راتلل موقوف سوي دي نو دا بالكل بې اصله خبره ده، ددغه غلط خيال د ترديد لپاره هغه روايت كافي دي كوم چي طبراني رحمة الله عليه نقل كړی دی چي حضرت جبرائيل عليه السلام خو د هغه مؤمن د مرګ پر وخت تشريف راوړي كوم چي د طهارت او پاكۍ په حالت كي وي، په يوه روايت كي ابونعيم رحمة الله عليه نقل كړي دي چي رسول الله ﷺ وفرمايل: كله چي دجال مديني ته نژدې سي نو هغه وخت به ناڅاپه د هغه مقابله د يوه ستر طاقت سره وسي، دجال به پوښتنه ځيني وكړي چي ته څوك يې، نو هغه به جواب وركړي چي زه جبرائيل عليه السلام يم، الله جل جلاله زه ددې لپاره رالېږلی يم چي زه تا د هغه د رسول ﷺ د حرم څخه ليري كړم.

د دجال ذكر

﴿۵۲۴۸﴾: وَعَنْ فَاطِمَةَ بِنْتِ قَيْسٍ قَالَتْ سَمِعْتُ مُنَادِيَ رَسُولِ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ

د بي بي فاطمې بنت قيس رضي الله عنها څخه روايت دی چي ما د رسول الله ﷺ د اعلان كونكي څخه دا

وَسَلَّمَ يُنَادِي الصَّلَاةَ جَامِعَةً فَخَرَجْتُ إِلَى الْمَسْجِدِ فَصَلَّيْتُ مَعَ رَسُولِ اللَّهِ صَلَّى

اعلان واوريدی چي: الصلوة جامعة (يعني لمونځ كونكی دی يعني لمونځ تيار دی مسجد ته راسئ) نو زه مسجد ته ولاړم او د رسول الله ﷺ سره مي لمونځ وكړ،

اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ فَلَمَّا قَضَى صَلَاتَهُ جَلَسَ عَلَى الْمِنْبَرِ وَهُوَ يَضْحَكُ قَالَ لِيَلْزَمْ كُلُّ

كله چي رسول الله ﷺ دلمانځه څخه فارغ سو نو منبر ته يې تشريف راوړ او په خندا يې وفرمايل: چا چي كوم ځای لمونځ كړی دی هلته دي ناست وي،

إِنْسَانٍ مُصَلَّاهُ ثُمَّ قَالَ هَلْ تَدْرُونَ لِمَ جَمَعْتُكُمْ قَالُوا اللَّهُ وَرَسُولُهُ أَعْلَمُ قَالَ إِنِّي

ددې څخه وروسته رسول الله ﷺ وفرمايل: تاسو ته معلومه ده چي ما ولي تاسو يوځای كړي ياست؟ خلكو عرض وكړ الله تعالی او د هغه رسول ښه پوهيږي، رسول الله ﷺ وفرمايل:

وَاللَّهِ مَا جَمَعْتُكُمْ لِرَغْبَةٍ وَلَا لِرَهْبَةٍ وَلَكِنْ جَمَعْتُكُمْ لِأَنَّ تَمِيمَ الدَّارِيَّ كَانَ

قسم په الله جل جلاله! ما تاسو ددې لپاره نه ياست يوځای كړي چي زه تاسو ته يو زيری دروورم او نه مي

ددې لپاره يو ځای کړي ياست چې تاسو د يو دښمن شخص وبيروم بلکه ما تاسو د تميم داري د واقعې اوريدو لپاره يو ځای کړی ياست ،

رَجُلًا نَصْرَانِيًّا فَجَاءَ وَأَسْلَمَ وَحَدَّثَنِي حَدِيثًا وَافَقَ الَّذِي كُنْتُ أُحَدِّثُكُمْ بِهِ عَنِ

تميم داري يو مسيحي وو هغه راغلی او مسلمان سو او ما ته يې يو داسي خبر بيان کړ چې د هغه خبرو مشابه وو کوم چې ما د دجال په باره کي تاسو ته ويلي وه ،

الْمَسِيحِ الدَّجَّالِ حَدَّثَنِي أَنَّهُ رَكِبَ فِي سَفِينَةٍ بَحْرِيَّةٍ مَعَ ثَلَاثِينَ رَجُلًا مِنْ لَخْمٍ

هغه بيان وکړ چې هغه د قبائل لخم او جذام ديرش کسانو سره د درياب په کښتۍ کي سپور سو ،

وَجُذَامَ فَلَعِبَ بِهِمُ الْمَوْجُ شَهْرًا فِي الْبَحْرِ فَأَرْفَئُوا إِلَى جَزِيرَةٍ حين تغرب

د درياب څپو د کښتۍ سره لوبي پيل کړې او تر يوې مياشتي پوري هغه کښتۍ آخوا دېخوا ګرځيدل، په پای کي څپو هغه کښتۍ د لمر د غروب په وخت کي يوې جزيرې ته بوتلل ،

الشَّمْسِ فَجَلَسُوا فِي أَقْرُبِ السَّفِينَةِ فَدَخَلُوا الْجَزِيرَةَ فَلَقِيَتْهُمْ دَابَّةٌ أَهْلَبُ

دوئ په کوچنيو کښتيو کي سپاره سول او جزيرې ته داخل سول هلته دوئ يو حيوانه وليدی چې

كَثِيرُ الشَّعَرِ لَا يَدْرُونَ مَا قُبُلُهُ مِنْ دُبُرِهِ مِنْ كَثْرَةِ الشَّعَرِ وَقَالُوا وَيْلَكِ مَا أَنْتِ

لوی لوی وريښتان يې وه او د هغه پر بدن دومره زيات وريښتان وه چې د هغې مخ او شا نه معلوميدل دوئ هغه ته وويل پر تا افسوس دی ته څوک يې ،

قَالَتْ أَنَا الْجَسَّاسَةُ قالوا ماالجساسة قالت ايها القوم انْطَلِقُوا إِلَى هَذَا الرَّجُلِ

هغې وويل جاسوسه يم، تاسو هغه سړي ته ورسئ چې په دير کي دی هغه ستاسو د خبرو اوريدو

فِي الدَّيْرِ فَإِنَّهُ إِلَى خَبَرِكُمْ بِالْأَشْوَاقِ قَالَ لَمَّا سَمَّتْ لَنَا رَجُلًا فَرِقْنَا مِنْهَا أَنْ تَكُونَ

ډير آرزومند دی ، د تميم داري بيان دی چې هغه حيواني د هغه سړي ذکر وکړ نو موږ د هغې شخه وبيريدو او خيال مو وکړ چې

شَيْطَانَةً قَالَ فَانْطَلَقْنَا سِرَاعًا حَتَّى دَخَلْنَا الدَّيْرَ فَإِذَا فِيهِ أَعْظَمُ إِنْسَانٍ رَأَيْنَاهُ

کیدای سي دا شیطان وي ، غرض دا چي موږ په تیزي سره مخکي سو او دیر ته چي ورسیدو هلته موږ ډیر لوی او خوفناک سړی ولیدی

قَطُّ خَلْقًا وَأَشَدُّهُ وِثَاقًا مَجْمُوعَةٌ يَدَاهُ إِلَى عُنُقِهِ مَا بَيْنَ رُكْبَتَيْهِ إِلَى كَعْبَيْهِ بِالْحَدِيدِ

چي داسي سړی تر ننه پوري موږ نه وو لیدلی ، هغه ډیر ټینګ تړل سوی وو د هغه لاس تر غاړي پوري او زنګونو نه تر بجلکو پوري په زنځیر کي وه

قُلْنَا وَيْلَكَ مَا أَنْتَ قَالَ قَدْ قَدَرْتُمْ عَلَى خَبَرِي فَأَخْبِرُونِي مَا أَنْتُمْ قَالُوا نَحْنُ

موږ د هغه څخه پوښتنه وکړه پر تا افسوس دی ته څوک یې؟ هغه راته وویل تاسو زه ولیدم او معلوم مو کړلم (نو اوس زه ستاسو څخه خپل حال نه پټوم) مګر مخکي تاسو دا وښیاست چي تاسو څوک یاست؟ موږ ورته وویل موږ

أُنَاسٌ مِنَ الْعَرَبِ رَكِبْنَا فِي سَفِينَةٍ بَحْرِيَّةٍ فَلَعِبَ بِنَا الْبَحْرِ شَهْرًا فَدَخَلْنَا الْجَزِيرَةَ

د عربو خلک یو ، په یوې کښتی کي سپاره سوې وو د دریاب څپو یوه میاشت پوري دربدره اخیستي وو آخر موږ یې دلته وغورځولو ، موږ په دغه جزیره کي داخل سوو

فَلَقِيَتْنَا دَابَّةٌ أَهْلَبُ فقالَتْ أَنَا الْجَسَّاسَةُ اعمدوا إِلَى هَذَا فِي الدَّيْرِ فَأَقْبَلْنَا إِلَيْكَ

نو موږ یو حیوانه ولیدل چي لوی لوی ویښتان یې وه هغې موږ ته وویل چي زه جاسوس یم ، تاسو هغه سړي ته ورسئ کوم چي په دیر کي دی بیا موږ ستا په خوا په منډه راغلو ،

سِرَاعًا وفزعنا منها ولم نامن ان تكون شيطانه فَقَالَ أَخْبِرُونِي عَنْ نَخْلِ

بیا هغه پوښتنه وکړه ایا هلته په بیابان کي د خرماوو درختي میوه کوي موږ ورته وویل هو ، میوه

بَيْسَانَ هَلْ تُثْمِرُ قُلْنَا نَعَمْ قَالَ أَمَا إِنَّهَا يُوشِكُ أَنْ لَا تُثْمِرَ قَالَ أَخْبِرُونِي عَنْ

کوي نو هغه وویل هغه زمانه نژدې راتلونکي ده چي دغه درختي به میوه نه کوي بیا هغه پوښتنه وکړه دا راته وښیاست چي

بُحَيْرَةِ الطَّبَرِيَّةِ هَلْ فِيهَا مَاءٌ قُلْنَا هِيَ كَثِيرَةُ الْمَاءِ قَالَ إِنَّ مَاءَهَا يُوشِكُ أَنْ

په بحیره طبریه کي اوبه سته که نه ؟ موږ ورته وویل په هغه کي اوبه ډیري دي نو هغه وویل ډیر

ژر په هغه کي به اوبه وچي سي

يَذْهَبَ قَالَ أَخْبِرُونِي عَنْ عَيْنِ زُغَرَ قالوا وعن اي شانها تستخبر قال هَلْ فِي

بيا هغه پوښتنه وکړه د زغر د چينې څه حال دی ؟ ايا په هغه چينې کي اوبه سته او ايا د هغې

الْعَيْنِ مَاءٌ وَهَلْ يَزْرَعُ أَهْلُهَا بِمَاءِ الْعَيْنِ قُلْنَا لَهُ نَعَمْ هِيَ كَثِيرَةُ الْمَاءِ وَأَهْلُهَا

چينې نژدې خلک د هغه چينې په اوبو سره کښت کوي ؟ موږ ورته وويل چي هو هلته اوبه ډيري دي او د هغه ځای خلک

يَزْرَعُونَ مِنْ مَائِهَا قَالَ أَخْبِرُونِي عَنْ نَبِيِّ الْأُمِّيِّينَ مَا فَعَلَ قَلنا قَدْ خَرَجَ مِنْ

کښت کري په اوبو ددې بيا هغه وويل د اميانو د نبي (يعني د عربو د ناويونکو خلکو د نبي) په اړه راته وواياست چي هغه څه وکړل ؟ موږ ورته وويل : هغه د مکې څخه مدينې ته په

مَكَّةَ وَنَزَلَ يَثْرِبَ قَالَ أَقَاتَلَهُ الْعَرَبُ قُلْنَا نَعَمْ قَالَ كَيْفَ صَنَعَ بِهِمْ فَأَخْبَرْنَاهُ

هجرت تشريف وړی دی ، هغه پوښتنه وکړه ايا هغه عرب د هغه سره جنګيدلي دي ؟ موږ ورته وويل هو ، هغه پوښتنه وکړه هغه عربو سره څه معامله وکړه ؟ موږ د ټولو پېښو څخه هغه خبر کړ

أَنَّهُ قَدْ ظَهَرَ عَلَى مَنْ يَلِيهِ مِنَ الْعَرَبِ وَأَطَاعُوهُ قَالَ لهم قد كان ذالك قلنا نعم

او ورته مو وښودل چي په عربو کي چي کوم خلک د هغه نژدې وه پر هغوئ هغه غلبه حاصله

أَمَا إِنَّ ذَاكَ خَيْرٌ أَنْ يُطِيعُوهُ وَإِنِّي مُخْبِرُكُمْ عَنِّي إِنِّي أَنَا الْمَسِيحُ وَإِنِّي أُوشِكُ أَنْ

کړې ده او هغوئ د هغه اطاعت اختيار کړی دی نو هغه وويل تاسو ته دي معلومه وي چي د هغه اطاعت کول د هغوئ لپاره غوره دی ښه ده اوس درته زه خپل حال بيانوم چي زه مسيح دجال يم،

يُؤْذَنَ لِي فِي الْأَرْضِ فَلَا أَدَعَ قَرْيَةً إِلَّا هَبَطْتُهَا فِي أَرْبَعِينَ لَيْلَةً غَيْرَ مَكَّةَ وَطَيْبَةَ

ډير ژر ما ته به د وتلو حکم راکړل سي زه به د باندي ووځم او ګرځم به تر دې چي هيڅ آبادي به داسي پرې نه ږدم چي هغې ته داخل نه سم ، څلوېښت شپې به برابر ګښت کوم مګر مکې او مدينې ته به نه ځم

هُمَا مُحَرَّمَتَانِ عَلَيَّ كِلْتَاهُمَا كُلَّمَا أَرَدْتُ أَنْ أَدْخُلَ وَاحِدَةً او واحد مِنْهُمَا

هلته د ورتلو زما منع سوې ده هر كله چې زه دغه ښارونو كې يو ښار ته د داخليدو اراده وكړم نو

اسْتَقْبَلَنِي مَلَكٌ بِيَدِهِ السَّيْفُ صَلْتًا يَصُدُّنِي عَنْهَا وَإِنَّ عَلَى كُلِّ نَقْبٍ مِنْهَا مَلَائِكَةً

يوه ملائكه چې د هغې په لاس كې به لڅه توره وي ما به د داخليدو څخه منع كړي او په دغه ښارونو كې به د هر يو ښار پر لار ملائكي تاكلي وي

يَحْرُسُونَهَا قَالَتْ قَالَ رَسُولُ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ وَطَعَنَ بِمِخْصَرَتِهِ فِي

چې د لاري ساتنه به كوي ، ددې څخه وروسته رسول الله ﷺ خپل عصا پر منبر وهلو سره

الْمِنْبَرِ هَذِهِ طَيْبَةُ هَذِهِ طَيْبَةُ هَذِهِ طَيْبَةُ يَعْنِي الْمَدِينَةَ أَلَا هَلْ كُنْتُ حَدَّثْتُكُمْ

وفرمايل : دا ده طيبه ، داده طيبه داده طيبه يعني مدينه بيا رسول الله ﷺ وفرمايل : خبردار ايا ما به تاسو ته دا نه ښودل ؟

فَقَالَ النَّاسُ نَعَمْ فانه اعجبني حديث تميم انه وافق الذي كنت احدثكم

خلكو عرض وكړ چې هو ، نو رسول الله ﷺ وفرمايل خبردار سئ ! چې دجال په بحيره شام كې

عنه وعن المدينة ومكة أَلَا إِنَّهُ فِي بَحْرِ الشَّأْمِ و بَحْرِ الْيَمَنِ لَا بَلْ مِنْ قِبَلِ

الْمَشْرِقِ مَا هُوَ وَأَوْمَأَ بِيَدِهِ إِلَى الْمَشْرِقِ. رواه مسلم.

دى يا په درياب يمن كې ، نه بلكه هغه به د مشرق د لوري څخه راوځي دا يې وفرمايل چې رسول الله ﷺ په خپل لاس مبارك سره د مشرق لورته اشاره وكړل . مسلم

تخريج : صحيح مسلم: ۴\۲۲۶۱ ،رقم: ۱۱۹- ۲۹۴۲،

د لغاتو حل فارقووا : اى قربوا السفينة. اهلب: ما غلظ من الشعر وقيل ما كثر. بيسان: وهي قرية في الشام قريبة من الادن (شام ته نژدې يو كلى). زغر : بلدة بالشام (په شام كې يو ښار)

تشريح الصلوة جامعة، دغه جمله د خلكو متوجه كولو لپاره او لمانځه ته د رابللو لپاره ده چې خلك ددې په اورېدو سره يو ځاى ته راسي او جمع سي، لكه څرنګه چې به د نبي كريم ﷺ په زمانه كې دكسوف او خسوف د لمانځه لپاره د خلكو د جمع لپاره ددغه جملې په ذريعه رابلل كيدل. سفينه ته د بحريه په اضافت كولو سره له دې څخه پرهيز كول دي چې ذهن د وچې كښتۍ

يعني اوبن ته متوجه نه سي ځكه چي اوبن ته سفينة البر (يعني دوچي كښتۍ) ويل كيږي، ځينو حضراتو ويلي دي چي د سفينه بحريه څخه مراد لويه دريابي كښتۍ ده چي هغه ته داوبو بېړۍ هم ويل كيږي.

د اقرب لفظ په اصل كي د قارب جمع ده او قارب هغه كوچنۍ كښتۍ ته وايي چي په لوی كښتۍ كي وي او ساحل ته د تللو راتللو لپاره پكاريږي،

هغه عجيب الخلقت حيوان خپل نوم د جساسه يعني جاسوسي كوونكي په دې اعتبار وښودی چي هغه به دجال ته خبرونه او معلومات رسول، ځرګنده دي وي چي په قرآن كريم كي د كوم دابة الارض يادونه راغلې ده هغه دغه حيوان دی.

(دَير) په اصل كي دعيسايانو د عبادت ځای ته وايي، د لغت په كتابو كي هم دا ليكلي دي چي دير د راهبانو د اوسېدو ځای ته وايي، په هر حال دلته په حديث كي د دير څخه مراد هغه لويه ماڼۍ ده چي په هغه كي دجال وو.

بيسان د شام په هيواد كي د يو كلي نوم دی، او يا په يمامه كي د يو ځای نوم دی مګر په مشارق الانوار كي ليكلي دي چي په حديث جسار كي (كوم چي دلته نقل سوی دی) ذكر سوی بيسان د حجاز د يو ښار نوم دی او بل بيسان د شام په سيمه كي واقع دی، چي مخكي يو ځای بيان سوی دی، بحيره په اصل كي د بحر تصغير دی يعني كوچنۍ درياب، او طبريه په اردن كي د يو كلي نوم دی، د حديث مشهور امام طبراني رحمة الله عليه ددغه كلي اوسېدونكی وو.

زغر د يو ښار نوم دی چي د شام په هيواد كي واقع دی، په دغه سيمه كي شنګيا كمه كيږي، ما ته داميانو يعني عربو د نبي په اړه وښيه، دلته دجال د رسول الله ﷺ په نسبت يوازي عربو ته د طنز له موخي چي هغه په خاصه توګه دعربو نبي دی يعني ددغه جملې په ذريعه د هغه ملعون دجال د هغه باطل خيال ترجماني مقصد وه چي رسول الله ﷺ د ناپوهانو نبي دی.

د هغه خلكو دده اطاعت كول دهغوئ لپاره ددجال د ژبي څخه ددې خبري ايستل ګويا د هغه له خوا د رسول الله ﷺ د فضيلت او عظمت اظهار وو، كه څه هم دغه اقرار اضطرارا هم وو او په دې سبب هم وو چي هغه وخت د كفر د اظهار او ددين څخه دانكار يو مقصد هم د هغه په وړاندي نه وو نو هغه د خپل كفر او عناد پټ ساتل مناسب ونه ګڼل، يا داهم ويل كيږي چي په دغه جمله كي د غوره والي څخه د هغه مراد دنياوي خير او سلامتيا وي.

لابل من قبل المشرق ماهو: نه. بلكه هغه به د لويديځ څخه راوځي، دلته د ما حرف د نفي لپاره نه دی بلكه زائد دی، ددغه جملې وضاحت دادی چي د قيامت د راتللو وخت الله جل جلاله پټ

کړې دی او په تاکنه سره یې نه دی ښودلی چي قیامت به کله راځي بلکه د قیامت نښي او د نښو د ښکاره کېدو وختونه یې هم نه دي ټاکلي ځکه رسول الله ﷺ هم په ټاکلې توګه هغه ځایونه نه دي ښودلي چیري چي به دجال مقید وي یوازي د تردد او ابهام په توګه ذکر سوو درو ځایو ته یې اشاره وفرمایل ، مګر اخري ځای یې د غالب ګمان په ذریعه ښکاره کړ مګر هغه یې هم متعین نه کړ ، پرته له دې چي د یو خاص ځای او سیمي د تعین څخه پرته هغه خوا ته په اشاره کولو سره یې پرېښود ، نو د ذکر سوي جملې څخه مخکي د دوو احتمالو نفي او د دریم احتمال وجود ثابتیږي هغه دا معنی ده ، یوه خبره دا هم کیدای سي چي رسول الله ﷺ د لومړنیو دوو ځایو په یادونه کولو سره بیا دهغه نفي وفرمایل نو دهغه سبب دا وو چي د دجال بندیخانه به د یو ځای څخه بل ځای ته نقل کیږي ، توریشتي رحمة الله علیه ویلي دي ددغه جملې (بلکه هغه به د لویدیځ له خوا څخه راوځي) په وضاحت کي ویلي دي چي کیدای سي دغه جمله د خبر ورکولو لپاره وي یعني دجال به د لویدیځ څخه راوځي، او اشرف رحمة الله علیه ویلي دي چي دا هم کیدای سي چي رسول الله ﷺ ددجال د بندیخانې د ځای په ټاکنه کي شک درلودی، د رسول الله ﷺ په ګمان کي وو چي هغه په دغه ځایونو کي په یو ځای کي بندي دی ، کله چي رسول الله ﷺ د خپل دغه شک په وجه د شام د دریاب او دیمن د دریاب ذکر وکړ نو هغه وخت د وحي په ذریعه رسول الله ﷺ ته په یقین سره ښکاره سوه یا دا چي د رسول الله ﷺ غالب ګمان وو چي د هغه بندیخانه د لویدیځ په خوا کي یو ځای واقع ده ، له دې کبله رسول الله ﷺ د مخکني دوو ځایو نفي وکړه او د هغه څخه په مخ ګرځولو یې دریم ځای یعني د لویدیځ د خوا اثبات وکړ .

د دجال حلیه (شکل)

﴿۵۲۴۹﴾: وَعَنْ عَبْدِ اللَّهِ بْنِ عُمَرَ أَنَّ رَسُولَ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ قَالَ

د حضرت عبدالله بن عمر رضي الله عنهما څخه روایت دئ چي رسول الله ﷺ وفرمایل :

رايتني اللَّيْلَةَ عِنْدَ الْكَعْبَةِ فَرَأَيْتُ رَجُلًا آدَمَ كَأَحْسَنِ مَا أَنْتَ رَاءٍ مِنْ أُدْمِ

ما خپل ځان (په خوب کي) د کعبې سره ولیدی هلته ما ته یو غنم رنګی سړی په نظر راغلی چي دده رنګ د غنم رنګو خلکو څخه وو

الرِّجَالِ لَهُ لِمَّةٌ كَأَحْسَنِ مَا أَنْتَ رَاءٍ مِنَ اللِّمَمِ قَدْ رَجَّلَهَا فَهِيَ تَقْطُرُ مَاءً

د هغه د سر ترا وږو پورې وریښتان وه او د دغه ډول وریښتانو ساتونکو کې هغه ډېر غوره وریښتان وه ، وریښتان یې ږمنځ کړې وه او تر وریښتانو یې اوبه څڅېدلې ،

مُتَّكِئًا عَلَى عَوَاتِقِ رَجُلَيْنِ يَطُوفُ بِالْبَيْتِ فَسَأَلْتُ مَنْ هَذَا فَقَالوا هذا الْمَسِيحُ

هغه سړي د دوو خلکو پر اوږو لاس ایښی د خانه کعبې طواف یې کوی ، ما پوښتنه وکړه چې دا څوک دي ؟ خلکو راته وویل دا مسیح

ابْنُ مَرْيَمَ قال ثم إِذَا أَنَا بِرَجُلٍ جَعْدٍ قَطَطٍ أَعْوَرِ الْعَيْنِ الْيُمْنَى كَأن عينه

ابن مریم علیه السلام دی ، ددې څخه وروسته رسول الله ﷺ وفرمایل : بیا زه پر یو بل سړي تیر سوم چې د هغه وریښتان ګڼ وډ وه راسته سترګه یې ړنده وه

عِنَبَةٌ طَافِيَةٌ كَأَشْبَهِ مَنْ رَأَيْتُ مِنَ النَّاسِ بِابْنِ قَطَنٍ وَاضِعًا يَدَيْهِ عَلَى مَنْكِبَيْ

لکه ګه د پړسیدلي انګور دانه، کوم خلک چې ما لیدلي دي په هغوئ کې دا سړی ابن قطن سره زیات مشابه وو دغه سړي د دوو خلکو پر اوږو لاس ایښی

رَجُلَيْنِ يَطُوفُ بِالْبَيْتِ فسالت من هذا فقالوا هَذَا الْمَسِيحُ الدَّجَّالُ متفق

د بیت الله طواف یې کوی ما پوښتنه وکړه دا څوک دی ؟ خلکو وویل دا مسیح دجال دی . بخاري او مسلم ،

عليه وفي رواية قال في الدجال رَجُلٌ أَحْمَرُ جَسِيمٌ جَعْدُ الرَّأْسِ أَعْوَرُ عَيْنِ

په یوه روایت کې ددجال په اړه دا الفاظ دي چې هغه یو غټ بدن والا سور رنګی سړی دی د سر وریښتان یې ګڼ وډ وي راسته سترګه یې ړنده ده ،

الْيُمْنَى أَقْرَبُ النَّاسِ بِهِ شَبَهًا ابْنُ قَطَنٍ . وذكر حديث ابي هريرة لا تقوم

په خلکو کې ابن قطن د هغه زیات مشابه دی ، د ابو هریره حدیث : لاتقوم الساعة الخ . په باب

الساعة حتي تطلع الشمس من مغربها في باب الملاحم وسنذكر حديث

الملاحم کې بیان سوی دی او ډیر ژر به د ابن عمر رضي الله عنه حدیث : قام رسول الله الخ . به د ابن صیاد

ابن عمر قام رسول الله صلى الله عليه وسلم في الناس في باب القصة ابن صياد ان شاء الله تعالى.

په قصه كي بيان سي . د كعبې څخه مراد په دغه ځای كي اسلام دی د عيسى عليه السلام د طواف معنی داده چي دی به د اسلام ساتنه کوي او دجال د طواف معنی داده چي دی به د اسلام په بربادۍ او خرابۍ پسي شاوخوا ټوله دنيا وګرځيږي خو مکې او مدينې منورې ته نه سي داخليدلای.

تخريج: صحيح البخاري (فتح الباري): ٦\٤٧٧، رقم: ٣٤٤٠، ومسلم ١\ ١٥٤، رقم: ٢٧٣- ١٦٩.

تشريح: د وېښتانو څخه د اوبو څاځكي څڅېدلې، دلته د اوبو څخه مراد يا خو هغه اوبه دي چي د لمبېدلو څخه وروسته په وېښتانو كي وي او د ژمونځ كولو څخه وروسته د وېښتانو څخه څڅېږي، او هغه اوبه هم مراد كېدای سي چي په هغه كي د ژمونځي په لندولو سره وېښتان سموي، يا د اوبو د څاځكو څڅېدو څخه مراد د حضرت عيسى عليه السلام ډېره پاكي او تازګي مراد ده .

د هغه سترګه لكه د انګورو پړسېدلې دانه داسي ده، په دې اړه قاضي عياض رحمه الله ليكلي دي چي د دجال راسته سترګه به بالكل هواره وي چي د هغه پر ځای به د سترګي نوم او نښان هم نه وي او چپه سترګه به يې موجود وي مګر هغه به هم د پړسېدلي دانې په ډول وي .

د ابطن قطن څخه مراد عبدالعزى ابن قطن يهودي دی چي د هغه په اړه مخكي هم بيان سوی دی، د (كاشبه) په لفظ كي كاف زائد دی چي د مبالغې د اظهار لپاره استعمال سوی دی .

دجال ته د ابن قطن سره د تشبيه وجه داده چي كيدای سي د ابن قطن بدني حليه داسي وه لكه د دجال ، يا په دې اعتبار تشبيه وركړل سوې ده چي د هغه په سترګه كي به هم دانه وي .

دجال چي د كومو دوو كسانو پر اوږو باندي په لاس نيولو سره طواف كوونكی ښكند سوی دی په ظاهره د هغوئ څخه هغه دوه كسان مراد دي چي د دجال ملګري به وي لكه چي د هغه دوو كسانو څخه مراد چي د هغه پر اوږو به حضرت عيسى رحمه الله لاس نيولی طواف كوونكی معلوميږي ، دا هغه دوه كسان دي چي د حق په لاره كي به د حضرت عيسى عليه السلام مرسته كوونكي وي او كېدای سي هغه دوه كسان حضرت حضر او حضرت مهدي عليهما السلام وي، دلته دا اشكال پيدا كيږي چي دجال كافر دی نو د هغه د طواف په حالت كي لېدل څه معنی لري؟ د دې جواب علماؤ دا وركړی دی چي ذكر سوې پېښه د رسول الله صلى الله عليه وسلم د مكاشفاتو څخه ده چي د

هغه تعلق د خوب سره دی او تعبیر یې دادی چې رسول الله ﷺ ته په هغه خوب کې دا وښودل سول چې یوه ورځ به راسي چې عیسی علیه السلام به ددین چاپیره وي چې دین به قائم ساتي او د فتنې او فساد څخه به دهغه ساتنه وکړي او د جال به هم ددین د مرکز چاپیره ګرځي چې د موقع په تر لاسه کولو سره به دین ته تاوان ورسوي او په فتنه خپرولو کې کامیاب سي، ځینو حضراتو دا جواب ورکړی دی چې پر مکه مکرمه باندي د اسلام د غلبې تر لاسه کولو او د مشرکانو مسجد حرام ته د نژدې تللو مخالفت نافذ کېدو څخه مخکې په هر حال کافر او مشرکان به هم د کعبې طواف کوی که دجال هم طواف کوي نو په دې کې د اشکال څه خبره ده، یوه خبره داهم ده چې د رسول الله ﷺ ددغه مکاشفې یا خوب څخه د موجوداتو په دنیا کې د یو کافر طواف کول هیڅ کله نه لازمیږي ، کله چې د کفارو او مشرکینو لپاره د کعبې د طواف د ممانعت تعلق د موجوداتو ددغه دنیا څخه دي .

اَلْفَصْلُ الثَّانِي (دوهم فصل)

د دجال ذکر

﴿۵۲۵۰﴾: عَنْ فَاطِمَةَ بِنْتِ قَيْسٍ فِي حديث تميم الداري قالت قال فَإِذَا أَنَا

حضرت بي بي فاطمه بنت قيس رضي الله عنها د تميم داري د حديث په لړه کې بيان کوي چې کله تميم داري دا بيان وکړ چې په جزيره کې داخل سوم نو

بِامْرَأَةٍ تَجُرُّ شَعْرَهَا قَالَ مَا أَنْتِ قَالَتْ أَنَا الْجَسَّاسَةُ اذْهَبْ إِلَى ذَلِكَ الْقَصْرِ

ما يوه ښځه وليدل چې د خپل سرو ويښتان يې پسي ښکېدل ، تميم داري ورته وويل ته څوک يې هغه ښځې وويل زه جاسوسه يم ته ددغه محل په لور ورسه ،

فَأَتَيْتُهُ فَإِذَا رَجُلٌ يَجُرُّ شَعْرَهُ مُسَلْسَلٌ فِي الْأَغْلَالِ يَنْزُو فِيمَا بَيْنَ السَّمَاءِ وَالْأَرْضِ فَقُلْتُ مَنْ أَنْتَ قَالَ أَنَا الدَّجَّالُ. رواه ابوداؤد.

د تميم داري بيان دی چې زه په هغه محل کې داخل سوم نو هلته مي يو سړی وليدی چې خپل وريښتان يې راښکول په زنځيرونو کې تړلی دی او طوقونه ور باندي پراته دي او د آسمان او مځکې په منځ کې ټوپونه وهي ما پوښتنه وکړه ته څوک يې ؟ نو هغه راته وويل زه دجال يم . ابوداؤد.

تخريج: سنن ابي داود ۴\۵۹۹، رقم: ۴۳۲۵.

تشريح: د روایت د برخي خلاصه داده چي تمیم داري رضي الله عنه د ذکر سوي پېښي په اړه چي کوم حدیث د بي بي فاطمې رضي الله عنها څخه نقل کړی دی او مخکي تېر سوی دی په هغه کي دغه الفاظ دي چي کله تمیم داري رضي الله عنه او د هغه ملګري جزیرې ته داخل سول نو (فلقيتهم الدابة) یعني هلته له هغوئ سره یو حیوان یو ځای سو مګر د فاطمې رضي الله عنها روایت چي ابوداؤد نقل کړی دی په هغه کي د حیوان پر ځای د یوې ښځي سره د یو ځای کېدو یادونه ده، نو په دغه دواړو روایتو کي دا تضاد پیدا سو چي د مسلم په روایت کي جساسه په دابة سره تعبیر سوی دی چي په عامه اصطلاح کي ورته حیوان وایي او دلته دابوداؤد په روایت کي ښځه ورته ویل سوي دي، ددغه تضاد لیري کولو لپاره ویل کیږي چي کېدای سي ددجال دوه جاسوسان وي یو دابة او بل ښځه، یا دا چي ددابه اصل لغوي معنی د تلونکي وي ددغه لفظ اطلاق چي یوازي پر حیوان کیږي هغه د عامي اصطلاح په اعتبار دی، په قرآن کریم کي ددابه لفظ زیات استعمال د هغه پر اصل معنی سوی دی لکه (وما من دابة في الأرض الا على الله رزقها) یعني نسته د ځمکي پر مخ یو تلونکی شی مګر د هغه رزق د الله جل جلاله پر ذمه دی، نو په دغه معنی کي ددابه اطلاق پر ښځي باندي هم کیدای سي، د مسلم په روایت کي چي د دابه لفظ دی د هغه څخه ښځه مراد ده، یوه خبره دا هم کیږي چي جساسه یعني جاسوسي کوونکي په اصل کي شیطان وو، چي کله ددابه په صورت کي څرګند سو او کله د ښځي په صورت کي، دغه خبره قیاس ته ډېره نژدې ده او مناسب هم ده، ځکه چي د جاسوسۍ اصل مقصد یعني د ټولي نړۍ خبرونه جمع کول او دجال ته رسول د دابه یا د ښځي د ذات څخه لیري دی مګر دا چي د جاسوسۍ او دخبرونو تر لاسه کولو تعلق د ټولي نړۍ سره نه وي بلکه یوازي د هغه کښتیو سره وي چي د هغه جزیرې شاوخوا تیریږي.

ددغه دواړو روایتو په منځ کي د یو بل سره تضاد څرګندیږي هغه دا چي د مسلم په روایت کي د سائل او مخاطب په توګه د شخص واحد نه بلکه د پوره ډلي یادونه ده، حال دا چي دابوداؤد په روایت کي سوال او جواب د شخص واحد یعني تمیم داري رضي الله عنه سره خاص سوی دی، ددې جواب دادی چي سائل او مخاطب یوه ډله وه مګر په هغه ډلي کي تمیم داري رضي الله عنه هم وو ځکه د سوال او جواب نسبت یوازي هغوئ ته کول هم صحیح دي، یا دا چي سوال او جواب کوونکي یوازي تمیم داري رضي الله عنه وي مګر هغه دغه سوال او جواب د پوره ډلي د ترجمان په حیثیت کړی دی ځکه ددغه سوال او جواب نسبت ټولي ډلي ته کول هم صحیح دي، په عامه

اصطلاح كي دا رواج دي چي كله د يوې ډلي د يو سړي يو كار وي نو كله د هغه نسبت يوازي هغه سړي ته كيږي او كله ټولي ډلي ته كيږي د مثال په توګه ويل كيږي چي فلانۍ ډلي فلانى سړى ووژى نو كه څه هم وژونكى يو سړى وي مګر د هغه نسبت ټولي ډلي ته كيږي.

د دجال حيله

﴿۵۲۵۱﴾: وَعَنْ عُبَادَةَ بْنِ الصَّامِتِ عَنْ رَسُولِ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ قَالَ

د حضرت عبادة بن صامت رضي الله عنه څخه روايت دئ چي رسول الله ﷺ وفرمايل:

إِنِّي حَدَّثْتُكُمْ عَنِ الدَّجَّالِ حَتَّى خَشِيتُ أَنْ لَا تَعْقِلُوا إِنَّ مَسِيحَ الدَّجَّالِ

ما تاسو ته د دجال حال په وار وار ددې انديښني له كبله بيان كړى دى چي هغه ستاسو څخه هير نه سي، د هغه د حقيقت څخه تاسو مه نا خبر كيږئ، مسيح دجال

قَصِيرٌ أَفْحَجُ جَعْدٌ أَعْوَرُ مَطْمُوسُ الْعَيْنِ لَيْسَ بِنَاتِئَةٍ وَلَا حَجْرَاءَ فَإِنْ أُلْبِسَ عَلَيْكُمْ فَاعْلَمُوا أَنَّ رَبَّكُمْ لَيْسَ بِأَعْوَرَ. رواه ابوداؤد.

لنډ قدى دى د هغه پښې لاندي ځي او پوندي يې ليري ليري دي، وريښتان يې تاو را تاو دي په يوه ستركه دى (يعني راسته ستركه يې ړنده ده) دويمه ستركه يې اواره ده يعني نه لوړه ده او نه ننوتلې ده بيا هم كه تاسو په شبه كي ولويږي نو دومره خبره ياد ساتئ چي ستاسو پروردګار ړوند نه دى. ابوداؤد

تخريج: سنن ابي داود ۱۴\۴۹۵، رقم: ۴۳۲۰.

د لغاتو حل: الفحج: تباعد بين الفخذين. حجراء: اى ولا غائرة

تشريح: چي تاسو په پوه نه سئ: مطلب دادى چي زه په وار وار په مختلف انداز كي د دجال حال تاسو ته بيانوم نو د هغه وجه داده چي د دجال حيثيت او حقيقت ستاسو په ذهنو كي په ښه ډول پوخ سي، داسي نه وي چي دجال څرګند سي او تاسو دا خبري هيري كړي وي چي د هغه په اړه ما تاسو ته ښودلي دي، يا ستاسو زړه او دماغ د هغه د حقيقت څخه نا خبره پاته سي، طيبي رحمة الله عليه ويلي دي چي: په (اني حدثتكم عن الدجال حتى خشيت ...الخ) دلته لفظ د حتى په اصل كي د حدثتكم غايت دى، مطلب دا چي ما د دجال په اړه دومره زيات او په بېلابېلو طريقو سره

حديثونه بيان کړي دي چي زما سره دا ېره پيدا سوې ده چي تاسو د ماتي ښکار نه سئ او ستاسو ذهن داسي نه سي چي د دجال حيثيت او حقيقت او د هغه تفصيل ستاسو د فهم او ادراک څخه ووځي نو پر تاسو باندي لازمه ده چي د دجال په حالاتو ښه پوه سئ او خپل ځان په دې اړه د شک او شبهو څخه وساتئ.

د جال لنډی دی، دغه خبره د هغه روايت خلاف ده چي په هغه کي د جال ته تر ټولو لوی ويل سوي دي مګر په حقيقت کي که چيري دا وکتل سي نو د دواړو خبرو په منځ کي تضاد نسته ځکه چي لنډی کېدل د غټېدو خلاف نه وي ، کېدای سي چي دجال لنډی هم وي او د غټ بدن والا هم وي ، او دا خبره د هغه د دومره لوی فتنې رامنځته کېدو په اعتبار د هغه د فطرت او حقيقت مطابق هم ده او ځينو حضراتو ويلي دي چي کيدای سي الله تعالی دهغه د خروج په وخت کي هغه متغير کړي يعني اوس خو هغه ډېر غټ وي مګر دهغه د ظاهرېدو په وخت کي چي راپورته سي نو دهغه قد به لنډ ی سي.

د هغه پښې لاندي ځي، داد افحج ترجمه ده ، يعني داسي سړی يا حيوان چي د هغه د ګرځېدو انداز داسي وي چي دپښو په سرو ځي مګر دواړي پوندي يې د يوې بلي څخه ليري وي، په نهايه کي ليکلي دي چي د افحج معنی داده چي د دواړو ورنو په منځ کي د معمول څخه زياته فاصله وي، د هغه ستر ګه به پړسېدلي نه وي او نه به ننوتلې وي ، دغه جمله منفيه مؤکده ده، مقصد دا څرګندول دي چي د هغه يوه ستر ګه به بالکل هواره وي ، نو دا د هغه خبري خلاف نه ده چي د هغه بله ستر ګه به د انګور ددانې په ډول پړسېدلې وي ددې وضاحت مخکي تېر سوی دی.

دا خبره په ياد لرئ چي ستاسو پروردګار ړوند نه دی، يعني د يو مسلمان او مؤمن په حيثيت سره پر تاسو باندي د صفات ربوبيت څخه چي د کوم شي تر ټولو مخکي پېژندل واجب دي هغه دادي چي ستاسو رب د حدوث او غيوب او په خاصه توګه د ظاهري نقصاناتو څخه بالکل پاک دی ، که چيري دغه بنيادي عقيده ستاسو په زړه او دماغ کي حاضره وي نو تاسو به ددجال په ړوند لېدلو سره سمدستي پوه سئ چي دغه عيب لرونکی ذات هيڅکله خدای کېدای نه سي که څه هم هغه تاسو په شک اچولو کي هر څومره مافوق الفطرت کارنامې وښيي.

پر ايمان باندي ثابت قدمه به ددجال څخه نه ېرېږي

﴿۵۲۵۲﴾: وَعَنْ عُبَيْدَةَ بْنِ الْجَرَّاحِ قَالَ سَمِعْتُ رَسُولَ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ

د حضرت ابو عبيده بن جراح رضي الله عنه څخه روايت دی چي ما د رسول الله ﷺ څخه اوريدلي دي چي

وَسَلَّمَ يَقُولُ إِنَّهُ لَمْ يَكُنْ نَبِيٌّ بَعْدَ نُوحٍ إِلَّا قَدْ أَنْذَرَ الدَّجَّالَ قَوْمَهُ وَإِنِّي

د نوح عليه السلام څخه وروسته هيڅ يو نبي داسي نه دی تير سوی چي هغه خپل قوم د دجال څخه نه وي بيرولی، زه هم

أُنْذِرُكُمُوهُ فَوَصَفَهُ لَنَا قَالَ لَعَلَّهُ سَيُدْرِكُهُ بَعْضُ مَنْ رَآنِي أَوْ سَمِعَ كَلَامِي

تاسو د هغه څخه بيروم او د هغه حقيقت درته بيانوم، ددې څخه وروسته رسول الله ﷺ د دجال کيفيت بيان کړ بيا يې وفرمايل: شايد په تاسو کي يو سړی چي هغه زه ليدلی يم يا زما خبري يې اوريدلي دي هغه ووينې،

قَالُوا يَا رَسُولَ اللهِ فَكَيْفَ قُلُوبُنَا يَوْمَئِذٍ قَالَ مِثْلُهَا يَعْنِي الْيَوْمَ أَوْ خَيْرٌ. رواه الترمذي وابوداؤد.

صحابه کرامو وويل: اې د الله رسوله! په دغه ورځو کي به زموږ د زړونو څه حالت وي؟ رسول الله ﷺ ورته وفرمايل: بلکل داسي لکه څرنگه چي نن دي يا ددې څخه هم غوره. ترمذي او ابوداؤد.

تخريج: سنن الترمذي: ۴\ ۴۴۰، رقم: ۲۲۳۴، وابوداود ۵\ ۱۱۷، رقم: ۴۷۵۶.

تشريح: دا خبره مخکي تېره سوې ده چي حضرت نوح عليه السلام هم خپل قوم د دجال څخه بيرولی وو، نو د نوح عليه السلام څخه وروسته دا مراد دی چي حضرت نوح عليه السلام هم بيرول او د هغه څخه وروسته انبياوو هم خپل امتونه بيرول.

د هغه خلکو څخه چا چي زه ليدلی يم ...الخ: دا خبره رسول الله ﷺ ددې لپاره وفرمايل که چيري د دجال ظهور ژر وسي او ځينو خلکو د دغه جملې مشار اليه حضرت خضر عليه السلام کرځولی دی او وايي چي دا د خضر عليه السلام په دغه دنيا کي د موجودتيا دليل دی.

يا زما کلام يې اورېدلی وي: په دغه حکم کي هر هغه مؤمن راځي چا ته چي د دجال په باره کي د رسول الله ﷺ حديثونه ورسيږي که څه هم د هغه زمانه د رسول الله ﷺ د زمانې څخه هر څومره وروسته وي، په هر حال د دغه پوره جملې مطلب دادی چي د دجال وجود او د هغه ظاهرېدل يقيني خبره ده مگر د هغه ټاکلی وخت معلوم نه دی چي هغه به کله څرګندېږي، که

داسي وي چي زما په صحابهٔ کرامو کي ځوک هغه زمانه تر لاسه کړي نو ښه خبره ده کنه نو کوم مؤمنان چي وروسته راځي هغوئ به د دجال زمانه تر لاسه کړي ، هغوئ ته به زما حديثونه رسيدلي وي او ما چي د دجال په اړه څه بيان کړي دي هغوئ به يې اوري ، ځکه هغوئ ته پکار ده چي هغوئ هم پر يقين باندي قائم اوسي او د دجال په دوکه کي رانسي ،

لکه چي نن ورځ ده يا تر دې هم غوره، مطلب دادی چي کوم سړی (يعني مؤمن) پر خپل ايمان او عقيده باندي قائم اوسي د هغه زړه به هم پر خپل ځای ټينګ وي چي د دجال څخه به هيڅ نه بيريږي او د هغه په دوکه کي به هيځکله رانسي ، لکه څرنګه چي مؤمنان دغه وخت د دجال منکر او مخالف دي همدارنګه به هغه وخت هم منکر او مخالف وي، بلکه د هغه احوال او چمبازي به په خپلو سترګو د لېدو په سبب د هغه په انکار او مخالفت کي نور هم زياتوب وسي.

دجال به د خراسان څخه راووځي

﴿۵۲۵۳﴾: وَعَنْ عَمْرِو بْنِ حُرَيْثٍ عَنْ أَبِي بَكْرٍ الصِّدِّيقِ قَالَ حَدَّثَنَا رَسُولُ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ قَالَ الدَّجَّالُ يَخْرُجُ مِنْ أَرْضٍ بِالْمَشْرِقِ يُقَالُ لَهَا خُرَاسَانُ يَتْبَعُهُ أَقْوَامٌ كَأَنَّ وُجُوهَهُمُ الْمَجَانُّ الْمُطْرَقَةُ . رواه الترمذي

حضرت عمرو بن حريث رضي الله عنه د حضرت ابوبکر صديق رضي الله عنه څخه روايت کوي چي رسول الله صلى الله عليه وسلم موږ ته بيان وکړ چي دجال به د مشرق د يوې مځکي څخه راوځي چي د هغه نوم به خراسان وي ، ډير قومونه چي د هغوئ مخونه به د سپر په ډول غبرګ پړسيدلي وي د هغه اطاعت اختيار کړي . ترمذي.

تخريج : سنن الترمذي ۴\۴۴۱، رقم: ۲۲۳۷.

د لغاتو حل : المجان: جمع المجن وهو الترس.

تشريح: خراسان يو مشهور ښار دی چي د ماوراء النهر په سيمه کي واقع دی او د ايران په هيواد کي شامل دی او د هغه خلکو مخونه .... الخ: مطلب دادی چي د هغوئ مخونه به پلن او باړخوګان به يې د سپر په ډول را پورته سوي وي ، د مطرقة وضاحت په کتاب الفتن کي په وضاحت سره بيان سوی دی .

د دجال څخه د ليري اوسيدو ټينګار

﴿۵۲۵۴﴾: وَعَنْ عِمْرَانَ بْنَ حُصَيْنٍ قَالَ قَالَ رَسُولُ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ مَنْ سَمِعَ بِالدَّجَّالِ فَلْيَنْأَ عَنْهُ فَوَاللّٰهِ إِنَّ الرَّجُلَ لَيَأْتِيهِ وَهُوَ يَحْسِبُ أَنَّهُ مُؤْمِنٌ فَيَتَّبِعُهُ مِمَّا يَبْعَثُ بِهِ مِنَ الشُّبُهَاتِ. رواه ابوداؤد

د حضرت عمران بن حصين رضي الله عنه څخه روايت دئ چي رسول الله ﷺ وفرمايل: څوک چي د دجال د راوتلو خبر واوري هغه ته پکار ده چي د هغه څخه ليري اوسي، قسم په خدای څوک چي دجال ته راسي او هغه ځان مؤمن ګڼي مګر بيا به هم د هغه اطاعت قبول کړي ځکه چي هغه ته هغه شيان ورکړل سوي دي چي د هغه سره به په شبهاتو کي ولويږي. ابوداؤد

تخريج: سنن ابي داود: ۴\۴۹۵، رقم: ۴۳۱۹.

تشريح: هغه ته پکار ده چي د هغه څخه ليري اوسي: خلاصه دا چي بدی ته نژدې کېدل د خطرې او بيرې څخه خالي نه وي حال دا چي دهغه څخه ليري اوسېدل د خير او ښېګڼې ضامن دی، الله جل جلاله فرمايي:

(وَلاَ تَرْكَنُواْ إِلَى الَّذِينَ ظَلَمُواْ فَتَمَسَّكُمُ النَّارُ)

کله چي دجال څرګند سي نو هغه وخت چي څوک مؤمنان وي هغه ته پکار ده چي هغه د دجال څخه ليري اوسي.

د دجال پر مځکه باندي اوسيدو وخت

﴿۵۲۵۵﴾: وَعَنْ أَسْمَاءَ بِنْتِ يَزِيدِ بْنِ السَّكَنِ قَالَتْ قَالَ النَّبِيُّ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ

د حضرت اسماء بنت يزيد بن السكن (رض) څخه روايت دی چي رسول الله ﷺ وفرمايل:

وَسَلَّمَ يَمْكُثُ الدَّجَّالُ فِي الْأَرْضِ أَرْبَعِينَ سَنَةً اَلسَّنَةُ كَالشَّهْرِ وَالشَّهْرُ كَالْجُمُعَةِ

دجال به څلوېښت کاله په مځکه کي ګرځي، کال به د مياشتي برابر وي، مياشت به د اونۍ او

وَالْجُمُعَةُ كَالْيَوْمِ وَالْيَوْمُ كَاضْطِرَامِ السَّعْفَةِ فِي النَّارِ. رواه في شرح السنة.

اونۍ به د يوې ورځي برابر وي، او يوه ورځ به دومره وخت وي په څومره وخت کي چي د خرما

وچه ځانګه سوځي . شرح السنه .

تخريج : اخرجه البغوي في شرح السنة ١٥\ ٦٢، رقم: ۴۲۶۴.

د لغاتو حل : السعفة: واحدة السعف وهو غصن النخل اي كسرعة التهاب النار بورق النخل.

تشريح : مخکي يو حديث تېر سوی دی چي په هغه کي د دجال پر مځکه ګرځېدو ځلوېښت شپې بيان سوي دي او دلته ځلوېښت کاله بيان سوي دي، د دغه دواړو حديثو په منځ کي د مطابقت پيدا کولو لپاره ويل کيږي چي په لومړي حديث کي چي کوم وخت بيان سوی دی د هغه شخه خاص وخت مراد دی چي د هغه په دوران کي به هغه د مځکي پر مخ فتنه او فساد خپروي او خلک به ګمراه کوي او دلته چي کوم وخت بيان سوی دی د دې شخه مطلق هغه وخت مراد دی چي په هغه کي به دجال د مځکي پر مخ او سيږي .

کال به د مياشتي په اندازه وي....الخ: د دغه جملې شخه مراد د وخت د تيزۍ ځرګندول دي چي هغه وخت به د ورځي ډېر تېز رفتار وي ، پاته سوه د هغه حديث خبره چي په هغه کي دا فرمايل سوي دي چي هغه وخت به مياشت د کال برابر وي نو د دې شخه مراد تعلق او شدت بيانول دي چي هغه وخت به د فتنې او فساد د زياتوب په وجه او د ديني او دنياوي تکليفو د زياتوب په وجه داسي معلوميږي لکه چي د زمانې رفتار سست سوی وي او ورځ د غره په شان تيريږي مګر په حقيقت کي به هغه ورځي په تيزي سره تيريږي .

او يوه ورځ به د ومره وخت وي ...الخ: مطلب دادی چي ځرنګه يوه وچه پاڼه په اور کي سوځي نو هغه اور سمدستي په بلېدو سره يخ سي .

د دجال پيروان

﴿۵۲۵۶﴾ : وَعَنْ أَبِيْ سَعِيْدِ الْخُدْرِيِّ قَالَ قَالَ رَسُوْلُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ يَتْبَعُ الدَّجَّالَ مِنْ أُمَّتِيْ سَبْعُوْنَ أَلْفًا عَلَيْهِمُ السِّيْجَانُ . رواه في شرح السنة

د حضرت ابو سعيد خدري رضي الله عنه شخه روايت دئ چي رسول الله ﷺ وفرمايل : زما د امت اويا زره خلک چي د هغوئ پر سرو به شنه شادرونه وي د دجال اطاعت قبول کړي . شرح السنه .

تخريج البغوي في شرح السنة ١٥\ ٦٢، رقم: ۴۲۶۵.

د لغاتو حل السيجان: جمع ساج كتيجان وتاج وهو الطيلسان الاخضر وقيل المنقوش ينسج.

تشريح سيجان په اصل كي د ساج جمع ده لكه چي تاج د تيجان جمع ده، ساج هم د طيلسان په ډول شنه يا تور څادر ته وايي.

زما په امت كي، دلته د امت څخه مراد ملت اسلاميه هم كيداى سي او امت دعوت يعني كافران هم كيداى سي مګر صحيح خبره آخري خبره ده يعني د كافرانو ډله، لكه چي په مخكني يو حديث كي هم بيان سوى دى چي دجال طاعت كوونكي به اوويا زره خلك د اصفهان يهوديان وي.

دجال اووچ كالي

﴿۵۲۵۷﴾: وَعَنْ أَسْمَاءَ بِنْتِ يَزِيدَ قَالَتْ كَانَ رَسُولُ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ

د حضرت اسماء بنت يزيد رضي الله عنها څخه روايت دى چي رسول الله ﷺ زما په كور كي وو، چي

فِي بَيْتِي فَذَكَرَ الدَّجَّالَ فَقَالَ إِنَّ بَيْنَ يَدَيْهِ ثَلَاثَ سِنِينَ سَنَةٌ تُمْسِكُ السَّمَاءُ

د دجال ذكر يې وكړاو وه يې فرمال: د دجال د راتلو څخه مخكي به درې كاله داسي راسي چي په هغه كي به په دغه كال كي آسمان

ثُلُثَ قَطْرِهَا وَالْأَرْضُ ثُلُثَ نَبَاتِهَا وَالثَّانِيَةُ تُمْسِكُ السَّمَاءُ ثُلُثَيْ قَطْرِهَا

دريمه حصه باران او مځكه دريمه حصه حاصلات بند كړي او په دوهم كال به آسمان دوې حصې

وَالْأَرْضُ ثُلُثَيْ نَبَاتِهَا وَالثَّالِثَةُ تُمْسِكُ السَّمَاءُ قَطْرَهَا كُلَّهُ وَالْأَرْضُ نَبَاتَهَا كُلَّهُ

باران بند كړي او مځكه به دوې حصې حاصلات بند كړي او په دريم كال به نه باران وي نه حاصلات

فَلَا يَبْقَى ذَاتُ ظِلْفٍ وَلَا ذَاتُ ضِرْسٍ مِنَ الْبَهَائِمِ إِلَّا هَلَكَتْ وَإِنَّ أَشَدَّ فِتْنَتِهِ

بيا به نه يو نوك والا حيوان پاته سي او نه غاښو والا ټول به مړه سي، او د دجال تر ټولو لويه

أَنْ يَأْتِيَ الْأَعْرَابِيَّ فَيَقُولَ أَرَأَيْتَ إِنْ أَحْيَيْتُ لَكَ إِبِلَكَ أَلَسْتَ تَعْلَمُ أَنِّي رَبُّكَ

فتنه به دا وي چي هغه به يو ساده صحرايي ته ورسي ورته به وايي كه زه ستا هغه اوښ را ژوندي كړم كوم چي مړ سوى دى نو ايا ته به ما خپل پروردګار وبولي؟

فَيَقُولُ بَلَى فَيُمَثِّلُ الشَّيَاطِينُ لَهُ نَحْوَ إِبِلِهِ كَأَحْسَنِ مَا يَكُونُ ضُرُوعًا وَأَعْظَمِهِ

هغه صحرايي به ورته وايي :هو، نو دجال به د اوښ په ډول صورتونه جوړ کړي چې د صحرائي ترا وښانو به يې غلانزي ډکي وي او قوبونه به يې غټ وي،

أَسْنِمَةً قَالَ وَيَأْتِي الرَّجُلَ قَدْ مَاتَ أَخُوهُ وَمَاتَ أَبُوهُ فَيَقُولُ أَرَأَيْتَ إِنْ أَحْيَيْتُ

ويلي دي رسول الله ﷺ بيا به دجال يو بل سړي ته ورسي چې د هغه پلار او ورور به مړه سوي وي او هغه ته به وايي که زه ستا پلار او ورور راژوندي کړم

لَكَ أَبَاكَ وَأَحْيَيْتُ لَكَ أَخَاكَ أَلَسْتَ تَعْلَمُ أَنِّي رَبُّكَ فَيَقُولُ بَلَى فَيمثل لَهُ

نو ته به ما ومنې چې زه ستا رب يم؟ هغه به ورته ووايي هو، نو دجال به شيطانان د هغه د پلار او

الشَّيَاطِينُ نَحْوَ أَبِيهِ وَنَحْوَ أَخِيهِ قَالَتْ ثُمَّ خَرَجَ رَسُولُ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ

ورور په شکل کي جوړ کړي، بي بي اسماء بنت يزيد وايي د دې فرمايلو سره رسول الله ﷺ د يو

وَسَلَّمَ لِحَاجَةٍ ثُمَّ رَجَعَ وَالْقَوْمُ فِي اهْتِمَامٍ وَغَمٍّ مِمَّا حَدَّثَهُمْ قَالَتْ فَأَخَذَ

ضرورت لپاره تشريف يووړ او لږ وخت وروسته راغلی، د دجال د ذکر اوريدو سره خلک په فکر او شک کي ناست وه، رسول الله ﷺ د دروازې

بِلُجْمَتَيِ الْبَابِ فَقَالَ مَهْيَمْ أَسْمَاءُ قَالَتْ قُلْتُ يَا رَسُولَ اللَّهِ لَقَدْ خَلَعْتَ

دواړي پلې ونيولې او وه يې فرمايل : اې اسماء څه حال دی؟ ما عرض وکړ اې د الله رسوله ! د دجال د ذکر کولو سره تاسو

أَفْئِدَتَنَا بِذِكْرِ الدَّجَّالِ قَالَ وَإِنْ يَخْرُجْ وَأَنَا حَيٌّ فَأَنَا حَجِيجُهُ وَإِلَّا فَإِنَّ رَبِّي

زموږ زړونه د باندي را وايستل (يعني په بيره کي سوو) رسول الله ﷺ وفرمايل که هغه زما په ژوند کي راووتی نو زه به په خپلو دلائلو سره هغه دفع کړم او که زما په ژوند کي نه راغلی نو زما

خَلِيفَتِي عَلَى كُلِّ مُؤْمِنٍ فقلت يَا رَسُولَ اللَّهِ إِنَّا وَاللَّهِ لَنَعْجِنُ عَجِينَتَنَا فَمَا

پروردګار د هر مؤمن لپاره زما وکيل او خليفه دی، ما عرض وکړ اې د الله رسوله ! موږ خپل

نَخْتَبِزُهَا حَتَّى نَجُوعَ فَكَيْفَ بِالْمُؤْمِنِينَ يَوْمَئِذٍ قَالَ يَجْزِيهِمْ مَا يَجْزِي

أَهْلَ السَّمَاءِ مِنَ التَّسْبِيحِ وَالتَّقْدِيسِ. رواه احمد وابوداؤد.

اوړه اغړلو او ډوډۍ پخولو څخه فارغ سوي نه يو چي د لوږي څخه بې ارامه سو نو په هغه وچ کالي كي به د مؤمنانو څه حال وي؟ رسول الله ﷺ وفرمايل : د هغوئ د لوږي دفع كولو لپاره به هغه شی كافي وي كوم چي د آسمان والاوو لپاره كافي دی يعني تسبيح او تقديس. احمد، او ابوداؤد.

تخريج: الامام احمد في مسنده ٦\٤٥٣.

د لغاتو حل: ظلف: هي البقرة والشاة والظي. مهيم: ای ما حالک وما شانک وما وراءک.

تشريح (فاخذ بلحمتي الباب)، رسول الله ﷺ د دروازې دواړي پلې ونيولې، دلته د لحمة لفظ دمشكوة او مصابيح په ټولو نسخو كي د لام په زور او د حاء په جزم سره منقول دی چي د طرف په معنی كي اخيستل سوی دی مګر په صحاح او قاموس كي دغه لفظ په ذكر سوې معنی كي نه دی، طيبي رحمة الله عليه ويلي دي دغه الفاظ په اصل كي (ملجفتي الباب) دي، يعني د حاء پر ځای جيم دی او د ميم پر ځای فاء ده، چي معنی يې د دروازې د څوكو ده، يعني ځينو شارحينو د طيبي رحمة الله عليه ددغه خبري سره په اتفاق نه كولو ويلي دي چي دمشكوة او مصابيح په ټولو نسخو كي دغه لفظ همداسي منقول دی لكه چي دلته په حديث كي نقل سوی دی نو لازمه ده چي بلحمتی الباب صحيح ومنل سي، او په معنی كي يې دا تاويل وكړل سي چي په قاموس كي د لحمه معنی د غوښي د ټوټې ليكل سوې ده ځكه ددغه معنی څخه يوازي ټوټه دي اختيار كړل سي او دا دي وويل سي چي د بلحمتی الباب معنی د دواړو ټوټو ده،

او په دې اعتبار ورته ټوټې ويل كيږي چي هغه بېلي وي كله چي د دروازې بنديدو په صورت كي په يو ځای كېدو سره يو سي او كله د دروازې خلاصيدو په صورت كي د يو بل څخه بېل سي، دغه تاويل يقينا تر دې خبري زيات غوره او مناسب دی چي د حديث په الفاظو كي د كتابت غلطي يا د روايت د سهو احتمال را وايستل سي. د هغوئ لپاره به هغه څه كافي وي ...الخ: مطلب دادی چي په هغه زمانه كي به الله جل جلاله مؤمنانو ته دومره صبر او استقامت وركړي چي هغوئ ته به د خوراک او څښاک اړتيا نه محسوس كيږي لكه چي ملائكي د خوراک او څښاک اړ نه دي او دهغوئ اصل غذا به تسبيح وي لكه چي د ملائكو اصل غزا تسبيح او تقديس ده.

څرګنده دي وي چي ځينو حضراتو د بي بي اسماء رضي الله عنها دغه الفاظ (اې د الله رسوله! تاسو خو زموږ زړونه وايستل ...الخ) دا معنی بيان كړې ده چي دد جال زمانه خو موږ تر لاسه كړې نه

ده يوازي دهغه په يادونه کولو سره زموږ دا حالت دی چي موږ د ډوډۍ پخولو لپاره اوړه اغږو او ځرنګه چي د دجال دخبرو ياد راسي چي تاسو موږ ته کړي دي او زموږ زړونه راوباسي نو د بيري او فکر په وجه موږ ډوډۍ پخول پرېږدو او اوږي پاته سو نو د هغه خلکو به څه حال وي چي د هغه زمانې د سختو حالاتو سره مخامخ سي او هغوئ د دجال زمانه تر لاسه کړي مګر طيبي رحمة الله عليه دا معنی د حقيقت څخه ليري ګرځولې ده ، که بيا هم دا معنی واخيستل سي نو په دغه صورت کي د رسول الله ﷺ د جواب خلاصه داده چي الله جل جلاله به دتسبيح او تقديس د برکته هغوئ ته صبر او استقامت او د هغه حالاتو دمقابلې کولو توان او طاقت ورکړي ، او دا هم کېدای سي چي بي بي اسماء رضي الله عنها به دغه خبره د هغه مجلس څخه وروسته په بل وخت کي کړې وي ، د (فقلت) په لفظ کي فاء دې ته اشاره کوي چي هغې دغه خبره په هغه مجلس کي د دجال د يادوني په اورېدو سره کړې ده او د هغې الفاظ چي د اوړو اغږلو او لوږي يادونه پکښې دي ، دغه الفاظ يې د راتلونکي زمانې په اعتبار ويلي وي.

د مشکوٰة په اصل نسخه کي د رواه څخه وروسته خالي ځای دی مګر بيا وروسته يو چا د احمد او ابوداؤد او الطيالسي الفاظ ليکلي دي او ځينو حضراتو ويلي دي چي : رواه احمد عن عبدالرزاق عن معمر عن قتادة عن شهر بن حوشب عنها وانفرد به عنها .

اَلْفَصْلُ الثَّالِث (دريم فصل)

اهل ايمان ته د دجال څخه د بېرېدو ضرورت نه سته

﴿۵۲۵۸﴾ : عَنِ الْمُغِيرَةَ بْنِ شُعْبَةَ قَالَ مَا سَأَلَ أَحَدٌ عَنِ رسول الله صَلَّى اللَّهُ

د حضرت مغيره بن شعبه رضي الله عنه څخه روايت دی چي د دجال په اړه چي ځومره ما د رسول الله ﷺ

عَلَيْهِ وَسَلَّمَ عَنْ الدَّجَّالِ أَكْثَرَ مَا سَأَلْتُهُ وَإِنَّهُ قَالَ لِي مَا يَضُرُّكَ قُلْتُ انهم

څخه پوښتني کړي دي دومره بل چا پوښتني نه دي کړي ، رسول الله ﷺ يو وار ما ته وفرمايل: دجال تا ته څه تاوان نه سي رسولای، ما عرض وکړ

يَقُولُونَ إِنَّ مَعَهُ جَبَلَ خُبْزٍ وَنَهَرَ مَاءٍ قَالَ هُوَ أَهْوَنُ عَلَى اللَّهِ مِنْ ذَلِكَ. متفق عليه

خلک داسي وايي چي د هغه سره به د ډوډيو غر او د اوبو درياب وي ، رسول الله ﷺ وفرمايل : د الله تعالی په نزد دجال ددې څخه هم زيات ذليل دی . بخاري او مسلم.

تخريج : صحيح البخاري (فتح الباري): ۱۳\۸۹، رقم: ۷۱۲۲، ومسلم ۴\۲۳۵۸، رقم: ۱۱۵- ۲۹۳۹.

د لغاتو حل : اقمر: اى شديد البياض (تک سپين). باعا: وهو طول ذراعي الانسان وما بينهما.

تشريح: تر دې زيات ذليل دی، مطلب دادی چي دجال د خپل طاقت او قوت کومي څرګندوني وړاندي کړي هغه به ټول بې حقيقته وي چي د هغه شيانو حيثيت به د چمبازۍ او نظر بندۍ څخه زيات نور هيڅ نه وي، هغه د الله جَلَّ جَلَالُهُ په نزد دومره ذليل او بې حيثيته دی چي د حقيقت په اعتبار هغه ته دومره زيات طاقت او قدرت ورکول کېدای نه سي او هغه پر دې قادر کېدای نه سي چي پر عقيده او عمل باندي په ټينګه سره قائم اوسېدونکي مؤمنان ګمراه کړي، نو مؤمنان به د دجال د مافوق الفطرت طاقت په لېدو سره چي يوازي په ظاهرکي طاقت معلومېږي او په حقيقت کي د دوکې څخه پرته نور هيڅ نه دي ، هيڅکله په ويره کي نه سي بلکه هغوئ به د هغه د محير العقول کړنو په لېدو سره د هغه پر چم او درواغو باندي خپل يقين نور زيات پوخ کړي.

د دجال سپرلۍ به خر وي

﴿۵۲۵۹﴾: وَعَنْ أَبِي هُرَيْرَةَ عَنِ النَّبِيِّ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ قَالَ يَخْرُجُ الدَّجَّالُ عَلٰى حِمَارٍ أَقْمَرَ مَا بَيْنَ أُذُنَيْهِ سَبْعُوْنَ بَاعًا. رواه البيهقي في كتاب البعث والنشور

د حضرت ابوهريره رَضِيَ اللهُ عَنْهُ څخه روايت دئ چي رسول الله صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ وفرمايل : دجال به پر يو سپين خره باندي سپور راووځي چي د هغه د دواړو غوږونو منځنۍ برخه به اويا باعه پلنه وي. بيهقي.

تخريج : رواه البيهقي في كتاب البعث والنشور.

تشريح: (باع) د دوو لاسونو غزولو اندازې ته وايي، خلاصه دا چي د دجال د سپرلۍ خر به دومره لوی وي چي د هغه د دواړو غوږو په منځ کي فاصله به د دواړو لاسونو د اوويا ځله غزولو په اندازه وي.

========

بَابُ قِصَّةِ ابْنِ صَيَّادِ

(د ابن صياد قصه)

د مشكوة په زياتو باوري نسخو كي پر دغه ځاى د ابن ضياد لفظ ليكلى دى مگر په ځينو نسخو كي د ابن الصياد الفاظ هم نقل سوي دي.

د ابن صياد حقيقت

د ابن صياد اصل نوم (صاف) وو او ځينو حضراتو ورته عبدالله ويلي دي، هغه يو يهودي وو، د مدينې اوسېدونكى وو يا دا چي په اصل كي د بل ځاى اوسېدونكي وو مگر مدينې ته په راتللو سره د هغه ځاى په يهوديانو كي شامل سوى وو، ابن صياد د سحر او جادو زيات ماهر وو او په دې وجه د هغه شخصيت ډېر لوړ سوى وو، د اسلام او مسلمانانو سره د هغه حقيقت په لنډه توگه دا سي څرگندېداى سي چي هغه يوه لويه فتنه وه چي په هغه كي مسلمانان په اخته كېدو سره د هغوئ امتحان واخيستل سو، د هغه حالات ډېر مختلف وه او په دې وجه د صحابه كرامو په منځ كي د هغه د حيثيت په تعين كي اختلاف وو، د ځينو صحابه كرامو خيال وو چي ابن صياد هغه دجال دى كوم چي دهغه په اړه خبر وركړل سوى دى چي هغه به په دنيا كي څرگنديږي او مؤمنان به گمراه كړي، مگر د اكثرو حضراتو دا وينا وه چي ابن صياد هغه لوى دجال خو نه دى مگر د هغه كوچنيو دجالانو څخه ضرور دى چي په مختلفو زمانو كي پيدا كيږي او د هغوئ اصل مقصد د فتنې او فساد خپرول او دخلكو گمراه كول دي، لكه چي په يو روايت كي فرمايل سوي دي چي په دغه امت كي به دجال پيدا كيږي چي خپله به هم گمراه وي او نور به هم گمراه كوي، د اخر الذكر حضراتو دليل دادى چي ابن صياد كه څه هم مخكي كافر او كاهن وو مگر په پاى كي مسلمان سوى وو بيا هغه حج هم وكړ او د مسلمانانو سره يې په جهاد كي گډون وكړ، د هغه اولادونه هم پيدا سول او هغه به په مدينه او مكه كي اوسېدى، ځكه دجال به كافر وي او دكفر په حالت كي به قتل كړل سي او د هغه اولادونه به نه وي او همدارنگه هغه مكې او مدينې ته نه سي داخلېداى، د حضرت تميم داري هغه حديث هم ددغه حضراتو پوره دليل گرځېداى سي كوم چي د دجال په اړه مخكي تېر سوى دى، په هر حال د ابن صياد حيثيت او حقيقت مبهم وو، د هغه په اړه په تعين او يقين سره څه ويل مشكل دي، خپله پر رسول الله ﷺ باندي هم د هغه په اړه وحي نه دي نازل سوي ځكه رسول الله ﷺ هم د هغه د اصل حيثيت څخه

پرده پورته نه کړل بلکه مبهم يې وساتی، لکه چي د دغه باب په نقل سوو حديثونو کي به څرګند سي.

اَلْفَصْلُ الْأَوَّلُ (لومړی فصل)

د ابن صياد سره يوه واقعه

﴿۵۲۶۰﴾: وَعَنْ عَبْدِاللهِ بْنِ عُمَرَ اَنَّ عُمَرَ بْنَ الْخَطَّابِ انْطَلَقَ مَعَ رسول الله صَلَّى

د حضرت عبد الله بن عمر رضي الله عنه څخه روايت دی چي حضرت عمر رضي الله عنه د رسول الله ﷺ سره

اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ فِي رَهْطٍ من اصحابه قِبَلَ ابْنِ صَيَّادٍ حَتَّى وَجَدُوهُ يَلْعَبُ مَعَ

د صحابه کرامو په يوه ډله کي د ابن صياد په لور ورغلی، رسول الله ﷺ هغه د يهودي قبيلې بني مغاله قلعه کي د کوچنيانو سره په لوبو کولو وليدی،

الصِّبْيَانِ فِي أُطُمِ بَنِي مَغَالَةَ وَقَدْ قَارَبَ ابْنُ صَيَّادٍ يَوْمَئِذٍ الْحُلُمَ فَلَمْ يَشْعُرْ حَتَّى

دغه وخت ابن صياد بلوغ ته نژدې سوی وو، ابن صياد ته زموږ راتلل معلوم نه سول، تر دې چي

ضَرَبَ رَسُولُ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ ظَهْرَهُ بِيَدِهِ ثُمَّ قَالَ أَتَشْهَدُ أَنِّي رَسُولُ

رسول الله ﷺ هغه ته نژدې ورغلی د هغه پر ملا يې لاس را تير کړاو ورته وه يې فرمايل: ايا ته ددې امر شاهدي کوې چي زه د الله رسول يم،

اللّٰهِ فَنَظَرَ إِلَيْهِ فَقَالَ أَشْهَدُ أَنَّكَ رَسُولُ الْأُمِّيِّينَ ثُمَّ قَالَ ابْنُ صَيَّادٍ أَتَشْهَدُ أَنِّي

ابن صياد د رسول الله ﷺ په لور وکتل او وه يې ويل زه ددې شاهدي ورکوم چي ته د نا ويونکو (اميانو) خلکو رسول يې، ددې څخه وروسته ابن صياد وويل ايا ته ددې خبري شاهدي ورکوي

رَسُولُ اللّٰهِ فَرَصه النَّبِيُّ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ ثُمَّ قَالَ آمَنْتُ بِاللّٰهِ وَرُسُلِهِ ثُمَّ

چي زه د الله رسول يم؟ رسول الله ﷺ هغه ونيوی او په ښه زور سره يې دباو کړ بيا يې وفرمايل: ما پر الله جل جلاله او د هغه پر رسولانو ايمان راوړی دی، ددې څخه وروسته يې

قَالَ لِابْنِ صَيَّادٍ مَاذَا تَرَى قَالَ يَأْتِينِي صَادِقٌ وَكَاذِبٌ قَالَ رَسُولُ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ

ابن صیاد ته وویل ته دغیبي شیانو څخه څه وینې ؟ هغه وویل : کله ریښتني او کله دروغ (خبري)، رسول الله ﷺ ورته وفرمایل

عَلَيْهِ وَسَلَّمَ خُلِّطَ عَلَيْكَ الْأَمْرُ قَالَ رَسُولُ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ إِنِّي خَبَأْتُ

پر تا امور مشتبه کړل سوي دي ، ددې څخه وروسته رسول الله ﷺ ورته وفرمایل : ما په زړه کي

لَكَ خَبِيئًا وخباله يوم تاتي السماء بدخان مبين فقَالَ هُوَ الدُّخُّ قَالَ اخْسَأْ

یو خبره پټه کړې ده ته وو وایه چي هغه څه ده ؟ او د رسول الله ﷺ په زړه کي دا آیت وو (یوم تاتي السماء بدخان مبین) هغه وویل هغه خبره (الدخ) ده ، رسول الله ﷺ ورته وفرمایل چغه سه

فَلَنْ تَعْدُوَ قَدْرَكَ قَالَ عُمَرُ يَا رَسُولَ اللّٰهِ أَتَأْذَنُ لِي فِيهِ ان أَضْرِبُ عُنُقَهُ قَالَ

ته د خپل حیثیت څخه وړاندي نه سي تللای، عمر ﷺ عرض وکړ اې د الله رسوله ! ما ته اجازه راکړه چي زه یې غاړه پرې کړم، رسول الله ﷺ وفرمایل :

رَسُولُ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ إِنْ يَكُنْ هُوَ لَا تُسَلَّطُ عَلَيْهِ وَإِنْ لَمْ يَكُنْ هُوَ فَلَا

که دا هغه دجال وي (د کوم چي ما خبر درکړی دی) نو ته به پرده واک نه سي تر لاسه کولای او که دی هغه نه وي

خَيْرَ لَكَ فِي قَتْلِهِ قَالَ بْنَ عُمَرَ انْطَلَقَ بَعْدَ ذٰلِكَ رَسُولُ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ

نو دده په وژلو کي ستاسو لپاره څه خیر نه سته، ابن عمر ﷺ وایي تر دې وروسته بل وخت رسول الله ﷺ

وَأُبَيُّ بْنُ كَعْبٍ الْأَنْصَارِيُّ يَؤُمَّانِ النَّخْلَ الَّتِي فِيهَا ابْنُ صَيَّادٍ فَطَفِقَ رَسُولُ اللّٰهِ

او ابی بن کعب انصاري ﷺ د خرماوو هغه درختو ته ور سهدل په کوم ځای کي چي ابن صیاد وو ، رسول الله ﷺ د درختو په بناخونو کي پټ ددې څخه مخکي چي هغه (یعني ابن صیاد)

صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ يَتَّقِي بِجُذُوعِ النَّخْلِ وَهُوَ يَخْتِلُ أَنْ يَسْمَعَ مِنَ ابْنِ صَيَّادٍ

رسول الله ﷺ ووینې د هغه خبري یې اوریدل غوښتل چي هغه ته دا معلومه سي چي دلته څوک

شَيْئًا قَبْلَ أَنْ يَرَاهُ وَابْنُ صَيَّادٍ مُضْطَجِعٌ عَلَى فِرَاشِهِ فِي قَطِيفَةٍ لَهُ فِيهَا زَمْزَمَةٌ

نه سته نو په آزادي سره به خبري وکړي، ابن صياد څادر اغوستی پر بستره پروت وو او د هغه د څادر څخه داسي آواز راتلی چي په پوهه کي نه راتلی،

فَرَأَتْ أُمُّ ابْنِ صَيَّادٍ النَّبِيَّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ وَهُوَ يَتَّقِي بِجُذُوعِ النَّخْلِ فَقَالَتْ

د ابن صياد مور رسول الله ﷺ د خرماوو په ښاخونو کي پټ سوی وليدی نو وه يې ويل

أَيْ صَافِ وَهُوَ اسْمُهُ هَذَا مُحَمَّدٌ فَتَنَاهَى ابْنُ صَيَّادٍ قَالَ رَسُولُ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ

اې صاف (دا د ابن صياد نوم دی) دا مخته محمد ﷺ ولاړ دی، ددې په اوريدو سره ابن صياد پته خوله سو، رسول الله ﷺ وفرمايل:

وَسَلَّمَ لَوْ تَرَكَتْهُ بَيَّنَ قَالَ عَبْدُ اللَّهِ بن عمر قَامَ رَسُولُ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ

که دده مور دی پر خپل حال پرې ايښی وای نو دده يو حال به معلوم سوی وای، ابن عمر رضي الله عنه وايي رسول الله ﷺ د خلکو په منځ کي ودريدی

فِي النَّاسِ فَأَثْنَى عَلَى اللَّهِ بِمَا هُوَ أَهْلُهُ ثُمَّ ذَكَرَ الدَّجَّالَ فَقَالَ إِنِّي أُنْذِرُكُمُوهُ وَمَا مِنْ

د الله تعالی حمد او ثناء يې بيان کړه چي د هغې هغه مستحق دی، بيا يې د دجال ذکر وکړ او وه

نَبِيٍّ إِلَّا وَقَدْ أَنْذَرَهُ قَوْمَهُ لَقَدْ أَنْذَرَهُ نُوحٌ قَوْمَهُ وَلَكِنِّي سَأَقُولُ لَكُمْ فِيهِ قَوْلًا لَمْ

يې فرمايل: زه تاسو د دجال څخه بيروم او هيڅ يو نبي داسي نه دی تير سوی چي هغه خپل قوم د دجال څخه نه وي بيرولی البته تر ټولو مخکي حضرت نوح عليه السلام خپل قوم د هغه څخه بيرولی وو مګر زه د دجال په اړه تاسو ته هغه خبره کوم

يَقُلْهُ نَبِيٌّ لِقَوْمِهِ تَعْلَمُونَ أَنَّهُ أَعْوَرُ وَأَنَّ اللَّهَ لَيْسَ بِأَعْوَرَ. متفق عليه.

چي هيڅ يو نبي تر ننه پوري خپل قوم ته نه ده کړې (او هغه دا چي) تاسو خبردار اوسئ چي دجال يو سترګی دی او الله تعالی يو سترګی نه دی. بخاري او مسلم.

تخريج: صحيح البخاري (فتح الباري): ۱۳\۲۱۸، رقم: ۱۳۵۴، ومسلم ۴\۲۲۴۴، رقم: ۹۵- ۲۹۳۰.

د لغاتو حل اُطم: القصر و كل حصن مبني بحجارة و كل بيت مربع مسطح الجمع. (د ډبرو څخه جوړ). مغالة: قبيله. فرصه: اى ضغطه حتى ضم بعضه الى بعض. يختل: وهو طلب الشيء بحيلة (په چمبازي يو شی تر لاسه کول). قطيفة: اى دثار مخمل وقيل لحاف صغير (کوچنی تلتک).

تشریح: د امیانو څخه مراد عرب وه ځکه چي په هغه زمانه کي اکثر عرب په لیک اولوست نه پوهېدل، او اصل خبره داده چي په یهودیانو کي د یوې ډلي عقیده هم داوه چي هغوئ د رسول الله ﷺ د رسالت منکر نه وه مگر رسول الله ﷺ یې یوازي د عربو رسول منی، په هر حال دا خبره (یعني د ابن صیاد د رسول الله ﷺ داسي شاهدي ورکول) د هغه د لغو او باطل خبرو څخه یوه خبره وه چي شیطان یې کاهنانو ته په زړه کي وراچوي، په منطقي توګه هم د هغه دغه القاء د سخت تضاد او تناقض حامل وو، ځکه چي نبي کریم ﷺ په هر حال کي رېښتونی وي، او کله چي رسول الله ﷺ د خپل نبوت عام اعلان وکړ او ټول انسانیت ته یې د خپل رسالت بلنه ورکړل نو د رسول الله ﷺ نبوت یوازي د عربو خاصول باطل وګرځېدی، رسول الله ﷺ هغه په ښه زور سره ونیوی، د رص لفظ د راء په زور سره دی او اصل معنی یې دوو شیانو هوارول او یو ځای کول دي ځکه ټینګ او هوار بنیاد ته مرصوص ویل کیږي، خلاصه دا چي رسول الله ﷺ د ابن صیاد د اندامو په نیولو سره زور ورکړ، نووي رحمه الله لیکلي دي چي زموږ په سیمه کي د کتاب کومي نسخې دي په هغو کي دغه لفظ (فرفصه) دی، یعني په فاء او صاد سره، چي د رفص څخه دی او معنی یې د پرېښودلو ده، په دغه صورت کي به مطلب دا وي چي رسول الله ﷺ د هغه د سوال او جواب څخه صرف نظر وکړ.

ما په الله جل جلاله او دهغه په رسولانو ایمان راوړ: مطلب دادی چي ما یقینا د الله جل جلاله په رسولانو او نبیانو باندي ایمان راوړی دی او دا هم یقیني ده چي ته د هغوئ څخه نه یې، مګر که چیري بالفرض ته هم دهغوئ څخه وې نو ما به پر تا باندي هم ایمان راوړی وای مګر دا فرضي خبره به په هغه صورت کي جائز وي کله چي دا وویل سي چي رسول الله ﷺ دغه خبره د خپل خاتم النبیین کېدو د علم څخه مخکي کړې وه که هغه وخت د رسول الله ﷺ خاتم النبیین کېدل د رسول الله ﷺ په علم کي وای نو دا به فرض محال خبره مراد نسي اخیستل کېدای، ددغه مسئلې د نزاکت اندازه ددې څخه لګول کیږي که یو سړی د نبوت دعوه وکړي او بل سړی د هغه څخه د معجزې د مطالبې کولو سربېره هغه قتل نه کړي ددې لپاره چي اول خو هغه د لږ عمر وو او د لږ عمر والا قتلول د رسول الله ﷺ لپاره منع وو، دوهم دا چي یهودیان په هغه ورځو کي ذمیان وه او رسول الله ﷺ د هغوئ سره پر دې خبره صلح کړې وه چي هغوئ به پر خپل حال پرېښودل کیږي او څرګنده ده چي ابن صیاد هم د یهودیانو یو کس وو او دهغوئ د حلیفو څخه وو ځکه هغه یې وژلای نه سو.

کله ما ته رېښتونی خبر راځي او کله د دروا غو خبر، په دې اړه ځینو شارحینو ویلي دي چي

د ابن صیاد څخه د رسول الله ﷺ د سوال مقصد دا وو چي کوم څوک تا ته راځي هغه تا ته څه وايي او د هغه کړي خبري ستا لپاره څرنګه ثابتیږي، ابن صیاد د ذکر سوی جملی په ذریعه د هغه سوال چي کوم جواب ورکړ د هغه خلاصه دا وه چي یو راتلونکي ما ته یوه خبره ښيي چي په هغه کي یوه خبره رښتیا کیږي او یوه خبره دروغ سي، نو د کاهنانو دا حال وي چي شیطان پر هغوئ د دروغو او رښتیا هر ډول خبرو القاء کوي (یعني په زړه کي یې وراچوي).

ستا معامله ګډه وډه سول: مطلب دا چي ستا سره د کومو شیانو او خبرونو ذخیره وه هغه ټوله بېکاره ده ځکه چي په هغو کي رښتیا خبري هم د دروغو خبرو په یو ځای کېدو د باور وړ نه سوې یا دا مطلب وو چي ستا حیثیت او ستا حال د باور وړ نه دی ځکه چي تا ته خو شیطان راځي چي تا ته د دروغو او رښتیا خبري اوروي، ددغه خبري په ذریعه رسول الله ﷺ د هغه د رسالت دعوه دروغ وګرځول ځکه چي هیڅ رسول ته دروغ خبرونه نه راځي حال دا چي هغه په خپله ژبه اقرار وکړ، نو رسول الله ﷺ څرګنده کړه چي ته یوازي کاهن یې او د کاهنانو دا حال وي نو رسول او نبي هیڅ کله نه سي کېدای.

ما په زړه کي ستا لپاره یوه خبره پټه کړې ده، یعني که چیري ستا دعوه وي چي پر تا باندي خدايي راز منکشف کیږي او یو سړی په راتلو سره تا ته د غیب خبري ښيي نو دا وښیه چي دا وخت زما په زړه کي څه دي، ما ستا په اړه یوه خبره په زړه کي اېښې ده د هغه خبري په ذریعه رسول الله ﷺ دابن صیاد امتحان واخیست چي صحابه کرامو ته د هغه حقیقت څرګند کړل سي او هغوئ پوه سي چي دی کاهن دی او شیطان ورته راځي او د دروغو او رښتیا خبري ورته ښيي.

هغه پټه خبره دخ ده، دُخ د دال په پېښ او د خاء په تشدید سره د دود په معنی دی، ابن صیاد د پوره آیت په ښودلو کي کامیاب نه سو کوم چي رسول الله ﷺ په زړه کي نیولی وو مګر هغه د یو آیت ناقص لفظ وښودی، ددې څخه هم د هغه کاهن کېدل ثابت سوّل ځکه چي په کهانت کي دا وي چي شیطان د یوې خبري نیمګړی او ناقص شیان راوړي او د هغه کاهنانو په زړو کي یې اچوي او دا هم کېدای سي چي رسول الله ﷺ هغه وخت په پټه صحابه کرامو ته دا ښودلي وي چي ما دغه آیت په زړه کي نیولی دی او شیطان هم دا خبره اورېدلې وي او بیا یې هغه ابن صیاد ته ښودلې وي.

لیري سه، ته د خپل حد څخه هیڅکله وړاندي کېدای نه سې، لیري سه، دا د اخساء ژباړه ده چي د هغه په ذریعه د اهانت او حقارت اظهار کیږي او په عامه توګه د سپي او خنزیر د شړلو او لیري کولو لپاره دغه لفظ ویل کیږي، په هر حال کوم وخت چي د ابن صیاد حقیقت څرګند سو

چي د هغه حال هغه دی کوم چي د کاهنانو وي چي هغه د شیطان په القاء کولو سره نیمګړي خبري معلوموي او د هغه پر بنیاد باندي د خپل غیب ویني دعوه کوي، نو رسول الله ﷺ هغه ته وفرمایل: لیري سه ستا حد معلوم سو ته یوازي کاهن یې او کاهن به یې، تر دې وړاندي ته هیڅ نه سې تللای په خپل حد کي اوسه، او په راتلونکي کي د رسالت د دعوې کولو جرئت مه کوه چي هغه زما مقام دی.

د هغه په وژنه کي ستا خیر نسته، مطلب دا وو چي هغه ذمي دی او د هغه یهودیانو څخه دی چي اهل ذمه دی، له دې څخه پرته هغه نابالغ او د لږ عمر والا هم دی ځکه دده قتلول ګټه نه کوي، ځیني قرائن د ابن صیاد پر دجال کېدو باندي دلالت کوي ځکه رسول الله ﷺ د شک په توګه دا خبره وفرمایل که چیري هغه واقعي دجال وي نو ته دده په قتلولو قادر کېدای نه سې او که دجال نه وي نو بیا دده په وژنه کي هیڅ خیر نسته.

او یقینا الله ﷻ ړوند نه دی، یعني هغه خو د ړوندوالي څخه پاک دی څرګنده دي وي چي رسول الله ﷺ دا وفرمایل چي هیڅ نبي خپل قوم ته دا نه دي ښودلي چي دجال ړوند دی نو په دې اړه دا کېدای سي چي د رسول الله ﷺ څخه پرته بل هیڅ نبي ته د دجال د احوالو دومره تفصیلي علم نه وو چي دجال به ړوند وي یا داسي به وي یا دا چي دا علم خو هر نبي ته وو مګر هیڅ یو نبي خپل قوم ته دا نه وه ښودلي چي دجال به ړوند وي.

ابن صیاد کاهن وو

﴿۵۲۶۱﴾: وَعَنْ أَبِي سَعِيدٍ الخدري قَالَ لَقِيَهُ رَسُولُ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ

د حضرت ابوسعید خدري رضي الله عنه څخه روایت دی چي رسول الله ﷺ

وَأَبُو بَكْرٍ وَعُمَرُ يعني ابن صياد فِي بَعْضِ طُرُقِ الْمَدِينَةِ فَقَالَ لَهُ رَسُولُ اللَّهِ

او حضرت ابوبکر رضي الله عنه او حضرت عمر رضي الله عنه د مدینې په یوه لاره د ابن صیاد سره یو ځای سول نو رسول الله ﷺ هغه (ابن صیاد) ته وفرمایل:

صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ أَتَشْهَدُ أَنِّي رَسُولُ اللَّهِ فَقَالَ هُوَ أَتَشْهَدُ أَنِّي رَسُولُ اللَّهِ

ایا ته دې خبري شاهدي کوې چي زه د الله ﷻ رسول یم؟ هغه ورته وویل ایا تاسو داسي شاهدي کوئ چي زه د الله ﷻ رسول یم؟

فَقَالَ رَسُولُ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ آمَنْتُ بِاللّٰهِ وَمَلَائِكَتِهِ وَكُتُبِهِ و رسوله

رسول الله ﷺ و فرمایل ما پر الله تعالی ، د هغه پر ملائکو د هغه پر کتابونو او د هغه پر رسولانو ایمان راوړی دی ،

مَا ذَا تَرَى قَالَ أَرَى عَرْشًا عَلَى الْمَاءِ فَقَالَ رَسُولُ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ

ددې څخه وروسته رسول الله ﷺ د هغه څخه پوښتنه وکړه ته څه شی وینې ؟ هغه وویل زه پر اوبو یو تخت وینم ، رسول الله ﷺ ورته وفرمایل:

تَرَى عَرْشَ إِبْلِيسَ عَلَى الْبَحْرِ وَمَا تَرَى قَالَ أَرَى صَادِقَيْنِ وَكَاذِبًا أَوْ كَاذِبَيْنِ

ته د ابلیس تخت د اوبو سربیره وینې ، ددې څخه وروسته رسول الله ﷺ د هغه څخه پوښتنه وکړه ته نور څه وینې ؟ هغه وویل دوې ملائکي وینم (چي رښتیا خبرونه راوړي) او یو درواغجن وینم (چي درواغ خبرونه راوړي) یا هغه دا وویل چي زه دوه درواغجن

وَصَادِقًا فَقَالَ رَسُولُ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ لُبِسَ عَلَيْهِ فَدَعُوهُ. رواه مسلم.

او یو ریښتوني وینم، رسول الله ﷺ وفرمایل : پر ده امر مشتبه کړل سوی دی (یعني کاهن ترویتي دی) او کهانتي په ترویت توب کي دی اشتباه یعني په شک او شبه کي غورځول سوی دی له دې کبله دی پریږدئ . مسلم.

تخريج صحيح مسلم: ۴\۲۲۴۱، رقم: ۸۷- ۲۹۲۵.

تشريح ته د ابلیس تخت وینې پر دریاب، ددغه جملې په ذریعه رسول الله ﷺ دغه حقیقت ته اشاره وفرمایل چي ابلیس د اوبو سربېره د خپل تخت په غوړولو سره پر هغه خپل دربار لګوي او د هغه ځای څخه د خپلو ملګرو ټولی په دنیا کي د فتنې او فساد خپرولو او د خلکو د ګمراه کولو لپاره استوي، په دې اړه یادونه د کتاب په پیل کي په باب الوسوسه کي تېره سوې ده .

یا دوه درواغجن وینم او یو رښتوني، دغه الفاظ یا د راوي شک ظاهروي چي دلته د روایت الفاظ داسي دي یا داسي، یا دا چي خپله ابن صیاد په دغه شک سره بیان کړی دی چي زه یا خو دوه ریښتوني او یو درواغجن وینم یا دوه درواغجن او یو رښتونی وینم او دا خبره زیاته صحیح معلومېږي ځکه چي د هغه معامله څرنګه ګډ وډ او په احتمالاتو کي راګیر سوې ده او د هغه احوال چي څرنګه د نظم او استقلال څخه خالي وه نو دهغه تقاضا دا وه چي هغه ته په

هيڅ صورت کي هم يقين تر لاسه نه سو نو هغه به کله داسي کتل او کله هسي .

د جنت په باره کي د رسول الله ﷺ څخه د ابن صياد سوال

﴿۵۲۶۲﴾: وَعَنْهُ أَنَّ ابْنَ صَيَّادٍ سَأَلَ النَّبِيَّ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ عَنْ تُرْبَةِ الْجَنَّةِ فَقَالَ دَرْمَكَةٌ بَيْضَاءُ مِسْكٌ خَالِصٌ. رواه مسلم.

د حضرت ابو سعيد خدري رضي الله عنه څخه روايت دی چي ابن صياد د رسول الله ﷺ څخه پوښتنه وکړه چي د جنت خاوره څنګه ده ؟ رسول الله ﷺ ورته وفرمايل هغه د ميدې په ډول سپينه او د خاصو مشکو په ډول خوشبوداره ده . مسلم.

تخريج : صحيح مسلم: ۴\۲۲۴۳، رقم: ۹۳- ۲۹۲۸.

د لغاتو حل : درمكة: دقيق الحواري والتراب الناعم (ترميده اوړه يا پسته خاوره)

د دجال په باره کي پيشګوئي

﴿۵۲۶۳﴾: وَعَنْ نَافِعٍ قَالَ لَقِيَ ابْنُ عُمَرَ ابْنَ صَائِدٍ فِي بَعْضِ طُرُقِ الْمَدِينَةِ

د حضرت نافع رضي الله عنه څخه روايت دی چي ابن عمر رضي الله عنه د مديني په يوه لاره کي د ابن صياد سره

فَقَالَ لَهُ قَوْلًا أَغْضَبَهُ فَانْتَفَخَ حَتَّى مَلَأَ السِّكَّةَ فَدَخَلَ ابْنُ عُمَرَ عَلَى حَفْصَةَ

ملاقات وکړ ، ابن عمر رضي الله عنه هغه ته يو داسي خبره وکړه چي په هغه سره هغه (ابن صياد) په غضب کي سو ، او د هغه رګونه وپړسيدل تر داسي حده چي ټوله کوڅه يې ډکه کړل ، د هغه څخه وروسته حضرت ابن عمر رضي الله عنه خپل خور بي بي حفصې ته ورغلی

وَقَدْ بَلَغَهَا فَقَالَتْ لَهُ رَحِمَكَ اللّٰهُ مَا أَرَدْتَ مِنِ ابْنِ صَائِدٍ أَمَا عَلِمْتَ أَنَّ رَسُولَ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ قَالَ إِنَّمَا يَخْرُجُ مِنْ غَضْبَةٍ يَغْضَبُهَا . رواه مسلم.

هغې ته د پېښي خبر رسيدلی وو هغې ورته وفرمايل : اې ابن عمر ! الله تعالی دي پر تا رحم وکړي ته د ابن صياد څخه څه غواړې ؟ ايا تا ته معلومه نه ده چي رسول الله ﷺ فرمايلي دي چي دجال به پر يو خبره غضبناک سوی د باندي راووځي . مسلم.

تخريج : صحيح مسلم ۱۴\۲۲۴۶، رقم: ۹۸- ۲۹۳۲.

تشريح يعني دجال به پر يوه خبره غصه سي او هغه غصه به هغه دومره وپاروي چي هغه به راوځي او د نبوت يا خدايي دعوه به وکړي نو اې ابن عمر ! ته ابن صياد مه په غضب کوه او د هغه سره هيڅ خبره مه کوه چي هغه خروج ونه کړي او نړيوال د هغه د فتنې څخه خوندي وي، بي بي حفصې ﷺ، حضرت عمر ﷺ همدا رنګه منع کړ، په ښکاره ګنده دې وجه دا معلوميږي چي هغه دا فکر کړی وي چي کېدای سي ابن صياد دجال وي او د رسول الله ﷺ د وړاند وينې سره سم ابن عمر ﷺ د هغه د خروج ظاهري سبب ونه ګرځي بلکه دا هم کېدای سي چي بي بي حفصې ﷺ د هغه د دجال کېدو يقين درلود .

د ابن صياد د دجال کېدو څخه انکار

﴿۵۲۶۴﴾: وَعَنْ أَبِي سَعِيدٍ الْخُدْرِيِّ قَالَ صَحِبْتُ ابْنَ صَائِدٍ إِلَى مَكَّةَ فَقَالَ لِي

د حضرت ابو سعيد خدري ﷺ څخه روايت دی چي زه او ابن صياد د مکې په سفر کي يو ځای سوو، ابن صياد ما ته د هغه تکليف ذکر وکړ

مَا لَقِيتُ مِنَ النَّاسِ يَزْعُمُونَ أَنِّي الدَّجَّالُ أَلَسْتَ سَمِعْتَ رَسُولَ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ

چي د خلکو څخه هغه ته رسيدلی وو بيا يې وويل خلک پر ما د دجال خيال کوي ايا تاسو د رسول الله ﷺ دا خبره نه ده اوريدلې

عَلَيْهِ وَسَلَّمَ يَقُولُ إِنَّهُ لَا يُولَدُ لَهُ وَقَدْ وُلِدَ لِي أَلَيْسَ قد قال وهو كافر وانا

چي دجال به بې اولاده وي او زما اولاد سته او رسول الله ﷺ ويلي دي چي دجال به کافر وي او زه

مسلم او ليس قد قال لا يدخل المدينة ولا مكة وقد اقبلت من المدينة

مسلمان يم، رسول الله ﷺ دا نه دي فرمايلي چي دجال به په مکه او مدينه کي نه داخليږي او زه د مدينې څخه را روان يم

وانا اريد مكة ثُمَّ قَالَ لِي فِي آخِرِ قَوْلِهِ أَمَا وَاللَّهِ إِنِّي لَأَعْلَمُ مَوْلِدَهُ وَمَكَانَهُ

او د مکې په لور ځم، بيا يې ما ته په آخره کي وويل چي قسم په الله زه د هغه د زېږېدو او اوسيدو

وَأَيْنَ هُوَ واعرف اباه وامه قَالَ فَلَبَسَنِي قال قلت له تبالك سائر اليوم قال

ابو سعيد رضي الله عنه وايي يو سړي د ملګرو څخه هغه ته وويل ايا ته په دې خوشحاله کېږې چې ته خپله دجال سې ؟ ابن صياد وويل که ما ته هغه صفات راکړي سي کوم چې په دجال کي دي نو زه يې بد نه ګڼم . مسلم.

و قيل له ايسرك انك ذاك الرجل قال فقال لو عرض علي ما كرهت . رواه مسلم

ځای پيژنم او دا هم پيژنم چې پلار او موريې څوک دي ، ابو سعيد وايي د ابن صياد آخري الفاظو زه په شبه کي واچولم نو ما هغه ته وويل ته د همېشه لپاره هلاک سې ،

تخريج : صحيح مسلم: ۴\۲۲۴۲، رقم: ۸۹- ۲۹۲۷.

تشريح : زه په شک کي سوم ، د دغه جملې په ذريعه ابو سعيد رضي الله عنه دا بيان وکړ چې مخکي خو ما دا يقين درلود چې ابن صياد دجال دی مګر اوس چې هغه د خپل دجال کېدو څخه انکار وکړ نو زه په شک کي سوم چې هغه دي دجال وګڼل سي که نه ، يا دا چې مخکي خو هغه په دلائلو سره دا ثابته کړه چې زه خپله دجال نه يم مګر هغه چې په پای کي دا وويل چې زه د دجال مولد او مسکن څخه خبر يم نو داسي نه وي چې هغه د دغه خبره د تعرض په توګه کړې وي او د دغه آخري خبرو څخه مراد خپله د هغه ذات وي چې زه به يې بد نه ګڼم ، د دغه په ذريعه ابن صياد دا قرار وکړ چې په داسي صورت کي د دجال جوړېدل به زه قبول کړم او راضي به سم نو دا خبره د هغه د کفر څرګند دليل دی .

د ابن صياد ذکر

﴿۵۲۶۵﴾ : وَعَنِ ابْنِ عُمَرَ قَالَ لَقِيتُهُ وَقَدْ نَفَرَتْ عَيْنُهُ فَقُلْتُ مَتَى فَعَلَتْ عَيْنُكَ مَا أَرَى قَالَ لَا أَدْرِي قُلْتُ لَا تَدْرِي وَهِيَ فِي رَأْسِكَ قَالَ إِنْ شَاءَ اللّٰهُ خَلَقَهَا فِي عَصَاكَ قَالَ فَنَخَرَ كَأَشَدِّ نَخِيرِ حِمَارٍ سَمِعْتُ. رواه مسلم.

د حضرت ابن عمر رضي الله عنه څخه روايت دی چې کله د ابن صياد سترګه نوجنه وه نو زه د هغه سره يو ځای سوم ما ورته وويل : ستا سترګه د څه وخت څخه نوجنه ده ، هغه وويل ما ته نه ده معلومه چې د څه وخت څخه ده ، ما ورته وويل تا ته معلومه نه ده حال دا چې سترګه ستا په سر کي ده ،

هغه وويل : كه الله ﷻ غواړي نو ستركه به ستا په لكړه كي پيدا كړي ، ابن عمر رضي الله عنه وايي ددې څخه وروسته ابن صياد د پزي څخه د خره په ډول يو سخت اواز وايستی او داسي آواز ما هيڅكله نه وو اوريدلی . مسلم.

تخريج : صحيح مسلم ۴\۲۲۴۶، رقم: ۹۹- ۲۹۳۲.

تخريج : فنخر: اى صوت صوتا منكرا.

تشريح : ستركه به ستا په لكړه كي پيدا كړي: ددغه جملې څخه د ابن صياد مطلب دا وو چي څرنگه الله ﷻ پر دې قادر دی چي هغه په جماد كي ستركه ولګوي او بيا په هغه ستركه كي درد پيدا سي نو هغه شي ته نه د ستركي احساس وي او نه د ستركي درد، نو داسي عين ممكن ده چي د يو انسان په ستركو كي د تكليف يوه نښه پيدا سي چي هر وخت په بدني توكه په هغه سره بوخت وي نو هغه ته د زيات بوختيا او هجوم په وجه د هغه د درد او تكليف احساس نه وي.

ابن صياد دجال دی

﴿۵۲۶۶﴾: وَعَنْ مُحَمَّدِ بْنِ الْمُنْكَدِرِ قَالَ رَأَيْتُ جَابِرَ بْنَ عَبْدِ اللّٰهِ يَحْلِفُ

د حضرت محمد بن المنكدر رضي الله عنه څخه روايت دی چي ما جابر بن عبد الله رضي الله عنه وليدی هغه په قسم

بِاللّٰهِ أَنَّ ابْنَ الصَّائِدِ الدَّجَّالُ قُلْتُ تَحْلِفُ بِاللّٰهِ قَالَ إِنِّي سَمِعْتُ عُمَرَ يَحْلِفُ

سره دا وويل چي ابن صياد دجال دی ما هغه ته وويل : ايا ته په قسم خوړلو سره وايې ؟ هغه وويل : ما د عمر رضي الله عنه څخه دا اوريدلي دي چي هغه به

عَلَى ذٰلِكَ عِنْدَ النَّبِيِّ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ فَلَمْ يُنْكِرْهُ النَّبِيُّ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ . متفق عليه.

د رسول الله ﷺ په شتون كي په دې قسم اخيستی او نبي ﷺ ددې څخه انكار نه دی فرمايلی . بخاري او مسلم

تخريج : صحيح البخاري (فتح الباري): ۱۳\۳۲۳، رقم: ۷۳۵۵، ومسلم ۴\۲۲۴۳، رقم: ۹۴- ۲۹۲۹.

تشريح : كېدای سي چي د حضرت جابر رضي الله عنه او حضرت عمر رضي الله عنه قسم كول ددې لپاره وي چي ابن صياد هغه دجالانو يعني درواغجنانو او چمبازانو څخه يو وي كوم چي وخت په وخت په

دغه امت کي پيدا کيږي او د خپل نبوت په دعوه کولو سره خلک ګمراه کوي او په شک او شبهو کي يې اخته کوي، يعني ددغه دواړو د قسم تعلق ددې خبري سره نه وو چي ابن صياد په حقيقت کي دجال دى ځکه چي رسول الله ﷺ د ابن صياد معامله مبهم پرېښودل او مطلب دادى چي هغه په يقيني توګه دجال نه دى مګر د روايتو په الفاظو کي د مطلق دجال ذکر دى د هغه ځخه دا خبره ځرګنديږي چي ددغه دواړو حضراتو په نزد دجال معهود مراد وو، په دغه صورت کي د دواړو قسم کول به د غالب ګمان په وخت کي د قسم کولو په جواز محمول کيږي او مخته په دوهم فصل کي چي د حضرت ابن عمر رضي الله عنه کوم روايت راځي په هغه کي په صراحت سره بيان سوى دى چي ابن صياد دجال معهود وو نو کيداى سي چي د ابن عمر رضي الله عنه مذهب هم دا وي، په هر حال دا خبره مخکي بيان سوې ده چي دابن صياد په اړه د صحابه کرامو په منځ کي اختلاف وو.

اَلْفَصْلُ الثَّانِي (دوهم فصل)

دابن عمر په نزد ابن صياد دجال وو

﴿۵۲۶۷﴾: عَنْ نَافِعٍ قَالَ كَانَ ابْنُ عُمَرَ يَقُولُ وَاللّٰهِ مَا أَشُكُّ أَنَّ الْمَسِيحَ الدَّجَّالَ ابْنُ صَيَّادٍ. رواه ابوداؤد والبيهقي في كتاب البعث والنشور.

د حضرت نافع رضي الله عنه ځخه روايت دى چي ابن عمر رضي الله عنه به ويل ما ته په دې کي بلکل شک نه سته چي مسيح دجال ابن صياد دى. بيهقي

تخريج: سنن ابي داود ۵۰٦\۴، رقم: ۴۳۳۰.

ابن صياد د حره دواقعې په ورځ غائب سوى وو

﴿۵۲٦۸﴾: وَعَنْ جَابِرٍ قَالَ فَقَدْنَا ابْنَ صَيَّادٍ يَوْمَ الْحَرَّةِ. رواه ابوداؤد.

د حضرت جابر رضي الله عنه ځخه روايت دى چي موږ د حرة په پېښه کي ابن صياد ورک کړ. ابوداؤد.

تخريج سنن ابي داود: ۵۰٦\۴، رقم: ۴۳۳۲.

تشريح: که چيري د حديث د الفاظو ظاهري معنى مراد وي نو مطلب به دا وي چي ابن صياد د حره په پېښه کي غائب سو، او داسي غائب سو چي بيا هيچا ته ځرګند نه سو چي هغه چيري ولاړى. او دهغه ځه پاى سو، په دغه صورت کي به دغه روايت د هغه خلاف وي چي په هغه کي

دا بیان سوي دي چي په مدینه کي هغه مړ سو او د هغه د جنازې لمونځ وکړل سو او که په دغه حدیث کي د غائب شخه مراد د هغه عام مفهوم وي چي په هغه کي مړک هم شامل دی نو بیا د دواړو روایتو په منځ کي تضاد نه پاته کیږي په دغه صورت کي به مقصد دا وي چي دغائب کېدو شخه مراد د هغه مړ کېدل دي یعني هغه د حره په پېښه کي مړ سوی دی.

د حره د ورځي شخه مراد هغه ورځ ده چي کله د ابن معاویه لښکر پر مدینې حمله وکړه او ډېري وینې یې توی کړلې او د ځانو او مالو سخت تاوان یې ورسوی.

ابن صیاد او دجال

﴿۵۲۶۹﴾: وَعَنْ اَبِيْ بَكْرَةَ قَالَ قَالَ رَسُولُ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ يَمْكُثُ أَبُوي

د حضرت ابوبکره رضی اللہ عنہ شخه روایت دئ چي رسول الله ﷺ وفرمایل: د دجال مور او پلار به تر

الدَّجَّالِ ثَلَاثِينَ عَامًا لَا يُولَدُ لَهُمَا وَلَدٌ ثُمَّ يُولَدُ لَهُمَا غُلَامٌ أَعْوَرُ أَضَرُّ وَأَقَلُّهُ

دیرش کاله پوري بې اولاده وي، بیا به د هغوئ یو سترګی زوی پیدا اسي چي د هغه غاښونه به لوی لوی وي او د هغه شخه به ډېره کمه

مَنْفَعَةً تَنَامُ عَيْنَاهُ وَلَا يَنَامُ قَلْبُهُ ثُمَّ نَعَتَ لَنَا رَسُولُ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ

ګټه وي، د هغه سترګي به بیدې وي مګر زړه به یې بیده نه وي، ددې شخه وروسته رسول الله ﷺ د هغه د مور او پلار حال بیانولو کي وفرمایل:

أَبَوَيْهِ فَقَالَ أَبُوهُ طِوَالٌ ضَرْبُ اللَّحْمِ كَأَنَّ أَنْفَهُ مِنْقَارٌ وَأُمُّهُ امراة فِرْضَاخِيَّةٌ

د هغه پلار به اوږد او نری وي د هغه پزه به داسي وي ګویا چي یوه مشوکه د مرغۍ ده او د هغه مور به غټه تازه

طَوِيلَةُ الْيَدَيْنِ فَقَالَ أَبُو بَكْرَةَ فَسَمِعْنَا بِمَوْلُودٍ فِي الْيَهُودِ بِالْمَدِينَةِ فَذَهَبْتُ

او اوږدو لاسونو والا وي، ابوبکره رضی اللہ عنہ وایي موږ د مدینې په یهودو کي د یو داسي ماشوم د پیدا کېدو خبر واوریدی،

أَنَا وَالزُّبَيْرُ بْنُ الْعَوَّامِ حَتَّى دَخَلْنَا عَلَى أَبَوَيْهِ فَإِذَا نَعْتُ رَسُولِ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ

او زه او زبیر بن عوام د هغه مور او پلار ته ورغلو نو موږ ولیدل چي هغوئ دواړه داسي وه لکه څرنګه چي رسول الله ﷺ د هغوئ په اړه فرمايلي وه

عَلَيْهِ وَسَلَّمَ فِيهِمَا فَقُلْنَا هَلْ لَكُمَا وَلَدٌ فَقَالَا مَكَثْنَا ثَلَاثِينَ عَامًا لَا يُولَدُ لَنَا

موږ د هغوئ څخه وپوښتل ايا ستاسو زوی سته ، هغوئ وويل ديرش کاله پوري موږ بې اولاده وو

وَلَدٌ ثُمَّ وُلِدَ لَنَا غُلَامٌ أَعْوَرُ أَضْرس وَأَقَلُّهُ مَنْفَعَةً تَنَامُ عَيْنَاهُ وَلَا يَنَامُ قَلْبُهُ

بيا مو يو سترګي زوی پيدا سو چي د هغه څخه موږ ته هيڅ ګټه نه رسيږي د هغه سترګي بيدې دي او زړه يې بيده نه دی ،

قَالَ فَخَرَجْنَا مِنْ عِنْدِهِمَا فَإِذَا هُوَ مُنْجَدِلٌ فِي الشَّمْسِ فِي قَطِيفَةٍ لَهُ وَلَهُ

ابوبکره رضي الله عنه وايي موږ د هغوئ څخه را روان سوو چي ناڅاپه موږ هغه هلک وليدی چي په لمر کي څادر اغوستی پروت وو او د ځان سره ګډ وو

هَمْهَمَةٌ فَتَكَشَّفَ عَنْ رَأْسِهِ فَقَالَ مَا قُلْتُمَا قُلْنَا وَهَلْ سَمِعْتَ مَا قُلْنَا قَالَ

نَعَمْ تَنَامُ عَيْنَايَ وَلَا يَنَامُ قَلْبِي. رواه الترمذي.

چي په پوهه کي نه راتلل ، هغه (يعني ابن صياد) د سر څخه څادر ليري کړ او موږ ته يې وويل تاسو څه وويل ؟ موږ ورته وويل څه چي موږ وويل هغه تا واوريدل ؟ هغه وويل : هو ، زما سترګي بيدې دي او زړه مي بيده نه وي، ترمذي.

تخريج : سنن الترمذي ۴\۴۴۹، رقم: ۲۲۴۸.

د لغاتو حل : اضرس: اى عظيم الضرس وهو السن والمراد به الناب. طوال: مبالغة طويل. فرضاخية: اى ضخمة عظيمة، منجدل: اى ملقى على وجه الارض.

تشريح: مګر د هغه زړه نه بيديږي، مطلب دادی چي د وسوسو د زياتوب او د فاسده فکرونو د راتلو په وجه د بېده کېدو په وخت کي هم د هغه څخه فاسد فکرونه نه بېليږي، په دې توګه چي شيطان هغه ته القاء کوي لکه چي د افکار صالحه زياتوب او وحي راتلو په وجه د رسول الله ﷺ زړه مبارک به د خوب په حالت کي هم نه بېده کيدی .

ایا رسول الله ﷺ هم ابن صیاد دجال گنهی

﴿۵۲۷۰﴾: وَعَنْ جَابِرٍ أن امرأة من اليهود بالمدينة ولدت غلاما ممسوحة

د حضرت جابر رضی الله عنه څخه روایت دی چي د مدينې د يوې يهودي ښځي يو ماشوم پيدا سو چي د هغه يوه سترګه پټه وه (يعني نه ننوتلې وه او نه وتلې وه)

عينه طالعة نابه فأشفق رسول الله ﷺ أن يكون الدجال فوجده تحت

او غابنونه يې دباندي راوتلې وه ، د رسول الله ﷺ سره بيره پيدا سوه چي دا دجال نه وي (يوه ورځ رسول الله ﷺ د هغه د ليدو لپاره تشريف يوور)

قطيفة يهمهم . فآذنته أمه فقالت : يا عبد الله هذا أبو القاسم فخرج

هغه (ابن صياد) يو څادر اغوستی وو او کرار کرار يې يو څه ويل چي په پوهه کي نه راتلل (يعني موږ نه پوهيدو چي هغه څه وايي) د هغه مور هغه ته وويل اې عبدالله ! دا ابو القاسم ﷺ

من القطيفة فقال رسول الله ﷺ : ما لها قاتلها الله ؟ لو تركته لبين " فذكر

ولاړ دی نو هغه سر د څادر څخه را وایستی ، رسول الله ﷺ وفرمايل : دغه ښځي ته څه سوي دي الله تعالی دي دا هلاکه کړي (چي هغې ابن صياد خبر کړ) که هغه يې پر خپل حال پرې ايښی

مثل معنى حديث ابن عمر فقال عمر بن الخطاب ائذن لي يا رسول الله

وای نو هغه به خپل حال ظاهر کړی وای ، ددې څخه وروسته جابر رضی الله عنه د حضرت عمر رضی الله عنه د حديث په ډول حديث بيان کړ يعني حضرت عمر رضی الله عنه عرض وکړ اې دالله رسوله ! که تاسو اجازه

فأقتله فقال رسول الله ﷺ : " إن يكن هو فليست صاحبه إنما صاحبه

راکړئ نو زه يې قتلوم، رسول الله ﷺ ورته وفرمايل که دا هغه دجال وي نو ته دده قاتل نه يې

عيسى بن مريم وإلا يكن هو فليس لك أتقتل رجلا من أهل العهد " .

فلم يزل رسول الله ﷺ مشفقا أنه هو الدجال . رواه في شرح السنة

بلکه دده قاتل به عيسى بن مريم عليه السلام وي او که دی هغه دجال نه وي نو تا ته دداسي

سړي وژل روا نه دي کوم چي زموږ په ذمه کي دی ، رسول الله ﷺ به همېشه په دغه بيره کي وو چي دا ابن صياد خو به دجال نه وي . شرح السنه

تخريج البغوي في شرح السنة ۱۵\۷۸، رقم: ۴۲۷۴.

تشريح په حديث کي د ابن صياد په اړه چي د کومي پېښي ذکر سوی دی دا د هغه وخت ده کله چي هغه مسلمان سوی نه وو او په عامه توګه خلکو د هغه په اړه ډول ډول بيري درلودلې ځکه حضرت عمر رضي الله عنه د هغه د وژني اجازه غوښتې وه ، که څه هم هغه وروسته مسلمان سوی دی مګر د اسلام راوړلو څخه وروسته هغه د خپل فاسدو خيالاتو څخه ګرځېدلی نه وو لکه چي د ابو سعيد خدري رضي الله عنه په روايت کي تېر سول چي هغه د مکې د سفر په دوران کي دا اقرار کړی وو که چيري زه دجال سم نو زه به خوشحاله سم او ثر ګنده ده چي دا کفر دی او د هغه ددغه خبري څخه دا اندازه لګول کيږي چي هغه به د کومي درجې مسلمان وي .

ځينو محققينو ويلي دي چي د ابن صياد په اړه چي حديثونه او روايتونه منقول دي که څه هم د هغو په منځ کي اختلافات دي او د هغو په اړه د علماوو متفقه فيصله نسته مګر په دغه حديث کي د رسول الله ﷺ د تعلق سره چي دا بيان سوي دي چي رسول الله ﷺ د ابن صياد ددجال کېدو په بېره کي وو ، ددې دا توجيه او تاويل ضروري دی چي تر څو پوري رسول الله ﷺ ابن صياد دجال ګڼې مګر کله چي د تميم داري رضي الله عنه د پېښي څخه او د وحي په ذريعه هم رسول الله ﷺ ته دا يقين تر لاسه سو چي دجال به څوک وي او رسول الله ﷺ ته دا خبره ثرګنده سوه چي ابن صياد هغه ذات يعني دجال نه دی کوم چي ګڼل کيږي ، ددې تائيد د حضرت ابو سعيد خدري رضي الله عنه ددغه حديث څخه هم کيږي چي په هغه کي د مکې د سفر په دوران کي د ابن صياد د هغه د ليدني او خبرو ذکر دی ، پاته سوه دا خبره چي رسول الله ﷺ د دجال د مور او پلار په اړه څه ښوولي وه . هغه د ابن صياد پر مور او پلار صادق راغلل نو له دې څخه دا نه ثابتيږي چي ابن صياد دجال وو ځکه چي په دوو بېلو کسانو کي تر لاسه کېدونکي اوصاف او خاصيتونه په خپلو کي يو ډول کېدل د هغه دواړو سره يو کېدل نه لازموي ، همدارنګه د حضرت عمر رضي الله عنه او نورو قسم کول چي ابن صياد دجال دی او د رسول الله ﷺ منع نه کول د هغه وخت خبره ده کله چي د دجال حالات په تفصيل سره معلوم نه وه او په دجال کي ځيني خبري داسي وې چي د بيري سبب ګرځېدای سوې ځکه رسول الله ﷺ هغه وخت د خپل امت په اړه د احتياط له موخي وهم کوی چي ابن صياد خو به دجال نه وي او زما د امت خلک په فتنه او فساد کي اخته نه کړي .

وهذا الباب خال عن الفصل الثالث. (په دغه باب کي دريم فصل نه سته)

بَابُ نُزُوْلِ عِيْسٰی عَلَيْهِ الصَّلٰوةُ وَالسَّلَامُ

(د حضرت عیسی علیہ السلام د راکښته کېدو بیان)

د حضرت عیسی علیہ السلام د راکښته کېدو څخه مراد د هغه د آسمان څخه مځکي ته راکښته کېدل دي، دا خبره د صحيح حديثونو په ذريعه په تحقيق سره ثابته ده چي قيامت ته نژدې به حضرت عیسی علیہ السلام د آسمان څخه مځکي ته په راکښته کېدو سره دنيا ته راسي او د حضرت محمد صلی اللہ علیہ وسلم د دين پيروي به کوي او خپل ټول احکام به د شريعت محمدي مطابق عملي کوي، او کوم چي ددې خبري تعلق دی چي حضرت عیسی علیہ السلام به ځيني داسي احکام هم جاري کوي چي په شريعت محمدي کي به نه وي لکه محصول پورته کول او داسي نور، نو هغه بيان د وخت د قبيل څخه دی لکه چي د نسخ مسئله ده او په دې اعتبار سره به په هغه زمانه کي دغه احکام د شريعت محمدي يوه برخه وي.

اَلْفَصْلُ الْأَوَّلُ (لومړی فصل)

د عیسی علیہ السلام د نازلېدو ذکر

﴿۵۴۷۱﴾: وَعَنْ اَبِيْ هُرَيْرَةَ قَالَ قَالَ رَسُولُ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ وَالَّذِي

د حضرت ابو هريره رضی اللہ عنہ څخه روايت دئ چي رسول الله صلی اللہ علیہ وسلم وفرمايل: قسم په هغه ذات چي د

نَفْسِي بِيَدِهِ لَيُوشِكَنَّ أَنْ يَنْزِلَ فِيكُمْ ابْنُ مَرْيَمَ حَكَمًا عَدْلًا فَيَكْسِرَ

هغه په واک کي زما روح ده ډېر ژر په تاسو کي به ابن مريم نازل سي چي يو عادل حاکم به وي،

الصَّلِيبَ وَيَقْتُلَ الْخِنْزِيرَ وَيَضَعَ الْجِزْيَةَ وَيَفِيضَ الْمَالُ حَتَّى لَا يَقْبَلَهُ أَحَدٌ

صليب به مات کړي خنزير به قتل کړي، جزيه به پورته کړي مال به زيات کړي تر دې چي هيڅوک به يې خواهشمند پاته نه سي

حَتَّى تَكُونَ السَّجْدَةُ الْوَاحِدَةُ خَيْرًا مِنَ الدُّنْيَا وَمَا فِيهَا ثُمَّ يَقُولُ أَبُو هُرَيْرَةَ

او يوه سجده کول به هغه وخت د دنيا او د د هغه د ټولو شيانو څخه غوره وي، ددې څخه وروسته ابو هريره رضی اللہ عنہ وويل (که تاسو ته په دې کي څه شک وي)

فَاقْرَءُوا إِنْ شِئْتُمْ وَإِنْ مِنْ أَهْلِ الْكِتَابِ إِلَّا لَيُؤْمِنَنَّ بِهِ قَبْلَ مَوْتِهِ الاية . متفق عليه.

نو دا آيت ووايا ست (وان من ا هل الكتاب الا ليؤمنن به قبل موته ...الخ)، (هيڅ) اهل كتاب به داسي پاته نه سي چي د حضرت عيسى عليه السلام د وفات څخه مخكي ايمان را نه وړي. بخاري او مسلم.

تخريج: صحيح البخاري (فتح الباري): ۴\ ۴۱۴، رقم: ۲۲۲۲، ومسلم ۱\ ۱۳۵، رقم: ۲۴۲- ۱۵۵.

تشريح: صليب په اصل كي د دوو مثلث لرګيو نوم دى چي د جمع په شكل كي وي او دا شكل ښكاره كوي چي يو سړى چي په دار زړول سوى وي، د عيسايانو عقيده ده چي حضرت عيسى عليه السلام په دار سوى دى او بيا الله جل جلاله په ژوندي كولو سره آسمان ته وغوښتى ځكه هغوئ د دار دغه شكل خپل مذهبي نښه ګرځولې ده او دغه مذهبي نښه د هغوئ په هر شي كي ښكاره وي، څرنګه چي اهل هنود په خپلو غاړو كي زنار اچوي همدارنګه عيسايان هم د دار دغه نښه په خپلو غاړو كي اچوي، ځينو كسانو پر دغه نښه د حضرت عيسى عليه السلام عكس جوړ كړى وي چي دهغوئ د عقيدې سره سم د حضرت عيسى عليه السلام د دار ځړولو يادونه په بشپړ صورت كي پاته سي نو هغوئ به صليب مات كړي، ددې څخه مراد دادى چي حضرت عيسى عليه السلام به نصرانيت (يعني عيسايي مذهب) باطل او كالعدم وګرځوي او شريعت محمدي به جاري او نافذ دين وګرځوي چي د هغوئ هر حكم او فيصله به د ملت حنيفه مطابق وي.

محصول به پورته كړي، مطلب دا چي د اسلامي حكومت او شرعي رواج يو اصل دادى چي د هغه په حدودو كي كه يو كافر اوسېدل غواړي نو هغه به يو خاص محصول چي هغه ته جزيه وايي ادا كوي او هغه ته ذمي ويل كيږي، نو عيسى عليه السلام به د محصول دغه اصل ختم كړي او دا قانون به نافذ كړي چي د اسلامي هيوادو اوسېدونكي يوازي مسلمان كېداى سي نو هغه به حكم وكړي چي څومره ذميان وي هغوئ دي ټول مسلمانان سي، د هغه حكومت به د هيچا څخه هم د حق دين پرته بل څه قبول نه كړي او هغه وخت به د حضرت عيسى عليه السلام د بركته د هر سړي ذهن او فكر خير ته مائل وي ځكه چي ټول كافران به ايمان راوړي نو ددغه جملې اصلي مطلب دادى چي هغه به عيسائيت او د هغه ټول احكام او آثار بالكل ختم كړي او يوازي اسلامي شريعت به جاري او نافذ وګرځوي، ځينو حضراتو ويلي دي چي حضرت عيسى عليه السلام به

د ذميانو څخه محصول ددې لپاره پورته کړي چي په هغه زمانه کي به مال او دولت دومره پراخ وي چي د هغه څخه د محصول اخيستونکی به څوک نه وي ، ددغه مطلب تائيد د مخکني عبارت څخه هم کيږي.

حتى لايقبله احد حتى تكون السجدة ...الخ: په دغه جمله کي لومړنی حتى د يفيض المال سره متعلق دی او دوهم حتى د هغه ټولو مضامينو سره متعلق دی کوم چي مخکي ذکر سوي دي ، يعني دصليب ماتول او داسي نور ، مطلب دا چي اسلام به داسي خپور سي او د اطاعت او عبادت په ذريعه به په خپلو کي داسي محبت پيدا سي چي يوه سجده به د دنيا تر ټول مال او سامان غوره او قيمتي ګڼل کيږي ، هسي په هره زمانه کي او هر وخت کي يوه سجده د دنيا او د دنيا د ټولو شيانو څخه غوره ده او دا يوازي د حضرت عيسى عليه السلام د زمانې ځانګړتيا نه ده، مګر دا خبره په ځانګړې توګه ځکه سوې ده چي په هغه زمانه کي به عبادت او طاعت د انسان د طبيعت جز او د نفس تقاضا وګرځي او خلک به په طبعي توګه سره يوه سجده د دنيا تر ټول مال او سامان خوښوي مګر دا هم کېدای سي چي دوهم حتى هم د يفيض سره متعلق وي ، په دغه صورت کي به مطلب دا وي چي هغه وخت به د مال او دولت دومره پراخي وي او هر سړی به دومره مستغني او بې نيازه سي چي د هيچا به مال او دولت ته خواهش نه وي او کله چي دا صورت حال وي نو دمال مصرف کولو فضيلت او غوره والی به هم ولاړ سي او اصل ذوق او شوق به د لمانځه سره پاته سي چي خلک به په يوه سجده کي کوم کيف او خير محسوسوي هغه به د دنيا په هيڅ شي کي نه تر لاسه کوي.

حضرت ابو هريره رضي الله عنه چي د کوم آيت يادونه وکړه د هغه مطلب دا دی چي په آخره زمانه کي به د حضرت عيسى عليه السلام د نازلېدو وروسته کله چي د يو ملت او يو دين دور سي او د ټولو خلکو په منځ کي به ديني او مذهبي اختلاف او منافات ختم سي نو د يهودو او نصارا هغه اختلاف او نفرت به هم ختم سي کوم چي هغوئ د حضرت عيسى عليه السلام په اړه لري او يهود او نصارا به هم دا ايمان او عقيده ولري کوم چي د مسلمانانو ده چي حضرت عيسى عليه السلام د الله جل جلاله بنده او د هغه رسول دی او د هغه د يوې مينځي زوی دی، څرګنده دي وي چي اهل کتاب يعني يهود او نصارا څخه مراد هغه يهود او نصارا دي چي د هغه زمانې به وي ، ددغه آيت يو تفسير دا هم دی چي بيان کړل سو او حضرت ابو هريره رضي الله عنه په دې اعتبار دغه آيت د حديث د مضمون دليل ګرځولی دی ، دوهم تفسير دا بيانيږي چي په اهل کتابو کي هيڅوک داسي نسته چي د خپل مرګ څخه مخکي ايمان نه راوړي مګر هغه وخت د هغه ايمان راوړل اعتبار نه لري ، ددغه تفسير په رڼا

كي يو احتمال دا هم كېداى سي چي په (الا ليؤمنن به) كي د به ضمير رسول الله ﷺ يا الله ﷻ ته راجع دى كه د آيت د تفسير دغه مراد واخيستل سي نو بيا مطلب دا كيږي چي هر كافر به د مړ كېدو څخه مخكي د زكندن په حالت كي په اضطراري توګه ايمان راوړي مګر دهغه وخت ايمان به هيڅ ګټه نه ورسوي ځكه نو پكار ده چي هغه كافر د وخت څخه مخكي په قصد او اختيار سره د ايمان په قبلولو اماده سي .

د حضرت عيسى عليه السلام د زماني بركتونه

﴿۵۲۷۲﴾ : وَعَنْهُ قَالَ قَالَ رَسُولُ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ وَاللّٰهِ لَيَنْزِلَنَّ ابْنُ

د حضرت ابو هريره رضي الله عنه څخه روايت دئ چي رسول الله ﷺ وفرمايل : په الله تعالى دي مي قسم

مَرْيَمَ حَكَمًا عَادِلًا فَلَيَكْسِرَنَّ الصَّلِيبَ وَلَيَقْتُلَنَّ الْخِنْزِيرَ وَلَيَضَعَنَّ الْجِزْيَةَ

وي يقينا ابن مريم به نازليږي هغه به يو عادل حاكم وي هغه به صليب مات كړي ، خنزير به قتل كړي جزيه به پورته كړي

وَلَتُتْرَكَنَّ الْقِلَاصُ فَلَا يُسْعَى عَلَيْهَا وَلَتَذْهَبَنَّ الشَّحْنَاءُ وَالتَّبَاغُضُ وَالتَّحَاسُدُ

ځواني اوښي به پرېښودل سي يعني د هغو څخه د سپرلۍ او بار وړلو كار به نه اخيستل كيږي د خلكو د زړونو څخه به كينه ، بغض او حسد ولاړ سي

وَلَيَدْعُوَنَّ إِلَى الْمَالِ فَلَا يَقْبَلُهُ أَحَدٌ. رواه مسلم و في رواية لهما قال كيف انتم اذا انزل ابن مريم فيكم وامامكم منكم .

او حضرت عيسى عليه السلام به خلك د مال او دولت اخستلو ته را بولي مګر د مال او دولت د كثرت په سبب به يې هيڅوك نه قبلوي . مسلم.

تخريج صحيح مسلم: ۱۳٦/۱، رقم: ۲۴۳، - ۱۵۵.

تشريح ځواني اوښي به پرېښودل سي: مطلب دا چي هغه وخت به د سپرلۍ او بار وړلو لپاره داسي تېز او پرمختللي شيان پيدا سي او هغه به دومره زيات وي چي د نقل او حمل د مقاصدو لپاره به چا ته د اوښانو اړتيا نه وي، د دغه جملې دا معنى ده چي حضرت عيسى عليه السلام به چا ته دا حكم نه وركوي چي هغه په زكوة كي د وركولو لپاره خپلي اوښي هغه ته د راوستلو تكليف

وکړي ځکه چي په هغه زمانه کي به زکوة اخستونکی نه وي او دا هم ویل کیږي چي د غه جمله په اصل کي د دې خبري کنایه ده چي په هغه زمانه کي به خلک د خپل معاشي اړتیاوو څخه دومره بې پروا وي چي د ضروري شیانو او مال تر لاسه کولو لپاره به په مځکه کي سفر کول او داسي نور تکلیفونه ګالل موقوف سي.

هغه وخت به ستاسو څه حال وي...الخ: د دغه جملې مطلب علماوو په دوو صورتو کي بیان کړی دی، یو خو دا چي د عیسی عليه السلام د نازلېدو څخه وروسته به هم ستاسو د لمونځو امام ستاسو څخه یو کس وي او هغه امام مهدي عليه السلام دی او خپله حضرت عیسی عليه السلام به هم د هغه اقتداء کوي، دغه خبره به د دغه امت محمدي د تعظیم او تکریم له کبله وي لکه چي په مخکني حدیث کي وضاحت سوی دی، نو په هغه زمانه کي به حاکم او خلیفه او دخیر د تعلیم او تقلین کولو ذمه دار حضرت عیسی عليه السلام وي مګر د لمانځه د امامت شرف به حضرت امام مهدي عليه السلام ته تر لاسه وي، مګر په ځینو روایتو کي دا منقول دي چي کله حضرت عیسی عليه السلام د آسمان څخه راکښته سي نو حضرت امام مهدي عليه السلام به د مسلمانانو سره د لمانځه په حالت کي وي او غواړي به چي د امامت د مصلی څخه تر شا سي چي حضرت عیسی عليه السلام امامت وکړي، مګر حضرت عیسی عليه السلام به د هغه وخت د امامت لمونځ نه ورکوي بلکه خپله به په حضرت امام مهدي عليه السلام پسي لمونځ کوي مګر د هغه وخت د لمانځه څخه وروسته به حضرت عیسی عليه السلام امامت کوي ځکه چي هغه به په هر حال د حضرت امام مهدي عليه السلام څخه افضل وي.

په دوهم صورت کي د دغه جملې مطلب دادی چي (او ستاسو امام به ستاسو څخه وي) دلته د امام څخه مراد خپله حضرت عیسی عليه السلام دی یعني حضرت عیسی عليه السلام به د مسلمانانو د شریعت مطابق حکم جاري کوي نه دا چي د انجیل د تعلیماتو مطابق، بلکه د هغه ټول نظام به د قرآن کریم او احادیث نبوي پر طریقه وي او د هغه ټول معاملات به د مسلمانانو د دین او ملت مطابق وي لکه چي په روایت کي منقول دي چي حضرت عیسی عليه السلام به ستاسو د پروردګار د کتاب (قرآن کریم) او ستاسو د پیغمبر ﷺ د سنت مطابق ستاسو امامت کوي، په دې اعتبار به هغه د مسلمانانو د ملت یو فرد وي او هغه چي مسلمانانو ته لمونځ ورکوي نو د دې دا مطلب دی چي د هغوئ څخه یو کس د هغوئ امام دی.

د حضرت عیسی عليه السلام د امامت څخه انکار

﴿۵۲۷۳﴾: وَعَنْ جَابِرٍ قَالَ قَالَ رَسُولُ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ لَا تَزَالُ طَائِفَةٌ

د حضرت جابر رضي الله عنه څخه روايت دئ چي رسول الله ﷺ وفرمايل : زما په امت كي به يو ډله تل

مِنْ أُمَّتِي يُقَاتِلُونَ عَلَى الْحَقِّ ظَاهِرِينَ إِلَى يَوْمِ الْقِيَامَةِ قَالَ فَيَنْزِلُ عِيسَى

د حق لپاره جنګ كوي او تر قيامته پوري به دد ښمنانو پر ملک غلبه تر لاسه كوي ، بيا به

ابْنُ مَرْيَمَ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ فَيَقُولُ أَمِيرُهُمْ تَعَالَ صَلِّ لَنَا فَيَقُولُ لَا إِنَّ

بَعْضَكُمْ عَلَى بَعْضٍ أُمَرَاءُ تَكْرِمَةَ اللهِ هَذِهِ الْأُمَّةَ. رواه مسلم.

عيسى عليه السلام نازل سي او زما د امت امير به هغه ته وايي راځئ موږ ته لمونځ راكړئ حضرت عيسى عليه السلام به ورته وايي زه امامت نه كوم ځكه چي په تاسو كي ځيني خلک به پر ځينو امام او امير وي او الله تعالى دا امت بزرګ او غوره ګڼي . مسلم.

تخريج : صحيح مسلم: ۱\۱۳۷، رقم: ۲۴۷- ۱۵۶.

وهذا الباب خال عن الفصل الثاني. په دې باب كي دويم فصل نسته

اَلْفَصْلُ الثَّالِث (دريم فصل)

حضرت عيسى عليه السلام به د رسول الله ﷺ په روضې مباركي كي دفن كړل سي

﴿۵۲۷۴﴾: عَنْ عَبْدِ اللهِ بْنِ عَمْرٍو قَالَ قَالَ رَسُولُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ

د حضرت عبدالله بن عمر رضي الله عنه څخه روايت دئ چي رسول الله ﷺ وفرمايل :

يَنْزِلُ عِيسَى بْنُ مَرْيَمَ إِلَى الْأَرْضِ فَيَتَزَوَّجُ وَيُولَدُ لَهُ وَيَمْكُثُ خَمْسًا وَّأَرْبَعِينَ

عيسى بن مريم عليهما السلام به پر مځكه نازل سي نكاح به وكړي اولاد به يې پيدا سي هغه به (۴۵) كاله په دنيا كي وي

سَنَةً ثُمَّ يَمُوتُ فَيُدْفَنُ مَعِي فِي قَبْرِي فَأَقُومُ أَنَا وَعِيسَى بْنُ مَرْيَمَ فِي قَبْرٍ

وَّاحِدٍ بَيْنَ أَبِي بَكْرٍ وَّعُمَرُ . رواه ابن الجوزي في كتاب الوفاء.

بيا به وفات سي او زما په مقبره كي به دفن كړل سي د قيامت په ورځ به زه او عيسى عليه السلام د يوې

مقبرې څخه د ابوبکر رضی اللہ عنہ او عمر رضی اللہ عنہ په مينځ کي ولاړ (راپورته) سو ، ابن جوزي.

تشريح: د هغه د اوسېدني وخت به پنځه څلوېښت کاله وي، دا خبره په څرګنده د هغه قول خلاف ده چي د هغه څخه دا څرګندېږي چي کله حضرت عيسى علیہ السلام آسمان ته پورته کړل سو نو د هغه عمر درو ديرش (۳۳) کاله وو او بيا د آسمان څخه مځکي ته د راکښته کېدو وروسته به هغه اووه کاله په دنيا کي وي، همدارنګه په دنيا کي د هغه ټول وخت به څلوېښت کاله کيږي، څرګنده دي وي چي د آسمان څخه د راکښته کېدو وروسته په دنيا کي د حضرت عيسى علیہ السلام د اوسېدو وخت اووه کاله مسلم نقل کړی دی نو دا يوه خبره خو فيصله ده چي په ذکر سوي حديث کي د پنځه څلوېښت کالو وخت نقل سوی دی نو هغه په دنيا کي د هغه مجموعي وخت دی چي په دغه وخت کي د هغه آسمان ته د ختلو څخه مځکي د قيام وخت هم شامل دی او د آسمان څخه د راکښته کېدو وروسته هم ، د څلوېښت يا پنځه څلوېښتو کالو د فرق په اړه يا خو دا ويل کيږي چي د څلوېښت کالو والا قول کي کسور يعني د پنځه په حذف کولو سره وخت مراد اخيستل سوی دی يا دا چي هغه روايت راجح وګرځول سي کوم چي په صحيح مسلم کي منقول دی.

د ابوبکر او عمر رضي الله عنهما په منځ کي به پاڅو ، له دې څخه دا خبره ثابتيږي چي په حديث کي د قبر څخه مراد مقبره يعني روضه مطهره ده ، د رواياتو څخه معلوميږي چي د رسول الله ﷺ په روضه اقدس کي د يو قبر ځای خالي دی او هغه ځای هيچا ته هم تر لاسه نه سو ، امام حسن رضی اللہ عنہ وفات سو نو خلکو وغوښتل چي د هغه قبر په هغه خالي ځای کي جوړ کړل سي او بي بي عائشه رضی اللہ عنہا چي د هغې سرای وو د هغه لپاره راضي سوې هم وه مګر د بنو اميه د سخت مخالفت په وجه حضرت حسن رضی اللہ عنہ په روضه اقدس کي ښخ نه کړل سو ، بيا په هغه ځای کي د حضرت عبدالرحمن بن عوف رضی اللہ عنہ د دفن کولو لپاره هم بي بي عائشه رضی اللہ عنہا راضي سوې وه خو د هغه قبر هم هلته جوړ نه کړل سو تر دې چي خپله بي بي عائشې رضی اللہ عنہا ته هم خلکو وويل چي دا ستا کور دی موږ به تا دلته دفن کړو ، مګر هغې وويل: زما خوښه دا نه ده ، تاسو ما خپلو بنو ته نژدې په جنت البقيع کي دفن کړئ. له دې څخه څرګنده سوه چي هغه خالي ځای د هيچا په برخه نه سو ددې لپاره چي د قدرت دا حکمت وو چي هلته به د حضرت عيسى علیہ السلام قبر جوړيږي.

==========

بَابُ قُرْبِ السَّاعَةِ وَاِنَّ مَنْ مَاتَ فَقَدْ قَامَتْ قِيَامَتُهُ

(د قیامت نژدې کېدل او ددې خبرې بیان چې څوک مړ سي نو پر هغه قیامت قائم سو)

زیاته صحیح خبره داده چې د قیامت نژدې کېدل په دې معنی دي چې الله ﷻ ددغه کائناتو د بقاء او وجود چې کوم وخت ټاکلی دی د هغه زیاته برخه تېره سوې ده او اوس چې کومه برخه پاته سوې ده هغه ډېره کمه ده.

دغه جمله (وان من مات فقد قامت قیامته)، څوک چې مړ سي نو پر هغه قیامت قائم سو، دغه جمله په اصل کې د یو حدیث الفاظ دي چې د کتاب مؤلف د باب عنوان گرځولي دي.

ددغه عبارت مطلب دادی چې کوم څوک مړ سي نو پر هغه باندې د هغه حالاتو او پړاوو ځیني برخې تېرې سي کوم چې د قیامت په ورځ پېښېدونکې دي.

د قیامت ډولونه

توربشتي رحمة الله علیه ویلي دي: قیامت پر درې ډوله دی یو قیامت کبری، کله چې ټول کائنات ختم کړل سي او بیا ټول خلک د جزا او سزا لپاره دوهم ځل راژوندي کړل سي، دوهم قیامت وسطی، یعني د یو نسل پاڅېدل او د هغه پر ځای د بل نسل راتلل چې قران ورته وایي، یعني د عهد داسي بدلېدل چې د یو نسل ټول هم عمره خلک وفات سي، دریم قیامت صغری، چې د یوه سړي مړ کېدل دي او دلته (وان من مات فقد قامت قیامته) کې دغه آخري ډول قیامت مراد دی، مگر د ساعة په اړه څرگنده خبره داده چې ددې څخه مراد قیامت کبری دی که د هغه تعلق د لومړني قیامت (یعني لومړنۍ شپیلۍ پوه کولو سره او ددغه کائناتو د ختمېدو) سره وي لکه چې د دغه ارشاد (لا تقوم الساعة الا علی اشرار الناس) څخه ثابته ده، او که د هغه تعلق د دوهم قیامت (یعني په دوهم وار شپیلۍ وهلو سره او د ټولو خلکو په دوهم ځل را ژوندي کولو سره د حشر په میدان کې جمع کېدل او داسي نورو) سره وي چې هغه په طامة کبری سره هم تعبیر کېږي، د ذکر سوي باب د لومړني حدیث په الفاظو (بعثت انا والساعة کهاتین) کې د ساعة لفظ د قیامت ددغه دواړو معناوو احتمال لري مگر وروسته چې د بي بي عائشې ﷺ کوم روایت راځي په هغه کې د ساعة څخه مراد قیامت وسطی دی.

اَلْفَصْلُ الْأَوَّلُ (لومړی فصل)

د قيامت د قرب ذكر

﴿۵۲۷۵﴾: وَعَنْ شُعْبَةَ عَنْ قَتَادَةَ عَنْ أَنَسٍ قَالَ قَالَ رَسُولُ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ

شعبه رضي الله عنه د حضرت قتاده او انس (رضي الله عنهما) څخه روايت كوي چي رسول الله ﷺ

وَسَلَّمَ بعثت انا والساعة كهاتين قال شعبةُ وَسَمِعْتُ قَتَادَةَ يَقُولُ فِي

وفرمايل: زه او قيامت دداسي دوو ګوتو په ډول (يوځاى) راليږل سوي يو، شعبه رضي الله عنه بيان وکړ چي ما د قتاده رضي الله عنه څخه د حديث شرح كولو سره دا واوريدل

قَصَصِهِ كَفَضْلِ إِحْدَاهُمَا عَلَى الْأُخْرَى فَلَا أَدْرِي أَذَكَرَهُ عَنْ أَنَسٍ أَوْ قَالَهُ قَتَادَةُ. متفق عليه.

لكه څرنګه چي د منځ ګوته د شهادت د ګوتي څخه لږ لويه ده داسي قيامت به زما څخه وروسته ددې مناسب سره راځي زه دا نه سم ويلای چي دا شرح د قتاده ده يا دانس څخه هغه اوريدلې ده. بخاري او مسلم.

تخريج صحيح البخاري (فتح الباري): ۱۱\۳۴۷، رقم: ۶۵۰۴، ومسلم ۴\۲۲۶۸ - ۲۲۶۹.

د قيامت وخت هيچا ته معلوم نه دی

﴿۵۲۷۶﴾: وَعَنْ جَابِرٍ قَالَ سَمِعْتُ النَّبِيَّ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ يَقُولُ قَبْلَ ان

د حضرت جابر رضي الله عنه څخه روايت دی چي ما د رسول الله ﷺ څخه د هغه د وفات څخه يوه مياشت

يموت بِشَهْرٍ تسئلوني عن الساعة وانما علمها عند الله واقسم بالله ما على

مخكي اوريدلي دي چي فرمايل يې: تاسو زما څخه د قيامت د قائميدو د وخت پوښتني كولې نو ددې علم خو يوازي الله تعالى ته دی مګر زه په الله تعالى قسم خورم چي

الارض مِنْ نَفْسٍ مَنْفُوسَةٍ يَأْتِي عَلَيْهَا مِائَةُ سَنَةٍ وَهِيَ حَيَّةٌ يَوْمَئِذٍ. رواه مسلم

پر مځكه دا وخت كوم نفس موجود دى يا كوم چي پيدا كړل سوى دى داسي نه دى چي پر هغه سل كاله تير سي او هغه دي موجود وي (يعني په دنيا كي دا وخت چي كوم خلك موجود دي يا كوم چي نن سبا پيدا سوي دي پر دوئ به سل كاله نه وي تير سوي بلكه په سل كاله كي دننه به مړ سي) . مسلم.

تخريج : صحيح مسلم ۴\۱۹٦٦، رقم: ۲۱۸- ۲۵۳۸.

د لغاتو حل : منفوسة: صفة نفس، والمعنى ما من نفس مولودة اليوم.

تشريح : د هغه ټاكلى وخت د الله ﷻ په علم كي دى، ددغه جملې په ذريعه رسول الله ﷺ ثرگنده كړل چي تاسو خلك د قيامت كبرى د راتلو د وخت پوښتنه مه كوئ، ما ته خپله د هغه ټاكل سوى وخت معلوم نه دى او هيڅوك يې په دې اړه خبر كړى نه دى يوازي هغه پوهيږي چي قيامت به كله راځي، مگر د قيامت صغرى او وسطى په اړه څه چي ما ته معلوم دي هغه تاسو ته بنيم، له دې وروسته رسول الله ﷺ په دې اړه خبرداري وفرمايه.

دا وخت د مځكي پر مخ باندي داسي هيڅوك موجود نه دى ...الخ: ددغه جملې په ذريعه رسول الله ﷺ قيامت وسطى ته اشاره وفرمايل چي دغه وخت زما په زمانه كي چي كوم خلك موجود دي او كوم نسل زموږ په وړاندي دى ددې خاتمه به د سلو كالو په وخت كي وسي له دې وروسته به په هغوئ كي هيڅوك ژوندى پاته نه سي ددغه نسل په خاتمې سره به يو عهد ختم سي او د يو نوي عهد (قران) پيل به وسي چي راتلونكى عهد (زمانه) به وي نو د پخواني نسل او پخواني عهد خاتمه او د هغه وروسته د نوي عهد او نوي نسل ابتدا قيامت وسطى دى او همدارنگه د هر انسان مرگ د هغه په اعتبار قيامت صغرى دى، ثرگنده دي وي چي رسول الله ﷺ د خپل عهد د نسل د خاتمې په ذريعه د صحابهٔ كرامو ژوند ته اشاره وفرمايل چي زما صحابه به د سلو كالو په دننه كي وفات سي مگر رسول الله ﷺ دا خبره د اكثر او غالب په اعتبار فرمايلي ده كنه نو ځيني صحابه كرام لكه حضرت انس رضي الله عنه او حضرت سلمان رضي الله عنه او داسي نور تر سلو كالو هم زيات ژوندى وه او كه دا وويل سي چي صحيح هم دا وي چي رسول الله ﷺ د كومو سلو كالو د وخت يادونه فرمايلې ده د هغه پيل د رسول الله ﷺ د هغه ارشاد د وخت څخه منل پكار دي لكه ثرنگه چي په راتلونكي يو حديث كي هم دلالت كوي نو په دې اعتبار سره د اكثر و غالب د قيد اړتيا نه پاته كيږي نو ځينو حضراتو خپل دا تحقيق بيان كړى دى چي د رسول الله ﷺ ددغه ارشاد په وخت كي څومره ژوندي وه يا په هغه زمانه كي نور اولياء الله پيدا

سول هغوئ ټول د هغه وخت څخه تر سلو کلو مخکي وفات سوي دي .

حضرت خضر علیہ السلام په دنيا کي ژوندی دی که يا؟

ځينو علماوو ددغه حديث څخه د حضرت خضر علیہ السلام په مرګ استدلال کړی دی ، دهغوئ وينا ده چي ددغه ارشاد په وخت کي د مځکي پر مخ باندي کوم خلک چي موجود او ژوندي وه په هغوئ کي حضرت خضر عليه السلام هم وو نو د مخبر صادق ﷺ ددغه ارشاد مطابق دا ضروري ده چي هغه ددوه سوه کاله وروسته په دنيا کي ژوندی نه وو پاته سوی او وفات سوی دی مګر نور علماء ددې جواب ورکوي چي د حضرت خضر علیہ السلام پېښه بالکل ځانګړې ده او د هغه ذات د ذکر سوي ارشاد څخه وتلی دی ځکه رسول الله ﷺ خو د خپل امت په اړه دا خبر ورکړی دی چي زما د امت هغه خلک کوم چي دا وخت موجود او ژوندي دي په سلو کالو کي دننه به وفات سي او ښکاره ده چي د حضرت خضر علیہ السلام تعلق ددې امت سره نه دی ځکه چي هيڅ نبي د بل نبي د امت څخه نه وي، ځينو حضراتو دا هم ويلي دي چي په دغه ارشاد کي د على الارض د قيد څخه د حضرت خضر او حضرت الياس عليهما السلام د ذکر سوي مفهوم ددائري څخه وتلي دي ځکه چي دغه دواړه هغه وخت پر مځکه نه وه بلکه پر اوبو باندي وه .

امام بغوي رحمۃ اللہ علیہ په تفسير معالم التنزيل کي ليکلي دي چي په انبياوو کي هم څلور کسان ژوندي دي په هغوئ کي دوه يعني حضرت خضر او حضرت الياس عليهما السلام د مځکي پر مخ باندي دي او دوه کسان يعني حضرت ادريس او حضرت عيسى عليهما السلام په آسمان کي دي، دا خبره بايد په ذهن کي وي چي د مشائخو څخه په تواتر داسي واقعې منقول دي چي د هغه څخه ثابتيږي چي حضرت خضر علیہ السلام په دغه دنيا کي ژوندی موجود دی ، که څه هم ځينو حضراتو دا تاويل کړی دی چي خضر په اصل کي يو منصب دی چي په هغه په هره زمانه کي څه نا څه فائز کيږي او د هغه په فرائضو کي مخلوق ته ګټه او مرسته رسول شامل دي مګر د اولياء کاملين منقولات او حالاتو څخه د هغه خضر ژوندي موجود کېدل ثابتيږي کوم چي د بني اسرائيلو څخه يو نبي او د حضرت موسى علیہ السلام مصاحب او ملګري وو .

د رسول الله ﷺ يو پشګوئي

﴿۵۲۷۷﴾ : وَعَنْ اَبِيْ سَعِيْدٍ عَنِ النَّبِيِّ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ قَالَ لَا يَأْتِي مِائَةُ سَنَةٍ وَعَلَى الْأَرْضِ نَفْسٌ مَنْفُوسَةٌ الْيَوْمَ . رواه مسلم .

د حضرت ابو سعيد رضی اللہ عنہ څخه روايت دئ چي رسول الله ﷺ وفرمايل : د سل کاله تيريدو څخه مخکي چي کوم خلک دا وخت پر مځکه موجود دي ټول به مړه سي. مسلم

تخريج: صحيح مسلم ۴\۱۹۶۷، رقم: ۲۱۹- ۲۵۳۹.

د قيامت په باره کي يو سوال او د هغه جواب

﴿۵۲۷۸﴾: وَعَنْ عَائِشَةَ قَالَتْ كَانَ رِجَالٌ مِنَ الْأَعْرَابِ يَأْتُونَ النَّبِيَّ صَلَّى اللهُ

د حضرت عائشي (رض) څخه روايت دی چي ډير خلک به د نبي کريم ﷺ په خدمت کي

عَلَيْهِ وَسَلَّمَ فَيَسْأَلُونَهُ عن السَّاعَةُ فَكَانَ يَنْظُرُ إِلَى أَصْغَرِهِمْ فَيَقُولُ إِنْ يَعِشْ هَذَا لَا يُدْرِكْهُ الْهَرَمُ حَتَّى تَقُومَ عَلَيْكُمْ سَاعَتُكُمْ . متفق عليه.

حاضريدل او د قيامت پوښتنه به يې کول ، رسول الله ﷺ به په هغوئ کي د کم عمر ماشوم ته وکتل او فرمايل به يې که دا هلک ژوندی پاته سو نو دده د سپين ږيرتوب د وخت راتلو څخه مخکي به پر تاسو ستاسو قيامت (يعني ستاسو مرګ) قائم سي . بخاري او مسلم

تخريج: صحيح البخاري (فتح الباري): ۱۱\۳۶۱، رقم: ۶۵۱۱، ومسلم ۴\۲۲۶۹، رقم: ۱۳۶- ۲۹۵۲.

تشريح: که دغه ماشوم ژوندی پاته سو...الخ: مطلب دادی چي د دغه ماشوم د سپين ږيرتوب عمر ته د رسېدو څخه مخکي به تاسو ټول وفات سئ ، همدارنګه رسول الله ﷺ د ذکر سوي وخت څخه وروسته د يو نسل د خاتمې او د يو قران يعني عهد ختمېدو ته اشاره وکړه او دا د يو پوره نسل ختمېدو او د يوې زمانې خپل وخت ته رسېدو سره ختمېدل يو ډول قيامت دی ځکه رسول الله ﷺ دا حقيقت (ساعتکم) يعني ستاسو قيامت سره تعبير کړ ، ددغه حديث په اړه ښکندره خبره دا معلوميږي چي پوښتنه کونکو د قيامت کبری په اړه پوښتنه وکړل او د هغوئ دغه سوال داسي وو چي د هغه صحيح جواب ورکول ممکن نه وو ځکه رسول الله ﷺ په حکيمانه انداز کي ذکر سوی جواب ورکړ.

ساعتکم، يعني ستاسو قيامت، ددې څخه مراد د ځينو حضراتو په نزد قيامت صغری يعني د پوښتنه کونکو مړ کېدل دي او ځينو شارحينو ددې څخه قيامت وسطی مراد اخيستی دی مطلب يې د هغوئ په ډول د عمر لرونکو ټولو خلکو مړ کېدل دي او دا فيصله ده چي دا خبره داکثر او غالب په اعتبار فرمايل سوې ده.

اَلْفَصْلُ الثَّانِي (دوهم فصل)

د قرب قيامت ذكر

﴿۵۲۷۹﴾: عَنِ الْمُسْتَوْرِ بْنِ شَدَّادٍ عَنِ النَّبِيِّ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ قَالَ بُعِثْتُ فِي نَفَسِ السَّاعَةِ فَسَبَقْتُهَا كَمَا سَبَقَتْ هَذِهِ هَذِهِ واشار بأُصْبُعَيْهِ السَّبَّابَةِ وَالْوُسْطَى. رواه الترمذي.

د حضرت مستورد بن شداد رضي الله عنه څخه روايت دئ چي رسول الله ﷺ وفرمايل: زه د قيامت په اول سر كي راليږل سوى يم بيا زه د قيامت څخه دومره را مخكي سوم څومره چي دا ګوته يعني منځني ګوته د دغه مسواكي ګوتي څخه مخكي ده، ددې فرمايلو سره رسول الله ﷺ درميانه او د شهادت ګوتي طرف ته اشاره وكړل. ترمذي.

تخريج: سنن الترمذي ۴\۴۲۹، رقم: ۲۲۱۳.

د لغاتو حل: المستورد بن شداد: يقال كان غلاما يوم قبض النبي ﷺ ولكنه سمع منه و روى عنه جماعة.

تشريح: مطلب دا چي څرنګه منځنۍ ګوته د شهادت د ګوتي څخه لږ مخكي ده همدارنګه زما د پيغمبرۍ زمانه د قيامت د راتلو د وخت څخه لږ مخكي ده، زه لږ مخكي راغلى يم او قيامت په ما پسې را روان دى.

په دنيا كي د امت محمدي د اوسيدو وخت

﴿۵۲۸۰﴾: وَعَنْ سَعْدِ بْنِ أَبِي وَقَّاصٍ عَنِ النَّبِيِّ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ قَالَ إِنِّي لَأَرْجُو أَنْ لَا تَعْجِزَ أُمَّتِي عِنْدَ رَبِّهَا أَنْ يُؤَخِّرَهُمْ نِصْفَ يَوْمٍ قِيلَ لِسَعْدٍ وَكَمْ نِصْفُ الْيَوْمِ قَالَ خَمْسُ مِائَةِ سَنَةٍ. رواه ابوداؤد.

د حضرت سعد بن ابي وقاص رضي الله عنه څخه روايت دئ چي رسول الله ﷺ وفرمايل: زه اميد لرم چي زما امت د خپل پروردګار په نظر كي دومره عاجزه نه دى چي د دوئ پروردګار ورته د نيمي ورځي مهلت وركړي د سعد بن ابي وقاص رضي الله عنه څخه پوښتنه وسول چي نيمه ورځ څومره وي، هغه ورته وويل پنځه سوه كاله (دې آيت ته اشاره ده: وان يوما عند ربك كالف سنة مما

تعدون) يعني د الله په نزد يوه ورځ دومره ده څومره چي ستاسو په نظر كي زر كاله وي. ابوداؤد.

تخريج: سنن ابي داود ۴\۵۱۷، رقم: ۴۳۵۰.

تشريح: د نيمي ورځي اندازه د پنځه سوه كالو ګرځول ددغه آيت له موخي ده (وان يوما عندربک كالف سنة مما تعدون) يعني د الله ﷻ په نزد يوه ورځ دومره وي چي ستاسو په حساب سره زر كاله وي، نو كله چي هغه ورځ زموږ د شپې او ورځي مطابق د زرو كالو برابر وي نو نيمه ورځ به يقينا پنځه سوه كاله وي،

په هر حال د رسول الله ﷺ ددغه ارشاد مطلب چي دغه امتږد الله تعالى په نزد څومره قرب او لوړه مرتبه لري هغه ددې خبري د يقين درلودلو لپاره كافي دي چي الله تعالى به دغه امت كم از كم پنځه سوه كاله ضرور په امت كي ولري دا به نه هلاكوي او په دنيا كي د دوئ د بقاء او قيامت وخت به تر دې نه كموي، تر دې چي زيات غواړي هغومره يې وكړي ، ددغه ارشاد په ذريعه رسول الله ﷺ دې ته اشاره وفرمايل چي تر اوس پنځه سوه كاله مخكي به قيامت راسي او ددغه امت خاتمه به نه كيږي مګر ددغه وخت وروسته چي الله تعالى څه غواړي هغه به وكړي.

او ځينو حضراتو ددغه ارشاد مراد دا بيان كړى دى چي الله ﷻ به كم از كم تر پنځه سوه كالو پوري دغه امت د سختيو او تكليفو څخه سلامت وساتي او هغه به په داسي آفاتو كي نه اخته كوي چي په هغه سره به ټول امت هلاک او ختم سي.

دلته دا خبره كول ضروري دي چي حضرت شيخ جلال الدين سيوطي رحمه الله په خپلو ځينو كتابو كي ثابت كړي دي چي په دنيا كي د امت بقاء او قيام د رسول الله ﷺ د وصال څخه زر كاله وروسته د پنځه سوه كالو څخه مخكي به متجاوز نه وي.

اَلْفَصْلُ الثَّالِث (دريم فصل)

د قرب قيامت مثال

﴿۵۲۸۱﴾: عَنْ أَنَسٍ قَالَ قَالَ رَسُولُ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ مَثَلُ هٰذِهِ الدُّنْيَا مَثَلُ ثَوْبٍ شُقَّ مِنْ أَوَّلِهِ إِلٰى آخِرِهِ فَبَقِيَ مُتَعَلِّقًا بِخَيْطٍ فِي آخِرِهِ فَيُوشِكُ ذٰلِكَ الْخَيْطُ أَنْ يَّنْقَطِعَ. رواه البيهقي في شعب الإيمان.

د حضرت انس رضي الله عنه څخه روايت دئ چي رسول الله ﷺ وفرمايل: ددې دنيا مثال د هغه جامې په

ډول دی چي د هغه د پيل څخه تر پای پوري پرې سوې وي او يوازي په يوه تار کي د جامې دواړې ټوټې موښتي وي او نژدې ده چي هغه تار هم ژر پرې سي. بيهقي.

تخريج: رواه البيهقي في شعب الايمان ١٧\٢٦٠، رقم: ١٠٢٤٠.

========

بَابُ لَاتَقُوْمُ السَّاعَةُ اِلاَّ عَلٰى شِرَارِ النَّاسِ

(قيامت به يوازي پر خرابو خلکو قائم سي)

په دغه باب کي چي کوم حديثونه نقل کيږي د هغو څخه به دا څرګنده سي چي کله قيامت نژدې سي نو په دنيا کي چي څومره نيک خلک وي هغوئ ټول به مړه سي، يوازي بدکاره خلک به پاته سي او بيا به پر هغوئ قيامت قائم سي نو تر څو چي په دنيا کي نيک خلک موجود وي قيامت به نه قائميږي لکه چي مخکي تېر سوي دي، د حضرت عيسى عليه السلام د زمانې د ختمېدو څخه وروسته به يوه خوشبويي لرونکې هوا وچليږي چي په هغه سره به ټول مسلمانان او مؤمنان مړه سي او په دنيا کي به يوازي بدکاره خلک پاته سي چي د خرو په ډول به په خپلو کي اختلاط کوي او بيا به پر دغه بدکاره خلکو باندي قيامت قائم سي.

اَلْفَصْلُ الْأَوَّلُ (لومړی فصل)

تر څو چي پر مځکه يو د الله جل جلاله نوم اخيستونکی موجود وي نو قيامت به نه راځي

﴿٥٢٨٢﴾: عَنْ أَنَسٍ اَنَّ رَسُولَ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ قَالَ لَا تَقُومُ السَّاعَةُ حتى لا يقال في الارض الله الله وفي رواية قال لَا تَقُومُ السَّاعَةُ عَلَى أَحَدٍ يَقُولُ اللّٰهُ اللّٰهُ. رواه مسلم.

د حضرت انس رضي الله عنه څخه روايت دئ چي رسول الله صلى الله عليه وسلم وفرمايل: قيامت به هغه وخت راځي چي پر مځکه هيڅوک الله الله ويونکي پاته نه سي، او په يوه روايت کي داسي دي چي قيامت به پر هغه چا نه قائميږي څوک چي الله الله کوي. مسلم

تخريج: صحيح مسلم: ١\١٣١، رقم: ٢٣٤-١٤٨.

تشریح: مطلب دادی چي کله قیامت راسي نو هغه وخت به د مځکي پر مخ داسي کس نه وي چي د الله ﷻ نوم اخیستونکی او د هغه عبادت کوونکی وي بلکه ټول به کافران او د بتانو بندګي کوونکي وي ، له دې څخه څرګنده سول چي د دغه کائناتو وجود او بقاء په حقیقت کي د باعمله علماء، ذاکرینو او صالحینو د وجود په برکت ده ، کله چي هغوئ له دنیا څخه پورته کړل سي نو دنیا به هم پاته نه سي .

قیامت یوازي پر بدو خلکو راځي

﴿۵۲۸۳﴾: وَعَنْ عَبْدِاللهِ بْنِ مَسْعُوْدٍ قَالَ قَالَ رَسُولُ اللهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ لَاتَقُومُ السَّاعَةُ إِلَّا عَلَى شِرَارِ الْخَلْقِ. رواه مسلم.

د حضرت عبدالله بن مسعود رضی الله عنه څخه روایت دئ چي رسول الله ﷺ وفرمایل : قیامت به پر شریرو او بدو خلکو قائمیږي . مسلم.

تخریج صحیح مسلم: ۴\۲۲۶۸، رقم: ۱۳۱– ۲۹۴۹.

تشریح: د خلق یعني مخلوق څخه مراد انسان دی او د شرار یعني بدکاره څخه مراد ګناه کاره وي او څرګنده ده چي د ګناه او معصیت تعلق یوازي د انسان سره دی نه د ټول مخلوق سره.

که چیري دلته دا سوال پیدا سي چي په دغه حدیث شریف او د تېر سوي حدیث په منځ کي یعني (لایزال طائفة من امتي حتی یقاتلون الحق ظاهرین الی یوم القیامة) مطابقت څرنګه کېدای سي، ځکه چي له دغه حدیث څخه څرګندیږي چي د قیامت قائمېدو څخه مخکي به یوه زمانه داسي وي چي په هغه کي به پر دغه مځکه باندي د الله ﷻ نوم اخیستونکي هم موجود نه وي بلکه ټول خلک به بدکاره وي او پر هغوئ به قیامت قائم سي ، او په لومړني حدیث کي د (لایزال بنا طائفة) څخه دا څرګندیږي چي تر قیامته پوري به تل وي ، نو ددې جواب دادی چي د لومړي حدیث (لایزال طائفة ....الخ) تعین د ټولو ژبو سره دی چي پر مځکه باندي تر څو د اسلام د مرسته کوونکو وجود وي په هغوئ کي به څه ناڅه خلک تل د حق د لوړتیا لپاره جنګ کوي ددې پر خلاف دلته په نقل سوي حدیث کي د (لاتقوم الساعة...الخ) تعلق یوازي د هغه خاص زمانې سره دی کله چي قیامت راتلونکی وي او له دې دنیا څخه د الله ﷻ ټول نوم اخیستونکي پورته کړل سي .

يوه پيشګوئي

﴿۵۲۸۴﴾: وَعَنْ اَبِيْ هُرَيْرَةَ قَالَ قَالَ رَسُولُ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ لَا تَقُومُ

د حضرت ابوهريره رضي الله عنه څخه روايت دئ چي رسول الله ﷺ وفرمايل : قيامت به نه راځي

السَّاعَةُ حَتّٰى تَضْطَرِبَ اَلْيَاتُ نِسَاءِ دَوْسٍ حول ذِي الْخَلَصَةِ وَذُو الْخَلَصَةِ طَاغِيَةُ دَوْسٍ الَّتِي كَانُوا يَعْبُدُونَ فِي الْجَاهِلِيَّةِ. متفق عليه.

تر هغه وخته پوري چي د قبيله دوس د ښځو كوناتې د ذوالخلصه څخه شا وخوا حركت وكړي او ذوالخلصه د دوس قبيلې بت دى چي د جاهليت په زمانه كي به يې د هغه عبادت كوى . (مطلب دادى چي دا قبيله به مرتده سي ، بت پرستي به كوي او د هغوئ ښځي به د بت خانې طواف كوي) . بخاري او مسلم.

تخريج : صحيح البخاري (فتح الباري): ۷۶\۱۳، رقم: ۷۱۱٦، ومسلم ۴\۲۲۳۰، رقم: ۵۱- ۲۹۰٦.

تشريح: (دوس) د يمن د يوې قبيلې نوم دى او ذوالخلصه په يمن كي د يوې بت خانې نوم دى ، په دغه بت خانه كي يو بت وو چي د هغه نوم خاص وو ، د اسلام څخه مخكي د يمن قبيلو ، اوس، خثعم او بجيله به د دغه بت عبادت كوى ، كله چي د اسلام زمانه راغلل نو رسول الله ﷺ حضرت جرير بن عبدالله بجلي رضي الله عنه يمن ته ولېږى او هغه بت خانه يې تباه كړل، په هر حال د حديث مطلب دادى چي په آخره زمانه كي به بيا د دغه قبيلې خلک بت پرسته سي او د هغوئ ښځي به د دغه بت خانې شا وخوا طواف كول پيل كړي .

د قيامت څخه مخكي به بيا د لات او عزى عبادت شروع سي

﴿۵۲۸۵﴾: وَعَنْ عَائِشَةَ قَالَتْ سَمِعْتُ رَسُولَ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ يَقُولُ

د عائشې (رض) څخه روايت دى چي ما د رسول الله ﷺ څخه اوريدلي دي چي فرمايل يې :

لَا يَذْهَبُ اللَّيْلُ وَالنَّهَارُ حَتّٰى تُعْبَدَ اللَّاتُ وَالْعُزّٰى فَقُلْتُ يَا رَسُولَ اللّٰهِ إِنْ

د شپې او ورځي د فنا كيدو څخه مخكي به د لات او عزىٰ عبادت كيږي (لات او عزى د مكې معظمې د دوو مشهورو بتانو نومونه دي چي د جاهليت په زمانه كي يې عبادت كيدى) ما عرض وكړ اې د الله رسوله !

كُنْتُ لَأَظُنُّ حِينَ أَنْزَلَ اللّٰهُ { هُوَ الَّذِي أَرْسَلَ رَسُولَهُ بِالْهُدَى وَدِينِ الْحَقِّ

هر كله چي دا آيت نازل سو : (هو الذي ارسل رسوله بالهدی و دين الحق ليظهره على الدين كله ولو كره المشركون) : هغه الله جَلَّ جَلَالُهُ چي هغه خپل رسول د هدايت او دين سره راوليږي

لِيُظْهِرَهُ عَلَى الدِّينِ كُلِّهِ وَلَوْ كَرِهَ الْمُشْرِكُونَ أَنَّ ذَلِكَ تَامًّا قَالَ إِنَّهُ سَيَكُونُ

چي پر ټولو دينونو باندي يې غالب كړي كه څه هم مشركان يې بد ګڼي....، نو ما دا خيال كړی وو چي د بتانو د عبادت خاتمه كيدونكې ده

مِنْ ذَلِكَ مَا شَاءَ اللّٰهُ ثُمَّ يَبْعَثُ اللّٰهُ رِيحًا طَيِّبَةً فَتَوَفَّى كُلَّ مَنْ فِي قَلْبِهِ مِثْقَالُ

(او دا چي په راتلونكې كي به هيڅكله د بتانو عبادت نه وي) رسول الله ﷺ وفرمايل : همداسي به وي تر څو پوري چي د الله تعالی خوښه وي بيا به الله تعالی يوه خوشبوداره هواء راوليږي چي هر هغه سړی به فنا كړي د چا په زړه كي

حَبَّةِ خَرْدَلٍ مِنْ إِيمَانٍ فَيَبْقَى مَنْ لَا خَيْرَ فِيهِ فَيَرْجِعُونَ إِلَى دِينِ آبَائِهِمْ .

رواه مسلم.

چي د سپلني د دانې برابر هم ايمان وي او يوازي هغه خلک به پاته سي چي په هغوئ كي به څه نيكي نه وي آخر دغه خلک به د خپلو پلرونو او نيكونو دين ته واوړي . مسلم.

تخريج: صحيح مسلم ۴\ ۲۲۳۰، رقم: ۵۲- ۲۹۰۷.

تشريح: خلاصه دا چي د الهي حكمت سره سم به په آخره زمانه كي ايمان او اسلام بالكل پورته كړل سي او پر ټوله مځكه به يوازي د كفر ، شرک او بت پرستۍ كړني پاته سي چي قيامت به د كبر و جلال الهي د ظهور موقع او محل وي يوازي پر بد كارو باندي قائم سي نه پر نيكانو.

د قيامت څخه مخكي به څه وي ؟

﴿۵۲۸۶﴾: وَعَنْ عَبْدِاللّٰهِ بْنِ عَمْرٍو قَالَ قَالَ رَسُولُ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ

د حضرت عبدالله بن عمرو رضي الله عنهما څخه روايت دئ چي رسول الله ﷺ وفرمايل :

يَخْرُجُ الدَّجَّالُ فَيَمْكُثُ أَرْبَعِينَ لَا أَدْرِي أَرْبَعِينَ يَوْمًا أَوْ عَامًا فَيَبْعَثُ اللّٰهُ عِيسَى

دجال به راووځي او تر څلوېښتو ورځو پورې به وي، د عبدالله بن عمرو رضي الله عنه بیان دی چې ما ته دا په یاد نه دي چې رسول الله صلی الله علیه وسلم څلوېښت ورځي څلوېښت میاشتې که څلوېښت کاله وفرمایل، بیا به الله تعالی عیسی بن مریم علیه السلام راولیږي

ابْنَ مَرْيَمَ كَأَنَّهُ عُرْوَةُ بْنُ مَسْعُودٍ فَيَطْلُبُهُ فَيُهْلِكُهُ ثُمَّ يَمْكُثُ فِي النَّاسِ سَبْعَ

ګویا چې هغه عروه بن مسعود رضي الله عنه دی (یعني د حضرت عیسی علیه السلام شکل او صورت به د عروه بن مسعود رضي الله عنه سره زیات ورته وي) هغه به دجال ولټوي او هغه به مړ کړي بیا به تر اووه کالو پورې حضرت عیسی علیه السلام پر مځکه اوسیږي

سِنِينَ لَيْسَ بَيْنَ اثْنَيْنِ عَدَاوَةٌ ثُمَّ يُرْسِلُ اللَّهُ رِيحًا بَارِدَةً مِنْ قِبَلِ الشَّأْمِ فَلَا

او په دغه کلونو کې به د دوو خلکو په منځ کې هم عداوت نه وي بیا به الله تعالی د شام د خوا څخه یخه هوا راولیږي

يَبْقَى عَلَى وَجْهِ الْأَرْضِ أَحَدٌ فِي قَلْبِهِ مِثْقَالُ ذَرَّةٍ مِنْ خَيْرٍ أَوْ إِيمَانٍ إِلَّا قَبَضَتْهُ

او پر مځکه به په هغه خلکو کې یو هم پاته نه سي د چا په زړه کې چې د ذرې برابر هم نیکي یا

حَتَّى لَوْ أَنَّ أَحَدَكُمْ دَخَلَ فِي كَبَدِ جَبَلٍ لَدَخَلَتْهُ عَلَيْهِ حَتَّى تَقْبِضَهُ قَالَ فَيَبْقَى

ایمان وي تر دې که په تاسو کې یو څوک په غره کې دننه هم پټ سي نو هواء به هلته ور داخله سي او د هغه روح به قبض کړي بیا به

شِرَارُ النَّاسِ فِي خِفَّةِ الطَّيْرِ وَأَحْلَامِ السِّبَاعِ لَا يَعْرِفُونَ مَعْرُوفًا وَلَا يُنْكِرُونَ

یوازې شریر او بدکاره خلک پاته سي چې په فسق او فجور کې به د مرغانو په ډول سپک او تیز وي او په ظلم او وینې تویولو کې به د حیوانانو په ډول سخت وي هغوئ به نیکي نیکي نه ګڼي

مُنْكَرًا فَيَتَمَثَّلُ لَهُمُ الشَّيْطَانُ فَيَقُولُ أَلَا تَسْتَجِيبُونَ فَيَقُولُونَ فَمَا تَأْمُرُنَا

او بدي به بدي نه ګڼي، نو شیطان به په یو شکل کې هغوئ ته راسي ورته وایي به تاسو ته شرم او حیا نه درځي (چې فسق او فجور کې اخته یاست) هغوئ به ورته په جواب کې وایي ته موږ ته څه حکم راکوې؟

فَيَأْمُرُهُمْ بِعِبَادَةِ الْأَوْثَانِ وَهُمْ فِي ذَلِكَ دَارٌّ رِزْقُهُمْ حَسَنٌ عَيْشُهُمْ ثُمَّ يُنْفَخُ فِي

شيطان به هغوئ ته د بت پرستي حكم وركړي او په دغه حالت كي به د هغوئ په رزق كي غير معمولي زياتوب وسي او هغوئ به په عيش او عشرت كي ژوند تيروي بيا به شپيلۍ ووهل سي

الصُّورِ فَلَا يَسْمَعُهُ أَحَدٌ إِلَّا أَصْغَى لِيتًا وَرَفَعَ لِيتًا قَالَ وَأَوَّلُ مَنْ يَسْمَعُهُ رَجُلٌ

او ځوک چي د هغه اواز واوري هغه به يوې خوا ته خپل غاړه ټيټه كړي او بل جانب ته به يې پورته كړي د ټولو څخه وړاندي به د شپيلۍ اواز هغه سړى واوري

يَلُوطُ حَوْضَ إِبِلِهِ قَالَ فَيَصْعَقُ وَيَصْعَقُ النَّاسُ ثُمَّ يُرْسِلُ اللَّهُ مَطَرًا كَأَنَّهُ الطَّلُّ

چي د خپلو اوښانو د اوبو څښلو ځاى به سموي ، هغه سړى به په كار كولو كي مړ سي او نور ټول خلک به هم داسي مړه سي بيا به الله تعالى باران واوروي داسي ګويا چي هغه شبنم دى

فَتَنْبُتُ مِنْهُ أَجْسَادُ النَّاسِ ثُمَّ يُنْفَخُ فِيهِ أُخْرَى فَإِذَا هُمْ قِيَامٌ يَنْظُرُونَ ثُمَّ

(يعني ډير نرى باران به وي) په هغه باران سره به د هغه خلكو بدنونه راووځي (كوم چي په قبرونو كي خاوري سوي دي) بيا به په دويم وار شپيلۍ ووهل سي چي د هغه په اوريدو سره به ټول خلک ودريږي او د قيامت خوفناک منظر به ووينى بيا به

يُقَالُ يَا أَيُّهَا النَّاسُ هَلُمَّ إِلَى رَبِّكُمْ وَقِفُوهُمْ إِنَّهُمْ مَسْئُولُونَ فَيُقَالُ أَخْرِجُوا

خلكو ته وويل سي اې خلكو ! د خپل پروردګار په لور راسئ بيا به الله تعالى ملائكو ته حكم وركړي دوئ تم كړئ د دوئ څخه به حساب واخيستل سي ،

بَعْثَ النَّارِ فَيُقَالُ مِنْ كَمْ كَمْ فَيُقَالُ مِنْ كُلِّ أَلْفٍ تِسْعَ مِائَةٍ تِسْعَةً وَتِسْعِينَ

بيا به ملائكو ته وويل سي هغه خلک راوكاږئ چي د دوږخ د اور لښكر دي ملائكي به د الله تعالى څخه پوښتنه وكړي څومره خلک د دوږخ څخه راوكاږو الله تعالى به حكم وركړي په هرو زرو كسانو كي يو كم زر (۹۹۹) كسان راوكاږئ ،

قَالَ فَذَاكَ يَوْمَ يَجْعَلُ الْوِلْدَانَ شِيبًا وَذَلِكَ يَوْمَ يُكْشَفُ عَنْ سَاقٍ. رواه مسلم

وذكر حديث معوية لا تنقطع الهجرة في باب التوبة.

رسول الله ﷺ وفرمايل : دا هغه ورځ ده چي ماشوم به سپين ږيرى كړي او دا هغه ورځ ده چي د سختي بيري څخه به پنډۍ ښكاره سي . مسلم او د معاويه حديث لاتنقطع الهجرة د توبي په باب كي بيان سوى دى .

تخريج : صحيح مسلم ۴\۲۲۵۸، رقم: ۱۱۶- ۲۹۴۰.

د لغاتو حل : ليتا: والمراد منه هنا ان السامع يصعق فيصغى لينا ويرفع لينا اي يصير راسه هكذا وكذلك شان من يصيبه صيحة فيشق قلبه فاول ما يظهر منه سقوط راسه الى احد الشقين. رجل يلوط: اي يطين ويصلح. الطل: اي المطر الضعيف الصغير القطر (ميده باران).

تشريح: ما ته معلومه نه ده چي هغه وخت د څلوېښت څخه د رسول الله ﷺ څه مراد وو...الخ، په دې اړه په لنډه توګه دا ښودل كافي دي چي څرنګه مخكي تېر سوي دي چي دد جال د اوسېدو وخت په ځينو روايتو كي څلوېښت كاله او په ځينو كي څلوېښت ورځي يا څلوېښت شپې راغلي دي او هلته دا وضاحت هم سوى دى چي په هغه روايتو كي د مطابق صورت څه دى.

د دوو كسانو په منځ كي به هيڅ دښمني نه وي، ددغه جملې په ذريعه دې ته اشاره كول مقصد دي چي په دنيا كي به د حضرت عيسى عليه السلام زمانه د وروركلوۍ ، ميني او يووالي څخه ډكه وي هغه وخت به ټول خلك د ايمان او كامل اخلاقو خاوندانو وي او ټوله ټولنه به د اعلى انساني اخلاقو څخه ډكه وي چي هيڅوك به د چا دښمن نه وي او نه به چا ته په تكليف وركولو پسې وي، د هيچا په زړه كي به كينه، حسد او بغض نه وي بلكه ټول خلك به ملګري او خيرخواه وي ، څرګنده دي وي چي هغه د دجال د وژنې څخه وروسته په دغه دنيا كي د هغوئ د اوسېدو وخت دى كنه نو مخكي دا بيان سوي دي چي په دنيا كي د هغه اوسېدو ټول وخت به پنځه څلوېښت كاله وي .

چي د مرغانو په ډول به تېز وي...الخ: مطلب دا چي هغه خلك به د بدۍ په كارونو كي او دجنسي خواهشاتو په پوره كولو كي داسي تېز وي لكه مرغان چي وي، د ظلم او سختۍ فتنې او د خلكو د ځان او مال په بربادولو كي به داسي سخت زړه او سخت مزاجه وي لكه چارپايان چي دي ، نو په دغه جمله كي دې ته اشاره ده چي هغه خلك به د علم، پوهي، حلم او نورو انساني اخلاقو څخه بالكل خالي وي بلكه د هغوئ پر زړه او دماغ به د ظلم سختي او وحشت غلبه كړې وي.

هغه به خپله غاړه كښته كړي...الخ: مطلب دا چي د هغه شپيلۍ آواز به دومره زيات خطرناك او بيرونكي وي چي د هغه په دهشت سره به د خلكو زړونه وچوي او بدني قوت به معطل او بېكاره سي چي د هغه اثر به پر غاړه لويږي او هغه به داسي سي لكه څرنګه چي د بيري

په وخت کي کيږي چي سر به يې داسي يوې خوا ته چي غاړه به يې کښته سي او د هغه مقابل دوهمه خوا به پورته سي.

د هرو زرو څخه نهه سوه نهه نيوي خلک ...الخ: له دې څخه معلومه سوه چي په زرو کسانو کي به يو سړی جنت ته ځي او پاته ټول به په دوږخ کي اچول کيږي، يعني جنت ته د تلونکو تناسب به په زرو کي يو سړی وي، صحيح خبره داده چي په زرو کي د نهه سوه نهه نيوي خلکو څخه مراد کفار دي چي تل به په دوږخ کي وي، وړاندي په باب الحشر کي د حضرت ابو سعيد خدري رضي الله عنه روايت راځي چي په هغه کي فرمايل سوي دي چي د دوږخيانو دغه ډله به پر ياجوج او ماجوج باندي مشتمل وي.

دا هغه ورځ ده چي ماشومان به سپين ږيري سي، دغه جمله په اصل کي د قيامت د ورځي د اوږدوالي او د هغه ورځي د سختۍ څخه کنايه ده، لکه څرنګه چي د مصيبتو او سختيو په زمانه کي سپين ږيرتوب ژر راځي همدارنګه دا هغه ورځ ده چي په هغه کي به امر عظيم ظاهر کړل سي دا هم د سختي بيري او سختۍ څخه کنايه ده، څرګنده دي وي چي کشف ساق چي د هغه ژباړه د امر عظيم ښودل سوې ده ددې معنی په عربو کي دا مشهوره ده او ددې اصل دادی چي کله پر يو سړي باندي سختي او پريشاني راسي او هغه د پريشانۍ د خلاصون تر لاسه کولو لپاره ډيري هڅي کوي نو هغه د پنډيو څخه خپل قميس، لمن او پايڅې را پورته کوي چي د هغه په وجه د هغه پنډۍ خلاصي سي، په دې اعتبار سره کشف ساق د عربو يوه محاوره ګرځېدلې ده چي د يو کار د ازرښت او د هغه کار په اړه رامنځته کېدونکي تکليفونو ته اشاره کول دي، دا خبره بايد په ذهن کي وي چي د (يوما يکشف عن ساق) الفاظ په قرآن کريم کي هم راغلي دي او په حديث کي د ذکر سوي جملې په صورت کي د قرآن دغه الفاظ وړاندي کړل سوي دي نو ددغه آيت د تفسير په اړه ډېر څه ليکل سوي دي مګر د اکثرو حضراتو په نزد صحيح تاويل دادی کوم چي مخکي ذکر سو.

==========

كِتَابُ اَحْوَالِ الْقِيَامَةِ وَبَدءِ الْخَلق

بَابُ النَّفْخِ فِي الصُّوْرِ

(د شپیلۍ وهلو بیان)

صور په اصل کي شپیلۍ ته وایي چي د هغه په وهلو سره یو آواز پیدا کیږي او دلته هغه خاص شپیلۍ مراد ده چي حضرت اسرافیل علیه السلام به یې وهي، د حضرت اسرافیل علیه السلام دغه شپیلۍ وهل به دوه واره وي، یو وار خو هغه وخت کله چي قیامت نژدې سي او د هغه شپیلۍ په اواز سره به ټول خلک مړه سي او دوهم وار د بیا ژوندي کولو لپاره، نو د دغه شپیلۍ په آواز سره به ټول خلک په ژوندي کېدو سره د حشر په میدان کي راجمع سي.

اَلْفَصْلُ الْأَوَّلُ (لومړی فصل)

د دواړو نفخو په مینځ کي به څومره وقفه وي

﴿۵۲۸۷﴾: عَنْ أَبِي هُرَيْرَةَ قَالَ قَالَ رَسُولُ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ مَا بَيْنَ

د حضرت ابوهریره رضی الله عنه څخه روایت دئ چي رسول الله صلی الله علیه وسلم وفرمایل: د دوو نفخو (یعني دواړو

النَّفْخَتَيْنِ أَرْبَعُونَ قَالُوا يَا اباهريرة أَرْبَعُونَ يَوْمًا قَالَ أَبَيْتُ قَالُوا يَا اباهريرة

شپیلیو وهلو) په مینځ کي زمانه به څلوېښت وي، خلکو پوښتنه وکړه اې ابوهریره! ایا

أَرْبَعُونَ يوما قَالَ أَبَيْتُ قَالُوا أَرْبَعُونَ شهرا قَالَ أَبَيْتُ قَالُوا ثُمَّ يُنْزِلُ اللّٰهُ

څلوېښت ورځي؟ ابوهریره رضی الله عنه وویل زه نه پوهیږم، بیا خلکو پوښتنه وکړه ایا څلوېښت میاشتي؟ ابوهریره رضی الله عنه وویل ما ته نه ده معلومه، بیا یې پوښتنه وکړه ایا څلوېښت کاله، ابوهریره رضی الله عنه وویل ما ته نه ده معلومه ددې څخه وروسته ابوهریره رضی الله عنه بیان وکړ چي رسول الله

مِنَ السَّمَاءِ مَاءً فَيَنْبُتُونَ كَمَا يَنْبُتُ الْبَقْلُ قال لَيْسَ مِنَ الْإِنْسَانِ شَيْءٌ

صلی الله علیه وسلم وفرمایل بیا به الله تعالی د آسمان څخه اوبه را واوروي او د دغه اوبو سره به خلک داسي

راوځي لکه څرنګه چي شنګیا راوځي، رسول الله ﷺ وفرمایل: په انسان کي هیڅ داسي شی

إِلَّا يَبْلَى إِلَّا عَظْمًا وَاحِدًا وَهُوَ عَجْبُ الذَّنَبِ وَمِنْهُ يُرَكَّبُ الْخَلْقُ يَوْمَ الْقِيَامَةِ

نه سته چي نه زړېږي مګر یو هډوکی چي د هغه نوم (عجیب الذنب) دی د ملا لاندي هډوکی
ددغه هډوکي څخه به د قیامت په ورځ ټول اندامونه مرکب کیږي.

متفق علیه و في روایة لمسلم قَالَ كُلُّ ابْنِ آدَمَ يَأْكُلُهُ التُّرَابُ إِلَّا عَجْبَ الذَّنَبِ مِنْهُ خُلِقَ وَفِيهِ يُرَكَّبُ.

بخاري او مسلم. او په یو روایت د مسلم کي راغلي دي چي رسول الله ﷺ وفرمایل د بنده ټول صورت خاوري خوري مګر عجب الذنب نه خوري له هغه پیدا کړل سوي دي او له هغه به یې ترکیب وي.

تخریج: صحیح البخاري (فتح الباري): ۸\۵۵۱، رقم: ۴۸۱۴، ومسلم ۴\۲۲۷۰، رقم: ۱۴۱– ۲۹۵۵.

تشریح: د حضرت ابو هریره رضی الله عنه دغه جواب ورکول چي ما ته معلومه نه ده، له دې کبله وو چي هغه د رسول الله ﷺ څخه دغه حدیث همدارنګه مجمل اورېدلی وو، یا دا چي اورېدلی یې مفصل وو مګر د هغه څخه دا هېر سوي وه چي رسول الله ﷺ د څلوېښت وروسته څه فرمایلي دي نو هغه د خپل ذکر سوي جواب په ذریعه دا څرګنده کړه چي زه په یقین سره نسم ویلای چي څلوېښت کاله، په هر حال په دغه حدیث کي د څلوېښت لفظ مجمل نقل سوی دی حال دا چي په یو بل حدیث کي دغه لفظ په تفصیل سره دی او په هغه کي څلوېښت کاله دي نو د دواړو نفخو (شپېلیو) په منځ کي وقفه به د څلوېښتو کالو په اندازه وي.

عجب الذنب هغه هډوکي ته وایي چي د ملا د تېر لاندي د دواړو ټټو په منځ کي وي چیري چي د حیوان لکۍ وي او په عامه توګه هغه د ملا په تېر سره تعبیر کیږي، په ځینو روایتو کي د عجب الذنب پر ځای د عجم لفظ دی چي معنی یې یوه ده، یعني اصل او بنیاد، او د ذنب معنی د لکۍ ده، ذکر سوی هډوکي هغه ځای وي چیري چي د لکۍ بنیاد وي ځکه ددې نوم عجب الذنب یا عجم الذنب دی، خلاصه دا چي د ملا تېر د انسان تخم دی چي د هغه څخه ابتدائي تخلیق کیږي او د قیامت په ورځ به دوهم ځل ددغه هډوکي په ذریعه ټول اندامونه د سره ترتیب کیږي مګر د مرګ وروسته انسان یا حیوان په خرابېدو سره نیستي کیږي او د هغه

ټول بدن خاوره وخوري مګر د ملا تير نه خرابيږي او نه يې خاوره خوري، څرګنده دي وي چې دا د هغه خلكو د حالت بيان دی چي د هغوئ بدن خرابيږي، پيغمبران له دې څخه مستثنی دي ځكه چي د هغوئ ټول بدن خوندي وي او الله ﷻ پر مځكه د انبياوو بدنونه حرام كړي دي ، دا خبره د هغه خلكو په اړه هم ويل كيږي چي په دې باره كي د انبياء په حكم كي وي يعني شهيدان او اولياء الله او هغه مؤذن چي خاص د الله ﷻ د رضا لپاره اذان كوي نو دا ټول خلك په خپلو قبرو كي ژوندي وي لكه څرنګه چي په دنيا كي ژوندي خلك دي .

د قيامت په ورځ د الله ﷻ د كبريائي او جبروت اظهار

﴿۵۲۸۸﴾: وَعَنْهُ قَالَ قَالَ رَسُولُ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ يَقْبِضُ اللّٰهُ الْأَرْضَ يوم القيامة وَيَطْوِي السَّمٰوَاتِ بِيَمِينِهِ ثُمَّ يَقُولُ أَنَا الْمَلِكُ أَيْنَ مُلُوكُ الْأَرْضِ. متفق عليه.

د حضرت ابوهريره رضي الله عنه څخه روايت دئ چي رسول الله ﷺ وفرمايل : د قيامت په ورځ به الله تعالى مځكه په خپل موټ كي واخلي او آسمان به په خپل راسته لاس كي راونغاړي بيا به وفرمايي زه پاچا يم چيري دي پاچهان د مځكي . بخاري او مسلم

تخريج : صحيح البخاري (فتح الباري): ۸\۵۵۱، رقم: ۴۸۱۲، ومسلم ۴\۲۱۴۸، رقم: ۲۳- ۲۷۸۷.

تشريح: د مځكي په خپل ورغوي كي اخيستلو او د آسمانونو په لاس كي د رانغښتلو څخه مراد كېداى سي د الله ﷻ د دواړو تبدېلول وي لكه چي الله ﷻ فرمايي: (يوم تبدل الارض غير الارض والسموات) يا دا چي دغه الفاظ په اصل كي د الله ﷻ د عظمت او لويي كنايه ده او دې ته اشاره كول دي چي هغه عظيمي كارنامې او افعال چي د هغه په وړاندي ټول كائنات انساني عقلونه حيران دي د الله ﷻ په نظر كي بالكل حقير او بې وقعته دي، او ټوله نړۍ په يوه ساعت كي نيستي كول او د آسمان او مځكي تباه كول د هغه د قدرت په وړاندي بالكل اسان كار دی او آسمان ته د مځكي په نسبت زيات شرف او عظمت حاصل دی ځكه هغه يې په راسته لاس سره مخصوص كړ چي تر چپه لاس زيات شرف او فضيلت لري، نو پروردګار به مځكه په ورغوي كي واخلي او آسمانونه به په راسته لاس كي .

﴿۵۲۸۹﴾: وَعَنْ عَبْدِ اللّٰهِ بْنُ عُمَرَ قَالَ قَالَ رَسُولُ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ
د حضرت عبدالله بن عمر رضي الله عنه څخه روايت دئ چي رسول الله ﷺ وفرمايل :
يَطْوِي اللّٰهُ عَزَّ وَجَلَّ السَّمَاوَاتِ يَوْمَ الْقِيَامَةِ ثُمَّ يَأْخُذُهُنَّ بِيَدِهِ الْيُمْنَى ثُمَّ
د قيامت په ورځ به الله تعالى آسمانونه راونغاړي هغه به په خپل راسته لاس کي واخلي
يَقُولُ أَنَا الْمَلِكُ أَيْنَ الْجَبَّارُونَ أَيْنَ الْمُتَكَبِّرُونَ ثُمَّ يَطْوِي الْأَرَضِينَ بِشِمَالِهِ
وايي به زه پاچا يم چيري دي زوروران او چيري دي متكبران او بيا به په خپل بل لاس کي مځکي
وفي رواية يأخذهن بيده الاخرى ثُمَّ يَقُولُ أَنَا الْمَلِكُ أَيْنَ الْجَبَّارُونَ أَيْنَ الْمُتَكَبِّرُونَ . رواه مسلم.

را ونغاړي ، او په يوه روايت کي داسي دي چي بيا به مځکه په دويم لاس کي واخلي او وايي به چي زه پاچا يم ظلم كونكي او غرور او تكبر كونكي چيري دي . مسلم.

تخريج : صحيح مسلم ۴\۲۱۴۸، رقم: ۲۴- ۲۷۸۸.

د قيامت دورځي يو څو خبري د يهودي عالم په ژبه

﴿۵۲۹۰﴾: وَعَنْ عَبْدِ اللّٰهِ بْنِ مَسْعُودٍ قَالَ جَاءَ حَبْرٌ مِنَ اليهود إِلَى النبي صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ فَقَالَ يَا مُحَمَّدُ أَنَّ اللّٰهَ يمسك السَّمٰوَاتِ يوم القيامة عَلَى
د حضرت عبد الله بن مسعود رضي الله عنه څخه روايت دی چي يو يهودي عالم د رسول الله ﷺ په خدمت کي حاضر سو او عرض يې وکړ اې محمد (ﷺ)! د قيامت په ورځ به الله تعالى آسمانونه په يوه
إِصْبَعِ وَالْأَرَضِينَ عَلَى إِصْبَعِ والجبال وَالشَّجَرَ عَلَى إِصْبَعِ وماء والتراب على
ګوته ، مځکي په بله ګوته ، غرونه او درختي په بله ګوته او د اوبو او مځکي دننه خاوره په يوه
اصبع وَسَائِرَ الْخَلْقِ عَلَى إِصْبَعِ ثم يهزهن فَيَقُولُ أَنَا الْمَلِكُ انا الله فَضَحِكَ

ګوته او ټول مخلوق په بله ګوته کښېږدي او ګوتو ته په ښور ورکولو سره به وفرمايي زه پاچا او زه الله يم ، رسول الله ﷺ ددې اورېدو سره په خندا سو

رسول الله صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ تعجبامما قال الحبر تصديقا له ثُمَّ قَرَأَ

او د تعجب اظهار يې وکړ ځکه چي د هغه دا بيان د رسول الله ﷺ د بيان پر تصديق مبني وو ، ددې څخه وروسته رسول الله ﷺ دا آيت تلاوت کړ :

وَمَا قَدَرُوا اللَّهَ حَقَّ قَدْرِهِ وَالْأَرْضُ جَمِيعًا قَبْضَتُهُ يَوْمَ الْقِيَامَةِ وَالسَّمٰوَاتُ مَطْوِيَّاتٌ بِيَمِينِهِ سُبْحَانَهُ وَتَعَالَى عَمَّا يُشْرِكُونَ. متفق عليه.

(وما قدرو الله ......) .: مشرکانو دالله تعالی قدر ونه پېژندی د قيامت په ورځ به ټوله مځکه د هغه په موټ کي وي او آسمانونه به يې په راسته لاس کي نغښتي وي ، الله تعالی د هغه شی څخه پاک دی چي مشرکان خلک يې د هغه سره شريک جوړوي . بخاري او مسلم.

تخريج: صحيح البخاري (فتح الباري): ۱۸\۵۵۰، رقم: ۴۸۱۱، ومسلم ۱۴\۲۱۴۷، رقم: ۱۹- ۲۷۸۶.

تشريح: او الله جَلَّ جَلَالُهُ به آسمانونه پر يوه ګوته او پاته ټول مخلوقات به په بله ګوته کښېږدي او د هغه ګوتو په ښورولو سره به فرمايي، دغه ټول الفاظ د کنايې په توګه دي او د الله تعالی د قدرت جليله او عظمت کامله د غلبې او اظهار دپاره دي نه دا چي دګوتو او دګوتو دښورولو حقيقي معنی مقصد ده ، ددې نظير دعربو اسلوب بيان دی چي د مثال په توګه هغوئ د يو سړي د سخا صفت کول غواړي نو وايي چي د هغه سړي دواړه لاسونه پراخه ذي که څه هم هغه سړی د خپلو دواړو لاسو څخه محروم وي يا پيدائشي بې لاسو وي، همدارنګه کله چي د يو چا د سلطنت او حکومت صفت کول غواړي نو داسي وايي چي فلانی پر تخت باندي کښېنست که څه هم د هغه د ناستي لپاره هيڅ تخت يا بل شی نه وي نو که د عربو دغه محاورو او اسلوب ته نظر وکړل سي نو بيا د قرآن او حديث د مشابهت پوهېدل ډېر اسانه کيږي چي په هغو کي الله جَلَّ جَلَالُهُ ته د لاس ، ګوتو ، پنډۍ، تخت او داسي نورو شيانو نسبت سوی دی او دا ويل کيدای سي چي د لاس څخه دا مراد دی او د تخت څخه دا مراد دی ، د هغه يهودي عالم د ذکر سوي خبرې په اورېدو سره د رسول الله ﷺ تعجب کول او خندل د هغه د تکذيب لپاره نه وو بلکه د هغه د تصديق لپاره او د هغه صحيح ګڼلو لپاره وو نو رسول الله ﷺ وروسته ذکر سوی آيت تلاوت کړ

، ددې لپاره چي يهودي څه ويلي دي د هغه تفصيلي وضاحت وسي.

د قيامت په ورځ د مځکې او اسمان د تبديلۍ په اړه د ايت معنی

﴿۵۲۹۱﴾: وَعَنْ عَائِشَةَ قَالَتْ سَأَلْتُ رَسُولَ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ عَنْ قَوْلِهِ عَزَّ وَجَلَّ يَوْمَ تُبَدَّلُ الْأَرْضُ غَيْرَ الْأَرْضِ وَالسَّمَاوَاتُ فَأَيْنَ يَكُونُ النَّاسُ يَوْمَئِذٍ قَالَ عَلَى الصِّرَاطِ. رواه مسلم.

د حضرت عائشې رضي الله عنها څخه روايت دی چي ما د رسول الله ﷺ څخه ددغه آيت په اړه (يوم تبدل الارض غير الارض والسموات) يعني په هغه ورځ چي مځکه به په بلې مځکې کې بدله کړل سي او آسمانونه به په نورو آسمانونو کې، دا پوښتنه وکړه چي خلک به په دغه ورځ په کوم ځای کې وي، رسول الله ﷺ وفرمايل: په دغه ورځ به خلک پر پل صراط وي. مسلم.

تخريج: صحيح مسلم: ۴\۲۱۵۰، رقم: ۲۹- ۲۷۹۱.

تشريح: د صراط لفظ اصل معنی د لاري ده او دلته په حديث کې د صراط څخه مراد پل صراط دی يعني هغه پل چي د هغه په اړه شارع خبر ورکړی دی چي هغه د دوږخ پر شا جوړ سوی دی چي تر وېښته ډېر نری او تر توري تېره دی او دا هم کېدای سي چي د پل صراط پر ځای بل پل مراد وي.

د قيامت په ورځ د مځکې د بدلېدو څخه څه مراد دی، په دې اړه د علماو اختلاف دی چي په هغو کې يو قول دادی چي د قيامت په ورځ به مځکه په سپينه ډوډۍ بدله کړل سي نو مؤمنان به د حشر په ميدان کې د حساب تر فارغه کېدو پوري د خپلو قدمونو لاندې د ډوډۍ په شکولو سره خوري، ددغه قول تائيد د هغه حديث څخه هم کيږي چي د راتلونکي باب الحشر په لومړني حديث کې دي او د آسمان د بدلون څخه مراد دادی چي ستوري به په ماتېدو سره را ولوېږي او سپوږمۍ او لمر به د تندري نيولو په صورت کې بېکاره کړل سي، طيبي رحمه الله ويلي دي چي د يو شي تبديلي په دوو صورتو کې کيږي يو خو د ذات تبديلي لکه چي يو سړی داسي ووايي چي ما سره زر په سپينو زرو بدل کړل يعني د سرو زرو په ورکولو سره مي سپين زر واخيستل او دوهم صورت د صفاتو تبديلي ده لکه يو سړی داسي ووايي چي ما چله په ګوتمۍ بدله کړل يعني د چلې په ويلي کولو سره مي د هغه څخه ګوتمۍ جوړه کړه، په دغه صورت کې ذات خو

يو دی مګر دهغه حقيقت او صفت بدليږي نو د مځکي او اسمان په بل مځکي او اسمان کي د بدلېدو خبره ددغه دواړو صورتو احتمال لري چي د اصل مځکي او آسمان تبديلي هم مراد کېدای سي او دصفاتو يعني دهيئت او صورت تبديلي هم مراد کيدای سي مګر د سلفو زيات قولونه دادی چي د صفاتو تبديلي مراد ده نو حضرت ابن عباس رضي الله عنه وفرمايل چي مځکه خو به دغه مځکه وي مګر په صفاتو کي به يې تغير راسي همدارنګه د حضرت ابوهريره رضي الله عنه ارشاد دی چي مځکه به داسي پراخه کړل سي چي په هغه کي به هيڅ لوړوالی او ژوروالی پاته نسي ، خو ددې مطلب دا نه دی چي د ذات تبديلي بالکل ناممکن ده ، يقينا الله جل جلاله په دې قادر دی چي د مځکي او آسمان پر ځای بله مځکه او آسمان پيدا کړي لکه چي ځيني قولونه پر دې هم دلالت کوي، د امير المؤمنين حضرت علي رضي الله عنه څخه نقل سوي دي چي الله جل جلاله به يوه نوې مځکه پيدا کړي چي د سپينو زرو به وي او کوم آسمان چي پيدا کړي هغه به د سرو زرو وي، همدارنګه د حضرت ابن مسعود رضي الله عنه څخه روايت دی چي الله جل جلاله به يوه داسي مځکه پيدا کړي چي سپينه او پاکه به وي او پر هغه به هيڅ ګناه نه وي کړې ، خپله د حديث دظاهر څخه هم دا څرګنديږي چي د تبديلۍ څخه د ذات تغير مراد دی لکه څرنګه چي د بي بي عائشې رضي الله عنها سوال کول او د رسول الله صلى الله عليه وسلم جواب ورکول پر دې دليل دی .

د قيامت په ورځ به سپوږمۍ او لمر بې نوره سي

﴿۵۲۹۲﴾: وَعَنْ أَبِي هُرَيْرَةَ قَالَ قَالَ رَسُولُ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ الشَّمْسُ وَالْقَمَرُ مُكَوَّرَانِ يَوْمَ الْقِيَامَةِ. رواه البخاري.

د حضرت ابوهريره رضي الله عنه څخه روايت دئ چي رسول الله صلى الله عليه وسلم وفرمايل : لمر او سپوږمۍ به د قيامت په ورځ پټ کړل سي . بخاري.

تخريج : صحيح البخاري (فتح الباري): ٦\٢٩٧، رقم: ٣٢٠٠.

د لغاتو حل : مكوران: التكوير معناه اللف، وفي بعض طرق الحديث (مكوران في النار) فيكون تكويرهما فيها ليعذب بها اهل النار.

اَلْفَصْلُ الثَّانِي (دوهم فصل)

حضرت اسرافيل ﷺ د شپيلۍ پوه كولو لپاره هر وخت تيار دئ

﴿۵۲۹۳﴾: عَنْ أَبِي سَعِيد الخدري قَالَ قَالَ رَسُولُ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ

د حضرت ابوسعيد خدري رضي الله عنه څخه روايت دئ چي رسول الله ﷺ وفرمايل :

كَيْفَ أَنْعَمُ وَصَاحِبُ الصور قَدْ اُلْتَقَمَه واصغى سمعه وحنى جبهته فينتظر

زه څنګه په آرام او سكون سره كښينم حال دادی چي شپيلۍ پوه كوونكی (اسرافيل عليه السلام) شپيلۍ په خوله كي نيولې ده (د حكم اوريدو لپاره يې) غوږ نيولی دی، تندی يې كښته ټيټ

مَتَى يُؤْمَرُ بِالنَّفْخِ فقالوا يا رسول الله وما تامرنا قَالَ قُولُوا حَسْبُنَا اللّٰهُ وَنِعْمَ الْوَكِيلُ؟ رواه الترمذي.

كړی دی او انتظار كي دی چي كله ورته د شپيلۍ پوه كولو حكم وركول كيږي ، صحابه كرامو عرض وكړ اې دالله رسوله ! (هر كله چي دا حالت دی نو) تاسو موږ ته څه حكم راكوی ؟ رسول الله ﷺ ورته وفرمايل : (حسبنا الله ونعم الوكيل) بس دی موږ ته خدای جل جلاله او ښه وكيل ، واياست. ترمذي.

تخريج: سنن الترمذي ۴\۵۳۶، رقم: ۲۴۳۱.

د لغاتو حل: التقمه: ای وضع طرف الصور في فمه. (په خوله كي نيول)

تشريح: (حسبنا الله ونعم الوكيل) د دغه الفاظو ويل يو داسي عمل دی چي د هغه په بركت الله جل جلاله لوی آفت او مصيبت دفع كوي او سلامتيا وركوي، كله چي ابراهيم عليه السلام د نمرود په اور كي واچول سو نو د نومړي پر ژبه دغه مبارك الفاظ وه همدارنګه د يوې غزا په موقع كي ځيني خلكو رسول الله ﷺ ته وويل چي (ان الناس قد جمعوا لكم فاخشوهم) يعني دښمنان ستاسو په مقابله كي راجمع سوي دي او تاسو د هغوئ څخه وويريږئ، نو رسول الله ﷺ دغه مبارك الفاظ وويل (حسبنا الله و نعم الوكيل) .

شپیلۍ څه شي ده؟

﴿۵۲۹۴﴾: وَعَنْ عَبْدِ اللّٰهِ بْنِ عَمْرٍو عَنِ النَّبِيِّ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ قَالَ الصُّورُ قَرْنٌ يُنْفَخُ فِيهِ. رواه الترمذي وابوداؤد والدارمي.

د حضرت عبد الله بن عمرو رضي الله عنهما څخه روایت دئ چي رسول الله ﷺ وفرمایل: صور (شپیلۍ) یو ښکر دی چي هغه به پوه کول کیږي. ترمذي، ابوداؤد او دارمي.

تخریج: سنن الترمذي ۴\ ۵۳۶، رقم: ۲۴۳۰، وابوداود ۵\ ۱۰۷، رقم: ۴۷۴۲، والدارمي ۲\ ۴۱۸، رقم: ۲۷۹۸.

تشریح: چي وهل کیږي به، مطلب دا چي هغه به حضرت اسرافیل علیه السلام د الله جل جلاله په حکم سره دوه واره ووهي، یو وار خو د ټولو د وژلو لپاره او دوهم وار د ټولو د را ژوندي کولو لپاره.

ځینو حضراتو ویلي دي چي هغه ښکر یعني شپیلۍ حضرت اسرافیل علیه السلام په خوله کي نیولې ده او تیار ناست دی، هغه شپیلۍ ګردۍ ده او اوږدوالی یې د ځمکي او آسمانو په اندازه دی.

اَلْفَصْلُ الثَّالِث (دریم فصل)

د ناقور، راجفه او رادفه معناوي

﴿۵۲۹۵﴾: عَنِ ابْنِ عَبَّاسٍ قَالَ فِيْ قَوْلِهٖ تَعَالٰى فَإِذَا نُقِرَ فِي النَّاقُوْرِ اَلصُّوْرُ قَالَ وَ الرَّاجِفَةُ اَلنَّفْخَةُ الْاُوْلٰى وَ الرَّادِفَةُ اَلثَّانِيَةُ. رواه البخاري في ترجمة باب.

د حضرت ابن عباس رضي الله عنهما څخه روایت دی چي د الله تعالی ددغه قول: (فاذا نقر في الناقور) کي د ناقور څخه مراد صور (شپیلۍ) ده او (یوم ترجف الراجفة) کي د راجفه څخه مراد لومړنی شپیلۍ پوه کول دي او رادفه څخه مراد دویم وار پوکل دی. بخاري

تخریج: صحیح البخاري (فتح الباري) معلقا: ۱۱\ ۳۶۷،

تشریح: دواړه آیاتونه د ژباړي سره داسي دي:

(فَإِذَا نُقِرَ فِي النَّاقُورِ ، فَذَلِكَ يَوْمَئِذٍ يَوْمٌ عَسِيرٌ)

ژباړه: بیا کله چي شپیلۍ ووهل سي نو هغه وخت به پر کافرانو یوه سخته ورځ وي.

يَوْمَ تَرْجُفُ الرَّاجِفَةُ ، تَتْبَعُهَا الرَّادِفَةُ

ژباړه: په کومه ورځ چي ښورېدونکي شيان (مځکه، غرونه او ټول شيان) ليري کړي چي د هغه وروسته به ئې يو راتلونکي راسي.

راجفة په اصل کي د رجف څخه ايستل سوى دى چي معنى يې د ښورېدو او لړزېدو ده او د رادفة لفظ د ردف څخه ايستل سوى دى چي معنى يې د يو شي په يو شي پسي رسېدل دي.

د شپيلۍ پوه کولو پر وخت به ....

﴿۵۲۹۶﴾: وَعَنْ أَبِيْ سَعِيْدٍ قَالَ ذَكَرَ رَسُوْلُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ صَاحِبَ الصُّوْرِ وَقَالَ عَنْ يَمِيْنِهِ جِبْرِيْلُ وَعَنْ يَسَارِهِ مِيْكَائِيْلُ .

د حضرت ابو سعيد رضي الله عنه څخه روايت دى چي رسول الله ﷺ د شپيلۍ وهونکي ذکر وفرمايه چي د هغه راسته خوا ته به جبرائيل عليه السلام وي او چپه خوا ته به يې ميکائيل عليه السلام وي.

تخريج . رواه رزين.

د بيا ژوندي کولو ذکر

﴿۵۲۹۷﴾: وَعَنْ أَبِيْ رَزِيْنِ الْعُقَيْلِيْ قَالَ قُلْتُ يَا رَسُوْلَ اللهِ كَيْفَ يُعِيْدُ اللهُ

د حضرت ابن رزين عقيلي رضي الله عنه څخه روايت دى چي ما عرض وکړ اې د الله رسوله! هر کله چي مخلوق خاوري سي نو الله تعالى به يې دويم وار څنګه را ژوندي کړي ؟

الْخَلْقَ وَمَا آيَةُ ذٰلِكَ فِيْ خَلْقِهِ قَالَ أَمَا مَرَرْتَ بِوَادِيْ قَوْمِكَ جَدْبًا ثُمَّ مَرَرْتَ

او د اوسني مخلوق څخه به په کومه نښي سره د هغوئ ثبوت تر لاسه سي ، رسول الله ﷺ وفرمايل : ايا ته د وچ کالۍ په زمانه کي د خپل قوم د ځنګل سره تير سوى يې چي هلته د شنګيا درک نه وي بيا د باران کيدو څخه وروسته هر کله چي ته هلته ورسې

بِهِ يَهْتَزُّ خَضِرًا قُلْتُ نَعَمْ قَالَ فَتِلْكَ آيَةُ اللهِ فِيْ خَلْقِهِ كَذٰلِكَ يُحْيِي اللهُ الْمَوْتٰى . رواهما رزين.

نو شنكيا به په هواء سره خپريدونكي وويني، ما عرض وكړ هو، همداسي وي، نو رسول الله ﷺ وفرمايل بس په مخلوق كي د الله تعالى دغه نښه ده او همداسي الله تعالى مړي را ژوندي كوي. رزين.

تخريج: رواه رزين.

==========

بَابُ الْحَشْرِ (د حشر بيان)

د حشر اصل معنى د جمع كولو ده، د قيامت ورځي ته يوم الحشر په دې اعتبار وايي چي په هغه ورځ به ټول مړي د خپلو قبرونو څخه په ژوندي كولو سره راپورته سي او ټول به په هغه ځاى كي جمع سي كوم چي محشر ورته وايي.

څرګنده دي وي چي حشر دوه دي، يو خو په ذكر سوې معنى د قيامت د بعثت څخه وروسته او د دوهم حشر تعلق د قيامت څخه مخكي د قيامت د نښو دى چي د هغه يادونه مخكي تېره سوي ده، او يو اور به د ختيځ له خوا څخه ظاهر سي چي خلك به په راچاپېره كولو سره د شام هيواد ته بوځي او هلته به يې يو ځاى كړي، دلته د باب په عنوان كي د حشر لومړنۍ معنى مراد ده كه څه هم په باب كي ځيني داسي حديثونه نقل سوي دي چي په ظاهره د دواړو معنى احتمال لري ځكه د علماوو په دې اړه اختلاف دى، ځينو حضراتو پر دواړو معناوو باندي محمول كړي دي او ځينو ددې خلاف ويلي دي، صحيح خبره داده چي ددغه حديثونو محمول لومړنۍ معنى ده.

اَلْفَصْلُ الْأَوَّلُ (لومړى فصل)

د حشر ميدان

﴿۵۲۹۸﴾: عَنْ سَهْلِ بْنِ سَعْدٍ قَالَ قَالَ رَسُولُ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ يُحْشَرُ النَّاسُ يَوْمَ الْقِيَامَةِ عَلَى أَرْضٍ بَيْضَاءَ عَفْرَاءَ كَقُرْصَةِ النَّقِيِّ لَيْسَ فِيهَا عَلَمٌ لِأَحَدٍ. متفق عليه

د حضرت سهل بن سعد رضي الله عنه څخه روايت دئ چي رسول الله ﷺ وفرمايل: د قيامت په ورځ به

خلک داسي سرخي مائل سپيني مځکي کي جمع کړل سي لکه څرنګه چي د چڼ سوو اوړو ډوډۍ وي او په هغه مځکه کي به نه د چا سراى وي او نه عمارت. بخاري او مسلم.

تخريج: صحيح البخاري (فتح الباري): ۱۱\ ۳۷۲، رقم: ۶۵۲۱، ومسلم ۴\ ۲۱۵۰، رقم: ۲۸- ۲۷۹۰.

د لغاتو حل: عفراء: اي غير شديدة البياض (لږ سپين). كقرصة: اى الرغيف

د جنتيانو اول خوراک

﴿۵۲۹۹﴾: وَعَنْ أَبِي سَعِيدٍ الْخُدْرِيِّ قَالَ قَالَ رَسُولُ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ

د حضرت ابوسعيد خدري ﷺ څخه روايت دئ چي رسول الله ﷺ وفرمايل:

تَكُونُ الْأَرْضُ يَوْمَ الْقِيَامَةِ خُبْزَةً وَاحِدَةً يَتَكَفَّؤُهَا الْجَبَّارُ بِيَدِهِ كَمَا يَكْفَأُ

د قيامت په ورځ به ټوله مځکه د يوې ډوډۍ په ډول وي چي الله تعالى جبار به يې په خپل لاس باندي اړوي را اړوي لکه څرنګه چي

أَحَدُكُمْ خُبْزَتَهُ فِي السَّفَرِ نُزُلًا لِأَهْلِ الْجَنَّةِ فَأَتَى رَجُلٌ مِنَ الْيَهُودِ فَقَالَ

تاسو خلک په سفر کي ډوډۍ لاندي باندي کوئ او دا ډوډۍ به د جنتيانو ميلمستيا وي، رسول الله ﷺ چي دا وفرمايل نو يو يهودي حاضر سو عرض يې وکړ

بَارَكَ الرَّحْمَنُ عَلَيْكَ يَا أَبَا الْقَاسِمِ أَلَا أُخْبِرُكَ بِنُزُلِ أَهْلِ الْجَنَّةِ يَوْمَ الْقِيَامَةِ

اې ابو القاسم (ﷺ) الله تعالى رحمان دي تا ته برکت درکړي ايا زه درته ونښيم چي د قيامت په ورځ به د جنتيانو خوراک څه شي وي؟

قَالَ بَلَى قَالَ تَكُونُ الْأَرْضُ خُبْزَةً وَاحِدَةً كَمَا قَالَ النَّبِيُّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ

رسول الله ﷺ ورته وفرمايل: هو، نو هغه يهودي وويل مځکه به يوه ډوډۍ سي لکه څرنګه چي رسول الله ﷺ فرمايلي وه،

فَنَظَرَ النَّبِيُّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ إِلَيْنَا ثُمَّ ضَحِكَ حَتَّى بَدَتْ نَوَاجِذُهُ ثُمَّ

ددې اوريدو سره رسول الله ﷺ موږ ته وکتل او په مسکا سو تر دې چي د رسول الله ﷺ مخکي

غاښونه مبارک ښکاره کول ، بیا

قَالَ أَلَا أُخْبِرُكَ بِإِدَامِهِمْ بَالَامٌ وَنُونٌ قَالُوا وَمَا هَذَا قَالَ ثَوْرٌ وَنُونٌ يَأْكُلُ مِنْ زَائِدَةِ كَبِدِهِمَا سَبْعُونَ أَلْفًا . متفق عليه.

هغه یهودي وویل ایا زه تاسو ته د جنتیانو کتغ وښیم هغه بالام او نون دي ، صحابه کرامو پوښتنه وکړه چي دا څه شي دي ؟ هغه یهودي ورته وویل غوایی او ماهی دی چي ددې دواړو د غوښو د هغه ټوټې څخه چي ځیګر باندي ده ، اویا زره کسان به يې خوري. (یهودي په تورات کي دا خبري لیدلي وې) . بخاري اومسلم.

تخريج : صحيح البخاري (فتح الباري): ۱۱\ ۳۷۲، رقم: ۶۵۲۰، ومسلم ۴\ ۲۱۵۱، رقم: ۳۰ - ۲۷۹۲.

د لغاتو حل : خبزة واحدة: ای کخبزة واحدة فهو تشبيه. بالام: ای ثور. والنون: ای السمک (ماهی)

تشريح: په خپلو لاسونو سره داسي اړوي را اړوي، ددغه جملې په ذريعه دې ته شاره ده چي څرنګه د ډوډۍ پخوونکی هغه د یوه لاس څخه بل ته اړوي را اړوي او بیا يې پر تاوده تبخي یا تنور باندي په اړولو را اړولو سره پخوي همدارنګه دغه مځکه به هم اړول او را اړول کیږي او د ډوډۍ په ډول به وي، څرګنده دي وي چي د حديث د ظاهري الفاظو څخه دا معلومیږي چي د قیامت په ورځ به دغه مځکه ډوډۍ سي او جنت ته د تلونکو خوراک به وګرځي چي هغوئ به جنت ته د تللو په وخت کي دغه خوري، ځینو حضراتو د حديث الفاظ پر ظاهري معنی محمول کړي دي او حقیقت دادی چي دا خبره د الله تعالی د قدرت څخه لیري نه ده هغه پر دې قادر دی چي دا مځکه ډوډۍ وګرځوي او جنتیانو ته يې د خوراک لپاره ورکړي ، نو صحیح خبره داده چي د حديث دغه ظاهري مفهوم مراد واخیستل سي او په دې اړه چا ته د شک او شبهې کولو موقع ور نه کړل سي ، ځیني حضراتو دحديث د ذکر سوو الفاظو د هغه پر ظاهري معنی نه حمل کولو سره د تاويل او توجيه لار اختیار کړې ده مګر دهغوئ ددغه تاويلاتو او توجيهاتو د اوږدوالي د بیري نه ذکر کیږي .

رسول الله ﷺ موږ ته وکتل او وې خندل، هغه یهودي عالم چي څه بیان کړل هغه يې د تورات څخه بیان کړي وه او د هغه خبره د رسول الله ﷺ د ښودل سوو خبرو تصديق کوی ، له دې پرته هغه خبري د صحابه کرامو په یقین او ایمان کي د زیاتوب سبب هم سوې ځکه رسول الله ﷺ پر هغه د اطمینان د اظهار دپاره وخندل او داسي يې وخندل چي د رسول الله ﷺ د مخ

غابنونه مبارک ښکاره سول.

د اوويا زرو کسانو څخه مراد هغه خاص بندګان دي چي د حساب او مؤاخذې د پړاو تېرېدو څخه پرته به جنت ته ځي او د هغوئ مخونه به د څلورلسمي شپې د سپوږمۍ په ډول ځلانده وي او کیدای سي چي د اوويا زره کسانو څخه خاص شمېر مراد نه وي بلکه محض زیاتوب مراد وي.

زائده کبد، يعني د ځیګر زياته برخه، دغه لفظ په اصل کي د ځیګر هغه کوچنۍ ټوټې ته وايي چي يوې خوا ته وي، دغه برخه ډېره غوره ګڼل کیږي، يو احتمال دادی چي د صحابه کرامو په پوښتنه د بالام چي کومه معنی بیان سوې ده هغه يهودي عالم نه بلکه خپله رسول الله ﷺ بيان کړې ده او صحابه کرامو ددغه لفظ په معنی پوه نه سول او هغوئ په دې اړه پوښتنه وکړل نو تر دې مخکي چي يهودي عالم جواب ورکړي رسول الله ﷺ ته دوحي په ذريعه ددغه عبراني لفظ معنی ونبودل سول او رسول الله ﷺ صحابه کرامو ته بیان کړل.

د حشر ذکر

﴿۵۳۰۰﴾: وَعَنْ أَبِي هُرَيْرَةَ قَالَ قَالَ رَسُولُ اللهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ يُحْشَرُ

د حضرت ابو هريره رضی الله عنه څخه روايت دئ چي رسول الله ﷺ وفرمایل: خلک به را جمع کړل سي

النَّاسُ عَلَى ثَلَاثِ طَرَائِقَ رَاغِبِينَ رَاهِبِينَ وَاثْنَانِ عَلَى بَعِيرٍ وَثَلَاثَةٌ عَلَى بَعِيرٍ

پر درو ډلو: يو خو هغه چي د جنت خواهشمند وي، دويم هغه چي د دوږخ څخه بيرېږي، په دوئ کي د هر ډول خلک به د خپلو مرتبو په لحاظ پر اوښانو سپاره وي دوه تنه به پر يوه اوښ سپاره وي او درې تنه پر يوه اوښ

وَأَرْبَعَةٌ عَلَى بَعِيرٍ وَعَشَرَةٌ عَلَى بَعِيرٍ و تحشرو بَقِيَّتَهُمُ النَّارُ تَقِيلُ مَعَهُمْ

او څلور تنه پر يوه اوښ او لس تنه به پر يوه اوښ سپاره وي او ور به هغوئ را جمع کړي چي هلته به هغوئ قيلوله (د غرمې آرام) کوي، اور به هم د هغوئ سره قيلوله کوي

حَيْثُ قَالُوا وَتَبِيتُ مَعَهُمْ حَيْثُ بَاتُوا وَتُصْبِحُ مَعَهُمْ حَيْثُ أَصْبَحُوا وَتُمْسِي مَعَهُمْ حَيْثُ أَمْسَوْا. متفق عليه.

په کوم ځای کي چي هغوئ شپه تیروي اور به هم ورسره هلته شپه تیروي په کوم ځای کي چي هغوئ سهار کوي اور به هم ورسره هلته سهار کوي په کوم ځای کي چي هغوئ مابنام کوي اور به هم ورسره هلته مابنام کوي غرض دا چي په کوم ځای کي چي هغوئ وي هلته به اور هم ورسره وي . بخاري او مسلم.

تخريج : صحيح البخاري (فتح الباري): ۱۱\۳۷۷، رقم: ٦٥٢٢، ومسلم ۴\۲۱۹۳ ۱، رقم: ۵۹- ۲۸٦۱.

تشريح: د ملا علي قاري رحمه الله مطابق په درو ډولو کي يو يعني لومړني ډول خلک به سپاره وي او پاته دوه ډوله خلک به پر پښو او پوړموخي تلونکي وي لکه چي د راتلونکي دوهم فصل د حديث څخه به څرګنده سي مګر ځينو شارحينو ويلي دي چي مخکي دواړه ډوله خلک به سپاره وي او پاته ټول خلک به پر پښو وي او هغوئ ويلي دي چي د اوښ د سپرو د ذکر سوو شمېر په اصل کي د هغه دواړو ډولو خلکو د مراتبو تفصيل د کنايې او تمثيل بيانولو لپاره دی چي کوم څوک څومره زيات د لوړي مرتبې خاوند وي هغومره به زيات راحت، اسانتيا او په تيزي سره ميدان حشر ته رسيږي .

د لومړنيو دوو ډولو خلکو تعلق د مؤمنانو سره دی چي د هغوئ څخه يو به هغه خلک وي چي په دنيا کي د الله تعالی د فضل او کرم اميد لرونکي وه او هغه چي د خپلو نيکو بندګانو لپاره د جنت او د هغه د نعمتونو وعده کړې ده د هغه شوق پر هغوئ غالب وي او دا هغه خاص بندګان دي چي د هغوئ په اړه فرمايل سوي دي (لا خوف عليهم ولا هم يحزنون) او دوهم هغه خلک دي چي د هغه د عذاب څخه په بيره کي دي او د دوږخ د اور د بيري پوره غلبه وربا ندي وي ، له دې څخه معلومه سوه چي د الله تعالی د فضل او کرم په اميد او شوق کي کېدونکي طاعت او عبادت د هغه طاعت او عبادت څخه افضل دی کوم چي د الله تعالی د بيري او خوف څخه وکړل سي .

څلور پر يوه اوښ باندي او لس پر يوه اوښ باندي وي. د څلورو او لسو په منځ کي د دوهم عدد ذکر ځکه ونه کړل سو چي هغه پر ذکر سوو اعدادو باندي په قياس کولو سره فهمول کيږي همدارنګه پر يوه اوښ باندي د يوه سړي سپرېدل ذکر سوي نه دي حال دا چي په يقيني توګه سره په محشر کي راتلونکي به داسي هم وي چي پر خپل خپل اوښ باندي به يوازي وي او دهغوئ په سپرلۍ کي به د هغوئ سره څوک شريک نه وي، نو اصل خبره داده چي هغه د انبياوو او رسولانو مرتبه ده او دلته د انبياوو او رسولانو حشر نه دی بلکه د خلکو د حشر ذکر کول مقصد

دي ، يوه خبره دا هم ضروري ده چي پر يوه يوه اوبن باندي به تر دوو د زياتو کسانو سپرېدل پر دوارو صورتو محتمل کيدای سي يا خو به داسي وي چي يو اوبن به د څو خلکو د سپرلۍ دپاره متعين وي ، هغه ټول خلک به په هغه يو ځای کي کښيني او يا به داسي وي چي د وار په ټاکلو سره به پرې کښيني چي هر سړی به په وار وار پر سپرېږي

په پای کي په دې خبره پوه سئ چي په دې اړه د علماؤ اختلاف دی ، دلته په حديث کي د خلکو په محشر کي د جمع کولو چي کوم ذکر دی د هغه تعلق د کوم وخت سره دی، ځينو حضراتو ويلي دي چي دا د هغه حشر ذکر دی چي د قيامت په ورځ به په آخرت کي را پورته کيږي او هر سړی به په دوهم وار را ژوندي کېدو سره محشرته راوستل سي ، حال دا چي د ځينو نورو علماوو وينا ده چي دا د آخرت د حشر ذکر نه دی بلکه هغه حشر مراد دی چي قيامت ته نژدې به واقع کيږي چي خلک به د ټولو سيمو څخه په را جمع کولو سره د شام هيواد ته يو ځای چي هغه ته محشر ويل کيږي، را جمع کړل سي او هغه د قيامت د نښو څخه دی، د دغه حضراتو دليل دادی چي په آخرت کي چي کوم محشر دی په هغه کي به ټول خلک پر پښو وي لکه چي په يو بل حديث کي بيان سوي دي او ځينو حضراتو ويلي دي چي په آخرت کي به څو محشره وي يو خو د قبر څخه د راوتلو وخت او د ټولو خلکو د دوهم وار را ژوندې کېدو څخه سمدستي وروسته او دوهم حشر به د دې وروسته وي په دې کي به ځينو ته سپرلۍ تر لاسه کيږئ او ځيني به پر پښو وي او ځيني به پوړموخي راځي ، په هر حال صحيح قول دا معلوميږي چي د آخرت حشر مراد دی.

د حشر په ميدان کي ......

﴿۵۳۰۱﴾: وَعَنْ ابْنِ عَبَّاسٍ عَنِ النَّبِيِّ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ قَالَ إِنَّكُمْ

د حضرت ابن عباس رضي الله عنه څخه روايت دئ چي رسول الله ﷺ وفرمايل : تاسو به د قيامت په ورځ

مَحْشُورُونَ حُفَاةً عُرَاةً غُرْلًا ثُمَّ قَرَأَ كَمَا بَدَأْنَا أَوَّلَ خَلْقٍ نُعِيدُهُ وَعْدًا عَلَيْنَا

په داسي حال کي را جمع کړل سئ چي تاسو به لوڅي پښې لوڅ بدن او نا سنته ياست ، د دې څخه وروسته رسول الله ﷺ دا تلاوت کړ : (کما بدانا اول خلق......) يعني لکه څرنګه چي موږ د زيږيدنې په وخت کي پيدا کړي وه همداسي به يې بيا پيدا کړو دا وعده پر موږ لازم ده او

إِنَّا كُنَّا فَاعِلِينَ وَأَوَّلُ مَنْ يُكْسَى يَوْمَ الْقِيَامَةِ إِبْرَاهِيمُ وَإِنَّ أُنَاسًا مِنْ

موږ همداسي کوونکي يو ، او رسول الله ﷺ وفرمايل : د قيامت په ورځ به تر ټولو مخکي حضرت

ابراهیم علیه السلام ته جامه واغوستل سي

أَصْحَابِي يُؤْخَذُ بِهِمْ ذَاتَ الشِّمَالِ فَأَقُولُ أُصَحَابِي أُصَحَابِي فَيَقُولُ إِنَّهُمْ لَمْ

او زما په ملګرو کي څه خلک دي چي هغوئ به چپه خوا ته (یعني د دوږخ په لور) بوتلل سي، زه به (ددې په لیدو سره) ووایم دا خو زما ملګري دي دا خو زما ملګري دي، الله تعالی به

يَزَالُوا مُرْتَدِّينَ عَلَى أَعْقَابِهِمْ مُنْذُ فَارَقْتَهُمْ فَأَقُولُ كَمَا قَالَ الْعَبْدُ الصَّالِحُ

وفرمايي د کوم وخت چي څخه ته د دوئ څخه بیل سوې دوئ به همېشه د دین څخه لیري ګرځیدل نو زه به هغه (خبره) وکړم کومه چي صالح بنده (یعني حضرت عیسی علیه السلام) کړې وه یعني دا چي

وَكُنْتُ عَلَيْهِمْ شَهِيدًا مَا دُمْتُ فِيهِمْ إِلَى قَوْلِهِ الْعَزِيزُ الْحَكِيمُ . متفق عليه

(وکنت علیهم شهیدا .....) یعني تر څو پوري چي زه په هغوئ کي وم د هغوئ د حال څخه خبر وم خو هر کله چي زه تا د هغوئ څخه پورته کړم نو ته د هغوئ ساتونکی او نګران وې، بخاري او مسلم.

تخریج : صحیح البخاري (فتح الباري): ٦\٣٨٦، رقم: ٣٣٤٩، ومسلم ٤\٢١٩٤، رقم: ٥٨- ٢٨٦٠.

د لغاتو حل : غُرلا : جمع الارغل، ای غیر مختونین (ناسنته).

تشریح : او ناسنته به وي، دلته دې ته اشاره ده چي د قیامت په ورځ کله چي مړي د خپلو قبرو څخه راپاځي نو د هغوئ بدن او د بدن ټول اندامونه به یو ځای سي او ټول بدن به داسي سي لکه څرنګه چي په دنیا کي وو، ددې دلیل دادی چي دختنه (سنت کېدو) هغه پوست چي په پرېکولو سره غورځول کیږي چي په دنیا کي د ضائع کولو قابل دی هغه به د قیامت په ورځ خپل ځای ته (یعني د سنتېدو ځای ته) په راتللو سره د هغه د بدن برخه وګرځي، نو نور اجزاء لکه وېښتان ، نوکان او داسي نور به هم داسي پیدا سي او پر خپل ځای به ولګیږي نو دا حقیقت نه یوازي دا چي د الله تعالی د کمال علم او کائناتو پر یوه یوه جز او کل باندي د هغه د محیط کېدو دلیل دی بلکه د ممکناتو تعلق سره د هغه د قدرت کامله علامه هم ده .

تر ټولو وړاندي چي چا ته جامې ور واغوستل سي هغه به حضرت ابراهیم علیه السلام وي، حضرت ابراهیم علیه السلام ته به دا فضیلت ځکه ترلاسه وي چي هغه په دغه خلکو کي تر ټولو لومړنی کس دی چي فقیرانو او اړو کسانو ته به یې جامې وراغوستلې او د هغوئ ستر به یې پټاوه، یا دا چي حضرت ابراهیم علیه السلام تر ټولو لومړنی سړی دی چي هغه د الله جل جلاله په لاره کي بې جامو کړل

سو، كله چي نمرود هغه په اور كي اچولی وو، نو د هغه دغه خاص فضيلت زموږ پر رسول الله ﷺ باندي د هغه افضليت نه ثابتوي بلكه حقيقت خو دادی چي حضرت ابراهيم عليه السلام ته تر ټولو لومړنی جامه اغوستل به د هغه د اكرام په توگه وي چي هغه د رسول الله ﷺ روحاني او ديني پلار دی، له دې څخه پرته دا هم كتل پكار دي چي حضرت ابراهيم عليه السلام ته به كوم اوليت حاصل وي هغه حقيقي دی كه اضافي، په ظاهره دا معلوميږي چي د هغه دغه اوليت حقيقي نه دی بلكه اضافي دی يعني هغه به د رسول الله ﷺ څخه پرته په نورو ټولو خلكو كي تر ټولو مخكي جامې واغوندي، ددې تائيد ددغه روايت څخه هم كيږي چي په هغه كي دا نقل سوي دي چي رسول الله ﷺ په كومو جامو كي دفن سوی دی د قيامت په ورځ به په هغه جامو كي راپاڅي او د حشر ميدان ته به راځي، په جامع صغير كي د حضرت ابوهريره رضي الله عنه څخه د ترمذي دا روايت نقل سوی دی چي رسول الله ﷺ وفرمايل:

انا اول من ينشق عنه الارض فاكسي حلة من حلل الجنة ثم اقوم عن يمين العرش ليس احد من الخلائق يقوم ذلك المقام غيري.

ژباړه: د قيامت په ورځ زه تر ټولو مخكي د مځكي په چاودلو سره راپاڅم او جنت جامه به اغوندم، بيا به د عرش راسته خوا ته ودريږم او دا ځای به په مخلوقاتو كي زما څخه پرته بل چا ته په برخه نه وي.

زه به هغه وايم كوم چي صالح بنده حضرت عيسى عليه السلام ويلي وه...الخ: يعني څرنگه چي حضرت عيسى عليه السلام به د قيامت په ورځ د خپل قوم د گمراهۍ او بدعملۍ څخه د خپلي بېزارۍ اظهار كوي او د خپل گمراه قوم معامله به د الله تعالى په عدل او انصاف پرېږدي همدارنگه زه به هم دا وايم چي پروردگاره زما د امت دا هغه خلك دي چي په دنيا كي زما د شتون په دوران كي د ايمان او عمل پر سېده لاره روان وه او زه د دوئ ساتونكی او ذمه دار وم، مگر كله چي زه د دنيا څخه ولاړم نو دوئ د خپل نفس او شيطان په دوكه كي په اخته كېدو سره گمراهي اختيار كړل، اوس د دوئ معامله پر تا باندي موقوف ده، ستا عادل او منصف دربار د دوئ په اړه چي څه غواړي فيصله وكړې او هغه به عادلانه او منصفانه وي، رسول الله ﷺ د خپلي دغه خبري د ظاهرولو لپاره د حضرت عيسى عليه السلام د تعلق سره د قرآن كريم دغه آيت ووايه:

وَكُنتُ عَلَيْهِمْ شَهِيدًا مَّا دُمْتُ فِيهِمْ فَلَمَّا تَوَفَّيْتَنِي كُنتَ أَنتَ الرَّقِيبَ عَلَيْهِمْ وَأَنتَ عَلَى كُلِّ شَيْءٍ شَهِيدٌ ، إِن تُعَذِّبْهُمْ فَإِنَّهُمْ عِبَادُكَ وَإِن تَغْفِرْ لَهُمْ فَإِنَّكَ أَنتَ الْعَزِيزُ الْحَكِيمُ

يعني د قيامت په ورځ چي الله تعالى نصارا ته د اورولو او دهغوئ د شرمنده كولو لپاره حضرت عيسى عليه السلام ته وفرمايي ايا تا خپل قوم ته عقيده تثليث يعني د درو خدايانو منلو تلقين او تبليغ كړى وو نو حضرت عيسى عليه السلام به دخپل برائت اظهار وكړي او وايي چي ما خو دوئ ته يوازي ستا د بندګۍ تلقين او تبليغ كړى دى او ترڅو چي زه د دوئ په منځ كي وم په دوئ خبر وم او ددوئ ساتنه مي كول چي دا خلك د صحيح عقيدې د رڼا څخه بې لاري نه سي مګر كله چي تا زه ددغه دنيا څخه پورته كړم او د دوئ څخه دي زما ساتنه پورته كړل نو بيا يوازي ته د دوئ په حال خبر يې او ته په هر شي پوره خبر يې ، او كه د دوئ د بدعملۍ په وجه ته دوئ ته سزا وركوې نو دا ستا بندګان دي او كه معاف يې كړې نو بېشكه ته د حكمت والا يې .

څرګنده دي وي چي دلته په حديث كي د صحابه څخه مراد هغه صحابه نه دي چي هغوئ د رسول الله ﷺ په ژوند كي هم او د رسول الله ﷺ د وفات څخه وروسته هم د رسول الله ﷺ د نسبت خاوندان وه او هغوئ ته په حقيقت كي صحابهٔ ويل كيږي لكه څرنګه چي دهغوئ په اړه دا په يقيني توګه معلومه ده چي درسول الله ﷺ څخه وروسته په هغوئ كي هيڅ صحابي مرتد سوى نه دى او نه يو چا د عقيدې او عمل څخه داسي ګمراهي اختيار كړه چي د هغه په وجه هغه ته دوږخي وويل سي نو د صحابه څخه مراد هغه صحرايان دي چي د رسول الله ﷺ په زمانه كي په اسلام مشرف سول مګر د رسول الله ﷺ د وفات وروسته د مسيلمه كذاب، اسود او داسي نورو كسانو د پيروۍ په سبب مرتد سوي دي .

د حشر په ميدان كي به ټول خلك لوڅ وي

﴿۵۳۰۲﴾: وَعَنْ عَائِشَةَ قَالَتْ سَمِعْتُ رَسُولَ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ يَقُولُ

د حضرت عائشې (رض) څخه روايت دى چي ما د رسول الله ﷺ څخه اوريدلي دي چي د

يُحْشَرُ النَّاسُ يَوْمَ الْقِيَامَةِ حُفَاةً عُرَاةً غُرْلًا قُلْتُ يَا رَسُولَ اللّٰهِ الرِّجَالُ وَ

قيامت په ورځ به خلك لوڅي پښې ، لوڅ بدن او نا سنته راجمع كيږي ، ما عرض وكړ اې دالله رسوله! خلك او

النِّسَاءُ جَمِيعًا يَنْظُرُ بَعْضُهُمْ إِلَى بَعْضٍ فَقَالَ يَا عَائِشَةُ الْأَمْرُ أَشَدُّ مِنْ أَنْ يَنْظُرَ بَعْضُهُمْ إِلَى بَعْضٍ . متفق عليه .

ښځې ټول به په هغوئ کې يو بل ته ګوري ، رسول الله ﷺ وفرمايل: اې عائشې ! دغه موقع به ددې څخه ډيره زياته هولناکه وي چې خلک دې يو بل ته وګوري . بخاري او مسلم.

تخريج : صحيح البخاري (فتح الباري): ۱۱\ ۳۷۷، رقم: ٦٥٢٧، ومسلم ۴\ ۲۱۹۴، رقم: ٥٦- ۲۸٥۹.

تشريح: مطلب دادی چې د قيامت په ورځ به د حشر په ميدان کې که څه هم ټول خلک لوڅ راوځي مګر د هر سړي (او ښځې) د لوڅوالي څخه به د يو بل نظر پټ وي او هيڅوک به بل څوک لوڅ نه ويني ځکه چې د هغه ورځې معامله به داسې وي چې هر څوک به په خپل خپل فکر کې ډوب وي ، هرې خوا ته به اعمال نامه خپره سوې وي او خلک به د حساب او مؤاخذې په مراحلو او د قيامت په سختيو کې داسې اخته وي چې هيچا ته به د چا خبر نه وي چې څوک په کوم حال کې دی او چا ته به د نظر کولو موقع هم نه وي لکه چې په قرآن کريم کې فرمايل سوي دي .

دوږخيان به پړمخې د حشر ميدان ته راځي

﴿۵۳۰۳﴾: وَعَنْ اَنَسٍ أَنَّ رَجُلًا قَالَ يَا نَبِيَّ اللّٰهِ كَيْفَ يُحْشَرُ الْكَافِرُ عَلَى وَجْهِهِ يَوْمَ الْقِيَامَةِ قَالَ أَلَيْسَ الَّذِي أَمْشَاهُ عَلَى الرِّجْلَيْنِ فِي الدُّنْيَا قَادِرًا عَلَى أَنْ يُمْشِيَهُ عَلَى وَجْهِهِ يَوْمَ الْقِيَامَةِ. متفق عليه.

د حضرت انس رضي الله عنه څخه روايت دی چې يو سړي عرض وکړ اې د الله رسوله ! د قيامت په ورځ به کافر ولې پړمخې يو ځای کړل سي ، رسول الله ﷺ ورته وفرمايل : چا چې په پښو سره په دنيا کې خلک روان کړي دي ايا هغه پر دې قادر نه دی چې د قيامت په ورځ کافر پړمخې روان کړي . بخاري او مسلم

تخريج : صحيح البخاري (فتح الباري): ۸\ ۴۹۲، رقم: ۴۷٦۰، ومسلم ۴\ ۲۱٦۱، رقم: ٥۴- ۲۸۰٦.

د ابراهيم عليه السلام د پلار حشر

﴿۵۳۰۴﴾: وَعَنْ أَبِي هُرَيْرَةَ رَضِيَ اللّٰهُ عَنْهُ عَنِ النَّبِيِّ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ قَالَ

د حضرت ابوهريره رضي الله عنه څخه روايت دئ چې رسول الله ﷺ وفرمايل :

يَلْقَى إِبْرَاهِيمُ أَبَاهُ آزَرَ يَوْمَ الْقِيَامَةِ وَعَلَى وَجْهِ آزَرَ قَتَرَةٌ وَغَبَرَةٌ فَيَقُولُ لَهُ

د قيامت په ورځ به ابراهيم عليه السلام د خپل پلار آذر سره ملاقات وکړي په داسي حال کي چي د آذر مخ به د غم څخه تور وي، ابراهيم عليه السلام به هغه ته وايي

إِبْرَاهِيمُ أَلَمْ أَقُلْ لَكَ لَا تَعْصِنِي فَيَقُولُ أَبُوهُ فَالْيَوْمَ لَا أَعْصِيكَ فَيَقُولُ

ايا ما به تا ته دا نه ويل چي زما نافرماني مه کوه؟ آذر به ابراهيم عليه السلام ته وايي نن به زه ستا نافرماني نه کوم، ابراهيم عليه السلام به وايي

إِبْرَاهِيمُ يَا رَبِّ إِنَّكَ وَعَدْتَنِي أَنْ لَا تُخْزِيَنِي يَوْمَ يُبْعَثُونَ فَأَيُّ خِزْيٍ أَخْزَى

اې پروردګاره! تا زما سره وعده کړې وه چي ته به ما په هغه ورځ ذليل او خوار کوې نه په کومه ورځ چي خلک پاڅول کيږي او س د دې څخه زيات به بله کومه رسوايي ده چي

مِنْ أَبِي الْأَبْعَدِ فَيَقُولُ اللّٰهُ تَعَالَى إِنِّي حَرَّمْتُ الْجَنَّةَ عَلَى الْكَافِرِينَ ثُمَّ يُقَالُ يَا

زما پلار د الله جل جلاله د رحمت څخه ليري دی الله تعالی به ورته فرمايي ما جنت پر کافرانو حرام کړی دی بيا به حضرت ابراهيم عليه السلام ته وويل سي چي اې ابراهيم!

إِبْرَاهِيمُ مَا تَحْتَ رِجْلَيْكَ فَيَنْظُرُ فَإِذَا هُوَ بِذِيخٍ مُلْتَطِخٍ فَيُؤْخَذُ بِقَوَائِمِهِ فَيُلْقَى فِي النَّارِ. رواه البخاري.

هغه شی ووينه چي ستا د پلار تر پښو لاندي دی، ابراهيم عليه السلام به وګوري نو آذر به د يو کوږ په صورت کي وي چي په خاورو کي به لړلی وي آخر هغه به د پښو څخه نيولی په دوږخ کي وغورځول سي. بخاري.

تخريج: صحيح البخاري (فتح الباري): ٦\٣٨٧، رقم: ٣٣٥٠.

د لغاتو حل: قترة: اى سواد من الكابة والحزن (د غم څخه تور کېدل). غبرة: اى غبار معه سواد. بذيخ: ذكر الضبع الكثير الشعر. (کوږ\ يږ)

تشريح: د حضرت ابراهيم عليه السلام د پلار آذر صورت به د کوږ په شکل څکه بدل کړل سي چي د ابراهيم عليه السلام د زړه څخه د هغه پلرنی مينه ليري کړل سي او د هغه څخه بېل سي يا د دې لپاره چي د هغه سپکاوی ونسي چي د هغه پلار په دوږخ کي اچول کيږي.

علماؤ ليکلي دي که څه هم حضرت ابراهيم رحمة الله عليه په دنيا کي د خپل پلار څخه بېزاره سوی

دي او د هغه ځخه يې د خپلي بېزارۍ اظهار کړی دي مګر کله چي د قيامت په ورځ د حشر په ميدان کي هغه ويني نو بې اختياره به پلرنی مينه پيدا سي نو د هغه لپاره به د بخښني او خلاصون خواهش وکړي چي کيدای سي د هغه خواست او شفاعت قبول سي مګر کله چي د هغه خواست او شفاعت قبول نه سي او خپل پلار د يو حقير حيوان په شکل کي ويني نو نا اميده به سي او د هغه ځخه به د تل لپاره د خپلي بېزارۍ اظهار وکړي او ځينو حضراتو ليکلي دي چي حضرت ابراهيم عليه السلام ته يقين نه وو چي د هغه پلار آذر د کفر په حالت کي مړ سوی دی، د هغه ګمان وو چي کيدای سي هغه په پټه توګه ايمان راوړی وي او ما ته د هغه خبر نه وي رارسېدلی او کيدای سي هغه د قيامت په ورځ د خپل دغه ګمان په وجه د هغه په اړه شفاعت وکړي، مګر په ظاهري توګه هغه د کفر په حالت کي وو ځکه هغه په دنيا کي د ظاهري احوالو په اعتبار کولو سره د هغه ځخه د خپلي بېزارۍ اظهار وکړ او بيا کله چي په قيامت کي د هغه د کفر په حالت کي مړ کېدل ويني نو د خپل پلار ځخه به هغه بېزاري چي په دنيا کي يې ظاهره کړې وي د تل لپاره سي.

د حشر په ميدان کي بهېدونکي خوله

﴿۵۳۰۵﴾: وَعَنْهُ قَالَ قَالَ رَسُولُ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ يَعْرَقُ النَّاسُ يَوْمَ الْقِيَامَةِ حَتَّى يَذْهَبَ عَرَقُهُمْ فِي الْأَرْضِ سَبْعِينَ ذِرَاعًا وَيُلْجِمُهُمْ حَتَّى يَبْلُغَ آذَانَهُمْ. متفق عليه.

د حضرت ابو هريره رضي الله عنه ځخه روايت دئ چي رسول الله صلى الله عليه وسلم وفرمايل: د قيامت په ورځ به پر خلکو خوله راسي تر دې چي د هغوئ خوله به په مځکه کي اويا ګزه پوري ولاړه سي او دا خولې ته به واکي ور واچول سي تر داسي حده چي د دوئ تر غوږونو پوري به ورسيږي. بخاري او مسلم.

تخريج: صحيح البخاري (فتح الباري): ۱۱\۳۹۲، رقم: ۶۵۳۲، ومسلم ۴\۲۱۹۶، رقم: ۶۱- ۲۸۶۳.

د لغاتو حل: يلجمهم: اى الى افواهم. (تر خولې پوري).

تشريح: د خلکو ځخه مراد ټول خلک دي، او په دې کي پيريان هم شامل دي چي هغوئ ته په طريقه اولى خوله راځي او بهيږي، نو د پيريانو نه ذکر کول د اکتفاء په توګه دي يعني ظاهره ده چي انبياء او اولياء به د دغه خلکو ځخه مستثنى وي، ښرګنده دي وي چي د خولې په دومره سختي سره راتلل او بهېدل به له دې کبله وي چي هغه وخت به سخته بېره وي، د اعمال نامو په

خلاصولو باندي به د حياء، شرمندګی، او ملامتيا غلبه وي د لمر ګرمي او د اور تاو به ډېر زيات وي.

دا چي فرمايل سوي دي چي پر خلکو به دومره زياته خوله راځي چي د هغوئ لپاره ب زولنې وګرځي نو په دې اړه وضاحت به په راتلونکي حديث کي وسي او دهغه څخه به څرګند سي چي د خولې د زياتوب به مختلف احوال دي چي د هغه سره به خلک د خپلي خپلي مرتبې او اعمالو په اعتبار مخامخ وي.

د حشر په ميدان کي د لمر نژدېوالی

﴿۵۳۰۶﴾: وَعَنِ الْمِقْدَادِ قَالَ سَمِعْتُ رَسُوْلَ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ يَقُوْلُ تُدْنَ

د حضرت مقداد رضي الله عنه څخه روايت دی چي د رسول الله ﷺ څخه مي اوريدلي دي چي ويل يې

الشَّمْسُ يَوْمَ الْقِيَامَةِ مِنَ الْخَلْقِ حَتّٰى تَكُوْنَ مِنْهُمْ كَمِقْدَارِ مِيْلٍ فَيَكُوْ

د قيامت په ورځ به لمر را نژدې سي خلکو ته تر داسي حده چي د يوه ميل په اندازه به وي، نو

النَّاسُ عَلٰى قَدْرِ اَعْمَالِهِمْ فِي الْعِرْقِ فَمِنْهُمْ مَنْ يَّكُوْنُ اِلٰى كَعْبَيْهِ وَمِنْهُمْ مَنْ

خلک به د خپلو عملونو سره په خولو کي ډوب وي ځيني له دوئ څخه به هغه وي چي خولې يې
تر بجلکو پوري وي او ځيني له دوئ څخه به هغه وي چي خولې يې

يَّكُوْنُ اِلٰى رُكْبَتَيْهِ وَمِنْهُمْ مَنْ يَّكُوْنُ اِلٰى حَقْوَيْهِ وَمِنْهُمْ مَنْ يَّلْجِمُهُمُ الْجَا

وَاَشَارَ رَسُوْلُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ بِيَدِهٖ اِلٰى فَمِهٖ. رواه مسلم.

تر زنګنو پوري وي او ځيني له دوئ څخه به هغه وي چي خولې يې تر هغه ځايه وي پر کوم ځا چي پرتوګ ابن تړل کيږي او ځيني له دوئ څخه به هغه وي چي خولې يې د د خولې لپاره قيزه س او اشاره وکړه رسول الله ﷺ په لاس مبارک سره خولې مبارکي ته. مسلم

تخريج: صحيح مسلم ۴\۲۱۹۶، رقم: ٦٢ - ۲۸٦۴.

د لغاتو حل: حقويه: الخصر، ومشد الازر. (د پرتوګ ابن تړلو ځای)

تشريح: ميل په عربي کي کوس (يعني ۷٦۰ ګزه) فاصلې ته هم وايي او د رانجو سلايي ته وايي، ځينو حضراتو د يوه ميل فاصلې پاته کېدو څخه د يوه کوس په اندازه فاصله م

اخیستې ده او ځینو حضراتو دا معنی بیان کړې ده چي په هغه ورځ به لمر د رانجو د سلائي په اندازه وي، په هر حال اصل مقصد دا ظاهرول دي چي د حشر په میدان کي به لمر خلکو ته ډېر زیات رانژدې وي.

د حدیث خلاصه داده چي په هغه ورځ چي خلکو ته به خوله راځي هغه به د دوئ د اعمالو د مرتبو په اندازه وي، تر ټولو کمه خوله چي کومو خلکو ته راځي هغه خلک به وي چي د هغوئ اعمال به ډېر زیات ښه وي او هغه خلک به تر بجلکو پوري په خوله کي وي، پر همدې باندي نور هم قیاس کېدای سي چي د کوم سړي نیک اعمال څومره کم او خراب وي هغه په هم دومره زیات په خوله کي ډوب وي.

دوه سوالونه او د هغو جوابونه

په دغه حدیث شریف کي دوه سواله پیدا کیږي یو خو دا چي دغه وخت لمر زمونږ څخه په کروړونو میله فاصله کېدو سربېره دومره زیات حرارت لري چي د هغه ګرمي د انسان لپاره د زغملو وړ نه وي، او کله چي د حشر په میدان کي لمر یوازي د یو میل پر فاصله باندي وي نو دهغه حرارت او ګرمي به نه یوازي دا چي د زغملو وړ نه وي بلکه د هغه په ضد کي راتلونکي خلک به څرنګه ژوندي پاته کیږي، ددې جواب دادی چي د اخرت اجسام به د دنیا د اجسامو په ډول نه وي ځکه د هغه ځای پر بدنو باندي تېرېدونکي احوال ددغه دنیا پر بدنو باندي د تېرېدونکو احوالو قادر نه دي، ددې څخه پرته په اخرت کي به مرګ نه وي ځکه هلته به خلک سخت او ستونزمن مشکلات تېروي.

دوهم سوال دا پیدا کیږي چي کله خوله د دریاب د څپو په ډول د ځینو خلکو خولو ته ورسیږي نو دا څرنګه ممکن ده چي د نورو خلکو تر ښنګلو پوري ودریږي، ددې جواب دادی چي د الله ﷻ قدرت کامله به د هر سړي خوله د هغه د عمل په تناسب سره ودروي چي د چا خوله د هغه تر خولې پوري رسیږي او څوک به په خپله خوله کي تر بجلکو پوري ډوب وي لکه چي ددې لېدنه په دنیا کي هم سوې ده چي د الله ﷻ په حکم سره د نیل سند هغه څپې چي نوریې غرق کړي وه د حضرت موسی ﷺ او د هغه د قوم لپاره ساکن او جامد سوی وه، له دې پرته دا خبره هم کېدای سي چي د آخرت معامله به د دنیا د معاملې څخه بېله وي، او هغه دلته د دنیا پر حالاتو قیاس کېدای نه سي، دهغه ځای ټولي چاري د دنیاوي نظام خلاف دي۔ ایا داسي نه کیږي چي په یوه قبر کي دوه مړي وي او پر دواړو باندي بېل بېل حالات وي چي په هغوئ کي یو

په عذاب کې وي او بل په راحت کې وي او دواړه د يو بل د حالت څخه ناخبره وي، او په دې دنيا کې يې مثال دادی چې دوه کسان په يو ځول خوب بيده وي او دواړه بېل بېل خوبونهويني په هغوئ کې يو خو د روغتيا او خوشحالۍ په حالت کې او دوهم د ناروغۍ او تکليف په حالت کې وي.

د جنتيانو تر ټولو زيات شمېر به د امت محمدي وي

﴿۵۳۰۷﴾: وَعَنْ أَبِي سَعِيدٍ الْخُدْرِيِّ عَنِ النَّبِيِّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ قَالَ

د حضرت ابوسعيدخدري ﷺ څخه روايت دئ چې رسول الله ﷺ وفرمايل :

يَقُولُ اللَّهُ تَعَالَى يَا آدَمُ فَيَقُولُ لَبَّيْكَ وَسَعْدَيْكَ وَالْخَيْرُ فِي يَدَيْكَ فَيَقُولُ

د قيامت په ورځ به الله تعالى آدم عليه السلام ته وفرمايي اې آدمه ! آدم عليه السلام به عرض وکړ زه په خدمت کې حاضريم او ټول خير ستا په لاس کې دی ، الله تعالى به ورته وفرمايي

أَخْرِجْ بَعْثَ النَّارِ قَالَ وَمَا بَعْثُ النَّارِ قَالَ مِنْ كُلِّ أَلْفٍ تِسْعَ مِائَةٍ وَتِسْعَةً

د دوزخ لښکري وکاږه (يعني د خپل اولاد څخه دوزخيان وباسه) آدم عليه السلام به پوښتنه وکړي د دوزخ د لښکرو شمير څومره دی ؟ الله تعالى به ورته فرمايي په يو زر کې يو کم زر (۹۹۹) دی،

وَتِسْعِينَ فَعِنْدَهُ يَشِيبُ الصَّغِيرُ وَتَضَعُ كُلُّ ذَاتِ حَمْلٍ حَمْلَهَا وَتَرَى النَّاسَ

د الله تعالى د دغه حکم اوريدو سره به ماشوم د بيري له امله سپين ږيری سي ، د حاملې ښځي حمل به ساقط سي او ته به خلک ووينې

سُكَارَى وَمَا هُمْ بِسُكَارَى وَلَكِنَّ عَذَابَ اللَّهِ شَدِيدٌ قَالُوا يَا رَسُولَ اللَّهِ وَأَيُّنَا

چې په نشه کې مست دي، حال دا چې هغوئ به مست او بې خوده نه وي مګر د الله جل جلاله عذاب به سخت وي ، صحابه کرامو پوښتنه وکړه اې د الله رسوله ! هغه يو (چې په زرو) کې به جنت ته

ذَلِكَ الْوَاحِدُ قَالَ أَبْشِرُوا فَإِنَّ مِنْكُمْ رَجُلًا وَمِنْ يَأْجُوجَ وَمَأْجُوجَ أَلْفًا ثُمَّ

ځي په موږ کې څوک دی؟ رسول الله ﷺ ورته وفرمايل : خوشحاله سئ چې يو سړی به په تاسو کې وي او زر د ياجوج ماجوج څخه،

قَالَ وَالَّذِي نَفْسِي بِيَدِهِ إِنِّي أَرْجُو أَنْ تَكُونُوا رُبُعَ أَهْلِ الْجَنَّةِ فَكَبَّرْنَا فَقَالَ

رسول الله ﷺ بیا وفرمایل: په هغه ذات دي مي قسم وي چي د هغه په لاس کي زما ساه ده زما امید دی چي په جنتیانو کي به ستاسو څلورمه برخه شمیر وي ددې اوریدو سره موږ الله اکبر وویل بیا رسول الله ﷺ وفرمایل:

أَرْجُو أَنْ تَكُونُوا ثُلُثَ أَهْلِ الْجَنَّةِ فَكَبَّرْنَا فَقَالَ أَرْجُو أَنْ تَكُونُوا نِصْفَ أَهْلِ

زه امید لرم چي په جنتیانو کي به ستاسو دریمه برخه شمیر وي موږ بیا د الله اکبر ناره وکړه، بیا رسول الله ﷺ وفرمایل: زه امید لرم چي په جنتیانو کي به ستاسو نیم شمیر وي،

الْجَنَّةِ فَكَبَّرْنَا فَقَالَ مَا أَنْتُمْ فِي النَّاسِ إِلَّا كَالشَّعَرَةِ السَّوْدَاءِ فِي جِلْدِ ثَوْرٍ أَبْيَضَ أَوْ كَشَعَرَةٍ بَيْضَاءَ فِي جِلْدِ ثَوْرٍ أَسْوَدَ. متفق عليه.

موږ بیا د الله اکبر نعره وکړه، بیا رسول الله ﷺ وفرمایل: ستاسو شمیر به دومره وي لکه څرنګه چي سپین غوايي کي یو تور وریښته یا په تور غوايي کي یو سپین وریښته. بخاري او مسلم

تخريج: صحيح البخاري (فتح الباري): ٦\٣٨٢، رقم: ٣٣٤٨، ومسلم ١\٢٠١، رقم: ٣٧٩- ٢٢٢.

تشريح: په زرو (۱۰۰۰) کي نه سوه نه نیوي، ددغه الفاظو په اعتبار د حضرت ابوهریره رضي الله عنه نقل سوی حدیث ددې مخالف دی چي په هغه کي فرمایل سوي دي چي په هرو سلو کي به نه نیوي خلک دوږخیان وي، کرماني رحمة الله عليه ددې تاویل کړی دی چي په دواړو روایتو کي خاص شمېر مراد نه دی بلکه اصل مقصد د مؤمنانو د شمېر کمېدو او د کافرانو د زیاتوب بیانول دي او دا هم ویل کیږي چي د اور والا لښکر څخه کافران مراد وي او دوږخ ته د تلونکو څخه ګناه کار مراد وي، نو دلته په زرو کي د نه سوه نه نیوي تناسب چي بیان سوی دی هغه د کافرانو په اعتبار دی او د حضرت ابوهریره رضي الله عنه په روایت کي په سلو کي د نه نیوي چي کوم تناسب بیان سوی دی هغه د ګناه کارو په اعتبار دی، ابن حجر رحمة الله عليه لیکلي دي چي دا هم کیدای سي چي د حضرت ابوسعید رضي الله عنه د روایت سوي حدیث مفهوم د حضرت آدم عليه السلام پر ټوله اولاده باندي محمول کړل سي یعني دلته په حدیث کي د دوږخیانو لپاره په هر زرو کي د نه سوه نه نیوي چي کوم تناسب بیان سوی دی هغه د اول څخه تر پایه پوري د ټولو انسانانو په اعتبار دی او د حضرت ابوهریره

ﷺ په روایت کي د دوږخیانو لپاره په سلو کي د نه نیوي تناسب د یاجوج او ماجوج څخه پرته پر نورو خلکو باندي محمول کړل سي او ددې قرینه داده چي د یاجوج وماجوج یادونه د حضرت ابوسعید ﷺ په روایت کي ده نه د حضرت ابوهریره ﷺ په روایت کي، یا دا چي د حضرت ابوسعید ﷺ د روایت تعلق د ټول مخلوق سره دی او دحضرت ابوهریره ﷺ په روایت کي د دوږخیانو د لښکر څخه مراد ټول کفار او ټول ګناه کار دي، حال دا چي د حضرت ابوهریره ﷺ په روایت کي د دوږخیانو د لښکر څخه مراد یوازي مسلمان ګناه کار دی ، په هر حال په دغه تاویلاتو او توجیهاتو سره د دواړو روایتو په منځ کي څه تضاد نه پاته کیږي.

او هره حامله به خپل حمل ضائع کړي، په دې اړه صحیح خبره داده چي دغه خبره د مثال په توګه بیان سوې ده، مفهوم یې دادی که چیري بالفرض هغه وخت څوک کشر وي نو هغه به د هیبت او الهي فیصلې د صورت او بیري څخه سپین ږیری سي، همدارنګه که چیري هغه وخت یوه ښځه حامله وي نو د هیبت او بیري څخه به د هغې د نس څخه حمل نقصان سي او ځینو حضراتو دا احتمال بیان کړی دی چي کومي ښځي د حمل په حالت کي مړې سوي وي هغوئ به د خپل حمل په پاڅېدو سره د حشر میدان ته راسي او هغه وخت به هغوئ د الهي حکم په اورېدو سره د ډېر هیبت او بیري څخه حمل وغورځوي ، همدارنګه د لږ عمر والا به په راپاڅېدو سره د حشر میدان ته راسي او هغوئ به د بیري څخه سپین ږیري سي ، دا بېله خبره ده چي هغوئ به جنت ته د تللو په وخت کي زلمیان وي.

مطمئن اوسئ، غم مه کوئ...الخ: ددغه الفاظو په ذریعه رسول الله ﷺ د صحابه کرامو خوف او بېره لیري کړه چي په اصل کي د یاجوج وماجوج د قوم خلک به دومره زیات وي که ستاسو او دهغوئ د شمېر تناسب وایستل سي نو هغه به داسي وي چي په هغوئ کي به زر کسان وي او ستاسو څخه به یوازي یو سړی وي او په دغه صورت کي به د جنتیانو شمېر کم نه وي بلکه ډېر به وي نو تاسو ته بېره کول نه دي پکار چي جنت ته د تلونکو تناسب به دوږخ د تلونکو په تناسب دومره کم وي، نو په موږ کي به ډېر کم خلک جنت ځي.

له دغه خبري څخه دا څرګندیږي چي په مجموعي توګه دوږخ ته د تلونکو شمېر به زیات وي او جنت ته د تلونکو شمېر به کم وي، مګر که چیري په جنتیانو کي ملائکي او حوري هم شامل کړل سي نو کیدای سي د جنتیانو شمېر به د دوږخیانو تر شمېر زیات سي او په دغه صورت کي به حدیث قدسي : (غلبت رحمتي علی غضبي) یعني زما رحمت زما پر غضب غالب سو ، معنی به هم صحیح وي.

ثرګنده دي وي چي رسول الله ﷺ په جنتيانو کي د امت محمدي کوم تناسب بيان کړ هغه يې په تدريج بيان کړ او په يو ځل يې بيان نه کړ چي د صحابه کرامو زړونه د خوشحالۍ څخه ونه چوي، يا ځکه يې په تدريج بيان کړ چي کيداى سي د امت محمدي خلک په څو مرحلو کي په هغه تناسب سره جنت ته ولاړ سي يعني په لومړۍ مرحله کي چي کوم خلک جنت ته ځي هغه به د جنتيانو د مجموعي شمېر ځلورمه برخه وي ، له دې وروسته چي کوم خلک داخلېږي د هغوئ په يو ځاى کولو سره به د جنتيانو مجموعي شمېر دريمه برخه سي تر دې چي ټول خلک جنت ته ورسيږي نو بيا د امت محمدي خلک به د جنتيانو د مجموعي شمېر نيمه برخه سي، يا دا چي په دې اړه به پر رسول الله ﷺ باندي په دړې واره وحي نازل سوي وي او ذکر سوى تناسب يې په تدريج سره وښودى، نو کله چي وحي نازل سوې او په هغه کي د کوم تناسب ذکر وو نو رسول الله ﷺ به صحابه کرامو ته د زيري ورکولو لپاره هغه بيانوى، په هر حال دغه احتمالات د ذکر سوي تناسب په تدريجي توګه بيانولو کي دى کوم چي اصل خبره ده هغه داده چي ددغه حديث څخه ثرګنديږي چي د امت محدي خلک به د جنتيانو د مجموعي شمېر څخه نيمه برخه وي، حال دا چي صحيح خبره داده چي په جنت کي به د امت محمدي شمېر دوه پر دري وي نو دا ثابته ده چي د جنتيانو به يو سل او شل صفونه وي چي په هغو کي به اتيا صفونه د رسول الله ﷺ د امت وي، او پاته ځلوېښت صفونه به د نورو ټولو امتو وي، نو کيداى سي چي رسول الله ﷺ دغه حديث وفرمايله، نو هغه وخت رسول الله ﷺ ته دا معلومه سوې نه وه چي امت محمدي به د جنتيانو د ټول شمېر دريمه برخه وي او دا هم کيداى سي چي رسول الله ﷺ نيمه برخه والا خبره په لومړۍ مرحله کي جنت ته د تلونکو د تناسب په اعتبار فرمايلې وي .

دريا پر کارو باندي وعيد

﴿۵۳۰۸﴾ : وَعَنْهُ قَالَ سَمِعْتُ النَّبِيَّ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ يَقُولُ يَكْشِفُ رَبُّنَا

د حضرت ابو سعيد خدري رضي الله عنه څخه روايت دى چي ما د رسول الله ﷺ څخه اوريدلي دي چي فرمايل يې : (د قيامت په ورځ به) زموږ پروردګار ثرګند کړي

عَنْ سَاقِهٖ فَيَسْجُدُ لَهٗ كُلُّ مُؤْمِنٍ وَمُؤْمِنَةٍ وَيَبْقٰى كُلُّ مَنْ كَانَ يَسْجُدُ فِي الدُّنْيَا

خپل ساق نو هر مؤمن سړى او ښځه به د هغه مخته پر سجده پريوځي مګر چا چي په دنيا کي د

رِيَاءً وَسُمْعَةً فَيَذْهَبُ لِيَسْجُدَ فَيَعُودُ ظَهْرُهٗ طَبَقًا وَاحِدًا. متفق عليه.

ښودني او اورولو لپاره سجدې کړي وي هغه به سجده ونه کړلای سي هغه به د سجدې اراده کوي مګر د هغه ملا به د تختې په ډول سي او هغه به کښته کیدلای نه سي. بخاري او مسلم.

تخريج: صحيح البخاري (فتح الباري): ۸\ ٦٦۴، رقم: ۴۹۱۹

د لغاتو حل: طبقا واحدا: اى عظما بلا مفصل بحيث لاينثني عند الرفع والخفض.

تشريح: لکه چي مخکي هم بیان سوی دی چي د کشف ساق یعني پنډي لوڅول په اصل کي د عربي یوه محاوره ده چي د هغه په ذریعه د غم، فکر او سختۍ بیانول مقصد دي او د هغه ظاهري صورت داوي چي په داسي وخت کي سړی خپل لمن یا پایڅې د پنډیو څخه را پورته کوي نو الله ﷻ به خپل پنډۍ لوڅي کړي که ددې څخه دا مراد واخیستل چي پروردګار به د خپلو بندګانو په منځ کي داسي صورت حال ظاهر کړي چي په هغه سره به هغوئ په سخت غم او فکر کي ولویږي، ځینو حضرات ددغه جملې تاویل نه کوي او وایي چي څرنګه نور ډېر مشابهات دي او د هغه حکم دادی چي د هغه حقیقي مراد او مفهوم دي نه لټوي، بلکه دا عقیده دي ولري چي ددې حقیقي مطلب الله ﷻ ته معلوم دی، همدارنګه د الله ﷻ پنډۍ لوڅول یوه داسي خبره ده چي دهغه حقیقي مراد د الله ﷻ په علم کي دی او موږ ته د هغه په لټون کي لګېدل نه دي پکار دا د احتیاط لاره ده.

نو ټول مؤمنان، نارینه او ښځینه به هغه ته سجده کوي، مطلب دادی چي هغه وخت به ټول مؤمنان د صورت حال د سختۍ څخه په بې تابه کېدو سره د الله ﷻ په دربار کي پر سجده پرېوځئ چي ددغه قربت په ذریعه د هغه وخت د سختۍ او تکلیفو څخه خلاصون تر لاسه کړي او د مؤمن څخه مراد مخلص مؤمن دی او په ځینو ضعیفو روایتو کي راغلي دي چي یو لوی نور به څرګند سي چي د هغه په لیدو سره به خلک پر سجده ولویږي.

د انسان حیثیت

﴿۵۳۰۹﴾: وَعَنْ أَبِي هُرَيْرَةَ قَالَ قَالَ رَسُولُ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ يَأْتِي الرَّجُلُ الْعَظِيمُ السَّمِينُ يَوْمَ الْقِيَامَةِ لَا يَزِنُ عِنْدَ اللَّهِ جَنَاحَ بَعُوضَةٍ وَقَالَ اقْرَءُوا فَلَا نُقِيمُ لَهُمْ يَوْمَ الْقِيَامَةِ وَزْنًا. متفق عليه.

د حضرت ابو هریره رضی الله عنه څخه روایت دئ چي رسول الله ﷺ وفرمایل: د قیامت په ورځ به یو ډېر

غټ سړی راسي مګر د الله تعالی په نظر کي به هغه د غوماشي په اندازه هم نه وي بيا رسول الله ﷺ و فرمايل: دا آيت تلاوت کړئ: (فلا نقيم لهم يوم القيامة وزنا..) بخاري او مسلم.

تخريج: صحيح البخاري (فتح الباري): ۸\ ۳۲۶، رقم: ۴۷۲۹، ومسلم ۴\ ۲۱۴۷، رقم: ۱۸- ۲۷۸۵.

اَلْفَصْلُ الثَّانِي (دوهم فصل)

د قيامت په ورځ د مځکي شاهدي

﴿۵۳۱۰﴾: عَنْ أَبِي هُرَيْرَةَ قَالَ قَالَ رَسُولُ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ هذه الاية

د حضرت ابوهريره ﷺ څخه روايت دئ چي رسول الله ﷺ دغه آيت تلاوت کړ:

يَوْمَئِذٍ تُحَدِّثُ أَخْبَارَهَا قَالَ أَتَدْرُونَ مَا أَخْبَارُهَا قَالُوا اللَّهُ وَرَسُولُهُ أَعْلَمُ

(يومئذ تحدث اخبارها) او رسول الله ﷺ وفرمايل: تاسو ته معلومه ده چي د مځکي خبرونه څه دي؟ صحابه کرامو عرض وکړ الله ﷻ او د هغه رسول ښه پوهيږي،

قَالَ فَإِنَّ أَخْبَارَهَا أَنْ تَشْهَدَ عَلَى كُلِّ عَبْدٍ أَوْ أَمَةٍ بِمَا عَمِلَ عَلَى ظَهْرِهَا أَنْ

رسول الله ﷺ ورته وفرمايل: د مځکي خبرونه دادي چي مځکه د هر سړي او ښځي په اړه شاهدي ورکړي چي هغوئ ددې پر شا کوم کوم کارونه کړي دي

تَقُولَ عَمِلَ كَذَا وَكَذَا يَوْمَ كَذَا وَكَذَا قَالَ فَهَذِهِ أَخْبَارُهَا. رواه احمد والترمذي وقال هذا حديث حسن صحيح غريب.

يعني هغه به داسي وايي چي هغوئ فلانی کار او دا او دا په فلانی ورځ وکړ او دا د مځکي خبرونه دي. احمد او ترمذي.

تخريج: الامام احمد في مسنده ۲\ ۳۷۴، والترمذي ۴\ ۵۳۵، رقم: ۲۴۲۹.

هر مړ کيدونکي پښيمانه وي

﴿۵۳۱۱﴾: وَعَنْهُ قَالَ قَالَ رَسُولُ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ مَا مِنْ أَحَدٍ يَمُوتُ

إِلَّا نَدِمَ قَالُوا وَمَا نَدَامَتُهُ يَا رَسُولَ اللَّهِ قَالَ إِنْ كَانَ مُحْسِنًا نَدِمَ أَنْ لَا يَكُونَ ازْدَادَ وَإِنْ كَانَ مُسِيئًا نَدِمَ أَنْ لَا يَكُونَ نَزَعَ. رواه الترمذي.

د حضرت ابو هريره رضي الله عنه څخه روايت دئ چي رسول الله ﷺ وفرمايل: په تاسو كي چي څوک مړ كيږي هغه نادم او پريشانه وي، صحابه كرامو عرض وكړ اې دالله رسوله! د ندامت سبب څه دی؟ رسول الله ﷺ وفرمايل: كه نيک دی نو په دې وجه به نادم او پښيمانه وي چي نيكى كي يې زياتوالي ونه كړ او كه بدكاره وي نو په دې سبب به پښيمانه وي چي هغه خپل ځان ولي دبدی څخه منع نه كړ. ترمذي.

تخريج: سنن الترمذي ۴\ ۵۲۲، رقم: ۲۴۰۳.

د لغاتو حل: نزع: اى كف نفسه عن الاساءة.

د حشر په ميدان كي به درې ډوله خلک راځي

﴿۵۳۱۲﴾: وَعَنْهُ قَالَ قَالَ رَسُولُ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ يُحْشَرُ النَّاسُ يَوْمَ

د حضرت ابو هريره رضي الله عنه څخه روايت دئ چي رسول الله ﷺ وفرمايل: د قيامت په ورځ به خلک

الْقِيَامَةِ ثَلَاثَةَ أَصْنَافٍ صِنْفًا مُشَاةً وَصِنْفًا رُكْبَانًا وَصِنْفًا عَلَى وُجُوهِهِمْ قِيلَ

درې ډوله راجمع كړل سي: يو پر پښو، دويم سپاره، او دريم پوړ پرمو خی تلونكي، پوښتنه وسول

يَا رَسُولَ اللَّهِ وَكَيْفَ يَمْشُونَ عَلَى وُجُوهِهِمْ قَالَ إِنَّ الَّذِي أَمْشَاهُمْ عَلَى

اې دالله رسوله! پړمو خی به خلک څنګه ځي؟ رسول الله ﷺ وفرمايل: كوم ذات چي هغوئ پر

أَقْدَامِهِمْ قَادِرٌ عَلَى أَنْ يُمْشِيَهُمْ عَلَى وُجُوهِهِمْ أَمَا إِنَّهُمْ يَتَّقُونَ بِوُجُوهِهِمْ كُلَّ حَدَبٍ وَشَوْكٍ. روه الترمذي.

پښو روان كړي دي هغه يې پر پړمو خی روانولو هم قادر دی، تاسو په ياد لرئ چي خلک به پړمو خی تلو كي په خپل مخ سره ځان د لوړوالی او ازغو څخه ساتي. ترمذي.

تخريج: سنن الترمذي ۴\ ۲۸۵، رقم: ۳۱۴۲.

د لغاتو حل: حدب: ای مکان مرتفع (لوړ ځای).

تشریح: لومړی ډول خلک به هغه مؤمنان وي چي دهغوئ په اعمالو کي نیک او بد دواړه ډوله اعمال وي او هغوئ به د بیري او امید په منځ کي د شک په حالت کي د الله ﷻ د رحمت امېد لرونکي وي، دوهم ډول خلک هغه کامل الایمان وي چي په نیکو اعمالو کي هڅه کوي او دریم ډول به کافران او مشرکان وي.

د حدیث د آخري الفاظو مطلب دادی چي څرنګه په دنیا کي انسانان پر خپلو پښو ګرځي نو هغه د لاري د خنډونو او تکلیف رسونکو شیانو څخه د لاسو او پښو په ذریعه ځان ژغوري همدارنګه دریم ډول خلک به د قیامت په ورځ پوړموخي راځي نو د هغوئ مخونه به هغه څه کوي کوم چي په لاسو او پښو سره کیږي او دخپل مخ په ذریعه به د لاري د تکلیفو څخه ځان ساتي او په هغه ورځ به د هغوئ پوړموخي تلل ددې اعلان وي چي دغه خلکو په دنیا کي د اطاعت سجده ونه کړل او د الله ﷻ په فرمانبرداری کي یې خپله غاړه کښته نه کړل ځکه الله ﷻ دوئ په پوړموخي تللو سره ذلیل او خوار کړي دي.

که په دنیا کي د قیامت دورځي احوال لیدل غواړئ!

﴿۵۳۱۳﴾: وَعَنِ ابْنِ عُمَرَ قَالَ قَالَ رَسُولُ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ مَنْ سَرَّهُ أَنْ يَنْظُرَ إِلَى يَوْمِ الْقِيَامَةِ كَأَنَّهُ رَأْيُ عَيْنٍ فَلْيَقْرَأْ إِذَا الشَّمْسُ كُوِّرَتْ وَإِذَا السَّمَاءُ انْفَطَرَتْ وَإِذَا السَّمَاءُ انْشَقَّتْ. رواه احمد والترمذي.

د حضرت ابن عمر رضی الله عنه څخه روایت دئ چي رسول الله ﷺ وفرمایل: څوک چي په دنیا کي په خپلو سترګو سره قیامت لیدل خوښوي نو هغه دي سورة اذ الشمس کورت او اذا السماء انفطرت او سورة اذا السماء انشقت وایي. احمد او ترمذي.

تخریج: الامام احمد في مسنده ۲\۲۷، رقم: ۳۳۳۳.

تشریح: په دغه سورتونو کي د قیامت د حالاتو تفصیلي یادونه ده، نو که چیري ویونکي دغه سورتونه د زړه په اخلاص سره ووایي او په معنی کي یې فکر وکړي نو دغه سورتونه د قیامت د حالاتو داسي مستحضر دي لکه هغه حالات چي په سترګوویني.

اَلْفَصْلُ الثَّالِث (دریم فصل)

خلک به د حشر میدان ته څرنګه راوستل سي؟

﴿۵۳۱۴﴾: عَنْ أَبِي ذَرٍّ قَالَ إِنَّ الصَّادِقَ الْمَصْدُوقَ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ حَدَّثَنِي

د حضرت ابوذر رضی اللہ عنہ څخه روایت دی چي صادق او مصدوق نبي کریم ﷺ ما ته وفرمایل:

أَنَّ النَّاسَ يُحْشَرُونَ ثَلَاثَةَ أَفْوَاجٍ فَوْجٌ رَاكِبِينَ طَاعِمِينَ كَاسِينَ وَفَوْجٌ

د قیامت په ورځ به خلک په درو ډلو کي جمع کړل سي یوه ډله به د سپرو، د خوړونکو او څکونکو وي، او دویمه ډله به هغه وي

تَسْحَبُهُمُ الْمَلَائِكَةُ عَلَى وُجُوهِهِمْ وَتَحْشُرُهُمُ النَّارُ وَفَوْجٌ يَمْشُونَ وَيَسْعَوْنَ

چي ملائکي به يې پرمو خي د دوږخ و طرف ته بوځي، او دریمه ډله به پر پښو تلونکو او ځغستونکو وي، کومه ډله چي د سپرو وي

يُلْقِي اللّٰهُ الْآفَةَ عَلَى الظَّهْرِ فَلَا يَبْقَى حَتَّى إِنَّ الرَّجُلَ لَتَكُونُ لَهُ الْحَدِيقَةُ يُعْطِيهَا بِذَاتِ الْقَتَبِ لَا يَقْدِرُ عَلَيْهَا. رواه النسائي.

الله تعالی به د هغوئ د سپرلو پر شا آفت او مصیبت نازل کړي تر دې چي هیڅ سپرلی به پاته نه سي او د چا سره چي یو باغ وي هغه به په باغ ورکولو سره د هغه په بدله کي اوښ اخیستل غواړي مګر حاصل به يې نه کړلای سي. نسائي

تخریج: سنن النسائي ۴\۱۱۶، رقم: ۲۰۸۶.

د لغاتو حل: طاعمین: ای مرفهین. القتب: ای بعوضها وبدلها. (په بدله کي)

تشریح: لومړنۍ ډله به هغه مؤمنان وي چي هغوئ به په دنیا کي د نیکۍ او خیر په چارو کي هڅه کول، دوهمه ډله به د کفارو او مشرکانو وي او دریمه ډله به د هغه مسلمانانو وي چي هغوئ ګناه کړې وي.

څرګنده دي وي چي د حدیث سیاق او دغه حدیث په دغه باب کي ذکر کول ددې دلیل دی چي دلته د کوم حشر یادونه سوې ده دا هغه حشر دی چي د قیامت په ورځ به واقع کیږي او خلک

به په دوهم وار ژوندي کېدو سره محشر ته راځي مګر د حديث اخري الفاظ او الله ﷻ به د هغه سپرو پر شا آفت او مصيبت نازل کړي...الخ: له دې څخه دا خبره ثابتيږي چي هغه حشر مراد نه دی کوم چي په قيامت کي واقع کيږي.

همدارنګه د (خوړونکو او څښونکو) الفاظ هم ددې خبري تائيد کوي، ځينو حضراتو ويلي دي چي دلته د ذکر سوي حشر څخه د قيامت ورځ مراد نه ده بلکه هغه حشر مراد دی چي هغه د قيامت د نښو څخه ذکر سوی دی، په دغه صورت کي به ويل کيږي چي دغه حديث دلته په باب الحشر کي نقل کول تبعا دی، ددې پر خلاف ملا علي قاري رحمة الله عليه د توريشتي رحمة الله عليه قول نقل کړی دی چي په هغه کي يې د آياتو او حديثو څخه استدلال کړی دی او دې خبري ته يې ترجيح ورکړې ده چي دا هغه حشر دی چي د قيامت په ورځ به وي او هغه ليکلي دي: دا چي خطابي رحمة الله عليه ويلي دي چي د قيامت څخه مخکي حشر مراد دی نو د هغه دغه قول پر خطا محمول دی، صحيح قول د توريشتي رحمة الله عليه دی.

اصل خبره داده چي په دغه حديث کي د حشر د مراد په تعين کي چي دا ټول بحث را پيدا سوی دی هغه له دې کبله دی چي حضرت ابوذر رضي الله عنه دغه حديث روايت کړی دی نو په هغه کي ګډوالی سوی دی نو په بنيادي توګه ضروري ده چي دغه ګډوالی ليري کړل سي او هغه داسي چي وويل سي په دغه حديث کي د دوو مختلفو حديثونو بېل بېل اجزاء يو ځای سوي دي چي له کبله يې په مفهوم کي تضاد پيدا سوی دی په دغه صورت کي به هيڅ شک او مشکل نه پيدا کيږي.

===========

بَابُ الْحِسَابِ وَالْقِصَاصِ وَالْمِيْزَانِ

(د حساب، قصاص او مېزان بيان)

د حساب معنی د شمېرلو ده او دلته مراد د قيامت په ورځ د بندګانو د اعمالو او کړنو حساب کول او د هغه شمېرل دي، ښکاره ده چي الله ﷻ عليم او خبير ذات ته هر څه معلوم دي او بنده چي په دنيا کي څه عمل کوي هغه ته ښکاره او روښانه دي مګر د قيامت په ورځ به د بندګانو د اعمالو او کړنو حساب ځکه کيږي چي پر هغوئ حجت قائم سي او ټول مخلوق ته ښکاره سي چي په دنيا کي چا څه کړي دي او څوک د کومي درجې دی، نو د قيامت په ورځ دغه حساب د قرآن کريم او صحيح حديثونو څخه ثابت دی او دغه عقيده درلودل واجب دي.

د قصاص معنی د بدلې او مکافات ده یعني کوم څوک چي څرنګه کړنه وکړي د هغه سره به هم هغه کیږي د مثال په توګه یو سړي یو څوک ووژني نو د هغه په بدله کي هغه هم وژل کیږي او که یو څوک زخمي کړل سي نو د هغه په بدله کي هغه هم ژوبل کیږي او دې ته قصاص وايي، د قیامت په ورځ به د ځان بدله ځان، د زخم او تکلیف بدله زخم او تکلیف وي او په دنیا کي چي د چا سره څه سوي وي که هغه یې په تکلیف کړی وي یا بل څه وي که څه هم هغه پسه او مچ وي نو د قیامت په ورځ به هغه ته د هغه بدله ورکول کیږي که څه هم هغه مکلف نه وي، ټول حیوانان به هم د قیامت په ورځ ددې لپاره را پاڅول کیږي چي هغوئ ته هم د یو بل بدله ورکړل سي د مثال په توګه که یوه ښکروره بزه بله بې ښکره بزه ووهي نو د هغه څخه به هم قصاص یعني بدله اخیستل کیږي.

مېزان هغه شي ته وايي چي د هغه په ذریعه د بندګانو د اعمالو شمېر او حیثیت معلومیږي او د جمهورو علماوو قول دی چي هغه شی د مېزان یعني ترازو په شکل کي وي چي د هغه دوې پلې وي او یوه ژبه یې وي او د دوو پلو په منځ کي د لویدیځ او ختیځ په اندازه فاصله وي، ددغه ترازو په ذریعه د بندګانو اعمال تلل کیږي یعني په یوه پله کي د نیکو اعمالو او په بل کي د بدو اعمالو تلل کیږي او ځینو حضراتو ویلي دي چي حسنات یعني نېک اعمال په ښه صورتو کي او سیات یعني خراب اعمال به په خرابو صورتو کي اچول کیږي او دواړه به تلل کیږي، مګر په ځینو روایتو کي لومړی قول صحیح معلومیږي او په دې اړه چي کوم نصوص دي د هغو ظاهري مفهوم پر همدې دلالت کوي.

اَلْفَصْلُ الْاَوَّلُ (لومړی فصل)

اسان حساب او سخت حساب

﴿۵۳۱۵﴾: عَنْ عَائِشَةَ اَنَّ النَّبِيَّ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ قَالَ لَيْسَ أَحَدٌ يُحَاسَبُ

د حضرت عائشې (رض) څخه روایت دئ چي رسول الله ﷺ وفرمایل: د قیامت په ورځ چي د

يوم القيامة الا هلك قلت او ليس يقول الله تعالى فَسَوْفَ يُحَاسَبُ حِسَابًا

چا څخه حساب واخیستل سي هغه هلاک سو، ما غرض وکړ ایا الله تعالی دا نه دي فرمایلي چي (فسوق یحاسب حسابا یسیر) یعني

يَسِيرًا فَقَالَ إِنَّمَا ذَلِكِ الْعَرْضُ وَلَكِنْ مَنْ نُوقِشَ الْحِسَابَ فِي يَهْلِكُ. متفق عليه

آسان حساب به ورسره وكړل سي، رسول الله ﷺ وفرمايل : دا آسان حساب يوازي بيان دی چي په دې كي به يو ډول سختي نه وي مگر د چا سره چي په حساب كي سختي وسي هغه هلاک سو. بخاري او مسلم.

تخريج: صحيح البخاري (فتح الباري): ١٩٦١١، رقم: ١٠٣، ومسلم ٤\ ٢٢٠٤، رقم: ٧٩- ٢٨٧٦.

تشريح: اسانه حساب يوازي وړاندي كول او بيان محض دی، مطلب دادی چي په قرآن كريم كي دا فرمايل سوي دي چي نژدې ده چي دهغه حساب اسان سي نو د اسانه حساب څخه دا مراد دی چي د هغه نيک او خراب اعمال به هغه ته وښودل سي د مثال په توگه هغه ته به وښودل سي چي تا دا كړي، هغه دي كړي دي او پر خرابو اعمالو باندي به نيوكه كيږي مگر د كوم سړي په حساب كي چي د پوښتني دخل راسي نو د هغه څخه به د يو ه يوه شي او هر كوچني او لوی شي په اړه پوښتنه كيږي او پر هغه به د محاسبې او مؤاخذې سخته كړنه نافذ كړل سي د هغه سړي د عذاب څخه ساتل به ممكن نه وي نو هغه بهٔ تباه سي او په حقيقت كي حساب دادی.

دغه خبره په بل ډول داسي بيانيږي چي رسول الله ﷺ په ذكر سوي حديث كي فرمايلي دي نو هغه دا كليه ظاهروي چي كوم سړی د حساب د مرحلې څخه تېر سي نو هغه به يقينا په عذاب كي اخته كيږئ مگر د قرآن كريم په ذكر سوي آيت چي فرمايل سوي دي د هغه څخه دا ثابتيږي چي د حساب دمرحلو د تېرېدونكو څخه به ځيني خلک په عذاب كي نه اخته كيږي همدارنگه د قرآن كريم آيت او د رسول الله ﷺ ذكر سوي ارشاد كي په ظاهره مخالفت معلوميږي نو ددغه مخالفت دفع كولو لپاره خپله رسول الله ﷺ وفرمايل چي په دغه آيت كي د حساب څخه مراد يعني د هغه خلكو وړاندي چي هغوئ خلاصون تر لاسه كوونكي دي مقصد دی د هغوئ د اعمالو د فهرست په خلاصولو سره به كښېښودل سي نو چا چي خراب اعمال كړي وي هغه به د خپلو خرابو اعمالو اقرار وكړي او الله جل جلاله به په خپل فضل او كرم ظاهرولو سره د هغه سره د عفو معامله وكړي، ددې پر خلاف كه چيري په حديث كي د حساب څخه مراد واقعي محاسبه او نيوكه واخيستل سي چي هغه حساب په مناقشې سره تعبير سوی دی او ددغه محاسبې بنياد به د عدل اظهار وي.

بزاز او نورو علماوو دغه روايت نقل كړی دی چي رسول الله ﷺ وفرمايل: په كوم سړي كي چي دغه درې خبري وي د هغه څخه به الله جل جلاله اسانه حساب واخلي او په خپل رحمت سره به

يې ونازوي او هغه درې شيان دادي چي :

۱. تاسو هغه چا ته (اخلاقي، بدني او مالي مرسته ورسوئ) كوم چي تاسو د خپل مرستي څخه محروم كړي ياست.

۲. تاسو د هغه چا سره د معافی كړنه وكړئ كوم چي پر تاسو ظلم كړي وي.

۳. او تاسو د هغه سړي سره ښه چلن وكړئ كوم چي ستاسو سره مقاطعه كوي.

د قيامت په ورځ به الله جل جلاله ښېله واسطې د هر چا سره كلام كوي

﴿۵۳۱۶﴾: وَعَنْ عَدِيِّ بْنِ حَاتِمٍ قَالَ قَالَ رَسُولُ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ مَا

د حضرت عدي بن حاتم رضي الله عنه څخه روايت دئ چي رسول الله ﷺ وفرمايل :

مِنْكُمْ مِنْ أَحَدٍ إِلَّا سَيُكَلِّمُهُ رَبُّهُ لَيْسَ بَيْنَهُ وَبَيْنَهُ تُرْجُمَانٌ وَلَا حِجَابٌ

په تاسو كي به هيڅوک داسي نه وي چي د هغه سره به الله تعالى بې ترجمانه او بې حجابه خبري

يَحْجُبُهُ فَيَنْظُرُ أَيْمَنَ مِنْهُ فَلَا يَرَى إِلَّا مَا قَدَّمَ مِنْ عَمَلِهِ وَيَنْظُرُ أَشْأَمَ مِنْهُ

ونه كړي ، بنده چي راسته طرف ته نظر واچوي نو هغه شی به په نظر ورسي چي هغه د خپلو اعمالو مخكي ليږلي وي او چپه خوا ته چي وګوري نو هغه شی به ووينې چي

فَلَا يَرَى إِلَّا مَا قَدَّمَ وَيَنْظُرُ بَيْنَ يَدَيْهِ فَلَا يَرَى إِلَّا النَّارَ تِلْقَاءَ وَجْهِهِ فَاتَّقُوا النَّارَ وَلَوْ بِشِقِّ تَمْرَةٍ. متفق عليه.

هغه مخكي ليږلي وی ، مخته چي وګوري نو اور به ووينې چي د هغه مخته به مخامخ وي ، اې خلكو ! له تاو د اور څخه خپل ځان وساتئ كه څه هم چي د خرما د يوې ټوټې په خيرات كولو سره وي . بخاري او مسلم.

تخريج : صحيح البخاري (فتح الباري): ۱۱\ ۴۰۰، رقم: ۶۵۳۹، ومسلم ۲\ ۷۰۳، رقم: ۶۷– ۱۰۱۶.

د لغاتو حل : اشام: اى في الجانب الذي في شماله (د شمال لوري ته).

تشريح : كله چي بنده خپل راسته خوا ته وګوري...الخ: يعني دا قاعده ده چي كله يو څوک د يوې سختی سره مخامخ سي او په مشكل كي ولوېږي نو راسته او چپه خوا ته ګوري، نو هغه وخت به هر بنده ته يو سخت پړاو رامنځته وي ځكه هغه به راسته او چپه خوا ته ګوري او راسته

خوا ته به هغه نیک اعمال ویني کوم چي هغه په دنیا کي کړي دي او چپه خوا ته به د هغه بد اعمال وي او مخته به یې اوروي نو که یو سړی غواړي چي هغه وخت خپلو نیکو اعمالو ته په کتلو سره اطمینان او سکون تر لاسه کړي او مخته لېدونکي اور څخه خلاصون تر لاسه کړي نو هغه باید په دنیا کي زیات نېک کارونه وکړي او د بدو اعمالو څخه ځان وساتي.

که څه هم د خرما په یوې ټوټې سره وي: ددغه جملې دوې معناوي کېدای سي یو دا چي خپل ځان له دوږخ څخه وساتي او پر چا باندي ظلم ونه کړي که څه هم هغه ظلم د خرما د یوې ټوټې په صورت کي یا دهغه په اندازه وي، دوهمه معنی داده چي د دوږخ د اور څخه ځان ژغورل غواړي نو د اړو او مسکینانو خلکو په مرسته او د الله ﷻ په لاره کي دي مصرف کوي که څه هم تاسو د یوې خرما ورکولو توان ولرئ ځکه چي د الله ﷻ په لاره کي مصرفول یعني صدقه او خیرات به ستاسو او د اور په منځ کي پرده وګرځول سي.

د قیامت په ورځ پر مؤمن باندي رحمت

﴿۵۳۱۷﴾: وَعَنِ ابْنِ عُمَرَ قَالَ قَالَ رَسُولُ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ إِنَّ اللّٰهَ

د حضرت عمر رضي الله عنه څخه روایت دئ چي رسول الله ﷺ وفرمایل: (د قیامت په ورځ به) الله

يُدْنِي الْمُؤْمِنَ فَيَضَعُ عَلَيْهِ كَنَفَهُ وَيَسْتُرُهُ فَيَقُولُ أَتَعْرِفُ ذَنْبَ كَذَا أَتَعْرِفُ

تعالی مؤمن ځان ته نژدې کړي او بیا د خپل حفاظت ځادر اچولو سره به هغه پټ کړي لپاره ددې چي هغه رسوا نه سي بیا به الله تعالی د مؤمن څخه پوښتنه وکړي ته فلانی ګناه پیژنې ایا ته د

ذَنْبَ كَذَا فَيَقُولُ نَعَمْ أَيْ رَبِّ حَتَّى قَرَّرَهُ بِذُنُوبِهِ وَرَأَى فِي نَفْسِهِ أَنَّهُ قَدْ

فلانی ګناه څخه خبر یې؟ مؤمن بنده به وایي هو اې پروردګاره هو زه خبر یم، تر دې چي الله تعالی به د ټولو ګناهونو اقرار په وکړي او هغه به په زړه کي وایي چي زه خو اوس دګناهونو په

هَلَكَ قَالَ سَتَرْتُهَا عَلَيْكَ فِي الدُّنْيَا وَأَنَا أَغْفِرُهَا لَكَ الْيَوْمَ فَيُعْطَى كِتَابَ

بدله کي هلاک سوم بیا به الله تعالی ورته فرمایي: ما په دنیا کي ستا پر عیبونو او ګناهونو پرده اچولې ده او نن دي هم زه بخښم، غرض دا چي هغه ته به د هغه د نیکو اعمالنامه ورکړل سي

حَسَنَاتِهِ وَأَمَّا الْكَافِرُ وَالْمُنَافِقُونَ فينادي بهم على رئس الخلائق هَؤُلَاءِ

الَّذِينَ كَذَبُوا عَلَى رَبِّهِمْ أَلَا لَعْنَةُ اللَّهِ عَلَى الظَّالِمِينَ. متفق عليه.

، كافران او منافقان خلک به د خلکو په مخکي راوغواړي او په زوره به وويل سي دا هغه خلک دي چي پر خپل پروردګار باندي يې درواغ ويلي وه ، خبردار سئ پر ظالمانو د الله ﷻ لعنت دی. بخاري او مسلم.

تخريج : صحيح البخاري (فتح الباري): ۹٦\۵، رقم: ۲۴۴۱، ومسلم ۲۱۲۰\۴، رقم: ۵۲-۲۷٦۸.

د لغاتو حل : كنفه: اى يحفظه (ساتي يې).

تشريح: د مؤمن لفظ يا خو نكره دی چي په غير متعين توګه سره د يو مؤمن په اړه دا زيری ورکړل سوی دی او دا هم ليري خبره نه ده چي د مؤمن څخه جنس مؤمن مراد وي يعني د ټولو مؤمنانو سره به الله ﷻ د خپل فضل او کرم دغه معامله کوي او ځينو ويلي دي چي دغه زيری د هغه مؤمنانو په اړه دی چي په دنيا کي د چا غيبت نه کوي، پر چا باندي غيب نه لګوي، څوک ذليل او رسوا نه کوي د مسلمان په بې عزتۍ سره نه خوشحاله کيږي بلکه د الله ﷻ د نيکو بندګانو پرده پټوي او په خلکو کي د چا د بې عزتۍ سبب نه جوړيږي نو الله ﷻ د هغوئ د اوصافو د جزا په توګه د قيامت په ورځ به د هغوئ پرده پټه کړئ او هغوئ به د خپل ساتني او رحمت په سايه کي پټ کړي.

د مسلمانانو دښمن به د هغوئ لپاره د دوږخ څخه د خلاصون عوض وي

﴿۵۳۱۸﴾: وَعَنْ أَبِي مُوسَى قَالَ قَالَ رَسُولُ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ إِذَا كَانَ يَوْمُ الْقِيَامَةِ دَفَعَ اللَّهُ عَزَّ وَجَلَّ إِلَى كُلِّ مُسْلِمٍ يَهُودِيًّا أَوْ نَصْرَانِيًّا فَيَقُولُ هَذَا فِكَاكُكَ مِنَ النَّارِ. رواه مسلم.

د حضرت ابو موسى رضي الله عنه څخه روايت دئ چي رسول الله ﷺ وفرمايل: کله چي د قيامت ورځ سي نو الله تعالی به هر مسلمان ته يو يهودي يا نصراني ورکړي او ورته به ووايي دا ستاسو د خلاصي بدله ده (يعني په دې ورکولو سره تاسو د دوږخ څخه خلاصون حاصل کړئ) او پر خپل ځای دي ولېږئ. مسلم.

تخريج : صحيح مسلم ۲۱۱۹\۴، رقم: ۴۹- ۲۷٦۷.

د لغاتو حل : فكاكک: اى خلاصک (ستا ژغورل)

تشريح: د فک معنی د کرو سوي شي د پټولو ده او له دې څخه د فکاک لفظ دی چي معنی يې د هغه شي ده چي د هغه په ذريعه کرو سوی شي خلاص کړل سي نو دا سړی ستا فکاک يعني خلاصون دی، مطلب دا سو چي مسلمان د دوږخ په اور کي تړلی دی او د قيامت په ورځ به هغه يهودي يا نصراني د هغه مسلمان په بدله کي په اور کي په اچولو سره د هغه اور څخه خلاص کړل سي، او ددې خبري به دا تاويل وي چي الله ﷻ هم د مکلف لپاره که هغه کافر وي يا مؤمن وي په جنت او دوږخ کي يو ځای ټاکلی دی نو کوم څوک چي د دنيا څخه د ايمان سره رخصت سي د هغه ځای چي په دوږخ کي وو د هغه سړيۀ ځای سره چي په جنت کي وي بدل کړل سي او کوم څوک چي د ايمان سره له دنيا څخه رخصت نه سي د هغه معامله به ددې برعکس وي، نو په دې اعتبار سره به دغه کافر د دوږخ د اور څخه دمؤمنانو د خلاصون سبب وي،له دې څخه څرګنده سوه چي د ذکر سوي جملې دا مراد نه دی چي کافر به د مؤمنانو د ګناهو په بدله کي دوږخ ته وسپارل سي ځکه چي الله ﷻ دا فيصله کړې ده چي (ولاتزر وازرة وزر اخرى) ، څرګنده دي وي چي د يهود او نصارا تخصيص محض علامتي دی يعني دلته اصلي مراد فکاک دی او د يهود او نصارا يادونه يوازي له دې کبله سوې ده چي د مسلمانانو سره د هغوئ دښمني زياته مشهوره ده .

د قيامت په ورځ به امت محمدي د حضرت نوح عليه السلام شاهدان وي

﴿۵۳۱۹﴾: وَعَنْ أَبِي سَعِيدٍ قَالَ قَالَ رَسُولُ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ يُجَاءُ

د حضرت ابو سعيد خدري رضي الله عنه څخه روايت دئ چي رسول الله ﷺ وفرمايل : د قيامت په ورځ به

بِنُوحٍ يَوْمَ الْقِيَامَةِ فَيُقَالُ لَهُ هَلْ بَلَّغْتَ فَيَقُولُ نَعَمْ يَا رَبِّ فَتُسْأَلُ أُمَّتُهُ

حضرت نوح عليه السلام راوبلل سي ، الله تعالی به د هغه څخه پوښتنه وکړي ايا تا زما امر او نهي رسولې وه هغه به وايي هو اې پروردګاره ما ستا احکام رسولي وه ، بيا به د نوح عليه السلام د

هَلْ بَلَّغَكُمْ فَيَقُولُونَ مَا جَاءَنَا مِنْ نَذِيرٍ فَيقال مَنْ شُهُودُكَ فَيَقُولُ مُحَمَّدٌ

امت څخه پوښتنه وسي ايا نوح عليه السلام تاسو ته زما احکام در رسولي وه هغه خلک به وايي مونږ ته خو يو څوک بيرونکي نه وو راغلی الله تعالی به د نوح عليه السلام څخه پوښتنه وکړي ستا شاهدان څوک دي ؟ نوح عليه السلام به وايي زما شاهد محمد ﷺ

وَأُمَّتُهُ فقال رسول الله صلى الله عليه وسلم فَيُجَاءُ بِكُمْ فَتَشْهَدُونَ انه قد

او د هغوئ امت دی ، ددې څخه وروسته رسول الله ﷺ صحابه کرامو ته وفرمایل : چې تاسو به راوستل سئ او تاسو به دا شاهدي ورکوئ چې نوح علیه السلام خپل امت ته ستا احکام رسولي

بلغ ثُمَّ قَرَأَ رَسُولُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ وَكَذٰلِكَ جَعَلْنَاكُمْ أُمَّةً وَسَطًا لِتَكُونُوا شُهَدَاءَ عَلَى النَّاسِ وَيَكُونَ الرَّسُولُ عَلَيْكُمْ شَهِيدًا. رواه البخاري.

وه ، ددې څخه وروسته رسول الله ﷺ دا آیت تلاوت کړ : (و کذالک جعلنکم امة وسطا.......) او همداسي موږ تاسو یو منځني امت جوړ کړلاست چې تاسو پر خلکو شاهدان یاست او رسول به پر تاسو شاهد جوړ سي. بخاري.

تخریج : صحیح البخاري (فتح الباري): ٦\٣٧١، رقم: ٣٣٣٩.

تشریح : د حضرت نوح علیه السلام دا ویل چې بېشکه اې پروردګاره! ما ستا احکام د خپل امت خلکو ته رسولي وه ، د قرآن کریم ددغه آیت خلاف نه دی چې په هغه کي داسي دي:

(يَوْمَ يَجْمَعُ اللهُ الرُّسُلَ فَيَقُولُ مَاذَا أُجِبْتُمْ قَالُواْ لاَ عِلْمَ لَنَا إِنَّكَ أَنتَ عَلاَّمُ الْغُيُوبِ).

ژباړه: په هغه ورځ به د حشر په میدان کي الله جل جلاله رسولان راجمع کړي او بیا به د هغوئ څخه پوښتنه وکړي چې تاسو ته (ستا د امت له خوا ستا د دعوت په اړه) څه جواب درکړل سو ، نو هغوئ به وایي چې موږ ته علم نسته بېله شکه ته په پټو خبرو ښه پوهېدونکی یې .

ځکه چې ددغه آیت مراد خو دادی چې د غه اجابت به سوال وي چې د هغه په اړه به هغه رسولان خپله ناخبري ښکاره کړي ، حال دا چې دلته په حدیث کي د حضرت نوح علیه السلام څخه چې دکوم سوال ذکر دی هغه به د دعوت په اړه وي او ظاهره ده چې اجابت او دعوت دوه بېل بېل شیان دي .

حضرت نوح علیه السلام به وایي چې زما شاهد حضرت محمد ﷺ او دهغه د امت خلک دي یعني اصل شاهدان خو د امت محمدي خلک دي چې د حضرت نوح علیه السلام ددعوې شاهدي به هغوئ ورکوي او حضرت محمد ﷺ به د هغوئ مشر وي، په دغه صورت کي به ویل کیږي چې اصل شاهد یعني د امت محمدي د خلکو څخه مخکي یعني د رسول الله ﷺ یادونه کول به د رسول الله ﷺ د تعظیم او عزت د ښکندوني لپاره وي او دا هم لیري خبره نه ده چې خپله رسول الله ﷺ

هم د نوح علیه السلام شاهدي ورکړي ځکه چې هغه وخت او ځای به داسي وي چې د زياتي مرستي رسولو اړتيا به وي.

رسول الله ﷺ صحابه کرامو ته وفرمايل چې بيا به تاسو وړاندي کړل سئ، ددغه الفاظو اسلوب دا ښيي چې کله د الله جل جلاله په دربار کي ټول خلک راجمع سي چې هغه وخت به حاضر او ناظر وي يعني رسول الله ﷺ به په دغه ټولو کي حاضر وي او شاهد به وي، کله چې د انبياوو او رسولانو جمع کول وي نو د ټولو څخه به مخکي حضرت نوح علیه السلام وړاندي کړل سي او بيا د هغه شاهدان يعني د امت محمدي خلک به راوستل سي.

او تاسو به دا شاهدي ورکوئ...الخ: يعني دحضرت نوح علیه السلام د وينا سره سم تاسو به د هغوئ شاهدي ورکوي او ستاسو نبي به ستاسو مزکي (پاکوونکي) وي يا دا چې تاسو به شاهدي ورکوئ او ستاسو سره به نبي هم شاهدي ورکوي.

په دغه آيت کريمه کي (وکذالک جعلنکم امة وسطا) فرمايل سوي دي چې مسلمانان به د قيامت په ورځ د تېرو امتونو په اړه شاهدي ورکوي او دهغه مسلمانانو شاهدي به د هغوئ پيغمبر ﷺ ورکوي د هغه تېرو خلکو په اړه د مسلمانانو د شاهدي مثال خو داسي دی چې هغه مسلمانان به د حضرت نوح علیه السلام په اړه شاهدي ورکوي چې هغوئ دخپل امت خلکو ته د الله جل جلاله احکام رسولي دي او د هغه مسلمانانو په اړه د هغوئ د پيغمبر ﷺ له خوا د شاهدي صورت به دا وي چې په يو حديث کي فرمايل سوي دي چې کله د قيامت په ورځ د تېرو انبياؤ او رسولانو امتونه په انکار کولو سره وايي چې موږ ته هيڅ نبي څه نه دي را رسولي او موږ ته يې د الله جل جلاله احکام نه دي ښودلي نو هغه رسولان او انبياء به د امت محمدي خلک خپل شاهدان وګرځوي او کله چې مسلمانان د هغوئ شاهدي ورکړي نو د هغوئ څخه به پوښتنه وسي چې تاسو خو د هغه امتونو څخه وروسته دنيا ته راغلي واست نو تاسو ته څرنګه معلومه سوه چې هغه انبياؤ د خپل امت خلکو ته د الله جل جلاله احکام رسولي وه او تاسو دا شاهدي په کومه وجه ورکوئ نو هغه مسلمان به جواب ورکړي چې په دې اړه موږ کتاب الله ناطق تر لاسه کوو او د هغه په وجه موږ دا شاهدي ادا کوو.

تر دې وروسته به دهغه رسولانو د امتونو خلک د مسلمانانو د صداقت او عدالت يعني د هغوئ د معتبر کېدو په اړه جرح کوي بيا به رسول الله ﷺ د مسلمانانو رېښتوني کېدل ثابتوي او شاهدي به ورکوي چې يقينا دا خلک د باور وړ او په خپله خبره کي رېښتوني دي نو دخپل امت په اړه د رسول الله ﷺ د شاهدي ورکولو دا معنی ده او په دې اعتبار رسول الله ﷺ ته د

خپل امت شاهد ويل سوي دي ، كله چي رسول الله ﷺ خپل امت ريښتوني او د تېرو امتونو په اړه د هغوئ شاهدي د باور ثابته كړي نو لكه رسول الله ﷺ چي شاهدي وركړل نو له دې كبله به حضرت نوح عليه السلام وايي چي زما شاهد حضرت محمد ﷺ او دهغه د امت خلك دي.

د قيامت په ورځ د بدن اندامونه شاهدي وركوي

﴿۵۳۲۰﴾: وَعَنْ أَنَسٍ قَالَ كُنَّا عِنْدَ رَسُولِ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ فَضَحِكَ

د حضرت انس رضي الله عنه څخه روايت دی چي موږ د رسول الله ﷺ سره وو چي رسول الله ﷺ وخندل

فَقَالَ هَلْ تَدْرُونَ مِمَّ أَضْحَكُ قَالَ قُلْنَا اللَّهُ وَرَسُولُهُ أَعْلَمُ قَالَ مِنْ مُخَاطَبَةِ

بيا يې وفرمايل: تاسو ته معلومه ده چي زه ولي خاندم ؟ موږ عرض وكړ الله جل جلاله او د هغه رسول ښه پوهيږي ، رسول الله ﷺ وفرمايل :ما د الله جل جلاله او بنده په منيځ كي مخ په مخ د خبرو كولو

الْعَبْدِ رَبَّهُ يَقُولُ يَا رَبِّ أَلَمْ تُجِرْنِي مِنَ الظُّلْمِ قَالَ يَقُولُ بَلَى قَالَ فَيَقُولُ فَإِنِّي

(په خيال) وخندل، د قيامت په ورځ به بنده خپل رب ته وايي اې ربه ! ايا تا ما ته د ظلم څخه پناه نه ده راكړې لكه چي تا فرمايلي دي : (لا يظلم ربک احدا) ستا رب پر چا ظلم نه كوي، (يعني د

لَا أُجِيزُ عَلَى نَفْسِي إِلَّا شَاهِدًا مِنِّي قَالَ فَيَقُولُ كَفَى بِنَفْسِكَ الْيَوْمَ عَلَيْكَ

بل چا شاهدي معتبره نه ګڼم) اې الله ! زه نه روا كوم پر خپل ځان باندي مګر شاهد له ما څخه ، نبي كريم ﷺ ويلي دي چي الله تعالى به ورته و فرمايي نن ورځ خپله ستا ذات پر تا شاهد بس

شَهِيدًا وَبِالْكِرَامِ الْكَاتِبِينَ شُهُودًا قَالَ فَيُخْتَمُ عَلَى فِيهِ فَيُقَالُ لِأَرْكَانِهِ

دی او كرام كاتبين ملائكي پر تا باندي شاهدان دي ، ددې څخه وروسته به د الله تعالى په حكم سره د بنده پر خوله مهر ولګول سي او د هغه د بدن اندامو ته به وويل سي او د هغه د بدن اعضاء به د هغه اعمال بيان كړي او بيا هغه مهر چي د هغه پر خوله لګيدلی وي هغه به مات كړل

انْطِقِي قَالَ فَتَنْطِقُ بِأَعْمَالِهِ قَالَ ثُمَّ يُخَلَّى بَيْنَهُ وَبَيْنَ الْكَلَامِ قَالَ فَيَقُولُ

بُعْدًا لَكُنَّ وَسُحْقًا فَعَنْكُنَّ كُنْتُ أُنَاضِلُ. رواه مسلم.

سي بنده به د مخکي په ډول بيرته خبري کوي نو خپلو اندامونو ته به وايي ليري سئ او هلاک سئ زه خو ستاسو لپاره (د الله سره) په جګړه وم. مسلم

تخريج: صحيح مسلم: ۴\ ۲۲۸۰، رقم: ۱۷- ۲۹۶۹.

تشريح: زما په اړه شاهدي ورکوونکي دي زما څخه وي، يعني ما ته دا د منلو وړ نه ده چي زما د اعمالو او کړنو په اړه بل څوک شاهدي ورکوي زه خو يوازي هغه شاهد منم چي زما د ذات څخه پيدا وي، يعني بنده خو به دا خيال کوي چي زما په ذات کي د ننه شاهدي ورکوونکي نسته ځکه هيڅوک خپل ځان ته د تاوان رسولو لپاره شاهدي نه ورکوي مګر هغه ته به دا خيال نه وي چي الله ﷻ پر دې قادر دی چي هغه د هغه بنده د ذات څخه داسي شاهد پيدا کړي چي د هغه پر خلاف شاهدي ورکړي او هغه ته به د الله ﷻ د حکم خلاف د انکار کولو امکان نه وي نو د رسول الله ﷺ د خندلو سبب دا وو چي د الله ﷻ په وړاندي د بنده داسي کلام کول چي خپله په خپل جال کي وموښلي د هغه د کومي درجې مضحکه حرکت به وي يا دا چي د الله ﷻ د خپل بنده په خوله مهر لګول د هغه اندامونه د اعمالو په اړه شاهدي ورکول چي د هغه په ذريعه هغه اعمال کړي دي او بيا د هغه بنده د خپلي ناپوهۍ په وجه هغه اندامونو ته بد ويل او هغوئ ته د ښېرا کولو عجيبه خيال کولو سره وخندل.

خپله د بنده د غوښتني او خواهش مطابق خپله د هغه اندامو په باره کي د شاهد جوړولو څخه وروسته بيا د اعمال ليکونکي ملائکي هم شاهد جوړول به د مقصد څخه زيات ه خبره وي او ددې سبب به دا وي چي اندامونه شاهدي ورکوي د هغه تصديق او توثيق وسي او بنده ته ددې ويلو امکان پاته نسي چي د بدن اندامونه صحيح شاهدي نه ورکوي او که الله ﷻ يوازي ملائکي شاهدي کړي نو دا خبره به د هغه د اقرار خلاف وي چي د هغه او د بنده په منځ کي فيصله سوي دي خلاصه دا چي اصل شاهد خو به د بنده د بدن اندامونه وي چي هغه به خپله د بنده د غوښتني مطابق شاهد جوړ کړل سي او د هغه اندامو شاهدي ثابتولو لپاره د اعمال نامه ليکونکي ملائکي به د تاکيدي شاهدي په توګه وي نو دا اعتراض بايد ونه سي چي کله الله ﷻ د بنده عرض او خواهش منلو سره سم د هغه د ذات يعني اندامو شاهد جوړ کړي نو د ملائکو د شاهد جوړولو څه ضرورت دی.

ليري سئ بدبختو او هلاک سئ....الخ: يعني کله چي هغه بنده ووينې چي دا زما د بدن اندامونه زما پر خلاف شاهدي ورکوي، او بلي خوا ته د هغه د اندامو د هغه پر خلاف شاهد

كېدل خپله د هغه د غوښتني او خواهش مطابق وي نو هغه به په دغه صورت لېدو سره خپل اندامونو ته بد رد ويل پيل کړي چي بدبختو ما خو ستاسو لپاره جګړه کول چي تاسو د اعمالو بده سزا تر لاسه نه کړئ مګر پر خپل ځان تاسو خپله شاهدي ورکړل او خپل ځان مو په عذاب کي واچوئ، يا دا چي زه په دنيا کي ستاسو په وجه د خلکو سره جنګېدم ستاسو د تاوان او ضرر څخه د ساتني لپاره نورو ته مي تاوان رسوی ستاسو راحت او ستاسو د کار په وجه به مي فلانی فلانی عمل کوو، هر وخت به ستاسو په ساتنه او مرسته کي بوخت وم او تاسو مي خپل غم خوار او دوست ګڼلاست، مګر په پای کي تاسو زما دښمن او زما بدخواه سواست او زما د عذاب سبب وګرځېدلاست، په حديث کي د هغه اندامو جواب نه دی ذکر سوی چي هغه په پای کي د بنده دا خبره اورېدو سره کوي مګر د قرآن په يوه آيت کي د هغوئ هغه جواب ته اشاره سوې ده:

وَقَالُوا لِجُلُودِهِمْ لِمَ شَهِدتُّمْ عَلَيْنَا قَالُوا أَنطَقَنَا اللَّهُ الَّذِي أَنطَقَ كُلَّ شَيْءٍ وَهُوَ خَلَقَكُمْ أَوَّلَ مَرَّةٍ وَإِلَيْهِ تُرْجَعُونَ.

ژباړه: او هغوئ به خپل اندامو ته وايي چي تاسو زموږ پر خلاف ولي شاهدي ورکړه نو هغوئ به وايي چي موږ هغه الله جل جلاله بللي يو چي هغه هر شی بللی دی او هغه تاسو په لومړي ځل پيدا کړلاست او هغه ته به بېرته ګرځېدل وي.

د قيامت په ورځ د خدای جل جلاله ديدار

﴿۵۳۲۱﴾: وَعَنْ أَبِي هُرَيْرَةَ قَالَ قَالُوا يَا رَسُولَ اللهِ هَلْ نَرَى رَبَّنَا يَوْمَ الْقِيَامَةِ قَالَ

د حضرت ابوهريره رضي الله عنه څخه روايت دی چي صحابه کرامو عرض وکړ اې د الله رسوله! ايا د قيامت په ورځ به موږ خپل رب په خپلو سترګو سره وينو؟ رسول الله صلی الله علیه وسلم ورته وفرمايل:

هَلْ تُضَارُّونَ فِي رُؤْيَةِ الشَّمْسِ فِي الظَّهِيرَةِ لَيْسَتْ فِي سَحَابَةٍ قَالُوا لَا قَالَ فَهَلْ

ايا د غرمې په وخت چي وريځ نه وي تاسو په لمر ليدو کي څه شک کوئ؟ صحابه کرامو عرض وکړ: نه، نو رسول الله صلی الله علیه وسلم ورته وفرمايل: ايا تاسو

تُضَارُّونَ فِي رُؤْيَةِ الْقَمَرِ لَيْلَةَ الْبَدْرِ لَيْسَ فِي سَحَابَةٍ قَالُوا لَا قَالَ فَوَالَّذِي نَفْسِي

(په آسمان) چي وريځ موجوده نه وي د څوارلسمي شپې سپوږمۍ ليدو کي څه شک کوئ؟ صحابه کرامو عرض وکړ يا، رسول الله صلی الله علیه وسلم وفرمايل په هغه ذات دي مي قسم وي چي د هغه په

بِيَدِهِ لَا تُضَارُّونَ فِي رُؤْيَةِ رَبِّكُمْ إِلَّا كَمَا تُضَارُّونَ فِي رُؤْيَةِ أَحَدِهِمَا قَالَ فَيَلْقَى

لاس کي زما ساه ده لکه ځرنګه چي تاسو د سپوږمۍ او لمر په ليدو کي څه شک نه کوئ همداسي به تاسو د خپل رب په ليدو کي هم څه شک نه کوئ، ددې څخه وروسته رسول الله ﷺ وفرمايل: هر کله چي بندګان خپل ربويني

الْعَبْدَ فَيَقُولُ أَيْ فُلْ أَلَمْ أُكْرِمْكَ وَأُسَوِّدْكَ وَأُزَوِّجْكَ وَأُسَخِّرْ لَكَ الْخَيْلَ وَالْإِبِلَ

نو پروردګار به هغوئ مخاطب کړي او د يو بنده څخه به پوښتنه وکړي اې فلانيه! ايا ما تاته پر ټول مخلوق شرافت او بزرګي نه وه درکړې ايا ما ته پر يو لوی قوم سردار نه وې جوړ کړی ايا ما تاته ستا ښځه نه وه درکړې؟ ايا ما ستا لپاره آسان او اوښان تابع کړي نه وه؟

وَأَذَرْكَ تَرْأَسُ وَتَرْبَعُ فَيَقُولُ بَلَى قَالَ فَيَقُولُ أَفَظَنَنْتَ أَنَّكَ مُلَاقِيَّ فَيَقُولُ لَا

ايا ما ته ددې لپاره نه وې پرې ايښی چي د خپل قوم سرداري حاصله کړې؟ او د هغوئ څخه څلورمه مال د غنيمت واخلې؟ بنده به عرض وکړ: هو ربه! تا داسي کړي وه، بيا به ورته الله تعالی فرمايي: ايا ستا دا خيال هم وو چي يوه ورځ به ته زما سره ملاقات کوې؟ بنده به وايي دا خيال خو هيڅ کله زما په زړه کي پيدا سوی نه وو،

فَيَقُولُ فَإِنِّي قد أَنْسَاكَ كَمَا نَسِيتَنِي ثُمَّ يَلْقَى الثَّانِي فذكر مثله ثُمَّ يَلْقَى الثَّالِثَ

الله تعالی به ورته فرمايي لکه ځرنګه چي تا زه هير کړی وم نن دي زه هم هيروم، ددې څخه وروسته به الله تعالی دويم بنده سره ملاقات وکړي همداسي سوال او جواب به وي بيا به ددريم

فَيَقُولُ لَهُ مِثْلَ ذَلِكَ فَيَقُولُ يَا رَبِّ آمَنْتُ بِكَ وَبِكِتَابِكَ وَبِرُسُلِكَ وَصَلَّيْتُ

بنده سره ملاقات وکړي د هغه څخه به هم داسي پوښتني وکړي هغه به په جواب کي دا وايي اې ربه! ما پر تا ستا پر کتابونو او ستا پر رسولانو ايمان راوړ، ما لمونځ وکړ،

وَصُمْتُ وَتَصَدَّقْتُ وَيُثْنِي بِخَيْرٍ مَا اسْتَطَاعَ فَيَقُولُ هَاهُنَا إِذًا ثُمَّ يُقَالُ الْآنَ

روژه مي ونيول، صدقه مي ورکړه، او څومره چي ممکن وي هغه به د خپلو نيکيو تعريف کوي، الله تعالی به ورته وفرمايي ته دلته تم سه

نَبۡعَثُ شَاهِدَنَا عَلَيۡكَ وَيَتَفَكَّرُ فِي نَفۡسِهِ مَنۡ ذَا الَّذِي يَشۡهَدُ عَلَيَّ فَيُخۡتَمُ عَلَى

چي زه د شاهدانو څخه شاهدي واخلم، او اوس ستا شاهدان رابلل کيږي ، ددې اوريدو سره به بنده په خپل زړه کي وايي زما پر خلاف به دلته څوک شاهدي ورکړي ، بيا به د الله تعالى په حکم سره د هغه پر خوله مهر ولګول سي

فِيهِ وَيُقَالُ لِفَخِذِهِ وَلَحۡمِهِ وَعِظَامِهِ انۡطِقِي فَتَنۡطِقُ فَخِذُهُ وَلَحۡمُهُ وَعِظَامُهُ بِعَمَلِهِ

او د هغه ورون به ويل وکړي چي ووايه نو د هغه ورون به د هغه غوښه، د هغه هډوکي به د هغه

وَذٰلِكَ لِيُعۡذِرَ مِنۡ نَفۡسِهِ وَذٰلِكَ الۡمُنَافِقُ وَذٰلِكَ الَّذِي سَخِطَهُ اللّٰهُ عَلَيۡهِ. رواه مسلم. وذكر حديث ابي هريرة يدخل من امتي الجنة في باب التوكل برواية ابن عباس

اعمال بنيي او دا هر څه (يعني سوال او جواب او مهر لګول د جسم د اعضاوو شاهدي به څکه وي) چي بنده ته يو عذر وړاندي نه سي او دا بنده (د چا چي ذکر کيږي) به منافق وي او دا هغه بنده دی چي پر هغه به الله تعالى په غضب کي وي. مسلم.

تخريج: صحيح مسلم ۲۲۷۹\۴، رقم: ۱۶- ۲۹۶۸.

د لغاتو حل: فُل: اى فلان. تراس وتربع: اى تكون رئيسا على قومک وتاخذ ربع الغنيمة.

تشريح: همدارنګه تاسو به د خپل پروردګار په ليدو کي څه شک او شبه نه کوئ، مطلب دا چي څرنګه تاسو د لمر او سپوږمۍ په ليدو کي څه تکليف نه وينئ همدارنګه به د قيامت په ورځ خپل پروردګار هم بېله تکليفه وينئ ، څرګنده دي وي چي لفظ د تضارون د تاء په پېښ او د راء په تشديد سره او د راء د تشديد څخه پرته هم نقل سوی دی او که چيري دغه لفظ د راء په تشديد سره وي نو اصل به يې مضارت وي چي د هغه معنی د ضرر او تاوان ده او که دغه لفظ د راء د تشديد څخه پرته وي نو بيا ددې اصل به ضير وي او معنی ئې هم د ضرر او تاوان ده نو د لفظي ترجمې په اعتبار د لاتضارون معنی به دا وي چي د پروردګار د ديدار په وخت کي به تاسو په خپلو کي د جنګ ، مخالفت او موافقت په ذريعه يو بل ته تاوان او تکليف نه رسوئ ځکه چي د هغه ديدار به داسي څرګنده او د هر يوه دپاره عام وي چي هر سړی به يې په اساني او اطمينان سرهويني ، ځينو حضراتو دا معنی بيان کړې ده چي د هغه د ديدار په وخت کي به په تاسو کي هيڅوک هم د يو بل دپاره پرده او خنډ نه ياست، په مجمع البحرين کي دا ليکلي دي

چي د تضارون لفظ د مضارت څخه دی او د مضارت معنی د چا د دیدار په وخت کي اجتماع او رش کېدل او د هغه په وجه یو بل ته تکلیف او پریشاني رسول مراد دي همدارنګه قاضي عیاض مالکي ویلي دي چي د مضارت معنی مطابقت یعني په خپلو کي یو بل په تنګولو سره اطلاق د یو داسي شی د لېدو په موقع دي چي بالکل مخصوص او محدود ځای باندي وي او د مجمع په دې وجه هر سړی یې په اساني سره نسي لیدلای نو په دغه صورت کي د لاتضارون مطلب به دا وي چي تاسو به د پروردګار د دېدار په وخت کي د یو بل سره په تنګی کي نه اخته کیږي څرنګه چي په محدود ځای کي د مجمع او رش په وخت د یو شي دلېدو په صورت کي کیږي بلکه څرنګه چي تاسو ټول پر خپل ځای باندي د اطمینان او فراغت سره لمر او سپوږمی وینی همدارنګه به د قیامت په ورځ تاسو ټول په خپل ځای په فراغت سره د خپل پروردګار دیدار کوئ.

په یوه روایت کي د دغه لفظ د تضارون پر ځای تضامون دی یعني د راء پر ځای میم دی یا د تضامون لفظ هم په دوه ډوله منقول دی یعني د تاء په پېښ او د میم په تشدید سره هم راغلی دی او د میم د تشدید څخه پرته هم د تشدید په صورت کي د دغه لفظ د ضم څخه مشتق دی او پرته د تشدید په صورت کي د ضیم څخه ضم اجتماع او رش معنی کي دی او ضیم د ظلم او زیاتوب په معنی کي دی مګر په دواړو صورتو کي مفهوم هغه دی کوم چي د تضارون په صورت کی دی.

نو زه به هم تا هېر کړم، ددې خلاصه داده چي کله ما ته په دنیا کي خپله په دغه انعامو سره ونازول سم او په تا مي دومره لوی لوی احسانات وکړل نو ستا فرض وو چي تا زما اطاعت او عبادت او زما د احکامو اتباع او پیروي په ذریعه زما شکر ادا کولای او زما د دیدار امید دي درلودلای نو تا ته به مي نور زیات انعامونه او جزا درکړي وای او د دنیا په ډول نن ورځ به هم ته سرلوړی ګړی وای مګر کله چي تا په دنیا کي زما د دغه نعمتونو او احساناتو سربېره زه هېر کړم او زما له خوا غافل سوی وې نو اوس زه هم احسان او ښه چلن کولو سره ستا سره هغه معامله وکړم کوم چي یو غافل او احسان هېرونکي سړي سره کیږي او همدارنګه زه تا د خپل رحمت څخه لیري کوم، څرګنده دي وي چي دغه مضمون په دغه آیت کریمه کي هم بیان سوی دی:

قَالَ كَذَٰلِكَ أَتَتْكَ آيَاتُنَا فَنَسِيتَهَا وَكَذَٰلِكَ الْيَوْمَ تُنسَىٰ

ژباړه: الله ﷻ به فرمایي چي همدارنګه تا ته (په دنیا کي) زموږ آیاتونه راغلي وه مګر تا هېر کړل همدارنګه نن (دلته د قیامت په ورځ) موږ تا هېروو.

نو د هغه ورون، د هغه غوښه او د هغه هډوکي ...الخ: په دې اړه دا ښودل ضروري دي چي په قرآن کریم د لاسو، پښو، ژبي او پوست خبري کول او د بنده د اعمالو په اړه شاهدي ورکول

ذكر سوي دي ، حال دا چي دلته د ورون ، غوښي او هډوكي خبري كولو او شاهدي وركولو يادونه ده نو صحيح خبره داده چي د حديث ددغه جملې اصل مقصد هم دا بيانول دي چي د بنده ټول اندامونه به د بدن ويونكي سي او د هغه د اعمالو په اړه به شاهدي وركوي چي په هغو كي لاسونه، پښې او نور هم شامل دي څرنګه چي مخكي د حضرت انس رضي الله عنه په روايت كي تېر سول.

او د حضرت ابوهريره رضي الله عنه د روايت ...الخ: مطلب دادی چي صاحب مصابيح يدخله من امتي ...الخ، حديث د حضرت ابوهريره رضي الله عنه د روايت څخه دلته په دې باب كي نقل سوی وو مګر صاحب مشكوة دغه حديث د حضرت ابن عباس رضي الله عنه څخه نقل كړی دی او ددې باب پر ځای يې باب التوكل ذكر كړی دی مګر څرګنده دي وي چي دغه حديث د حضرت ابن عباس رضي الله عنه څخه په دغه الفاظو كي منقول دي ، يدخل الجنة من امتى سبعون الفا بغير حساب هو الذين لايستوفون ولايتطيرون وعلى ربهم يتوكلون، نو صحيح خبره داده چي دلته يدخل من امتي الجنة...الخ، پر ځای داسي ويل سوي دي چي: يدخل الجنة من متي ...الخ.

اَلْفَصْلُ الثَّانِي (دوهم فصل)

په امت محمدي كي د بې حسابه جنت ته تلونكو شمېر

﴿۵۳۲۲﴾: عَنْ اَبِيْ اَمَامَةَ قَالَ سَمِعْتُ رَسُولَ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ يَقُولُ

د حضرت ابو امامه رضي الله عنه څخه روايت دی چي ما د رسول الله صلى الله عليه وسلم څخه اوريدلي دي چي فرمايل

وَعَدَنِي رَبِّي أَنْ يُدْخِلَ الْجَنَّةَ مِنْ أُمَّتِي سَبْعِينَ أَلْفًا لَا حِسَابَ عَلَيْهِمْ وَلَا

يې : زما پروردګار زما سره دا وعده كړې ده چي هغه به زما د امت اويا زره كسان په جنت كي داخل كړي چي د هغوئ به نه حساب وي ، نه ميزان او نه

عَذَابَ مَعَ كُلِّ أَلْفٍ سَبْعُونَ أَلْفًا وَثَلَاثُ حَثَيَاتٍ مِنْ حَثَيَاتِهِ ربي . رواه احمد والترمذي وابن ماجه.

عذاب ، او په هغوئ كي به په هر زر پسې اويا زره نور او درې لپې د پروردګار هم وي. احمد، ترمذي او ابن ماجه.

تخريج: الامام احمد في مسنده ۵\۲۶۸، رقم: ۲۴۳۷، وابن ماجه ۲\۱۴۳۳، رقم: ۴۲۸۶.

د لغاتو حل : حثیات: جمع حثیة، کنایة عن المبالغة والکثرة (د مبالغې او ډېربنت څخه کنایه)

تشريح: د حساب او عذاب څخه پرته...الخ: مطلب دادی چي دغه خلکو ته به سخت عذاب نه ورکول کیږي ، او د هرو زرو سره به اوویا زره...الخ: ددې مطلب دادی چي دغه اویا زره خلک خو به د حساب او عذاب څخه پرته جنت ته ولاړ سي مګر د دوئ څخه هم په هرو زرو کي به نور اوویا زره خلک وي او بیا به الله ﷻ د خپلو درو لوپو په ډکولو سره نور خلک له دوئ سره کړي اوس پاته سوه دا خبره چي د اویا زره څخه څه مراد دی، نو کېدای سي چي دغه خاص شمېر مراد وي یا دا چي د دغه شمېر څخه زیاتوب مراد دي او د درو لپو الفاظ هم د زیاتوب او مبالغې لپاره وي، نو خلاصه دا سوه چي الله ﷻ به زما د امت دومره زیات خلک چي شمېرېې کیدای نه سي د حساب او عذاب څخه پرته په جنت کي داخل کړي.

د قیامت په ورځ به د الله ﷻ په عدالت کي درې واره خلک راځي

﴿۵۳۲۳﴾: وَعَنِ الْحَسَنِ عَنْ أَبِي هُرَيْرَةَ قَالَ قَالَ رَسُولُ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ

حضرت حسن رضی الله عنه د حضرت ابوهریره رضی الله عنه څخه روایت کوي چي رسول الله ﷺ وفرمایل: د

وَسَلَّمَ يُعْرَضُ النَّاسُ يَوْمَ الْقِيَامَةِ ثَلَاثَ عَرَضَاتٍ فَأَمَّا عَرْضَتَانِ فَجِدَالٌ

قیامت په ورځ به د الله تعالی په حضور کي خلک درې واره وړاندي کړل سي دوه واره خو به مناقشه او عذر وي (یعني یو وار خو به خلک جګړه کوي چي موږ ته احکام نه دي را رسول سوي یا دا چي موږ په احکامو نه یو پوه کړل سوي او په دویم وار به اعتراف پر ګناه وکړي او

وَمَعَاذِيرُ وَأَمَّا الْعَرْضَةُ الثَّالِثَةُ فَعِنْدَ ذَلِكَ تَطِيرُ الصُّحُفُ فِي الْأَيْدِي فَآخِذٌ

عذر به کوي ، او په دریم وار به عمل نامې په لاسونو کي ورکړل سي ، د ځینو په راسته لاس کي

بِيَمِينِهِ وَآخِذٌ بِشِمَالِهِ . رواه احمد والترمذي و قال لا يصح هذا الحديث من قبل ان الحسن لم يسمع من ابي هريرة و قد رواه بعضهم عن الحسن عن ابي موسى.

به عمل نامه وي او د ځینو په چپه لاس کي ، ترمذي وایي دا روایت صحیح نه دی ځکه چي حضرت حسن بصري د حضرت ابوهریره رضی الله عنه څخه نه دي اوریدلي ، دځینو څخه دا د عن حسن عن ابی موسی په سند سره بیان سوی دی.

تخريج: احمد في مسنده ۴\ ۴۱۴، سنن الترمذي ۴\ ۵۳۳، رقم: ۲۴۲۵.

د لغاتو حل: معاذير: جمع معذرة، اى يعتذورن (عذورنه كوي)

تشريح: دوه ځله به بحث او جرح وي. مطلب دا چي كله خلک په لومړي ځل وړاندي سي نو هغه وخت به هغوئ دخپلو ګناهو او دخپلو بدو عملو اقرار نه كوي او خپل ځان به د عذاب څخه د ساتلو هڅه كوي يعني د الله ﷻ په مخكي به بحث او مباحثه كوي او وايي به چي موږ ته هيڅ نبي ستا احكام نه دي رارسولي او نه موږ ته چا دا ويلي دي چي زموږ كوم عمل صحيح دى او كوم عمل صحيح نه دى، او كله چي موږ ته هدايت را رسېدلئ نه دى او زموږ په وړاندي د نيكۍ او بدۍ لاري څرګنده سوي نه دي نو پر موږ دي د بدو عملو او ګناهو سزا ولي عائد كړل سي مګر كله چي الله ﷻ د مختلفو دلائلو او شاهدانو په ذريعه دا ثابته كړي چي هغوئ ته د هدايت پيغام رسېدلى وو او په مختلفو زمانو كي هغه پيغمبرانو او رسولانو د الله ﷻ احكام رسولي وه چي هغوئ يا خو قبول نه كړه يا په هغه يې په صحيح توګه عمل ونه كړ نو په دوهم ځل د وړاندي كېدو په وخت كي به هغوئ دخپلو ګناهو او خپلو بدو عملو اقرار وكړي او بيا به عذر كول پيل كړي د مثال په توګه څوک به وايي چي ما د خطا او سهو له كبله د ګناهو لار اختيار كړې وه او څوک به وايي چي زه د جهالت او غفلت په تيارو كي لوېدلى وم او د هغه په وجه د هدايت پر لار روان نه سوم او څوک به داسي وايي چي زه ستا د رحمت په اميد د غفلت او بې پرواهۍ ښكار روم، خلاصه دا چي هر يو به داسي عذر بيانوي او بيا په دريم ځل چي د خلكو ټول معاملات د هغوئ مخته راسي او دهر يوه د عقيدې او عمل څارنه پوره سي نو بيا به آخري فيصله څرګنده سي او د ټولو مخكي به د اهل هدايت او اهل ضلالت په منځ كي فرق او امتياز بالكل څرګند سي د هغه صورت به دا وي چي كوم خلک د جنت په سعادت سره ونازول سي د هغوئ اعمال نامه به په راسته لاس وي او څوک چي په دوږخ كي اچول كيږي دهغوئ اعمال نامه به په چپه لاس وركړل سي.

ددغه حديث په اړه د ترمذي د وينا خلاصه دا ده چي د حضرت ابو هريره رضي الله عنه څخه د حضرت حسن بصري رحمه الله حديث اورېدل ثابت نه دي ځكه د حضرت ابو هريره رضي الله عنه څخه د هغه ددغه روايت سند منقطع او غير متصل سو چي د هغه په وجه دغه حديث ته مذكوره سند او روايت سره صحيح نسي ويل كيداى مګر جزري په تصحيح المصابيح كي ويلي دي چي بخاري رحمه الله په خپل صحيح بخاري كي د حضرت حسن بصري رحمه الله داسي درې حديثونه نقل كړي دي كوم

چي حسن بصري رحمة الله عليه د حضرت ابو هريره رضي الله عنه څخه روايت کړي دي مګر په صحيح مسلم کې د حسن بصري رحمة الله عليه داسي روايت منقول نه دى چي هغه د حضرت ابو هريره رضي الله عنه څخه نقل کړى وي، په هر حال که د جزري څخه قطع نظر وکړل سي نو هم د حديث پر صحيح والي باندي اثر نه لويږي ځکه چي ځينو محدثينو دغه روايت د حسن بصري څخه او هغه د حضرت ابوموسى اشعري رضي الله عنه څخه نقل کړى دى او په دغه طريقه سره ددغه روايت سند به متصل وي چي د هغه څخه د اصل حديث صحيح کېدل ثابتيږي ، ځينو حضراتو ويلي دي چي حسن بصري رحمة الله عليه دغه حديث د ډېرو صحابه کرامو لکه حضرت ابو موسى اشعري رضي الله عنه ، حضرت انس ابن مالک رضي الله عنه او حضرت ابن عباس رضي الله عنه او داسي نورو څخه روايت کړى دى.

د الله جل جلاله د نامه برکت

﴿۵۳۲۴﴾: وَعَنْ عَبْدِاللهِ بْنِ عَمْرٍو قَالَ قَالَ رَسُولُ اللهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ إِنَّ

د حضرت عبد الله بن عمر رضي الله عنه څخه روايت دئ چي رسول الله صلى الله عليه وسلم وفرمايل : د قيامت په ورځ به

اللّٰهَ سَيُخَلِّصُ رَجُلًا مِنْ أُمَّتِي عَلَى رُءُوسِ الْخَلَائِقِ يَوْمَ الْقِيَامَةِ فَيَنْشُرُ عَلَيْهِ

الله تعالى زما د امت څخه يو کس د خلکو په مخ کي را وغواړي او د هغه په مخکي به يو کم سل

تِسْعَةً وَتِسْعِينَ سِجِلًّا كُلُّ سِجِلٍّ مِثْلُ مَدِّ الْبَصَرِ ثُمَّ يَقُولُ أَتُنْكِرُ مِنْ هَذَا شَيْئًا

دفترونه کښېږدي چي په هغه کي به هر دفتر د نظر تر حده پوري وي بيا به د هغه څخه پوښتنه وکړي ايا ته په دې کي د يو خبري څخه انکار کوې،

أَظَلَمَكَ كَتَبَتِي الْحَافِظُونَ فَيَقُولُ لَا يَا رَبِّ فَيَقُولُ أَفَلَكَ عُذْرٌ قَالَ لَا يَا رَبِّ

ايا زما ليکونکو پر تا زياتي کړې ده ؟ هغه کس به عرض وکړي : يا زما ربه بيا به ځيني پوښتنه وکړي ايا ستا يو عذر سته؟ هغه به ووايي يا زما پروردګاره زما هيڅ عذر نسته ،

فَيَقُولُ بَلَى إِنَّ لَكَ عِنْدَنَا حَسَنَةً فَإِنَّهُ لَا ظُلْمَ عَلَيْكَ الْيَوْمَ فَتَخْرُجُ بِطَاقَةٌ فِيهَا

الله تعالى به ورته وفرمايي او زموږ سره ستا يو نيکي سته او نن به پر تا هيڅ زياتي نه کيږي بيا به يو پرزه را وايستل سي چي په هغه کي به

أَشْهَدُ أَنْ لَا إِلَهَ إِلَّا اللّٰهُ وَأَشْهَدُ أَنَّ مُحَمَّدًا عَبْدُهُ وَرَسُولُهُ فَيَقُولُ احْضُرْ وَزْنَكَ

(اشهد ان لااله الاالله و ان محمداً عبده ورسوله) ليكلى وي او الله تعالى به فرمايي داعمالو د وزن په وخت ته پر ميزان حاضر سه ،

فَيَقُولُ يَا رَبِّ مَا هَذِهِ الْبِطَاقَةُ مَعَ هَذِهِ السِّجِلَّاتِ فيقول إِنَّكَ لَا تُظْلَمُ قَالَ

هغه كس به عرض وكړاې ربه ددې پارچې د هغه دفترونو په مقابله كې څه طاقت دی؟ الله پاک به ورته وفرمايي پر تا به ظلم نه كيږي، رسول الله ﷺ وفرمايل :

فَتُوضَعُ السِّجِلَّاتُ فِي كَفَّةٍ وَالْبِطَاقَةُ فِي كَفَّةٍ فَطَاشَتْ السِّجِلَّاتُ وَثَقُلَتْ الْبِطَاقَةُ فَلَا يَثْقُلُ مَعَ اسْمِ اللَّهِ شَيْءٌ. رواه الترمذي وابن ماجة.

هغه دفترونه به د پلې په يوې خوا كې كښېښودل سي او هغه پارچه به د ترازو په بله پله كې كښېښودل سي نو د دفترونو هغه پله به پورته (يعني سپكه) سي او د پارچې هغه پله به درنه سي ، مختصر دا چې هيڅ شی د الله تعالى د نامه څخه دروند نه دی . ترمذي او ابن ماجه.

تخريج: سنن ابن ماجه ۲\ ۱۴۳۰، رقم: ۴۲۷۷، واحمد في مسنده ۴\ ۴۱۴.

تشريح: د (سجل) لفظ چې عامه ژباړه يې د ثبت سوي ده او اصل معنى يې د وسيع او ضخيم كتاب ده، او ځينو حضراتو ليكلي دي چې سجل په اصل كې طومار ته وايي يعني د ډېرو كاغذو چې په پيچلو سره پر هغه ليكنه كوي او ځينو ويلي دي چې سجل د ملائكي نوم دی چې د بندګانو اعمال ليكي، په هر حال دلته په حديث كې د سجل څخه مراد هغه كتاب يا ثبت سوی شی يا طومار دی چې په هغه كې د بندګانو اعمال ليكل كيږي .

بيا به يو كاغذ را وكښل سي چې په هغه كې به اشهد ان لااله الاالله وان محمدا عبده ورسوله، ليكل سوی وي په دې كې يو احتمال خو دادی چې دغه كلمه به هغه وي چې هغه په دنيا كې په لومړني ځل د خپلي ژبې څخه ادا كړې وي او دوهم احتمال دادی چې هغه په بل وار دغه كلمه ويلي وي چې د الله ﷻ په دربار كې مقبوله سوې وي او دغه احتمال زيات صحيح معلوميږي .

د قيامت دوږخې درې واقعې

﴿۵۳۲۵﴾: وَعَنْ عَائِشَةَ أَنَّهَا ذَكَرَتْ النَّارَ فَبَكَتْ فَقَالَ رَسُولُ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ

د حضرت عائشې (رض) څخه روايت دی چې ما ته د دوږخ اور را ياد سو نو زه په ژړا سوم ،

عَلَيْهِ وَسَلَّمَ مَا يُبْكِيكِ قَالَتْ ذَكَرْتُ النَّارَ فَبَكَيْتُ فَهَلْ تَذْكُرُونَ أَهْلِيكُمْ

رسول الله ﷺ را څخه پوښتنه وکړه ولي ژاړې؟ ما عرض وکړ د دوزخ اور را ته یاد سو، نو زه په ژړا سوم، ایا د قیامت په ورځ به تاسو خپل اهل او عیال یاد ساتي،

يَوْمَ الْقِيَامَةِ فَقَالَ رَسُولُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ أَمَّا فِي ثَلَاثَةِ مَوَاطِنَ فَلَا

رسول الله ﷺ وفرمایل: درې ځایونه داسي دي چي هلته به یو نفر بل نفر نه یادوي یو خو په

يَذْكُرُ أَحَدٌ أَحَدًا عِنْدَ الْمِيزَانِ حَتَّى يَعْلَمَ أَيَخِفُّ مِيزَانُهُ أَوْ يَثْقُلُ وَعِنْدَ

وخت کي د میزان تر څو پوري چي دا معلومه نه سي چي د هغه حساب سپک سو او که درونډ سو، دویم: عمل نامه په لاس کي د ورکولو په وخت کي

الْكِتَابِ حِينَ يُقَالُ هَاؤُمُ اقْرَءُوا كِتَابِيَهْ حَتَّى يَعْلَمَ أَيْنَ يَقَعُ كِتَابُهُ أَفِي

تر څو پوري چي دا معلومه نه سي چي عملنامه په راسته کي ورکړل سوه که په چپه لاس کي یاد

يَمِينِهِ أَمْ فِي شِمَالِهِ أَمْ مِنْ وَرَاءِ ظَهْرِهِ وَعِنْدَ الصِّرَاطِ إِذَا وُضِعَ بَيْنَ ظَهْرَيْ جَهَنَّمَ. رواه ابوداؤد.

شا د لوري، او تر څو چي په راسته لاس کي علمنامه اخیستونکي دا ونه وایي چي راسئ زما عملنامه وګورئ، دریم د پل صراط نژدې هر کله چي پل صراط د جهنم پر شا کښېښودل سي. ابوداؤد.

تخريج: سنن ابي داود ۵\۱۱۶، رقم: ۴۷۵۵.

تشريح بي بي عائشې ﷺ ته د رسول الله ﷺ د جواب خلاصه داده چي د قیامت په ورځ به په خاصه توګه درې داسي ځایونه وي چي د هغه هیبت او بیره به یې داسي حیران کړي چي چا ته به د هیچا خبر نه وي او نه به څوک د چا د یادوني او د هغه په حال د خبرېدو وخت تر لاسه کړي، هر څوک به په خپل فکر کي وي او هر وخت به ورسره دا فکر وي چي معلومه نه ده زما به څه حشر سي او زما به څه پای کیږي.

لکه چي مخکي هم وښودل سول او دلته د ژباړي په دوران کي هم څرګنده سوې ده چي کله د هر سړي دا فکر او عقیده او د اعمالو او کړنو شارنه وسي، په میزان کي اعمال نامې وتلل سي

او د الله ﷻ په دربار کي د هر سړي د سعادت او شقاوت فيصله وسي نو د ټولو اعمال نامې به د هغوئ لاسو ته ورسيږي د چا اعمال نامه چي په راسته لاس ورکړل سي نو هغوئ به خلاصون تر لاسه کوونکي وي . او د چا اعمال نامې چي په چپه لاس ورکړل سي نو هغوئ به د عذاب وړ وي ، د خلکو لاسو ته د اعمال نامو د رسېدو صورت به دا وي چي په راسته کي په ورکولو سره به د شا د خوا را وايستل سي او چپه لاس د بغل لاندي څخه په را ايستلو سره شاته بوتلل سي او بيا د شا د خوا په لاسونو کي اعمال نامې به ورکړل سي .

پل صراط به تر وېښته زيات نرى او تر توري زيات تېره وي ، دا به دجهنم پر شا يعني د هغه پر غاړه قائم کړل سي او بيا هر يوه ته په پر هغه د تېرېدو حکم وکړل سي ، مؤمنان به دخپلو اعمالو او مرتبو په اعتبار پر هغه تېرسي او جنت ته به ورسېږي او کافران چي د عذاب وړ وي د هغه څخه را ايله کيږي او په دوږخ کي به لويږي، عافانا الله الكريم .

اَلْفَصْلُ الثَّالِث (دريم فصل)

د حساب او کتاب بيره

﴿۵۳۲۶﴾ : عَنْ عَائِشَةَ قَالَتْ جَاءَ رَجُلٌ فَقَعَدَ بَيْنَ يَدَيْ رسول الله صَلَّى اللّٰهُ

د حضرت عائشې (رض) څخه روايت دى چي يو سړى د رسول الله ﷺ مخته کښېنستی او

عَلَيْهِ وَسَلَّمَ فَقَالَ يَا رَسُولَ اللّٰهِ إِنَّ لِي مَمْلُوكِينَ يُكَذِّبُونَنِي وَيَخُونُونَنِي

عرض يې وکړ اې دالله رسوله ! زما سره غلامان دي دوئ ما ته درواغ وايي ، زما په مال کي خيانت کوي

وَيَعْصُونَنِي وَأَشْتُمُهُمْ وَأَضْرِبُهُمْ فَكَيْفَ أَنَا مِنْهُمْ فقال رسول الله صلى الله

او زما د احکامو نافرماني کوي او زه هغوئ ته د ادب لپاره بد او رد وايم او هغوئ وهم، (د قيامت په ورځ به) د هغوئ په سبب زما څه حال وي؟ رسول الله ﷺ ورته وفرمايل :

عليه وسلم من اذا كان يوم القيامة يُحْسَبُ مَا خَانُوكَ وَعَصَوْكَ وَكَذَّبُوكَ

کله چي د قيامت ورځ راسي نو د غلامانو خيانت، نافرماني او درواغ او کومه سزا چي تا هغوئ ته ورکړې وي د هغې حساب به ورکول کيږي ،

وَعِقَابُكَ إِيَّاهُمْ فَإِنْ كَانَ عِقَابُكَ إِيَّاهُمْ بِقَدْرِ ذُنُوبِهِمْ كَانَ كَفَافًا لَا لَكَ وَلَا

كه ستا سزا د هغوئ د ګناهونو برابر وي نو معامله به برابر وي او كه ستا سزاګاني د هغوئ د

عَلَيْكَ وَإِنْ كَانَ عِقَابُكَ إِيَّاهُمْ دُونَ ذُنُوبِهِمْ كَانَ فَضْلًا لَكَ وَإِنْ كَانَ عِقَابُكَ

ګناهونو څخه كمي وي نو د هغوئ د ګناهونو د زياتي په وجه به تا ته اجر ورسيږي او كه ستا

إِيَّاهُمْ فَوْقَ ذُنُوبِهِمْ اقْتُصَّ لَهُمْ مِنْكَ الْفَضْلُ قَالَ فَتَنَحَّى الرَّجُلُ وَجَعَلَ

سزا د هغوئ د جرمونو څخه زياته وي نو تا ته به د هغه غلامانو لپاره بدله اخيستل كيږي، ددې اوريدو سره هغه سړى

يَهْتِفُ وَيَبْكِي فَقَالَ له رَسُولُ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ أَمَا تَقْرَأُ اقول اللَّهِ

بيل كښېنستى او ژړاوي يې پيل كړې، رسول الله ﷺ هغه ته وفرمايل: ايا تا د الله تعالى دا ارشاد نه دى ويلى:

وَنَضَعُ الْمَوَازِينَ الْقِسْطَ لِيَوْمِ الْقِيَامَةِ فَلَا تُظْلَمُ نَفْسٌ شَيْئًا وَإِنْ كَانَ

(و تضع الموازين القسط ....) (موږ به د قيامت په ورځ د انصاف ترازو ودروو بيا به پر هيچا زياتي نه كيږي كه څه هم د هغه عمل

مِثْقَالَ حبة من خردل اتبنا بها وكفى بنا حاسبين فَقَالَ الرَّجُلُ يَا رَسُولَ

د سپلني د دانې برابر وي موږ به هغه حاضر كړو او موږ حساب كونكي كافي يو)، هغه سړى وويل: اې دالله رسوله!

اللَّهِ وَاللَّهِ مَا أَجِدُ لِي وَلِهَؤُلَاءِ شَيْئًا خَيْرًا مِنْ مُفَارَقَتِهِمْ أُشْهِدُكَ أَنَّهُمْ كُلُّهُمْ أَحْرَارٌ. رواه الترمذي.

زه دد غه خپلو غلامانو لپاره تر دې غوره خبره نه وينم چې دوئ آزاد كړم نو تا زه شاهد كوم چې دوئ ټول آزاد دي. ترمذي.

تخريج : سنن الترمذي ۵\۳۰۰، رقم: ۳۱۶۵.

د لغاتو حل : اقتص: اي اخذ بمثله.

تشريح: زما سره غلامان دي، په دې اړه احتمال دی چي د هغه سړي سره به غلامان او مينځي دواړه وه نو دلته يوازي د غلام ذکر کول تغليبا دي.

کان کفافا، نو ستاسو معامله به برابر برابر وي، په اصل کي کفاف هغه شي ته وايي چي د ضرورت او اړتيا په اندازه وي نو ددغه جملې مطلب دادی که چيري تا هغه غلامانو ته د هغوئ د کوتاهيو په اندازه سزا ورکړې وي نو ستا او د هغه غلامانو معامله به برابر په برابر وي چي د قيامت په ورځ به نه پر هغه غلامانو باندي ستا څه حق واجب وي او نه به پر تا باندي د هغه غلامانو حق وي.

کان فضلا لک، نو هغه به ستا حق وي، فضل په اصل کي هغه شي ته وايي چي د واجب حق څخه زيات وي، نو ددغه جملې مطلب دادی چي ستا هغه غلامانو ته د هغوئ د کوتاهيو څخه کمه سزا ورکول به د قيامت په ورځ ستا په حق کي يوه داسي ښېګڼه وي که ته غواړې نو تا ته به د هغه اجر او انعام تر لاسه سي مگر څرګنده دي وي چي د اجر او انعام څخه مراد ثواب او د درجې لوړوالی دی، نه د نفس فعل جزاء ځکه چي ځيني ښېګڼي يا داسي به وواېو چي ځيني ريښتوني عمل د اجر او ثواب حسن او زياتوب او د درجې لوړوالی په اعتبار خو ګټور وي مگر د نفس د فعل په اعتبار څه نه واجبوي چي هغه عمل اختيارونکی که غوښتونکی وي يا نه وي هغه ته به په هر صورت اجر او ثواب ورکول کيږي نو د هغه سړي خپلو غلامانو ته د هغوئ د کوتاهيو څخه کمه سزا ورکول د هغه د درجو ښېګڼه ده که هغه غواړي نو د هغه ښېګڼه به د هغه په اجر او ثواب کي د ښه والي او زياتوب او د هغه د درجو د لوړوالي سبب وګرځي.

ددغه حديث په ذريعه د بادار او غلام، د مخدوم او خادم يو تر بله تعلق او د هغوئ په منځ کي د معاملاتو په ښه ډول اندازه کيږي چي کوم خلک د خپلو غلامانو او مزدورانو سره د حيوانانو په ډول چلن کوي، د هغوئ پر کوچنيو او معمولي کوتاهيو باندي لوی لوی سزاوي ورکوي او د هغوئ د کمزورۍ څخه ناجائزه ګټه پورته کوي او روحاني تکليف ورکوي، هغوئ په حقيقت کي په خپل حق کي ازغي کري، هغوئ بايد په ياد ولري چي هغه ورځ يقينا راتلونکې ده کله چي د احکم الحاکمين په دربار کي هغوئ ته د خپلو غلامانو او مزدورانو سره د خپل يوه يوه عمل او د يوې يوې زياتوني جواب ورکول وي او د سخت حساب او نيوکي سره به مخامخ سي.

پاته سوه د هغه صحابي خبره چي هغه د دغه حديث په اورېدو سره او د قرآن کريم د آيت په اورېدو سره په خپل حق کي دا غوره وګڼل چي هغه دومره د دنياوي تاوان وزغمي او خپل غلامان

ازاد کړي نو دهغه تقوای او د الله ﷻ څخه بېره چې کمال عبدیت دادی چې انسان د هغه شي د سايې څخه هم پرهيز وکړي چې په يوه درجه کې د الله ﷻ د ناراضۍ او د آخرت د تاوان وهم پکښې وي.

آسان حساب او سخت حساب

﴿۵۳۲۷﴾: وَ عَنْهَا قَالَتْ سَمِعْتُ رسول الله صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ يَقُولُ فِي بَعْضِ صَلَاتِهِ اللَّهُمَّ حَاسِبْنِي حِسَابًا يَسِيرًا قَالَ قلت يا نبي الله ما الحساب اليسير قال أَنْ يَنْظُرَ فِي كِتَابِهِ فَيَتَجَاوَزَ عَنْه إِنَّهُ مَنْ نُوقِشَ الْحِسَابَ يَوْمَئِذٍ يَا عَائِشَةُ هَلَكَ. رواه احمد.

د حضرت عائشې (رض) څخه روايت دی چې ما د رسول الله ﷺ څخه په يو لمانځه کې واوريدل: اې الله! زما څخه زما د اعمالو حساب اسان واخلې، ما عرض وکړ اې دالله رسوله! آسان حساب څه شی دی؟ رسول الله ﷺ وفرمايل: د هغه پر عملنامه به نظر واچول سي بيا به د هغه څخه عفوه وکړل سي، اې عائشې! په دغه ورځ چې د چا پوره حساب وسو او پوره پوره حساب څيني واخيستل سو نو هغه هلاک سو. احمد.

تخريج: الامام احمد في مسنده ٦\٤٨.

تشريح: د څيني لمونځ څخه يا خو دا مراد دی چې رسول الله ﷺ دغه دعاء په لمانځه کې غوښتې وه او هغه د فرض لمانځه څخه يو لمونځ وو يا د نفلو څخه وو، يا دا چې رسول الله ﷺ دغه دعاء د لمانځه په يوه برخه کې يعني د قيام يا رکوع په پيل کې يا په قومه کې يا په سجده کې او يا په قعده کې غوښتې وه.

د رسول الله ﷺ ذکر سوې دعاء غوښتل يا خو د امت د ښووني لپاره وو چې بايد مسلمانان د الله ﷻ څخه د اسانه حساب دعاء وغواړي چې د اصل حساب د سختيو او نيوکي څخه وژغورل سي او پر هغوئ د الله ﷻ فضل او احسان وسي يا دغه دعاء يې د خلکو د غفلت د خوب څخه د وېښېدو لپاره غوښتې وي چې د ارام او اطمينان د څادر په اچولو سره مه بېديږي، د هغه ورځې فکر وکړئ کله چې د اعمالو سره د الله ﷻ په دربار کي وړاندي کېدل وي که هلته په سخته نيوکه اخته سوا ست نو بيا الهي عدل به مو په هيڅ حالت کي معاف نه کړي بلکه په

عذاب به مو اخته کړي، نو غوره داده چي د اوس څخه د خپلو اعمالو دنیا ښکلې کړئ، د ومره خو وکړئ چي د یو څه په اخیستلو سره د هغه په دربار کي حاضر سئ او د هغه د فضل او احسان مستحق وګرځئ، او دا هم ویل کیږي چي پر رسول الله ﷺ باندي د الهي بیري غلبه سوې وي، د قیامت د حالاتو او حساب د هیبت خیال د حیثیت الهي څخه زړه په لړزه سوی وي ځکه رسول الله ﷺ دغه دعاء غوښتل.

د مناقشه معنی په پلټنه سره د حساب اخیستلو ده، د ذرې ذرې جګړه کول، نو په حساب کي مناقشه کول دادي چي د یوه یوه عمل او د هر عمل د هري برخي پوره پلټنه وکړل سي د هر فعل په ښه ډول معلومات وسي او د ذرې ذرې حساب واخیستل سي، څرګنده ده چي اصل حساب دادی او په دغه حساب کي هیڅ بنده پوره کامیاب کېدای نه سي، څوک چي په دغه وخت کي د الله ﷻ د فضل او کرم څخه محروم سو او هغه د اسان حساب پر ځای د سخت حساب سره مخامخ سو نو هغه په عذاب کي د اخته کېدو څخه پرته پاته کېدای نسي.

بنده به خپل عمل نامه ووینې...الخ: یعني کوم بندګان چي د الله ﷻ د فضل او کرم په سایه کي وي د هغوئ سره به د حساب صورت دا وي چي دهغوئ په وړاندي به دهغوئ د عمل نامې په خلاصولو سره کښېښودل سي او هغه ته به وښودل سي چي وګوره تا دغه فلانۍ او فلانۍ ګناه کړې ده نو بنده به په پښېماني او شرمندګۍ سره د خپلو ګناهو اعتراف او اقرار وکړي، بیا به الله ﷻ د هغه ټول ګناهونه معاف کړي او په خپلي مهربانۍ سره به د بخښني او مغفرت تحفه ورکړي او که د لفظ ینظر ضمیر الله تعالی ته راجع کړل سي نو په هغه صورت کي به دا معنی وي چي الله ﷻ به د هغه عمل نامه یو ځل وګوري او بیا به هغه ته معافي وکړي.

پر مؤمن باندي د قیامت ورځ اسانه ده

﴿۵۳۲۸﴾: وَعَنْ اَبِيْ سَعِيْدِ الْخُدْرِيِّ اَنَّهُ اَتٰى رَسُوْلَ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ

د حضرت ابو سعید خدري رضي الله عنه څخه روایت دی چي زه د رسول الله ﷺ په خدمت کي حاضر سوم

فَقَالَ أَخْبِرْنِيْ مَنْ يَّقْوٰى عَلَى الْقِيَامِ يَوْمَ الْقِيَامَةِ الَّذِيْ قَالَ اللهُ عَزَّ وَجَلَّ

پوښتنه مي وکړه چي د قیامت ورځ چي د هغې په شان کي الله تعالی دا فرمايي:

يَوْمَ يَقُوْمُ النَّاسُ لِرَبِّ الْعَالَمِيْنَ فَقَالَ يُخَفَّفُ عَلَى الْمُؤْمِنِ حَتّٰى يَكُوْنَ عَلَيْهِ

كَالصَّلَاةِ الْمَكْتُوْبَةِ.

(يوم يقوم الناس لرب العالمين) (په کومه ورځ چې خلک د خپل رب په مخکې ودرېږي)، نو ما خبر کړه چې څوک به د الله تعالى په مخکې د دريدو طاقت ولري، رسول الله ﷺ وفرمايل: د قيامت ورځ به پر مؤمن اسانه کړل سي تر دې چې هغه ورځ به د فرض لمانځه برابر کړل سي. بيهقي.

تخريج: رواه البيهقي في كتاب البعث والنشور.

تشريح: حضرت ابوسعيد خدري رضي الله عنه چې د رسول الله ﷺ څخه په پوښتنه کولو سره د قرآن کريم د کومو الفاظو حواله ورکړل هغه په اصل کې د عم پارې د سورة تطفيف (ويل للمطففين) په يو کوچني آيت کې دی، په دغه صورت کې د قيامت د ورځې احوال او د هغه ورځې د اعمالو او د جزاء او سزا ورکولو يادونه ده او هغه ورځ د الله جل جلاله د عدل او انصاف د اظهار ورځ ده، په دغه مناسبت سره په دغه سورت کې په خاصه توګه پر ځينو هغه اعمالو باندې وعيد (عذاب) ذکر سوی دی چې د حقوق العباد سره تعلق لري او په ټولنيز ژوند کې ډېر د نفرت وړ ګڼل کيږي، لکه په تللو او اندازه کولو کې کمي کونکي ته په دغه الفاظو کې تهديد سوی دی:

أَلَا يَظُنُّ أُولَئِكَ أَنَّهُم مَّبْعُوثُونَ ، لِيَوْمٍ عَظِيمٍ ، يَوْمَ يَقُومُ النَّاسُ لِرَبِّ الْعَالَمِينَ

ايا دغه خلکو ته (چې په تللو او اندازه کولو کې کمي کوي) دا يقين نسته چې هغوئ به په يوه سخته ورځ کې په ژوندي کولو سره راپاڅول کيږي، په کومه ورځ چې ټول خلک به د پروردګار په مخکې ودرېږي، نو د هغه ورځې څخه بېرېدل پکار دي او د هري بدۍ څخه پرهيز کول پکار دي چې د هغه سره د بندګانو پر حقوقو باندې اثر لوېږي او خلکو ته تاوان رسيږي او د هغه سره ټولنيز ژوند د اطمينان او باور څخه محروم کيږي لکه په وزن کې کمي کول، نقل سوي دي چې حضرت ابن عمر رضي الله عنه د دغه سورت تلاوت پيل کړ، کله چې دغه آيت (يوم يقوم الناس لرب العالمين) ته راوسېدی نو د بيري څخه بې حاله سو او ژړا پر راغلل او بيا داسې يې وژړل چې د هغه څخه وروسته د آياتونو پر تلاوت جاري ساتلو باندې قادر نه سو.

په هر حال د حضرت ابوسعيد خدري رضي الله عنه د سوال خلاصه دا وه چې يو خو د قيامت ورځ خپله په خپل ځان کې ډېره بېره او پريشاني لري او بيا د خپلو اعمالو سره د الله جل جلاله په دربار کې وړاندې کېدل وي، د هغه د عدل او انصاف هيبت د هغه عدالت او د هغه په دربار کې دربېدل وي نو رسول الله ﷺ دغه زيری ورکړ چې مسلمانانان بايد په هر حال کې مطمئن وي چې هغه ورځ

به د ټولو بيرو او پريشانيو سربېره دهغوئ په اړه يوه اسانه ورځ وي ، هغوئ به د الله ﷻ د رحمت او د هغه د فضل او كرم په سايه كي وي ځكه د قيامت هغه ورځ به په دومره وخت كي تېره سي په څومره وخت كي چي يو سړی فرض لمونځ كوي، په دې اړه بايد دا خبره په ذهن كي وي چي د مسلمان څخه مراد كامل مسلمان دی يعني د عقيدې او فكر په اعتبار صالح ، د اعمالو او كردار پاک او متقي او د الله ﷻ په اطاعت او عبادت كي كامل، همدارنګه د فرض لمانځه د اندازې څخه مراد هغه وخت دی چي په هغه كي فرض لمونځ چي زيات تر زيات څلور ركعته وي، ادا كيږي . يا دا چي د فرض لمونځ ټول وخت مراد دی يعني تر څومره وخت پوري چي د يوه فرض لمانځه ادا كولو وخت وي په هغومره وخت كي به د قيامت يوه ورځ تېره سي، پاته سوه دا خبره چي د مسلمانانو په اړه به د قيامت ورځ په حقيقت كي پر دومره لنډ وخت محيط وي يا دا مراد دی چي هغه ورځ خو به اوږده وي مګر مسلمانانو ته به هغه دومره لږ محسوس سي لكه د يوه فرض لمانځه د وخت په اندازه، نو په دې اړه دغه دوهم اړخ مراد دی يعني هغه ورځ به د دومره اوږدوالي او سختۍ سربېره د مسلمانانو لپاره دومره اسانه سي چي هغوئ ته به هغه ورځ د يوه فرض لمانځه د لنډ وخت په اندازه معلومه سي ، حال دا چي د كافرانو په اړه به ددې برعكس وي نو دا خو په دغه دنيا كي هم په عامه توګه ليدل كيږي چي د وخت او مقدار په اعتبار د شپې او ورځي ګرځېدل د هر سړي لپاره يو ډول وي مګر كوم خلک چي په راحت او خوشحالي كي وي د هغوئ لپاره به د څلېرويشت ساعتو هغه ورځ او شپه د لمحو په اندزه تېرېدل محسوس كيږي ، او كوم خلک چي په تكليفو او سختيو كي اخته وي نو د هغوئ لپاره دغه يوه ورځ د كال برابر معلوميږي، له دې څخه دا هم څرګنده سوه چي د قيامت په ورځ به د مسلمانانو په اړه اسانه او لنډېدل يو ډول نه وي بلكه د هر مسلمان د عقيدې او عمل د مرتبو په اعتبار به بېل بېل نوعيت لري ، څوک چي په دنيا كي د خپلي عقيدې او عمل په اعتبار زيات كامل وي هغه به دغه ورځ او د هغه احوال زيات اسان محسوس كړي او په دنيا كي چي د چا عقيده او عمل څومره زيات كمزوري وي هغه به دغه ورځ هغومره كم اسانه محسوس كوي تر دې چي كفارو ته به هغه ورځ د پنځوس زرو كالو په اندازه معلوميږي.

د قرآن كريم په دغه الفاظو كي دې ته اشاره ده :

تَعْرُجُ الْمَلَائِكَةُ وَالرُّوحُ إِلَيْهِ فِي يَوْمٍ كَانَ مِقْدَارُهُ خَمْسِينَ أَلْفَ سَنَةٍ فَاصْبِرْ صَبْرًا جَمِيلاً إِنَّهُمْ يَرَوْنَهُ بَعِيدًا وَنَرَاهُ قَرِيبًا.

ملائکي او د مؤمنانو روحونه هغه ته خیژي او هغه عذاب به په داسي ورځ وي چي د هغه اندازه به ددنیا د پنځوس زره کالو په اندازه وي او اې پیغمبره! (د کافرانو پر مخالفت) صبر کوه او صبر هم داسي چي په هغه کي د شکایت نوم هم نه وي، دغه کافران به هغه ورځ د بدي عقیدې په وجه د واقع کېدو څخه لیري ګڼي او موږ هغه واقع کېدو ته نژدې وینو.

نو په دغه آیت کي د هغه ورځي څخه مراد د قیامت ورځ ده چي د خپل اوږدوالي او سختۍ په اعتبار به کفارو ته ډېره اوږده معلومیږي او څرنګه چي د مؤمنانو په مرتبو کي د فرق کېدو په وجه په مؤمنانو کي ځینو خلکو ته ډېره اسانه معلومیږي او ځینو ته لږ اسانه معلومیږي په دې اعتبار په دغه آیت کي هغه ورځي ته د زرو کالو په اندازه فرمایل سوي دي، نو ځینو کافرانو ته د زرو کالو په اندازه او ځینو ته د پنځوس زره کالو په اندازه معلومیږي.

د الله ﷻ ددغه ارشاد څخه هم ددې خبري تائید کیږي:

فَإِذَا نُقِرَ فِي النَّاقُورِ فَذَٰلِكَ يَوْمَئِذٍ يَوْمٌ عَسِيرٌ عَلَى الْكَافِرِينَ غَيْرُ يَسِيرٍ

بیا کله چي په شپیلۍ کي پوه کړل سي نو هغه ورځ به پر کافرانو باندي یوه سخته ورځ وي چي په هغه کي به یوه ذره اساني نه وي. په نورو الفاظو به ددې مفهوم دا وي چي پر مؤمنانو باندي به ډېره اسانه وي او دهغه اسانه کېدل به د هغوئ د ایمان او عمل په اعتبار فرق ولري.

په هر حال په دغه حدیث کي د مسلمانانو لپاره په څرګنده دا لاربنوونه ده که چیري هغوئ د قیامت په ورځ په خپل حق کي زیاته اساني غواړي نو هغوئ باید خپل ایمان او عقیده په زیات طاعت او عبادت کي ماموره کړي.

﴿۵۳۲۹﴾: وَعَنْهُ قَالَ سُئِلَ رَسُوْلُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ عَنْ يَوْمٍ كَانَ مِقْدَارُهُ

د حضرت ابو سعيد خدري رضي الله عنه څخه روایت دی چي د رسول الله ﷺ څخه د هغه ورځي په اړه پوښتنه وسول چي د هغې اندازه

خَمْسِيْنَ أَلْفَ سَنَةٍ مَا طُوْلُ هٰذَا الْيَوْمِ فَقَالَ وَالَّذِيْ نَفْسِيْ بِيَدِهٖ إِنَّهٗ لَيُخَفَّفُ

پنځوس زره کاله وي او د هغې اوږدوالی څه دی (یعني د هغې په اوږدوالي کي به د خلکو څه حال وي؟) رسول الله ﷺ وفرمایل: په هغه ذات مي دي قسم وي چي د هغه په واک کي زما ساه

عَلَى الْمُؤْمِنِ حَتّٰى يَكُوْنَ أَهْوَنَ عَلَيْهِ مِنَ الصَّلَاةِ الْمَكْتُوْبَةِ يُصَلِّيْهَا فِي الدُّنْيَا.

رواهما البيهقي في كتاب البعث والنشور.

ده هغه ورځ به پر مؤمن اسانه کړل سي تر دې چې د مؤمن لپاره به د هغې اوږدوالي د هغه فرض لمانځه په اندازه پاته سي چې هغه په دنیا کي ادا کوي. بیهقي.

تخريج: رواه البيهقي في كتاب البعث والنشور.

تشريح: دغه حدیث هم د تېر سوي حدیث په ډول دمؤمنانو په حق کي زیرى دى كه هغوئ د كامل ايمان خاوندان وي او د هغوئ دنیاوي ژوند د اعمال صالحه څخه ډک وي نو هغوئ ته د قیامت د ورځي د اوږدوالي او سختۍ څخه د پریشانه کېدو اړتیا نسته ،هغوئ به د الله ﷻ د بې پايه رحمتونو په سايه کي وي او هغه ورځ به د خپل اوږدوالي او سختۍ سربېره دهغوئ لپاره داسي تېره سي لکه څرنګه چې هغوئ یو فرض لمونځ کړي وي.

بې حسابه جنت ته تلونکي کسان

﴿۵۳۳۰﴾: وَعَنْ أَسْمَاءَ بِنْتِ يَزِيْدٍ عَنْ رَّسُوْلِ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ قَالَ

د حضرت اسماء بنت یزید (رض) څخه روایت دی چي رسول الله ﷺ وفرمایل:

يُحْشَرُ النَّاسُ فِيْ صَعِيْدٍ وَّاحِدٍ يَوْمَ الْقِيَامَةِ فَيُنَادِيْ مُنَادٍ فَيَقُوْلُ أَيْنَ

د قیامت په ورځ به خلک په یو میدان کي جمع کړل سي بیا به یو اعلان کونکي اعلان وکړي چي

الَّذِيْنَ كَانَتْ تَتَجَافٰى جُنُوْبُهُمْ عَنِ الْمَضَاجِعِ فَيَقُوْمُوْنَ وَهُمْ قَلِيْلٌ

هغه خلک چیري دي چي د هغوئ اړخونه د بسترو او د خوب د ځایونو څخه بیل وه ، ددې په اوريدو سره به خلک د میدان څخه راپاځي .

فَيَدْخُلُوْنَ الْجَنَّةَ بِغَيْرِ حِسَابٍ ثُمَّ يُؤْمَرُ لِسَائِرِ النَّاسِ إِلَى الْحِسَابِ. رواه البيهقي في شعب الإيمان.

او بې حسابه به جنت ته ځي، بیا به پاته خلکو ته د حساب اخیستلو حکم وسي. بیهقي.

تخريج: لم نجده في شعب الايمان.

د لغاتو حل: صعيد: اى مكان (ځاى)

تشریح: (تتجافی جنوبهم عن المضاجع): چي د هغوئ بغلونه به د بسترو څخه بېل وه، ددې څخه مراد يا خو د الله ﷻ هغه بندګان دي چي د شپې د راحت او سکون خوب پرېښودو سره د خپل خالق په دربار کي حاضر وي او د تهجد لمونځ کوي او دا هم ويل سوي دي چي کيداى سي هغه خلک مراد وي چي صلوة اوابين (د ماښام څخه وروسته شپږ رکعته) لمونځ کوي لږ دا هم کيداى سي چي ددې څخه هغه خلک مراد وي چي د ماخستن او سهار لمونځ کوي، په هر حال د حديث د دغه الفاظو څخه د قرآن کريم د دغه آياتو ته اشاره مقصد ده چي په هغه کي الله ﷻ د خپل عبادت کونکي او پاک بندګان داسي متعارف کړي دي چي:

إِنَّمَا يُؤْمِنُ بِآيَاتِنَا الَّذِينَ إِذَا ذُكِّرُوا بِهَا خَرُّوا سُجَّدًا وَسَبَّحُوا بِحَمْدِ رَبِّهِمْ وَهُمْ لاَ يَسْتَكْبِرُونَ ، تَتَجَافَى جُنُوبُهُمْ عَنِ الْمَضَاجِعِ يَدْعُونَ رَبَّهُمْ خَوْفًا وَطَمَعًا وَمِمَّا رَزَقْنَاهُمْ يُنفِقُونَ ، فَلاَ تَعْلَمُ نَفْسٌ مَّا أُخْفِيَ لَهُم مِّن قُرَّةِ أَعْيُنٍ جَزَاء بِمَا كَانُوا يَعْمَلُونَ.

ژباړه: نو زموږ په اياتونو باندي هغه خلک ايمان راوړي چي کله هغوئ ته هغه آياتونه وریاد کړل سي نو هغوئ پر سجده لوېږي او د خپل رب تسبيح او تحميد کول پيل کړي او هغه خلک (د ايمان راوړلو او د الله ﷻ د احکامو منلو څخه) تکبر نه کوي لکه چي کافران يې کوي او د کبر له موخي د الله ﷻ د حکم منلو څخه انکار کوي او د شپې د هغوئ بغلونه د بسترو څخه بېل وي بلکه هغوئ د خپل رب د ثواب په اميد او د عذاب د بيري څخه الله ﷻ يادوي او زموږ ورکړل سوو شيانو څخه مصرف کوي نو هيڅوک خبر نه دی چي د سترګو يخولو کوم کوم سامان د داسي خلکو لپاره د غيب په خزانه کي موجود دی ، دا د هغوئ د نيکو اعمالو بدله ده.

نو په دغه آيت کي د هغه صفاتو او ښېګڼو يادونه ده چي د مؤمنانو د ايمان خاصه ده او په هغه کي ځيني صفات خو داسي دي چي پر هغه خپله ايمان موقوف وي او ځيني صفات داسي دي چي پر هغه د ايمان کامل کېدل موقوف دي او د ذکر سوي حديث څخه څرګنده سوه چي د ايمان او عمل کمال لرونکي بندګان خاص به د قيامت په ورځ د حساب د پړاو څخه خوندي وي او پر هغوئ به هيڅ سختي نه وي او نه به نيوکه ځيني کيږي او هغوئ به د خپل رب د مهربانيو او رحمتونو په سايه کي وي او بې حسابه او بې کتابه به جنت ته ولاړ سي.

(ډېر لږ خلک) په دغه الفاظو کي دې ته اشاره ده چي په دنيا کي د مؤمنانو شمېر تر کافرانو کم دی او د خرابو خلکو په مقابله کي نيک خلک کم وي ، نو په آخرت کي هم په هغه ورځ د داسي خلکو شمېر چي د حساب او کتاب څخه پرته په جنت کي داخليږي او د سعات ور

وي ، نسبتا کم به وي نو دا خبره د قرآن کریم څخه هم ثابته ده چي اهل حق او نیک خلک تل په اقلیت کي وي او باطل او بدکاره خلک اکثریت وي لکه څنګه چي په یو ځای کي فرمایل سوي دي:

إِلاَّ الَّذِينَ آمَنُوا وَعَمِلُوا الصَّالِحَاتِ وَقَلِيلٌ مَّا هُمْ.

ژباړه: مګر کوم کسان چي ایمان لري او نیک کارونه کوي او داسي خلک ډېر کم دي.

او په بل ځای کي داسي فرمایي :

وَقَلِيلٌ مِّنْ عِبَادِيَ الشَّكُورُ

ژباړه: او زما په بندګانو کي (د فرمانبرداری او عبادت په ذریعه) شکر ادا کونکي کم دي.

ددې څخه ځرګنده سوه چي د مؤمنانو او اهل حق کم کېدل او د هغوئ دکمېدو په وجه مختلف ټولنیز او سیاسي تکلیفو کي اخته کېدل او ډول ډول ظلم زغمل د هغوئ لپاره داسي خبره نه ده چي د هغه سره د زړه د تنګۍ او نا امیدۍ ښکار سي بلکه په حقیقت کي د الله ﷻ له خوا د هغوئ لپاره یو سعادت دی او په پای کي د هغه صله هغوئ ته د تل راحتونو او نعمتونو په صورت کي تر لاسه کېدونکي ده ، د الله ﷻ دغه خاص بندګان یعني د ایمان او عمل کمال لرونکي به دحساب او کتاب څخه پرته په جنت کي ځکه داخلیږي چي هغوئ په دنیا کي د هدایت لار اختیار کړه ،د الله ﷻ او دهغه د رسول ﷺ د احکامو فرمانبرداري يې وکړه، ددين په لاره کي په استقامت او استقلال سره ولاړل ، دالله ﷻ د رضا لپاره يې د طاعت او عبادت سختۍ وزغملې، ددنيا خوندونه او راحتونه يې پرېښودل او همدارنګه د صبر مقام يې اختيار کړ نو بيا د هغوئ د الله ﷻ په نزد د سعادتونو او بې پايه راحتونو مستحق کېدل دي او داسي خلک په مخاطب کولو سره الله ﷻ په خپل کتاب کي داسي زيری ورکوي چي :

قُلْ يَا عِبَادِ الَّذِينَ آمَنُوا اتَّقُوا رَبَّكُمْ لِلَّذِينَ أَحْسَنُوا فِي هَذِهِ الدُّنْيَا حَسَنَةٌ وَأَرْضُ اللَّهِ وَاسِعَةٌ إِنَّمَا يُوَفَّى الصَّابِرُونَ أَجْرَهُم بِغَيْرِ حِسَابٍ

ژباړه: (اې محمد ﷺ!) ته مؤمنانو ته زما له خوا ووايه چي اې زما مؤمنانو بندګانو! تاسو د خپل پروردګار څخه بېره کوئ ، يعني پر فرمانبرداری باندي همېشتوب او د ګناهو څخه پرهېز کوئ ، کوم خلک چي په دغه دنيا کي نيکي کوي د هغوئ لپاره نيکه بدله ده او د الله ﷻ مځکه پراخه ده يعني که تاسو ته د دين په لاره کي د خپل وطن پرېښودل واقع سي نو ددې څخه هم مخ مه اړوئ او د هجرت په کولو سره بل ځای ته ولاړ سئ او موږ وعده در سره کوو چي د دين په لاره کي استقلال اختيارونکو ته به د هغوئ بې حسابه بدله تر لاسه کيږي .

د مېزان او پل صراط په اړه یو څو خبري

د اهل سنتو عقیده ده چي الله ﷻ به د قیامت په ورځ د حشر په میدان کي ترازو ودروي چي د هغه به دوې پلې وي او یوه څوکه به یې وي او د هغه ترازو په ذریعه به د بندګانو نیک او بد اعمال تلل کیږي، د معتزلوو، مرجیه وو او فارخیه ډلو خلکو د ترازو د وجود څخه انکار کړی دی هغوئ وایي چي د ترازو څخه مراد د عدل میزان دی، د اعمالو تلل او وزن کول مراد نه دي مګر د قرآن کریم او حدیثو له موخي دغه خلک دروغجن دي، خپله الله ﷻ فرمایي:

وَنَضَعُ الْمَوَازِينَ الْقِسْطَ لِيَوْمِ الْقِيَامَةِ فَلاَ تُظْلَمُ نَفْسٌ شَيْئًا وَإِن كَانَ مِثْقَالَ حَبَّةٍ مِّنْ خَرْدَلٍ أَتَيْنَا بِهَا وَكَفَى بِنَا حَاسِبِينَ.

ژباړه: او هلته به موږ د قیامت په ورځ د عدل دپاره ترازو کښېږدو او د ټولو اعمال به وزن کړو، نو پر چا باندي به هیڅ ظلم نه کیږي که د ذرې په اندازه د چا نیکي وي نو هغه ته به ورکړل سي او موږ د حساب لپاره کافي یو.

یو بل ځای داسي فرمایي:

فَأَمَّا مَن ثَقُلَتْ مَوَازِينُهُ فَهُوَ فِي عِيشَةٍ رَّاضِيَةٍ وَأَمَّا مَنْ خَفَّتْ مَوَازِينُهُ فَأُمُّهُ هَاوِيَةٌ

ژباړه: بیا د اعمالو د وزن کولو څخه وروسته د کوم چا د ایمان او عمل پله چي درنه سي نو هغه به تل په عیش او راحت کي وي او د کوم چا د ایمان او عمل پله چي سپکه سي نو هغه به دوږخ ته ځي.

نو د عدل تعریف د اظهار عدل دپاره په حقیقت کي په ترازو کي د اعمالو وزن کول مراد دي او علماؤ لیکلي دي چي دغه ترازو به د الله ﷻ په خپل قدرت کي وي ځکه چي د بندګانو حساب الله ﷻ په خپل لاس کي ساتلی دی، په یوه روایت کي راغلي دي چي د قیامت په ورځ به د الله ﷻ په لاس کي ترازو وي، یوه ډله به الله ﷻ لوړه کړي او یوه به کښته کړي.

ویل کیږي چي د بندګانو نیکۍ به د ذرو او د کوچني مېږیانو برابر وي چي ډېر ښکلي به وي، هغوئ به د نور په پله کي واچول سي، د الله ﷻ د رحمت سره به دغه پله درنه سي، د بدیو شکل به ډېر خراب وي او هغه د ظلمت په پله کي واچول سي او د الله ﷻ په حکم سره به دغه پله سپکه سي.

د اعمالو په تللو کي د خلکو حال به پر درې ډوله وي، ځیني به هغه وي چي د هغوئ د نیکو اعمالو پله به د بدو اعمالو د پلې په نسبت درنه وي، داسي خلک به جنت ته ځي، دوهمه ډله به د هغه خلکو وي چي د هغوئ د نیکو اعمالو په نسبت به د خرابو اعمالو پله درنه وي، داسي

خلک به دوږخ ته ځي، دريمه ډله به هغه خلک وي چي د هغوئ د نيکو اعمالو او بدو اعمالو دواړي پلې به برابري وي، داسي خلک به اعراف (د دوږخ او جنت منځته) ته ورسول سي، او بيا به د شفاعت په وجه د سزا څخه مخکي يا د سزا څخه وروسته هغوئ هم په جنت کي داخل کړل سي.

د اهل سنتو په نزد پر پل صراط باندي ايمان راوړل هم واجب دي، دا هغه پل دی چي د دوږخ پر شا به پروت وي چي د وېښته څخه به نری وي او تر اور به زيات تود او تر توري به زيات تېره وي، د قيامت په ورځ به ټول مخلوق پر دغه پل تيريږي، څوک چي د جنت وړ وي نو هغه به د خپل ايمان او عمل د مرتبو سره سم په اساني يا پريشاني سره پر پل باندي په تېرېدو سره جنت ته ولاړ سي او څوک چي د دوږخ وړ وي، هغوئ به پر دغه پل باندي په لوېدو سره په دوږخ کي ولويږي، مؤمنانو ته به د هغوئ د عمل سره سم نور ورکړل سي چي د هغه په رڼا کي به پر هغه پل تيريږي، په هغوئ کي ځيني به په سپرېدو سره او د ځغاستي په ډول تير سي، ځيني به د ګونډو په زور او ځيني به د کناټو په زور تېر سي، د پل صراط مسافت د آخرت د کلونو په حساب سره درې زره کاله دی، په يوه روايت کي دا بيان سوي دي چي پر دوږخ باندي اووه پلونه دي او دهر پل په منځ کي د اويا کاله د مسافت فاصله ده، او هر پل د توري په ډول تېره دی، پر دغه پله باندي تېرېدونکو ډلو کي لومړی ډله به د ستر ګو په رپ تېره سي، دوهمه ډله به د برېښنا په ډول تېره سي، دريمه ډله به د تېزي هواء په ډول تېره سي، څلورمه ډله به د مرغانو په ډول په تېزي سره تېره سي او پنځمه ډله به د اسونو د ځغاستي په ډول تېره سي، شپږمه ډله به د ځغاستي په ډول تېره سي، او مه ډله به د پياده تلونکو په ډول تېره سي، تر دې ټولو وروسته په پای کي به يوه ډله پاته سي کله چي هغوئ ته د تېرېدو لپاره وويل سي نو هغوئ به خپلي پښې پر پل صراط باندي کښېږدي مګر د هغوئ پښې به رپېږي نو هغوئ به د ګونډو په زور ځي، د دوږخ د اور بڅرکي به د هغوئ پښو او پوست ته رسيږي، بيا به دا خلک د نس په زور تېر سي بيا به د لاسونو په زور پر پل صراط باندي يو ځای سي او ر به هم د هغوئ سره يو ځای سي بيا به د اور څخه د خلاصون تر لاسه کولو لپاره د نس په زور را تېر سي تر دې چي د دوږخ څخه به تېر سي، د تېرېدو څخه وروسته د وږخ ته چي وګوري نو وايي به چي کوم الله ﷻ موږ د دغه دوږخ څخه تېر کړو هغه پاک دی بېله شکه هغه په خپل لطف او کرم سره زما پر حال مهرباني وفرمايل، تر ننه پوري د ازل څخه تر پای پوري هغه زما څخه پرته پر بل چا فضل نه دی کړی ما ته يې په خپل فضل سره د پل صراط د لوېدو څخه خلاصون راکړ.

بَابُ الْـحَوْضِ وَالشَّفَاعَةِ

(د حوض او شفاعت بیان)

د حوض معنی: په لغت کي د حوض معنی د اوبو جمع کېدو او بهېدو ده ځکه کومه ناپاکه وينه چي ښځو ته هره مياشت راځي هغه ته حيض وايي او دغه لفظ هم د حوض څخه مشتق دی، دلته د حوض څخه هغه حوض (وياله) مراد ده چي د قيامت په ورځ به د رسول الله ﷺ لپاره خاص وي او د هغه صفات او ځانګړتياوي به په دغه باب کي د نقل سوو حديثو څخه څرګند سي. قرطبي رحمة الله عليه ليکلي دي چي د رسول الله ﷺ لپاره به دوه حوضونه وي، يو حوض به د حشر په ميدان کي د پل صراط څخه مخکي ورکول کيږي او دوهم حوض به په جنت کي وي او د دواړو نوم به کوثر وي، څرګنده دي وي چي په عربي کي د کوثر معنی د خير کثير يعني ډېر خير او نعمتو ده، نو صحيح داده چي د حشر په ميدان کي کوم حوض ورکول کيږي هغه به د مېزان د پړاو څخه مخکي وي نو کوم خلک چي د قبرونو څخه د تندي په حالت کي راوځي لومړی به حوض ته راسي ، ددې وروسته به د ميزان پړاو ته وړاندي سي، همدارنګه د حشر په ميدان کي به د هر پيغمبر خپل حوض وي چي هغه ته به د هغه امت راځي ، هغه وخت به ټول پيغمبران په خپلو کي د فخر اظهار کوي، او ګوري به چي د چا حوض ته زيات خلک راځي ، زموږ پيغمبر ﷺ فرمايلي دي: زه اميد لرم چي زما حوض ته به د راتلونکو شمېر تر ټولو زيات وي .

د شفاعت معنی: د شفاعت مطلب دادی چي د ګناهونو د بخښني سفارش کول، حضرت محمد ﷺ به د قيامت په ورځ د الله جل جلاله په دربار کي د ګناه کارانو بندګانو د ګناهو او کوتاهيو د بخښني غوښتنه وړاندي کړي ځکه په عامه توګه د شفاعت لفظ ددغه مفهوم لپاره استعماليږي، په اصل کي د شفاعت لفظ د شفع څخه اخيستل سوی دی چي اصل معنی يې د جوړه کولو، يو شی د بل شي سره يو ځای کولو ده، د وتر په مقابله کي شفع لفظ استعماليږي او هغه په دې اعتبار دی، په مځکي يا سرای کي د همسايتوب په وجه چي د رانيولو حق تر لاسه کيږي هغه ته هم شفعه ددغه معنی په مناسبت ورته ويل کيږي نو په شفاعت کي هم دا معنی په دغه اعتبار موجود ده چي شفاعت کونکی د جرم او ګناه والا د معافی درخواست وړاندي کوي يعني ځان د هغه ګناه کار سره يو ځای کوي .

د شفاعت ډولونه: کومو خلکو چي په دغه دنيا کي لوی او کوچني ګناهونه کړي وي، د

هغوئ په حق کي د رسول الله ﷺ د شفاعت قبلېدل او پر دې ايمان راوړل واجب دي، ځرګنده دي وي چي د شفاعت مختلف ډولونه دي او هغه ټول ډولونه د رسول الله ﷺ لپاره ثابت دي، په هغو کي ځيني داسي دي چي يوازي د رسول الله ﷺ د ذات مبارک سره مخصوص دي او ځيني داسي دي چي په هغه کي به د نورو سره مشارکت وي مګر د شفاعت دروازه به تر ټولو مخکي رسول الله ﷺ خلاصه کړي ځکه په حقيقت کي ټول شفاعتونه په رد کېدو سره رسول الله ﷺ ته منسوب دي او على الاطلاق د ټولو شفاعتو والي رسول الله ﷺ دی.

د شفاعت تر ټولو لومړی ډول شفاعت عظمى دى، او دا هغه شفاعت دى چي د ټول مخلوق په حق کي به وي او ددغه شفاعت شرف به يوازي زموږ حضرت محمد ﷺ ته تر لاسه وي، په نبيانو کي به هيچا ته ددغه شفاعت جرئت نه وي او ددغه شفاعت عظمى څخه مراد د ټولو محشر خلکو ته راحت ورکول، د وقوف طوالت او شدت ختمول، د حساب او کتاب آخري فيصلې ځرګندولو او ټولو خلکو ته د محشر د سختيو څخه د خلاصون ورکولو شفاعت کول دي، ددې تفصيل به د احاديثو څخه معلوم سي، د سنفاعت دوهم ډول هغه دى چي د هغه په ذريعه يوه ډله به بېله حساب او کتاب جنت ته رسول مقصد وي، د رسول الله ﷺ د ذات مبارک لپاره ددغه شفاعت ثبوت هم منقول دى بلکه د ځينو حضراتو په نزد دا شفاعت هم د رسول الله ﷺ د ذات لپاره مخصوص دى، دشفاعت دريم ډول هغه دى چي د هغه په مرسته به د هغه خلکو جنت ته رسول مقصد وي چي دهغوئ په عمل نامه کي ثواب او ګناه برابر وي.

د شفاعت څلورم ډول هغه دى چي د هغه په ذريعه به هغه خلک جنت ته رسول مقصد وي چي دخپلو ګناهو او جرمونو د سزا تر لاسه کولو لپاره د دوږخ مستحق دي، رسول الله ﷺ به ددغه خلکو په حق کي سفارش کوي او هغوئ به په جنت کي داخل کړل سي ، دشفاعت پنځم ډول هغه دى چي دهغه په ذريعه به د خلکو درجې او مرتبې او د هغوئ په اکرام کي پرمختګ او زياتوب کول مقصد وي، دشفاعت شپږم ډول هغه دى چي د هغه ګناه کارو په حق کي به وي چي هغوئ به په دوږخ کي اچول کيږي او هغوئ به ددغه شفاعت وروسته د هغه ځاى څخه په را ايستلو سره جنت ته رسول کيږي، ددغه شفاعت حق به مشترکه وي يعني د رسول الله ﷺ څخه پرته نور انبياء، ملائکي او شهيدان به هم په خپل خپل توګه او خپلو خپلو خلکو لپاره دغه شفاعت کوي، د شفاعت اووم ډول هغه دى چي د هغه په ذريعه به د هغه خلکو په عذاب کي کمي کول مقصد وي چي د تل لپاره په دوږخ کي د عذاب مستحق ګرځول سوي وي ، د شفاعت نهم ډول هغه دى چي د امتياز او اختصاص په توګه به يوازي د هغه خلکو شفاعت کيږي چي

هغوئ د رسول الله ﷺ د روضه اقدس د زيارت شرف تر لاسه کړي وي .
علماؤ ويلي دي چي د شفاعت به ډېر مواقع او محلونه وي، د شفاعت تر ټولو لومړی موقع به هغه وي کله چي خلک د الله ﷻ په دربار کي د وړاندي کولو لپاره د حشر په ميدان کي ودرول سي ، هغه وخت به خلک د بيري او شرمندګئ په خوله کي ډوب وي، پر هر يوه به هيبت او بېره خپره وي هر سړی به د مؤاخذې او عذاب څخه په لړزه وي، نو هغه وخت به شفيع المذنبين ﷺ شفاعت کوي چي خلکو ته اطمينان او راحت تر لاسه سي، او هغوئ په ناسته سره ساه واخلي، بيا کله چي د الله ﷻ له خوا حکم وسي چي دا ټول دي بوتلل سي او حساب دي ځيني واخيستل سي نو هغه وخت به هم رسول الله ﷺ غوښتنه وکړي چي دوئ دي د حساب څخه مستثنی کړل سي او معاف دي کړل سي او که د ټولو څخه حساب اخيستل ضروري وي نو سرسري حساب دي واخيستل سي او په حساب کي سختي دي نه کيږي ځکه که چيري يو څوک د سخت حساب سره مخامخ سي نو د هغه د عذاب څخه ژغورل به ممکن نه وي ، بيا د حساب څخه وروسته چي کوم خلک د عذاب مستحق وګرځول سي هغوئ به دوږخ ته واستول سي نو دا موقع به هم د شفاعت وي تر دې چي هغوئ به دوږخ ته واستول سي نو رسول الله ﷺ به شفاعت کوي او هغوئ به د دوږخ څخه په را ايستلو سره جنت ته ورسول سي، خلاصه دا چي په دغه سختو وختو کي د ډېل څخه تر پايه پوري به د رسول مختار ﷺ شفاعت او د غفار و کريم پروردګار د رحمت او عفو ډېر اميد ساتل پکار دي .

اَلْفَصْلُ الْأَوَّلُ (لومړی فصل)

د حوض کوثر پر دواړو غاړو به د جواهرو ګنبدي وي

﴿۵۳۳۱﴾: عَنْ اَنَسٍ قَالَ قَالَ رَسُولُ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ بَيْنَمَا اَنَا اَسِيرُ

د حضرت انس رضی الله عنه څخه روايت دئ چي رسول الله ﷺ وفرمايل : د معراج په شپه زه ګرځيدم

فِي الْجَنَّةِ إِذَا اَنَا بِنَهرٍ حَافَتَاهُ قِبَابُ الدُّرِّ الْمُجَوَّفِ قُلْتُ مَا هٰذَا يَا جِبْرِيلُ قَالَ

په جنت کي چي زه پر يوې ويالې تير سوم چي د هغې پر دواړو خواوو د خالي غميانو دوې ګمبدي وې ما پوښتنه وکړه اې جبرائيل ! دا څه دي ؟ هغه راته وويل:

هٰذَا الْكَوْثَرُ الَّذِي أَعْطَاكَ رَبُّكَ فَإِذَا طِينُهُ أَوْ طِيبُهُ مِسْكٌ أَذْفَرُ. رواه البخاري.

دا حوض کوثر دی ، هغه کوثر چي ستاسو رب تا ته عطا کړی دی ، ما وليدل چي د هغې خاوره تيزه خوشبوداره ده. بخاري.

تخريج: صحيح البخاري (فتح الباري): ۱۱\۴۶۴، رقم: ۶۵۸۱.

د لغاتو حل: قباب: جمع قُبة: اي خيم اللؤلؤ (د ملغلرو خېمه). اذفر: اي شديد الرائحة (ډېر بوی لرونکی)

تشريح: د غميانو د ګنبدي څخه مراد دادی چي د حوض کوثر پر دواړو غاړو باندي چي کومي ګنبدي دي هغه به د خښتو، ډبرو، چونې او خټو په ډول شيانو څخه جوړي سوي نه وي بلکه هره ګنبده به په اصل کي يو لوی غمی وي چي د ننه به خالي وي او په هغه کي به د ناستي او اوسېدلو ټولي اسانتياوي موجود وي .

چي رسول الله ﷺ ته خپل پروردګار ورکړي دي: د دغه جملې په ذريعه دغه آيت کريمه (انا اعطيناک الکوثر) ته اشاره ده چي د هغه په تفسير کي ډېرو مفسرينو ويلي دي چي په دغه آيت کريمه کي د کوثر څخه مراد خير کثير يعني د بې شمېره خيرو او نعمتو زياتوب دی چي پروردګار رسول الله ﷺ ته ورکړي دي ، په دې کي نبوت او رسالت، قرآن کريم او د علم او حکمت نعمتونه هم شامل دي او د امت زياتوب او د هغه ټول مراتب عاليه هم شامل دي چي په هغه کي يو ډير لوی نعمت رسول الله ﷺ ته په آخرت کي مقام محمود او د ذکر سوي حوض ورکول دي، په دې اعتبار سره په دې اړه اختلاف نسته چي د کوثر څخه مراد حوض کوثر دی يا د خېر کثير مراد کېدو په صورت کي د حوض کوثر په شمول ټول نعمتونه او خيرونه پکښې شامل دي، همدارنګه د حضرت جبرائيل ؈ د ذکر سوي جواب حاصل دادی چي الله ﷻ رسول الله ﷺ ته چي کوم کوثر ورکړی دی په هغه کي يو شی دغه حوض کوثر دی ځينو مفسرينو د کوثر څخه مراد د امت علماء اخيستی دی ، مګر دا قول هم د خير کثير خلاف نه دی ځکه چي دغه دواړه شيان هم په خير کثير کي داخل دي .

د حوض کوثر فضيلت

﴿۵۳۳۲﴾: وَعَنْ عَبْدِاللهِ بْنِ عَمْرٍو قَالَ قَالَ رَسُولُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ

د حضرت عبدالله بن عمرو ؄ څخه روايت دئ چي رسول الله ﷺ وفرمايل :

حَوْضِي مَسِيرَةُ شَهْرٍ و زواياه سواء وَمَاؤُهُ أَبْيَضُ مِنَ اللَّبَنِ وَرِيحُهُ أَطْيَبُ

زما حوض (يعني حوض کوثر) د يوې مياشتي د فاصلې اوږدوالي لري د هغه زاويې

(كونجونه) برابر دي د هغه اوبه تر شيدو زياتي سپيني دي، خوشبويي يې

مِنَ الْمِسْكِ وَكِيزَانُهُ كَنُجُومِ السَّمَاءِ مَنْ شَرِبَ مِنْهَا فَلَا يَظْمَأُ أَبَدًا. متفق عليه.

د مشكو څخه زياته ده او د هغه كوزې (گلاسونه) د آسمان د ستورو په ډول دي څوک چي د دغه څخه اوبه وڅښي هغه به بيا هيڅكله نه تږى كيږي، بخاري او مسلم.

تخريج: صحيح البخاري (فتح الباري): ۱۱\ ۴۷۳، رقم: ۶۵۷۹، ومسلم ۴\ ۱۷۹۳، رقم: ۲۷- ۲۲۹۲.

د لغاتو حل: وكيزانه: جمع كوز. (كوزه)

تشريح: هغه به هيڅكله نه تږى كيږي، له دې څخه ښكاره شوه چي په جنت كي به اوبه يا د بل ښيناک څښل د تندي په وجه نه وي بلكه د خوند تر لاسه كولو لپاره به وي ځكه چي په جنت كي د يو شي خوړل د لوږي په وجه نه وي بلكه د خوند اخيستلو په وجه وي ځكه چي جنت خو هغه ځاى دى چي هلته نه لوږه وي او نه تنده، په قرآن كريم كي دغه حقيقت ته داسي اشاره فرمايل سوې ده:

إِنَّ لَكَ أَلَّا تَجُوعَ فِيهَا وَلَا تَعْرَى ۞ وَأَنَّكَ لَا تَظْمَأُ فِيهَا وَلَا تَضْحَى

يعني دلته په جنت كي ستاسو لپاره (ارام) دى چي نه به وږي كېږئ، نه به لوڅېږئ، بيله شكه تاسو به دلته نه تږي كيږئ او نه به په لمر كي گرميږئ.

د حوض كوثر اوږدوالى او د هغه ځانگړتيا

﴿۵۳۳۳﴾: وَعَنْ أَبِي هُرَيْرَةَ قَالَ قَالَ رَسُولُ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ إِنَّ حَوْضِي

د حضرت ابو هريره رضي الله عنه څخه روايت دئ چي رسول الله ﷺ وفرمايل: زما د حوض پراخوالى

أَبْعَدُ مِنْ أَيْلَةَ مِنْ عَدَنٍ لَهُوَ أَشَدُّ بَيَاضًا مِنَ الثَّلْجِ وَأَحْلَى مِنَ الْعَسَلِ بِاللَّبَنِ

دومره دى لكه څومره چي د مقام ايله او عدن په منځ كي فاصله ده بلكه د دې څخه هم زيات، د دې اوبه تر واوري زياتي سپيني او تر شاتو زياتي خوږې دي چي په هغه كي شيدې گډې سوي

وَلَآنِيَتُهُ أَكْثَرُ مِنْ عَدَدِ النُّجُومِ وَإِنِّي لَأَصُدُّ النَّاسَ عَنْهُ كَمَا يَصُدُّ الرَّجُلُ إِبِلَ

دي او د دې د چښلو لوښي د آسمان د ستورو څخه زيات دي او زه به د غير امتونو خلک خپل

حوض کوثر ته د راتلو څخه داسي منع کوم لکه څرنګه چي يو سړي د خپلو اوښانو حوض ته د

النَّاسِ عَنْ حَوْضِهِ قَالُوا يَا رَسُولَ اللهِ أَتَعْرِفُنَا يَوْمَئِذٍ قَالَ نَعَمْ لَكُمْ سِيمَا

نورو اوښانو راتلو څخه منع کوي، صحابه کرامو پوښتنه وکړه اې د الله رسوله! په دغه ورځ به تاسو مونږ پيژنئ؟ رسول الله ﷺ وفرمايل: هو، ستاسو لپاره به يوه نښه وي

لَيْسَتْ لِأَحَدٍ مِنَ الْأُمَمِ تَرِدُونَ عَلَيَّ غُرًّا مُحَجَّلِينَ مِنْ أَثَرِ الْوُضُوءِ. رواه

چي د بل امت لپاره به نه وي، تاسو به ما ته په داسي حال کي راځي چي ستاسو مخونه او لاسونه او پښي به د اوداسه په وجه روښانه او ځلانده وي،

مسلم وفي رواية له عن انس قَالَ تُرَى فِيهِ أَبَارِيقُ الذَّهَبِ وَالْفِضَّةِ كَعَدَدِ

مسلم او د مسلم په يو بل روايت کي د حضرت انس څخه دا الفاظ دي چي د رسول الله ﷺ دا ارشاد وفرمايه چي په حوض کي به د سرو او سپينو زرو لوښي وي دومره لکه څومره چي د

نُجُومِ السَّمَاءِ، وفي اخرى له عن ثوبان قال سُئِلَ عَنْ شَرَابِهِ فَقَالَ أَشَدُّ بَيَاضًا

آسمان ستوري دي او د مسلم په يو بل روايت کي چي د ثوبان څخه نقل دی دا الفاظ دي چي رسول الله ﷺ څخه د حوض کوثر د اوبو په اړه پوښتنه وسول، نو رسول الله ﷺ وفرمايل: اوبه

مِنَ اللَّبَنِ وَأَحْلَى مِنَ الْعَسَلِ يَغُتُّ فِيهِ مِيزَابَانِ يَمُدَّانِهِ مِنَ الْجَنَّةِ أَحَدُهُمَا مِنْ ذَهَبٍ وَالْآخَرُ مِنْ وَرِقٍ.

يې د شيدو څخه زياتي سپيني او د شاتو څخه زياتي خوږې دي هغه ته د اوبو دوې ناوې را بهيږي چي حوض کوثر به د اوبو څخه ډک ساتي او دا اوبه د جنت څخه راځي په هغه کي يوه ناوه د سرو زرو ده او دويمه د سپينو زرو ده.

تخريج: صحيح مسلم: ۱۱\۲۱۷، رقم: ۳۶- ۲۴۷.

د لغاتو حل: ايلة: وهي بلدة على السال من آخر بلاد الشام مما يلي بحر اليمن. سيماء: وهو العلامة. محجلين: جمع محجل وهو الذي في يديه ورجليه بياض.

تشريح: (ايله) د يو ښار نوم دی چي د شام هيواد يوه ساحلي سيمه ده او نن سبا د اسرائيلو په حدود کي واقع او دهغوئ يو بندرګاه ده چي اوسنی نوم يې ايلات دی، دغه ښار د بحر احمر په

شمال کي واقع دی او د عدن د بحر احمر جنوب سره واقع دی د یو مشهور جزیره نما نوم دی چي یو وخت د یمن یو ښار او د هغه بندرګاه وه ، د رسول الله ﷺ د وینا خلاصه داده چي د ایله او عدن په منځ کي څومره فاصله ده ، هغومره فاصله به زما د حوض د یوه سر څخه تر دوهم سر پوري وي، څرګنده دي وي چي په دې اړه کوم روایات منقول دي په هغو کي رسول الله ﷺ د خپل حوض د دواړو سرونو د درمیانه فاصلې څرګندولو لپاره د ښارونو او سیمي ذکر وکړ، د مثال په توګه په دغه حدیث کي د ایله او عدن په منځ کي ذکر کړی دی حال دا چي په راتلونکي حدیث کي د عدن او عمان په منځ کي ذکر کړی دی همدارنګه په یو بل حدیث کي د صنعاء او مدینې د منځ ذکر دی نو په دغه ټولو حدیثونو کي دمفهوم د مطابقت پیدا کولو لپاره به ویل کیږي چي د ذکر سوو ښارونو درمیاني فاصلو په ذریعه دحوض کوثر دواړو سرونو درمیاني فاصله او د هغه اوږدوالی څرګندول تحدیدا نه دي بلکه د تمثیل په توګه دي ، مطلب دا چي رسول الله ﷺ د ټاکل سوي حد بندي په توګه دا ونه فرمایل چي زما د حوض عرض او طول دومره دی څومره چي د فلاني دوو ښارونو په منځ کي مسافت دی بلکه رسول الله ﷺ په دې اړه چي کوم حدیث وفرمایه او کوم اشخاص چي هغه وخت د رسول الله ﷺ مخاطب وه د هغوئ د پوهي او د هغوئ د ذاتي معلوماتو په لحاظ ساتلو سره د هغوئ په مخکي محض د تمثیل په توګه بیان کړ چي زما د حوض د دواړو سرونو درمیانه فاصله تقریبا دومره ده څومره چي د فلاني دوو ښارونو درمیاني فاصله ده .

مرتد به د حوض کوثر څخه لیري وي

﴿۵۳۳۴﴾: وَعَنْ سَهْلِ بْنِ سَعْدٍ قَالَ قَالَ رَسُولُ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ اِنِّيْ

د حضرت سهل بن سعد رضي الله عنه څخه روایت دئ چي رسول الله ﷺ وفرمایل : زه به

فَرَطُكُمْ عَلَى الْحَوْضِ مَنْ مَرَّ عَلَيَّ شَرِبَ وَمَنْ شَرِبَ لَمْ يَظْمَأْ أَبَدًا لَيَرِدَنَّ عَلَيَّ

پر حوض کوثر ستاسو بندوبست کونکی یم ، څوک چي زما په خوا کي تیریږي او به به څښي او څوک چي یې وڅیښي هغه به هیڅکله تږی نه سي البته ما ته به ډیر

أَقْوَامٌ أَعْرِفُهُمْ وَيَعْرِفُونِيْ ثُمَّ يُحَالُ بَيْنِيْ وَبَيْنَهُمْ فَأَقُولُ إِنَّهُمْ مِنِّيْ فَيُقَالُ

قومونه راځي زه به هغوئ پیژنم او هغوئ به ما پیژني بیا به زما او د هغوئ په منځ کي یو شی

حائل كړل سي زه به وايم دا خلک زما د امت څخه دي يا زما پر طريقه دي ددې په جواب كي به

إِنَّكَ لَا تَدْرِي مَا أَحْدَثُوا بَعْدَكَ فَأَقُولُ سُحْقًا سُحْقًا لِمَنْ غَيَّرَ بَعْدِي. متفق عليه

وويل سي تاسو ته معلومه نه ده چي دوئ ستاسو څخه وروسته څه نوي خبري پيدا كړي دي (د دې اوريدو سره) به زه وايم دا خلک دي زما څخه ليري سي د الله ﷻ د رحمت څخه دي ليري سي چي زما څخه وروسته يې په دين كي تبديلي كړې ده. بخاري او مسلم.

تخريج: صحيح البخاري (فتح الباري): ۱۱\ ۴۶۴، رقم: ۶۵۸۳، ومسلم ۴\ ۱۷۹۳، رقم: ۲۶- ۲۲۹۰.

د لغاتو حل: فرطكم: اى سابقكم ومقدمكم (وړاندي كس)

تشريح: په حديث كي چي د كومو خلكو يادونه سوې ده چي هغوئ به حوض كوثر ته راځي مگر هغوئ به له رسول الله ﷺ او حوض كوثر څخه ليري كړل سي د دوئ په اړه دا وضاحت نسته چي هغه به كوم خلک وي په ظاهره دا معلوميږي چي ددې څخه هغه خلک مراد دي چي د رسول الله ﷺ په زمانه كي مسلمانان سوي وه او تر څو چي رسول الله ﷺ په دغه دنيا كي وو هغوئ مسلمانان وه مگر د رسول الله ﷺ دوفات څخه وروسته هغوئ د مختلفو گمراه كوونكو تحريكونو لكه د مسلمه كذاب د درواغو دعوه نبوت او داسي نورو ښكار كېدو سره د اسلام څخه وگرځېدل او مرتد سول نو د حديث مضمون د تېر باب په باب الحشر كي د څلورم حديث چي د حضرت ابن عباس رضي الله عنه څخه منقول دي، د مضمون په ډول دی چي په هغه كي رسول الله ﷺ فرمايلي دي چي د قيامت په ورځ به د حشر په ميدان كي زه داسي خلک دوږخ ته تلونكي وينم نو وايم به چي دا خو زما صحابه دي مگر بيا به ما ته وښودل سي چي دا هغه خلک دي چي ستاسو مخكي خو مسلمانان وه مگر ستاسو څخه وروسته د اسلام څخه گرځېدلي وه نو ددغه حديث په ضمن كي چي كومه تشريح او تاويل سوی دی دلته هم هغه په نظر كي ساتل پكار دي.

يو احتمال دا هم كيدای سي چي په دغه حديث كي د ذكر سوو خلكو څخه مراد اهل بدعت دي چي په دين كي نوي نوي خبري راوباسي مگر دا خبره ثابته ده چي ددغه امت هيڅ گناه كار هم كه د هغه گناه څومره لويه وي حوض كوثر ته د راتلو څخه او د هغه اوبو څښلو څخه به نه منع كيږي ځكه دا احتمال رد كيږي مگر كه د بدعت تعلق په دين او ملت كي د يو نوي خبري په پيدا كولو سره وي چي هغه د سره په اصول دين كي نفي كيږي او نبوت او شريعت باندي داسي اثر لويږي چي پر هغه د كفر اطلاق وسي نو ددغه درجې اهل بدعت ته به يقينا مرتد ويل كيږي او هغه خلک ددغه حديث محمول گرځول كيدای سي.

د شفاعت څخه د ټولو نبيانو انكار

﴿۵۳۳۵﴾: وَعَنْ أَنَسٍ أَنَّ النَّبِيَّ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ قَالَ يُحْبَسُ الْمُؤْمِنُونَ يَوْمَ

د حضرت انس رضي الله عنه څخه روايت دئ چي رسول الله ﷺ وفرمايل: مسلمانان به بند كړل سي په ورځ

الْقِيَامَةِ حَتَّى يُهِمُّوا بِذَلِكَ فَيَقُولُونَ لَوِ اسْتَشْفَعْنَا إِلَى رَبِّنَا فَيُرِيحُنَا مِنْ مَكَانِنَا

د قيامت تر دې چي هغوئ به فكر او تردد كي ولويږي او په خپل منځ كي به وايي كاش چي موږ يو څوک د سفارش لپاره تيار كړي چي زموږ رب ته زموږ شفاعت وكړي او موږ د دغه تكليف څخه خلاص كړي،

فَيَأْتُونَ آدَمَ فَيَقُولُونَ أَنْتَ آدَمُ أَبُو النَّاسِ خَلَقَكَ اللّٰهُ بِيَدِهِ وَأَسْكَنَكَ جَنَّتَهُ

هغوئ به (په دغه خيال) آدم عليه السلام ته ورسي ورته و به وايي ته د ټولو خلكو پلار يې الله تعالى ته په خپل لاس سره جوړ كړي يې په خپل جنت كي يې ساتى يې

وَأَسْجَدَ لَكَ مَلَائِكَتَهُ وَعَلَّمَكَ أَسْمَاءَ كُلِّ شَيْءٍ واشفع لَنَا عِنْدَ رَبِّكَ حَتَّى يُرِيحَنَا

په خپلو ملائكو باندي يې درته سجده كړې ده او د هر شي نومونه يې درته ښودلي دي ته خپل رب ته زموږ سفارش وكړه چي د دغه ځاى څخه مو وباسي او راحت او اطمينان راكړي،

مِنْ مَكَانِنَا هَذَا قَالَ فَيَقُولُ لَسْتُ هُنَاكُمْ وَيَذْكُرُ خَطِيئَتَهُ الَّتِي أَصَابَ أَكْلَهُ مِنَ

حضرت آدم عليه السلام به ورته وايي څرنګه چي ستاسو خيال دى زه د هغې درجي څخه نه يم (يعني زه د شفاعت درجه نه لرم) بيا به آدم عليه السلام د خپلي هغه خطا ذكر وكړي چي هغه د

الشَّجَرَةِ وَقَدْ نُهِيَ عَنْهَا وَلَكِنْ ائْتُوا نُوحًا أَوَّلَ نَبِيٍّ بَعَثَهُ اللّٰهُ إِلَى أَهْلِ الْأَرْضِ

الله تعالى د منع كړل سوي درختي څخه خوراک كړى وو ليكن تاسو نوح عليه السلام ته ورسئ كوم چي لومړنى نبي دى چي الله تعالى د ځمكي خلكو ته ليږلى وو

فَيَأْتُونَ نُوحًا فَيَقُولُ لَسْتُ هُنَاكُمْ وَيَذْكُرُ خَطِيئَتَهُ الَّتِي أَصَابَ سُؤَالَهُ رَبَّهُ بِغَيْرِ

نو هغوئ به نوح عليه السلام ته ورسي نوح عليه السلام به ورته وايي زه د شفاعت اهل نه يم او د خپلي هغه خطا ذكر به وكړي چي هغه بې علمه كړې وه (يعني د الله څخه د خپل زوى د غرق

کيدو شخه د ساتني خواست)

عِلْمٍ وَلَكِنْ ائْتُوا إِبْرَاهِيمَ خَلِيلَ الرَّحْمَنِ قَالَ فَيَأْتُونَ إِبْرَاهِيمَ فَيَقُولُ إِنِّي

او بيا به وايي تاسو حضرت ابراهيم خليل الله عليه السلام ته ورسئ، ويلي دي نبي کريم ﷺ چي هغوئ به ابراهيم عليه السلام ته راسي هغه به ورته وايي چي زه

لَسْتُ هُنَاكُمْ وَيَذْكُرُ ثَلَاثَ كَذِبَاتٍ كَذَبَهُنَّ وَلَكِنْ ائْتُوا مُوسَى عَبْدًا آتَاهُ اللَّهُ

ددې کار لائق نه يم او په دنيا کي د درې واره درواغ ويلو ذکر به وکړي چي ده ويلي وه ليکن تاسو موسی عليه السلام ته ورسئ هغه د الله تعالی داسي بنده دی چي الله تعالی

التَّوْرَاةَ وَكَلَّمَهُ وَقَرَّبَهُ نَجِيًّا قَالَ فَيَأْتُونَ مُوسَى فَيَقُولُ إِنِّي لَسْتُ هُنَاكُمْ وَيَذْكُرُ

تورات باندي نازل کړی دی او الله تعالی ورسره خبري کړي دي او نژدې کړی يې وو لپاره د خبرو کولو د (راز)، ويلي دي نبي کريم ﷺ چي هغوئ به حضرت موسی عليه السلام ته راسي هغه به ورته وايي زه ددې کار لائق نه يم او د خپلي هغه خطا ذکر به وکړي .

خَطِيئَتَهُ الَّتِي أَصَابَ قَتْلَهُ النَّفْسَ وَلَكِنْ ائْتُوا عِيسَى عَبْدَ اللَّهِ وَرَسُولَهُ وَرُوحَ اللَّهِ

چي د قبطي د وژلو په اړه يې کړې وه ، ليکن تاسو حضرت عيسی عليه السلام ته ورسئ چي د الله تعالی بنده او رسول دی د الله تعالی روح دی

وَكَلِمَتَهُ قَالَ فَيَأْتُونَ عِيسَى فَيَقُولُ لَسْتُ هُنَاكُمْ وَلَكِنْ ائْتُوا مُحَمَّدًا صَلَّى اللَّهُ

او د الله تعالی کلمه ده نو حضرت عيسی عليه السلام ته به ورسئ، حضرت عيسی عليه السلام به ورته وايي زه ددې کار اهل نه يم تاسو حضرت محمد ﷺ ته ورسئ

عَلَيْهِ وَسَلَّمَ عَبْدًا غَفَرَ اللَّهُ لَهُ مَا تَقَدَّمَ مِنْ ذَنْبِهِ وَمَا تَأَخَّرَ فَيَأْتُونِي فَأَسْتَأْذِنُ

هغه د الله تعالی داسي بنده دی چي د هغه مخکني او وروستني ټول ګناهونه معاف سوي دي، رسول الله ﷺ وفرمايل: بيا به خلک ما ته راسي او زه به د الله تعالی په حضور کي د حاضری

عَلَى رَبِّي فِي دَارِهِ فَيُؤْذَنُ لِي عَلَيْهِ فَإِذَا رَأَيْتُهُ وَقَعْتُ سَاجِدًا فَيَدَعُنِي مَا شَاءَ اللَّهُ أَنْ

اجازه وغواړم ، الله تعالی به ما ته اجازه راکړي زه چي الله تعالی ووينم نو پر سجده به ورته

پريوځم او الله تعالى چې تر څو مره وخته پورې مناسب ګڼي ما به پر سجده لري

يَدَعَنِي فَيَقُولُ ارْفَعْ مُحَمَّدُ وَقُلْ تُسْمَعْ وَاشْفَعْ تُشَفَّعْ وَسَلْ تُعْطَ قَالَ فَأَرْفَعُ

بيا به فرمايي اې محمد ! سر پورته کړه ستا خبره به واورېدل سي او شفاعت کوه شفاعت به دې قبول سي او سوال کوه څه چې ويل غواړې زه به يې درکړم، رسول الله ﷺ وفرمايل ددې اورېدو

رَأْسِي فَأُثْنِي عَلَى رَبِّي بِثَنَاءٍ وَتَحْمِيدٍ يُعَلِّمُنِيهِ ثُمَّ أَشْفَعُ فَيَحُدُّ لِي حَدًّا فَأُخْرِجُ

سره به زه سر پورته کړم او د خپل رب تعريف او ثناء به په هغه الفاظو کې وکړم چې الله تعالى به يې ما ته وښيي بيا به زه شفاعت کوم او زما لپاره به د شفاعت يو حد وټاکل سي بيا د رب العزت

فَأُخْرِجُهُمْ مِنَ النَّارِ وَأُدْخِلُهُمُ الْجَنَّةَ ثُمَّ أَعُودُ الثَّانِيَةَ فَأَسْتَأْذِنُ عَلَى رَبِّي فِي دَارِهِ

د درګاه څخه د باندې راوتلو سره به زه هغه خلک (چې د چا په حق کې سفارش قبول سوی وي) د دوږخ څخه د باندې راوباسم او په جنت کې به يې داخل کړم او بيا به د رب العزت په دربار کې د حاضرۍ اجازه وغواړم

فَيُؤْذَنُ لِي عَلَيْهِ فَإِذَا رَأَيْتُهُ وَقَعْتُ سَاجِدًا فَيَدَعُنِي مَا شَاءَ اللَّهُ أَنْ يَدَعَنِي ثُمَّ

ما ته به اجازه راکړل سي او زه به د پروردګار په ليدو سره پر سجده پريوځم تر څو پورې چې الله تعالى غواړي زه به پر سجده پروت يم بيا به

يَقُولُ ارْفَعْ مُحَمَّدُ وَقُلْ تُسْمَعْ وَاشْفَعْ تُشَفَّعْ وَسَلْ تُعْطَ قَالَ فَأَرْفَعُ رَأْسِي فَأُثْنِي

الله تعالى وفرمايي اې محمد ! خپل سر پورته کړه څه چې ويل غواړې زه به يې واورم، شفاعت کوه زه به يې قبلوم، غواړه زه به يې درکوم نو زه به خپل سر پورته کړم او په هغه الفاظو کې به د

عَلَى رَبِّي بِثَنَاءٍ وَتَحْمِيدٍ يُعَلِّمُنِيهِ قَالَ ثُمَّ أَشْفَعُ فَيَحُدُّ لِي حَدًّا فَأُخْرِجُ فَأُخْرِجُهُمْ

الله تعالى حمد او ثناء بيان کړم چې الله تعالى به ما ته ښودلې وي، بيا به زه شفاعت کوم او زما لپاره به د شفاعت يو حد وټاکل سي بيا به زه د باندې راووځم هغه خلک به

مِنَ النَّارِ وَأُدْخِلُهُمُ الْجَنَّةَ ثُمَّ أَعُودُ الثَّالِثَةَ فَأَسْتَأْذِنُ عَلَى رَبِّي فِي دَارِهِ فَيُؤْذَنُ لِي

د دوږخ څخه راباسم او په جنت کې به يې داخل کړم، بيا به زه په دريم وار د رب العزت په دربار

کي حاضر سم او الله تعالی به ما ته اجازه راکړي

عَلَيْهِ فَإِذَا رَأَيْتُهُ وَقَعْتُ سَاجِدًا فَيَدَعُنِي مَا شَاءَ اللهُ أَنْ يَدَعَنِي ثُمَّ يَقُولُ ارْفَعْ

هر کله چي زه الله تعالی ووینم نو پر سجده به ورته پریوځم او تر څو پوري چي الله تعالی ته منظوره وي زه به ورته پر سجده پروت یم بیا به الله تعالی وفرمايي اې محمد ! سر پورته کړه

مُحَمَّدُ وَقُلْ تُسْمَعْ وَاشْفَعْ تُشَفَّعْ وَسَلْ تُعْطَهُ قَالَ فَأَرْفَعُ رَأْسِي فَأُثْنِي عَلَى رَبِّي

وایه څه ویل غواړې، وایه زه به یې واورم، شفاعت کوه زه به یې قبلوم، غواړه زه به یې درکوم، نو زه به خپل سر پورته کړم او په هغه الفاظو کي به د الله تعالی حمد او ثناء وکړم

بِثَنَاءٍ وَتَحْمِيدٍ يُعَلِّمُنِيهِ قَالَ ثُمَّ أَشْفَعُ فَيَحُدُّ لِي حَدًّا فَأَخْرُجُ فَأُخْرِجُهُمْ مِنَ

چي الله تعالی به ما ته ښودلي وي بیا به زه شفاعت کوم او زما لپاره به د شفاعت یو حد وټاکل سي بیا به زه د باندي راووځم هغه خلک به د دوږخ څخه راوباسم

النَّارِ وَأُدْخِلُهُمُ الْجَنَّةَ حَتَّى مَا يَبْقَى فِي النَّارِ إِلَّا مَنْ حَبَسَهُ الْقُرْآنُ أَيْ وَجَبَ

او په جنت کي به یې داخل کړم تر دې چي په دوږخ کي به یوازي هغه خلک پاته سي چي د قرآن د

عَلَيْهِ الْخُلُودُ قَالَ ثُمَّ تَلَا هَذِهِ الْآيَةَ عَسَى أَنْ يَبْعَثَكَ رَبُّكَ مَقَامًا مَحْمُودًا قَالَ

حکم د مخي به هغوئ همېشه او همېشه په دوږخ کي وي بیا رسول الله ﷺ دغه آیت تلاوت کړ: (عسی ان یبعثک ربک مقاما محمودا)، (نژدې ده چي ستا رب تا پر مقام محمود ودروي) او رسول الله ﷺ وفرمایل:

وَهَذَا الْمَقَامُ الْمَحْمُودُ الَّذِي وُعِدَهُ نَبِيُّكُمْ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ. متفق عليه.

دا هغه مقام محمود دی چي د هغه وعده الله تعالی ستاسو د نبي سره کړې ده. بخاري او مسلم.

تخریج صحیح البخاري (فتح الباري): ۱۱\۴۱۷، رقم: ۶۵۶۵، ومسلم ۱\۱۸۰، رقم: ۳۲۲- ۱۹۳.

د لغاتو حل: یهموا: اي یحزنوا (غمجن کیږي).

تشریح هغه لومړنی نبي دی چي الله ﷻ ....الخ: دلته دا سوال پیدا کیدای سي چي د حضرت نوح علیه السلام څخه مخکي درې نبیان، حضرت ادم علیه السلام، حضرت شیث علیه السلام او حضرت ادریس علیه السلام

دنیا ته راغلي دي نو بیا حضرت نوح علیه السلام لومړنی نبي څرنګه سو، ددې څرګنده جواب دادی چي لومړني دړې نبیان چي دنیا ته راغلل نو ټوله مځکه یوازي د کافرانو ځای نه وو بلکه په دنیا کي مؤمنان هم موجود وه او دغه دړې سره نبیانو مخاطب مؤمنان او کافران دواړه دي، د دوئ پر خلاف کله چي حضرت نوح علیه السلام دنیا ته راغلی نو پر ټوله مځکه باندي یوازي کافران وه او د مؤمنانو وجود نه وو، په دې اعتبار حضرت نوح علیه السلام دنیا ته لومړنی راتلونکی نبي دی چي دهغه واسطه یوازي د کافرانو سره وه، ددغه سوال نور جوابونه هم علماؤ لیکلي دي مګر هغه زیات ټینګ نه دي.

دلته یو خاص نکتې ته اشاره کول ضروري دي دا چي فرمایل سوي دي چي کله ټول خلک په پیل کي حضرت ادم علیه السلام ته او بیا به یو په بل پسې یو یو نبي ته راځي تر دې چي په پای کي به زموږ د حضرت محمد صلی الله علیه وسلم په خدمت کي په حاضرېدو سره د شفاعت غوښتنه کوي او رسول الله صلی الله علیه وسلم به د هغوئ غوښتنه ومني، نو سوال دادی چي کله هر څه د الله جل جلاله له خوا دی چي هغه به د خلکو په زړونو کي د چا شفاعت کونکي ته د ورتلو خیال اچوي او لومړنی خیال به د حضرت ادم علیه السلام په اړه وي چي هغه د خلکو په زړونو کي د رسول الله صلی الله علیه وسلم خیال واچوي او هغوئ به یوه یوه نبي ته د ورتلو پر ځای یوازي د رسول الله صلی الله علیه وسلم په خدمت کي ورسیږي نو ددې جواب دادی چي په دغه اوږده عمل کي به د الله جل جلاله یو لوی حکمت پټ وي او هغه دا چي د رسول الله صلی الله علیه وسلم تر ټولو افضل کېدل ټول مخلوق ته څرګند سي که داسي وي نو خلک به په لومړي پړاو کي رسول الله صلی الله علیه وسلم ته په رسېدو سره د شفاعت غوښتنه وکړي او رسول الله صلی الله علیه وسلم به د هغوئ شفاعت وکړي نو دا احتمال پاته کیږي چي نورو به هم د شفاعت جرئت کولای او که بل نبي ته هم د شفاعت غوښتنه کېدل نو هغه به هم شفاعت کولای مګر کله چي هغه خلک یوه یوه نبي ته په ورتلو سره هغوئ ته د شفاعت درخواست کوي او هر یو د شفاعت څخه انکار کوي او بیا په پای کي رسول الله صلی الله علیه وسلم ته غوښتنه کوي چي رسول الله صلی الله علیه وسلم یې په قبلولو سره د هغوئ مقصد پوره کوي نو د رسول الله صلی الله علیه وسلم تر ټولو لوړ مرتبه کېدل او په الهي دربار کي د کمال قرب درلودل په څرګنده ثابتیږي او هر یوه ته به دا څرګند سي چي د رسول الله صلی الله علیه وسلم د مرتبې او درجې برابر بل څوک نسته نو ددې څخه ثابته سوه چي زموږ حضرت محمد صلی الله علیه وسلم پر ټول مخلوق تر دې چي پر انسانانو، ملائکو او ټولو نبیانو علیهم السلام باندي فضیلت لري ځکه چي شفاعت دومره ارزښتناکه او د لوی درجې کار دی چي هیڅوک هم د هغه جرئت نه کوي، یوازي رسول الله صلی الله علیه وسلم به یې کوي.

حضرت نوح علیه السلام چي د خپل کومي خطا یادونه وکړل د هغه خلاصه داده چي د نوح علیه السلام پر له

پسې دروا غجن ګڼل او د الله ﷻ د احکامو د نافرمانۍ په سزا کې پر نړیوالو باندې د اوبو عذاب نازل سو او پر ټوله مځکه باندې هلاکونکي اوبه خپرې سوې نو د الله ﷻ په حکم سره حضرت نوح علیه السلام د خپلې کورنۍ او دخپلو منونکو یو مختصر شمېر په یوې کښتۍ کې کښېنوی چې هغوئ ټول د طوفان د هلاکت څخه خوندي سي نو هغه وخت هغه خپل زوی چې د کافرانو ملګری وو راوغوښتی او ورته یې وویل چې ته د کافرانو ملګرتیا پرېږده اوس هم ایمان راوړه او زموږ سره په کښتۍ کې سپور سه خو د هغه زوی ونه منل او په پای کې د نورو ټولو خلکو سره هغه هم په اوبو کې غرق سو ، په دغه وخت کې حضرت نوح علیه السلام د خپل زوی په اړه د غرقېدو څخه د خلاصون دعاء وغوښتل او د الله ﷻ په دربار کې یې داسې عرض وکړ:

رَبِّ إِنَّ ابْنِي مِنْ أَهْلِي وَإِنَّ وَعْدَكَ الْحَقُّ وَأَنتَ أَحْكَمُ الْحَاكِمِينَ

ژباړه: اې زما پروردګاره! زما زوی زما د کورنۍ څخه دی (ده ته خلاصون ورکړې) بېله شکه ستا وعده رېښتونې ده او ته احکم الحاکمین ذات یې.

الله ﷻ د حضرت نوح علیه السلام دغه غوښتنه چې یو داسې امر وو چې هغه بېله پوهې ظاهر کړی وو او ددې پلټنه یې نه وه کړې چې ما لره د الله ﷻ څخه دا ډول دعاء غوښتل پکار دي که نه، ځکه پر هغه د الله ﷻ له خوا ملامتیا نازله سوه چې اې نوح! زموږ څخه هغه څه مه غواړه چې د هغه د حقیقت علم تا ته نه وي او دهغه په اړه تا ته معلومه نه ده چې هغه شی غوښتل پکار دي که یا . او هغه به په دنیا کې د درې واره درواغ ویلو یادونه وکړي، حضرت ابراهیم علیه السلام چې کومې خبرې په درواغ سره تعبیر کړې په حقیقت کې پر هغو د درواغو اطلاق نه کېږي که څه هم د ظاهري حیثیت په اعتبار د درواغو صورت لري مګر انبیاء چې د کومې لوړې مرتبې خاوندان وي او هغوئ چې څومره لوړ مقام لري د هغه سره سم د هغوئ داسې خبرې هم چې د هغه د مقام څخه کښته وي د الله ﷻ په دربار کې نېوکه پرې کېږي ، ځکه دا ویل سوي دي چې (حسنات الابرار سیئات المقربین) یعنې ځینې خبرې دنیکانو په اړه نیکي ده مګر دمقربینو په اړه بدي وي، پاته سوه دا خبره چې هغه درې خبرې څه وې چې حضرت ابراهیم علیه السلام به یې د درواغو په توګه خطا ښیي نو په هغو کې یوه خبره داده چې یوه ورځ د حضرت ابراهیم علیه السلام قوم د یوې میلې لپاره د ښار څخه دباندې ووتل نو حضرت ابراهیم علیه السلام اراده وکړل چې زه د دغه خلکو سره نه ځم او کله چې دا ټول خلک ولاړ سي نو دهغوئ په نه شتون کې به د هغوئ بتان مات کړم کوم چې هغوئ یې عبادت کوي او زما د وار وار ویلو سربېره د بت پرستۍ څخه نه منع کېږي نو خپل قوم

ته يې وويل كه تاسو ځئ نو ولاړ سئ زه ستاسو سره نسم تللای ځكه چي زه ناروغ يم ، څرګنده ده چي هغه په ليدو كي ناروغ نه وو او د هغه دغه وينا چي زه ناروغ يم په ظاهره درواغ ګڼل كيږي مګر كه حقيقت ته وكتل سي نو دهغه دغه خبره په درواغو كي نه شمېرل كيږي ځكه چي د هغه په زړه كي داوه چي ستاسو د كفر، شرک او غلطو كړنو په وجه زما زړه زهير سوی دی او زه ستاسو په غم كي ناروغ يم.

دوهمه خبره داوه چي د قوم د خلكو د ميلې څخه د راتلو وروسته حضرت ابراهيم عليه السلام د هغوئ بتان مات كړل او كله چي هغوئ بېرته راغلل نو خپل بتان يې مات ولېدل نو د حضرت ابراهيم عليه السلام دغه جواب هم په خپل ظاهري حيثيت سره درواغ معلوميږي چي دغه كار غټ بت كړی دی مګر دلته هم دا صورت حال دی چي د حضرت ابراهيم عليه السلام ددغه خبري مراد دا وو چي تاسو ددغه غټ بت عبادت او تعظيم كوئ نو دده وجود ددې خبري باعث جوړ سو چي كوچني بتان يې مات كړل ، ددې خبري څخه د حضرت ابراهيم عليه السلام اصل مقصد د هغه خلكو درواغجن ثابتول او دهغوئ شرمنده كول وو چي كوم بت تاسو تر ټولو لوی منئ او تر ټولو زيات د هغه عبادت كوئ د هغه د لاچاری دا حالت دی چي دهغه ملګري بتان مات سوي دي مګر هغه هيڅ يو بت ونه ژغوريئ ، په داسي صورت كي ايا دا بت ستاسو د عبادت وړ ګرځېدای سي ، ددې مثال داسي دي لكه يو سړی چي ډېر زيات ښه ليكونكی وي او د هغه په مقابله كي يو بل سړی ډېر خراب خط ليكي او هغه د خراب خط والا سړی د هغه ښه ليكوال د ليكني په لېدو سره ووايي چي ايا دغه خط تا ليكلی دی او ښه ليكوال ورته وايي چي نه، دا خو تا ليكلی دی، څرګنده ده چي ددغه جواب په ذريعه هغه دا څرګندوي چي ته خو دومره ښه خط هيڅكله نه سې ليكلای بيا دلته زما څخه پرته بل څوک داسي خط ليكلای سي.

دريمه خبره داوه چي هغه خپله ښځه يعني بي بي ساره رضي الله عنها د يو بدكار كافر دلاسه د ژغورني لپاره ويلي وه چي دغه ښځه زما خور ده ، دا خبره په ظاهره د درواغو په دائره كي راځي مګر كه حقيقت ته وكتل سي چي د يو مؤمن يوه مؤمنه ښځه په هر حال ديني خور وي او ددې خبري كولو څخه دحضرت ابراهيم عليه السلام مراد هم دا وو چي دغه ښځه زما ديني خور ده نو پر دې باندي د درواغو اطلاق څرنګه كيدای سي ، دا هم بايد په ذهن كي وي چي بي بي ساره رضي الله عنها ته خور ويل درواغ نه وه.

اوس د حضرت عيسى عليه السلام په لور راسئ، د نورو انبياوو پر خلاف حضرت عيسى عليه السلام به دشفاعت په اخستلو سره د راتلونكو په وړاندي څه عذر نه بيانوي او نه به دخپلي خطا يادونه

کوي ، ددې وجه علماؤ دا ليکلې ده چې حضرت عيسى عليه السلام به هغه وخت د خپل يو عذر په بيانولو کي توقف ځکه کوي چې هغه به د هغه عظمت په وجه چې د عيسايانو له خوا هغه ته د الله جل جلاله د زوى ويلو په صورت کي پر هغه باندي تپل سوى دى ، نو هغه به په دغه درجې سره شرمنده او نادم وي چې هغه به خپل سکوت عذر وګرځوي، په ځينو روايتو کي د هغه عذر هم نقل سوى دى ، په هر حال اصل خبره داده چې د شفاعت درجه به يوازي حضرت محمد ﷺ ته تر لاسه وي چې سيد المرسلين او امام النبيين دى، د رسول الله ﷺ څخه پرته نور ټول نبيان او رسولان عليهم السلام د شفاعت پر مقام باندي د الله جل جلاله په دربادر کي د شفاعت کولو څخه عاجزه او قاصر دي، هغوئ ته دغه لوړه درجه او مرتبه نه ده ورکړل سوې نو دشفاعت د غوښتني په اخيستلو د راتلونکو په وړاندي هيڅ عذر بيانولو ضرورت به نه وي که هغوئ ټول په هغوئ کي ځيني نبيان يو عذر بيان کړي نو د هغه تعلق به يوازي په ظاهري توګه د خپل صوابديد څخه وي ځکه په نورو حديثو کي راغلي دي چې ټول انبياء به د يو عذر بيانولو څخه پرته يوازي دا وايي چې موږ د دغه لوړ کار اهل نه يو .

چې دهغوئ مخکني او وروستني ګناهونه الله جل جلاله بخښلي دي: ددغه جملې په اړه دي څرګنده وي چې ټول انبياء معصوم عن الخطاء يعني دګناهو څخه پاک دي لکه څرنګه چې د رسول الله ﷺ ذات پاک دى، نو دا سوال پيدا کيږي چې د رسول الله ﷺ په اړه دا ويل چې د هغه ټول مخکني او وروستني ګناهونه الله جل جلاله بخښلي دي، څه معنى لري؟، په دې اړه علماؤ مختلفي خبري کړي دي او ددغه جملې ډېر تايلونه منقول دي مګر زيات صحيح تاويل دادى چې دغه جمله په اصل کي د الله جل جلاله له خوا د سيد المرسلين اکرام او د رسول الله جل جلاله د فضيلت د اظهار ذريعه ده، قطع نظر ددې څخه چې د رسول الله ﷺ څخه ګناه سوې وي او هغه وبخښل سي، ددې مثال دادى چې کله يو آمر مطلق پاچا خپل خاص مصاحب په هر حال کي خپل مطيع او فرمانبردار وګرځوي او په دې وجه د هغه څخه ډېر زيات خوشحاله وي نو دخپلو نورو مصاحبو او د رعايت د خلکو په منځ کي د هغه خاص مصاحب د امتيازي او خاص حيثيت څرګندولو لپاره هغه ته ووايي چې موږ ته معاف کړلې، که تا هر څه کړي وي او په راتلونکي کي چې ته هر څه کوې د هغه هم در څخه نيوکه نسته .

او زه د الله جل جلاله دربار ته په رسېدو سره د هغه په دربار کي د وړاندي کېدو اجازه غواړم: دغه جمله د حديث ددغه عبارت ترجمه ده که ددغه عبارت لفظي ترجمه وکړل سي نو هغه به داسي وي چې زه به د خپل پروردګار څخه د هغه په ځاى کي دداخلېدو اجازه وغواړم، په دغه

صورت کي به ويل کيږي چي د هغه د ځای څخه مراد هغه له خوا د ورکول کېدونکي اجر او ثواب ځای يعني جنت دی، مګر دا پېچېده دی، زيات واضح تاويل هغه دی چي تورپشتي رحمة الله عليه بيا کړی دی ، هغه ليکلي دي چي د پروردګار سره د هغه په مکان کي د داخلېدو اجازې غوښتلو څخه مراد دادی چي رسول الله ﷺ به د الله جل جلاله څخه دا اجازه وغواړي چي په هغه مقام کي دداخلېدو اجازه ورکړي، چي هلته هيچا ته د داخلېدو اجازه نه وي، هلته په رسېدو سره چي څه وکړل سي د هغه قبلېدل به يقيني وي او هلته په رسېدو سره د درېدونکي او پروردګار په منځ کي هيڅ حجاب حائل نه وي او دا هغه مقام دی چي په مقام محمود سره تعبير کيږي او هغه ته مقام شفاعت هم وايي، پاته سوه دا خبره چي پروردګار خو د مکان او لامکان د قيد څخه پاک دی ، هغه چي هر ځای ياد کړل سي او په کوم ځای کي هغه ته عرض وکړل سي نو هغه هلته موجود دی او هلته اوري اوويني، نو بيا ددې څه ضرورت دی چي رسول الله ﷺ به د حشر په ميدان کي چيري چي د خلکو د شفاعت غوښتنه قبلوي هلته په تللو سره هغه خاص مقام ته د وړاندي کېدو اجازه غواړي، او بيا به عرض او معروض کوي،

ددې جواب دادی چي موقف (يعني د حشر ميدان چيري چي خلک ولاړ وي) په اصل کي د يو داسي نظام په ډول به وي کوم چي د يو باقاعده او مهذب حکومت لاندي وي چيري چي د هر سړي د مرتبې او درجې سره سم کار او دنظم اعمل اجرا کيږي نو هغه وخت به رسول الله ﷺ د شافع حيثيت لري او د شافع دا حق دی چي هغه د عزت او اکرام ځای ته په راتللو سره ودرېږي نو الله جل جلاله به د رسول الله ﷺ په زړه کي دا خبره واچوي چي هغه دی ددغه ځای څخه په تللو سره چي بېره او خوف پکښې وي ، هغه ځای ته راسي چي د رسول الله ﷺ د عزت او اکرام ځای دی چي هلته په اطمينان او ارامه سره عرض او معروض وکړل سي .

او په هغه حمد او ثناء سره چي پروردګار به يې ما ته وښيي...الخ: رسول الله ﷺ دې ته اشاره وفرمايل چي هغه وخت زه کوم الفاظ په کوم طرز د الله جل جلاله د تعريف او توصيف لپاره بيانوم هغه به څه وي دا وخت د هغه علم ما ته هم نسته هغه هر څه به ماته هغه وخت وښودل سي او څرګنده ده چي د الله جل جلاله حمد او تعريف به په هغه وخت کي او د هغه مقام په مناسبت سره څومره وسعت او ژوروالی لري د هغه ادراک دلته بيانېدلای نسي، په دې اعتبار هغه مقام ته مقام حمد او مقام محمود وايي، د حديث ددغه برخي څخه دا خبره ثابته سوه چي کوم څوک د چا شفاعت کوي نو هغه بايد تر هر څه وړاندي د شفاعت قبلونکي تعريف او توصيف وکړي چي د هغه قرب او توجه تر لاسه کړل سي او په شفاعت منلو سره ونازول سي .

بیا به زه شفاعت کوم : په دې اړه قاضي رحمه‌الله لیکلي دي چي د حضرت انس رضی‌الله‌عنه او حضرت ابوهریره رضی‌الله‌عنه په یوه روایت کي دا منقول دي چي رسول الله ﷺ به د سجدې څخه د سر را پورته کولو وروسته د الله جل‌جلاله بنه حمد او ثناء بیان کړي او بیا د هغه حمد او ثناء وروسته د شفاعت د اجازې په تر لاسه کولو سره د امتي امتي ویل پیل کړي.

او زما لپاره به د شفاعت یو حد وټاکل سي: مطلب دا دی چي الله جل‌جلاله به زما په وړاندي دا وټاکي چي د داسي او داسي ګناه کارو شفاعت وکړه، د مثال په توګه هغه به وفرمايي چي د خپل امت د هغه خلکو شفاعت وکړم کوم چي زنا کار وه، یا بې لمانځه وه، یا شراب څښونکی وه، نو زه به د ټاکل سوي شفاعت سره سم شفاعت کوم او الله جل‌جلاله به فرمايي چي ما د زناکارو په اړه ستا شفاعت قبول کړ، بیا به فرمايي چي ما د بې لمانځو په اړه ستا شفاعت قبول کړ، پر همدې باندي نوري ډلي هم قیاس کېدای سي.

او هغه ډله به د دوزخ څخه په را ایستلو سره په جنت کي داخل کړم: دلته دا سوال پیدا کیږي چي د حدیث په پیل کي خو دا ذکر سوي دي چي د شفاعت کونکي به هغه خلک وي کوم چي د حشر په میدان کي بندي کړل سوي وي او د هغه ځای د تنګۍ او سختۍ څخه په تنګ راتللو سره به د رسول الله ﷺ شفاعت غواړي چي رسول الله ﷺ هغوئ ته د هغه ځای د پریشانیو څخه خلاصون ورکړي مګر دلته د حدیث په دغه برخه کي کله چي د الله جل‌جلاله په دربار کي د رسول الله ﷺ د شفاعت کولو او د رسول الله ﷺ د شفاعت قبلولو یادونه راغلل نو رسول الله ﷺ وفرمایل چي زه به هغه ډله د دوزخ څخه په را ایستلو سره، چي هغوئ به دوزخ ته استول سوي وي، ددې دوه جوابه دي، یو خو دا چي کیدای سي د مؤمنانو دوې ډلي وي یوه ډله به د حشر په میدان کي د بندي کولو څخه پرته دوزخ ته واستول سي او دغه ډله به رسول الله ﷺ ته د شفاعت غوښتنه وکړي نو رسول الله ﷺ به د شفاعت په ذریعه هغه ډله د هغه بد حال څخه راوباسي او جنت ته به یې ورسوي او بیا ددې څخه وروسته به رسول الله ﷺ د هغه ډلي په حق کي په ډله ډله کولو سره شفاعت وکړي چي په دوزخ کي به اچول سوي وي او څو واره به هغوئ د دوزخ څخه په را ایستلو سره په جنت کي داخل کړي، ددې جواب خلاصه دا سوه چي رسول الله ﷺ په دغه حدیث کي یوازي د دغه ډلي یادونه وکړه او د کلام د اختصار په توګه د دوهمي ډلي یادونه یې حذف کړل ځکه چي دغه ډلي ته د خلاصون ورکولو یادونه دوهمي ډلي ته خلاصون ورکول په طریقه اولی مفهوم کیږي، دوهم جواب دا دی چي په حدیث کي د نار، یعني اور لفظ منقول دی چي د هغه ترجمه د دوزخ سوې ده مګر کیدای سي چي د نار یعني اور څخه مراد دوزخ نه وي

بلکه هغه سخت جنس او گرمي مراد وي چي د حشر په ميدان کي لمر ته د ډېر نژدېوالي په وجه به هلته محسوس کيږي نو ددې څخه مراد د هغه سخت توبن او گرمی څخه خلکو ته خلاصون ورکول دي ، په دغه صورت کي د حديث د عبارت (فاخرجهم من النار وادخلهم الجنة) به دا مفهوم وي چي زه به د شفاعت قبلېدو څخه وروسته د الله ﷻ د دربار څخه دباندي راووځم او خلکو ته به د سخت توبن او گرمی څخه په خلاصون ورکولو سره جنت ته ورسوم،

دغه جواب که څه هم يو داسي وضاحت دی چي پر دې د مجازي طرز اطلاق کېدای سي نو په دې کي څه شک نسته چي دغه جواب حقيقت ته ډېر نژدې دی او د حديث اصل موضوع ډېر مناسب دی ځکه چي په دغه ارشاد کي دکوم شفاعت يادونه کيږي د هغه څخه شفاعت عظمی مراد دی چي د رسول الله ﷺ د يو ارشاد (ادم ومن دونه تحت لوائي يوم القيامة) په موجب مقام محمود او لوائي ممدود سره تعبير کيږي او ددې شفاعت عظمی اصل مقصد ټول مخلوق ته د حشر دميدان د پريشانيو او سختيو څخه خلاصون ورکول دي چيري چي هغوئ به د حساب په انتظار کي ولاړ وي او د هغوئ حساب ژر کول وي او دا هغه شفاعت دی چي يوازي د رسول الله ﷺ لپاره مخصوص دی ، ددې څخه وروسته به بيا خپله رسول الله ﷺ ، نور انبياء، اولياء، علماء، صلحاء، شهيدان، او فقيرانو له خوا زيات شفاعتونه وي چي دهغو تفصيل د باب په پيل کي بيان سوی دی .

دا هغه مقام محمو دی ...الخ: مطلب دا چي الله ﷻ د قرآن کريم په دغه آيت کي د رسول الله ﷺ لپاره چي دکوم مقام محمود وعده کړې ده هغه ددغه شفاعت عظمی ځای دی چي د رسول الله ﷺ څخه پرته بل هيچا ته نه ورکول کيږي .

څرگنده دي وي چي ددغه مقام صفت د محمود په لفظ سره يا خو په دې اعتبار دی چي پر دغه مقام باندي درېدونکی به د هغه تعريف کوي او هغه به پېژني، يا په دې اعتبار دی چي رسول الله ﷺ پر دغه ځای باندي په درېدو سره د الله ﷻ حمد او ثناء بيان کړي ، يا په دې اعتبار دی چي د هغه ځای د ورکول کېدو په وجه د رسول الله ﷺ تعريف او توصيف به د ټول اولين او آخرين مخلوق په ژبه وي .

د رسول الله ﷺ شفاعت

﴿۵۳۳۶﴾: وَعَنْهُ قَالَ قَالَ رَسُولُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ إِذَا كَانَ يَوْمُ الْقِيَامَةِ

د حضرت انس ﷛ څخه روايت دئ چي رسول الله ﷺ وفرمايل : هر کله چي د قيامت ورځ سي

مَاجَ النَّاسُ بَعْضُهُمْ فِي بَعْضٍ فَيَأْتُونَ آدَمَ فَيَقُولُونَ اشْفَعْ إِلَى رَبِّكَ فَيَقُولُ

خلک به پریشان وي او د آدم علیه السلام په خدمت کي به حاضر سي عرض به وکړي چي خپل رب ته زموږ سفارش وکړه هغه به ورته وايي

لَسْتُ لَهَا وَلَكِنْ عَلَيْكُمْ بِإِبْرَاهِيمَ فَإِنَّهُ خَلِيلُ الرَّحْمَنِ فَيَأْتُونَ إِبْرَاهِيمَ فَيَقُولُ

زه د شفاعت اهل نه یم تاسو ابراهیم علیه السلام ته ورسئ هغه د الله تعالی دوست دی هغوئ به ابراهیم علیه السلام ته ورسي هغه به ورته وایي

لَسْتُ لَهَا وَلَكِنْ عَلَيْكُمْ بِمُوسَى فَإِنَّهُ كَلِيمُ اللَّهِ فَيَأْتُونَ مُوسَى فَيَقُولُ لَسْتُ لَهَا

په ما کي د شفاعت لیاقت او قدرت نه سته تاسو موسی علیه السلام ته ورسئ هغه کلیم الله دی هغوئ به موسی علیه السلام ته ورسي هغه به ورته وایي زه د شفاعت اهل نه یم

وَلَكِنْ عَلَيْكُمْ بِعِيسَى فَإِنَّهُ رُوحُ اللَّهِ وَكَلِمَتُهُ فَيَأْتُونَ عِيسَى فَيَقُولُ لَسْتُ لَهَا

تاسو عیسی علیه السلام ته ورسئ هغه د الله تعالی روح او کلمه ده ، هغوئ به حضرت عیسی علیه السلام ته ورسي هغه به ورته وایي زه د شفاعت اهل نه یم

وَلَكِنْ عَلَيْكُمْ بِمُحَمَّدٍ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ فَيَأْتُونِي فَأَقُولُ أَنَا لَهَا فَأَسْتَأْذِنُ عَلَى

تاسو حضرت محمد ﷺ ته ورسئ ، رسول الله ﷺ فرمایي بیا به هغوئ ما ته راسي زه به ورته وایم زه د شفاعت اهل یم او ستاسو سفارش به کوم بیا به زه د الله تعالی په حضور کي د حاضری

رَبِّي فَيُؤْذَنُ لِي وَيُلْهِمُنِي مَحَامِدَ أَحْمَدُهُ بِهَا لَا تَحْضُرُنِي الْآنَ فَأَحْمَدُهُ بِتِلْكَ

اجازه وغواړم ، الله تعالی به ما ته اجازه راکړي او زما په زړه کي به د خپل حمد او ثناء الفاظ واچوي چي هغه حمد و نه اوس ما ته حاضر نه دي چي زه به په هغه الفاظو سره د الله تعالی حمد

الْمَحَامِدِ وَأَخِرُّ لَهُ سَاجِدًا فيقال يَا مُحَمَّدُ ارْفَعْ رَأْسَكَ وَقُلْ تُسْمَعْ وَسَلْ تعطه

او ثناء وکړم او الله تعالی ته به پر سجده پریوځم ، بیا به ما ته وویل سي اې محمد ! خپل سر پورته کړه وو وایه څه چي ویل غواړې زه به یې واورم، وغواړه څه چي غواړې در به کول سي ،

وَاشْفَعْ تُشَفَّعْ فَأَقُولُ يَا رَبِّ أُمَّتِي أُمَّتِي فَيقال انْطَلِقْ فَأَخْرِجْ مَنْ كَانَ فِي قَلْبِهِ

شفاعت كوه شفاعت به دي قبول سي ، زه به وايم اې ربه ! زما امت وبخښې ، پروردګاره ! زما امت وبخښې ، الله تعالى به فرمايي ورسه او د دوږخ څخه هغه خلک راوباسه چې د هغوئ په

مِثْقَالُ شَعِيرَةٍ مِنْ إِيمَانٍ فَأَنْطَلِقُ فَأَفْعَلُ ثُمَّ أَعُودُ فَأَحْمَدُهُ بِتِلْكَ الْمَحَامِدِ ثُمَّ

زړه کي د اوربشي په اندازه هم ايمان وي ، زه به ولاړ سم او د رب د حکم سره سم به عمل وکړم د دي څخه وروسته به درب العزت په دربار کي دويم وار حاضري وکړم او هغه الفاظو کي به د

أَخِرُّ لَهُ سَاجِدًا فَيُقَالُ يَا مُحَمَّدُ ارْفَعْ رَأْسَكَ وَقُلْ تُسْمَعْ وَسَلْ تُعْطَه وَاشْفَعْ

الله تعالى حمد او ثناء وکړم چي الله تعالى به يې ما ته وښيي بيا به زه الله تعالى ته پر سجده پريوځم او وه به ويل سي اې محمد ! خپل سر پورته کړه وايه څه چي ويل غواړې اوريدل به سي ، غواړه څه چي غوښتل غواړې در به کړل سي ، شفاعت کوه

تُشَفَّعْ فَأَقُولُ يَا رَبِّ أُمَّتِي أُمَّتِي فَيقال انْطَلِقْ فَأَخْرِجْ مَنْ كَانَ فِي قَلْبِهِ مِثْقَالُ

ستا شفاعت به قبول سي ، زه به عرض وکړم اې ربه ! زه د خپل امت شفاعت کوم زه د خپل امت شفاعت کوم ، وه به ويل سي ولاړ سه او د چا په زړه کي چي د ذرې په اندازه يا د سپلني د دانې

ذَرَّةٍ أَوْ خَرْدَلَةٍ مِنْ إِيمَانٍ فَأَنْطَلِقُ فَأَفْعَلُ ثُمَّ أَعُودُ فَأَحْمَدُهُ بِتِلْكَ الْمَحَامِدِ ثُمَّ

په اندازه هم ايمان وي هغه د دوږخ څخه راوباسه ، نو زه به ولاړ سم او د الله تعالى د حکم سره سم به عمل وکړم بيا به راسم او د خداى ﷻ حمد به په هغسي طريقه ووايم چي خداى ﷻ ما ته

أَخِرُّ لَهُ سَاجِدًا فَيقال يَا مُحَمَّدُ ارْفَعْ رَأْسَكَ وَقُلْ تُسْمَعْ وَسَلْ تُعْطَه وَاشْفَعْ

ښودلى وي بيا به خداى ﷻ ته پر سجده پريوځم نو وه به ويل سي اې محمد ﷺ ! سر را پورته کړه او ووايه اوريدل کيږي به او سوال کوه درکول کيږي به او شفاعت کوه

تُشَفَّعْ فَأَقُولُ يَا رَبِّ أُمَّتِي أُمَّتِي فَيقال انْطَلِقْ فَأَخْرِجْ مَنْ كَانَ فِي قَلْبِهِ أَدْنَى أَدْنَى

قبلول کيږي به نو زه محمد ﷺ به ووايم اې زما ربه ! زما امت وبخښه زما امت و بخښه نو راته وه به ويل سي ولاړ سه او هغه څوک راوباسه چي په زړه کي يې د ادنى ادنى

أَدْنَى مِثْقَالِ حَبَّةِ خَرْدَلٍ مِنْ إِيمَانٍ فَأَخْرِجْهُ مِنَ النَّارِ فَأَنْطَلِقُ فَأَفْعَلُ ثُمَّ أَعُودُ

د سپلني د دانې په اندازه ايمان وي نو زه به ولاړ سم دا كار به وكړم ددې ځخه وروسته به بيا زه ځلورم وار د رب العزت په حضور كي اجازه وغواړم،

الرَّابِعَةَ فَأَحْمَدُهُ بِتِلْكَ الْمَحَامِدِ ثُمَّ أَخِرُّ لَهُ سَاجِدًا فَيُقَالُ يَا مُحَمَّدُ ارْفَعْ رَأْسَكَ

دالله تعالى په حضور كي د حاضريدو سره به په هغه الفاظو كي د الله تعالى حمد او ثناء بيان كړم كوم چي راته الله تعالى وښيي ، بيا به ورته پر سجده پريوځم نو وه به ويل سي اې محمد! خپل سر پورته كړه

وَقُلْ تُسْمَعْ وَسَلْ تُعْطَهْ وَاشْفَعْ تُشَفَّعْ فَأَقُولُ يَا رَبِّ ائْذَنْ لِي فِيمَنْ قَالَ لَا إِلَهَ إِلَّا

او وايه ځه چي ويل غواړې وا به وريدل سي ، غواړه در به كړل سي ، شفاعت كوه قبول به سي ، زه به عرض وكړم اې ربه! د هغه خلكو ددوږخ ځخه په ايستلو اجازه راته راكړه چا چي لااله الاالله

اللَّهُ قال ليس ذالك لك ولكن وَعِزَّتِي وَجَلَالِي وَكِبْرِيَائِي وَعَظَمَتِي لَأُخْرِجَنَّ مِنْهَا مَنْ قَالَ لَا إِلَهَ إِلَّا اللَّهُ. متفق عليه.

ويلي وي (او هيڅ عمل يې نه وي كړى) الله تعالى به فرمايي ددغه خلكو سفارش ستا حق نه دى زما دي په خپل عزت ، جلال ، ذاتي او صفاتي عظمت قسم وي هغه خلك به زه ددوږخ ځخه راوباسم چا چي لااله الاالله ويلي وي . بخاري او مسلم.

تخريج صحيح البخاري (فتح الباري): ۱۲\۴۷۳، رقم: ۷۵۱۰، ومسلم ۱\۱۸۲، رقم: ۳۲۶-۱۹۳.

تشريح د چا په زړه كي چي د اوربشي په اندازه ايمان وي: ځرګنده دي وي چي ددغه ډول جملو يعني د اوربشي په اندازه ايمان وي، يا د ذرې په اندازه ايمان وي، ددغه الفاظو د تشريح او تاويل په اړه د علماؤ مختلف قولونه دي او دغه اختلاف پر اقوالو مبني دى چي د اصل ايمان د بحث په اړه د هغوئ په منځ كي تر لاسه كيږي ، دا يو اوږد بحث دى او په كتاب الايمان او نورو ځايو كي تېر سوي دي، دلته يوازي دا ښودل ضروري دي چي په ذكر سوي جمله كي كوم شي ته د اوربشي يا د ذرې په اندازه فرمايل سوي دي د هغه ځخه حقيقي ايمان مراد نه دى بلكه د خپل ډول خير او ښېګڼي هغه شى مراد دى چي د ايمان د ثمراتو او نتائجو او عرفان دنور

څخه په زړه کي پيدا کيږي ، پر دغه شي د حقيقي ايمان اطلاق ځکه نه سي کېدای چي اصل ايمان د تصديق قلبي او همدارنګه د اقرار لساني نوم دی ، يو داسي جوهر دی چي هغه په اجزاؤ او برخو کي ويشل کېدای نه سي او نه پر هغه د کمي او زياتوب اجراء کېدای سي، مطلب دا سو چي اصل ايمان د تصديق قلبي نه خو کميږي او نه زياتيږي او نه هغه پر ټاکلي برخه ويشل کيږي، نو کوم علماء چي وايي چي ايمان کميږي او زياتيږي او په هغه کي د کمي او زياتوب اطلاق کېدای سي که د هغوئ دغه قول د ښه او خرابو اعمالو په اعتبار د ايمان په ثمرانو او درجو کي پر کمي او زياتوب باندي محمول کړي نو په دغه صورت کي به څرګنده سي چي په ذکر سوې مسئله سره د متعلق علماؤ په منځ کي څه اختلاف نسته بلکه د هغوئ اختلافي اقوال محض لفظي اختلاف او صوري نزاع ده .

د چا په زړه کي چي د ذرې په اندازه ايمان هم وي، دا په اصل کي د الله ﷻ له طرفه د ډېر فضل او کرم اظهار دی چي هغه سړی هم د دوزخ څخه راوباسي چي د ادنا څخه ادنا درجې مؤمن وي،

چا چي لااله الاالله ، وويل، مطلب دا چي زه د هغه خلکو هم شفاعت کول غواړم چي د هغوئ په عمل نامه کي ددغه کلمې څخه پرته نور هيڅ نيکي نه وي او د ملا علي قاري رحمة الله عليه د وضاحت سره سم که څه هم هغوئ دخپل ايمان په حالت کي ياد ايمان راوړلو څخه وروسته په خپل ټول ژوند کي کلمه طيبه يوازي يو وار په ژبه سره ادا کړې وي ، خلاصه دا چي رسول الله ﷺ به په آخري ځل د کومو خلکو شفاعت کوي هغوئ به ددغه درجې مؤمنان وي چي د هغوئ په عمل نامه کي به هيڅ نيکي او ښه کار نه وي، پرته ددې څخه چي هغه به په خپل ټول ژوند کي کله نا کله د خپلي ژبي څخه کلمه طيبه ادا کړې وي، بلکه ځيني به داسي هم وي چي د هغوئ پر ژبه به په ټول عمر کي يوازي يو وار دغه کلمه راغلې وي او د هغوئ په اړه به دا شفاعت هم رسول الله ﷺ په دې اميد کوي چي په ژبه سره د لااله الاالله ، ويل هم په هر حال يوه نيکي ده او الله ﷻ هيڅ نيکي که څه هم کوچنی او د کمي درجې وي، نه ضائع کوي، بلکه په پيل يا په آخر کي د هغه اجر ضرور ورکوي څرنګه چي په يو حديث کي داسي فرمايل سوي دي چي: من قال لااله الاالله دخل الجنة، يعني چا چي لا اله الاالله وويل هغه به جنت ته ځي ، طيبي رحمة الله عليه ويلي دي : ددې څخه دا خبره هم ثابتيږي چي په دغه حديث کي د اوربشو د دانې او داسي نورو اندازو په ذريعه کوم شي ته چي اشاره سوې ده ددې څخه هغه اصل ايمان مراد نه دی کوم چي په تصديق قلبي سره تعبير کيږي بلکه د هغه ايمان څخه پرته بل څه مراد دي او هغه د نيکۍ او خير

هغه شی دی چي د ایمان د ثمرې په توګه په زړه کي پیدا کیږي.

نه، ددې ستا سره هیڅ تعلق نسته...الخ: ددې یو مطلب دا کیدای سي چي د کوم چا په عمل نامه کي د لااله الاالله، ویلو څخه پرته بله هیڅ نیکي نه وي د هغه د دوږخ څخه د ایستلو د شفاعت حق که څه هم رسول الله ﷺ ته حاصل وي او رسول الله ﷺ په شوق سره د داسي سړي شفاعت هم وکړي، موږ به هغه قبول کړو، مګر حقیقت دادی چي د هغه د دوږخ څخه ایستل د رسول الله ﷺ پر ذمه نه دي، او دوهم مطلب دادی چي بېله شکه موږ به هغه سړی هم د دوږخ څخه راوباسو نو داسي به موږ د شفاعت په وجه نه کوو بلکه په دې وجه به یې کوو چي دخپل فضل او کرم ظاهرولو لپاره موږ د هغه د دوږخ څخه را ایستل خوښوو، ددې څخه دا څرګنده سوه چي د هغه مؤمن د دوږخ څخه د را ایستلو معامله چي هغه په خپل ټول عمر کي هیڅ نیکي هم نه ده کړې د شفاعت د دائرې څخه به وتلی وي بلکه هغه به محض د الله جل جلاله په فضل او کرم سره متعلق وي، په دغه صورت کي دا سوال پیدا کیدای سي چي مخکي د حضرت ابوهریره رضي الله عنه کوم روایت: (اسعد الناس...الخ) راغي، نو دهغه څه مفهوم دی، او د ذکر سوي مراد اخیستلو په صورت کي ددغه روایت او ددغه حدیث په منځ کي تطبیق به څه وي؟ ددې جواب دادی که دلته لومړی مطلب واخیستل سي نو د دواړو روایتو په منځ کي به اختلاف پاته نسي ځکه چي ذکر سوی سړی به الله جل جلاله د رسول الله ﷺ د شفاعت په سبب د دوږخ څخه راوباسي او که دوهم مطلب واخیستل سي نو بیا به دا ویل کیږي چي دلته په حدیث کي کوم سړي چي لااله الاالله، ویلي وي، ددې څخه مراد هغه خلک دي چي پر خپل نبي باندي خو ایمان راوړی وو مګر د خیر کارونه یې نه کول او د خپلو بدو عملو په وجه د دوږخ مستحق ګرځول سوی وي او په راتلونکي د حضرت ابوهریره رضي الله عنه په روایت کي د رسول الله ﷺ د امت څخه هغه خلک مراد دي چي د هغوئ خپل نیک اعمال د خپلو بدو اعمالو سره داسي ګډ وډ کړي وي چي د هغوئ نیکی سپکي او بدی یې درنې سوي وي او هغوئ د دوږخ مستحق ګرځول سوي وي.

خوشبخته سړی

﴿۵۳۳۷﴾: وَعَنْ اَبِيْ هُرَيْرَةَ عَنِ النَّبِيِّ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ قَالَ أَسْعَدُ النَّاسِ بِشَفَاعَتِي يَوْمَ الْقِيَامَةِ مَنْ قَالَ لَا إِلٰهَ إِلَّا اللّٰهُ خَالِصًا مِنْ قَلْبِهِ أَوْ نَفْسِهِ. رواه البخاري.

د حضرت ابو هریره رضي الله عنه څخه روایت دی چي رسول الله ﷺ وفرمایل: د قیامت په ورځ به چي زه د کومو خلکو شفاعت کوم په هغوئ کي به زیات بختور هغه څوک وي چي هغه په صفا زړه سره لااله الاالله ویلي وي. بخاري

تخریج: صحيح البخاري (فتح الباري): ۱۱\۱۹۳، رقم: ۹۹.

تشریح: په (من قلبه او من نفسه) کي د او حرف په ذریعه راوي دخپل شک اظهار کړی دی چي رسول الله ﷺ دلته د من قلبه الفاظ وفرمایل او که د نفسه، په هر حال د دواړو معنی یوه ده ځکه چي د نفس څخه مراد هم زړه دی او خالصا من قلبه، ترکیب تائیدي دي ځکه چي دخلوص ځای زړه دی نه نور څه، او په دې اعتبار د زړه د کومي دوهم نوم خلوص دی نو خلوص ته د زړه د اخلاصه ویل داسي دي څرنګه چي ویل کیږي، ما فلانی شی په خپلو سترګو سره لیدلی دی یا ما فلانی خبره په خپلو غوږو سره اورېدلې ده.

په حدیث کي د اسعد لفظ د سعید په معنی کي دی او دې ته اشاره ده چي کوم څوک د اهل توحید څخه نه وي هغه د رسول الله ﷺ په شفاعت نه برخمن کیږي، یا د من قال څخه مراد هغه څوک دی چي د هغه په عمل نامه کي داسي هیڅ عمل نه وي چي د هغه په سبب هغه د رحمت مستحق وګرځول سي او د دوږخ څخه د خلاصون تر لاسه کولو وړ سي، په دغه صورت کي ظاهره ده چي د شفاعت به تر ټولو زیات اړ هغه څوک وي او شفاعت به هغه ته تر ټولو زیات ګټه رسوي.

د رسول الله ﷺ د شفاعت ذکر

﴿۵۳۳۸﴾: وَعَنْهُ قَالَ أُتِيَ النبي صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ بِلَحْمٍ فَرُفِعَ إِلَيْهِ الذِّرَاعُ

د حضرت ابو هریره رضي الله عنه څخه روایت دی چي رسول الله ﷺ ته غوښه راوړل سوه او په هغه کي رسول الله ﷺ ته د ورانه غوښه راوړل سول

وَكَانَتْ تُعْجِبُهُ فَنَهَسَ مِنْهَا نَهْسَةً ثم قَالَ أَنَا سَيِّدُ النَّاسِ يَوْمَ الْقِيَامَةِ يوم

چي د رسول الله ﷺ ډیره خوښه وه، رسول الله ﷺ د هغه څخه په غاښونو غوښه پرېکول او خوړل یې، بیا یې وفرمایل: د قیامت په ورځ به زه به د خلکو سردار یم

يقوم الناس لرب العالمين وَتَدْنُو الشَّمْسُ فَيَبْلُغُ النَّاسَ مِنَ الْغَمِّ وَالْكَرْبِ مَا

ټول خلک د جهانونو د پروردګار په مخکي ودرېږي په دغه ورځ به لمر ډیر نژدې وي او د خلکو حالت

به (د ګرمۍ د زياتوالي، فکر او غم او د قيامت د هيبت په وجه) د بيان ور نه وي

لَا يُطِيقُوْنَ فَيَقُوْلُ النَّاس اَلَا تَنْظُرُوْنَ مَنْ يَشْفَعُ لَكُمْ إِلَى رَبِّكُمْ فيأتون آدم و

او د صبر او استقامت څخه به همت وبايلي په خپل منځ کي به وايي تاسو يو داسي سړي و لټوئ چي ستاسو پروردګار ته ستاسو سفارش وکړي نو خلک به آدم عليه السلام ته راسي،

ذكر حديث الشفاعة وَقَالَ فَأَنْطَلِقُ فَآتِي تَحْتَ الْعَرْشِ فَأَقَعُ سَاجِدًا لِرَبِّي ثُمَّ

ددې څخه وروسته رسول الله ﷺ يا ابو هريره رضي الله عنه د شفاعت حديث بيان کړ (يعني هغه حديث چي مخکي د هغه ذکر سوی دی) بيا يې وفرمايل چي زه به د الله تعالى په حضور کي د حاضريدو په اراده ولاړ سم او د عرش الهي لاندي رسيدو سره به پر سجده پريوځم بيا به

يَفْتَحُ اللّٰهُ عَلَيَّ مِنْ مَحَامِدِهٖ وَحُسْنِ الثَّنَاءِ عَلَيْهِ شَيْئًا لَمْ يَفْتَحْهُ لِأَحَدٍ قَبْلِي

الله جل جلاله زما په په زړه کي د خپل حمد او ثناء الفاظ واچوي چي د هغه وخت څخه مخکي به يې د هيچا په زړه کي نه وي اچولي،

ثُمَّ قَالَ يَا مُحَمَّدُ ارْفَعْ رَأْسَكَ سَلْ تُعْطَهْ اشْفَعْ تُشَفَّعْ فَأَرْفَعُ رَأْسِي فَأَقُوْلُ يَا رَبِّ

بيا به الله تعالى فرمايي اې محمد! خپل سر پورته کړه، وغواړه څه چي غوښتل غواړې در به کړل سي، شفاعت کوه قبول به کړل سي، نو زه به خپل سر پورته کړم او وايم به اې پروردګاره!

أُمَّتِي أُمَّتِي فَيُقَالُ يَا مُحَمَّدُ أَدْخِلِ الْجَنَّةَ مِنْ أُمَّتِكَ مَنْ لَا حِسَابَ عَلَيْهِمْ مِنَ

زما امت وبخښې اې پروردګاره! زما امت وبخښې، وه به ويل سي اې محمد! ته د خپل امت څخه هغه خلک چي د هغوئ څخه به حساب نه سي اخيستل کيدلای

الْبَابِ الْأَيْمَنِ مِنْ أَبْوَابِ الْجَنَّةِ وَهُمْ شُرَكَاءُ النَّاسِ فِيمَا سِوَى ذٰلِكَ مِنَ الْأَبْوَابِ

د جنت په راسته خوا دروازه جنت ته داخل کړه او دا خلک به ددې دروازې څخه پرته په نورو دروازو هم د خلکو سره په جنت کي داخليږي، ددې څخه وروسته رسول الله ﷺ وفرمايل: په

وَالَّذِي نَفْسُ مُحَمَّدٍ بِيَدِهٖ إِنَّ مَا بَيْنَ الْمِصْرَاعَيْنِ مِنْ مَصَارِيعِ الْجَنَّةِ لَكَمَا بَيْنَ مَكَّةَ وَهَجَرٍ. متفق عليه.

هغه ذات دي مي قسم وي چي د هغه په لاس کي زما ساه ده د جنت دروازې به دومره پراخه وي چي په هغو کي د دوو تنبو په منځ کي به دومره فاصله وي څومره چي د مکې او هجر په منځ کي ده (هجر په بحرین کي یو ځای دی). بخاري او مسلم.

تخریج: صحیح البخاري (فتح الباري): ۸\ ۳۹۵، رقم: ۴۷۱۲، ومسلم ۱\ ۱۸۴، رقم: ۳۲۷- ۱۹۴.

د لغاتو حل: فنهس: اي فاخذ بمقدم اسنانه. هجر: هي قرية من قرى البحرين (د بحرین یو کلی)

تشریح: زه به دقیامت په ورځ د ټولو خلکو سردار یم، دلته د خلکو اطلاق پر ټول انسانیت باندي دی چي په هغه کي انبیاء هم شامل دي، ددې تائید ددغه حدیث څخه هم کیږي چي په هغه کي رسول الله ﷺ فرمایلي دي: انا سید ولد ادم یوم القیامة...الخ، یعني د قیامت په ورځ به زه د آدم ﷺ د ټولي اولادې سردار یم، او دا خبره رسول الله ﷺ په دې اعتبار وفرمایل چي د هغه عزت په وجه چي رسول الله ﷺ ته د الله ﷻ په دربار کي تر ټولو زیات قرب او محبوبیت په وجه حاصل دی په هغه ورځ به هر یو د رسول الله ﷺ د شفاعت محتاج وي، کله چي ټول خلک ډېر پریشانه او په تکلیف وي نو په پای کي به رسول الله ﷺ ته د شفاعت په غوښتنه سره راسي او یوازي رسول الله ﷺ به د هغوئ د شفاعت جرئت وکړي.

تر عرش الهي لاندي به راسم، دغه جمله د حضرت انس ﷺ څخه دنقل کېدونکي هغه حدیث خلاف ده چي په هغه کي د خپل پروردګار کور ته د راتللو الفاظ دي، نو ددواړو په منځ کي تطبیق داسي دی چي د الله ﷻ کور جنت دی او جنت تر عرش الهي لاندي دی نو ددغه دواړو په الفاظو کي د مفهوم په اعتبار هیڅ اختلاف نسته.

اې زما پروردګاره! زما امت وبخښې. دغه الفاظ درې واره وفرمایل، یا د خپل عرض د زیات ارزښتناکه ګرځولو لپاره دي، څرنګه چي یو سړی د خپل حاکم او بادار څخه د یو ارزښتناک مقصد پوره کول غواړي نو هغه خپل عرض د هغه په مخکي په وار وار وړاندي کوي یا هغه الفاظ په وار وار ویلو سره د ګناه کارو ډلو ته اشاره کول مقصد دي لکه چي په تېر حدیث کي بیان سول چي رسول الله ﷺ یو وار شفاعت به د یوې ډلي سره مختص وي او بیا به دوهم وار شفاعت د دوهمي ډلي سره او همدارنګه په ډېر واره کي به د ټولو شفاعت پوره سي.

د جنت د راسته دروازې څخه ....الخ: یعني ددغه خلکو د عزت او تکریم لپاره د الله ﷻ له خوا د مهربانۍ له موخي راسته دروازه به د هغه خلکو لپاره خاص وي، د دوئ څخه پرته د بل چا لپاره به پر دغه دروازې د ننوتلو اجازه نه وي، ددغه دروازې څخه پرته نوري څو دروازې دي

هغه به د نورو ټولو خلکو لپاره مشترک وي او ذکر سوي خلک به هم د هغه دروازو د استعمالولو حق لري.

هجر د يو ځای نوم دی چي د جزيره عرب پر ختيځ ساحل باندي په هغه سيمه کي واقع دی چي هغه ته اوس احساد ويل کيږي، په مخکي زمانه کي دغه سيمي ته بحرين ويل کېدل، په هر حال د جملې مقصد د جنت د دروازو پلنوالی او پراخي بيانول دي چي د جنت دهري دروازې پلنوالی به دومره اندازه وي کوم چي د مکې او هجر تر منځ دی مګر ددې څخه مراد تحديد او تعين هيڅکله نه دی بلکه دا تخمينا فرمايل سوي دي چي خلکو ته په اسانۍ سره د جنت د دروازو د پلنوالی او اوږدوالی اندازه وسي او حقيقت بل څه دی.

د امانت او قرابت کولو اهميت

﴿۵۳۳۹﴾: وَعَنْ حُذَيْفَةَ فِيْ حَدِيْثِ الشَّفَاعَةِ عَنْ رَّسُوْلِ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ قَالَ وَتُرْسَلُ الْأَمَانَةُ وَالرَّحِمُ فَتَقُوْمَانِ جَنْبَتَيِ الصِّرَاطِ يَمِيْنًا وَشِمَالًا. رواه مسلم.

حضرت حذيفه ﷛ د رسول الله ﷺ څخه د شفاعت حديث نقل کولو سره وايي چي رسول الله ﷺ وفرمايل: امانت او رحم (خپلوي) به راوليږل سي او دواړه به د پل صراط پر راسته او چپه طرف ودريږي. مسلم.

تخريج: صحيح مسلم: ۱۸٦/۱، رقم: ۳۲۹-۱۹۵.

تشريح: امانت يعني د خلکو د مال او سامان او د حقوقو ساتنه کول او رحم يعني قرابت ساتل چي هغه ته قرابت هم وايي، دغه دواړي خبري ډېر ارزښت او فضيلت لري او په دې وجه ددې پابندي کول او رعايت کول پر بندګانو لازم دي ځکه د قيامت په ورځ دوئ ته په صورت ورکولو سره د پل صراط دواړو خواوو ته به ودرول سي چي داد امانت دار او خائن، قرابت ساتونکي او قرابت ماتونکي په حق کي شاهدي ورکړي او د هغه پر خلاف احتجاج وکړي، نو کوم څوک چي په خپل دنياوي ژوند کي د امانت په ادا کولو کي کوتاهي نه وي کړې او د قريبانو ټول حقوق يې پوره ادا کړي وي دغه دواړه به د هغه په حق کي مظاهره کوي او هغه په نيکۍ به شاهدي ورکوي او کوم چا چي د امانت په ادا کولو کي کوتاهي کړې وي او د قريبانو حق يې نه وي ادا

کړې دغه دواړه به دهغه پر خلاف احتجاج کوي او دهغه د بدۍ شاهدي به ادا کوي، چې دغه دواړه ډوله خلکو په منځ کې امتیاز وکړل سي او هر سړی په اسانۍ سره و پېژندل سي چې هغه ددغه دواړو په اړه څه عمل کړی وو نو په دغه حدیث کې دداسي کار ترغیب دی چې ددغه دواړو د حقوقو ادا کول او دهغوئ هر صورت د لحاظ ساتلو پوره پوره پابندي کول پکار دي.

د رسول الله ﷺ د شفاعت قبلولو الهي وعده

﴿۵۳۴۰﴾: وَعَنْ عَبْدِ اللّٰهِ بْنِ عَمْرِو بْنِ الْعَاصِ أَنَّ النَّبِيَّ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ

د حضرت عبد اللہ بن عمرو بن عاص رضی اللہ عنہ څخه روایت دی چې رسول الله ﷺ د الله تعالی دا

تَلَا قَوْلَ اللّٰهِ عَزَّ وَجَلَّ فِي إِبْرَاهِيمَ رَبِّ إِنَّهُنَّ أَضْلَلْنَ كَثِيرًا مِنَ النَّاسِ فَمَنْ

ارشاد تلاوت کړ کوم چې د حضرت ابراهیم علیه السلام په باره کې دی: (رب الهن اضلنن کثیرا......) اې پروردګاره! دغه بتانو ډېر خلک ګمراه کړي دي

تَبِعَنِي فَإِنَّهُ مِنِّي الْآيَةَ وَقَالَ عِيسَى عَلَيْهِ السَّلَامُ إِنْ تُعَذِّبْهُمْ فَإِنَّهُمْ عِبَادُكَ

نو په دوئ کې چې کومو خلکو زما اطاعت قبول کړی دی هغوئ زما د تابعینو څخه دي او چا چې نافرماني کړې ده نو ته معاف کونکی او رحم کونکی يې، بیا رسول الله ﷺ د حضرت عیسی علیه السلام د خواست په اړه دا آیت تلاوت کړ: (ان تعذبهم فانهم عبادک)، (اې پروردګاره! که ته دوئ ته عذاب ورکوي نو دا ستا بندګان دي)،

فَرَفَعَ يَدَيْهِ فَقَالَ اللّٰهُمَّ أُمَّتِي أُمَّتِي وَبَكَى فَقَالَ اللّٰهُ عَزَّ وَجَلَّ يَا جِبْرِيلُ

ددې څخه وروسته رسول الله ﷺ خپل دواړه لاسونه مبارک پورته کړل او وه یې فرمایل: اې الله! زما امت وبخښې، زما امت وبخښې (آمین) ددې ویلو سره رسول الله ﷺ په ژړا سو، نو الله تعالی جبرائیل علیه السلام ته وفرمایل: اې جبرائیل!

اذْهَبْ إِلَى مُحَمَّدٍ وَرَبُّكَ أَعْلَمُ فَسَلْهُ مَا يُبْكِيكَ فَأَتَاهُ جِبْرِيلُ عَلَيْهِ السَّلَامُ

محمد ﷺ ته ورسه او خدای جل جلاله ښه پوهیږي او پوښتنه ځیني وکړه چې ولي ژاړې؟ جبرائیل علیه السلام د رسول الله ﷺ په خدمت کې حاضر سو

فَسَأَلَهُ فَأَخْبَرَهُ رَسُولُ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ بِمَا قَالَ فَقَالَ اللّٰهُ يَا جِبْرِيلُ

اذْهَبْ إِلَى مُحَمَّدٍ فَقُلْ إِنَّا سَنُرْضِيكَ فِي أُمَّتِكَ وَلَا نَسُوءُكَ. رواه مسلم.

او پوښتنه یې ځیني وکړه ، رسول الله ﷺ چي څه ویل غوښتل هغه یې وویل او الله تعالی د رسول الله ﷺ د پیغام اوریدو سره حکم وکړ اې جبرائیل ! محمد (ﷺ) ته ورسه او ورته ووایه چي موږ به تا ستا د امت په معامله کي راضي کړو او تا به خفه نه کړو. مسلم.

تخریج : صحیح مسلم: ۱۹۱/۱، رقم: ۳۴۶-۲۰۲.

تشریح : ددغه دعاء په کولو سره رسول الله ﷺ په ژړا سو، یعني رسول الله ﷺ د خپل امت په حق کي د حضرت ابراهیم علیه السلام او حضرت عیسی علیه السلام شفاعت یاد کړ او د هغه یادونه یې وکړل ، نو بیا سمدستي رسول الله ﷺ ته د خپل امت فکر پیدا سو او بېره پر خپره سول چي څرګنده نه ده زما د امت د خلکو به څه حشر وي ، داسي نه وي چي هغوئ په الهي عذاب کي اخته نه سي نو رسول الله ﷺ د خپل امت د بخښني دعاء وکړل .

تا به دخپل امت په حق کي راضي او خوشحاله کړو او ته به راضي او خوشحاله په کوم صورت کي یې؟ په دې اړه په ځینو روایتو کي راغلي دي چي رسول الله ﷺ وفرمایل: زه به تر هغه وخته پوري راضي او خوشحاله نه یم تر څو چي الله جل جلاله زما د امت یو یو کس ونه بخښي، سبحان الله ، ددغه امت لپاره تر دې لویه خوشبختي څه کېدای سي ، ضرورت دادی چي په حقیقت کي د رسول الله ﷺ امتي جوړ سو، د رسول الله ﷺ سره ایمان او عقیده په هر حال کي صحیح کېدل پکار دي ، یوازي همدغه مشکل دی نور څه نه دی .

خاک او باش باد شاهي کن　　　　آن او باش هر چه خواهي کن

ددغه حدیث څخه څو ارزښتناکه خبري څرګندېږي یو خو دا چي د رسول الله ﷺ دخپل امت سره ځومره تعلق دی او رسول الله ﷺ پر خپل امت باندي څومره شفیق او مهربانه دی او رسول الله ﷺ د خپل امت دخلکو اصلاح او کامیابۍ ته څومره متوجه وو، دوهمه او تر ټولو ارزښتناکه خبره ددغه امت لپاره لوی زیری دی چي الله جل جلاله د رسول الله ﷺ سره وعده کړې ده چي موږ به تا ستا د امت په اړه راضي او خوشحاله کړو او دریمه خبره د رسول الله ﷺ لویه مرتبه څرګندول دي.

د قیامت په ورځ د شفاعت او داسي نورو شیانو په اړه یو څو خبري

﴿۵۳۴۱﴾: وَعَنْ أَبِي سَعِيدِ الْخُدْرِيّ أَنَّ نَاسًا قَالُوا يَا رَسُولَ اللهِ هَلْ نَرَى رَبَّنَا يَوْمَ

د حضرت ابو سعيد خدري رضي الله عنه څخه روايت دی چي يو څو کسانو عرض وکړ ای د الله رسوله! ايا د قيامت په ورځ به موږ خپل رب وينو؟

الْقِيَامَةِ قَالَ رسول الله صلى الله عليه وسلم نعم هَلْ تُضَارُونَ فِي رُؤْيَةِ الشَّمْسِ

رسول الله ﷺ ورته وفرمايل: هو، ايا تاسو د غرمې په وخت کي چي آسمان صفا وي لمر ته په کتلو کي څه شک لرئ؟

بالظهيرة صَحْوًا لَيْسَ مَعَهَا سَحَابٌ وَهَلْ تُضَارُّونَ فِي رُؤْيَةِ الْقَمَرِ لَيْلَةَ الْبَدْرِ

او ايا د څوارلسمې شپې سپوږمۍ ليدو کي تاسو د شپې چي آسمان صفا وي څه شک وينې،

صَحْوًا لَيْسَ فِيهَا سَحَابٌ قَالُوا لَا يَا رَسُولَ اللَّهِ قَالَ مَا تُضَارُّونَ فِي رُؤْيَةِ اللَّهِ

صحابه کرامو عرض وکړ نه، نو رسول الله ﷺ وفرمايل: لکه څرنګه چي تاسو ته د لمر او سپوږمۍ په ليدو کي څه تکليف نه وي همداسي به د الله تعالى په ليدو کي هم تاسو ته څه

تَبَارَكَ وَتَعَالَى يَوْمَ الْقِيَامَةِ إِلَّا كَمَا تُضَارُّونَ فِي رُؤْيَةِ أَحَدِهِمَا إِذَا كَانَ يَوْمُ الْقِيَامَةِ

تکليف نه وي، ددې څخه وروسته رسول الله ﷺ وفرمايل: هر کله چي قيامت سي نو يو اعلان

أَذَّنَ مُؤَذِّنٌ لِيَتَّبِعْ كُلُّ أُمَّةٍ مَا كَانَتْ تَعْبُدُ فَلَا يَبْقَى أَحَدٌ كَانَ يَعْبُدُ غَيْرَ اللَّهِ

کونکی به اعلان وکړي چي کوم امت د چا عبادت کوی نو په هغه پسي دي روان سي،. نو کومو خلکو چي د الله جل جلاله څخه پرته د نورو شيانو يعني

سُبْحَانَهُ مِنَ الْأَصْنَامِ وَالْأَنْصَابِ إِلَّا يَتَسَاقَطُونَ فِي النَّارِ حَتَّى إِذَا لَمْ يَبْقَ إِلَّا

بتانو او ډبرو عبادت کوی په هغوئ کي به يو هم پاته نه سي او ټول به په دوږخ کي وا چول سي تر دې چي د هغه خلکو څخه پرته به هيڅوک پاته نه سي

مَنْ كَانَ يَعْبُدُ اللَّهَ مِنْ بَرٍّ وَفَاجِرٍ اتاهم رب العالمين قال فماذا تنظرون يتبع

کومو چي د الله تعالى عبادت کوی که هغه نيک وي يا بد، نو الله تعالى به هغوئ ته راسي او ورته وه به فرمايي تاسو د چا په انتظار کي ياست، هره ډله په خپل معبود پسي روان دي (تاسو

كل أمة ما كانت تعبد . قالوا : يا ربنا فارقنا الناس في الدنيا أفقر ما كنا إليهم

هم ولاړ سئ) هغوئ به وايي اې زموږ پروردګاره ! موږ په دنيا كي د هغه خلكو څخه بيلوالى اختيار كړى وو حال دا چي موږ د هغوئ محتاج وو

ولم نصاحبهم ، وفي رواية ابي هريرة فيقولون هذا مكاننا حتي ياتينا ربنا فاذا

او هيڅكله هغوئ سره ناست نه وو ، او د ابو هريره رضي الله عنه په روايت كي دا الفاظ دي چي هغه خلك به وو وايي چي زموږ ځاى دادى موږ به تر هغه وخته پوري د دغه ځاى څخه نه ځو تر څو پوري چي

جاء ربنا عرفناه وفي رواية ابي سعيد فيقول هل بينكم و بينه آية تَعْرِفُونَهُ

زموږ پروردګار موږ ته رانه سي او كله چي زموږ پروردګار راسي موږ به هغه و پيژنو او د ابو سعيد په روايت كي دا الفاظ دي چي الله تعالى به د هغوئ څخه پوښتنه وكړي ايا ستاسو او ستاسو د پروردګار په منځ كي يو داسي نښه سته چي په هغه سره تاسو هغه وپيژنئ؟

فَيَقُولُونَ نَعَمْ فَيُكْشِفُ عَنْ سَاقٍ فلا يَبْقَى مَنْ كَانَ يَسْجُدُ لِلَّهِ تعالى من تلقاء

هغوئ به وايي هو ، نو د الله تعالى پنډۍ به ښكاره سي نو چا چي په اخلاص او عقيدت سره سجده كول هغه ته به د سجدې كول حكم وركړل سي

نفسه الا اذن الله له بالسجود ولا يبقى من كان يسجد اتقاء و رياء الا جعل

او چا چي د الله تعالى د بيري څخه يا خلكو ته د ښوونې (ريا) لپاره سجده كول الله تعالى به د

الله ظهره طبقة واحدة كلما اراد ان يسجد خر على قفاه ثم يضرب الجسر على

هغه ملا تخته جوړه كړي هر كله چي هغه سجده كولو لپاره كښته كيږي نو پر سر به راغوزار سي بيا به د دوږخ سربيره پل صراط كښېښنودل سي

جهنم و تحل الشفاعة و يقولون اللهم سلم سلم فيمر المؤمنون كطرف

او د شفاعت اجازه به وركړل سي او انبياء عليهم السلام به د خپل امت لپاره دا دعاء غواړي اې الله دوئ په سلامتيا سره (پر پل صراط) تير كړې ، نو مؤمنان به

العين وَ كَالْبَرْقِ وَكَالرِّيحِ وكاالطير وَكَأَجَاوِيدِ الْخَيْلِ وَالرِّكَابِ فَنَاجٍ مُسَلَّمٌ وَ

د ستركو په رپ كي پر پل صراط تير سي ، ځيني به د بريښنا په ډول ځيني به د هواء په ډول ،

ځیني به د مرغانو په ډول ځیني به د تیزو آسونو په ډول او ځیني د اوښانو په ډول

مَخْدُوشٌ مرسل وَمَكْدُوسٌ فِي نَارِ جَهَنَّمَ حَتَّى إِذَا خَلَصَ الْمُؤْمِنُوْنَ مِنَ النَّارِ

او ځیني به په لږ زخم خوړلو سره تیر سي او ځیني به پرې پرې کړل سي او دوږخ ته به ولیږل سي، بیا د عذاب څخه وروسته چې مؤمنان د اور څخه خلاص کړل سي

فَوَالَّذِي نَفْسِي بِيَدِهِ مَامِنْ اَحَدٍ مِّنْكُمْ بِأَشَدَّ لِي مُنَاشَدَةً فِي الْحَقِّ قَدْ تَبَيَّنَ

قسم دی په هغه ذات چې د هغه په لاس کي زما ساه ده د خپلو هغه وروڼو د خلاصون لپاره به

لَكُمْ مِنَ الْمُؤْمِنِ لله يَوْمِ الْقِيَامَةِ لِإِخْوَانِهِمُ الَّذِيْنَ فِي النَّارِ يَقُوْلُوْنَ رَبَّنَا كَانُوا

ستاسو څخه زیات د الله تعالی سره جګړه کونکي هیڅوک نه وي، نو مؤمنان به الله تعالی ته عرض وکړي اې زموږ پروردګاره ! دغه خلکو به

يَصُوْمُوْنَ مَعَنَا وَ يُصَلُّوْنَ وَ يَحجُّوْنَ فَيُقَالُ لَهُمْ اَخْرِجُوْا مَنْ عَرَفْتُمْ فتحرم

زموږ سره روژې نیولې، لمونځ به یې کوی، او حج به یې کوی (نو دوئ ته د دوږخ څخه خلاصون ورکړې) مؤمنانو ته به وویل سي کوم خلک چې تاسو پیژنئ هغوئ د دوږخه څخه وباسئ او

صورهم على النار فيخرجون خلقا كثيرا ثم يقولون ربنا ما بقي فيها احد

د دوږخ پر اور به حرام کړل سي چې د خلکو صورتونه دي وسوځي (یعني دوږخ ته به حکم ورکړل سي چې د خلکو صورتونه سوځولو سره مسخ نه کړي لپاره د دې چې شناخت کي اساني وي) نو مؤمنان به ډیر خلک د دوږخ څخه را وباسي او بیا به عرض وکړي اې زموږ پروردګاره ! د کومو

ممن امرتنا به فيقول ارجعوا فمن وجدتم في قلبه مثقال دينار من خير

خلکو چې تا د دوږخ څخه د ایستلو حکم کړی وو په هغوئ کي اوس هیڅوک په دوږخ کي پاته نه دی، الله تعالی به فرمایي ښه ده دوږخ ته بیا ورسئ او د کومو خلکو په زړه کي چې د دنیا ر په

فاخرجوه فيخرجون خلقا كثيرا ثم يقول ارجعوا فمن وجدتم في قلبه مثقال

اندازه نیکي وي هغوئ د دوږخ څخه را وباسئ نو هغوئ به ډیر خلک را وباسي بیا به الله تعالی وفرمایي د چا په زړه کي چې

نصف دينار من خير فاخرجوه فيخرجون خلقا كثيرا ثم يقول ارجعوا فمن

د نيم دينار برابر نيکي وي هغوئ هم د دوږخ څخه راوباسئ نو هغوئ به ډير خلک را وباسي بيا
به الله تعالی حکم وکړي بيرته ولاړ سئ او د چا

وجدتم في قلبه مثقال ذرة من خير فاخرجوه فيخرجون خلقا كثيرا ثم

په زړه کي چي د ذرې په اندازه نيکي وي هغه دد دوږخ څخه راوباسئ نو هغوئ به بيا ډير خلک
دد دوږخ څخه راوباسي

يقولون ربنا لم نذر فيها خيرا فيقول الله شفعت الملائكة و شفع النبيون و

او عرض به وکړي اې زموږ پروردګاره ! موږ په دوږخ کي هيڅ نيکي کونکی نه پريښودی ، الله
تعالی به وفرمايي ملائکو سفارش وکړ، انبياؤو سفارش وکړ او

شفع المؤمنون و لم يبق الا ارحم الراحمين فَيَقْبِضُ قَبْضَةً مِنْ النَّارِ فَيُخْرِجُ

مؤمنانو سفارش وکړ اوس هيڅ څوک د ارحم الراحمين د رحمن څخه پرته نه دی پاته سوی دد دې
فرمايلو سره به الله تعالی يو ډک موټ د دوږخ څخه د هغه خلکو راوباسي چي په هغوئ به

مِنْهَا قَوْمًا لم يعملوا خيرا قط قد عادوا حمما فيلقيهم في نهر في افواه الجنة

هيڅکله هم يوه نيکي نه وي کړې دا خلک به د سوځيدو سره تور سکاره سوي وي هغوئ به په
وياله کي وا چول سي چي د جنت په دروازه کي به وي

يقال له نهر الحيوة فيخرجون كَمَا تخرج الْحِبَّةُ فِي حَمِيلِ السَّيْلِ فَيَخْرُجُونَ

او د هغې نوم (نهر حيوة) د ژوند وياله ده، دا خلک به د ويالې څخه داسي تازه راووځي لکه
څرنګه چي د دانې تيغ د سيلاب په خټو کي راخيژي ،

كَاللُّؤْلُؤِ فِي رِقَابِهِمُ الْخَوَاتِيمُ فَيَقُولُ أَهْلُ الْجَنَّةِ هَؤُلَاءِ عُتَقَاءُ الرَّحْمَنِ أَدْخَلَهُمُ

او د ملغلرو په ډول به ځلانده سي د هغوئ پر څټو به نښي او مهرونه وي د هغوئ په ليدو سره به جنتيان
وايي دا خلک د الله تعالی ازاد کړل سوي دي، دوئ پرته د يو نيک عمل څخه يو شی

الْجَنَّةَ بِغَيْرِ عَمَلٍ عَمِلُوهُ وَلَا خَيْرٍ قَدَّمُوهُ فَيُقَالُ لَهُمْ لَكُمْ مَا رَأَيْتُمْ وَمِثْلَهُ مَعَهُ.

متفق عليه.

په جنت کي داخل کړي دي يعني دوئ خو نه په دنيا کي يو نيکي کړې ده او نه يو نيک عمل، بيا به دغه خلکو ته وويل سي چي په جنت کي کوم شيان تاسو ته درکړل سوي دي هغو مره نور هم درکړل سول. بخاري او مسلم.

تخريج: صحيح البخاري (فتح الباري): ۱۲\۲۹۲، رقم: ۸۰٦، ومسلم ۱\ ۱٦۴، رقم: ۲۹۹– ۱۸۲.

تشريح: هو، ويني به يې، سيوطي رحمة الله عليه په خپلو تاليفانو کي ليکلي دي چي د قيامت په ورځ به په موقف يعني د حشر په ميدان کي چيري چي ټول مخلوق به ولاړ وي، نارينوو او ښځينوو ټولو ته به د الله جل جلاله ديدار په برخه وي، ځينو حضراتو دا هم ليکلي دي چي يو وار به هغه ديدار منافقانو او کافرانو ته هم تر لاسه کيږي مګر بيا به سمدستي هغوئ محجوب کړل سي چي تل به د دغه ديدار په ارمان او محرومۍ کي اخته وي، بيا هم منافقانو او کافرانو ته د ديدار تر لاسه کېدو خبره څرګنده نه ده بلکه په دې کي کلام دی ځکه چي په قرآن کريم کي راغلي دي چي (کلا انهم عن ربهم لمحجوبون) يعني هيڅکله نه، يقينا کفار به په هغه ورځ د خپل رب د ديدار څخه محروم وي او کوم چي په جنت کي د الله جل جلاله د ديدار سوال دی نو په دې اړه سيوطي رحمة الله عليه ويلي دي چي د اهل سنت پر دې اجماع ده چي هلته د الله جل جلاله ديدار به د هر امت نبيانو، رسولانو، صديقانو او د امت محمدي په افرادو کي ټولو مؤمنانو ته تر لاسه کيږي، د امت محمدي د ښځو په اړه درې قولونه دي، يو خو دا چي هغوئ ته به ديدار نه په برخه کيږي، دوهم دا چي هغوئ ته به هم ديدار په برخه کيږي مګر په ټولو ورځو کي نه بلکه په ځو خاصو ورځو کي، د مثال په توګه د اختر په ورځو، د ملائکو په اړه هم دوه قوله دي، يو خو دا دی چي هغوئ به خپل رب نه ويني او دوهم قول دا دی چي هغوئ به هم د خپل پروردګار ديدار کوي، همدارنګه د پيريانو په اړه هم اختلاف دی.

ايا تاسو د غرمې په وخت کي...الخ: د دغه سوال په ذريعه رسول الله صلى الله عليه وسلم دې ته اشاره وفرمايل چي کوم شی په عامه توګه مشکل معلوميږي او خلک د هغه ديدار خواهش کوي د هغه په ليدو کي د تکليف او ضرر مخ کېدل وي مګر څرنګه چي د لمر او سپوږمۍ په ليدو کي څه تکليف، ضرر او خنډ نه وي همدارنګه د الله جل جلاله د ديدار په وخت کي هم د هيڅ ډول تکليف او ضرر سره مخامخ کېدل به نه وي.

هو څرنګه چي تاسو په دغه دواړو کي د ليدو بنديز او تکليف نه محسوس کوئ دغه جمله

په اصل کي د تعلق بالمحال په توګه ده د وروستنۍ جملې څخه زيات تر زياته زور داره کولو لپاره ده ، مطلب دادی که تاسو ته د لمر او سپوږمۍ په لېدو کي څه خنډ او تکليف محسوس کېږي نو يقينا د الله ﷻ په لېدو کي به هم تکليف محسوس کړئ مګر کله چي دا خبره فيصله ده چي ددغه دواړو شيانو په لېدو کي تکليف نه وي نو پوه سئ چي په دغه وخت کي دالله ﷻ په لېدو کي هم څه ادنا تکليف نه وي ، په ضمني توګه دا خبره کول هم ضروري ده ، علماؤ ليکلي دي چي دلته دکوم ديدار په اړه ذکر دی هغه د هغه ديدار څخه پرته دی کوم چي په جنت کي مؤمنانو ته په خاصه توګه ورکول کيږي، دغه ديدار خو به محض د امتحان په توګه وي چي په دنيا کي کومو خلکو د الله ﷻ عبادت کړی وو او کومو خلکو د الله ﷻ څخه پرته بل ثوک خپل معبود جوړ کړی وو ، ددغه دواړو ډولو خلکو په منځ کي فرق او امتياز وسي ، ددې څخه معلومه سوه چي په آخرت کي به هم دبندګانو په امتحان کي د اخته کېدو لړۍ تر هغه وخته پوري جاري وي تر ثو چي د حساب او کتاب څخه وروسته د هر يوه په حق کي آخري فيصله ونه کړل سي چي ثوک د اجر او جزاء مستحق دی او ثوک د عذاب لائق دی ،آخرت که څه هم د جزا کور دی مګر کله نا کله هلته د امتحان مرحله هم پيښيږي لکه چي دنيا د امتحان کور دی مګر دلته کله نا کله اجر او بدله هم مرتب کيږي لکه چي فرمايي :

وَمَا أَصَابَكُم مِّن مُّصِيبَةٍ فَبِمَا كَسَبَتْ أَيْدِيكُمْ

ژباړه: او تاسو ته چي کوم مصيبت راسي هغه په اصل کي ستاسو د اعمالو په وجه وي.

کوم کسان چي د الله ﷻ پر ځای د بتانو او انصابو عبادت کوي ، په دې کي انصاب په اصل کي دنصب جمع ده او نصب هغه ډبري ته وايي چي پر يو خاص ځای باندي خاص ددې لپاره ښخه سوې وي چي عبادت يې کيږي او دهغه په وړاندي د قربت او نيکۍ په توګه څاروي ذبح کيږي، نور هر هغه شی چي ددغه مقصد لپاره نصب سوی وي او د هغه عبادت او بندګي کيږي که هغه ډبره وي يا لرګی يا بل شی وي هغه ته نصب ويل کيږي .

نو د ټول جهان پروردګار به هغوئ ته راسي، يعني په خپل کمال قرب سره به پر هغوئ تجلي واچوي ، دا خو ددغه جملې سم تاويل دی ، حقيقت دادی چي راتلل د پروردګار د صفاتو څخه دی چي هغه په خپل کلام کي خپل ذات ته منسوب کړي دي ، او په حديث مقدسه کي هم ددې داسي ذکر دی او موږ ددغه حقيقت او کيفيت پوهېدو څخه پرته هم داسي پر دې عقيده لرو او ددې خبري هم عقيده لرو چي د هغه ذات د هغه نقل وحرکت څخه پاک دی کوم چي په

راتللو کي وي نو داخبره د متشابهاتو څخه ده او موږ ته ضروري ده چي په دې اړه زیاته پلټنه ونه کړو بلکه د حقیقت علم یوازي الله جَلَّ جَلَالُهُ ته وسپارو، د دغه جملې نور تاویلو هم سوي دي د مثال په توګه د راتللو دا مراد دی چي د الله جَلَّ جَلَالُهُ په ملائکو کي یوه ملائکه راسي یا دا چي هغه خلکو ته د الله جَلَّ جَلَالُهُ حکم راسي لکه څرنګه چي د مخکنۍ جملې څخه دا خبره مفهوم کیږي،

بیا به د الله جَلَّ جَلَالُهُ پنډۍ لوڅي سي، په دې اړه ځینو حضراتو ویلي دي چي د پنډۍ لوڅولو څخه مراد د خوف، بیري او دهشت ختمېدل دي، او ځینو حضراتو ویلي دي چي د پنډۍ لوڅولو څخه مراد یو عظیم نور څرګندېدل دي، یا دا چي د ملائکو د یو ډلي څرګندېدل دي مګر تر ټولو صحیح خبره داده چي په دې اړه دي هم توقف وکړل سي او د دغه جملې د تاویل کولو پر ځای د دې حقیقي علم الله جَلَّ جَلَالُهُ ته وسپارل سي.

په حدیث کي چي د الله جَلَّ جَلَالُهُ د پنډۍ لوڅولو، خلکو ته د سجدې د حکم تر لاسه کېدو او بیا د ځینو خلکو سجدې کولو او د ځینو پر سجدې باندي د قادر نه کېدو حکم دی، نووي رحمة الله علیه د مسلم په تشریح کي دا لیکلي دي چي د حدیث د دغه برخي څخه په ظاهره دا ګمان کیږي چي په آخرت کي به منافقان هم د الله جَلَّ جَلَالُهُ دېدار کوي مګر د فکر کولو څخه دا معلومیږي چي دغه ګمان د یو بنیاد څخه لیري دی ځکه چي د حدیث په ذکر سوو الفاظو کي دا صراحت نسته چي د الله جَلَّ جَلَالُهُ په دغه دیدار سره به منافقین هم مشرف کیږي بلکه دلته یوازي دا بیان سوی دی چي د دغه خلکو په وړاندي چي په هغو کي خاص مؤمن به هم وي او منافقان به هم وي، حجاب پورته کړي او بیا به د امتحان لپاره ټولو ته د سجدې حکم وسي نو کوم څوک چي مخلص وي هغه به سجده وکړي او کوم څوک چي منافق وي هغه به سجده ونه کړای سي، د دې خبري څخه دا هیڅکله نه لازمیږي چي منافق به هم د الله جَلَّ جَلَالُهُ په دېدار مشرف کیږي.

نو مسلمانان به تېر سي، یعني د پل صراط سربېره به ټول مسلمانان دا سي تېر سي، چي په دنیا کي کوم څوک پر عقیدې، ایمان، عمل او دین باندي د استقامت په اعتبار د کومي درجې وي د هغه سره سم به په اسانۍ سره یا په تکلیف سره دغه پړاو قطع کړي چي هغه ته د حدیث په راتلونکي جملې کي اشاره سوې ده نو هغه پل صراط لکه چي د دین او شریعت د صراط مستقیم په ډول دی چي په معنوي توګه د توري د څوکي څخه زیات نری دی او پر هغه تلل مشکل دي مګر ورسره د صراط مستقیم دومره روښانه او څرګند دی چي څوک په صدق نیت او اخلاص سره پر دې تلل وغواړي د هغه لپاره هیڅ مشکل نسته.

او ځیني مسلمانان به هغه وي چي په زخم خوړلو سره به تېر سي او د دوږخ داور څخه به

خلاصون تر لاسه کړي، ددې يو مطلب خو دادی چي کوم مسلمان ګناه کار وي هغه به پر پل صراط باندي په تېرېدو کي د سخت تکليف سره مخامخ سي د مثال په توګه د پل صراط دواړو خواوو ته به فولادي ازغي وي چي هغوئ به زخمي کړي او د هغوئ لار به بندوي او دهغوئ بدن به ټيري کړي، مګر هغه مسلمانان به په زخمي کېدو سره تر پل صراط واوړي او جنت ته به ورسېږي ، همدارنګه هغه خلک به په دوږخ کي نه لوېږي بلکه د پل صراط سربېره به د تکليف تېرولو سربېره خلاصون تر لاسه کړي، دا مطلب د حديث د ظاهري طرز سره زيات سمون خوري او په ژباړه کي ددې لحاظ ساتل سوی دی ، دوهم مطلب دا کيدای سي چي دغه خلک به مخکي پر پل صراط باندي د هغه په ازغيو سره په زخمي کېدو سره په سختۍ تېر سي او بيا به په دوږخ کي واچول سي چي هلته به دخپلو ګناهو په اندازه د سزاتر لاسه کېدو لپاره تر يو وخت پوري وي او بيا به هغوئ ته د دوږخ د اور څخه په خلاصون ورکولو سره جنت ته ورسول سي.

د (مکدوش في نار جهنم) او ځيني مسلمانان به هغه وي چي ټوټې ټوټې به کړل سي او دوږخ ته به واچول سي ، په لاسونو او پښو کي به يې زولنې واچوي او په دوږخ کي به داسي يو ځای سي، دا د هغه ګناه کارو مسلمانانو يادونه ده چي هغوئ به د خپلو ګناهو د سزا خوړلو لپاره په هر حال دوږخ ته وسپارل سي نو دغه خلک به نه يوازي دا چي پر پل صراط باندي د تېرېدو په وخت کي سخت زخمي ، تباه او په مصيبت کي اخته وي بلکه په دوږخ کي به هم وغورځول سي چي هلته به تر هغه وخته پوري عذاب تر لاسه کوي تر څو چي دهغوئ په اړه الله ﷻ فيصله وکړي ، د مکدوش لفظ په شين سره هم منقول دی همدارنګه مکدوس يعني په سين سره هم په ذکر سوې معنی کي نقل سوی دی ، او په ځينو روايتو کي مکروس هم منقول دی ، په دغه صورت کي به معنی دا وي چي هغه ټول به په تړلو سره يو ځای وغورځول سي چي يو پر بل به غورځول کيږي .

تر دې چي مؤمن د دوږخ د اور څخه خلاصون تر لاسه کړي...الخ: دلته د حتی لفظ ددغه پړاو د غايت ذکر دی چي په هغه کي به ټول مؤمنان پر صراط باندي تېرېږي او بيا په هغوئ کي به ځيني خلک پر پل صراط باندي تېر سي او ځيني خلک به په دوږخ کي واچول سي مګر طيبي رحمة الله عليه دا وايي چي د حتی لفظ په اصل کي د مکدوش في نار جهنم ، غايت دی ، په دغه صورت کي د ټول عبارت ژباړه داده چي ځيني مسلمانان به داسي وي چي ټوټې ټوټې به کړل سي او په دوږخ کي به واچول سي او بيا به په پای کي هغوئ هم دخپلو ګناهو د سزا تر لاسه کېدو وروسته يا د يو چا د شفاعت په وجه د الله ﷻ په فضل او کرم سره د دوږخ څخه خلاصون تر لاسه کړي،

نو قسم دي په هغه ذات وي چي د هغه په واک کي زما ساه ده.....الخ، ددې څخه معلومه سوه چي ګناه کار مؤمن به د تل لپاره د دوږخ په عذاب کي نه وي او نه يوازي دا چي هغوئ به دخپلو ګناهو د سزا تر لاسه کېدو وروسته په پای کي د دوږخ څخه را وايستل سي او په جنت کي به واچول سي بلکه هغوئ به جنت ته په رسېدو سره د هغه نورو مؤمنانو شفاعت کوي او د الله ﷻ په دربار کي به دهغوئ د عذاب څخه د خلاصون لپاره سختي هڅي کوي چي هغوئ دخپلو ګناهو د زياتوب په وجه تر هغه وخته پوري د دوږخ څخه خلاصون نه سي تر لاسه کولای لکه څرنګه چي رسول الله ﷺ دخپل ارشاد (نو قسم دي په هغه ذات وي ...الخ) په ذريعه څرګند وفرمايل.

په تاسو کي هيڅوک هم د ظاهر حق په تر لاسه کولو کي ...الخ. مطلب دادی که چيري پر يو چا باندي ستا حق د ظاهري دلائلو او شاهدانو په ذريعه واجب وي او ته د هغه تر لاسه کولو په هر حال حق لرې نو د هغه سړي څخه د خپل حق تر لاسه کولو لپاره ته څومره مطالبه او غوښتنه کوې او دهغه تر لاسه کولو هڅه کوې ، تر هغه هم زياته سخته ستا غوښتنه به په هغه ورځ د الله ﷻ په دربا رکي دخپل هغه مسلمان ورور د خلاصون لپاره وي کوم چي په دوږخ کي وي او تاسو به د هغوئ د را ايستلو لپاره الله ﷻ ته عرض کوئ او په شفاعت کي به هڅي کوئ.

نو د دوږخ پر اور باندي د هغوئ شکلونه حرام کړل سي . مطلب دادی چي د دوږخ اور به ددې څخه منع کړل سي چي هغه نااهل مؤمن داسي وسوځي يا تاوان ورته ورسوي چي دهغوئ مخونه مسخ سي او هغوئ ونه پېژندل سي، خلاصه دا چي تر هغو پوري چي کوم مؤمن په دوږخ کي وي دهغوئ مخونه به نه سوځي او نه به توريږي نو د هغوئ شفاعت کونکي مؤمن به ددغه نښي په ذريعه هغوئ په اساني سره و پېژني او د دوږخ څخه به يې راوباسي.

د چا په زړه کي چي د دينار په اندازه نيکي وي، دلته او همدارنګه په راتلونکي جمله کي د نيکۍ څخه مراد هغه شی دی چي د اصل ايمان څخه زيات وي ځکه چي اصل ايمان چي هغه ته تصديق وايي يو داسي جوهر دی چي په برخو کي د ويشلو وړ نه دی او په هغه کي د کمۍ او زياتوب اطلاق نه کيږئ ، کومه نيکي چي په برخو کي ويشل کيږي يا په هغه کي د کمۍ او زياتوب اطلاق کيږي هغه به د اصل ايمان څخه زيات د ايمان دنتيجې او ثمرې په توګه يو بل شی وي ، نو په زړه کي د دينار په اندازه يا نيم دينار په اندازه نيکۍ مطلب دادی چي د هغوئ سره د معمولي درجې داسي عمل صالح وي چي دهغه دفعل تعلق د زړه سره وي لکه ذکر خفي يا پر غريب باندي شفقت کول يا د الله ﷻ بېره او خاص نيت نو هغوئ د دوږخ څخه راباسي.

چا چي هيڅکله نيکي نه وي کړې، دلته دنيکۍ څخه مراد هغه شی دی چي داصل ايمان څخه زيات وي، نو داخلک چي ارحم الراحمين يې محض دخپل خاص رحمت لاندي د دوږخ څخه راباسي او د ځان سره په افعال قلب کي هم هيڅ کوچنۍ يا لويه نيکي نه لري مگر اصل ايمان لري او ددغه خلکو د شفاعت اجازه به هيچا ته ترلاسه نه وي.

د دوئ په غاړو به مهرونه وي، دلته دمهر څخه مراد د زرو هغه کينۍ دي چي په غاړو کي اچول کيږي، خلاصه دا چي د علامې په توگه به دهغوئ په غاړو کي يو خاص ډول هار وي چي دهغه په ذريعه به هغوئ د نورو څخه بېل معلوميږي.

هغه خلک چي د دوږخ څخه په ايستلو به جنت ته داخل سي

﴿۵۳۴۲﴾: وَعَنْهُ قَالَ قَالَ رَسُولُ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ إِذَا دَخَلَ أَهْلُ

د حضرت ابوسعيد خدري رضي الله عنه څخه روايت دئ چي رسول الله ﷺ وفرمايل: هر کله چي جنتيان

الْجَنَّةِ الْجَنَّةَ وَأَهْلُ النَّارِ النَّارَ يَقُولُ اللّٰهُ مَنْ كَانَ فِي قَلْبِهِ مِثْقَالُ حَبَّةٍ مِنْ

په جنت کي او دوږخيان په دوږخ کي داخل سي نو الله تعالى به وفرمايي د چا په زړه کي چي د

خَرْدَلٍ مِنْ إِيمَانٍ فَأَخْرِجُوهُ فَيَخْرُجُونَ قَدِ امْتُحِشُوا وَعَادُوا حُمَمًا فَيُلْقَوْنَ

سپلني د دانې په اندازه ايمان وي هغه د دوږخ څخه وباسئ نو هغوئ به وايستل سي هغوئ به د سکاره په ډول راووځي او هغوئ به

فِي نَهَرِ الْحَيَاةِ فَيَنْبُتُونَ كَمَا تَنْبُتُ الْحِبَّةُ فِي حَمِيلِ السَّيْلِ أَلَمْ تَرَوْا أَنَّهَا تخرج صَفْرَاءَ مُلْتَوِيَةً. متفق عليه.

د ژوند ويالې (نهر حيوة) کي وغورځول سي او هغوئ به داسي تازه سي لکه څرنگه چي د سيلاب په خټو کي دانه زرغونه کيږي ايا تاسي فکر نه دی کړی چي څنگه دانه ژړ تاوسوی تيغ راوباسي. بخاري اومسلم.

تخريج: صحيح البخاري (فتح الباري): ۱۱\۴۱۶، رقم: ۶۵۶۰، ومسلم ۱\۱۷۲، رقم: ۳۰۴- ۱۸۴.

د لغاتو حل: امتحشوا: اي احترقوا (وېې سوځئ). ملتوية: اي ملفوفة مجتمعة وقيل منحنية (پېچلى).

تشريح: د چا په زړه کي چي د ذرې په اندازه ايمان وي، ددغه حديث څخه دا څرگنده سوه چي

په تېر سوي حديث كي دا فرمايل سوي وه چي په پاى كي به ارحم الراحمين ذات د خپل موټ په ډكولو سره هغه خلک د دوږخ څخه راوباسي چي هغوئ هيڅ نيكي نه وي كړې نو ددې څخه هغه خلک مراد دي چي دهغوئ تعلق د مؤمنانو څخه وي ، دا بېله خبره ده چي دهغوئ په عمل نامه كي هيڅ نيكي يا خير نه وي، دا وضاحت ځكه ضروري دى چي دلته د حديث دظاهري الفاظو څخه دا وهم كيداى سي چي هغوئ به كافران وي نو پر دې خبره د ټول امت اجماع ده چي هيڅ كافر به په هيڅ صورت كي د دوږخ څخه نه ايستل كيږي.

د دوږخيانو د خلاصون ذكر

﴿۵۳۴۳﴾: وَعَنْ اَبِيْ هُرَيْرَةَ أَنَّ النَّاسَ قَالُوا يَا رَسُولَ اللّٰهِ هَلْ نَرَى رَبَّنَا يَوْمَ

د حضرت ابو هريره رضي الله عنه څخه روايت دى چي خلكو عرض وكړ اې دالله رسوله ! ايا د قيامت په ورځ به موږ خپل پروردګار ليدلاى سو ؟

الْقِيَامَةِ فذكر معنى حديث ابي سعيد غير كشف الساق وقال يُضْرَبُ الصِّرَاطُ

ددې څخه وروسته ابو هريره رضي الله عنه د ابو سعيد رضي الله عنه هم معنا حديث بيان كړ بېله د لوڅولو د پنډۍ، او رسول الله صلى الله عليه وسلم وفرمايل چي پل صراط به د دوږخ سربيره ودرول سي

بَيْنَ ظَهْرَانَيْ جَهَنَّمَ فَأَكُونُ أَوَّلَ مَنْ يَجُوزُ مِنَ الرُّسُلِ بِأُمَّتِهِ وَلَا يَتَكَلَّمُ يَوْمَئِذٍ

او زه به لومړنى رسول يم چي د خپل امت سره به پر پل صراط تير سم په دغه ورځ به د رسولانو څخه پرته د هيچا د خبرو كولو قدرت نه وي او رسولان به هم دومره اندازه وايي

إِلَّا الرُّسُلُ وَكَلَامُ الرُّسُلِ يَوْمَئِذٍ اللّٰهُمَّ سَلِّمْ سَلِّمْ وَفِي جَهَنَّمَ كَلَالِيبُ مِثْلُ

چي اې الله ! موږ سالم لرې، اې الله موږ سالم لرې، او په جهنم كي به د سعدان (يز ازغنه درخته)

شَوْكِ السَّعْدَانِ لَا يَعْلَمُ قَدْرَ عِظَمِهَا إِلَّا اللّٰهُ تَخْطَفُ النَّاسَ بِأَعْمَالِهِمْ فَمِنْهُمْ

په مثل د انبورونه وي ددغه ازغو لوړوالى د الله جل جلاله څخه پرته بل چا ته معلوم نه دى دا ازغي به په خلكو كي د هغوئ د بدو اعمالو سره سم جګ كيږي يعني ځيني به د هغوئ په بدو اعمالو

مَنْ يُوبَقُ بِعَمَلِهِ وَمِنْهُمْ مَنْ يُخَرْدَلُ ثُمَّ يَنْجُو حَتَّى إِذَا فَرَغَ اللّٰهُ مِنَ الْقَضَاءِ بَيْنَ

هلاک كړي او ځيني به ټوټې ټوټې كړي بيا به هغوئ خلاصون تر لاسه كړي بيا چي الله تعالى د

بندګانو د فیصلي څخه فارغ سي

عِبَادِہٖ واراد ان یخرج من النار من اراد ان یخرجه مِمن کان یشهد ان لا اله

او دا اراده وکړي چي کومو خلکو د لااله الاالله اقرار کړی دی په هغوئ کي چي ځوک غواړي د دوږخ څخه يې راوباسئ

الاالله امر الملائکة أَنْ يُخْرِجُوا مَنْ كَانَ يَعْبُدُ اللّٰهَ فَيُخْرِجُونَهُمْ وَيَعْرِفُونَهُمْ

نو ملائکو ته به حکم وکړي چي کوم سړي چي د الله جل جلاله د وحدانیت اقرار کوی هغه د دوږخ څخه راوباسئ نو پرتندیو به د سجدو د نښو څخه د هغوئ شناخت کوي

بِآثَارِ السُّجُودِ وَحَرَّمَ اللّٰهُ عَلَى النَّارِ أَنْ تَأْكُلَ أَثَرَ السُّجُودِ فَكُلُّ ابْنِ آدَمَ تَأْكُلُهُ

او د دوږخ څخه به يې وباسي ځکه چي الله تعالی پر دوږخ حرام کړي دي چي هغه د سجدو نښي وسوځي او ربه د انسان ټول بدن وسوځي

النَّارُ إِلَّا أَثَرَ السُّجُودِ فَيَخْرُجُونَ مِنَ النَّارِ قَدِ امْتَحَشُوا فَيُصَبُّ عَلَيْهِمْ مَاءُ

مګر د سجدې ځای به نه سوځي دا خلک به د دوږخ څخه په داسي حال کي را وایستل سي چي او ربه هغوئ په سوځولو سره تور کړي وي پر هغوئ به آب حيات وپاشل سي

الْحَيٰوةِ فَيَنْبُتُونَ كَمَا تَنْبُتُ الْحِبَّةُ فِي حَمِيلِ السَّيْلِ وَيَبْقَى رَجُلٌ بَيْنَ الْجَنَّةِ

او هغوئ به په دې اوبو سره داسي تازه سي لکه څرنګه چي د سيل په خټو کي دانه شنه سي او يو سړي به د جنت او دوږخ په منځ کي پاته سي

وَالنَّارِ وَهُوَ آخِرُ أَهْلِ النَّارِ دُخُولًا الْجَنَّةَ مُقْبِلٌ بِوَجْهِهِ قِبَلَ النَّارِ فَيَقُولُ يَا رَبِّ

چي په دوږخيانو کي به په جنت کي داخليدونکی آخري سړی وي دد سړي مخ به د دوږخ په خوا وي او هغه به عرض وکړي اې پروردګاره !

اصْرِفْ وَجْهِي عَنِ النَّارِ وَقَدْ قَشَبَنِي رِيحُهَا وَأَحْرَقَنِي ذَكَاؤُهَا فَيَقُولُ هَلْ

زما مخ د دوږخ څخه واړوه د دوږخ بوی زه ډير په تکليف کي اچولی يم او د شعلو تيزۍ او ګرمۍ زه سوځلی يم الله تعالی به ورته فرمايي

عَسَيْتَ ان افعل ذٰلِكَ بِكَ أَنْ تَسْأَلَ غَيْرَ ذٰلِكَ فَيَقُولُ لَا وَعِزَّتِكَ فَيُعْطِي اللّٰهَ

که زه داسي وکړم نو هسي نه چي ته به بل څه غواړې هغه سړی به وايي اې پروردګاره ! ستا په عزت مي دي قسم وي بيا به نور څه نه غواړم ددې څخه وروسته به الله تعالى چي کوم عهد د

مَاشاء الله مِنْ عَهْدٍ وَمِيثَاقٍ فَيَصْرِفُ اللّٰهُ وَجْهَهُ عَنِ النَّارِ فَإِذَا أَقْبَلَ بِهِ عَلَى

هغه څخه واخلي هغه به ځيني واخلي او د هغه مخ به د دوږخ څخه واړوي بيا چي هغه سړی د

الْجَنَّةِ و رَأَى بَهْجَتَهَا سَكَتَ مَا شَاءَ اللّٰهُ أَنْ يَسْكُتَ ثُمَّ قَالَ يَا رَبِّ قَدِّمْنِي عِنْدَ

جنت په لور وګوري او د هغه تازګي ووينې نو تر څو پوري چي د الله تعالى خوښه وي پټه خوله به وي او بيا به (دغه سړی وايي) اې پروردګاره! ته ما جنت ته نژدې کړې ،

بَابِ الْجَنَّةِ فَيَقُولُ اللّٰهُ تبارك وتعالى أَلَيْسَ قَدْ أَعْطَيْتَ الْعُهُودَ وَالْمِيثَاقَ أَنْ لَا

الله تعالى به ورته فرمايي ايا تا ددې خبري اقرار نه وو کړی چي ته به نور سوال نه کوې ، هغه

سْأَلَ غَيْرَ الَّذِي كُنْتَ سَأَلْتَ فَيَقُولُ يَا رَبِّ لَا أَكُونُ أَشْقَى خَلْقِكَ فَيَقُولُ فَمَا

ړی به وايي اې پروردګاره ! خپل په مخلوق کي ما د ټولو څخه زيات بدبخته مه کړې الله تعالى به ورته وفرمايي

يْتَ إِنْ أُعْطِيتَ ذٰلِكَ أَنْ تَسْأَلَ غَيْرَهُ فَيَقُولُ لَا وَعِزَّتِكَ لَا أَسْأَلُكَ غَيْرَ ذٰلِكَ

يد دی که ستا دا خواهش پوره کړل سي نو بيا به ته يو سوال کوې، هغه به وايي ستا په عزت دي مي قسم وي بيا به زه هيڅ سوال نه کوم ددې څخه وروسته

فَيُعْطِي رَبَّهُ مَا شَاءَ مِنْ عَهْدٍ وَمِيثَاقٍ فَيُقَدِّمُهُ إِلَى بَابِ الْجَنَّةِ فَإِذَا بَلَغَ بَابَهَا

چي الله تعالى د هغه څخه کوم عهد اخيستل غواړي هغه به ځيني واخلي او هغه به د جنت دروازې ته نژدې کړي ، دروازې ته په نژدې کيدو سره چي

فَرَأَى ظَهْرَتَهَا وَمَا فِيهَا مِنَ النَّضْرَةِ وَالسُّرُورِ فَسكت مَا شَاءَ اللّٰهُ أَنْ يَسْكُتَ

هغه د جنت تازګي او ښه ژوند ووينې نو تر څو پوري چي الله تعالى ته منظوره وي هغه سړی به

پټه خوله وي

فَيَقُولُ يَا رَبِّ أَدْخِلْنِي الْجَنَّةَ فَيَقُولُ اللّٰهُ تبارك وتعالى وَيْلَكَ يَا ابْنَ آدَمَ مَا

بیا به عرض وکړي اې الله ! ما په جنت کې داخل کړې الله تعالی به ورته فرمايي اې د ادم زويه! پرتا افسوس دی

أَغْدَرَكَ أَلَيْسَ قَدْ أَعْطَيْتَ الْعُهُودَ وَالْمِيثَاقَ أَنْ لَا تَسْأَلَ غَيْرَ الَّذِي أُعْطِيتَ

ته څومره بې وعدې او بې وفايې ايا تا ددې وعده او قول نه وو کړی چې ته به د بل شي سوال نه کوې او څه چې ستا د خواهش سره سم ما درکړي دي پر هغه قناعت وکړه ،

فَيَقُولُ يَا رَبِّ لَا تَجْعَلْنِي أَشْقَى خَلْقِكَ فلا يزال يدعو حتى يضحك الله منه فاذا

هغه به عرض وکړي اې پروردګاره! خپل په مخلوق کې ما بد ترين سړی مه جوړوې ، غرض دا چې هغه به همېشه د الله ﷻ څخه غواړي تر څو چې الله تعالی به راضي کړي او هر کله چې

ضحك اذن لَهُ فِي دُخُولِ الْجَنَّةِ فَيَقُولُ تَمَنَّ فَيَتَمَنَّى حَتَّى إِذَا انْقَطَعَ أُمْنِيَّتُهُ قَالَ

الله تعالی راضي سي نو جنت ته د هغه دداخليدو اجازه به ورکړي بيا به ورته الله تعالی فرمايي ستا په زړه کې که نور خواهش او ارمان وي نو هغه هم څرګند کړه هغه به خپل ارمانونه او خواهشات څرګند کړي تر دې چې د هغه خواهشات به ختم سي

اللّٰهُ تعالى تَمَنَّ مِنْ كَذَا وَكَذَا أَقْبَلَ يُذَكِّرُهُ رَبُّهُ حَتَّى إِذَا انْتَهَتْ بِهِ الْأَمَانِيُّ قَالَ

نو الله تعالی به ورته وو فرمايي دا ټول شيان کوم چې ته غواړې او ددې سره دومره نور تا ته درکړل سول ، او د ابوسعيد په روايت کې دا الفاظ دي چې

اللّٰهُ لَكَ ذٰلِكَ وَمِثْلُهُ مَعَهُ. وفي رواية ابي سعيد قال الله تعالى لك ذالك وعشرة امثاله. متفق عليه.

ستا ټول ارمانونه پوره کيږي او ورسره لس چنده نور هم درکول کيږي . بخاري او مسلم.

تخريج : صحيح البخاري (فتح الباري): ۱۲\۲۹۲، رقم: ۸۰۶، ومسلم ۱\۱۶۳، رقم: ۲۹۹- ۱۸۲.

د لغاتو حل : شوک السعدان: وهو نبت له شوک عظيم (ازغی لرونکی نبات). يويق: اي يهلک ويحبس

(هلاكيږي). يُخردل: اي يصرع او يقطع قطعا . قشبني: اي اذاني واهلكني (ما ته يې تكليف راكړ).

تشريح مګر د سجدو نښې به نه خوري، په دې اړه نووي رحمه الله ليکلي دي چې ددې څخه دا خبره څرګندېږي چې د دوږخ اور به د بدن هغه اندامونه نه سوځي چې پر هغو سجده کيږي، او هغه د بدن اووه اندامونه دي، يعني تندی، دواړه لاسونه، دواړي پښې، حال دا چې ځينو علماؤ ويلي دي چې د سجدو د نښو څخه يوازې تندی مراد دی مګر علماؤ د نووي رحمه الله قول زيات خوښ کړی دی.

نو پر هغوئ به آب حياث وپاشل سي، دا خبره په څرګنده د تېر سوي حديث مخالف ده چې په هغه کې دا ذکر سوی دی چې خلک به د حيات (ژوند) په وياله کې واچول سي مګر په حقيقت کې ددواړو خبرو په منځ کې اختلاف نسته ، کيدای سي چې ځيني خلک د ژوند په وياله کې غوټه کړل سي او ځيني خلکو باندې د هغه ويالې او به پاشل کافي وګرځول سي.

ستاسو په عزت دې مې قسم وي زه به هيڅ نه غواړم، دلته دا سوال پيدا کيږي چې هغه سړي کله د خپل قسم خلاف ورزي وکړې نو پر هغه به د قسم ماتولو سزا ولې نه وي، ددې جواب دادی چې دهغه سړی حال به د يو ليوني او بې حاله سړي په ډول وي او څرګنده ده چې داسې سړی معذور ګڼل کيږي يا دا چې دا خبره دکوم ځای سره اړه لري هغه يو داسې ځای دی چې هلته به د هيڅ عمل څوک مکلف نه وي نو د هغه څخه به نيوکه په څه باندې کيږي.

جنت ته تر ټولو وروسته تلونکی کس

﴿۵۳۴۴﴾: وَعَنِ ابْنِ مَسْعُودٍ أَنَّ رَسُولَ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ قَالَ آخِرُ مَنْ

د حضرت ابن مسعود رضي الله عنه څخه روايت دئ چې رسول الله صلى الله عليه وسلم وفرمايل: هغه سړی چې تر ټولو

يَدْخُلُ الْجَنَّةَ رَجُلٌ فَهُوَ يَمْشِي مَرَّةً وَيَكْبُو مَرَّةً وَتَسْفَعُهُ النَّارُ مَرَّةً فَإِذَا جَاوَزَهَا

به په آخر کې په جنت کې داخل سي هغه به هغه سړی وي چې د دوږخ څخه د باندې وتلو لپاره به يو قدم پورته کړي او په دويم قدم به پړموخی ولويږي او پر دريم قدم به د اور شعلې د هغه بدن وسوځي غرض دا کله چې هغه د دوږخ څخه ووځي

الْتَفَتَ إِلَيْهَا فَقَالَ تَبَارَكَ الَّذِي نَجَّانِي مِنْكِ لَقَدْ أَعْطَانِي اللّٰهُ شَيْئًا مَا أَعْطَاهُ

نو د دوږخ په لور به ګوري او وايي به هغه ذات بزرګ او برتر دی چې ستا څخه يې ما ته خلاصون راکړ البته الله تعالى ما ته هغه شی راکړی دی چې

أَحَدًا مِنَ الْأَوَّلِينَ وَالْآخِرِينَ فَتُرْفَعُ لَهُ شَجَرَةٌ فَيَقُولُ أَيْ رَبِّ أَدْنِنِي مِنْ هَذِهِ

په مخکنيو او وروستنيو خلکو کي يې هيڅ ته نه دی ورکړی بيا به د هغه مخ ته يوه

الشَّجَرَةِ فَلِأَسْتَظِلَّ بِظِلِّهَا وَأَشْرَبَ مِنْ مَائِهَا فَيَقُولُ اللّٰهُ عَزَّ وَجَلَّ يَا ابْنَ آدَمَ

درخته ودرول سي چي د هغې سره به د اوبو يوه چينه وي هغه سړی به وايي اې پروردګاره ما دغه درختي ته ورنژدې کړې چي ددې په سايه کي ارام وکړم او ددې چيني څخه اوبه وڅښم، الله تعالى به ورته فرمايي اې د ادم زويه!

لَعَلِّي إِنْ أَعْطَيْتُكَهَا سَأَلْتَنِي غَيْرَهَا فَيَقُولُ لَا يَا رَبِّ وَيُعَاهِدُهُ أَنْ لَا يَسْأَلَهُ غَيْرَهَا

که ما ستا خواهش پوره کړ امکان لري چي بيا به ته نور هم وغواړې، هغه سړی به وايي زه به نور هيڅ نه غواړم ددې څخه وروسته به هغه الله تعالى سره ددې خبري عهد وکړي چي هغه به نور

وَرَبُّهُ يَعْذِرُهُ لِأَنَّهُ يَرَى مَا لَا صَبْرَ لَهُ عَلَيْهِ فَيُدْنِيهِ مِنْهَا فَيَسْتَظِلُّ بِظِلِّهَا

هيڅ نه غواړي او الله تعالى چي هغه پريشانهويني نو د هغه معذور ګڼلو سره به د هغه خواهش پوره کړي ځکه الله ﷻ پوهيږي چي دی هغه نعمتونه ويني چي هغه ته صبر نه کيږي او هغه درختي ته به يې ورنژدې کړي هغه به د هغه درختي په سايه کي ارام کوي

وَيَشْرَبُ مِنْ مَائِهَا ثُمَّ تُرْفَعُ لَهُ شَجَرَةٌ هِيَ أَحْسَنُ مِنَ الْأُولَى فَيَقُولُ أَيْ رَبِّ

او د چيني اوبه به څښي بيا به يوه بله درخته ودرول سي چي د لومړنۍ څخه به غوره وي هغه سړی چي دا درخته ويني نو وايي به اې ربه!

أَدْنِنِي مِنْ هَذِهِ الشجرة لِأَشْرَبَ مِنْ مَائِهَا وَأَسْتَظِلَّ بِظِلِّهَا لَا أَسْأَلُكَ غَيْرَهَا

ما دغه درختي ته ورسوې چي ددې د چيني څخه اوبه وڅښم او د سايې لاندي يې ارلم وکړم او ددې څخه پرته به زه نور هيڅ سوال نه کوم

فَيَقُولُ يَا ابْنَ آدَمَ أَلَمْ تُعَاهِدْنِي أَنْ لَا تَسْأَلَنِي غَيْرَهَا فَيَقُولُ لَعَلِّي إِنْ أَدْنَيْتُكَ

الله تعالى به ورته فرمايي اې د ادم زويه! ايا تا زما سره دا وعده نه وه کړې چي ددې درختي څخه پرته به نور هيڅ نه غواړم؟ ددې څخه وروسته به الله تعالى هغه ته ووايي که زه تا دغه

درختي ته نژدې کړم

مِنۡهَا تَسۡأَلُنِي غَيۡرَهَا فَيُعَاهِدُهُ أَنۡ لَا يَسۡأَلَهُ غَيۡرَهَا وَرَبُّهُ يَعۡذِرُهُ لِأَنَّهُ يَرَى مَا لَا

بنايي ته بيا به زما څخه نور سوال وکړې ؟ هغه سړی به د دغه قول وکړي چي بل هيڅ سوال به نه کوي ، او الله تعالی هم چي هغه پريشانه ويني نو معذوره به يې وګڼي ځکه چي دی هغه

صَبۡرَ لَهُ عَلَيۡهِ فَيُدۡنِيهِ مِنۡهَا فَيَسۡتَظِلُّ بِظِلِّهَا وَيَشۡرَبُ مِنۡ مَائِهَا ثُمَّ تُرۡفَعُ لَهُ

نعمتونه ويني چي هغه ته صبر نه کيږي نو خدای ﷻ به دی هغه درختي ته را نژدې کړي او هغه به د هغه درختي په سايه کي آرام تر لاسه کړي او د چيني څخه به يې او به وڅښي بيا به ده ته يوه

شَجَرَةٌ عِنۡدَ بَابِ الۡجَنَّةِ هِيَ أَحۡسَنُ مِنَ الۡأُولَيَيۡنِ فَيَقُولُ أَيۡ رَبِّ أَدۡنِنِي مِنۡ هَذِهِ

بله درخته ودرول سي چي د جنت دروازې ته به نژدې وي او د لومړنيو دواړو درختو څخه به غوره وي هغه سړی به بيا ووايي چي اې زما ربه ! ما دغه درختي ته نژدې کړه

فلأَسۡتَظِلَّ بِظِلِّهَا وَأَشۡرَبَ مِنۡ مَائِهَا لَا أَسۡأَلُكَ غَيۡرَهَا فَيَقُولُ يَا ابۡنَ آدَمَ أَلَمۡ

چي زه يې په سايه کي کښېنم او او به يې وڅښم ، الله تعالی به ورته فرمايي اې د ادم زويه ! ايا

تُعَاهِدۡنِي أَنۡ لَا تَسۡأَلَنِي غَيۡرَهَا قَالَ بَلَى يَا رَبِّ هَذِهِ لَا أَسۡأَلُكَ غَيۡرَهَا وَرَبُّهُ يَعۡذِرُهُ

تا زما سره ددې وعده نه وه کړې چي ته به نور څه نه غواړې؟ هغه به وايي هو ، اې پروردګاره ! بس زما دا يو سوال پاته دی بيا به نور هيڅ نه غواړم ، الله تعالی چي د هغه بې صبري ويني نو

لِأَنَّهُ يَرَى مَا لَا صَبۡرَ لَهُ عَلَيۡهَا فَيُدۡنِيهِ مِنۡهَا فَإِذَا أَدۡنَاهُ مِنۡهَا سمع أَصۡوَاتَ أَهۡلِ

معذوره به يې وګڼي او هغه (دريمي) درختي ته به يې ورسوي ، هغه درختي ته چي ورسيږي نو

الۡجَنَّةِ فَيَقُولُ أَيۡ رَبِّ أَدۡخِلۡنِيهَا فَيَقُولُ يَا ابۡنَ آدَمَ مَا يَصۡرِينِي مِنۡكَ أَيُرۡضِيكَ

د جنتيانو آوازونه به اوري نو وايي به اې پروردګاره ! ما په جنت کي داخل کړې ، الله تعالی به ورته فرمايي اې د ادم زويه ! په کوم شي به در څخه خلاص سم ايا ته به راضي سې

أَنۡ أُعۡطِيَكَ الدُّنۡيَا وَمِثۡلَهَا مَعَهَا قَالَ يَا رَبِّ أَتَسۡتَهۡزِئُ مِنِّي وَأَنۡتَ رَبُّ الۡعَالَمِينَ

چي زه تا ته په جنت کي د دنيا برابر ځای کړم او ورسره دومره نور؟ هغه سړی به وايي اې پروردګاره! ايا ته زما سره مسخرې کوې؟ حال دا چي ته د دواړو جهانو پروردګار يې؟،

فَضَحِكَ ابْنُ مَسْعُودٍ فَقَالَ أَلَا تَسْأَلُونِي مِمَّ أَضْحَكُ فَقَالُوا مِمَّ تَضْحَكُ قَالَ

ابن مسعود راوي دد غه بيان کولو سره وخندل بيا يې وويل تاسو زما څخه زما د خندا پوښتنه نه کوئ؟ خلکو پوښتنه وکړه ستا د خندا سبب څه دی؟ هغه ورته وويل

هَكَذَا ضَحِكَ رَسُولُ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ فَقَالُوا مِمَّ تَضْحَكُ يَا رَسُولَ اللَّهِ

همداسي رسول الله ﷺ وخندل، صحابه کرامو پوښتنه وکړه اې د الله رسوله! تاسو ولې خاندئ؟

قَالَ مِنْ ضِحْكِ رَبِّ الْعَالَمِينَ حِينَ قَالَ أَتَسْتَهْزِئُ مِنِّي وَأَنْتَ رَبُّ الْعَالَمِينَ

رسول الله ﷺ ورته وفرمايل: ما د پروردګار پر خندا وخندل، هر کله چي هغه سړی دا وواييي چي اې پروردګاره! ايا ته زما سره مسخرې کوې حال دا چي ته د دواړو جهانو پروردګار يې،

فَيَقُولُ إِنِّي لَا أَسْتَهْزِئُ مِنْكَ وَلَكِنِّي عَلَى مَا أَشَاءُ قَدِير. رواه مسلم، وفي رواية له

ددې اوريدو سره به الله تعالى وخاندي، او وه به فرمايي :يا زه ستا سره مسخرې نه کوم ځکه چي زه چي څه غواړم هغه کولای سم يعني زه پر هر شي قادر يم. مسلم، د مسلم په يو بل روايت

عن ابي سعيد نحوه الا انه وَلَمْ يَذْكُرْ فَيَقُولُ يَا ابْنَ آدَمَ مَا يَصْرِينِي مِنْكَ إِلَى

کي د ابو سعيد څخه نقل دي چي هلته دا الفاظ زيات دي چي بيا به الله تعالى هغه سړي ته ور

آخِرِ الْحَدِيثِ وَزَادَ فِيهِ وَيُذَكِّرُهُ اللَّهُ سَلْ كَذَا وَكَذَا حتى اذا انْقَطَعَتْ بِهِ الْأَمَانِيُّ

ياد کړي چي ته فلانی فلانی شی وغواړه تر دې چي د هغه ټول خواهشات به پوره سي نو

قَالَ اللَّهُ هُوَ لَكَ وَعَشَرَةُ أَمْثَالِهِ قَالَ ثُمَّ يَدْخُلُ بَيْتَهُ فَتَدْخُلُ عَلَيْهِ زَوْجَتَاهُ مِنَ

الله تعالى به ورته وفرمايي دا ټول شيان او ورسره لس چنده نور شيان هم تاته درکول سول، ددې څخه وروسته رسول الله ﷺ وفرمايل: بيا به هغه سړی په جنت کي خپل کور ته داخل سي

الْحُورِ الْعِينِ فَتَقُولَانِ الْحَمْدُ لِلَّهِ الَّذِي أَحْيَاكَ لَنَا وَأَحْيَانَا لَكَ قَالَ فَيَقُولُ مَا

أُعْطِيَ أَحَدٌ مِثْلَ مَا أُعْطِيتُ.

او هغه ته به د حور عين څخه دوې بيبياني راسي او ورته وايي به حمد او ثناء خداوند بزرگ لره ده چي هغه ته زموږ لپاره او موږ يې ستا لپاره پيدا کړو ، رسول الله ﷺ ويلي دي او هغه سړی به وايي څومره چي ما ته راکړل سول دومره هيچا ته نه دي ورکړل سوي .

تخريج: صحيح مسلم ۱\ ۱۷۴، رقم: ۳۱۰- ۱۸۷.

د لغاتو حل: يصريني منک: اي ما يقطع مسالتک ويمنعک من سؤالي.

تشريح: قسم په خدای! زما پروردګار ما ته هغه شی راکړی دی ....الخ: په دغه ځای کي دهغه سړي قسم کول او داخبره کول په اصل کي د زياتي خوشحالۍ په وجه وي ځکه چي هغه وخت به هغه سړی دغه شی تر ټولو لوی نعمت ګڼي چي د دوږخ د اور څخه د راوتلو په وخت يې محسوس کوي او بيا کيدای سي چي هغه د دوږخ څخه د راوتلو په وخت کي بل څوک د ځان سره ونه ويني او په دې پوه نه سي چي څومره زيات مخلوق د جنت په نعمتونو او راحتونو کي دي ځکه هغه به دا ګڼي چي دا وخت زما پروردګار د دوږخ څخه د را ايستلو په صورت کي ما ته کوم نعمت راکړی دی دومره لوی نعمت هغه په مخکني او وروستني خلکو کي هيچا ته نه دی ورکړی .

د هغه سړي په دې ويلو سره چي پروردګاره ! ته خو به زما سره ټوکي نه کوې...الخ: د الله ﷻ د خندا څخه د بنده زيات خوشحاله لېدل دي او دا خبره بيانولو څخه وروسته د رسول الله ﷺ خندل د هغه خوشحالۍ په وجه وو چي پر يو ګناه کار بنده باندي د الله ﷻ د مهربانۍ او لطف په لېدو سره په رسول الله ﷺ کي پيدا سوې وه، پاته سوه د حضرت ابن مسعود ﷺ خبره ، نو هغه د بيان حديث په وخت کي د دغه الفاظو ته په رسېدو د رسول الله ﷺ په پيروۍ کي او د خپلي خوښۍ په څرګندولو سره وخندل .

هلته به هغه ته د حور عين دوې ښځي راسي، حور په اصل کي د حوراء جمع ده چي سره او سپين مخ والا ښځي ته ويل کيږي او عين په اصل کي د عيناء جمع ده چي د غټو او تورو سترګو په معنی کي استعماليږي .

د دوږخ څخه جنت ته راوستل سوو کسانو ته به جهنمي ويل کيږي

﴿۵۳۴۵﴾: وَعَنْ أَنَسٍ اَنَّ النَّبِيَّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ قَالَ لَيُصِيبَنَّ أَقْوَامًا

سَفْعٌ مِنَ النَّارِ بِذُنُوبٍ أَصَابُوهَا عُقُوبَةً ثُمَّ يُدْخِلُهُمُ اللّٰهُ الْجَنَّةَ بِفَضْلِ رَحْمَتِهِ فَيُقَالُ لَهُمُ الْجَهَنَّمِيُّونَ. رواه البخاري.

د حضرت انس رضي الله عنه څخه روايت دئ چي رسول الله ﷺ وفرمايل: د مسلمانانو ډلو ته به د هغوئ د ګناهونو په بدله کي چي هغوئ کړي دي د دوږخ د اور سزا ورکول سي بيا به الله تعالی په خپل فضل او کرم سره هغوئ په جنت کي داخل کړي او د هغوئ نوم به جهنميون کښېښودل سي. بخاري.

تخريج: صحيح البخاري (فتح الباري): ۱۱\۴۱٦، رقم: ٦۵۵۹.

د لغاتو حل: سفع: اي سواد من لفح النار او علامة منها (د اور د اوبن تور والی)

تشريح: او هغه خلکو ته به دوږخي ويل کيږي، ددې مطلب دادی چي په جنت کي به هغه خلکو ته په دې اعتبار چي هغوئ به په پيل کي دوږخ ته تللي وي او د هغه ځای څخه به جنت ته راغلي وي، د د وږخي په نامه سره ياديږي، مګر هغوئ ته په جنت کي د دوږخي نوم ورکول به د هغوئ د سپکتيا او ذليل کېدو لپاره نه وي بلکه د هغه خلکو د خوشحاله کولو او ددغه لوی نعمت د يادوني په توګه به وي چي هغه خلک د نعمت شکر ادا کړي او هغه د نعمت شکر د هغوئ د دوږخ څخه د خلاصون او جنت ته د رسېدو د خوشحالی احساس ورکوي.

﴿۵۳۴٦﴾: وَعَنْ عِمْرَانَ بْنِ حُصَيْنٍ قَالَ قَالَ رَسُولُ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ

د حضرت عمران بن حصين رضي الله عنه څخه روايت دئ چي رسول الله ﷺ وفرمايل:

يَخْرُجُ قَوْمٌ مِنَ النَّارِ بِشَفَاعَةِ مُحَمَّدٍ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ فَيَدْخُلُونَ

يو ډله به د حضرت محمد ﷺ په شفاعت د دوږخ څخه وايستل سي ددې څخه وروسته به هغوئ

الْجَنَّةَ يُسَمَّوْنَ الْجَهَنَّمِيِّينَ. رواه البخاري وفي رواية يَخْرُجُ قَوْمٌ مِنْ أُمَّتِيْ مِنَ النَّارِ بِشَفَاعَتِيْ يُسَمَّوْنَ الْجَهَنَّمِيِّينَ.

په جنت کي داخل سي چي نوم به يې جهنمي کښېښودل سي، بخاري او په يوه روايت کي راځي چي زما د امت څخه به يو ډله زما په شفاعت د جهنم څخه وايستل سي چي نوم به يې جهنمين کښېښودل سي.

تخريج : صحيح البخاري (فتح الباري): ۱۱\۴۱۸، رقم: ٦٥٦٦.

د لغاتو حل : الجهنميون: وهو عتقاء الله تعالى

هغه کس چي تر ټولو په آخر کي جنت ته ځي

﴿۵۳۴۷﴾ : وَعَنْ عَبْدِاللهِ بْنِ مَسْعُوْدٍ قَالَ قَالَ رَسُولُ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ

د حضرت عبدالله بن مسعود رضي الله عنه څخه روايت دئ چي رسول الله ﷺ وفرمايل :

إِنِّي لَأَعْلَمُ آخِرَ أَهْلِ النَّارِ خُرُوجًا مِنْهَا وَآخِرَ أَهْلِ الْجَنَّةِ دُخُولًا رَجُلٌ

زه د هغه سړي څخه خبر يم چي تر ټولو آخر به د دوږخ څخه وايستل سي او تر ټولو آخر به په جنت کي داخل سي دا به يو سړی وي چي

يَخْرُجُ مِنَ النَّارِ حَبْوًا فَيَقُولُ اللَّهُ اذْهَبْ فَادْخُلِ الْجَنَّةَ فَيَأْتِيهَا فَيُخَيَّلُ إِلَيْهِ

پر ګونډو به د دوږخ څخه وځي ، الله تعالى به ورته فرمايي ولاړ سه په جنت کي داخل سه نو هغه به جنت ته ولاړ سي نو هغه ته به جنت په داسي حال کي وښودل سي چي

أَنَّهَا مَلْأَى فَيَقُولُ يَا رَبِّ وَجَدْتُهَا مَلْأَى فَيَقُولُ اذْهَبْ فَادْخُلِ الْجَنَّةَ فَإِنَّ

هغه به د انسانانو څخه ډک وي هغه به وايي پروردګاره ! ما خو جنت د خلکو څخه ډک وليدی (يعني په دې کي زما لپاره ځای نه سته) الله تعالى به ورته فرمايي ولاړ سه او په جنت کي داخل

لَكَ مِثْلَ الدُّنْيَا وَعَشَرَةَ أَمْثَالِهَا فَيَقُولُ تَسْخَرُ مِنِّي أَوْ تَضْحَكُ مِنِّي وَأَنْتَ

سه مو ږ تا ته په جنت کي د دنيا په اندازه ځای درکړی دی او د هغې څخه لس چنده زيات او هغه به وايي اې پروردګاره! ته زما سره مسخري کوې ؟ يا دا به وايي اې پروردګاره! ته

الْمَلِكُ فَلَقَدْ رَأَيْتُ رَسُولَ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ ضَحِكَ حَتَّى بَدَتْ نَوَاجِذُهُ وَكَانَ يَقُولُ ذَاكَ أَدْنَى أَهْلِ الْجَنَّةِ مَنْزِلَةً. متفق عليه.

په ما پوري خندا کوې؟ حال دا چي ته پاچا يې ، ابن مسعود وايي ما وليدل چي رسول الله ﷺ د دغه بيان سره وخندل او مخکني غاښونه يې ښکاره سول او ويل يې: په جنتيانو کي به دا

سړی د مرتبې د لحاظ څخه کمزوی سړی وي. بخاري او مسلم.

تخریج صحيح البخاري (فتح الباري): ۱۱\۴۱۸، رقم: ٦٥٧١، ومسلم ۱\۱۷۳، رقم: ۳۰۸-۱۸٦.

تشریح او ویل یې، ددې څخه دا څرګندیږي چې دغه سړی به په جنتیانو کې تر ټولو د کمې درجې وي، دغه الفاظ د رسول الله ﷺ نه دي بلکه د حضرت ابوسعید رضی الله عنه یا د هغه څخه وروسته د راوي دي، نو ددې مطلب به دا وي چې صحابه کرام یا سلفو ددغه حدیث بیانولو وروسته دغه الفاظ ویل چې په حدیث کې د کوم سړي ذکر سوی دی او هغه ته په جنت کې دومره ځای تر لاسه کېدو یا دونه ده هغه به د مرتبې او درجې په اعتبار په ټولو جنتیانو کې تر ټولو د کمې درجې وي.

﴿۵۳۴۸﴾: وَعَنْ أَبِي ذَرٍّ قَالَ قَالَ رَسُولُ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ إِنِّي لَأَعْلَمُ

د حضرت ابوذر رضی الله عنه څخه روایت دئ چې رسول الله ﷺ وفرمایل: زه هغه سړی پیژنم چې په

آخِرَ أَهْلِ الْجَنَّةِ دُخُولًا الْجَنَّةَ وَآخِرَ أَهْلِ النَّارِ خُرُوجًا مِنْهَا رَجُلٌ يُؤْتَى بِهِ

جنتیانو کې به تر ټولو په آخر کې جنت ته ځي او تر ټولو په آخر کې به د دوږخه څخه وځي دا به هغه سړی وي چې د قیامت په ورځ به

يَوْمَ الْقِيَامَةِ فَيُقَالُ اعْرِضُوا عَلَيْهِ صِغَارَ ذُنُوبِهِ وَارْفَعُوا عَنْهُ كِبَارَهَا

د پروردګار په حضور کې راوستل سي او ملائکو ته به وویل سي دده کوچني کوچني ګناهونه دده مخکې پیش کړئ او لوی لوی ګناهونه یې پټ وساتئ نو د هغه کوچني کوچني ګناهونه به

فَتُعْرَضُ عَلَيْهِ صِغَارُ ذُنُوبِهِ فَيُقَالُ عَمِلْتَ يَوْمَ كَذَا وَكَذَا كَذَا وَكَذَا وَعَمِلْتَ

ورته ښکاره کړل سي او هغه ته به وویل سي چې تا په فلانۍ ورځ دا خراب کار کړی وو او په فلانۍ ورځ دي دا سې کړي وه،

يَوْمَ كَذَا وَكَذَا كَذَا وَكَذَا فَيَقُولُ نَعَمْ لَا يَسْتَطِيعُ أَنْ يُنْكِرَ وَهُوَ مُشْفِقٌ مِنْ

هغه به وایې هو ما دا سې کړي وه هغه به د هغه ګناهونو څخه انکار نه کوي ځکه چې هغه به

كِبَارِ ذُنُوبِهِ أَنْ تُعْرَضَ عَلَيْهِ فَيُقَالُ لَهُ فَإِنَّ لَكَ مَكَانَ كُلِّ سَيِّئَةٍ حَسَنَةً

د لویو لویو گناهونو څخه په بیره کي وي ، بیا به هغه ته وویل سي ستا د هري بدۍ په بدله کي تا ته یوه نیکي درکړل سوه ،

فَيَقُولُ رَبِّ قَدْ عَمِلْتُ أَشْيَاءَ لَا أَرَاهَا هَا هُنَا وَلَقَدْ رَأَيْتُ رَسُولَ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ ضَحِكَ حَتَّى بَدَتْ نَوَاجِذُهُ. رواه مسلم

ددې اوریدو سره به هغه وایي اې پروردگاره ! ما خو نور هم ډیر بدبد کارونه کړي دي چي هغه زه په دې کي نه وینم ، ابوذر ﷛ وایي ما ولیدل چي رسول الله ﷺ ددغه بیان کولو سره وخندل، چي آخرني غاښونه یې ښکاره سول. مسلم.

تخریج : صحیح مسلم: ۱\ ۱۷۷، رقم: ۳۱۴- ۱۹۰.

د دوږخ څخه د وتونکي یو سړي واقعه

﴿۵۳۴۹﴾: وَعَنْ أَنَسٍ أَنَّ رَسُولَ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ قَالَ يَخْرُجُ مِنْ

د حضرت انس ﷛ څخه روایت دئ چي رسول الله ﷺ وفرمایل : و به ایستل سي د

النَّارِ أَرْبَعَةٌ فَيُعْرَضُونَ عَلَى اللَّهِ ثم يؤمر بهم الى النار فَيَلْتَفِتُ أَحَدُهُمْ

دوږخ څخه څلور کسان او د الله تعالی حضور ته به راوستل سي بیا به دوږخ ته د هغوئ د تللو حکم وکړل سي په هغوئ کي به یو مخ را واړوي

فَيَقُولُ أَيْ رَبِّ لقد كنت ارجوا إِذْ أَخْرَجْتَنِي مِنْهَا ان لا تعيدني فِيهَا قال فَيُنْجِيهِ اللَّهُ مِنْهَا. رواه مسلم.

او الله تعالی ته به عرض وکړي اې پروردگاره! زما خو دا امید وو چي هر کله ته ما د دوږخ څخه راوباسي نو دویم وار به مي هلته نه لیږې ددې ویلو سره رسول الله ﷺ وفرمایل: الله تعالی به هغه ته د دوږخ څخه نجات ورکړي.مسلم.

تخریج : صحیح مسلم ۱\ ۱۸۰، رقم: ۳۲۱- ۱۹۲.

تشریح: د هغه خلکو د دوږخ څخه را ایستل بیا دوهم وار دوږخ ته د استولو حکم کول او بیا

خلاصون ورکول به په اصل کي د هغوئ د امتحان او د هغوئ عزت کولو لپاره وي ، څرګنده دي وي چي په پای کي د هغوئ څخه یوازي د یوه سړي حال بیان سوی دی او د پاته درو کسانو هیڅ یادونه نه ده سوې نو ددې وجه داده چي پر هغه یوه سړي به په قیاس کولو سره د ټولو حال معلومیږي چي هغوئ ټول به هم داسي خلاصون مومي، او دلته د څلورو کسانو یادونه یوازي د مثال په توګه ده او په اصل کي د داسي خلکو څخه یوه پوره ډله او یوه لویه طبقه مراد ده.

د مؤمنانو په عذاب کي اخته کولو وجه

﴿۵۳۵۰﴾: وَعَنْ اَبِيْ سَعِيْدٍ قَالَ قَالَ رَسُولُ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ يَخْلُصُ

د حضرت ابو سعید رضي الله عنه څخه روایت دئ چي رسول الله ﷺ وفرمایل: مسلمانان به د دوږخ څخه

الْمُؤْمِنُونَ مِنَ النَّارِ فَيُحْبَسُونَ عَلَى قَنْطَرَةٍ بَيْنَ الْجَنَّةِ وَالنَّارِ فَيُقَصُّ

وایستل سي او پر هغه پل به تم کړل سي چي د جنت او دوږخ په منځ کي دی (یعني پل صراط باندي) بیا به د هغوئ د حقوق بدله واخیستل سي

لِبَعْضِهِمْ مِنْ بَعْضٍ مَظَالِمُ كَانَتْ بَيْنَهُمْ فِي الدُّنْيَا حَتَّى إِذَا هُذِّبُوا وَنُقُّوا أُذِنَ

کوم چي واقع سوې وه د دوئ په مینځ کي په دنیا کي تر دې چي هغوئ به بلکل پاک سي نو د

لَهُمْ فِي دُخُولِ الْجَنَّةِ فَوَالَّذِي نَفْسُ مُحَمَّدٍ بِيَدِهِ لَأَحَدُهُمْ أَهْدَى بِمَنْزِلِهِ فِي الْجَنَّةِ مِنْهُ بِمَنْزِلِهِ كَانَ له فِي الدُّنْيَا. رواه البخاري.

هغوئ په جنت کي د داخلیدو اجازه به ورکړل سي ، قسم دی په هغه ذات چي د هغه په قبضه کي زما ساه ده چي په هغوئ کي به هر یو خپل هغه ځای چي په جنت کي به وي په دنیا کي د خپل ځای څخه زیات پیژني. بخاري.

تخریج: صحیح البخاري (فتح الباري): ۵\۹٦٦، رقم: ۲۴۴۰.

تشریح: تر څو چي هغه خلک بالکل پاک سي...الخ: ددې څخه معلومیږي چي ګناه کار مؤمنان دوږخ ته سپارل او په عذاب کي اخته کول به د هغوئ د پاکولو لپاره وي چي هغوئ په پوره توګه په جنت کي چي د هغوئ د تل اوسېدو ځای دی، داخل سي نه دا چي الله جل جلاله به هغه مؤمن بندګان د نفرت، عداوت او قهر په وجه په دوږخ کي اچوي او د هغه دا حکمت په دنیا کي

هم دي چي هغه خپل بندګان په ناروغيو، پېښو او مختلفو تکليفو کي په اخته کولو سره د هغوئ ګناهونه پرېولي، اهل تحقيق ويلي دي چي په مختلفو وختونو کي د بندګانو څخه کوم ګناهونه کيږي په هغو کي ځيني ګناهونه د حق په لاره کي د زغمل سوو تکليفونو او مختلفو مصيبتونو کي د اخته کېدو په وجه پرېولل کيږي، ځيني ګناهونه هغه وي چي د سکرات الموت په سختۍ سره پاکيږي ، ځيني ګناهونه هغه وي چي د قبر د عذاب سره ختميږي او ځيني ګناهونه هغه وي چي د دوږخ د اور څخه پرته په بل شي نه پاکيږي لکه چي سره زر او سپين زر په بټۍ کي اچولو سره د ويلي کېدو پرته نه پاکيږي .

په دوئ کي به هر سړی هغه ځای ... الخ: دلته د زړه هغه نورانيت او هدايت ته اشاره ده چي د ګناهونو څخه د پاکېدو په صورت کي تر لاسه کيږي او په دې کي دې ته هم اشاره ده چي کله دغه خلکو (يعني مؤمنانو) په دنيا کي د نور توفيق او د نور قلب په رڼا کي د ايمان، عمل صالح او تعلق مع الله لار تر لاسه کوي، او هدايت يافته سوي وي، نو هغوئ به په آخرت کي هم په جنت کي د خپل منزل او د خپل مقام لار په اسانۍ سره تر لاسه کوي .

د هر بنده لپاره په جنت او دوږخ کي ځايونه خاص دي

﴿۵۳۵۱﴾: وَعَنْ أَبِي هُرَيْرَةَ قَالَ قَالَ رَسُولُ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ لَا يَدْخُلُ

د حضرت ابو هريره رضي الله عنه څخه روايت دئ چي رسول الله ﷺ وفرمايل : څوک به تر هغه وخته

أَحَدٌ الْجَنَّةَ إِلَّا أُرِيَ مَقْعَدَهُ مِنَ النَّارِ لَوْ أَسَاءَ لِيَزْدَادَ شُكْرًا وَلَا يَدْخُلُ النَّارَ

پوري په جنت کي نه داخليږي تر څو پوري چي هغه ته هغه ځای ونه ښودل سي که هغه بدکارونه کولای نو هغه لپاره به دوږخ کي ټاکل سوی وای او دا ددي لپاره چي د هغه په زړه کي شکر ګزارۍ جذبه زياته سي او څوک به تر هغه وخته پوري دوږخ ته نه سي ليږل کيدلای

أَحَدٌ إِلَّا أُرِيَ مَقْعَدَهُ مِنَ الْجَنَّةِ لَوْ أَحْسَنَ لِيَكُونَ عَلَيْهِ حَسْرَةً. رواه البخاري

تر څو پوري چي هغه ته په جنت کي د هغه ځای ونه ښودل سي چي هغه لپاره به ټاکل سوی وي که هغه ښه کارونه کړي وي دا ددې لپاره چي د هغه حسرت زيات سي . بخاري.

تخريج صحيح البخاري (فتح الباري): ۱۱\۴۱۸، رقم: ۶۵۶۹.

كله چې مرګ هم مرګ ته حواله سي

﴿۵۳۵۲﴾: وَعَنِ ابْنِ عُمَرَ قَالَ قَالَ رَسُولُ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ إِذَا صَارَ

د حضرت ابن عمر رضی اللہ عنہ څخه روايت دئ چې رسول الله ﷺ وفرمايل: هر كله چې جنتيان په جنت

أَهْلُ الْجَنَّةِ إِلَى الْجَنَّةِ وَأَهْلُ النَّارِ إِلَى النَّارِ جِيءَ بِالْمَوْتِ حَتَّى يُجْعَلَ بَيْنَ

كې او دوږخيان په دوږخ كې داخل سي نو مرګ به راوستل سي او هغه به د دوږخ او جنت په منځ

الْجَنَّةِ وَالنَّارِ ثُمَّ يُذْبَحُ ثُمَّ يُنَادِي مُنَادٍ يَا أَهْلَ الْجَنَّةِ لَا مَوْتَ وَيَا أَهْلَ النَّارِ

كې ذبح كړل سي بيا به اعلان وكړل سي چې اې جنتيانو او اې دوږخيانو! اوس به مرګ نه راځي

لَا مَوْتَ فَيَزْدَادُ أَهْلُ الْجَنَّةِ فَرَحًا إِلَى فَرَحِهِمْ وَيَزْدَادُ أَهْلُ النَّارِ حُزْنًا إِلَى

حُزْنِهِمْ. متفق عليه.

ددې اوريدو سره به د جنتيانو خوشحالي تر پخوا زياته سي او دوږخيان به تر پخوا په رنج او غم كې ډوب سي. بخاري او مسلم.

تخريج صحيح البخاري (فتح الباري): ۱۱\۴۱۵، رقم: ۶۵۴۸، ومسلم ۴\۲۱۸۹، رقم: ۴۳-۲۸۵۰.

اَلْفَصْلُ الثَّانِي (دوهم فصل)

حوض كوثر ته تر ټولو مخكې راتلونكي فقراء مهاجرين

﴿۵۳۵۳﴾: عَنْ ثَوْبَانَ عَنِ النَّبِيِّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ قَالَ حَوْضِي مِنْ عَدَنَ

د حضرت ثوبان رضی اللہ عنہ څخه روايت دئ چې رسول الله ﷺ وفرمايل: زما د حوض اوږدوالی دومره

إِلَى عَمَّانَ الْبَلْقَاءِ مَاؤُهُ أَشَدُّ بَيَاضًا مِنَ اللَّبَنِ وَأَحْلَى مِنَ الْعَسَلِ وَأَكَاوِيبُهُ عَدَدُ

دی لكه څومره فاصله چې د عدن او عمان بلقاء په منځ كې ده ددې حوض اوبه د شيدو څخه زياتي سپيني او د شاتو څخه زياتي خوږې دي ددې لوښي د ځلېدونكو ستورو په شان بې شمېره دي

نُجُومِ السَّمَاءِ مَنْ شَرِبَ مِنْهُ شَرْبَةً لَمْ يَظْمَأْ بَعْدَهَا أَبَدًا أَوَّلُ النَّاسِ وُرُودًا

د آسمان د ستورو سره برابر دی، چا چي يو وار ددې ځخه اوبه وڅښلې بيا به هغه هيڅكله نه تږی كيږي، د ټولو ځخه مخكي به حوض ته

عَلَيْهِ فُقَرَاءُ الْمُهَاجِرِينَ الشُّعْثُ رُءُوسًا الدُّنُسُ ثِيَابًا الَّذِينَ لَا يَنْكِحُونَ

فقراء د مهاجرينو راځي چي د هغوئ د سر وريښتان پريشانه او جامې خيرني وي او هغه فقراء او مهاجرين چي د هغوئ سره به د اسوده حاله ښځو نكاح نه كېدل (په دنيا كي)

الْمُتَنَعِّمَاتِ وَلَا تُفْتَحُ لَهُمُ السُّدَدُ. رواه احمد والترمذي وابن ماجه وقال الترمذي هذا حديث غريب

او د هغوئ لپاره (په دنيا) كي د كورونو بندي دروازې نه خلاصيدلې. احمد، ترمذي او ابن ماجه.

تخريج: الامام احمد في مسنده ۵\۲۷۵، رقم: ۲۴۴۴، وابن ماجه ۲\۱۴۳۸، رقم: ۴۳۰۳.

د لغاتو حل: الشعث: جمع اشعث اي المتفرقو الشعر. السدد: جمع سدة وهي باب الدار (دروازه)

تشريح: ځرنګه چي مخكي هم د يو حديث تشريح سوې ده، عدن د يوې كوچنۍ جزيرې نوم دی چي مخكي د يمن بندرګاه وه، څه وخت مخكي پر دغه جزيره د انګريزانو قبضه وه خو اوس د يو خودمختاره رياست حيثيت لري، عدن د بحر احمر پر جنوبي سر باندي واقع دی چيري چي خليج عدن، بحر احمر او بحير عرب يو ځای كيږي، همدارنګه عمان هم د يو ښار نوم دی چي د بحر احمر پر شمالي سر باندي مخكي د شام يوه برخه وه او اوس د اردن هيواد پلازمينه ده، بلقاء په اصل كي د يو پخواني ښار نوم دی چي په يو وخت كي د شام پلازمينه د دمشق نژدې واقع وو، او عمان ددغه ښار بلقان سره متعلق يوه صحرايي سيمه ده، له دې كبله په حديث كي عمان بلقاء فرمايل سوي دي، خلاصه دا چي په آخرت كي به ما ته حوض كوثر راكړل سي د هغه د اوږدوالي فاصله به دومره وي څومره فاصله چي د عمان بلقاء او عدن په منځ كي وي، په اوسني وخت كي دغه فاصله د پوره بحر احمر پر اوږدوالي باندي قياس كېدای سي چي حوض كوثر د بحر احمر په اندازه اوږد دی، او دا خبره مخكي هم بيان سوې ده چي د حوض كوثر د پراخوالي بيانولو لپاره په مختلفو حديثونو كي د مختلفو ښارونو او سيمو د درمياني فاصلې يادونه سوې ده، دمثال په توګه په دغه حديث كي د عدن او عمان بلقاء د درمياني فاصلې يادونه ده، په يوه حديث كي دا دي چي د حوض كوثر اوږدوالی د ايلاء او صنعاء د درمياني

فاصلې په اندازه ده او په یوه حدیث کي د دوو میاشتو په مسافت اندازه ذکر سوې ده او داسي نور ، نو حقیقت دادی چي په هیڅ حدیث کي د حوض کوثر اوږدوالی او پراخوالی په ټاکلې توګه سره ښودل مقصد نه دي بلکه ددغه ټولو حدیثونو اصل مقصد یوازي د حوض د اوږدوالي او پلنوالي ظاهرول دي نو پر کومي موقع باندي چي مخاطب او سامع د کومو سیمو او ښارونو درمیاني فاصلو معلومات درلود د هغه سره سم د تمثیل په توګه د ښارونو او سیمو یادونه یې وفرمایل .

دغه حوض ته د اوبو څښلو لپاره تر ټولو مخکي راتلونکي خلک به فقراء مهاجرین وي، فقراء مهاجرینو ته به دا خاص شرف ځکه تر لاسه وي چي په دنیا کي د دین لپاره هغوئ تر ټولو زیاتي لوږي او تندي زغملي دي، تر ټولو زیات د تباهی او پریشانی ښکار دغه خلک سوي دي ځکه په آخرت کي به تر ټولو مخکي هم دغه خلک پر حوض کوثر اوبه کیږي او تر ټولو مخکي به هلته دوئ ته ښه راغلاست ویل کیږي ، دا مفهوم په یو بل حدیث کي داسي بیان سوی دی : (اجوعکم في الدنیا اشبعکم في الاخرة)، په تاسو کي چي کوم کسان په دنیا کي تر ټولو زیات وږي وه هغوئ به په آخرت کي تر ټولو زیات ماړه وي .
او الله ﷻ به په جنت کي داسي خلکو ته حکم ورکړي چي :

كُلُوا وَاشْرَبُوا هَنِيئًا بِمَا أَسْلَفْتُمْ فِي الْأَيَّامِ الْخَالِيَةِ

په ښه خوند سره خورئ او څښئ، د هغه صورت په بدله کي چي د هغه سره تاسو په تېرو ورځو کي مخامخ واست .

څرګنده دي وي چي د مهاجرین څخه مراد هغه خلک دي چي د رسول الله ﷺ په زمانه کي د مکې څخه په هجرت کولو سره مدینې ته راغلي وه او رسول الله ﷺ د هغوئ مشر وو، او دهغوئ په حکم کي هغه خلک هم دي چي هغوئ د دین لپاره د خپل اصلي هیواد څخه هجرت اختیار کړ او کله مکې مکرمې یا مدینې منورې ته په تللو سره یوازي پر دې یې اکتفاء ونه کړل بلکه د راحت او خوشحالی پر ژوند باندي یې فقر او مفلسی ته ترجیح ورکړل او د الله ﷻ د رضا لپاره یې د مال او سامان هڅي پرېښودلې او د علم او عمل په تر لاسه کولو کي بوخت سول.

او د کومو کسانو لپاره چي دروازې نه خلاصیږي، یعني که چیري هغه خلک د یو ضرورت سره سم یا بېله ضرورت د یو دنیادار دروازې ته ورسي نو د هغوئ د ظاهري حال په وجه به هغه دنیادار هغوئ ددې قابل هم نه ګڼي چي ځان ته یې نژدې پرېږدي، دا ګویا ددې خبري کنایه ده

چي دغه خلک د خپل ظاهري حالت په وجه د شتمنو په نزد د مېلمتسيا او بلني وړ هم نه ګڼل کيږي او په ټولنيزا و مجلسي تعلقاتو کي هغوئ ته هيڅ توجه نه کيږي.

حوض کوثر ته راتلونکي کسان به بې شمېره وي

﴿۵۳۵۴﴾: وَعَنْ زَيْدِ بْنِ أَرْقَمَ قَالَ كُنَّا مَعَ رَسُولِ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ

د حضرت زيد بن ارقم رضي الله عنه څخه روايت دی چي موږ د رسول الله ﷺ سره په سفر کي وو چي موږ

فَنَزَلْنَا مَنْزِلًا فَقَالَ مَا أَنْتُمْ جُزْءٌ مِنْ مِائَةِ أَلْفِ جُزْءٍ مِمَّنْ يَرِدُ عَلَيَّ الْحَوْضَ قِيلَ كَمْ كُنْتُمْ يَوْمَئِذٍ قَالَ سَبْعُ مِائَةٍ أَوْ ثَمَانِ مِائَةٍ. رواه ابوداؤد.

پر يو ځای تم سوو ، رسول الله ﷺ خلکو ته وفرمايل : تاسو د سلو زرو حصو څخه يوه حصه ياست چي حوض کوثر ته به ما ته راځي ، خلکو د زيد بن ارقم څخه پوښتنه وکړه چي په دغه ورځ ستاسو شمير څومره وو هغه وويل اووه سوه يا اته سوه . ابوداؤد.

تخريج : سنن ابي داود ۵\۱۱۰، رقم: ۴۷۴۶.

تشريح: ددې څخه تحديد او تعين مراد نه دی بلکه پر حوض کوثر باندي د راتلونکو خلکو زياتوب بيانول مرا ددي چي هلته د اوبو څښلو لپاره به د راتلونکو خلکو شمېر بې شمېره وي.

هر نبي ته يو حوض ورکړل سوی دی

﴿۵۳۵۵﴾: وَعَنْ سَمُرَةَ قَالَ قَالَ رَسُولُ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ إِنَّ لِكُلِّ نَبِيٍّ حَوْضًا وَإِنَّهُمْ يَتَبَاهَوْنَ أَيُّهُمْ أَكْثَرُ وَارِدَةً وَإِنِّي أَرْجُو أَنْ أَكُونَ أَكْثَرَهُمْ وَارِدَةً . رواه الترمذي.

د حضرت سمرة رضي الله عنه څخه روايت دئ چي رسول الله ﷺ وفرمايل : په جنت کي به د هر نبي يو حوض وي او انبياء به په دې فخر کوي چي د چا حوض ته زيات خلک راځي او زما اميد دی چي تر ټولو زيات خلک به زما حوض ته راځي. ترمذي.

تخريج سنن الترمذي ۴\۵۴۲، رقم: ۲۴۴۳.

تشريح: مطلب دا چي د رسول الله ﷺ د امت د خلکو شمېر به د نورو ټولو امتونو په نسبت

زيات وي ځکه د رسول الله ﷺ حوض ته به د اوبو څښلو لپاره د راتلونکو شمېر تر ټولو زيات وي او دا خبره بالکل يقيني ده او هيڅ شک پکښې نشته ، نو رسول الله ﷺ دا وفرمايل چي زه اميد لرم او ددې څخه چي د شک او تردد مفهوم څرګنديږي نو دا به محض د تواضع او خاکسارۍ په وجه وي .

د قيامت په ورځ به رسول الله ﷺ په کوم کوم ځای کي وي

﴿۵۳۵۶﴾ : وَعَنْ اَنَسٍ قَالَ سَأَلْتُ النَّبِيَّ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ أَنْ يَشْفَعَ لِي

د حضرت انس رضي الله عنه څخه روايت دی چي ما رسول الله ﷺ ته عرض وکړ چي د قيامت په ورځ زما

يَوْمَ الْقِيَامَةِ فَقَالَ اَنَا فَاعِلٌ قُلْتُ يَا رَسُولَ اللّٰهِ فَأَيْنَ أَطْلُبُكَ قَالَ اطْلُبْنِي

شفاعت وکړه ، رسول الله ﷺ وفرمايل زه کونکی د شفاعت يم ، ما عرض وکړ اې دالله رسوله ! زه به تاسو په کوم ځای کي ولټوم ؟ رسول الله ﷺ وفرمايل:

أَوَّلَ مَا تَطْلُبُنِي عَلَى الصِّرَاطِ قُلْتُ فَإِنْ لَمْ أَلْقَكَ عَلَى الصِّرَاطِ قَالَ فَاطْلُبْنِي

په لومړي کي ما پر پل صراط ولټوه ، ما عرض وکړ که تاسو پر پل صراط نه واست ؟ نو رسول الله ﷺ وفرمايل : نو پر ميزان باندي، ما وويل : که پر ميزان باندي هم تاسو نه واست ؟ نو

عِنْدَ الْمِيزَانِ قُلْتُ فَإِنْ لَمْ أَلْقَكَ عِنْدَ الْمِيزَانِ قَالَ فَاطْلُبْنِي عِنْدَ الْحَوْضِ فَإِنِّي لَا أُخْطِئُ هَذِهِ الثَّلَاثَ الْمَوَاطِنَ. رواه الترمذي و قال حديث غريب.

رسول الله ﷺ وفرمايل : پر حوض کوثر باندي زه به دا درې ځايونه نه پرېږدم . ترمذي.

تخريج : سنن الترمذي ۴\۵۳۷، رقم: ۲۴۳۳.

د لغاتو حل : لا اخطئ: اي لا اتجاوز (تجاوز نه کوم)

تشريح: د رسول الله ﷺ د جواب خلاصه دا وه چي د قيامت په ورځ به دغه درې ځايونه داسي وي چيري چي به خلکو ته زياته پريشاني او تکليف وي، او دا به هغه ځايونه وي چيري چي به پيښېدونکي حالات د شفاعت غوښتونکي وي نو زه به په دغه درو ځايو کي وار په وار موجوديم ، کله دلته او کله هلته او همدارنګه زه به په هغه ورځ پر دغه ځايو باندي د خلکو څارونکی او دهغوئ په اړه بوختيم .

كه دا سوال پیدا سي چي د غه حديث په ظاهره د بي بي عائشې ﷺ د هغه حديث خلاف دی كوم چي د باب الحساب په دوهم فصل كي تېر سوی دی او په هغه كي بيان سوی دی چي بي بي عائشې ﷺ د رسول الله ﷺ څخه پوښتنه وكړل چي تاسو به د قيامت په ورځ خپله كورنۍ په ياد ولرئ، رسول الله ﷺ وفرمايل: په هغه ورځ به په درو ځايو كي هيڅوک د چا په ياد نه وي، نو ددې جواب دادی چي د بي بي عائشې ﷺ حديث پر غائبين باندي محمول دی، مطلب دا چي په هغه ورځ به دغه درې ډول خلک كوم چي د رسول الله ﷺ مخكي وي او د رسول الله ﷺ سره يې تعلق نه وي نو رسول الله ﷺ به خپله هغوئ نه يادوي او دا د حضرت انس ﷺ حديث پر حاضرينو باندي محمول دی يعني د رسول الله ﷺ د امت څخه چي كوم خلک په دغه درو ځايو كي د رسول الله ﷺ په خدمت كي حاضر وي او خپل ځان ته يې متوجه كوي نو رسول الله ﷺ به هغوئ ته يې توجه كوي او د هغوئ خاص شفاعت به كوي، طيبي رحمة الله عليه د دغه دواړو حديثونو په منځ كي د مطابقت پيدا كولو لپاره ليكلي دي چي رسول الله ﷺ، بي بي عائشې ﷺ ته ياد سوی جواب ځكه وركړ چي هغه د رسول الله ﷺ زوجه مطهره وه او دا بېره وه چي هغه د رسول الله ﷺ په محض شفاعت او خاص توجه باندي په باور كولو سره كښېني او د عمل څخه بې فكره سي، نو رسول الله ﷺ خپلو قريبانو او كورنۍ ته دا وفرمايل چي زه ستاسو د اخروي معاملاتو ذمه دار نه يم پر ما باندي په محض باور كولو سره مه كښېنئ په آخرت كي به ستاسو عمل تاسو ته ګټه رسوي ، ددې پر خلاف رسول الله ﷺ ، انس ﷺ ته دا جواب ځكه وركړ چي هغه نا اميده نه سي او هغه چي د كوم قلبي تعلق او اخلاص په وجه دا غوښتنه كړې وه نو د هغه غوښتنه داوه چي هغه ته همدا سي د ميني او تعلق ځواب وركړل سي، په هر حال دا خبره بايد په فكر كي وي چي هغه ورځ به د خپلي سختۍ او مشقت په اعتبار ډېره سخته وي كه څه هم رسول الله ﷺ ته د شفاعت مقام تر لاسه كېدل او د رسول الله ﷺ شفاعت كول حق دی مګر په هغه ورځ د خلاصون تر لاسه كولو لپاره په دنيا كي د عملي ژوندي ښكلي كولو او صحيح كولو ضرورت هم مسلم دی، محض د رسول الله ﷺ په شفاعت باندي باور كول كافي نه دي او يوازي په اعمالو باندي په اعتماد كولو سره د رسول الله ﷺ د شفاعت څخه بې نيازي هيڅ معنی نه لري نو رسول الله ﷺ بې بي عائشې ﷺ او حضرت انس ﷺ ته بېل بېل جواب وركړ او هغه دواړه په خپل خپل ځای كي صحيح وه او په هر جواب كي د مخاطب د حالاتو رعايت ملحوظ وو .

د مقام محمود او د الله ﷻ د کرسۍ ذکر

﴿۵۳۵۷﴾: وَعَنِ ابْنِ مَسْعُوْدٍ عَنِ النَّبِيِّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ قَالَ قِيْلَ لَه مَا

د حضرت ابن مسعود رضی الله عنه څخه روایت دی چي د نبي کریم ﷺ څخه پوښتنه وسول چي مقام

الْمَقَامُ الْمَحْمُوْد قَالَ ذٰلِكَ يَوْمٌ يَنْزِلُ اللهُ تَعَالٰى عَلٰى كُرْسِيِّهِ فَيَئِطُّ كَمَا يَئِطُّ

محمود څه شي دی ؟ چي په دغه آیت کي د هغه وعده سوې ده (عسی ان یبعثک ربک مقاما محمودا) رسول الله ﷺ وفرمایل : دا مقام محمود به په هغه ورځ تر لاسه کیږي په کومه ورځ چي الله تعالی پر خپله کرسۍ کښیني او دا کرسۍ به داسي چغهار کوي لکه څرنګه چي نوې

الرَّحْلُ الْجَدِيْدُ مِنْ تَضَايُقِهِ وَهُوَ كَسَعَةٍ مَا بَيْنَ السَّمَاءِ وَالْأَرْضِ وَيُجَاءُ

کجاوه د تنګوالي په وجه چغهار کوي، د کرسي پراخ والي دومره دی لکه د آسمان او مځکي په منځ کي فضا ، بیا به تاسو لوڅ او نا سنته راوستل سئ او کومو خلکو ته چي په دغه ورځ لباس

بِكُمْ حُفَاةً عُرَاةً غُرْلاً فَيَكُوْنُ أَوَّلَ مَنْ يُّكْسٰى إِبْرَاهِيْمُ يَقُوْلُ اللهُ تَعَالٰى

واغوستل سي په هغوئ کي به تر ټولو لومړی حضرت ابراهیم علیه السلام وي اللهﷻ به ووايي زما خلیل ته جامې ور واغوندی نو دوه سپین رنګي څادرونه به د جنت له څادرونو څخه راوړل

أُكْسُوْا خَلِيْلِيْ فَيُؤْتٰى بِرِيْطَتَيْنِ بَيْضَاوَيْنِ مِنْ رِيَاطِ الْجَنَّةِ ثُمَّ أُكْسٰى عَلٰى إِثْرِهِ

ثُمَّ أَقُوْمُ عَنْ يَمِيْنِ اللهِ مَقَامًا يَغْبِطُنِيْ الْأَوَّلُوْنَ وَالْآخِرُوْنَ . رواه الدارمي.

سي ،د هغه څخه وروسته به ما ته جامه را واغوستل سي بیا به زه د الله تعالی راسته خوا ته ودریږم او مځکني او وروستني ټول خلک به غبطه را سره وکړي . دارمي.

تخریج سنن الدارمي ۲\۴۱۹، رقم: ۲۸۰۰.

د لغاتو حل : فیئط : اي یصوت الکرسي. بریطتین: هي الملاءة الرقیقة اللینة من الکتان.

تشریح په دغه حدیث کي د پروردګار د کرسي د پراختیا او وسعت بیانولو لپاره د مځکي او آسمان درمیاني فاصلې مثال ورکړل سوی دی حال دا چي په یوه حدیث کي دا فرمایل سوي دي چي د پراختیا بیانولو لپاره ددغه کرسۍ په مقابله کي د اوو آسمانو او اوو مځکو مجموعي

حیثیت همدومره دی لکه په یو لوی ځنګل کي یوه کوچنۍ غونډۍ او د هغه کرسۍ په مقابله کي د عرش حیثیت داسي دی لکه د هغه غونډۍ په مقابله کي ټول ځنګل، نو په دغه حدیث کي چي د کرسۍ د کومي پراختیا بیان سوی دی هغه د تعین او تحدید په توګه نه دی بلکه د عامو خلکو د ذهن او فهم مطابق محض د مثال په توګه دی، لکه څرنګه چي د وسعت او پراختیا محض د تمثیل په توګه بیانولو لپاره دا فرمایل سوي دي چي: عرضها السموات والارض، ددې څخه پرته ددغه پراختیا د بیانولو یو خاص مقصد دا وو چي رسول الله ﷺ وفرمایل: د الله ﷻ دنزول اجلاس فرمایلو په وجه کرسۍ داسي آواز کوي، نو رسول الله ﷺ دا څرګندول ضروري وګڼل چي د کرسۍ د آواز کولو خبره او نوي پوست د تنګ زین د مشابهت څخه دا ګڼل نه دي پکار چي هغه کرسۍ به هم کوچنۍ او تنګه وي، بلکه هغه کرسۍ دومره عظیمه او پراخه ده چي د هغه معمولي اندازه تاسو د مځکي او آسمان د درمیاني فاصلې سره تصور کړئ، په هر حال دا باید په ذهن کي وي چي د حدیث الفاظ د هغه متشابهاتو څخه دي چي د هغه حقیقي معنی د انساني علم او ذهن څخه لیري ده، نو مفردات عبادت لکه پر کرسۍ باندي د الله ﷻ د ناستي، د کرسۍ آواز کول او د کرسۍ د مځکي او آسمان د منځنۍ فاصلې په اندازه پراختیا او داسي نور شیان حقیقت ته رسېدل بېله مفهومه د حدیث خلاصه اختیارول پکار دي چي هغه داده چي ددغه حدیث په ذریعه د قیامت په ورځ د الله ﷻ عظمت او لویي او دهغه د پاچاهۍ اظهار کول مقصد دي.

په هغه ورځ به تر ټولو وړاندي چي کوم سړي ته جامه اغوستل کیږي هغه به حضرت ابراهیم علیه السلام وي، په دې اړه یادونه د باب الحشر په اول فصل کي هم تېره سوې ده او دا خبره هم هلته ښودل سوې ده چي ددې څخه دا خبره ثابتیږي چي حضرت ابراهیم علیه السلام پر رسول الله ﷺ باندي فضیلت لري بلکه حقیقت دادی چي په هغه ورځ به حضرت ابراهیم علیه السلام ته تر ټولو مخکي د جامې اغوستلو شرف او اکرام په دې وجه حاصل وي چي هغه علیه السلام د رسول الله ﷺ روحاني پلار دی او د رسول الله ﷺ د دین او دملت لړۍ دده څخه روانه ده، ددې څخه پرته حضرت ابراهیم علیه السلام ته تر لاسه کېدونکي شرف زیات تر زیات پر رسول الله ﷺ باندي جزوي فضیلت ورته ویل کیدای سي او دا بالکل ظاهره ده چي جزوي فضیلت د کلي فضیلت خلاف نه وي بلکه په هغه ورځ به هم د رسول الله ﷺ بالعموم او علی الاطلاق پر ټول انسانیت باندي سره د پیغمبرانو او انبیاؤ افضل کېدل خپله ددغه حدیث د آخري الفاظو (ثم اقوم عن یمین الله..الخ) څخه څرګند او ثابت دي.

ددې وروسته به ما ته جامه راوغوستل سي، دغه ارشاد په ظاهره د هغه روايت خلاف دی چي په هغه کي بيان سوي دي چي رسول الله ﷺ به د قيامت په ورځ دخپل قبر څخه په جامو کي راپاڅي مگر که دا وضاحت په نظر کي وي نو بيا د دواړو روايتو په منځ کي هيڅ اختلاف نه پاته کيږي که څه هم رسول الله ﷺ د خپل قبر څخه په جامه کي راپاڅي مگر د حشر په ميدان کي به رسول الله ﷺ ته د ټولو انبياؤ سره دوهم ځل جامه واغوستل سي او دا به د رسول الله ﷺ د کمال شرف او احترام د اظهار لپاره وي.

د حديث په آخرني الفاظو کي يو لوی سوال پيدا کيږي چي د رسول الله ﷺ څخه د سوي پوښتني او د رسول الله ﷺ له خوا د ورکړل سوي جواب په منځ کي مطابقت څه دی؟ ددې جواب دادی چي پوښتنه کونکي د مقام محمود په اړه پوښتنه کړې وه چي ددې نوعيت او صورت به څه وي؟ رسول الله ﷺ ددې جواب ور نه کړ بلکه مخکي يې د هغه ورځي د بيري څخه ډک ماحول يادونه وکړل چي د خلکو په ذهن کي د هغه شی لويي او ارزښت پوخ سي چي د هغه په اړه هغوئ سوال کړی دی وروسته رسول الله ﷺ په دغه الفاظو (ثم اقوم عن يمين الله...الخ) بيا به زه د الله جل جلاله راسته خوا ته ودرېږم ...الخ، په ذريعه د هغه د سوال جواب ته اشاره وکړه ، گويا رسول الله ﷺ بالواسطه دا جواب ورکړ چي مقام محمود هغه ځای دی چيري چي به زه د قيامت په ورځ دالله جل جلاله راسته خوا ته ودرېږم او هغه به تر ټولو لوی شرف او اکرام وي چي زما څخه پرته هيچا ته به تر لاسه نه وي، او داول څخه تر پايه پوري ټول کائنات به ما ته پر دغه راکړل سوي شرف او عزت باندي فخر کوي، نو دغه وينا ددې خبري څرگند ثبوت دی چي زموږ حضرت محمد ﷺ پر ټولو کائناتو تر دې چي پر انبياؤ او رسولانو باندي هم فضيلت لري.

پر پل صراط باندي د مؤمنانو پېژندنه

﴿۵۳۵۸﴾: وَعَنِ الْمُغِيرَةِ بْنِ شُعْبَةَ قَالَ قَالَ رَسُولُ اللَّهِ ﷺ شِعَارُ الْمُؤْمِنِ عَلَى الصِّرَاطِ رَبِّ سَلِّمْ سَلِّمْ .رواه الترمذي وقال هذا حديث غريب.

د حضرت مغيرة بن شعبة رضی الله عنه څخه روايت دئ چي رسول الله ﷺ وفرمايل : د قيامت په ورځ به پر پل صراط د مؤمنانو نښه دا الفاظ وي (رب سلم سلم) يعني مؤمنان به دا الفاظ وايي چي پروردگاره ! موږ سلامت لرې، موږ سلامت لرې . ترمذي.

تخريج سنن الترمذي ۱۴\۵۳۹، رقم: ۲۴۳۵، وابوداود ۵\۱۰۶، رقم: ۴۷۳۹.

تشریح: شعار، چي ژباړه يې د نښې سوې ده په اصل کي هغه خاص اصطلاحي لفظ يا جملې ته وايي چي فوجيان يې په خپلو کي د يو بل پېژندني لپاره، يا سفر کوونکي يې د سفر په دوران کي د يو بل د پېژندي لپاره استعمالوي، د قيامت په ورځ به پر پل صراط باندي د تېرېدو په وخت کي د مؤمنانو د شناخت لپاره رب سلم سلم (پروردګاره موږ وساتې) الفاظ پر ژبه وي او د هر امت خلک به چي د خپل پيغمبر او رسول پيروان وه، ددغه الفاظو په ويلو سره وړاندي ځي مګر صحيح خبره داده چي داسي د پېژندني الفاظ به يوازي د مؤمنانو کاملينو شعار وي يعني باعمل علماء، شهداء او صالحين چي هغوئ ته به د انبياؤ او رسولانو د پيروۍ په صدقه کي د شفاعت مرتبه تر لاسه وي.

ابن مردويه رحمه الله د بي بي عائشې رضي الله عنها څخه مرفوعا نقل کړي دي چي د قيامت په ورځ کله چي خلک د قبرو څخه پاڅول کيږي نو هغه وخت د مؤمنانو شعار (لااله الاالله وعلى الله فليتوكل المؤمنين) وي او شيرازي رحمه الله د عائشې رضي الله عنها دغه روايت نقل کړی دی چي د قيامت په ورځ به د هغه ورځي په سختو تيارو کي د مؤمنانو شعار (لا اله الاانت) وي.

د ګناه کبيره شفاعت يوازي ددغه امت لپاره خاص دی

﴿۵۳۵۹﴾: وَعَنْ أَنَسٍ اَنَّ النَّبِيَّ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ قَالَ شَفَاعَتِي لِأَهْلِ الْكَبَائِرِ مِنْ أُمَّتِي. رواه الترمذي و ابوداؤد و رواه ابن ماجه عن جابر.

د حضرت انس رضي الله عنه څخه روايت دئ چي رسول الله صلى الله عليه وسلم وفرمايل: زما شفاعت به د کبيره ګناهونو لپاره خاص وي (يعني بل هيڅ يو پيغمبر به د ګناه کبيره شفاعت نه سي کولای). ترمذي. ابوداؤد او ابن ماجه د حضرت جابر رضي الله عنه څخه روايت کوي.

تخريج: سنن الترمذي ۵۳۹\۴، رقم: ۲۴۳۵. وابوداود ۱۰۶\۵.

تشریح: مطلب دا چي د لويو ګناهونو د بخښني لپاره زما شفاعت به يوازي زما د امت د هغه خلکو لپاره خاص وي، د نورو خلکو لپاره به نه وي، طيبي رحمه الله ويلي دي دلته چي د کوم شفاعت يادونه ده د هغه څخه مراد هغه شفاعت دی چي د عذاب څخه د خلاصون لپاره به وي کنه نو شفاعت په درجو او اکرام کي د زياتوب لپاره وي چي د اتقياء، اولياء او صالحينو په اړه هم ثابت دی.

د شفاعت ثبوت او ډولونه: د شفاعت په اړه چي کومي اصولي خبري د باب په پيل کي تېري سوي دي، له هغو څخه د يو څو نقل کول مناسب معلوميږي، لومړی خبره داده چي د اهل

سنتو په نزد د قیامت په ورځ شفاعت کول ددغه آیت څخه ثابت دي :

يَوْمَئِذٍ لاَّ تَنفَعُ الشَّفَاعَةُ إِلاَّ مَنْ أَذِنَ لَهُ الرَّحْمَنُ وَرَضِيَ لَهُ قَوْلاً.

ژباړه: په هغه ورځ به د چا شفاعت کول ګټه نه کوي مګر د هغه چا چي الله ﷻ اجازه ورکړي او د هغه خبره خوښه کړي .

په دې اړه زیات حدیثونه نقل سوي دي چي د هغو په یو ځای کولو سره تواتر ته رسیږي ځکه ټول سلف صالحین، صحابه کرام، تابعین، تبع تابعین او ائمه مجتهدین او نور ، او د ټولو اهل سنتو پر دې اجماع او اتفاق دی ، مګر د خوارجو او معتزلو ځیني ډلي ددې منکر دي او هغوئ د قیامت په ورځ د شفاعت قائل نه دي .

دوهمه خبره داده چي د شفاعت پنځه ډولونه دي :

١. لومړی ډول هغه دی چي یوازي د رسول الله ﷺ لپاره خاص وي، ددغه شفاعت حق او اجازه به بل چا ته تر لاسه نه وي او دا شفاعت به هغه وي چي د هغه تعلق به د ټولو خلکو د موقف د پریشانیو څخه په خلاصون ورکولو سره د حساب او کتاب ژر پیل کولو لپاره وي .

٢. دوهم ډول هغه دی چي ځیني خلک به بېله حسابه په جنت کي د داخلولو لپاره وي او ددغه شفاعت ثبوت هم یوازي زموږ د رسول الله ﷺ لپاره منقول دی .

٣. دریم ډول هغه دی چي د هغه خلکو لپاره وي چي هغوئ به د دوږخ مستحق ګرځول سوي وي نو په هغوئ کي چي د کومو خلکو لپاره الله ﷻ وغواړي د هغوئ شفاعت به زموږ رسول ﷺ کوي.

۴. څلورم ډول هغه دی چي د هغه خلکو لپاره به وي چي هغوئ به د ګناهو په بدل کي په دوږخ کي اچول سوي وي نو ددغه خلکو د شفاعت لپاره چي کوم حدیثونه منقول دي د هغو څخه ثابتیږي چي هغه خلک به د رسول الله ﷺ، ملائکو او خپلو مسلمانانو وړونو له خوا د کېدونکي شفاعت په نتیجه کي له دوږخ څخه په را ایستلو سره جنت ته ورسول سي . او بیا په پای کي به خپله الله ﷻ د خپل رحمت په وجه هغه خلکو ته د دوږخ څخه خلاصون ورکړي چا چي لااله الاالله ویلي وي،

۵. پنځم ډول هغه دی چي د هغوئ تعلق په جنت کي د اهل جنت په درجو کي د لوړتیا او اکرام د زیاتوب لپاره وي .

د رسول الله ﷺ شان رحمت

﴿۵۳۶۰﴾: وَعَنْ عَوفِ بْنِ مَالِكٍ قَالَ قَالَ رَسُولُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ أَتَانِي آتٍ مِنْ عِنْدِ رَبِّي فَخَيَّرَنِي بَيْنَ أَنْ يُدْخِلَ نِصْفَ أُمَّتِي الْجَنَّةَ وَبَيْنَ الشَّفَاعَةِ فَاخْتَرْتُ الشَّفَاعَةَ وَهِيَ لِمَنْ مَاتَ لَا يُشْرِكُ بِاللهِ شَيْئًا. رواه الترمذي وابن ماجه.

د حضرت عوف بن مالک رضي الله عنه څخه روايت دئ چي رسول الله ﷺ وفرمايل: د الله تعالى د لوري څخه به ما ته يوه ملائکه راغله او ما ته يې د دې اختيار راکړ چي يا خو زه د خپل نيم امت په جنت کي داخليدل و منم يا شفاعت اختيار کړم نو ما شفاعت غوره کړی او زما شفاعت به د هر هغه سړي لپاره وي چي هغه تر مرګه پوري د الله تعالى سره هيڅ شی شريک کړی نه وي. ترمذي او ابن ماجه.

تخريج: سنن الترمذي ۴\۵۴۱، رقم: ۲۴۴۱، وابن ماجه ۲\۱۴۴۴، رقم: ۴۳۱۷.

د شفاعت ذکر

﴿۵۳۶۱﴾: وَعَنْ عَبْدِاللهِ بْنِ أَبِي الْجَدْعَاءِ قَالَ سَمِعْتُ رَسُولَ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ يَقُولُ يَدْخُلُ الْجَنَّةَ بِشَفَاعَةِ رَجُلٍ مِنْ أُمَّتِي أَكْثَرُ مِنْ بَنِي تَمِيمٍ. رواه الترمذي والدارمي وابن ماجه.

د حضرت عبدالله بن ابي جدعاء رضي الله عنه څخه روايت دی چي ما د رسول الله ﷺ څخه واوريدل چي زما د امت د يو کس سفارش سره به د بني تميم قبيلې د خلکو د تعداد څخه زيات خلک په جنت کي داخل سي. ترمذي، دارمي او ابن ماجه.

تخريج: سنن الترمذي ۴\۵۴۰، رقم: ۲۴۳۸، وسنن الدارمي ۲\۴۲۳، رقم: ۲۸۰۸، وابن ماجه ۲\۱۴۴۳، رقم: ۴۳۱۶.

تشريح: بني تميم د يوې لوی قبيلې نوم وو چي د هغه قبيلې خلک د زياتوب په اعتبار د مثال

په توګه يادېدل، خلاصه دا چي کله ددغه امت د يو نيک سړي د شفاعت په نتيجه کي دومره زيات خلک په جنت کي داخلېږي نو اندازه لګول کيږي چي په دغه امت کي به دنيکو خلکو شمېر څومره زيات وي او په هغوئ کي به هر يو شفاعت کوي نو ددغه ټولو د شفاعت په نتيجه کي دامت محمدي دخلکو څومره لوی شمېر به په جنت کي داخل کړل سي.

ځينو حضراتو د امت يو سړی متعين کړی دی او ويلي يې دي چي ددې څخه د حضرت عثمان رضي الله عنه ذات مراد دی، ځينو د حضرت اويس قرني رحمة الله عليه نوم اخيستی دی او ځينو ويلي دي چي دغه تعين مشکل دي او هر سړی مراد کېدای سي دا قول زين العرب د حديث مفهوم ته زيات نژدې ګرځولی دی.

《۵۳۶۲》: وَعَنْ أَبِي سَعِيدٍ أَنَّ رَسُولَ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ قَالَ إِنَّ مِنْ أُمَّتِي مَنْ يَشْفَعُ لِلْفِئَامِ وَمِنْهُمْ مَنْ يَشْفَعُ لِلْقَبِيلَةِ وَمِنْهُمْ مَنْ يَشْفَعُ لِلْعَصَبَةِ وَمِنْهُمْ مَنْ يَشْفَعُ لِلرَّجُلِ حَتَّى يَدْخُلُوا الْجَنَّةَ. رواه الترمذي

د حضرت ابو سعيد رضي الله عنه څخه روايت دئ چي رسول الله صلى الله عليه وسلم وفرمايل: زما په امت کي به ځيني خلک وي چي د څو ډلو سفارش به کوي او ځيني به د يوې قبيلې سفارش کوي او ځيني به د يو عصبه نسبي کورنۍ او ځيني به يوازي د يوه سړي تر دې چي زما ټول امت به په جنت کي داخل سي. ترمذي.

تخريج: سنن الترمذي ۴\ ۵۴۱، رقم: ۲۴۴۰.

د لغاتو حل: الفئام: هو الجماعة من الناس (د خلګو ډله).

تشريح قبيله يوې لوی کورنۍ يا د يوه پلار د څو پښتيو زامنو ته وايي مګر په عامه توګه ددغه لفظ اطلاق پر ډېرو خلکو باندي کيږي او عصبه د لس څخه تر څلوېښت پوري ډلې ته وايي.

د حساب او کتاب څخه پرته جنت ته تلونکي

《۵۳۶۳》: وَعَنْ أَنَسٍ قَالَ قَالَ رَسُولُ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ إِنَّ اللَّهَ عَزَّ

د حضرت انس رضي الله عنه څخه روايت دئ چي رسول الله صلى الله عليه وسلم وفرمايل: الله تعالى

وَجَلَّ وَعَدَنِي أَنْ يَدْخُلَ الْجَنَّةَ مِنْ أُمَّتِي أَرْبَعِمِائَةِ أَلْفٍ بِلَا حِسَابٍ فَقَالَ أَبُو

زما سره وعده کړې ده چي هغه به زما د امت څلور لکه کسان بې حسابه په جنت کي داخل کړي،

بَكْرٍ زِدْنَا يَا رَسُوْلَ اللهِ قَالَ وَهٰكَذَا فَحَثَا بِكَفَّيْهِ وَجَمَعَهُمَا فَقَالَ أَبُوْ بَكْرٍ زِدْنَا

حضرت ابوبکر رضی اللہ عنہ عرض وکړ اې د الله رسوله! زموږ شمیر نور زیات کړئ، رسول الله ﷺ وفرمایل: او دومره نور، ددې فرمایلو سره رسول الله ﷺ د خپلو دواړو لاسونو مبارکو څخه لپه جوړه کړه او خلکو ته یې وښودل، حضرت ابوبکر رضی اللہ عنہ بیا وویل اې د الله رسوله! زموږ شمیر

يَا رَسُوْلَ اللهِ قَالَ وَهٰكَذَا فَقَالَ عُمَرُ دَعْنَا يَا أَبَابَكْرٍ فَقَالَ أَبُوْ بَكْرٍ وَمَا عَلَيْكَ

نور هم زیات کړئ، رسول الله ﷺ بیا لپه جوړه کړه او وه یې فرمایل او دومره نور، حضرت عمر رضی اللہ عنہ وویل: اې ابوبکر! موږ پر خپل حال پرېږده (یعني چي موږ عبادت وغیره وکړو) ابوبکر رضی اللہ عنہ ورته وویل:

أَنْ يُّدْخِلَنَا اللهُ كُلَّنَا الْجَنَّةَ فَقَالَ عُمَرُ إِنَّ اللهَ عَزَّوَجَلَّ إِنْ شَاءَ أَنْ يُّدْخِلَ

نور هم زیات کړئ، رسول الله ﷺ بیا لپه جوړه کړه او وه یې فرمایل او دومره نور، حضرت عمر رضی اللہ عنہ وویل: اې ابوبکر! موږ پر خپل حال پرېږده (یعني چي موږ عبادت وغیره وکړو) ابوبکر رضی اللہ عنہ ورته وویل که الله تعالی موږ ټول په جنت کي داخل کړي نو په دې ستا څه تاوان دی؟ حضرت عمر رضی اللہ عنہ ورته وویل: که الله تعالی خپل ټول

خَلْقَهُ الْجَنَّةَ بِكَفٍّ وَّاحِدٍ فَعَلَ فَقَالَ النَّبِيُّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ صَدَقَ عُمَرُ. رواه في شرح السنة.

مخلوق په یو موټ ډکولو سره یا په یو وار جنت کي داخلول غواړي نو داخلولای یې سي. نبي کریم ﷺ وفرمایل: عمر ریښتیا وویل. شرح السنه.

تخریج البغوي في شرح السنة ١٥\ ١٦٣، رقم: ۴۳۳۵.

تشریح د دې په اورېدو سره رسول الله ﷺ دواړه لاسونه یو ځای کړل او لپه یې جوړه کړل، یعني د حضرت ابوبکر رضی اللہ عنہ په غوښتنه رسول الله ﷺ خپل دواړه لاسونه په لپه کولو سره هغه ته وړاندي کړه او وه یې فرمایل چي دومره نور زیاتوم، زیات صحیح دادی چي د رسول الله ﷺ لپه جوړول او دا فرمایل چي ښه دومره نور زیات، دا په اصل کي د الله جل جلالہ د فعل د حکایت په توګه

وو يعني دا ظاهرول مقصد وو چي ما بې شمېره جنت ته د تلونکو ذکر سوی شمېر په ټاکل سوې توګه بيان کړی نه دی بلکه د دغه شمېر څخه زياتوب مراد دی، ايا تاسو ته معلومه نه ده چي الله ﷻ د لپي په ډکولو سره يعني بې شمېره او زيات خلک به په جنت کي داخل کړي ځکه د حديث شارحينو ويلي دي چي رسول الله ﷺ په دغه وخت کي د لپي جوړولو مثال ددې لپاره اختيار کړ چي په خلاص زړه سره د ورکونکي شان دا وي چي کله هغه ته د زيات ورکولو غوښتنه وکړل سي نو هغه د شمېر څخه پرته په لپه ډکولو سره بې شمېره ورکوي، بيا د لپي په ډکولو سره ورکول په اصل کي يو مثال دی چي د زيات ورکولو لپاره ويل کيږي.

په دغه حديث کي د حضرت ابوبکر صديق رضي الله عنه او حضرت عمر فاروق رضي الله عنه د تعلق سره چي څه ذکر سوي دي د هغه څخه دا نه ثابتيږي چي په ذکر سوې مسئله کي د دواړو په منځ کي ذهني او فکري اختلاف وو بلکه خبره يوازي داده چي حضرت ابوبکر صديق رضي الله عنه څه وويل هغه د عجز، خاکسارۍ او د الله ﷻ د رحمت څخه د پوره اميد او غوښتني په توګه وو، او حضرت عمر رضي الله عنه چي څه وويل هغه د حکمت او رضا په توګه وو، ځکه رسول الله ﷺ د دواړو دخبرو لحاظ وساتی، مخکي يې د حضرت ابوبکر صديق رضي الله عنه غوښتنه د منلو وړ وګرځول او هغه ته يې هغه جواب ور نه کړ کوم چي د حضرت عمر رضي الله عنه په تصديق کولو سره د هغه خبري ته يې په خوښي سره وکتل، دا خبره يو بل ډول هم کېدای سي چي رسول الله ﷺ د حضرت ابوبکر صديق رضي الله عنه د غوښتني مثبت جواب ورکولو سره دا ظاهره کړل چي د عمل پر لاره روانېدو او دين ته په متوجه کېدو کي يو لوی دخل د زيری هم دی نو رسول الله ﷺ دغه زيری، چي الله ﷻ به ډېر بې شمېره په جنت کي داخل کړي او زياته پراختيا يې ورکړل، بيا رسول الله ﷺ د حضرت عمر رضي الله عنه د تصديق کولو لپاره دې ته اشاره وفرمايل چي عمر رضي الله عنه کومه خبره کړې ده هغه زيری دی بلکه د لوړني زيري څخه هم زيات زيری دی، په دې اعتبار د دواړو ما في الضمير يو وو.

ګناه کار خلک به څرنګه خپل شفاعت کوي

﴿۵۳۶۴﴾: وَعَنْهُ قَالَ قَالَ رَسُولُ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ يَصُفُّ اَهْلُ النَّارِ

د حضرت انس رضي الله عنه څخه روايت دئ چي رسول الله ﷺ وفرمايل: دوږخيان به صف تړلي ولاړ

فَيَمُرُّ بهم الرَّجُلُ مِنْ أَهْلِ الْجَنَّةِ فَيَقُولُ الرجل يَا فُلَانُ أَمَا تعرفني انا

وي چي يو جنتي به د هغوئ مخته تېر سي د هغه صف څخه به يو دوږخي هغه مخاطب کړي

ورته به وايي ته ما پيژنې زه هغه سړى وم چي

الذي سقيتك شربة وقال بعضهم انا الذي وهبت لك وضوء فيشفع له فيدخله الجنة. رواه ابن ماجه.

پر تا باندي مي اوبه چېښلي وې، يو بل سړي به ورته وايي زه هغه سړى يم چي د اودس لپاره مي تا ته اوبه درکړي وې هغه جنتي به يې سفارش وکړي او جنت ته به يې بوځي. ابن ماجه.

تخريج سنن ابن ماجه ۲\۱۲۱۵، رقم: ۳٦۸۵.

تشريح ددې څخه څرګنده سوه چي فاسق او ګناه کار که په دنيا کي د ديندار او متقي خلکو خدمت او مرسته وکړي نو د هغه غوره ثمره به په آخرت کي تر لاسه کړي او د هغوئ په مرسته او تعلق سره به په جنت کي داخل کړل سي.

مظهر رحمة الله عليه ويلي دي: د رسول الله ﷺ ددغه ارشاد په ذريعه دې ته ترغيب ورکړل سوى دى چي د خپلو مسلمانانو وړونو په خاصه توګه د بزرګانو او نيکانو سره ښه چلن او احسان کول پکار دي او کله چي دهغوئ ملګرتيا په برخه سي نو د هغه د اختيارولو موقع دي غنيمت ګڼي ځکه چي د هغوئ ملګرتيا په دنيا کي د ښکلا او پاکۍ او په آخرت کي د نور تر لاسه کېدو سبب دى.

د الله جل جلاله د رحمت دوه مظاهر

۵۳٦۸: وَعَنْ أَبِي هُرَيْرَةَ أَنَّ رَسُولَ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ قَالَ إِنَّ رَجُلَيْنِ

حضرت ابو هريره رضي الله عنه څخه روايت دئ چي رسول الله ﷺ وفرمايل: کوم خلک چي په دوږخ

مِمَّنْ دَخَلَ النَّارَ اشْتَدَّ صِيَاحُهُمَا فَقَالَ الرَّبُّ عَزَّ وَجَلَّ أَخْرِجُوهُمَا فَلَمَّا

کي داخل سي په هغوئ کي به دوه کسان زيات شور کوي، الله تعالى به حکم ورکړي چي دوئ

أُخْرِجَا قَالَ لَهُمَا لِأَيِّ شَيْءٍ اشْتَدَّ صِيَاحُكُمَا قَالَا فَعَلْنَا ذَلِكَ لِتَرْحَمَنَا قَالَ

را وباسئ. کله چي هغه حاضر سي نو الله تعالى به پوښتنه وکړي تاسو ولي چغي وهئ، هغوئ به وايي موږ ځکه چغي وهو چي پر موږ رحم وکړل سي، الله تعالى به ورته وفرمايي

إِنَّ رَحْمَتِي لَكُمَا أَنْ تَنْطَلِقَا فَتُلْقِيَا أَنْفُسَكُمَا حَيْثُ كُنْتُمَا مِنَ النَّارِ فَيَنْطَلِقَانِ

زما رحم ستاسو لپاره دادی چي تاسو بيرته ولاړ سئ په کوم ځای کي چي تاسو پراته واست هلته ځان په اور کي واچوئ،

فَيُلْقِي أَحَدُهُمَا نَفْسَهُ فَيَجْعَلُهَا عَلَيْهِ بَرْدًا وَسَلَامًا وَيَقُومُ الْآخَرُ فَلَا يُلْقِي

يو خو به سمدستي په دغه حکم عمل وکړي يعني خپل ځان به په اور کي وغورځوي چي الله تعالی به يې يخ او د امن ځای جوړ کړي (د هغه لپاره)، او دويم سړی به دد ې حکم تعميل نه

نَفْسَهُ فَيَقُولُ لَهُ الرَّبُّ عَزَّ وَجَلَّ مَا مَنَعَكَ أَنْ تُلْقِيَ نَفْسَكَ كَمَا أَلْقَى صَاحِبُكَ

کوي ، الله تعالی به د هغه څخه پوښتنه وکړي تا خپل ځان په اور کي ولي ونه غورځوی لکه څرنگه چي ستا ملګري غورځولی دی ؟ هغه به وايي زه اميد لرم چي د کوم ځای څخه تا را ايستلی يم هلته به مي بيا نه ليږې ،

فَيَقُولُ يَا رَبِّ إِنِّي لَأَرْجُو أَنْ لَا تُعِيدَنِي فِيهَا بَعْدَ مَا أَخْرَجْتَنِي فَيَقُولُ لَهُ الرَّبُّ لَكَ رَجَاؤُكَ فَيَدْخُلَانِ جَمِيعًا الْجَنَّةَ بِرَحْمَةِ اللَّهِ. رواه الترمذي.

الله تعالی به ورته وفرمايي ښه ده ستا چي کوم اميد وو هغه ستا لپاره پوره کړل سو نو الله تعالی به دواړه په خپل رحمت سره په جنت کي داخل کړي. ترمذي.

تخريج : سنن الترمذي ۴\۶۱۵، رقم: ۲۵۹۹.

تشريح ستاسو په اړه زما رحمت دادی چي تاسو بېرته ولاړ سئ.....الخ: په دې اړه دا سوال پيدا کيږي چي دوږخ ته په بېرته تللو سره او اور ته سپارل په کوم اعتبار په رحمت سره تعبير کيږي. ددې مختصر جواب دادی چي دغه ارشاد د سبب پر مسبب باندي د حمل کولو طرز سره تعلق لري، ددې خبري وضاحت دادی چي دغه خلک به په دوږخ کي د هغوئ د تصور په بدله کي داخل کړل سي چي هغوئ ته ددې خبري د اطاعت د حکم په ذريعه چي هغوئ دوږخ ته بېرته په تللو سره خپل ځان اور ته سپاري ، په دغه ويلو به خبرداری ورکول کيږي چي د الله ﷻ د رحمت وړ هغه څوک دی چي په هر حالت کي د هغه د حکم پيروي او فرمانبرداري کوي .

او الله ﷻ به هغه اور د هغه لپاره يخ کړي، ددې څخه معلومه سوه چي کوم څوک د يو آفت

او مصيبت د امتحان په وخت کي د صبر او استقامت لار اختيار کړي نو الله ﷻ د هغه آفت او مصيبت آسانه کوي او ختموي يې کوم چي د هغه په وجه تکليف تر لاسه کوي.

تا چي کوم اميد درلودی، هغه ستا په حق کي پوره کيږي، ددې څخه ثابته سوه چي د بنده د پروردګار څخه امېد درلودل د هغه د ورکړي او کرم په تر لاسه کولو کي ډېر مؤثر دی که څه هم بنده د خپل عجز او ناتوانۍ په سبب د اطاعت او فرمانبردارۍ د دائرې څخه وتلی وي.

پر پل صراط باندي د تېرېدو حکم

﴿۵۳۶۶﴾: وَعَنِ ابْنِ مَسْعُوْدٍ قَالَ قَالَ رَسُوْلُ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ يَرِدُ

د حضرت ابن مسعود رضي الله عنه څخه روايت دئ چي رسول الله ﷺ وفرمايل: (پر پل صراط تيريدو

النَّاسُ النَّارَ ثُمَّ يَصْدُرُوْنَ مِنْهَا بِأَعْمَالِهِمْ فَأَوَّلُهُمْ كَلَمْحِ الْبَرْقِ ثُمَّ كَالرِّيْحِ

سره به) خلک اور ته ننوځي بيا به د خپل اعمال صالحه سره سم د هغه څخه خلاصون تر لاسه کړي، په هغوئ کي کوم خلک چي تر ټولو غوره وي هغوئ به د بريښنا د ځلا په ډول پر پل

ثُمَّ كَحُضْرِ الْفَرَسِ ثُمَّ كَالرَّاكِبِ فِيْ رَحْلِهِ ثُمَّ كَشَدِّ الرَّجُلِ ثُمَّ كَمَشْيِهِ. رواه الترمذي والدارمي.

صراط تير سي ځيني به د هواء په ډول، ځيني به د تيزو آسونو په ډول، ځيني به د اوښ د سپور په ډول، ځيني به د سړي د ځغاستي په ډول او ځيني به د پياده تلونکي په ډول. ترمذي او دارمي.

تخريج: سنن الترمذي ۵\۲۹۷، رقم: ۳۱۵۹، وسنن الدارمي ۲\۴۲۴، رقم: ۲۸۱۰.

د لغاتو حل: كحُضر الفرس: اي جريه، وهو العدو الشديد (سخت دېښمن)

اَلْفَصْلُ الثَّالِث (دريم فصل)

د حوض کوثر پر اخوالی

﴿۵۳۶۷﴾: عَنِ ابْنِ عُمَرَ أَنَّ رَسُوْلَ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ قَالَ إِنَّ أَمَامَكُمْ

د حضرت ابن عمر رضي الله عنهما څخه روايت دئ چي رسول الله ﷺ وفرمايل: (د قيامت په ورځ) ستاسي

حَوْضِيْ ما بين جنبيه كَمَا بَيْنَ جَرْبَاءَ وَأَذْرُحَ قال بعض الرواة هُمَا قَرْيَتَانِ

په وړاندي زما حوض دی چي د هغه د دواړو غاړو فاصله دومره ده لکه څومره چي د جرباء او اذرح په منځ کي فاصله ده د ځيني راويانو بيان دي چي جرباء او اذرح

بِالشَّامِ بَيْنَهُمَا مَسِيْرَة ثَلَاث لَيَال وَفِي رواية فِيهِ أَبَارِيقُ كَنُجُومِ السَّمَاءِ مَنْ وَرَدَهُ فَشَرِبَ مِنْهُ لَمْ يَظْمَأْ بَعْدَهَا أَبَدًا. متفق عليه.

په شام کي دوې ابادۍ دي، چي د هغوئ په منځ کي د درو شپو مزل فاصله ده او په يوه روايت کي دا الفاظ دي چي په دغه حوض کي د اوبو د لوښو شمير د آسمان د ستورو برابر دی، څوک چي دغه حوض ته راسي او د دغه څخه اوبه وڅښي بيا به هيڅکله نه تږی کيږي، بخاري او مسلم.

تخريج: صحيح البخاري (فتح الباري): ١١\٤٧٣، رقم: ٦٥٧٧، ومسلم ٤\١٧٩٧، رقم: ٣٤-٢٢٩٩.

تشريح: ځينو محققينو ليکلي دي چي د شام په هيواد کي جربا د يو کلي نوم دی چي په اصل کي اذرح ته نژدې واقع دی ، نو دا ويل صحيح نه دی چي د جربا او اذرح په منځ کي د درو ورځو مسافت دی، په دغه صورت کي د حديث مفهوم پيچيده کيږي ځکه محدثينو دا تحقيق کړی دی چي د دغه حديث د يو راوي په وهم کي اخته کېدو په وجه هغه الفاظ نقل نه سول چي د هغه څخه د حوض کوثر پراختيا ثرګندول مقصد وو، نو د دار قطني د روايت په لېدو سره د دې خبري تائيد کيږي چي داسي دي، يعني زما د حوض د دواړو غاړو درمياني فاصله دومره ده څومره چي د مدينې او جربا او اذرح په منځ کي فاصله ده .

شفاعت او د پل صراط يادونه

﴿٥٣٦٨﴾: وَعَنْ حُذَيْفَةَ وَأَبِي هُرَيْرَةَ قَالَ قَالَ رَسُولُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ

د حضرت حذيفه او ابو هريره (رضي الله عنهما) څخه روايت دئ چي رسول الله ﷺ وفرمايل :

يَجْمَعُ اللهُ تَبَارَكَ وَتَعَالَى النَّاسَ فَيَقُومُ الْمُؤْمِنُونَ حَتَّى تُزْلَفَ لَهُمُ الْجَنَّةُ

الله تعالى به د قيامت په ورځ خلک يو ځای کړي ، بيا به مؤمنان پر يو ځای ولاړ وي او جنت به هغوئ ته نژدې راوستل سي

فَيَأْتُونَ آدَمَ فَيَقُولُونَ يَا أَبَانَا اسْتَفْتِحْ لَنَا الْجَنَّةَ فَيَقُولُ وَهَلْ أَخْرَجَكُمْ مِنْ

بیا به خلک آدم علیه السلام ته راسي ورته به وايي اې زموږ بابا جانه! زموږ لپاره د جنت خلاصولو طلب وکړه، آدم علیه السلام به ورته وايي تاسو خو د جنت څخه ستاسو

الْجَنَّةِ إِلَّا خَطِيئَةُ أَبِيكُمْ آدَمَ لَسْتُ بِصَاحِبِ ذَلِكَ اذْهَبُوا إِلَى ابْنِي إِبْرَاهِيمَ

د پلار خطا ایستلي یاست، زه د دې کار لائق نه یم تاسو زما زوی ابراهیم علیه السلام ته ورسئ

خَلِيلِ اللَّهِ قَالَ فَيَقُولُ إِبْرَاهِيمُ لَسْتُ بِصَاحِبِ ذَلِكَ إِنَّمَا كُنْتُ خَلِيلًا مِنْ وَرَاءَ

نو هغوئ به ابراهیم علیه السلام ته راسي هغه به ورته وايي زه د دې کار لائق نه یم زه د نن څخه مخکي د الله تعالی دوست وم

وَرَاءَ اعْمِدُوا إِلَى مُوسَى صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ الَّذِي كَلَّمَهُ اللَّهُ تَكْلِيمًا فَيَأْتُونَ

تاسو موسی علیه السلام ته ورسئ چي الله تعالی ورسره کلام کړی دی، هغوئ به موسی علیه السلام ته راسي

مُوسَى صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ فَيَقُولُ لَسْتُ بِصَاحِبِ ذَلِكَ اذْهَبُوا إِلَى عِيسَى كَلِمَةِ

هغه به ورته وايي زه د دې کار لائق نه یم تاسو عیسی علیه السلام ته ورسئ هغه د الله کلمه او روح ده،

اللَّهِ وَرُوحِهِ فَيَقُولُ عِيسَى صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ لَسْتُ بِصَاحِبِ ذَلِكَ فَيَأْتُونَ

هغوئ چي ورسي نو هغه به ورته وايي زه د دې کار لائق نه یم، آخر خلک به حضرت محمد ﷺ ته

مُحَمَّدًا صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ فَيَقُومُ فَيُؤْذَنُ لَهُ وَتُرْسَلُ الْأَمَانَةُ وَالرَّحِمُ

راسي نو محمد ﷺ به ولاړ سي نو هغه ته به ورته وسي، بیا به امانت او رحم را ولیږل سي او

فَتَقُومَانِ جَنَبَتَيِ الصِّرَاطِ يَمِينًا وَشِمَالًا فَيَمُرُّ أَوَّلُكُمْ كَالْبَرْقِ قَالَ قُلْتُ بِأَبِي أَنْتَ

هغوئ دواړه به د پل صراط راسته او چپه خوا ته ودرېږي او د پل صراط څخه به تېرېدل پیل سي د ټولو څخه مخکي ډله به د برېښنا په ډول تېر سي، د ابوهریره رضی الله عنه بیان دی چي ما پوښتنه وکړه اې د الله رسوله! زما مور او پلار دې پر تاسو قربان وي

وَأُمِّي أَيُّ شَيْءٍ كَمَرِّ الْبَرْقِ قَالَ أَلَمْ تَرَوْا إِلَى الْبَرْقِ كَيْفَ يَمُرُّ وَيَرْجِعُ فِي طَرْفَةِ

د برېښنا په ډول به څنګه تېر سي، رسول الله ﷺ وفرمایل: ایا ته نه وینې چي د برېښنا څلا

ځنګه تیریږي او د سترګو په رپ کي بیرته راسي ،

عَيْنٍ ثُمَّ كَمَرِّ الرِّيحِ ثُمَّ كَمَرِّ الطَّيْرِ وَشَدِّ الرِّجَالِ تَجْرِي بِهِمْ أَعْمَالُهُمْ وَنَبِيُّكُمْ

بیا رسول الله ﷺ وفرمایل: ددې ځنځه وروسته به خلک د هواء په ډول تیر سي بیا به د مرغانو په ډول تیر سي بیا د خلکو د ځغاستي په ډول به تیر سي او دا رفتار به د هغوئ د اعمالو سره سم وي، او ستاسو نبي ﷺ به

قَائِمٌ عَلَى الصِّرَاطِ يَقُولُ رَبِّ سَلِّمْ سَلِّمْ حَتَّى تَعْجِزَ أَعْمَالُ الْعِبَادِ حَتَّى يَجِيءَ

پر پل صراط ولاړ دا وايي (رب سلم سلم) يعني اې الله (موږ) سلامت لرې ، موږ سلامت لرې ، تر دې چي د بندګانو اعمال به عاجزه سي (يعني داسي خلک به پاته سي چي د هغوئ د اعمالو د قوت رفتار به سست سي او هغوئ به پر پل صراط نه سي تيريدلای ، نو يو سړی به

الرَّجُلُ فَلَا يَسْتَطِيعُ السَّيْرَ إِلَّا زَحْفًا قَالَ وَفِي حَافَتَيِ الصِّرَاطِ كَلَالِيبُ مُعَلَّقَةٌ

په ځکیدو راسي ، ددې ځنځه وروسته رسول الله ﷺ وفرمایل د پل صراط دواړو خواوو ته به انبورونه زړېدلي وي

مَأْمُورَةٌ تَأْخُذُ مَنْ أُمِرَتْ بِهِ فَمَخْدُوشٌ نَاجٍ وَمَكْدُوسٌ فِي النَّارِ وَالَّذِي نَفْسُ أَبِي هُرَيْرَةَ بِيَدِهِ إِنَّ قَعْرَ جَهَنَّمَ لَسَبْعِينَ خَرِيفًا. رواه مسلم.

هغو ته به حکم ورکړل سوی وي چي هغه څوک ونیسي چي د هغه د نیولو حکم سوی وي نو هغه انبور به ځیني خلک نوکاري کړي خو بیرته به ځیني خلاص سي او ځیني به لاس او پښې تړلي په دوږخ کي وغورځول سي ، په هغه ذات دې مي قسم وي چي د هغه په قبضه کي د ابوهريره ساده ده د دوږخ ژوروالی د اويا کالو د لاري برابر دی. مسلم.

تخريج صحيح مسلم ۱۸٦\۱، رقم: ۳۲۹ - ۱۹۵.

دلغاتو حل : تزلف: اي تغرب. (لويږي)

تشريح جنت به هغوئ ته نژدې کړل سي، ددغه جملې په ذريعه د سورة تکوير دغه آيت ته اشاره ده : وَإِذَا الْجَنَّةُ أُزْلِفَتْ ، عَلِمَتْ نَفْسٌ مَّا أَحْضَرَتْ .

ژباړه: او د قيامت په ورځ به د حشر په ميدان کي جنت نژدې راوستل سي بيا به هر سړي ته

ځرګنده سي چي هغه څه راوړي دي.

حضرت ابراهيم عليه السلام به هم هغوئ ته دا جواب ورکړي چي زه ددغه کار وړ نه يم ...الخ: په دې اړه يو شارح ليکلي دي چي حضرت ابراهيم عليه السلام به دا خبره د تواضع او خاکسارۍ په توګه وکړي چي زه ددغه لوړي درجې وړ نه يم يا د هغه مطلب به دا وي چي د پروردګار له خوا ما ته چي کوم فضيلت، ځانګړتيا او عزت راکړل سوى دى هغه د حضرت جبرائيل عليه السلام په واسطه ما ته رارسېدلى دى نو تاسو موسى عليه السلام ته ورسئ چي هغه ته ورکړل سوى فضيلت، ځانګړتيا او عزت يعني د پروردګار سره د خبرو د سعات بېله واسطې تر لاسه سوى دى مګر هغه به هم داسي جواب ورکړي . نو هغه خلک به محمد ﷺ ته ورسي، دلته ددې وېلو پر ځاى چي هغه خلک به ما ته راسي ، رسول الله ﷺ د خپل نوم مبارک ذکر کړ او وه يې فرمايل چي هغه خلک به محمد ﷺ ته راسي، ددې وجه داده چي په محمد کي د حمد معنى ده او ددې په ذريعه دې ته اشاره کول مقصد دي چي رسول الله ﷺ به هغه ورځ پر مقام محمود باندي ولاړ وي چي د شفاعت مقام دى. يوه ډله چي ستاسو ټولو څخه وړاندي به تېره سي ...الخ: په دې اړه صحيح خبره داده چي ددغه طبقې څخه د انبياء عليهم السلام طبقه مراد ده مګر دا هم ويل کيداى سي چي ددغه امت د اولياؤ او صالحانو طبقه مراد وي.

د دوږخ څخه په ايستلو سره جنت ته رسيدونکي خلک به ځرنګه تازه او توانا سي

﴿۵۳۶۹﴾: وَعَنْ جَابِرٍ قَالَ قَالَ رَسُولُ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ يَخْرُجُ مِنَ النَّارِ قوم بِالشَّفَاعَةِ كَأَنَّهُمُ الثَّعَارِيرُ قُلْنا مَا الثَّعَارِيرُ قَالَ اِنَّهُ الضَّغَابِيسُ. متفق عليه.

د حضرت جابر رضي الله عنه څخه روايت دئ چي رسول الله ﷺ وفرمايل : د يو شفاعت په سبب به د دوږخ څخه يو ډله را وايستل سي فکر به کيږي چي هغوئ ثعارير دي ، موږ عرض وکړ ثعارير څه ته وايي ؟ رسول الله ﷺ وفرمايل : هغه خوشايي (سوځيدلي) دي. (يعني لکه ځرنګه چي خوشايي سوځيدلي دي همداسي به دا خلک هم سوځيدلي راووځي او په نهر حيوة کي د لويدلو سره به تازه سي) . بخاري او مسلم.

تخريج صحيح البخاري (فتح الباري): ۱۱\۴۱۶، رقم: ۶۵۵۸، ومسلم ۱\۱۷۸، رقم: ۳۱۸- ۱۹۱.

د لغاتو حل : الثعارير: جمع ثعر، صغار القثاء، شبهوا بها لان القثاء ينمو سريعا.

تشريح: بادرنګ د ضغابيس ژباړه ده، مطلب دا چي کله هغه خلک د دوږخ د اور څخه را وايستل سي نو هغوئ به په سوځېدو سره اړېږ سوي وي مګر کله چي د حيات په وياله کي غوټه ورکړل سي نو هغوئ به سمدستي تازه او توانا سي لکه څرنګه چي بادرنګ يا بل زرغون بوټی ژر لوی او شين کيږي.

کوم کسان به شفاعت کوي

﴿۵۳۷۰﴾: وَعَنْ عُثْمَانَ بْنِ عَفَّانَ قَالَ قَالَ رَسُولُ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ يَشْفَعُ يَوْمَ الْقِيَامَةِ ثَلَاثَةٌ الْأَنْبِيَاءُ ثُمَّ الْعُلَمَاءُ ثُمَّ الشُّهَدَاءُ. رواه ابن ماجه

د حضرت عثمان بن عفان رضي الله عنه څخه روايت دئ چي رسول الله ﷺ وفرمايل: د قيامت په ورځ به درې ډوله خلک شفاعت کوي: لومړی انبياء عليهم السلام، بيا عالمان او بيا شهيدان. ابن ماجه.

تخريج: سنن ابن ماجه ۲\۱۴۴۳، رقم: ۴۳۱۳.

تشريح: او بيا شهيدان، دلته چي کوم عطف دی ددې څخه دا ثابتيږي چي باعمل علماء د شهيدانو څخه افضل دي، ددې دليل هغه حديث دی کوم چي شيرازي رحمة الله عليه نقل کړی دی: (يوزن يوم القيامة مداد العلماء على دم الشهداء)، د قيامت په ورځ به د علماؤ رنګ د شهيدانو د وينو سره تلل کيږي نو د شهيدانو پر وينه به د علماؤ رنګ دروند سي.

څرګنده دي وي چي په ذکر سوي حديث کي شفاعت کوونکي درې ډولو خلکو تخصيص محض د هغوئ د فضيلت په وجه دی، په مسلمانانو کي ټولو نيکو خلکو ته به د شفاعت حق تر لاسه وي لکه چي په دې اړه نقل سوي ډېر مشهور حديثونه ثابت دي که د هغه شفاعت تعلق د ګناهو د بخښني سره وي يا د مراتبو او درجو په لوړتيا کي وي او د شفاعت څخه انکار څرګند بدعت او ګمراهي ده لکه چي خوارج او معتزلو اختيار کړی دی.

==========

بَابُ صِفَةِ الْـجَنَّةِ وَاَهْلِهَا

(د جنت او جنياتو د حالاتو بيان)

په صراح كي ليكلي دي چي د جنت معنى د باغ ده، جنت په اصل كي د پټولو په معنى كي دى، په دې مناسبت سره د دغه لفظ اطلاق پر سايه لرونكو درختو باندي كېدى چي خپل لاندي شى په خپله سايه كي پټوي. بيا دغه لفظ د باغ په معنى كي استعمالېدل پيل سول چي د سايه لرونكو درختو ټولگي دي، بيا په پاى كي دغه لفظ د ثواب او انعام ځاى يعني جنت لپاره مخصوص سو، نو جنت ته جنت په دې اعتبار ويل كيږي چي هلته درختي او باغونه دي چي هر شى په خپل لمن كي پټوي.

اَلْفَصْلُ الْأَوَّلُ (لومړى فصل)

د جنت ذكر

﴿۵۳۲۱﴾: عَنْ أَبِي هُرَيْرَةَ قَالَ قَالَ رَسُولُ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ قَالَ اللّٰهُ

د حضرت ابو هريره رضي الله عنه څخه روايت دئ چي رسول الله ﷺ وفرمايل: الله تعالى فرمايلي دي:

أَعْدَدْتُ لِعِبَادِي الصَّالِحِينَ مَا لَا عَيْنٌ رَأَتْ وَلَا أُذُنٌ سَمِعَتْ وَلَا خَطَرَ عَلَى

ما د خپل نيكو بندګانو لپاره هغه شى تيار كړى دى چي تر ننه پوري نه يوې ستركي ليدلى دى او نه يو غوږ اوريدلى دى او نه

قَلْبِ بَشَرٍ وَاقْرَءُوا إِنْ شِئْتُمْ فَلَا تَعْلَمُ نَفْسٌ مَا أُخْفِيَ لَهُمْ مِنْ قُرَّةِ أَعْيُنٍ.

متفق عليه.

د يو انسان په زړه كي د هغه خيال تير سوى دى، كه تاسو د دې تصديق غواړئ نو دا آيت ووايا ست: (فلا تعلم نفس ما اخفي لهم من قرة اعين). (هيڅوك هغه شى نه پيژني چي هغه د نيكانو لپاره پټ ساتل سوى دى او د ستركو د يخوالي سبب دى). بخاري او مسلم

تخريج صحيح البخاري (فتح الباري): ٦\ ٣١٨. رقم: ٣٢٤۴، ومسلم ۴\ ٢١٧۴، رقم: ٢- ٢٨٢۴.

تشريح نه يوې ستركي ... الخ: په دې اړه هم دا احتمال دى چي هغه شى يعني د جنت مظاهر

شکل او صورت آوازونه مراد دي ، مطلب دا چي هلته کوم لوړ مظاهر وي او هلته چي کوم شکلونه اوصورتونه ښکاره کیږي هغه مناظر او شکلونه اوصورتونه په دغه دنیا کي نه دي لیدل سوي او نه هیڅ ځای لیدل کیږي، همدارنګه د هغه ځای په اوازونو کي چي کوم خوږوالی دی هغسي خواږه اوازونه په دنیا کي تر ننه پوري یوه غوږ هم نه دي اورېدي او همدارنګه هلته چي کوم مدارات وي ، کوم نعمتونه او خوندونه تر لاسه کیږي د هغه تصور هم په دنیا کي تر ننه پوري د هیچا په زړه کي راتللای نه سي ، او نه د هغه تصور کیدای سي،

په آیت کي چي کوم شی د سترګو په یخوالي سره تعبیر سوی دی د هغه څخه آرام، راحت او مقصد تر لاسه کول دي ، څرګنده دي وي چي د سترګو په یخوالي کي د قرة لفظ په اصل کي د قر څخه اخیستل سوی دی چي د هغه معنی د ثبات او قرار ده، سترګه چي خپل محبوب شی وینی نو قرار ترلاسه کوي او همدانګه ډاډه کیږي چي بلي خوا ته نه مائل کیږي، ددې پر خلاف کله چي سترګه ناخوښه شی ویني او د هغه محبوب شی مخته نه وي نو هغه پریشانه وي لکه چي یو شی ور څخه ورک سوی وي او یوې خوا ته د قرار تر لاسه کولو پر ځای آخوا دېخوا کتل پیل کړي او د راحت او اطمینان په حالت کي سترګو ته عجیبه کیفیت او سکون تر لاسه کیږي حال دا چي د خوف او غم په حالت کي هغه متحرک وي .

یا دا چي د قرة لفظ د قر څخه مشتق دی چي د هغه معنی د یخوالي او وچوالي ده، په دغه صورت کي به ویل کیږي چي د سترګو یخوالي څخه مراد هغه خاص لذت او کیف دی چي د محبوب او خوښ شي په لېدو سره او خپل مقصد تر لاسه کولو په وخت کي سترګو ته محسوس کیږي، ددې پر خلاف سترګه چي یو ناخوښه شی او دښمن ویني او د مطلب او مقصد په انتظار کي وي نو هغه وخت یو خاص سوزش او سونګ محسوس کوي، په دې مناسبت سره خوږ اولاد ته قرة العین یعني د سترګو یخوالی ویل کیږي، په یوه حدیث کي داسي راغلي دي چي : جعلت قرة عیني في الصلوة، رسول الله ﷺ وفرمایل: زما د سترګو یخوالی په لمانځه کي اېښودل سوی دی، نو دلته هم د قرة لفظ پر دواړو معنی کیدای سي لکه چي په خپل ځای کي د حدیث په تشریح کي ذکر سوی دی .

د جنت فضیلت

﴿۵۳۷۲﴾ : وَعَنْهُ قَالَ قَالَ رَسُولُ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ مَوْضِعُ سَوْطٍ فِي الْجَنَّةِ خَيْرٌ مِنَ الدُّنْيَا وَمَا فِيهَا. متفق علیه

د حضرت ابو هریره رضي الله عنه څخه روایت دی چي رسول الله ﷺ وفرمایل: په جنت کي د یوې دُرې په اندازه ځای د دنیا او د دنیا د ټولو شیانو څخه غوره دی. بخاري او مسلم

تخريج: صحيح البخاري (فتح الباري): ١٦\١٥، رقم: ٢٧٩٦، لم نجده بهذا اللفظ عند مسلم.

تشریح: د سفر قاعده وه چي کله به یو سپور سړي یو ځای کښېنته کېدل غوښتل نو خپله چلاخه به یې هلته غورځول چي بل سړی هلته کښېنته نه سي او هغه ځای د دغه د کښېنته کېدو لپاره خاص سي، نو د حدیث مطلب دا سو چي د جنت دومره لږ ځای او هلته کوچنی ځای هم چیري چي مسافر په سفر کي کښېنته کیږي د دغه ټولي دنیا او ټولو شیانو څخه زیات ارزښتناکه او ښه دی ځکه چي جنت او د جنت ټول نعمتونه تل پاته کېدونکي دي حال دا چي دنیا او د دنیا ټول شیان فنا کېدونکي دي.

د جنت د حورو تعریف

﴿۵۳۷۳﴾: وَعَنْ أَنَسٍ قَالَ قَالَ رَسُولُ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ غَدْوَةٌ فِي سَبِيلِ

د حضرت انس رضي الله عنه څخه روایت دی چي رسول الله ﷺ وفرمایل: سهار او ماښام د الله تعالی په

اللّٰهِ أَوْ رَوْحَةٌ خَيْرٌ مِنَ الدُّنْيَا وَمَا فِيهَا وَلَوْ أَنَّ امْرَأَةً مِنْ نِسَاءِ أَهْلِ الْجَنَّةِ

لار کي یو وار تلل د دنیا او څه چي په دنیا کي دي تر ټولو غوره دی، او که د جنتیانو د ښځو

اطَّلَعَتْ إِلَى الْأَرْضِ لَأَضَاءَتْ مَا بَيْنَهُمَا وَلَمَلَأَتْ مَا بَيْنَهُمَا رِيحًا وَلَنَصِيفُهَا خَيْرٌ مِنَ الدُّنْيَا وَمَا فِيهَا. رواه البخاري.

څخه یوه ښځه مځکي ته راښکاره سي نو د جنت او مځکي په مینځ کي فاصله به روښانه کړي او دا ټوله فضا به د خوشبویي څخه ډکه کړي او د هغې د سر پوړنی تر دنیا او څه چي په دنیا کي دي تر هغو ټولو غوره دی. بخاري او مسلم

تخريج: صحيح البخاري (فتح الباري): ١٦\١٥، رقم: ٢٧٩٦.

د لغاتو حل: ولنصيفها: ولخمارها.

تشریح: د سهار او ماښام تخصیص د معمول په لحاظ ساتنه دی چي په عامه توګه د فوج او لښکر روانېدل د جنګ په میدان کي د حملې او بل څه لپاره په دغه وختونو کي پیل کیږي، کنه

نو دلته مطلق وخت مراد دی که هغه د سهار او مابنام وخت وي يا بل وخت وي، د الله ﷻ د لاري څخه مراد جهاد هم دی او هجرت هم، همدارنګه حج، د علم تر لاسه کول او د هر هغه مقصد لپاره د کور څخه وتل او سفر کول هم مراد دی چي د هغه مقصد د الله ﷻ د رضا او خوښی تر لاسه کول او بالواسطه يا بېله واسطې د هغه د فرمان حکم پر ځای راوړل وي تر دې چي د خپلي کورنۍ نفقې پوره کولو لپاره او د الله ﷻ عبادت او د احکام الهي پر ځای راوړلو کي اطمينان او د حلال رزق په پلټنه کي وتل او سفر کول هم د الله ﷻ په لاره کي د وتلو مفهوم لري ، خلاصه دا چي د کور په پرېښودو سره په عمل کي مصروف خلکو ته چي کوم فضيلت او مرتبه تر لاسه کيږي د هغه اندازه يوازي ددې څخه لګول کيږي چي کوم څوک محض يو وار هم د الله ﷻ په لاره کي ووځي او د هغه په نتيجه کي هغه ته چي کوم اجر او ثواب تر لاسه کيږي يا هغه ته په آخرت کي کوم نعمتونه تر لاسه کيږي هغه ددغه دنيا او دنيا د ټولو شيانو څخه غوره دي او ذکر د الله ﷻ په لار کي د وتلو د فضيلت وو، چي د هغه اجر د الله ﷻ په نزد جنت دی، په دې مناسبت سره د جنت په نعمتونو کي يو نعمت يو د حوري ښېګڼه هم بيان سوې ده.

د بينهما ضميرونه ختيځ او لويديځ ته ګرځول سوي دي مګر دا ضميرونه آسمان او مځکي ته يا جنت او مځکي ته هم ګرځول کيدای سي ، صحيح خبره داده چي جنت او مځکي تَه راجع وي ځکه چي په عبادت کي هم دغه دواړه صريحا مذکور دي.

د جنت د يوې درختي ذکر

﴿۵۳۷﴾: وَعَنْ اَبِيْ هُرَيْرَةَ قَالَ قَالَ رَسُوْلُ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ إِنَّ فِي الْجَنَّةِ شَجَرَةً يَسِيرُ الرَّاكِبُ فِي ظِلِّهَا مِائَةَ عام لا يقطعها وَلَقَابُ قَوْسِ أَحَدِكُمْ فِي الْجَنَّةِ خَيْرٌ مِمَّا طَلَعَتْ عَلَيْهِ الشَّمْسُ أَوْ تَغْرُبُ. متفق عليه.

د حضرت ابوهريره رضي الله عنه څخه روايت دئ چي رسول الله ﷺ وفرمايل : په جنت کي يوه درخته ده که يو سپور د هغې په سايه کي تر سلو کلو پوري مزل کوي نو هم به هغه سايه ختم نه کړل سي او په جنت کي ستاسو د ليندۍ برابر ځای د هغه ټولو شيانو څخه غوره دی چي پر هغو لمر راخيژي يا لويږي. بخاري او مسلم.

تخريج : صحيح البخاري (فتح الباري): ۶\۳۱۹، رقم: ۳۲۵۲، ومسلم ۴\۲۱۷۵، رقم: ۶-۲۸۲۶.

د لغاتو حل : ولقاب: بمعنى القدر، وانه علامة يعرف بها المسافة بين الشئين.

تشریح چي پر هغه لمر راخیژي او لویږي، ددې څخه مراد ټوله دنیا او د دنیا ټول شیان دي، په راختلو او لوېدو کي د یا حرف یا خو د راوي د شک ظاهرولو لپاره دی یا د حیرت د اظهار لپاره دی یا د اور په معنی کي دي همدارنګه مخکي چي کوم حدیث تېر سوی دی په هغه کي د یوې چلاخي د ځای ذکر دی او دلته د یوې لېندۍ برابر ځای ذکر سوی دی نو د دواړو مفهوم یو دی او دلته هم هغه وضاحت په فکر کي ساتل پکار دي کوم چي مخکي بیان سوی دی مګر دا فرق باید په ذهن کي وي چي د سفر په دوران کي به سپاره سړي د کښېنسته کېدو په ځای کي خپل چلاخه وغورځول او کوم څوک چي به پر پښو وو هغه چي به کوم ځای کښېنسته کېدل غوښتل هلته به یې خپله لینده غورځول چي هغه ځای د هغه د کښېنسته کېدو لپاره خاص سي.

د جنت خېمه

﴿۵۳۷۵﴾: وَعَنْ اَبِيْ مُوْسٰى قَالَ قَالَ رَسُوْلُ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ اِنَّ لِلْمُؤْمِنِ

د حضرت ابو موسی رضی اللہ عنہ څخه روایت دئ چي رسول الله ﷺ وفرمایل: په جنت کي به د مؤمن

فِي الْجَنَّةِ لَخَيْمَةً مِنْ لُؤْلُؤَةٍ وَاحِدَةٍ مُجَوَّفَةٍ عَرْضُهَا. وفي رواية طُولُهَا سِتُّونَ

لپاره د یوې ملغلري یوه خیمه وي چي د هغې عرض به شپېته میله وي (او په یوه روایت کي طول) به یې شپېته

مِيلًا فِي كُلِّ زَاوِيَةٍ مِنْهَا أَهْلٌ مَا يَرَوْنَ الْآخَرِينَ يَطُوفُ عَلَيْهِمُ الْمُؤْمِنُونَ

میله وي، ددې خیمې په هر کونج کي به د هغه بیبیاني وي او د یوه کونج سړی به د بل کونج سړی نه سي لیدلای پر هغوئ باندي به مؤمن بنده ګرځي

وَجَنَّتَانِ مِنْ فِضَّةٍ آنِيَتُهُمَا وَمَا فِيهِمَا وَجَنَّتَانِ مِنْ ذهب آنِيَتُهُمَا وَمَا فِيهِمَا

او د مؤمن لپاره به دوه جنتونه وي چي د هغه لوښي او ټول شیان به د سپینو زرو وي او دوه جنتونه به نور هم وي چي لوښي او شیان به یې د سرو زرو وي

وَمَا بَيْنَ الْقَوْمِ وَبَيْنَ أَنْ يَنْظُرُوا إِلَى رَبِّهِمْ إِلَّا رِدَاءُ الْكِبْرِيَاء عَلَى وَجْهِهِ فِي جَنَّةِ عَدْنٍ. متفق عليه.

او د خلکو او د هغوئ د پروردګار په منځ کي به جنت عدن کي د بزرګۍ او عظمت يوازي يوه پرده حائله وي. بخاري او مسلم.

تخريج: صحيح البخاري (فتح الباري): ٦\٣١٨، رقم: ٣٢٤٣، ومسلم ۴\٢١٨٢، رقم: ٢٣-٢٨٣٨.

تشريح: دا خبره هيڅ ارزښت نه لري، چي زيات صحيح د هغه روايت الفاظ دي چي په هغه کي د هغه خيمې پلنوالی شپېته کوس مسافت په اندازه بيان سوی دی يا د دغه روايت الفاظ زيات صحيح دي چي په هغه کي د خېمې اوږدوالی د شپېته کوس مسافت په اندازه بيان سوی دی، اصل مقصد د هغه پراختيا بيانول دي چي د دواړو روايتونو څخه تر لاسه کېږي که دا وويل سي چي د هغه خيمې پلنوالی د شپېته کوس په اندازه دی نو اندازه لګېدل کېږي چي د هغه اوږدوالی به څومره زيات وي او که دا وويل سي چي د هغه اوږدوالی د شپېته کوس په اندازه وي نو پر دې باندي په قياس کولو سره د هغه پلنوالی هم اندازه کېدای سي.

د کورنۍ څخه مراد ښځه او نور کسان دي، يو شارح ليکلي دي چي د کورنۍ څخه مراد ښځي دي چي هغه مؤمن ته به هلته تر لاسه کېږي او د هغه څخه به خپل جنسي خوند تر لاسه کوي، نو هغه ته به ځي او راځي، د دغه الفاظو په ذريعه دا خبره کنايتا بيانول مقصد دي چي هغه مؤمن به د خپلو ښځو سره جنسي اختلاط کوي.

د دغه حديث څخه دا معلومېږي چي دوه جنتونه به خاص د سپينو زرو او دوه جنتونه به خاص د سرو زرو وي، حال دا چي په يوه روايت کي د جنت د ماڼيو په تعريف کي بيان سوي دي چي په هغه کي کومي خښتي لګېدلي دي د هغه ترتيب به دا وي چي يوه خښته به د سرو زرو وي او يوه به د سپينو زرو وي نو په دغه دواړو روايتو کي تطبيق دا دی چي په لومړني روايت کي د هغه شيانو ذکر دی چي په جنت کي د ننه وي لکه لوښي او نور شيان، نو په يوه جنت کي به ټول شيان د سرو زرو وي او په دوهم جنت کي به ټول شيان د سپينو زرو وي او په دوهم روايت کي د جنت د ماڼيو ښېګڼه بيان سوې ده چي د جنت د هري ماڼي او محل په ديوال کي به د سرو او سپينو زرو خښتي وي.

د جنتونو شمېر او د هغو نومونه

بيهقي رحمة الله عليه ويلي دي، د قرآن کريم او حديثو څخه ثابتېږي چي جنتونه څلور دي، الله جل جلاله په سورة رحمن کي فرمايي:

وَلِمَنْ خَافَ مَقَامَ رَبِّهِ جَنَّتَانِ

ژباړه: او کوم څوک چي د خپل رب په وړاندي دریدو څخه (هر وخت) بیرېږي نو د هغه لپاره دوه جنتونه دي.

تر دې وروسته په آیاتونو کي د دواړو جنتونو تعریف او توصیف بیان سوی دی او بیا فرمايي:

وَمِن دُونِهِمَا جَنَّتَانِ

ژباړه: او د دغه دواړو جنتونو څخه په کمه درجه کي دوه جنتونه نور دي.

د اولو دوو جنتونو په ډول په راتلونکو آیاتو کي د دغه دوو جنتو هم تعریف او توصیف بیان سوی دی، پاته سوه د حدیث خبره نو مخکي د حضرت موسی علیه السلام د روایت دغه الفاظ: جنتان من فضة انیتهما ومافیها وجنتان من ذهب انیتهما او مافیها، پر دې څرګنده دلالت کوي چي جنتونه څلور دي، ددې تائید ددغه روایت څخه کیږي چي جنتان من الذهب للسابقین وجنتان من فضة لاصحاب الیمین، او دا هم کیدای سي چي په آیت کي جنتان دوه جنتونه کوم لفظ دی د هغه څخه د جنت دوه ډوله مراد دي یعني په هغه جنتو کي یو د سرو زرو او بل د سپینو زرو دی، خلاصه دا چي په اصل کي څلور جنتونه دي دوه د سرو زرو چي خاص د مقربینو لپاره دي او دوه د سپینو زرو چي د عامو مؤمنانو لپاره دي مګر دادي هم څرګنده وي چي جنتان که څه هم د تثنیې لفظ دی مګر په ځینو ځایو کي د تثنیې څخه زیاتوب یعني تر دوو زیات شمېر هم مراد وي، ځکه کیدای سي چي د جنتان څخه مراد څلور جنتونه وي او کاملینو ته دوه اصل جنتونو څخه پرته دوه دوه جنتونه نور ورکول کیږي چي د سپینو زرو او سرو زرو وي او هغه جنتونه د ښکلا لپاره د هغه کاملینو د ماڼو چپه خوا ته واقع وي، ددې تائید د هغه روایت څخه هم کیږي چي په هغه کي د جنت تعلق سره اته نومونه ذکر سوي دي او هغه دادي:

١. جنت العدن.
٢. جنت الفردوس.
٣. جنت الخلد.
۴. جنت النعیم.
۵. جنت الماوی.
٦. دار السلام.
٧. دار القرار.
٨. دار المقامه.

او په جنت العدن کي به جنتیانو او پروردګار ته د هغوئ دلېدني ...الخ. ددغه جملې په ذریعه دې ته اشاره سوې ده چي کله جنتیان جنت ته ورسیږي نو د هغه بدني حجاب او طبعي خیرو څخه چي د بنده او پروردګار په منځ کي حائل وي هغه به لیري کړل سي مګر د ذات اقدس او عظمت او هیبت پرده به پاته وي بیا هم الله جَلَّ جَلَالُهُ به په خپل خاص فضل او کرم سره هغه پرده هم پورته کړي یعني نظرونو ته به خپل دیدار ورکړي او جنتیان به خپل رب په خپلو سترګو ویني.

د جنت درجې

﴿۵۳۷۶﴾: وَعَنْ عُبَادَةَ بْنِ الصَّامِتِ قَالَ قَالَ رَسُولُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ

د حضرت عباده بن صامت رضي الله عنه څخه روایت دئ چي رسول الله ﷺ وفرمایل:

فِي الْجَنَّةِ مِائَةُ دَرَجَةٍ مَا بَيْنَ كُلِّ دَرَجَتَيْنِ كَمَا بَيْنَ السَّمَاءِ وَ الْأَرْضِ

په جنت کي سل درجې دي په هغو کي د هر دوو درجو په منځ کي دومره فاصله ده لکه څومره چي د آسمان او مځکي په منځ کي فاصله ده

وَالْفِرْدَوْسُ أَعْلَاهَا دَرَجَةً وَمِنْهَا تُفَجَّرُ أَنْهَارُ الْجَنَّةِ الْأَرْبَعَةُ وَمِنْ فَوْقِهَا

او فردوس د جنت تر ټولو اعلی درجه ده او ددغه فردوس څخه د جنت څلور ویالې وځي او د

يَكُونُ الْعَرْشُ فَإِذَا سَأَلْتُمُ اللهَ فَسَلُوهُ الْفِرْدَوْسَ. رواه الترمذي و لم اجده في الصحيحين ولا في كتاب الحميدي.

فردوس سربیره عرش الهي دی، هر کله چي تاسو د الله جَلَّ جَلَالُهُ څخه جنت غواړئ نو جنت فردوس ځیني غواړئ، ترمذي، مګر ما په مسلم، بخاري او د حمیدي په کتاب کي دا حدیث نه دی لیدلی.

تخریج: سنن الترمذي ۵۸۳\۴، رقم: ۲۵۳۱.

تشریح: په سلو درجو کي د سل شمېر د تعین او تحدید لپاره نه دی بلکه د زیاتوب لپاره هم کیدای سي، ددې تائید د بي بي عائشې رضي الله عنها ددغه مرفوع روایت څخه هم کیږي چي بیهقي نقل کړی دی او په هغه کي د جنت د درجو شمېر د قرآن کریم د آیاتو برابر بیان سوی دی، د روایت الفاظ دادي: عدد درج الجنة عدد اي القرآن فمن دخل الجنة من اهل القران فليس فوقه درجة، او دا هم ممکن ده چي د سلو څخه دغه خاص شمېر مراد وي، او ددې په ذریعه د جنت د زیاتو

درجو څخه یوازي هغه سل درجې بیانول مقصد وي چې په هغه کي د هر دوو درجو درمیاني فاصله د ذکر سوي فاصلې څخه کمه یا زیاته وي، دیلمي مسند په فردوس کي د حضرت ابو هریره رضی اللہ عنہ څخه دا مرفوع روایت نقل کړی دی چي په جنت کي یوه درجه هغه ده چي هغه ته د اصحاب هموم څخه پرته بل هیڅوک نه رسیږي.

فردوس د جنت نوم دی او دا نوم په قرآن کریم کي په دې توګه راغلی دی:

هُمُ الْوَارِثُونَ الَّذِينَ يَرِثُونَ الْفِرْدَوْسَ هُمْ فِيهَا خَالِدُونَ .

ژباړه: دا پاک کرداره خلک چي په تېرو آیاتونو کي ذکر سول، وارثان به سي یعني د فردوس میراث به تر لاسه کړي او په هغه کي به د تل لپاره اوسیږي.

د څلورو ویالو څخه مراد اوبه، شیدې، عسل او د شرابو هغه ویالې دي چي د هغو یادونه د قرآن کریم په دغه آیت کي سوې ده:

فِيهَا أَنْهَارٌ مِّن مَّاء غَيْرِ آسِنٍ وَأَنْهَارٌ مِن لَّبَنٍ لَّمْ يَتَغَيَّرْ طَعْمُهُ وَأَنْهَارٌ مِّنْ خَمْرٍ لَّذَّةٍ لِّلشَّارِبِينَ وَأَنْهَارٌ مِّنْ عَسَلٍ مُّصَفًّى .

ژباړه: په جنت کي به ډیري ویالې د داسي اوبو وي چي په هغه کي به هیڅ تغیر نه وي او ډېري ویالې به د شېدو وي چي د هغه خوند به هیڅ بدل سوی نه وي او ډیري ویالې به د شرابو وي چي څښونکي ته به ډېر خوندور معلومیږي او ډیري ویالې به د عسلو وي چي پاک او صاف به وي.

د فردوس سربېره عرش دی، دا ددې خبري دلیل دی چي فردوس تر ټولو جنتونو افضل او سربېره دی او د هغه سربېره یوازي عرش دی ځکه رسول الله ﷺ خپل امت ته په تقلین کولو سره وفرمایل چي کله د الله جل جلالہ څخه جنت غواړئ نو د فردوس جنت غواړئ چي تر ټولو غوره او تر ټولو لوړ جنت تاسو ته په برخه سي.

د روایت په پای کي د مشکوة مؤلف دغه الفاظ (او ما دغه حدیث نه په صحیحینو کي تر لاسه کړی دی ....الخ) په ذریعه په اصل کي پر صاحب مصابیح باندي دا اعتراض کړی دی چي هغه دغه حدیث په لومړي فصل کي نقل کړی دی چي په هغه کي یوازي د بخاري او مسلم متن وي او نه د دواړو کتابونو مجموعه په کتاب حمیدي کي، نو دغه حدیث د اول فصل پر ځای په دوهم فصل کي راوړل پکار وه، پر صاحب مصابیح باندي د مشکوة د مؤلف اعتراض دا دی چي ځینو شارحینو لیکلي دي چي دغه حدیث په بخاري کي دوه ځایه موجود دی یو خو په کتاب الجهاد کي او بل کان عرشه علی الماء، باب کي، په صحیح مسلم کي هم د فضل جهاد في سبیل

الله، په باب کي موجود دی .

د جنت بازار

﴿۵۳۷۷﴾: وَعَنْ أَنَسٍ قَالَ قَالَ رَسُولُ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ إِنَّ فِي الْجَنَّةِ

د حضرت انس رضی الله عنه څخه روایت دئ چي رسول الله ﷺ وفرمایل : په جنت کي

لَسُوقًا يَأْتُونَهَا كُلَّ جُمُعَةٍ فَتَهُبُّ رِيحُ الشَّمَالِ فَتَحْثُو فِي وُجُوهِهِمْ وَثِيَابِهِمْ

یو بازار دی چي په هغه کي به هره جمعه جنتیان یو ځای کیږي او هلته به شمالي هواء چلیږي نو د جنتیانو پر مخونو او جامو باندي به خوشبويي واچوي

فَيَزْدَادُونَ حُسْنًا وَجَمَالًا فَيَرْجِعُونَ إِلَى أَهْلِيهِمْ وَقَدْ ازْدَادُوا حُسْنًا وَجَمَالًا

او ددې په سبب به د هغوئ په حسن او ښکلا کي زیاتوالی وسي بیا هر کله چي هغوئ خپلو بیبیانو ته ولاړ سي

فَيَقُولُ لَهُمْ أَهْلُوهُمْ وَاللّٰهِ لَقَدْ ازْدَدْتُمْ بَعْدَنَا حُسْنًا وَجَمَالًا فَيَقُولُونَ وَأَنْتُمْ وَاللّٰهِ لَقَدْ ازْدَدْتُمْ بَعْدَنَا حُسْنًا وَجَمَالًا . رواه مسلم .

نو د هغوئ بیبیاني به ورته وایي قسم په خدای زموږ څخه د تګ وروسته تاسو په حسن او جمال کي زیات سوي یاست ددې په جواب کي به ورته هغوئ وایي قسم په خدای او زموږ څخه وروسته ستاسو حسن او جمال هم زیات سوی دی . مسلم.

تخریج : صحیح مسلم: ۲۱۷۸\۴، رقم: ۱۳- ۲۸۳۳.

د لغاتو حل : فتحثوا : ای تنثر تلک الریح المسک وانواع الطیب.

تشریح: د بازار څخه مراد د حسن او ښکلا مرکز دی چي هلته به جنتیان جمع کیږي او ډول ډول ښکلي او ښائسته شکلونه به موجود وي او هر جنتي به د خپل خوښي او خواهش سره سم چي کوم شکل او صورت غواړي اختیاروي .

د هري جمعې څخه مراد هره اونۍ ده یعني په اونۍ کي به یوه ورځ هلته خلک جمع کیږي او د اونۍ څخه هم حقیقي اونۍ مراد نه ده ځکه چي په جنت کي به نه لمر وي او د ورځي او شپې ګردش به تل یو ډول وي نو د اونۍ په اندازه وخت مراد دی .

د شمالي هواء څخه مراد هغه هواء ده چي زيات وختونه د قبلې خوا ته په مخ كولو سره ودريږي نو د راسته لاس له خوا راسي دې ته اتري هواء هم وايي مگر دلته په حديث كي داسي هواء مراد ده چي په عربو كي ورته شمال يا شمالي ويل كيږي، دغه هواء د شمال څخه چليږي او د يخو هيوادو او بحر احمر څخه راځي ځكه ډېره يخه وي او شمالي هواء ورته ويل كيږي.

جنتيان به د هغه تفريح څخه په راتللو سره د خپلي كورنۍ حسن او ښكلا زيات ويني نو د هغه سبب به دا وي چي هغه شمالي هواء د هغه كورنۍ ته هم رسيږي او د هغه په وجه به د هغوئ په ښكلا كي زياتوب وسي، يادا چي هغه جنتيان به د تفريح د ځاى څخه د خپل زيات حسن او ښكلا سره خپلو كورونو ته راسي نو د هغوئ حسن او ښكلا به د هغوئ پر كورنۍ لويږي چي په هغه سره به هغوئ ټول هم د مخكي په نسبت زيات ښكلي او جميل معلوميږي.

د جنت د نعمتونو ذكر

﴿۵۳۷۸﴾: وَعَنْ أَبِي هُرَيْرَةَ قَالَ قَالَ رَسُولُ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ إِنَّ أَوَّلَ

د حضرت ابو هريره رضي الله عنه څخه روايت دئ چي رسول الله ﷺ وفرمايل: كوم خلك چي تر ټولو

زُمْرَةٍ يَدْخُلُونَ الْجَنَّةَ عَلَى صُورَةِ الْقَمَرِ لَيْلَةَ الْبَدْرِ ثُمَّ الَّذِينَ يَلُونَهُمْ كَاشَدِّ

مخكي به په جنت كي داخل سي هغوئ به (په ښكلا كي) د څوارلسمي شپې د سپوږمۍ په ډول وي، د هغوئ څخه وروسته چي كومه ډله داخله سي هغوئ به

كَوْكَبٍ دُرِّيٍّ فِي السَّمَاءِ إِضَاءَةً قلوبهم على قلب رجل واحد لَا اخْتِلَافَ

د ځلانده ستوري په ډول وي چي د لمر او سپوږمۍ څخه كم او د نورو ستورو څخه به زيات ځلانده وي د دوئ زړونه به په مثل د يو سړي د زړه وي نه به په منځ د دوئ كي اختلاف وي

بَيْنَهُمْ وَلَا تَبَاغُضَ لِكُلِّ امرئ مِنْهُمْ زَوْجَتَانِ مِنَ الْحُورِ الْعِينِ يُرَى مُخُّ

او نه بغض او عداوت وي، په جنت كي به د هر جنتي دوې ښځي د حور عين (د غټو سترګو) څخه وي چي د حسن له جهته به

سُوقِهِنَّ مِنْ وَرَاءِ الْعَظْمِ وَاللَّحْمِ مِنَ الْحُسْنِ يُسَبِّحُونَ اللّٰهَ بُكْرَةً وَعَشِيًّا

د هغوئ د پنډيو مغز به په غوښه او هډوكو كي معلوميږي، جنتيان به سهار او ماښام تسبيح

وايي د خداى ﷻ لپاره،

لَا يَسْقَمُونَ وَلَا يَبُولُونَ وَلَا يَتَغَوَّطُونَ وَلَا يَتْفُلُونَ ولا يَمْتَخِطُونَ آنِيَتُهُمُ

نه به ناروغ كيږي نه به واړه او نه به لوى بولي ورته راځي، نه به ناړي توكي او نه به پزه سوڼ كوي، د جنتيانو لوښي به

الذَّهَبُ وَالْفِضَّةُ وَأَمْشَاطُهُمُ الذَّهَبُ وَوَقُودُ مَجَامِرِهِمُ الْأَلُوَّةُ وَرَشْحُهُمُ

د سرو زرو او سپينو زرو وي، د هغوئ ږمونځي به د سرو زرو وي، د هغوئ د بلولو شى به خوشبوداره لرګى وي د هغوئ خوله به

الْمِسْكُ عَلَى خَلْقِ رَجُلٍ وَاحِدٍ عَلَى صُورَةِ أَبِيهِمُ آدَمَ سِتُّونَ ذِرَاعًا فِي السَّمَاءِ.

متفق عليه.

مشک وي او ټول جنتيان به د يو سړي په سيرت او عادت وي او په شكل او صورت كي به د خپل پلار حضرت آدم عليه السلام په ډول وي د هغوئ قد به شپيته ګزه لوړ وي. بخاري او مسلم

تخريج: صحيح البخاري (فتح الباري): ٦\٣١٨، رقم: ٣٢٤٥، ومسلم ٤\٢١٧٩، رقم: ١٥- ٢٨٣٤.

د لغاتو حل: مخ: جمع الساق اى مخ غطامهن. الالوه: هو العود الهندي (عود هندي).

تشريح: حور په اصل كي د حوراء جمع ده او حوراء هغه ښكلي ښځي ته وايي چي د هغې د ستركو سپينوالى او توروالى ډېر سپين او تور وي، عين د عيناء جمع ده چي معنى يې د غټو ستركو والا ښځي ده، مخكي د دوهم فصل په پاى كي يو روايت راځي چي په هغه كي دا فرمايل سوي دي چي تر ټولو د ادنا درجې جنتي به هغه وي چي د هغه به اوويا ښځي وي، حال دا چي دلته د دوو ښځو يادونه ده نو ددغه دواړو روايتو په منځ كي دمطابقت پيدا كولو لپاره ويل كيږي چي دلته په حديث كي يوازي دا ښودل مقصد دي چي د حورعين څخه به دوې ښځي داسي وي چي دهغوئ ښكلا او جمال به تر ټولو زيات وي تر دې چي دهغوئ د پنډيو هډوكي به معلوميږي، ځركنده ده چي دا خبره ددې خلاف نه ده چي هر جنتي ته به د هغه نوعيت د دوو بيبيانو څخه پرته نوري ډيري بيبياني هم تر لاسه سي.

د هغوئ د بلولو شى به خوشبوداره لرګى وي، مطلب دادى چي دلته په دنيا كي د سوځلو

شیان سکاره او داسي نور وي او د خوشبويي تر لاسه کولو لپاره یو خوشبويي لرونکي لرگی سوځل کیږي مگر په جنت کي به پېلوزی خوشبوداره لرگی وي، څرگنده دي وي چي د وقود معنی د پېلوزي ده یعني لرگي او داسي نور شیان چي په هغه سره اور بلیږي.

مجامر په اصل کي د مجمر جمع ده چي معنی يې د هغه شي ده چي په هغه کي د اور بلولو لپاره اور اېښودل کیږي یعني بخاری، نغری او داسي نور، دغه لفظ د میم په زېر سره دی مگر دمیم په زور سره منقول دی ، اُلوة، د الف په زور او پېښ سره، د خوشبويي لرونکي لرگي په معنی دی چي د دود کولو لپاره استعمالیږي، په (علی خلق رجل) کي د خلق لفظ د خاء په پېښ سره دی او په معنی کي يې دا اعتبار ساتل سوی دی ، په دغه صورت کي به علی صورة ابیهم یوه بېله جمله وي چي د هغه مقصد د جنتیانو د سېرت بیانولو څخه وروسته د هغوئ شکل او صورت بیانول دي، مگر په ځینو روایتو کي دغه لفظ د خاء په زور سره منقول دی چي د هغه معنی به دا وي چي هغه ټول جنتیان به د یوه سړي شکل او صورت ولري ، په بنکلا کي به یو ډول وي او یو عمر والا به وي مگر ټول به د دېرش یا درو دېرش کالو په عمر کي وي، په دغه صورت کي به ویل کیږي چي د علی صورة ابیهم، جمله د خپلي لومړنۍ جملې (علی خلق رجل واحد) د وضاحت او بیان لپاره ده، دا خبره باید په ذهن کي وي چي مخکنی روایت هم صحیح دی او زېر والا روایت هم صحیح دی.

جنتیانو ته به د تشو او ډکو بولو کولو حاجت نه وي

﴿۵۳۷۹﴾: وَعَنْ جَابِرٍ قَالَ قَالَ رَسُولُ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ إِنَّ أَهْلَ الْجَنَّةِ

د حضرت جابر ﷺ څخه روایت دئ چي رسول الله ﷺ وفرمایل : جنتیان به په جنت کي

يَأْكُلُونَ فِيهَا وَيَشْرَبُونَ وَلَا يَتْفُلُونَ وَلَا يَبُولُونَ وَلَا يَتَغَوَّطُونَ وَلَا يَمْتَخِطُونَ

خوراک او څښاک کوي ، نه به توکي نه به کوچنۍ او غټي بولي کوي او نه به پزه سوڼ کوي.

قَالُوا فَمَا بَالُ الطَّعَامِ قَالَ جُشَاءٌ وَرَشْحٌ كَرَشْحِ الْمِسْكِ يُلْهَمُونَ التَّسْبِيحَ وَالتَّحْمِيدَ كَمَا تُلْهَمُونَ النَّفَسَ. رواه مسلم.

صحابه کرامو پوښتنه وکړه د خوراک پالتو مواد به چیري ځي؟ رسول الله ﷺ ورته وفرمایل: د اروړمی په ډول او خوله به سي چي دمشکو په ډول خوشبویه به سي او څرنگه چي تاسو ته په

طبعي توګه سره ساه اخيستل ښودل سوي دي همداسي به جنتيانو ته تسبيح او تحميد په طبعي توګه سره د هغوئ په زړونو کي اچول سوي وي. مسلم.

تخريج: صحيح مسلم: ۴\ ۲۱۸۰، رقم: ۱۸- ۲۸۳۵.

د لغاتو حل: جُشاء: وهو تنفس المعدة من الامتلاء. (تهغ)

تشريح: د خوراک پالتو مواد به د اربړمی په ډول او خوله سي، ددې مطلب دادی چي څرنګه د قدرت نظام په دغه دنيا کي دخوراک د پالتو شيانو د اخراج لپاره د لويو بولو ضرورت اېښی دی همدارنګه به په جنت کي د جنتيانو د خوراک د پالتو شيانو د اخراج لپاره اربړمی او خوله ذريعه وګرځول سي چي ټول پالتو شيان به د هواء او خولې په جوړېدو سره د اربړمی په صورت کي وځي او د اربړمی صورت به يا خو داشخاصو او اوقاتو په اعتبار بېل بېل وي چي ځيني وختونه يا د ځينو اشخاصو پالتو شيان به د هواء په جوړېدو سره د اربړمی په صورت کي وځي او ځيني وختونه يا د ځينو اشخاصو پالتو شيان به دخولې په صورت کي وځي، يا دا چي د ځينو خوراک به په اربړمی جوړېدو سره وځي او د ځينو خوراک به د خولې په ګرځېدو سره وځي، مګر په دې اړه صحيح او غوره وينا داده چي اربړمی به د خوراک د پالتو شيانو د وتلو ذريعه جوړه سي او خوله به د اوبو د پالتو شيانو د ايستلو ذريعه وي،

لکه څرنګه چي ساه جاري ده، ددې مطلب دادی چي څرنګه د ساه د تګ راتګ لړۍ د څه تکليف يا کوښښ څخه پرته په خپله جاري ده همدارنګه تسبيح، تحميد او ذکر به د جنتيانو پر ژبه جاري وي، يا دا مراد دی چي څرنګه د معمولي ساه د تګ راتګ په وجه تاسو ته څه تکليف او پرېشاني نه وي او پر تاسو بار نه وي همدارنګه به جنتيان په تسبيح او تحميد کي په بوختيا سره د څه شي خنډ نه ګرځي، خلاصه دا چي د جنتيانو د هري ساه سره به د الله ﷻ شکر او ذکر متعلق وي.

د جنتيانو همېشه عيش او ارام

﴿۵۳۸۰﴾: وَعَنْ أَبِي هُرَيْرَةَ قَالَ قَالَ رَسُولُ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ مَنْ يَدْخُلُ الْجَنَّةَ يَنْعَمُ لَا يَبْأَسُ لَا تَبْلَى ثِيَابُهُ وَلَا يَفْنَى شَبَابُهُ. رواه مسلم.

د حضرت ابوهريره رضی الله عنه څخه روايت دئ چي رسول الله ﷺ وفرمايل: څوک چي په جنت کي داخل سي هغهٔ به آرام او خوشحاله وي فکر او غم به ورته نه راځي نه به يې جامې زړېږي او نه به

يې ځواني ختميږي . مسلم

تخريج: صحيح مسلم: ۴\۲۱۸۱، رقم: ۲۱– ۲۸۳۵۶.

تشريح: جنت د خپلو ټولو نعمتونو او راحتو سره دار القرار والشباب دی، يعني هلته هيڅ نعمت او راحت ته زوال او فناه نسته او نه هلته په آرام ژوند کي غم، فکر ، تبديلي او د تاوان بېره وي.

﴿۵۳۸۱﴾: وَعَنْ أَبِي سَعِيدٍ الْخُدْرِيِّ وَأَبِي هُرَيْرَةَ قَالا ان رسول الله صلى الله

د حضرت ابوسعيد او ابوهريره رضي الله عنهما څخه روايت دئ چي رسول الله ﷺ وفرمايل:

عليه وسلم قَالَ يُنَادِي مُنَادٍ إِنَّ لَكُمْ أَنْ تَصِحُّوا فَلَا تَسْقَمُوا أَبَدًا وَإِنَّ لَكُمْ

په جنت کي به اعلان کونکی اعلان وکړي چي تاسو به روغ اوسئ او هيڅکله به نه ناروغ کيږئ

أَنْ تَحْيَوْا فَلَا تَمُوتُوا أَبَدًا وَإِنَّ لَكُمْ أَنْ تَشِبُّوا فَلَا تَهْرَمُوا أَبَدًا وَإِنَّ لَكُمْ أَنْ تَنْعَمُوا فَلَا تَبْأَسُوا أَبَدًا. رواه مسلم.

، او همېشه به ژوندي ياست هيڅکله به نه مړه کيږئ او همېشه به ځوانان ياست او هيڅکله به نه سپين ږيري کيږئ او تاسو به په خوشحالي او آرام سره ياست فکر او غم به هيڅکله نه وي . مسلم

تخريج: صحيح مسلم: ۴\۲۱۸۲، رقم: ۲۲– ۲۸۳۷.

د جنت د بالاخانو اوسيدونکي

﴿۵۳۸۲﴾: وَعَنْ أَبِي سَعِيدٍ الْخُدْرِيِّ اَنَّ رَسُوْلَ الله صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ قَالَ

د حضرت ابوسعيد خدري رضی الله عنه څخه روايت دئ چي رسول الله ﷺ وفرمايل:

إِنَّ أَهْلَ الْجَنَّةِ يَتَرَاءَوْنَ أَهْلَ الْغُرَفِ مِنْ فَوْقِهِمْ كَمَا يَتَرَاءَوْنَ الْكَوْكَبَ

جنتيان به د ځان سربېره لوړ خلک داسيويني لکه څرنګه چي تاسو هغه ځلانده ستوري وينئ

الدُّرِّيَّ الْغَابِرَ فِي الْأُفُقِ مِنَ الْمَشْرِقِ أَوِ الْمَغْرِبِ لِتَفَاضُلِ مَا بَيْنَهُمْ قَالُوا يَا

چي د طلوع او غروب په وخت کي د آسمان پر غاړه وي او دا بالاخانې د بزرگۍ او د مرتبو د فرق په سبب دي چي د جنتیانو په منځ کي به تر لاسه کیږي، صحابه کرامو عرض وکړ اې

رَسُولَ اللّٰهِ تِلْكَ مَنَازِلُ الْأَنْبِيَاءِ لَا يَبْلُغُهَا غَيْرُهُمْ قَالَ بَلَى وَالَّذِي نَفْسِي بِيَدِهِ رِجَالٌ آمَنُوا بِاللّٰهِ وَصَدَّقُوا الْمُرْسَلِينَ. متفق عليه.

دالله رسوله ! ایا دا بالاخانې به د انبیاؤ ځایونه وي او د انبیاؤ څخه پرته بل څوک به په دې کي دا خلیدلای نه سي ، رسول الله ﷺ وفرمایل : هو په هغه ذات دي مي قسم وي د چا په لاس کي چي زما ساه ده هغې ته به هغه خلک ورتلای سي چي پر الله تعالی یې ایمان راوړی وی او د پیغمبرانو تصدیق یې کړی وي. بخاري او مسلم

تخريج : صحيح البخاري (فتح الباري): ٦\٣٢٠، رقم: ٣٢٥٦، ومسلم ٤\٢١٧٧، رقم: ١١- ٢٨٣١.

د لغاتو حل : الغرف: جمع غرفة والمراد القصور العالية في الجنة.

تشريح : د غابر لفظ په اصل کي د غبور څخه مشتق دی چي معنی یې د پاته کېدو ده، او دلته هغه ځلانده ستوری مراد دی چي لوېدو ته نژدې وي، یا د صبح صادق راختلو څخه وروسته د آسمان په غاړه کي پاته سوی وي، په یوه روایت کي د غایر لفظ منقول دی چي د غور څخه دی او معنی یې د کښته ځای ده مگر صحیح او مشهور لومړنی روایت دی چي په هغه کي غابر نقل سوی دی.

او د هغه تعلق به د فرق مراتب سره وي...الخ: مطلب دا دی چي په جنتیانو کي به دا فرق د مرتبو په لحاظ وي چي ځیني به د لوړي درجې وي او ځیني به د درمیانه درجې وي او ځیني به د ادنا درجې وي، او په دې اعتبار ټولو ته به محلات او ځایونه او مراتب لوړ، درمیاني او ادنا ورکول کیږي، علماؤ لیکلي دي چي په جنت کي به منزلونه وي ، لوړ منزل چي د سابقینو لپاره ، درمیانی منزل د مقصدینو لپاره او لاندینی منزل به د مختلطینو لپاره وي.

څوک چي پر الله ﷻ ایمان راوړي او د رسولانو تصدیق وکړي یعني هغه اولیاء، اتقیاء چي ایمان بالله او اتباع رسول کي کامل وي او د الله ﷻ او رسولانو احکام او اوامر منلو او دهغوئ له خوا د منع شیانو څخه پرهیز کوونکي وي او دهغوئ تعریف د قرآن کریم په دغه آیت کي دی : وعباد الرحمن الذين يمشون على الارض هونا. ژباړه: او د رحمان خاص بندگان هغه دي چي پر ځمکه باندي په عاجزۍ سره گرځي....

دلته دا خبره سوې ده او بیا د هغوئ مختلف د لوړو صفاتو بیانولو څخه وروسته د هغوئ په اړه دا زیری ورکړل سوی دی :

اولئک یجزون الغرفة بما صبرو . داسي خلکو ته په جنت کي د اوسېدو لپاره بالاخانې ورکول کیږي په وجه د هغوئ د ثابت قدمی .

د یو څو جنتیانو ذکر

﴿۵۳۸۳﴾ : وَعَنْ أَبِي هُرَيْرَةَ قَالَ قَالَ رَسُولُ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ يَدْخُلُ الْجَنَّةَ أَقْوَامٌ أَفْئِدَتُهُمْ مِثْلُ أَفْئِدَةِ الطَّيْرِ . رواه مسلم .

د حضرت ابو هریره رضی الله عنه څخه روایت دئ چي رسول الله ﷺ وفرمایل : په جنت کي به ځیني ډلي د داسي خلکو داخل سي چي د هغوئ زړونه به د مرغانو د زړونو په ډول وي (یعني ډیر نرم او د بغض او حسد څخه پاک) . مسلم

تخریج : صحیح مسلم: ۴\۲۱۸۳، رقم: ۲۷- ۲۸۴۰.

تشریح : مطلب دا دی چي جنت ته په تلونکو کي به د داسي خلکو یو لوی شمېر وي چي په دنیا کي د نرمی، رحم، مهربانی، او د زړه د پاکی او حسد او بغض څخه د پاک کېدو په اعتبار د مرغانو په ډول خصلت لري ، او ځیني حضرات وایي چي په دغه حدیث کي د هغه خلکو یادونه او هغوئ ته د جنت زیری ورکول مقصد دي کوم چي د خپل رب څخه بېرېږي او د هغوئ په زړونو کي د آخرت بېره او د هغه ځای د هیبت زیات فکر وي د هغوئ زړو ته د مرغانو سره په تشبیه ورکولو په اعتبار ورکړل سوي دي چي تر ټولو زیات بېرېدونکي حیوانان مرغان دي، ځینو حضراتو ویلي دي چي د توکل اختیارونکي څخه مراد دی ځکه چي مرغان د توکل خاص علامه ګڼل کیږي ځکه د توکل اختیارونکو بندګانو زړو ته د مرغانو سره تشبیه ورکړل سوې ده لکه څرنګه چي په یو حدیث کي هم فرمایل سوي دي که تاسو پر الله جل جلاله توکل لرئ نو یقینا هغه به تاسو ته رزق درکوي لکه څرنګه چي هغه مرغانو ته رزق ورکوي چي سهار په تش نس وځي او مانبام په ماړه نس بېرته راځي .

د الله جل جلاله رضا

﴿۵۳۸۴﴾ : وَعَنْ أَبِي سَعِيدٍ قَالَ قَالَ رَسُولُ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ إِنَّ اللّٰهَ

د حضرت ابو سعید رضی الله عنه څخه روایت دئ چي رسول الله ﷺ وفرمایل : الله تعالی به

تَعَالَى يَقُولُ لِأَهْلِ الْجَنَّةِ يَا أَهْلَ الْجَنَّةِ فَيَقُولُونَ لَبَّيْكَ رَبَّنَا وَسَعْدَيْكَ

جنتيانو ته فرمايي : اې جنتيانو! هغوئ به وايي اې زموږ پروردګاره! موږ حاضر يو، ستا په

والخير في يديك فَيَقُولُ هَلْ رَضِيتُمْ فَيَقُولُونَ وَمَا لَنَا لَا نَرْضَى وَقَدْ أَعْطَيْتَنَا

خدمت كي موجود يو، او خير ستا په لاس كي دى، الله تعالى به پوښتنه وكړي ايا تاسو راضي او خوشحاله ياست؟ هغوئ به وايي : اې پروردګاره! موږ به ولي راضي او خوشحاله نه يو

مَا لَمْ تُعْطِ أَحَدًا مِنْ خَلْقِكَ فَيَقُولُ أَلَا أُعْطِيكُمْ أَفْضَلَ مِنْ ذَلِكَ فيقولون

تاسو موږ ته هغه څه راكړي دي چي په خپل مخلوق كي دي هيچا ته نه دي وركړي، الله تعالى به ورته فرمايي ايا دد ې ټولو شيانو څخه غوره شى دركړم؟ هغوئ به وايي

يَا رَبِّ وَأَيُّ شَيْءٍ أَفْضَلُ مِنْ ذَلِكَ فَيَقُولُ أُحِلُّ عَلَيْكُمْ رِضْوَانِي فَلَا أَسْخَطُ عَلَيْكُمْ بَعْدَهُ أَبَدًا. متفق عليه.

اې پروردګاره! دد ې څخه غوره بل كوم شى كيداى سي؟ الله تعالى به ورته فرمايي زه تاسو ته خپله رضا دركوم. (يعني زه در څخه راضي يم) اوس به زه ستاسو څخه هيڅكله ناراضه نه سم. بخاري او مسلم

تخريج: صحيح البخاري (فتح الباري): ١١\ ٤١٥، رقم: ٦٥٤٩، ومسلم ٤\ ٢١٧٦، رقم: ٩- ٢٨٢٩.

تشريح: د الله ﷻ د خپل بنده څخه راضي كېدل د ټولو نعمتونو او نېكبختيو تر لاسه كېدو ضمانت دى، كله چي پروردګار جنتيانو ته دخپلي رضا او خوښۍ اظهار وفرمايي نو ګويا هغوئ ته ټول نعمتونه او كاميابۍ تر لاسه سوې او عظيم نعمت د الله ﷻ دېدار هم دد ې ثمره او نتيجه ده.

مخكي به الله ﷻ د جنتيانو څخه پوښتنه وكړي چي ايا تاسو زما څخه راضي ياست او كله چي دهغوئ له خوا په اثبات كي جواب تر لاسه سي نو بيا به الله ﷻ د هغوئ په اړه د خپلي رضا اظهار وفرمايي چي څرګنده سي چي د بنده څخه د الله ﷻ د راضي كېدو دليل او علامه داده چي هغه بنده د الله ﷻ څخه راضي او خوشحالي سي نو پوهېدل پكار دي چي د هغه پروردګار هم د هغه څخه راضي او خوشحاله دى، نقل سوي دي چي صحابه كرامو په خپلو كي د غه بحث

او فکر کوی چي ددې پوهېدو څه ذريعه کيدای سي چي زموږ پروردګار زموږ څخه راضي او خوشحاله دی ، په پای کي هغوئ پر دې اتفاق وکړ چي کله موږ د خپل رب څخه راضي او خوشحاله يو نو موږ بايد يقين وکړو چي زموږ رب هم زموږ څخه راضي او خوشحاله دی.

او بيا به ستاسو څخه هيڅکله ناراضه نه سم، څرګنده ده چي دا به د جنتيانو په حق کي تر ټولو لوی سعادت او زيری وي چي د هغه پروردګار تل د هغوئ څخه راضي او خوشحاله وي، ددغه سعادت او نعمت څخه لوی سعادت او نعمت څه کېدای سي، حقيقت خو دادی چي د الله ﷻ لږ رضا او خوښي هم د پوره رضا او خوښي، د پوره جنت او د جنت د ټولو نعمتونو او سعادتونو څخه زيات وو، څه چي هغه رضا او خوښي په ځانګړې توګه د تل لپاره ترلاسه سي، خپله الله ﷻ فرمايي: و رضوان من الله اکبر، نو هر مؤمن لره التجاء کول پکار دي چي: اللهم ارض عنا وارضنا عنک، اې الله! زموږ څخه راضي سې او موږ د ځان څخه راضي کړې.

د معمولي جنتي مرتبه

﴿۵۳۸۵﴾: وَعَنْ اَبِيْ هُرَيْرَةَ اَنَّ رَسُولَ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ قَالَ إِنَّ أَدْنٰى

د حضرت ابو هريره رضي الله عنه څخه روايت دئ چي رسول الله ﷺ وفرمايل: په تاسو کي د ادنا سړي به

مَقْعَدِ أَحَدِكُمْ مِنَ الْجَنَّةِ أَنْ يَقُولَ لَهُ تَمَنَّ فَيَتَمَنّٰى وَيَتَمَنّٰى فَيَقُولُ لَهُ هَلْ

په جنت کي دا مرتبه وي چي الله تعالى به هغه ته فرمايي غوښتنه وکړه ، هغه به غوښتني وکړي نو هغه ته به وويل سيږ آيا

تَمَنَّيْتَ فَيَقُولُ نَعَمْ فَيَقُولُ لَهُ فَإِنَّ لَكَ مَا تَمَنَّيْتَ وَمِثْلَهُ مَعَه. رواه مسلم.

ستا په زړه کي چي څومره ارمانونه وه هغه پوره سول هغه به عرض وکړي هو ، الله تعالى به ورته فرمايي هغه ټول شيان چي تا غوښتي وه او هغومره نور هم درکړل سول . مسلم.

تخريج: صحيح مسلم: ۱/ ۱۶۷، رقم: ۳۰۱ - ۱۸۲.

هغه څلور دريابونه چي د هغو سرچشمه په جنت کي ده

﴿۵۳۸۶﴾: وَعَنْهُ قَالَ قَالَ رَسُولُ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ سَيْحَانُ وَجَيْحَانُ وَالْفُرَاتُ وَالنِّيلُ كُلٌّ مِنْ أَنْهَارِ الْجَنَّةِ. رواه مسلم.

د حضرت ابو هريره رضي الله عنه څخه روايت دئ چي رسول الله ﷺ وفرمايل : سيحون، جيحون، فرات او نيل دا ټول د جنت ويالې دي . مسلم

تخريج : صحيح مسلم: ۴\۲۱۸۳، رقم: ۲۶- ۲۸۳۹.

تشريح: فرات او نيل د مشهورو سندو نوم دی، د دغه سندو په تعين کي اختلاف نسته چي د فرات سند په عراق کي او د نيل سند په مصر کي بهيږي، جيحان د بلخ سند دی او ځينو حضراتو ليکلي دي چي سيحان د مديني سند دی ، مګر علماؤ وضاحت کړی دی چي سيحان او جيحان د هغه دوو سندو څخه بېل دي کوم چي جيحون او سيحون دي چي د ترک او بلخ سندونه دي، طيبي رحمة الله عليه ليکلي دي: دا وينا صحيح ده چي جيحان د شام سند دی لکه څرنګه چي د جوهري قول دی، او د علماؤ پر دې خبره اتفاق دی چي جيحون د خراسان په سيمه کي بهيږي او سيحون د سنده سند دی، په هر حال تحقيقي خبره داده چي جيحان او سيحان د شام سندونه دي چي د دغه هيواد پخواني ښار طرطوس او مصيعه ته نژدې تيريږي او په بحر روم کي ګډيږي .

د حديث د دغه خبره چي د دغه څلورو سندو تعلق د جنت د ويالو او چينو سره دی ، په دې اړه د علماؤ مختلف اقوال دي، صحيح قول دا بيان سوی دی چي د حديث د دغه الفاظ پر خپل ظاهري معنی محمول دي، يعني په حقيقت کي د دغه څلورو ويالو ماده په جنت کي ده ، د مسلم په يوه روايت کي په وضاحت سره ويل سوي دي چي د نيل او فرات سندونه د جنت څخه راوتلي دي، د بخاري روايت دی چي د سدرة المنتهی د بېخ څخه راوتلي دي، په معالم التنزيل کي دا روايت نقل سوی دی چي الله جل جلاله د دغه څلور سندونه غرونو ته سپارلي دي او د هغه ځای څخه هغوئ پر مځکه جاري کړي دي، يو قول دادی چي د جنت د دغه څلور ويالې چي د ټولو ويالو اصل دی د دنيا د هغه څلورو سندونو په نامه سره مشهور کړل سوي دي چي د نورو سندونو په نسبت زيات ارزښت او د اوبو د خوړوالي او نورو ګټو په اعتبار ډېري خاص درجې لري، او د دې مقصد دې ته اشاره کول دي چي په دنيا کي کومي ګټي او منافع حاصل دي هغه ټول د جنت د نعمتونو او د ګټو بېلګي دي .

يو بل قول چي هغه ته زيات واضح ويل کيدای سي دادی چي د دغه ټولو سندونو تعلق د جنت د ويالو او چينو سره دی ، د دې څخه مراد دادی چي د دغه سندونو اوبه د نورو اوبو په نسبت زياتي خوږې او يخي دي او د دغه سندونو په اوبو کي د ومره ډيري ګټي او ځانګړتيا وي لکه چي د غه سندونه د جنت د ويالو او چينو څخه راوځي .

د جنت او دوږخ پراخوالی

﴿۵۳۸۷﴾: وَعَنْ عُتْبَةَ بْنِ غَزْوَانَ قَالَ ذُكِرَ لَنَا أَنَّ الْحَجَرَ يُلْقَى مِنْ شَفَةِ

د حضرت عتبه بن غزوان رضی الله عنه څخه روايت دی چي موږ ته وويل سول (يعني د رسول الله ﷺ حديث بيان کړل سو) که د دوږخ د غاړي څخه يوه ډبره وويشتل سي

جَهَنَّمَ فَيَهوی فِيهَا سَبْعِينَ خريقا لَا يُدْرِكُ لَهَا قَعْرًا وَ وَاللهِ لَتُمْلَأَنَّ وَلَقَدْ

نو هغه به په اويا کاله کي د دوږخ بيخ ته ونه رسيږي او په الله جل جلاله دي مي قسم وي د دوږخ دا ژوروالی به ډک سي، او

ذُكِرَ لَنَا أَنَّ مَا بَيْنَ مِصْرَاعَيْنِ مِنْ مَصَارِيعِ الْجَنَّةِ مَسِيرَةُ أَرْبَعِينَ سَنَةً وَلَيَأْتِيَنَّ عَلَيْهَا يَوْمٌ وَهُوَ كَظِيظٌ مِنَ الزِّحَامِ. رواه مسلم.

زموږ په وړاندي ذکر وسو چي د جنت دروازې د دواړو تنبو په منځ کي به د څلوېښتو کالو د مزل فاصله وي او يوه ورځ به داسي وي چي جنت به د خلکو څخه ډک وي. مسلم

تخريج: صحيح مسلم: ۴\۲۲۷۸، رقم: ۱۴- ۲۹۶۷.

د لغاتو حل: كظيظ: ای ممتلئ (ډک)

اَلْفَصْلُ الثَّانِي (دوهم فصل)

د جنت جوړولو ذکر

﴿۵۳۸۸﴾: عَنْ أَبِي هُرَيْرَةَ قَالَ قُلْتُ يَا رَسُولَ اللهِ مِمَّ خُلِقَ الْخَلْقُ قَالَ مِنَ

د حضرت ابو هريره رضی الله عنه څخه روايت دی چي ما عرض وکړ اې د الله رسوله! مخلوق د څه شي څخه پيدا سوی دی؟ رسول الله ﷺ وفرمايل:

الْمَاءِ قُلْنَا الْجَنَّةُ مَا بِنَاؤُهَا قَالَ لَبِنَةٌ مِنْ ذَهَبٍ وَلَبِنَةٌ مِنْ فِضَّةٍ وَمِلَاطُهَا

د اوبو څخه، ما بيا پوښتنه وکړه جنت د څه شي څخه جوړ سوی دی؟ رسول الله ﷺ وفرمايل د جنت يوه خښته د سرو او يوه د سپينو زرو ده، او د دې د تعمير خټه

الْمِسْكُ الْأَذْفَرُ وَحَصْبَاؤُهَا اللُّؤْلُؤُ وَالْيَاقُوتُ وَتُرْبَتُهَا الزَّعْفَرَانُ مَنْ يَدْخلهَا

تيزه خوشبوداره مشک دي او د جنت ډبري غمیان او یاقوت دي او زعفران يې خاوره ده څوک چي پکښي داخل سي

يَنْعَمُ لَا يَبْأَسُ وَيَخْلُدُ لَا يَمُوتُ لَا تَبْلَى ثِيَابُهُمْ وَلَا يَفْنَى شَبَابُهُمْ. رواه احمد والترمذي والدارمي.

نو په آرام او راحت به وي او فکر مند به نه وي همېشه به ژوندی وي مړ کيږي به نه، او نه به زړيږي او ځواني به يې هيڅکله نه ختميږي. احمد، ترمذي او دارمي.

تخريج: الامام احمد في مسنده ٢\٣٠٥، رقم: ٢٥٢٦، والدارمي ٢\٤٢٩، رقم: ٢٨٢١.

د لغاتو حل: ملاطها: اى ما بين اللبنتين موضع النورة. (د دوو خښتو په منځ كي د چونې ځاى)

تشريح: شارحينو د حديث د لومړنۍ برخي (يعني دغه پوښتنه چي مخلوق د كوم شي څخه پيدا سو او د رسول الله ﷺ دغه جواب چي د اوبو څخه) په څنګ كي ليكلي دي چي د علماؤ په دې اړه اختلاف دی چي د اجسامو څخه كوم شی تر ټولو مخكي په عالم وجود كي راغلی دی، د اكثرو وينا ده چي تر ټولو مخكي د اوبو جوهر په وجود كي راغلی بيا د دغه جوهر په كثيف او منجمد كېدو سره مځكه پيدا سوه او د دغه جوهر په رقيق او لطيف كېدو سره اور او هواء پيدا كړل سوه او د اور د دود څخه آسمان په وجود كي راغلی.

دا خبره په تورات كي راغلې ده چي الله ﷻ يو جوهر پيدا كړ او بيا يې پر هغه د هيبت او جلال نظر واچوی او د هغه د اجزاوو په ويلي كېدو سره او به جوړي سوې، د دغه اوبو څخه يو تونښ پورته سو او د دود په توګه په ختلو سره خپور سو چي د هغه څخه آسمان په وجود كي راغلی، بيا پر اوبو سربېره ځګ څرګند سو او د هغه څخه مځكه پيدا سوه، د دې څخه وروسته د غرونو په پېدا كولو سره هغه يې د مځكي ميخونه وګرځول يعني مخكي مځكي ته قرار نه وو، ښوريدل بيا د غرونو په ذريعه هغه ساكن او منجمد كړل سوه.

ځينو شارحينو دا ليكلي دي چي په حديث كي د اوبو څخه مراد د مني نطفه ده كه دا مراد صحيح و منل سي نو بيا به دا ويل كيږي چي د مخلوق څخه مراد حيوانان دي لكه چي په قرآن كريم كي فرمايل سوي دي: وجعلنا من الماء كل شئ حي، يعني موږ هر حيوان د اوبو څخه

پیدا کړی دی، همدارنګه په یوبل ځای کي دا فرمایل سوي دي : والله خلق كل دابة من ماء، یعني الله ﷻ هر ګرځېدونکی شي د اوبو څخه پیدا کړی دی، پاته سوه دا خبره چي نطفه په اوبو سره ولي تعبیر سوې ده نو ددې وجه څرګنده ده ، لومړۍ خبره داده چي هغه مادهٔ د اوبو په صورت کي وي، دوهم دا چي هر مخلوق ته ډېر زیات د اوبو ضرورت وي، او هر حیوان که انسان وي یا غیر انسان تر ټولو زیاته ګټه د اوبو څخه تر لاسه کوي.

د جنت درختي

﴿۵۳۸۹﴾: وَعَنْهُ قَالَ قَالَ رَسُولُ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ مَا فِي الْجَنَّةِ شَجَرَةٌ إِلَّا وَسَاقُهَا مِنْ ذَهَبٍ. رواه الترمذي.

د حضرت ابوهریره رضي الله عنه څخه روایت دئ چي رسول الله ﷺ وفرمایل : په جنت کي چي کومي درختي دي د هغو ټولو تنې د سرو زرو دي ، ترمذي.

تخريج : سنن الترمذي ۴\ ۵۷۹، رقم: ۲۵۲۵.

تشريح : د جنت د هري درختي تنه د سرو زرو ده، مګر د هغه درختو ښاخونه مختلف دي، د یوې درختي د سرو زرو وي ، د یوې د سپینو زرو وي ، ځیني ښاخونه د یاقوتو او زمردو وي، یا د ملغلرو او نورو شیانو وي، او هر ښاخ په دول ډول غوټیو سره ښکلي وي او په پر هغه ډول ډول میوې لګېدلي وي او د جنت تر ټولو درختو لاندي ویالې جاري وي .

د جنت درجې

﴿۵۳۹۰﴾: وَعَنْهُ قَالَ قَالَ رَسُولُ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ فِي الْجَنَّةِ مِائَةُ دَرَجَةٍ مَا بَيْنَ كُلِّ دَرَجَتَيْنِ مِائَةُ عَامٍ. رواه الترمذي وقال هذا حديث غريب.

د حضرت ابوهریره رضي الله عنه څخه روایت دئ چي رسول الله ﷺ وفرمایل : په جنت کي سل درجې دي او د هرو دوو درجو په منځ کي د سل کالو د مزل فاصله ده . ترمذي ویلي دي دا حدیث غریب دی.

تخريج : سنن الترمذي ۴\ ۵۸۲، رقم: ۲۵۲۹.

تشريح : صحیح خبره داده چي په حدیث کي د درجو څخه مراد لوړي مرتبې دي چي جنتیانو ته به د هغوئ د اعمالو او نیکیو په اعتبار تر لاسه کیږي، الله ﷻ فرمایلي دي: هم درجات عند

الله، جنتيان به د الله ﷻ په نزد په درجو او مرتبو كي مختلف وي، يعني هغوئ ته به د خپلو خپلو اعمالو سره سم بېلي بېلي درجې وركول كيږي، د كوم جنتي اعمال چي زيات او ښه وي هغومره به زيات مرتبې تر لاسه كوي، لكه چي د دوږخيانو په اړه فرمايل سوي دي چي هغوئ به د خپل كفر او شرك په اعتبار د دوږخ په لاندي برخو كي واچول سي چي د كوم دوږخي كفريه اعمال څومره زيات خراب وي هغومره به د دوږخ په لاندينۍ برخه كي وي، دغه خبري ته په قرآن كريم كي په دغه الفاظو اشاره سوې ده: (ان المنافقين في الدرک الاسفل من النار)، يقينا منافقان به د دوږخ په لاندينۍ برخه كي پراته وي.

﴿۵۳۹۱﴾: وَعَنْ أَبِي سَعِيدٍ قَالَ قَالَ رَسُولُ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ إِنَّ فِي الْجَنَّةِ مِائَةَ دَرَجَةٍ لَوْ أَنَّ الْعَالَمِينَ اجْتَمَعُوا فِي إِحْدَاهُنَّ لَوَسِعَتْهُمْ. رواه الترمذي وقال هذا حديث غريب.

د حضرت ابو سعيد ﷺ څخه روايت دئ چي رسول الله ﷺ وفرمايل: په جنت كي سل درجې دي كه د ټول عالم خلک په يوې درجې كي يو ځاى سي نو د هغوئ لپاره به بس وي. ترمذي ويلي دي دا حديث غريب دى.

تخريج: سنن الترمذي ۴\۵۸۳، رقم: ۲۵۳۲.

د جنت فرش

﴿۵۳۹۲﴾: وَعَنْهُ عَنِ النَّبِيِّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ فِي قَوْلِهِ وَفُرُشٍ مَرْفُوعَةٍ قَالَ ارْتِفَاعُهَا لَكَمَا بَيْنَ السَّمَاءِ وَالْأَرْضِ مَسِيرَةَ خَمْسِ مِائَةِ سَنَةٍ. رواه الترمذي وقال هذا حديث غريب.

د حضرت ابو سعيد ﷺ څخه روايت دى چي رسول الله ﷺ د دغه آيت (وفرش مرفوعة...) په اړه فرمايلي دي چي د دې فرشونو لوړوالى به دومره وي څومره چي د آسمان او ځمكي په منځ كي مزل دى يعني د پنځه سوو كالو لار. ترمذي وويل دا حديث غريب دى.

تخريج: سنن الترمذي: ۴\۵۸۶، رقم: ۲۵۴۰.

تشریح: مطلب دادی چي د جنت په درجو کي کوم فرشونه او بستري وي هغه به دومره لوړي وي چي د آسمان په ډول به لوړي وي، یا دا مطلب دی چي د قرآن کریم په دغه آیت کي چي د کومو لوړو فرشونو او بسترو ذکر دی هغه به د جنت په هغه درجو کي وي چي د مځکي څخه تر آسمان پوري د مسافت په اندازه به لوړ وي، او د هغه د لوړوالي په اړه دا حدیث چي: ان للجنة مائة درجة مابین کل درجتین کما بین السماء والارض، په جنت کي سل درجې دي او په هغو کي د دوو درجو په منځ کي دومره فاصله ده لکه څومره چي د مځکي او آسمان په منځ کي ده.

ځینو حضراتو ویلي دي چي په (فرش مرفوعة) کي د فرش څخه مراد د جنت حوران دي او د مرفوعة څخه مراد د حوران جنت په ښکلا د دنیا د ښځو څخه غوره کېدل دي مګر په یو حدیث کي دا هم راغلي دي چي په جنت کي به مؤمني ښځي د حورو څخه هم زیاتي ښکلي وي او پر هغه حورو باندي فضیلت د هغو د لمونځ او روژو په سبب وي چي هغوئ په دنیا کي کوی.

د جنتیانو ځلانده مخونه

﴿۵۳۹۳﴾: وَعَنْهُ قَالَ قَالَ رَسُولُ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ إِنَّ أَوَّلَ زُمْرَةٍ يَدْخُلُونَ

د حضرت ابو سعید رضي الله عنه څخه روایت دئ چي رسول الله ﷺ وفرمایل: د قیامت په ورځ چي په

الْجَنَّةَ يَوْمَ الْقِيَامَةِ ضَوْءُ وُجُوهِهِمْ عَلَى مِثْلِ ضَوْءِ الْقَمَرِ لَيْلَةَ الْبَدْرِ وَالزُّمْرَةُ

جنت کي کومه ډله تر ټولو مخکي داخله سي د هغوئ مخونه به د څوارلسمي شپې د سپوږمۍ

الثَّانِيَةُ عَلَى مِثْلِ أَحْسَنِ كَوْكَبٍ دُرِّيٍّ فِي السَّمَاءِ لِكُلِّ رَجُلٍ مِنْهُمْ زَوْجَتَانِ

په ډول وي او بله ډله چي د هغوئ څخه وروسته داخله سي د هغوئ مخونه به په آسمان کي تر ټولو زیات ځلیدونکي ستورو په ډول وي او هر جنتي ته به دوې داسي بیبیاني ورکړل سي

عَلَى كُلِّ زَوْجَةٍ سَبْعُونَ حُلَّةً يُرَى مُخُّ سَاقِهَا مِنْ وَرَائِهَا . رواه الترمذي.

چي د هري بي بي پر بدن به اویا جوړي جامې وي او د هغوئ د پنډیو دننه مغز به معلومیږي. ترمذي

تخریج: سنن الترمذي ۴\ ۵۸۴، رقم: ۲۵۳۵.

تشریح: په دغه حدیث کي د هر جنتي ته د دوو ښځو تر لاسه کېدل ذکر دي حال دا چي په یوه حدیث کي دا نقل سوي دي چي په جنتیانو کي تر ټولو د کمي درجې جنتي به هم اویا ښځي او اویا زره خادمان وي، نو په دواړو حدیثونو کي د مطابقت لپاره علماؤ لیکلي دي چي په کوم

حديث کي د دوو ښځو يادونه ده نو هغوئ به د دغه ځانګړتيا خاوند وي چي د هغوئ د پنډيو دننه مغز به د اويا جامو سربېره معلوميږي، او پاته ښځي به د دنيا د ښځو ځخه ورکول کيږي او اويا ښځي به د حوران جنت ځخه ورکول کيږي او د دواړو په يو ځاى کېدو سره به دو اويا وي.

د جنتيانو مردانه قوت

﴿۵۳۹۴﴾: وَعَنْ أَنَسٍ اَنَّ النَّبِيَّ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ قَالَ يُعْطَى الْمُؤْمِنُ فِي الْجَنَّةِ قُوَّةَ كَذَا وَكَذَا مِنَ الْجِمَاعِ قِيلَ يَا رَسُولَ اللّٰهِ أَوَ يُطِيقُ ذٰلِكَ قَالَ يُعْطَى قُوَّةَ مِائَةٍ. رواه الترمذي.

د حضرت انس رضي الله عنه ځخه روايت دئ چي رسول الله ﷺ وفرمايل: په جنت کي به مؤمن ته د جماع کولو دومره او دومره طاقت ورکړل سي، پوښتنه وسول اې د الله رسوله! ايا دى به دومره طاقت لرلاى سي؟ رسول الله ﷺ وفرمايل: هو د سلو کسو په اندازه قوت به ورکړل سي نو ييا به هغه ولي د دومره ښځو سره جماع نه سي کولاى. ترمذي.

تخريج: سنن الترمذي: ۴\ ۵۸۴، رقم: ۲۵۳۶.

د جنت د شيانو يادونه

﴿۵۳۹۵﴾: وَعَنْ سَعْدِ بْنِ اَبِيْ وَقَّاصٍ عَنِ النَّبِيِّ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ انه قَالَ

د حضرت سعد بن ابي وقاص رضي الله عنه ځخه روايت دئ چي رسول الله ﷺ وفرمايل:

لَوْ أَنَّ مَا يُقِلُّ ظُفُرٌ مِمَّا فِي الْجَنَّةِ بَدَا لَتَزَخْرَفَتْ لَهُ مَا بَيْنَ خَوَافِقِ السَّمٰوَاتِ

که د جنت د شيانو ځخه د نوک په اندازه يو شى ښکاره کړل سي نو د آسمان او مځکي تول

وَالْأَرْضِ وَلَوْ أَنَّ رَجُلًا مِنْ أَهْلِ الْجَنَّةِ اطَّلَعَ فَبَدَا أَسَاوِرُهُ لَطَمَسَ ضَوْءَه

شاوخوا به د هغه ځخه ښکلا تر لاسه کړي او که په جنتيانو کي يو څوک د دنيا په لور ښکاره سي او د هغه او د هغه په لاسونو کي کړى ښکاره سي نو د هغه ځلا به

الشَّمْسِ كَمَا تَطْمِسُ الشَّمْسُ ضَوْءَ النُّجُومِ. رواه الترمذي وقال هذا

حديث غريب.

د لمر رڼا پټه کړي لکه څرنګه چي لمر د ستورو رڼا پټوي. ترمذي ويلي دي دا حديث غريب دی.

تخريج: سنن الترمذي ۴\۵۸۵، رقم: ۲۵۳۸.

د لغاتو حل: خوانق: اى اطرافها وقيل منتهاها. (شاوخوا يا پاى)

د جنت د غلمانو ذکر

﴿۵۳۹۶﴾: وَعَنْ أَبِي هُرَيْرَةَ قَالَ قَالَ رَسُولُ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ أَهْلُ الْجَنَّةِ جُرْدٌ مُرْدٌ كُحْلٌ لَا يَفْنَى شَبَابُهُمْ وَلَا تَبْلَى ثِيَابُهُمْ. رواه الترمذي والدارمي

د حضرت ابوهريره ﷺ څخه روايت دئ چي رسول الله ﷺ وفرمايل: جنتيان به بې وريښتانو بې ږيرو تور سترګي او زلميان وي او د هغوئ ځواني به هيڅکله نه ختميږي او نه به يې جامې زړيږي. ترمذي او دارمي.

تخريج: سنن الترمذي ۴\۵۸۶، رقم: ۲۵۳۹، وسنن الدارمي ۳\۴۳۱، رقم: ۲۸۲۶،

د لغاتو حل: جُرد: جمع اجرد وهو الذي لاشعر على جسده. مُرد: جمع امرد، وهو غلام لاشعر على ذهنه. (لغړزنى).

تشريح: د جرد لفظ په اصل کي د اجرد جمع دی او اجرد هغه سړي ته وايي چي د هغه پر بدن وېښتان نه وي، همدارنګه مرد د امرد جمع ده چي معنی يې د بې ږيري زلمي ده، د کحلی لفظ د فعلی پر وزن د مکحول په معنی کي دي يعني هغه سړی چي د هغه بانوګان پيدائشي تور وي او داسي معلوميږي لکه هغه چي په سترګو کي رانجه اچولي وي.

﴿۵۳۹۷﴾: وَعَنْ مُعَاذِ بْنِ جَبَلٍ أَنَّ النَّبِيَّ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ قَالَ يَدْخُلُ أَهْلُ الْجَنَّةِ الْجَنَّةَ جُرْدًا مُرْدًا مُكَحَّلِينَ أَبْنَاءَ ثَلَاثِينَ أَوْ ثَلَاثٍ وَثَلَاثِينَ سَنَةً.

رواه الترمذي.

د حضرت معاذ بن جبل ﷺ څخه روايت دئ چي رسول الله ﷺ وفرمايل: جنتيان به په جنت کي داسي داخليږي چي د هغوئ د بدن وريښتان به صفا وي پر سترګو به يې رانجه پوري وي او

عمر به يې ديرش يا درو ديرش كاله وي. ترمذي

تخريج: سنن الترمذي ۴\۵۸۹، رقم: ۲۵۴۵.

تشريح: د دېرشو يا درو دېرشو كالو عمر د بشپړ ځوانۍ او طاقت څخه ډك وي ځكه جنتيان به په دغه عمر سره په جنت كي داخليږي، څرګنده دي وي چي په دېرش يا درو ديرش كي د يا حرف د راوي د شك لپاره دى چي په دغه وخت كي رسول الله ﷺ د دېرش شمېر وفرمايه او كه د درو دېرش شمېر يې وفرمايه.

سدرة المنتهى

﴿۵۳۹۸﴾: وَعَنْ أَسْمَاءَ بِنْتِ أَبِي بَكْرٍ قَالَتْ سَمِعْتُ رَسُولَ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ

د حضرت اسماء بنت ابوبكر (رض) څخه روايت دى چي د رسول الله ﷺ په وړاندي د سدرة

وَذُكِرَ لَهُ سِدْرَةُ الْمُنْتَهَى قَالَ يَسِيرُ الرَّاكِبُ فِي ظِلِّ الْفَنَنِ مِنْهَا مِائَةَ سَنَةٍ أَوْ

المنتهى ذكر وسو ، ما د رسول الله ﷺ څخه دا واوريدل چي د سدرة المنتهى د شاخونو په سايه كي به تيز رفتاره سپور تر سلو كلو پوري ځي ، يا دا الفاظ يې وفرمايل :

يَسْتَظِلُّ بِظِلِّهَا مِائَةُ رَاكِبٍ شَكَّ الراوي فِيهَا فِرَاشُ الذَّهَبِ كَأَنَّ ثَمَرَهَا الْقِلَالُ. رواه الترمذي وقال هذا حديث غريب

د سدرة المنتهى په سايه كي به سل سپاره پناه تر لاسه كولاى سي ، راوي ته شك دى چي رسول الله ﷺ دغه الفاظ او كه آخري الفاظ وفرمايل، په دغه درختي كي به د سرو زرو ملخان وي او ميوې به يې د منګيانو په ډول وي. ترمذي.

تخريج: سنن الترمذي ۴\۵۸۷، رقم: ۲۵۴۱.

د لغاتو حل : الفَنن: جمع افنان، اى الغصن (ښاخ). فراش: جمع فراشة، وهي التي تطير و تتهافت في السراج. (پتنګان).

تشريح: د سدرة المنتهى معنى د بيري د درختي ده، دغه درختي ته سدرة المنتهى ځكه ويل كيږي چي دا د هغه جنت پر آخري څوكه باندي واقع ده چي د هغه څخه اخوا هيڅ ته علم نسته چي څه شي دي، تر دغه ځاى وړاندي هيڅ ملائكي ته هم د تللو حكم نسته ، د حضرت جبرائيل

ﷺ آخري تګ تر همدغه ځايه پوري دی ، تر دې وړاندي هغه هم نه سي تللای، يوازي رسول الله ﷺ د معراج په شپه ددغه درختي څخه وړاندي تللی دی، د يوه روايت مطابق دغه درخته په شپږم آسمان کي ده مګر مشهور روايت دا دی چي پر اووم آسمان باندي ده ، ددغه دواړو روايتو مطابقت داسي کيږي چي ددغه درختي رېښې په شپږم آسمان کي دي او ښاخونه يې په اووم آسمان کي دي.

په دغه درخته کي د سرو زرو ملخان دي، ددې څخه کېداى سي دا مراد وي چي پر دغه درختي باندي کومي نوراني ملائکي دي د هغوئ وزرونه داسي برېښي لکه څرنګه چي د هغه پر ښاخونو د سرو زرو ځلانده ملخان وي، يادا چي ددغه درختي څخه کوم انوار پورته کيږي او پر ښاخو باندي يو خاص ډول رڼا وي هغه يې د سرو زرو د ملخانو سره تعبير کړل، څرګنده دي وي چي د رسول الله ﷺ دغه ارشاد: پر هغه درختي باندي د سرو زرو ملخان دي، دا په اصل کي ددغه آيت (اذ يغشى السدرة ما يغشى) کله چي هغه سدرة المنتهى يې پټه کړه څه چي پټوي، تفسير دی ، بيضاوي ددغه آيت لاندي ليکلي دي چي د ملائکو يوه لويه ډله چي د الله ﷻ په عبادت کي بوخت دي ، دغه درخته يې پټه کړې وي .

حوض كوثر

﴿۵۳۹۹﴾: وَعَنْ أَنَسٍ قَالَ سُئِلَ رَسُولُ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ مَا الْكَوْثَرُ

د حضرت انس رضي الله عنه څخه روايت دی چي د رسول الله ﷺ څخه د حوض کوثر په اړه پوښتنه

قَالَ ذَالِكَ نَهْرٌ أَعْطَانِيهِ اللّٰهُ يَعْنِي فِي الْجَنَّةِ أَشَدُّ بَيَاضًا مِنَ اللَّبَنِ وَأَحْلَى مِنَ

وسول، نو رسول الله ﷺ وفرمايل : کوثر يو ويالـه ده (په جنت کي) چي الله تعالى ما ته راکړې ده ددې اوبه د شيدو څخه زياتي سپيني

الْعَسَلِ فِيهِ طَيْرٌ أَعْنَاقُهَا كَأَعْنَاقِ الْجُزُرِ قَالَ عُمَرُ إِنَّ هَذِهِ لَنَاعِمَةٌ قَالَ رَسُولُ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ أَكَلَتُهَا أَنْعَمَ مِنْهَا. رواه الترمذي.

او د شاتو څخه زياتي خوږې دي ، ددې ويالې پر غاړه مرغان دي چي د هغوئ غاړي به د اوښانو په ډول وي ، حضرت عمر رضي الله عنه ووېل دا مرغان خو به ډېر اباد او خوشحاله وي، رسول الله ﷺ ورته وفرمايل د هغه مرغانو خوړونکي به تر هغوئ زيات اباد وي. ترمذي.

تخريج: سنن الترمذي ۴\۵۸۷، رقم: ۲۵۴۲.

د لغاتو حل: الجزر: جمع جزور وهو الجمل. (اوښان)

تشريح: د نهر لفظ د هاء په زبر سره هم دی او په جزم سره هم منقول دي، مطلب دا چي كوثر د اوبو يوه وياله ده چي د هغه پر دواړو سرو باندي دوه حوضه دي، يو حوض خو په موقف (د حشر په ميدان) كي دی او دوهم حوض په جنت كي دی، ددغه وياله زياته برخه په جنت كي ده ځكه د (يعني في الجنة) په ذريعه يې وضاحت سوی دی چي هغه وياله په جنت كي د رسول الله ﷺ لپاره خاص ده چي د هغه څخه به د رسول الله ﷺ امتيان اوبه كيږي.

كاعناق الجزر، د اوښ د غاړي په ډول، دلته د جزر لفظ په اصل كي د جزور جمع ده او دغه لفظ د داسي اوښ لپاره استعماليږي چي هغه د نحر او ذبح لپاره تيار وي، ددغه جملې په ذريعه دې ته اشاره كول مقصد دي چي هغه مرغان چي په حوض كوثر كي دي د نحر او ذبح لپاره به تيار تر لاسه كيږي چي د حوض كوثر څخه اوبه كېدونكي د هغوئ غوښه وخوړلای سي.

جنتيانو ته هر هغه شی تر لاسه كيږي كوم چي دوئ يې خواهش وكړي

﴿۵۴۰۰﴾: وَعَنْ بُرَيْدَةَ أَنَّ رَجُلًا قَالَ يَا رَسُولَ اللّٰهِ هَلْ فِي الْجَنَّةِ مِنْ خَيْلٍ

د حضرت بريده رضي الله عنه څخه روايت دی چي يو سړي عرض وكړ اې دالله رسوله ! ايا په جنت كي به آسونه وي؟

قَالَ إِنِ اللّٰهُ أَدْخَلَكَ الْجَنَّةَ فَلَا تَشَاءُ أَنْ تُحْمَلَ فِيهَا عَلَى فَرَسٍ مِنْ يَاقُوتَةٍ

رسول الله ﷺ ورته وفرمايل: كه الله تعالى ته په جنت كي داخل كړې نو دا به ستا خوښه نه وي چي ته پر آس باندي سپور كړل سي چي د سرو ياقوتو وي

حَمْرَاءَ يَطِيرُ بِكَ فِي الْجَنَّةِ حَيْثُ شِئْتَ الا فعلت وَسَأَلَهُ رَجُلٌ فَقَالَ يَا رَسُولَ

هر ځای چي ستا خوښه وي هلته به دي الوزوي، بيا يو سړي پوښتنه وكړه اې دالله رسوله !

اللّٰهِ هَلْ فِي الْجَنَّةِ مِنْ إِبِلٍ قَالَ فَلَمْ يَقُلْ لَهُ مِثْلَ مَا قَالَ لِصَاحِبِهِ فقَالَ إِنْ

په جنت كي به اوښان وي؟ رسول الله ﷺ هغه ته د هغه جواب نه وركړ كوم چي يې لومړني سړي ته وركړی وو بلكه دا يې وفرمايل: كه

يُدْخِلْكَ اللّٰهُ الْجَنَّةَ يَكُنْ لَكَ فِيهَا مَا اشْتَهَتْ نَفْسُكَ وَلَذَّتْ عَيْنُكَ. رواه الترمذي.

الله تعالى ته په جنت كي داخل كړې نو تا ته به هر هغه شى دركول كيږي د كوم چي ستا زړه غواړي او ستا سترګي يې خوښوي، ترمذي

تخريج: سنن الترمذي ۴\۵۸۸، رقم: ۲۵۴۳.

تشريح: د فعلت لفظ د مخاطب په صيغه سره مجهول او معروف دواړه ډوله ويل كيږي، د لفظي ترجمې په صورت كي به معنى دا وي چي ستا مقصد او مدعا به پوره سي يعني ته به په خپل خواهش كي مقصد ته ورسيږې او دغه لفظ د فعلت په تاء تانيث سره د مجهول په صيغه هم منقول دى، په دغه صورت كي به معنى دا وي چي ستا دپاره به داسي وكړل سي . يعني ستا د خواهش سره سم به هغه آس تيار كړل سي ، څرګنده دي وي چي په عربي كي فرس (آس) د نارينه او ښځينه دواړو لپاره استعماليږي، په هر حال مطلب دا دى چي په جنت كي به هر هغه سړي ته هغه شى ترلاسه كيږي كوم چي هغه يې خواهش كوي .

(۵۴۰۱): وَعَنْ أَبِي أَيُّوبَ قَالَ أَتَى النَّبِيَّ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ أَعْرَابِيٌّ فَقَالَ يَا

د حضرت ابو ايوب ﷛ څخه روايت دى چي يو صحرايي سړى حاضر سو او عرض يې وكړ اې

رَسُولَ اللّٰهِ إِنِّي أُحِبُّ الْخَيْلَ أَفِي الْجَنَّةِ خَيْلٌ قَالَ رَسُولُ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ

دالله رسوله ! زما آسونه ډير خوښ دي ايا په جنت كي به اسونه وي؟ رسول الله ﷺ ورته

وَسَلَّمَ إِنْ أُدْخِلْتَ الْجَنَّةَ أُتِيتَ بِفَرَسٍ مِنْ يَاقُوتَةٍ لَهُ جَنَاحَانِ فَحُمِلْتَ عَلَيْهِ

وفرمايل كه ته په جنت كي داخل كړل سوې نو تاته به د ياقوتو يو آس دركړل سي چي د هغه به دوه وزرونه وي بيا به ته پر هغه سپور كړل سې

ثُمَّ طَارَ بِكَ حَيْثُ شِئْتَ. رواه الترمذي هَذَا حَدِيثٌ لَيْسَ إِسْنَادُهُ بِالْقَوِيِّ

او چيري چي تلل غواړې دغه آس به په الوتلو سره تا هلته بوځي، ترمذي ويلي دي ددې حديث اسناد قوي نه دي ،

وَأَبُو سَوْرَةَ الراوي يُضَعَّفُ فِي الْحَدِيثِ و سَمِعْت مُحَمَّدَ بْنَ إِسْمَعِيلَ يَقُولُ أَبُو سَوْرَةَ هَذَا مُنْكَرُ الْحَدِيثِ يَرْوِي مَنَاكِيرا.

ابو سوره راوي ضعيف دی محمد بن اسماعیل څخه مي واوریدل چي ابو سوره منکر الحدیث راوي دی او ډیر منکر حدیث روایت کوي.

تخريج: سنن الترمذي ۴\۵۸۸، رقم: ۲۵۴۴.

په جنتیانو کي د امت محمدي تناسب

﴿۵۴۰۲﴾: وَعَنْ بُرَيْدَةَ قَالَ قَالَ رَسُولُ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ أَهْلُ الْجَنَّةِ عِشْرُونَ وَمِائَةُ صَفٍّ ثَمَانُونَ مِنْهَا مِنْ هَذِهِ الْأُمَّةِ وَأَرْبَعُونَ مِنْ سَائِرِ الْأُمَمِ. روه الترمذي و الدارمي والبيهقي في كتاب البعث والنشور.

د حضرت بریده ﷺ څخه روایت دئ چي رسول اللهﷺ وفرمایل: د جنتیانو به شپږ شلي (۱۲۰) صفونه وي، په هغو کي به اتیا صفونه ددغه امت وي او څلوېښت صفونه د نورو امتونو، ترمذي، دارمي او بیهقي

تخريج: سنن الترمذي ۴\۵۸۹، رقم: ۲۵۴۶، والدارمي ۲\۴۳۴، رقم: ۲۸۳۵.

تشريح: ددغه حدیث څخه څرګنده سوه چي د امت محمدیه د جنتیانو شمېر به د نورو امتونو په نسبت دوه پر درې زیات وي، مګر په باب الشفاعت کي یو روایت تېر سوی دی چي په هغه کي د رسول اللهﷺ دغه ارشاد منقول دی چي زه امید لرم چي تاسو مسلمانان به د جنتیانو د مجموعي شمېر نیمایي برخه یاست، په دغه دواړو روایتو کي په ظاهره اختلاف معلومېږي مګر په حقیقت کي داسي نه ده، کیدای سي چي مخکي خو رسول اللهﷺ د الله جل جلاله د دربار څخه دا امید کړی وي چي د رسول اللهﷺ د امت خلک به د جنتیانو د مجموعي شمېر نیمایي برخه وي مګر وروسته الله جل جلاله په خپل خاص رحمت سره د رسول اللهﷺ دغه امید نور هم زیات کړی وي او په جنتیانو کي د امت محمدیه شمېر یې دوه پر درې کولو سره په زیری کي ورکړی وي، او دغه زیاتوب یقینا د الله جل جلاله دغه خاص کرم او کرم په وجه دی چي یوازي د رسول اللهﷺ او

دده د امت مرحومه به په برخه وي.
دا هم کیدای سي چي د نورو امتونو د ثلوېښتو صفونو په مقابله کي د اهل اسلام اتيا صفونه داسي چي هغه د صفونو په اعتبار خو زيات وي مگر د اشخاصو د شمېر په اعتبار د ثلوېښتو صفو برابر وي، يعني په جنتيانو کي چي څومره خلک د نورو امتونو په ثلوېښتو صفو کي وي هغومره خلک به دامت محمديه په اتيا صفو کي وي مگر دا يوازي احتمال دی، صحيح خبره هغه ده چي مخکي بيان سول.

د جنت د دروازې وسعت

﴿۵۴۰۳﴾: وَعَنْ سَالِمٍ عَنْ أَبِيهِ قَالَ قَالَ رَسُولُ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ

حضرت سالم رحمه الله د خپل پلار څخه روايت کوي چي رسول الله ﷺ وفرمايل:

بَابُ أُمَّتِي الَّذِي يَدْخُلُونَ مِنْهُ الْجَنَّةَ عَرْضُهُ مَسِيرَةُ الرَّاكِبِ الْمُجَوِّدِ ثَلَاثًا

د جنت هغه دروازه چي زما امت به ور داخليږي د هغې پلنوالی د سپاره د درو کالو د مزل برابر

ثُمَّ إِنَّهُمْ لَيُضْغَطُونَ عَلَيْهِ حَتَّى تَكَادُ مَنَاكِبُهُمْ تَزُولُ. رواه الترمذي وقال

دی چي آس ښه وځغلول سي او د دروازې د دومره پلنوالي سربيره چي زما امت پر دې تيرېږي نو د ګڼوالي په سبب به تيريدل ګران وي تر دې حده چي اوږې به يې وسوليږي. ترمذي ويلي دي

هَذَا حَدِيثٌ ضَعِيف وسَأَلْتُ مُحَمَّدًا ابن اسماعيل عَنْ هَذَا الْحَدِيثِ فَلَمْ يَعْرِفْهُ و قَالَ يَخْلَدُ بْنِ أَبِي بَكْرٍ يروي المناكير.

دا حديث ضعيف دی ما ددې روايت په اړه د محمد بن اسماعيل څخه پوښتنه وکړه هغه لاعلمي څرګنده کړه او وه يې ويل چي يخلد بن ابوبکر منکر روايات روايت کوي. ترمذي.

تخريج: سنن الترمذي ۴\۵۹۰، رقم: ۲۵۴۸.

د لغاتو حل: المجد: من التجويد وهو التحسين.

تشريح: د سپاره د درو ..... د مزل برابر: دلته د درو څخه مراد يا خو د درو شپو مسافت دی يا د درو کالو، او دغه (درې کاله) زيات صحيح دی، ځکه چي په دې کي زياته مبالغه ده، بيا د درو کالو مسافت څخه هم زياتوب مراد اخيستل دي چي دغه روايت د هغه حديث خلاف نه سي

چي په هغه کي دا فرمايل سوي دي چي د جنت د دروازو څخه دهري دروازې د دواړو پلو درميانه فاصله د څلوېښتو کالو د مسافت په اندازه ده، او که درې کاله پردغه حقيقي مفهوم باندي په محمول کولو سره د زياتوب مراد نه واخيستل سي نو بيا به دا ويل کيږي چي کيداى سي مخکي رسول الله ﷺ ته دوحي په ذريعه ددغه دروازې پلنوالى کم ښودل سوى وي چي رسول الله ﷺ د درو کالو د مسافت په فاصلې سره تعبير وفرمايه او بيا وروسته دهغه د زيات پلنوالي علم رسول الله ﷺ ته ورکړل سوى وي چي رسول الله ﷺ د څلوېښتو کالو دمسافت په ذريعه څرګنده کړل، يوه خبره دا هم کيداى سي چي د دغه دواړو روايتو څخه په جنت کي دداخلېدونکو په اعتبار د مختلف پلنوالي معلوم سوى وي چي دهغه د دروازې په ذريعه کم خلک داخليږي هغه به د ډېر پلنوالي سربېره لږ پلنه معلوميږي.

ترمذي دغه روايت ته ضعيف ويلي دي، او په مصابيح کي دي چي دغه روايت ضعيف منکر دى او دمصابيح شارح دا وضاحت کړى دى چي دغه حديث منکر ځکه ګرځول سوى دى چي دغه حديث د هغه صحيح حديثونو خلاف دى کوم چي د مذکوره مضمون سره متعلق منقول دى ، بيا ترمذي ددغه حديث پر ضعيف کيدو باندي د حضرت محمد بن اسماعيل يعني امام بخاري رحمة الله عليه استدلال کړى دى چي هغه ددغه حديث څخه د خپل ناخبرتيا اظهار وکړ او دا اصول دى چي کله يو داسي عالم حديث او امام فن چي د حديث د ټولو طريقو او اسنادو کامل بصيرت او پوره معلومات لري ، دا وايي چي زه په فلاني حديث خبر نه يم، نو دا ددې خبري دليل دى چي هغه حديث ضعيف دى، ددې څخه پرته امام بخاري رحمة الله عليه ددغه حديث د راوي په اړه په وضاحت سره ويلي دي چي هغه منکر حديثونه نقل کوي، لکه فيصله چي يې وکړل چي دا حديث ضعيف دى .

د امام بخاري رحمة الله عليه دغه قول چي يخلد ابن ابي بکر، منکر روايتونه بيانوي ، په دې اړه سيد جمال الدين ويلي دي چي لفظ د يخلد د صاحب مشکوة سهوه ده ، اصل نوم يې خالد بن ابي بکر دى ځکه په ترمذي کي خالد ابن ابي بکر منقول دى او د اسماء الرجال په کتابو کي هم داسي دى .

د جنت بازار

﴿۵۴۰۴﴾: وَعَنْ عَلِيٍّ قَالَ قَالَ رَسُولُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ إِنَّ فِي الْجَنَّةِ

د حضرت علي رضي الله عنه څخه روايت دئ چي رسول الله ﷺ وفرمايل : په جنت کي يو

لَسُوقًا مَا فِيهَا شِرَاءٌ وَلَا بَيْعٌ إِلَّا الصُّوَرَ مِنَ الرِّجَالِ وَالنِّسَاءِ فَإِذَا اشْتَهَى الرَّجُلُ صُورَةً دَخَلَ فِيهَا . رواه الترمذي وقال هَذَا حَدِيثٌ غَرِيبٌ.

بازار دی چي په هغه کي رانيول او خرڅول نه سته بلکه د خلکو او ښځو عکسونه به وي نو کله چي يو سړی يو عکس خوښ کړي نو دی به هغه شکل اختيار کړي . ترمذي

تخريج: سنن الترمذي ۴\۵۹۲، رقم: ۲۵۵۰،

تشريح: مطلب دا دی چي هغه بازار به په اصل کي د ښکلا او جمال څخه په ښکلي کېدو او ښه صورت کي د بدلېدو يو مرکز وي، هلته به هري خوا ته ښکلي او ښائسته شکلونه معلومېږي او په جنتيانو کي چي څوک غواړي که نارينه وي يا ښځه وي په هغه شکلو کي به يو صورت اختيارول غواړي نو په هغه کي به ځای سي او خپل خوښ کړی شکل به اختيار کړي لکه څرنګه چي پيريان او ملائکي په دنيا کي کوم شکل او صورت اختيارول غواړي په هغه کي څرګندېږي

د الله ﷻ دېدار او د جنت بازار

﴿۵۴۰۵﴾: وَعَنْ سَعِيدِ بْنِ الْمُسَيَّبِ أَنَّهُ لَقِيَ أَبَا هُرَيْرَةَ فَقَالَ أَبُو هُرَيْرَةَ أَسْأَلُ اللهَ

د حضرت سعيد بن مسيب رضي الله عنه څخه روايت دی چي زه د ابو هريره رضي الله عنه سره يو ځای سوم هغه وويل زه الله تعالی ته سوال کوم چي

أَنْ يَجْمَعَ بَيْنِي وَبَيْنَكَ فِي سُوقِ الْجَنَّةِ فَقَالَ سَعِيدٌ أَفِيهَا سُوقٌ قَالَ نَعَمْ أَخْبَرَنِي

هغه ما او تا د جنت په بازار کي يو ځای کړي ، سعيد رضي الله عنه وويل ايا په جنت کي بازار هم سته ، ابو هريره رضي الله عنه وويل :هو ما ته

رَسُولُ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ أَنَّ أَهْلَ الْجَنَّةِ إِذَا دَخَلُوهَا نَزَلُوا فِيهَا بِفَضْلِ

رسول الله ﷺ فرمايلي دي چي هر کله جنتيان په جنت کي داخل سي نو د اعمالو سره سم به هغوئ ته ځايونه او منزلونه تر لاسه کيږي،

أَعْمَالِهِمْ ثُمَّ يُؤْذَنُ لهم فِي مِقْدَارِ يَوْمِ الْجُمُعَةِ مِنْ أَيَّامِ الدُّنْيَا فَيَزُورُونَ رَبَّهُمْ

بيا به هغوئ ته د دنيا د جمعي د ورځي برابر اجازه ورکړل سي چي د خپل پروردګار زيارت وکړي

وَيُبْرِزُ لَهُمْ عَرْشَهُ وَيَتَبَدّٰى لَهُمْ فِي رَوْضَةٍ مِنْ رِيَاضِ الْجَنَّةِ فَتُوضَعُ لَهُمْ مَنَابِرُ

په دغه ورځ به الله تعالى خپل عرش ښکاره کړي او جنتيانو ته به خپل ديدار ښودلو لپاره د جنت د باغچو څخه په يو باغچه کي خپل ديدار ښكاره كړي، كوم خلک چي د الله ﷻ د ديدار لپاره راسي د هغوئ لپاره به د نور منبر،

مِنْ نُورٍ وَمَنَابِرُ مِنْ لُؤْلُؤٍ وَمَنَابِرُ مِنْ يَاقُوتٍ وَمَنَابِرُ مِنْ زَبَرْجَدٍ وَمَنَابِرُ مِنْ

د ملغلرو منبر، د ياقوتو منبر ، د زبرجد منبر او منبرونه

ذَهَبٍ وَمَنَابِرُ مِنْ فِضَّةٍ وَيَجْلِسُ أَدْنَاهُمْ وَمَا فِيهِمْ مِنْ دَنِيٍّ عَلَى كُثْبَانِ الْمِسْكِ

د سرو زرو او د سپينو زر منبر وغوړول سي او د خپلو مرتبو سره سم به خلک په هغه كي كښيني

وَالْكَافُورِ وَمَا يَرَوْنَ أَنَّ أَصْحَابَ الْكَرَاسِيِّ بِأَفْضَلَ مِنْهُمْ مَجْلِسًا قَالَ أَبُو هُرَيْرَةَ

د ادنا درجې جنتي به د مشک او كافورو پر غونډۍ كښېنول سي او پر غونډيو ناست خلک به پر كرسيو ناست خلک د خپل ځان څخه غوره نه ګڼي ، دابو هريره ﷺ بيان دئ چي

قُلْتُ يَا رَسُولَ اللّٰهِ وَهَلْ نَرَى رَبَّنَا قَالَ نَعَمْ قَالَ هَلْ تَتَمَارَوْنَ فِي رُؤْيَةِ الشَّمْسِ

ما عرض وكړ اې د الله رسوله ! ايا موږ به خپل پروردګار وينو ، رسول الله ﷺ وفرمايل: هو، ايا تاسو څه شک كوئ د لمر په ليدو كي

وَالْقَمَرِ لَيْلَةَ الْبَدْرِ قُلْنَا لَا قَالَ كَذٰلِكَ لَا تُمَارَوْنَ فِي رُؤْيَةِ رَبِّكُمْ وَلَا يَبْقَى فِي ذٰلِكَ

او د څوارلسمي شپې د سپوږۍ په ليدو كي ؟ موږ عرض وكړ: يا، نو رسول الله ﷺ وفرمايل: همداسي به تاسو هم د خپل پروردګار په ليدو كي څه شک نه كوئ، او د ديدار الهي په هغه

الْمَجْلِسِ رَجُلٌ إِلَّا حَاضَرَهُ اللّٰهُ مُحَاضَرَةً حَتَّى يَقُولَ لِلرَّجُلِ مِنْهُمْ يَا فُلَانُ بْنَ

مجلس كي به هيڅ يو سړى داسي پاته نه سي چي د هغه سره به الله تعالى خبري ونه كړي تر دې چي په حاضرينو كي به يو سړى مخاطب كړي ، الله تعالى به ورته فرمايي اې فلاني

فُلَانٍ أَتَذْكُرُ يَوْمَ قُلْتَ كَذَا وَكَذَا فَيُذَكِّرُ بِبَعْضِ غَدَرَاتِهِ فِي الدُّنْيَا فَيَقُولُ يَا رَبِّ

د فلاني زويه! ايا تا ته هغه ورځ ياد نه ده چي په هغه ورځ تا داسي ويلي او خداى ﷻ به دغه نفر يو څو ټكي ورياد کړي چي په دنيا کي يې کړي وي هغه سړى به وايي اې

أَفَلَمْ تَغْفِرْ لِي فَيَقُولُ بَلَى فَبِسَعَةُ مَغْفِرَتِي بَلَغَتْ بِكَ مَنْزِلَتَكَ هَذِهِ فَبَيْنَمَا هُمْ

پروردګاره! ايا تا زما هغه ګناهونه نه دي بخښلي، الله تعالى به ورته فرمايي هو ما وبخښل او زما د بخښني سره خو نن ته دې مرتبې ته رارسيدلى يې، ټول خلک به په دې حالت کي وي چي

عَلَى ذَلِكَ غَشِيَتْهُمْ سَحَابَةٌ مِنْ فَوْقِهِمْ فَأَمْطَرَتْ عَلَيْهِمْ طِيبًا لَمْ يَجِدُوا مِثْلَ

يوه وريځ به راسي او پر هغوئ به خپره سي بيا دغه وريځ به پر هغوئ داسي خوشبويي واوروي چي هغسي خوشبويي به يې هيڅکله نه وي ليدلې

رِيحِهِ شَيْئًا قَطُّ وَيَقُولُ رَبُّنَا تَبَارَكَ وَتَعَالَى قُومُوا إِلَى مَا أَعْدَدْتُ لَكُمْ مِنَ الْكَرَامَةِ

بيا به الله تعالى هغوئ ته وفرمايي ولاړ سئ او د هغه شي په لور ځئ چي ستاسو د عزت زياتولو لپاره ما تيار کړى دى

فَخُذُوا مَا اشْتَهَيْتُمْ فَنَأْتِي سُوقًا قَدْ حَفَّتْ بِهِ الْمَلَائِكَةُ فِيهَا مَا لَمْ تَنْظُرِ الْعُيُونُ

او كوم شى چي ستاسو خوښ سي هغه واخلئ بيا به موږ يو بازار ته راسو چي پر شاوخوا به يې ملائکي وي، په هغه بازار کي به هغه شيان وي چي د هغه په ډول به نه سترګو ليدلي وي

إِلَى مِثْلِهِ وَلَمْ تَسْمَعِ الْآذَانُ وَلَمْ يَخْطُرْ عَلَى الْقُلُوبِ فَيُحْمَلُ لَنَا مَا اشْتَهَيْنَا لَيْسَ

نه به غوږو اوريدلي وي او نه به د هغه خيال د چا په زړه کي راغلى وي بيا به د هغه بازار څخه هم هغه شيان راکړل سي چي زموږ خوښ وي

يُبَاعُ فِيهَا وَلَا يُشْتَرَى وَفِي ذَلِكَ السُّوقِ يَلْقَى أَهْلُ الْجَنَّةِ بَعْضُهُمْ بَعْضًا قَالَ

حال دا چي په هغه بازار کي به د رانيولو او خرڅولو هيڅ معامله نه وي او په دغه بازار کي به جنتيان يو د بل سره ملاقات کوي، سعيد رضي الله عنه راوي وايي، رسول الله ﷺ وفرمايل چي

فَيُقْبِلُ الرَّجُلُ ذُو الْمَنْزِلَةِ الْمُرْتَفِعَةِ فَيَلْقَى مَنْ هُوَ دُونَهُ وَمَا فِيهِمْ دَنِيٌّ فَيَرُوعُهُ

(د جنت په بازار کي به) يو لوړ مرتبې والا سړى د يو معمولي درجې سړي سره ملاقات وکړي

او د کمزوري درجې سړی به په جنتيانو کي ځان کم نه بولي

مَا يَرَى عَلَيْهِ مِنَ اللِّبَاسِ فَمَا يَنْقَضِي آخِرُ حَدِيثِهِ حَتَّى يَتَخَيَّلَ عليه مَا هُوَ

او د کوم اعلی ډول جامه چي هغه اغوستې وي د هغه به خوښه سي او ښه به ورته معلومه سي بيا د دواړو خبري به لا ختمي نه وي چي ددغه ادنا سړي په خيال کي به راسي چي دده جامې زما

أَحْسَنُ مِنْهُ وَذَلِكَ أَنَّهُ لَا يَنْبَغِي لِأَحَدٍ أَنْ يَحْزَنَ فِيهَا ثُمَّ نَنْصَرِفُ إِلَى مَنَازِلِنَا

څخه غوره نه دي ، دا په دې سبب چي په جنت کي به هيچا ته د غمګين کيدو موقع نسي ورکول کيدلای بيا به موږ خپلو ځايونو ته راسو

فَيَتَلَقَّانَا أَزْوَاجُنَا فَيَقُلْنَ مَرْحَبًا وَأَهْلًا لَقَدْ جِئْتَ وَإِنَّ بِكَ مِنَ الْجَمَالِ أَفْضَلَ

او زموږ بيبياني به زموږ سره ملاقات کوي او مرحبا او هر کلي به راته وايي بيا به وو ايي چي ته په داسي حالت کي راغلې چي ستا حسن او جمال د هغه څخه زيات دی

مِمَّا فَارَقْتَنَا عَلَيْهِ فَيَقُولُ إِنَّا جَالَسْنَا الْيَوْمَ رَبَّنَا الْجَبَّارَ وَيَحِقُّنَا أَنْ نَنْقَلِبَ بِمِثْلِ مَا انْقَلَبْنَا. رواه الترمذي وابن ماجه و قال الترمذي هذا حديث غريب.

کوم وخت چي ته زموږ څخه بيل سوی وې موږ به د هغو په جواب کي ورته وو ايو نن موږ د خپل پرورد ګار سره د هم نشيني عزت حاصل کړی دی او موږ په هغه ډول سره د راستنيدو قابل يو کوم ډول سره چي راغلي يو ،ترمذي، ابن ماجه او ترمذي ويلي دي دا حديث غريب دی.

تخريج : سنن الترمذي ۴\۵۹۱، رقم: ۲۵۴۹، وابن ماجه ۲\۱۴۵۰، رقم: ۴۳۳۶.

د لغاتو حل : كثبان: هو تل من الرمل (د ريګو کوټه).

تشريح : په جنت کي به د شپې او ورځي ګرځېدل نه وي، او نه به د ورځو وجود وي، نو په دنياوي اعتبار سره د جمعې د ورځي څخه مراد دادی چي په دنيا کي د يوې اونۍ څخه تر بلي اونۍ پوري موده چي پر وخت باندي مشتمل وي په جنت کي د هغه وخت په تعين کولو سره به د جمعې ورځ ګرځول کيږي، او په دې اعتبار هغه رحمت به په هغه ورځ وي کوم چي په دنيا کي د جمعې ورځ وه او بيا هغه وخت به جنتيانو ته حکم وسي چي د خپل پرورد ګار د زيارت لپاره خپلو خپلو ماڼيو او ځايو ته په تللو سره فلاني باغ ته ورسي نو په جنت کي به د پرورد ګار د زيارت

لپاره د جمعې د ورځې تعین په اصل کې د دې نتیجه او انعام وي چې هغه جنتیان به په دنیا کې د الله ﷻ د حکم سره سم د جمعې په ورځ د خپلو کورونو څخه په وتلو سره جامع مسجد ته رسېدل او د جمعې لمونځ به یې کوی.

پروردگار به د هغوئ په وړندې خپل عرش څرګند کړي، دلته د عرش څخه مراد د پروردگار ډېر لطف او کرم او زیات تر زیات رحمت او عنایت دی، کنه نو دا خبره مخکې ښودل سوې ده چې عرش د جنت بام دی نو د جنتیانو په وړاندې د عرش څرګندېدل څه معنی نه لري.

نه دا چې په هغوئ کې به څوک معمولي او ذلیل وي، دغه جمله د مخکني عبارت وضاحت دي، یعني رسول الله ﷺ داسې وفرمایل چې ما دا ویلي دي چې په دغه جنتیانو کې چې کوم د ادنا مرتبې او درجې وي، نو د ادنا څخه مراد د اعلی درجو او زیات مراتب لرونکو جنتیانو په مقابله کې د کمې درجې او قلیل مراتبو لرل دي، نه دا چې د ادنی لفظ د سپکاوي پر ځای استعمال سوی دی چې د هغه معنی د ذات په اعتبار ذلیل او حقیر کېدل دي، نو څرګنده دې وي چې د ذاتي شخصیت تر حد پورې هر جنتي به د یو ډول مرتبې والا وي څوک به د چا په مقابله کې ذلیل او حقیر نه وي یوازې د حیثیت او مرتبې فرق به وي، چې په دنیا کې د اختیارونکو اعمالو او افعالو په اعتبار ځیني خلک به د اعلی درجو او زیاتو مرتبو خاوندان وي، هغه خلک به د هغوئ په نسبت د کمې درجې او مرتبې والا وي.

پر غونډیو ناست خلک به پر کرسیو ناست خلک د خپل ځان څخه غوره نه ګڼي...الخ: مطلب دادی چې کوم خلک پر غونډیو ناست وي هغوئ به پر چوکیو او منبرو باندې د ناستو خلکو په لېدو سره د کمترۍ ښکار نه وي ځکه چې په جنت کې به هر سړی پر خپلې مرتبې او خپل حیثیت باندې صابر او شاکر وي، کوم خلک چې د کمې درجې وي هغوئ به د دې پوهېدو سرېره چې موږ د کمې درجې یو او زموږ په مقابله کې فلاني خلک د لوړې درجې دي، هغه به پوره مطمئن وي نه به هغوئ د لوړې مرتبې غوښتنه کوي نه به هغوئ ته د لوړې درجې د محرومۍ احساس او غم وي او نه به هغوئ ته هیڅ ډول غیرت او شرمندګي محسوس کېږي.

فیروعه ما یری علیه من اللباس، ددغه عبارت دوې معناوې کېدای سي او ددې بنیاد دادی چې د روع لفظ دوې معناوي دي، یو د بېرول او دوهم د خوشحاله کېدل، د مخکنۍ معنی مراد اخیستلو په صورت کې ددغه عبارت ترجمه او مطلب به هغه وي کوم چې پورته بیان سو یعني کله چې هغه د لوړې مرتبې سړی د کمې مرتبې سړي پر بدن جامې ویني نو هغه ته به بېره یعني کراهت محسوس سي ځکه چې هغه جامه به د خپلې جامې څخه د کمې درجې وي،

دوهمي معنی په صورت کي به ترجمه او مطلب دا وي چي کله هغه د لوړي مرتبې سړی د هغه کمي مرتبې سړي جامه ويني نو هغه به په دې ډېر خوشحاله سي چي خپله د هغه په بدن اعلی جامې وي مګر زيات صحيح معنی مخکنۍ ده او په دې اعتبار سره د مخکنۍ جملو ترجمه هم د مخکنۍ معنی بنياد ګرځول سوې ده.

په جنت کي د اولاد خواهش

﴿۵۴۰۶﴾: وَعَنْ أَبِي سَعِيدٍ قَالَ قَالَ رَسُولُ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ أَدْنَى أَهْلِ

د حضرت ابو سعيد رضي الله عنه څخه روايت دئ چي رسول الله ﷺ وفرمايل: د ادنا درجې جنتي به هغه

الْجَنَّةِ الَّذِي لَهُ ثَمَانُونَ أَلْفَ خَادِمٍ وَاثْنَتَانِ وَسَبْعُونَ زَوْجَةً وَتُنْصَبُ لَهُ قُبَّةٌ مِنْ

وي چي د هغه سره به اتيا زره خادمان وي او دو اويا بيبياني او د هغه لپاره به خېمه وي د

لُؤْلُؤٍ وَزَبَرْجَدٍ وَيَاقُوتٍ كَمَا بَيْنَ الْجَابِيَةِ إِلَى صَنْعَاءَ و بهذا الاسناد قَالَ مَنْ مَاتَ

ملغلرو، زبرجدو او ياقوتو، دومره لويه څومره چي د جابيه او صنعا په منځ کي مزل دی، په همدې روايت کي دا الفاظ دي چي رسول الله ﷺ وفرمايل: په جنتيانو کي چي څوک مړ سي

مِنْ أَهْلِ الْجَنَّةِ مِنْ صَغِيرٍ أَوْ كَبِيرٍ يُرَدُّونَ أَبْنَاءَ ثَلَاثِينَ فِي الْجَنَّةِ لَا يَزِيدُونَ

په دنيا کي که هغه د کوچني عمر وي يا د لوی عمر، په جنت کي به د ديرشو کالو سي، عمر به

عَلَيْهَا أَبَدًا وَكَذَلِكَ أَهْلُ النَّارِ وَبِهَذَا الْإِسْنَادِ قَالَ إِنَّ عَلَيْهِمُ التِّيجَانَ أَدْنَى لُؤْلُؤَةٍ

يې ددې څخه زيات نه وي او همدا سي دوږخي، او په همدې روايت کي دا الفاظ دي چي رسول الله ﷺ وفرمايل: د جنتيانو پر سرونو به تاجونه وي

مِنْهَا لَتُضِيءُ مَا بَيْنَ الْمَشْرِقِ وَالْمَغْرِبِ وبهذا الاسناد قال اذا اشتهى الولد في

او د هغه تاجونو معمولي ملغلره به داسي وي چي د مشرق او مغرب منځ به روښانه کړي، او په همدې روايت کي دا الفاظ هم دي چي رسول الله ﷺ وفرمايل: هر کله چي يو مؤمن په جنت کي

الجنة كان حمله وَوَضْعُهُ وَسِنُّهُ فِي سَاعَةٍ كَمَا يَشْتَهِي وَقَالَ إِسْحَقُ بْنُ إِبْرَاهِيمَ

د اولاد خواهش وکړي نو حمل او د ماشوم عمر به په يوه ساعت کي سر ته ورسيږي (يعني دا

تولي خبري به په يوه ساعت كي دننه په عمل كي راسي ، ابو اسحاق بن ابراهيم ددي حديث په

فِي الْحَدِيثِ إِذَا اشْتَهَى الْمُؤْمِنُ فِي الْجَنَّةِ الْوَلَدَ كَانَ فِي سَاعَةٍ وَلَكِنْ لَا يَشْتَهِي.

رواه الترمذي وقال هذا حديث غريب و روى ابن ماجه الرابعة والدارمي الاخيره.

شرحه كي وايي چي كه چيري جنتي په جنت كي ماشوم وغواړي نو په يوه ساعت كي به وسي مكر هغه به داسي خواهش نه كوي) . ترمذي ويلي دي دا حديث غريب دی.

تخريج : سنن الترمذي ۵۹۹\۴، رقم: ۲۵۶۲.

تشريح: دا معامله به د دوږخيانو هم وي، مطلب دا دی چي څرنګه جنتيان به د ديرشو كالو په عمر كېدو سره په جنت كي داخلېږي كه څه هم هغه په زيات عمر كي مړ سوی وي يا په كم عمر كي ، همدارنګه دوږخيان به هم د دېرشو كالو په عمر كېدو سره دوږخ ته ځي او د جنتيانو په ډول هغه دوږخيان به هم تل د ديرشو كالو په عمر وي، څرګنده دي وي چي د جنتيانو او دوږخيانو لپاره تل د دېرشو كالو عمر ټاكل كيدای سي ددې لپاره وي چي څوک د ارام او راحت وړ وي هغوئ ته پوره راحت تر لاسه سي او څوک چي د عذاب وړ وي هغوئ ته پوره عذاب وركړل سي، نو څرنګه چي جنتيان به په دار القرار كي تل په دغه عمر كي د راحت او آرام ژوند كوي همدارنګه دوږخيان به هم په دار البوار كي د تل لپاره په دغه عمر كي د عذاب او سختۍ سره مخامخ وي.

د حورو سندري

《۵۴۰۷》: وَعَنْ عَلِيٍّ قَالَ قَالَ رَسُولُ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ إِنَّ فِي الْجَنَّةِ

د حضرت علي ﷺ څخه روايت دئ چي رسول الله ﷺ وفرمايل : په جنت كي به

لَمُجْتَمَعًا لِلْحُورِ الْعِينِ يُرَفِّعْنَ بِأَصْوَاتٍ لَمْ تَسْمَعِ الْخَلَائِقُ مِثْلَهَا يَقُلْنَ

د حور عين د اجتماع يو ځای وي (يعني يو ځای به داسي وي چي هلته به حوري يو ځای كيږي) په دغه اجتماع كي به حوري په لوړ آواز ترانې وايي او د هغوئ آوازونه به دومره خوندور وي چي داسي آوازونه به چا هيڅكله نه وي اوريدلي دا حوري به داسي ترانې وايي :

نَحْنُ الْخَالِدَاتُ فَلَا نَبِيدُ وَنَحْنُ النَّاعِمَاتُ فَلَا نَبْؤُسُ وَنَحْنُ الرَّاضِيَاتُ فَلَا نَسْخَطُ طُوبَى لِمَنْ كَانَ لَنَا وَكُنَّا لَهُ. رواه الترمذي.

موږ به همېشه ژوندي يو موږ به هيڅكله نه مړه كېږو، موږ به په ارام او راحت سره يو هيڅكله به فكر مند نه يو، موږ به د خپل پروردګار يا خپلو خاوندانو څخه راضي او خوشحاله يو هيڅكله به خفه كېږو نه، د هر هغه سړي لپاره خوش خبري ده چي زموږ لپاره دی او موږ د هغه لپاره يو. ترمذي.

تخريج: سنن الترمذي ۴\۶۰۰، رقم: ۲۵۶۴.

د جنت سيندونه او ويالې

﴿۵۴۰۸﴾: وَعَنْ حَكِيمِ بْنِ مُعَاوِيَةَ قَالَ قَالَ رَسُولُ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ إِنَّ فِي الْجَنَّةِ بَحْرَ الْمَاءِ وَبَحْرَ الْعَسَلِ وَبَحْرَ اللَّبَنِ وَبَحْرَ الْخَمْرِ ثُمَّ تُشَقَّقُ الْأَنْهَارُ بَعْدُ. رواه الترمذي و رواه الدارمي عن معاويه.

د حضرت حكيم بن معاويه رضي الله عنه څخه روايت دئ چي رسول الله ﷺ وفرمايل: په جنت كي د اوبو درياب دی، د شاتو درياب دی، د شيدو درياب دی، د شرابو درياب دی، د دغه دريابونو څخه به بيا ويالې را جلا كيږي. ترمذي.

تخريج: سنن الترمذي ۴\۶۰۳، رقم: ۲۵۷۱.

تشريح: ځرګنده ده چي په حديث كي د ذكر سوو سندونو څخه مراد د هغه ويالو او چينو منبع ده چي د هغه يادونه په قرآن كريم كي په دغه آيت كي سوې ده:

فِيهَا أَنْهَارٌ مِّن مَّاء غَيْرِ آسِنٍ وَأَنْهَارٌ مِن لَّبَنٍ لَّمْ يَتَغَيَّرْ طَعْمُهُ وَأَنْهَارٌ مِّنْ خَمْرٍ لَّذَّةٍ لِّلشَّارِبِينَ وَأَنْهَارٌ مِّنْ عَسَلٍ مُّصَفًّى،

ژباړه: په دغه جنت كي به ډېري ويالې د داسي اوبو وي چي په هغه كي به هيڅ بدلون نه وي او ډيري ويالې به د شېدو وي چي د هغو خوند به هيڅ بدل نه وي او ډيري ويالې به د شرابو وي چي څښونكو ته به ډېر خوندور معلوميږي او ډېري ويالې به د عسلو وي چي بالكل پاك به وي.

دغه ويالې به هغه وي چي په حديث كي د ذكر سوو سندونو څخه راوځي او بيا د هغه

ويالو څخه کوچنۍ کوچنۍ ويالې وځي او د ابرار او اخيار خيمو ته جاري وي او د ماڼيو لاندي بهيږي، ځينو حضراتو ويلي دي چي په حديث کي د کوم سندو ذکر دی هغه په اصل کي هغه ويالې دي چي د قرآن کريم په ذکر سوي آيت کي د ويالې په نامه سره ذکر سوي دي ، فرق دادی چي په حديث کي هغه په سند سره تعبير سوي دي او قرآن کريم د هغه معنی د جاري کېدو او بهېدو په مناسبت سره د ويالې په نامه ذکر کړي دي .

اَلْفَصْلُ الثَّالِث (دريم فصل)

د جنت حوري

﴿۵۴۰۹﴾: عَنْ أَبِي سَعِيدٍ عَنْ رَسُولِ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ قَالَ إِنَّ الرَّجُلَ

د حضرت ابو سعيد ﷺ څخه روايت دئ چي رسول الله ﷺ وفرمايل : په جنت کي به سړی په

في الجنة لَيَتَّكِئُ فِي الْجَنَّةِ سَبْعِينَ مسندا قَبْلَ أَنْ يَتَحَوَّلَ ثُمَّ تَأْتِيهِ امْرَأَتُهُ

اويا بالښتو تکيه وهلی ناست وي او دا به يوازي پر يوه اړخ وي بيا به د جنت د ښځو څخه يوه ښځه ورته راسي او د ځان په لور به يې متوجه کولو لپاره

فَتَضْرِبُ عَلَى مَنْكِبَيْهِ فَيَنْظُرُ وَجْهَهُ فِي خَدِّهَا أَصْفَى مِنَ الْمِرْآةِ وَإِنَّ أَدْنَى

د هغه پر اوږو لاس کښيږدي، سړی به د هغې په لور متوجه سي او د هغې په باړخوګانو کي چي تر هنداري به زيات روښانه وي خپل مخ ووينې او د هغې ښځي معمولي

لُؤْلُؤَةٍ عَلَيْهَا تُضِيءُ مَا بَيْنَ الْمَشْرِقِ وَالْمَغْرِبِ فَتُسَلِّمُ عَلَيْهِ فَيَرُدُّ السَّلَامَ

ملغلره به دومره ښکلې وي چي د مشرق او مغرب منځ به روښانه کړي ، دا ښځه به هغه سړي ته سلام وکړي او سړی به د هغې د سلام جواب ورکړي

وَيَسْأَلُهَا مَنْ أَنْتِ فَتَقُولُ أَنَا مِنَ الْمَزِيدِ وَإِنَّهُ لَيَكُونُ عَلَيْهَا سَبْعُونَ ثَوْبًا

او پوښتنه به ځيني وکړي چي ته څوک يې هغه ښځه به ورته وايي زه مزيد يم (يعني د هغه شيانو څخه يم چي الله تعالی به يې جنتيانو ته د خپل لوري زيات ورکړي)بيشکه چي دو اويا جامې به يې اغوستي وي

فَيَنْفُذُهَا بَصَرُهُ حَتّٰى يَرَى مُخَّ سَاقِهَا مِنْ وَرَاءِ ذٰلِكَ وَإِنَّ عَلَيْهَا مِنَ التِّيجَانِ إِنَّ أَدْنَى لُؤْلُؤَةٍ منها لَتُضِيءُ مَا بَيْنَ الْمَشْرِقِ وَالْمَغْرِبِ. رواه احمد.

او د سترګو نظر نه ځيني تيريږي حتی د هغې بدن به صفا معلوميږي تر دې چي د هغې د پنډيو مغز هم او د هغې پر سر به داسي تاج وي چي د هغې يوه معمولي ملغلره به د مشرق او مغرب منځ ځلانده کړي . احمد .

تخريج: الامام احمد في مسنده ۳\۷۵.

تشريح: مخکي تر دې چي هغه د يوه اړخ څخه بل اړخ بدل کړي، د دغه جملې په ذريعه دې ته اشاره کول مقصد دي چي د هغه سړي په اړخو کي به دومره زيات لوی بالښتونه اېښودل سوي وي چي هغه پر يوه اړخ باندي ناست دوهم اړخ بدلولو پوري به ډول ډول اويا بالښتونه وي.

زه د مزيد څخه يم، يعني د هغه نعمتونو څخه يو نعمت يم چي د هغه الله ﷻ ستاسو د نيکو کارو د بدلې او جزا څخه پرته د خاص انعام په توګه وعده کړې ده ، دا د قرآن کريم دغه آيت ته اشاره ده : لهم ما يشاءون فيها ولدينا مزيد. يعني مؤمنانو ته په جنت کي هغه څه تر لاسه کيږي چي موږ به يې د جزاء په توګه ورکول غواړو ددې څخه پرته زموږ سره نور هم خاص انعامونه دي همدارنګه يو بل آيت هم دی :

للذين احسنو الحسنى وزيادة ، د نيکانو لپاره جنت دی او تر دې هم زيات .

مفسرينو په دغه آيت کي د زيادة تفسير د الله ﷻ په ديدار کړی دی ، بيا هم ددې خبري خلاف نه دی چي په هغه نورو نعمتو کي يو نعمت ځيني حوري هم وي .

پاته سوه دا خبره چي د جنت حوري دغه نعمت په مزيد سره ولي تعبير سوی دی نو وجه يې داده چي د هغه الهي فضل څخه بندګانو ته د هغوئ دنيکو اعمالو په جزاء کي به ورکړل سي اوس د هغه جنت ورکول کيدو وروسته بيا بندګانو ته چي څه تر لاسه کيږي هغه به خاص انعام او فضل وي ، او ښکنده ده چي د اصل جزاء د بدلې څخه به زيات شی وي .

په جنت کي کښت کول

﴿۵۴۱۰﴾ : وَعَنْ أَبِي هُرَيْرَةَ أَنَّ النَّبِيَّ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ كَانَ يَتَحَدَّثُ وَعِنْدَهُ

د حضرت ابو هريره رضی الله عنه څخه روايت دئ چي د رسول الله ﷺ سره يو صحرايي سړی ناست وو ،

رَجُلٌ مِنْ أَهْلِ الْبَادِيَةِ أَنَّ رَجُلًا مِنْ أَهْلِ الْجَنَّةِ اسْتَأْذَنَ رَبَّهُ فِي الزَّرْعِ فَقَالَ

رسول الله ﷺ دا بيان وكړ چي په جنتيانو كي به يو سړى د خپل پروردګار څخه د فصل كرلو اجازه وغواړي، الله تعالى به ورته فرمايي

لَهُ أَلَسْتَ فِيمَا شِئْتَ قَالَ بَلَى وَلَكِنِّي أُحِبُّ أَنْ أَزْرَعَ فَبَذَرَ فَبَادَرَ الطَّرْفَ نَبَاتُهُ

په كوم حال كي چي ته يې ايا دا كافي نه دي، هغه به وايي هو ، مګر زه فصل كرل خوښوم، نو هغه ته به اجازه وركړل سي هغه به په مځكه كي تخم وكري چي د ستركو په رپ كي به هغه شنه

وَاسْتِوَاؤُهُ وَاسْتِحْصَادُهُ فَكَانَ أَمْثَالَ الْجِبَالِ فَيَقُولُ اللَّهُ دُونَكَ يَا ابْنَ آدَمَ

سي، لوى به سي او وه به ريبل سي او د غرونو په اندازه به سي، الله تعالى به هغه ته وفرمايي اې دادم زويه!

فَإِنَّهُ لَا يُشْبِعُكَ شَيْءٌ فَقَالَ الْأَعْرَابِيُّ وَاللَّهِ لَا تَجِدُهُ إِلَّا قُرَشِيًّا أَوْ أَنْصَارِيًّا

ښكه تا هيڅ شى نه مړوي، د رسول الله ﷺ د دغه ارشاد اوريدو سره هغه صحرايي چي د رسول الله ﷺ سره نژدې ناست وو عرض يې وكړ په الله ﷻ دي مي قسم وي هغه سړى به قريشي

فَإِنَّهُمْ أَصْحَابُ زَرْعٍ وَأَمَّا نَحْنُ فَلَسْنَا بِأَصْحَابِ زَرْعٍ فَضَحِكَ رسول الله صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ. رواه البخاري.

وي يا انصاري ځكه چي دا خلك زراعت پيشه دي او زموږ پيشه كښت نه دى، د هغه صحرايي د دغه خبري اوريدو سره رسول الله ﷺ وخندل. بخاري.

تخريج صحيح البخاري (فتح الباري): ۵\۲۷، رقم: ۲۳۴۸.

د لغاتو حل : فبادر: اى سابقه. (وړاندي سو)

تشريح ستا د حرص نس هيڅ شى نه ډكوي، د دې مطلب به دا وي چي د آدم زويه! دا خو وسول چي تا يو خواهش ظاهر كړ او موږ ستا هغه خواهش د ستركو په رپ كي پوره كړ، مګر لږ فكر وكړه چي په جنت كي دومره بې شميره نعمتونو تر لاسه كولو او ستا د خواهش د هر شي تا ته دركولو سربېره تا چي د كوم عجيب شي خواهش وكړ هغه پر څه دلالت كوي، ايا د دې مطلب دا

نه دي چي ستا د حرص نس په هيڅ شي نه ډکيږي ، او د عيش او تنعيم آخري حد هم تا ته قناعت نه سي درکولای، ددې څخه معلومه سوه چي حرص او ترک قناعت د انسان په جبلت کي داخل دی او دا يو داسي عادت دی چي د هغه څخه وتلای نه سي که څه هم هغه جنت ته ورسيږي.

په جنت کي خوب نه راځي

﴿۵۴۱۱﴾: وَعَنْ جَابِرٍ قَالَ سَأَلَ رَجُل رَسُولَ اللهِ ﷺ أَيَنَامُ أَهْلُ الْجَنَّةِ قَالَ اَلنَّوْمُ أَخُو الْمَوْتِ وَلاَ يَمُوتُ أَهْلُ الْجَنَّةِ . رواه البيهقي في شعب الإيمان.

د حضرت جابر رضي الله عنه څخه روايت دی چي يو سړي د رسول الله ﷺ څخه پوښتنه وکړه ايا جنتيان به بيده کيږي ؟ رسول الله ﷺ ورته وفرمايل: خوب د مرگ ورور دی او جنتيان به نه مړه کيږي (مطلب دا چي نه به بيديږي) .بيهقي.

تخريج : البيهقي في شعب الايمان ۴\۱۸۳، رقم: ۴۷۴۵.

==========

بَابُ رُؤْيَةِ اللهِ تَعَالٰى

(د الله جل جلاله د ديدار (ليدني) بيان)

د رؤية الله يا د الله جل جلاله د ديدار مطلب دادی چي الله جل جلاله په خلاصو سترگو سره ويني، او د الله جل جلاله د ليدو دغه سعادت به مؤمنانو ته په آخرت کي په برخه کيږي چي د هغه د تفصيل لپاره دا باب قائم سوی دی او د دغه موضوع سره اړوند حديثونه پکښي نقل سوي دي .

د الله جل جلاله ليدنه د عقل له موخي ناممکن نه ده: د اهل سنت والجماعة په اتفاق سره عقيده ده چي د الله جل جلاله ليدنه يو داسي حقيقت دی چي د هغه وجود عقلا هم صحيح دی او د هغه ليدني لپاره د الله جل جلاله پر يو خاص ځای او مقام باندي او په يو خاص طرف کي موجود او قائم کېدل او د هغه د ذات او د ليدونکو مخ په مخ کېدل ضروري او د شرط د درجې شی نه دی بلکه هغه د خپل ذات او وجود په اعتبار څه چي دی په هغه حيثيت سره د هغه ليدل ممکن دي که څه هم هغه د جسم او جسمانيت څخه ماوراء او د مکان او جهت د قيد څخه ازاد دی .

پاته سوه دا خبره چي د ليدونکي شي لپاره ضروري ده چي د هغه جسم وي او پر يو خاص ځای باندي موجود او قائم وي، او د نظر په طرف کي وي نو په ليدو کي د دغه شيانو عمل دخل

کېدل په اصل کي ځکه ضروري دي چي قدرت همدا رنګه نظارم جاري کړی دی او د انسان بصر يې د خپل فعل په سرته رسولو سره د هغه اسبابو پابند ګرځولی دی که څه هم قادر مطلق د دغه جاري نظام او عادت پر خلاف د هغه عواملو څخه پرته هم چا ته يو شی ښودل غواړي نو بېله شکه پر دې قادر دی او داسي ممکن کيدای هم سي نو په دې کي هيڅ خلاف عقل خبره نسته چي الله ﷻ د قيامت په ورځ په انساني نګاه کي بصيرت ته په قوت ورکولو سره څرنګه چي نن ورځ په دنيا کي مؤمنان يې په بصيرت سره تر لاسه کوي اوويني يې، نو سبا به په آخرت کي بصر يعني د سر په سترګو سره هغه ويني.

د ليدني تعلق د آخرت سره دی: د امت د ټولو علماؤ پر دې خبره اتفاق دی چي د الله ﷻ ليدنه به ټولو مؤمنانو ته په آخرت کي په برخه کيږي، د دې ثبوت هغه قرآني اياتونه، صحيح حديثونه، د صحابه کرامو او تابعينو اجماع او د امامانو اقوال دي چي په دې اړه نقل سوي او ذکر سوي دي، مګر ځيني خلک داسي هم دي چي د الله ﷻ د ليدني څخه منکر دي، هغوئ د الله ﷻ د ليدني سره اړوند آياتونو او حديثونو تاويل کړی دی، او د علماء حق له خوا د هغه تاويلونو ټينګ جوابونه په مختلفو تحقيقي کتابو کي مذکور دي.

د امت علماؤ دا وضاحت کړی دی چي د الله ﷻ د ليدني سره مؤمنان خاصول به په جنت کي وي چي هغه مؤمنانو چي جنت ته ورسيږي نو هلته به د الله ﷻ د ليدني په سعادت سره مشرف سي مګر کوم چي د هغه ليدني تعلق دی چي په موقف يعني د حشر په ميدان کي به وي نو هلته به ټول خلک که مؤمنان وي که کافران يعني ټول به الله ﷻ ويني مګر کافران به وروسته د دغه ليدني څخه محجوب سي او بيا به د تل لپاره به د ليدني په ارمان وي.

ښځي به هم د الله ﷻ د ليدني څخه محرومي نه وي: د ښځو په اړه اختلاف دی، ځيني وايي چي هغوئ ته به دغه ليدنه تر لاسه وي او ځيني انکار کوي، مګر صحيح خبره داده چي ښځي به هم د دغه خوشبختی څخه محرومي نه وي، د نارينوو په ډول به هغوئ ته هم د الله ﷻ ليدنه په برخه وي، مګر ځينو حضراتو ويلي دي چي ښځو ته به په ځينو خاصو ورځو کي لکه د جمعې په ورځو کي يا د اخترو په ورځو کي د ليدني سعادت په برخه کيږي چي عام وختونه به وي، کوم علماء چي مطلقا د ښځو د ليدني منکر دي د هغوئ وينا ده چي ښځي به په خيمو کي په پرده کي وي لکه څرنګه چي په قرآن کريم کي فرمايل سوي دي: (حور مقصورات في الخيام) نو هغوئ ته ليدنه څرنګه ممکن ده، دا د نه منلو وړ خبره ده ځکه چي لومړی خو د الله ﷻ د ليدني په اړه چي کوم آياتونه او حديثونه نقل سوي دي په هغو کي په خاصوالی

مذکور نه دی بلکه هغه پر عموم باندي محمول دي او سړي او ښځي ټول پکښي شامل دي،د وهم دا چي د آخرت پر دنیا باندي قیاس کول او هلته د ښځو په خیمو کي او سېدل د دنیا پر پرده باندي منطبق کول یوه غلطه خبره ده ځکه چي د جنت خیمې چي په هغه کي به د هغه ښځي او سیږي د پردې او حجاب مستلزم به نه وي ، ددې څخه پرته دا خبره هم د فکر وړ ده چي فاطمه زهرا ﷺ، خدیجة الکبری ﷺ، عائشه صدیقه ﷺ او امهات المؤمنات رضي الله عنهن، او همدارنګه نوري ستري ښځي چي دلکونو خلکو څخه زیات فضیلت او عظمت لري ، نو بیا څرنګه ټول د الله ﷻ د لیدني د خوشبختۍ څخه محروم کېدای سي .

پیریانو او ملائکو ته د الله ﷻ لیدنه په برخه وي: د پیریانو او ملائکو په اړه هم اختلاف دی، چي ایا هغوئ ته به د الله ﷻ لیدنه په برخه وي که یا ، ځینو علماؤ لیکلي دي چي د حضرت جبرائیل ﷺ څخه پرته نورو ملائکو ته به د الله ﷻ د لیدني سعادت په برخه نه وي او حضرت جبرائیل ﷺ به هم په دغه سعادت سره یو ځل مشرف کیږي، او همدارنګه پیریان به د الهي دېدار څخه محروم وي، مګر په دې اړه صحیح قول دادی چي د الله ﷻ د لیدني سعادت د ټولو مؤمنانو لپاره دی، که انسان وي ، ملائکه وي یا پیریان وي .

په دنیا کي د الله ﷻ لیدنه : دا مسئله هم مختلف فیه ده چي ایا په دنیا کي د ویښي په حالت کي په خلاصو سترګو سره د الله ﷻ لیدنه کیدای سي که یا ، په دې اړه علماؤ دا قول اختیار کړی دی چي د الله ﷻ لیدنه په دنیا کي هم ممکن ده مګر بالاتفاق غیر واقع دی، پاته سوه دا خبره چي رسول الله ﷺ د معراج په شپه کي د الله ﷻ دېدار کېدل امر واقع دی، نو دغه استثنائي صورت دی، که څه هم ځینو علماؤ ددې سره اختلاف کړی دی چي رسول الله ﷺ ته د معراج په شپه د سر په سترګو سره د الله ﷻ دېدار سوی وو دا یو بېل بحث دی چي وروسته به د اړوندو حدیثونو په تشریح کي بیان سي، په هر حال محدثین ، فقهاء، متکلمین او مشائخ طریقت ټول پر دې اتفاق لري چي تر ننه پوري په دنیا کي چا ته هم د الله ﷻ لیدنه په برخه سوې نه ده ، نه په اولیاء الله او مشائخو کي چا ددې دعوه کړې ده او نه په راتلونکي کي چا ته په برخه کیدای سي بلکه مشائخو په تفاق سره ویلي دي که یو سړی دا دعوه وکړي چي هغه د ویښي په حالت کي الله ﷻ لیدلی دی لکه ځیني ناپوهان چي وایي نو دهغه تکذیب کول او هغه ګمراه ګڼل لازم دي، د فقه شافعي په مستند کتاب (انوار) کي دا لیکلي دي چي کوم څوک دا ووایي چي زه په دغه دنیا کي د سر په سترګو الله ﷻ وینم او الله ﷻ زما سره مخا مخ خبري کوي نو هغه کافر کیږي .

یو سوال دا پیدا کېدای سي چي کله په دنیا کي د الله ﷻ لېدنه ممکن ده او په انساني دید کي داسي یو نقص هم نه وي چي د یو شي په لېدو کي خنډ واقع سي نو بیاد الله ﷻ د نه لېدني سبب څه دی، ددې جواب دادی چي لېدل او معلومېدل په اصل کي د نظام قدرت او تخلیق الهي سبب دی چي د هغه اصل علت هغه عام بصر دی چي انسان یې په خپلو سترګو کي لري، حاسه بصر خو یوازي داسي ظاهري سبب دی چي الله ﷻ د یو خاص نظام او معمول سره سم د لېدو ذریعه جوړه کړې ده که هغه چا ته ښودل غواړي نو د سترګو سربېره هم نسي لیدلای د مثال په توګه یو لوی غر مخته دی او الله ﷻ د چا په سترګو کي د لېدو صفت نه وي پیدا کړی نو هغه غر هیڅکله نسي لیدلای، همدارنګه که یو ړوند سړی د دنیا پر ختیځه غاړه باندي وي او د دنیا پر لویدیځه غاړه باندي یوه غوماشه وي او الله ﷻ هغه ړانده ته د غوماشي لېدل غواړي نو هغه یې یقینا لیدلای سي، نو څرګنده سول چي لېدل یا ښودل د نظام قدرت سره سم د سترګي عمل یا غیر عمل بېله شکه دی مګر د سترګو هغه عمل یا د هغه عمل هغه طاقت چي په هغه سره انسان په لیدنه باندي قادر دی غیر محدود او خودمختار نه دی بلکه د هغه کړنه تر دې پوري ده تر څو چي الله ﷻ هغه کارکونکی وګرځوي، د الله ﷻ حکمت چي هغه پر انسان باندي په دنیا کي خپل لیدنه ونه کړي ځکه هغه حاسه بصر کي هغه توان نه دی ایښی چي په هغه سره الله ﷻ ولېدل سي، دا خبره پر عامو شیانو باندي قیاس کول د ذهن او قیاس مهمل تابعداري ده.

د خوب په حالت کي د الله ﷻ لېدنه: ایا د خوب په حالت کي د الله ﷻ لېدنه کېدای سي؟ په دې اړه د علماؤ اختلاف دی مګر صحیح قول دادی چي د خوب په حالت کي د الله ﷻ لېدنه یوازي ممکن نه بلکه امر واقع هم دی او د عقل او نقل له موخي لیري خبره هم نه ده، مګر دا ضرور ویل کیږي چي په خوب کي د الله ﷻ لېدل یوه قلبي مشاهده ده چي د هغه تعلق د مثال سره وي نه د مثل سره، او د الله ﷻ مثل نسته، په هرحال د خوب په حالت کي د الله ﷻ لېدل د الله ﷻ د ولیانو څخه ثابت دي، امام اعظم ابوحنیفة رحمة الله علیه فرمایي: ما سل ځله الله ﷻ په خوب کي لیدلی دی، همدارنګه امام احمد بن حنبل رحمة الله علیه څخه منقول دي هغه فرمایي ما په خوب کي الله ﷻ ولیدی نو پوښتنه مي وکړل چي هغه کوم عمل دی چي ستا تر ټولو زیات خوښ دی، الله ﷻ وفرمایل: د قرآن کریم تلاوت، بیا مي پوښتنه وکړل چي په معنی او مطلب باندي په پوهېدو سره که ددې څخه پرته؟ الله ﷻ وفرمایل: که څه هم د معنی په پوهېدو سره تلاوت کوي یا ددې څخه پرته، ددغه پېښو څخه څرګندیږي چي په خوب کي د الله ﷻ لېدنه کیدای سي.

اَلْفَصْلُ الْأَوَّلُ (لومړی فصل)

په خلاصو سترګو د الله ﷻ دیدار

﴿۵۴۱۲﴾: عن جَرِيرِ بْنِ عَبْدِ اللّٰهِ قَالَ قَالَ رَسُولُ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ

د حضرت جرير بن عبدالله رضي الله عنه څخه روايت دئ چي رسول الله ﷺ وفرمايل :

إِنَّكُمْ سَتَرَوْنَ رَبَّكُمْ اَعْيَانًا وفي رواية قَالَ كُنَّا جُلُوسًا عِنْدَ رسول الله صَلَّى

هغه وخت نژدې دی چي تاسو به خپل پروردګار په خپلو سترګو سره ووینئ او په یوه روایت کي داسي دي چي موږ د رسول الله ﷺ سره ناست وو چي

اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ فنَظَرَ إِلَى الْقَمَرِ لَيْلَةَ الْبَدْرِ فَقَالَ إِنَّكُمْ سَتَرَوْنَ رَبَّكُمْ كَمَا

رسول الله ﷺ د څوارلسمي شپې سپوږمۍ ته وکتل او وه يې ويل لکه څرنګه چي تاسو دا

تَرَوْنَ هَذَا الْقَمَرَ لَا تُضَامُونَ فِي رُؤْيَتِهِ فَإِنْ اسْتَطَعْتُمْ أَنْ لَا تُغْلَبُوا عَلَى صَلَاةٍ

سپوږمۍ وینئ همداسي به خپل پروردګار وینئ او د الله تعالی په لیدو کي به تاسو هیڅ تکلیف نه محسوسوئ، که تاسو کولای سئ نو د لمر ختلو څخه مخکي او د لمر د لویدلو څخه مخکي (سهار او مازدیګر) لمنځونه پر وخت ادا کوئ

قَبْلَ طُلُوعِ الشَّمْسِ وَ قَبْلَ غُرُوبِهَا فَافْعَلُوا ثُمَّ قَرَأَ سَبِّحْ بِحَمْدِ رَبِّكَ قَبْلَ طُلُوعِ الشَّمْسِ وَقَبْلَ غُرُوبِهَا. متفق عليه.

او هيڅکله يې مه پريږدئ ددې څخه وروسته رسول الله ﷺ دا آيت تلاوت کړ : (و سبح بحمد ربک قبل طلوع الشمس و قبل غروبها) ،(او د لمر ختلو او لويدو څخه مخکي لمونځ کولو سره د خپل پروردګار حمد او پاکي بيانوئ) . بخاري او مسلم.

تخريج : صحيح البخاري (فتح الباري): ۱۳\۴۱۹، رقم: ۷۴۳۵، ومسلم ۱\۴۳۹، رقم: ۲۱۱- ۶۳۳.

د لغاتو حل : عِيانا : رفع الحجاب بين الرائي والمرئي .

تشريح لکه څرنګه چي د غه سپوږمۍ وينئ، دغه تشبيه د ليدلو سره ده نه د ليدونکي شي

سره، ددغه اجمال تفصيل دادی چي رسول الله ﷺ وفرمايل: تاسو به خپل پروردگار داسي وينئ لکه ځرنګه چي دغه سپوږمۍ وينئ نو ددې څخه د رسول الله ﷺ دا مراد وو چي ځرنګه دغه وخت د څورلسمي سپوږمۍ په خپلو خلاصو سترګو سره وينئ او ددغه سپوږمۍ په ليدو کي تاسو ته هيڅ شک او شبهه نسته ، دا مراد هيڅکله نه دی چي ځرنګه دغه سپوږمۍ ستاسو مخته ده او په يو خاص ځای کي او يو خاص خوا کي محدود قائمه معلوميږي همدارنګه به ستاسو د پروردګار ذات هم ستاسو په وړاندي په يو خاص ځای او خاص خوا کي محدو او قائم معلوميږي،

لا تضامُون في رؤية: د هغه په ليدو کي به تاسو ته هيڅ تکليف نه وي، دلته د تضامون لفظ داسي هم منقول دی او تضامون، هم نقل سوی دی مګر زيات صحيح د تضامون لفظ دی، او په دغه صورت کي به دغه لفظ په ضم سره وي چي دهغه معنی د ضرر او ظلم ده، او مطلب يې دادی چي د پروردګار په ليدنه کي به پر تاسو ظلم نه کيږي چي ځوک دي يې وويني او ځوک دي محروم پاته سي، يا دهغه په ليدنه کي به تاسو په خپلو کي پر يوبل باندي ظلم او زياتوب نه کوئ چي د يو بل د ليدو څخه انکار وکړئ او ځوک درواغجن وګرځوئ، په دوهم صورت کي دغه لفظ به د تضام وي چي دهغه معنی په خپلو کي د يو بل سره يو ځای کېدل او رش جوړول دي، يو بل ته ټېله ورکولو او پر يو بل باندي د غورځېدو نوبت به نه راځي بلکه هر سړی به پر خپل ځای باندي په اطمينان او فراغت سره الله جل جلاله ويني، لکه ځرنګه چي د څورلسمي شپې د سپوږمۍ د ليدني لپاره داسي زحمت او تکليف نه وي، پر خلاف د لومړۍ ورځي د سپوږمۍ چي هغه خړه او نرۍ کېدو په وجه سمه نه معلوميږي او د هغه لېدو لپاره خاص هڅه او کوښښ کول پکار وي.

که تاسو کولای سئ چي تاسو دغه لمونځ ....الخ: مطلب دادی چي د سهار او مازديګر لمونځ ډېر برکتناک او ددغه وخت لمونځونه ډېر زيات ارزښت لري ځکه تاسو ددغه لمونځو د پابندۍ ډېر زيات خيال وساتئ او تر خپله وسه پوري هڅه کوئ چي دغه لمونځونه در څخه قضا نه سي او دا خبره بايد په ذهن کي وي چي د لمونځ پابندي کوونکي ددې زيات وړ دی چي هغه ته د پروردګار ليدنه په برخه سي ځکه چي دلمانځه په پابندي سره د شهود ذات وصف او ملکه تر لاسه کيږي، دا هغه حقيقت دی چي هغه ته رسول الله ﷺ په دغه ارشاد کي : جعلت قرة عيني في الصلوة، زما دسترګو يخوالی په لمانځه کي ايښودل سوی دی، کي اشاره فرمايلې ده، ځرګنده دي وي چي هسي خو دغه ارزښت د ټولو لمونځو دی مګر دلته د سهار او مازديګر

لمونځ ځکه خاص سوی دی چي ددغه دواړو وختونو لمونځونه فضيلت او غوره والی لري او ددغه فضيلت او غوره والي يوه لويه وجه داده چي د سهار په وخت کي خو خلک د خوب او استراحت په حالت کي وي او بيا د مازديگر په وخت کي د دنيا کاروبار کي اخته وي نو کوم څوک چي په دغه دوو وختونو کي د سستئ او کهالئ ښکاره نه سي او د خنډونو سربېره ددغه دواړو لمونځو خيال وساتي نو هغوئ به د نورو وختونو د لمونځو خيال په درجه اولی ساتي، چي نسبتا زيات اسان دي ، په حديث کي ددغه دواړو وختونو دلمونځو په خاصه توګه ذکر کولو يو سبب دا هم دی چي دغه دواړه وختونو د نورو وختو په نسبت زيات شرف او فضيلت لري او دا چي په آخرت کي به د پروردګار ديدار په دغه دوو وختو کي کيږي.

د الله ﷻ ديدار تر ټولو لوی نعمت دی

﴿۵۴۱۳﴾: وَعَنْ صُهَيْبٍ عَنِ النَّبِيِّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ قَالَ إِذَا دَخَلَ أَهْلُ

د حضرت صهيب رضي الله عنه څخه روايت دئ چي رسول الله ﷺ وفرمايل: هر کله چي جنتيان په جنت

الْجَنَّةِ الْجَنَّةَ يَقُولُ اللَّهُ تَبَارَكَ وَتَعَالَى تُرِيدُونَ شَيْئًا أَزِيدُكُمْ فَيَقُولُونَ أَلَمْ

کي داخل سي نو الله تعالی به هغوئ ته وفرمايي: نور څه غواړئ چي زه يې زيات درکړم؟

تُبَيِّضْ وُجُوهَنَا أَلَمْ تُدْخِلْنَا الْجَنَّةَ وَتُنَجِّنَا مِنَ النَّارِ قَالَ فَيرفع الْحِجَابَ

جنتيان به وايي : ايا تا زموږ مخونه روښانه کړي نه دي ايا تا موږ په جنت کي داخل کړي نه يو او د دوږخ څخه دي خلاص کړي نه يو ، رسول الله ﷺ وفرمايل: ددې اوريدو سره به الله تعالی پرده پورته کړي

فينظرون الى وجه الله تعالى فَمَا أُعْطُوا شَيْئًا أَحَبَّ إِلَيْهِمْ مِنَ النَّظَرِ إِلَى رَبِّهِمْ عَزَّ وَجَلَّ ثُمَّ تَلَا لِلَّذِينَ أَحْسَنُوا الْحُسْنَى وَزِيَادَةٌ. رواه مسلم

او جنتيان به د الله تعالی په ديدار مشرف سي او جنتيانو ته به د الله تعالی د ديدار څخه غوره هيڅ شي نه وي ورکړل سوی ، ددې څخه وروسته رسول الله ﷺ دا آيت تلاوت کړ : (للذي احسنوا الحسنی و زيادة)، (کومو خلکو چي نيکي کړې ده د هغه ثواب نيک دی يعني جنت او پر هغه نور زيات يعني ديدار الهي). مسلم.

تخریج : صحيح مسلم ۱\۱۶۳، رقم: ۲۹۷-۱۸۱.

تشريح: بیابه حجاب پورته کړل سي، په دې اړه وضاحت دادی چي د حجاب (پردې) پورته کول به د جنتیانو د حیرانی او تعجب څخه د وتلو لپاره وي یعني هغه وخت به جنتیان په دغه حیرانتیا او تعجب کي وي چي اوس کوم یو نعمت پاته سوی دی چي الله ﷻ یې موږ ته راکول غواړي بیا به الله ﷻ د خپل دیدار په ذریعه دا وفرمایي چي وګورئ دادی هغه نعمت عظمی چي ما تاسو ته درکول غوښتل او دغه نعمت ستاسو د اصل بدلې او جزاء څخه زیات دی، د الله ﷻ ذات د حجاب او پردې څخه پاک دی، داسي نه ده چي نعوذ باالله هغه په پرده کي پټ دی او جنتیانو ته به د دیدار په وخت کي د هغه پرده لیري کړل سي.

څرګنده ده چي هغه محبوب دی نه محجوب، هغه غالب او مطلق دی نه په پرده کي مغلوب، نو حجاب پورته کړل سي ددې مطلب دادی چي د لیدونکو د سترګو څخه به هغه حجاب پورته کړل سي نو هغوئ به دخپل پروردګار په لیدنه مشرف سي، ددې تائید خپله د حدیث د مخکنی جملې او جنتیان به الله ﷻ ته ګوري، څخه کیږي.

او جنتیانو ته داسي هیڅ نعمت نه ورکړل سو ...الخ: ددغه جملې په ذریعه د یو داسي خقیقت اظهارول مقصد دئ چي په هغه کي د شک او شبهې ګنجائش نسته ځکه چي څرنګه په دنیا کي تر لاسه کېدونکي ټولي ذاتي او روحاني مرتبې او درجو لوړوالي پر الله ﷻ باندي ختمیږي همدارنګه په اخرت کي د تر لاسه کېدونکو ټولو نعمتو او سعادتو انتهاء به د الله ﷻ دیدار وي.

اَلْفَصْلُ الثَّانِي (دوهم فصل)

د جنتیانو مرتبې

﴿۵۴۱۴﴾: عَنِ بْنِ عُمَرَ قَالَ قَالَ رَسُولُ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ إِنَّ أَدْنَى أَهْلِ

د حضرت ابن عمر رضی الله عنه څخه روایت دئ چي رسول الله ﷺ وفرمایل: په جنت کي به د مرتبې د

الْجَنَّةِ مَنْزِلَةً لَمَنْ يَنْظُرُ إِلَى جِنَانِهِ وَأَزْوَاجِهِ وَنَعِيمِهِ وَخَدَمِهِ وَسُرُرِهِ مَسِيرَةَ

لحاظ څخه ادنا کس هغه وي چي ګوري به خپلو باغونو ته، خپلو بیبیانو ته، خپلو نعمتونو ته، خپلو خدمتارانو ته او د ناستي خپلو ځایونو ته

لْفِ سَنَةٍ وَأَكْرَمَهُمْ عَلَى اللّٰهِ مَنْ يَنْظُرُ إِلَى وَجْهِهِ غُدْوَةً وَعَشِيَّةً ثُمَّ قَرَأَ وُجُوهٌ يَوْمَئِذٍ نَاضِرَةٌ إِلَى رَبِّهَا نَاظِرَةٌ. رواه احمد والترمذي.

په مزل د زرو کلونو ، او د الله تعالى په نزد به عزت ناک کس هغه جنتي وي چې سهار او ماښام به په ديدار الهي مشرف کيږي، ددې څخه وروسته رسول الله ﷺ دا آيت تلاوت کړ : (وجوه يومئذ ناضرة الى ربها ناظرة)، (ډير مخونه به په دغه ورځ د خپل پروردګار په ديدار تر او تازه او خوشحاله وي). احمد او ترمذي.

تخريج : الامام احمد في مسنده ۲\ ٦۴، والترمذي ۴\ ۵۹۳، رقم: ۲۵۵۳.

د لغاتو حل : سرره: اى مقدار مسيرة الف سنة (د زر کاله مسافت په اندازه)

تشريح: چې سهار او ماښام خپل پروردګار ...الخ: ددې څخه ثرګنده سوه چې په جنت کې د پروردګار دېدار به سهار او ماښام وي، ځکه حکم سوى دى چې د سهار او ماښام پر لمونځو باندي همېشتوب اختيار کړئ او په پابندي سره دغه لمونځونه کوئ چې په جنت کې په دغه وختونو کې د الله ﷻ د دېدار حقدار سئ ، د سهار او ماښام د دېدار يو مطلب دا هم کيداى سي چې د الله ﷻ په نزد د لوړي مرتبې او قدر سړى به هغه څوک وي چې د سهار او ماښام يعني په شپه او ورځ کې هر وخت د خپل پروردګار په ليدنه سره مشرف کيږي مګر دا مطلب زيات صحيح نه معلوميږي ځکه چې د لوړي مرتبې جنتي هر وخت د پروردګار په دېدار کې وي نو بيا جنت او اخرت د نورو ټولو نعمتونو څخه برخمن کېدل به د هغوئ لپاره ممکن نه وي حال دا چې هغه نعمتونه د دغه جنتيانو لپاره پيدا سوي دي ، په هر حال د حديث څخه معلومه سوه چې د بنده اصل لويي او لوړ همتي دا وه چې د نظر او زړه اصل مرکز د الله ﷻ څخه پرته بل شي ونه ګرځوي ټوله توجه او نظر الله ﷻ ته وساتي او د هغه څخه پرته بلې خوا ته توجه کول د کم همتۍ دليل دى.

د الله ﷻ په دېدار کې به هيڅ مزاحمت نه وي

﴿۵۴۱۵﴾: وَعَنْ أَبِي رَزِينٍ الْعُقَيْلِيِّ قَالَ قُلْتُ يَا رَسُولَ اللّٰهِ أَكُلُّنَا يَرَى رَبَّهُ

د حضرت ابو رزين عقيلي ﷺ څخه روايت دى چې ما عرض وکړ اې د الله رسوله ! ايا د قيامت په ورځ به هر سړى بې زحمته خپل پروردګار وينې ؟

مُخْلِيًا بِهِ يَوْمَ الْقِيَامَةِ قَالَ بَلَى قُلْتُ وَمَا آيَةُ ذٰلِكَ فِي خَلْقِهِ قَالَ يَا أَبَا رَزِينٍ

رسول الله ﷺ وفرمايل: هو، ما عرض وکړ د دنيا په مخلوق کي دديٍ يو مثال سته؟ رسول الله ﷺ وفرمايل: اې ابورزين!

أَلَيْسَ كُلُّكُمْ يَرَى الْقَمَرَ ليلة البدر مُخْلِيًا بِهِ قال بَلَى قَالَ فَإِنَّمَا هُوَ خَلْقٌ مِنْ خَلْقِ اللّٰهِ وَاللّٰهُ أَجَلُّ وَأَعْظَمُ. رواه ابوداؤد.

ايا د څوارلسمي سپوږمۍ په تاسو کي څوک بې تکليفه نه ويني، ما عرض وکړ هو، ويني يې، نو رسول الله ﷺ راته وفرمايل: سپوږمۍ د الله تعالى د مخلوقاتو څخه يو مخلوق دى او الله تعالى ډير بزرګ او برتر دى. ابوداؤد.

تخريج: سنن ابي داود ۵\۹۹، رقم: ۴۷۳۱.

د لغاتو حل: مُخليا: اى خاليا بربه لا يزاحمه شئ في الرؤية.

اَلْفَصْلُ الثَّالِث (دريم فصل)

د معراج په شپه د رسول الله ﷺ دېدار الهي

﴿۵۴۱۶﴾: عَنْ أَبِي ذَرٍّ قَالَ سَأَلْتُ رَسُولَ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ هَلْ رَأَيْتَ رَبَّكَ قَالَ نُورٌ أَنَّى أَرَاهُ. رواه مسلم.

د حضرت ابوذر رضی اللہ عنہ څخه روايت دى چي ما د رسول الله ﷺ څخه پوښتنه وکړه ايا تاسو (په معراج کي) خپل پروردګار ليدلى دى؟ رسول الله ﷺ وفرمايل: پروردګار يو نور دى، زه يې څنګه ليدلاى سم (يعني د دنيا سترګي يې د ليدلو طاقت نه لري). مسلم.

تخريج صحيح مسلم: ۱\۱۶۱، رقم: ۱۷۸ ۲۹۱۰،

تشريح پروردګار خو يو نور دى...الخ: مطلب دادى چي د هغه ذات د جسم، مکان او قيود څخه ماوراء يو عظيم نور دى چي د هغه د نورانيت کمال او د هغه ظهور د انسان په فهم کي راتللاى نه سي او نه بصر دومره تاب لري چي د هغه د تجلياتو په وړاندي ودريږي، څرګنده دي

وي چي د الله ﷻ ذات خپله په قران کريم کي په نور سره تعبير سوی دی لکه څرنګه چي ارشاد دی : الله نور السماوات والارض، الله ﷻ د آسمانو او مځکو نور دی، يعني په کائناتو کي هري خوا ته د هغه د تجلياتو ظهور دی، او کوم څه چي معلوميږي د هغه د رڼا په برکت معلوميږي او کوم شيان چي مځکي او آسمان ته رڼا رسوي ، لمر، سپوږمۍ، ستوري او داسي نور شيان، هغه ټول د هغه ځلانده کړل سوي دي، يا دا مطلب دی چي الله ﷻ د ټولو کائناتو نور ورکونکی دی او هغه نور هدايت د بندګانو زړونه او دماغ روښانه کونکی دی، او د پروردګار د نومو څخه يو نوم نور هم دی يعني هغه خپله هم ظاهر او ځلانده دي او نور هم ظاهر او ځلانده کوي .

په (نوراني اراه) کي د اني لفظ د کتاب په اکثرو نسخو کي د الف په زور او د نون په شد سره منقول دی او په دې اعتبار دا ژباړه سوې ده چي الله ﷻ يو نور دی، زه هغه څرنګه ليدلای سم، مګر په ځينو نسخو کي د نور او اني الفاظو پر ځای يو لفظ (نوراني) منقول دي چي په هغه کي ياء مشدده د نسبت لپاره ده او الف او نون زائد د مبالغې لپاره په دغه صورت کي د اراه لفظ د اظنه مفهوم ادا کوي ، او روية په معنی د راي څخه په مشتق ګڼل کيږي، نو د قال نوراني اراه، به دا معنی وي چي رسول اله ﷺ وفرمايل: زه پر هغه (پروردګار) د نوراني ګمان کوم نو لفظ د اراه که چيري د الف په پېښ سره وويل سي نو د دغه معنی په اعتبار به زيات مناسب وي .

ابن ملک رحمة الله عليه د دغه حديث په ضمن کي ليکلي دي چي په دې اړه د علماؤ اختلاف دی چي رسول الله ﷺ د معراج په شپه الله ﷻ په خپلو سترګو وليدی که يا ؟ کوم حضرات چي وايي چي رسول الله ﷺ ته د معراج په شپه کي په خلاصو سترګو سره د الله ﷻ ديدار په برخه سوی دی او کوم حضرات چي ددې څخه انکار کوي نو دواړي ډلي دغه د روايت الفاظ د ذکر سوي اختلاف په وجه دا حديث خپل دليل ګرځوي ځکه که د نوراني اراه روايت مخته کښېښودل سي نو د دغه جملې استفهام په طريقه د انکار دی او د دغه عبارت مطلب به دا وي چي د پروردګار ذات محض نور دی او هيڅ انساني سترګه هغه ته په کتلو سره قادر کيدای نه سي، ځکه زه وايم چي ما د معراج په شپه کي خپل پروردګار نه دی ليدلی، مګر که د نوراني اراه روايت ته وکتل سي نو دا ثابتيږي چي رسول الله ﷺ د معراج په شپه الله ﷻ ليدلی دی مګر دا به ويل کيږي چي رسول الله ﷺ د دغه خبري لپاره حکايت ماضي د حال په صيغه بيان کړ .

رسول الله ﷺ ته د ديدار الهي سره اړوند د يو آيت تفسير

﴿۵۴۱۷﴾ : وَعَنِ ابْنِ عَبَّاسٍ قَالَ مَا كَذَبَ الْفُؤَادُ مَا رَأَى وَلَقَدْ رَآهُ نَزْلَةً أُخْرَى

حضرت ابن عباس رضی اللہ عنہ د دغه آیت په تفسیر کي فرمايي : (ما كذاب الفؤاد ما راى ولقد راه نزلة اخرى)، (د محمد ﷺ زړه محمد (ﷺ) ته د هغه شي په اړه غلط و نه ويل چي هغه په خپلو سترګو سره وليدل، يعني الله تعالى او البته محمد ﷺ الله تعالى يو وار بيا وليدى)،

قَالَ رَآهُ بِفُؤَادِهِ مَرَّتَيْنِ. رواه مسلم وفي رواية الترمذي قال رَأَى مُحَمَّدٌ

ابن عباس رضی اللہ عنہ فرمايي چي محمد ﷺ الله تعالى د زړه په سترګو سره دوه واره ليدلى وو . مسلم، او د ترمذي په روايت كي راځي چي ابن عباس رضی اللہ عنہ د ذكر سوي آيت په باره كي وويل چي محمد

رَبَّهُ قال عكرمة قُلْتُ أَلَيْسَ اللَّهُ يَقُولُ لَا تُدْرِكُهُ الْأَبْصَارُ وهو يُدْرِكُ الأَبْصَارَ

ﷺ خپل پروردګار وليدى، عكرمه رضی اللہ عنہ وايي ما ابن عباس رضی اللہ عنہ ته دا وويل چي الله تعالى خو فرمايي : (لاتدركه الابصار وهو يدرک الابصار) ، (يعني سترګي هغه نه سي ليدلاى او هغه سترګي ليدلاى سي) بيا د هغه ليدل ډير مشكل دي ،

قَالَ وَيْحَكَ ذَاكَ إِذَا تَجَلَّى بِنُورِهِ الَّذِي هُوَ نُورُهُ وَقَدْ رَأَى رَبَّهُ مَرَّتَيْنِ . رواه مسلم

ابن عباس رضی اللہ عنہ ددې په جواب كي وويل اې عكرمه! پر تا افسوس دى داسي د هغه وخت لپاره دي چي الله تعالى د خپل نور تجلي وكړي او په خپل نور سره ظاهر سي چي هغه نور د هغه د خاص ذات نور دى او محمد ﷺ خپل خداى جل جلاله دوه واره ليدلى دى . مسلم.

تخريج : صحيح مسلم ۱\۱۵۸، رقم: ۲۸۵– ۱۷۶.

تشريح : په دغه روايت كي چي د حضرت ابن عباس رضی اللہ عنہ څخه د كومو آياتونو تفسير او وضاحت نقل سوى دى هغه د سورة نجم لومړني آياتونه دي او د مفسرينو په نزد ددغه آياتونو په اړه خاص اختلاف دى د هغوئ مدلول او محمول څه دي؟ په صحابه كرمو، تابعينو او مفسرينو امامانو كي د يوې ډلي قول دى چي د سورة نجم په دغه آياتو كي ددې خبري يادونه ده چي رسول الله ﷺ ، حضرت جبرائيل عليه السلام د هغه په اصل صورت كي دوه واره ليدلى دى، يو وار يې د نبوت په لومړنۍ زمانه كي په مكه مكرمه كي، او دوهم وار د معراج په شپه د سدرة المنتهى سره، ددې پر خلاف د صحابه كرامو، تابعينو او مفسرينو امامانو د دوهمي ډلي چي

په هغوئ د حضرت ابن عباس رضي الله عنه نوم په سر کي دی، وايي چي په دغه آيت کي د معراج د پيښي بيان او د رسول الله ﷺ د الله جل جلاله د ليدني يادونه ده ، د دغه اختلاف قولونه په تفصيل سره مخته هم راځي

رسول الله ﷺ خپل پروردګار د زړه په سترګو دوه واره وليدی، يعني په هغه وخت کي الله جل جلاله د رسول الله ﷺ په زړه کي دېد ته هم هغه طاقت ورکړ کوم چي په سترګو کي وي او د رسول الله ﷺ د سترګو ادراک ته هم هغه طاقت ورکړ کوم چي په زړه کي وي نو داسي وواياست چي رسول الله ﷺ خپل پروردګار د زړه په سترګو وليدی، يا دا چي د سر په سترګو يې وليدی، د دواړو يوه معنی ده ، دا مطلب ځکه اختيار کړل سو چي کوم حضرات وايي چي رسول الله ﷺ د معراج په شپه کي خپل پروردګار د سر په سترګو ليدلی دی او ځينو حضرات وايي چي د زړه په سترګو يې ليدلی دی که د دغه دواړو قولو رعايت وکړل سي لکه چي مخکي په اجمالي توګه ذکر سو ،نو لومړنی اختلاف خو دادی چي د سورة نجم په لومړنيو آياتو کي د رسول الله ﷺ د چا د ليدو يادونه ده د الله جل جلاله يا د حضرت جبرائيل عليه السلام ، حضرت ابن عباس رضي الله عنه د الله جل جلاله ليدل مراد اخلي ، جمهور صحابه کرام د هغه په تائيد کي دي، او په سلفو کي جمهور مفسرين هم دې ته تللي دي ، د هغوئ په نزد د (دنی فتدلی قاب قوسين او ادنی) الفاظ د معراج په وخت کي د ربوبيت په دربار کي د رسول الله ﷺ د قرب او د پروردګار د مشاهدې او ليدني بيان دی، بيا په دې اړه هم اختلاف دی چي د معراج په شپه کي رسول الله ﷺ ، الله جل جلاله د سر په سترګو ليدلی دی که د زړه په سترګو، ځينو دا ويلي دي چي رسول الله ﷺ خپل پروردګار د زړه په سترګو ليدلی دی او د سر په سترګو يې نه دی ليدلی، او ځينو دا ويلي دي چي رسول الله ﷺ د سر په سترګو خپل پروردګار وليدی، د امام نووي رحمة الله عليه د پلټني سره سم د اکثرو علماؤ په نزد ترجيحي قول دادی چي رسول الله ﷺ د معراج په شپه کي الله جل جلاله د سر په سترګو وليد ، کوم حضرات چي په ذکر سوي آيت کي د حضرت جبرائيل عليه السلام د هغه په اصل کي صورت کي ليدل مراد اخلي په هغوئ کي بي بي عائشه رضي الله عنها او حضرت ابن مسعود رضي الله عنه هم شامل دي، د هغوئ وينا ده چي په دغه آيت کي د حضرت جبرائيل عليه السلام د هغه قرب او د ليدني بيان او يادونه ده کوم چي رسول الله ﷺ ته د جبرائيل امين په اصل صورت سره د معراج په شپه کي او تر دې مخکي يو وار په مکه مکرمه کي تر لاسه سوی دی .

د علماؤ په دې اړه هم اختلاف دی چي د معراج په شپه کي رسول الله ﷺ ته د الله جل جلاله سره بېله واسطې د کلام کولو شرف هم حاصل سوی وو يا نه؟ په اشعريينو او متکلمينو کي د يوې

ډلي وینا ده چي رسول الله ﷺ په دغه شپه کي د الله ﷻ سره بېله واسطې کلام وکړ او ځینو نورو حضراتو د دې څخه انکار کړی دی.

دا خبره د هغه وخت لپاره ده چي کله الله ﷻ خپل خاص تجلي وفرمايي...الخ: د دې مطلب دادی چي دا خبره د الله ﷻ پر مشيت او قدرت باندي منحصر ده لکه د هغه د ذات خاص تجلي ظاهره سي نو په دې کي څه شک نسته چي د چا د دېد توان يې زغملای سي نو يقينا سترګي هغه ته پورته کېدای سي او سترګي د ليدني او زيارت توان درلودلای سي.

پاته سوه د دغه آيت خبره چي د هغه حواله حضرت عکرمه ﷺ ورکړل نو په دې اړه علماء ليکي چي په دغه آيت کي د ادراک ذکر دی چي د هغه لغوي معنی د یو شي د هغه د ټولو خواوو او اطرافو سره احاطه کول دي ، په دې معنی کي هيڅ بصر او ديد د هغه د ذات احاطه نه سي کولای نو په دغه آيت کي د احاطه نفي مراد ده ، د مطلق ليدني نفي مراد نه ده چي د هغه څخه دا اسوال پيدا کيږي چي د رسول الله ﷺ د معراج په شپه کي د الله ﷻ د لېدني خبره ددغه آيت خلاف واقع کيږي.

په دې کي شک نسته چي رسول الله ﷺ خپل پروردګار دوه واره وليدی، د دوو واره وضاحت ځينو محدثينو دا کړی دی چي يو واريې د سدرة المنتهى سره نژدې او دوهم واريې پر عرش باندي ليدلی دی، ملا علي قاري رحمة الله عليه ددغه جملې په وضاحت کي ليکلي دي چي د دوه واره ليدو څخه مراد دا هم کيدای سي چي رسول الله ﷺ دواړه واره د زړه په سترګو ليدلی وي، يا يو واريې د زړه په سترګو لېدلی دی وي او يو واريې د سر په سترګو ليدلی وي، دغه اختلاف ځکه دی چي په هيڅ روايت کي په وضاحت سره نقل سوي نه دي ، لکه چي په دغه روايت کي هم نسته چي رسول الله ﷺ ، الله ﷻ په خپلو سترګو دوه واره وليدی.

ايا رسول الله ﷺ د معراج په شپه الله ﷻ ليدلی وو؟

﴿۵۴۱۸﴾: وَعَنِ الشَّعْبِيِّ قَالَ لَقِيَ ابْنُ عَبَّاسٍ كَعْبًا بِعَرَفَةَ فَسَأَلَهُ عَنْ شَيْءٍ فَكَبَّرَ

د حضرت شعبي رضي الله عنه څخه روايت دی چي ابن عباس رضي الله عنه په عرفات کي د کعب احبار رضي الله عنه سره يو ځای سو او د هغه څخه يې د يوې خبري پوښتنه وکړه (يعني د ديدار الهي په باره کي)، کعب

حَتَّى جَاوَبَتْهُ الْجِبَالُ فَقَالَ ابْنُ عَبَّاسٍ إِنَّا بَنُو هَاشِمٍ فَقَالَ كَعْبٌ إِنَّ اللَّهَ قَسَمَ

رضي الله عنه د الله اکبر نعره وکړه چي په هغه سره غرونه ولړزيدل ، ابن عباس رضي الله عنه وويل : موږ د هاشم اولاد يو (يعني اهل علم او اهل معرفت يو د عقل څخه ليري د يو خبري پوښتنه نه کوو)، بيا کعب رضي الله عنه وويل الله

تعالی تقسیم کړی دی

رُؤْيَتَهُ وَكَلَامَهُ بَيْنَ مُحَمَّدٍ وَمُوسَى فَكَلَّمَ مُوسَى مَرَّتَيْنِ وَرَآهُ مُحَمَّدٌ مَرَّتَيْنِ قَالَ

خپل دیدار او کلام د محمد ﷺ او موسی علیه السلام په منځ کي ، الله تعالی دوه واري موسی علیه السلام سره کلام وکړ او دوه واره محمد ﷺ الله تعالی لیدلی دی، مسروق رحمه الله وایي

مَسْرُوقٌ فَدَخَلْتُ عَلَى عَائِشَةَ فَقُلْتُ هَلْ رَأَى مُحَمَّدٌ رَبَّهُ فَقَالَتْ لَقَدْ تَكَلَّمْتَ

زه د بي بي عائشې رضي الله عنها په خدمت کي حاضر سوم د هغې څخه مي پوښتنه وکړه چي محمد ﷺ خپل پروردګار لیدلی دی ؟ بي بي عائشې رضي الله عنها راته وویل اې مسروقه! تا داسي پوښتنه وکړه

بِشَيْءٍ قَفَّ لَهُ شَعْرِي قُلْتُ رُوَيْدًا ثُمَّ قَرَأْتُ لَقَدْ رَأَى مِنْ آيَاتِ رَبِّهِ الْكُبْرَى

چي په هغه سره زما وریښتان جګ ودریدل ، مسروق وایي ما وویل اې بي بي عائشې ! د صبر څخه کار واخله تلوار مه کوه بیا ما دا آیت تلاوت کړ (لقد رای من ایات ربه الکبری) ، (یعني محمد ﷺ د خپل پروردګار لوی نښي ولیدلې) ،

فَقَالَتْ أَيْنَ تُذْهَبُ بِكَ إِنَّمَا هُوَ جِبْرِيلُ مَنْ أَخْبَرَكَ أَنَّ مُحَمَّدًا رَأَى رَبَّهُ أَوْ كَتَمَ

بي بي عائشې رضي الله عنها وویل تا دا آیا تونه کومي خوا ته بیایي (یعني ددې مطلب دا نه دی کوم چي ته ئیني اخلې) ددې څخه مراد جبرائیل علیه السلام دی، اې مسروق ! څوک چي تا ته دا ووایي چي محمد ﷺ خپل پروردګار لیدلی دی یا دا ووایي چي محمد ﷺ په دغه شیانو کي څه پټ ساتلي

شَيْئًا مِمَّا أُمِرَ بِهِ أَوْ يَعْلَمُ الْخَمْسَ الَّتِي قَالَ اللَّهُ تَعَالَى إِنَّ اللَّهَ عِنْدَهُ عِلْمُ السَّاعَةِ

دي چي د هغه د ظهار هغه ته حکم نه وو ورکړل سوی یا دا ووایي چي محمد ﷺ د هغه پنځو شیانو علم درلود چي د هغه ذکر الله تعالی په دې الفاظو کي کړی دی : (ان الله عنده علم

وَيُنَزِّلُ الْغَيْثَ فَقَدْ أَعْظَمَ الْفِرْيَةَ وَلَكِنَّهُ رَأَى جِبْرِيلَ لَمْ يَرَهُ فِي صُورَتِهِ إِلَّا

الساعة......) نو هغه پر محمد ﷺ لوی بهتان وواېه، محمد ﷺ جبرائیل علیه السلام لیدلی دی او جبرائیل یې هم د هغه په اصلي صورت کي یوازي

مَرَّتَيْنِ مَرَّةً عِنْدَ سِدْرَةِ الْمُنْتَهَى وَمَرَّةً فِي جِيَادٍ لَهُ سِتُّ مِائَةِ جَنَاحٍ قَدْ سَدَّ

دوه واره ليدلی دی يو وار سدرة المنتهى ته نژدې او يو وار په مقام جياد كي (چي مكې ته نژدې يوه ابادي ده)، رسول الله ﷺ جبرائيل عليه السلام په اصلي شكل كي په هغه حال كي

الْأُفُقَ. رواه الترمذي و روى الشيخان مع زيادة واختلاف و في روايتهما قَالَ

وليدی چي د هغه شپږ سوه وزره وه او هغه د آسمان كنارې بندي كړي وې، د ترمذي، بخاري او مسلم په روايت كي دا الفاظ هم دي سره له اختلافه او زياتوب چي مسروق وويل:

قُلْتُ لِعَائِشَةَ رَضِيَ اللّٰهُ عَنْهَا فَأَيْنَ قَوْلُهُ ثُمَّ دَنَا فَتَدَلَّى فَكَانَ قَابَ قَوْسَيْنِ أَوْ أَدْنَى

بيا ما بي بي عائشې ﷺ ته دا وويل چي نو بيا د الله تعالى د دغه قول څه معنا ده: (ثم دنى فتدلى فكان قاب قوسين او ادنى)،

قَالَتْ ذَاكَ جِبْرِيلُ كَانَ يَأْتِيهِ فِي صُورَةِ الرَّجُلِ وَإِنَّهُ أَتَاهُ هَذِهِ الْمَرَّةَ فِي صُورَتِهِ الَّتِي هِيَ صُورَتُهُ فَسَدَّ الْأُفُقَ.

بي بي عائشې ﷺ وويل دا دې څخه مراد جبرائيل عليه السلام دی چي همېشه به د يو انسان په شكل كي راتلی او پر دې موقع هغه په خپل اصلي شكل كي ښكاره شوی وو او افق (د آسمان كنارې) يې ډك كړی وو.

تخريج: سنن الترمذي ۵\۳۶۷، رقم: ۳۲۷۸.

تشريح: موږ د هاشم اولاد يو، يعني موږ نه يوازې دا چي د هغه قبيلې او كورنۍ سره تعلق لرو چي د علم، فضيلت، عقل او پوهې په اعتبار ځانګړې حيثيت لري بلكه د دغه كورنۍ د نبوت سره د نسبت او قرابت درلودو په وجه د رسول الله ﷺ په خدمت كي د علومو او انوارو څخه د اكتساب موقع موږ ته زياته تر لاسه شوې ده، او د دغه زيات كورني نسبت او امتياز په وجه الله ﷻ موږ په علم او معرفت سره مشرف كړي يو، نو زما څخه دا ميد مه كوئ چي زه دا سې پوښتنه وكړم چي د علم او عقل څخه ليري وي، ما چي كومه پوښتنه كړې ده د هغه ژور والي ته د رسېدو هڅه وكړئ او ما ته زما په سوال د حيرت او غصې كولو پر ځای په فكر او غور كولو سره جواب راكړئ، چي ايا په دنيا كي د الله ﷻ ليدنه ممكن ده، كله چي حضرت ابن عباس ﷺ ذكر شوی سوال وكړ نو كعب ﷺ دا وګڼل چي حضرت ابن عباس ﷺ په دنيا كي د مطلق ليدني په اړه پوښتنه كوي، ځكه هغه حيران سو او د هغه سوال يې د عقل څخه ليري وګڼی مګر كله چي

حضرت ابن عباس رضي الله عنه په خپل اړه اظهار وکړ نو حضرت کعب احبار رضي الله عنه د هغه پوښتني په جواب کي په فکر کي سو او بیا د هغه په مراد پوه سو چي د هغه په پوښتنه کي مطلق لیدنه مراد نه ده بلکه في الجمله لیدنه مراد ده، ددې څخه وروسته هغه جواب ورکړ چي یوازي د رسول الله ﷺ لپاره لیدنه ممکن ده چي د معراج په شپه ور په برخه سوې ده.

یا دا چي رسول الله ﷺ د هغه شیانو څخه څه پټ کړي دي...الخ: دلته د شیانو څخه مراد احکام او شرائع دي چي د هغه خلکو ته رسول د رسول الله ﷺ لپاره ضروري وګرځول سو لکه چي په قرآن کریم کي ارشاد دی:

يَا أَيُّهَا الرَّسُولُ بَلِّغْ مَا أُنزِلَ إِلَيْكَ مِن رَّبِّكَ وَإِن لَّمْ تَفْعَلْ فَمَا بَلَّغْتَ رِسَالَتَهُ.

ژباړه: اې پیغمبره! کوم احکام او شرائع چي د الله جل جلاله له خوا پر تا نازل سوي دي ټولو خلکو ته يې ورسوه او که داسي ونه کړې نو تاسو د الله جل جلاله په پیغام رسولو کي پاته راغلاست.

د پټولو مفهوم عام دی که هغه د ټولو احکامو او شرائعو د پټولو په اړه وويل سي یا د هغه احکامو او شرائعو څخه ځیني مراد وي، په دې سره د شیعه ګانو د هغه ګمراه کونکي خبري رد کیږي چي ځیني احکام او شرائع داسي دي چي رسول الله ﷺ د خپلو اهل بیتو لپاره خاص کړي دي او د هغه دائره یې تر ټول امت پوري پراخه نه کړل.

نو بیا د الله جل جلاله ددغه ارشاد محمول او مصداق څه دی؟ ددغه جملې په ذریعه حضرت مسروق رضي الله عنه د سورة نجم هغه ټولو آیاتو ته اشاره وکړل چي د هغه په اړه د صحابه کرامو، تابعینو او مفسرینو امامانو د اختلافي قولونو یادونه هم سوې ده، هغه ایاتونه دادي:

ثُمَّ دَنَا فَتَدَلَّى فَكَانَ قَابَ قَوْسَيْنِ أَوْ أَدْنَى ، فَأَوْحَى إِلَى عَبْدِهِ مَا أَوْحَى ، مَا كَذَبَ الْفُؤَادُ مَا رَأَى

ژباړه: هغه تا ته نژدې راغلی، بیا نور نژدې سو چي د دوو لینديو فاصله پاته سوه بلکه تر دې هم کمه، بیا الله جل جلاله پر خپل بنده باندي وحي نازل کړه، څه چي نازلول وو، څه چي هغه ولیدل د هغوئ زړه هغه دروا غ ونه ګڼل.

دلته دا خبره په ذهن کي راځي چي د دنی ضمیر الله جل جلاله ته راجع دی او همدارنګه په تدلی او فکان قاب قوسین، کي د کان ضمیرونه هم الله جل جلاله ته راجع دي، چي د هغه یوه څرګنده قرینه د فاوحی ضمیر دی او ددې مرجع یقیني الله جل جلاله دی، په دې وجه حضرت مسروق رضي الله عنه سوال څرګند کړ، که چیري د معراج په شپه کي د رسول الله ﷺ د الله جل جلاله دیدار نه وو سوی نو بیا ددغه آیاتو به څه معنی وي؟ ددغه سوال جواب بي بي عائشې رضي الله عنها دا ورکړ چي ددغه افعالو د

ضمیرونو مرجع الله تعالی نه دی بلکه حضرت جبرائیل علیه السلام دی، نو دا کښل چي د دغه آیاتو څخه د رسول الله ﷺ، د الله جل جلاله لیدل ثابتیږي، غلطه نتیجه اخذ کول دي، بیا بي عایشې رضي الله عنها د (کان یاتیه في صورة الرجل ...الخ) په ذریعه د یو بل سوال جواب ورکړ، که چیري دا سوال پیدا سي چي حضرت جبرائیل علیه السلام خو به رسول الله ﷺ ته هر وخت راتلی نو بیا د معراج په شپه کي د هغه د لیدو دومره په وضاحت سره د بیانولو څه اړتیا وه، نو بي بي عائشې رضي الله عنها د جواب په توګه وفرمایل چي حضرت جبرائیل علیه السلام به په عامه توګه رسول الله ﷺ ته په انساني شکل او صورت کي راتلی، هغه د رسول الله ﷺ په وړاندي په خپل اصلي صورت کي یوازي دوه واره راغلی دی، یو وار د نبوت په پیل کي او په دوهم وار د معراج په شپه کي د سدرة المنتهی سره رسول الله ﷺ ته معلوم سوی وو.

خلاصه دا چي حضرت ابن عباس رضي الله عنه د حضرت کعب احبار رضي الله عنه د قول څخه په استدلال کولو سره دا اختیار کړل چي رسول الله ﷺ د معراج په شپه کي الله جل جلاله دوه واره لیدلی دی، په دې احتمال سره چي دواړه واره یې د سر په سترګو لیدلی دی که د زړه په سترګو، یا دا چي یو وار یې د سر په سترګو لیدلی دی او یو وار یې د زړه په سترګو لیدلی دی، که څه هم پر دې خبره اتفاق دی چي رسول الله ﷺ د سر په سترګو دوه واره نه دی لیدلی او بي بي عائشه رضي الله عنها د دې څخه انکار کوي چي رسول الله ﷺ د معراج په شپه الله جل جلاله ولیدی، نو د هغې دغه انکار پر مطلق انکار باندي هم محمول کیدای سي او پر مقید انکار باندي هم، د مطلق انکار مطلب دادی چي هغه د رسول الله ﷺ د الله جل جلاله د لیدني څخه منکره ده که د زړه سترګي مراد واخیستل سي یا د سر سترګي، او د مقید انکار مطلب دادی چي هغه د سر په سترګو سره د لیدو څخه منکره وه او د زړه په سترګو سره د لیدو څخه منکره نه ده، مګر د بي بي عایشې رضي الله عنها د دغه ارشاد په لېدو سره صحیح معلومیږي چي د هغې انکار پر مطلق باندي محمول کړل سي، حافظ ابن حجر رحمه الله وایي چي د حضرت ابن عباس رضي الله عنه اثبات او د بي بي عایشې رضي الله عنها د انکار په منځ کي چي کوم اختلاف دی د هغه لیري کولو لپاره دا تاویل کیږي چي د بي بي عائشې رضي الله عنها انکار د سر په سترګو سره پر لېدو باندي محمول دی مګر د زړه په سترګو سره لېدل مجرد علم نه دی ځکه چي د الله جل جلاله د ذات علم او عرفان خو رسول الله ﷺ ته هر وخت حاصل وو، نو بیا د معراج د شپې په خاصولو سره بیانول څه معنی نه لري، نو د زړه په سترګو د لیدو مطلب دا کیدای سي چي په دغه خاص وخت کي الله جل جلاله د رسول الله ﷺ په زړه کي هغه بصیرت پیدا کړی وو کوم چي په سترګو کي وي، او همدارنګه رسول الله ﷺ د زړه په ذریعه د الله جل جلاله هغه دیدار تر لاسه کړ کوم

چي يو سړی يې د سترګو په ذريعه د نورو شيانو ليدل تر لاسه کوي .

د حضرت ابن مسعود رضي الله عنه تفسير او تحقيق

﴿۵۴۱۹﴾ : وَعَنِ ابْنِ مَسْعُوْدٍ فِيْ قَوْلِهِ فَكَانَ قَابَ قَوْسَيْنِ أَوْ أَدْنَى وفي قوله مَا كَذَبَ

حضرت ابن مسعود رضي الله عنه د دغه آياتونو په تفسير کي : (فکان قاب قوسين او ادنى (ما كذب

الْفُؤَادُ مَا رَأَى وفي قوله لقد راى من ايات ربه الكبرى قال فيها كلها رَأَى

الفؤاد ما راى، لقد راى من ايات ربه الكبرى) فرمايي: چي د دغه ټولو څخه مراد

جِبْرِيلَ عَلَيْهِ السَّلَام لَهُ سِتُّ مِائَةِ جَنَاحٍ. متفق عليه وفي رواية الترمذي وفي

د جبرائيل عليه السلام قربت او ليدل دي (يعني په اصلي شکل کي ليدل)، هغه په داسي حال کي وليدل سو چي د هغه شپږ زره وزره وه، بخاري او مسلم، د ترمذي په روايت کي دا الفاظ دي

رواية الترمذي قال ما كذب الفؤاد ما رأى قال رأى رسول الله صلى الله عليه

چي و ماكذاب الفؤاد ما راى، په اړه ابن مسعود رضي الله عنه دا بيان وکړ چي رسول الله ﷺ په داسي

وسلم جبريل في حلة من رفرف قد ملأ ما بين السماء والأرض وله وللبخاري

حال کي جبرائيل عليه السلام وليدی چي هغه شنه جامه اغوستې وه او د آسمان او مځکي په منځ کي فضا په هغه سره معموره وه ، د ترمذي او بخاري

في قوله لقد رأى من آيات ربه الكبرى قال رأى رفرفا أخضر سد أفق السماء

او يو بل روايت کي دا الفاظ دي چي ابن مسعود رضي الله عنه (و لقد راى من ايات ربه الكبرى) په اړه بيان وکړ چي رسول الله ﷺ شنو جامو والا وليدی يعني جبرائيل عليه السلام چي هغه د آسمان افق معموره کړی وو ،

وسئل مالك بن أنس عن قوله تعالى إلى ربها ناظرة فقيل قوم يقولون إلى

او مالک بن انس رضي الله عنه څخه د دې آيت (الى ربها ناظرة) په اړه پوښتنه وسول ، نو وښودل سول چي يو ډله (يعني معتزله) دا وايي چي

ثوابه فقال مالك كذبوا فأين هم عن قوله تعالى كلا إنهم عن ربهم يومئذ

په دې آيت کي د پروردګار په لور کتلو څخه مراد د الله تعالى ثواب ته کتل دي، نو مالک وويل د

خلک درواغجن دي که دا صحيح وي نو بيا د الله تعالى ددې ارشاد څه معنا سوه : (کلا انهم

لمحجوبون قال مالك الناس ينظرون إلى الله يوم القيامة بأعينهم وقال لو

عن ربهم يومئذ لمحجوبون) (يعني په دغه ورځ به کفار د ديدار الهي څخه منع کړل سي) ددې څخه وروسته مالک رضي الله عنه وويل مسلمانان خلک به د قيامت په ورځ په خپلو سترګو سره الله تعالى ووينې، بيا يې وويل که

لم ير المؤمنون ربهم يوم القيامة لم يعير الله الكفار بالحجاب فقال كلا إنهم عن ربهم يومئذ لمحجوبون. رواه في شرح السنة.

مؤمنانو د قيامت په ورځ خپل پروردګار نه ليدلای نو الله تعالى به کفارو ته د ديدار الهي څخه د محرم کيدو عار نه ويلو ، الله جل جلاله فرمايلي دي : (کلا انهم عن ربهم يومئذ لمحجوبون). شرح السنه.

تخريج: صحيح البخاري (فتح الباري): ۱۸/ ۶۱۰، رقم: ۴۸۵۶، ومسلم ۱/ ۱۵۸،

تشريح: رسول الله صلى الله عليه وسلم، حضرت جبرائيل عليه السلام وليدى، ددغه جملې په ذريعه حضرت ابن مسعود رضي الله عنه څرګنده کړل چې د سورة نجم ددغه آياتونو ضميرونه حضرتِ جبرائيل عليه السلام ته راجع دي او د هغه محمول او مصداق رسول الله صلى الله عليه وسلم ته د حضرت جبرائيل عليه السلام رويت قرب دی، نه د الله جل جلاله رويت قرب مراد دی لکه چې حضرت ابن عباس رضي الله عنه وايي نو د حضرت ابن مسعود صلى الله عليه وسلم دا تاويل او تفسير د بي بي عائشې رضي الله عنها د هغه تاويل او تفسير مطابق دی کوم چې په ددغه آياتو سره متعلق په تېر سوي حديث کي ذکر سو، څرګنده دي وي چې د حضرت ابن مسعود رضي الله عنه شان او د هغه کمال علم مسلمه دی او علماؤ ليکلي دي چې د خلفاء اربعه څخه وروسته حضرت ابن مسعود رضي الله عنه په ټولو صحابه کرامو کي تر ټولو لوی عالم وو.

په هر حال د روايتو او اقوالو څخه څرګنده سوه چې د معراج په شپه کي د رسول الله صلى الله عليه وسلم د الله جل جلاله د سر په سترګو د ليدو په اړه د صحابه کرامو اختلاف دی، بي بي عائشې رضي الله عنها ددې څخه انکار کړی دی او حضرت ابن عباس رضي الله عنه ددې قائل دی، په دوئ کي هر يوه ته د صحابه کرامو تائيد حاصل دی ، ځيني صحابه کرام د بي بي عائشې رضي الله عنها سره دی او ځيني د حضرت ابن عباس رضي الله عنه سره دی، بيا د صحابه کرامو څخه وروسته تابعين او علماء سلف هم پر دغه نقش قدم تللي دي ، ځيني دا وايي چې د معراج په شپه کي رسول الله صلى الله عليه وسلم ، الله جل جلاله په خپلو سترګو سره وليدی او ځيني حضرات ددې څخه انکار کوي مګر په هغوئ کي ځيني داسي هم دي چې هغوئ

سکوت او توقف اختیار کړی دی او د یوې ډلي سره نه دی، د دغه حضراتو وینا ده چي د دواړو خواوو څخه څرګند دلیل نسته ځکه موږ غوره وګڼل چي په دغه مسئله کي پټه خوله کېدل پکار دي او حقیقت الله ﷻ ته وسپارل سي چي پر اصل خبره باندي ددې څخه پرته ثوک نه پوهیږي مګر جمهور علماء ددې قائل دي چي د معراج په شپه کي رسول الله ﷺ ته د الله ﷻ عیني دېدار تر لاسه سوی دی، شیخ محي الدین نووي رحمه الله فرمایي، د اکثرو علماؤ په نزد راجح او مختار قول دادی چي رسول الله ﷺ د معراج په شپه کي خپل پروردګار د سر په سترګو سره لیدلی دی او هغوئ ویلي دي چي ددې اثبات د رسول الله ﷺ څخه د اورېدو وروسته سوی دی، حضرت ابن عباس رضي الله عنهما چي دا ویلي دي چي رسول الله ﷺ ته د معراج په شپه کي د الله ﷻ لیدنه په برخه سول نو هغوئ دا خبره د رسول الله ﷺ څخه د اورېدو وروسته کړې وه، حال دا چي بي بي عائشې رضي الله عنها ددې په انکار کي د حدیث څخه استدلال نه دی کړی، او په دې اړه یې د رسول الله ﷺ څخه د څه اورېدو روایت نه دی کړی، بلکه هغه چي څه ویلي دي، هغه د قرآن ددغه آیت: ماکان لبشر ان یکلمه الله الا وحیا او من وراء حجاب، او ددغه آیت: لاتدرکه الابصار وهو یدرک الابصار، څخه د خپل استنباط او اجتهاد نتیجه ده، حال دا چي ددغه آیاتو په اړه هم د مفسرینو امامانو لیکلي دي چي لومړنی آیت: ما کان لبشر ان یکلمه الله...الخ، کي چي نفي بیان سوې ده هغه په حالت رویت کي د کلام نفي ده چي د هغه څخه د رویت بې کلام نفي قطعا نه لازمیږي او دوهم آیت: لاتدرکه الابصار...الخ، کي د ادراک ذکر دی چي د هغه معنی د احاطه ده او د احاطې د نفي څخه د مطلق رویت نفي نه مفهوم کیږي، ځینو نورو علماؤ هم لیکلي دي چي په ذکر سوې مسئله کي د حضرت ابن عباس رضي الله عنهما په قول زیات اعتماد کیږي او دا ضروري ده چي هغه به دغه خبره د رسول الله ﷺ څخه د اورېدو پرته نه وي کړې او دا ممکن هم نه ده چي هغه دو مره لویه خبره د خپل ګمان او اجتهاد څخه وکړي، نقل سوي دي چي حضرت ابن عمر رضي الله عنهما د حضرت ابن عباس رضي الله عنهما سره د پر بحث او تکرار وکړ او پوښتنه یې ځیني وکړل چي ایا په حقیقت کي حضرت محمد ﷺ خپل پروردګار لیدلی دی، حضرت ابن عباس رضي الله عنهما په پوره باور سره جواب ورکړ چي هو لیدلی یې وو، نو حضرت ابن عمر رضي الله عنهما د هغه خبره په قطعي توګه تسلیم کړل او د تردد او انکار اظهار یې ونه کړ، د عمر ابن راشد قول دی چي زموږ په نزد بي بي عائشې رضي الله عنها ته تر حضرت ابن عباس رضي الله عنهما زیات علم نه وو ځکه ددې په مقابله کي د حضرت ابن عباس رضي الله عنهما قول راجح او د باور وړ ګرځول کیږي او اکثر مشائخ هم د رویت قائل دي.

اوس د امام مالک رحمه الله روایت ته راسئ، کله چي هغه ته وښودل سول چي ځیني خلک

لکه معتزله دا وايي چي په آخرت کي به مؤمنان الله جَلَّ جَلَالُهُ نه ويني او د قرآن کريم ددغه آيت : الی ربها ناظرة، په اړه د هغوئ وينا ده چي په دغه آيت کي د الله جَلَّ جَلَالُهُ د ذات لېدو پر ځای ددې ثواب يعني د جنت نعمتونو او د هغه مرتبو کتل مراد دي، نو امام مالک رَحِمَهُ اللهُ د هغه خلکو سخت ترديد وکړ او وې فرمايل چي هغه خلک د عقل څخه ډېر ليري دي چي ددغه ظاهر معنی لرونکي آيت غلط تاويل کوي مگر دغه آيت ته (کلا انهم عن ربهم يومئذ لمحجوبون) ته نه گوري چي په هغه کي کافرانو ته ددې خبري پيغور ورکړل سوی دی چي هغوئ به د قيامت په ورځ د پروردگار د ليدني څخه منع کړل سي، او هغوئ به د الله جَلَّ جَلَالُهُ د ليدني د خوشبختۍ څخه محروم وي، ددې څرگند مطلب دادی چي مؤمنان به الله جَلَّ جَلَالُهُ ويني او د هغه د ليدني په سعادت به برخمن کيږي که دا خبره وي چي مؤمنان به د الله جَلَّ جَلَالُهُ د ليدني سعادت نه تر لاسه کوي نو بيا کفارو ته ددغه سعادت څخه د محرومۍ د خبر ورکولو او هغوئ ته د پيغور ورکولو څه ضرورت وو، څرگنده سوه چي په آخرت کي د کفارو په اړه تر ټولو لوی عذاب به دا وي چي هغوئ به د الله جَلَّ جَلَالُهُ دليدني څخه محروم وگرځول سي او تل به ددغه محرومۍ په ارمان کي اخته وي لکه څرنگه چي د مؤمنانو په اړه تر ټولو لوی اجر او ثواب به د الله جَلَّ جَلَالُهُ ليدنه وي او هغوئ به د ليدني په نعمت سره برخمن کيږي .

د الله جَلَّ جَلَالُهُ د دېدار کيفيت

﴿۵۴۲۰﴾: وَعَنْ جَابِرٍ عَنِ النَّبِيِّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ بَيْنَا أَهْلُ الْجَنَّةِ فِي

د حضرت جابر رَضِيَ اللهُ عَنْهُ څخه روايت دئ چي رسول الله صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ وفرمايل : يو وخت به جنتيان په خپلو

نَعِيمِهِمْ إِذْ سَطَعَ لَهُمْ نُورٌ فَرَفَعُوا رُءُوسَهُمْ فَإِذَا الرَّبُّ قَدْ أَشْرَفَ عَلَيْهِمْ

نعمتونو کي وي نو ناڅاپه به يوه لويه تيزه رڼا معلومه سي ، هغوئ به سرونه پورته کړي هغه رڼا ته به گوري نو خپل پروردگار به سربېره ښکاره ويني

مِنْ فَوْقِهِمْ فَقَالَ السَّلَامُ عَلَيْكُمْ يَا أَهْلَ الْجَنَّةِ قَالَ وَذَلِكَ قَوْلُ اللهِ سَلَامٌ

الله تعالی به جنتيانو ته فرمايي : اې جنتيانو ! پر تاسو دي سلامتيا وي او دا معنا ده د الله تعالی ددغه قول (سلام

قَوْلًا مِنْ رَبٍّ رَحِيمٍ قَالَ فنظر إِلَيْهِمْ وَيَنْظُرُونَ إِلَيْهِ فَلَا يَلْتَفِتُونَ إِلَى شَيْءٍ

قولا من رب الرحيم) ددې څخه وروسته رسول الله ﷺ وفرمايل : بيا به الله تعالى د جنتيانو په لور وګوري او جنتيان به الله تعالى ته وګوري او په ديدار الهي کي به دومره غرق سي چي د

مِنْ النَّعِيمِ مَا دَامُوا يَنْظُرُونَ إِلَيْهِ حَتَّى يَحْتَجِبَ عَنْهُمْ وَيَبْقَى نُورُهُ وبركته عليهم في ديارهم. رواه ابن ماجه.

جنت په نعمتونو کي به د يوه شي په لور متوجه نه سي او الله تعالى ته به ګوري تر دې چي الله تعالى به د هغوئ څخه مخفي سي او يوازي نور به يې پاته سي. ابن ماجه.

تخريج : سنن ابن ماجه ۱\ ٦٥، رقم: ۱۸۴.

تشريح: تر دې چي پروردګار به د هغوئ د نظرونو څخه مخفي سي ...الخ: ددې مطلب دادی چي هغه تر څو پوري غواړي د هغوئ د نظرونو په وړاندي به څرګند وي او بيا به د هغوئ مخته حجاب حائل کړي مګر د هغه د نورانيت او د هغه د ديدار څخه تر لاسه کېدونکی کيف به پاته وي او حقيقت دادی چي هغه حجاب او د جنتيانو د نظر څخه د پروردګار مخفي کېدل هم د هغه له خوا پر خپلو بندګانو باندي يو ډول لطف او کرم دی ځکه چي د پروردګار جنتيان په خپل دربار کي حضور او شهود ساتل او هر وخت د هغوئ د نظر په وړاندي څرګندېدل به يو داسي صورت وي چي دجنتيانو د تاب او طاقت څخه به وتلی وي، څرګنده ده چي د يو وار ليدلو څخه وروسته بيا هغوئ ته د دومره وخت ضرورت وي چي په هغه کي به هغوئ ځان په واک کي کړلای سي، او خپل اصلي حالت ته بېرته راسي چي دجنت د نورو نعمتونو څخه په خوند اخيستلو سره د الله جَلَّ جَلَالُهُ د تجلي استحقاق د سره تر لاسه کړل سي، او هر وار د ديدار الهي نوی خوند او نوی کيف تر لاسه کړي.

==========

بَابُ صِفَةِ النَّارِ وَاَهْلِهَا

(د دوږخ او دوږخيانو بيان)

اَلْفَصْلُ الْأَوَّلُ (لومړی فصل)

د دوږخ د اور ګرمي

﴿۵۴۲۱﴾: عَنْ أَبِي هُرَيْرَةَ أَنَّ رَسُولَ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ قَالَ نَارُكُمْ جُزْءٌ

د حضرت ابوهريره رضي الله عنه څخه روايت دئ چي رسول الله ﷺ وفرمايل: ستاسو د دنيا اور د دوږخ

مِنْ سَبْعِينَ جُزْءًا مِنْ نَارِ جَهَنَّمَ قِيلَ يَا رَسُولَ اللّٰهِ إِنْ كَانَتْ لَكَافِيَةً قَالَ

د اور څخه په اويا برخو کي يو جز دی (يعني د دوږخ اور د دنيا د اور څخه اويا درجې زيات ګرم دی)، وويل سول اې دالله رسوله ! د دنيا اور (د عذاب ورکولو لپاره) هم بس وو، نبي کريم ﷺ

فُضِّلَتْ عَلَيْهِنَّ بِتِسْعَةٍ وَسِتِّينَ جُزْءًا كُلُّهُنَّ مِثْلُ حَرِّهَا. متفق عليه و اللفظ للبخاري وفي رواية مسلم ناركم التي يوقد ابن ادم وفيها عليها وكلها بدل عليهم وكلهن.

وويل د دنيا تر اور د دوږخ اور نه شپېته درجې زيات کړل سوی دی او د هغه په(۶۹) برخو کي يوه برخه ستاسو د دنيا د اور برابر ده.. بخاري او مسلم او الفاظ د بخاري دي خو په يوه روايت د مسلم شريف کي داسي الفاظ هم راغلي دي: (ناركم التي يوقد ابن ادم)، او هم په دې روايت کي (وعليهم) او (كلهن) پر ځای د (عليها) او (كلها) الفاظ دي.

تخريج: صحيح البخاري (فتح الباري): ۶\۳۳۰، رقم: ۳۲۶۵، ومسلم۴\ ۲۱۸۴، رقم: ۳۰ - ۲۸۴۳.

تشريح: د دنيا اور د دوږخ د اور د اوويا برخو څخه د يوې برخي کېدو مطلب دادی چي د دنيا اور څومره حرارت لري د دوږخ اور د هغه څخه اويا درجې زيات حرارت لري مګر کيدای سي چي د اويا د شمېر څخه مراد د دنيا د اور په مقابله کي د دوږخ د اور د ګرمۍ سختوالی او زياتوب بيانول وي نه دا چي دغه خاص شمېر مراد وي، يعني اصل مفهوم به دا وي چي د دوږخ

اورستاسو د دنيا د اور په مقابله كي ډېر زيات حرارت لري.

د رسول الله ﷺ څخه پوښتنه وسول او دهغه په جواب كي چي رسول الله ﷺ څه وفرمايل هغه د تاكيد له موخي د هغه جملې تكرار وو كوم چي رسول الله ﷺ په پيل كي فرمايلې وه، او د هغه څخه د جواب خلاصه دا راووتل چي بېله شكه د چا د سوځلو لپاره د دنيا دغه اور ډېر دى كه تاسو يو انسان په عذاب كي د اخته كولو لپاره په دغه اور كي واچوئ نو هغه به په سوځېدو سره اېرې سي مگر د دوږخ اور چي د كوم الهي عذاب لپاره تيار سوى دى د هغه تقاضا داده چي د هغه حرارت او گرمي د دغه دنيا د اور د حرارت څخه ډېر زيات وي چي د الله ﷻ عذاب د دنياد عذاب څخه ممتاز وي او د دوږخ په هغه اور كي سوځېدونكو ته ثرگنده سي چي د الله ﷻ عذاب دومره سخت او زيات دى، كه په دنيا كي يو سړى د هغه ځاى په عذاب كي سوځلى وي نو هغه عذاب به د هغه الهي عذاب په مقابله كي هيڅ نه وي، خلاصه دا چي د دوږخ اور په اصل كي الهي عذاب دى لكه ثرنگه چي د هغه په اصناف عذاب كي ذكر كيږي ځكه هغه د دغه دنيا د اور په نسبت ډېر زيات حرارت لري.

د دوږخ راوستلو ذكر

﴿۵۴۲۲﴾: وَعَنِ ابْنِ مَسْعُوْدٍ قَالَ قَالَ رَسُولُ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ يُؤْتَى بِجَهَنَّمَ يَوْمَئِذٍ لَهَا سَبْعُونَ أَلْفَ زِمَامٍ مَعَ كُلِّ زِمَامٍ سَبْعُونَ أَلْفَ مَلَكٍ يَجُرُّونَهَا. رواه مسلم.

د ابن مسعود رضي الله عنه څخه روايت ديچي رسول الله ﷺ وفرمايل: د قيامت په ورځ به دوږخ د هغه ځاى څخه كوم ځاى چي الله تعالى پيدا كړى دى راوستل سي داسي چي اويا زره واگي به يې وي او هره واگه به د اويا زره ملائكو په لاسونو كي وي او ملائكي به هغه را كشوي. مسلم.

تخريج: صحيح مسلم ۴\ ۲۱۸۴، رقم: ۲۹- ۲۸۴۲.

د لغاتو حل: زِمام: وهو ما يشد به (واگي)

تشريح: مطلب دادى چي د قيامت په ورځ به دوږخ په لكونو ملائكي د هغه د ځاى څخه په را ايستلو سره د محشر د خلكو وړاندي راولي او داسي ځاى به يې كښېږدي چي هغه به د اهل محشر او جنت په منځ كي حائل سي او جنت ته د تللو لپاره د هغه پل صراط څخه پرته به څه لار

نه وي كوم چي د دوږخ پر شا به اېښنو دل سوى وي، د دوږخ چي اويا زره واكي دي د هغه مقصد به دا وي چي هغه راوستل سي نو پر دوږخيانو باندي به د خپل غضب اظهار كوي او غواړي به چي تهول تېر كړي نو ساتونكي ملائكي هغه د واكو په ذريعه منع كوي كه د هغه واكي پرېښنو دل سي او هغه د حملې كولو څخه منع نه كړل سي نو هغه به مؤمنان او كافران تهول تېر كړي.

تر ټولو كم عذاب

﴿۵۴۲۳﴾: وَعَنِ النُّعْمَانِ بْنِ بَشِيرٍ قَالَ قَالَ رَسُولُ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ

د حضرت نعمان بن بشير ﷺ څخه روايت دى چئ رسول الله ﷺ وفرمايل:

إِنَّ أَهْوَنَ أَهْلِ النَّارِ عَذَابًا مَنْ لَهُ نَعْلَانِ وَشِرَاكَانِ مِنْ نَارٍ يَغْلِي مِنْهُمَا

په دوږخيانو كي تر ټولو كم او سپک عذاب چي به كوم سړي ته وركول كيږي هغه دادى چي دوئ ته به د اور څپلي ورپه پښنو سي چي د هغه به دوې د اور تسمې وي او ددغه شيانو څخه به

دِمَاغُهُ كَمَا يَغْلِ الْمِرْجَلُ مَا يَرَى أَنَّ أَحَدًا أَشَدُّ مِنْهُ عَذَابًا وَإِنَّهُ لَأَهْوَنُهُمْ عَذَابًا. متفق عليه.

د هغه ماغزه ايشي لكه څرنګه چي ديګ ايشي هغه سړي به دا عذاب تر ټولو سخت ګڼي حال دا چي هغه به تر ټولو معمولي عذاب وي. بخاري او مسلم.

تخريج: صحيح البخاري (فتح الباري): ١١\ ٤١٧، رقم: ٦٥٦١. ومسلم ١\ ١٦٩، رقم: ٣٦٤-٢١٣.

د لغاتو حل: المرجل: قدر النحاس: (دېګ)

تشريح: ددغه حديث څخه په څرګنده معلوميږي چي د عذاب په اعتبار به دوږخيان ډول ډول وي چي څوک به په سخت عذاب كي اخته وي او څوک به په سپک عذاب كي وي.

د دوږخ تر ټولو كم عذاب به د ابو طالب وي

﴿۵۴۲۴﴾: وَعَنِ ابْنِ عَبَّاسٍ قَالَ قَالَ رَسُولُ اللّٰهِ ﷺ أَهْوَنُ أَهْلِ النَّارِ عَذَابًا أَبُو طَالِبٍ وَهُوَ مُنْتَعِلٌ بِنَعْلَيْنِ يَغْلِي مِنْهُمَا دِمَاغُهُ. رواه البخاري.

د حضرت ابن عباس ﷺ څخه روايت دئ چي رسول الله ﷺ وفرمايل: په دوږخيانو كي تر ټولو

سپک عذاب به ابو طالب ته وي هغه ته به دوې د اور څپلۍ ورپه پښو سي چي په هغه سره به یې ماغزه ایشي .بخاري.

تخريج لم نجده عند البخاري وهو بلفظه عند مسلم ۱\۱۹٦، رقم: ۳٦۲ - ۲۱۲.

تشريح ابو طالب د رسول الله ﷺ اکا وو ، دهغه شفقت او سرپرستۍ د رسول الله ﷺ ډېره مرسته وکړل ، که څه هم هغه اسلام قبول نه کړ مګر تر څو چي ژوندی وو ، رسول الله ﷺ د مکې د کفارو د دښمنۍ او عداوت څخه په ساتنه کي یې تر خپله وسه هڅه کول او ددې په بدله کي هغه ته به په دوږخ کي تر ټولو کم عذاب وي .

یو دوږخي او یو جنتي

﴿۵۴۲۵﴾: وَعَنْ أَنَسٍ قَالَ قَالَ رَسُولُ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ يُؤْتَى بِأَنْعَمِ

د حضرت انس ﷺ څخه روایت دئ چي رسول الله ﷺ وفرمایل : د دنیا زیات شتمن او نعمت

أَهْلِ الدُّنْيَا مِنْ أَهْلِ النَّارِ يَوْمَ الْقِيَامَةِ فَيُصْبَغُ فِي النَّارِ صَبْغَةً ثُمَّ يُقَالُ يَا

والا دوږخي به د قیامت په ورځ راوستل سي او هغه ته به د اور په کنده کي یو غوټه ورکړل سي او ورته وه به ویل سي اې

ابْنَ آدَمَ هَلْ رَأَيْتَ خَيْرًا قَطُّ هَلْ مَرَّ بِكَ نَعِيمٌ قَطُّ فَيَقُولُ لَا وَاللّٰهِ يَا رَبِّ

د آزویه ! ایا تا خیر لیدلی دی (یعني ارام دي تر لاسه کړی دی) ایا په دنیا کي یو وخت پر تا نعمتونه تیر سوي وه؟ هغه به وو ایي: یا، قسم په خدای اې پروردګاره :نه،

وَيُؤْتَى بِأَشَدِّ النَّاسِ بُؤْسًا فِي الدُّنْيَا مِنْ أَهْلِ الْجَنَّةِ فَيُصْبَغُ صَبْغَةً فِي الْجَنَّةِ

بیا به د جنتیانو څخه یو سړی راوستل سي چي هغه به په دنیا کي سخت محنت کړی وي او غم به یې برداشت کړی وی او هغه ته به په جنت کي یوه غوټه ورکړل سي

فَيُقَالُ لَهُ يَا ابْنَ آدَمَ هَلْ رَأَيْتَ بُؤْسًا قَطُّ هَلْ مَرَّ بِكَ شِدَّةٌ قَطُّ فَيَقُولُ لَا وَاللّٰهِ يَا رَبِّ مَا مَرَّ بِي بُؤْسٌ قَطُّ وَلَا رَأَيْتُ شِدَّةً قَطُّ. رواه مسلم.

او پوښتنه به ځیني وکړل سي اې د ادم زویه ! ایا تا یو وخت د محنت او سختۍ مخ لیدلی دی؟

تا غم او تكليف برداشت كړى دى ؟ هغه به وايي يا قسم په خداى اې پروردګاره ! ما هيڅكله محنت او سختي نه ده ليدلې او نه راباندي هيڅكله غم او تكليف راغلى دى . مسلم.

تخريج: صحيح مسلم ۴\۲۱۶۲، رقم: ۵۵- ۲۸۰۷.

تشريح: جنتي ته ډېره خوشحالي تر لاسه وي ځكه هغه به په جواب كي اوږدوالى اختيار كړي د هغه پر خلاف دوږخي به د مختصر جواب په وركولو سره پټه خوله سي.

د شرک خلاف خبرداري

﴿۵۴۲۶﴾: وَعَنْهُ عَنِ النَّبِيِّ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ قَالَ يَقُولُ اللّٰهُ تَعَالَى لِأَهْوَنِ

د حضرت انس رضي الله عنه څخه روايت دئ چي رسول الله ﷺ وفرمايل : د قيامت په ورځ به الله تعالى هغه خلكو ته چي هغوئ ته اسان او سپيک عذاب وركړى وي وفرمايي :

أَهْلِ النَّارِ عَذَابًا يَوْمَ الْقِيَامَةِ لَوْ أَنَّ لَكَ مَا فِي الْأَرْضِ مِنْ شَيْءٍ أَكُنْتَ

كه ستا سره د دنيا په شيانو كي يو شى وي او د هغه په وركولو سره ته ددې عذاب څخه خلاصيدلاى سي نو ايا تا به داسي كړى واى هغه به وايي هو، الله تعالى به ورته وفرمايي كله

تَفْتَدِي بِهِ فَيَقُولُ نَعَمْ فَيَقُولُ أَرَدْتُ مِنْكَ أَهْوَنَ مِنْ هٰذَا وَأَنْتَ فِي صُلْبِ آدَمَ أَنْ لَا تُشْرِكَ بِي شَيْئًا فَأَبَيْتَ إِلَّا أَنْ تُشْرِكَ بِي. متفق عليه.

چي ته د آدم عليه السلام په ملا كي وې هغه وخت ما ستا څخه تر دې د زيات اسان شي غوښتنه كړې وه هغه دا چي ته به هيڅوک زما سره نه شريكوې مګر تا انكار وكړ او زما سره دي نور خلک شريكان كړل. بخاري او مسلم.

تخريج: صحيح البخاري (فتح الباري): ۱۱\۴۱۶، رقم: ۶۵۵۷، ومسلم ۴\۲۱۶۰، رقم: ۵۱- ۲۸۰۵.

تشريح: د لفظي معنى په اعتبار دا ځاى (اردت منک ...الخ) معنى به دا وي چي ما ستا څخه تر دې هم اسانه شي غوښتي وو، او مظهر رحمه الله ليكلي دي چي دلته د اراده لفظ د امر په معنى كي دى يعني د غوښتلو څخه مراد حكم وركول دي او په اراده او امر كي فرق دادى چي په كائناتو كي څه كيږي ټول د هغه په اراده او مشيت سره كيږي حال دا چي د امر اطلاق كله پر هغه شي باندي هم كيږي چي د هغه د ارادې او مشيت خلاف وي ، طيبي رحمه الله ويلي دي: صحيح

خبره داده چي دلته د اراده ميثاق يعني عهد اخيستلو باندي محمول كړل سي چي د هغه يادونه په قرآن كريم كي داسي فرمايل سوې ده : (واذ اخذ ربک من بني ادم من ظهورهم ذريتهم ...الخ) او ددې قرينه خپله د حديث قدسي دغه الفاظو (وانت في صلب آدم) پر عهد ماتولو باندي محمول كړل سي.

په عذاب كي تفاوت او درجې

﴿۵۴۲۷﴾: وَعَنْ سَمُرَةَ بْنِ جُنْدَبٍ أَنَّ النَّبِيَّ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ قَالَ مِنْهُمْ

د حضرت سمره بن جندب رضي الله عنه څخه روايت دئ چي رسول الله ﷺ وفرمايل: په دوږخيانو كي به

مَنْ تَأْخُذُهُ النَّارُ إِلَى كعبيه ومِنْهُمْ مَنْ تَأْخُذُهُ النَّارُ إِلَى رُكْبَتَيْهِ وَمِنْهُمْ مَنْ

ځيني خلک هغه وي چي د هغوئ تر بجلكو پوري به اور وي ځيني به هغه وي چي د هغوئ زنگنو ته به اور ورسيږي،

تَأْخُذُهُ النَّارُ إِلَى حُجْزَتِهِ وَمِنْهُمْ مَنْ تَأْخُذُهُ النَّارُ إِلَى تَرْقُوَتِهِ. رواه مسلم.

ځيني به هغه وي چي د هغوئ تر ملا پوري به اور وي او ځيني به هغه وي چي د هغوئ تر غاړو پوري به اور وي. مسلم.

تخريج: صحيح مسلم ۴\۲۱۸۵، رقم: ۳۳ - ۲۸۴۵.

د لغاتو حل: حجزته: اى معقد ازاره و وسطه. الترقوة: عظمة مشرفة بين ثغرة النحر والعاتق(كرغنكه)

تشريح: په دغه حديث كي ددې خبري يادونه ده چي دوږخيان به د عذاب په كموالي او سختوالي كي ډول ډول وي، څوک چي په دنيا كي د كومي درجې بې عقيدې او بدعمله وي هغه ته به د هغه درجې عذاب وركول كيږي.

د دوږخي بدن

﴿۵۴۲۸﴾: وَعَنْ أَبِي هُرَيْرَةَ قَالَ قَالَ رَسُولُ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ مَا بَيْنَ

د حضرت ابو هريره رضي الله عنه څخه روايت دئ چي رسول الله ﷺ وفرمايل: په دوږخ كي به د كافر د

مَنْكِبَيِ الْكَافِرِ فِي النَّارِ مَسِيرَةُ ثَلَاثَةِ أَيَّامٍ لِلرَّاكِبِ الْمُسْرِعِ، وفي رواية

دواړو اوږو په منځ كي دومره فاصله وي څومره چي د تيز رفتاره آس د درو ورځو مسافت دی،

او په يوه روايت كي دا الفاظ دي چي په دوږخ كي به

ضرس الكافر مثل احد وغلظ جلده مسيرة ثلث ، رواه مسلم وذكر حديث ابي هريرة اشتكت النار الى ربها في باب تعجيل الصلوة.

د كافر غاښ د احد د غره برابر وي او د هغه د بدن پوست به د درو ورځو د تګ برابر غټ وي، د ابو هريره رضي الله عنه حديث (اشتكت النار)، په باب تعجيل الصلوة كي بيان سوى دى . مسلم.

تخريج: صحيح مسلم: ۴\ ۲۱۸۹، رقم: ۴۴- ۲۸۵۱.

تشريح: په دغه حديث كي د دوږخيانو د بدن غټېدو يادونه ده، حال دا چي په يوه روايت كي راغلي دي چي د قيامت په ورځ به متكبرين د حشر په ميدان كي داسي راوستل سي چي د هغوئ بدنونه به د مېږيانو په اندازه وي او د هغوئ شكلونه به د خلكو وي او بيا به هغوئ په شړلو سره بنديخانې ته بوتلل سي، نو په دغه دواړو روايتو كي تطبيق دادى چي د متكبرينو څخه مراد ګناه كاره مؤمنان دي . حال دا چي په ذكر سوي حديث كي كفار ذكر سوي دي مګر صحيح خبره داده چي هغوئ به د حشر په ميدان كي د مېږيان په شكل راوستل سي چي هلته د خلكو تر پښو لاندي كېدو سره ښه مېده كړل سي ، ددې څخه وروسته د هغوئ بدن خپل اصلي حالت ته راسي په دوږخ كي به واچول سي، په دوږخ كي به دهغوئ بدن دوهم وار غير معمولي سي او هغوئ غټ والى او خپرېدل به دومره زيات سي چي د هغه يادونه په حديث كي سوې ده او هغوئ بدن به دومره غټ او چاغ كړل سي چي هغوئ ته زيات تر زيات عذاب ورسيږي .

اَلْفَصْلُ الثَّانِي (دوهم فصل)

د دوږخ اور

﴿۵۴۲۹﴾: عَنْ أَبِي هُرَيْرَةَ عن النبي صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ قال أُوقِدَ عَلَى النَّارِ أَلْفَ سَنَةٍ حَتَّى احْمَرَّتْ ثُمَّ أُوقِدَ عَلَيْهَا أَلْفَ سَنَةٍ حَتَّى ابْيَضَّتْ ثُمَّ أُوقِدَ عَلَيْهَا أَلْفَ سَنَةٍ حَتَّى اسْوَدَّتْ فَهِيَ سَوْدَاءُ مُظْلِمَةٌ. رواه الترمذي.

د حضرت ابو هريره رضي الله عنه څخه روايت دئ چي رسول الله صلى الله عليه وسلم وفرمايل : د دوږخ اور تر زر كاله

پوري بل كړل سو تر دې چي هغه سور سو ، بيا زر كاله نور بل كړل سو تر دې چي هغه سپين سو ، بيا زر كاله نور بل كړل سو تر دې چي هغه تور سو او س هغه تورا و تاريک دی. ترمذي.

تخريج : سنن الترمذي ۴\۶۱۲، رقم: ۲۵۹۱.

تشريح : تر دې چي هغه سپين سو ، دا د اور خاتمه ده چي هغه تر ډېره وخته پوري بليږي او بنه تېز سي نو بالكل سپين معلوميږي، مخكي چي په هغه كي كوم سوروالی وي هغه به د دود د ګډون په وجه وي .

په هر حال دا حديث ددې خبري دليل دی چي دوږخ په وجود كي راغلی دی لكه چي د اهل سنت والجماعت مذهب دی، ددې پر خلاف د معتزلو مذهب دادی چي دوږخ تر اوسه تيار سوی نه دی او په وجود كي نه دی راغلی د اهل سنت والجماعت لوی دليل د قرآن كريم په دغه آيت : (واتقو النار التي اعدت للكافرين) كي د اعدت لفظ دی چي د ماضي په صيغه سره استعمال سوی دی .

د كافر دوږخي جسامت

﴿۵۴۳۰﴾: وَعَنْهُ قَالَ قَالَ رَسُولُ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ ضِرْسُ الْكَافِرِ يَوْمَ الْقِيَامَةِ مِثْلُ أُحُدٍ وَفَخِذُهُ مِثْلُ الْبَيْضَاءِ وَمَقْعَدُهُ مِنَ النَّارِ مَسِيرَةُ ثَلَاثٍ مِثْلُ الرَّبَذَةِ. رواه الترمذي.

د حضرت ابوهريره رضي الله عنه څخه روايت دئ چي رسول الله ﷺ وفرمايل : د قيامت په ورځ به د كافر غاښ د احد د غره برابر وي او ورون به يې د بيضاء د غره په ډول وي او د هغه د ناستي ځای به درې ميله اوږد وي لكه د مدينې څخه چي ربذه (پر درې ميله فاصله) واقع ده. ترمذي

تخريج : سنن الترمذي ۴\۶۰۶، رقم: ۲۵۷۸.

د لغاتو حل : البيضاء: هو اسم جبل (د يو غره نوم). الربذة: قرية معروفة قرب المدينه (يو كلی)

تشريح : ربذه د مدينې منورې د كليو څخه د يو كلي نوم دی چي هغه د درو ورځو په فاصله د ذات عرق كلي ته نژدې دی، نو څرنګه چي ربذه ده، ددې څخه مراد دادی چي كافر دوږخي به د خپل اوږد او پلن بدن په وجه په خپله ناسته كي دومره ځای نيسي څومره چي دمدينې څخه تر ربذه پوري فاصله ده .

﴿۵۴۳۱﴾: وَعَنْهُ قَالَ قَالَ رَسُولُ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ إِنَّ غِلَظَ جِلْدِ الْكَافِرِ اثْنَانِ وَأَرْبَعُونَ ذِرَاعًا وَإِنَّ ضِرْسَهُ مِثْلُ أُحُدٍ وَإِنَّ مَجْلِسَهُ مِنْ جَهَنَّمَ كَمَا بَيْنَ مَكَّةَ وَالْمَدِينَةِ. رواه الترمذي.

د حضرت ابو هريره رضی الله عنه څخه روايت دئ چي رسول الله ﷺ و فرمايل: د كافر د بدن د پوست غټ والى به (په دوږخ كي) دوڅلوېښت گزه وي، غاښ به يې د احد د غره برابر وي د ناستي ځاى به يې په دوږخ كي دومره وي لكه مابين د مكې او مدينې. ترمذي.

تخريج: سنن الترمذي ۶۰۶\۴، رقم: ۲۵۷۷.

تشريح: په يوه روايت كي د ۴۲ لاسه د وضاحت لپاره د بذرع الجبار الفاظ هم نقل سوي دي، يعني لاس هم د يو اوږد او پلن سړى لاس، وړاندي په حديث كي د كافر دوږخي د ناستي ځاى د مدينې او ربذه درمياني فاصله بيان سوې ده حال دا چي په دغه حديث كي د مكې او مدينې درمياني فاصله ذكر سوې ده، علامه ابن حجر رحمة الله عليه ليكلي دي: د اندازې دغه فرق او اختلاف په اصل كي د كافرانو په عذاب كي دفرق او اختلاف په وجه دى، كوم كافران چي په سخت عذاب كي اخته وي د هغوئ بدن به په هغه اعتبار اوږد او پلن وي او كوم كافران چي نسبتا د كم عذاب وړ وي د هغوئ بدنونه به هم نسبتا كم اوږده او پلن وي. پر همدې باندي د پوست او نورو شيانو اختلاف هم قياس كيداى سي.

﴿۵۴۳۲﴾: وَعَنِ ابْنِ عُمَرَ قَالَ قَالَ رَسُولُ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ إِنَّ الْكَافِرَ لَيُسْحَبُ لِسَانُهُ الْفَرْسَخَ وَالْفَرْسَخَيْنِ يَتَوَطَّؤُهُ النَّاسُ. رواه احمد و الترمذي و قال هذا حديث غريب.

د حضرت ابن عمر رضی الله عنه څخه روايت دئ چي رسول الله ﷺ و فرمايل: كافر به (په دوږخ كي) خپله ژبه يو فرسخ او دوو فرسخو پوري راوباسي او خلک به و رباندي پښې ايږدي. ترمذي.

تخريج: الامام احمد في مسنده ۹۲\۲، والترمذي ۶۰۶\۴، رقم: ۲۵۸۰.

د لغاتو حل: يتوطؤه: اي يطؤنه باقدامهم ويمشون عليه. (تر پښو لاندي كول)

د دوږخ غر

﴿۵۴۳۳﴾: وَعَنْ أَبِي سَعِيدٍ عَنْ رَسُولِ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ قَالَ الصَّعُودُ جَبَلٌ مِنْ نَارٍ يَتَصَعَّدُ فِيهِ الْكَافِرُ سَبْعِينَ خَرِيفًا وَيَهْوِي به كَذٰلِكَ فيه أَبَدًا. رواه الترمذي.

د حضرت ابو سعید رضي الله عنه څخه روایت دئ چي رسول الله ﷺ وفرمایل: صعود (چي د هغه ذکر په قرآن کریم کي دی) د اور یو غر دی چي پر هغه به کافر ترا اویا کاله پوري خیږول کیږي او بیا به را شوه سي او هغه به ترا اویا کاله پوري رالغړیږي او همېشه به همدا سي وي. ترمذي.

تخریج: سنن الترمذي: ۴\۶۰۵، رقم: ۲۵۷۶.

د دوږخي خوراک

﴿۵۴۳۴﴾: وَعَنْهُ عَنِ النَّبِيِّ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ قال فِي قَوْلِهِ كَالْمُهْلِ اي كَعَكَرِ الزَّيْتِ فَإِذَا قُرِّبَ إِلَى وَجْهِهِ سَقَطَتْ فَرْوَةُ وَجْهِهِ فِيهِ. رواه الترمذي.

د حضرت ابو سعید رضي الله عنه څخه روایت دی چي نبي کریم ﷺ ددغه آیت (ان شجرة الزقوم طعام الاثیم کالمهل)، (د زقوم درخته د مهل په ډول د ګناه کارو خوراک دی) د مهل لفظ په اړه یې وفرمایل: چي دا په شان د خیرو د تیلو او به دي کوم وخت چي دا د دوږخي مخته ته نژدې راوړل سي (نو دګرمی په وجه) به د هغه د مخ پوست واوړي. ترمذي.

تخریج: سنن الترمذي ۴\۶۰۷، رقم: ۲۵۸۱.

د ګرمو اوبو عذاب

﴿۵۴۳۵﴾: وَعَنْ أَبِي هُرَيْرَةَ عَنِ النَّبِيِّ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ قَالَ إِنَّ الْحَمِيمَ

د حضرت ابو هریره رضي الله عنه څخه روایت دئ چي رسول الله ﷺ وفرمایل: د دوږخیانو پر سر به تودې

لَيُصَبُّ عَلَى رُءُوسِهِمْ فَيَنْفُذُ الْحَمِيمُ حَتَّى يَخْلُصَ إِلَى جَوْفِهِ فَيَسْلِتُ مَا فِي

اوبه واچول سي تر دې چې د هغه ګرمي به د سر څخه تر نس پوري ورسيږي او هغه شيان به پرې

جَوْفِهِ حَتَّى يَمْرُقَ مِنْ قَدَمَيْهِ وَهُوَ الصَّهْرُ ثُمَّ يُعَادُ كَمَا كَانَ. رواه الترمذي.

کړي کوم چې په نس کي دننه دي هغه به ويلي کړي او هغه شيان به د قدمونو پر لار را وبهيږي او دا (صهر) دى چې ذکر يې د قرآن کريم په دغه آيت کي دى : (يصيب من فوق رءوسهم الحميم ...) ، (د هغوئ پر سرونو به تودې اوبه واچول سي چې په هغه سره به په نس کي دننه شيان ويلي کړل سي او پوست به يې هم ويلي کړل سي) او بيا به همداسي سي لکه څرنګه چې وو. ترمذي.

تخريج: سنن الترمذي ۴\۶۰۷، رقم: ۲۵۸۲.

د لغاتو حل: فيسلت: يمسع و يقطع الحميم. پرې کول

تشريح: د صهر معنى د ويلي کېدو ده او دغه لفظ چې د هغه وضاحت رسول الله ﷺ په ذکر سوي تفصيل بيان کړ، د قرآن کريم په دغه آيت کي راغلى دى :

يُصَبُّ مِن فَوْقِ رُؤُوسِهِمُ الْحَمِيمُ ، يُصْهَرُ بِهِ مَا فِي بُطُونِهِمْ وَالْجُلُودُ

ژباړه: او د هغوئ سربېره به تودې اوبه اچول کيږي چې په هغه سره به د نس شيان يعني کولمې او پوست تېول ويلي سي.

بيا به هغه همداسي سي، مطلب دادى چې دد وږخيانو سره د تودو اوبه دغه عمل به د عذاب په توګه پاته سي يعني ددغه عذاب څخه وروسته به هغوئ خپل حالت ته راسي ،د هغوئ پوست به همدارنګه سي او دهغوئ کولمې به په نس کي پر خپل ځاى سالمي پاته سي بيا به پر هغوئ هغه تودې اوبه واچول سي چې د ننه په تاثير کولو سره به نس ته ورسيږي او د کولمو او نورو اندامو په پرېکولو سره به د پښو پر لار راوځي، همدغه لړۍ به روانه وي ، ددې ثبوت د قرآن کريم ددغه الفاظو څخه هم تر لاسه کيږي :

(كُلَّمَا نَضِجَتْ جُلُودُهُمْ بَدَّلْنَاهُمْ جُلُودًا غَيْرَهَا) .

د دوږخيانو د څښلو اوبه

﴿۵۴۳۶﴾ : وَعَنْ أَبِي أُمَامَةَ عَنِ النَّبِيِّ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ فِي قَوْلِهِ وَيُسْقَى مِنْ

د حضرت ابو امامه رضی الله عنه څخه روايت دى چې رسول الله ﷺ ددغه آيت (يسقى من ماء صديد

مَاءٍ صَدِيدٍ يَتَجَرَّعُهُ قَالَ يُقَرَّبُ إِلَى فِيهِ فَيَكْرَهُهُ فَإِذَا أُدْنِيَ مِنْهُ شَوَى وَجْهَهُ

يتجرعه) ، (دوږخيانو باندي به د دوږخيانو ژړي اوبه وڅښل سي چي هغه به څاڅكي څاڅكي څيښي) په اړه وفرمايل دا اوبه چي د دوږخي خولې ته نژدې كړل سي نو هغه به يې بد وګڼي بيا

وَوَقَعَتْ فَرْوَةُ رَأْسِهِ فَإِذَا شَرِبَهُ قَطَّعَ أَمْعَاءَهُ حَتَّى تَخْرُجَ مِنْ دُبُرِهِ يَقُولُ اللّٰهُ

چي په خوله كي ور واچول سي نو د هغه خوله به وايشول سي او د هغه د سر پوست به وغورزيږي بيا چي په وڅښل سي نو كولمې به يې ور ټيري كړي تر دې چي هغه كولمې به د لويو بولو تر ځاى راووځي ، الله تعالى فرمايي :

وَسُقُوا مَاءً حَمِيمًا فَقَطَّعَ أَمْعَاءَهُمْ وَيَقُولُ وَإِنْ يَسْتَغِيثُوا يُغَاثُوا بِمَاءٍ كَالْمُهْلِ يَشْوِي الْوُجُوهَ بِئْسَ الشَّرَابُ. رواه الترمذي

او په دوږخيانو به ګرمي اوبه وڅښل سي چي د هغوئ كولمې به پرې پرې كړي او الله تعالى فرمايي : كه دوږخيان د اوبو لپاره فرياد وكړي نو په دغه اوبو سره به يې فرياد رسي وكړل سي چي ايشولي به وي چي خوله به يې ور وشوړوي او دا اوبه د څښلو ډير خراب شي دى . ترمذي

تخريج : سنن الترمذي ۴\۶۰۸، رقم: ۲۵۸۳.

د دوږخ احاطه

﴿۵۴۳۷﴾ : وَعَنْ اَبِيْ سَعِيْدِ الْخُدْرِيِّ عَنِ النَّبِيِّ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ قَالَ لِسُرَادِقِ النَّارِ أَرْبَعَةُ جُدُرٍ كِثَفُ كُلِّ جِدَارٍ مَسِيرَةِ أَرْبَعِينَ سَنَةً. رواه الترمذي.

د حضرت ابوسعيد خدري رضي الله عنه څخه روايت دئ چي رسول الله ﷺ وفرمايل : د دوږخ د احاطې به څلور ديوالونه وي د هر ديوال غټوالى به د څلوېښتو كالو د مزل برابر وي . ترمذي.

تخريج : سنن الترمذي ۴\۶۰۸، رقم: ۲۵۸۴.

﴿۵۴۳۸﴾ : وَعَنْهُ قَالَ قَالَ رَسُولُ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ لَوْ أَنَّ دَلْوًا مِنْ

غَسَّاقٍ يُهَرَاقُ فِي الدُّنْيَا لَأَنْتَنَ أَهْلَ الدُّنْيَا. رواه الترمذي.

د حضرت ابو سعيد خدري ﷛ څخه روايت دئ چي رسول الله ﷺ وفرمايل : که د دغه ژړو اوبو يو سلواغه چي د دوږخيانو د زخمونو څخه به جاري وي په دنيا کي توی سي نو د دنيا ټول خلک به بدبويه سي. ترمذي

تخريج : سنن الترمذي: ۶۰۸\۴، رقم: ۲۵۸۴.

د لغاتو حل: غساق: ما يسيل من صديد اهل النار (نوونه)

﴿۵۴۳۹﴾: وَعَنِ ابْنِ عَبَّاسٍ أَنَّ رَسُولَ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ قَرَأَ هٰذِهِ الْاٰيَةَ اتَّقُوا اللّٰهَ حَقَّ تُقَاتِهِ وَلَا تَمُوتُنَّ إِلَّا وَأَنْتُمْ مُسْلِمُونَ قَالَ رَسُولُ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ لَوْ أَنَّ قَطْرَةً مِنَ الزَّقُّومِ قُطِرَتْ فِي دَارِ الدُّنْيَا لَأَفْسَدَتْ عَلَى أَهْلِ الارض مَعَايِشَهُمْ فَكَيْفَ بِمَنْ يَكُونُ طَعَامَهُ. رواه الترمذي و قَالَ هٰذَا حَدِيثٌ حَسَنٌ صَحِيحٌ.

د حضرت ابن عباس ﷛ څخه روايت دی چي رسول الله ﷺ دا آيت تلاوت کړ : (اتقوا الله حق تقاته ولا تموتن الا وانتم مسلمون)، (د الله تعالی څخه وبيرېږئ لکه څرنګه چي ور څخه بيريدل پکار دي او هر کله چي مړه کيږئ نو مسلمان مړه کيږئ)، بيا رسول الله ﷺ وفرمايل : که د زقوم د درختي يو څاڅکی په دنيا کي وڅاڅي نو د مځکي د اوسيدونکو د ژوند اسباب به برباد کړي بيا د هغه سړي به څه حال وي چي د هغه خوراک زقوم وي. ترمذي

تخريج : سنن الترمذي: ۶۰۹\۴، رقم: ۲۵۸۵.

تشريح: (حق تقاته) لکه څرنګه چي د هغې څخه د بېرېدو حق دی، ددې مطلب د واجباتو پر ځای کول او د منع سوو شيانو څخه ځان ساتل دي، حضرت ابن مسعود ﷛ ددغه الفاظو تفسير داسي کړی دی : هو ان يطاع فلا يعصي ويشكر فلا يكفر ويذكر فلا ينسي، او د الله ﷻ څخه د بېرېدو حق دادی چي د هغه پيروي وکړل سي او په هيڅ حال کي د هغه نافرماني ونه کړل

سي او د هغه شكر ادا كړل سي او په هيڅ حال كي د هغه ناشكري ونه كړل سي ، هغه ياد كړل سي او په هيڅ حال كي هغه هېر نه كړل سي .

حاكم دغه تفسير اووضاحت د رسول الله ﷺ څخه نقل كړى دى ، همدارنګه ابن مردويه او ابن حاتم او محدثينو دا صحيح ګرځولي دي، په هر حال كه دغه الفاظ (حق تقاته) د تقوا د بيانولو لپاره وي يعني دا به وويل سي چي د حق تقاته څخه مراد كمال تقوا ده نو بيا هيڅ مشكل نه پاته كيږي او كه دغه الفاظ د اصل تقوا تعبير وګرځول سي نو بيا دا ويل كيږي چي دغه آيت د قرآن كريم د دغه دوهم آيت (فاتقوا الله ما استطعتم) په ذريعه منسوخ وي، ځكه چي اصل تقوا يعني دا الله جَلَّالہٗ څخه د هغه د مرتبې سره مطابق ثوک اختيارولاى سي .

اوس دا سوال پيدا كيږي چي رسول الله ﷺ د دغه آيت تلاوت كولو څخه وروسته كوم مضمون ته اشاره وفرمايل، هغه د دغه آيت سره څه مناسبت لري، نو ددې جواب دادى چي په اصل كي تقوا د دوږخ د عذاب څخه د سلامتيا سبب دى او تقوا نه اختيارول د دوږخ په عذاب كي اخته كېدل دي نو رسول الله ﷺ په دغه مناسبت د دوږخ د ځيني عذاب ذكر كول مناسب وګڼل .

د دوږخيانو د خولې بدصورتي

﴿۵۴۴۰﴾: وَعَنْ أَبِي سَعِيدٍ عَنِ النَّبِيِّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ قَالَ وَهُمْ فِيهَا كَالِحُونَ قَالَ تَشْوِيهِ النَّارُ فَتَقَلَّصُ شَفَتُهُ الْعُلْيَا حَتَّى تَبْلُغَ وَسَطَ رَأْسِهِ وَتَسْتَرْخِي شَفَتُهُ السُّفْلَى حَتَّى تَضْرِبَ سُرَّتَهُ . رواه الترمذي.

د حضرت ابوسعيد رضي الله عنه څخه روايت دى چي نبي كريم ﷺ د قرآن مجيد د دغه الفاظو (وهم فيها كالحون.....) ، (دوږخيانو به په دوږخ كي تنديان تريو كړي وي او غابنونه به يې خلاص كړي وي) ، په اړه وفرمايل : اور به د كافر خوله وشوړوي ، سربيره شونډه به يې پورته ولاړه سي تر دې چي نيم سرته به ورسيږي او لاندي شونډه به يې را وزړيږي تر دې چي د نامه سره به يې لګيږي. ترمذي

تخريج: سنن الترمذي: ۶۰۹\۴، رقم: ۲۵۸۶.

د لغاتو حل: كالحون: اي عابسون حين تحترق وجوههم من النار.

تشريح: د قرآن كريم ذكر سوى آيت دا سي دى :

تَلْفَحُ وُجُوهَهُمُ النَّارُ وَهُمْ فِيهَا كَالِحُونَ .

ژباړه: د دوږخ اور به د هغه دوږخيانو مخونه سوځي او په هغه دوږخ کي به دهغوئ مخونه خراب وي.

د كالح څخه مراد هغه سړی دی چي د هغه شونډي په وچېدو سره لوړي سوي وي او غاښونه يې معلوميږي، ځينو مفسرينو د كالحون معنی دا کړې ده چي د هغوئ تنديان به تريو وي او ځينو مفسرينو ويلي دي چي دهغوئ غاښونه به معلوميږي، دغه دوهمه معنی د رسول الله ﷺ د ذکر سوي وضاحت سره زياته مناسبه ده مګر د هغوئ مخونه به خراب وي، دا يوه داسي معنی ده چي په هغه کي لغوی معنی او د رسول الله ﷺ د وضاحت ټولو رعايت کيږي.

د خدای ﷻ د بيري ژړاوي

﴿۵۴۴۱﴾: وَعَنْ أَنَسٍ عَنِ النَّبِيِّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ قَالَ يَا أَيُّهَا النَّاسُ ابْكُوْا

د حضرت انس ﷺ څخه روايت دئ چي رسول الله ﷺ وفرمايل: اې خلکو ! (د الله د بيري

فَإِنْ لَّمْ تَسْتَطِيْعُوْا فَتَبَاكُوْا فَإِنَّ أَهْلَ النَّارِ يَبْكُوْنَ فِيْ النَّارِ حَتّٰى تَسِيْلَ

څخه) وژاړئ، که ژړا نه درځي نو په تکليف سره وژاړئ (يعني ځان ته ژړا راولئ) ځکه چي دوږخيان به په دوږخ کي ژاړي او د هغوئ اوښکي به

دُمُوْعُهُمْ فِيْ وُجُوْهِهِمْ كَأَنَّهَا جَدَاوِلُ حَتّٰى تَنْقَطِعَ الدُّمُوْعَ فَتَسِيْلُ الدِّمَاءَ

فَتَقَرَّحُ الْعُيُوْنُ فَلَوْ أَنَّ سُفُنًا أُزْجِيَتْ فِيْهَا لَجَرَتْ. رواه في شرح السنة.

پر باړخوګانو داسي بهيږي لکه د اوبو لښتي بيا به اوښکي ختم سي اوويني به جاري سي چي سترګي به يې زخمي سي که د هغوئ په اوښکو کي کښتي جاري کړل سي نو په هغه کي به رواني سي. شرح السنه

تخريج البغوي في شرح السنة ۱۵\۲۵۳، رقم: ۴۴۱۸.

د لغاتو حل: ازجيت: من الازجاء اي ارسلت. (لېږل).

د دوږخيانو حالت

﴿۵۴۴۲﴾: وَعَنْ أَبِي الدَّرْدَاءِ قَالَ قَالَ رَسُوْلُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ يُلْقٰى عَلٰى

د حضرت ابو درداء رضی اللہ عنہ څخه روايت دئ چي رسول الله ﷺ وفرمايل : دوږخيان به په سخته لوږه

أَهْلِ النَّارِ الْجُوعُ فَيَعْدِلُ مَا هُمْ فِيهِ مِنَ الْعَذَابِ فَيَسْتَغِيثُونَ فَيُغَاثُونَ بِطَعَامٍ

كي اخته كړل سي او د لوږي دا عذاب به د هغه عذاب برابر وي چي په هغه كي به دوږخيان د مخكي څخه اخته وي ، بيا به هغوئ د لوږي د زياتوالي څخه فرياد كوي د هغوئ فرياد به واوريدل سي او د خوراک لپاره به هغوئ ته

مِنْ ضَرِيعٍ لَا يُسْمِنُ وَلَا يُغْنِي مِنْ جُوعٍ فَيَسْتَغِيثُونَ بِالطَّعَامِ فَيُغَاثُونَ بِطَعَامٍ

ضريع وركړل سي (ضريع يو ازغي لرونكي او سخت بدبويه واښه دی) دا خوراک به نه د هغوئ نس ډكوي او نه به د هغوئ لوږه دفع كړي، هغوئ به بيا فرياد وكړي او خوراک به غواړي د هغوئ فرياد اوريدو سره به داسي خوراک وركړل سي چي

ذِي غُصَّةٍ فَيَذْكُرُونَ أَنَّهُمْ كَانُوا يُجِيزُونَ الْغَصَصَ فِي الدُّنْيَا بِالشَّرَابِ

په ستوني كي به يې وموښلي يعني نه خو به نس ته ځي او نه به د خولې څخه راوځي ، بيا به هغوئ ته دا خبره وريادہ سي چي په دنيا كي به د چا په ستوني كي يو شی وموښتی نو هغه به يې په اوبو سره كښته كوئ،

فَيَسْتَغِيثُونَ بِالشَّرَابِ فَيُرْفَعُ إِلَيْهِمُ الْحَمِيمُ بِكَلَالِيبِ الْحَدِيدِ فَإِذَا دَنَتْ مِنْ

هغوئ به د اوبو لپاره فرياد وكړي نو د اوسپني په انبورونو نيولو سره چي ورته گرمي اوبه وړ

وُجُوهِهِمْ شَوَتْ وُجُوهَهُمْ فَإِذَا دَخَلَتْ بُطُونَهُمْ قَطَّعَتْ مَا فِي بُطُونِهِمْ فَيَقُولُونَ

نژدې كړل سي نو مخونه به يې وسوځي بيا او به چي نس ته ورسي نو د نس شيان به يې پاره پاره كړي بيا به دوږخيان په خپل منځ كي وايي

ادْعُوا خَزَنَةَ جَهَنَّمَ فَيَقُولُونَ أَلَمْ تَكُ تَأْتِيكُمْ رُسُلُكُمْ بِالْبَيِّنَاتِ قَالُوا بَلَى قَالُوا

د دوږخيانو د ساتونكو څخه دعاء وغواړئ (چي زموږ په عذاب كي كمي راسي) د دوږخ ساتونكي به د هغوئ په خواست اوريدو سره وايي ايا تاسو ته د الله رسولان په واضحه نښو او دلائلو سره نه وه راغلي، دوږخيان به وايي هو راغلي وه ، ددوږخ ساتونكي به ورته وايي

فَادْعُوا وَمَا دُعَاءُ الْكَافِرِينَ إِلَّا فِي ضَلَالٍ قَالَ فَيَقُولُونَ يَا مَالِكُ لِيَقْضِ عَلَيْنَا

تاسو په خپله دعاء وکړي، او د کافرانو دعاء به بالکل بې ګټې او بیکاره وي، بیا به دوږخیان په خپل منځ کي وایي د دوږخ خزانچې (پهره دار) را وغواړئ نو هغوئ به د دوږخ خزانچې (پهره دار) ته وایي اې مالکه!

رَبُّكَ قَالَ فَيُجِيبُهُمْ إِنَّكُمْ مَاكِثُونَ قَالَ الْأَعْمَشُ نُبِّئْتُ أَنَّ بَيْنَ دُعَائِهِمْ وَبَيْنَ

ته د خپل پروردګار څخه دعاء وغواړه چي موږ ته مرګ راولي، هغوئ به ورته وايي تاسو به همېشه دلته په دې حال کي اوسئ، دد غه حدیث د یو راوي اعمش بیان دی چي ما ته ښودل سوي دي چي د دوږخیانو او د دوږخ د خزانچي په منځ کي چي کوم خبري اتري کیږي

إِجَابَةِ مَالِكٍ إِيَّاهُمْ أَلْفَ عَامٍ قَالَ فَيَقُولُونَ ادْعُوا رَبَّكُمْ فَلَا أَحَدَ خَيْرٌ مِنْ رَبِّكُمْ

په هغه کي به زر کاله تیر سي بیا چي دوږخیان د هغه څخه نا امیده سي نو په خپل منځ کي به وایي د خپل پروردګار څخه دعاء وغواړئ چي ستاسو د پروردګار څخه غوره هیڅوک نه سته،

فَيَقُولُونَ رَبَّنَا غَلَبَتْ عَلَيْنَا شِقْوَتُنَا وَكُنَّا قَوْمًا ضَالِّينَ رَبَّنَا أَخْرِجْنَا مِنْهَا فَإِنْ

نو هغوئ به وایي اې زموږ پروردګاره! زموږ بدبختي پر موږ غالبه سوې ده او موږ د ګمراهانو خلکو څخه یو، اې پروردګاره! موږ د دوږخ څخه وباسې، که دد ې څخه وروسته هم

عُدْنَا فَإِنَّا ظَالِمُونَ قَالَ فَيُجِيبُهُمْ اخْسَئُوا فِيهَا وَلَا تُكَلِّمُونِ قَالَ فَعِنْدَ ذَلِكَ

موږ د کفر په لور ولاړ سو نو پر خپل ځان باندي به په خپله ظلم کونکي یو، الله تعالی به هغوئ ته په جواب کي وایي زیانکاره اوسئ په دوږخ کي او زما سره خبري مه کوئ، رسول الله ﷺ فرمایي د الله تعالی دد ې خبري اوریدو سره به هغوئ

يَئِسُوا مِنْ كُلِّ خَيْرٍ وَعِنْدَ ذَلِكَ يَأْخُذُونَ فِي الزَّفِيرِ وَالْحَسْرَةِ وَالْوَيْلِ قَالَ عَبْدُ اللَّهِ بْنُ عَبْدِ الرَّحْمَنِ وَالنَّاسُ لَا يَرْفَعُونَ هَذَا الْحَدِيثَ. رواه الترمذي

دهر ډول خیر څخه نا امیده سي او دد ې څخه وروسته به هغوئ ژړا وي کوي او په حسرت او افسوس سره به عذاب زغمي. ترمذي.

تخريج: سنن الترمذي: ۶۰۹\۴، رقم: ۲۵۸۶.

د لغاتو حل: ضريع: وهو نبت بالحجاز له شوک لاتقربه دابة لخبثه (يو ازغي لرونكى نبات)

تشريح: د هغه لوږي سزا به د هغه د عذاب په اندازه وي ...الخ: مطلب دادى چي پر هغوئ باندي كومه لوږه مسلط كړل سي د هغه درد به د دوږخ د عذاب د ټولو دردونو برابر وي ، ددې څخه معلومه سوه چي د لوږي اور د دوږخ د اور په ډول دى .

او د هغوئ فرياد رسول به د ضريع خوړلو په ذريعه كيږي: يعني كله چي هغه دوږخيان د لوږي څخه په بې تابه كېدو سره د خوراک لپاره څه وغواړي نو هغوئ ته به د ضريع خوراک وركړل سي، ښكنده دي وي چي ضريع يو ازغي لرونكى بوټى دى چي په حجاز كي وي، دا يو داسي زهرجن او تريخ بوټى دى چي هغه ته حيوانان هم نه سي ور نژدې كېداى او كه يو حيوان يې وخوري نو سمدستي مړ كيږي، په هر حال دلته په حديث كي د ضريع څخه مراد د اور ازغيان دي چي تر ايلوا زيات تريخ ، مردار او بدبويه او تر اور زيات هلاكوونكى دى .

او نه به يې چاغوي او نه به يې لوږه دفع كوي، دا په اصل كي د قران كريم دغه آيت كريمه ته اشاره ده :

لَّيْسَ لَهُمْ طَعَامٌ إِلاَّ مِن ضَرِيعٍ ، لاَ يُسْمِنُ وَلاَ يُغْنِي مِن جُوعٍ .

ژباړه: او هغه دوږخيانو ته د يو ازغي لرونكي بوټي څخه پرته بل هيڅ خوراک نسته چي نه خو به خوړونكي چاغوي او نه به يې لوږه دفع كوي .

په ستوني كي د مښلېدونكي خوراک په ذريعه د فرياد كولو مطلب دادى چي په دوهم وار به هغوئ ته هډوكي يا د اور ازغيان او نور داسي شيان وركړل سي چي په ستوني كي به يې بند سي نه به تر ستوني كښته كيږي او نه به دباندي راوځي، نو د حديث په دغه جمله كي دغه آيت كريمه ته اشاره ده :

إِنَّ لَدَيْنَا أَنكَالاً وَجَحِيمًا ، وَطَعَامًا ذَا غُصَّةٍ وَعَذَابًا أَلِيمًا.

ژباړه: بېله شكه د كافرانو لپاره زموږ سره زولنې دي او د دوږخ بل سوى اور دى او په ستوني كي مښلېدونكى خوراک دى دى او درد ناک عذاب دى .

د حديث د غه الفاظ : (وما دعاء الكافرين الا في ضلال)، او د كافرانو دعاء د تاوان څخه پرته نور هيڅ نه ده، دا هم په اصل كي د قرآن كريم الفاظ دي او د هغوئ دعاء په تاوان سره ځكه تعبير سوې ده چي هغه وخت به د هغوئ په اړه هيڅ دعاء او شفقت په كار نه ورځي كه هغوئ

خپله دعاء وكړي يا بل څوک دعاء ورته وكړي او شفاعت يې وكړي، مګر ددې څخه دا هيڅكله نه ثابتيږي چې د كافرانو او مشركانو په دنيا كې هم دعاء نه قبليږي ، لكه چې د قرآن او حديث د دغه الفاظو څخه ځينو علماوو نتيجه اخيستې ده، حقيقت دا دى چې په دنيا كې د شيطان دعاء چې د خپل عمر د اوږدوالي لپاره يې كړې وه ، الله ﷻ قبوله كړې ده نو بيا د كافرانو دعاء به ولې نه قبليږي په شرط ددې چې هغه د الله ﷻ څخه دعاء وغواړي.

غلبت علينا شقوتنا ، زموږ بدبختۍ موږ راچاپېره كړو ، دلته د شقوة لفظ د شين په زبر او د قاف په جزم سره دى او دغه لفظ شقاوة (د شين په زبر سره) هم ويل كيږي، د دواړو يوه معنى ده يعني بدبختي چې د سعادت يعني نېكبختۍ ضد دى، د ذكر سوي جملې مطلب دا دى چې زموږ تقدير چې په هغه كې زموږ بده خاتمه ليكل سوې ده ، پوره سوه او موږ د خپلې بدبختۍ ښكار سو.

كه موږ ددې وروسته هم كفر او شرک اختيار كړو ...الخ: د كافرانو دا ويل به هم پر مكر او درواغ باندې مبني وي لكه چې په قرآن كريم كې فرمايل سوي دي :

وَلَوْ رُدُّواْ لَعَادُواْ لِمَا نُهُواْ عَنْهُ وَإِنَّهُمْ لَكَاذِبُونَ .

ژباړه: او كه هغه خلک بيا دنيا ته واستول سي نو بيا به هغوئ هم هغه كوي د كوم څخه چې منع سوي وه، او په دې كې شک نسته چې دوئ بالكل درواغجن دي .

ياخذون في الزفير والحسرة والويل، فرياد به كوي، دلته د زفير لفظ اصل معنى د خره ساه اخيستل دي لكه څرنګه چې د شهيق معنى ده، يا دا چې كله خر آواز پيل كړي نو مخكې هغه آواز كښته وي چې هغه ته زفير ويل كيږي او په پاى كې د هغه اواز تېز او غټ وي چې هغه ته شهيق ويل كيږي، د حديث په دغه الفاظو كې د قرآن كريم دغه آيت ته اشاره ده :

لَهُمْ فِيهَا زَفِيرٌ وَشَهِيقٌ .

ژباړه: په دوږخ كې به د خره د كوچني او لوى آوازو په ډول چغې وهي .

په هر حال د حديث دآخري برخې مطلب دا دى چې كله دوږخيان د الله ﷻ جواب واوري نو بالكل به نا اميده سي او د دوږخ چوكيدارانو ته فرياد كول به ګټه ور نه كړي، د دوږخ چوكيداران به خواست وكړي چې الله ﷻ مرګ وركړي مګر ددې به هم هيڅ ګټه نه وي، په پاى كې به الله ﷻ ته ژړا او فرياد وكړي او هلته به يې هيڅ خبره قبوله نه سي ، اوس چيري ولاړ سي او چا ته فرياد وكړي، همدارنګه به هغوئ بې معنى چغې او ژړاوي كوي لكه څرنګه چې د نااميدۍ په حالت كې وي .

د روايت آخرني الفاظ (دغه حديث مرفوع گرځوي) مطلب دا چي د ځينو محدثينو په نزد دغه حديث د رسول الله ﷺ قول نه دی بلکه د حضرت ابو درداء رضی الله عنه خپل بيان دی، مګر حقيقت دادی چي دغه حديث په هر صورت مرفوع حديث يعني د رسول الله ﷺ د ارشاد په حکم کي دی که څه هم هغه د دوږخيانو د حال او د دوږخ سره اړوند مضمون وي، هغه هيڅ صحابي د رسول الله ﷺ څخه د اورېدو پرته د خپل ځانه بيانولای نه سي.

د دوږخ د عذاب خبرتيا

﴿۵۴۴۳﴾: وَعَنِ النُّعْمَانِ بْنِ بَشِيْرٍ قَالَ سَمِعْتُ رَسُوْلَ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ

د حضرت نعمان بن بشير رضی الله عنه څخه روايت دی چي ما د رسول الله ﷺ څخه اوريدلي دي چي

يَقُوْلُ أَنْذَرْتُكُمُ النَّارَ أَنْذَرْتُكُمُ النَّارَ فَمَا زَالَ يَقُوْلُهَا حَتّٰى لَوْ كَانَ فِيْ مَقَامِيْ

فرمايل يې: ما تاسو د دوږخ د اور څخه بيرولي ياست، ما تاسو د دوږخ د اور څخه بيرولي ياست، رسول الله ﷺ دا الفاظ په څو څو واره وفرمايل او په لوړ آواز سره يې وفرمايل په دومره لوړ آواز سره که رسول الله ﷺ هغه ځای تشريف فرما وای کوم ځای چي زه ناست يم نو

هٰذَا سَمِعَهُ أَهْلُ السُّوْقِ وَحَتّٰى سَقَطَتْ خَمِيْصَةٌ كَانَتْ عليه عِنْدَ رِجْلَيْهِ.

رواه الدارمي.

د رسول الله ﷺ آواز به د بازار خلکو اورېدلی وای، او رسول الله ﷺ دېر دا الفاظ وفرمايل تر داسي حده چي د رسول الله ﷺ شړۍ چي پر اوږو يې پرته وه پر پښو را ايله سول. دارمي.

تخريج: سنن الدارمي ۲\۴۲۵، رقم: ۲۸۱۲.

د لغاتو حل: خميصة: نوع من الثوب (يو ډول جامه)

تشريح: ما تاسو د دوږخ د اور څخه وبېرولاست، مطلب دا چي ما تاسو د دوږخ د عذاب پر واقع کېدو باندي خبر کړلاست، د هغه عذاب د سختۍ څخه مي خبر کړلاست، په ډاګه مي درته بيان کړل چي د عقيدې او عمل کومه لار سړی دوږخ ته بيايي او کومه لار يې د هغه څخه ساتي، او ما څومره مختلف صورتونه درته وښودل چي تاسو يې د خپل توان په اندازه په اختيارولو سره د دوږخ څخه خوندي کېدای سي، ما دا هم ويلي دي چي (اتقوا النار ولو بشق تمرة) يعني صدقه او خيرات د اور څخه ساتونکي دي، که څه هم تاسو د خرما يوه ټوټه صدقه او خيرات

كړئ، نو د هغه صدقې او خيرات په كولو سره د دوږخ د اور څخه ځان وساتئ اوس كه ددې څخه وروسته هم په تاسو كي يو سړى د دوږخ د عذاب څخه نه بيريږي او داسي لار اختياروي چي دوږخ ته بيونكي وي نو هغه سړى پوه سو او كاريې پوه سو .

د دوږخيانو زنځير

﴿۵۴۴۴﴾: وَعَنْ عَبْدِ اللّٰهِ بْنِ عَمْرِو بْنِ الْعَاصِ قَالَ قَالَ رَسُولُ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ

د حضرت عبدالله بن عمرو بن عاص ﷺ څخه روايت دئ چي رسول الله ﷺ وفرمايل :

عَلَيْهِ وَسَلَّمَ لَوْ أَنَّ رَصَاصَةً مِثْلَ هٰذِهٖ وَأَشَارَ إِلَى مِثْلِ الْجُمْجُمَةِ أُرْسِلَتْ مِنَ

كه رصاصه ټوټه چي د كوپړۍ په ډول وي د آسمان څخه د مځكي په لور را وغورځول سي چي د

السَّمَاءِ إِلَى الْأَرْضِ و هِيَ مَسِيرَةُ خَمْسِ مِائَةِ سَنَةٍ لَبَلَغَتْ الْأَرْضَ قَبْلَ

هغه فاصله د پنځو سوو كلونو لار ده نو پر هغه به يوه شپه نه وي تېره سوې چي مځكي ته به راورسيږي مگر كه د هغې رصاصې ټوټه د هغه زنځير د سر څخه راوليږل سي (يعني په دوږخ

اللَّيْلِ وَلَوْ أَنَّهَا أُرْسِلَتْ مِنْ رَأْسِ السِّلْسِلَةِ لَسَارَتْ أَرْبَعِينَ خَرِيفًا اللَّيْلَ وَالنَّهَارَ قَبْلَ أَنْ تَبْلُغَ أَصْلَهَا أَوْ قَعْرَهَا. رواه الترمذي.

كي) چي په هغه دوږخيان تړل كيږي نو څلوېښت كاله به مزل وكړي هم شپه او هم ورځ لا به د دوږخ بېخ يا ژور والي ته ونه رسيږي. ترمذي.

تخريج سنن الترمذي ۴\۶۱۱، رقم: ۲۵۸۸.

تشريح د زنځير څخه مراد هغه زنځير دى چي په هغه سره به دوږخيان داسي وتړل سي چي د هغه په مقعده كي په اچولو سره د پزې څخه را وايستل سي ، ددغه زنځير يادونه د قرآن كريم په دغه الفاظو كي سوې ده :

ثُمَّ فِي سِلْسِلَةٍ ذَرْعُهَا سَبْعُونَ ذِرَاعًا فَاسْلُكُوهُ .

ژباړه: بيا به ملائكو ته حكم وسي چي هغه دوږخي په يو ځنځير كي وتړي چي د هغه اوږدوالى به اويا گزه وي .

دلته دا سوال پيدا كيږي چې په قرآن كريم كي د ځنځير اوږدوالى اويا ګزه ذكر سوى دى نو دا د هغه مسافت په اندازه څرنګه كيداى سي چې په حديث كي ذكر سوى دى، ددې جواب دادى چې لومړى خو اويا ګزه خاص شمېر او د ځنځير په اړه ټاكل سوى اوږدوالى مراد نه دى بلكه ددغه شمېر څخه زياتوب او مبالغه مراد ده، دوهم دا چې ددغه دنيا ګز د هغه جهان پر ګز قياس كول نه دي پكار، الله ﷻ ښه پوهيږي چې د هغه ځاى ګز به څومره اوږد وي او د هغه به څه صورت وي، ددې تائيد ددې خبري څخه هم كيږي چې د آخرت قيراط د احد د غره په اندازه فرمايل سوى دى .

د يو بزرګ، نوف بكالي څخه نقل سوي دي چې هغه وويل: اويا ګزه به داسي وي چې هر ګز به د دوو لاسو په اندازه وي، او دواړه لاسونه به د هغه فاصلې په اندازه اوږده وي كوم چې ددغه ځاى يعني كوفې او مكې په منځ كي دى، حضرت حسن بصري رحمه الله ددغه آيت د تفسير په بيان كي ويلي دي : الله ﷻ ښه پوهيږي چې ددغه ګز اندازه به څومره وي .

په هر حال د حديث خلاصه داده چې په كوم ځنځير كي كافران تړل كيږي كه د هغه اوږدوالى اندازه كول غواړئ نو ددې څخه يې اندازه معلومه كړئ چې يو شى د آسمان څخه را ايله سي او سره ددې چې هغه د مځكي او آسمان په منځ كي دپنځه سوه مسافت په اندازه فاصله ده هغه شى به په ډېر لږ وخت كي مځكي ته ورسيږي ځكه چې دروند او ګردى شي د لوړي څخه لاندي ته ډېر ژر راځي مګر كه هغه ګردى شى د هغه ځنځير د يوه سر څخه ولغړول سي او د آسمان څخه مځكي ته راتلونكي په تيزي سره تر څلوېښت كاله پوري رارون وي بيا هم د هغه ځنځير دوهم سرته نه سي رسېدلاى .

د دوږخ هبهب

﴿۵۴۴۵﴾: وَعَنْ أَبِي بُرْدَةَ عَنْ أَبِيهِ أَنَّ النَّبِيَّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ قَالَ إِنَّ فِيْ جَهَنَّمَ لَوَادِيًا يُقَالُ لَهُ هَبْهَبٌ يَسْكُنُهُ كُلُّ جَبَّارٍ. رواه الترمذي .

حضرت ابوبرده رضي الله عنه د خپل پلار څخه روايت كوي چې نبي كريم ﷺ وفرمايل : په دوږخ كي يوه شيله ده چې د هغې نوم هبهب ده ، په دغه شيله كي به هغه سړى اچول كيږي كوم چې متكبر او سركش وي . ترمذي

تخريج : سنن الترمذي: ۱۲\۴۲۷، رقم: ۲۸۱۶.

تشريح: د هبهب معنى د تيزي او تلوار ده، او ذکر سوي شبلې ته د هبهب نوم ځکه ورکړل سوی دی چي یو خو په دغه شبله کي تیزي شغلې پورته کیږي دوهم دا چي په دغه شبله کي اچونکو گناه کارو ته به عذاب په ډېره تيزي سره وي.

اَلْفَصْلُ الثَّالِث (دريم فصل)

د دوږخيانو حجم

﴿۵۴۴۶﴾: عَنِ ابْنِ عُمَرَ عَنِ النَّبِيِّ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ قَالَ يَعْظُمُ أَهْلُ النَّارِ فِي النَّارِ حَتّٰى إِنَّ بَيْنَ شَحْمَةِ أُذُنِ أَحَدِهِمْ إِلَى عَاتِقِهِ مَسِيرَةَ سَبْعِ مِائَةِ عَامٍ وَإِنَّ غِلَظَ جِلْدِهِ سَبْعُونَ ذِرَاعًا وَإِنَّ ضِرْسَهُ مِثْلُ أُحُدٍ. رواه احمد.

د حضرت ابن عمر رضي الله عنهما څخه روايت دئ چي رسول الله ﷺ وفرمايل: په دوږخ کي به د دوږخيانو بدنونه لوی سي تر دې چي د غوږ د نرمۍ څخه تر اوږو پوري فاصله به يې د اوو سوو کالو د لاري برابر سي او د پوست غټوالی (پنډوالی) به يې اويا گزه سي او غاښ به يې د احد د غره برابر سي. احمد.

تخريج: الامام احمد في مسنده ٢\٢٦.

د دوږخ ماران او لړمان

﴿۵۴۴۷﴾: وَعَنْ عَبْدِ اللّٰهِ بْنِ الْحَارِثِ بْنِ جَزْءٍ قَالَ قَالَ رَسُولُ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ

د حضرت عبدالله بن حارث بن جزء رضي الله عنه څخه روايت دئ چي رسول الله ﷺ وفرمايل:

عَلَيْهِ وَسَلَّمَ إِنَّ فِي النَّارِ حَيَّاتٍ كَأَمْثَالِ الْبُخْتِ تَلْسَعُ إِحْدَاهُنَّ اللَّسْعَةَ

په دوږخ کي د بختي اوښ په اندازه ماران دي، دا مار چي يو وار ټوک وچيچي نو د هغه درد او

فَيَجِدُ حَمْوَتَهَا أَرْبَعِينَ خَرِيفًا وَإِنَّ فِي النَّارِ عَقَارِبَ كَأَمْثَالِ الْبِغَالِ الْمُوكَفَةِ تَلْسَعُ إِحْدَاهُنَّ اللَّسْعَةَ فَيَجِدُ حَمْوَتَهَا أَرْبَعِينَ خَرِيفًا. رواه احمد.

زهر به تر څلوېښتو کالو پوري وي ، او په دوږخ كي لړمان د غاترو په ډول دي د هغوئ د يو وار چيچلو اثر او زهر به تر څلوېښت كالو پوري وي . احمد

تخريج : الامام احمد في مسنده: ۹۱\۴.

د لغاتو حل :البُخت: مفرد بختي، الابل الخراسانية (خراساني اوښ)

لمر او سپوږمۍ به اور ته حواله کړل سي

﴿۵۴۴۸﴾ : وَعَنِ الْحَسَنِ قَالَ حَدَّثَنَا أَبُوْ هُرَيْرَةَ عَنْ رَّسُوْلِ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ

د حضرت حسن رضي الله عنه څخه روايت دى چي ابو هريره رضي الله عنه بيان وكړ چي رسول الله ﷺ وفرمايل:

وَسَلَّمَ قَالَ اَلشَّمْسُ وَالْقَمَرُ ثُوْرَانِ مُكَوَّرَانِ فِي النَّارِ يَوْمَ الْقِيَامَةِ فَقَالَ

د قيامت په ورځ به سپوږمۍ او لمر د پنير دوو ټوټو په ډول وي چي هغوئ به په اور كي وغورځول سي ، حسن رضي الله عنه د ابو هريره رضي الله عنه څخه پوښتنه وكړه چي

الْحَسَنُ وَمَا ذَنْبُهُمَا فَقَالَ أُحَدِّثُكَ عَنْ رَّسُوْلِ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ

فَسَكَتَ الْحَسَنُ . رواه البيهقي في كتاب البعث والنشور.

لمر او سپوږمۍ څه ګناه كړې ده ؟ ابو هريره رضي الله عنه وويل ما چي څه د رسول الله ﷺ څخه اوريدلي وه هغه مي بيان كړل دده اوريدو سره حسن پټه خوله سو . بيهقي.

تخريج : رواه البيهقي في كتاب البعث والنشور.

تشريح: حضرت ابو هريره رضي الله عنه د خپل ذكر سوي جواب په ذريعه حضرت حسن رحمه الله خبردار كړ چي ته قياس د صريح نص (يعني حديث) مقابله كوې، او دا ګڼې چي د دوږخ دخول اصل موجب عمل دى حال دا چي اصل شى د الله جل جلاله مشيت دى چي هغه څه غواړي كوي يې، دا خبره طيبي رحمه الله ليكلې ده مګر صحيح وضاحت دادى چي د حضرت حسن بصري رحمه الله د ويلو مقصد د هغه د خواهش اظهار وو چي حضرت ابو هريره رضي الله عنه دي هغه حكمت هم بيان كړي چي لمر او سپوږمۍ د دوږخ اور ته د سپارلو وروسته كيږي، او د حضرت ابو هريره رضي الله عنه د جواب مطلب دا وو چي ما د رسول الله ﷺ څخه څه واورېدل هغه مي تا ته بيان كړل دده څخه زيات ما ته هم معلوم نه ده .

ځينو علماؤ ليکلي دي چي لمر او سپوږمی به په دوږخ کي ځکه اچول کيږي چي د دوږخ په اور کي ددغه دواړو شيانو حرارت او تيزي شامله سي، او پر دوږخيانو باندي د عذاب زياتوب وسي، ديلمي رحمة الله عليه په مسند فردوس کي د حضرت عمر رضي الله عنه څخه مرفوع نقل کړي دي چي دلمر او سپوږمی مخ عرش ته دی او شا يې دنيا ته ده، ددې مطلب دا سو که چيري ددغه دواړو مخ دنيا ته وي نو د دنيا خلک به د هغه حرارت او ګرمي هيڅکله و نه زغملای سي، او ځينو دا ليکلي دي چي مشرکان د لمر او سپوږمی عبادت کوي ځکه الله جل جلاله به د قيامت په ورځ دد واړو په دوږخ کي اچولو سره مشرکان شرمنده کړي چي تاسو کوم شيان خدای منل، اوس وګورئ د هغوئ څه حال دی.

شقي څوک دی؟

﴿۵۴۴۹﴾: وَعَنْ أَبِي هُرَيْرَةَ قَالَ قَالَ رَسُولُ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ لَا يَدْخُلُ النَّارَ إِلَّا شَقِيٌّ قِيلَ يَا رَسُولَ اللَّهِ وَمَنْ الشَّقِيُّ قَالَ مَنْ لَمْ يَعْمَلْ لِلَّهِ بِطَاعَةٍ وَلَمْ يَتْرُكْ لَهُ مَعْصِيَةً. رواه ابن ماجه.

د حضرت ابوهريره رضي الله عنه څخه روايت دئ چي رسول الله صلى الله عليه وسلم وفرمايل: په دوږخ کي به يوازي بدبخته داخليږي، پوښتنه وسول اې دالله رسوله! بدبخته څوک دي؟ رسول الله صلى الله عليه وسلم وفرمايل: بدبخته هغه څوک دي چي د الله جل جلاله د رضا او خوښي تر لاسه کولو لپاره يې د الله جل جلاله هيڅ اطاعت ونه کړ او د الله جل جلاله څخه د بيري په خاطر يې ګناه پرې نه ښودل.. ابن ماجه.

تخريج: سنن ابن ماجه: ۲\۱۴۳۶، رقم: ۴۲۹۸.

تشريح: د شقي لفظ په عامه معنی کي استعمال سوی دی يعني ددې څخه کافر هم مراد دی او مسلمان فاجر هم مراد دی.

==========

بَابُ خَلْقِ الْـجَنَّةِ وَالنَّارِ

(د جنت او دوزخ پیدا کېدو بیان)

په دغه باب کي هغه حديثونه نقل كيږي چي د هغو څخه ثابتيږي چي د جنت او دوزخ تخليق سوی دی او هغه موجود دي لکه چي دهل سنت والجماعت مذهب دی، ددې پر خلاف په مسلمانانو کي گمراه ډلي وايي چي جنت او دوزخ تر اوسه پيدا سوي نه دي او دغه دواړه به د قيامت په ورځ په وجود کي راځي او په دغه باب کي هغه حديثونه هم دي چي په هغو کي د دغه دواړو سره اړوند د ځينو ځانګړتياوو ذکر دي او دا بيان دی چي د چا لپاره جنت پيدا سوی دی او د چا لپاره دوزخ پيدا سوی دی.

اَلْفَصْلُ الْأَوَّلُ (لومړی فصل)

د جنت او دوزخ شكايت

﴿۵۴۵۰﴾: عَنْ أَبِي هُرَيْرَةَ قَالَ قَالَ رَسُولُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ تَحَاجَّتْ

د حضرت ابوهريره رضي الله عنه څخه روايت دئ چي رسول الله ﷺ وفرمايل: په خپل منځ کي په بحث سول

الْجَنَّةُ وَالنَّارُ فَقَالَتْ النَّارُ أُوثِرْتُ بِالْمُتَكَبِّرِينَ وَالْمُتَجَبِّرِينَ وَقَالَتْ الْجَنَّةُ

جنت او دوزخ، دوزخ وويل: زه د سركښو او متكبرو لپاره غوره کړل سوی يم، جنت وويل:

فَمَا لِي لَا يَدْخُلُنِي إِلَّا ضُعَفَاءُ النَّاسِ وَسَقَطُهُمْ وَغِرَّتُهُمْ قَالَ اللهُ لِلْجَنَّةِ إِنَّمَا

په ما څه سوي دي چي په ما کي به كمزوري، حقير او ذليل خلک او هغه خلک چي ساده راتلونكي دي داخليږي، ددې اوريدو سره الله تعالى جنت ته وفرمايل:

أَنْتِ رَحْمَتِي أَرْحَمُ بِكِ مَنْ أَشَاءُ مِنْ عِبَادِي وَقَالَ لِلنَّارِ إِنَّمَا أَنْتِ عَذَابِي

ته زما رحمت يې، زه د خپلو بندګانو څخه چي چا ته غواړم ستا په ذريعه رحمت پر كوم او دوزخ ته يې وفرمايل: ته زما عذاب يې

أُعَذِّبُ بِكِ مَنْ أَشَاءُ مِنْ عِبَادِي وَلِكُلِّ وَاحِدَةٍ مِنْكُمَا مِلْؤُهَا فَأَمَّا النَّارُ فَلَا

زه د خپلو بندګانو څخه چي چا ته غواړم ستا په ذريعه عذاب ورکوم، او تاسو دواړو کي به زه

تَمْتَلِئُ حَتَّى يَضَعَ اللّٰهُ تَبَارَكَ وَتَعَالَى رِجْلَهُ تَقُولُ قَطْ قَطْ قَطْ فَهُنَالِكَ تَمْتَلِئُ

هريو ډک کړم او دوږخ خو به تر هغه وخته پوري نه ډکيږي تر څو پوري چي په هغه کي الله تعالى خپله پښه کښېږ نه ږدي (او کله چي الله تعالى خپل پښه کښېږدي نو) دوږخ به وايي: بس بس بس، دغه وخت به دوږخ ډک سي

وَيُزْوَى بَعْضُهَا إِلَى بَعْضٍ وَلَا يَظْلِمُ اللّٰهُ مِنْ خَلْقِهِ أَحَدًا وَأَمَّا الْجَنَّةُ فَإِنَّ اللّٰهَ يُنْشِئُ لَهَا خَلْقًا. متفق عليه

بيا به هغه راغونډه کړل سي او د هغه ځيني برخي به په ځينو برخو کي يو ځای کړل سي او الله تعالى په خپل مخلوق کي پر هيچا ظلم نه کوي او (جنت که خالي پاته سي) نو د هغه لپاره به الله تعالى نوی مخلوق پيدا کړي. بخاري او مسلم.

تخريج: صحيح البخاري (فتح الباري): ۸\۵۹۵، رقم: ۴۸۵۰، ومسلم ۴\۲۱۸۶، رقم: ۳۶-۲۸۴۶.

د لغاتو حل: غرتهم: الذين لاتجربه لهم في الدنيا (بې تجربې).

تشريح: جنت او دوږخ په خپلو کي بحث وکړ، ددې مطلب دادی چي دواړو په خپل باره کي يو ډول شکايت وکړ، د دوږخ وينا که دا وه چي د سرکښو او ظالمانو خلکو لپاره زه ولي خاص کړل سوم؟ نو جنت دا وويل چي زما معامله خو هم مختلفه نه ده، په ما کي دننه هم هغه خلک داخليږي چي په دنيا کي د هغوئ هيڅ شان او شوکت نسته او د کمزوري بدن والا، غريب او مفلس د خلکو په آند بې حيثيته وي، ددغه دواړو د شکايت په اوريدو سره به الله ﷻ هغوئ ته څرګنده کړي چي په تاسو کي د هيچا هم ددې څخه پرته بله معامله نسته چي تاسو دواړه محض زما د مشيت او حکمت په نتيجه کي په وجود کي راوستل سوي ياست، ما يو د خپل رحمت او کرم او بل د قهر او غضب مهر وګرځول، نو دمؤمن او کافر په ډول تاسو دواړه هم يعني جنت او دوږخ په اصل کي د خدای ﷻ د جمال او جلال مظاهر او کمال ياست، او په تاسو دواړو کي هيچا ته داسي خصوصيت نسته چي يوه ته د بل په مقابل کي فضيلت او غوره والي تر لاسه وي، مګردا خبره ده چي د دوږخ د معاملاتو تعلق د عدل او انصاف سره دی او دجنت د معاملاتو تعلق د فضل او کرم سره دی.

د خلکو په نظر کي لوېدلی دی، يعني هغه خلک د خپلي عقيدې، عمل او کردار په اعتبار د الله ﷻ په نزد لوی قدر او درجه لري او د الله ﷻ نيک بندګان يعني علماء او صالحان چي د ارباب باطن په نظر کي هم هغوئ قدر او درجه لري مګر په ظاهري توګه د هغوئ کمزوري، ضعيف او غريب کېدو په وجه اکثر شتمن خلک هغوئ سپک او د توجه نه وړ ګڼي، او په ما کي هغه خلک داخلېږي چي کمزوري او ضعيف دي، يعني په جنت کي به زيات خلک هغه وي، کنه نو جنت ته تلونکي خو انبياء او رسولان هم دي، پاچاهان هم دي، يا دا ويل کيږي چي د ضعيف او کمزورو څخه مراد هغه بندګان دي چي د خپل پروردګار په وړاندي ذلت څرګندوي، د مخلوق سره د تواضع او خاکسارۍ رويه اختياروي او خپله خپل ځان هم کښته ګڼي.

چي ساده او په دوکه کي راتلونکي دي، يعني هغه خلک د اخرت په فکر کي د سرګردانه کېدو په وجه د دنياوي چارو څخه غافل او په دنياوي معاملاتو کي بې تجربې وي، ځکه شتمن خلک يې په ډېره اساني سره خطا کوي، د خپل مکر او فريب په جال کي يې راولي، په دې اعتبار سره په يو حديث کي داسي فرمايل سوي دي چي دجنتيانو خلکو زياتوب به په دنياوي چارو پر نابلده او ناپوهو خلکو باندي مشتمل وي، د دوئ په مقابله کي کافران او منافقان به په دنياوي چارو کي ډېر چالاک او مکاروي، ځکه هغوئ د دنيا د معاملاتو په هر شي پوهېدو سره د خپل او فکر او عمل ټول توان په هغه کي لګوي لکه څرنګه چي الله ﷻ فرمايي:

يَعْلَمُونَ ظَاهِرًا مِّنَ الْحَيَاةِ الدُّنْيَا وَهُمْ عَنِ الآخِرَةِ هُمْ غَافِلُونَ.

او دوږخ به تر هغه وخته نه ډکيږي...الخ: يعني د څومره خلکو تلل چي دوږخ ته ټاکل سوي دي د هغوئ ټولو دوږخ ته تللو څخه وروسته هم د دوږخ نس نه ډکيږي نو هغه به د الله ﷻ څخه د نورو دوږخيانو غوښتنه کوي، په قرآن کريم کي دي:

يَوْمَ نَقُولُ لِجَهَنَّمَ هَلِ امْتَلأْتِ وَتَقُولُ هَلْ مِن مَّزِيدٍ.

مګر الله ﷻ به د هغه د نس ډکولو لپاره دا نه کوي چي بې ګناه خلک به دوږخ ته اچوي، يا کوم ګناه کار چي وبخښل سي هغه به دوږخ ته وسپارل سي، يا نور خلک به د هغه لپاره پيدا کړي چي د هغوئ څخه به د دوږخ د ډکولو کار واخستل سي، بلکه داسي به وکړي چي خپله پښه به په دوږخ کي کښېږدي چي په هغه سره به د دوږخ ټول شاوخوا يو بل ته نژدې سي او د دوږخ نس به په راټولېدو سره په هلته موجودو خلکو ډک سي، او دا چي فرمايل سوي دي چي الله ﷻ پر خپل مخلوق باندي ظلم نه کوي، ددې څخه مراد دادی چي د دوږخ د نس ډکولو لپاره داسي

هيڅ فيصله نه كوي چي هغه صورتاپه ظلم سره تعبير كيږي، كنه نو اصل خبره داده كه پروردگار بې گناه خلك په دوږخ كي په اچولو سره د هغه نس ډكوي نو په حقيقت كي دې ته هم ظلم نه وايو ځكه چي په خپل ملكيت كي هر ډول تصرف كولو ته ظلم نسي ويل كيداى مگر الله ﷻ صورتا ظلم هم نه كوي، په دې اړه دا ذكر كول ضروري دي چي الله ﷻ ته د پښې نسبت د متشابهاتو څخه دى لكه څرنگه چي د هغه لپاره د لاس، سترگي او مخ يادونه د متشابهاتو څخه شمېرل كيږي، او د متشابهاتو په اړه كوم چي په قرآن او حديث كي دي ، هغه دادي چي يوازي پر هغه عقيده درلودل پكار دي چي ددې څخه څه مراد دى هغه صحيح او حق دى . د هغه د حقيقيت او كيفيت په پلټنه كي لوېدل نه دي پكار دا تر ټولو غوره لار ده او سلفو دغه لار اختيار كړې ده، مگر د متاخرينو څخه ځينو حضراتو دا ليكلي دي چي د هغه د پښې څخه مراد د هغه په مخلوق كي د يو چا پښه ده، ددې څخه پرته ځينو خلكو داسي نور تاويلونه هم كړي دي چي د الله ﷻ د شان مطابق دى مگر د اوږدوالي د بيري هغه دلته ذكر كولاى نه سو .

د جنت ډكولو لپاره به الله ﷻ نوي خلك پيدا كړي، ددې مطلب دادى چي الله ﷻ به د داسي خلكو په جمع كولو سره په جنت كي داخل كړي چي هغوئ به هيڅكله څه عمل نه وي كړي او د جنت مستحق به نه وي نو دا به د الله ﷻ د رحمت اظهار وي چي هغه د دوږخ ډكولو لپاره بې گناه خلك په هغه كي نه اچوي مگر د جنت ډكولو لپاره بې عمله خلك په هغه كي داخل كړي.

دوږخ او جنت به ډك كړل سي

﴿۵۴۵۱﴾: وَعَنْ أَنَسٍ عَنِ النَّبِيِّ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ قَالَ لَا تَزَالُ جَهَنَّمُ يُلْقَى

د حضرت انس رضي الله عنه څخه روايت دئ چي رسول الله ﷺ وفرمايل : په دوږخ كي به خلك اچول

فِيهَا وَتَقُولُ هَلْ مِنْ مَزِيدٍ حَتَّى يَضَعَ رَبُّ الْعِزَّةِ فِيهَا قَدَمَهُ فَيَنْزَوِي بَعْضُهَا

كيږي او هغه به وايي نور سته، تر دې چي الله تعالى به په هغه كي خپله پښه كښيږدي دغه وخت به د دوږخ ځيني برخي په ځينو كي داخل كړل سي

إِلَى بَعْضٍ فَتَقُولُ قَطْ قَطْ بِعِزَّتِكَ وَكَرَمِكَ وَلَا يَزَالُ فِي الْجَنَّةِ فَضْلٌ حَتَّى

او بيا به دوږخ وايي بس بس ، ستا په عزت او ستا په بخښښ مي دي قسم وي زه ډك سوم، او په جنت كي به همېشه زيات ځاى وي تر دې چي

يُنْشِئَ اللّٰهُ لَهَا خَلْقًا فَيُسْكِنُهُمْ فَضْلَ الْجَنَّةِ. متفق عليه و ذكر حديث انس حفت الجنة بالمكاره في كتاب الرقاق.

الله تعالى به نور مخلوق پيدا كړي او د جنت خالي ځايونه به د هغو څخه ډك كړي. بخاري او مسلم، او د حضرت انس رضي الله عنه حديث (حفت الجنة ....) په كتاب الرقاق كي بيان سوى دى.

تخريج صحيح البخاري (فتح الباري): ۱۳\۳۶۹، رقم: ۷۳۸۴، ومسلم ۴\۲۱۸۸، رقم: ۲۸-۲۸۴۸.

اَلْفَصْلُ الثَّانِي (دوهم فصل)

جنت د نفس د مكروهاتو او دوږخ د نفس د خواهشاتو څخه چاپير دى

﴿۵۴۵۲﴾: عَنْ أَبِي هُرَيْرَةَ عَنِ النَّبِيِّ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ قَالَ لَمَّا خَلَقَ اللّٰهُ

د حضرت ابو هريره رضي الله عنه څخه روايت دى چي رسول الله ﷺ وفرمايل: كله چي الله تعالى پيدا كړ

الْجَنَّةَ قَالَ لِجِبْرِيلَ اذْهَبْ فَانْظُرْ إِلَيْهَا فَذَهَبَ فَنَظَرَ إِلَيْهَا والى ما اعدالله

جنت نو جبرائيل عليه السلام ته يې وفرمايل ولاړ سه او جنت وګوره، نو هغه ولاړى جنت يې وكتى او په هغه كي پر ټول سامان يې نظر واچوى كوم چي الله تعالى د جنتيانو لپاره تيار كړي

لاهلها فيها ثُمَّ جَاءَ فَقَالَ أَيْ رَبِّ وَعِزَّتِكَ لَا يَسْمَعُ بِهَا أَحَدٌ إِلَّا دَخَلَهَا ثُمَّ

دي، بيا چي راغلى عرض يې وكړ: اې پروردګاره! ستا په عزت دي مي قسم وي څوك چي دد ې جنت حال واوري هغه به په دې كي دداخليدو خواهش كوي، بيا

حَفَّهَا بِالْمَكَارِهِ ثُمَّ قَالَ يَا جِبْرِيلُ اذْهَبْ فَانْظُرْ إِلَيْهَا فَذَهَبَ فَنَظَرَ إِلَيْهَا ثُمَّ

الله تعالى د جنت څخه شا و خوا د شرعي پابنديو احاطه قائمه كړه او د هغه څخه وروسته يې جبرائيل عليه السلام ته وفرمايل: اې جبرائيله! ولاړ سه او جنت دويم وار وګوره، جبرائيل عليه السلام ورغلى جنت يې دويم وار وكتى،

جَاءَ فَقَالَ أَيْ رَبِّ وَعِزَّتِكَ لَقَدْ خَشِيتُ أَنْ لَا يَدْخُلَهَا أَحَدٌ قَالَ فَلَمَّا خَلَقَ

كله چي راغلی وه يې ويل : اې پروردګاره ! ستا په عزت دي مي قسم وي زما سره اندېښنه ده چي اوس به هيڅوک جنت ته داخل نه سي ، ددې څخه وروسته رسول الله ﷺ وفرمايل : کله چي

اللّٰهُ النَّارَ قَالَ يَا جِبْرِيلُ اذْهَبْ فَانْظُرْ إِلَيْهَا قال فَذَهَبَ فَنَظَرَ إِلَيْهَا فَقَالَ أَيْ

الله تعالی دوږخ پيدا کړ نو وه يې فرمايل : اې جبرائيل ! ولاړ سه دوږخ وګوره نو هغه ولاړی دوږخ يې وکتی کله چي راغلی نو عرض يې وکړ اې

رَبِّ وَعِزَّتِكَ لَا يَسْمَعُ بِهَا أَحَدٌ فَيَدْخُلُهَا فَحَفَّهَا بِالشَّهَوَاتِ ثُمَّ قَالَ يَا

پروردګاره! ستا په عزت مي دي قسم وي څوک چي د دوږخ حال واوري نو هغه به هيڅکله په دې کي دداخليدو خواهش ونه کړي ، ددې څخه وروسته الله تعالی د دوږخ څخه شاوخوا د خواهشات نفساني او شهواتو احاطه ولګول بيا يې وفرمايل اې

جِبْرِيلُ اذْهَبْ فَانْظُرْ إِلَيْهَا فَذَهَبَ فَنَظَرَ إِلَيْهَا ثُمَّ جَاءَ فَقَالَ أَيْ رَبِّ

جبرائيله! ولاړ سه اوس دوږخ وګوره ، جبرائيل راغلی او دوږخ يې دويم وار وکتی کله چي راغلی نو عرض يې وکړ اې پروردګاره !

وَعِزَّتِكَ لَقَدْ خَشِيتُ أَنْ لَا يَبْقَى أَحَدٌ إِلَّا دَخَلَهَا. رواه الترمذي وابوداؤد والنسائي.

ستا په عزت دي مي قسم وي زما سره بيره ده چي په دې کي به هيڅوک بې داخليدو پاته نه سي . ترمذي، ابوداؤد او نسائي .

تخريج : سنن الترمذي ۴\ ۵۹۸، رقم: ۲۵۶۰، وابوداود ۵\ ۱۰۸، رقم: ۴۷۴۴، والنسائي ۷\ ۳، رقم: ۳۷۷۲.

تشريح : مکاره په اصل کي د مکره جمع ده چي معنی يې د مکروه يعني ناخوښه ده، دلته د مکاره څخه مراد هغه شرعي امور دي چي د هغه انسان مکلف سوی دی چي فلانی فلانی شی دي اختيار کړل سي او د فلاني فلاني شي څخه دي پرهيز وکړل سي ، د جنت څلورو خواوو ته د مکاره احاطه کولو مطلب دادی چي تر څو پوري د الله ﷻ د اطاعت کولو او ګناهونو څخه د پرهيز کولو تکليف او مشقت زغملای سي د نفس خواهشات او د هغه غوښتني به ختمي نه کړل سي نو تر هغه وخته پوري به په جنت کي داخلېدل نا ممکن وي .

اَلْفَصْلُ الثَّالِث (دریم فصل)

د رسول الله ﷺ د جنت او دوږخ لیدنه

﴿۵۴۵۳﴾: عَنْ اَنَسٍ اَنَّ رَسُولَ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ صَلَّى لَنَا يَوْمًا الصَّلَاةَ

د حضرت انس رضي الله عنه څخه روایت دی چي یوه ورځ رسول الله ﷺ موږ ته لمونځ راکړ،

ثُمَّ رَقِيَ الْمِنْبَرَ فَأَشَارَ بِيَدِهِ قِبَلَ قِبْلَةِ الْمَسْجِدِ فَقَالَ قَدْ أُرِيتُ الْآنَ مُنْذُ

بیا منبر ته وختی د مسجد د قبلې خوا ته یې اشاره وکړه او وه یې فرمایل: ما اوس اوس تاسو

صَلَّيْتُ لَكُمُ الصَّلَاةَ الْجَنَّةَ وَالنَّارَ مُمَثَّلَتَيْنِ فِي قُبُلِ هٰذَا الْجِدَارِ فَلَمْ أَرَ كَالْيَوْمِ فِي الْخَيْرِ وَالشَّرِّ. رواه البخاري.

ته د لمانځه درکولو په وخت د دغه دیوال مخته دوږخ او جنت په یو خاص شکل کي ولیدل او زه ویلای سم چي تر ننه پوري څومره ښه او بد شیان ما لیدلي دي هغه د جنت او دوږخ د ښه والي او بدوالي مقابله کي هیڅ حیثیت او حقیقت نه لري.بخاري

تخریج: صحيح البخاري (فتح الباري): ۱۲\۲۳۲، رقم: ۷۴۹

تشریح: د قبل لفظ د قاف په زېر ، د باء په زور سره هم نقل سوی دی او د دواړو په پېښ سره هم، همدارنګه د قاف په پېښ سره او د باء په جزم سره هم نقل سوی دی، په دغه ټولو صورتو کي معنی یوه ده ، یعني مخته کېدل.

ما چي نن څو مره ښه شی او څومره بد شی لیدلی دی...الخ: د دې مطلب دا وو چي کوم ښه شی انسان لیدلای سي د هغه څخه زیات ښه شی ما په جنت کي لیدلی دی همدارنګه کوم خراب شی چي په دنیا کي لیدل کیږي د هغه څخه هم زیات خراب شی ما په دوږخ کي لیدلی دی.

که دلته دا سوال پیدا سي چي جنت او دوږخ دومره پراخ او عریض کېدو سربېره د رسول الله ﷺ په وړاندي په یو دیوال کي ممثل او منور کېدو سره راغلل، نو د دې جواب به دا وي چي د یو شي د تمثیل او عکس د پاره دا مطلقا ضروري نه ده چي هغه شی دی په اصل طول او عرض سره منعکس سي، تر ټولو لوی مثال په اوبو یا هنداره کي د یو شي عکس دی چي د یو پراخ او عریض باغ یا سرای پوره عکس په اوبو یا هنداره کي راځي هغه په اصل کي باغ یا سرای

حقيقي طول او عرض سره هيڅکله نه وي ، يوه خبره دا هم ويل کيداى سي چي د حديث اړوند الفاظو څخه دا نه لازميږي چي د جنت يا دوږخ تمثيل يا تصوير ديوال سربېره نقش جوړ سوى وي بلکه په هغه الفاظو کي هغه تمثيل د ديوال د مخ په برخه کي د لېدو ذکر دى چي د هغه مطلب دا هم کيداى سي چي هغه تمثيلونه رسول الله ﷺ ته د دېوال په خوا کي ښودل سوي وي او د هغه تمثيلونو وجود په بل عالم کي يا په بل ځاى کي وي د دې مضمون يو بل حديث کي دا الفاظ دي چي : يعني ما جنت او دوږخ د دغه ديوال په کونج کي ولېدل ، د دغه حديث په ضمن کي د حديث شارحينو ذکر سوى سوال او د هغه جواب نقل کړى دى .

ځينو علماؤ دا ليکلي دي چي د رسول الله ﷺ د ارشاد څخه دا مراد نه وو چي ما جنت او دوږخ دا سي وليدل چي د هغوئ تمثيل د ديوال د مخ برخي وو بلکه د رسول الله ﷺ مطلب دا وو چي ما (په خپلو روحاني سترګو) جنت او دوږخ وليدل ، کله چي زه قبلې ته د ديوال مخته وم په دغه صورت کي هيڅ مشکل نه واقع کيږي ، والله اعلم بحقيقة الحال ، په اصل حالت الله ﷻ ښه خبردار دى .

==========

بَابُ بَدْءِ الْـخَلْقِ وَذِكْرِ الْاَنْبِيَاءِ عَلَيْهِمُ الصَّلٰوةُ وَالسَّلَامُ

(د پېدائش پيل او د انبياء عليهم السلام يادونه)

د پيدائش د پيل څخه مراد د دغه کائناتو په عالم وجود کي راتلل او د هغه مخلوقاتو د پيدائش او په تخليق په اړه پيل کيدل دي، او انبياء عليهم السلام د دغه کائناتو جوهر دي، د دين او ملت د تدوين او تربيت نقطه د دوئ ذات دى، د امور عالم نظم او انتظام او اصلاح د دوئ سره اړوند ده او د نوع انساني د پيدائش لړۍ د ابو البشر حضرت آدم عليه السلام څخه پيل کيږي چي لومړنى نبي هم دى ، ځکه د دغه مقدسو کسانو يادونه او د باب د عنوان دوهمه برخه ګرځول سوي دي .

عالم حادث دى : تر ټولو مخکي بايد دا په ذهن کي وي چي ټول آسماني مذهبونه او ملتونه تر دې چي مجوسيان (د اور بندګي کوونکي) هم پر دې متفق دي چي عالم حادث دى يعني دغه دنيا او د دنيا هر شي د عدم څخه په وجود کي راغلى دى، د الله ﷻ څخه پرته د بل هيڅ شي وجود مخکي نه وو ، وروسته الله ﷻ هر شى پيدا کړ ، په دې اړه تر ټولو غوره شاهدي

د مخبر صادق ﷺ ده، فرمايي : كان الله ولم يكن معه شئ، يوازي د الله ﷻ ذات موجود وو، د هغه سره دهيڅ شي وجود نه وو.

تر ټولو وړاندي الله ﷻ لوح او قلم پيدا کړل، او د مخلوقاتو پيدا کولو څخه مخکي يې يو کتاب (تقدير) وليکی، دهغه څخه وروسته يې عرش، کرسي، آسمانونه، مځکي، ملائکي، پيريان او انسانان پيدا کړل.

د علماؤ پر دې خبره اتفاق دی چي ټول اجسام د خپل ذات او صفاتو سره حادث دي، او ځينو حضراتو ويلي دي چي په اجسامو کي تر ټولو وړاندي چي کوم شی پيدا سو هغه اوبه دي، ځکه چي دغه خصوصيت يوازي اوبو ته حاصل دی چي هغه هر شکل او صورت اختيارولای سي، او د ټولو شيانو ماده د تخليق جوړېدو صلاحيت لري، ويل کيږي چي همدغه اوبه وي چي لطافت پکښي پيدا سو نو هواء په عالم وجود کي راغلل، بيا ددغه د جوهر څخه اور پيدا سو او د هغه د توبن څخه آسمان جوړ سو، څرګنده دي وي چي پر آسمان باندي د دود اطلاق په قرآن کريم کي هم راغلی دی، دغه قول چي ددغه کائناتو د هر شي د تخليق ماده اوبه دي او د اوبو د جوهر څخه اور د هغه د دود څخه آسمان پيدا سو، په پخوانيو حاکمانو کي يو سړي طاس ملطي ته منسوب دي، مګر علماؤ ويلي دي چي طاس ملطي دا خبره د رسول الله ﷺ د ارشاداتو څخه په اخذ کولو سره ويلې ده، او رسول الله ﷺ چي په دې اړه څه فرمايلي دي د هغه تصديق نه يوازي د پخوانيو او وسنيو حاکمانو د اقوالو څخه کيږي بلکه په پخواني آسماني کتابو کي هم داسي منقول دي، د تورات په اوله صفحه کي منقول دي چي الله ﷻ ددغه کائناتو مځکي او آسمانونو د پيدا کولو اراده وکړل نو يو جوهر يې پيدا کړ او پر هغه يې دهيبت او جلال نظر واچوی چي د هغه څخه ددغه جوهر د اجزاء په ويلي کېدو سره اوبه جوړي سوې بيا د هغه څخه د دود په ډول بخارات پورته سول چي د هغه څخه يې آسمان جوړ کړ، او بيا پر هغه اوبو باندي ځګ ظاهر سو چي د هغه څخه يې مځکي ته وجود ورکړ، او دمځکي د جمع کولو او قائمولو لپاره يې غرونه پيدا کړل، په هرحال د کائناتو د تخليق د پيل موضوع ډېره پراخه او د خاص بحث وړ ده، تل حکماء او پوهان په دې اړه په تحقيق کي دي او مختلف نظريات او اقوال چي مختنه راغلي دي مګر په دې کي شک نسته چي ددغه موضوع تعلق د داسي امورو سره دی چي محض د عقل او قياس څخه معلومېدای نه سي بلکه ددې حقيقت ته د رسېدو دار او مدار د خالق کائنات د هغه علم څخه پر اخذ او استنباط باندي دی چي د وحي په ذريعه دنيا ته راغلي دي او رسول الله ﷺ د خپلو ارشاداتو په ذريعه نړيوالو ته رسولي هم دي.

اَلْفَصْلُ الْأَوَّلُ (لومړی فصل)

د الله ﷻ څخه مخکي هيڅ هم نه وه

﴿۵۴۵۴﴾: عَنْ عِمْرَانَ بْنِ حُصَيْنٍ قَالَ إِنِّي كُنْتُ عِنْدَ رسول الله صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ

د حضرت عمران بن حصين ﷛ څخه روايت دی چي زه د رسول الله ﷺ سره ناست وم چي

وَسَلَّمَ إِذْ جَاءَهُ قَوْمٌ مِنْ بَنِي تَمِيمٍ فَقَالَ اقْبَلُوا الْبُشْرَى يَا بَنِي تَمِيمٍ قَالُوا

د قبيله بنو تميم يو ډله حاضر سول، د هغوئ په ليدو سره رسول الله ﷺ ورته وفرمايل: اې بنو تميم! زما زيری قبول کړئ، بنو تميم وويل:

بَشَّرْتَنَا فَأَعْطِنَا فَدَخَلَ نَاسٌ مِنْ أَهْلِ الْيَمَنِ فَقَالَ اقْبَلُوا الْبُشْرَى يَا أَهْلَ

تاسو موږ ته (د دين په اړه) زيری راکړ موږ هغه قبول کړ او س موږ ته يو څه دنيا راکړه، بيا د رسول الله ﷺ په خدمت کي د يمن د خلکو يو ډله حاضره سوه، رسول الله ﷺ وفرمايل: بني

الْيَمَنِ إِذْ لَمْ يَقْبَلْهَا بَنُو تَمِيمٍ قَالُوا قَبِلْنَا جِئْنَاكَ لِنَتَفَقَّهَ فِي الدِّينِ وَلِنَسْأَلَكَ

تميم خو زيری قبول نه کړ اې يمن والاوو! تاسو زما زيری قبول کړئ هغوئ وويل: موږ قبول کړ او موږ ددې لپاره ستاسو په خدمت کي حاضر سوی يو چي ستاسو څخه د دين په اړه معلومات

عَنْ أَوَّلِ هَذَا الْأَمْرِ مَا كَانَ قَالَ كَانَ اللَّهُ وَلَمْ يَكُنْ شَيْءٌ قَبْلَهُ وَكَانَ عَرْشُهُ عَلَى

حاصل کړو او تر ټولو وړاندي موږ ددې خبري پوښتنه کول غواړو چي دا دنيا څنګه پيدا سوه او ددې څخه مخکي ايا يو بل شی موجود نه وو؟ رسول الله ﷺ وفرمايل: د هر څه نه مخکي الله تعالی وو، د الله تعالی څخه مخکي هيڅ شی موجود نه وو او د الله تعالی عرش

الْمَاءِ ثُمَّ خَلَقَ السَّمَوَاتِ وَالْأَرْضَ وَكَتَبَ فِي الذِّكْرِ كُلَّ شَيْءٍ ثُمَّ أَتَانِي رَجُلٌ فَقَالَ

د اوبو سربيره وو، الله تعالی آسمان او مځکه پيدا کړل او لوح محفوظ کي يې هر شی وليکی، عمران بن حصين ﷛ وايي، رسول الله ﷺ دا بيان کوی چي يو سړی راغلی او ما ته يې وويل:

يَا عِمْرَانُ أَدْرِكْ نَاقَتَكَ فَقَدْ ذَهَبَتْ فَانْطَلَقْتُ أَطْلُبُهَا وَايْمُ اللَّهِ لَوَدِدْتُ أَنَّهَا قَدْ

ذَهَبَتْ وَلَمْ أَقُمْ. رواه البخاري.

عمرانه! خپل اوښه و لټوه هغه تښتيدلې ده ، زه د هغې په لټه پسې روان سوم او اوس زه په الله ﷻ قسم سره وايم چي کاش زه نه واى ولاړ سوى که څه هم چي زما اوښه تښتيدلې واى. بخاري.

تخريج: صحيح البخاري (فتح الباري): ۱۳\۴۰۳، رقم: ۷۴۱۸.

تشريح: په هغه وخت کي د بنوتميم کوم خلک چي د رسول الله ﷺ په خدمت کي حاضر سوي وه د هغوئ مقصد د رسول الله ﷺ د دين تر لاسه کول او دمعرفت پېژندلو څخه زيات دنياوي طلب او خواهش وو، ځکه رسول الله ﷺ هغوئ ته وفرمايل چي زيرى تر لاسه کړئ يعني زما څخه داسي شى تر لاسه کړئ او هغه قبول کړئ چي دجنت د نعمتونو او د دواړو جهانو د سعادتونو د تر لاسه کېدو د زيري سبب وي لکه د دين عقائد او احکام زده کول او مذهبي معلومات تر لاسه کول نو هغوئ جواب راکړ چي ستاسو زيرى پر سر سترګو، د ديني عقائدو او احکامو زده کولو او په هغه د پوهېدو اړتيا موږ ته د منلو وړ ده مګر دا وخت زموږ اصل مقصد دنياوي شيان تر لاسه کول دي اوس زموږ هغه دنياوي غوښتنه او خواهش پوره کړئ نو هغه خلکو فاني دنيا ارزښتناکه وګڼل او هغه ته يې پر مذهبي تعليماتو او ديني فهم تر لاسه کولو باندي چي د آخرت د اجر او ثواب د کاميابۍ او سعادت سبب دى، فوقيت ورکړ، ځکه رسول الله ﷺ د هغوئ خبره د هغوئ پر ناوړتيا او په يقين کي د هغوئ پر کمزورۍ محموله کړل، او د غصې په ډول.يې د هغوئ څخه د زيري قبلولو نفي وفرمايل او رسول الله ﷺ د يمن خلکو ته وفرمايل چي د بنو تميم خلکو زيرى تر لاسه نه کړ تاسو خلک هغه زيرى تر لاسه کړئ.

د بنو تميم د خلکو څخه وروسته چي کوم خلک د رسول الله ﷺ په خدمت کي حاضر سول د هغوئ نيت بالکل ريښتونى وو او د هغوئ د راتګ اصلي مقصد پاکه جذبه وه چي د رسول الله ﷺ څخه د دين خبري زده کړي، د رسول الله ﷺ د مجلس څخه خپلي عقيدې او ايمان ته تازګي وبخښي، نه چي هغوئ د دنيا د يو شي تر لاسه کولو د مقصد لپاره راغلي وه، نو هغوئ ته زيرى تر لاسه سو ، د طاعت او قبول سعادت د هغوئ په برخه سو ، علم او عمل د هغوئ په برخه سو او هغوئ په خپل مقصد کي کامياب سول، حال دا چي د بنوتميم خلک د دنيا په غوښتنه کي ولويدل او د هغه سعادتونو او نعمتونو څخه محروم سول او دهغوئ کم نظرۍ او بې همتۍ هغوئ کښته وغورځول ، ددې څخه معلومه سوه چي مؤمن بنده بايد تل د لوړ همت او پاک مقصد والا وي ځکه لوړ همتي او د مقصد پاکي سړى لوى درجې ته رسوي او د دارينو سعادت

يې ور په برخه کوي ، لکه چي د يو بزرګ شيخ ابو العباس رحمة الله عليه په اړه منقول دي چي هغه يوه ورځ د حضرت امير حمزه رضي الله عنه د قبر د زيارت په اراده د مدينې منورې څخه روان سو، يو بل سړی هم ورسره ملګری سو ، کله چي د امير حمزه رضي الله عنه قبر ته ورسېدل نو د معمول خلاف د شيخ ابو العباس رحمة الله عليه لپاره په خاصه توګه د هديرې دروازه خلاصه کړل سول ، هغه دننه داخل سو او قبر ته ورسېدی، نو وه يې لېدل چي د عالم غيب د ځينو خلکو يوه ډله د هر ډول عيب څخه پاک په خپلو اجسامو سره موجود دي، شيخ د هغه په لېدو سره پوه سو چي دغه وخت د قبلېدو دی، په دغه وخت کي چي د الله جل جلاله څخه څه وغوښتل سي هغه تر لاسه کيږي، نو هغه د پروردګار څخه په دنيا او آخرت کي د عفو او عافيت دعاء وغوښتل، بيا يې د همدردۍ او شفقت له موخي خپل ملګري ته هم وويل چي اې ملګريه! د الله جل جلاله څخه چي څه غواړې هغه وغواړه ځکه چي دا د دعاء د قبلېدو وخت دی، هغه سړي ډېره بې همتي وښودل او د يوه دينار دعاء يې وغوښتل چي پروردګاره! ما ته يو دينار راکړې، ددې څخه وروسته هغوئ دواړه د هديرې څخه راووتل او د ستنېدو لپاره مدينې ته روان سول، کله چي دمدينې ښار ته داخل سول نو د مدينې د اوسېدونکو څخه يو سړي دهغه په لاس کي يو دينار کېښېښود ، بيا ښار ته په رسېدو سره هغوئ دواړه د مشهور قطب او ولي سيد ابو الحسن شاذلي رحمة الله عليه په خدمت کي حاضر سول ، پر حضرت شاذلي رحمة الله عليه باندي د هغوئ دواړو پوره قصه منکشف سول، هغه ډېر په افسوس سره هغه سړي ته وويل: اې بې همته! تا ته د دعاء د قبلېدو وخت په برخه سو او تا د ذليلي دنيا يو حقير شي باندي اکتفاء وکړل، تا د ابو العباس په ډول د عفو او عافيت دعاء ولي ونه کړل؟ دا خو هغه نعمت دی که چيري تا ته تر لاسه سوی وای نو دنيا به هم ستا قدمو ته راتللای او ستا عافيت به هم تر لاسه سوی وای .

او يوازي د الله جل جلاله ذات موجود ؤ، يعني څرنګه چي د هغه پاک ذات ابدالابد دی همدارنګه ازل الازل کي هم يوازي د هغه پاک ذات ؤ ، چي هغه د تل څخه موجود دی او د هغه څخه مخکي دهيڅ شي هم وجود نه ؤ، همدارنګه د هغه لپاره انتهاء او پای نسته او نه دهغه لپاره پيل سته، د هغه ذات او د هغه وجود د تغير او حدث څخه پاک دی چي د هغه د بندګانو او د هغه دمخلوق خاصه ده ، نو ثابته سوه چي نه مخکي د هغه په ذات کي عدم وو او نه به په راتلوکي کي هيڅکله عدم وي، ځکه چي کوم ذات د تل څخه او د تل لپاره قائم او باقي دی د هغه عدل محال دی.

د الله جل جلاله څخه مخکي دهيڅ شي وجود نه ؤ ، دا د مخکني جملې وضاحت دی، حال دا چي

د الله ﷻ د ذات او صفاتو څخه پرته هر شی حادث دی نو ددغه واجب الوجود څخه مخکي د هيڅ شي د وجود تصور هم نسي کيدای او الله ﷻ د هر شي خالق او موجد دی، ځکه کوم شی چي په وجود کي راغلی دی د هغه څخه وروسته او د هغه د تخليق په قدرت سره په وجود کي راغلی دی،

او د هغه عرش پر اوبو دی...الخ: په دغه جمله کي دې ته اشاره ده چي د عرش او اوبو تخليق د مځکي او آسمان د تخليق څخه مخکي سوي دي او په پيل کي تر عرش لاندي د اوبو څخه پرته د مځکي او آسمان هيڅ شی هم نه وو، نو د عرش پر اوبو باندي د کېدو مطلب دا دی چي دعرش او اوبو په منځ کي هيڅ شی حال نه وو، دا مطلب نه دی چي عرش د اوبو پر سطح قائم وو، او دهغه اوبو څخه مراد هغه اوبه نه دي کوم چي په دريابونو کي موجود دي بلکه تر عرش لاندي هغه اوبه د قدرت او مشيت الهي مظهر نوري اوبه دي، د هغه تفصيلي ذکر د کتاب په پيل کي په باب کي الايمان بالقدر کي تېر سوی دی.

ابن ملک رحمة الله عليه د ذکر سوي جملې په تشريح کي ليکلي دي چي عرش پر اوبو باندي ؤ، اوبه د هواء پر شا وې او هواء د الله ﷻ په قدرت سره قائمه وه، ځينو حضراتو ليکلي دي چي د عرش او اوبو تخليق د آسمان او مځکي د تخليق څخه مخکي سوی دی، بيا الله ﷻ مځکه او آسمان د اوبو څخه پيدا کړل، داسي چي پر اوبو باندي يې خپله تجلي واچول نو هغه په څپو سو او په هغه کي زيات تحريک پيدا سو چي د هغه په سبب په هغه کي ځګ پيدا سو او د هغه ځګ په جمع کېدو سره پر هغه ځای قائم سو، چيري چي خانه کعبه ده، او همدارنګه د مځکي تر ټولو لومړنۍ ټوټه په عالم وجود کي راغلل او بيا ددغه ټوټې څخه څلورو خواوو ته مځکه خپره سول او دکائناتو تخته ارض قائمه سوه، بيا پر دغه تخته ارض باندي غرونه پيدا کړل سول چي مځکه ونه ښوري او د غرور په زور سره ساکن او جامد وي، او څرنګه چي ځينو حضراتو ويلي دي چي تر ټولو مخکي کوم غر پيدا کړل سو هغه جبل ابوقبيس دی او د هغه اوبو څپې او اضطراب د دود په شکل کي کوم بخارات پورته سول د هغه څخه آسمان پيدا سو.

او په لوح محفوظ کي يې هر شی وليکی: يعني الله ﷻ د مخلوقاتو د پيدائش څخه مخکي د هر شي اړوند په لوح محفوظ کي د هغه هره خبره ليکلې ده، کوم چي هغوئ ته پېښېدونکي ده او دهغه مطابق په دنيا کي ظهور کيږي، پاته سوه دا خبره چي په لوح محفوظ کي د الله ﷻ د ليکلو څخه څه مراد دی. نو کيدای سي چي الله ﷻ په خپل قدرت سره حروف او الفاظ فرمايلي وي چي هغه په لوح محفوظ کي ليکل سوي وي، يا دا چي الله ﷻ، ملائکو ته د

ليكلو حكم كړی وی او د هغوئ د هغه د حكم سره سم هر شی په لوح محفوظ كي ليكلى وي، څرګنده دي وي چي په لوح محفوظ كي د هر شي ليكل د عرش د تخليق څخه هم مخكي سوي دي.

د روايت د آخري الفاظو په ذريعه حضرت عمران ابن حصين رضي الله عنه د خپل افسوس اظهار وكړ چي هغه د اوښي په پلټنه كي په داسي وخت كي د رسول الله ﷺ د مجلس څخه ولاړ سو، حال دا چي د رسول الله ﷺ دغه ارشاد جاري وو، او هغه د نبي كريم ﷺ وروستنۍ وينا نه واورېدل، نو صورت حال دا سو چي حضرت عمران رضي الله عنه د نبي كريم ﷺ په مجلس كي حاضر سو او خپله اوښه يې د دروازې دباندي تړلې وه، په دغه وخت كي چي رسول الله ﷺ د يمن خلكو ته د دغه كائناتو د پيل په اړه ښوونه كول نو يو سړی راغلی او حضرت عمران رضي الله عنه ته يې وويل چي ستا اوښه خلاصه سوې ده او وتښتېدل، ژر ولاړ سه او هغه ونيسه، نو هغه دې په اورېدو سره ولاړ سو او د خپلي اوښي د نيولو لپاره ولاړی بيا وروسته پښېمانه سو چي زه ولي ولاړم او د رسول الله ﷺ د مجلس، وينا او علومو څخه محروم سوم چي هغه وخت يې بيانول.

رسول الله ﷺ د اول څخه تر قيامت پوري ټول حالات بيان كړي دي

﴿۵۴۵۵﴾: وَعَنْ عُمَرَ قَالَ قَامَ فِينَا رسول الله صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ مَقَامًا

د حضرت عمر رضي الله عنه څخه روايت دی چي رسول الله ﷺ يوه ورځ زموږ په منځ كي ودريدی

فَأَخْبَرَنَا عَنْ بَدْءِ الْخَلْقِ حَتَّى دَخَلَ أَهْلُ الْجَنَّةِ مَنَازِلَهُمْ وَأَهْلُ النَّارِ مَنَازِلَهُمْ حَفِظَ ذٰلِكَ مَنْ حَفِظَهُ وَنَسِيَهُ مَنْ نَسِيَهُ. رواه البخاري

د زېږېدني د پيل څخه يې په جنت او دوزخ كي تر داخليدو پوري ذكر وكړ چا چي د هغه بيان د محفوظ ساتلو كوښښ وكړ هغه محفوظ وساتلو او چا چي كوښښ ونه كړ هغه هير كړ. بخاري

تخريج: صحيح البخاري (فتح الباري): ٦/٢٨٦، رقم: ٣١٩٢.

تشريح: مطلب دا دی چي رسول الله ﷺ په هغه ورځ په تفصيل سره د پيل ميعاد د اول څخه تر پايه پوري بيان كړ، يعني مخكي رسول الله ﷺ د تخليق كائنات د پيل ذكر وكړ چي الله جل جلاله د دغه دنيا د قائمولو اراده وكړل نو په پيل كي يې ځيني شيان جوړ كړل بيا څرنګه يې نظام عالم قائم كړ او دا عالم انسان نوی مخلوق څخه ابادولو لپاره د حضرت آدم عليه السلام تخليق يې وكړ او د هغه په ذريعه د نسل انساني لړۍ پيل سوه، د كائناتو انساني تهذيبي، اخلاقي او ديني ژوند

نظم قائمولو او درب كائنات د حاكميت او هدايت ظهور لپاره زموږ نبيان اورسولان دغه دنيا ته راغلل ، دغه قومونو د خپلو نبيانو او رسولانو سره څه وكړل ، كومو خلكو چي د الله ﷻ د رسولانو اطاعت وكړ هغوئ ته څه اجر او انعام وركړل سو او كومو خلكو چي هغه رسولان درواغجن وګڼل او دهغوئ د خبري منلو څخه يې انكار وكړ هغه څرنګه تباه او برباد سول، او په اخرت كي به د هغه ملتونو او امتونو څه حال وي او بيا په اخر كي رسول الله ﷺ دخپل امت په اړه وفرمايل چي د الله ﷻ د اخري دين ، اسلام منونكي يعني د مسلمانانو په ملي ژوند كي به څه انقلاب راځي هغوئ به د كوم كوم حال سره مخامخ كيږي، كومي نيكۍ به دهغوئ امتياز ګرځي او كومي بدۍ به د هغوئ ديني او دنياوي ژوند خرابوي، بيا په آخرت كي ددغه امت محمديه سره به څه كيږي كوم ډول خلك به جنت ته او كوم ډول خلك به دوږخ ته سپارل كيږي.

چا چي دغه خبري ياد كړې....الخ: ددې څخه دحضرت عمر رضي الله عنه مطلب دا وو چي رسول الله ﷺ هغه خبري په كوم تفصيل سره بيان كړلې هغه خلكو ياد وساتلې چا چي د ياد ساتلو هڅه وكړل او هغوئ ته الله ﷻ د يادولو توفيق وركړ او هغه خلكو هيري كړې چا چي د ياد ساتلو هڅه ونه كړل ، خلاصه دا چي ځينو خلكو ته هغه خبري پوره ياد وې او ځينو هېري كړې.

د الله ﷻ رحمت د هغه پر غضب مخته والى وړى دى

﴿۵۴۵۶﴾: وَعَنْ اَبِيْ هُرَيْرَةَ قَالَ سَمِعْتُ رَسُولَ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ يَقُولُ إِنَّ اللّٰهَ كَتَبَ كِتَابًا قَبْلَ أَنْ يَخْلُقَ الْخَلْقَ إِنَّ رَحْمَتِي سَبَقَتْ غضبي فَهُوَ مَكْتُوبٌ عِنْدَهُ فَوْقَ الْعَرْشِ . متفق عليه.

د حضرت ابوهريره رضي الله عنه څخه روايت دى چي ما د رسول الله ﷺ څخه اوريدلي دي چي فرمايل يې: د مخلوق د پيدا كيدو څخه مخكي الله تعالى يو كتاب وليكى په هغه كي يې دا الفاظ وليكل : زما رحمت زما پر غضب مخته سو (يعني غالب سو) نو دا الفاظ دالله تعالى سره پر عرش ليكلي دي. بخاري او مسلم.

تخريج : صحيح البخاري (فتح الباري): ۱۳\۵۲۲، رقم: ۷۵۵۴، ومسلم ۴\۲۱۰۷، رقم: ۱۴- ۲۷۵۱.

تشريح : د حديث د آخري جملې مطلب دا دى چي هغه كتاب د ټولو خلائقو څخه پټ ايښودل سوى دى چي په هغه كي ليكل سوي شيان د الله ﷻ داسي رازونه دي چي هيچا ته څرګند سوي

نه دي او نه د چا علم او فهم ددې وړ ګرځېدلی دی چي په هغه کتاب کي په ليکل سوو خبرو باندي پوه سي.

توربشتي رحمة الله عليه ليکلي دي: کيدای سي چي د هغه کتاب څخه مراد لوح محفوظ وي او د رسول الله ﷺ ددغه ارشاد (فهو مکتوب عنده) معنی دا وي چي ذکر سوی عبارت په لوح محفوظ کي ليکل سوی وي او دا هم کېدای سي چي د کتاب څخه مراد لوح محفوظ نه وي بلکه قضاء يعني الهي فيصله وي چي الله جل جلاله جاري کړې ده، په هر حال په دواړو صورتو کي د رسول الله ﷺ په دغه ارشاد (عنده فوق العرش) کي دا خبرتيا ده چي هغه کتاب وليکل سو او د ټول مخلوق د ادراک څخه پټ اېښودل سوی دی او د هغه ليکني ته د هيچا فهم نه سي رسېدای.

د الله جل جلاله د رحمت پر غضب باندي د سبقت معنی داده چي د رحمت آثار او مظاهر ډېر زيات دي، مؤمن، کافر، متقي او ګناه کار ټول د الله جل جلاله د رحمت تر سايه لاندي وي حال دا چي د هغه غضب ډېر کم څرګندېږي او کله نا کله يو څوک د هغه مورد ګرځي، په قرآن کريم کي الله جل جلاله فرمايي:

عَذَابِي أُصِيبُ بِهِ مَنْ أَشَاء وَرَحْمَتِي وَسِعَتْ كُلَّ شَيْءٍ .

ژباړه: زه په خپل عذاب کي هغه کسان اخته کوم، چا ته چي وغواړم، مګر زما رحمت هر شی په خپل رحمت کي اخيستی دی.

ملائکي، جنات او د انسان تخليق

﴿۵۴۵۷﴾: وَعَنْ عَائِشَةَ عَنْ رَسُولِ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ قَالَ خُلِقَتْ الْمَلَائِكَةُ مِنْ نُورٍ وَخُلِقَ الْجَانُّ مِنْ مَارِجٍ مِنْ نَارٍ وَخُلِقَ آدَمُ مِمَّا وُصِفَ لَكُمْ . رواه مسلم.

د حضرت عائشې (رض) څخه روايت دئ چي رسول الله ﷺ وفرمايل: ملائکي د نور څخه پيدا کړل سوي او پيريان د اور د شغلو څخه پيدا کړل سوي دي، او آدم عليه السلام د هغه شي څخه پيدا کړل سوی دی چي تاسو ته يې بيان سوی دی چي د هغه ذکر په قرآن کريم کي ستاسو په وړاندي موجود دی (يعني خلقه من تراب)..(آدم عليه السلام يې د خاورو څخه پيدا کړ). مسلم.

تخريج: صحيح مسلم ۱۴\ ۲۲۹۴، رقم: ۶۰– ۲۹۹۶.

د لغاتو حل: مارج: اي لهب مختلط بسواد دخان النار.

تشريح: په قاموس كي ليكلي دي چي د نور معنى يا خو د ځلا ده يا د ځلا څخه د وتونكو شعاعو ده، په هر حال دلته په حديث كي د نور څخه مراد اصل ړڼا يعني هغه جوهر دى چي د هغه څخه ړڼا په وجود كي راځي نو د ملائكو تخليق د دغه جوهر څخه سوى دى.

د جان معنى يا خو د پيريانو ده يا د دې څخه مراد د پيريانو هغه اصل يعني د هغوئ پلار دى چي د هغه څخه د پيريانو نسل خپور سوى دى لكه څرنگه چي د انسان پلار حضرت آدم عليه السلام دى.

چي تاسو ته ښودل سوي دي، د دې څخه د قرآن كريم د دغه الفاظو (وخلقه من تراب) او آدم عليه السلام يې د خاورو څخه پيدا كړ، ته اشاره ده، مطلب دا چي انسان د خاورو څخه پيدا سوى دى.

په ځينو روايتو كي د نورو شيانو د جوهر تخليق ذكر هم سوى دى لكه ابن عساكر د حضرت ابو سعيد رضي الله عنه څخه مرفوع روايت نقل كړى دى چي خرما، انار او انگور د آدم عليه السلام د خاورو د پالتو موادو څخه پيدا سوي دي، طبراني رحمه الله د حضرت ابو امامه رضي الله عنه څخه مرفوع روايت نقل كړى دى چي حورعين د زعفران څخه پيدا كړل سوي دي.

پيريان او د انسان درې تخليقي اقسام: حكيم ابن ابي الدنيا ابو الشيخ او ابن مردويه رضي الله عنه د حضرت ابو درداء رضي الله عنه څخه دا روايت نقل كړى دى چي الله جل جلاله پيريان درې ډوله پيدا كړي دي، د هغوئ يو ډول هغه دى چي هغه ته د مار، لړم او حشراتو صورت وركړل سوى دى، دوهم ډول هغه دى چي په فضاء كي د هواء په ډول دي، او دريم ډول پيريان هغه دي چي د انسان په ډول د خير او شر مكلف گرځول سوي دي، او د هغوئ سره به حساب او مؤاخذه كيږي، همدارنگه الله جل جلاله انسان هم درې ډوله پيدا كړى دى، يو ډول هغه دى چي د حيوان په ډول وي، دوهم ډول انسان هغه دى چي بدن او شكل يې د انسانانو په ډول وي مگر ارواح يې د شيطانانو ارواح وي، دريم ډول انسان هغه دى چي د هغوئ بدن او روح دواړه د انسانيت په صورت كي وي چي د قيامت په ورځ به د پروردگار د رحمت په سايه كي وي.

د ادم عليه السلام په اړه د شيطان خيال

﴿۵۴۵۸﴾: وَعَنْ أَنَسٍ أَنَّ رَسُولَ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ قَالَ لَمَّا صَوَّرَ اللَّهُ آدَمَ فِي الْجَنَّةِ تَرَكَهُ مَا شَاءَ اللَّهُ أَنْ يَتْرُكَهُ فَجَعَلَ إِبْلِيسُ يُطِيفُ بِهِ يَنْظُرُ مَا هُوَ فَلَمَّا رَآهُ أَجْوَفَ عَرَفَ أَنَّهُ خُلِقَ خَلْقًا لَا يَتَمَالَكُ. رواه مسلم

د حضرت انس رضي الله عنه څخه روایت دئ چې رسول الله ﷺ وفرمایل: کله چې الله تعالی د آدم علیه السلام شکل تیار کړ نو تر څو پوري چې یې غوښتل هغه یې په جنت کي وساتی، په دغه دوران کي به شیطان د آدم علیه السلام د تابوت څخه چاپیره ګرځیدی کتل به یې او ویل به یې چې دا څه شي دی، بیا چې هغه ولیدل چې دا دننه خالي دی نو خیال یې وکړ چې دا یو بې وسه مخلوق دی. مسلم

تخریج: صحیح مسلم: ۴\۲۰۱۶، رقم: ۱۱۱– ۲۶۱۱.

تشریح: ددغه حدیث د الفاظو څخه څرګندیږي چې د حضرت آدم علیه السلام د شکل او صورت تخلیق په جنت کي سوی دی، حال دا چې نور روایات پر دې دلالت کوي چې د هغه تخلیق او هغه ته صورت ورکول د عرفات د میدان په نعمان شپله کي سوی دی، هلته د هغه شکل ته د آخري صورت په ورکولو سره او په هغه کي په روح پو کلو سره هغه جنت ته بوتلل سو، نو په حدیث کي د في الجنة الفاظ چې د هغه څخه د هغه تخلیق په جنت کي مفهوم کیږي، دا په اصل کي د هغه د لومړني تخلیق د اظهار لپاره نه دی بلکه د تخلیق څخه وروسته حال ذکر کولو لپاره دی، په دې اعتبار د حدیث معنی به دا وي چې کله الله جل جلاله د هغه په تخلیق کولو سره او د هغه په صورت کي په روح پو کلو سره هغه په جنت کي وساتی نو ابلیس د هغه د صورت د مسافت او حقیقت پلټنه وکړل او کله چې هغه ولیدل چې دغه صورت خالي دی او د دننه څخه د هغه نس خالي دی نو هغه پوه سو چې دغه انسان د خپل بدني جوړښت په اعتبار ټینګ نه دی ځکه چې کوم شی په دننه کي خالي وي او د هغه ټول اندامونه د یو بل سره داسي ټینګ نه وي چې د هغو په منځ کي خلاء نه وي نو هغه ته په پوره توګه ثبات او قرار نه تر لاسه کیږي، نو هغه دا نتیجه واخیستل چې کله ددغه صورت بدني جوړښت داسي دی چې نو لامحاله دده طبع او دده مزاج او دده دننه احوالو ته به هم ثبات او قرار نه وي، او ددغه لویدلي طبع په وجه ځان په خپلو معاملاتو کي په پریشانه کېدو او په خپلو حالاتو کي د غیر مستحکم کیدو څخه ساتل کیدای نه سي، او پر خپل ځان به واک ونه درلودلای سي، دمثال په توګه د غصې په وخت کي به بې اختیاره کیږي او پر طبعي خواهشاتو باندي به بندیز ونه کړلای سي چې د لوږي او تندي دفع کولو، د جنسي تسکین تر لاسه کولو او د خپلو غوښتنو لپاره به د جائز او ناجائز په منځ کي فرق نه کوي، نو ابلیس خوشحاله سو او هغه امید وکړ چې کوم مخلوق د خپل بدني جوړښت او طبعي لوېدو په وجه د آفاتو مورد کیدای سي نو د هغه ګمراه کول به مشکل نه وي.

د ابراهيم عليه السلام ختنه

﴿۵۴۵۹﴾: وَعَنْ أَبِي هُرَيْرَةَ قَالَ قَالَ رَسُولُ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ اخْتَتَنَ إِبْرَاهِيمُ النَّبِيُّ وَهُوَ ابْنُ ثَمَانِينَ سَنَةً بِالْقَدُّومِ. متفق عليه

د حضرت ابو هريره رضي الله عنه څخه روايت دئ چي رسول الله ﷺ وفرمايل: حضرت ابراهيم عليه السلام د اتيا كالو په عمر كي ځان سنت كړ، يا دا چي ابراهيم عليه السلام په مقام قدوم كي د اتيا كالو په عمر كي ځان سنت كړ. بخاري او مسلم.

تخريج: صحيح البخاري (فتح الباري): ۶\۳۸۸، رقم: ۳۳۵۶، ومسلم ۴\۱۸۳۹، رقم: ۱۵۱- ۲۳۷۰.

تشريح: امام نووي رحمه الله د دغه حديث په تشريح كي ليكلي دي چي د قدوم د دال په حركت كي اختلاف دى، كه چيري د دال په تخفيف سره وويل سي نو معنى به يې د تيشې وي او د حديث مطلب به دا وي چي حضرت ابراهيم عليه السلام خپل ځان په تېشه سره سنت كړ، او هغه وخت يې عمر د اتيا كاله وو، او كه دغه لفظ د دال په تشديد سره وويل سي نو د دې څخه مراد به د شام هيواد يو كلى وي چي د هغه نوم قدوم وو، د دغه كلي نوم (قدوم) د دال په تفيف سره هم نقل سوى دى، په دغه صورت كي به مطلب دا وي چي حضرت ابراهيم عليه السلام د اتيا كالو په عمر كي خپل ځان سنت كړ او هغه وخت د شام هيواد د قدوم په كلي كي وو، خلاصه دا چي په كوم روايت كي دغه لفظ د دال په تشديد سره نقل سوى دى په هغه كي د قدوم څخه ذكر سوى كلى مراد دى او په كوم روايت كي چي د دال په تخفيف سره منقول دى په هغه كي تيشه او ذكر سوى كلى دواړه كيداى سي چي د دغه لفظ څخه تېشه هم مراد كيداى سي او ذكر سوى كلى هم.

د ابراهيم عليه السلام درې درواغ

﴿۵۴۶۰﴾: وَعَنْهُ قَالَ قَالَ رَسُولُ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ لَمْ يَكْذِبْ إِبْرَاهِيمُ إِلَّا

د حضرت ابو هريره رضي الله عنه څخه روايت دئ چي رسول الله ﷺ وفرمايل: ابراهيم عليه السلام يوازي درې

ثَلَاثًا إِلَّا ثَلَاثَ كَذَبَاتٍ ثِنْتَيْنِ مِنْهُنَّ فِي ذَاتِ اللّٰهِ عَزَّ وَجَلَّ قَوْلُهُ إِنِّي سَقِيمٌ وَقَوْلُهُ

واره درواغ ويلي دي دوه واره درواغ يې د الله جل جلاله لپاره ويلي دي (يعني د الله تعالى د رضا تر لاسه كولو او د هغه د حكم پر ځاى راوړلو لپاره) او يو وار يې دا وويل چي زه ناروغه يم (او دا هغه وخت كله چي د هغه قوم خپل په اختر كي د هغه شريكولو لپاره بيول غوښتل چي هلته د

بتانو عبادت کیدی او هغه تلل نه غوښتل، په دې سبب هغه وویل چې زه ناروغه یم)، او بل دا

بَلْ فَعَلَهُ كَبِيرُهُمْ هَذَا وَقَالَ بَيْنَا هُوَ ذَاتَ يَوْمٍ وَسَارَةُ إِذْ أَتَى عَلَى جَبَّارٍ مِنْ

قول دده چې دا کار غټ بت کړی دی (او دا هغه وخت چې د کفارو په نه شتون کې هغه د هغوئ بتان مات کړي وه کله چې کافرانو پوښتنه ځيني وکړه اې ابراهيمه! دا کار تا کړی دی؟ نو هغه وویل ما نه دی کړی دغه غټ بت دا کار کړی دی او رسول الله ﷺ د دريم قول په اړه دا وفرمايل چې یوه ورځ ابراهيم عليه السلام د خپل کوروالا (بي بي ساره) سره د شام په لور تلی چې د يو ظالم پاچا

الْجَبَابِرَةِ فَقِيلَ لَهُ إِنَّ هَا هُنَا رَجُلًا مَعَهُ امْرَأَةٌ مِنْ أَحْسَنِ النَّاسِ فَأَرْسَلَ إِلَيْهِ

پر ښار تيريدل هغه ظالم پاچا ته خبر ورغلی چې دغه يو سړی راغلی دی او د هغه ډيره ښکلې ښځه ده هغه يو سړی وليږی

فَسَأَلَهُ عَنْهَا فَقَالَ مَنْ هَذِهِ قَالَ أُخْتِي فَأَتَى سَارَةَ فقال لها ان هذا الجبار ان

د ابراهيم عليه السلام څخه يې پوښتنه يې وکړه چې ستا سره دا ښځه څوک ده؟ ابراهيم عليه السلام ورته وويل: دا زما خور ده، نو ددې څخه وروسته ابراهيم عليه السلام راغلی بي بي سارې ته يې وويل: که ددغه ښار ظالم حاکم پوه سو چې

يعلم انك امراتي يغلبني عليك فان سالك فاخبريه انك اختي فانك اختي في

ته زما ښځه يې نو تا به زما څخه په زور واخلي که هغه در څخه پوښتنه وکړي نو داسي ورته ووايه چې ته زما خور يې، بېشکه چې ته په حقيقت کې زما ديني خور يې

الاسلام لَيْسَ عَلَى وَجْهِ الْأَرْضِ مُؤْمِنٌ غَيْرِي وَغَيْرَكِ فارسل اليها فاتي بها قام

په دغه وخت کې بغير له ما او تا څخه د دنيا پر مخ بل څوک مؤمن نه سته، بيا هغه ظالم حاکم بي بي ساره وغوښتل او هغه ته ورسيدل دلته ابراهيم عليه السلام پر لمانځه ودريدی،

ابراهيم يصلي فَلَمَّا دَخَلَتْ عَلَيْهِ ذَهَبَ يَتَنَاوَلُهَا بِيَدِهِ فَأُخِذَ ويروي فغط حتى

کله چې بي بي ساره هغه ظالم حاکم ته مخامخ سوه نو هغه لاس وراچول غوښتل چې هغه ظالم ونيول سو (يعني الله تعالى هغه منع کړ) يا هغه يې بې ساه او بې حرکته کړ يا غاړه يې ورخفه

ركض برجله فَقَالَ ادْعِي اللَّهَ لِي وَلَا أَضُرُّكِ فَدَعَتْ اللَّهَ فَأُطْلِقَ ثُمَّ تَنَاوَلَهَا

کړه چي ساه يې بنده سوه او پر مځکه يې لغتي وهلې، بيا هغه ظالم پاچا بي بي سارې ته وويل: د الله ﷻ څخه زما لپاره دعاء وغواړه (چي ما د دغه تکليف څخه خلاص کړي) زه به تا ته تاوان نه رسوم، نو بي بي سارې دعاء وکړه او د هغه ظالم حاکم څخه تکليف ليري کړل سو، هغه بيا

الثَّانِيَةَ فَأُخِذَ مِثْلَهَا أَوْ أَشَدَّ فَقَالَ ادْعِي اللَّهَ لِي وَلَا أَضُرُّكِ فَدَعَتْ الله فَأُطْلِقَ

دغه حرکت وکړ او په خراب نيت سره يې بي بي سارې ته لاس ور وړاندي کړ نو بيا هغسي ونيول سو بلکه د مخکي څخه زيات سخت ونيول سو هغه بيا هغسي وويل چي د الله ﷻ څخه زما د خلاصون لپاره دعاء وکړه زه به تا ته ضرر در ونه رسوم،

فَدَعَا بَعْضَ حَجَبَتِهِ فَقَالَ إِنَّكَ لَمْ تَأْتِنِي بِإِنْسَانٍ إِنَّمَا أَتَيْتَنِي بِشَيْطَانٍ فَأَخْدَمَهَا

نو بي بي ساره بيا دعاء وکړه او هغه بنه سو بيا هغه ظالم په خپلو درباريانو کي يو څوک راغوښتل ورته وه يې ويل تا ما ته انسان نه دی راوستلی بلکه يو شيطان دي راوستلی دی بيا

هَاجَرَ فَأَتَتْهُ وَهُوَ قَائِمٌ يُصَلِّي فَأَوْمَأَ بِيَدِهِ مَهيم قَالَتْ رَدَّ اللَّهُ كَيْدَ الْكَافِرِ فِي

هغه ظالم حاکم د بي بي ساره د خدمت لپاره يوه مينځه (هاجره) راوليږل او هغه (يعني بي بي ساره) يې واستول، ساره بي بي چي راغلل نو ابراهيم عليه السلام يې پر لمانځه کولو وليدی، ابراهيم عليه السلام په لمانځه کي په لاس سره اشاره وکړه چي څه حال دی ستا؟، بي بي ساره ورته وويل الله تعالی د هغه کافر مکر او فريب هم د هغه په غاړه کي واچوی

نَحْرِهِ وَأَخْدَمَ هَاجَرَ قَالَ أَبُو هُرَيْرَةَ تِلْكَ أُمُّكُمْ يَا بَنِي مَاءِ السَّمَاءِ. متفق عليه.

او هغه د خدمت لپاره هاجره هم راکړه، ابوهريره رضي الله عنه وايي اې د آسمان د اوبو زامنو! دا ستاسو مور ده. (د آسمان د اوبو څخه مراد پاک نسب دی). بخاري او مسلم.

تخريج: صحيح البخاري (فتح الباري): ۴۱۰\۱۴، رقم: ۲۲۱۷. ومسلم ۱۸۴۰\۱۴، رقم: ۱۵۴- ۲۳۷۱.

د لغاتو حل: فغط: اي خنق (خفه يې کړ).

تشريح حضرت ابراهيم عليه السلام هيڅکله دروا غ نه وه ويلي پرته له درو درواغو څخه، په دې اړه بايد په ذهن کي وي چي ټول انبياء معصوم دي، د هغوئ څخه هيڅ ګناه نه سي کېدای که څه هم

هغه دروا غ وي يا بله گناه، د حديث د ذكر سوي جملې دا مراد نه دى چي حضرت ابراهيم عليه السلام په خپل ژوند كي د دروا غو گناه درې واره كړې ده بلكه هغه ته د درواغ ويلو نسبت د هغه د ذات په اعتبار نه دي بلكه د اوريدونكو په اعتبار دي، مطلب دا چي د حضرت ابراهيم عليه السلام هغه درې خبري د درواغو په صورت كي وې مگر په حقيقت كي درواغ نه دي، نه په دې اعتبار هغه خبري په درواغو كي شميرل كيږي او نه په دې اعتبار چي حضرت ابراهيم عليه السلام د دغه خبرو په ذريعه د غلط ويني او درواغو اراده كړې وه، دا خبره په ښه انداز كي داسي ده چي دلته د كذب څخه مراد دادي چي داسي كلام چي د صحيح او پاك مقصد لپاره ويل سوى وي مگر مخاطب د هغه په مطلب پوه نه سي كوم چي د متكلم مراد وي بلكه هغه الفاظ د خپل ذهني مراد مطابق وگڼي، دغه د كلام انداز او د فصيحانو په نزد اكثر رائج دى، دلته په دې اړه يادونه كول هم اړين دي چي دلته په حديث كي د حضرت ابراهيم عليه السلام سره اړوند يوازي د درو خبرو ذكر دى چي (هذا ربي) دغه زما رب دى، او ددې نه يادولو وجه داده چي حضرت ابراهيم عليه السلام دغه خبره د وړكتوب په وخت كي كړې وه هغه وخت به هغه د يو امر مكلف نه وو ځكه د دغه څلورمي خبري هيڅ اعتبار نسته.

په هغه درو خبرو كي يوه دا وه چي ده ويلي وه: نن زه ناروغ يم، په دې اړه تفصيل دادى چي كله حضرت ابراهيم عليه السلام خپل پلار آزر او د خپل قوم خلكو ته په هر ډول د بت پرستۍ خرابي بيان كړل او د هغه څخه يې د منع كولو هڅه وكړل او هر ډول نصيحت يې ورته وكړ چي دغه بتان هيڅ گټه رسولاى نه سي او نه تاوان رسولاى سي، د آزر او د هغه د قوم په زړو كي هيڅ اثر ونه وسو، نو هغه دا تدبير وكړ چي اوس ما ته د هدايت داسي لار اختيارول پكار دي چي په هغه سره د غه خلك خپله ووينې چي موږ د لرگي او ډبرو د بتانو عبادت كوو، او هغه زموږ لپاره هيڅ ډول گټور او تاواني نه دي او نه د هغوئ له لوري موږ ته غم او گټه رسيداى سي، نو يو وار د قوم يوه مذهبي ميله وه او ټول خلك په هغه كي د گډون لپاره ولاړل، ځينو خلكو حضرت ابراهيم رحمة الله عليه ته ټينگار وكړ چي هغه هم د ميلې لپاره ولاړ سي مگر ابراهيم عليه السلام په دې انتظار كي وو چي ټول خلك ولاړ سي نو د هغه د ټولو بتانو په ماتولو سره خپلي ارادې ته عملي بڼه وركړي، نو موړي د خلكو سره د تگ انكار وكړ مگر كله چي هغوئ ډېر ټينگار وكړ نو ابراهيم عليه السلام وويل: (اني سقيم) زه ناروغ يم، د هغه دغه خبره په ظاهره درواغ معلوميږي ځكه چي هغه په حقيقت كي ناروغ نه وو بلكه د هغوئ سره د نه تللو لپاره يې د ناروغۍ بهانه وكړل، ددې تاويل علماؤ دا كړى دى چي په (اني سقيم) كي د حضرت ابراهيم عليه السلام مراد دا وو چي د هر

انسان په ډول زما سره هم ناروغي ده او وخت پر وخت ناروغ کیږم ، نو هغه داسي مبهمه خبره وکړه چي د هغه د ظاهري اسلوب څخه دا مفهوم واخیستل سو چي زه ناروغ یم ، ستا سو سره څرنګه ولاړ سم، مګر په حقیقت کي د هغه مراد برعکس وو،

ځینو حضراتو لیکلي دي چي د حضرت ابراهیم علیه السلام قوم ته د ستورو د بندګی په وجه په علم نجوم کي کمال او اعتقاد وو ځکه حضرت ابراهیم علیه السلام په یو خاص انداز سره د ذکر سوي خبري په کولو سره د هغه خیال ستورو ته متوجه کړی وو، نو د قوم خلکو د خپلي عقیدې د لحاظ څخه دا وګڼل چي ابراهیم علیه السلام د یو ستوري په بد اثر کي اخته دی او هغه د علم نجوم په ذریعه معلومه کړې ده چي هغه ژر ناروغ کېدونکی دی، ددغه تاویل قرینه د قرآن کریم ددغه آیت سباق دی چي په هغه کي ددغه پېښي ذکر دي، یو قول دا هم دی چي حضرت ابراهیم علیه السلام د دغه جملې (اني سقیم) څخه خپل بدني ناروغي مراد نه وه بلکه د زړه ناروغي يې مراد اخیستې وه چي ستاسو کفر او سرکښی زه زهیر کړی یم، او زما د زړه حالت ناروغ دی، په داسي حال کي ستاسو سره زما د تللو سوال هم نه پیدا کیږي.

د حضرت ابراهیم علیه السلام دوهمه وینا داوه چي دغه کار لوی بت کړی دی، د حضرت ابراهیم علیه السلام ددغه خبري تعلق هم د ذکر سوي پېښي سره دی، کله چي دهغه قوم ټول خلک میلې ته ولاړل او ښار خالي سو نو هغه راولاړ سو او تر ټولو لوی بت خانې ته ورسېدی نو وه یې لېدل چي هلته د بتانو په وړاندي ډول ډول حلواوي، میوې او نور شیان پراته دي، حضرت ابراهیم علیه السلام په طنزیه لهجه سره هغه بتانو ته په خطاب کولو سره وویل: هر څه موجود دي نو تاسو یې ولي نه خورئ، بیا یې وویل: زه تاسو ته مخاطب یم . څه خبره ده چي تاسو جواب نه راکوئ؟ له دې وروسته یې ټول بتان مات کړل او د لوی بت په اوږه کي یې تبر کښېښود او ځیني ولاړی، کله چي د قوم خلک د میلې څخه راغلل او په بت خانه کي یې خپل بتان په خراب حالت کي ولیدل چي د چا سره مات دی ، د چا پښې ماتي دي او د چا نس دړي وړي دي، نو قوم د ډېري غصې څخه د یو بل څخه پوښتنه وکړل چي دا چا کړي دي، ځینو خلکو وویل: دا خامخا د ابراهیم علیه السلام کار دی، دا هغه سړی دی چي زموږ بتانو ته بد وایي او په دغه ښار کي د هغه څخه پرته بل هیڅوک موجود نه وو، نو د قوم د مشرانو په وړاندي حضرت ابراهیم علیه السلام راوستل سو او د ټولو خلکو په مخکي د هغه څخه پوښتنه وسول چي ابراهیم! (علیه السلام) تا زموږ په خدایانو څه کړي دي،

حضرت ابراهیم علیه السلام وویل: (بل فعله کبیرهم)، بلکه دا کار تر ټولو لوی بت کړی دی، نو دحضرت ابراهیم علیه السلام دغه جواب هم د پېښي خلاف وو، مګر په حقیقت کي د هغه دغه جواب په

دروا غو سره نه تعبير كيږي ځكه چي د هغه اصل مقصد د خپل گمراه قوم خبردار كول او د هغوئ لاجوابه كول وو چي د هغوئ غلطي عقيدې ثرگنده سي، نو د خپل مقابل كس د هغه په غلطۍ خبرول او د هغه پر صحيح لار راوستلو لپاره يوه غوره طريقه دا هم وه كه د هغه سره د مناظرې او خيالاتو د تبادلې موقع راسي نو د مسلمانانو څخه يو مسلمه عقيده صحيح فرض كولو سره داسي د هغه استعمال وكړي چي د هغه نتيجه د مقابل خلاف او خپل موافق سي، حضرت ابراهيم عليه السلام د ذكر سوي پېښي دا طريقه اختيار كړل، د هغه قوم د الله جل جلاله واحد څخه پرته د بې شمېره بتانو عبادت كوى او د هغه خلكو عقيده وه چي د غه بتان هر څه اوري او هر څه ويني او زموږ مرادونه پوره كوي او د خپلو منونكو څخه خوشحاله كيږي، او د خپلو دښمنانو څخه بدله اخلي، حضرت ابراهيم عليه السلام د خپل قوم خلكو ته د دغه بدي عقيدې عملا ظاهرولو لپاره د هغوئ بتان مات كړل او لوى بت يې پرېښود، بيا كله چي پوښتنه وسول نو هغه د مناظرې هغه غوره طريقه اختيار كړل چي د هغه مخكي ذكر وسو، نتيجه دا سوه چي د هغه پر قوم باندي دا خبره په پوره توگه ثرگنده سوه چي كوم بت خپل ځان د ماتولو څخه نه سي ژغورلاى او د خپل دښمن مقابله نه سي كولاى هغه بل چا ته څه گټه او تاوان رسولاى سي، او د عبادت قابل ثرنگه كيداى سي، ځينو حضراتو د حضرت ابراهيم عليه السلام د ذكر سوي جواب يو بل تاويل كړى دى، هغوئ وايي چي: دا چي حضرت ابراهيم عليه السلام وويل: (بل فعله كبيرهم) نو د كبيرهم څخه د هغه مراد د الله جل جلاله ذات وو، يعني د دغه جملې مطلب دا وو چي په دغه بتانو څه سوي دي هغه د الله جل جلاله له خوا سوي دي چي تر ټولو لوى دى، او د هغه په وړاندي د هيچا خبره نه چليږي.

اوس دريم درواغ ته راځو، حضرت ابراهيم عليه السلام د بي بي ساره رضي الله عنها په اړه وويل چي دا زما خور ده، دا خبره په ظاهره د حقيقت خلاف معلوميږي چي هغه خپلي ښځي ته خپل خور وويل، مگر كه چيري دا خبره د حضرت ابراهيم عليه السلام د اصل مراد په سباق كي وكتل سي نو د هغه دغه قول چي دا زما خور ده، د حقيقت خلاف نه ده ځكه چي حضرت ابراهيم عليه السلام او بي بي ساره رضي الله عنها د اسلام د دين د پيرو كېدو په حيثيت سره ديني ورور او خور دي، ځكه چي په قرآن كريم كي الله جل جلاله فرمايي : انما المؤمنون اخوة، ټول مؤمنان يو د بل سره وروڼه دي، او ثرگنده ده چي د ښځي د قرابت قائمېدو سره د ديني ورورگلوۍ قرابت نه منقطع كيږي، د دې څخه پرته بي بي ساره رضي الله عنها د حضرت ابراهيم عليه السلام د اكا حاران لور وه او په دې اعتبار هغې ته خور وويل، داسي خبره هيڅكله نه ده چي پر هغه د حقيقي درواغو اطلاق وكړل سي.

د حضرت ابراهيم عليه السلام، بي بي ساره رضي الله عنها ته دا ويل چي په مځكه كي زما او ستا څخه پرته بل

څوک مؤمن نسته، دا د صورت حال صحيح بيان وو ځکه چي هغه وخت هيڅا پر حضرت ابراهيم عليه السلام ايمان نه وو راوړی او په هغه ښار کي د دوئ دواړو څخه پرته بل څوک مسلمان نه وو، نو دلته دا سوال نه پيدا کيږي چي حضرت ابراهيم عليه السلام پر مځکه باندي يوازي د دوو مؤمنانو د موجود کېدو خبره څرنګه وکړه؟ يو دريم مؤمن حضرت لوط عليه السلام هم وو لکه چي په قرآن کريم کي دي: (فامن له لوط) نو لوط عليه السلام د ابراهيم عليه السلام پر دين ايمان راوړ.

دغه سوال په هغه صورت کي پيدا کيدای سو که د حضرت ابراهيم عليه السلام د جملې مراد دا وي چي په ټوله دنيا کي زموږ دواړو څخه پرته بل څوک مؤمن نسته يا دا چي هغه وخت حضرت لوط عليه السلام د دوئ دواړو سره په هغه کي وای.

شيخ عبد الحق رحمة الله عليه د ذکر سوي جملې په تشريح کي ليکلي دي چي حضرت ابراهيم عليه السلام په دغه وخت کي د اسلام د ورورګلوئ قرابت يوازي خپل ځان او د بي بي ساره رضي الله عنها ذات پوري محدود کړنو کيدای سي ددې بنياد د دين اسلام هغه نسبت وي چي هغوئ ته اصالتا حاصل وو او دهغوئ د تعلق هغه خاص شرف وو چي بي بي ساره رضي الله عنها ته حاصل وو ، حضرت شيخ رحمة الله عليه ددغه جملې لاندي يو بل سوال او دهغه جواب نقل کړی دی چي خلاصه يې داده :

دا سوال پيدا کيږي چي حضرت ابراهيم عليه السلام د هغه جابر حاکم په وړاندي په څرګنده دا ولي ونه ويل چي دا زما ښځه ده، حضرت ابراهيم عليه السلام چي په کوم مقصد بي بي ساره رضي الله عنها ته په خور ويلو سره تر لاسه کول غوښتل ، هغه مقصد د هغه د ښځي په ښودلو سره هم تر لاسه سو ځکه د پخوانيو زمانو د بدو خلکو هم يو اصل وو چي هغوئ به د هغه څخه ښځه په زور اخيستل کم کول، دوهم دا که هغه جابر حاکم که دومره ظالم وای نو هغه ته ددې خبري سره څه کار وو چي يوه ښځه د يو چا خور وي يا ښځه؟ ددې جواب دادی چي دهغه جابر حاکم يو خاص عادت وو چي هغه به د چا څخه خور په زور نه اخيستل، ددې څخه پرته هغه حاکم د مذهب په اعتبار آتش پرست وو او په آتش پرستو کي د خور او ورور د قرابت يو خاص ارزښت وو، تر دې چي لوی اتش پرست به هم پر خور بد نظر نه سو کولای او د خپل دغه مذهبي اصولو احترام به يې کاوه چي کومه خور د خپل ورور په توليت او کفالت کي وه يا کومه ښځه چي يو سړي خپله خور ګرځولې وه هغه په هر لحاظ خوندي او مامون ده، او د هغه د ورور د هغه په اړه ټول حق او اختيار درلودی، نو حضرت ابراهيم عليه السلام وغوښتل چي د هغه د دين مرسته واخلي او بي بي ساره رضي الله عنها د هغه ظالم د منګولو څخه د ساتني لپاره داسي خبره وکړي چي بالکل د حقيقت خلاف هم نه وي او هغه ظالم هم د خپلي خرابي ارادې څخه منع سي ،

دا بېله خبره ده چي پر هغه ظالم باندي د شيطات گرفت دومره سخت وو چي هغه نه خو د خپل دين د اصولو احترام وكړ او نه د خپلو خلكو د روايت او عادت لحاظ يې وكړ د بي بي سارې رضي الله عنها د خپل هوس گرځولو هڅه يې وكړه.

حضرت ابراهيم عليه السلام د لمانځه كولو لپاره ودرېدى يعني هغه بي بي ساره رضي الله عنها هغه حاكم ته په لېږلو سره خپل لمونځ كوى او د الله جل جلاله په دربار كي د عرض او مناجات كولو لپاره ودرېدى چي خپل پروردگار ته التجاء وكړي او د هغه قدرت كامله د بي بي ساره رضي الله عنها عزت وساتي او هغې ته د دغه سختي پرېشانۍ څخه خلاصون وركړي، او د الله جل جلاله د مقربو بندگانو دا عادت دى چي كله هغوئ ته يو پرېشاني ورسېږي او هغوئ په غم او مصيبت كي اخته سي نو لمونځ كول پيل كړي او د هغوئ د غه عمل د قرآن كريم د دغه آيت په سبب وي :

يَا أَيُّهَا الَّذِينَ آمَنُواْ اسْتَعِينُواْ بِالصَّبْرِ وَالصَّلاَةِ .

ژباړه: اې مؤمنانو ! د صبر او لمانځه په ذريعه د الله جل جلاله څخه مرسته وغواړئ .

د رسول الله صلى الله عليه وسلم هم دا عادت وو لكه چي په يو حديث كي راغلي دي: اذا جزبه امر صلى، كله چي به يو ستونزه رامنځته سوه نو رسول الله صلى الله عليه وسلم به لمونځ كول پيل كړ .

په (ذهب يتناولها بيده فاخذ) كي د اخذ لفظ په تخفيف سره مجهول صيغه ده ، د دغه لفظ په وضاحت كي درې قوله دي، يو دا چي كله هغه ظالم د خپلي خرابي ارادې سره بي بي ساره رضي الله عنها په خپل قبضه كي راوستل وغوښتل نو الله جل جلاله د بي بي ساره رضي الله عنها داسي مرسته وكړل چي هغه ظالم يې د خپلي خرابي ارادې څخه منع كړ، دوهم دا چي هغه ظالم د خپلي بدي ارادې په بدله كي سمدستي ونيول سو او پر هغه باندي الهي عذاب نازل سو ، دريم قول دا دى چي څرنگه هغه بي بي ساره رضي الله عنها ته لاس اچول غوښتل نو هغه بې هوشه سو ، څرگنده دي وي چي په يوه روايت كي اخذ د تاخيذ څخه په تشديد سره هم نقل سوى دى چي د هغه معنى ده په چا جادو كول يعني د سحر او جادو په ذريعه د هغه زړه او دماغ داسي تړل چي هغه حيران او پريشانه سي .

بيا هغه د بي بي ساره رضي الله عنها د خدمت لپاره هاجره مينځه وركړل، مطلب دا چي هغه حاكم د بي بي ساره رضي الله عنها د بزرگۍ داسي مشاهده وكړه او پوه سو چي دا يو غير معمولي ښځه نه ده بلكه د خپل الله جل جلاله په نزد ډېره لوړه او دكمال درجې تقرب لري نو هغه نه يوازي دا چي په ډېر خوف او دهشت سره ستنه كړل بلكه د هغې د خدمت لپاره يې يوه مينځه هم هغې ته وركړل چي د هغې نوم هاجره يا اجره وو او مشهور هاجره دى، د بي بي سارې رضي الله عنها د نس څخه د حضرت

ابراهيم عليه السلام اولاد نه وو ، نو بي بي ساره رضي الله عنها د حضرت ابراهيم عليه السلام په خدمت كي بي بي هاجره عليها السلام وړاندي كړه او هغې وويل: زه اميد لرم چي ددې د نس څخه ستاسو ماشوم وسي، په هغه ورځو كي د حضرت ابراهيم عليه السلام عمر سل كاله وو، بيا الله جل جلاله د بي بي هاجرې رضي الله عنها د نس څخه حضرت ابراهيم عليه السلام ته يو زوى حضرت اسماعيل عليه السلام وركړ او په پاى كي د بي بي ساره عليها السلام حضرت اسحاق عليه السلام پيدا سو .

اې د آسمان د اوبو زامنو !، دا د حضرت اسماعيل عليه السلام اولادې يعني عربو ته خطاب دى او د حضرت ابو هريره رضي الله عنه د اهل عرب د آسمان په اوبو سره تعبير كول د هغوئ د نسلي او نسبي شرف او عظمت په وجه وو ځكه چي د آسمان اوبه د پاكى لپاره مثال دى لكه چي ويل كيږي: فلانى سړى د آسمان تر اوبو زيات پاک دى، ځينو حضرات وايي چي عربو ته د بني ماء السماء ويل ددې لپاره دي چي هغوئ به د باران په انتظار وه ، چيري چي به باران كېدى هلته به اوسېدل، ځينو ويلي دي چي د بني ماء السماء څخه مراد انصار مراد دي ځكه چي هغوئ د عامر بن حارثه ازدي اولاد دي چي د نعمان بن منذر نيكه وو، او د هغه لقب ماء السماء وو، او دا لقب يې په دې وجه مشهور سوى وو چي ددغه قوم خلكو به د هغه په وسيلې سره باران غوښتى او يو قول دا هم دى چي د ماء السماء څخه مراد زمزم دى او حضرت ابو هريره رضي الله عنه د بني ماء السماء په ذريعه دې ته اشاره وكړل چي د زمزم چينه د حضرت اسماعيل عليه السلام په وجه ښكاره سوې ده ، د هغه اوبه د آسمان څخه مځكي ته راغلي دي او دا چي د مځكي څخه هم ګټي او فيضونه تر لاسه كيږي هغه ټول صانع حقيقي الله جل جلاله د آسمان څخه راليږي، دا وضاحت هم ضروري دى چي ټول عرب د بي بي هاجرې رضي الله عنها د نس سره تعلق نه لري مګر په هغوئ كي زيات د حضرت اسماعيل عليه السلام د اولادې څخه دي ځكه د اكثر او اغلب په اعتبار ټول عرب په بني ماء السماء سره مخاطب كړل سول .

د حضرت ابراهيم عليه السلام ، حضرت لوط عليه السلام او حضرت يوسف عليه السلام واقعې

﴿۵۴۶۱﴾: وَعَنْهُ قَالَ قَالَ رَسُولُ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ نَحْنُ أَحَقُّ بِالشَّكِّ

د حضرت ابو هريره رضي الله عنه څخه روايت دئ چي رسول الله صلى الله عليه وسلم وفرمايل : موږ زيات د شک وړ يو ، د

مِنْ إِبْرَاهِيمَ إِذْ قَالَ رَبِّ أَرِنِي كَيْفَ تُحْيِي الْمَوْتَىٰ وَيَرْحَمُ اللّٰهُ لُوطًا لَقَدْ كَانَ

ابراهيم عليه السلام څخه هر كله چي هغه دا ويلي وه چي (رب ارني كيف تحي الموتى) ،(اې

پروردګاره! ما ته وښيه چي ته مړي څنګه ژوندي کوې)، الله تعالى دي پر لوط رحم وکړي هغه خو هسي هم د يو مضبوط ذات په پناه کي وو (يعني هر کله چي خلکو د لوط ميلمانه تنګول پيل کړل نو هغه دا آرزو وکړل چي کاش زما سره داسي يو مضبوط ډله وای چي د هغه په مرسته

يَأْوِي إِلَى رُكْنٍ شَدِيدٍ وَلَوْ لَبِثْتُ فِي السِّجْنِ طُولَ مَا لَبِثَ يُوسُفُ لَأَجَبْتُ الدَّاعِيَ. متفق عليه

ما د دغه خلکو دفع کولای سوای)، او رسول الله ﷺ وفرمايل: که زه په بندي خانه کي تر دومره اوږده وخت پوري وای څومره چي يوسف عليه السلام پاته سوی وو نو ما به د بلونکي دعوت قبول کړی وای. بخاري او مسلم.

تخريج: صحيح البخاري (فتح الباري): ٦\٤١٠، رقم: ۳۳۷۲، ومسلم ۴\۱۸۳۹، رقم: ۱۵۲– ۱۵۱.

تشريح: (وَإِذْ قَالَ إِبْرَاهِيمُ رَبِّ أَرِنِي كَيْفَ تُحْيِي الْمَوْتَى قَالَ أَوَلَمْ تُؤْمِن قَالَ بَلَى وَلَكِن لِيَطْمَئِنَّ قَلْبِي).
ژباړه: او هغه وخت د يادوني وړ دی چي کله ابراهيم عليه السلام وويل: اې زما پروردګاره! ما ته وښيه چي ته مړي څرنګه ژوندي کوې؟ ورته وويل سول: ايا ته يقين نه لرې؟ ابراهيم عليه السلام وويل: ولي نه، مګر ددې لپاره چي زړه ته مي نور اطمينان تر لاسه سي.

په دې اړه رسول الله ﷺ وفرمايل: موږ تر حضرت ابراهيم عليه السلام زيات د شک کولو وړ يو، ددې وضاحت دادی چي کله ذکر سوی آيت نازل سو نو په صحابه کرامو کي ځينو حضراتو وويل چي دغه شک ابراهيم عليه السلام ته وسو زموږ رسول الله ﷺ دا ډول شک څرګند نه کړ، رسول الله ﷺ چي دا واورېدل نو وه يې فرمايل: موږ د حضرت ابراهيم عليه السلام څخه زيات د شک کولو وړ يو. د رسول الله ﷺ ددغه ارشاد د ظاهر څخه دا مفهوم اخيستل کيږي چي رسول الله ﷺ نه يوازي د حضرت ابراهيم عليه السلام لپاره بلکه د خپل ځان لپاره هم د ذکر سوي شک اثبات وکړ، حال دا چي د دواړو په داسي شک کي لوېدل امر محال دی، ځکه چي انبياء عليهم السلام د ايمان او ايقان اولين مظهر بلکه اصل بنياد وي او دهغوئ وجود د طمانيت او عرفان چينه ده، په فطري توګه د شک او تردد څخه خوندي او مامون دي، په هغوئ کي د عدم ايقان او شک وجود هيڅ معنی نه لري نو د ذکر سوي ارشاد څخه د رسول الله ﷺ مراد هغه نه دی چي د هغه تقاضا د ظاهر څخه کيږي بلکه د رسول الله ﷺ اصل مراد دادی چي ددغه آيت کريمه څخه دا ګڼل پکار نه دي چي حضرت ابراهيم عليه السلام خپل پروردګار ته کوم خواست وکړ او هغه تحريک د احيا موتی

په وقوع کي څه شک او شبه وه، پر واقع کېدو باندي د هغه پوره ایمان او یقین وو، هغه یوازي د عرفان او کمال په مرتبو کي د پرمختګ غوښتونکی وو،

د عین الیقین وړاندي د علم الیقین درجې ته د رسېدو غوښتونکی وو چي هغه یې په اطمینان قلبي سره تعبیر کړ یعني د هغوئ مدعا دا وه چي د احیاء موتی پر وقوع باندي د ایمان تر درجې پوري یقین اوس هم حاصل دی، یوازي دا غواړم چي مشاهده هم راته تر لاسه سي چي د اطمینان قلب په دولت کي زیاتوب وسي، نو صحابهٔ کرامو ته ددغه خبري د څرګندولو لپاره رسول الله ﷺ دا بیان اختیار کړ چي وګورئ! که شک او تردد په حضرت ابراهیم ؑ کي لار پیدا کړل نو یقینا په موږ کي به یې هم لار پیدا کړې وای او تاسو په دې پوهیږئ چي په موږ کي د شک او تردد هیڅ هم نسته، نو پوه سئ چي حضرت ابراهیم ؑ هم زموږ په ډول د کمال ایقان او عرفان پر درجه باندي فائز وو او دهغه په زړه او دماغ کي هم د هیڅ شک او تردد لاره نه وه، د حضرت ابراهیم ؑ د ذکر سوي غوښتني په اړه یو قول دا هم دی چي کوم وخت حضرت ابراهیم ؑ د خپل وخت د پاچا نمرود او د قوم د خلکو په زړه او دماغ کي د الله واحد د یقین پیدا کولو دغه دلیل وړاندي کړ چي زما رب هغه دی چي ژوند او مرګ ورکوي نو په دغه وخت کي هغه د خپل پروردګار په حضور کي دا خواست وکړ چي د هغه وړاندي سوي دلیل ټول وویني، په هر حال د رسول الله ﷺ د ذکر سوي ارشاد بین السطور څخه د رسول الله ﷺ پر ذات باندي د حضرت ابراهیم ؑ د فضیلت او غوره والي اظهار کیږي حال دا چي د رسول الله ﷺ تر ټولو انبیاؤو افضل کېدل ثابت سوي دي، دا د بحث وړ خبره ده، ددغه سوال لیري کولو لپاره د حدیث شرح کوونکو لیکلي دي چي رسول الله ﷺ د حضرت ابراهیم ؑ په اړه دلته فرمایلي دي هغه د انکسار او تواضع په توګه دي، یا دا چي د رسول الله ﷺ دغه ارشاد د وحي نازلېدو څخه مخکي دي چي رسول الله ﷺ د آدم ؑ د اولادې سردار او تر ټولو افضل دی، دا توجیه د هغه حدیث ده چي د رسول الله ﷺ د عدم افضیلت مفهوم ظاهروي.

چي د رکن شدید مرسته یې غوښتل، رکن په اصل کي د یو شي ټینګي غاړي او ټینګي ستني ته وایي، دلته د رکن شدید څخه مراد د ټینګو او توانا خلکو ډله مراد ده، د حدیث په دغه جمله کي د حضرت لوط ؑ په اړه چي کومي خبري ذکر سوي دي د هغه تفصیل دا دی چي کله د لوط ؑ قوم په بد عملی، سرکښی، بې حیایي او خبیثو اخلاقو یعني د نابالغ هلکانو سره په اختلاط کي د حد څخه تجاوز وکړ او د حضرت لوط ؑ د امر بالمعروف او نهي عن المنکر پر هغوئ اثر ونه سو نو په پای کي د الله ﷻ له خوا د هغوئ د سزا او هلاکت فیصله

وسوه، نو د عذاب ملائکي د لوط علیه السلام په قوم کي کښته سوې او د خلکو په شکل کي د حضرت لوط علیه السلام میلمنې سوې، دغه ملائکي ډیري ښکلي او په عمر کي د ښکلو هلکانو په شکل کي وې، کله چي حضرت لوط علیه السلام هغه میلمانه ولیدل نو په بېره کي سو چي دغه بدبخت قوم به زما د میلمنو سره څه کوي، تر هغه وخته حضرت لوط علیه السلام ته دا نه وه ښودل سوې ده چي د اد الله جل جلاله پاکي ملائکي دي او د دغه بدبخت قوم دپاره د عذاب الهي په فیصله کولو سره راغلي دي.

حضرت لوط علیه السلام په دغه پریشاني کي وو چي د قوم خلک خبر سول او په دغه غوښتنه سره د حضرت لوط علیه السلام کور ته راغلل چي دغه میلمانه موږ ته را وسپاره، حضرت لوط علیه السلام هغه خلک پوه کړل د هغوئ پر بد اخلاقۍ یې هغوئ ته پیغور او غیرت ورکړ او هڅه یې وکړل چي دغه بدبختان د پاکو میلمنو د خراب نیت او ارادې څخه منع سي، بیا کله چي هغه ولیدل چي د هغه خلکو پر تورو زړو باندي هیڅ اثر نه کیږي او ټول د هغه میلمنو په اړه پر بداخلاقۍ باندي ټینګ دي نو په پریشانه کېدو سره یې وفرمایل:

لَوْ أَنَّ لِي بِكُمْ قُوَّةً أَوْ آوِي إِلَى رُكْنٍ شَدِيدٍ

ارمان چي ستاسو په مقابل کي ما ته ذاتي طاقت تر لاسه وای یاد طاقتورو ملګرو په صورت کي یوه ټینګه ډله وای چي په هغه سره مي نیولي وای او دغه میلمانه مي ستاسو د شر څخه خوندي کړي وای.

نو رسول الله ﷺ د حضرت لوط علیه السلام دغه افسوس ته په اشاره کولو سره وفرمایل: الله جل جلاله دي پر لوط علیه السلام رحم وکړي چي هغه د انساني طاقت او قوت مرسته غوښتل حال دا چي اصل مرسته د الله جل جلاله د قدرت او طاقت او دهغه د ساتني ده، چي د عربو د کلام دا خاص طرز دی چي کله هغوئ د یو سړي د داسي قول او فعل ذکر کوي چي د تقصیر سره تعلق لري یا هغه لره هغه کار او خبره کول نه وي پکار نو وایي چي الله جل جلاله دي پر هغه سړي رحم وکړي، یا الله جل جلاله دي هغه سړی معاف کړي چي هغه داسي کار وکړ، یا داسي خبره یې وکړل، نو دا سوال پیدا کیږي چي رسول الله ﷺ د ذکر سوي ارشاد په ذریعه ایا دې ته اشاره وفرمایل چي نعوذ بالله، حضرت لوط علیه السلام د الله جل جلاله پر قدرت باور نه درلودی چي د یو رکن شدید پناه یې غوښتل؟

ددې جواب دادی چي هیڅکله نه، ځکه چي داسي ګڼل نه یوازي دا چي د ښېښي خلاف دي بلکه د انبیاء علیهم السلام د ادب خلاف هم دي، او کوم چي د حضرت لوط علیه السلام د رکن شدید د پناه غوښتلو سوال دی نو حضرت لوط علیه السلام د الله جل جلاله په هېرولو سره د بل چا د پناه طالب نه وو

بلکه حقیقت دادی چي هغه وخت د خپل قوم د بدي ارادې په لېدو سره دومره پرېشانه وو چي په طبعي توګه يې دا غوښتنه وکړه چي ارمان! الله ﷻ زما مرسته کړې وای او دومره قوت يې راکړی وای چي ما دغه وخت دغه بدبختو ته سزا ورکړې وای ، نو پروردګار يې مرسته وکړه او هغه ملائکي چي د کم عمره ميلمنو په شکل کي هغوئ ته راغلي وې خپل راز يې ځرګند کړ او ډاډ يې ورکړ چي تاسو مه پرېشانه کېږئ ، ډېر وخت به نه وي تېر سوی چي دغه بدبختو ته به د خپلي بدعملۍ عبرتناکه سزا ورکړل سي، پاته سوه د رسول الله ﷺ خبره ، چي رسول الله ﷺ عام خلک د غيبت او بدويني څخه منع کول که هغه ژوندي وي يا مړه سوي وي نو دا تصور ځرنګه کيدای سي چي رسول الله ﷺ دي د يو نبي (لوط ؑ) په اړه داسي خبري وکړي چي د هغه د رتبې او درجې کمولو يا د هغه د کم همتۍ د اظهار موهم وي نو د رسول الله ﷺ د ارشاد مراد دا ځرګندول دي چي حضرت لوط ؑ يو انسان وو او په داسي نازک وخت کي د هغه د بشري جبلت تقاضا دا سوه چي هغه پر بدو خلکو باندي د خوند څکلو لپاره د طاقتورو خلکو د مرستي متمني وي او د حضرت لوط ؑ په دغه عمل کي زموږ لپاره دا جواز موجود دی چي په داسي وخت کي موږ په عالم اسباب سره د تعلق لرلو په وجه مادي او دنياوي وسائل او ذرائعو څخه مرسته اخيستلای سو ، سره ددې چي په هر حالت کي زموږ اصل باور پر رب الارباب باندي وي ، او زموږ حقيقي مرسته د هغه مرسته او نصرت منو ، اوس يوه خبره بله پاته کېږي چي رسول الله ﷺ د خپل ارشاد پيل د يرحم الله ، په الفاظو سره ولي وکړ؟ نو حقيقت دادی چي رسول الله ﷺ دغه الفاظ ځکه وفرمايل چي هيڅوک د حضرت لوط ؑ دغه پېښه پر کسر شان باندي محمول نه کړي او په دې وهم کي اخته نه سي چي هغه د رکن شديد د مرستي په پلټنه کي وو ، او په دې سره د هغه د درجې او مرتبې تنقيص وسي، يا ددې په وجه د هغه پر ذات باندي اعتراض وکړل سي ، د کلام په پيل کي د داسي الفاظو استعمالول محض د دعاء او تعظيم په وجه وي لکه ځرنګه چي د قرآن کريم په دغه آيت کي رسول الله ﷺ مخاطب سوی دی : (عفا الله عنک لم اذنت لهم) الله ﷻ دي تا ته عفوه وکړي، تاسو دوئ ته ولي اجازه ورکړې وه ۰

او که زه په بنديخانه کي تر دومره اوږده وخت پوري ....الخ: د حديث د دغه جملې تعلق د حضرت يوسف ؑ په مدح او تعريف کي دی چي په هغه کي د هغه يو خاص پېښي ته په اشاره کولو سره د هغه د صبر او ثبات ځرګندونه سوې ده، د دغه پېښي تفصيل داد يچي کله حضرت يوسف ؑ د مصر پاچا د يو غلام په توګه رانيوی او خپل کور ته يې راوست نو د هغه سره يې د غلامانو په ډول معامله ونه کړل بلکه د خپل اولاد په ډول عزت او احترام يې وکړ او د کورني

ژوند ټولي ذمه داري يې هغه ته وسپارلې، حضرت يوسف عليه السلام ځوان وو، د ښکلي او ښه صورت خاوند وو، بلي خوا ته دا چي د هر وخت ملګرتيا د مصر د پاچا ښځي پر خپل زړه واک تر لاسه نه کړاو پر يوسف عليه السلام د پتنګ په ډول قربانېدل، مګر حضرت يوسف عليه السلام چي د نبوت لپاره ټاکل سوی وو، د هغه څخه هيڅکله دا امکان نه وو چي په بدکاری کي په اخته کېدو سره د مصر د پاچا د ښځي بده اراده پوره کړي، هغه ښځي په پيل کي د خپل ښکلا او ښووني په ذريعه په خپل جال کي راوستل غوښتل مګر کله چي کاميابه نه سوه نو بيا يې د زور څخه کار اخيستل پيل کړل مګر الله جل جلاله، حضرت يوسف عليه السلام د هغې د منګلو څخه وژغوری، بيا د هغه ښځي د ناکام عشق راز د هغې خاوند ته هم ښرګند سو مګر د حقيقت څخه د خبرتيا وروسته د حضرت يوسف عليه السلام تعريف يې وکړ او خپله ښځه يې پوهه کړل، او د رسوايي څخه د ساتني لپاره يې خبره پټه کړل، مګر خبره پټه نه سوه، د شاهي کورنۍ ښځو ورپسي خبري کول پيل کړل او د مصر د پاچا ښځه د خپلو همزولو په مخکي د پېغور نښه سول، د دغه حال په رامنځته کېدو ره هغې فيصله وکړل چي پېغور ويونکو ښځو ته داسي سبق ورکړل سي چي هغوئ په ما پسي مه خبره کوي په هغه کي خپله اخته سي، نو يوه ورځ هغې د شاهي کورنۍ او د ښار د مشرانو ښځو ته بلنه ورکړل او کله چي ټولو ښځو پر دسترخوان باندي په ناستي سره د خوراک کولو لپاره چاړې په لاس کي واخيستلې نو د مصر د پاچا ښځي حضرت يوسف عليه السلام ته حکم وکړ چي دباندي راووځي، هغه د مالکي د حکم په اورېدو سره دباندي راووتی او کله چي ښځو د يوسف رحمة الله عليه ښکلا وليدل نو دومره متاثري سوې چي د شيانو د پرې کولو پر ځای يې خپل ګوتي پرې کړې او د دې په لېدو سره د مصر دپاچا ښځه خوندي سول او په فخر يې وويل: دا هغه غلام دی چي دده د ميني په اړه تاسو په ماپسي خبري کوئ او پيغور راکوئ،

اوس وواياست چي زما مينه پر ځای ده که بې ځايه؟ د مصر د پاچا ښځي هغه وخت دا هم وويل: ښېله شکه ما ددغه زلمي زړه په خپل واک کي کول او دده زړه خپل د ميني په منګولو کي اخيستل غوښتل مګر هغه زما په واک کي نه راغلی، اوس زه دا وايم که ده زما خبره ونه منل نو د بندي خانې هواء به خوري او بې عزته به سي، معامله چي دغه حد ته ورسېدل نو د مصر پاچا سره ددې چي حضرت يوسف عليه السلام يې پاک ګڼی د خپلي ښځي د رسوايي په لېدو سره دا فيصله وکړل چي حضرت يوسف عليه السلام تر يو وخت پوري په بنديخانه کي واچوئ ترڅو چي دغه پېښه د خلکو د زړو څخه ووځي، نو حضرت يوسف عليه السلام په بندي خانه کي واچول سو او تر نهه کالو پوري په بنديخانه کي وو، تر دې چي د ځينو پېښو په نتيجه کي د مصر پاچا تر فرعون پوري د

هغه د بزرګۍ او عظمت قائل سول نو هغه د یوسف علیه السلام د ایله کولو حکم وکړ، مګر حضرت یوسف علیه السلام د بندیخانې څخه د راوتلو انکار وکړ او وه یې فرمایل: لومړی زما د پېښي پلټنه وکړئ چي کومو ښځو زما په لېدو سره خپلي ګوتي پرې کړې د هغوئ څخه زما د کړني او پاکۍ پلټنه وکړئ ترڅو چي د پېښي اصلي نیتجه څرګنده نه سي او زما بې ګناهي او پاک کېدل په پوره توګه ثابت نه سي زما د نفس عزت د بندیخانې څخه راوتل نه خوښوي، رسول الله ﷺ فرمایي: که د یوسف علیه السلام پر ځای زه وای او تر دومره اوږده وخت پوري په بندیخانه کي وای نو د خلاصون د خبر په اورېدو سره به مي هغه قبول کړی وای او د بندیخانې څخه په راوتلو کي به مي توقف نه وای کړی او نه به مي ددې خبري غوښتنه کړې وای چي د پېښي پوره پلټنه دي وکړل سي او نه به مي ددغه پلټني په نتیجې سره خپل خلاصون مشروط کړی وای، دا د رسول الله ﷺ له خوا د تعریف او تحسین او د هغه د صبر او ثبات اظهار او اعتراف دی چي په داسي صورت کي کله چي یو سړی تر ډېره وخته په بندیخانه کي وي او د هغه ځای په تکلیفو اخته وي او بیا د هغه د خلاصون خبر ارسي نو هغه سړی د خپل نفس د عزت له کبله هغه خبر رد کړي او د بندیخانې څخه د راوتلو انکار وکړي ترڅو چي هغه بالکل بې داغه او بې ګناه ونه ګرځول سي، دا د صبر او استقامت یو داسي مثال دی چي د بل چا په اره ددې تصور نه سي کیدای دا یوازي د حضرت یوسف علیه السلام کمال وو چي هغه د بې مثله کردار ثبوت ورکړ، مګر څرګنده دي وي چي رسول الله ﷺ د حضرت یوسف علیه السلام ددغه کړني او استقامت ذکر په کوم انداز کي وکړ هغه پر تواضع او انکساری محمول دی، کنه نو د رسول الله ﷺ ذات د صبر او استقامت یو داسي مثال وو چي نه یوازي د حضرت یوسف علیه السلام پر دغه صبر او استقامت باندي بلکه د رسول الله ﷺ دغه وصف پر ټولو اولو العزمو انبیاء علیهم السلام باندي لوړ دی.

حضرت موسی علیه السلام او د بني اسرائیلو ایذا

﴿۵۴۶۲﴾: وَعَنْهُ قَالَ قَالَ رَسُولُ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ إِنَّ مُوسَى كَانَ

د حضرت ابوهریره رضی الله عنه څخه روایت دئ چي رسول الله ﷺ وفرمایل: موسی علیه السلام یو ډېر شرم

رَجُلًا حَيِيًّا سِتِّيرًا لَا يُرَى مِنْ جِلْدِهِ شَيْءٌ اسْتِحْيَاءً فَآذَاهُ مَنْ آذَاهُ مِنْ بَنِي

ناک او پرده دار سړی وو، دومره حیادار چي د هغه د بدن او پوست هیڅ برخه به نه ښکاره کیدل

إِسْرَائِيلَ فَقَالُوا مَا يَسْتَتِرُ هٰذَا التَّسَتُّرَ إِلَّا مِنْ عَيْبٍ بِجِلْدِهِ إِمَّا بَرَصٌ وَإِمَّا

نو د بني اسرائيلو ځينو خلکو هغه ته د تکليف رسولو اراده وکړل او دا خبري يې پيل کړې چي موسى عليه السلام خپل بدن په دومره احتياط سره يوازي په دې وجه پټ ساتي چي د هغه په بدن کي يو عيب دی، يا خو برص دی يا

أُدْرَةٌ وَإِنَّ اللّٰهَ أَرَادَ أَنْ يُبَرِّئَهُ فَخَلَا يَوْمًا وَحْدَهُ ليغتسل فَوَضَعَ ثوبَهُ عَلَى

خصي دی، الله تعالى اراده وکړه چي کوم عيب د موسى عليه السلام لګول سوی دی د هغه څخه دی پاک او صفا ښکاره کړي نو يوه ورځ موسى عليه السلام په يوازي ځای کي د لمبيدو لپاره جامې وکښېښو او

الْحَجَرِ ففر الحجر بثوبه فجمع موسى في اثره يقول ثوبي ياحجر ثوبي يا

پر يوه ډبره يې کښېښودلې، ډبره د هغه جامو سره وتښتېدل، موسى عليه السلام په هغه ډبري پسي په دې ويلو سره ورو ځغاستی اې ډبري ! زما جامې راکړه، اې

حجر حَتَّى انْتَهَى إِلَى مَلَإٍ مِنْ بَنِي إِسْرَائِيلَ فَرَأَوْهُ عُرْيَانًا أَحْسَنَ مَا خَلَقَ

ډبري زما جامې راکړه تر دې چي موسى عليه السلام په منډه منډه کي د بني اسرائيلو يو ډلې ته ورسيدی هغه ډلې د موسى عليه السلام لوڅ بدن وليدی او د الله تعالى په مخلوق کي يې

اللّٰهُ وقالوا والله ما بموسى من باس واخذ ثوبه فَطَفِقَ بِالْحَجَرِ ضَرْبًا فَوَاللّٰهِ إِنَّ بِالْحَجَرِ لَنَدَبًا مِنْ أَثَرِ ضَرْبِهِ ثَلَاثًا أَوْ أَرْبَعًا أَوْ خَمْسًا. متفق عليه.

موسى عليه السلام د يو غوره وجود انسان وليدی، او ټولو په اتفاق سره دا وويل قسم په خدای موسى عليه السلام کي هيڅ عيب نسته، آخر موسى جامې واخيستې او هغه ډبره يې په لکړه وهل پيل کړل، قسم په خدای پر هغه ډبري د موسى عليه السلام د وهلو علامې موجودي دي درې، يا څلور يا پنځه. بخاري او مسلم

تخريج: صحيح البخاري (فتح الباري): ۱۱\۴۵۸، رقم: ۲۷۸. ومسلم ۴\۱۸۴۲، رقم: ۱۵۶- ۲۳۷۱.

د لغاتو حل: ادرة: نفخة بالخصية.

تشريح: بني اسرائيلو خپل پيغمبر، حضرت موسى عليه السلام ته څومره سخت تکليفونه رسول، ددې اندازه په دغه حديث کي د ذکر سوي پېښي څخه کيدای سي، د بت پرستی غوښتنه، د ګيلګي عبادت کول، د تورات قبلولو څخه انکار، په مقدسه مځکه کي د داخلېدو څخه انکار، پر من او سلوی باندي ناشکري چي د هغوئ پر ذات بهتان او تهمت ويل داسي کوم قولي او

فعلي تکليف وو چي دهغوئ له خوا حضرت موسی علیه السلام ته نه وو رسېدلی، د حضرت موسی علیه السلام اولو العزمي او دهغه د صبر او استقامت کمال وِو چي هغه دخپل قوم هر تکليف وزغمی او دخپل الله جل جلاله له لوري د رشد او هدايت په پيغام کي د بوختيا جذبه يې يخېدو ته نه پرېښود، او دا د الله جل جلاله پر هغه انعام وو چي پر هر پړاو باندي د هغه قوم په مقابله کي هغه ته عزت ورکول کېدی، کله چي بدبخت قوم د هغه د شرم، حياء او تحسين پر ځای د هغه د عيب داره کولو هڅه وکړه او په پوره قوت سره يې دا مشهوره کړل چي موسی علیه السلام خپل بدن دومره زيات پټوي او دخپل بدن پر هغه برخو باندي هم نظر کول نه غواړي کوم چي په ستر کي نه دي، تر دې چي د تولو څخه پټ لمبېږي نو ددې وجه داده چي د هغه پر بدن د پيس داغونه دي يا د هغه خوټي پړسېدلي دي يا يو بله ناروغي ور پېښه ده، نو الله جل جلاله اراده وفرمايل چي دموسی علیه السلام د بې عيبه بدن عامه ليدنه وکړي چي په خپلو سترګو سره ووينی او يو رسوا کونکي شاهدي بې بنياده ثابته سي، همدارنګه د ډبري د جامو وړلو پېښه رامنځته سوه چي د هغه په حديث کي يادونه ده، ددې څخه ثرګنده سول چي الله جل جلاله د مخلوق هدايت او ددينې خدمت په لاره کي د خپلو پاکو بندګانو د هر هغه عيب او نقصان څخه پاک ثابتوي چي د هغوئ مخالفان او ناپوهان خلک يې هغوئ ته په منسوب کولو سره پر هغوئ باندي وايي، او الله جل جلاله د خپلو مخلصو بندګانو سره دغه خاص معامله ځکه کوي،چي د عامو خلکو په نظر کي هغه معزز او مکرم وي او دهغوئ شخصي وجاهت او ذات د ګرد او غبار څخه پاک وي.

د وهلو په وجه پر هغه ډبري نښي ولګېدلې...الخ: يعني کله چي هغه ډبري د موسی علیه السلام جامې وتښتولې نو پر هغه باندي ددغه ناڅاپه پېښي داسي اثر وسو چي هغه په غصه کي پر هغه ډبري باندي وار کول پيل کړل او کله چي به د هغه وار پر ډبري ولګېدی نو پر هغه باندي به يوه نښه جوړه سول، همدارنګه څو واري چي هغه وکړل هغومره نښي پر ډبري باندي جوړي سوې، او ځينو حضراتو دا ويلي دي چي کله حضرت موسی علیه السلام په بېړه او غصه کي په هغه ډبري پسي وځغاستی او په پای کي هغه ډبره د بني اسرائيلو د يوې ټولۍ په وړاندي ودرېدل نو حضرت موسی علیه السلام ته د الله جل جلاله له خوا حکم وسو چي دغه ډبره پورته کړه او د ځان سره يې کېښېږده، نو دغه ډبره د هغه سره وه او کله چي هغه د بني اسرائيلو سره مېدان ته ورسېدی نو هغه وخت يې پر هغه ډبره باندي په خپله لکړه سره وار وکړ نو د هغه ډبري څخه دوولس چينې وبهېدلې، ددغه وينا خلاصه داده چي په قرآن کريم کي د حضرت موسی علیه السلام دا معجزه بيان سوې ده چي کله بني اسرائيل د سينا دښت ته په رسېدو سره په بېړه کي سول چي په دغه دښت کي به او به چيري وي او

بیا حضرت موسی علیہ السلام د الله جل جلاله په حکم سره په خپله لکړه یو پاڼ ووهی نو د هغه په نتیجه کي سمدستي دوولس چینې وبهېدلې او د بني اسرائیلو د دوولس قبېلو لپاره بېلي بېلي چینې رواني سوې نو ددغه پاڼ څخه مراد هغه ډبره ده چي د حضرت موسی علیہ السلام د جامو سره تښتېدلې وه او حضرت موسی علیہ السلام د الله جل جلاله د حکم سره سم هغه د خپل ځان سره ساتلې وه،

په هر حال د حدیث څخه د حضرت موسی علیہ السلام دوې معجزې ثابتي سوې، یو دا چي د بې جانه ډبري په حرکت کي راتلل او تښتېدل، دوهم د حضرت موسی علیہ السلام د لکړي په وهلو سره په هغه ډبري کي نښبه لګېدل او ددغه حدیث څخه دا هم څرګنده سول چي په پټ ځای کي په لوغ بدن سره لمبېدل جائز دي که څه هم په داسي ځای کي د ستر پټول افضل دي، او دا هم څرګنده سول چي د مخالفینو او ناپوهانو تکلیف پر انبیاء او اولیاء الله باندي اثر کوي او هغوئ تکلیف محسوس کوي مګر پر هغه تکلیف باندي صبر او استقامت کوي.

د حضرت ایوب علیہ السلام یوه واقعه

﴿۵۴۶۳﴾: وَعَنْهُ قَالَ قَالَ رَسُولُ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ بَيْنَا أَيُّوبُ يَغْتَسِلُ

د حضرت ابو هریره رضی الله عنه څخه روایت دئ چي رسول الله صلی الله علیه وسلم وفرمایل: حضرت ایوب علیه السلام

عُرْيَانًا فَخَرَّ عَلَيْهِ جَرَادٌ مِنْ ذَهَبٍ فَجَعَلَ أَيُّوبُ يَحْثِي فِي ثَوْبِهِ فَنَادَاهُ رَبُّهُ يَا

یو وار لوغ لمبیدی، چي د سرو زرو ملخان پر اوریدل، او ایوب علیه السلام هغه را ټولول او په کالو کي یې اچول، الله تعالی ورته وفرمایل:

أَيُّوبُ أَلَمْ أَكُنْ أَغْنَيْتُكَ عَمَّا تَرَى قَالَ بَلَى وَعِزَّتِكَ وَلَكِنْ لَا غِنَى بِي مِنْ بَرَكَتِكَ. رواه البخاري.

اې ایوبه! ایا ته مو ږ ددې څخه بې نیازه کړی نه یې، ایوب علیه السلام عرض وکړ هو، ستا په عزت دي مي قسم وي تا زه د سرو زرو څخه بې نیازه کړی یم مګر زه ستا د رحمت او برکت څخه بې نیازه نه یم. بخاري.

تخریج صحیح البخاري (فتح الباري): ۱۱\۳۸۷، رقم: ۲۷۹

تشریح لوغ لمبېدی، ددې څخه دا هم مراد کېدای سي چي د حضرت ایوب علیہ السلام پر بدن باندي د لونګ څخه پرته بله جامه نه وه او هغه لونګ تړلی لمبېدی، ددې تائید د مخکني عبارت

يحتٰى في ثوبه څخه هم كيږي، او دا هم كيداى سي چي هغه وخت په يو پټ ځاى كي بالكل لوڅ لمبېدى لكه چي د حضرت موسى عليه السلام په اړه په پټ ځاى كي لوڅ لمبېدل مذكور دي او ددې په شرعي جواز كي هيڅ قباحت هم نسته مګر رسول الله ﷺ دې ته اشاره وفرمايل چي د خپل پروردګار څخه د شرم او حياء له كبله په پټ ځاى كي هم ستر پټول افضل دي ، او رسول الله ﷺ چي د كوم مكارم او اخلاقو د تكميل لپاره دنيا ته تشريف راوړ د هغه تقاضا هم داده .

هغه د ملخانو په راټولولو سره په خپلو جامو كي اېښودل پيل كړل، په ظاهره دا معلوميږي چي حضرت ايوب عليه السلام د سرو زرو ملخان په يوه لاس سره يا په دواړو لاسو د كولو سره په لونګ كي راټول كوم چي هغه د لمبېدو لپاره تړلي وو ، ياد جامې څخه مراد هغه جامه ده چي هغه به د لمبېدو وروسته اغوستي وي او دا هم كيداى سي چي هغه جامه مراد وي چي تر هغه وخته يې نه وي اغوستي بلكه هغه ته نژدې پرته وي .

حضرت ايوب عليه السلام ته د الله جل جلاله ذكر سوى خطاب د ناراضي او عتاب په توګه نه وو بلكه د شفقت او ميني په توګه وو، چي كله ستا په كور كي دومره زيات سره زر و اوربېدل او ته يې شتمن كړې نو څه ضروري ده چي ته دغه ملخان په ټولولو سره په خپله جامه كي اېږدې نو حضرت ايوب عليه السلام جواب وركړ، بېله شكه تا زه دومره شتمن كړى يم او زما په كور كي دي دومره سره زر راكړي دي چي زه ددغه ملخانو په يو ځاى كولو كي اړتيا نه لرم مګر ستا په دربار كي د خپل عجز او اړتيا د اظهار لپاره ستا د رحمتونو د نوري غوښتني څخه بې نيازه كيداى هم نسم كه څه هم ته ما هر څومره شتمن كړې او پر ما دخپلو نعمتواو رحمتونو هر څومره باران وكړې ، ددې څخه څرګنده سوه چي د حضرت ايوب عليه السلام د ملخانو په پورته كولو كي خوښي ښودل د دنيا د حرص او طمع د زياتوب په وجه نه وو بلكه د الله جل جلاله د وركړل سوي نعمت څخه په ګټه اخيستلو او د شكر او احسان په وجه وو .

ملا علي قاري رحمة الله عليه ليكلي دي، ددغه حديث څخه څرګنده سول چي په جائز مال او شتمنى كي د زياتوب حرص د هغه چا په اړه روا دى چي د هغه پر خپل نفس باندي بآور وي چي هغه پر مال او دولت باندي د الله جل جلاله شكر ادا كولو كي كوتاهي نه كوي او هغه به په هغه مقاصدو او مصارفو كي استعمالوي چي په هغه سره الله جل جلاله راضي او خوشحاله كيږي .

نبي ﷺ ته پر هيڅ يو نبي فضيلت مه وركوئ

﴿۵۴۶۴﴾ : وَعَنْهُ قَالَ اسْتَبَّ رَجُلٌ مِنَ الْمُسْلِمِينَ وَرَجُلٌ مِنَ الْيَهُودِ فَقَالَ الْمُسْلِمُ

د حضرت ابو هريره رضي الله عنه څخه روايت دی چي يو مسلمان او يو يهودي يو تر بله ښکنځل سره وکړل ، مسلمان وويل

وَالَّذِي اصْطَفَى مُحَمَّدًا عَلَى الْعَالَمِينَ فَقَالَ الْيَهُودِيُّ وَالَّذِي اصْطَفَى مُوسَى عَلَى

قسم دی په هغه ذات چي محمد ﷺ يې د ټولي نړۍ خلکو باندي غوره کړی دی ، يهودي وويل قسم دی په هغه ذات چي موسی علیه السلام يې پر ټول دنيا غوره کړی دی ،

الْعَالَمِينَ فَرَفَعَ الْمُسْلِمُ يَدَهُ عِنْدَ ذَلِكَ فَلَطَمَ وَجْهَ الْيَهُودِيِّ فَذَهَبَ الْيَهُودِيُّ

مسلمان په دې خبره په غصه سو هغه يهودي يې پر مخ په چپلاخه ووهی ، يهودي د رسول الله

إِلَى النَّبِيِّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ فَأَخْبَرَهُ بِمَا كَانَ مِنْ أَمْرِهِ وَأَمْرِ الْمُسْلِمِ فَدَعَا

ﷺ په خدمت کي حاضر سو او واقعه يې بيان کړه ، نبي کريم ﷺ هغه مسلمان راوغوښتی او د

النَّبِيُّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ الْمُسْلِمَ فَسَأَلَهُ عَنْ ذَلِكَ فَأَخْبَرَهُ فَقَالَ النَّبِيُّ صَلَّى

هغه څخه يې د واقعې پوښتنه وکړه هغه د حال د حقيقت څخه رسول الله ﷺ خبر کړ ، د دواړو د بيانونو اوريدو سره رسول الله ﷺ وفرمايل :

اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ لَا تُخَيِّرُونِي عَلَى مُوسَى فَإِنَّ النَّاسَ يَصْعَقُونَ يَوْمَ الْقِيَامَةِ

ما ته پر موسی علیه السلام فضيلت مه راکوئ ځکه چي د قيامت په ورځ به (د شپيلۍ پوه کولو سره)

فَأَصْعَقُ مَعَهُمْ فَأَكُونُ أَوَّلَ مَنْ يُفِيقُ فَإِذَا مُوسَى بَاطِشٌ جَانِبَ الْعَرْشِ فَلَا

خلک بې هوشه سي زه به هم بې هوشه سم بيا د ټولو څخه لومړی سړی به زه يم چي په هوش کي به راسم زه به ووينم چي موسی علیه السلام به د عرش پايه نيولې ولاړ وي ،

أَدْرِي أَكَانَ فِيمَنْ صَعِقَ فَأَفَاقَ قَبْلِي أَوْ كَانَ فِي مَنْ اسْتَثْنَى اللَّهُ. وفي رواية فلا

زه نه سم ويلای چي دی په بې هوشه سوي کسانو کي وو او زما څخه مخکي په هوښ کي راغلی وو او که الله تعالی هغه د بې هوښي څخه خلاص کړی وو ، او په يوه روايت کي دا الفاظ

ادري احوسب بصعقه يوم الطور او بعث قبلي ولا اقول ان احدا افضل من

دي چي رسول الله ﷺ وفرمايل: زه نه سم ويلاى چي پر كوه طور باندي د موسى علیه السلام بې هوښه كيدل په نن ورځ كي شمير كړل سول يا بې هوښه سوى وو مگر زما څخه مخكي په هوښ كي راغلى وو، بيا رسول الله ﷺ وفرمايل زه دا هم نه سم ويلاى چي څوک تر

يونس بن متى وفي رواية ابي سعيد قال لا تخيروا بين الانبياء . متفق عليه وفي رواية ابي هريرة لاتفضلوا بين انبياء الله.

يونس بن متى غوره دى، او د ابوسعيد روايت كي دا الفاظ دي چي د انبياؤو په منځ كي يوه ته پر بل بهتروالى مه وركوئ. بخاري او مسلم او د ابوهريره په روايت كي دي چي د الله تعالى د انبياؤو په منځ كي چا ته فضيلت مه وركوئ.

تخريج: صحيح البخاري (فتح الباري): ۵\۷۰، رقم: ۲۴۱۱، ومسلم ۴\۱۸۴۴، رقم: ۱۶۰- ۲۳۷۳.

د لغاتو حل: باطش: اي قوي، والظاهر ان معناه آخذ.

تشريح: په قرآن كريم كي د حضرت موسى علیه السلام په اړه الله جل جلاله دا فرمايلي دي: اني اصطفيتک على الناس، يعني اې موسى! علیه السلام ما ته په ټولو خلكو كي تر ټولو غوره او افضل گرځولى يې نو ددې څخه مراد دادى چي الله جل جلاله، حضرت موسى علیه السلام د هغه زمانې په ټولو خلكو كي تر ټولو غوره گرځولى وو مگر هغه يهودې د حضرت موسى علیه السلام د بزرگۍ او افضيلت هغه مفهوم مطلق واخيست او دا دعوه يې وكړل چي حضرت موسى علیه السلام د هري زمانې تر ټولو خلكو افضل او غوره دى او همدارنگه هغه د حضرت محمد ﷺ د بزرگۍ او افضيلت څخه انكار وكړ او له دې كبله د هغه پر مخالفت مسلمان ته غصه راغلل نو هغه يې په چپلاخه وواهه.

يادا چي هغه به الله جل جلاله مستثنى گرځولى وي، مطلب دا چي الله جل جلاله په قرآن كريم كي فرمايلي دي چي كله د قيامت په ورځ شپيلۍ ووهل سي نو ټول آسمان او مځكي والا به بې هوشه سي پرته د هغه كسانو څخه چي الله جل جلاله يې بې هوشه كول نه غواړي (لكه ملائكي) نو كيداى سي چي څرنگه پر ملائكو باندي بې هوشي نه خپريږي همدارنگه الله جل جلاله، حضرت موسى علیه السلام هم د بې هوشۍ څخه مستثنى كړي وي، په هر حال رسول الله ﷺ د دواړو صورتونو په ذكر كولو سره دا څرگنده كړل چي په دواړو صورتو كي د حضرت موسى علیه السلام فضيلت ظاهريږي كه داسي وي چي د ټولو خلكو په ډول حضرت موسى علیه السلام هم بې هوشه سي نو زما په هوش كي راتلو وروسته د هغه داسي ليدل چي هغه د عرش پايه نيولى ولاړ وي، د اثابتوي چي

هغه به زما څخه مخکي په هوش کي راغلی وي ،

په دغه صورت کي پر ما باندي د هغه فضيلت بالکل ځرګنده خبره ده، او که دا خبره وي چي حضرت موسی ﷺ به په بې هوشه کېدونکو کي شامل نه وي او هغه به نه بې هوشه کیږي حال دا چي پر ما به بې هوشي راځي نو دا صورت هم د هغه فضيلت ظاهرونکی دی او کله چي دا ثابته سول چي په دې اړه حضرت موسی ﷺ ته پر ما باندي فضيلت حاصل دی نو بیا ما ته پر هغه د فضيلت راکولو څه معنی ده مګر دا خبره د رسول الله ﷺ پر انکساری باندي محمول کول پکار دي چي رسول الله ﷺ د خاکساری له موخي د حضرت موسی ﷺ فضيلت داسي ځرګند کړ ، کنه حقيقت دادی چي پر دې موقع باندي حضرت موسی ﷺ ته چي کوم شرف حاصل وي هغه زيات تر زيات د جزوي فضيلت نوعيت لري چي ددې خبري خلاف نه دی چي کلي فضيلت رسول الله ﷺ ته حاصل دی ، يوه خبره دا هم ويل کيدای سي چي د رسول الله ﷺ د ارشاد څخه دا ثابتيږي چي رسول الله ﷺ د حضرت موسی ﷺ څخه افضل نه دی نو دا دهغه وخت ارشاد دی کله چي هغه وحي نازل سوې نه وه چي په هغه کي رسول الله ﷺ د هر يوه څخه افضل او اشرف کېدل مذکور دي ، د هغه وحي نازلېدو څخه وروسته د رسول الله ﷺ افضيلت د څه شک او شبهې څخه پرته ثابت سوی دی .

زه نه سم ويلای چي د طور پر غره باندي په بې هوشه کېدو سره .....الخ: ددغه جملې وضاحت دادی چي کله حضرت موسی ﷺ د طور پر غره باندي د الله ﷻ د ذات د ليدني خواهش وکړ نو د الله ﷻ له خوا ورته جواب ورکړل سو چي اې موسی ! ته به د الله ﷻ د ليدني توان ونه لرې، وګوره موږ دخپل ذات د تجلي ظهور پر دغه غره باندي کوو که دغه تجلي وزغمې نو بيا ته خپل خواهش ظاهر کړه، ددې څخه وروسته پر طور باندي حضرت حق د تجلي ظهور وکړ نو د غره هغه برخه رېزه رېزه سوه او حضرت موسی ﷺ هم دهغه ليدني توان ونه درلود او بې هوشه سو ، بيا رسول الله ﷺ د طور پر غره باندي د حضرت موسی ﷺ هغه بې هوشي ته اشاره وفرمايل که حضرت موسی ﷺ د قيامت په ورځ په هغه وخت کي په بې هوشه کېدو سره د لوېدو څخه خوندي او مستثنی کړل سي نو کيدای سي چي ددغه استثناء وجه د هغه د طور په غره کي بې هوشي وي چي هغه به د قيامت د هغه بې هوشی په حساب کي شمېرل کيږي ،

ځرګنده دي وي چي دلته د کومي صعقه (يعني د قيامت په ورځ د بې هوشه کېدو) يادونه ده ، له دې څخه هغه صعقه مراد نه ده چي د مرګ او هلاکت په معنی ده او دهغه ظهور به د قيامت په پيل کي د شپېلۍ وهلو څخه وروسته کيږي ځکه چي د هغه صعقه په وخت کي کله چي د

لومړۍ شپیلۍ وهلو وروسته ټول عالم ختم سي او دهر متنفس مرګ او هلاکت واقع سي نو رسول الله ﷺ او حضرت موسی علیه السلام به چیري موجود وي چي پر هغوئ باندي به صعقه خپره سي یا دا چي د دغه صعقې څخه وروسته د حشر په میدان کي تر ټولو لومړۍ پاڅېدونکی به رسول الله ﷺ وي، نو د رسول الله ﷺ دا فرمایل چي: فلا ادري کان فیمن صعق...الخ: دا ددې خبري دلیل دی چي رسول الله ﷺ دکومي صعقې یادونه کړې ده ، ددې څخه هغه صعقه مراد ده چي د بعث څخه وروسته به د حشر په میدان کي پېښیږي چي ټول خلک به په بې هوشه کېدو سره رالویږي او ددې څخه وروسته چي ټول خلک په هوش کي راسي تر ټولو وړاندي چي رسول الله ﷺ ویني چي حضرت موسی علیه السلام د عرش پایه نیولې ولاړ دی ، ددې مطلب به دا وي چي یا خو حضرت موسی علیه السلام په بې هوشه خلکو کي شامل نه وي یا هغه به هم بې هوشه سوی وي مګر دهغه بې هوشي به د رسول الله ﷺ څخه مخکي زائل سوې وي، په هرحال په دغه ارشاد کي رسول الله ﷺ دا وفرمایل چي ما ته پر موسی علیه السلام باندي فضیلت مه راکوئ نو ددې څخه دا مراد نه دی چي په انبیاؤ کي د شرف او فضیلت په اعتبار فرق نسته او دا چي حضرت موسی علیه السلام یا د یو نبي په مقابله کي رسول الله ﷺ ته افضل ونه ویل سي بلکه ددغه ارشاد اصل مقصد دا لاربنوونه ده چي هیڅ نبي ته د بل نبي په مقابله کي په داسي انداز کي افضل او اشرف مه وایاست چي دهغه نبي تحقیر او توهین وي ،

یا دا ښرګنده سي چي یو نبي خو زیات وښودل سي او بل نبي د مرتبې څخه راکښته سي ځکه چي داسي اظهار فضیلت نه یوازي دا چي د انبیاؤ د عظمت او دهغوئ د احترام خلاف دی بلکه د مختلفو نبیانو منونکو په منځ کي د خپل منځي خصومت او عداوت سبب هم دی ، یا د ذکر سوي ارشاد مراد دادی چي هیڅ نبي ته د بل نبي په مقابله کي د فضل او شرف په ټولو انواعو سره داسي فضیلت او فوقیت مه ورکوئ چي د هغه نبي لپاره هیڅ هم فضیلت پاته نه سي یا دا چي په دغه ارشاد کي د نفس نبوت په اعتبار د فضیلت ورکولو ممانعت مراد دی ځکه چي دنفس نبوت په اعتبار ټول انبیاء برابر دي او هر نبي یو ډول حیثیت لري او زه خو دا هم نه وایم چي یو سړی د یونس ابن متی څخه افضل دی په دې کي لفظ د متی د حضرت یونس علیه السلام د پلار نوم وو لکه ښرنګه چي په قاموس کي ذکر سوي دي مګر په جامع الاصول کي دادي چي متی د هغه د مور نوم وو ، دحضرت یونس علیه السلام په خاصه توګه یادوني وجه داده چي هغه د اولو العزمي مظاهره ونه کړل بلکه دا یې وویل چي د هغه قوم د هغه خبره ونه منل او هغه ته یې تکلیف ورسوی نو هغه د بې صبرۍ او غصې څخه د قوم په پرېښودو سره ووتی او په کښتۍ کي

کنبښستی نو د هغه دغه طرز عمل خلک په دې گمان کي اخته کړل چي د هغه په مقابله کي چا نبي ته فضیلت ورکول موزون دي او دا ویل غیر مناسب خبره نه ده چي د حضرت یونس علیه السلام په مقابله کي فلانی نبي زیات افضل دی مگر رسول الله ﷺ د دغه ارشاد په ذریعه د خپل امت خلک د دغه گمان څخه هم منع کړل او څرگنده یې کړل چي دا د حضرت یونس علیه السلام په ذات طعن او د هغوئ د سپکاوی برابر دی.

تاسو یو نبي ته پر بل نبي فوقیت مه ورکوئ، د دې مطلب دادی چي داسي مه وایاست چي د فلاني نبي په مقابله کي فلانی نبي افضل دی او دا مطلب د دغه ارشاد دی چي تاسو د الله جل جلاله په نبیانو کي یو ته پر بل فضیلت مه ورکوئ او څرنگه چي مخکي بښودل سوي دي، د دغه منع څخه یا خو دا مراد دی چي د نفس نبوت په اعتبار یو نبي ته د بل نبي په مقابله کي فضیلت مه ورکوئ ځکه چي د اصل مرتبې نبوت په اعتبار ټول انبیاء برابر دي ، یا دا مراد دی چي هیڅ نبي د بل نبي په مقابله کي داسي زیات مه وړاندي کوئ او د هیڅ نبي افضیلت په دې انداز کي مه بیانوئ چي د نورو نبیانو سپکاوی لازم سي ځکه چي داسي کول کفر دی یا دا چي رسول الله ﷺ دغه منع هغه وخت وفرمایل چي د رسول الله ﷺ افضیلت څرگندونکي وحي نه وې نازل سوې د دغه وحي د نزول وروسته دا منع ختمه سوه او دا خبره ثابته سوه چي رسول الله ﷺ د ټولو نبیانو څخه افضل دی او رسول الله ﷺ ته د بل نبي په مقابله کي افضل او اشرف ویل صحیح دي.

په (لاتفضلوا بین انبیاء الله) کي د تفضلوا لفظ د مشکوة په اکثرو نسخو کي په ضاد سره منقول دی یعني په یوه نسخه کي دغه لفظ په صاد سره منقول دی چي د هغه ژباړه داده چي تاسو د الله جل جلاله د نبیانو په منځ کي هیڅ فرق مه کوئ ، په دغه صورت کي به ویل کیږي چي دغه ارشاد د قرآن کریم د دغه آیت څخه ماخوذ دی : لانفرق بین احد منهم .

د حضرت یونس علیه السلام په اړه یو هدایت

﴿۵۴۶۵﴾: وَعَنْ أَبِي هُرَيْرَةَ قَالَ قَالَ رَسُولُ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ مَا يَنْبَغِي لِعَبْدٍ أَنْ يَقُولَ إِنِّي خَيْرٌ مِنْ يُونُسَ بْنِ مَتَّى. متفق عليه وفي رواية للبخاري وقال من قال انا خير من يونس بن متى فقد كذب .

د حضرت ابو هریره رضي الله عنه څخه روایت دئ چي رسول الله ﷺ وفرمایل : هیڅ سړي ته دا حق نسته چي هغه دا ووایي چي زه (یعني محمد ﷺ) د یونس بن متی څخه غوره یم . بخاري او مسلم او د

بخاري په يو روايت کي دا الفاظ دي کوم څوک چي دا ووايي چي زه (يعني محمد ﷺ) د يونس بن متی څخه غوره يم نو هغه درواغجن دی.

تخريج : صحيح البخاري (فتح الباري): ۴۵۱\۱۶، رقم: ۳۴۱۶، ومسلم ۱۸۴۶\۱۴، رقم: ۱۶۶- ۲۲۷۶.

تشريح : که يو څوک دا ووايي چي زه د يونس ابن متی څخه غوره يم، دا عبارت دوه احتماله لري يو خو دا چي څوک دي ما ته (يعني رسول الله ﷺ ته) د يونس بن متی څخه افضل نه وايي ځکه چي لوی ولي هم د يو نبي مرتبې ته نه سي رسېدای او کله چي يو سړی د يو نبي همسر کېدای نه سي نو د نبي څخه د غوره کېدو دعوه څرنګه کولای سي.

نو يقينا هغه درواغجن دی، که د حديث د الفاظو مراد د دوهم احتمال په رڼا کي متعين کړل سي نو بيا دلته د درواغ څخه مراد به کفر وي، داسي خبره کوونکی به کافر سي ځکه چي د علماؤ پر دې اتفاق دی چي کوم څوک ځان د نبي او پيغمبر څخه غوره وګڼي نو هغه کافر دی، پاته سوه د لومړني احتمال خبره نو د رسول الله ﷺ دا فرمايل چي څوک دي ما ته د يونس ابن متی څخه غوره او افضل نه وايي، نو دا پر تواضع او خاکسارۍ محمول دی چي رسول الله ﷺ د خاکسارۍ په توګه داسي وفرمايل، نو دا حديث به د هغه روايت مخالف نه وي چي په هغه کي رسول الله ﷺ دا وفرمايل: انا سيد ولد آدم ولا فخر، زه د آدم د ټولي اولادي سردار يم او زه دا خبره د فخر په توګه نه کوم، (بلکه د حقيقت د اظهار او د تحديث نعمت په توګه وايم) او د حضرت يونس عليه السلام د تخصيص وجه د تېر حديث په تشريح کي بيان سوې ده.

د حضرت خضر عليه السلام ذکر

﴿۵۴۶۶﴾: وَعَنْ أُبَيِّ بْنِ كَعْبٍ قَالَ قَالَ رَسُولُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ إِنَّ الْغُلَامَ الَّذِي قَتَلَهُ الْخَضِرُ طُبِعَ كَافِرًا وَلَوْ عَاشَ لَأَرْهَقَ أَبَوَيْهِ طُغْيَانًا وَكُفْرًا. متفق عليه.

د حضرت ابی بن کعب رضي الله عنه څخه روايت دئ چي رسول الله ﷺ وفرمايل: حضرت خضر عليه السلام چي کوم هلک قتل کړی وو هغه د کفر پر فطرت پيدا کړل سوی وو که هغه ژوندی پاته سوی وای نو خپل مور او پلار به يې په کفر او سرکښۍ کي اخته کړي وای. بخاري او مسلم.

تخريج لم نجده عند البخاري وهو في صحيح مسلم ۲۰۵۰\۱۴، رقم: ۲۹- ۲۶۶۱.

تشریح: د کفر په طبیعت پیدا سوی وو، ددې مطلب دادی چې د هغه په مقدر کې دا لیکلي وه چې د هغه خاتمه به پر کفر کیږي نو دغه حدیث د هغه روایت خلاف نه دی چې په هغه کې فرمایل سوي دي: کل مولود یولد علی فطرة الاسلام، هر ماشوم د اسلام پر فطرت باندې پیدا کیږي، ځکه چې د اسلام پر فطرت باندې د پیدا کېدو مطلب د انساني فطرت یو داسې مسافت کېدل دي چې دهدایت نور ته ورځي او د اسلام د قبلولو استعداد او صلاحیت لري او دا خبره ددې خلاف نه ده چې هیڅ مولود په وړاندې تللو سره دخپل ماحول او دخپل نفس د ګمراهیو داسې ښکار سي چې د هغه استعداد او صلاحیت په دب کېدو سره پاته سي او هغه دخپل فطرت پر تقاضا باندې قائم پاته نه سي تر دې چې دهغه خاتمه پر کفر وسي.

خپل مور او پلار به یې په کفر او سرکښۍ کې اخته کړي وای، یعني هغه به دخپل مور او پلار د ګمراهۍ سبب جوړ سوي وای په دې توګه چې مور او پلار د هغه د مینې له کبله په مجبوره کېدو سره دهغه پیروي پیل کړې وای او خپله هم کافران سوي وای، خلاصه دا چې د هغه هلک د وژلو علت دا هم وو چې هغه د کفر په طبیعت اخیستلو سره پیدا سوی وو، دوهم شی دا وو که بالفرض هغه ژوندی پاته سوی وای نو د خپل مور او پلار د ګمراهۍ سبب به جوړ سوي وای دا خو د حدیث وضاحت سو اوس خپله دحضرت خضر علیه السلام په اړه تفصیل راوړل پکار دي، لفظ د خضر د خاء په زور او د ضاد په زېر سره دی او په یوه نسخه کې د خاء په زېر او د ضاد په جزم سره منقول دی، دا د هغه لقب دی اصل نوم یې لیان ابن ملکان دی، ځینو حضراتو دا لیکلي دي چې نوموړی د حضرت الیاس علیه السلام ورور دی، ځینو حضراتو ویلي دي چې دحضرت آدم علیه السلام صلبي زوی وو او ځینو ورته په اوو واسطو د حضرت نوح علیه السلام د اولاد شخه ویلي دي او وضاحت یې کړی دی چې دده پلار د سلاطین شخه وو، یو قول دا هم دی چې دی د حضرت ابراهیم علیه السلام په زمانه کې وو، د مشهور قول مطابق حضرت خضر علیه السلام پیغمبر دی، اوږد عمر لري او دعامو خلکو دنظر شخه پټ دی او نه یوازې دا چې ژوندی دی بلکه د قیامت تر ورځې پورې به ژوندی وي ځکه چې هغه آب حیات څښلي دي مګر ځینو لویو محدثینو لکه بخاري او ابن مبارک د هغوئ د تل ژوند شخه انکار کړی دی،

جمهورو علماوو، صوفیانو او ډېر صالحان دنوموړي د ژوند قائل دي او دحضرت خضر علیه السلام دځینو صالحانو سره ملاقات کول د هغوئ سره خبرې کول او دښکېلې په ځایو کې دهغوئ موجود کېدل ډېر مشهور دي، دمشائخو په حالاتو او کلام کې د دوئ ذکر ډېر راځي او عجیب او غریب پېښې یې بیانیږي، د حضرت غوث الثقلین شیخ عبدالقادر جیلاني رحمه الله په حالاتو

كي ليكلي دي چي يو ځل حضرت شيخ پر يوه مسئله باندي د حديث نبوي په رڼا كي خبري كولې چي ناڅاپه هغه حضرت خضر عليه السلام په هواء باندي سپور وليدی نو وه يې فرمايل : (قف يا اسرائيلي واسمع كلام محمدي) اې اسرائيلي (خضر) ودرېږه او كلام محمدي واوره.

نقل سوي دي چي د هغه زمانې په مشائخو كي څوک چي به د حضرت خضر عليه السلام سره يو ځاى سو نو هغه ته به يې دا هدايت كوى چي د شيخ عبدالقادر جيلاني رحمة الله عليه مجلس ته خامخا ورځئ ځكه چي د هغه په مجلسونو كي بركتونه نازليږي او هلته فلاح او سعادت تر لاسه كيږي.

د خضر وجه تسميه

﴿۵۴۶۷﴾: وَعَنْ أَبِي هُرَيْرَةَ عَنِ النَّبِيِّ ﷺ قَالَ إِنَّمَا سُمِّيَ الْخَضِرَ أَنَّهُ جَلَسَ عَلَى فَرْوَةٍ بَيْضَاءَ فَإِذَا هِيَ تَهْتَزُّ مِنْ خَلْفِهِ خَضْرَاءَ. رواه البخاري.

د حضرت ابوهريره رضي الله عنه څخه روايت دئ چي رسول الله ﷺ وفرمايل : د حضرت خضر عليه السلام نوم په دې سبب خضر ايښودل سوى دى چي هغه پر يو وچه سپينه مځكه باندي ناست وو چي هلته شينكيا پيدا سوه او تر ده وروسته غځېدل . بخاري

تخريج : صحيح البخاري (فتح الباري): ٦\٤٣٣، رقم: ٣٤٠٢.

د لغاتو حل: فروة: الارض اليابسة (وچه مځكه)

حضرت موسى عليه السلام او د مرګ ملائكه

﴿۵۴۶۸﴾: وَعَنْهُ قَالَ قَالَ رَسُولُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ جَاءَ مَلَكُ الْمَوْتِ

د حضرت ابوهريره رضي الله عنه څخه روايت دئ چي رسول الله ﷺ وفرمايل : د مرګ ملائكه حضرت

إِلَى مُوسَى ابن عمران فَقَالَ لَهُ أَجِبْ رَبَّكَ قَالَ فَلَطَمَ مُوسَى عَلَيْهِ السَّلَام

موسى عليه السلام ته راغلل ورته وه يې ويل : د خپل پروردګار حكم قبول كړه (يعني د الله جل جلاله په حكم سره زه ستا روح قبض كولو لپاره راغلى يم) موسى عليه السلام پر ستركه په چپلاخه وواهه چي

عَيْنَ مَلَكِ الْمَوْتِ فَفَقَأَهَا قَالَ فَرَجَعَ الْمَلَكُ إِلَى اللهِ تَعَالَى فَقَالَ إِنَّكَ أَرْسَلْتَنِي

د هغه څخه د مرګ د ملائكي ستركه ووتل ، د مرګ ملائكه د الله تعالى په دربار كي حاضره

إِلَى عَبْدٍ لَكَ لَا يُرِيدُ الْمَوْتَ وَقَدْ فَقَأَ عَيْنِي قَالَ فَرَدَّ اللّٰهُ إِلَيْهِ عَيْنَهُ وَقَالَ

چي هغه مرګ نه خوښوي، او هغه زما سترګه ړنده کړه، رسول الله ﷺ فرمايي : الله تعالی د ملک الموت سترګه روغه کړه ورته وه يې فرمايل :

ارْجِعْ إِلَى عَبْدِي فَقُلْ الْحَيَاةَ تُرِيدُ فَإِنْ كُنْتَ تُرِيدُ الْحَيَاةَ فَضَعْ يَدَكَ عَلَى

دويم وار زما بنده ته ورسه او ورته ووايه چي ايا ته ډېر ژوند خوښوې ، که ددې خواهش لرې نو

مَتْنِ ثَوْرٍ فَمَا تَوَارَتْ يَدُكَ مِنْ شَعْرَةٍ فَإِنَّكَ تَعِيشُ بِهَا سَنَةً قَالَ ثُمَّ مَهْ قَالَ

خپل لاس د يو غوايي پر شا کښېږده څومره ويښتان چي ستا تر لاس لاندي راسي د هر وريښته په حساب به ستا يو کال عمر زيات سي ، ددې پيغام اوريدو سره موسی ﷺ وويل بيا به څه وي،

ثُمَّ تَمُوتُ قَالَ فَالْآنَ مِنْ قَرِيبٍ رَبِّ أَدْنِنِي مِنَ الْأَرْضِ الْمُقَدَّسَةِ رَمْيَةً

ملک الموت ورته وويل: بيا به مرګ وي، موسی ﷺ وويل نو زه مرګ هم اوس قبلوم، (عرض يې وکړ) اې پروردګاره! ما ارض مقدسه (يعني بيت المقدس) ته نژدې کړې که څه هم د يو

بِحَجَرٍ قَالَ رَسُولُ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ وَاللّٰهِ لَوْ أَنِّي عِنْدَهُ لَأَرَيْتُكُمْ قَبْرَهُ إِلَى جَانِبِ الطَّرِيقِ عِنْدَ الْكَثِيبِ الْأَحْمَرِ. متفق عليه.

ډبري ويشتلو په فاصله وي ، ددې بيان کولو سره رسول الله ﷺ وفرمايل : قسم په خدای که زه بيت المقدس ته نژدې وای نو ما به تاسو ته د موسی ﷺ قبر ښودلی وای چي د لاري پورته د يوې سرې غونډۍ نژدې واقع دی. بخاري او مسلم

تخريج صحيح البخاري (فتح الباري): ۲۰٦\۳، رقم: ۱۳۳۹، ومسلم ۱۸۴۲\۴، رقم: ۱۵۷- ۲۳۷۲.

تشريح اې ربه کريمه! ما مقدسي ځمکي ته نژدې کړه: حضرت موسی ﷺ په آخري وخت کي دغه دعاء ځکه وکړل چي هغه بيت المقدس ته نژدې دفن کېدل غوښتل او په هغه زمانه کي هغه ځای تر ټولو ځايو افضل او اشرف وو ځکه چي هلته د انبياؤو مزارونه وه، کېدای سي چي د ذکر سوي پېښي په وخت کي حضرت موسي ﷺ په تيه ميدان کي وو نو هغه په آخري وخت کي د بيت القدس د نژدې کېدو غوښتنه وکړل او ددغه غوښتني د سختوالي څرګندولو لپاره يې

وويل چي كه څه هم ددغه ځای څخه هغه قربت د دومره كمي فاصلې په اندازه وي چي يوه غورځول سوې ډبره يې قطع كوي او هغه د بيت المقدس نژدې دفن كېدو خواهش ثرګند كړ، مګر په بيت المقدس كي د دفن كېدو خواهش يې ونه كړ ځكه چي هغه ته دا ببره وه كه زه په بيت المقدس كي دفن كړل سم نو زما قبر به ډېر مشهور او دخلګو زيارت ګاه وګرځي او كيدای سي چي خلک له دې كبله په فتنه كي اخته سي، ځينو محققينو ليكلي دي چي په حديث كي د كومي سرې ډبري يادونه ده هغه يو كلي اويحاء ته نژدې ده او دغه كلی د تيه ميدان ته تر ټولو نژدې د وادي مقدس سيمه ده، په هر حال ددغه حديث څخه ثرګنده سوه چي د صالحانو مزارونو او مدفن ته نژدې او د تبرک په ځايو كي دفن كېدل مستحب دي .

دا يادونه هم ضروري ده چي ځينو خلكو چي د عقل او قياس بنديان دي ددغه حديث څخه انكار كړی دی ، هغوئ وايي چي د مرګ د ملائكو د ستركو څخه لاس پرېولل څه معني لري، د روح قبض كولو لپاره راتلونكې ملائكه په چپلاخه وهل د انساني طاقت لپاره ثرنګه ممكن كېدای سي او دا چي ددغه پېښي سره مرګ ناخوښه ګڼل او په دنيا كي تر ډېر وخت پوري د پاته كېدو غوښتنه كول لازميږي او داسي كول د هغه انسان شان نه سي كيدای چي د نبوت او رسالت پر عظيم منصب باندي فائز وي، ددې خبرو جواب د حديث د الفاظو په دغه تعبير كي تر لاسه كيدای سي چي كله د حضرت موسى عليه السلام په خدمت كي د مرګ ملائكه حاضره سول نو هغه په انساني شكل كي وه، حضرت موسى عليه السلام د هغه په لېدو سره ونه پېژندل چي دا د مرګ ملائكه ده او زما د روح قبض كولو ته راغلې ده، هغه ته دا ناخوښه سول چي يو پردی سړی بېله اجازې د هغه ځای ته ولي راسي او بيا يې ورته د مرګ پيغام هم وركړ، نو دا خطره هم سول چي دغه سړي د وژني په نيت ما ته راغلی دي ځكه هغه په غصه كي راغلی او د هغه خلاف يې دفاعي اقدام كول ضروري وګڼل نو هغه يې پر مخ په چلاخه وواهه، او ملائكه د انسان په شكل وه نو بشري اثراتو كار وكړ او د حضرت موس عليه السلام په چلاخه د زخم څخه د هغه ستركه ړنده سول. بيا دا چي نوموړي هغه د يو درواغجن په حيثيت سره هم وليدی ځكه چي هغه د روح قبض كولو دعوه كړې وه او ثرګنده ده چي يو انسان روح نه سي قبض كولای نو هغه ته پر درواغو باندي غصه راغلل او پر درواغجن باندي غصه لله في الله وي، ځكه پر حضرت موسى عليه السلام باندي اعتراض ثرنګه وارد كيدای سي، او دا وجه ده چي د هغه پر دغه كړنه باندي د الله جل جلاله له خوا عتاب نازل نه سو ، په هر حال د حضرت موسى عليه السلام ددغه كړني څخه وروسته د مرګ ملائكي خپل اصل حيثيت ثرګند نه كړ او هغه ددې ښودلو څخه پرته چي هغه د مرګ ملائكه ده

، غائبه سوه او د الله ﷻ دربار ته ورسېدل.

اوس الله ﷻ هغه بيا پر ملكوتي هيئت كړل او د حضرت موسى عليه السلام په خدمت كي يې دوهم ځل ولېږل ، همدارنګه هغه د عيب او نقصان څخه پاكه سوه چي په بشري شكل او صورت كي د ستركي د زخمي كېدو څخه وروسته پيدا سوي وو ، بلي خوا ته د مرګ ملائكي د حضرت موسى عليه السلام د خيالاتو څخه د پوهېدو پرته په خپله په دې پوه سو چي حضرت موسى عليه السلام د مرګ په نامه خفه سو او مرګ نه غواړي او د الله ﷻ دربار ته په رسېدو سره يې شكايت هم وكړ مګر الله ﷻ په اصل حال خبر وو ، هغه د ملائكي په غلط فهمي او د حضرت موسى عليه السلام د جلالت شان دواړو اظهار لپاره دا طريقه اختيار كړل چي د مرګ ملائكه يې دوهم ځل د حضرت موسى عليه السلام په خدمت كي حاضره كړل او په يو بليغ انداز كي يې د مرګ پيغام وررورسوی، بلي خوا ته حضرت موسى عليه السلام د يو پردي سړي په ناڅاپه غائب كېدو باندي سمدستي محسوس كړل چي په حقيقت كي دغه معامله بل ډول ده نو د مرګ ملائكه چي دوهم ځل حاضره سول او حضرت موسى عليه السلام ته يې پيغام راوړ نو د هغه طرز او طريقه سمدستي بدل سول بيا هغه پيغام اجل ته په لبيک ويلو كي ځنډ ونه كړ او د رفيق اعلي سره يو ځای سو ، ويل كيږي چي د حضرت موسى عليه السلام په مزاج كي زياته تيزي او شدت وو هغه د جلال مظهر وو ،

د مزاج او اصولو خلاف يو خبره به ورته د زغملو وړ نه وه ، ددې اندازه له دې څخه كيږي چي كله هغه د چلې او تورات اخيستلو لپاره جبل طور يا حوراب غره ته ولاړی او تر شا يې د بني اسرائيلو څارونكی حضرت هارون عليه السلام جوړ كړی وو چي د هغه د تللو تر مياشت زيات وخت تېر سو نو بني اسرائيلو ته د لوبي كولو موقع په لاس ورغلل او د يو باطن سړي سامري په غولولو سره د قوم خلكو د ګيلګي عبادت پيل كړ، حضرت هارون عليه السلام قوم ډېر پوه كړ او د دغه مشركانه كړني څخه يې منع كړل مګر هيڅا يې خبره ونه منل ، حضرت موسى عليه السلام چي بېرته راغلی او قوم يې د ګيلګي په عبادت كي وليدی نو په غصه سو او په دې خيال كولو سره چي هارون عليه السلام ددغه خلكو په شرک منع كولو كي كوتاهي كړې ده هغه يې تر غاړه ونيوی او د هغه د سر وېښتان يې كشول او تر ږيري پوري يې هغه ته لاس واچوی، حضرت هارون عليه السلام ټول صورت حال ورته بيان كړ او خپل بې ګناه كېدل يې ثابت كړل بيا د حضرت موسى عليه السلام د جلال او غصې څخه يې خلاصون تر لاسه كړ، په هر حال ددغه حديث په صحت كي څه شک نسته ، او بايد پر دې عقيده وي او كه ددې ځيني خبري د قياس خلاف معلوميږي نو دخپل فهم كوتاهي ګڼل پكار دي ، كه څه هم د ذكر سوو تعبيرونو او تاويلونو په رڼا كي په دغه حديث كي هيڅ خبره د قياس خلاف نه معلوميږي .

د نبيانو حليې

﴿۵۴۶۹﴾: وَعَنْ جَابِرٍ أَنَّ رَسُولَ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ قَالَ عُرِضَ عَلَيَّ

د حضرت جابر رضي الله عنه څخه روايت دئ چي رسول الله ﷺ وفرمايل: (په معراج كي) انبياء عليهم

الْأَنْبِيَاءُ فَإِذَا مُوسَى ضَرْبٌ مِنَ الرِّجَالِ كَأَنَّهُ مِنْ رِجَالِ شَنُوءَةَ وَرَأَيْتُ عِيسَى

السلام زما په وړاندې راوستل سول، ما وليدل چي حضرت موسى عليه السلام د شنوءة د قبيلې د خلكو سره مشابه دى، ما عيسى

ابْنَ مَرْيَمَ عَلَيْهِ السَّلَامِ فَإِذَا أَقْرَبُ مَنْ رَأَيْتُ بِهِ شَبَهًا عُرْوَةُ بْنُ مَسْعُودٍ

بن مريم عليه السلام وليدى زيات مشابه د عروه بن مسعود سره،

وَرَأَيْتُ إِبْرَاهِيمَ صَلَوَاتُ اللّٰهِ عَلَيْهِ فَإِذَا أَقْرَبُ مَنْ رَأَيْتُ بِهِ شَبَهًا صَاحِبُكُمْ

ما ابراهيم عليه السلام وليدى چي ستاسو د دوست (يعني د رسول الله ﷺ) سره زيات مشابه

يَعْنِي نَفْسَهُ وَرَأَيْتُ جِبْرِيلَ عَلَيْهِ السَّلَامِ فَإِذَا أَقْرَبُ مَنْ رَأَيْتُ بِهِ شَبَهًا دَحْيَةُ. رواه مسلم.

دى او ما جبرائيل عليه السلام وليدى چي د حيه بن خليفه سره مشابه دى، مسلم.

تخريج: صحيح مسلم ۱\۱۵۳، رقم: ۲۷۱ - ۱۶۷.

د لغاتو حل: شنوءة: وهي قبيلة معروفة. (يوه مشهوره قبيله)

تشريح: كله چي نبيان زما مخته راوستل سول: دا د معراج د شپې يادونه ده، رسول الله ﷺ په هغه شپه په مسجد اقصي كي د هغه نبيانو سره ليدنه وكړل او هغوئ يې وليدل، د دغه ملاقات په وخت كي د نبيانو د ارواح مقدسه سره د هغوئ د اجسامو سره چي په دنيا كي يې درلودل د رسول الله ﷺ مخته راوستل سول نو رسول الله ﷺ د دغه انبياء كرامو شكل او صورت او دهغوئ سرترپايه خاكه د خپلو صحابه كرامو په مخكي په ابښودو سره د هغه كسانو يادونه وكړل كوم چي صحابه كرامو ليدلي وه چي د بدن په اعتبار د هغه نبيانو مشابهت يې درلود، حضرت موسى عليه السلام يې د سپک بدن وليدى او هغه يې سرترپايه د بنو شنؤه قبيلې د خلكو په

ډول وګرځوی، دغه قبیله د یمن سره تعلق درلود او ددغه قبیلې خلک د کمزوري بدن والا وه، حضرت عیسی علیه السلام یې د یو صحابي، حضرت عروه ابن مسعود رضي الله عنه په ډول وښود چې عروه ابن مسعود رضي الله عنه د حضرت عیسی علیه السلام ډېر مشابه دی . د حضرت ابراهیم علیه السلام د مشابهت لپاره یې خپل ذات مبارک وړاندې کړ ، ددې څخه ثابته سول چې په حضرت ابراهیم علیه السلام او رسول الله صلی الله علیه وسلم کې ډېر زیات مشابهت وو او د حضرت جبرائیل علیه السلام په اړه یې وښودل چې دد حیه ابن خلیفه ډېر مشابه وو ، حضرت دحیه د یو مشهور صحابي نوم دی چې ډېر ښکلي وو ، حضرت جبرائیل علیه السلام به زیات وختونه د هغه په شکل کې رسول الله صلی الله علیه وسلم ته راتلی او د معراج په شپه هم د رسول الله صلی الله علیه وسلم په وړاندې د هغه په شکل او صورت کې راغلی .

﴿۵۴۷۰﴾: وَعَنِ ابْنِ عَبَّاسٍ عَنِ النَّبِيِّ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ قَالَ رَأَيْتُ لَيْلَةَ

د حضرت ابن عباس رضي الله عنهما څخه روایت دئ چې رسول الله صلی الله علیه وسلم وفرمایل : د معراج په شپه ما

أُسْرِيَ بِي مُوسَى رَجُلًا آدَمَ طُوَالًا جَعْدًا كَأَنَّهُ مِنْ رِجَالِ شَنُوءَةَ وَرَأَيْتُ عِيسَى

موسی علیه السلام ولیدی چې لوړ قدی او غنم رنګی وو او د هغه وریښتان ګردي وه ګویا چې هغه د قبیله شنوءة یو کس دی ما عیسی علیه السلام ولیدی چې

رَجُلًا مَرْبُوعًا الْخَلْقِ إِلَى الْحُمْرَةِ وَالْبَيَاضِ سَبِطَ الرَّأْسِ وَرَأَيْتُ مَالِكًا خَازِنَ

د زیږیدنې د اعتبار څخه متوسط قد او قامت لرې د هغه رنګ سور او سپین وو او د سر وریښتان یې هوار وه ، ما د دوږخ خزاندار ولیدی

النَّارِ وَالدَّجَّالَ فِي آيَاتٍ أَرَاهُنَّ اللّٰهُ إِيَّاهُ فَلَا تَكُنْ فِي مِرْيَةٍ مِنْ لِقَائِهِ. متفق عليه

او دجال مې ولیدی او هغه دواړه مې په هغه علاماتو کې ولیدل چې الله تعالی راته وښودل.، په دې وجه اې مخاطبه ! د هغوئ په لیدو او د هغوئ سره په یو ځای کیدو کې شک مه کوه .(آخري جمله د راوي ده). بخاري او مسلم.

تخريج صحيح البخاري (فتح الباري): ٦\ ٣١٤، رقم: ٣٢٣٩، ومسلم ١\ ١٥١، رقم: ٢٦٧- ١٦٥.

تشريح د جعد معنی د ګردي وېښتانو ده او ددې په مقابل کې د سبط معنی ده یعني د وېښتانو جګ درېدل، نو دلته دا مراد دی چې د حضرت موسی علیه السلام وېښتان جګ ولاړ نه وه بلکه

كړدي وه ، شيخ عبد الحق دهلوي رحمه الله په خپل شرح كي د جعد لاندي ليكلي دي چي ددغه لفظ اكثر اطلاق پر پېچلو وېښتانو باندي كيږي مګر كله ناكله دغه لفظ د ټينګ او سخت بدن لپاره هم استعماليږي او دلته په حديث كي دغه لفظ په دې معنى كي استعمال سوى دى يعني حضرت موسى عليه السلام د يو سخت بدن څښتن وو ، حضرت شيخ د جعد دا معنى مراد اخيستلو وجه دا ليكلې ده چي په تېر سوي حديث كي د حضرت موسى عليه السلام په اړه دا منقول دي چي هغه رجل الشعر وو او د رجل اطلاق پر داسي وېښتانو باندي كيږي چي ول ول نه وي، ددې وضاحت په راتلونكي حديث كي هم راځي .

د روايت دغه جمله (في ايات اراهن الله اياه) د رسول الله ﷺ د ارشاد برخه نه ده او دغه آخري جمله (فلا تكن في مرية من لقائه) د حديث د لومړني برخي سره تعلق لري چي په هغه كي د حضرت موسى عليه السلام ذكر دى او ددې په ذريعه د قرآن كريم دغه آيت ته اشاره كول مقصد دي:

لَقَدْ آتَيْنَا مُوسَى الْكِتَابَ فَلاَ تَكُن فِي مِرْيَةٍ مِّن لِّقَائِهِ

او موږ موسي ته كتاب وركړى وو نو (اې محمد !ﷺ) ته د معراج په شپه كي د موسي عليه السلام په ليدنه كي څه شک مه كوه .

يعني تاسو چي د حضرت موسى عليه السلام سره د معراج په شپه ليدنه وكړل هغه رېښتوني او حقيقت دى ، پر دوكه يا نظر بندۍ باندي يې مه قياس كوه نو د ذكر سوې څخه دغه آيت ته په اشاره كولو سره هر څوک خبردار كيږي چي كله د قرآن كريم څخه هم دا ثابته ده چي د معراج په شپه د رسول الله ﷺ د حضرت موسى عليه السلام سره يو ځاى كېدل يو رېښتوني حقيقت دى نو هيڅوک دي هم په دې كي شک او شبه نه كوي .

د معراج په شپه د نبيانو سره ملاقات او د شرابو د جام څخه انكار

﴿۵۴۷۱﴾: وَعَنْ أَبِي هُرَيْرَةَ قَالَ قَالَ رَسُولُ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ لَيْلَةَ

د حضرت ابوهريره رضي الله عنه څخه روايت دئ چي رسول الله ﷺ وفرمايل : د معراج په شپه

أُسْرِيَ بِي لَقِيتُ مُوسَى فَنَعَتَهُ فَإِذَا رَجُلٌ مُضْطَرِبٌ رَجِلُ الشَّعْرِ كَأَنَّهُ مِنْ

ما د موسى عليه السلام سره ملاقات وكړ ، ددې فرمايلو سره رسول الله ﷺ د موسى عليه السلام صفت بيان كړ او وه يې فرمايل : هغه يو مضطرب(د الله جل جلاله د بيري څخه رپيدونكى) سړى دى د سر وريښتان

رِجَالِ شَنُوءَةَ وَلَقِيتُ عِيسَى رَبْعَةٌ أَحْمَرُ كَأَنَّمَا خَرَجَ مِنْ دِيمَاسٍ يَعْنِي

يې لوی وه ګویا هغه د قبیله شنوة یو کس دی، او ما د حضرت عیسی علیه السلام سره ملاقات وکړ هغه د متوسط قامت او سور رنګی دی ګویا چې اوس

الْحَمَّامَ وَرَأَيْتُ إِبْرَاهِيمَ وَأَنَا أَشْبَهُ وَلَدِهِ بِهِ قَالَ فَأُتِيتُ بِإِنَاءَيْنِ وَأَحَدُهُمَا

د حمام څخه راوتلی وي او ما ابراهیم علیه السلام ولیدی او د هغه په اولاد کي زه د هغه زیات مشابه یم، بیا ما ته دوه لوښي راکړل سول په یوه کي

لَبَنٌ وَالْآخَرُ فِيهِ خَمْرٌ فَقِيلَ لِي خُذْ أَيَّهُمَا شِئْتَ فَأَخَذْتُ اللَّبَنَ فَشَرِبْتُهُ

شیدې وې او په دویم کي شراب، ما ته وویل سول چي په دې کي دي کوم یو خوښ وي هغه واخله ما شیدې واخیستې او وه مي څښلې

فَقِيلَ لِي هُدِيتَ الْفِطْرَةَ أَمَا إِنَّكَ لَوْ أَخَذْتَ الْخَمْرَ غَوَتْ أُمَّتُكَ. متفق عليه.

بیا ما ته وویل سوه تا ته د فطرت لار وښودل سوه (یعني الله تعالی تا ته د اسلام د دین هدایت وکړ) که تا شراب اخیستی وای نو ستا امت به ګمراه سوی وای. بخاري او مسلم.

تخريج: صحيح البخاري (فتح الباري): ٦\ ٤٢٨، رقم: ٣٣٩٤، ومسلم ١\ ١٥٤، رقم: ٢٧٢ – ١٦٨.

تشريح: هغه یو مضطرب سړی معلومېدی، ددې په وضاحت کي د علماؤ مختلف قولونه دي، ځینو دا ویلي دي چي دلته د مضطرب څخه د اوږده قد والا مراد دی، یعني حضرت موسی علیه السلام جګ سړی وو، ځینو ویلي دي چي دغه لفظ د کم غوښو والا په معنی کي دی یعني حضرت موسی علیه السلام نری او دکمو غوښو والا وو، او ځینو دا ویلي دي چي په دغه جمله کي د مضطرب لفظ د الهي بیري څخه د رپېدونکي په معني کي دی، د حضرت موسی علیه السلام په اړه منقول دي چي هغه به د لمانځه او عبادت په دوران کي د الله جل جلاله د بیري څخه رپېدی.

په (رجل الشعر) کي د رِجل لفظ د جیم په زېر سره دی او د جیم په جزم او زور سره هم منقول دی، ددغه لفظ اطلاق پر هغه وېښتانو باندي کیږي چي نه بالکل جګ وي چي هغه ته سبط ویل کیږي او نه بالکل پېچلي وي چي هغه ته جعد ویل کیږي، بلکه معمولي پیچل سوي وي، مګر ملا علي قاري رحمه الله دا لیکلي دي چي دا ویل زیات مناسب دي چي د رجل څخه مراد هغه

وېښتان دي چي د هغه پېچل غالب وي يعني پيچلو ته نژدې وي، هغه دا معني ځکه مراد کړې ده چي دغه روايت د تېر سوي حديث خلاف نه سي چي په هغه کي د حضرت موسی رحمة الله عليه د وېښتانو د پيچل کېدو يادونه ده.

په دغه حديث کي د حضرت عيسی عليه السلام رنګ سور ښودل سوی دی حال دا چي په تېر سوي حديث کي سور او سپين فرمايل سوي دي، مګر په دواړو کي تضاد نسته ځکه کوم چي د هغه د اصل رنګ تعلق دی نو هغه سور او سپين وو او په دې اعتبار چي پر هغه سوروالي غالب وو او د هغه پر رنګ باندي د سور اطلاق صحيح سو.

په (من ديماس يعني الحمام) کي د يعني الحمام الفاظ په اصل حديث کي نسته بلکه د يو راوي عبد الرزاق الفاظ دي، چي هغه د دغه لفظ په ذريعه د ديماس وضاحت کړی دی چي د دغه لفظ څخه د رسول الله ﷺ مراد حمام وو، په هر حال داسي لګه چي اوس د حمام څخه راوتلي وي، د دغه جملې په ذريعه رسول الله ﷺ په اصل کي د حضرت عيسی عليه السلام د رنګ د تازګۍ او د مخ مبارک د ځلانده کېدو خوا ته اشاره وکړل چي د روحانيت د غلبې عکس وو.

د لبن سره د فی نه استعمالول او د خمر سره استعمالول په ظاهره د تفنن له موخي دي مګر ځينو حضراتو ويلي دي چي په دې کي دې ته اشاره ده چي شراب خو کم وه او شېدې زياتي وې او د رسول الله ﷺ په وړاندي د دواړو شيانو وړاندي کولو څخه مقصد دا وو چي پر ملائکو باندي د رسول الله ﷺ د دغه فضيلت او عظمت څرګند سي چي رسول الله ﷺ په هر حال کي هغه شی خوښوي چي د خير او غوره والي ضامن وي او کوم شی چي خرابي لري هغه خپله د رسول الله ﷺ طبيعت منلو څخه انکار کوي.

تاسو ته د فطرت لار وښودل سول: د شېدو د پيالې اخيستلو او اختيارولو د فطرت له موخي يعني د هدايت په نور سره ځکه تعبير کړل سو چي په دغه عالم سفلي کي شېدې يو داسي شی دی چي پاک، خالص او خوږې کېدو په اعتبار ځانګړي حيثيت لري او ماشوم ته تر ټولو وړاندي د روزنې غذا شېدې تر لاسه کيږي، نو په عالم بالا کي د شېدو مثال هدايت او فطرت وګرځول سو چي په هغه کي قوت او روحاني غذا تر لاسه کيږي، ځکه څرګنده سول چي په عالم بالا کي د دغه دنيا د شيانو مثالونه او صورتونه ټاکل سوي دي چي د هغه څخه مناسب معاني او اشارې اخذ کيږي، د علم الرويا په مستندو کتابو کي ليکلي دي چي کوم څوک په خوب کي شېدې ووينې، يا خپله شېدې څښل ووينې نو د دې تعبير د علم دين او هدايت دی، حال دا چي د شرابو معامله د دې برعکس ده چي په دنيا کي د ټولو خرابيو، خبائثو او فتنو رېښه ده.

که تاسو شراب ځښنلي وای نو ستاسو امت به ګمراه سوی وای، دا ځکه وویل سول چي که چیري رسول الله ﷺ هغه وخت د شرابو پیاله اختیار کړې وای نو د رسول الله ﷺ د امت لپاره به هم شراب تر لاسه سوي وای او همدارنګه د امت په خلکو کي به د شرابو خرابي او د هغه مضر اثرات داخل سوي وای، ځرګنده دي وي چي د رسول الله ﷺ ذات په هر ډول خرابۍ کي د اخته کېدو څخه ازلي او ابدي خوندي وو او د رسول الله ﷺ په یو ګمراهي کي اخته کېدل تصور کیدای هم نه سي، ځکه رسول الله ﷺ ته دا نه وه ویل سوي که تا شراب ځښنلي وای نو ته به ګمراه سوی وای بلکه دګمراهۍ نسبت د رسول الله ﷺ د امت خلکو ته وسو، دحدیث ددغه جملې څخه دانکته ځرګنده سول چي رهبر او پېشوا، که نبي وي یا عالم وي یا د یو هیواد پاچا او مشر وي د هغه استقامت او اولوالعزمي د هغه د پیروانو او منونکو د استقامت او اولوالعزمۍ ذریعه او سبب وي، ځکه چي د هغه، هغه حیثیت وي کوم چي په یو بدن کي د نورو اندامو په نسبت د زړه حیثیت وي.

نبیان د دنیا څخه د تلو وروسته هم نېک اعمال کوي

﴿۵۴۷﴾: وَعَنِ ابْنِ عَبَّاسٍ قَالَ سِرْنَا مَعَ رَسُولِ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ

د حضرت ابن عباس رضی اللہ عنہ څخه روایت دی چي موږ د مکې او مدینې په منځ کي د رسول الله ﷺ

بَيْنَ مَكَّةَ وَالْمَدِينَةِ فَمَرَرْنَا بِوَادٍ فَقَالَ أَيُّ وَادٍ هٰذَا فَقَالُوا وَادِي الْأَزْرَقِ قَالَ

سره سفر وکړ موږ چي یو ځنګل ته ورسیدو نو رسول الله ﷺ پوښتنه وکړه دا کوم ځنګل دی؟
خلکو عرض وکړ دا وادي ازرق ده، رسول الله ﷺ وفرمایل

كَأَنِّي أَنْظُرُ إِلَى مُوسَى صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ فَذَكَرَ مِنْ لَوْنِهِ وَشَعَرِهِ شَيْئًا

لکه زه چي دا وخت حضرت موسی علیہ السلام ته ګورم، نو رسول الله ﷺ د موسی علیہ السلام د رنګ او
وریښتانو څه کیفیت بیان کړ چي

وَاضِعًا إِصْبَعَيْهِ فِي أُذُنَيْهِ لَهُ جُؤَارٌ إِلَى اللّٰهِ بِالتَّلْبِيَةِ مَارًّا بِهٰذَا الْوَادِي قَالَ ثُمَّ

موسی علیہ السلام د ځنګل څخه په غوږونو کي ګوتي ورکړي په لوړ آواز په تلبیه ویلو سره تیریږي،

سِرْنَا حَتَّى أَتَيْنَا عَلَى ثَنِيَّةٍ فَقَالَ أَيُّ ثَنِيَّةٍ هٰذِهِ قَالُوا هَرْشَى أَوْ لِفْتٌ فَقَالَ كَأَنِّي

راوي وايي بيا موږ مخته ولاړو او ثنيه ته ورسيدو (ثنيه هغه لار ده چې د دوو غرونو په منځ کې واقع ده) نو رسول الله ﷺ پوښتنه وکړه دا کومه ثنيه ده؟ خلکو عرض وکړ هرشا يا لفت ده،

أَنْظُرُ إِلَى يُونُسَ عَلَى نَاقَةٍ حَمْرَاءَ عَلَيْهِ جُبَّةُ صُوفٍ خِطَامُ نَاقَتِهِ خُلْبَةٌ مَارًّا بِهَذَا الْوَادِي مُلَبِّيًا. رواه مسلم.

رسول الله ﷺ وفرمايل: ګويا زه يونس عليه السلام ته ګورم چې پر سره اوښه باندې سپور دی او د وړۍ چپنه يې اغوستې ده د هغه د اوښې مهار د خرما د درختې د پوستکي دی او د دغه شيلې سره په تلبيه ويلو سره تيريږي. مسلم.

تخريج: صحيح مسلم ۱\ ۱۵۲، رقم: ۲٦۸- ۱٦٦.

د لغاتو حل: جُؤار: اي تضريح. خلبة: ليفة نخل.

تشريح: د دغه حديث څخه يوې خوا ته دا معلومه سوه چې نبيان د مرګ څخه وروسته هم د خير اعمال کوي، بلې خوا ته د حج ارزښت هم ثابت سو چې دغه عبادت د الله جل جلاله او د هغه د نبيانو د شعائرو څخه دی، او نبيان له دنيا څخه د رخصت کېدو وروسته هم هغه نه پرېږدي نو کوم څوک چې د حج توان او قدرت ولري هغه دي د دغه فريضې څخه نه غافل کيږي.

دلته دا سوال پيدا کيږي چې د انبياء عليهم السلام په اړه دا ويل چې هغوئ حج کوي او تلبيه کوي، او د تلبيه کولو په وخت کي خو سفر وي لکه چې د دغه حديث څخه ثابتيږي نو څرنګه ممکن ده چې هغوئ وفات سوي دي او دغه دنيا دار آخرت نه دی، دار العمل دي چې د هغه څخه د دوئ بدني تعلق منقطع سوی دی؟ نو د دې جواب دادی چې انبياء عليهم السلام هم د شهيدانو په ډول دي بلکه تر هغوئ هم افضل دي او د شهيدانو په اړه دا ويل سوي دي چې هغوئ د خپل الله جل جلاله سره ژوندي دي نو څه ليري خبره ده چې هغوئ حج کوي، لمونځ کوي او نور د خير اعمال کوي، دوهم جواب دادی چې رسول الله ﷺ د نبيانو يادونه وکړل نو هغه د خلاصو سترګو لېدلو يا د معراج د شپې پېښه نه ده بلکه دا په اصل کي د رسول الله ﷺ د خپل خوب يادونه ده چې په هغه کي يې نبيان په ذکر سوي حالت او کيفيت کي ولېدل، دا بېله خبره ده چې انبياء عليهم السلام په خوب کي هم دومره رښتوني وي لکه څومره چې په وېښه ليدو کي وي. شيخ عبد الحق رحمة الله عليه دا ليکلي دي چې پر دې خبره د ټولو اتفاق دی چې ټول انبياء عليهم السلام حقيقي او دنياوي حيات سره ژوندي دي که څه هم د هغوئ دغه ژوند د عامو نظرونو

ثخه پټ کړل سوی دی او کله چي دا خبره حقیقت ده چي انبیاء ته ددنیا حیات حاصل وي نو همدا رنګه دا حقیقت دی چي الله جَلَّ جَلَالُهُ خپل حبیب حضرت محمد ﷺ ته د یو خوب پرته په خلاصو سترګو سره د هغه انبیاؤ لیدنه ورپه برخه کړې وي.

د حضرت داؤد عليه السلام ذکر

﴿۵۴۷۳﴾: وَعَنْ أَبِي هُرَيْرَةَ عَنِ النَّبِيِّ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ قَالَ خُفِّفَ عَلَى

د حضرت ابوهریره رضي الله عنه څخه روایت دئ چي رسول الله ﷺ وفرمایل: پر داؤد عليه السلام باندي د زبور

دَاوُدَ عَلَيْهِ السَّلَامِ الْقُرْآنُ فَكَانَ يَأْمُرُ بِدَوَابِّهِ فَتُسْرَجُ فَيَقْرَأُ الْقُرْآنَ قَبْلَ أَنْ تُسْرَجَ دَوَابُّهُ وَلَا يَأْكُلُ إِلَّا مِنْ عَمَلِ يَدِهِ. رواه البخاري.

ویل آسان کړل سوي وه هغه به پر خپل سپرلي باندي د زین اچولو حکم ورکړ او د زین د تړلو څخه مخکي به یې زبور وو ایه او داؤد عليه السلام به د خپلو لاسونو په کسب سره خوراک خوړی. بخاري

تخریج: صحيح البخاري (فتح الباري): ۶/ ۴۵۳، رقم: ۳۴۱۷.

تشریح: که څه هم د حدیث څخه دا نه څرګندیږي چي د حضرت داؤد عليه السلام سره څومره څاروي وه او پر هغه څارویو باندي د ځین اېښودلو کار په څومره وخت کي بشپړ کېدی، مګر دا ثابته سول چي هغه وخت به دومره اوږد نه وو چي په هغه کي به د ټول زبور شریف تلاوت په عامه توګه ممکن وو، دا یوازي د حضرت داؤد عليه السلام وصف وو چي هغه به په ډېر لږ وخت کي د زبور په ډول کتاب تلاوت کوی، خلاصه دا چي حضرت داؤد عليه السلام ته دا وصف د فوق العادت کمال په توګه تر لاسه وو او ددغه ځانګړي ورکړي سره یې تعلق درلود چي رب کریم د خپلو نیکو او خاصو بندګانو لپاره د زمانې او وخت تناو هم راکشوي او ایله کوي، کله یو لنډ وخت د خاصو بندګانو لپاره اوږد ګرځول کیږي او کله یو اوږد وخت یو لنډ وخت سي، د امیر المؤمنین حضرت علي رضي الله عنه په اړه نقل سوي دي چي هغه به د خپلي سپرلۍ په یوه پایدان کي د پښې اېښودو په وخت کي قرآن کریم ویل پیل کړل او په دوهم پایدان کي د پښې اېښودو په وخت به یې د قرآن کریم تلاوت ختم کوی.

د حدیث په پای کي د حضرت داؤد عليه السلام یو بل وصف دا بیان سوی دی چي هغه به سره د پاچاهۍ خپله روزي په خپل لاس تر لاسه کول، د زغرو جوړول د هغه کسب وو او د هغه په ګټه به یې خپل مصرف کوی.

د حضرت داؤد علیه السلام او حضرت سلیمان علیه السلام بېلي بېلي فيصلې

﴿۵۴۷۴﴾: وَعَنْهُ عَنِ النَّبِيِّ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ قَالَ كَانَتْ امْرَأَتَانِ مَعَهُمَا

د حضرت ابو هريره رضي الله عنه څخه روايت دئ چي رسول الله ﷺ وفرمايل: دوې ښځي وې او د دواړو

ابْنَاهُمَا جَاءَ الذِّئْبُ فَذَهَبَ بِابْنِ إِحْدَاهُمَا فَقَالَتْ لِصَاحِبَتِهَا إِنَّمَا ذَهَبَ

سره يو يو زوی وو، شرمښ راغلی او د يوې زوی يې وتښتوی، دواړي ښځي په دې جګړه سوې، يوې ويل ستا زوی شرمښ وتښتوی

بِابْنِكِ وَقَالَتْ الْأُخْرَى إِنَّمَا ذَهَبَ بِابْنِكِ فَتَحَاكَمَتَا إِلَى دَاوُدَ عَلَيْهِ السَّلَامِ

او دويمي ويل ستا زوی شرمښ وتښتوی، دواړو ښځو خپله معامله داؤد علیه السلام ته راوړل،

فَقَضَى بِهِ لِلْكُبْرَى فَخَرَجَتَا عَلَى سُلَيْمَانَ بْنِ دَاوُدَ عَلَيْهِمَا السَّلَامِ فَأَخْبَرَتَاهُ

داؤد علیه السلام هلک هغه مشري ښځي ته ورکړ بيا دا دواړي ښځي سليمان علیه السلام ته راغلې او خپله معامله يې ورته بيان کړه،

فَقَالَ ائْتُونِي بِالسِّكِّينِ أَشُقُّهُ بَيْنَهُمَا فَقَالَتْ الصُّغْرَى لَا تَفْعَلْ يَرْحَمُكَ اللّٰهُ هُوَ ابْنُهَا فَقَضَى بِهِ لِلصُّغْرَى. متفق عليه.

سليمان علیه السلام وويل يوه چاړه راوړئ چي زه دا هلک په منځ کي دوې ټوټې کړم او پر تاسو يې وويشم، کم عمره ښځي ورته وويل الله جل جلاله دي پر تا رحم وکړي داسي مه کوه دا ددې زوی دی، نو سليمان علیه السلام هغه هلک کم عمره ښځي ته ورکړ. بخاري او مسلم.

تخريج: صحيح البخاري (فتح الباري): ٦\٤٥٨، رقم: ٣٤٢٧، ومسلم ٣\ ١٣٤٤، رقم: ٢٠- ١٧٢٠.

تشريح: د دغه قضيې بنياد داوو چي دواړي ښځي چي په عمر کي تر يوې بلي مشره او کشره وې يو ځای اوسېدلې، د هغوئ دواړو سره يو يو ماشوم وو او په څرګنده دا معلومېږي چي دواړه ماشومان هم د کم عمر وه او هم شکله وه، ځکه کله چي شرموښ د هغوئ څخه يو ماشوم وتښتوی نو د دواړو ښځو په منځ کي دا جګړه رامنځته سول چي شرموښ د کومي ماشوم وتښتوی، هري ښځي ويل چي هغه ماشوم د هغې نه وو بلکه د هغه بلي ښځي وو يا دا چي هغه

ماشوم هم عمره او هم شکله نه وو او دواړي ښځي پوهېدې چي شرموښ د چا ماشوم وړی دی مګر د هغه ماشوم مور په بدحواسۍ کي دې ته تياره نه وه چي د هغې ماشوم دي ولاړ سي يا دوهم ماشوم چي موجود وو، دهغه خپلول يې غوښتل او هغه يې د ځان سره ساتلو او د اصل ماشوم د غم ماتول يې غوښتل يا د هغې په دغه دعوه سره يو بل فاسد مقصد وو، په هر حال کله چي دغه قضيه حضرت داؤد عليه السلام ته ورسېدل نو هغه دا فيصله وکړل چي کوم کوچنی شرموښ تښتولی دی هغه د هغه ښځي دي چي د کم عمر ده او موجود کوچنی يې د لوي عمر والا ښځي ته وسپاری، حضرت داؤد عليه السلام دغه فيصله يا خو له دې کبله وکړل چي هغه کوچنی د لور عمر والا ښځي سره وو او شرعي قاعده داده که د يو شي د ملکيت په اړه يو واضح او يقيني ثبوت نه وي نو د هغه شي زيات حقدار به هغه څوک منل کيږي چي د هغه په واک کي هغه شی وي يا دا چي هغه کوچنی د لوي عمر والا ښځې سره يو مناسبت درلود نو حضرت داؤد عليه السلام د علم قيافه څخه د ذکر سوي قضيې فيصله وکړل،

په هر حال د هغه ددغه فيصلې بنياد پر يوې خبره وه يا ددې څخه پرته يوه بله قرينه او دليل وو، دا خبره منل سوې ده چي د هغه دغه فيصله د هغه د خپل اجتهاد نتيجه وه او د الله جل جلاله نازل کړل سوې وحي نه وه ځکه که چيري په دې اړه پر هغه وحي نازل سوې وي او د هغه دغه فيصله د وحي مطابق وای نو حضرت سليمان عليه السلام به د هغه د فيصلې خلاف خپله بېله فيصله نه کولای.

کله چي دغه قضيه حضرت سليمان عليه السلام ته وړاندي سول نو هغه ددغه فيصلې کولو نفسياتي طريقه اختيار کړل، د دواړو د دعوې په اورېدو سره هغه وويل: يوه چاړه راوړئ، زه دغه کوچني دوې ټوټې کوم او په تاسو دواړو کي هري يوې ته يوه يوه ټوټه ورکوم، دهغه مقصد دا وو چي د دواړو ښځو د مورنۍ ميني امتحان واخيستل سي، په دې خبره چي د دواړو له خوا د کوم رد عمل اظهار وسي هغه به صحيح نتيجې ته په رسېدو کي مرسته وکړي، دا څرګندول غواړي چي کومه ښځه د هغه کوچني اصلي مور وي هغه د خپل کوچني پر بېلېدو راضي کيږي مګر په خپلو سترګو د هغه دوې ټوټې کول هيڅکله زغملای نه سي نو همدارنګه وسول کله چي سليمان عليه السلام د هغه دوې ټوټې کولو لپاره دا خبره وکړل نو د لوي عمر والا ښځه پټه خوله سول مګر د کم عمر والا ښځه زهيره سول، هغې وويل: دا سي مه کوه زه په دې راضي يم چي تاسو دغه کوچنی مشري ښځي ته ورکړئ او دغه کوچنی دي ژوندی پاته سي مګر زه دا نسم زغملای چي د کوچني په ځېرلو سره دوې ټوټې کړل سي او د مرګ غېږې ته دي ورسول سي، د حضرت سليمان عليه السلام چي کوم مقصد وو هغه پوره سو نو هغه د کشري ښځي په ظاهر

سوي ميني او شفقت باندي او د مشري ښځي پټه خوله کېدل د کوچني سره د بې تعلقۍ په محمول کولو سره نتيجه واخيستل چي دغه کوچنی د کشري ښځي دي او په ظاهره دا معلوميږي چي وروسته مشري ښځي هم اقرار وکړ چي زما کوچنی نه دی او دهغه بلي ښځي دي، نو حضرت سليمان عليه السلام هغه کوچنی خپل اصلي مور يعني کشري ښځي ته وسپاری، اوس د حضرت سليمان عليه السلام ددغه فيصلي په اړه دا سوال پيدا کيږي چي حضرت سليمان عليه السلام د حضرت داؤد عليه السلام فيصله څرنګه ماته کړل، حال دا چي د حضرت داؤد عليه السلام فيصله د يو نبي فيصله وه او د يو نبي فيصله ماتېدلای نه سي که څه هم هغه فيصله د هغه نبي د اجتهاد نتيجه وي ؟ ددې جواب دادی چي حضرت داؤد عليه السلام د هغه مشري ښځي په اړه حتمي او يقيني فيصله نه وه کړې بلکه په حديث کي چي دکومې فيصلې يادونه سوې ده هغه احتمالي نوعيت درلود او د هغه حيثيت د انتظامي حکم وو او د هغه څخه د هغه مقصد محض رفع کول وو او کيدای سي چي د هغوئ په شريعت کي د يو داسي حکم منسوخ کول جائز وي چي د هغه تعلق د وحي الهي يا نص شرعي پر ځای اجتهاد وي .

د حضرت سليمان عليه السلام واقعه

﴿۵۴۷۵﴾ : وَعَنْهُ قَالَ قَالَ رَسُولُ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ قَالَ سُلَيْمَانُ لَأَطُوفَنَّ

د حضرت ابو هريره رضي الله عنه څخه روايت دئ چي رسول الله صلى الله عليه وسلم وفرمايل : (يوه ورځ) سليمان عليه السلام وويل :

اللَّيْلَةَ عَلَى تِسْعِينَ امْرَأَةً وفي رواية بمائة امراة كُلُّهُنَّ تَأْتِي بِفَارِسٍ يُجَاهِدُ فِي

نن شپه به زه د (۹۰) ښځو سره او په يوه روايت کي د سلو ښځو سره جماع کوم په هغو کي به هره ښځه يو سپور زيږوي چي د الله تعالى په لاره کي به غزا کوي،

سَبِيلِ اللّٰهِ فَقَالَ لَهُ الملك قُلْ إِنْ شَاءَ اللّٰهُ فَلَمْ يَقُلْ وَنَسِيَ فَطَافَ عَلَيْهِنَّ

ملائکي سليمان عليه السلام ته وويل انشاء الله ووايه ، مګر هغه انشاء الله ونه ويل او هېر يې سول، او د ښځو سره يې کوروالي وکړه

فَلَمْ يَحْمِلْ مِنْهُنَّ إِلَّا امْرَأَةٌ وَاحِدَةٌ جَاءَتْ بِشِقِّ رَجُلٍ وَايْمُ الَّذِي نَفْسُ

مګر په هغوئ کي يوازي يوه ښځه حامله سوه او د هغې هم نيمګړی ماشوم پيدا سو ، او قسم په

مُحَمَّدٍ بِيَدِهِ لَوْ قَالَ إِنْ شَاءَ اللَّهُ لَجَاهَدُوا فِي سَبِيلِ اللَّهِ فُرْسَانًا أَجْمَعُونَ.

متفق عليه.

هغه ذات چي د هغه په لاس كي د محمد (ﷺ) ساه ده كه سليمان عليه السلام انشاء الله ويلي واى نو ټولو ښځو به هلكان زيږولي واى، او هغوئ به سپاره د الله په لاره كي جهاد كړى واى. بخاري او مسلم.

تخريج: صحيح البخاري (فتح الباري): ٦\٣۴، رقم: ٢٨١٩، ومسلم ٣\١٢٧٦، رقم: ٢٥- ١٦٥۴.

تشريح: انشاء الله ووايه، ددې څخه د يو كار د قصد كولو په وخت كي د انشاء الله ويلو ارزښت څرګنديږي چي كله يوه اراده وكړل سي نو د انشاء الله په ويلو سره بايد ټينګه كړل سي، مطلب داد ى چي زه به دا كار كوم كه د الله ﷻ خوښه وه نو دا كار به وسي او دا ويل ځكه ضروري دي چي د الله ﷻ د خوښې څخه پرته هيڅ شى هم په وجود كي راتلاى نه سي او د بنده هغه غوښتنه تر سره كيږي چي په هغه كي مشيت الهي شامل وي نو هغه ملائكي حضرت سليمان عليه السلام ته ور په ياد كړل چي تاسو كومه اراده كړې وه هغه مو د الله ﷻ په مشيت سره متعلق نه كړل چي د هغه په وجه د هغه ارادې تر سره كول غير يقيني سوي دي كه تاسو اوس هم انشاء الله ووايا ست نو د خپلي ارادې مستحق به سې مګر څرنګه چي شيخ عبد الحق رحمة الله عليه په خپل شرح كي د حديث د ذكر سوې جملې لاندي ليكلي دي چي حضرت سليمان رحمة الله عليه نه يوازي دا چي د هيري په وجه هغه وخت انشاء الله ونه ويل بلكه ملائكي هم ور په ياد كړل مګر وروسته يې هم ونه ويل ، ملا علي قاري رحمة الله عليه په دغه ځاى كي ليكلي دي چي حضرت سليمان عليه السلام د ملائكي د وينا سربېره انشاء الله ځكه ونه ويل چي هغه دا وګڼل چي كله مي په زړه كي د انشاء الله نيت كړى دى نو په ژبه سره انشاء الله ويل ضروري نه دي، په دې اعتبار د نسي لفظ د علم په معنى كي دى او په يوه روايت كي دنسي لفظ د نون په پېښ او د سين په تشديد سره نقل سوى دى او دا غوره معلوميږي، په دغه صورت كي به مفهوم دا وي چي د هغه د ذهن څخه دا خبره هېره سوې ده چي د انشاء الله په ويلو كي د زړه او ژبې دواړو جمع كېدل د ارباب جمع او اهل عرفان په نزد اصل درجه لري يا دنسي مطلب داد ى چي دهغوئ اراده خو د انشاء الله ويلو وه مګر بيا يې دغه ويل ياد نه سول .

د حديث د آخري الفاظو څخه دا مفهوم اخيستل كيږي چي د حضرت سليمان عليه السلام انشاء الله

نه ويل د هغه خطا وګرځول سول او دا د الله ﷻ له خوا د هغه امتحان وو ځکه هغه وروسته د الله ﷻ په دربار کي د خپل دغه خطا اعتراف او استغفار وکړ لکه څرنګه چي په قرآن کريم کي ذکر سوي دي، په هر حال د حديث څخه دا ثابته سول چي د يو کار د ارادې د اظهار په وخت کي دا ويل مستحب دي چي زه به فلانى کار کوم انشاء الله، چي په هغه کار کي د الله ﷻ له خوا د مرستي، برکت او ښه سرته رسېدل په برخه سي ، او په قرآن کريم کي دا حکم سوى دى :

وَلاَ تَقُولَنَّ لِشَيْءٍ إِنِّي فَاعِلٌ ذَلِكَ غَدًا إِلاَّ أَن يَشَاء اللَّهُ

او ته د يو کار په اړه دا مه وايه چي زه به دا سبا کوم مګر د الله ﷻ خوښي ورسره يو ځاى کوه يعني دداسي خبري کولو په وخت کي انشاء الله خامخا وايه.

ددغه حديث څخه هم څرګنده سول چي په حضرت سليمان ؑ کي جنسي قوت د کمال وو او ددغه طاقت زياتېدل د نارينوو لپاره د فضيلت خبره ده او ددغه قوت کمي په نقصان کي شمېرل کيږي .

کسب د نبيانو سنت دى

﴿۵۴۷۶﴾: وَعَنْهُ أَنَّ رَسُولَ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ قَالَ كَانَ زَكَرِيَّاءُ نَجَّارًا.

رواه مسلم

د حضرت ابو هريره ؓ څخه روايت دئ چي رسول الله ﷺ وفرمايل : حضرت زکريا ؑ ترکاڼ وو (يعني د لرګيو کاريې کوى). بخاري.

تخريج : صحيح مسلم: ۱۸۴۷\۴، رقم: ۱۶۹- ۲۳۷۹.

تشريح : مطلب دادى چي هغه د نجارۍ کسب کوى او خپله روزي يې په خپل لاس پيدا کول، نو په دغه حديث کي او په هغه حديث کي چي مخکي د حضرت داؤد ؑ په اړه تېر سو، دادليل دى چي د ګټي، محنت او مشقت په ذريعه خپل حلال رزق تر لاسه کول د انبياؤ سنت دى .

د حضرت عيسى ؑ او رسول الله ﷺ تعلق

﴿۵۴۷۷﴾: وَعَنْهُ قَالَ قَالَ رَسُولُ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ أَنَا أَوْلَى النَّاسِ

د حضرت ابو هريره ؓ څخه روايت دئ چي رسول الله ﷺ وفرمايل : په دنيا او آخرت کي زه

بِعِيسَى ابْنِ مَرْيَمَ فِي الاولى وَالْآخِرَةِ وَالْأَنْبِيَاءُ إِخْوَةٌ مِنْ عَلَّاتٍ و أُمَّهَاتُهُمْ شَتَّى وَدِينُهُمْ وَاحِدٌ وَلَيْسَ بَيْنَنَا نَبِيٌّ. متفق عليه.

حضرت عيسى بن مريم عليهما السلام ته ډير نژدې ا و متصل يم (د دواړو په منځ کي د بل نبي فاصله نسته او په آخر کي به عيسى ﷺ د رسول الله ﷺ نائب وي)، انبياء ميرني ورونه دي يعني د ټولو پلار يو دی او ميندي مختلفي دي او د ټولو انبياؤو دين يو دي او زموږ په منځ کي ثوک نبي نسته (يعني د حضرت عيسى ﷺ او حضرت محمد ﷺ په منځ کي بل نبي نسته). بخاري او مسلم.

تخريج: صحيح البخاري (فتح الباري): ۱٦\۴۷۷، رقم: ۳۴۴۲، ومسلم ۴\۱۸۳۷، رقم: ۱۴۵– ۲۳٦۵.

تشريح: حضرت عيسى ﷺ ته تر ټولو زيات نژدې او متعلق زه يم، دغه جمله يې ځکه وفرمايل چي د رسول الله ﷺ او حضرت عيسى ﷺ په منځ کي هيڅ بل پيغمبر نسته، حضرت عيسى ﷺ د رسول الله ﷺ د پيغمبر کېدو څرګند زيری ورکړی دی، د رسول الله ﷺ ددين او شريعت تمهيد هم هغه قائم کړ او په آخره زمانه کي د رسول الله ﷺ نائب او خليفه به هم هغه وي.

انبياء د يو بل ورو ر ګرځولو مقصد د هغوئ په منځ کي د تعلق او مناسبت يو خاص نوعيت څرګندول دي او د هغوئ د پلار څخه مراد هغه شی دی چي په دنيا کي د هغوئ د رالېږلو سبب جوړ سوي دي يعني د خدای جلاله د مخلوق هدايت او هغوئ پر صحيح لار بېولو ذمه داري او دهغوئ د ميندو څخه مراد د هغوئ خپل خپل شريعتونه دي چي د يو بل څخه مختلف دي.

ددغه ټولو اصل دين يو دی، ددې مطلب دادی که څه هم د خلکو د هدايت او دهغوئ د مفادو او حکمت او د قوم د حالاتو په رعايت کولو سره هر نبي ته د بېل بېل شريعت په ورکولو سره دنيا ته رالېږل سوي دي مګر د ټولو اصل دين يو دی يعني توحيد.

او زموږ په منځ کي هيڅ بل نبي نسته، رسول الله ﷺ دغه خبره د خپل ځان او حضرت عيسى ﷺ په منځ کي د قرب او اتصال په سبب بيان کړل چي په روحاني او معنوي توګه ټول انبياء عليهم السلام د يو بل سره قرب او اتصال لري او د ټولو سره زما يو ډول تعلق دی مګر په ظاهري توګه ما ته تر ټولو زيات قرب او اتصال د حضرت عيسى ﷺ سره حاصل دی.

د حضرت عیسی علیه السلام فضیلت

﴿۵۴۷۸﴾: وَعَنْهُ قَالَ قَالَ رَسُولُ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ كُلُّ بَنِي آدَمَ يَطْعُنُ الشَّيْطَانُ فِي جَنْبَيْهِ بِإِصْبَعِهِ حِينَ يُولَدُ غَيْرَ عِيسَى ابْنِ مَرْيَمَ ذَهَبَ يَطْعُنُ فَطَعَنَ فِي الْحِجَابِ. متفق عليه.

د حضرت ابوهريره رضي الله عنه څخه روايت دئ چي رسول الله ﷺ وفرمايل: هر انسان چي پيدا کيږي نو شيطان يې پر دواړو بغلو په دواړو ګوتو وهي بېله عيسى بن مريم عليه السلام شيطان اراده وکړل چي وه يې وهي نو په پرده کي نغښتلی يې ووهی .بخاري او مسلم

تخريج صحيح البخاري (فتح الباري): ٦\٣٣٧، رقم: ٣٢٨٦، ومسلم ۴\١٨٣٨، رقم: ١۴٧-٢٣٦٦.

د لغاتو حل: الحجاب: اي فاوقع الطعن في المشيمة وهي ما فيه الولد. (د ماشوم پرده)

تشريح حضرت عيسى عليه السلام د شيطان لعين تکليف رسونکي دغه کړني څخه خوندي پاته سو چي د هغه انا او د مريم مور حنه، الله جل جلاله ته داسي عرض کړی وو چي:

واني سميتها مريم واني اعيذها بک وذريتها من الشيطان الرجيم:

پروردګاره! ما د خپل دغه کوچنۍ نوم مريم کېښښود او زه دا او ددې اولاد د مردود شيطان څخه ستا په پناه کي درکوم.

د پردې څخه مراد هغه جامه ده چي په هغه کي کوچنی د پيدائش پر وخت نغښتل کيږي او په عربي کي ورته مشيمه وايي، مطلب دا چي شيطان د خپل عادت سره سم د حضرت عيسى عليه السلام په تشه کي هم نوکاره کول وغوښتل مګر هغه ګوتي د هغه بدن ته ونه رسېدلې، او همدا رنګه حضرت عيسى عليه السلام د هغه د تکليف څخه خوندي پاته سو.

څرګنده دي وي چي په حديث کي دا فرمايل سوي دي چي کله هم يو انسان پيدا کيږي...الخ: نو ددې څخه رسول الله ﷺ مستثنى او خارج دی، رسول الله ﷺ د خپل ځان څخه پرته د نورو ټولو انسانانو په اړه دا فرمايلي دي نو د حضرت عيسى عليه السلام په ډول خپله د رسول الله ﷺ ذات مبارک هم د شيطان د دغه تکليف څخه خوندي پاته سوی وو.

د غوره ښځو ذکر

﴿۵۴۷۹﴾: وَعَنْ أَبِي مُوسَى عَنِ النَّبِيِّ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ قَالَ كَمَلَ مِنْ

د حضرت ابو موسى رضي الله عنه څخه روايت دئ چي رسول الله ﷺ وفرمايل: په نارينوو کي ډير کامل

الرِّجَالِ كَثِيرٌ وَلَمْ يَكْمُلْ مِنَ النِّسَاءِ إِلَّا مَرْيَمُ بِنْتُ عِمْرَانَ وَ آسِيَةُ امْرَأَةُ

سړي تير سوي مگر په ښځو کي د بي بي مريم بنت عمران او اسيه زوجه فرعون څخه پرته څوک

فِرْعَوْنَ وَإِنَّ فَضْلَ عَائِشَةَ عَلَى النِّسَاءِ كَفَضْلِ الثَّرِيدِ عَلَى سَائِرِ الطَّعَامِ.

کامله سوې نه ده، او په نورو ښځو کي بي بي عائشې رضي الله عنها ته هغه فضيلت حاصل دی لکه څرنگه چي ماتي ډوډۍ ته پر نورو خوراکونو،

متفق عليه و ذكر حديث انس يا خير البرية وحديث ابي هريرة اي الناس اكرم وحديث ابن عمر الكريم ابن الكريم في باب المفاخرة والعصبية.

بخاري او مسلم او د انس رضي الله عنه حديث (ياخير البرية الخ) او ابن عمر حديث: الكريم ابن الكريم، په باب المفاخره والعصبيه کي بيان سوي دي.

تخريج: صحيح البخاري (فتح الباري): ۶\۴۴۶، رقم: ۳۴۱۱، ومسلم ۴\۱۸۸۶، رقم: ۷۰- ۲۴۳۱.

تشريح: ددغه حديث څخه په ښکاره دا معلوميږي چي دغه دواړي ښځي، يوه مريم بنت عمران چي د حضرت عيسى عليه السلام مور ده او آسيه رضي الله عنها، زوجه فرعون د دنيا پر ټولو مخکنيو او وروستنيو ښځو باندي فضيلت لري تر دې چي پر بي بي فاطمې رضي الله عنها، بي بي خديجې رضي الله عنها او نورو پاکو بيبيانو باندي هم فضيلت لري، مگر داخبره داسي نه ده ځکه ددغه حديث د توجيه او تاويل کيږي چي مريم بنت عمران او آسيه د فرعون ښځي ته چي پر کومو ښځو فضيلت ورکول سوی دی د هغه څخه د امت محمديه مخکي امتونو ښځي مراد دي چي په تېر سوو امتونو کي تر ټولو افضل دي، يا دا چي رسول الله ﷺ دغه حديث په هغه زمانه کي فرمايلي وو کله چي د بي بي فاطمې عليها السلام، بي بي خديجې عليها السلام او بي بي عائشې رضي الله عنها د افضيلت څرګندونکي وحي نازل سوي نه وې، يا دا چي رسول الله ﷺ د امت محمديه ددغه افضلو ښځو په مستثنی کولو سره د نورو ټولو ښځو په اړه وفرمايل چي هغه پر ټولو باندي فضيلت لري او ددغه استثنی قرينه هغه نور حديثونه دي چي په هغو کي د بي بي فاطمې رضي الله عنها مناقب او اوصاف ذکر دي لکه په يو حديث کي فرمايل سوي دي: فاطمه زهرا رضي الله عنها د ټولو جنتيانو ښځو سرداره ده.

د حديث آخري برخه، چي په هغه کي د بي بئ عائشې رضي الله عنها فضيلت ذکر سوی دی، څو احتماله لري، دلته د ښځو څخه یا خو بېله استثنی د دنیا ټولي ښځي مراد دي یا په حدیث کي د ذکر سوو دواړو ښځو، مریم بنت عمران او آسیه د فرعون ښځي په استثنا کولو سره پاته ټولي ښځي مراد دي، یا ددغه امت ښځي مراد دي او یا ازواج مطهرات مراد دي، څرګنده دي وي چي ثرید هغه خوراک ته وایي چي ډوډۍ په ښوروا کي مېده کولو سره جوړېږي، په هغه زمانه کي په عربو کي غوره خوراک ثرید وو، ځکه چي اول خو دغه خوراک ډېر نرم او خوندور وي، دوهم دا چي ډېر ژر هضم کېدونکی او قوي ګټه کیږي، دعلماؤ په نزد په دې اړه اختلاف دی چي په بي بي عائشې رضي الله عنها، بي بي خدیجې علیها السلام او بي بي فاطمې رضي الله عنها کي تر ټولو افضله کومه بي بي ده؟ د امام اعظم ابو حنیفة علیه السلام دا قول نقل سوی دی چي د بي بي خدیجې علیها السلام څخه وروسته بي بي عائشه علیها السلام ددنیا تر ټولو ښځو افضله ده، ابن حجر رحمة الله علیه لیکلي دي چي بي بي فاطمې علیها السلام ته پر بي بي خدیجې او بي بي عائشې رضي الله عنها باندي فضیلت تر لاسه دی، د سبکي رحمة الله علیه څخه په دې اړه پوښتنه وسول نو هغه جواب ورکړ چي زموږ په نزد راجح قول دا دی چي تر ټولو افضله بي بي فاطمه بنت محمد صلي الله علیه وسلم، ده، تر هغې وروسته د هغې مور بي بي خدیجه علیها السلام او تر هغې وروسته بي بي عائشه رضي الله عنها افضله ده.

د کتاب مؤلف په ذکر سوي مسئله کي خپل پرېکنده قول داسي لیکلی دي چي د ځینو روایتو څخه چي ابن شیبه اونورو څخه نقل سوی دی، دا معلومیږي چي بي بي فاطمه زهرا رضي الله عنها تر مریم بنت عمران، آسیه زوجه فرعون او بي بي خدیجة الکبری څخه وروسته د ټولو ښځو سرداره ده او بي بي خدیجة الکبری رضي الله عنها ته پر بي بي عائشې علیها السلام فضیلت حاصل دی.

سبکي رحمة الله علیه د خپلي زمانې د ځینو امامانو څخه نقل کړي دي چي بي بي فاطمه علیها السلام د حضرت حسن او حضرت حسین رضي الله عنهما د زړه ټوټه او د رسول الله صلی الله علیه وسلم د یوې برخي کېدو په حیثیت تر خلفاء اربعه (حضرت ابوبکر صدیق، حضرت عمر فاروق، حضرت عثمان غني او حضرت علي رضي الله عنهم) څخه افضله ده مګر دا فضیلت علی الاطلاق نه دی ځکه چي خلفاء اربعه خپل علم او په دین کي د خپلو بې مثاله کړنو په وجه تر ټولو زیات د اجر ثواب په اعتبار تر بي بي فاطمې، حضرت حسن او حضرت حسین رضي الله عنهم افضل دي، لکه چي ابن حجر علیه السلام د شمائل ترمذي په شرح کي بیان کړي دي، نو څرګنده سوه چي څرنګه خلفاء اربعه او د رسول الله صلی الله علیه وسلم د زړه ټوټه د خپل خپل خاص حیثیت په اعتبار پر یو بل باندي فضیلت لري، همدا رنګه په عورات مطهراتو (پاکو ښځو) کي هیڅا ته په مجموعي او کلي توګه پر پاته دواړو باندي یا په هغو

كي پر يوې باندي فضيلت تر لاسه نه دی بلکه درې سره د بېلو خاصيتو په اعتبار په خپلو کي پر يو بل فضيلت لري، بي بي عائشې ﷺ ته چي کوم علمي مقام حاصل وو او هغې ته چي کوم خاصيت تر لاسه وو چي اکثر به وحي پر رسول الله ﷺ باندي د هغې په وخت کي نازلېدلې چي د هغې په بستره يا د هغې په حجره کي به وو، نو په دې اعتبار هغې ته پر بي بي فاطمې ﷺ فضيلت حاصل دی، ددې پر خلاف د رسول الله ﷺ د ذات مبارک يوه برخه او د رسول الله ﷺ د زړه د ټوټې کېدو شرف بي بي فاطمې ﷺ ته حاصل دی، په دې اعتبار هغه پر بي بي عائشې ﷺ باندي فضيلت لري، په قصيده اماليه کي ليکلي دي چي بي بي فاطمه ﷺ په ځينو خبرو کي پر بي بي عائشې ﷺ فضيلت لري او مريم او آسيه د خپلي زمانې پر ټولو ښځو باندي فضيلت لري. او بي بي خديجة الکبری په دې اعتبار فضيلت لري چي د رسول الله ﷺ د لومړۍ ښځي کېدو شرف هغې ته حاصل دی، د رسول الله ﷺ تر ټولو زيات خدمت او مرسته هغې وکړل او د رسول الله ﷺ اکثر اولاد هم دهغې څخه دی.

اَلْفَصْلُ الثَّانِي (دوهم فصل)

د الله ﷻ په اړه يو سوال

﴿۵۴۸۰﴾: عَنْ أَبِي رَزِينٍ قَالَ قُلْتُ يَا رَسُولَ اللهِ أَيْنَ كَانَ رَبُّنَا قَبْلَ أَنْ يَخْلُقَ

د حضرت ابو رزين ﷺ څخه روايت دی چي ما عرض وکړي اې د الله رسوله! د خپل مخلوق

خَلْقَهُ قَالَ كَانَ فِي عَمَاءٍ مَا تَحْتَهُ هَوَاءٌ وَمَا فَوْقَهُ هَوَاءٌ وَخَلَقَ عَرْشَهُ عَلَى الْمَاءِ

رواه الترمذي وقال قال يزيد ابن هارون العماء اي ليس معه شئ.

پيدا کولو څخه مخکي زموږ پروردګار په کوم ځای کي وو؟ رسول الله ﷺ وفرمايل په عماء (يعني باريکي وريځي) کي وو. نه تر هغه لاندي هواء وه او نه د هغه سربيره، الله تعالی خپل عرش پر اوبو پيدا کړی وو. ترمذي، يزيد بن هارون وايي عماء څخه دا مراد دی چي د هغه سره هيڅ شی نه وو.

تخريج سنن الترمذي ۲۶۹۱۵، رقم: ۳۱۰۹.

تشريح د عماء اصل معنی د وريځي ده که لږ وي او که ډېره وي، مګر دلته اصل معنی مراد نه ده چي پروردګار د خپلو مخلوقاتو پيدا کولو څخه مخکي په وريځ کي وو، بلکه دد غه لفظ څخه

يو مفهوم ته اشاره كول مقصد دي او هغه دا چي په ذكر سوي سوال كي د كوم حقيقت پلټنه څرګنده سوې ده هغې ته د چا علم رسېدای نه سي او نه عقل د هغه ادراک کولای سي او نه يې څوک تر لاسه کولای سي.

نه تر هغې لاندي هواء وه او نه پر هغه سربېره، د دغه الفاظو په ذريعه دې ته اشاره سوې ده چي د مخلوقاتو څخه مخكي يوازي الله ﷻ وو، د هغه سره هيڅ بل شی موجود نه وو، په دې اعتبار د دغه جملې خلاصه هغه ده کوم چي د دغه حديث مضمون دی، كان الله ولم يكن معه شئ، يوازي د الله ﷻ ذات موجود وو او د هغه سره د هيڅ شي وجود نه وو، او ځينو حضراتو ويلي دي چي د مخکنۍ جملې (په عماء کي وو) څخه الله ﷻ ته د مکان د نسبت وهم کېدای سو نو د دغه وهم د دفع لپاره يې ذكر سوې جمله وفرمايل چي د عماء يعني وريځي څخه هغه وريځ مراد نه ده چي تر هغې لاندي هواء وي او کله چي دغه وريځ مراد نه ده ځکه چي د هغې د هواء څخه پر ته کېدل محال دي نو دا وهم نه کيږي چي د عماء په ذريعه الله ﷻ ته د مکان او مقام نسبت سوی دی.

هغه خپل عرش په اوبو پيدا کړ، د دغه جملې په اړه يو شارح ليکلي دي چي پوښتنه كوونكي كوم سوال كړی وو، د هغه اصل مقصد دا پوښتنه كول وه چي: اين كان عرش ربنا. يعني د مخلوقاتو پيدا كولو څخه مخكي زموږ د پروردګار عرش چيري وو، د دې جواب رسول الله ﷺ دا ورکړ چي عرش الهي د اوبو سربېره وو، په دې اړه تحقيق مخكي تېر سوی دی.

د اسمانو ذكر

﴿۵۴۸۱﴾: وَعَنِ الْعَبَّاسِ بْنِ عَبْدِ الْمُطَّلِبِ زعم انه كان جالسا فِي الْبَطْحَاءِ فِي

د حضرت عباس رضی الله عنه بن عبد المطلب څخه روايت دی چي هغه په بطحا (د مكې مكرمې نوم)

عِصَابَةٍ وَرَسُولُ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ جَالِسٌ فِيْهِمْ فَمَرَّتْ سَحَابَةٌ فَنَظَرُوا

كي په يو ډله كي ناست وو او رسول الله ﷺ هم په دغه ډله كي وو، چي د وريځي يوه ټوټه تيره

إِلَيْهَا فَقَالَ رَسُولُ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ مَا تُسَمُّونَ هَذِهِ قَالُوا السَّحَابَ قَالَ

سوه خلكو هغه وريځي ته وكتل، رسول الله ﷺ وفرمايل: تاسو دې ته څه وایاست؟ خلكو عرض وكړ دا وريځ ده، رسول الله ﷺ وفرمايل

وَالْمُزْنَ قَالُوا وَالْمُزْنَ قَالَ وَالْعَنَانَ قَالُوا وَالْعَنَانَ قَالَ هَلْ تَدْرُونَ مَا بُعْدُ مَا

او مزن هم دي ته وايي ، هغوئ وويل هو مزن هم دې ته وايي. رسول الله ﷺ وفرمايل عنان هم ورته وايي، اصحابو وويل عنان هم درته وايو بيا رسول الله ﷺ وفرمايل: تاسو ته معلومه ده د

بَيْنَ السَّمَاءِ وَالْأَرْضِ قَالُوا لَا نَدْرِي قَالَ إِنَّ بُعْدَ مَا بَيْنَهُمَا إِمَّا وَاحِدَةٌ أَوْ اثْنَتَانِ

آسمان او مځکي په منځ کي څومره فاصله ده، صحابه کرامو وويل موږ ته نه ده معلومه، رسول الله ﷺ ورته وفرمايل: د آسمان او مځکي په منځ کي د يو اويا،

أَوْ ثَلَاثٌ وَسَبْعُونَ سَنَةً والسَّمَاءُ التي فَوْقَهَا كَذَلِكَ حَتَّى عَدَّ سَبْعَ سَمَاوَاتٍ ثُمَّ

دو اويا يا درو اويا کالو مزل دی.(راوي ته شک دی) او ددې آسمان سربيره چي دويم آسمان دی هغه هم ددې آسمان څخه دومره ليري دی ،

فَوْقَ السماء السَّابِعَةِ بَحْرٌ بَيْنَ أَعْلَاهُ وأَسْفَلِهِ كَمَا بَيْنَ سَمَاءٍ إِلَى سَمَاءٍ ثُمَّ فَوْقَ

همداسي رسول الله ﷺ اووه آسمانونه شمار کړل بيا يې وفرمايل: د اووم آسمان سربيره يو لوی درياب دی ددې درياب بيخ او د اوبو د سطحي په منځ کي هم دومره فاصله ده څومره چي د يوه آسمان څخه د بل آسمان په منځ کي فاصله ده بيا د هغه درياب سربيره

ذَلِكَ ثَمَانِيَةُ أَوْعَالٍ بَيْنَ أَظْلَافِهِمْ وَرُكَبِهِمْ مِثْلُ مَا بَيْنَ سَمَاءٍ إِلَى سَمَاءٍ ثُمَّ عَلَى

اته ملائکي دي چي د هغوئ د نوکونو او يا تشو په منځ کي هم دومره فاصله ده لکه د يوه اسمان څخه تر بل اسمان پوري ، بيا

ظُهُورِهِن الْعَرْشُ بَيْنَ أَسْفَلِهِ وَأَعْلَاهُ مَا بَيْنَ سَمَاءٍ إِلَى سَمَاءٍ ثُمَّ اللهُ تَبَارَكَ وَتَعَالَى فَوْقَ ذَلِكَ. رواه الترمذي وابوداؤد.

ددغه ملائکو پر شا عرش دی او د لاندينۍ برخي او سربيره برخي په منځ کي هم دومره فاصله ده لکه د يوه اسمان څخه تر بل اسمان پوري او ددغه عرش سربيره الله تعالى دی. ترمذي او ابوداؤد.

تخريج: سنن الترمذي ٥\٣٩٥، رقم: ٣٣٢٠، وابوداود ٥\٩٣، رقم: ٤٧٢٣.

د لغاتو حل: اوعال: العنز الوحشي

تشريح د حديث د ظاهري طرز څخه دا معلوميږي چي حضرت ابن عباس ﷺ د کومي زمانې پېښه بيان کړل، تر هغه وخته پوري هغه خلکو اسلام نه وو قبول کړی، همدارنګه هغه خلک هم مسلمانان سوي نه وه چي په هغوئ کي حضرت ابن عباس ﷺ په هغه وخت کي وو، که څه هم په راتلونکي دريم فصل کي په دې اړه د حضرت ابوهريره ﷺ روايت راځي او د هغه څخه دا ثابتيږي چي هغه خلک مسلمانان وه او په دغه وخت کي د هغه خلکو په منځ کي د رسول الله ﷺ موجود کېدل ددې احتمال لري چي هغه ټول خلک د مکې اوسېدونکي وه او مسلمانان سوي وه، او که دا احتمال قائم کړل سي چي هغه ټول خلک د مکې کفار وه او د اسلام په دائره کي داخل سوي نه وه نو بيا به دا ويل کيږي چي رسول الله ﷺ په هغه ځای کي د هغه خلکو په يو ځای لېدو سره هغوئ ته د اسلام د دعوت ورکولو اراده کړي وي او ددې لپاره به يې هغوئ ته تشريف وړی وي.

• يا خو يواويا کاله دي يا دو اويا او يا درې اويا، دغه جمله د راوي شک څرګندوي او رسول الله ﷺ په دغه وخت کي د دغه درو عددو څخه يو عدد ذکر کړی دی، په هر حال خلاصه داده چي د يو آسمان څخه تر دوهم آسمان پوري درمياني فاصله تقريبا د اويا کاله مسافت په اندازه ده مګر دا خبره بايد په ذهن کي وي چي ددغه شمېر څخه تحديد مراد نه دی بلکه د مبالغې په توګه دي يعني د هغه فاصلې زياتوب بيانول مراد دي، نو دغه حديث د هغه روايت خلاف نه دی چي په هغه کي د ځمکي او آسمان درمياني فاصله او ديو آسمان څخه تر دوهم آسمان پوري درمياني فاصله د پنځه سوه کاله په اندازه ذکر سوې ده.

پر اووم آسمان سربېره د اوبو يو لوی درياب دی، په ځينو روايتو کي فرمايل سوي دي چي الله ﷻ د خپل عرش په پيدا کولو سره د هغه عرش لاندي يو ډېر لوی درياب پيدا کړ او هغه درياب موجود او جاري دی..

او پر هغه عرش سربېره الله ﷻ دی، څرګنده دي وي چي ددغه جملې مراد د الله ﷻ د مرتبې لوړوالي، د هغه عظمت او د هغه د پاچاهي مافوقيت بيانول دي نه دا چي د مکان او استقرار په اعتبار د هغه ذات پر عرش باندي کېدل مراد دي، يعني رسول الله ﷺ د پروردګار عظمت او غوره والی په انساني ذهن کي د راوستلو لپاره د بېلګي په توګه دغه جمله وفرمايل او مطلب يې دا وو چي هغه ډېر عالي او عظيم البرهان دی، د هغه ذات تر ټولو لوړ دی او ټول موجودات د هغه د حکم او قدرت لاندي دي لکه چي په قرآن کريم کي فرمايل سوي دي:

والله من ورائهم محيط، او الله ﷻ پر ټولو چاپېره دی.

اصل خبره داده چي په دغه وخت كي رسول الله ﷺ د هدايت داسي مضمون او طرز اختيار كړ چي په هغه سره د ټولو ذهن او فكر د عالم سفلى څخه په منتقل كېدو سره عالم علوي ته مائل سي او د مځكي او آسمان اقتدار اعلى يو داسي تصوراتي خاكه د هغوئ پر زړه او دماغ باندي منعكس سي چي په هغه سره خلك د كائنات ارض وسماء پيداكونكي او د ټول كائناتو نظام چلونكي ذات ته په متوجه كېدو سره د بت پرستۍ، ادهام پرستۍ او فاسدې عقيدې كښته احساس او شعور تر لاسه كړي او ځان د دغه شيانو څخه منع كړي.

د عرش الهي ذكر

﴿۵۴۸۲﴾: وَعَنْ جُبَيْرِ بْنِ مُطْعِمٍ قَالَ أَتَى رَسُولَ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ أَعْرَابِيٌّ

د حضرت جبير بن مطعم رضي الله عنه څخه روايت دى چي يو صحرايي د رسول الله ﷺ په خدمت كي

فَقَالَ جُهِدَتْ الْأَنْفُسُ وَجَاعَ الْعِيَالُ وَنُهِكَتْ الْأَمْوَالُ وَهَلَكَتْ الْأَنْعَامُ

عرض وكړ چي نفسونه په تكليف كي سول، اهل او عيال د لوږي څخه مري مالونه بربادېږي او حيوانان مړه كيږي

فَاسْتَسْقِ اللّٰهَ لَنَا فَإِنَّا نَسْتَشْفِعُ بِكَ عَلَى اللّٰهِ وَنَسْتَشْفِعُ بِاللّٰهِ عَلَيْكَ فقَالَ

اې د الله رسوله! د الله جل جلاله څخه د باران سوال وكړئ، موږ تاسو د الله جل جلاله په نزد وسيله كوو، باران غواړو او الله تعالى تا ته شفيع كوو، ددې اوريدو سره

رَسُولُ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ وَيْحَكَ أَتَدْرِي مَا تَقُولُ وَسَبَّحَ رَسُولُ اللّٰهِ صَلَّى

نبي كريم ﷺ وفرمايل: الله تعالى پاك دى الله تعالى پاك دى. په څو واره رسول الله ﷺ دغه

اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ فَمَا زَالَ يُسَبِّحُ حَتَّى عُرِفَ ذٰلِكَ فِي وُجُوهِ أَصْحَابِهِ ثُمَّ قَالَ

الفاظ وفرمايل، (تر دې چي د رسول الله ﷺ د مخ مبارك په تغير محسوس كولو سره) د صحابه كرامو مخونه هم متغير سول، بيا رسول الله ﷺ هغه صحرايي ته وفرمايل:

وَيْحَكَ إِنَّهُ لَا يُسْتَشْفَعُ بِاللّٰهِ عَلَى أَحَدٍ مِنْ خَلْقِهِ شَأْنُ اللّٰهِ أَعْظَمُ مِنْ ذٰلِكَ

پر تا افسوس دى د الله تعالى چا ته شفاعت نه كيږي (او نه الله تعالى وسيله جوړيدلاى سي) د الله تعالى شان تر دې بزرگ او لوړ دى،

وَيحَكَ أَتَدْرِي مَا اللهُ إِنَّ عَرْشَهُ عَلَى سَمَاوَاتِهِ لَهٰكَذَا وَقَالَ بِأَصَابِعِهِ مِثْلَ الْقُبَّةِ عَلَيْهِ وَإِنَّهُ لَيَئِطُّ بِهِ أَطِيطَ الرَّحْلِ بِالرَّاكِبِ. رواه ابوداؤد.

پر تا افسوس دی ته پوهیږې چي د الله تعالی عظمت څه شي دی؟ د هغه عرش دده پر آسمانونو داسي دی وروسته رسول الله ﷺ لاس مبارک د ګمبدي په شکل جوړ کړ او وه يې ښودل لکه څرنګه چي دا لاس يو شی راګير کړي همداسي د هغه عرش آسمانونه راګير کړي دي، بيا يې وفرمايل: چي عرش سربيره د دومره لوی کيدو داسي چغيږي لکه څرنګه چي د اوښ کجاوه چغيږي کله چي پر هغه يو څوک سپور وي. ابوداؤد.

تخريج: سنن ابي داود ۵\ ۹۴، رقم: ۴۷۲۶.

د لغاتو حل: اطيط: اي كعجز الرحل عن احتمال الراكب. (كجاوه)

تشريح: موږ الله ﷻ تاسو ته شفيع كوو، ددغه جملې څخه د هغه صحرايي مراد دا وو چي موږ د الله ﷻ په دربار كي ستاسو ذات او ستاسو عظمت خپله وسيله ګرځوو، او تاسو خپل شفيع ګرځوو، او تاسو ته د دعاء غوښتنه كوو چي پروردګار زموږ پر حال باندي په رحم كولو سره باران وكړي او ستاسو د شفاعت او توجه غوښتني لپاره موږ دالله ﷻ په دربار كي التجاء كونكي يو چي هغه تاسو موږ ته په متوجه كولو سره، تاسو ته زموږ په حق كي د شفاعت كولو توفيق راكړي مګر هغه د خپل دغه مراد څرګندولو لپاره مناسب طرز اختيار نه كړ بلكه په بهره كي د هغه د ژبي څخه داسي الفاظ ووتل چي د هغه څخه نه يوازي دا چي د هغه اصل مراد ورك سو بلكه دا څرګنده سول چي هغه خپله الله ﷻ ستاسو په دربار كي وسيله ګرځوي او په دې معامله كي د الله ﷻ قدرت د هغه نظام او دهغه حكم اختيار كي رسول الله ﷺ شريك او برابر وي، حال دا چي د الله ﷻ ذات په خپل حكم اختيار او خپل نظارم كي هيچا ته مشاركت او هيڅ ډول برابري روا نه ده، د الله ﷻ ارشاد دی:

ليس لک من الامر شئ: د الله ﷻ په نظام كي تا ته هيڅ دخل نسته.

او دا يې هم فرمايلي دي:

من ذالذي يشفع عنده الا باذنه: داسي څوک دی چي هغه پرته د اجازې شفاعت وكړای سي.

نو د هغه صحرايي دا ويل رسول الله ﷺ ته ډېر ناخوښه سول او رسول الله ﷺ د هغه له خوا ددغه جملې پر ويلو باندي د حيرت او تعجب اظهار او د هغه خبردار كولو لپاره په وار وار سبحان الله

سبحان الله وويل.

تر دې چې د رسول الله ﷺ د صحابه كرامو د مونحانو رنګ بدل سو يعني د رسول الله ﷺ په وار وار سبحان الله ويلو سره د هغه په مجلس كي موجود صحابه كرام پوه سول چي د هغه صحرايي په دغه ويلو سره رسول الله ﷺ ته ناخوښه او غصه راغلل نو د رسول الله ﷺ د غضب او غصې په محسوس كولو سره هغوئ ټول وېرېدل او د الله ﷻ د بيرې څخه د هغوئ د مخونو رنګ بدل سو، بيا كله چې رسول الله ﷺ د صحابهٔ كرامو د مخونو رنګ بدل وليدی نو رسول الله ﷺ سبحان الله ويل موقوف كړل او هغه صحرايي ته يې خبره ونه كړل.

هغه عرش د دومره پراخ او پلن كېدو سربېره داسي آواز كوي...الخ: د دغه جملې په ذريعه رسول الله ﷺ د هغه صحرايي د پوهي سره سم د الله ﷻ د عظمت تمثيل بيان كړ او اصل مقصد د الله ﷻ د عظمت او جلالت اظهار دی او دومره لوی عرش هم د هغه د تحمل څخه عاجز دی.

﴿۵۴۸۳﴾: وَعَنْ جَابِرِ بْنِ عَبْدِ اللّٰهِ عَنِ النَّبِيِّ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ قَالَ أُذِنَ لِي أَنْ أُحَدِّثَ عَنْ مَلَكٍ مِنْ مَلَائِكَةِ اللّٰهِ مِنْ حَمَلَةِ الْعَرْشِ إِنَّ مَا بَيْنَ شَحْمَةِ أُذُنِهِ إِلَى عَاتِقِهِ مَسِيرَةُ سَبْعِ مِائَةِ عَامٍ . رواه ابوداؤد.

د جابر بن عبد الله رضي الله عنه څخه روايت دئ چي رسول الله ﷺ وفرمايل: ما ته اجازه راكړل سوې ده چي زه د الله تعالى په هغه ملائكو كي د يوې ملائكي حال بيان كړم چي عرش الهي يې پورته كړی دی د هغه ملائكي د غوږ د پوستكي څخه د هغې تر اوږو پوري فاصله د اوو سوو كالو مزل دی. ابوداؤد

تخريج سنن ابي داود: ۵\۹۶، رقم: ۴۷۲۷.

د الله ﷻ دېدار او حضرت جبرائيل عليه السلام

﴿۵۴۸۴﴾: وَعَنْ زُرَارَةَ بْنِ اَبِيْ أَوْفَى أَنَّ رَسُوْلَ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ قَالَ

د حضرت زراره ابن ابو اوفى رضي الله عنه څخه روايت دی چي رسول الله ﷺ جبرائيل عليه السلام ته وفرمايل:

لِجِبْرِيْلَ هَلْ رَأَيْتَ رَبَّكَ فَانْتَفَضَ جِبْرِيْلُ وَقَالَ يَا مُحَمَّدُ إِنَّ بَيْنِيْ وَبَيْنَهُ

ايا تا خپل پروردګار ليدلی دی؟ ددې اوريدو سره جبرائيل عليه السلام په رپيدو سو، هغه وويل: اې محمد ﷺ! زما او د الله ﷻ په منځ كي

سَبۡعِيۡنَ حِجَابًا مِّنۡ نُّوۡرٍ لَوۡ دَنَوۡتُ مِنۡ بَعۡضِهَا لَاحۡتَرَقۡتُ . هكذا في المصابيح ورواه أبو نعيم في الحلية عن أنس إلا أنه لم يذكر فانتفض جبريل. رواه المصابيح.

د نور اويا زره پردې دي که په هغه پردو کي يوې ته هم ورنژدې سوم نو وه به سوځم. مصابيح.

تخريج: البغوي في المصابيح ۱۴\۳۰، رقم: ۴۴۵۷.

تشريح: حضرت زراره رحمه الله يو جليل القدر تابعي دی، نوموړی د بصرې قاضي او د خپلي زمانې د غوره مشائخو څخه وو، د حضرت ابن عباس رضي الله عنه او حضرت ابوهريره رضي الله عنه څخه يې اورېدل کړي دي ، د الله جل جلاله او د آخرت څخه دبيري يې دا حال وو چي يوه ورځ يې د سهار په لمانځه کي امامت کوی ، کله چي دغه آيت (فاذا نقر في الناقور) ته ورسېدی نو په چغه کولو سره را ولوېدی او هم هلته په حق ورسېدی، د وليد ابن عبدالملک د خلافت د زمانې ۷۳ هجري کال پېښه ده ، او ملا علي قاري رحمه الله يو قول نقل کړی دی چي حضرت زراره صحابي دی او د حضرت عثمان غني رضي الله عنه د خلافت په زمانه کي وفات سوی دی .

حضرت جبرائيل عليه السلام په رېږدو سو، يعني د الله جل جلاله د ليدني په اړه د رسول الله صلی الله علیه وسلم سوال پر هغه باندي هيبت خپور کړ او هغه ددغه حال په تصور سره په رېږدو سو چي ليدنه کوم قرب لره مستلزم ده، که ما ته دا قرب ميسر سوی وای نو د ډېر هيبت څخه به زما څه حال وای، په هر حال د رسول الله صلی الله علیه وسلم ددغه سوال څخه ثابتيږي چي په آخرت کي د الله جل جلاله د ذات ليدنه يو ممکن حقيقت دی ځکه که چيري دغه ليدني او مشاهده ناممکن وای نو رسول الله صلی الله علیه وسلم به دا سوال نه کولای مګر د قيامت په ورځ به ملائکو او پيريانو ته د الله جل جلاله ليدنه په برخه وي که يا؟ په دې اړه د علماؤ اختلاف دی چي بحث يې مخکي تېر سوی دی .

زما او د الله جل جلاله په منځ کي دنور اويا پردې وي، دا حضرت جبرائيل عليه السلام د ديدار الهي تر مرتبه عظمی پوري د خپل رسېدو عجز څرګند کړ او خپل دغه عجز يې د خپل ځان او الله جل جلاله په منځ کي د اويا پردو سره تعبير کړ نو هغه د حجاب ذکر په خپل اعتبار وکړ، د هغه مطلب دا نه وو چي د الله جل جلاله ذات د اويا پردو تر شا دی ځکه چي محجوب (په پرده کي کېدل) د مغلوب کېدو نښه ده چي د خالق صفت نسي کېدای ، هغه په هر حال کي غالب دی او هيڅ شی د هغه حجاب نه سي ګرځېدلای، ددې پر خلاف مخلوق د عجز او نقصان خاوند دی ځکه محجوب کېدل د هغه صفت کېدای سي ، څرګنده دي وي چي په دغه جمله کي د اويا شمېر شارع ته معلوم دی چي په

خاصه توکه دغه شمېر ولي ذکر سو، همدارنګه په يو بل روايت کي د اويا زره پردو الفاظ دي، ددې څخه معلومېږي چي محض كثرت ته اشاره کول مراد دي نه د خاص شمېر ذکر کول.

حضرت اسرافيل عليه السلام

﴿۵۴۸۵﴾: وَعَنِ ابْنِ عَبَّاسٍ قَالَ قَالَ رَسُولُ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ إِنَّ اللّٰهَ

د حضرت ابن عباس رضي الله عنه څخه روايت دئ چي رسول الله صلى الله عليه وسلم وفرمايل: د کومي ورځي څخه چي

خَلَقَ إِسْرَافِيْلَ مُنْذُ يَوْمٍ خَلَقَهُ صَافًّا قَدَمَيْهِ لاَ يَرْفَعُ بَصَرَهُ بَيْنَهُ وَبَيْنَ

الله تعالى حضرت اسرافيل عليه السلام پيدا کړی دی د هغه دواړه قدمونه پر خپل ځای ايښی ولاړ دی (يعني شپيلۍ په خوله کي نيولې تيار ولاړ دی) نظر نه پورته کوي د هغه او

الرَّبِّ تَبَارَكَ وَتَعَالٰى سَبْعُوْنَ نُوْرًا مَا مِنْهَا مِنْ نُّوْرٍ يَدْنُوْ مِنْهُ إِلاَّ احْتَرَقَ. رواه الترمذي وصححه

د الله جل جلاله په منځ کي د نور اويا پردې دي په هغه کي د يوې پردې نژدې هم اسرافيل عليه السلام نه سي ورتلای که نژدې ورسي نو وه به سوځي. ترمذي.

تخريج: لم نجده عند الترمذي.

تشريح: سترګي نه پورته کوي، يعني حضرت اسرافيل عليه السلام د خپل زېږېدني د وخت څخه داسي په ادب او ملا تړلی ولاړ دی چي د هغه سترګي هم يو ځای آسمان ته متوجه وي ځکه سترګي بلي خوا ته نه اړوي، خلاصه دا چي هغه د خپل زېږېدني د وخت څخه د شپيلۍ پوکلو لپاره بالکل تيار او په انتظار دی چي کيدای سي په دغه وخت کي حکم وسي.

د انسان فضيلت

﴿۵۴۸۶﴾: وَعَنْ جَابِرٍ أَنَّ النَّبِيَّ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ قَالَ لَمَّا خَلَقَ اللّٰهُ آدَمَ

د حضرت جابر رضي الله عنه څخه روايت دئ چي رسول الله صلى الله عليه وسلم وفرمايل: کله چي الله جل جلاله آدم عليه السلام او د

وَذُرِّيَّتَهُ قَالَتْ لِمَلاَئِكَةُ يَارَبِّ خَلَقْتَهُمْ يَأْكُلُوْنَ وَيَشْرَبُوْنَ وَيَنْكِحُوْنَ

هغه اولاده پيدا کړل نو ملائکو وويل اې پروردګاره! تا هغه مخلوق پيدا کړي چي خوري،

ځينې، نكاح كوي

وَيَرْكَبُوْنَ فَاجْعَلْ لَّهُمُ الدُّنْيَا وَلَنَا الْآخِرَةَ قَالَ اللّٰهُ تَعَالٰى لاَ أَجْعَلُ مَنْ

او سپرلي به كوي ته هغوي ته دنيا وركړې او موږ ته آخرت را كړې، الله تعالى ورته وفرمايل:

خَلَقْتُهُ بِيَدَيَّ وَنَفَخْتُ فِيْهِ مِنْ رُّوْحِيْ كَمَنْ قُلْتُ لَهُ كُنْ فَكَانَ . رواه البيهقي في شعب الإيمان.

كوم مخلوق چي ما په خپل لاسونو سره جوړ كړی دی او ما پكښې خپل روح پوه كړی دی هغه د هغه مخلوق په ډول نه سي كيدلای چي هغه ما په (كن) ويلو سره پيدا كړي دي او هغه پيدا سو، بيهقي.

تخريج: البيهقي في شعب الايمان ١\ ١٧٢، رقم: ١۴٩.

تشريح: د ملائكو دوينا مطلب دا وو چي كله دغه مخلوق د ځمكي پر مخ باندي ستا د خلافت لپاره پيدا سوی دی او هغوئ ته ددنيا نعمتونه او خوندونه وركړل سوي دي چي د هغو څخه موږ محروم كړل سوي يو نو هغوئ بايد د دنيا تر كاميابۍ پوري محدود وي، يا دا چي ددنيا نعمتونه دي د هغوئ لپاره تل وي او د آخرت ټول نعمتونه دي زموږ لپاره خاص كړل سي، لكه څرنگه چي موږ ددنيا د نعمتونو څخه محروم يو همدارنگه انسان دي د آخرت د نعمتونو څخه محروم كړل سي چي موږ دواړه برابر سو، يعني ملائكو د الله ﷻ د مخلوق كېدو په اعتبار خپل ځانونه د آدم علیه السلام او د هغه د اولاد برابر وگڼل مگر الله ﷻ د ملائكو ددغه گمان تصحيح وفرمايل او څرگنده يې كړل چي د انسان تخليق او زېږېدنه د نور ټول مخلوق څخه چي په هغو كي ملائكي هم شامل دي، د تخليق او زېږيدني څخه مختلف دي، د مثال په توگه د ملائكو تخليق د كن په ذريعه سوی دی چي يوازي كن يې وويل نو ټولي ملائكي په وجود كي راغلې، ددې پر خلاف د انسان تخليق د يو خاص نظام لاندي وسو او په دې اړه تدريجي لړۍ روانه ده چي تر ټولو وړاندي آدم علیه السلام بېله واسطې او ذريعې الله ﷻ تخليق كړ، په هغه كي روح پوه كړل بيا د هغه څخه يې د هغه جوړه (بي بي حواء) پيدا كړل او د دوئ دواړو څخه يې د توالد لړۍ جاري كړل چي د هغوئ څخه وروسته د هغوئ په اولاد كي تر هغه وخته به روانه وي تر څو چي د دنيا د خاتمې وخت نه وي راغلی، بيا دا چي د ملائكو خمير مجرد دی حال دا چي د انسان خمير مركب دی، په ده كي د صلاحيت منلو وړتيا هم سته او د گمراهۍ اختيارولو ماده هم، هغه د

پروردګار د صفت جلال د مظهر کېدو هم استعداد لري او د هغه د صفت جمال مظهر هم کيدای نو کوم مخلوق چي د خپل تخليق په اعتبار دا ځانګړتيا لري هغه د هغه مخلوق برابر څرنګه کيدای سي چي داسي خصوصيت نه لري ، څرګنده سوه چي په شرف او کرامت کي ملائکه د انسان برابر کيدای نه سي ، په خاصه توګه د شرف او کرامت په اعتبار انسان د ملائکي څخه ډېر لوړ دی او د هغه مقام او مرتبه ډېره لوړه ده او ملائکي معصومي پيدا کړل سوي دي ځکه هغوئ د عذاب څخه ليري ساتل سوي دي مګر هغوئ د نعمتونو څخه هم محروم سوي دي، د دوئ پر خلاف انسان د نيکۍ د لاري اختيارولو او د بدۍ د لاري څخه د ځان ساتني مکلف او ذمه دار پيدا سوی دی ځکه کوم انسان چي دغه ذمه داري په پوره توګه ادا کړي نو هغه د دواړو جهانو د نعمتونو وړ ګرځي او کوم انسان چي د دغه ذمه دارۍ څخه مخ اړوي نو هغه په دواړو جهانو کي د عتاب او عذاب وړ ګرځي .

په پای کي دا څرګندول هم ضروري دي چي (په هغه کي يې روح پوه کړل) د لته الله ﷻ ته د روح نسبت محض د روح د عظمت د اظهار لپاره دی لکه په بيت الله کي چي الله ﷻ ته د بيت نسبت دی .

اَلْفَصْلُ الثَّالِث (دريم فصل)

پر ملائکو د انسان فضيلت

﴿۵۴۸۷﴾: عَنْ أَبِي هُرَيْرَةَ قَالَ قَالَ رَسُولُ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ الْمُؤْمِنُ أَكْرَمُ عَلَى اللّٰهِ عَزَّ وَجَلَّ مِنْ بَعْضِ مَلَائِكَتِهِ. رواه ابن ماجة.

د حضرت ابوهريره رضي الله عنه څخه روايت دئ چي رسول الله ﷺ وفرمايل : مؤمن د الله تعالى په نظر کي د ځيني ملائکو څخه زيات عزتمند دی. ابن ماجه

تخريج : سنن ابن ماجه: ۲\۱۳۰۱، رقم: ۳۹۴۷.

تشريح : د ځينو ملائکو څخه مراد يا خو خاص ملائکي دي او يا هغه ټولي ملائکي دي چي په عامو ملائکو کي غوره والي لري، طيبي رحمه الله ليکلي دي چي د مؤمن څخه مراد عام مؤمنان دي او د ځينو ملائکو څخه مراد هم عامي ملائکي دي .

محي السنة رحمه الله وايي: دا ويل زيات غوره دي چي عام مؤمن د عامو ملائکو څخه افضل دی

او خاص مؤمنان د خاصو ملائكو څخه افضل دي لكه چي د الله ﷻ ارشاد دی :

إِنَّ الَّذِينَ آمَنُوا وَعَمِلُوا الصَّالِحَاتِ أُوْلَئِكَ هُمْ خَيْرُ الْبَرِيَّةِ

بېله شكه كومو كسانو چي ايمان راوړ او نېک كارونه يې وكړل نو هغوئ غوره د خلائق دي.

اهل سنت والجماعت ددې څخه په استدلال كولو سره وايي چي انسان تر ملائكو افضل دی مګر ځينو حضراتو ليكلي دي چي په اجمالي توګه يوازي دومره ويل كافي نه دي چي انسان د ملائكو څخه افضل دی بلكه غوره داده چي دا خبره په تفصيل سره بيان كړل سي چي په انسان كي د هر كس د ملائكو څخه افضل كېدل مفهوم نه دي او دا هم څرګنده سي چي په دې اړه د عوامو او خواصو مصداق څه دی، دا تفصيل بايد معلوم وي چي د خاص مؤمن څخه مراد د الله ﷻ ټول رسولان او نبيان دي ، همدارنګه د خاصو ملائكو څخه مراد حضرت جبرائيل، حضرت ميكائيل، حضرت اسرافيل او نور عليهم السلام ، دي، او د عامو مؤمنانو څخه مراد د كاملي درجې مؤمنان دي لكه خلفاء راشدين، اولياء كاملين او ټول علماء.

په ابن ماجه كي يو حديث ذكر سوی دی چي په دوو سندو سره منقول دی او هغه حديث دادی : المؤمن اعظم حرمة من الكعبة، د مؤمن احترام او اكرام تر كعبې هم زيات دی.

د مخلوقاتو د پيدائش ورځ

﴿۵۴۸۸﴾ : وَعَنْهُ قَالَ أَخَذَ رَسُولُ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ بِيَدِي فَقَالَ خَلَقَ

د حضرت ابو هريره ﷺ څخه روايت دی چي رسول الله ﷺ زما لاس ونيوی او وه يې فرمايل: الله

اللّٰهُ عَزَّ وَجَلَّ التُّرْبَةَ يَوْمَ السَّبْتِ وَخَلَقَ فِيهَا الْجِبَالَ يَوْمَ الْأَحَدِ وَخَلَقَ

تعالى خاوره د شنبې په ورځ پيدا كړې ده (يعني مځكه) ، او بيا په مځكه كي يې غرونه د يكشنبې په ورځ پيدا كړل

الشَّجَرَ يَوْمَ الِاثْنَيْنِ وَخَلَقَ الْمَكْرُوهَ يَوْمَ الثُّلَاثَاءِ وَخَلَقَ النُّورَ يَوْمَ الْأَرْبِعَاءِ

او درختي او بوټي يې د دوشنبې په ورځ پيدا كړل او خراب شيان يې د سه شنبې په ورځ پيدا كړل او رڼا يې د چارشنبې په ورځ پيدا كړل

وَبَثَّ فِيهَا الدَّوَابَّ يَوْمَ الْخَمِيسِ وَخَلَقَ آدَمَ عَلَيْهِ السَّلَامِ بَعْدَ الْعَصْرِ مِنْ

او حيوانان يې په مځكه كي د پنجشنبې په ورځ خپاره كړل او آدم عليه السلام يې د جمعې په

يَوْمِ الْجُمُعَةِ فِي آخِرِ الْخَلْقِ فِي آخِرِ سَاعَةٍ مِنْ سَاعَاتِ من النهار فِيمَا بَيْنَ الْعَصْرِ إِلَى اللَّيْلِ. رواه مسلم.

ورځ د مازديگر څخه وروسته پيدا کړ او د آخري زيږيدني د ورځي آخري ساعت کي وسو يعني د مازديگر څخه تر شپې پوري. مسلم

تخريج: صحيح مسلم ۴\۲۱۴۹، رقم: ۲۷– ۲۷۸۹.

تشريح: يوم السبت يعني دشنبې د ورځي څخه ددغه ورځي آخري برخه مراد ده چي پر هغه د ورځي اختتام کيږي چي په عربي کي ورته عشية الاحد يعني د يکشنبې د شپې لومړنۍ برخه وايي، په دې اعتبار دغه وخت د يکشنبې يوه برخه ده.

نو دغه روايت د قرآن کريم ددغه آيت: (وَلَقَدْ خَلَقْنَا السَّمَاوَاتِ وَالأَرْضَ وَمَا بَيْنَهُمَا فِي سِتَّةِ أَيَّامٍ) خلاف نه دی.

وخلق النور يوم الاربعاء: او رڼا يې د چارشنبې په ورځ پيدا کړل، دلته مسلم د نور لفظ نقل کړی دی او د مشکوة په صحيح نسخو کي هم دغه لفظ همدا رنگه (يعني په راء) سره دی مگر د مشکوة په يوه نسخه کي دغه لفظ په نون سره يعني (نون) دی چي د هغه معنی د ماهي ده، نو کيدای سي چي نور يعني رڼا او نون يعني ماهي دواړه په يوه ورځ يعني د چارشنبې په ورځ پيدا سوي وي.

د حديثْ د آخري برخي څخه معلومه سوه چي د مخلوقاتو د پيدا کېدو آخري ورځ جمعه وه، په دغه ورځ د ټولو شيانو د پيدا کېدو لړۍ پای ته ورسېدل او ټول مخلوقات د مځکي پر مخ جمع سول نو ددغه ورځي د نامه يعني جمعه ايښودو وجه هم داده او ددغه ورځي هغه وخت چي په هغه کي د آدم ﷺ پر تخليق باندي د مخلوقاتو د پيدا کېدو لړۍ او تکميل وسو.

د ورځي بالکل آخري برخه وه، په دغه مناسبت سره ددغه ورځي اخري وخت (د مازديگر څخه وروسته تر شپې پيل کېدو پوري) د قبوليت په وخت سره مشرف سو، اکثر علماء وايي چي د جمعې د ورځي په دغه آخري برخه کي الله ﷻ دعاوي قبلوي.

د مځکي او اسمان ذکر

﴿۵۴۸۹﴾: وَعَنْهُ قَالَ بَيْنَمَا نَبِيُّ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ جَالِسٌ وَأَصْحَابُهُ إِذْ أَتَى

د حضرت ابو هريره ﷺ څخه روايت دی چې رسول الله ﷺ او صحابه كرام ناست وه چې د

عَلَيْهِمْ سَحَابٌ فَقَالَ نَبِيُّ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ هَلْ تَدْرُونَ مَا هٰذَا قَالُوا اللّٰهُ

وريځي يوه ټوټه تيره سوه، رسول الله ﷺ پوښتنه وكړه پوهيږئ چي دا څه شي ده؟ صحابه كرامو عرض وكړ الله تعالى

وَرَسُولُهُ أَعْلَمُ قَالَ هٰذَا الْعَنَانُ هٰذِهِ رَوَايَا الْأَرْضِ يَسُوقُهُ اللّٰهُ تَبَارَكَ وَتَعَالَى إِلَى

او د هغه رسول ښه پوهيږي، رسول الله ﷺ وفرمايل دا عنان ده، دا وريځ مځكه اوبه كونكې اوښان دي، الله تعالى دا وريځ د هغه قوم په لور شړي چي

قَوْمٍ لَا يَشْكُرُونَهُ وَلَا يَدْعُونَهُ ثم قَالَ هَلْ تَدْرُونَ مَا فَوْقَكُمْ قَالُوا اللّٰهُ وَرَسُولُهُ

د الله تعالى شكر نه ادا كوي او نه هغه يادوي، بيا رسول الله ﷺ وفرمايل: او تاسو ته معلومه ده چي ستاسو سربيره څه شي دي؟ صحابه كرامو عرض وكړ الله او د هغه رسول ښه پوهيږي،

أَعْلَمُ قَالَ فَإِنَّهَا الرَّقِيعُ سَقْفٌ مَحْفُوظٌ وَمَوْجٌ مَكْفُوفٌ ثُمَّ قَالَ هَلْ تَدْرُونَ مَا

رسول الله ﷺ وفرمايل: ستاسو سربيره رقيع دي يعني د دنيا د آسمان خوندي بام، او يو موج يې د غورځيدو څخه منع كړې دی، بيا يې وفرمايل تاسو ته معلومه ده چي

بَيْنَكُمْ وَبَيْنَهَا قَالُوا اللّٰهُ وَرَسُولُهُ أَعْلَمُ قَالَ بَيْنَكُمْ وَبَيْنَهَا خَمْسِ مِائَةِ عام ثُمَّ

د آسمان او ستاسو په منځ كي څومره فاصله ده؟ عرض وسو الله جل جلاله او د هغه رسول ښه پوهيږي. رسول الله ﷺ وفرمايل: ستاسو او د آسمان په منځ كي د پنځو سوو كالو لار ده، بيا

قَالَ هَلْ تَدْرُونَ مَا فَوْقَ ذٰلِكَ قَالُوا اللّٰهُ وَرَسُولُهُ أَعْلَمُ قَالَ سَمَاءَيْنِ مَا بَيْنَهُمَا

رسول الله ﷺ وفرمايل تاسو ته معلومه ده چي د آسمان سربيره څه شي دي؟ عرض وسو چي الله او د هغه رسول ښه پوهيږي، رسول الله ﷺ وفرمايل: دوه آسمانونه دي او ددې دواړو په منځ

خَمْسِ مِائَةِ سَنَةٍ ثم قال كذالك حَتّٰى عَدَّ سَبْعَ سَمَاوَاتٍ مَا بَيْنَ كُلِّ سَمَاءَيْنِ ما

كي د پنځو سوو كالو د لاري فاصله ده همدا سي رسول الله ﷺ اووه آسمانونه وشميرل، او هر دوو آسمانو په منځ كي

بَيْنَ السَّمَاءِ وَالْأَرْضِ ثُمَّ قَالَ هَلْ تَدْرُونَ مَا فَوْقَ ذَلِكَ قَالُوا اللَّهُ وَرَسُولُهُ أَعْلَمُ

د پنځو سوو کالو د لارې فاصله يې وښودل، بيا يې وفرمايل: تاسو پوهيږئ د دې آسمانونو سربېره څه شي دي؟ صحابه کرامو عرض وکړ الله ﷻ او د هغه رسول ښه پوهيږي،

قَالَ فَإِنَّ فَوْقَ ذَلِكَ الْعَرْشَ وَبَيْنَهُ وَبَيْنَ السَّمَاءِ بُعْدُ مَا بَيْنَ السَّمَاءَيْنِ ثُمَّ قَالَ

رسول الله ﷺ وفرمايل: د دغه آسمانونو سربېره عرش الهي دی او د دغه آسمانو او عرش الهي په منځ کې هم دومره فاصله ده لکه څومره چې د دوو آسمانو په منځ کې ده، بيا رسول الله ﷺ

هَلْ تَدْرُونَ مَا الَّذِي تَحْتَكُمْ قَالُوا اللَّهُ وَرَسُولُهُ أَعْلَمُ قَالَ فَإِنَّهَا الْأَرْضُ ثُمَّ قَالَ

وفرمايل: تاسو ته معلومه ده چې ستاسو لاندې څه شي دي؟ عرض وسو چې الله او د هغه رسول ښه پوهيږي، رسول الله ﷺ وفرمايل: مځکه ده، بيا يې وفرمايل:

هَلْ تَدْرُونَ مَا تَحْتَ ذَلِكَ قَالُوا اللَّهُ وَرَسُولُهُ أَعْلَمُ قَالَ إِنَّ تَحْتَهَا أَرْضًا أُخْرَى

تاسو ته معلوه ده چې د دغه مځکې لاندې څه شي دي؟ عرض وسو چې الله ﷻ او د هغه رسول ښه پوهيږي، رسول الله ﷺ ورته وفرمايل: تر دغه مځکې لاندې بله مځکه ده

بَيْنَهُمَا مَسِيرَةُ خَمْسِ مِائَةِ سَنَةٍ حَتَّى عَدَّ سَبْعَ أَرَضِينَ بَيْنَ كُلِّ أَرْضَيْنِ مَسِيرَةُ

او د دواړو مځکو په منځ کې د پنځو سوو کالو فاصله ده همداسې اووه مځکې يې وشميرلې او د هرې مځکې څخه تر بلې مځکې پورې يې

خَمْسِ مِائَةِ سَنَةٍ ثُمَّ قَالَ وَالَّذِي نَفْسُ مُحَمَّدٍ بِيَدِهِ لَوْ أَنَّكُمْ دَلَّيْتُمْ رَجُلًا بِحَبْلٍ

د پنځو سوو کالو فاصله وښودل او بيا يې وفرمايل: په هغه ذات مې دې قسم وي چې د هغه په لاس کې د محمد ﷺ ساه ده که تاسو په مځکه کې رسۍ وغورځوئ

إِلَى الْأَرْضِ السُّفْلَى لَهَبَطَ عَلَى اللَّهِ ثُمَّ قَرَأَ هُوَ الْأَوَّلُ وَالْآخِرُ وَالظَّاهِرُ وَالْبَاطِنُ

او تر ټولو لاندې ورسيږي نو هغه به الله تعالى ته ورسيږي، د دې څخه وروسته رسول الله ﷺ دا آيت تلاوت کړ: (هوالاول والاخر والظاهر والباطن

وَهُوَ بِكُلِّ شَيْءٍ عَلِيمٌ. رواه احمد والترمذي وقال الترمذي قراءة رسول الله

وهو بكل شئ عليم)، (الله تعالى اول دى او هغه آخر دى هغه ظاهر دى او هغه باطن دى او هغه ته د هر خير علم دى.)، احمد او ترمذي، امام ترمذي په خپل جامع كي د دغه حديث لاندي

ﷺ الاية تدل على انه اراد الهبط على علم الله وقدرته وسلطانه وعلم الله وقدرته وسلطانه في كل مكان وهو على العرش كما وصف نفسه في كتابه.

وفرمايل : د رسول الله ﷺ د دې آيت تلاوت كول پر دې دلالت كوي چي هغه رسى به د الله سبحانه وتعالى په علم او د هغه په قدرت او د هغه پر حكومت پريوځي ځكه چي د الله سبحانه وتعالى علم او د هغه قدرت او د هغه حكومت په هر ځاى كى دى او بذات خود په عرش عظيم كي دى څنګه چي هغه په خپل كتاب كي خپل دا وصف بيان كړى دى.

تخريج: سنن الترمذي ٥\٣٧٦- ٣٧٧، رقم: ٣٢٩٨، وفي مسند احمد ٢\٢٠٦- ٢٠٧.

د لغاتو حل: العنان: السحابة (وريځ). الرقيع: اسم لسماء الدنيا (د دنيا آسمان).

تشريح: روايا د راوية جمع ده او راويه هغه اوښ ته وايي چي اوبه په راكښل كيږي، نو ابر يعني وريځ يې په راويه سره ځكه تعبير كړ چي څرنګه اوښ د اوبو په راكښلو سره مځكه اوبه كوي همدا رنګه وريځ هم د اوبو په اورولو سره مځكه اوبه كوي.

چي نه د هغه شكر ادا كوي، د دغه جملې په ذريعه هغه خلكو ته اشاره سوې ده چي پر باران كېدو باندي نه يوازي دا چي د الله ﷻ شكر نه ادا كوي چي د هغه حكم او د هغه په قدرت سره د هغه باران په نتيجه كي د هغوئ مځكه اوبه كيږي، د هغوئ د اوبو اړتيا پوره كيږي او د هغوئ د روزي او ګټې ذرائع تر لاسه كيږي بلكه هغوئ د باران نسبت د هغه اصل مسبب (الله ﷻ) ته د كولو پر ځاى ظاهري اسبابو ته يا دخپل فاسد خيال او ګمان مطابق غير حقيقي طاقتونو او ستورو ته كوي، همدا رنګه د (او نه هغه يادوي) په ذريعه هم د هغه خلكو بې حسي او بدعقيده توب ته اشاره سوې ده چي هغه خلك د الله ﷻ په يادولو سره د هغه څخه د مرستي غوښتلو او د هغه د عبادت كولو پر ځاى د خپل لاس جوړ سوو او غير حقيقي طاقتونو په وړاندي سجده كوي او هغوئ خپل مرسته كونكي ګڼي مګر دا د پروردګار بې پايه كرم او رحمت دى چي هغه د دغه خلكو د ناشكرۍ، بدعملۍ او بد عقېده توب سربېره هغوئ ته رزق وركوي، د هغوئ اړتياوي پوره كوي او هغوئ ته امن او عافيت وركوي.

رقيع د راء په زور سره د فعيل پر وزن دى او دا د لومړني آسمان چي هغه ته د دنيا آسمان هم

وايي، نوم دی مګر ځينو حضراتو ويلي دي چي هر آسمان ته رقيع وايي.
چي يو خوندي بام او نه لوېدونکې څېه ده، دلته آسمان ته د يو ټينګ بام سره تشبيه ورکړل سوې ده چي د لوېدو پرته خوندي دي، الله ﷻ آسمانونه داسي قائم کړي دي چي نه د هغه پر ځمکه باندي رالوېدو بېره ده او نه په هغه کي د ماتېدو بېره سته، همدارنګه آسمان ته د څپې سره مناسبت ځکه ورکړل سوی دی چي څرنګه د اوبو يوه چپه په هواء کي معلق وي همدارنګه آسمان هم بېله ستني په خلاء کي معلق دی.
په هغو کي د هري ځمکي څخه تر بلي ځمکي پوري درميانه فاصله ...الخ: ددې څخه دا خبره معلوميږي چي په ټولو ځمکو کي د يوې بلي درميانه هغه فاصله ده کوم چي په ټولو آسمانو کي د يو بل درميانه فاصله ده، کوم حضرات چي وايي: د ځمکي ټولي طبقې د يو بل سره يو ځای سوي دي او د هغوئ په منځ کي ليري والي او فاصله نسته او په دې وجه په قرآن کريم د ارض، يعني ځمکي لفظ مفرد ذکر سوی دی او د سماء ذکر د جمع په صيغه سره کيږي، نو دغه حديث د هغه خلاف واقع کيږي، کوم چي ددې خبري تعلق دی چي په قرآن کريم کي د ارض لفظ په هر ځای کي د مفرد په صيغه سره ذکر کيږي او ددې نسبت څخه د اسماء لفظ د جمع په صيغه راځي نو کېدای سي چي د ارض څخه يوازي د هغه ځمکي ذکر کول مقصد وي چي د هغه سره ددغه کائناتو د مخلوق اصل تعلق دی او تر قدمو لاندي يې ده، د پاته نورو ځمکو سره د چا کار نسته، حال دا چي د آسمانو معامله ددې برعکس ده او هر آسمان د فيوضو او آثارو مصدر دی او د ټولو آسمانو سره ددې دنيا تعلق يو ځای سوی دی.
نو پر الله ﷻ باندي کښته کيږي، ددې څخه مراد څرنګه چي ترمذي هم وضاحت کړی دی، ددغه رسی د الله ﷻ علم او قدرت او د هغه پر حکمت باندي کښته کيږي، مطلب دا چي د الله ﷻ علم او د هغه معلومات، د هغه قدرت او اختيار او دهغه حکم چي څرنګه د آسمان لوړوالي او وسعت چاپېره کړی دی همدارنګه د ځمکي پر مخ باندي او د ځمکي تر آخري ژوروالي پوري هم د هغه علم، دهغه قدرت او دهغه حکم حاوي او نافذ دی، رسول الله ﷺ دغه خبره ددغه شبهې د دفع لپاره وفرمايل چي کيدای سي يو ناپوه او کم فهمه سړی د الله ﷻ علم او اختيار او د هغه قدرت تر آسمان او آسماني کائناتو پوري محدود دي، د آسمان لاندي شيان نه د هغه په علم کي دي او نه د هغه د حکم او قدرت لاندي دي، نو رسول الله ﷺ څرګنده کړل چي د الله ﷻ د قدرت په وړاندي د آسمانو لوړوالي او د ځمکو ښکته والي ټول يو ډول دي، د هغه د قدرت او د هغه د حکم ظهور چي څرنګه پر آسمان دی همدارنګه د ځمکي پر سر او د ځمکي

لاندي هم دی، او غالبا د دغه حقيقت څرګندولو لپاره ويل سوي دي چي د حضرت يونس عليه السلام معراج هغه ته د ماهي په نس کي ورسېدی لکه څرنګه چي رسول الله ﷺ ته د آسمان سربېره معراج تر لاسه سو .

دا چي امام ترمذي رحمة الله عليه ويلي دي چي پر الله جل جلاله باندي د رسۍ کښته کېدو څخه مراد دادی چي هغه رسۍ د الله جل جلاله علم ، دهغه قدرت او د هغه پر حکومت باندي کښته کېږي نو هغه دغه وضاحت ددغه آيت کريمه په رڼا کي کړی دی چي رسول الله ﷺ ددغه حديث فرمايلو څخه وروسته دغه آيت تلاوت کړي، نو ددغه آيت الفاظ (بکل شئ عليم) څخه د هغه د علم مفهوم وسو او د (هو الاول والاخر) څخه د هغه د قدرت مفهوم راووتی يعني هغه داسي اول دی چي هر شی د هغه په لاس کي دی او هر شی چي موجود دی د هغه د قدرت سره د عدم د سينې په څېرلو سره په وجو کي راغلي دي او هغه داسي آخر دی چي هر شی به فناء سي مګر د هغه ذات به باقي او موجود وي او د هغه حکومت ، يا داسي به ووايو چي د هغه تصرف او دهغه غلبه د والظاهر والباطن څخه مفهوم سول يعني هغه داسي ظاهر دی چي هر شی د هغه د غلبې او تصرف لاندي دی ، په ټولو شيانو کي څرنګه چي غواړي تصرف کوي ځکه چي تر هغه هيڅ شی مافوق نسته، داسي هيڅ شی نسته چي د هغه په تصرف او تسلط کي خنډ واچوي او هغه داسي باطن دی چي د خلقت د سترګو او خيال او وهم څخه د پټېدو سربېره ملجا ماورا د هغه څخه پرته ځوک نسته د هر شی په دننه حال هغه باخبر دی او د هيڅ راز د هغه څخه پټ نه دی .

د (لکه څرنګه چي هغه په خپل کتاب کي خپل وصف بيان کړی دی) په ذريعه د قرآن کريم دغه آيت ته اشاره کول مصد دي: (الرحمن علی العرش استوی) هغه لوی رحمت والا پر عرش باندي قائم دی .

دغه آيت کريمه که څه هم په ظاهره دا وهم پيدا کوي چي الله جل جلاله پر يو خاص جهت او خاص ځای باندي متمکن دی مګر په حقيقت کي ددې څخه مراد د هغه سلطنت او حکومت او د هغه د علم او قدرت ظهور ذکر کول دي .

د حضرت ادم عليه السلام قد

﴿۵۴۹۰﴾: وَعَنْهُ أَنَّ رَسُولَ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ قَالَ كَانَ طُولُ آدَمَ سِتِّينَ ذِرَاعًا فِي سَبْعَةِ أَذْرُعٍ عَرْضًا. رواه احمد.

د حضرت ابو هريره رضی اللہ عنہ څخه روايت دئ چي رسول الله ﷺ وفرمايل : د آدم د قد لوړوالی شپیته
گزه او دبدن پلنوالی یې اووه گزه وو. احمد.

تخريج : الامام احمد في مسنده ۲\۵۳۵.

تشريح: ذراع په اصل کي بازو ته وايي يعني د څنگلي څخه د منځنۍ گوتي تر سر پوري او د شرعي گز اطلاق هم پر دې کيږي، دلته سوال پیدا کیږي چي د حضرت آدم علیہ السلام قد چي شپېته لاسه اوږد فرمایل سوی دی نو دچا لاس مراد دی ، ایا خپله د حضرت آدم علیہ السلام لاس که د اوسنيو خلکو لاس؟ صحیح خبره داده چي د حضرت آدم علیہ السلام لاس مراد نه دی بلکه د اوسنيو خلکو لاس مراد دی چي د هغه قدر ددغه وخت د خلکو په اعتبار شپېته لاسه اوږد وو ځکه که چيري د حضرت آدم علیہ السلام لاس مراد واخیستل سي نو د هغه مطلب به دا وي چي د هغه لاس د هغه د قد یوازي شپیتمې برخي برابر وي چي د هغه د قد د اوږدوالي او تناسب اندامونو په اعتبار بالکل بې بنیاده معلومیږي او دا ناممکنه ده .

د انبیاؤو شمیر

﴿۵۴۹۱﴾ : وَعَنْ اَبِيْ ذَرٍ قَالَ قُلْتُ يَا رسول الله أَيُّ الْأَنْبِيَاءِ كَانَ أَوَّلَ قَالَ آدَمُ

د حضرت ابو ذر رضی اللہ عنہ څخه روايت دی چي ما عرض وکړ اې د الله رسوله ! تر ټولو لومړنی نبي څوک وو؟ رسول الله ﷺ وفرمايل : آدم عليه السلام،

عَلَيْهِ السَّلَام قُلْتُ يَا رسول الله أَوَنَبِيٌّ كَانَ آدَمُ قَالَ نَعَمْ نَبِيٌّ مُكَلَّمٌ قُلْتُ يَا

بیا ما پوښتنه وکړه ایا آدم عليه السلام نبي وو؟ رسول الله ﷺ وفرمايل:هو، آدم عليه السلام نبي وو او الله جل جلالہ خبري ورسره کړې وي (يعني پر هغه صحيفې نازلي سوې وې) ، ما بيا

رَسُولَ اللَّهِ كَمُ الْمُرْسَلُونَ قَالَ ثَلَاثُ مِائَةٍ وَبِضْعَةَ عَشَرَ جَمًّا غَفِيرًا وفي

پوښتنه وکړه چي رسولان څومره دي؟ رسول الله ﷺ راته وفرمايل : تر درې سوه لس (۳۱۰) يو

رواية عن ابي امامة قال ابوذر قلت يا رسول الله كَمْ وفاء عِدَّةُ الْأَنْبِيَاءِ

څه زيات، د ابو امامه په روايت کي دا الفاظ دي چي ابوذر رضی اللہ عنہ پوښتنه وکړه چي اې د الله رسوله ! ټول انبياء څومره دي؟ رسول الله ﷺ ورته وفرمايل :

قَالَ مِائَةُ أَلْفٍ وَأَرْبَعَةٌ وَعِشْرُونَ أَلْفًا الرُّسُلُ مِنْ ذَلِكَ ثَلَاثُ مِائَةٍ وَخَمْسَةَ عَشَرَ جَمًّا غَفِيرًا.

یو لک څلیرویشت زره او په هغوئ کي یوه لویه ډله یعني رسولان درې سوه پنځلس دي.

تخریج: الامام احمد في مسنده ۵\۱۷۸.

د لغاتو حل: وفاء: اي کم کمال عددهم. (بشپړ شمېر)

تشریح: هغه ته د الله ﷻ سره د تکلم او تخاطب شرف تر لاسه سوی دی، مطلب دادی چي حضرت آدم علیه السلام د انساني دنیا پلار او دخپل دنیاوي نسل د سعادت او کامیابۍ لپاره لاربنود او هادي وو، همدارنګه د اُخروي سعادت او کامیابۍ پیغمبر هم وو، د هغه نبي کېدل د شک او شبهې څخه لوړ دي او هغه لومړنی انسان دی ځکه د انساني نسل لپاره د الله ﷻ د وحي په ذریعهِ چي کوم پیغامات هغه واورل هغه دده صحیفې او شریعت ګڼل کیږي، په دې اعتبار سره هغه یوازي نبي نه وو بلکه رسول هم وو چي پر هغه باندي صحیفې هم نازل سوې او هغه ته شریعت هم ورکړل سو.

په رسول او نبي کي فرق دادی چي رسول خو هغه پیغمبر ته وایي چي هغه ته نوی شریعت او کتاب ورکړل سوی وي او د الله ﷻ مخلوق ته د هغه شریعت او کتاب رسولو ذمه دار ګرځول سوی وي او نبي هغه پیغمبر ته وایي که هغه ته نوی شریعت او کتاب ورکړل سوی وي یا نه وي، بلکه هغه د لومړني شریعت او کتاب تابع وي او که څه هم هغه د تبلیغ ذمه دار ګرځول سوی وي یا نه وي.

د ټولو انبیاؤ د شمېر په اړه په دغه حدیث کي د یو لک څلیرویشت زره یادونه ده او په ځینو روایتو کي دغه شمېر دوه لکه څلیرویشت زره بیان سوی دی، څرګندنه ده چي په دواړو شمېرو کي تضاد دی ځکه علماؤ لیکلي دي چي په دې اړه باید تحقیق او پلټنه ونه کړل سي او نه یو خاص شمېر متعین کړل سي بلکه دا عقیده درلودل پکار دي چي د انبیاؤ صحیح شمېر الله ﷻ ته معلوم دی او په اجمالي توګه داسي ایمان راوړل پکا ردي چي الله ﷻ څومره رسولان او نبیان رالېږلي دي موږ هغه ټول حق رسولان او نبیان منو، د دغه عقیدې او اجمالي ایمان سره نه یو نبي د انبیاؤ د ډلي څخه وځي او نه غیر نبي د هغوئ په ډله کي شاملیږي.

په زباني خبرو او ليدنه كي فرق

﴿۵۴۹۲﴾: وَعَنِ ابْنِ عَبَّاسٍ قَالَ قَالَ رَسُولُ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ لَيْسَ

د حضرت ابن عباس رضي الله عنهما څخه روايت دئ چي رسول الله ﷺ وفرمايل :

الْخَبَرُ كَالْمُعَايَنَةِ إِنَّ اللّٰهَ عَزَّ وَجَلَّ أَخْبَرَ مُوسَى بِمَا صَنَعَ قَوْمُهُ فِي الْعِجْلِ فَلَمْ

د يو شي په اړه زباني خبر د سترګو سره د ليدو برابر كيداى نه سي ، الله تعالى موسى عليه السلام ته د ګيلګي په اړه د هغه قوم چي څه كړي وه

يُلْقِ الْأَلْوَاحَ فَلَمَّا عَايَنَ مَا صَنَعُوا أَلْقَى الْأَلْوَاحَ فَانْكَسَرَتْ. روي الاحاديث الثلاثة احمد.

د هغه خبر وركړ او د هغه څخه په متاثر كيدو سره موسى عليه السلام په غضب كي د تورات نسخي ونه غورځولې مګر كله چي موسى عليه السلام خپل قوم ته راغلى او په خپلو سترګو يې د قوم بد عملي وليدل نو په غضب كي سو او د تورات نسخي يې وغورځولې چي ماتي سوې . احمد.

تخريج الامام احمد في مسنده ۱\۲۷۱.

تشريح د يو شي په اړه اورېدل د هغه په سترګو لېدو برابر كېداى نه سي، ددغه جملې په ذريعه رسول الله ﷺ يو ارزښتناكه نفسياتي نكتې ته اشاره فرمايلې ده، د انسان خاصه ده چي هغه په سترګو سره ليدل سوى شي څخه ځومره زيات او ژر متاثره كيږي هغومره زيات او ژر په اورېدل سوي شي سره متاثر كيږي كه هغه ته دا خبر وركړل سي چي ستا فلانى قريب سخت ناروغ دى نو د هغه پريشانه كېدل يو فطري امر دى مګر ددې خبري او اطلاق په مقابله كي د هغه پر زړه او دماغ باندي د فكر او پريشانۍ پرده ډېر زياته اثر كونكي وي چي هغه ناروغ په سترګو ويني نو رسول الله ﷺ ددغه نكتې ثابتولو لپاره دغه پېښه د مثال په توګه وړاندي كړل چي كله حضرت موسى عليه السلام د چلې لپاره جبل طور ته ولاړ او هلته د خپل پروردګار سره په راز ونياز كي بوخت او د خپل قوم بني اسرائيلو لپاره د تورات په تر لاسه كولو كي بوخت وو ،

نو بلي خوا ته د سيناء په شېبله كي د هغه د قوم د يو بد سړي سامري په قيادت كي د ګيلګي عبادت پيل كړ ، الله جل جلاله حضرت موسى عليه السلام ددغه پېښي څخه خبر كړ او وه يې فرمايل: اې

موسى! ته چي د كوم قول لپاره دومره هڅه كونكى يې او دلته د طور پر غره باندي د هغوئ لپاره زما له خوا كتاب او هدايت تر لاسه كوې هغوئ ستا تر شا د ګيلګي په عبادت كي اخته سوي دي ، ددې په اورېدو سره حضرت موسى عليه السلام غمجن سو او په غصه كي خپل قوم ته راغلى او د قوم خلك يې د ګيلګي په عبادت كولو په خپلو سترګو ولېدل نو ډېر زيات په غصه سو او د هغه غضب په وجه هغه تختى چي تورات پر ليكلى وو پر مځكه وغورځول چي تختى ماته سول ، د هغه تختى په غورځولو سره هغه دا څرګنده كړل چي د غه الهي آئين مؤمنانو ته ګټه رسولاى سي، كومو خلكو چي د ايمان او عقيدې د لاري په پرېښودو سره كفر او سركښي اختيار كړې ده د هغوئ لپاره پر الهي آئين باندي مشتمل د دغه تختو ساتل او س څه ګټه كوي مګر د هغه تختى د ماتېدو دا مطلب نه وو چي په هغه كي څه ليكل سوي وه هغه له منځه ولاړل ، په هغه تختو كي چي كوم احكام وه هغه ټول هم هغسي موجود وه او اصل تورات پر خپل ځاى موجود وو.

==========

كِتَابُ الفَضَائِلِ وَالشَّمَائِل

بَابُ سَيِّدِالْمُرْسَلِيْنَ صلى الله عليه وسلم

(د سيدالمرسلين حضرت محمد ﷺ د فضائلو او مناقبو بيان)

د رسول الله ﷺ د فضائلو، مناقبو او د رسول الله ﷺ د صفاتو او فضائلو هيڅ شمېر نسته، هيڅ ژبه او قلم واک نه لري چي د رسول الله ﷺ ټول فضائل او اوصاف احاطه کړای سي، مګر د مشکوة مؤلف د هغو څخه دځينو فضائلو اړوند حديثونه او روايتونه په دغه باب کي راوړي دي، پر دې خبره د ټولو علماؤ اتفاق دی چي رسول الله ﷺ د ټول انسانيت سردار، په نبيانو کي تر ټولو افضل او اشرف دی، د رسول الله ﷺ څخه وروسته حضرت ابراهيم عليه السلام افضل دی، بيا حضرت موسی عليه السلام، د حضرت موسی عليه السلام وروسته د چا درجه ده، په دې اړه په صراحت سره د علماؤ څخه څه منقول نه دي، ځينو علماؤ د حضرت موسی عليه السلام وروسته حضرت عيسی عليه السلام او د هغه وروسته حضرت نوح عليه السلام ته افضل او اشرف ويلي دي او ليکلي يې دي چي د انبياؤ په اوږده فهرست کي دغه پنځه نبيان اولو العزم ګڼل کيږي او د حق په لاره کي د دوئ صبر او استقامت او د عزيمت درجه بې مثاله ده.

اَلْفَصْلُ الْأَوَّلُ (لومړی فصل)

د رسول الله ﷺ خانداني او نسبي شرف

﴿۵۴۹۳﴾: عَنْ أَبِي هُرَيْرَةَ قَالَ قَالَ رَسُولُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ بُعِثْتُ مِنْ خَيْرِ قُرُونِ بَنِي آدَمَ قَرْنًا فَقَرْنًا حَتَّى كُنْتُ مِنَ الْقَرْنِ الَّذِي كُنْتُ منه. رواه البخاري

د حضرت ابوهريره رضي الله عنه څخه روايت دئ چي رسول الله ﷺ وفرمايل: زه د بني آدم په غوره طبقو پيدا کړل سوی يم قرن پر قرن تر دې چي زه په دې قرن کي يم په کوم قرن کي چي يم. بخاري

تخريج: صحيح البخاري (فتح الباري): ٦\٥٦٦، رقم: ٣٥٥٧.

تشريح: د غوره طبقو څخه مراد د مختلفو سيمو هره هغه طبقه ده چي په هغه کي د رسول الله ﷺ نيکه ګان وه چي په خپل خپل وخت کي د خپل کورني نجابت او شرافت او انساني فضل و

كمال په اعتبار ممتاز او د احترام وړ راغلي دي لکه حضرت اسماعيل عليه السلام او د هغه اولاده او دهغه څخه وروسته کنانه او دهغه اولاده، د هغه څخه وروسته هاشم او دهغوئ اولاد، نو ددغه ارشاد مطلب دا سو چي زما د نسب لړۍ د پيل څخه تر اوسه پوري د نسل انساني دېر مفتخر او معزز کسانو باندي مشتمل ده، زما پلار او نيکه چي دهغوئ يو په بل منتقل کېدو سره زه په دغه زمانه کي پيدا سوی يم د خپل وخت او زمانې هغه ممتاز او غوره کسان وه چي د هغوئ ذات د کورني نجاب او شرافت او ټولنيز عزت، وطني مقبوليت او مرجعيت، ذاتي بزرگي او افضيلت او د نساني فضائلو مبع راغلي ده.

د رسول الله ﷺ غوره والی

﴿۵۴۹۴﴾: وَعَنْ وَاثِلَةَ ابْنِ الْاَسْقَعِ قَالَ سَمِعْتُ رَسُولَ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ

د حضرت واثله بن اسقع رضي الله عنه څخه روايت دی چي ما د رسول الله ﷺ څخه واوريدل چي فرمايل

يَقُولُ إِنَّ اللّٰهَ اصْطَفَى كِنَانَةَ مِنْ وَلَدِ إِسْمٰعِيلَ وَاصْطَفَى قُرَيْشًا مِنْ كِنَانَةَ

يې: الله تعالی د اسماعيل عليه السلام د اولاد څخه کنانه کورنۍ وټاکل او د بنو کنانه څخه يې قريش انتخاب کړل

وَاصْطَفَى مِنْ قُرَيْشٍ بَنِي هَاشِمٍ وَاصْطَفَانِي مِنْ بَنِي هَاشِمٍ. رواه مسلم و في رواية للترمذي ان الله اصطفى من ولد ابراهيم اسماعيل اصطفى من ولد اسماعيل بني كنانة.

او د قريش څخه يې بنوهاشم انتخاب کړل او په بنو هاشم کي يې زه انتخاب کړم. مسلم او د ترمذي په يوه روايت کي داسي دي چي الله تعالی دابراهيم عليه السلام په اولاد کي اسماعيل عليه السلام انتخاب کړ او د اسماعيل عليه السلام د اولاد څخه يې بني کنانه انتخاب کړل

تخريج: صحيح مسلم: ۱۴\۱۷۸۲، رقم: ۱- ۲۲۷۶. والترمذي كتاب المناقب رقم: ۳۶۰۶.

تشريح: د رسول الله ﷺ کورنی او نسبي تعلق د حضرت اسماعيل عليه السلام سره دی، د حضرت سماعيل عليه السلام د زوی، قيدار په اولاد کي يو سړی عدنان وو، ددغه عدنان اولاد د بني سماعيل پر ټولو مشهورو قبيلو باندي مشتمل دی ځکه عرب مستعر په بني اسماعيل ته

عدناني يا آل عدنان ويل كيږي، د عدنان زوی معد او د معد زوی نزار وو، چي د نزار څلور زامن ښودل كيږي، په دوئ كي دوه زامن ربيعه او مضر تر ټولو زيات نوموړي او د عربو د لويو قبيلو مورث دي، د مضر په اولاد كي په مخته تللو سره يو سړی كنانه وو او دهغه اولاد د مضر په قبيلو كي تر ټولو زيات پر مشهوره قبيله باندي مشتمل سو، د كنانه زوی نضر او د نضر زوی مالک او د مال زوی فهر وو، دا هغه فهر دی چي د هغه لقب قريش وو، د فهر په اولاد كي ډېري قبيلې وې او ټولو ته قريش ويل كيږي، دغه ټولي قبيلې په مختلفو سيمو او ډلو كي ويشل سوي وې، د دوئ په منځ كي نه اتفاق وو او نه اجتماعي نظام وو، بيا يو سړی قصی بن كلاب پيدا سو، هغه په ډېر محنت او هڅه سره ټول قريش منظم كړل، په هغوئ كي د اجتماعيت او بيداری روح پيدا كولو سره چي د هغه په بركت قريش نه يوازي پر مكه معظمه بلكه پر ټول حجاز باندي غلبه او اقتدار تر لاسه كړ، له دې كبله ځيني حضرات وايي چي قريش په اصل كي د قصی بن كلاب لقب دی ځكه چي دغه لفظ د قرش څخه وتلی دی چي د هغه معنی د جمع كولو او منظم كولو ده، مشهوره خبره داده چي قريش د اوبو د يو حيوان نوم دی چي ډېر قوت او زور لري، ددې تائيد د حضرت ابن عباس ﷺ ددغه روايت څخه كيږي چي په هغه كي بيان دی چي د قريشو نوم په دې مناسبت سره ايښودل سوی دی چي قريش د يو ډېر لوی خطرناک ماهي نوم دی چي ټول ماهيان خوري مگر خپله ده ته نه بل ماهی تاوان رسوي او نه پر ده واک تر لاسه كوي، همدا وجه د تسميې په قاموس كي هم مذكور ده،

د اسلام د ظهور په وخت كي د قريشو په ښاخو كي چي كوم ښاخ تر ټولو زيات مشهور، عزتمند او غالب وو، هغه بنوهاشم دی، رسول الله ﷺ په بنوهاشم كي پيدا سو، د رسول الله ﷺ د نسب لړی داسي ده: محمد بن عبدالله ابن عبدالمطلب ابن هاشم ابن عبد مناف ابن قصی ابن كلاب ابن مرة ابن كعب ابن لوی ابن غالب ابن فهر ابن مالک، ابن نضر ابن كنانه ابن خزيمه ابن مدرک ابن الياس ابن مضر، ابن نزار ابن معد ابن عدنان، د عدنان څخه مخكي نسب نامه په زيات باور سره نسي ښودل كيدای.

ددغه تفصيل په رڼا كي د حديث مفهوم واضح سو چي الله ﷻ د حضرت اسماعيل ﷺ د اولاد څخه بنو كنانه تر ټولو زيات د فخر وړ وگرځول، بيا د بنو كنانه څخه تر ټولو زيات قوت او غلبه قريشو ته تر لاسه سول، په قريشو كي تر ټولو زيات بزرگي بنوهاشم ته او په بنوهاشم كي تر ټولو زياته بزرگي او عظمت رسول الله ﷺ تر لاسه سو، نو د رسول الله ﷺ ذات مبارک د خپل نسب د ټولو عظمتونو مركز دی.

د قیامت په ورځ د رسول الله ﷺ سرداري

﴿۵۴۹۵﴾: وَعَنْ اَبِيْ هُرَيْرَةَ قَالَ قَالَ رَسُوْلُ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ اَنَا سَيِّدُ وَلَدِ آدَمَ يَوْمَ الْقِيَامَةِ وَاَوَّلُ مَنْ يَنْشَقُّ عَنْهُ الْقَبْرُ وَاَوَّلُ شَافِعٍ وَاَوَّلُ مُشَفَّعٍ. رواه مسلم.

د حضرت ابو هریره رضی الله عنه څخه روایت دئ چي رسول الله ﷺ وفرمایل: د قیامت په ورځ به زه د آدم علیه السلام د اولاد سردار یم او تر ټولو مخکي به زه د قبر څخه پاځم او تر ټولو وړاندي شفاعت به زه کوم او تر ټولو وړاندي به زما شفاعت قبلیږي، مسلم.

تخریج: صحیح مسلم: ۱۷۸۲\۴، رقم: ۳- ۲۲۷۸.

تشریح: مطلب دا چي د قیامت په ورځ به د ټولو انساني کمالاتو او صفاتو او ټولو عظمتونو مظهر د رسول الله ﷺ ذات وي، په هغه ورځ به د مخلوقاتو څخه نه د چا د رجه د رسول الله ﷺ څخه لوړه وي او نه به د رسول الله ﷺ څخه پرته بل څوک د سرداري او مشری وړ وګرځول سي، څرګنده دي وي چي حضرت محمد عربي ﷺ په دنیا او آخرت کي د ټولو خلکو سردار او مشر دی مګر دلته د قیامت د ورځي قید ځکه لګول سوی دی چي په غه ورځ به د رسول الله ﷺ د مشری او غوره والي ظهور د هر چا د اختلاف او عناد څخه ماسوا وي. حال دا چي په دغه دنیا کي د کفر او شرک او نفاق طاقتونه نه یوازي د رسول الله ﷺ په ژوند کي د هغه د مشری او سرداری مخالف دي بلکه وروسته هم دهغوئ اختلاف او عناد ظاهر پاته سو، ددغه حدیث د بین السطور څخه معلومه سول چي رسول الله ﷺ پر ملائکو باندي هم فضیلت لري او د رسول الله ﷺ ذات افضل المخلوقات او اکمل الموجودات دی، په ځینو حدیثونو کي چي دا فرمایل سوي دي چي تاسو پیغمبرانو ته پر یو بل باندي فضیلت مه ورکوئ او مه ما ته تر موسی او یونس افضل وایاست، نو ددغه مخالفت توجیه مخکي تېره سوې ده.

د امت محمدي شمېر به تر ټولو زیات وي

﴿۵۴۹۶﴾: وَعَنْ اَنَسٍ قَالَ قَالَ رَسُوْلُ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ اَنَا اَكْثَرُ الْاَنْبِيَاءِ تَبَعًا يَوْمَ الْقِيَامَةِ وَاَنَا اَوَّلُ مَنْ يقرع بَابَ الْجَنَّةِ. رواه مسلم.

د حضرت انس رضی اللہ عنہ څخه روايت دئ چي رسول الله ﷺ وفرمايل : د قيامت په ورځ به تر ټولو زيات شمير زما د تابعينو وي او زه به تر ټولو .لومړنی سړی يم چي د جنت دروازه به وټکوم. مسلم

تخريج: صحيح مسلم ۱\ ۱۸۸، رقم: ۳۳۱ – ۱۹۶.

تشريح: د قيامت په ورځ د امت محمديه د شمېر د زياتوب په اړه مخکي يو حديث تېر سوی دی چي د رسول الله ﷺ امت به د ټولو جنتيانو د مجموعي شمېر دوه پر درې برخه وي ، ددې څخه معلومه سوه چي د يو کس د اتباع او پيروي کونکو کثرت د هغه کس د فضيلت او غوره والي باعث جوړيږي ځکه چي ويل کيږي چي د امام اعظم ابو حنيفة رحمه الله مرتبه زياته لوړه ده چي د فقهي په امامانو کي دهغه مذهب زيات رواج دی او دمسلمانانو زياتوب د اسلام په فروعي احکامو کي د هغه پيروان دي ، همدارنګه په قاريانو کي د امام عاصم رحمه الله مرتبه لوړه ده ځکه چي د تجويد او قرائت په فن کي د هغه پيروان زيات دي .

د جنت دروازه به تر ټولو مخکي رسول الله ﷺ ته خلاصه سي

﴿۵۴۹۷﴾ : وَعَنْهُ قَالَ قَالَ رَسُولُ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ آتِي بَابَ الْجَنَّةِ يَوْمَ الْقِيَامَةِ فَأَسْتَفْتِحُ فَيَقُولُ الْخَازِنُ مَنْ أَنْتَ فَأَقُولُ مُحَمَّدٌ فَيَقُولُ بِكَ أُمِرْتُ لَا أَفْتَحُ لِأَحَدٍ قَبْلَكَ. رواه مسلم.

د حضرت انس رضی اللہ عنہ څخه روايت دئ چي رسول الله ﷺ وفرمايل : د قيامت په ورځ به زه د جنت دروازې ته راسم او د هغه د خلاصولو غوښتنه به وکړم ، د جنت خزانچي به ووايي چي څوک يې؟ زه به ووايم چي محمد (ﷺ) يم نو هغه به ووايي چي ما ته حکم سوی دی چي ستا تر مخه به بل هيچا ته دروازه نه خلاصوم. مسلم.

تخريج: صحيح مسلم ۱\ ۱۸۸، رقم: ۳۳۳ – ۱۹۶.

تر ټولو مخکي به رسول الله ﷺ شفاعت کوي

﴿۵۴۹۸﴾ : وَعَنْهُ قَالَ قَالَ رَسُولُ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ أَنَا أَوَّلُ شَفِيعٍ فِي الْجَنَّةِ لَمْ يُصَدَّقْ نَبِيٌّ مِنَ الْأَنْبِيَاءِ مَا صُدِّقْتُ وَإِنَّ مِنَ الْأَنْبِيَاءِ نَبِيًّا مَا

يُصَدِّقُهُ مِنْ أُمَّتِهِ إِلَّا رَجُلٌ وَاحِدٌ. رواه مسلم.

د حضرت انس ﷺ څخه روايت دئ چي رسول الله ﷺ وفرمايل: زه به تر ټولو لومړنى سړى يم چي په جنت کي به شفاعت کوم، او په انبياؤو کي د هيڅ يو نبي دومره تصديق نه دى سوى لکه څومره چي زما سوى دى، او په انبياؤو کي يو نبي داسي هم وو چي د هغه تصديق يوازي يوه سړي کړى وو. مسلم

تخريج: صحيح مسلم: ۱\۱۸۸، رقم: ۳۳۲-۱۹۶.

رسول الله ﷺ خاتم النبيين دى

﴿۵۴۹۹﴾: وَعَنْ أَبِي هُرَيْرَةَ قَالَ قَالَ رَسُولُ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ مَثَلِي

د حضرت ابوهريره ﷺ څخه روايت دئ چي رسول الله ﷺ وفرمايل: زما

وَمَثَلَ الْأَنْبِيَاءِ كَمَثَلِ قَصْرٍ احسن بنيانه ترك منه موضع لبنة فطاف به

او د نورو انبياؤو عليهم السلام مثال د هغه ماڼۍ په ډول دى چي د هغه عمارت يا ديوالونه ډير ښه وي مګر په ديوال کي د يوې خښتي ځاى خالي پرې ښودل سوى وي، او کتونکي د هغه

النظار يتعجبون من حسن بنيانه الا موضع تلك اللبنة فكنت انا سددت

ماڼۍ تعجب کوي چي څرنګه ښه ماڼۍ ده مګر دا يوه خښته يې کمه ده زه د هغه خښتي ځاى

موضع اللبنة ختم بي البنيان وختم بي الرسل وفي رواية فَأَنَا اللَّبِنَةُ وَأَنَا

خَاتِمُ النَّبِيِّينَ. متفق عليه.

ډکونکى يم او زه هغه ماڼۍ پوره کونکى يم او پر ما باندي رسولان ختم سوي دي، او په يوه روايت کي دي چي زه هغه خښته يم او زه د نبوت د لړۍ ختمونکى يم. بخاري او مسلم

تخريج: صحيح البخاري (فتح الباري): ۶\۵۵۸، رقم: ۳۵۳۴، ومسلم ۴\۱۷۹۰، رقم: ۲۰-۲۲۸۶.

تشريح: دغه حديث د رسول الله ﷺ د خاتم النبيين کېدو ښکاره دليل دى چي الله جل جلاله د خپل مخلوق د هدايت لپاره په دنيا کي د خپلو رسولانو او نبيانو لړۍ د لومړني انسان، حضرت آدم عليه السلام څخه پيل کړې وه او پر حضرت محمد ﷺ باندي يې پاى ته ورسول، د رسول الله ﷺ څخه

وروسته هيڅ يو نبي او رسول دنيا ته نه دی راغلی او نه به په راتلونکي کي راسي.

دغه حقيقت رسول الله ﷺ په يوه لويه نفسياتي طريقه د يو مثال په ذريعه وفرمايه چي زما څخه مخکي دنيا ته څومره نبيان او رسولان راغلي دي هغوئ د الله ﷻ له خوا کوم شريعت، آئين ، علم او دين پيغام او احکام راوړل د هغو مجموعه يو داسي محل تصور کړئ چي ډېر غوره ، ټينګ او پوخ دېوال دی مګر د هغه په دېوال کي د يوې خښتي په اندازه خالي ځای پرې ايښی وي او هغه خالي ځای د يو داسي چا په انتظار وي چي په راتللو سره هغه ډک کړي او د هغه خالي ځای د نقص پوره کولو لپاره د محل د تعمير لړۍ ختمه کړي نو رسول الله ﷺ د مخکنيو نبيانو او راتلونکو نبيانو بعثت ،د هغوئ راوړل سوی شريعت او هدايت ذريعه د دين محل تيار سوی وو مګر لږ کسر پکښي پاته سوی وو او هغه کسر زموږ د حضرت محمد ﷺ په بعثت سره پوره سو ، اوس نه د الله ﷻ دين ناقص دی او نه شريعت غير مکمل دی او نه د يو نبي راتللو اړتيا پاته سوې ده .

تر ټولو لويه معجزه قرآن کريم دی

﴿۵۵۰۰﴾: وَعَنْهُ قَالَ قَالَ رَسُولُ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ مَا مِنْ الْأَنْبِيَاءِ

د حضرت ابوهريره رضي الله عنه څخه روايت دئ چي رسول الله ﷺ وفرمايل : په انبياؤ کي هر نبي ته د

من نَبِيٍّ إِلَّا قد أُعْطِيَ من الايات مَا مِثْلُهُ آمَنَ عَلَيْهِ الْبَشَرُ وَإِنَّمَا كَانَ الَّذِي

معجزاتو څخه يوازې دومره ورکړل سوې ده چي انسان ايمان پر راوړلای سي او ما ته چي د

أُوتِيتُ وَحْيًا أَوْحَاهُ اللّٰهُ إِلَيَّ فَأَرْجُو أَنْ أَكُونَ أَكْثَرَهُمْ تَابِعًا يَوْمَ الْقِيَامَةِ. متفق عليه.

وحي معجزه راکړل سوې ده يعني الله تعالی چي کوم کلام د وحي په ذريعه پر ما نازل کړی دی (يعني قرآن کريم) هغه دائمي معجزه ده په دې وجه زما يقين دی چي د قيامت په ورځ به زما د پيروي کونکو شمير د ټولو پيغمبرانو څخه زيات وي. بخاري او مسلم.

تخريج: صحيح البخاري (فتح الباري): ۹\۳، رقم: ۴۹۸۱، ومسلم ۱\ ۱۳۴، رقم: ۲۳۹- ۱۵۲.

تشريح: مطلب دا چي انبياء عليهم السلام د مخلوق په وړاندي د الله ﷻ له خوا د رسالت او نبوت دعوه کوي ځکه الله ﷻ هغوئ ته داسي معجزې ورکوي چي هغوئ د خپلي دعوې دليل

او برهان د خلکو په مخ کي وړاندي کړای سي، څومره نبيان او رسولان چي دغه مځکي ته راغلل هغوئ ته څه ناڅه داسي معجزې ورکړل سوي دي چي د هغه په لېدو سره عقل سليم لرونکي انسان د هغه نبي تصديق وکړلای سي او پر هغه ايمان راوړي، مګر د رسول الله ﷺ څخه مخکي چي کوم نبي ته کومه معجزه ورکړل سوه هغه د هغه نبي تر زمانې او ژوند پوري مخصوص او پاته وه د هغه نبي له دنيا څخه په رخصتېدو سره د هغه معجزه هم ختمه سوه د مثال په توګه د حضرت موسی علیه السلام په زمانه کي د سحر او جادو دور وو ، لويو لويو جادوګرانو به خپلي کړني ښودلې او خلک به د هغوئ له فن څخه متاثره کېدل ، حضرت موسی علیه السلام ته د يدبيضا او عصا معجزه ورکړل سوه ، د هغه دغه دواړو معجزو د ټولو لويو او کوچنيو جادوګرانو ډېره مړه کړل او نه يوازي عامو خلکو ته بلکه خپله جادوګرو ته هم د حضرت موسی علیه السلام د عظمت اعتراف کول ضروري سول،

همدارنګه د حضرت عيسی علیه السلام په زمانه کي د طب او حکمت ډېر زور وو هغه وخت داسي ماهر او ښه طبيبان او حکيمان موجود وه چي سخته ناروغي به يې له منځه وړل ، حضرت عيسی علیه السلام ته دا معجزه ورکړل سوه چي هغه به مړي ژوندي کول ، د پيس ناروغي به يې سمول او ړوند به يې بينا کوی، همدارنګه د هغه دغه معجزه د خپلي زمانې پر ډېرو پرمختللو طبيبانو غالبه وه مګر نه د حضرت موسی علیه السلام معجزه د هغه وروسته پاته سوه او نه د حضرت عيسی علیه السلام معجزې ته د تل حيثيت ورکړل سو ، د ټولو نبيانو عليهم السلام پر خلاف رسول الله ﷺ ته د قرآن کريم په صورت کي تر ټولو لويه معجزه ورکړل سول او هغه ته د همېشه حيثيت حاصل سو ، د رسول الله ﷺ په زمانه کي د فصاحت او بلاغت زور وو، د عربو د فصيحانو دعوه وه چي د هغوئ د فصاحت او بلاغت په وړاندي د دنيا ټول خلک ګونګيان دي نو په رسول الله ﷺ باندي قرآن کريم نازل کړل سو چي د هغه فصاحت او بلاغت د عربو لوی لوی فصيحان او بليغان متاثره کړل ، د ټولو فصيحانو په يو ځای کېدو سره د قرآن کريم د يو کوچني آيت په ډول کلام يې وړاندي نه کړ ، بيا الله جل جلاله دغه عظيمه معجزه تر قيامته پوري وساتل چي په هره زمانه او هره طبقه کي د سيدالمرسلين ﷺ د نبوت او رسالت پر صداقت باندي شاهدي ورکوي، نو رسول الله ﷺ د خپل دغه يقين اظهار وکړ چي ما ته راکړل سوې دغه معجزه به تر قيامته پوري پاته وي او خلک به پر هغه ايمان راوړي ځکه د قيامت په ورځ به زيات هغه مؤمنان وي چي په نبوت او رسالت باندي به عقيده لرونکي او زما د دغه معجزې منونکي به وي ۰

د رسول الله ﷺ خصائص

﴿۵۵۰۱﴾: وَعَنْ جَابِرٍ قَالَ قَالَ رَسُولُ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ أُعْطِيتُ خَمْسًا

د حضرت جابر رضي الله عنه څخه روايت دئ چي رسول الله ﷺ و فرمايل: ما ته پنځه شيان راکړل سوي

لَمْ يُعْطَهُنَّ أَحَدٌ قَبْلِي نُصِرْتُ بِالرُّعْبِ مَسِيرَةَ شَهْرٍ وَجُعِلَتْ لِي الْأَرْضُ

دي چي زما څخه مخکي هيچا ته نه دي ورکړل سوي: يو خو ما ته د يوې مياشتي د لاري په ليري والي د رعب فتح راکړل سوې ده، دويم ټوله مځکه زما لپاره

مَسْجِدًا وَطَهُورًا فَأَيُّمَا رَجُلٍ مِنْ أُمَّتِي أَدْرَكَتْهُ الصَّلَاةُ فَلْيُصَلِّ وَأُحِلَّتْ لِي

مسجد او پاکه ګرځول سوې ده، يعني زما په امت کي چي پر چا د لمانځه وخت راسي هلته دي لمونځ وکړي، دريم زما لپاره حلال ګرځول سوی دی

الْمَغَانِمُ وَلَمْ تَحِلَّ لِأَحَدٍ قَبْلِي وَأُعْطِيتُ الشَّفَاعَةَ وَكَانَ النَّبِيُّ يُبْعَثُ إِلَى قَوْمِهِ خَاصَّةً وَبُعِثْتُ إِلَى النَّاسِ عَامَّةً. متفق عليه.

د غنيمت مال چي زما څخه مخکي د هيچا لپاره حلال نه وو، څلورم ما ته د شفاعت مرتبه راکړل سوه، پنځم زما څخه مخکي هر نبي په خاصه توګه يوازي د خپل قوم لپاره را ليږل سوی وو او زه د ټولي دنيا او ټولو قومونو لپاره راليږل سوی يم. بخاري او مسلم.

تخريج: صحيح البخاري (فتح الباري): ۱\۴۳۵، رقم: ۱\۳۳۵، ومسلم ۱\۳۷۰، رقم: ۳-۵۲۱.

تشريح: ما ته د هغه رعب په ذريعه مرسته راکړل سوې ده...الخ: ددې مطلب دادی چي الله جل جلاله زما او د الله جل جلاله د دښمنانو او مخالفينو په مقابله کي ما ته په دغه خصوصيت سره فتح او نصرت راکوي چي د هغوئ په زړو کي زما رعب او خوف پيدا کيږي که هغوئ زما څخه د يوې مياشتي د مسافت په ليري والي هم وي نو زما په نامه سره د هغوئ همت کښته کيږي او رعب او بيري څخه تښتي.

ټوله مځکه زما لپاره مسجد ....الخ: د دې مطلب دادی چي زما څخه د مخکي رسولانو او نبيانو په شريعت کي هر ځای لمونځ کول او عبادت کول صحيح نه وو، د هغوئ د لمانځه او عبادت لپاره يو خاص ځای ټاکل سوی وو يوازي هلته لمونځ او عبادت کېدای مګر ما ته دا

ځانګړتیا راکړل سوې ده چي زه او زما د امت خلک د بیت الخلاء، غسل خانې او هدیرې څخه ماسوا پر نوره ټوله مځکه باندي چي چیري وغواړي لمونځ کولای سي مګر دا چي د یو ځای د ناپاکۍ علم ورته وسي نو په هغه ځای کي لمونځ کول جائز نه دی، همدارنګه په تېرو امتو کي د اوبو څخه ماسوا په بل شي پاکي نه تر لاسه کېدل مګر زموږ لپاره دا جائز ګرځول سوي دي که چیري اوبه نه وي یا د اوبو په استعمال کي یو شرعي عذر وي نو د پاکي خاوري په ذریعه په تیمم کولو سره پاکي تر لاسه کیدای سي.

زما لپاره د غنیمت مال حلال ګرځول سوی دی، ددې وضاحت دادی چي د غنیمت د مال په اړه په تېرو امتونو کي دا معمول وو چي تر لاسه کېدونکي غنیمت به د څارویو څخه ماسوا بل شی وو نو هغه به یو ځای اېښودل کېدی او بیا به د آسمان څخه اور راتلی او هغه ټول سامان به یې سوځی، او که چیري د غنیمت مال به حیوانان وه نو د هغه حقدار به یوازي هغه خلک وه چي هغه به یې له دښمنانو څخه په زور اخیستی او پر هغه به یې قبضه کول، نبي او رسول ته به د هغه څخه هیڅ نه تر لاسه کېدل مګر زموږ د رسول الله ﷺ لپاره نه یوازي چي خمس یعني د مال غنیمت پنځمه برخه بلکه صفي اخستل هم جائز وګرځول سول.

صفي هغه شی ته وایي چي د غنیمت په مال کي تر ټولو ښه وي نو د غنیمت په مال کي به چي کوم شی تر ټولو ښه وو لکه توره او داسي نور شیان نو هغه به رسول الله ﷺ د ځان لپاره خاص ګرځوی.

زه د شفاعت عظمی په مرتبه ونازول سوم، د قیامت په ورځ به دا مرتبه یوازي رسول الله ﷺ ته ترلاسه وي او د شفاعت چي څومره مواقع او مقامات وي هغه ټول به د رسول الله ﷺ ددغه مرتبې لاندي وي، په دې اړه تفصیلي بحث په باب الشفاعة کي تېر سوی دی.

زه د مځکي د مخ ټولو خلکو ته رالېږل سوی یم، په دې اړه باید دا په فکر کي وي چي د رسول الله ﷺ رسالت یوازي پر انسانانو پوري محدود نه دی بلکه در سول الله ﷺ بعثت پیریانو ته هم دی، د خپل رسالت په ذریعه څرنګه چي رسول الله ﷺ د مځکي ټولو انسانانو ته د الله جل جلاله پیغام او هدایت ورسوی همدارنګه پیریانو ته یې هم هدایت ورسوی ځکه رسول الله ﷺ ته رسول الثقلین ویل کیږي، کیدای سي چي کله رسول الله ﷺ دغه حدیث ارشاد وفرمایه تر هغه وخته پوري پیریانو ته د رسول الله ﷺ بعثت نه وو سوی، او ورسته سوی وي نو له دې کبله په حدیث کي د پیریانو ذکر نه دی سوی.

﴿۵۵۰۲﴾: وَعَنْ أَبِي هُرَيْرَةَ أَنَّ رَسُولَ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ قَالَ فُضِّلْتُ

د حضرت ابو هريره رضي الله عنه څخه روايت دئ چي رسول الله ﷺ وفرمايل: پر نورو انبياؤ په شپږو

عَلَى الْأَنْبِيَاءِ بِسِتٍّ أُعْطِيتُ جَوَامِعَ الْكَلِمِ وَنُصِرْتُ بِالرُّعْبِ وَأُحِلَّتْ لِيَ

خصلتونو سره ما ته فضيلت راکړل سوی دی، لومړی دا چي ما ته جوامع الکلم راکړل سوي دي (يعني کوم الفاظ چي وايم هغه مختصر او جامع وي)، په رعب سره زما مرسته سوې ده،

الْغَنَائِمُ وَجُعِلَتْ لِيَ الْأَرْضُ مَسْجِدًا و طَهُورًا وَأُرْسِلْتُ إِلَى الْخَلْقِ كَافَّةً

وَخُتِمَ بِيَ النَّبِيُّونَ. رواه مسلم

زما لپاره د غنيمت مال حلال کړل سوی دی، زما لپاره ټوله مځکه پاکه او مسجد جوړه سوې ده، زه د ټول مخلوق لپاره نبي راليږل سوی يم، پر ما د انبياؤ خاتمه وسوه .مسلم.

تخريج: صحيح مسلم: ۱۱\۳۷۱، رقم: ۵- ۵۲۳.

تشريح:ما ته جامع الکلمات راکړل سو، مطلب دا چي د دين حکمتونه، احکام، د هدايت خبري او د مذهبي او دنياوي چارو سره اړوند نورو شيانو بيانولو داسي خاص طرز ما ته راکړل سو چي تر ما مخکي نه يو نبي ته ورکړل سوی وو او نه د دنيا لوی فصيح او بليغ ته ورکړل سوی دی، د دغه طرز ځانګړتيا داده چي په لږ الفاظو کي او په يوې کوچنۍ جمله کي د معاني او مفهوم يوه خزانه پټه وي، د هغه جملې په ليکلو او ويلو به يوه ليکه هم پوره نه سي مګر د هغه په مفهوم او ضاحت به يو کتاب ډک سي، د رسول الله ﷺ په اقوالو او ارشاداتو کي داسي کلمې ډيري دي چي هغه په جوامع الکلم سره تعبير کيږي، يو څو کلمې د مثال په توګه دلته نقل کوو:

(۱): انما الاعمال بالنيات: په دې کي هيڅ شک نسته چي د اعمالو مدار پر نيت دی.

(۲): ومن حسن المرء ترکه مالايعنيه، بې ګټې خبري پرېښودل د سړي د اسلام حسن دی.

(۳): الدين النصيحة، دين د خيرخواهۍ نوم دی.

(۴): العدة دين، وعده د دين په درجه کي ده.

(۵): المستشار موتمن، د چا څخه چي مشوره واخيستل سي هغه امانتدار دی.

ځينو علماؤ له ډيري هڅي کار اخيستی دی او د حديثو له ذخيرو څخه يې داسي حديثونه چي د جوامع الکلم څخه دی، راچڼ کړي دي او د هغو ټولګه يې تياره کړې ده، ځينو شارحينو

دا ليكلي دي چي ما ته جوامع الكلم راكړل سوي دی، دلته د جوامع الكلم څخه قرآن كريم مراد دی چي په هغه كي د الله ﷻ د كلام اعجاز ځرګند دی چي په كوچنيو كوچنيو جملو كي لوی لوی مضامين پټ دی، مګر لومړنی وضاحت ډېر مناسب معلوميږي ځكه چي همدارنګه يو بل روايت كي هم (اختصر لي الكلام) الفاظ هم نقل سوي دي چي د هغه څخه هم ددغه قول تائيد كيږي چي دلته د جوامع الكلم څخه د رسول الله ﷺ اقوال مراد دي.

د نبوت او رسالت لړۍ پر ما ختمه سوه، ددې مطلب دادی چي د الله ﷻ له خوا د وحي راتللو لړۍ قطع سوه ، رسالت بشپړ سو اوس زما څخه وروسته هيڅ بل نبي او سول نه رائحي ځكه چي د الله ﷻ دين مكمل سوی دی ، قيامت ته نژدې د حضرت عيسى ؑ راكښته كېدل به هم ددغه دين ټينګولو او زيات خپرولو لپاره وي.

د رسول الله ﷺ لپاره د خزانو كيلياني

﴿۵۵۰۳﴾: وَعَنْهُ أَنَّ رَسُولَ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ قَالَ بُعِثْتُ بِجَوَامِعِ الْكَلِمِ وَنُصِرْتُ بِالرُّعْبِ بَيْنَا أَنَا نَائِمٌ رايتني أُتِيتُ بِمَفَاتِيحِ خَزَائِنِ الْأَرْضِ فَوُضِعَتْ فِي يَدِي . متفق عليه.

د حضرت ابوهريره ؓ څخه روايت دئ چي رسول الله ﷺ وفرمايل : زه د جامع كلمو سره راليږل سوی يم ، په رعب سره ما ته فتح راكړل سوې ده او زه بيده وم ما په خوب كي دا وليدل چي ما ته د مځكي د خزانو كيلياني راكړل سوې او زما په لاس كي كښېښودل سوې. بخاري او مسلم.

تخريج: صحيح البخاري (فتح الباري): ٦\ ١٢٨، رقم: ٢٩٧٧، ومسلم ١\ ٣٧١، رقم: ٦- ٥٢٣.

تشريح: د حديث د آخري برخي مطلب دادی چي الله ﷻ د خوب په ذريعه ما ته زيری راكړ چي د لويو لويو سيمو او ښارونو فتح كېدل او د هغه خزانې او مالونه تر لاسه كېدل زما لپاره او زما د امت لپاره اسان كړل سول، يا د خزانو څخه مراد هغه معدنيات دي چي د مځكي لاندي پټ دي لكه سره زر، سپين زر او نور قيمتي شيان.

د امت محمدي لپاره خاص شرف

﴿۵۵۰۴﴾: وَعَنْ ثَوْبَانَ قَالَ قَالَ رَسُولُ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ إِنَّ اللّٰهَ زَوَى

د حضرت ثوبان ؓ څخه روايت دئ چي رسول الله ﷺ وفرمايل : الله تعالى زما لپاره مځكه

لِي الْأَرْضَ فَرَأَيْتُ مَشَارِقَهَا وَمَغَارِبَهَا وَإِنَّ أُمَّتِي سَيَبْلُغُ مُلْكُهَا مَا زُوِيَ لِي

راغونده کړه ما د مځکي مشرق او مغرب وليدی او ډير ژر زما د امت پاچاهي به هغه حد ته ورسيږي څومره چي مځکه راغونډه کړې ما ته وښودل سوه،

مِنْهَا وَأُعْطِيتُ الْكَنْزَيْنِ الْأَحْمَرَ وَالْأَبْيَضَ وَإِنِّي سَأَلْتُ رَبِّي لِأُمَّتِي أَنْ لَا يُهْلِكَهَا

او ما ته يې دوې خزانې راکړې سره او سپين او ما خپل پروردګار ته د خپل امت لپاره سوال وکړ

بِسَنَةٍ عَامَّةٍ وَأَنْ لَا يُسَلِّطَ عَلَيْهِمْ عَدُوًّا مِنْ سِوَى أَنْفُسِهِمْ فَيَسْتَبِيحَ

چي په عام قحط کي يې مړه نه کړي، او دا عرض مي وکړ چي هغه زما پر امت د مسلمانانو څخه پرته بل څوک مسلط نه کړي چي هغه د هغوئ د اوسيدو ځای جائز وګڼي او د هغوئ څخه يې په

بَيْضَتَهُمْ وَإِنَّ رَبِّي قَالَ يَا مُحَمَّدُ إِنِّي إِذَا قَضَيْتُ قَضَاءً فَإِنَّهُ لَا يُرَدُّ وَإِنِّي

زوره واخلي او زما پروردګار ما ته وفرمايل چي اې محمد (ﷺ)! هر کله چي زه د يوې خبري حکم وکړم نو بيا زما حکم نه ماتيږي او ما

أَعْطَيْتُكَ لِأُمَّتِكَ أَنْ لَا أُهْلِكَهُمْ بِسَنَةٍ عَامَّةٍ وَأَنْ لَا أُسَلِّطَ عَلَيْهِمْ عَدُوًّا من

ته ستا د امت لپاره دا عهد درکړی دی چي زه به يې په عام قحط کي هلاک نه کړم او نه به غير

سِوَى أَنْفُسِهِمْ فَيَسْتَبِيحُ بَيْضَتَهُمْ وَلَوِ اجْتَمَعَ عَلَيْهِمْ مَنْ بِأَقْطَارِهَا حَتَّى

يَكُونَ بَعْضُهُمْ يُهْلِكُ بَعْضًا وَيَسْبِي بَعْضُهُمْ بَعْضًا. رواه مسلم.

مسلمان پر مسلط کړم چي هغوئ هلاک کړي د هغوئ ځايونه واخلي که څه هم چي د مسلمانانو په مقابله کي د دنيا ټول کافران راجمع سي بيا به هم هلاک نه کړل سي تر هغو پوري چي ستا امت به ځيني د دوئ هلاک کړي او بنديان کوي به ځيني د دوئ ځيني نور. مسلم.

تخريج: صحيح مسلم ۴\۲۲۱۵، رقم: ۱۹- ۲۸۸۹.

د لغاتو حل: زوی: ای جمعها لاجلي. (زما له امله راغونډه دل)

تشريح: د سرو او سپينو خزانو څخه د سرو او سپينو زرو خزانې مراد دي، او ددغه دواړو خزانو په ذريعه د د کسری پاچا، فارس او د قيصر پاچا روم ته هم اشاره مقصد ده ځکه چي په

هغه زمانه کي په فارس کي د سرو زرو خزانې او په روم کي د سپینو زرو خزانې ډیري وې، نو رسول الله ﷺ وړاند وینه وفرمایل چي زما د امت خلک به ژر پر دغه دواړو سترو پاچاهیو باندي قابض سي او دهغوئ ټولي خزانې او مال به مسلمانانو ته په لاس ورسي او دغه وړاند وینه پوره سول.

مګر دا چي ستا د امت خلک به په خپلو کي ..... الخ: ددغه جملې سیاق او سباق ددې دلیل دی چي الله ﷻ ټول مسلمانان د دوو شیانو څخه د تل لپاره خوندي کړي دي، یو خو دا چي عامه وچ کالی او لوږه په داسي صورت کي چي په مجموعي توګه ټول مسلمانان هلاک او فناء کړي، هیڅکله نه پېښېږي، دوهم دا که د ټولي مځکي کافران او د اسلام مخالفان راټول سي او د مسلمانانو ختمول وغواړي نو داسي به هیڅکله نه کیږي، دا بېله خبره ده چي خپله په مسلمانانو کي نفاق او انتشار پیدا سي او وروروړ د وروړ غاړه پرې کول پیل کړي، یو مسلمان د بل مسلمان رسوا کول پیل کړي او د مسلمانانو ټولنیز طاقت د خپل مشترکه دښمن پر خلاف استعمال کېدو پر ځای په خپلو کي استعمال کړي، او ددغه صورت څخه دښمنان ګټه واخلي او دهغوئ اجتماعي طاقت کمزوری کړي، یا د یو سیمي د مسلمانانو ملي او دیني اجتماعیت ته تاوان ورسوي، دا د الله ﷻ فیصله ده چي د تل لپاره مقدر سوې ده، دغه فیصله نه څوک بدلولای سي او نه ددې پر خلاف کامیاب کیدای سي.

د خپل امت په حق کي د رسول الله ﷺ هغه دعاء چي قبوله نه سوه

﴿۵۵۰۵﴾: وَعَنْ سَعْدٍ أَنَّ رَسُولَ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ مَرَّ بِمَسْجِدِ بَنِي

د حضرت سعد رضي الله عنه څخه روایت دی چي رسول الله ﷺ د بنو معاویه د یو مسجد سره تیریدی نو

مُعَاوِيَةَ دَخَلَ فَرَكَعَ فِيهِ رَكْعَتَيْنِ وَصَلَّيْنَا مَعَهُ وَدَعَا رَبَّهُ طَوِيلًا ثُمَّ انْصَرَفَ

په هغه کي داخل سو او دوه رکعته لمونځ یې وکړ موږ هم ورسره لمونځ وکړ د لمانځه وروسته رسول الله ﷺ د خپل پروردګار څخه اوږده دعاء وغوښتل د هغه څخه وروسته زموږ په لور

فَقَالَ سَأَلْتُ رَبِّي ثَلَاثًا فَأَعْطَانِي ثِنْتَيْنِ وَمَنَعَنِي وَاحِدَةً سَأَلْتُ رَبِّي أَنْ لَا يُهْلِكَ

متوجه سو وه یې فرمایل: ما د خپل پروردګار څخه دري شیان وغوښتل په هغو کي یې دوه شیان راکړل او د یوه څخه یې منع وفرمایل: یو خو ما د خپل پروردګار څخه دا وغوښتل چي

أُمَّتِي بِالسَّنَةِ فَأَعْطَانِيهَا وَسَأَلْتُهُ أَنْ لَا يُهْلِكَ أُمَّتِي بِالْغَرَقِ فَأَعْطَانِيهَا وَسَأَلْتُهُ أَنْ لَا يَجْعَلَ بَأْسَهُمْ بَيْنَهُمْ فَمَنَعَنِيهَا. رواه مسلم.

هغه زما امت په عام قحط کي هلاک نه کړي دا شي خو الله پاک ما ته راکړ ، دويم ما د خپل پروردګار څخه دا وغوښتل چي هغه زما امت په اوبو کي غرق کولو سره هلاک نه کړي دا درخواست هم قبول کړل سو ، دريمه خبره چي ما د هغه خواهش کړی وو هغه دا چي زما د امت په خپل منځ کي جنګ او فساد نه وي الله تعالى ددې څخه منعه وفرمايل. مسلم.

تخريج: صحيح مسلم ۲۲۱۶\۴، رقم: ۲۰- ۲۸۹۰.

د لغاتو حل: بني معاويه: هم بطن من الانصار (د انصارو يوه قبيله)

تشريح: بنو معاويه د مدينې د انصارو د يوې قبيلې نوم وو، رسول الله ﷺ به يوه ورځ هغه قبيلې ته تللی وي او هلته به د يوه فرض لمانځه وخت راغلی وي او رسول الله ﷺ به هغه فرض لمونځ د هغه قبيلې په مسجد کي ادا کړی وي ، يا دا چي رسول الله ﷺ به هلته تېرېدی او د مسجد په لېدو سره به هلته تللی وي او هلته به يې دوه رکعته لمونځ ادا کړی وي، په هر حال رسول الله ﷺ په هغه لمانځه کي د التحيات په دوران کي يا د سلام ګرځولو څخه وروسته د الله ﷻ څخه د خپل امت په حق کي چي کومي درې دعاوي وغوښتلې او په هغه کي يوه دعاء قبوله نه سول نو ددې څخه معلومه سول چي د نبيانو هم ځيني دعاوي نه قبلېدی .

په تورات کي د نبي ﷺ د صفتو ذکر

﴿۵۵۰۶﴾: وَعَنْ عَطَاءِ بْنِ يَسَارٍ قَالَ لَقِيتُ عَبْدَ اللهِ بْنَ عَمْرِو بْنِ الْعَاصِ

د حضرت عطاء بن يسار رحمه الله څخه روايت دی چي زه د عبد الله بن عمرو بن عاص رضي الله عنه سره يو ځای

رَضِيَ اللهُ عَنْهُمَا قُلْتُ أَخْبِرْنِي عَنْ صِفَةِ رَسُولِ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ فِي

سوم او پوښتنه مي ځيني وکړه چي په تورات کي د رسول الله ﷺ کوم صفات ذکر دي د هغو

التَّوْرَاةِ قَالَ أَجَلْ وَاللهِ إِنَّهُ لَمَوْصُوفٌ فِي التَّوْرَاةِ بِبَعْضِ صِفَتِهِ فِي الْقُرْآنِ يَا

څخه ما خبر کړه، عبد الله بن عمرو رضي الله عنه وويل بښه دی قسم په خدای په تورات کي د رسول الله ﷺ ځيني هغه صفات درج دي کوم چي په قرآن کريم کي دي يعني هغه آياتونو کي

أَيُّهَا النَّبِيُّ إِنَّا أَرْسَلْنَاكَ شَاهِدًا وَمُبَشِّرًا وَنَذِيرًا وَحِرْزًا لِلْأُمِّيِّينَ أَنْتَ عَبْدِي

(يا ايها النبي انا ارسلناک......)، (اې نبي موږ ته د امت پر حال شاهد ليږلی يې او زيری ورکونکی او بيرونکی او د اميانو پناه، (وانت عبدي ورسولي سميتک المتوکل ليس.......) يعني ته زما بنده

وَرَسُولِي سَمَّيْتُكَ المتَوَكِّلَ لَيْسَ بِفَظٍّ وَلَا غَلِيظٍ وَلَا سَخَّابٍ فِي الْأَسْوَاقِ وَلَا

او زما رسول يې ما ستا نوم متوکل ايښی دی نه خو ته بدخويه يې نه سخت ګير او نه په بازارونو کي شور کونکی.

يَدْفَعُ بِالسَّيِّئَةِ السَّيِّئَةَ وَلَكِنْ يَعْفُو وَيَغْفِرُ وَلَنْ يَقْبِضَهُ اللهُ حَتَّى يُقِيمَ بِهِ

(ولا يدفع بالسيئة ...)، (او هغه بدي په بدی سره نه ليري کوي بلکه معافي کوې او د مغفرت دعاء کوې او الله تعالی د هغه روح هغه وخته پوري نه قبض کوي تر څو پوري چي

الْمِلَّةَ الْعَوْجَاءَ بِأَنْ يَقُولُوا لَا إِلَهَ إِلَّا اللهُ وَيَفْتَحُ بِهَا أَعْيُنًا عُمْيًا وَآذَانًا صُمًّا

ګمراه قوم الله ﷻ د هغه په ذريعه پر سيده لاره رانه ولي دا ډول چي هغه خلک ددې اعتراف ونه کړي چي د الله ﷻ څخه پرته بل څوک د عبادت وړ نسته او تر هغه وخته پوري به الله تعالی د هغه روح نه قبض کوي تر څو پوري چي ړندې سترګي کاڼه غوږونه

وَقُلُوبًا غُلْفًا. رواه البخاري وكذا الدارمي عن عطاء عن ابن سلام نحوه

وذكر حديث ابي هريرة نحن الاخرون في باب الجمعة.

او بې حسه زړونه ددې کلمې په ذريعه درست نه کړي. بخاري او دارمي د عطاء بن سلام څخه دا سي روايت کړی دی او د حضرت ابو هريره حديث نحن الاخرون، په باب جمعه کي راغلی دی.

تخريج: صحيح البخاري (فتح الباري): ۴\۳۴۲، رقم: ۲۱۲۵.

د لغاتو حل: حرزا: اي حصنا (ساتنه). سخاب: اي صياح (چغي\شور)

تشريح: حضرت عبد الله ابن عمرو ابن العاص رضي الله عنهما ډېر عالم، فاضل او حافظ صحابي وو، په ليکنه بنه پوهېدی، پر مخکني آسماني کتابو، تورات او انجيل باندي هم د هغه بنه نظر وو،

رسول الله ﷺ ورته د خپلو حديثونو ليکلو اجازه ورکړې وه، له رسول الله ﷺ څخه چي به يې څه اورېدل هغه به يې ليکل، ځکه نو دى هم د حضرت ابوهريره رضي الله عنه په ډول کثير الاحاديث دى او ډېر تابعين له ده څخه حديثونه نقل کوي، په هرحال حضرت عبدالله بن عمرو رضي الله عنه تورات ويلي وو او هغه ته معلومه وه چي په هغه آسماني کتابو کي زموږ د حضرت محمد ﷺ په اړه څه وړاند ويني سوي دي او د رسول الله ﷺ کومو فضائلو او صفتو ته اشاره سوې ده، ځکه هغه د حضرت عطاء ابن يسار په پوښتنه وښودل چي الله ﷻ د رسول الله ﷺ کوم صفتونه او فضائل په قرآن کريم کي ذکر کړي دي او موږ هغه د رسول الله ﷺ په ژوند کي ليدلي هم دي هغه په تورات کي مذکور دي بيا هغه په تفصيل سره د رسول الله ﷺ صفتونه او فضائل بيان کړل چي په تورات کي مذکور دي او هغه په تورات کي د ذکر سوو خبرو د نقل کولو لپاره په پيل کي هغه طرز اختيار کړ چي په قرآن کريم کي رسول الله ﷺ د خطاب دى او بيا يې هغه طرز هم اختيار کړ چي په تورات کي د رسول الله ﷺ په اړه بيان سوي دي.

اميانو ته پناه ورکوونکى، دلته د اميانو څخه مراد اهل عرب دي او هغوئ ځکه په امي سره تعبير کړل سوي دي چي د هغوئ زيات خلک په ليک او لوست نه پوهېدل يا هغوئ ته ام القرى (يعني د مکې اوسېدونکو ته په منسوب کولو سره امي وويل سول او دلته د اهل عربو تخصيص ځکه دى چي د رسول الله ﷺ نسلي او وطني تعلق د هغوئ څخه دي او په هغوئ کي رالېږل سوى دى چي هغوئ د غيرعربو د غلبې او تسلط څخه خوندي وساتي او تر ټولو مخکي هغوئ د ايمان او اخلاقو په وسله مسلح کولو سره د هغوئ د ساتني او کاميابۍ سامان برابر کړي او که د شيطاني ګمراهيو او نفساني آفاتو څخه پناه مراد واخيستل سي نو په دې کي هيڅ شک نسته چي د رسول الله ﷺ بابرکته وجود د ټولي نړۍ لپاره پناه ده او ځينو حضرتو ويلي دي چي د پناه څخه مراد د رسول الله ﷺ د قوم او ملت تر هغه وخت پوري په عذاب کي اخته کېدل او تباه کېدو څخه خوندي او مامون اوسېدل دي تر څو چي رسول الله ﷺ د خپل قوم او ملت په منځ کي موجود وي لکه څرنګه چي په قرآن کريم کي فرمايل سوي دي:

وَمَا كَانَ اللَّهُ لِيُعَذِّبَهُمْ وَأَنتَ فِيهِمْ

دا ممکن نه ده چي الله ﷻ پر دغه مسلمانانو عذاب نازل کړي او ته په هغوئ کي موجود يې.

او نه په بازارو کي شور کوونکي وي، دلته د بازار تخصيص محض په دې وجه دى چي په عامه توګه د شور او ناپوهۍ ځايونه بازار وي چي هلته ښه ښه خلک هم په رسېدو سره خپل پوهه او عقل ضائع کوي.

اَلْفَصْلُ الثَّانِي (دوهم فصل)

د مسلمانانو لپاره د رسول الله ﷺ درې دعاوي

﴿۵۵۰۷﴾: عَنْ خَبَّابِ بْنِ الْأَرَتِّ قَالَ صَلَّى بِنَا رَسُولُ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ

د حضرت خباب بن ارت رضي الله عنه څخه روايت دی چي رسول الله ﷺ موږ ته يو اوږد لمونځ راکړ،

صَلَاةً فَأَطَالَهَا قَالُوا يَا رَسُولَ اللّٰهِ صَلَّيْتَ صَلَاةً لَمْ تَكُنْ تُصَلِّيهَا قَالَ أَجَلْ

صحابه کرامو عرض وکړ اې د الله رسوله! تاسو خو نن موږ ته دومره اوږد لمونځ راکړ چي دومره اوږد لمونځ مو هيڅکله نه وو راکړی، رسول الله ﷺ وفرمايل: هو

إِنَّهَا صَلَاةُ رَغْبَةٍ وَرَهْبَةٍ إِنِّي سَأَلْتُ اللّٰهَ فِيهَا ثَلَاثًا فَأَعْطَانِي اثْنَتَيْنِ وَمَنَعَنِي

ددې لپاره چي دا لمونځ د رغبت (اميد) او خوف (بيري) لمونځ وو ما په دغه لمانځه کي د الله تعالی څخه درې خبري وغوښتلې چي په هغو کي دوې ما ته راکړل سوې او د يوې خبري څخه

وَاحِدَةً سَأَلْتُهُ أَنْ لَا يُهْلِكَ أُمَّتِي بِسَنَةٍ فَأَعْطَانِيهَا وَسَأَلْتُهُ أَنْ لَا يُسَلِّطَ

منعه وسول (هغه خبري دا دي): ما الله جل جلاله ته عرض وکړ چي زما امت په عام قحط کي اخته نه کړي دا درخواست پوره کړل سو ما بيا درخواست وکړ چي پر مسلمانانو باندي داسي دښمن

عَلَيْهِمْ عَدُوًّا مِنْ غَيْرِهِمْ فَأَعْطَانِيهَا وَسَأَلْتُهُ أَنْ لَا يُذِيقَ بَعْضَهُمْ بَأْسَ بَعْضٍ فَمَنَعَنِيهَا. رواه الترمذي والنسائي.

مسلط نه کړي چي غير مسلم وي دا سوال هم پوره کړل سو، دريم عرض ما دا کړی وو چي مسلمانان په خپل منځ کي يو بل ته تکليف او ضرر ونه رسوي يعني په خپل منځ کي جنګ نه کوي ددې څخه منع وسول. ترمذي او نسائي.

تخريج: سنن الترمذي ۴۰۹\۱۴، رقم: ۲۱۷۵، والنسائي ۲۱۶\۱۳، رقم: ۱۶۳۸.

مسلمان د درو شیانو څخه خوندي سوی دی

﴿۵۵۰۸﴾: وَعَنْ أَبِي مَالِكٍ الْأَشْعَرِيِّ قَالَ قَالَ رَسُولُ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ

د حضرت ابومالک اشعري ﷛ څخه روايت دئ چي رسول الله ﷺ وفرمايل :

إِنَّ اللّٰهَ أَجَارَكُمْ مِنْ ثَلَاثِ خِلَالٍ أَنْ لَا يَدْعُوَ عَلَيْكُمْ نَبِيُّكُمْ فَتَهْلَكُوا جَمِيعًا

(اې مسلمانانو!) الله ﷻ تاسو د درو شيانو څخه ساتلي ياست چي ستاسو نبي تاسو ته ښيرا ونه کړي چي تاسو هلاک سئ،

وَأَنْ لَا يَظْهَرَ أَهْلُ الْبَاطِلِ عَلَى أَهْلِ الْحَقِّ وَأَنْ لَا تَجْتَمِعُوا عَلَى ضَلَالَةٍ. رواه ابوداؤد

دا چي باطل او ګمراه خلک پر اهل حق غالب نه سي او دا چي زما ټول امت په ګمراهۍ کي جمع نه سي. ابوداؤد.

تخريج: سنن ابي داود ۴\۴۵۲، رقم: ۴۲۴۳.

تشريح: باطل او ګمراه خلک به پر حق باندي غالب نه وي، ددې مطلب دادی که څه هم د اسلام او مسلمانانو د ښمن توان او شمېر ډېر وي او مسلمانان کم وي بيا هم هغوئ ټول مسلمانان هيڅکله نه ختمولای نه سي، حاکم د حضرت عمر ﷛ دا قول نقل کړی دی، رسول الله ﷺ وفرمايل: د قيامت تر راتلو پوري به تل زما په امت کي يوه ډله په حق سره غالبه وي او په ابن ماجه کي د حضرت ابوهريره ﷛ څخه دا روايت منقول دی چي رسول الله ﷺ وفرمايل: تل به زما په امت کي يوه ډله د الله ﷻ پر حکم قائمه وي او د هغوئ د ښمن به هغوئ ته هيڅ تاوان ونه رسولای سي.

زما ټول امت به پر ګمراهۍ نه جمع کيږي، ددې مطلب دادی چي داسي هيڅکله نه سي کيدای چي ټول مسلمانان پر يوه فاسده او غلطه نظريه باندي متفق او متحد سي، دا بېله خبره ده چي د مسلمانانو ځيني خلک يا يوه ډله د خپلو اغراضو له کبله يوه غير اسلامي خبره قبوله کړي او هغه جائز ګرځول پيل کړي مګر دا ممکن نه ده چي د ټولي دنيا مسلمانان يا د مسلمانانو لويه ډله پر هغه غير اسلامي خبره باندي جمع سي ، په حديث کي دغه جمله ددې دليل دی چي اجماع حجت دی او د اجماع څخه مراد د خپلي زمانې د مجتهد او بابصيرته علماؤ پر يو شرعي حکم باندي متفق کيدل دي.

﴿۵۵۰۹﴾: وَعَنْ عَوْفِ بْنِ مَالِكٍ قَالَ قَالَ رَسُولُ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ لَنْ يَجْمَعَ اللّٰهُ عَلَى هٰذِهِ الْأُمَّةِ سَيْفَيْنِ سَيْفًا مِنْهَا وَسَيْفًا مِنْ عَدُوِّهَا . رواه ابوداؤد

د حضرت عوف بن مالک رضي الله عنه څخه روایت دئ چي رسول الله ﷺ وفرمایل: پر دې امت به الله تعالی دوې توري نه جمع کوي یوه توره ددې امت او دویمه توره د دوئ د دښمنانو (یعني الله تعالی به پر مسلمانانو داسي وخت نه راولي چي په خپل منځ کي هم په جګړه اخته وي او دښمن به هم ورسره په جنګ وي). ابوداؤد.

تخریج: سنن ابي داود: ۴\۴۸۵، رقم: ۴۳۰۱.

تشریح: دا الهي فیصله ده چي د مسلمانانو خلاف به هیڅکله دوې توري نه جمع کیږي چي په هغه سره ټول ملي طاقت خراب سي او مسلمان په مجموعي توګه ختم سي، د دوو تورو د جمع کېدو مطلب دادی چي یوې خوا ته په خپلو کي جګړه وي او د انتشار ښکار وي له یو بل سره په جګړه کي مصروف وي او له بلي خوا د هغوئ مشترکه دښمن یعني غیر مسلم پر هغوئ حمله وکړي او دهغوئ د نفاق څخه په ګټه اخیستلو سره پر هغوئ غلبه او تسلط تر لاسه کړي او هغوئ ختم کړي، توربشتي رحمه الله ددغه حدیث په تشریح کي لیکلي دي چي کله هم مسلمانان په خپلو کي جګړه کول پیل کړي او په هغوئ کي د اتفاق او اتحاد پر ځای د یو بل خلاف جګړه سختي اختیار کړي چي ملي ټولنه یې منتشر شي نو الله جل جلاله پر هغوئ داسي کافران مسلط کړي چي د هغه ظلم او زیاتی مسلمانان د ملي اتفاق او اتحاد د بیرغ لاندي یو ځای کړي او هغوئ په خپلو کي د جګړې په پرېښودو سره په خپلو کي خواږه سي، طیبي رحمه الله دا لیکلي دي چي دا د الله جل جلاله فیصله ده چي ددغه امت خلک یو ځای د دوو جګړو ښکار کیدای نه سي چي په خپلو کي دي هم د یو بل خلاف جګړه کوي او د کافرانو خلاف دي هم په جګړه اخته وي، بلکه کله چي هغوئ ته د کافرانو په وړاندي د ظلم مخامخ کېدل وي نو هغوئ د خپل منځي اختلاف او جګړې په دفع کولو سره د هغه دښمن په مقابله کي متحد کیږي.

د رسول الله ﷺ نسلي او نسبي فضیلت

﴿۵۵۱۰﴾: وَعَنِ الْعَبَّاسِ أَنَّهُ جَاءَ إِلَى النَّبِيِّ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ فَكَأَنَّهُ سَمِعَ

د حضرت عباس رضي الله عنه څخه روایت دی چي هغه د کافرانو څخه پر رسول الله ﷺ طعن کول

شَيْئًا فَقَامَ النَّبِيُّ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ عَلَى الْمِنْبَرِ فَقَالَ مَنْ أَنَا فَقَالُوا أَنْتَ

واوريدل او هغه د غصې څخه ډک د رسول الله ﷺ په خدمت کې حاضر سو ، نبي کريم ﷺ پر منبر ودريدی او وه يې فرمايل: زه څوک يم؟ صحابه کرامو عرض وکړ تاسو

رَسُولُ اللّٰهِ عَلَيْكَ السَّلَامُ قَالَ أَنَا مُحَمَّدُ بْنُ عَبْدِ اللّٰهِ بْنِ عَبْدِ الْمُطَّلِبِ إِنَّ

د الله تعالی رسول ياست، رسول الله ﷺ ورته وفرمايل: زه محمد يم د عبدالله بن عبدالمطلب

اللّٰهَ خَلَقَ الْخَلْقَ فَجَعَلَنِي فِي خَيْرِهِمْ ثُمَّ جَعَلَهُمْ فِرْقَتَيْنِ فَجَعَلَنِي فِي

زوی، الله تعالی مخلوق پيدا کړ او په دغه مخلوق کې يې غوره مخلوق زه پيدا کړم بيا ددغه

خَيْرِهِمْ فِرْقَةً ثُمَّ جَعَلَهُمْ قَبَائِلَ فَجَعَلَنِي فِي خَيْرِهِمْ قَبِيلَةً ثُمَّ جَعَلَهُمْ

غوره مخلوق الله تعالی دوې برخې کړې (يعني عرب او عجم) او په دغه دواړو برخو کې غوره برخه کې يې زه پيدا کړم بيا الله تعالی د دغه غوره برخې کې قبائل جوړ کړل او په دغه قبائلو کې غوره قبيله (قريش) کې يې زه پيدا کړم بيا د دغه غوره قبيلې يې غوره کورنۍ جوړې کړې

بُيُوتًا فَجَعَلَنِي فِي خَيْرِهِمْ بَيْتًا فَأَنَا خَيْرُهُمْ نَفْسًا وَخَيْرُهُمْ بَيْتًا. رواه الترمذي

او په دغه کورنيو کې غوره کورنۍ (هاشم) کې يې زه پيدا کړم نو زه په ذات او نسب کې هم تر ټولو غوره يم او د کورنۍ د لحاظه هم غوره يم. ترمذي.

تخريج: سنن الترمذي ۵\۵۴۵، رقم: ۳۶۰۷.

تشريح: رسول الله ﷺ د خپل نسلي، نسبي او کورني عظمت او فضيلت په څرګندولو سره دا څرګنده کړل چې د الله جَلَّ جَلَالُهُ د آخري نبي کېدو او د الله جَلَّ جَلَالُهُ د آخري کتاب تر لاسه کولو تر ټولو زيات مستحق زه وم ، ددې څخه معلومه سول چې حکمت الهي ددې لحاظ وساتی چې مرتبه نبوت او رسالت باندې فائز کېدونکي ذات دې د حسب او نسب په اعتبار د لوړې درجې او عالي حيثيت وي مګر د نبيانو د ذات لپاره د حسب او نسب عظمت لازمېدل يو بنيادي شی نه دی، ددې تعلق محض د هغه خلکو خلاف حجت دی چې د حسب و نسب لوی او کورنۍ وجاهت ته زيات ارزښت ورکوي لکه څرنګه چې د رسول الله ﷺ د رالېږلو په وخت کې جاهل او ناپوهانو کفارو به ويل که د الله جَلَّ جَلَالُهُ آخري کتاب قرآن نازلېدونکي وي او نبوت او رسالت

قائمېدل وي نو ددې لپاره د عربو په لويو لويو سردارانو كي د چا انتخاب ولي ونه سو ، او كوم چي د نفس نبوت تعلق دی دا خپله دومره لوی شرف دی چي د هغه په وړاندي هر ډول لوی وجاهت او عظمت بې حيثيته شی دی، د هغه تر لاسه كول نه د حسب او نسب پر عظمت باندي موقوف دی او نه په يو بل سبب او ذريعه باندي بلكه محض د الله ﷻ فضل دی چي هغه څوک وغواړي ددغه شرف او مرتبې لپاره يې منتخب كړ، په قرآن كريم كي ارشا دی: (الله اعلم حيث يجعل رسالته) په دې الله ﷻ ښه پوهيږي چي د خپل رسالت لپاره څوک منتخب كړي.

په يو بل ځای كي فرمايي: والله يختص برحمته من يشاء والله ذو الفضل العظيم، او الله ﷻ په خپل رحمت سره چا ته چي وغواړي مخصوص كوي او الله ﷻ لوی فضل كوونكی دی.

رسول الله ﷺ ته په خطاب كولو سره داسي وفرمايل سول : (وكان فضل الله عليک عظيما) او الله ﷻ ته په لوی فضل (كتاب، علم او نبوت) سره ونازولې.

د رسول الله ﷺ نبوت د آدم عليه السلام د وجود څخه مخكي تجويز سوی وو

﴿۵۵۱۱﴾: وَعَنْ أَبِي هُرَيْرَةَ قَالَ قَالُوا يَا رَسُولَ اللّٰهِ مَتَى وَجَبَتْ لَكَ النُّبُوَّةُ قَالَ وَآدَمُ بَيْنَ الرُّوحِ وَالْجَسَدِ. رواه الترمذي.

د حضرت ابو هريره رضي الله عنه څخه روايت دی چي صحابه كرامو عرض وكړ اې د الله رسوله ! د نبوت لپاره تاسو كله وټاكل سواست؟ رسول الله ﷺ وفرمايل : هغه وخت چي آدم عليه السلام د روح او بدن په منځ كي وو . ترمذي

تخريج: سنن الترمذي: ۵\۵۴۵، رقم: ۳۶۰۹.

تشريح: مطلب دا چي د رسول الله ﷺ د نبوت او رسالت لپاره هغه وخت ټاكل سوی وو كله چي د حضرت آدم رحمة الله عليه روح د هغه د بدن سره يو ځای سوی نه وو او د هغه بدن پر مځكه بې روحه پروت وو ، دغه جمله په اصل كي ددې خبري كنايه ده چي د رسول الله ﷺ نبوت او رسالت د حضرت آدم عليه السلام په وجود كي راتلو څخه هم مخكي ټاكل سوی وو .

رسول الله ﷺ او ختم نبوت

﴿۵۵۱۲﴾: وَعَنِ الْعِرْبَاضِ بْنِ سَارِيَةَ عَنْ رَّسُوْلِ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ أَنَّهُ

د حضرت عرباض بن ساريه رضي الله عنه څخه روايت دئ چي رسول الله ﷺ وفرمايل :

قَالَ إِنِّي عِنْدَ اللهِ مَكْتُوبٌ خَاتِمَ النَّبِيِّيْنَ وَإِنَّ آدَمَ لَمُنْجَدِلٌ فِيْ طِيْنَتِهِ

د الله ﷻ سره زه دهغه وخت څخه خاتم النبيين ليکل سوی يم چي آدم عليه السلام په خپله اغږل سوې خاوره کي پروت وو،

وَسَأُخْبِرُكُمْ بِأَوَّلِ أَمْرِيْ دَعْوَةِ إِبْرَاهِيْمَ وَبَشَارَةِ عِيْسٰى وَرُؤْيَا أُمِّي الَّتِيْ رَأَتْ

او زه تاسو ته وښيم چي زما (د نبوت لومړنی) اظهار د حضرت ابراهيم عليه السلام دعاء وه چي په قرآن مجيد کي په دې الفاظو سره مذکوره وه (وابعث فيهم رسولا منهم)، او بيا د حضرت عيسی عليه السلام زيری چي په قرآن کريم کي په دې الفاظو سره راغلی دی : (و مبشرا برسول ياتي من بعدي اسمه احمد) او بيا زما د مور خوب چي

حِيْنَ وَضَعَتْنِيْ وَقَدْ خَرَجَ لَهَا نُوْرٌ أَضَاءَ لَهَا مِنْهُ قُصُوْرُ الشَّامِ . وراه في شرح السنة ورواه أحمد عن أبي أمامة من قوله : " سأخبركم " إلى آخره.

زما د زيږيدو پر وخت يې ليدلی وو او زما د مور مخته يو نور ظاهر سو چي د هغه سره د شام ماڼۍ هغې ته معلومي سوې . شرح السنه.

تخريج: البغوي في شرح السنة ١٣\٢٠٧، رقم: ٣٦٢٦.

د لغاتو حل: منجدل: من الجدل وهو الالقاء على الارض الصلبة. (اخښل)

تشريح: (وَإِنَّ آدَمَ لَمُنْجَدِلٌ فِيْ طِيْنَتِهِ) دلته د طينته لفظ د اخښل سوو خټو په معنی دی، خلقت او جبلت ته هم طينت وايي، د رسول الله ﷺ مطلب دا وو چي زما د خاتم النبيين په حيثيت سره دې دنيا ته راتلل د الله ﷻ په نزد هغه وخت ليکل سوي وه کله چي حضرت آدم د اوبو او خټو په منځ کي وو او نه يوازي دا چي د هغه په بدن کي روح نه وه راغلی بلکه د هغه د بدن په جوړېدو سره تيار سوی هم نه وو، دلته دا سوال پيدا کيږي چي د رسول الله ﷺ نبوت د حضرت آدم عليه السلام د تخليق څخه مخکي د ټاکل کېدو څخه څه مراد دی؟ که د الله ﷻ په علم او تقدير کي کېدل مراد وي نو دا خبره د ټولو نبيانو په اړه ويل کيدای سي، د رسول الله ﷺ د خاصوالي څه معنی ده؟ او که د رسول الله ﷺ د نبوت بالفعل ظاهرول مراد وي نو دا به خلاف د حقيقت وي ځکه چي د بالفعل تعلق ددغه دنيا سره دی او څرګنده ده چي په دنيا کي د رسول الله ﷺ د نبوت اظهار د

حضرت آدم علیه السلام د تخلیق څخه په زرګونه کاله وروسته سوی دی، ددې جواب دادی چې په اصل کي د رسول الله ﷺ د نبوت په ټولو ملائکو او روحونو کي متعارف کول دي لکه څرنګه چې په یوه روایت کي د رسول الله ﷺ د اسم شریف پر عرش، آسمان او دجنت پر ماڼیو باندي د حور عین پر سینو باندي د جنت پر درختو او د طوبی درختو پر بلګو او د ملائکو پر سترګو او ورځو لیکل کېدل منقول دي، او ځینو عارفینو لیکلي دي چې د رسول الله ﷺ روح مبارک په عالم ارواح کي د ټولو روحونو روزنه او اصلاح کول لکه څرنګه چې په دنیا کي د راتللو څخه وروسته د رسول الله ﷺ ذات په دنیا کي د انسان مربي او مصلح سو او دا خبره د شک څخه پر ته ثابته ده چې ټول روحونه د خپلو بدنو څخه د پر مخکي په عالم وجود کي راغلي دي.

زما لومړی کار د حضرت ابراهیم علیه السلام دعاده....الخ: ددغه جملې په ذریعه رسول الله ﷺ دا څرګنده کړل چې زما خاتم النبیین کېدل نه یوازي دا چې د حضرت آدم علیه السلام د وجود څخه مخکي تجویز او لوړي نړۍ کي ظاهر سوی وو بلکه په دنیا کي هم زما بدني پیدائش څخه د پر مخکي د مختلفو نبیانو علیهم السلام په ذریعه زما نبوت او رسالت او زما د علومو مرتبه ظاهره سوې وه ، ددې دلیل د حضرت ابراهیم علیه السلام هغه دعاء ده چې هغه زما د رسالت په اړه د کعبې د جوړښت په وخت کي کړې وه چې په قرآن کریم کي داسي نقل سوې ده :

رَبَّنَا وَابْعَثْ فِيهِمْ رَسُولاً مِّنْهُمْ يَتْلُو عَلَيْهِمْ آيَاتِكَ وَيُعَلِّمُهُمُ الْكِتَابَ وَالْحِكْمَةَ وَيُزَكِّيهِمْ إِنَّكَ أَنتَ العَزِيزُ الحَكِيمُ.

ژباړه: اې پروردګاره! او په دغه ډله (د اسماعیل په اولاده) کي د دوئ څخه یو داسي پیغمبر هم وټاکې چې دغه خلکو ته ستا آیاتونه وایي ، دوئ ته د کتاب او حکمت تعلیم ورکوي او دوئ پاکوي ، بېله شکه ته غالب القدرت او کامل الانتظام یې .

همدارنګه په دنیا کي زما د راتللو څخه د پر مخکي حضرت عیسی علیه السلام بني اسرائیلو ته په خطاب کولو سره زما د نبوت زیری ورکړی وو لکه څرنګه چې په قرآن کریم کي ارشاد دی :

وَمُبَشِّرًا بِرَسُولٍ يَأْتِي مِن بَعْدِي اسْمُهُ أَحْمَدُ.

ژباړه: او (اې بني اسرائیلو !) زما څخه وروسته یو رسول راتلونکی دی د هغه نوم به احمد وي زه د هغه زیری ورکوونکی یم .

او زما د زیږېدني څخه مخکي زما د مور زیری ورکوونکی خوب لېدل او زما د زیږېدو په وخت کي هغې ته حیرانونکي پېښې او حالات پېښېدل هم ددې خبري دلیل دی چې زما د نبوت

او رسالت نور په دنيا كي زما د راتلو څخه مخكي هم ظاهر سوى وو.
د حديث د دغه جملې: هغه زما د زېږېدو په وخت كي ليدلى وو، په اړه طيبي رحمة الله عليه او نورو علماؤ ليكلي دي چي د دغه الفاظو مراد په خوب كي ليدل هم كيداى سي او د ويښي په حالت كي هم، په اول صورت كي د زېږېدو د وخت څخه لږ مخكي وخت به مراد وي لكه څرنګه چي په يوه روايت كي راغلي دي چي كله د رسول الله ﷺ د مور، بي بۍ آمنې، د ماشوم پيدا كېدو وخت نژدې سو نو هغې په خوب كي وليدل چي يوه ملائكه راغلل او هغې ته يې وويل: ووايه چي زه دغه ماشوم (چي زما په نس كي دى) د هر حسد كوونكي د شر څخه د الله ﷻ په پناه كي وركوم، بي بي آمنې د دې څخه مخكي د استقرار حمل په وخت كي هم خوب ليدلى وو چي يوه ملائكه راغلل او هغې ورته وويل: ايا تا ته معلومه ده چي ستا په نس كي د دغه امت سردار نبي دى، په دوهم صورت كي د ويښي په حالت كي ليدل مراد دي نو ويل كيږي چي هغه زما د زېږېدو په وخت كي ليدلى وو، د دې تعلق د هغه شي په لېدو سره دى چي د هغه تعلق په دغه جمله كي محذوف دى مګر وړاندي روايت د دې پوره وضاحت كوي او په ځينو روايتو كي هم راغلي دي چي د رسول الله ﷺ د زېږېدو په وخت كي د بي بي آمنې څخه يو داسي نور ظاهر سو چي د شام د هيواد ماڼې او ښارونه ورته مخامخ سول او د رسول الله ﷺ د زېږېدني په وخت كي داسي نور ظاهر سو چي په هغه سره د شام ماڼۍ ځلانده سوې، همدغه حقيقت ته اشاره وه چي دا وخت په دنيا كي د داسي ذات ظهور سوى دى چي د هغه د نبوت او رسالت رڼا به د ختيځ څخه تر لويديځ پوري د ځمكي مخ منور كړي او د كفر او ضلالت تياره به له منځه ولاړه سي.

د رسول الله ﷺ فضائل

﴿۵۵۱۳﴾: وَعَنْ أَبِي سَعِيدٍ قَالَ قَالَ رَسُولُ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ أَنَا سَيِّدُ

د حضرت ابو سعيد رضي الله عنه څخه روايت دئ چي رسول الله ﷺ وفرمايل: د قيامت په ورځ به زه د آدم

وَلَدِ آدَمَ يَوْمَ الْقِيَامَةِ وَلَا فَخْرَ وَبِيَدِي لِوَاءُ الْحَمْدِ وَلَا فَخْرَ وَمَا مِنْ نَبِيٍّ

عليه السلام د اولاد سردار يم او دا خبره زه د فخر په توګه نه كوم او د قيامت په ورځ به زما په لاس كي د حمد بيرغ وي او دا خبره زه د فخر په توګه نه كوم او د قيامت په ورځ به آدم عليه

يَوْمَئِذٍ آدَمَ فَمَنْ سِوَاهُ إِلَّا تَحْتَ لِوَائِي وَأَنَا أَوَّلُ مَنْ تَنْشَقُّ عَنْهُ الْأَرْضُ وَلَا

فَخْرَ. رواه الترمذي.

السلام او نور ټول پیغمبران زما تر بیرغ لاندي وي او د قیامت په ورځ به تر ټولو وړاندي زما قبر خلاص کړل سي او تر ټولو وړاندي به زه د قبر څخه پورته سم او په دې زه فخر نه کوم. ترمذي.

تخريج: سنن الترمذي ۵\۲۸۸، رقم: ۳۱۴۸.

تشريح: او زه دا خبره د فخر په توګه نه کوم، ددې څخه د رسول الله ﷺ مطلب دا وو چي زما دغه وینا د کبر کولو، فخر کولو او لوئي ښودلو په توګه نه وه بلکه پروردګار چي ددغه فضل کوم نعمت ما ته راکړی دی د هغه اقرار او اظهار کولو په دغه نعمت شکر ادا کولو او د الله ﷻ ددغه حکم (و اما بنعمة ربک فحدث) پر ځای راوړلو لپاره دي ، ددې څخه ماسوا زه ددې خبري اظهار او اعلان ددې لپاره هم کوم چي خلک زما قدر او زما حیثیت وپېژني، پر دې عقیده ولري او ددې سره سم زما تعظیم او زما دمیني په ذریعه ایمان ټینګ جوړ کړي،

د لواء معنی د بېرغ او نښان ده ، د حمد بیرغ به زما په لاس کي وي، ددې څخه مراد د قیامت په ورځ د رسول الله ﷺ په حمد او ثناء کي نوم وړل دي او که داسي معنی وکړل سي چي د حمد نښان به زما په لاس کي وي نو ددې څخه مراد به هم دا وي لکه څرنګه چي عربو په یوه معامله کي د خپل شهرت د اظهار لپاره نښان پورته کوی چي د عظمت ، لوړوالي او نوم وړني د اظهار علامه ګڼل کیږي، مطلب دا چي په هغه ورځ به دغه نښان یا بېرغ د رسول الله ﷺ لاس ته راسي نو الله ﷻ به د رسول الله ﷺ زړه داسي خلاص کړي چي رسول الله ﷺ به د الله ﷻ هغه تعریف کوي چي بل څوک یې نه سي کولای، څرګنده ده چي رسول الله ﷺ ته په حمد سره مخصوص نسبت حاصل دی، د رسول الله ﷺ نوم مبارک محمد او احمد دی، رسول الله ﷺ د صاحب د مقام محمود دی ، د رسول الله ﷺ امت ته حمادین ویل کیږي یعني داسي خلک چي په هر حالت کي د الله ﷻ حمد او ثناء بیانوي، دقیامت په ورځ به د رسول الله ﷺ ذات حامد هم وي او محمود هم، او رسول الله ﷺ به د حمد په ذریعه د شفاعت دروازه خلاصه کړي لکه چي په باب الشفاعت کي تېر سول.

په هغه ورځ به هیڅ نبي .... الخ: ددې مطلب دادی چي د قیامت په ورځ به د حشر په میدان کي رسول الله ﷺ یوازي د عامو خلکو د پناه ځای نه وي بلکه ټول نبیان او رسولان به هم د رسول الله ﷺ تر بېرغ لاندي جمع سي ، د رسول الله ﷺ د پناه غوښتونکي او تابع به وي، د حدیث ددغه جملې څخه دا معلومیږي چي د بیرغ یا نښان ذکر محض د علامې په توګه نه دی

بلکه په حقیقت کي به هم د رسول الله ﷺ یو بیرغ یا نښان وي چي د هغه نوم به لوائي الحمد وي، چي د رسول الله ﷺ د مشرئ او غوره والي د اظهار لپاره به رسول الله ﷺ ته ورکول کیږي لکه څرنګه چي په دنیا کي د پاچاهانو او مشرانو د عظمت او شوکت د اظهار لپاره دهغوئ بېل بېل بېرغونه د رول کیږي.

رسول الله ﷺ د الله ﷻ حبیب دی

﴿۵۵۱۴﴾: وَعَنِ ابْنِ عَبَّاسٍ قَالَ جَلَسَ نَاسٌ مِنْ أَصْحَابِ رَسُولِ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ

د حضرت ابن عباس رضی الله عنهما څخه روایت دی چي د رسول الله ﷺ صحابه کرام ناست وه خبري یې

عَلَيْهِ وَسَلَّمَ فَخَرَجَ حَتَّى إِذَا دَنَا مِنْهُمْ سَمِعَهُمْ يَتَذَاكَرُونَ قَالَ بَعْضُهُمْ إِنَّ اللّٰهَ

کولې چي رسول الله ﷺ تشریف راوړ او د هغوئ خبري یې واورېدلې، یو سړي وویل الله تعالی

اتَّخَذَ إِبْرَاهِيمَ خَلِيلًا وَقَالَ آخَرُ مُوسَى كَلَّمَهُ تَكْلِيمًا وَقَالَ آخَرُ فَعِيسَى كَلِمَةُ اللّٰهِ

ابراهیم علیه السلام خپل دوست جوړ کړ، دویم سړي وویل موسی علیه السلام سره الله تعالی خبري کړې دي، دریم کس وویل حضرت عیسی علیه السلام د الله تعالی کلمه

وَرُوحُهُ وَقَالَ آخَرُ آدَمُ اصْطَفَاهُ اللّٰهُ فَخَرَجَ عَلَيْهِمْ رسول الله صلى الله عليه

او روح وو، څلورم وویل آدم علیه السلام الله پاک غوره جوړ کړ، د ټولو خبرو اورېدو سره رسول الله ﷺ

وسلم وَقَالَ قَدْ سَمِعْتُ كَلَامَكُمْ وَعَجَبَكُمْ إِنَّ إِبْرَاهِيمَ خَلِيلُ اللّٰهِ وَهُوَ كَذَلِكَ

وفرمایل: ما ستاسو خبري واورېدې او تعجب مي محسوس کړ چي ابراهیم خلیل الله د الله تعالی دوست دی

وَمُوسَى نَجِيُّ اللّٰهِ وَهُوَ كَذَلِكَ وَعِيسَى رُوحُ اللّٰهِ وَكَلِمَتُهُ وَهُوَ كَذَلِكَ وَآدَمُ اصْطَفَاهُ

او موسی علیه السلام د الله تعالی همراز او هم کلام دی او په حقیقت کي هغوئ همداسي وي او عیسی علیه السلام د الله تعالی روح او کلمه ده او په حقیقت هغه همداسي دی او حضرت آدم علیه السلام الله تعالی

اللّٰهُ وَهُوَ كَذَلِكَ أَلَا وَأَنَا حَبِيبُ اللّٰهِ وَلَا فَخْرَ وَأَنَا حَامِلُ لِوَاءِ الْحَمْدِ يَوْمَ الْقِيَامَةِ

منتخب کړی دی او په حقیقت کي هغه د الله تعالی غوره دی مګر تاسو خبردار سئ چي زه د الله

تعالی حبیب یم او دا خبره زه د فخر په توگه نه کوم او د قیامت په ورځ به

تحته ادم فمن دونه وَلَا فَخْرَ وَأَنَا أَوَّلُ شَافِعٍ وَأَوَّلُ مُشَفَّعٍ يَوْمَ الْقِيَامَةِ وَلَا فَخْرَ

د حمد بیرغ پورته کونکی یم چې حضرت آدم علیه السلام او نور ټول پیغمبران به تر هغه لاندې وي او په دې سره زه فخر نه کوم او د قیامت په ورځ به د ټولو څخه مخکې شفاعت کونکی زه یم او په دې زه فخر نه کوم

وَأَنَا أَوَّلُ مَنْ يُحَرِّكُ حِلَقَ الْجَنَّةِ فَيَفْتَحُ اللَّهُ لِي فَيُدْخِلُنِيهَا وَمَعِي فُقَرَاءُ الْمُؤْمِنِينَ

او زه به تر ټولو لومړنی سړی یم چې د جنت دروازې ته به حرکت ورکړم او الله تعالی به زما لپاره د جنت دروازې خلاصې کړي او ما به په هغه کې داخل کړي او زما سره به فقیران مؤمنان وي او

وَلَا فَخْرَ وَأَنَا أَكْرَمُ الْأَوَّلِينَ وَالْآخِرِينَ وَلَا فَخْرَ . رواه الترمذي والدارمي.

په دې زه فخر نه کوم او د الله تعالی په نزد به زه تر ټولو مخکنیو او آخرنیو خلکو غوره او برتریم او په دې زه فخر نه کوم. ترمذي او دارمي.

تخريج: سنن الترمذي ۵\۵۴۸، رقم: ۳۶۱۶، والدارمي ۱\۳۹، رقم: ۴۷.

تشريح: زه د الله جل جلاله حبیب یم، په دې اړه ځینو شارحینو دا لیکلي دي چې د خلیل او حبیب دواړو معنی د دوست ده مګر حبیب هغه دوست ته وایي چې د محبوبیت مقام ته رسېدلی وي او خلیل مطلق دوست ته وایي، ملا علي قاري رحمه الله لیکلي دي چې خلیل هغه دوست ته وایي چې د هغه دوستي د یو حاجت او مقصد په وجه وي او حبیب هغه دوست ته وایي چې په خپله دوستۍ کې بالکل بې مقصده او بې غرضه وي، څرګنده دي وي چې ټول نبیان او رسولان بلکه ټول مؤمنان د الله جل جلاله دوست او محبوب وي مګر د دوستۍ او محبوبیت هم مختلفې درجې او مرتبې وي ځکه دلته خبرې د دوستۍ او محبوبیت د هغه درجې او مرتبې په اړه دي چې تر ټولو اعلی او تر ټولو غوره ده، پاته سوه دا خبره چې د الله جل جلاله په دربار کې د دوستۍ او محبوبیت تر ټولو لوړه او غوره درجه رسول الله صلی الله علیه وسلم ته حاصله وه نو ددې تر ټولو لوی دلیل د قرآن کریم دغه آیت دی: (قل ان كنتم تحبون الله فاتبعوني يحببكم الله) : (اې محمد صلی الله علیه وسلم!) دغه خلکو ته ووایه چې که تاسو الله جل جلاله دوست لرئ نو زما پیروي کوئ، الله جل جلاله به هم ستاسو سره دوستي وکړي.

هغه وخت به زما سره فقیران مؤمنان وي، ددې مطلب دادی چې په جنت کې به تر ټولو مخکې رسول الله صلی الله علیه وسلم داخلیږي او بیا به د مؤمنانو څخه چې کومه ډله تر ټولو مخکې په جنت

كي داخلېږي هغه به د مهاجرو او انصارو صحابه کرامو څخه هغه کسان وي چي مفلس او مسکينان وه چي د خپلو خپلو درجو او مرتبو په اعتبار به مخکي او وروسته په جنت کي داخلېږي لکه څرنګه چي په يوه روايت کي دي چي رسول الله ﷺ وفرمايل: زما د امت فقيران به د شتمنو څخه پنځه سوه کاله مخکي په جنت کي داخلېږي، ددې خبري دليل دی چي د صبر او استقامت لار اختيارونکي فقير د شکر ګزار غني څخه غوره دی او د صوفيانو په نزد د فاقې او احتياج نوم فقر نه دی بلکه د هغوئ په نزد يوازي الله ﷻ ته د محتاج کېدو او د الله ﷻ څخه د هغه د رضا او خوښۍ ماسوا د نور څه نه غوښتلو نوم فقر دی ، امام ثوري رحمة الله عليه ويلي دي: فقر دادی چي د مال او سامان په نه درلودو سره سکون تر لاسه وي او کله چي مال تر لاسه سي نو هغه مصرف کړل سي ، رسول الله ﷺ د نفس د فقر څخه پناه غوښتې وه او د غناء نفس تعريف يې کړی دی، خلاصه دا چي اصل شی د الله ﷻ رضا او خوشحالي ده ، کوم حالت چي وي که هغه د فقر وي او که د غناء، د هغه شي د تر لاسه کولو څخه دي موږ وساتي کوم چي خراب دی په عامه توګه غناء يعني د شتمنۍ حالت انسان په خرابيو کي اخته کوي او د فقر حالت په ډېرو خرابيو کي د اخته کېدو څخه منع کوي ځکه الله ﷻ زيات انبياء او اولياء د فقر په حالت کي ساتلي دي او دهغوئ فقر يې د هغوئ د مرتبو او درجو د لوړوالي باعث جوړ کړ، يو دليل دادی چي فقير کافر ته به تر غني کافر په دوږخ کي سپک عذاب وي نو بيا څرنګه ممکن ده چي هغه به فقير مؤمن ته په جنت کي ګټه نه رسوي .

دامت محمدي ځانګړتياوي

﴿۵۵۱۵﴾: وَعَنْ عَمْرِو بْنِ قَيْسٍ أَنَّ رَسُوْلَ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ قَالَ نَحْنُ

د عمرو بن قيس رضي الله عنه څخه روايت دئ چي رسول الله ﷺ وفرمايل : د ظهور په اعتبار موږ

الْآخِرُوْنَ وَنَحْنُ السَّابِقُوْنَ يَوْمَ الْقِيَامَةِ وَإِنِّيْ قَائِلٌ قَوْلاً غَيْرَ فَخْرٍ إِبْرَاهِيْمُ

په آخر کي يو مګر په قيامت کي به اول يو او زه تاسو ته يوه خبره کوم او په دې زه فخر نه کوم او هغه داده چي ابراهيم عليه السلام

خَلِيْلُ اللهِ وَمُوْسٰى صَفِيُّ اللهِ وَأَنَا حَبِيْبُ اللهِ وَمَعِيْ لِوَاءُ الْحَمْدِ يَوْمَ

د الله تعالی دوست دی ، موسی عليه السلام غوره دی او زه د الله تعالی حبيب يم او د قيامت په ورځ به

الْقِيَامَةِ وَإِنَّ اللهَ وَعَدَنِي فِيْ أُمَّتِيْ وَأَجَارَهُمْ مِنْ ثَلاَثٍ لاَّ يَعُمُّهُمْ بِسَنَةٍ وَلاَ يَسْتَأْصِلُهُمْ عَدُوٌّ وَلاَ يَجْمَعُهُمْ عَلَى ضَلاَلَةٍ. رواه الدارمي.

زما سره د حمد بيرغ وي او الله تعالى زما سره د امت لپاره د خير كثير وعده فرمايلې ده او زما امت الله تعالى د درو شيانو څخه ساتلى دى يو خو دا چي هغوئ به په عام قحط كي هلاک نه كړي دويم دا چي دښمن به يې هلاک نه كړي يعني د اسلام دښمنان به ټول مسلمانان هلاک نه كړلاى سي او دريم دا چي ټوله اسلامي نړۍ به ګمراه نه كړل سي. دارمي.

تخريج: سنن الدارمي ۱\۴۲، رقم: ۵۴.

خاتم الانبياء

﴿۵۵۱۶﴾: وَعَنْ جَابِرٍ أَنَّ النَّبِيَّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ قَالَ أَنَا قَائِدُ الْمُرْسَلِيْنَ وَلاَ فَخْرَ وانا خاتم النبيين ولا فخر وَأَنَا أَوَّلُ شَافِعٍ وَّمُشَفَّعٍ وَلاَ فَخْرَ. رواه الدارمي

د حضرت جابر رضي الله عنه څخه روايت دئ چي رسول الله ﷺ وفرمايل: زه د رسولانو سردار يم او په دې خبره زه فخر نه كوم او زه د نبوت ختمونكى يم او په دې زه فخر نه كوم او زه به تر ټولو لومړى سړى يم چي شفاعت به كوم او تر ټولو مخكي به زما شفاعت قبول سي او ما ته په دې فخر نسته. دارمي.

تخريج: سنن الدارمي ۱\۴۰، رقم: ۴۹.

د لغاتو حل: ايسوا: اى اذا غلب عليهم الياس. (ناهيلي كېدل)

د قيامت په ورځ د رسول الله ﷺ عظمت

﴿۵۵۱۷﴾: وَعَنْ أَنَسٍ قَالَ قَالَ رَسُوْلُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ أَنَا أَوَّلُ النَّاسِ

د حضرت انس رضي الله عنه څخه روايت دئ چي رسول الله ﷺ وفرمايل: د قيامت په ورځ چي خلک د

خُرُوجًا إِذَا بُعِثُوا وَأَنَا قَائِدهم إِذَا وَفَدُوا وَأَنَا خطيبهم اذا انصتوا وانا

قبرونو څخه پورته سي نو تر ټولو مخكي به زه د قبر څخه پورته سم او هر كله چي خلک د الله په دربار كي د حاضريدو لپاره راوليږي نو د هغوئ مشر به زه يم او هر كله چي خلک پټه خوله وي

مستشفعهم اذا حبسوا وانا مُبَشِّرُهُمْ إِذَا يئسوا الكرامة والمفاتيح

نو زه به خبري كوم او هر كله چي خلك نا اميده او مايوسه سي نو زه به هغوئ ته زيرى وركوم هغه وخت به بزرگي او كيلياني زما په لاس كي وي

يَوْمَئِذٍ بِيَدِي ولواء الحمد يومئذ بيدي وَأَنَا أَكْرَمُ وَلَدِ آدَمَ عَلَى رَبِّي يطوف

او د حمد بيرغ به په دغه ورځ زما په قبضه كي وي او د آدم عليه السلام په زامنو كي به د الله تعالى په نزد لوى بزرگ زه يم ، په هغه ورځ به

على الف خادم كانهم بيض مكنون او لؤلؤ منثور. رواه الترمذي والدارمي وقال الترمذي هذا حديث غريب.

زر خادمان زما شاوخوا وي گويا چي هغه خادمان پټي هگۍ دي يا خپرې ملغلري دي. ترمذي او دارمي. ترمذي ويلي دي دا حديث غريب دى.

تخريج: سنن الترمذي ۵۴٦\۵، رقم: ۳٦۱۰.

د لغاتو حل: بيض مكنون: اي مصون عن الغبار

تشريح: كله چي ټول خلك پټه خوله وي... الخ: دلته دې ته اشاره ده چي د حشر په ميدان كي به عام دهشت او بېره خپره وي هر سړى به حيران او پريشان وي ، په چا كي به دومره توان نه وي چي د خپلي ژبي څخه دوه الفاظ راوباسي ، كه يو عذر او غوښتنه وړاندي كړي نو د رسول الله ﷺ په وړاندي به راسي رسول الله ﷺ به د ټولو له خوا عذر او معذرت وړاندي كوي، د شفاعت غوښتنه به وړاندي كوي او هغه وخت كله چي عام خلك بلكه لوى لوى نبيانو ته ددې خبري كولو توان نه وي نو رسول الله ﷺ به د الله جل جلاله په دربار كي په ويلو سي او د الله جل جلاله داسي تعريف او ثناء بيانوي چي د هغه د شان وړ به وي او همدارنگه هغه وخت به د رسول الله ﷺ څخه ماسوا بل چا ته د ويلو اجازه نه وي لكه چي په قرآن كريم كي فرمايل سوي دي : (هذا يوم لاينطقون ولايؤذن لهم فيعتذرون)، دا به هغه ورځ وي چي په هغه كي به نه هغه خلك خبره كولاى سي او نه به هغوئ ته (د عذر كولو) اجازه وي .

نو د رسول الله ﷺ ذات له دې څخه مستثنى دى چي د رسول الله ﷺ څخه ماسوا بل چا ته به د خبري كولو اجازه نه وي يا دا چي په دغه آيت كي د لومړني پړاو ذكر دى چي په پيل كي به

هيڅا ته د خبري کولو اجازه نه وي مگر وروسته به رسول الله ﷺ ته اجازه ورکړل سي يا دا چي د دغه آيت تعلق يوازي د کافرانو سره دی.

کله چي پر خلکو نااميدي او مايوسي خپره سوې وي، ددې مطلب دادی چي يوې خوا ته به پر خلکو باندي سخت خوف او بېره خپره وي او بلي خوا ته به د هغوئ په يو يو کولو سره تهولو لويو لويو انبياؤ ته د شفاعت کولو جرئت نه وي، نو پر هغوئ به د رحمت او مغفرت له خوا نااميدي خپره سي، بيا به رسول الله ﷺ د الله ﷻ په دربار کي د هغوئ شفاعت وکړي او د هغوئ نا اميدي به ختمه کړي.

د پټي هګۍ څخه مراد د شتر مرغ هګۍ دی، رسول الله ﷺ غلامانو، خادمانو او حورو ته د شتر مرغ د هګيو سره په دې وجه تشبيه ورکړل چي هغه هګۍ د ګرد او غبار څخه د خوندي کېدو په وجه په هغه کي ژړوالی وي، په مجمع البحار کي يې ليکلي دي چي د پټو هګيو څخه مراد غميان دي چي د خلکو د لاسونو او نظرونو څخه د ساتني په وجه ډېره ښکلا لري خلاصه دا چي په هغه ورځ به د رسول الله ﷺ په وړاندي، ترشا، راسته او چپه خوا ته چي کوم خادمان وي هغوئ به په پاکوالي او شکل کي بالکل نوي کېدو په وجه ډېر ښه معلوميږي.

يا خپاره غميان دي، دلته دې ته اشاره ده چي څرنګه غميان په يو تار کي د پيل سوو په نسبت همدارنګه خپاره وي همدارنګه هغه خادمان به د څلورو خواوو څخه خپاره او په خدمت کي لګېدلي ډېر ښکلي معلوميږي.

رسول الله ﷺ به د عرش راسته خواته ولاړ وي

﴿۵۵۱۸﴾: وَعَنْ أَبِي هُرَيْرَةَ عَنِ النَّبِيِّ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ قَالَ فَأُكْسَى حُلَّةً

د حضرت ابو هريره رضي الله عنه څخه روايت دئ چي رسول الله ﷺ وفرمايل: ما ته به د جنت د جامو

مِنْ حُلَلِ الْجَنَّةِ ثُمَّ أَقُومُ عَنْ يَمِينِ الْعَرْشِ لَيْسَ أَحَدٌ مِنَ الْخَلَائِقِ يَقُومُ

څخه جامه واغوستل سي بيا به زه د عرش الهي راسته خوا ته ودريږم او پر هغه ځای به په

ذٰلِكَ الْمَقَامَ غَيْرِي. رواه الترمذي وفي رواية جامع الاصول عنه انا اول من تنشق عنه الارض فاكسي.

مخلوق کي زما څخه پرته هيڅوک نه ودريږي، ترمذي او په جامع الاصول کي داسي روايت

راغلی دی چي رسول الله ﷺ وفرمایل: تر ټولو مخکي به: زما قبر خلاص کړل سي بیا به ما ته جوړه واغوستل سي.

تخريج: سنن الترمذي ۵\۵۴٦، رقم: ۳٦۱۱.

د رسول الله ﷺ لپاره وسیله وغواړئ

﴿۵۵۱۹﴾: وَعَنْهُ عَنِ النَّبِيِّ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ قَالَ سَلُوا اللّٰهَ لِيَ الْوَسِيلَةَ قَالُوا يَا رَسُولَ اللّٰهِ وَمَا الْوَسِيلَةُ قَالَ أَعْلَى دَرَجَةٍ فِي الْجَنَّةِ لَا يَنَالُهَا إِلَّا رَجُلٌ وَاحِدٌ أَرْجُو أَنْ أَكُونَ أَنَا هُوَ. رواه الترمذي.

د حضرت ابوهريره ﷺ څخه روایت دئ چي رسول الله ﷺ وفرمایل: زما لپاره د الله تعالی څخه وسیله (په جنت کي اعلی درجه) غواړئ، صحابه کرامو عرض وکړ اې دالله رسوله! وسیله څه شي ده؟ رسول الله ﷺ ورته وفرمایل: وسیله په جنت کي یوه لویه درجه ده چي یوازي یوه سړي ته به ورکول کیږي او زه امید لرم چي هغه سړی به زه یم. ترمذي

تخريج: سنن الترمذي ۵\۵۴٦، رقم: ۳٦۱۲.

تشريح: د رسول الله ﷺ د خپل امت د خلکو څخه د ځان لپاره د وسیلې غوښتل د الله ﷻ په دربار کي د خپلي بې چارګۍ او اړتیا د اظهار لپاره دي یا دا مقصد دي چي زما د امت خلک د الله ﷻ څخه زما دپاره د وسیلې خواست کوي، نو ددې په وجه به دغه خلکو ته ګټه رسیږي او ثواب به تر لاسه کوي، یا دا چي ددغه حکم په ذریعه رسول الله ﷺ د خپل امت خلکو ته د الفت او تعلق د اظهار دغه طریقه وښودل چي هر مسلمان باید د خپل هر عزیز او هر دوست د پرمختګ او ددرجو د لوړتیا دعاء وکړي.

او زه امید لرم چي هغه سړی به زه یم، رسول الله ﷺ دا خبره هم د اظهار تواضع او خاکسارۍ په وجه وفرمایل، کنه نو دا خو فیصله سوې ده چي د جنت تر ټولو لویه درجه چي په وسیله سره تعبیر سوې ده یوازي رسول الله ﷺ ته تر لاسه کیږي.

رسول الله ﷺ به د ټولو نبیانو امام وي

﴿۵۵۲۰﴾: وَعَنْ أُبَيِّ ابْنِ كَعْبٍ عَنِ النَّبِيِّ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ قَالَ إِذَا كَانَ

يَوْمُ الْقِيَامَةِ كُنْتُ إِمَامَ النَّبِيِّينَ وَخَطِيبَهُمْ وَصَاحِبَ شَفَاعَتِهِمْ غَيْرُ فَخْرٍ.

رواه الترمذي.

د حضرت ابی بن کعب رضی الله عنه څخه روایت دئ چي رسول الله ﷺ وفرمایل: د قیامت په ورځ به زه د نبیانو امام او خطیب یم او د هغوئ شفاعت به کوم او ما ته پر دې فخر نسته. ترمذي.

تخریج: سنن الترمذي ۵\۵۴۷، رقم: ۳۶۱۳.

حضرت ابراهیم علیه السلام او رسول الله ﷺ

﴿۵۵۲۱﴾: وَعَنْ عَبْدِ اللَّهِ بن مسعود قَالَ قَالَ رَسُولُ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ

د حضرت عبدالله بن مسعود رضی الله عنه څخه روایت دئ چي رسول الله ﷺ وفرمایل:

إِنَّ لِكُلِّ نَبِيٍّ وُلَاةً مِنَ النَّبِيِّينَ وَإِنَّ وَلِيِّي أَبِي وَخَلِيلُ رَبِّي ثُمَّ قَرَأَ إِنَّ أَوْلَى

د هر نبي په نبیانو کي دوستان وي او په انبیاؤ کي زما دوست زما پلار زما د پروردګار دوست ابراهیم علیه السلام دی، ددې څخه وروسته رسول الله ﷺ دا آیت تلاوت کړ: (ان اولی

النَّاسِ بِإِبْرَاهِيمَ لَلَّذِينَ اتَّبَعُوهُ وَهَذَا النَّبِيُّ وَالَّذِينَ آمَنُوا وَاللَّهُ وَلِيُّ الْمُؤْمِنِينَ. رواه الترمذي.

الناس بابراهیم.... ....) (ابراهیم علیه السلام ته زیات نژدې هغه خلک دي چي د هغه پیروي یې وکړه او دا نبي (یعني محمد ﷺ) او هغه خلک دي چي ایمان یې راوړ او الله تعالی د مسلمانانو دوست او مرستیال دی). ترمذي

تخریج: سنن الترمذي ۵\۲۰۸، رقم: ۲۹۹۵.

د رسول الله ﷺ د بعثت مقصد

﴿۵۵۲۲﴾: وَعَنْ جَابِرٍ أَنَّ النَّبِيَّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ قَالَ إِنَّ اللَّهَ بَعَثَنِي لِتَمَامِ مَكَارِمِ الْأَخْلَاقِ وَكَمَالِ مُحَاسِنِ الْأَفْعَالِ. رواه في شرح السنه.

د حضرت جابر رضی اللہ عنہ څخه روايت دئ چي رسول الله ﷺ وفرمايل : الله تعالی زه د ښو اخلاقو او ښو کارو پوره کولو لپاره رالیږلی یم . شرح السنه.

تخريج: البغوي في شرح السنة ۱۳\۲۰۲، رقم: ۳۶۲۲.

تشريح: مطلب دا چي الله جل جلاله زه د خپل پیغمبر او رسول په ګرځولو سره ددې مقصد لپاره را استولی یم چي زه د الله جل جلاله د مخلوق هدایت وکړم او هغوئ د ظاهري اخلاقو او معاملاتو په اعتبار هم او د باطني احوالو او خويونو په اعتبار هم د کمال درجې ته ورسوم.

په تورات کي د رسول الله ﷺ او امت محمدي د صفتو ذکر

﴿۵۵۲۳﴾: وَعَنْ كَعْبٍ يَحْكِيْ عَنِ التَّوْرَاةِ قَالَ نَجِدُ مَكْتُوْباً مُحَمَّدٌ رَّسُوْلُ اللهِ

کعب رضی اللہ عنہ د تورات څخه نقل کوي چي ما په تورات کي دا ليدلي دي چي محمد ﷺ د الله تعالی

عَبْدِيَ الْمُخْتَارَ لاَ فَظٌّ وَلاَ غَلِيْظٌ وَلاَ سَخَّابٌ فِي الْأَسْوَاقِ وَلاَ يَجْزِيْ بِالسَّيِّئَةِ

رسول او د هغه ټاکلی بنده دی هغه نه سخت خويه دی نه سخت ګويه او نه په بازارونو کي شور کونکی دی هغه د بدی بدله

السيئة وَلكِنْ يَّعْفُوْ وَيَغْفِرُ مَوْلِدُهُ بِمَكَّةَ وَهِجْرَتُهُ بِطَيْبَةَ وَمُلْكُهُ بِالشَّامِ

په بدی سره نه اخلي بلکه معافي کوي او بخښنه کوي د هغه د زيږيدني ځای مکه ده او د هجرت ځای يې طيبه ده او د هغه حکومت شام کي دي

وَأُمَّتُهُ الْحَمَّادُوْنَ يَحْمَدُوْنَ اللهِ فِي السَّرَّاءِ وَالضَّرَّاءِ يَحْمَدُوْنَ اللهَ فِيْ كُلِّ

او د هغه امت ډير حمد کونکی دی چي په خوشحالي او غم دواړو حالاتو کي د الله تعالی شکر

مَنْزِلَةٍ وَيُكَبِّرُوْنَهُ عَلٰى كُلِّ شَرَفٍ رُعَاةٌ لِلشَّمْسِ يُصَلُّوْنَ الصَّلاَةَ إِذَا جَاءَ وَقْتُهَا

او تعريف کوي ، هغه چي کوم ځای وي د الله تعالی شکر او لويي بيانوي يعني الله اکبر به وايي ، خيال ساتونکي د لمر ساتونکي (يعني هغه د طلوع، غروب او زوال به هم خيال ساتي) چي د

يَتَأَزَّرُوْنَ عَلٰى أَنْصَافِهِمْ وَيَتَوَضَّؤُوْنَ عَلٰى أَطْرَافِهِمْ مُنَادِيْهِمْ يُنَادِيْ فِيْ جَوِّ

لمنځو وختونه مقرر کړل سي هر کله چي دلمانځه وخت سي نو لمونځ به کوي لونګ به پورته

تړي او د خپل بدن په اطرافو به اودس کوي د هغوئ منادي کونکی یعني اذان کونکی د آسمان

السَّمَاءِ صَفُّهُمْ فِي الْقِتَالِ وَصَفُّهُمْ فِي الصَّلاَةِ سَوَاءٌ لَّهُمْ بِاللَّيْلِ دَوِيٌّ كَدَوِيِّ النَّحْلِ . هذا لفظ المصابيح وروي الدارمي مع تغيير يسير .

او مځکي په منځ کي به ندا کوي (یعني پر لوړ ځای به ودریږي او اذان به کوي) په جنګ کي او لمانځه کي به د هغوئ صف برابروي د شپې د هغوئ آواز کښته وي لکه د شاتو د موچې اواز، مصابیح او دارمي

تخريج: سنن الدارمي ١٦١١، رقم: ۵، والبغوي في المصابيح ۴۲۱۴، رقم: ۴۴۹۱.

د لغاتو حل: رعاة الشمس: اي امته مراعون لطلوع الشمس واستوائها .

تشريح: د هغوئ د حکومت ځای به د شام هیواد وي، دلته د حکومت څخه مراد د دین او د نبوت د ثمراتو او آثارو ظاهرېدل او د جهاد في سبیل الله په ذریعه د الله ﷻ بیرغ لوړول دي، دا حقیقت دی چي د اسلام دعوت په دغه هیواد کي تر ټولو زیات خپور سو او مسلمانانو ته به جهاد کول هم په دغه سیمه کي زیات پېښ سي ، او کوم چي د رسول الله ﷺ د دین او دنیاوي حکومت تعلق دی د هغه دائره د یو خاص هیواد یا سیمي پوري محدود نه دی بلکه په ټوله نړۍ کي خپور سوی دی، یا ددغه جملې څخه دا مراد دی چي د رسول الله ﷺ تخت به د رسول الله ﷺ په ژوند مبارک او د خلفاء راشدینو د زمانې څخه وروسته د شام هیواد ته منتقل سي نو د تاریخ سره سم همداسي وسول او د حضرت معاویه ﷺ او بنو امیه په زمانه کي د مسلمانانو دار الخلافت د شام په هیواد کي وو .

د لمر لحاظ به ساتي، ددغه جملې په ذریعه لمونځ ، روژې او نورو عباداتو د پابندي او رعایت کولو ته اشاره ده چي مسلمانان د لمر د راختلو او لوېدو او زوال په اعتبار د خپل لمانځه او عبادت د وختونو خیال ساتي او کوم وخت چي د کوم عبادت لپاره ټاکل سوی وي په هغه کي د هغه عبادت پابندي کوي ، په یوه روایت کي دي چي حاکم د عبدالله بن ابي اوفی څخه مرفوعا نقل کړی دی ، فرمایل سوي دي چي : بېله شکه د الله ﷻ په بندګانو کي غوره خلک هغه دي چي د الله ﷻ د عبادت لپاره د وختونو د تعین له کبله د لمر، ستورو او سایې خیال وساتي .

﴿۵۵۲۴﴾: وَعَنْ عَبْدِ اللّٰهِ بْنِ سَلَامٍ قَالَ مَكْتُوبٌ فِي التَّوْرَاةِ صِفَةُ مُحَمَّدٍ وَصِفَةُ عِيسَى ابْنِ مَرْيَمَ يُدْفَنُ مَعَهُ قَالَ أَبُو مَوْدُودٍ وَقَدْ بَقِيَ فِي الْبَيْتِ مَوْضِعُ قَبْرٍ. رواه الترمذي.

د حضرت عبدالله بن سلام رضی الله عنه څخه روایت دی چي په تورات کي د حضرت محمد ﷺ صفات لیکلي دي او دا هم لیکلي دي چي د رسول الله ﷺ د قبر سره به عیسی بن مریم علیهما السلام هم دفن کیږي . ترمذي

تخريج: سنن الترمذي ۵\۵۴۹، رقم: ۳۶۱۷.

تشریح: په حجره مبارکه کي چیري چي رسول الله ﷺ، حضرت ابوبکر صدیق رضی الله عنه او حضرت عمر فاروق رضی الله عنه دفن سوي دي، د درو سره قبرو ترتیب داسي دی چي ترټولو مخکي د قبلې خوا ته د رسول الله ﷺ قبر مبارک دی ، ددې وروسته د حضرت ابوبکر صدیق رضی الله عنه قبر داسي دی چي چیري د رسول الله ﷺ سینه مبارکه ده هلته د حضرت ابوبکر صدیق رضی الله عنه سر دی ، د حضرت ابوبکر صدیق رضی الله عنه د قبر څخه وروسته د حضرت عمر فاروق رضی الله عنه قبر داسي دی چي چیري د حضرت ابوبکر صدیق رضی الله عنه سینه مبارکه ده هلته د حضرت عمر فاروق رضی الله عنه سر دی او د حضرت عمر فاروق رضی الله عنه په خوا کي د یوه قبر ځای خلي دی ، په دغه ځای کي ډېرو صحابه کرامو د دفن کېدو خواهش کړی وو مګر د خواهش او قصد سربېره چا ته د دفن کېدو سعادت په برخه نه سو، ددې څخه معلومه سول چي الله جل جلاله په خپل حکمت دغه ځای خالي وساتی ، چي په آخره زمانه کي به حضرت عیسی علیه السلام هم په دغه ځای کي دفن کیږي، په یوه روایت کي بیان سوی دی چي حضرت عیسی علیه السلام به دنیا ته د خپل عمر په آخري برخه کي راورسیږي نو د حج لپاره به مکې معظمې ته ولاړ سي او د هغه ځای څخه په ستنېدو سره به د مکې او مدینې په منځ کي وفات سي او د هغه مړی مبارک به مدینې منورې ته راوړل سي او د حضرت عمر فاروق رضی الله عنه په څنګ کي به دفن کړل سي . همدارنګه دغه دوه صحابه کرام ، حضرت ابوبکر صدیق رضی الله عنه او عمر فاروق رضی الله عنه به د دوو نبیانو په منځ کي تر قیامته پوري آرام کوي .

اَلْفَصْلُ الثَّالِث (دريم فصل)

د رسول الله ﷺ د فضيلت دليل

﴿۵۵۲۵﴾: عَنِ ابْنِ عَبَّاسٍ قَالَ إِنَّ اللّٰهَ تَعَالٰى فَضَّلَ مُحَمَّدًا صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ

د حضرت ابن عباس رضی الله عنه څخه روايت دی چي الله تعالی محمد ﷺ ته فضيلت ورکړی دی

عَلَى الْأَنْبِيَاءِ وَعَلٰى أَهْلِ السَّمَاءِ فَقَالُوْا يَا أَبَا عَبَّاسٍ بِمَ فَضَّلَهُ اللّٰهُ عَلٰى أَهْلِ

پر ټولو انبياؤو او آسمان والاوو ، خلکو پوښتنه وکړه اې ابن عباس ! پر آسمان والاوو په کومه خبره کي فضيلت ورکړل سوی دی ؟

السَّمَاءِ قَالَ إِنَّ اللّٰهَ تَعَالٰى قَالَ لِأَهْلِ السَّمَاءِ وَمَنْ يَقُلْ مِنْهُمْ إِنِّيْ إِلٰهٌ مِّنْ دُوْنِهِ

ابن عباس رضی الله عنه وويل : الله تعالی آسمان والاوو ته فرمايلي دي : (و من يقل منهم اني اله من دونه ...) ، (چي څوک دا ووايي چي زه د الله تعالی څخه پرته بل معبود يم

فَذٰلِكَ نَجْزِيْهِ جَهَنَّمَ كَذٰلِكَ نَجْزِي الظَّالِمِيْنَ وَقَالَ اللّٰهُ تَعَالٰى لِمُحَمَّدٍ صَلَّى اللّٰهُ

نو موږ به د دې په بدله کي ورته جهنم ورکړو او موږ ظالمانو ته همداسي بدله ورکوو) او محمد ﷺ ته الله تعالی فرمايلي دي :

عَلَيْهِ وَسَلَّمَ إِنَّا فَتَحْنَا لَكَ فَتْحًا مُبِيْنًا لِيَغْفِرَ لَكَ اللّٰهُ مَا تَقَدَّمَ مِنْ ذَنْبِكَ وَمَا

(انا فتحنا لک فتحا مبينا ....)، (موږ ستا لپاره د برکتو دروازې خلاصي کړې دي او الله تعالی ستا سو مخکني او وروستني گناهونه و بخښل)

تَأَخَّرَ قَالُوْا وَمَا فَضْلُهُ عَلَى الْأَنْبِيَاءِ قَالَ قَالَ اللّٰهُ تَعَالٰى وَمَا أَرْسَلْنَا مِنْ رَّسُوْلٍ إِلَّا

بيا خلکو پوښتنه وکړه او پر انبياؤو رسول الله ﷺ ته څنگه فضيلت ورکړل سوی دی؟ ابن عباس رضی الله عنه وويل : الله تعالی د نورو انبياؤو په اړه فرمايلي دي : (و ما ارسلنا من رسول الا

بِلِسَانِ قَوْمِهٖ لِيُبَيِّنَ لَهُمْ فَيُضِلُّ اللّٰهُ مَنْ يَّشَاءُ الْآيَة وَقَالَ اللّٰهُ تَعَالٰى لِمُحَمَّدٍ ﷺ

بلسان ...) (موږ چي کوم پيغمبر وليږو د هغه د قوم د ژبي سره مو وليږی چي د هغوئ په وړاندي

د الله ﷻ احکام بیان کړي بیا چا ته چي الله غواړي ګمراه کوي)، او الله ﷻ د محمد ﷺ په اړه

وَمَا أَرْسَلْنَاكَ إِلاَّ كَافَّةً لِلنَّاسِ فَأَرْسَلَهُ إِلَى الْجِنِّ وَالْإِنْسِ. رواه الدارمي.

فرمايلي دي : (و ما ارسلناک الا کافة للناس) . (موږ ته ټولو خلکو ته رسول لیږلی یې) یعني الله ﷻ رسول الله ﷺ د جن او انس ټولو لپاره پیغمبر را لیږلی دی . دارمي.

تخريج: سنن الدارمي في المقدمة ۱۱\۳۸، رقم: ۴۶.

تشريح: الله ﷻ ستاسو ټول مخکني او وروستني ګناهونه بخښلي دي، ددغه آيت په اړه سوال پیدا کیږي چي کله رسول الله ﷺ معصوم دی او هیڅ ګناه ور څخه نه سي کېدای او نه هیڅ ګناه ځيني سوې ده نو بیا ددې ویلو څه معنی ده چي ستاسو ټول مخکني او وروستني ګناهونه بخښل سوي دي، مفسرين او شارحين ددغه آيت مختلف تاويلو او توجيهات کوي، په هغو کي تر ټولو غوره تاويل دا ګڼل کیږي چي د قرآني آيت دغه جمله پر خپل اصلي معنی باندي محمول نه ده بلکه ددې څخه محض د رسول الله ﷺ کمال عنايت او مهرباني او د رسول الله ﷺ د امتيازي خصوصيت او عظمت اظهار مقصد دی ، د مثال په توګه داسي پوه سئ چي کله يو بادرا د خپل يو غلام د پيروی څخه زيات خوشحاله وي او هغه د کمال رضا او خوشحالی ظاهرول غواړي نو هغه ته دا وايي چي ځه ما ته بالکل معاف کړلې، ستا ټولي خطاوي معاف دي او پر تا هيڅ نيوکه نسته، که څه هم د هغه غلام څخه هيڅ خطا نه وي سوې .

نو الله ﷻ ، رسول الله ﷺ د پيريانو او انسانانو دواړو لپاره پيغمبر را استولی دی، ددغه جملې په ذريعه حضرت ابن عباس رضي الله عنه د الفاظ قرآني (کافة الناس) وضاحت وفرمايه ، که څه هم دلته يوازي د انسان ذکر دی او هغه هم په دې وجه چي اشرف المخلوقات انسان دی مګر مراد پيريان او انسانان دواړه دي، چي الله ﷻ ، رسول الله ﷺ انسانانو ته هم او پيريانو ته هم پيغمبر را استولی دی، ددې دليل په ډېرو قرآني آياتو او نبوي حديثو کي موجود دی، ددغه آيت اصل مقصد دا حقيقت څرګندول دي چي د رسول الله ﷺ رسالت او نبوت د يوې خاصي سيمي يا د انسانانو د يوې خاص طبقې لپاره نه دی بلکه د رسول الله ﷺ پيغمبر را لېږل د ټول نوع انساني لپاره دی او ددغه حقيقت وضاحت هم ځکه سوی دی چي د هغه اهل کتاب ترديد وسي چي ويل يې : د محمد (ﷺ) رسالت خو يوازي د عربو لپاره دی .

رسول الله ﷺ خپل نبوت څنګه و پېژندی

﴿۵۵۲۶﴾ : وَعَنْ أَبِي ذَرٍ الْغِفَارِيِّ قَالَ قُلْتُ يَا رَسُوْلَ اللهِ كَيْفَ عَلِمْتَ أَنَّكَ نَبِيٌّ

د حضرت ابوذر غفاري رضي الله عنه څخه روايت دی چي ما عرض وکړ اې د الله رسوله ! تاسو ته څنګه

معلومه سوه چي تاسو نبي ياست ؟

حَتّٰى اسْتَيْقَنْتَ فَقَالَ يَا أَبَا ذَرٍ أَتَانِي مَلَكَانِ وَأَنَا بِبَعْضِ بَطْحَاءِ مَكَّةَ فَوَقَعَ

او بيا تاسو ته د خپل نبوت يقين څنګه وسو ؟ رسول الله ﷺ وفرمايل اې ابوذر ! زه په بطحا مکه کي وم چي ما ته دوې ملائکي راغلې په هغو کي

أَحَدُهُمَا عَلَى الْأَرْضِ وَكَانَ الْآخَرُ بَيْنَ السَّمَاءِ وَالْأَرْضِ فَقَالَ أَحَدُهُمَا

يوه ملائکه خو مځکي ته راغلل او دويمه ملائکه د آسمان او مځکي په منځ کي وه بيا په هغوئ

لِصَاحِبِهِ أَهُوَ هُوَ قَالَ نَعَمْ قَالَ فَزِنْهُ بِرَجُلٍ فَوُزِنْتُ بِهِ فَوَزَنْتُهُ ثُمَّ قَالَ زِنْهُ

کي يوې د بلي څخه پوښتنه وکړه ايا دا هغه دی ؟ دويمي ورته وويل هو ، لومړنی وويل د يو سړي سره دی وزن کړه

بِعَشَرَةٍ فَوَزَنْتُ بِهِمْ فَرَجَحْتُهُمْ ثُمَّ قَالَ زِنْهُ بِمِائَةٍ فَوَزِنْتُ بِهِمْ فَرَجَحْتُهُمْ

نو زما وزن وکړل سو او زه د هغه سړي څخه درونه سوم بيا هغه ملائکي وويل ښه دی د سلو خلکو سره دی وزن کړه نو وزن کړل سوم او زه د سلو خلکو په مقابله کي هم درونه سوم

ثم قال زنه بالف فوزنت بهم فرجحتهم كَأَنِّي أَنْظُرُ إِلَيْهِمْ يَنْتَثِرُوْنَ عَلَيَّ

بيا هغه ملائکي وويل د سلو خلکو سره يې وزن کړه نو وزن کړل سوم او زه پر سلو خلکو هم درونه سوم بيا هغه ملائکي وويل ښه دی اوس يې د زرو خلکو سره وزن کړه زه پر هغوئ هم درونه سوم ګويا هغه زر خلک زه اوس هم وينم چي

مِنْ خِفَّةِ الْمِيْزَانِ قَالَ فَقَالَ أَحَدُهُمَا لِصَاحِبِهِ لَوْ وَزَنْتَهُ بِأُمَّتِهِ لَرَجَحَهَا.

رواهما الدارمي.

په کومه پله کي هغوئ وه ، هغه دومره پورته سوی وه چي هغوئ پر ما را لويدونکي دي ، ددې څخه وروسته رسول الله ﷺ وفرمايل : بيا هغه دواړو ملائکو يوې بلي ته وويل که دی د ټول امت سره هم وتلې نو تر ټول امت به هم درونه سي .

تخريج: سنن الدارمي في المقدمة ۱\۲۱، رقم: ۱۴.

پر رسول الله ﷺ باندي په هر حالت كي قرباني فرض وه

﴿۵۵۲۷﴾: وَعَنِ ابْنِ عَبَّاسٍ قَالَ قَالَ رَسُولُ اللهِ ﷺ كُتِبَ عَلَيَّ النَّحْرُ وَلَمْ يَكْتُبْ عَلَيْكُمْ وَأُمِرْتُ بِصَلَاةِ الضُّحٰى وَلَمْ تُؤْمَرُوْا بِهَا. رواه الدار قطني.

د حضرت ابن عباس رضي الله عنه څخه روايت دئ چي رسول الله ﷺ وفرمايل : پر ما باندي په هر حال كي قرباني فرض سوې ده او پر تاسو نه ده فرض يوې او ما ته د څاښت د لمانځه حكم وسو او تاسو ته ونه سو. دار قطني.

تخريج: سنن الدار قطني ۴\۲۸۲، رقم: ۴۲.

د لغاتو حل: النحر: اى الاضحية (قرباني)

==========

بَابُ اَسْمَاءِ النَّبِيِّ ﷺ وَصِفَاتِهِ

(د نبي كريم ﷺ د مباركو نومو او صفتو بيان)

د ذكر سوي عنوان دوې برخي دي، د يوې تعلق د رسول الله ﷺ د مباركو نومو سره دى او د دوهمې برخي تعلق د صفتو سره دى مگر دلته د صفتو څخه مراد د رسول الله ﷺ اخلاق، باطني اوصاف او طريقې دي چي د هغه يادونه به په بل باب كي وي، بلكه د صفاتو څخه مراد د رسول الله ﷺ حليه مباركه، قد او ظاهري شكل او صورت وي.

د رسول الله ﷺ د مباركو نومو شمېر :

د رسول الله ﷺ نومان ډېر دي چي په هغو كي د يو څو يادونه په قرآن كريم كي راغلې دې او ځيني په پخواني آسماني كتابو كي تر لاسه كيږي، د ځينو يادونه د نبيانو عليهم السلام په ژبه سره سوې ده او ځيني په حديثو كي مذكور دي، د دغه نومونو د شمېر په اړه هيڅ يو قول نسته، په مواهب لدنيه كي ليكلي دي چي د رسول الله ﷺ نومونه او لقبونه په قرآن كريم كي ډېر راغلي دي، ځينو علماؤ نهه نيوي (۹۹) نومونه جمع كړي دي چي د الله جل جلاله د مباركو نومو

شمېر هم دی، د قاضي عياض رحمة الله عليه څخه منقول دي چي الله جل جلاله د خپلو نومو څخه دېرش نومونه د خپل حبيب لپاره خاص کړي دي ، ځينو حضراتو ليکلي دي که چيري په پخواني آسمانو کتابو ، قرآن کريم او حديثو کي د رسول الله صلی الله علیه وسلم د نومو پلټنه وکړل سي نو د هغو شمېر به تر درو سوو پوري ورسيږي ، او د يوه قول سره سم څلورو سوو ته رسيږي او قاضي ابوبکر ابن الغربي چي د مالکي مذهب له لويو علماوو څخه دی، ليکلي دي چي د ځينو صوفيانو قول دی چي د الله جل جلاله زر نومونه دي او د هغه د حبيب هم زر نومونه دي او دا چي له نومو څخه مراد هغه صفتونه دي چي په هغه سره د رسول الله صلی الله علیه وسلم ذات مبارک متصف دی او د هر صفت څخه يو نوم راوځي، سيوطي رحمة الله عليه هم په ځانګړې توګه يو کتاب تاليف کړی دی چي په هغه کي يې د رسول الله صلی الله علیه وسلم نومونه راجمع کړي دي، او طيبي رحمة الله عليه دوه ويشت نومونه ذکر کړي دي او د ټولو وضاحت يې کړی دی ، او کوم چي د مشکوة د مؤلف تعلق دی نو هغه په دې اړه يوازي دوه حديثونه نقل کړي دي چي په هغو کي د رسول الله صلی الله علیه وسلم زيات نومونه نقل سوي دي .

اصل نوم مبارک: د رسول الله صلی الله علیه وسلم اصل نوم مبارک چي تر ټولو زيات مشهور او رواج دی، محمد (صلی الله علیه وسلم) دی، دغه د رسول الله صلی الله علیه وسلم د نيکه حضرت عبدالمطلب ايښودل سوی نوم دی، منقول دي چي کله عبدالمطلب ته يو چا وويل چي تاسو دخپل لمسي نوم د خپلو پلرونو او نيکونو په نامه ولي نه دی ايښی، او يو داسي نوم ته مو ترجيح ورکړې ده چي ستاسو په قوم او کورنۍ کي مخکي د هيچا داسي نوم نه دی راغلی، نو هغه جواب ورکړ: ما د خپل لمسي دغه نوم په دې وجه ايښی دی چي ټوله د دنيا خلک دده په صفت کي صفت کوونکي وي او په يوه روايت کي دا الفاظ دي چي پر آسمانو باندي الله جل جلاله دده تعريف او توصيف وکړي او پر مځکه يې خلک صفت کونکي وي، په يوه روايت کي راغلي دي چي د رسول الله صلی الله علیه وسلم د زېږېدو څخه ډېر مخکي حضرت عبدالمطلب په خوب کي وليدل چي د هغه د ملا څخه د سپينو زرو يو ځنځير ووتی چي د هغه يوه لړۍ تر آسمان پوري ولاړل او يوه لړۍ يې د ختيځ تر آخري حدو پوري او يوه لړۍ يې د مغرب تر حدو پوري ورسېدل، ددې څخه وروسته هغه ځنځير د يو درختي په شکل بدل سو او د هغه درختي پر هر بلګ باندي نور خپور سو بيا هغه وليدل چي د هغه نوراني بلګو لاندي له ختيځ څخه تر مغرب پوري خلګ جمع دي، عبدالمطلب د وېښېدو څخه وروسته ددغه عجيب او غريب خوب يادونه خلکو ته وکړل، تعبير ورکونکو په خوب اورېدو سره مبارکي ورکړه چي ستا په نسل کي به يو داسي سړی پيدا سي چي د هغه د پيروي کوونکو لړۍ به له ختيځ څخه تر لويديځ پوري خپره سي او په مځکه او آسمان کي به د هغه تعريف کيږي ، او

همدارنگه د رسول الله ﷺ مور ، بي بي آمنې هم د حامله کېدو څخه وروسته په خوب کي ليدلي وه چي يو سړي هغه ته وويل: ستا په نس کي د دغه امت سردار او پيغمبر دی ، کله چي دغه ماشوم پيدا سي نو نوم يې محمد کښېږدئ.

په روايتو کي راغلي دي چي د رسول الله ﷺ د زېږدو مخکي د هيچا نوم محمد نه وو اېښودل سوی، مګر کله چي هل اكتابو په خپل آسماني کتابو کي د ذکر سوو وړاندوينو سره سم خلکو ته وښودل چي هغه زمانه راتلونکې ده چي د الله ﷻ آخري پيغمبر به پيدا سي او دهغه نوم به محمد وي، نو ددې په اورېدو سره څلورو خلکو د خپلو زامنو نوم محمد کښېښود ددې لپاره چي د نبوت په شرف مشرف سي ، مګر دا څلور نومونه هم د رسول الله ﷺ د نوم څخه مخکي نه وه ځکه چي دغه څلورو هم د رسول الله ﷺ د نامه په اورېدو سره د خپلو زامنو نوم محمد کښېښود .

اَلْفَصْلُ الْأَوَّلُ (لومړی فصل)

اسماء النبي ﷺ (د نبي کريم ﷺ مبارک نومونه)

﴿۵۵۲۸﴾: عَنْ جُبَيْرِ بْنِ مُطْعِمٍ قَالَ سَمِعْتُ النبي صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ يَقُوْلُ

د جبير بن مطعم ؓ څخه روايت دی چي ما د رسول الله ﷺ څخه واوريدل چي فرمايل يې:

اِنَّ لِيْ اَسْمَاءً اَنَا مُحَمَّدٌ وَأَنَا أَحْمَدُ وَأَنَا الْمَاحِي الَّذِي يُمْحُو اللّٰه بِيَ الْكُفْرُ وَاَنَا

زما ډېر نومونه دي، زه محمد يم زه احمد يم زه ماحي يم يعني زما په ذريعه الله ﷻ کفر محوه کوي او زه

الْحَاشِرُ الَّذِي يُحْشَرُ النَّاسُ عَلَى قدمي وَأَنَا الْعَاقِبُ وَالْعَاقِبُ الَّذِي لَيْسَ بَعْدَهُ نَبِيٌّ. متفق عليه

حاشر يم چي د قيامت په ورځ به خلک زما پر قدم پورته کيږي (يعني د قبر څخه زما د تلو څخه وروسته به نور خلک د قبرونو څخه د باندي راوځي) او زه عاقب يم او عاقب هغه نبي دی چي د هغه څخه وروسته بل نبي نه وي . بخاري او مسلم

تخريج: صحيح البخاري (فتح الباري): ۶\ ۵۵۴، رقم: ۳۵۳۲، ومسلم ۴\ ۱۸۲۸، رقم: ۱۲۴– ۲۳۵۴.

تشريح: په ځينو روايتو کي د محمد او احمد سره يو نوم محمود هم منقول دی، د دغه درو سره

نومانو اشتقاق یو دی یعني حمد ، د محمود مطلب هغه ذات دی چي د هغه د ذات او صفاتو تعریف په دنیا کي هم سوی دی او په آخرت کي هم، د محمد مطلب هغه ذات دی چي د هغه ډېر تعریف سوی وي ، د احمد مطلب دی هغه ذات چي د هغه تعریف په مخکني او وروستني اسماني کتابو کي تر ټولو زيات سوی وي، د احمد معنی دا هم بیان سوې ده چي هغه ذات چي صاحب د حمد وي او د خپل مولی حمد او ثناء دومره زیاته او په ښه انداز کي وکړي چي د چا د علم او ګمان تر هغه پوري نه رسیږي لکه څرنګه چي د قیامت په ورځ په مقام محمود کي به وي.

د ماحي معنی د بیخ کښونکي ده، یعني الله ﷻ د ټولو نبیانو او رسولانو د دعوت او تبلیغ په نسبت تر ټولو زیات د رسول الله ﷺ د دعوت او تبلیغ په ذریعه د کفر بیخ وکښی .

د حاشر معنی د جمع کونکي ده یعني د قیامت په ورځ به تر ټولو مخکي رسول الله ﷺ د خپل قبر څخه په راپاڅېدو سره د حشر میدان ته راځي ، د رسول الله ﷺ څخه وروسته به نور ټول خلک د خپلو خپلو قبرو څخه په راوتلو سره د حشر په میدان کي جمع کیږي .

د عاقب معنی ده تر ټولو وروسته راتلونکی یعني رسول الله ﷺ د الله ﷻ هغه نبي او رسول دی چي د ټولو رسولانو او نبیانو څخه وروسته دنیا ته راغلی دی او د رسول الله ﷺ څخه وروسته هیڅ بل نبي او رسول دنیا ته راتلونکی نه دی .

﴿۵۵۲۹﴾: وَعَنْ أَبِي مُوسَى الْأَشْعَرِيِّ قَالَ كَانَ رَسُولُ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ يُسَمِّي لَنَا نَفْسَهُ أَسْمَاءً فَقَالَ أَنَا مُحَمَّدٌ وَأَحْمَدُ وَالْمُقَفِّي وَالْحَاشِرُ وَنَبِيُّ التَّوْبَةِ وَنَبِيُّ الرَّحْمَةِ . رواه مسلم .

د حضرت ابو موسی اشعري رضي الله عنه څخه روایت دی چي رسول الله ﷺ زموږ په وړاندي خپل دومره نومونه ښودلي وه یعني دا چي زه محمد یم او زه احمد یم، زه مقفي یم (یعني تر ټولو پیغمبرانو وروسته یا په آخر کي راتلونکی) زه حاشر یم (یعني د قیامت په ورځ خلک جمع کونکی) زه نبي توبه یم ، او زه نبي رحمت یم لکه چي په قرآن کریم کي دي : (وما ارسلناک الا رحمة للعالمین) مسلم.

تخریج: صحیح مسلم ۴\۱۸۲۸، رقم: ۱۲۶- ۲۳۵۵.

د لغاتو حل: المقفي : ای المتبع (پیرو)

تشریح: د توبې نبي ، یا خو په دې اعتبار یې وفرمایل چي خلقت د رسول الله ﷺ په لاس توبه وکړه او د رسول الله ﷺ مخکي د تېر ژوند اعمال که هغه کفر او شرک وي یا ګناه او معصیت

ځخه د بېزارۍ پوخ عهد کولو سره د دين اسلام د کاملي تابعدارۍ اقرار يې وکړ يا دا چي رسول الله ﷺ به توبه او استغفار ډېر کوی او رجوع الی الله د رسول الله ﷺ د ژوند مبارک بنيادي محور وو او دا د رسول الله ﷺ د ذات مبارک فيض وو چي د رسول الله ﷺ د امت خلک که په پاخه عهد او يقين سره په ژبه توبه وباسي نو الله ﷻ د هغوئ زباني توبه قبلوي، حال دا چي د تېرو امتو خلک به تر هغه وخته پوري د معافي وړ نه ګرځېدل تر څو چي د هغوئ د قصور او جرم سزا په قتل يا بل صورت کي هغوئ ته ور نه کړل سوه ځکه د رسول الله ﷺ يو نوم نبي التوبة هم سو.

نبي الرحمة يعني د رحمت نبي، دا د قرآن کريم ځخه اخيستل سوی دی لکه څرنګه چي الله ﷻ فرمايي: (وما ارسلناک الا رحمة للعالمين)، يعني موږ تاسو د ټول عالم لپاره رحمت رالېږلي ياست.

رسول الله ﷺ او د کافرانو ښکنځل

﴿۵۵۳۰﴾: وَعَنْ أَبِي هُرَيْرَةَ قَالَ قَالَ رَسُولُ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ أَلَا تَعْجَبُونَ كَيْفَ يَصْرِفُ اللّٰهُ عَنِّي شَتْمَ قُرَيْشٍ وَلَعْنَهُمْ يَشْتِمُونَ مُذَمَّمًا وَيَلْعَنُونَ مُذَمَّمًا وَأَنَا مُحَمَّدٌ. رواه البخاري.

د حضرت ابوهريره رضي الله عنه ځخه روايت دئ چي رسول الله ﷺ وفرمايل: ايا تاسو پر دې تعجب نه کوئ چي الله تعالی ما څرنګه د قريشو د ښکنځلو او لعنتونو ځخه ساتي هغوئ مذمم ته ښکنځل کوي او پر مذمم لعنت وايي او زه محمد يم (قريشو مشرکينو د رسول الله ﷺ د نامه په مقابله کي مذمم نوم ايښی وو او هغوئ به مذمم ته ښکنځل کول په دې وجه هغه ښکنځل پر محمد ﷺ نه بلکه پر مذمم پرېوتل). بخاري

تخريج: صحيح البخاري (فتح الباري): ۱۶\۵۵۴، رقم: ۳۵۳۳.

تشريح: مذمم د معنی په اعتبار د محمد ضد دی يعني هغه سړی چي د هغه بدوينه سوې وي، دغه لفظ د مکې د قريشو د بغض او عناد مظهر وو، هغه بدبختو به رسول الله ﷺ ته د محمد پر ځای مذمم ويل، او د دغه نامه په اخيستلو سره به يې د رسول الله ﷺ په اړه بدوينه کول، رسول الله ﷺ به خپلو صحابه کرامو ته په دې ورکولو سره وفرمايل چي د مکې قريشو کومه بدوينه کوي او د بدويني غشي راغورځوي پر هغه باندي د خفه کېدو ضرورت نسته، هغوئ بدبخته

خو مذمم خپله ننبه جوړوي او پر مذمم باندي لعن او طعن كوي او زه مذمم نه يم بلكه محمد يم ، دا خو د الله ﷻ فضل دی چي هغه زما نوم محمد چي د ذات مظهر دی ددغه حاسدانو د ښكنځلو او بدويلو څخه بند كړی دی .

د رسول الله ﷺ د مخ مبارك، وېښته مبارك او د نبوت د مهر ذكر

﴿۵۵۳۱﴾: وَعَنْ جَابِرِ بْنِ سَمُرَةَ قَالَ كَانَ رَسُولُ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ قَدْ

د حضرت جابر بن سمره ؓ څخه روايت دی چي د رسول الله ﷺ

شَمِطَ مُقَدَّمُ رَأْسِهِ وَلِحْيَتِهِ وَكَانَ إِذَا ادَّهَنَ لَمْ يَتَبَيَّنْ وَإِذَا شَعِثَ رَأْسُهُ تَبَيَّنَ

د سر او ږيري مباركي د مخكي برخي څه وريښتان سپين سوي وه ، رسول الله ﷺ چي به پر هغه وريښتانو باندي تيل ولګول نو هغه سپين والی به نه معلوميدی او كله چي به د رسول الله ﷺ وريښتان تار په تار وه نو سپين وريښتان به پكښي معلوميدل

وَكَانَ كَثِيرَ شَعْرِ اللِّحْيَةِ فَقَالَ رَجُلٌ وَجْهُهُ مِثْلُ السَّيْفِ قَالَ لَا بَلْ كَانَ

او د رسول الله ﷺ د ږيري وريښتان ډېر وه ، جابر ؓ چي دا بيان وكړ نو يو سړي وويل د رسول الله ﷺ مخ مبارك د توري په ډول وو (يعني په ځلاكي) مګر ددې تشبيه څخه دا هم معلوميده

مِثْلَ الشَّمْسِ وَالْقَمَرِ وَكَانَ مُسْتَدِيرًا وَرَأَيْتُ الْخَاتَمَ عِنْدَ كَتِفِهِ مِثْلَ بَيْضَةِ الْحَمَامَةِ يُشْبِهُ جَسَدَهُ. رواه مسلم.

چي د رسول الله ﷺ مخ مبارك اوږد وو په دې وجه جابر ؓ وويل بلكه د رسول الله ﷺ مخ مبارك دلمر او سپوږمۍ په ډول وو ، او د رسول الله ﷺ مبارك مخ غونډ وو او ما د رسول الله ﷺ د نبوت مهر اوږې ته نژدې وليدی چي د كوتري د هګۍ په ډول غونډ وو او د هغه رنګ د رسول الله ﷺ د بدن مبارك په ډول وو . مسلم

تخريج: صحيح مسلم ۴\۱۸۲۳، رقم: ۱۰۹- ۲۳۴۴.

د لغاتو حل: شمط : شاب (زلمی). يتبين: ای ظهر (ښكاره سو)

تشريح: د تېلو په لګولو سره وېښتان موښلي ځكه د رسول الله ﷺ هغه سپين وېښتان چي په شمېر كي ډېر كم وه په تېلو لګېدلو وېښتانو كي به نه معلومېدل او كله چي به د رسول الله ﷺ

وېښتان مبارک وچ وه او تېل به پکښې نه وه نو هغه سپین وېښتان به ځلېدل ځکه بېله تېلو وېښتان بېل بېل وي او که سپین وېښتان وي نو هغه معلومېږي ، په روایتو کي راغلي دي چي د رسول الله ﷺ په آخري عمر کي هم د سر او ږيري د سپینو وېښتانو شمېر تر شلو زیات نه وو بلکه په یوه روایت کي تر دې هم کم ذکر سوي دي .

په ږيره کي ډېر زیات وېښتان دي، ددې مطلب دادی چي د رسول الله ﷺ ږيره مبارکه ګڼه وه لکه چي په یوه روایت کي د کث اللحية الفاظ هم دي چي رسول الله ﷺ دګڼي ږيري څښتن وو، په دې اړه یوه واضحه خبره ثابته نه ده ، د صحابه کرامو او نورو بزرګانو د ږيري په اړه څرګند روایتونه منقول دي، د حضرت علي رضي الله عنه ږيره دومره اوږده وه چي د هغه ټوله سینه به تر اوږو پوري پټه وه او د حضرت ابن عمرو رضي الله عنه په اړه منقول دي چي هغه تر موټ زیاته ږيره نه پرېښودل، د حضرت شیخ عبدالقادر جیلاني رحمه الله په اړه لیکل سوي دي چي د هغه ږيره ډېره اوږده او پلنه وه، په هر حال د ږيري تر موټ کمول روا نه دي مګر د موټ څخه د زیاتي ږيري په اړه مختلف روایتونه او آثار منقول دي .

بلکه د لمر او سپوږمۍ په ډول وو، هغه سړي چي د رسول الله ﷺ مخ مبارک ته د توري سره مشابهت ورکړ نو ددې څخه یو ګمان دا هم پیدا کیدای سو چي د رسول الله ﷺ مخ مبارک اوږد وو چي هغه ته بیضوي یا کتابي مخ ویل کیږي، نو حضرت جابر رضي الله عنه څرګنده کړل چي د رسول الله ﷺ مخ مبارک اوږد نه وو بلکه ګردی وو ، څرګنده دي وي چي دلته په حدیث کي د مستدیر لفظ راغلی دی او یا د لمر او سپوږمۍ یادونه راغلې ده نو د هغه څخه دا وهم پیدا کېدل نه دي پکار چي د رسول الله ﷺ مخ مبارک د لمر او سپوږمۍ په ډول بالکل ګردی وو ، په یوه حدیث کي وضاحت دی : لم یکن بالمکلثم، یعني د رسول الله ﷺ مخ مبارک نه بالکل ګردی وو او نه بالکل اوږد وو بلکه مستدیر یعني ګردی معنی اخیستل سوې ده، په یوه روایت کي د بل مثل القمر الفاظ دي یعني بالکل د سپوږمۍ په ډول وو ، په یوه روایت کي دا منقول دي: وکان وجهه قطعة قمر، یعني د رسول الله ﷺ مخ مبارک داسي وو لکه د سپوږمۍ یوه ټوټه، په یوه روایت کي راغلي دي چي د رسول الله ﷺ مخ مبارک داسي ځلانده وو لکه د څوارلسمي سپوږمۍ چي ځلانده وي، او په یوه حدیث کي دا بیان سوي دي چي کله به رسول الله ﷺ د خوشحالۍ په حالت کي وو نو مخ مبارک به يې د هنداري په ډول وو چي د دېوال عکس به د رسول الله ﷺ په مخ کي ځلېدی، په واهب لدنیه کي لیکلي دي چي ددغه تشبیهاتو تعلق د خلکو د خپلي پوهي سره سم او د رواجي طرز په توګه تشبیه ورکړې ده مګر د رسول الله ﷺ د

جمال یا کمال شیان او د رسول الله ﷺ د حسن او تازګی سره هیڅ شی هم مشابه کیدای نه سي .

کسي بحسن و ملاحت بیار مانه رسید ترا درین سخن انکار کار ما نه رسد
هزار نقش بر آید زکلک صنع ولي یکي بخوبي نقش ونگار ما نه رسد

ما د رسول الله ﷺ مهر مبارک ولیدی چي اوږو ته نژدې وو ، په یو بل روایت کي منقول دي چي مهر مبارک د دواړو اوږو په منځ کي وو ، په دواړو روایتو کي تضاد نسته ، په اصل کي مهر نبوت چپه اوږې ته نژدې وو ، چا دا بیان کړی دی چي چپې اوږې ته نژدې وو او چا دا بیان وکړ چي د دواړو اوږو په منځ کي وو .

د هغه رنګ د رسول الله ﷺ د بدن مبارک په ډول وو ، ددې مطلب دادی چي مهر نبوت پر بدن باندي د داغ په ډول نه وو چي هغه د بدن د رنګ څخه بېل معلومېدی بلکه څرنګه چي د رسول الله ﷺ بدن مبارک او د ټولو اندامو رنګ وو همدارنګه مهر نبوت هم وو ، د هغه د رنګ او د بدن رنګ هیڅ فرق نه وو .

د مهر نبوت حقیقت : مهر نبوت چي د رسول الله ﷺ پر بدن مبارک د زیږېدني د وخت څخه وو او د هغه صورت دا وو چي د رسول الله ﷺ د دواړو اوږو په منځ کي د کوتري د هګۍ په اندازه په بیضوي شکل کي د بدن مبارک څخه لږ پورته سوی وو ، دغه خاص پورته والي ته یې خاتم نبوت ویل، د مقدار او رنګ په اړه روایتونه مختلف دي مګر د دغه روایتو په منځ کي مطابقت دادی چي د هغه حجم به کمېدی او زیاتیدی، او د هغه رنګ به هم مختلف کېدی او همدارنګه په دې اړه هم مختلف روایتونه دي چي پر هغه مهر نبوت باندي څه لیکلي وه که یا ؟ په ځینو روایتو کي دي چي پر هغه محمد رسول الله، لیکلي وه او په ځینو روایتو کي دي چي پر مهرنبوت باندي دا عبارت وو : وحده لاشریک له توجه حیث کنت فانک منصور، په روایاتو کي دا هم راغلي دي چي په مهر نبوت کي دومره نورانیت او دومره ځلا وه چي سترګو نه سوه ورته کتلای د رسول الله ﷺ ددغه مهر نبوت ذکر په مخکنیو آسماني کتابو ، تورات، انجیل وغیره کي موجود وو ، او انبیاء علیهم السلام په آخره زمانه کي چي د رسول الله ﷺ د ظهور کوم زیری ورکړ نو دا علامه به یې په خاصه توګه ښودل چي د هغه پر ملا به مهر نبوت وي، په حاکم مستدرک کي وهب ابن منبه څخه دا روایت نقل سوی دی چي داسي هیڅ نبي او رسول نه دی تېر سوی چي د هغه پر راسته لاس د نبوت نښنه نه وي مګر زموږ د حضرت محمد ﷺ د نبوت نښنه د هغه پر ملا مبارکه د دواړو اوږو په منځ کي وه او ددغه نښي حیثیت دمهر په ډول وو ، چي یو فرمان د تغیر او تبدیلۍ څخه د خوندي کېدو لپاره په هغه کي ثبت کیږي، څرګنده دي وي چي د

رسول الله ﷺ مهر نبوت ته د ظاهري شيانو لکه د کوتري هګۍ او داسي نورو سره تشبيه ورکول يوازي د خلکو د پوه کولو لپاره دي ، او اصل حقيقت يو داسي عظيم راز او د قدرت نښه ده چي د الله جل جلاله څخه ماسوا بل څوک نه په پوهيږي .

﴿۵۵۳۲﴾: وَعَنْ عَبْدِ اللَّهِ بْنِ سَرْجِسَ قَالَ رَأَيْتُ النَّبِيَّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ

د حضرت عبدالله بن سرجس رضي الله عنه څخه روايت دی چي ما نبي کريم ﷺ وليدی

وَأَكَلْتُ مَعَهُ خُبْزًا وَلَحْمًا أَوْ قَالَ ثَرِيدًا ثُمَّ دُرْتُ خَلْفَهُ فَنَظَرْتُ إِلَى خَاتَمِ

او ډوډۍ او غوښه مي ورسره وخوړل ، يا ما ثريد (ښوروا) ورسره وخوړل ، بيا زه د رسول الله ﷺ د شا خوا ته راغلم او مهر نبوت مي وليدی

النُّبُوَّةِ بَيْنَ كَتِفَيْهِ عِنْدَ نَاغِضِ كَتِفِهِ الْيُسْرَى جُمْعًا عَلَيْهِ خِيلَانٌ كَأَمْثَالِ الثَّآلِيلِ. رواه مسلم.

چي د دواړو اوږو په منځ کي د چپه وږي نرم هډوکي سره د موټ په ډول وو پر هغه د زخو په ډول خالونه وه. مسلم

تخريج: صحيح مسلم ۴\۱۸۲۳، رقم: ۱۱۲- ۲۳۴۶.

د لغاتو حل: ناغض: اعلى الكتف (د اوږي لوړ). خيلان: جمع خال وهو الشامة في الجسد . (خال)

پر کوچنيانو شفقت

﴿۵۵۳۳﴾: وَعَنْ أُمِّ خَالِدٍ بِنْتِ خَالِدِ بْنِ سَعِيدٍ قَالَتْ أُتِيَ النَّبِيَّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ

د حضرت ام خالد بنت خالد بن سعيد (رض) څخه روايت دی چي نبي کريم ﷺ ته

وَسَلَّمَ بِثِيَابٍ فِيهَا خَمِيصَةٌ سَوْدَاءُ صَغِيرَةٌ فَقَالَ ائْتُونِي بِأُمِّ خَالِدٍ فَأُتِيَ بِهَا

جامې راوړل سوې چي په هغه کي يو کوچنی تور کمبل هم وو ، رسول الله ﷺ وفرمايل : ام خالد ما ته راولئ ، نو ام خالد چي ماشومه وه په غيږ کي راوستل سوه ،

تُحْمَلُ فَأَخَذَ الْخَمِيصَةَ بِيَدِهِ فَأَلْبَسَهَا قَالَ أَبْلِي وَأَخْلِقِي ثُمَّ أَبْلِي وَأَخْلِقِي

رسول الله ﷺ هغه كمبل را پورته كړه او په خپل لاس مبارك يې ام خالد ته واغوستل، بيا يې وفرمايل: ته دا زوړ كړې او بيا يې زوړ كړې (يعني هر كله چې به رسول الله ﷺ نوې جامه اغوستل يا بل چا ته به يې وراغوستل نو دا دعاء به يې ورته كول ددې دعاء مطلب دادى چې ډير ژوندى اوسې)،

وَكَانَ فِيهَا عَلَمٌ أَخْضَرُ أَوْ أَصْفَرُ فَقَالَ يَا أُمَّ خَالِدٍ هَذَا سِنَاهُ وهي بِالْحَبَشِيَّةِ

او په دغه كمبل كې شين يا ژړ پلو وو، رسول الله ﷺ وفرمايل: ام خالد دا ډيره ښه جامه ده،

حَسَنة قَالَتْ فَذَهَبْتُ أَلْعَبُ بِخَاتَمِ النُّبُوَّةِ فَزَبَرَنِي أَبِي فَقَالَ رَسُولُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ دَعْهَا. رواه البخاري.

ام خالد وايي بيا زه د رسول الله ﷺ د شا خوا ته ورغلم او مهر نبوت سره مې لوبې كولې، زما پلار منعه كړم رسول الله ﷺ ورته وفرمايل دا پريږده. بخاري.

تخريج: صحيح البخاري (فتح الباري): ٦\١٨٣، رقم: ٣٠٧١.

د لغاتو حل: سناه: اى حسن (ښكلا). فزبرني: اى صاح علي وزجرني ونهاني (منعه يې كړم)

د رسول الله ﷺ حليه مباركه

﴿۵۵۳۴﴾: وَعَنْ اَنَسٍ قَالَ كَانَ رَسُولُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ لَيْسَ بِالطَّوِيلِ

د حضرت انس رضي الله عنه څخه روايت دى چې رسول الله ﷺ نه خو د اعتدال د حد څخه اوږد وو

الْبَائِنِ وَلَا بِالْقَصِيرِ وَ ليس بِالْأَبْيَضِ الْأَمْهَقِ وَلَا بِالْآدَمِ وَلَيْسَ بِالْجَعْدِ الْقَطَطِ

او نه لنډ قدى او نه بيخي سپين رنګى وو او نه بيخي غنم رنګى، او د رسول الله ﷺ د سر

وَلَا بِالسَّبْطِ بَعَثَهُ اللهُ عَلَى رَأْسِ أَرْبَعِينَ سَنَةً فَأَقَامَ بِمَكَّةَ عَشْرَ سِنِينَ وَبِالْمَدِينَةِ

مبارك ويښتان نه ډېر تاو تاو وه او نه بالكل سيده وه، الله تعالى رسول الله ﷺ د څلويښتم كال په سر كې مبعوث كړ، رسول الله ﷺ لس كاله په مكه كې وو

عَشْرَ سِنِينَ وَتَوَفَّاهُ اللهُ عَلَى رَأْسِ سِتِّينَ سَنَةً وَلَيْسَ فِي رَأْسِهِ وَلِحْيَتِهِ عِشْرُونَ

او لس کاله په مدینه کي، او الله ﷻ رسول الله ﷺ د شپيتو کالو په عمر کي وفات کړ، د رسول الله ﷺ په سر او ږيره مبارکه کي يوازي شل سپين ويښتان وه،

شَعَرَةً بَيْضَاءَ، وفي رواية يَصِفُ النَّبِيَّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ قَالَ كَانَ رَبْعَةً مِنَ

او په يوه روايت کي دا الفاظ دي چي رسول الله ﷺ خپل په قوم کي ميانه قد وو نه ډير اوږد نه

الْقَوْمِ لَيْسَ بِالطَّوِيلِ وَلَا بِالْقَصِيرِ أَزْهَرَ اللَّوْنِ وقال كان شعر رسول الله ﷺ

لنډ، رنګ يې صفا او ځلانده وو او د رسول الله ﷺ د سر مبارک ويښتان

الى انصاف اذنيه وفي رواية بين اذنيه وعاتقه. متفق عليه وفي رواية للبخاري

د غوږونو تر نيمايي پوري وه، او په يوه روايت کي راځي چي د غوږونو او اوږو تر منځ پوري وه، بخاري او مسلم، د بخاري په يو بل روايت کي دي چي

قال كان ضخم الراس والقدمين لم اربعده ولا قبله مثله وكان بسط الكفين

وفي اخرى قال كان شثن القدمين والكفين.

انس رضي الله عنه وايي د رسول الله ﷺ سر مبارک غټ وو او دواړه قدمونه يې هم غټ وه او ما د رسول الله ﷺ څخه نه مخکي او نه وروسته هيڅوک د هغه په ډول ليدلي دي او د رسول الله ﷺ ورغوي پراخه وي، او د بخاري په يوه روايت کي راځي چي انس رضي الله عنه وويل د رسول الله ﷺ دواړه قدمونه او ورغوي مبارک غوښين وه.

تخريج: صحيح البخاري (فتح الباري): ٦\ ٥٦٤، رقم: ٣٥٤٨، ومسلم ۴\ ۱۸۲۴، رقم: ۱۱۳- ۲۳۴۷.

د لغاتو حل: الامهق: الذي بياضه خالص (خالص سپين) سبط: وهو الشعر المنبسط المسترسل. شثن: اى غليظ الاطراف.

تشريح: قد يې نه ډېر اوږد وو او نه لنډ وو، مطلب دادی چي د رسول الله ﷺ قد ميانه او اوږدوالي ته نژدې وو چي زموږ په محاوره کي ورته ميانه قده وايي، په ځينو روايتو کي دا راغلي دي چي رسول الله ﷺ به په يوه مجلس کي ودرېدی نو تر ټولو به لوړ معلومېدی، که څه هم په هغه مجلس کي به جګ سړي وو، نو ددې مطلب دا نه دی چي د رسول الله ﷺ قد ډېر زيات اوږد وو بلکه ددې مقصد د رسول الله ﷺ اعجازي حيثيت بيانول دي چي الله ﷻ د رسول الله

ﷺ ذات مبارک ته کوم عظمت او رفعت ورکړی وو هغه په هر وخت د رسول الله ﷺ قد ته هم ورکول کېدی، تر دې که چیري رسول الله ﷺ به د جګو خلکو په منځ کي ودرېدی نو الله ﷻ به د رسول الله ﷻ وجود تر ټولو زیات څرګندوی.

د رسول الله ﷺ رنګ نه بالکل سپین وو...... الخ: ددې مطلب دادی چي د رسول الله ﷺ رنګ نه بالکل د چونې په ډول سپین وو چي په هغه کي د سوروالي ځلا نه وه او نه ډېر غنم رنګه وو ، بلکه داسي غنم رنګه وو چي هغه ته سور ویل کیږي، همدارنګه د رسول الله ﷺ د سر مبارک وېښتان نه دومره پیچلي وه لکه څرنګه چي د افریقایي او حبشي خلکو وي او نه بالکل سیده وه بلکه د دغه دواړو په منځ کي وه.

په مدینه کي د رسول الله ﷺ د قیام وخت لس کاله خو په اتفاق سره ثابت دی او په دې کي اختلافي روایت نسته مګر په رسالت باندي د فائز کېدو څخه وروسته په مکه کي د قیام د وخت په اړه اختلافي اقوال دی، په تحقیقي توګه چي کوم قول زیات صحیح منل سوی دی هغه ددیارلسو کالو وخت دی، په دې اعتبار د رسول الله ﷺ عمر مبارک درو شپیته کاله کیږي، په دغه روایت کي چي شپیته کاله ویل سوي دي نو ددې توجیه داده چي راوي په دغه روایت کي د کسور ذکر ته اهمیت نه ورکولو سره دیارلس کاله ته لس کاله وویل او درو شپیته کاله ته یې شپېته کاله وویل، ځکه چي په هغه زمانه کي په عامه توګه دا رواج وو چي د اعدادو بیانولو پر وخت به یې د کسور ذکر کول ضروري نه ګڼل.

د رسول الله ﷺ د سر مبارک د وېښتانو په اړه مختلف روایتونه دي، دوه روایتونه خو دلته نقل سول، په یوه روایت کي د دواړو غوږو تر نرمې پوري الفاظ دي او په بل روایت کي د اوږو نژدې یادونه ده، د روایتونو ددغه اختلاف سبب په اصل کي دادی چي کله به رسول الله ﷺ وېښتان په تیلو غوړولو او ژمونځولو سره سم کړل نو هغه وخت به وېښتان اوږده معلومېدل او کله چي به یې وېښتان نه غوړول نو هغه وخت به کوچني معلومېدل، همدارنګه په مجمع البحار کي لیکلي دي چي کله به د وېښتانو د سمولو ډیر وخت تېر سو نو په قدرتي توګه به وېښتان اوږده معلومېدل او کله چي به یې سم کړل نو د وېښتانو اوږدوالی به کمېدی، کوم چا چي په کوم حالت کي د رسول الله ﷺ وېښتان ولېدل د هغه مطابق روایت یې بیان کړ، د مجمع البحار ددغه روایت څخه دا معلومه سول چي رسول الله ﷺ به کله نا کله خپل وېښتان پرې کول او کوم چي د وېښتانو د خریلو تعلق دی نو ددې ثبوت په هیڅ روایت کي نه تر لاسه کیږي، مګر یوازي د حج او عمرې په وخت کي د رسول الله ﷺ د سر خریل ثابت دي.

سر مبارک يې غټ او ښې غوښني وې، د ښو غوښين کېدل د شجاعت او ثابت قدمۍ نښه ده. او د سر غټېدل د سرداری، عظمت او پوهې نښه ده ځکه په عربو کې د غټ سر سړي ته د عزت په سترګه کتل کېدل، ددې پر خلاف د کوچني سر کېدل د عيب او بې پوهې نښه ګڼل کېدل همدارنګه د رسول الله ﷺ دواړې تلي هم ډېرې غوښني وې او دا هم د قوت او مېړانې نښه ګڼل کېږي.

﴿۵۵۳۵﴾: وَعَنِ الْبَرَاءِ قَالَ كَانَ رسول الله صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ مَرْبُوعًا بَعِيدَ

د حضرت براء ﷺ څخه روايت دی چې رسول الله ﷺ ميانه قده وو، د دواړو اوږو په منځ کې يې

مَا بَيْنَ الْمَنْكِبَيْنِ لَهُ شَعَرٌ يَبْلُغُ شَحْمَةَ أُذُنِهِ رَأَيْتُهُ فِي حُلَّةٍ حَمْرَاءَ لَمْ أَرَ شَيْئًا

پراختيا وه، د سر مبارک وريښتان يې د غوږونو د نرمۍ پورې وه، ما رسول الله ﷺ په سره جامه کې ليدلی وو (يعني په جامو کې يې سرې ليکې وې) ما د رسول الله ﷺ څخه زيات

قَطُّ أَحْسَنَ مِنْهُ. متفق عليه وفي رواية لمسلم قال مَا رَأَيْتُ مِنْ ذِي لِمَّةٍ

ښکلی هيڅوک نه دی ليدلی. بخاري او مسلم. او د مسلم په يوه روايت کې دي چې براء ﷺ

أَحْسَنَ فِي حُلَّةٍ حَمْرَاءَ مِنْ رَسُولِ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ شَعْرُهُ يَضْرِبُ مَنْكِبَيْهِ بَعِيدَ مَا بَيْنَ الْمَنْكِبَيْنِ لَيْسَ بِالطَّوِيلِ وَلَا بِالْقَصِيرِ.

وويل ما هيڅ وريښتانو والا سړی په سره جامه کې د رسول الله ﷺ څخه غوره نه دی ليدلی او وريښتان يې تر اوږو مبارکو پورې وه دواړه ورې يې پراخې وې، رسول الله ﷺ نه ډېر اوږد او نه ډېر لنډ وو

تخريج: صحيح البخاري (فتح الباري): ٦\٥٦٥، رقم: ٣٥٥١، ومسلم ١٤\١٨١٨، رقم: ٩١- ٢٣٣٩.

تشريح: محدثينو د تحقيق وروسته ليکلي دي چې د سرو جامو څخه مراد دادی چې د رسول الله ﷺ پر بدن مبارک چې د کومې جامې لونګ او څادر وو، په هغه کې سرې ليکې وې، همدارنګه په کومو حديثو کې چې د شنې جامې ذکر دی د هغه څخه هم دا مراد دی چې هغه جامه د داسې ټوکر وه چې په هغه کې شنې ليکې وې.

په عربي کې د انسان د سر د ويښتانو لپاره په عامه توګه درې الفاظ استعماليږي يو جمه،

ددې څخه هغه وېښتان مراد دي چې د غوږو د نرميو څخه دومره لاندې وي چې اوږو ته رسيږي او كله ددغه لفظ اطلاق پر مطلق وېښتانو باندې كيږي كه هغه كوچني وي او كه لوى، دوهم لفظ د لمه دى ، دغه لفظ د وېښتانو د هغه زلفو لپاره استعماليږي چې د غوږو د نرميو څخه زيات تېر وي مگر اوږو ته نه رسيږي ، او دريم لفظ د وفره دى چې د غوږو تر نرميو پورې وي او د زړېدلو وېښتانو په معنى كې هم استعماليږي .

﴿۵۵۳۶﴾: وَعَنْ سِمَاكِ بْنِ حَرْبٍ عَنْ جَابِرِ بْنِ سَمُرَةَ قَالَ كَانَ رَسُولُ اللّٰهِ صَلَّى

حضرت سماك بن حرب رحمه الله د حضرت جابر بن سمره رضي الله عنه څخه روايت كوي چې رسول الله ﷺ

اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ ضَلِيعَ الْفَمِ أَشْكَلَ الْعَيْنِ مَنْهُوسَ الْعَقِبَيْنِ قِيْلَ لِسِمَاكٍ مَا

غټ خولى وو (په عربو كې د نارينه لپاره غټه خوله د تعريف وړ ده) او د سترگو مباركو په سپينو كې يې سرخي وه ، پوندې يې كوچنۍ او كم غوښې وې، د سماك څخه پوښتنه وسول

ضَلِيعُ الْفَمِ قَالَ عَظِيمُ الْفَمِ قبل مَا أَشْكَلُ الْعَيْنِ قَالَ طَوِيلُ شَقِّ الْعَيْنِ قبل مَا مَنْهُوسُ الْعَقِبِ قَالَ قَلِيلُ لَحْمِ الْعَقِبِ. رواه مسلم .

چې ضليع الفم څه ته وايي ده وويل غټه خوله لرونكي ، ورته وويل سول چې اشكل العين څه ته وايي ده وويل چې د سترگو خانې يې اوږدې وې ، ورته وويل سول چې منهوش العقبين څه ته وايي، ده وويل چې د پوندۍ غوښې يې لږ وې . مسلم

تخريج: صحيح مسلم ۴\ ۱۸۲۰، رقم: ۹۷- ۲۳۳۹.

د لغاتو حل: ضليع الفم: اي وسيعه (پراخه خوله). منهوش: اي مفرقهما.

تشريح: د پراخې خولې څخه مراد دادى چې د رسول الله ﷺ د خولې كاسه لويه وه او دا شى په عربو كې د نارينوو لپاره د تعريف وړ گڼل كيږي او كله چې د يو چا خوله كوچنۍ وي نو دا عيب گڼل كيږي او ځينو حضراتو د پراخې خولې څخه فصاحت او بلاغت مراد اخيستى دى .

د سترگو په سپينوالي كې سوروالى، ددې څخه مراد دادى چې د رسول الله ﷺ په سترگو مباركو كې سرې ليكې زياتې څرگنده وي ، څرگنده دي وي چې حضرت سماك رحمة الله عليه چې د اشكل العين كومه معنى بيان كړې ده چې د سترگو لوى كېدل نو دا د هغه سهوه ده اصل معنى هغه ده چې په ترجمه كې ذكر سوې ده ، د لغتو ټولو امامانو دغه معنى ليكلې ده .

﴿۵۵۳۷﴾: وَعَنْ أَبِي الطُّفَيْلِ قَالَ رَأَيْتُ رَسُولَ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ كَانَ أَبْيَضَ مَلِيحًا مُقَصَّدًا. رواه مسلم.

د حضرت ابو طفيل رضي الله عنه څخه روايت دی چي ما رسول الله ﷺ وليدی چي سپين مالګين رنګی وو او په ټولو اعضاوو او اوصافو کي تناسب وو. مسلم.

تخريج: صحيح مسلم: ۴\۱۹۲۰، رقم: ۹۹-۲۳۴۰،

د لغاتو حل: مقصدا: ای متوسطا معتدلا (درمیانه)

رسول الله ﷺ خضاب (نكريزي) نه دي استعمال كړي

﴿۵۵۳۸﴾: وَعَنْ ثَابِتٍ قَالَ سُئِلَ أَنَسٌ عَنْ خِضَابِ رسول الله صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ فَقَالَ إِنَّهُ لَمْ يَبْلُغْ مَا يَخْضِبُ لَوْ شِئْتُ أَنْ أَعُدَّ شَمَطَاتِهِ فِي لِحْيَتِهِ. وفي رواية لَوْ شِئْتُ أَنْ أَعُدَّ شَمَطَاتٍ كُنَّ فِي رَأْسِهِ فَعَلْتُ. متفق عليه وفي رواية لمسلم إِنَّمَا كَانَ الْبَيَاضُ فِي عَنْفَقَتِهِ وَفِي الصُّدْغَيْنِ وَفِي الرَّأْسِ نَبْذٌ.

د حضرت ثابت رضي الله عنه څخه روايت دی چي د حضرت انس رضي الله عنه څخه د رسول الله ﷺ د خضابو په اړه پوښتنه وسول نو هغه وويل: رسول الله ﷺ دومره عمر ته نه وو رسيدلی چي خضاب يې لګولی وای که ما غوښتلي وای چي د رسول الله ﷺ د ږيري مباركي سپين وريښتان وشميرم نو شمير كړي به مي وای، او په يوه روايت كي داسي دي كه ما هغه سپين وريښتان شميرلای کوم چي د رسول الله ﷺ په سر مبارک کي وه نو ما به شميرلي وای. بخاري او مسلم،. او د مسلم په يوه روايت كي دا الفاظ دي چي سپين وريښتان د رسول الله ﷺ د ږيري مباركي په لاندينۍ برخه كي او څه په سر مبارک كي وه.

تخريج: صحيح البخاري (فتح الباري): ۱۰\۳۵۱، رقم: ۵۸۹۵. ومسلم ۴\۱۸۲۱، رقم: ۱۰۳-۲۳۴۱.

تشريح: د رسول الله ﷺ عمر مبارک دومره چيري وو....الخ: ددې څخه مراد دادی چي د رسول الله ﷺ وصال په كوم عمر كي وسو هغه داسي عمر نه وو چي په هغه كي پر سرې باندي سپين ږيرتوب خپور سي، دغه عمر ته د سپين ږيرتوب پيل ويل كيږي، څرګنده ده چي په دغه

عمر کي د رسول الله ﷺ وېښتان مبارک دومره سپين سوي نه وه چي د خضاب (نکريزو) ضرورت ورته پېښ سوی وي؛ کوم لږ وېښتان چي سپين سوي وه د هغو مقدار دومره کم وو چي د ليري څخه نه معلومېدل.

د رسول الله ﷺ بدن مبارک

﴿۵۵۳۹﴾: وَعَنْ أَنَسٍ قَالَ كَانَ رَسُولُ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ أَزْهَرَ اللَّوْنِ

د حضرت انس ﷺ څخه روايت دی چي د رسول الله ﷺ رنګ ځلانده وو

كَأَنَّ عَرَقَهُ اللُّؤْلُؤُ إِذَا مَشَى تَكَفَّأَ وَلَا مَسِسْتُ دِيبَاجَةً وَلَا حَرِيرًا أَلْيَنَ مِنْ

او د رسول الله ﷺ خوله (عرق) د ملغلرو په شان وه، رسول الله ﷺ چي به پر لاره تلی نو د مخ په لور به کښته وو او ما ديباج او د ريښم هيڅ جامه

كَفِّ رَسُولِ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ وَلَا شَمِمْتُ مِسْكًا وَلَا عَنْبَرَةً أَطْيَبَ مِنْ

رَائِحَةِ النبي صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ. متفق عليه.

د رسول الله ﷺ د ورغوي څخه زيات نرمه نه ده ليدلې او ما هيڅ مشک او عنبر داسي نه دي بوی کړي چي په هغه کي د نبي کريم ﷺ د بدن مبارک څخه زياته خوشبويي وي. بخاري او مسلم.

تخريج: صحيح البخاري (فتح الباري): ۶\۵۶۶، رقم: ۳۵۶۱، ومسلم ۴\۱۸۱۵، رقم: ۸۲- ۲۳۳۰.

د لغاتو حل: تکفا: ای تمايل الی قدام. (مخته خوا ته ميل)

تشريح: مخته په کښته کېدو سره تلل، ددې مطلب دادی چي د رسول الله ﷺ په تګ کي يو خاص ډول وقار وو چي په هغه کي خاکساري شامله وه او دا تګ داسي وو لکه يو سړی چي د لوړي څخه راکښته کيږي، يا ددې جملې دا معنی ده چي رسول الله ﷺ به کله تګ کوی نو داسي به يې قدم پورته کوی لکه يو بهادر او قوي سړی چي قدم پورته کوي، داسي نه وه چي د تللو په وخت کي به د رسول الله ﷺ په تګ کي ناتواني محسوس کېدل يا پر مځکه باندي د پښو په کشولو سره به تلی.

د رسول الله ﷺ خوله مبارکه

﴿۵۵۴۰﴾: وَعَنْ أُمِّ سُلَيْمٍ أَنَّ النَّبِيَّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ كَانَ يأتيها فيقيل

د حضرت ام سليم (رض) څخه روايت دی چي رسول الله ﷺ به زموږ کره تشريف راوړی او غرمه

عندها فتبسط نطعا فيقيل عليه وكان كثير العرق فكان تجمع عرقه

به يې آرام کوی ، هغې به د پوست بستره ورته اواره کړه او رسول الله ﷺ به پر هغې قيلوله کول او پر رسول الله ﷺ به خوله زياته راتلل هغې به يې خوله يو ځای کول

فتجعله في الطيب فقال النَّبِيُّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ يَا أُمَّ سُلَيْمٍ ما هذا

او په خپلو عطرو کي به يې يو ځای کول ، يوه ورځ رسول الله ﷺ هغه په جمع کولو وليدل نو پوښتنه يې ځيني وکړه اې ام سليم دا څه دي ؟

قالت عرقك نجعله في طيبنا وهو من اطيب الطيب وفي رواية قَالَتْ يَا رَسُولَ اللَّهِ نَرْجُو بَرَكَتَهُ لِصِبْيَانِنَا قَالَ أَصَبْتِ. متفق عليه.

هغې ورته وويل ستاسو دا خوله موږ په خپله خوشبويي ګډوو او دا خوله غوره خوشبويي ده ، او په يوه روايت کي داسي دي چي ام سليم وويل اې د الله رسوله ! موږ دا خوله ماشومانو لپاره دبرکت باعث ګڼو ، رسول الله ﷺ ورته وفرمايل تا رښتيا وويل او ښه دي وويل . بخاري او مسلم.

تخريج: صحيح البخاري (فتح الباري): ۱۱\ ۷۰، رقم: ٦٢٨١، ومسلم ۴\ ۱۸۱۵، رقم: ۸۳– ۲۳۳۱.

د لغاتو حل: نطعا : كعنب بساط من الاديم. (د پوست بستره)

تشريح: بي بي ام سليم رضي الله عنها د حضرت انس رضي الله عنه مور ده چي د رسول الله ﷺ خاص خادم وو، نو موږ ډېره هوښياره او فاضله ښځه وه، الله جل جلاله خپل، د خپل دين او د خپل رسول ﷺ د ميني زياته برخه هغې ته ورکړې وه ، د يو رضاعي يانسبي قرابت په وجه د رسول الله ﷺ د محرم ښځو څخه وه ځکه رسول الله ﷺ د غرمې په وخت کي کله ناکله د هغې په کور کي د غرمې خوب کوی

د ماشومانو سره مينه

﴿۵۵۴۱﴾: وَعَنْ جَابِرِ بْنِ سَمُرَةَ قَالَ صَلَّيْتُ مَعَ رَسُولِ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ

د حضرت جابر بن سمره رضي الله عنه څخه روايت دی چي ما د رسول الله ﷺ سره

صَلَاةَ الْأُولَى ثُمَّ خَرَجَ إِلَى أَهْلِهِ وَخَرَجْتُ مَعَهُ فَاسْتَقْبَلَهُ وِلْدَانٌ فَجَعَلَ

د ماپښين لمونځ وکړ، بيا رسول الله ﷺ خپل کور ته د تلو لپاره د مسجد څخه ووتی او زه هم د مسجد څخه راووتم، د رسول الله ﷺ مخته يو څو هلکان راغلل، رسول الله ﷺ

يَمْسَحُ خَدَّيْ أَحَدِهِمْ وَاحِدًا وَاحِدًا قَالَ وَأَمَّا أَنَا فَمَسَحَ خَدِّي قَالَ فَوَجَدْتُ

د هريوه پر مخ لاس مبارک را تير کړ زما پر مخ يې هم لاس راتير کړ ما د رسول الله ﷺ مبارک

لِيَدِهِ بَرْدًا أَوْ رِيحًا كَأَنَّمَا أَخْرَجَهَا مِنْ جُؤْنَةِ عَطَّارٍ. رواه مسلم وذكر حديث جابر سموا باسمي في باب الاسامي وحديث السائب بن يزيد نظرت الى خاتم النبوة في باب احكام المياه. رواه مسلم.

لاس يخ او خوشبودار محسوس کړي ما فکر وکړی چي رسول الله ﷺ اوس د عطرو د دبلي څخه لاس را ايستلی دی. مسلم

تخريج: صحيح مسلم ۴\ ۱۹۱۴، رقم: ۸۰- ۲۳۲۹.

د لغاتو حل: بردا: اي راحة. جؤنة: اي سلته او حقنة. (دبلی، کوتۍ)

تشريح: (و اما انا فمسح خدي) او بيا يې زما پر باړخوګانو لاس راتېر کړ، په دغه جمله کي د خدي لفظ د دال په زبر او د ياء په جزم سره د مفرد په صيغه دی او په ځينو نسخو کي دغه لفظ د دال په زبر او د يا په تشديد سره د تثنيه لفظ دی لکه څرنګه چي د ترجمې څخه څرګنده سول، مګر ملا علي قاري رحمه الله دا ليکلي دي چي په اکثرو نسخو کي دغه لفظ د تثنيې په صيغه دی او په يوه نسخه کي د مفرد په صيغه دی چي د هغه څخه جنس مراد دی.

دلته په حديث کي د رسول الله ﷺ د بدن مبارک د خوشبويي يادونه ده چي د هغه څخه دا څرګنديږي چي د رسول الله ﷺ بدن مبارک خوشبويي لرونکی وو، کله چي به رسول الله ﷺ خوشبويي استعمال نه کړل نو بيا به هم د رسول الله ﷺ د بدن مبارک څخه خوشبويي راتلل مګر ددې سره رسول الله ﷺ به خوشبويي هم استعمالول چي د ملائکو سره د يو ځای کېدو، د وحي تر لاسه کولو او د مسلمانانو سره د ناستي په وخت کي زيات معطر وي.

اَلْفَصْلُ الثَّانِي (دوهم فصل)

د رسول الله ﷺ قد مبارك

﴿۵۵۴۲﴾: عَنْ عَلِيّ بن ابي طالب قَالَ كَانَ رَسُولُ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ

د حضرت علي ابن ابي طالب رضي الله عنه څخه روايت دی چي رسول الله ﷺ

ليس بِالطَّوِيلِ وَلَا بِالْقَصِيرِ ضَخْمَ الرَّأْسِ وَاللِّحْيَةِ شَثْنَ الْكَفَّيْنِ وَالْقَدَمَيْنِ

نه جګ وو او نه ټيټ، سر مبارک يې غټ وو او ږيره مبارکه يې ګڼه وه، ورغوي او پښې مبارکي يې غوښني وې،

مشربا حمرة ضَخْمَ الْكَرَادِيسِ طَوِيلَ الْمَسْرُبَةِ إِذَا مَشَى تَكَفَّأَ تَكَفُّؤًا كَأَنَّمَا

رنګ مبارک يې سور او سپين وو، د هډوکو بندونه يې غټ وه د سينې څخه تر نامه پوري د

انْحَطَّ مِنْ صَبَبٍ لَمْ أَرَ قَبْلَهُ وَلَا بَعْدَهُ مِثْلَهُ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ . رواه الترمذي وقال هذا حديث حسن صحيح.

ويښتانو يوه اوږده ليکه وه، کله چي به رسول الله ﷺ تلی نو د مخ طرف ته به يې ميلان (د زړه غوښتنه) وو لکه د لوړي څخه چي څوک مخ پر کښته ځي، ما د رسول الله ﷺ په شان بل څوک نه مخکي او نه وروسته ليدلی دی، پر رسول الله ﷺ دي د الله رحمتونه او سلامونه وي. ترمذي

تخريج: سنن الترمذي ۵\۵۵۸، رقم: ۳۶۳۷.

د لغاتو حل: المسربة: الشعر المستدق الذي ياخذ من الصدر الى السرة. (د سينې څخه تر نامه وېښتان)

تشريح: مخته په کښته کېدو سره به تلی، ددې يو مطلب خو هغه دی چي مخکي تېر سو، او رسول الله ﷺ به د قوي او زړه ور خلګو په ډول تلی، يعني په قوت سره به يې پښې د مځکي څخه پورته کولې او ايښودلې، او ځينو حضراتو دا مطلب بيان کړی دی چي د رسول الله ﷺ په تګ کي کبر او غرور نه وو بلکه د مسکينۍ او خاکسارۍ تګ به يې اختيار وو.

﴿۵۵۴۳﴾: وَعَنْهُ كَانَ إِذَا وَصَفَ النَّبِيَّ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ قَالَ لَمْ يَكُنْ بِالطَّوِيلِ

د حضرت علي بن ابي طالب ﷛ څخه روايت دی چي کله به ده د رسول الله ﷺ وصف بيانوی نو فرمايل به يې: رسول الله ﷺ نه جګ وو

الْمُمَّغِطِ وَلَا بِالْقَصِيرِ الْمُتَرَدِّدِ وَكَانَ رَبْعَةً مِنَ الْقَوْمِ وَلَمْ يَكُنْ بِالْجَعْدِ الْقَطَطِ وَلَا

او نه ټيټ بلکه د متوسط قد خاوند وو په قوم کي، وريښتان مبارک يې نه ګڼ وه او نه بالکل

بِالسَّبِطِ كَانَ جَعْدًا رَجِلًا وَلَمْ يَكُنْ بِالْمُطَهَّمِ وَلَا بِالْمُكَلْثَمِ وَكَانَ فِي الْوَجْهِ تَدْوِيرٌ

سيده بلکه څه ګڼ وه، نه زيات غټ اندامو والا وو نه بالکل نری او کمزوری، مخ مبارک يې

أَبْيَضُ مُشْرَبٌ أَدْعَجُ الْعَيْنَيْنِ أَهْدَبُ الْأَشْفَارِ جَلِيلُ الْمُشَاشِ وَالْكَتَدِ أَجْرَدُ ذُو

غونډ او سور سپين وو، سترګي مبارکي يې توري وي او بانو ګان يې اوږده وه د هډوکو سرونه يعني بندونه يې غټ وه او اوږې يې غټي وې،

مَسْرُبَةٍ شَثْنُ الْكَفَّيْنِ وَالْقَدَمَيْنِ إِذَا مَشَى تَقَلَّعَ كَأَنَّمَا يَمْشِي فِي صَبَبٍ وَإِذَا الْتَفَتَ

پر بدن مبارک يې وريښتان نه وه يوازي د وريښتانو يو خط وو چي د سينې مبارکي څخه تر نامه پوري تللی وو، لاس او پښې يې غوښين وه د تلو لپاره به يې قدم په قوت سره پورته کوی لکه د لوړي څخه چي کښته ته راتلی او کله چي به يې يو کار ته کتل

الْتَفَتَ مَعًا بَيْنَ كَتِفَيْهِ خَاتَمُ النُّبُوَّةِ وَهُوَ خَاتَمُ النَّبِيِّينَ أَجْوَدُ النَّاسِ صَدْرًا

نو پوره به متوجه کيدی د دواړو اوږو په منځ کي يې د نبوت مهر وو او دی خاتم النبيين وو، په خلکو کي زيات پراخ زړه والا، سخي

وَأَصْدَقُ النَّاسِ لَهْجَةً وَأَلْيَنُهُمْ عَرِيكَةً وَأَكْرَمُهُمْ عِشْرَةً مَنْ رَآهُ بَدِيهَةً هَابَهُ

د ژبي رښتونی او په ډيرو صفا الفاظو کي به يې خبري کولې، د طبيعت د لحاظ څخه ډير نرم او د قوم د لحاظ څخه ډير شريف او بزرګ وو، چا چي به ناڅاپه وليدی نو پر هغه به هيبت راتلی او

وَمَنْ خَالَطَهُ مَعْرِفَةً أَحَبَّهُ يَقُولُ نَاعِتُهُ لَمْ أَرَ قَبْلَهُ وَلَا بَعْدَهُ مِثْلَهُ صلى الله عليه

وسلم . رواه الترمذي.

كوم چا چي به ورسره شناخت او محبت ساتي نو رسول الله ﷺ به ورسره محبت كوى ، د رسول الله ﷺ صفتونه بيانونكى حضرت علي ﷺ وايي چي ما د رسول الله ﷺ په شان بل څوک نه مخكي او نه وروسته ليدلى دى، پر رسول الله ﷺ دي د الله ﷻ رحمتونه وي . ترمذي

تخريج: سنن الترمذي ۵\۵۵۹، رقم: ۳۶۳۸.

د لغاتو حل: المطهم: اى الفاحش السمين. المكلثم: المدور وجهه غاية التدير (گردى مخ). ادعج: اى اسود العينين مع سعتهما (تور سترگى).

تشريح: پر بدن مبارک يې وېښتان نه وه...الخ: د دغه جملې څخه په ظاهره دا معلوميږي چي د سينې څخه تر نامه پوري د وېښتانو د يوې ليكي څخه ماسوا د رسول الله ﷺ پر بدن مبارک بل ځاى وېښتان نه وه، او د ځينو روايتو څخه دا معلوميږي چي د سينې يا نامه څخه ماسوا هم پر ځينو ځايو باندي لكه مړوند، موټ، پنډۍ او څنگلو باندي وېښتان وه ، نو دا ويل كيږي چي دلته د اجرد لفظ د اشعر په مقابله كي استعمال سوى دى او د اشعر څخه مراد هغه سړى وي چي د هغه پر ټول بدن وېښتان وي او اجرد هغه سړي ته ويل كيږي چي د هغه پر ټول بدن وېښتان نه وي.

.... نو دټول بدن سره به متوجه كېدى. ددې مطلب دادى چي رسول الله ﷺ به راسته او چپه خوا ته چا ته كتل يو يوې خوا ته به متوجه كېدى، او په بې پرواهي سره به يې چا ته نه كتل بلكه په پوره توگه سره به هغه ته متوجه كيدى، يا دا مطلب دى چي راسته او چپه خوا ته د متوجه كېدو لپاره د خلكو په ډول يوازي غاړه يې نه گرځول بلكه د يو همدرد په ډول يې خپل مخ مبارک په گرځولو سره د ټول بدن په تاوېدو سره هغه ته كتل او د خپلي پوره توجه اظهار يې به يې كوى.

د زړه د سخي څخه مراد دادى چي رسول الله ﷺ به په ځان او مال سره سخاوت كوى چي د هغه يو فطري جذبه او محض د اخلاص تقاضا وه نه د ښووني او ځان ليدني لپاره ، يادا چي په زور او جبر به رسول الله ﷺ سخاوت كوى، ملا علي قاري ﷫ ددې معنى دا ليكلې ده كه چيري د اجود لفظ د جورت څخه ماخوذ وگڼل سي نو په دغه صورت كي به مطلب دا وي چي رسول الله ﷺ به د خپلو ملگرو د ناخوښو خبرو او ناخوښو كړنو څخه نه په تكليف كېدى ، او كه چيري د اجود لفظ د جود څخه ماخوذ وگڼل سي چي د هغه معنى د وركړي او بخښني ده نو بيا به مطلب دا وي چي رسول الله ﷺ د يو شي په وركولو كي هيڅ بخل هم نه كوى كه هغه مال وو يا

علم او اخلاقي روزنه وي . همدارنګه په ژبه ربښتوني وو، يوه معنی خو يې هغه ده چي د ترجمې څخه څرګنده ده چي د رسول الله ﷺ څخه زيات ربښتونی او حق ويونکي بل هيڅوک نه وو او د لفظ لهجة د رعايت څخه يوه معنی دا هم کيدای سي چي د رسول الله ﷺ خبري اتري ډيري باوقاره او لهجه يې ډېره په زړه پوري او ژبه يې ډېره پاکه وه، د الفاظو ادا کول به يې ډير مناسب او د ځای سره سم وه .

چا چي به رسول الله ﷺ په اول وار وليدی..... الخ: ددې مطلب دادی چي کله به يو څوک د رسول الله ﷺ په ذاتي صفتونو، خصلتونو او اخلاقي طرز خبر نه وو او په اول وار به يې د رسول الله ﷺ سره ولېدل نو پر هغه به د رسول الله ﷺ د باوقار شخصيت دومره رعب خپور سو چي هغه به ېېره محسوس کړل مګر کله چي به د رسول الله ﷺ په مجلس کي کښېنستی او د رسول الله ﷺ د اخلاقو او طبيعت تجربه به يې تر لاسه کړل او د رسول الله ﷺ د صحبت اثر به يې محسوس کړ نو يو دم به د رسول الله ﷺ د ميني بنديوال سو .

د رسول الله ﷺ خوشبويي

﴿۵۵۴۴﴾: وَعَنْ جَابِرٍ أَنَّ النَّبِيَّ ﷺ لَمْ يَسْلُكْ طَرِيقًا فَيَتْبَعُهُ أَحَدٌ إِلاَّ عَرَفَ أَنَّهُ قَدْ سَلَكَهُ مِنْ طِيبِ عَرْقِهِ أَوْ قَالَ مِنْ رِيحِ عَرْقِهِ. رواه الدارمي.

د حضرت جابر ﷺ څخه روايت دی چي کله به رسول الله ﷺ پر يو لاره تير سو نو دده مبارک څخه وروسته چي به يو څوک پر هغه لاره تير سو نو هغه ته به معلومه سوه چي رسول الله ﷺ پر دغه لاره تير سوی دی، يعني د رسول الله ﷺ د بدن د خولې د خوشبويي څخه يا د رسول الله ﷺ د خولې د خوشبو داره هواء څخه به هغه معلومه کړه . دارمي

تخريج: سنن الدارمي: ۱\۴۵، رقم: ٦٦.

تشريح: (او قال): دا دراوي شک دی چي په دغه وخت کي يې د من طيب عرفه الفاظ وويل او که د من ريح عرقه، په دواړو صورتو کي مفهوم يو دی .

د عرف لغوي معنی د بوی ده که هغه خوشبويي وي يا بدبويي وي، مګر دغه لفظ زيات وختونه د خوشبويي لپاره استعماليږي، په هر حال د حديث مطلب دادی چي رسول الله ﷺ به پر کومه لار تېر سو نو د بدن مبارک يا د خولې په خوشبويي سره به په ټوله لاره کي خوشبويي پورته کېدل، څوک چي به د رسول الله ﷺ وروسته پر هغه لار تېر سو نو هغه خاص خوشبويي به

يې محسوس كړل چي رسول الله ﷺ پر دغه لار تېر سوی دی او دغه خوشبويي به د رسول الله ﷺ د ذات مبارك وه نه دا چي د رسول الله ﷺ په جامو يا بدن باندي نوره وهل سوې خوشبويي.

د رسول الله ﷺ بدن د لمر په څېر وو

﴿۵۵۴۵﴾: وَعَنْ أَبِي عُبَيْدَةَ بْنِ مُحَمَّدِ بن عمار بْنِ يَاسِرٍ قَالَ قُلْتُ لِلرَّبِيْعِ بِنْتِ مَعُوِّذِ بْنِ عَفْرَاءَ صِفِي لِنَا رَسُوْلَ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ قَالَتْ يَا بُنَيَّ لَوْ رَأَيْتَهُ رَأَيْتَ الشَّمْسَ طَالِعَةً. رواه الدارمي.

د حضرت ابوعبيده بن محمد بن عمار بن ياسر رضي الله عنه څخه روايت دی چي ما بي بي ربيع بنت مسعود بن عفراء ته وويل: ته مو رته د رسول الله ﷺ صفت بيان كړه، هغې وويل: زويه! كه تا رسول الله ﷺ ليدلی وای نو ويلي به دي وای چي لمر راختلی دی، دارمي

تخريج: سنن الدارمي ۱\ ۴۴، رقم: ۶۰.

تشريح: مطلب دادی چي د رسول الله ﷺ داسي دبدبه او جلال وو او د رسول الله ﷺ وجود مبارك دومره له نوره ډك وو چي رسول الله ﷺ ته كتل لكه څلانده لمر ته كتل داسي وه.

د سپوږمۍ څخه غوره

﴿۵۵۴۶﴾: وَعَنْ جَابِرِ بْنِ سَمُرَةَ قَالَ رَأَيْتُ رَسُولَ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ فِي لَيْلَةٍ إِضْحِيَانٍ فَجَعَلْتُ أَنْظُرُ إِلَى رَسُولِ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ وَإِلَى الْقَمَرِ وَعَلَيْهِ حُلَّةٌ حَمْرَاءُ فَإِذَا هُوَ عِنْدِي أَحْسَنُ مِنَ الْقَمَرِ. رواه الترمذي.

د حضرت جابر بن سمره رضي الله عنه څخه روايت دی چي ما رسول الله ﷺ وليدی د سپوږمۍ په شپه كله به مي سپوږمۍ ته كتل او كله به مي رسول الله ﷺ ته كتل، دغه وخت رسول الله ﷺ سره جامه اغوستې وه او ما ته د رسول الله ﷺ حسن او ښكلا تر سپوږمۍ ښكلې معلوميده. ترمذي او دارمي

تخريج: سنن الترمذي ۵\ ۱۰۹، رقم: ۲۸۱۱، والدارمي ۱\ ۴۴، رقم: ۵۷.

لغاتو حل: اِضحيان: اي مقمرة من اولها الى اخرها. (سر تر پايه سپوږمۍ)

تشریح: د رسول الله ﷺ ښکلا ته د سپوږمۍ څخه زيات ځکه ويل سوي دي چي سپوږمۍ خو د يو خاص نوعيت صرف ظاهري حسن لري حال دا چي د رسول الله ﷺ پر ذات مبارک باندي د ظاهري حسن او ښکلا څخه ماسوا د بې مثاله حسن او ښکلا عکس هم وو ، پاته سوه دا خبره چي حضرت جابر رضی الله عنه د رسول الله ﷺ د ښکلا اظهار د (زما په نزد) په الفاظو سره ولي مقيد کړ، نو ددې مقصد د دې څخه ماسوا بل هيڅ نه وو چي هغه د خپل ذاتي جذباتو او ميني اظهار وکړ ، په حقيقت کي حضرت جابر رضی الله عنه نه بلکه د ټولو انسانانو په نزد د رسول الله ﷺ ښکلا د سپوږمۍ تر ښکلا زياته وه .

د رسول الله ﷺ تگ

﴿۵۵۴۷﴾: وَعَنْ أَبِي هُرَيْرَةَ قَالَ مَا رَأَيْتُ شَيْئًا أَحْسَنَ مِنْ رَسُولِ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ

د حضرت ابو هريره رضی الله عنه څخه روايت دی چي ما تر رسول الله ﷺ ښکلی هيڅ شی نه دی ليدلی

عَلَيْهِ وَسَلَّمَ كَأَنَّ الشَّمْسَ تَجْرِي فِي وَجْهِهِ وَمَا رَأَيْتُ أَحَدًا أَسْرَعَ فِي مِشْيَتِهِ

لکه لمر چي د رسول الله ﷺ په مبارک مخ کي جاري وو او نه ما د رسول الله ﷺ څخه تيز تگ کونکی څوک ليدلی دی گويا مځکه د رسول الله ﷺ لپاره را ټوله سوې وه،

مِنْ رَسُولِ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ كَأَنَّمَا الْأَرْضُ تُطْوَى لَهُ إِنَّا لَنُجْهِدُ أَنْفُسَنَا وَإِنَّهُ لَغَيْرُ مُكْتَرِثٍ. رواه الترمذي.

موږ به د رسول الله ﷺ سره د تلو کوښښ کوی مگر رسول الله ﷺ به په بې پرواهۍ (يعني عادي تگ) سره تلی . ترمذي.

تخريج: سنن الترمذي ۵\۵۶۳، رقم: ۳۶۴۸.

تشریح: موږ به د رسول الله ﷺ سره د تلو کوښښ کوئ ... الخ: د دغه جملې په ذريعه حضرت ابو هريره رضی الله عنه دې ته اشاره وکړل چي کله موږ له رسول الله ﷺ سره پر لاره تللو نو موږ به په پوره هڅه او کوښښ سره خپل تگ زياتوی او رسول الله ﷺ ته رسېدل موغو ښتل مگر رسول الله ﷺ به بېله تکلف کولو په خپل معمولي تگ سره تر ټولو مخکي وو ، دا د رسول الله ﷺ معجزه وه چي نور خلک به په ځغاسته هم د رسول الله ﷺ د معمولي تگ برابر نه وه .

د رسول الله ﷺ پنډۍ، سترګې او مسکا

﴿۵۵۴۸﴾: وَعَنْ جَابِرِ بْنِ سَمُرَةَ قَالَ كَانَ فِي سَاقَيْ رَسُولِ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ حُمُوشَةٌ وَكَانَ لَا يَضْحَكُ إِلَّا تَبَسُّمًا وَكُنْتُ إِذَا نَظَرْتُ إِلَيْهِ قُلْتُ أَكْحَلُ الْعَيْنَيْنِ وَلَيْسَ بِأَكْحَلَ. رواه الترمذي.

د حضرت جابر بن سمره رضی الله عنه څخه روایت دی چي د رسول الله ﷺ پونډۍ مبارکي نرمي او نازکي وې، هیڅکله به يې په قهقهه نه خندل بلکه په مسکا سره به يې خندل، کله چي به ما رسول الله ﷺ ته وکتل نو په خپل زړه کي به مي ویل چي رسول الله ﷺ رانجه په سترګو کي اچولي دي حال دا چي رسول الله ﷺ به رانجه په سترګو کي نه وه اچولي . ترمذي.

تخريج: سنن الترمذي ۵\۵۶۲، رقم: ۳۶۴۵.

د لغاتو حل: حُموشة: ای دقة ولطافة مناسبة لسائر اعضائه. (د ټولو اندامونو نرموالی)

تشريح: مطلب دادی چي د رسول الله ﷺ سترګي مبارکي په حقیقت کي د توروالي په وجه ډېري ښکلي معلومېدلې.

بسان سرمه سیه کرده خانه مردم
دوچشم تو که سیاه اند سرمه ناکرده

اَلْفَصْلُ الثَّالِث (دریم فصل)

د رسول الله ﷺ غاښونه مبارک

﴿۵۵۴۹﴾: عَنِ ابْنِ عَبَّاسٍ قَالَ كَانَ رَسُولُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ أَفْلَجَ الثَّنِيَّتَيْنِ إِذَا تَكَلَّمَ رُئِيَ كَالنُّورِ يَخْرُجُ مِنْ بَيْنِ ثَنَايَاهُ. رواه الدارمي.

د ابن عباس رضی الله عنه څخه روایت دی چي د رسول الله ﷺ مخکني دوه غاښونه مبارک پراخ وه چي خبري به يې کولې نو داسي به محسوس کېدل چي د دواړو مبارکو غاښو څخه يې نور وځي. دارمي

تخريج: سنن الدارمي ۱\۴۴، رقم: ۵۸.

د لغاتو حل: افلج: تباعد ما بين الاسنان (د غاښونو په منځ کي فاصله)

تشريح: مخامخ سربېره او لاندي دوو غاښو ته په عربي کي ثنيان او ثنايا وايي، ثنيان تثنيه ده او ثنايا جمع ده، همدارنګه د دغه دواړو غاښو راسته او چپه خوا ته چي کوم دوه غاښونه دي

هغه ته رباعيات وايي، د حديث څخه معلومه سول چي د رسول الله ﷺ د مخ دوه غاښونه د يو بل سره موښتي نه وه بلکه د دواړو په منځ کي خالي ځای وو ، او د حديث د الفاظو څخه دا هم مفهوم کيږي چي دغه خالي ځای يوازي په سربېره غاښو کي نه وو بلکه د لاندي په غاښو کي هم وو .

د خوښي د اظهار طريقه

﴿۵۵۵۰﴾: وَعَنْ كَعْبِ بْنِ مَالِكٍ قَالَ كَانَ رَسُولُ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ إِذَا سُرَّ اسْتَنَارَ وَجْهُهُ حَتَّى كَأَنَّ وجهه قِطْعَةُ قَمَرٍ وَكُنَّا نَعْرِفُ ذٰلِكَ. متفق عليه.

د حضرت کعب بن مالک رضي الله عنه څخه روايت دی چي کله به پر رسول الله ﷺ د يو خوشحالۍ حالت راغلی نو مخ مبارک به يې داسي معلوميدی لکه د سپوږمۍ ټوټه او موږ ددې څخه خبر وو . بخاري او مسلم

تخريج: صحيح البخاري (فتح الباري): ٦\٥٦٥، رقم: ٣٥٥٦، ومسلم ۴\ ۲۱۲۰، رقم: ۵۳- ۲۷۶۹.

د لغاتو حل: ولوا: من ولي الامر يليه، اى كونوا والي امر اخيكم.

تشريح: د حديث د آخري الفاظو مطلب دادی چي د رسول الله ﷺ د مخ مبارک تازګي او ځلا په لېدو سره به سړی پوهيدی چي دغه وخت رسول الله ﷺ ډېر خوشحاله دی او د رسول الله ﷺ د خوشحالۍ او مسرت دغه علامه به پر مخ مبارک داسي څرګنده وه چي هغه وخت به يوازي زه نه بلکه ټول خلک په دې خبره پوهېدل .

په تورات کي د نبي ﷺ صفت

﴿۵۵۵۱﴾: وَعَنْ أَنَسٍ أَنَّ غُلَامًا يَهُودِيًا كَانَ يَخْدِمُ النَّبِيَّ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ

د حضرت انس رضي الله عنه څخه روايت دی چي يو يهودي هلک به د رسول الله ﷺ خدمت کوی ،

فَمَرِضَ فَأَتَاهُ النَّبِيُّ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ يَعُودُهُ فَوَجَدَ أَبَاهُ عِنْدَ رَأْسِهِ يَقْرَأُ

يو وار هغه هلک ناروغ سو نو رسول الله ﷺ د هغه پوښتني ته ورغلی ، رسول الله ﷺ وليدل چي د هغه هلک پلار د هغه سر ته ناست دی

التَّوْرَاةَ فَقَالَ لَهُ رَسُولُ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ يَا يَهُودِيُّ أُنْشِدُكَ بِاللّٰهِ الَّذِي

تورات وايي ، رسول الله ﷺ د هغه پلار ته وفرمايل : اې يهودي ! زه په خدای جل جلاله سره قسم

أَنْزَلَ التَّوْرَاةَ عَلٰى مُوْسٰى هَلْ تَجِدُ فِي التَّوْرَاةِ نَعْتِيْ وَصِفَتِيْ وَمَخْرَجِيْ قَالَ لاَ قَالَ

درکوم چي هغه پر موسی علیه السلام تورات نازل کړی دی ایا ته په تورات کي زما د صفتونو او زما د پیدا کیدو حال هم وینې ، هغه وویل :یا ، هغه هلک وویل :

الْفَتٰى بَلٰى وَاللهِ يَا رَسُوْلَ اللهِ إِنَّا نَجِدُ لَكَ فِي التَّوْرَاةِ نَعْتَكَ وَصِفَتَكَ وَمَخْرَجَكَ

هو قسم په خدای اې دالله رسوله ! موږ ستاسو صفات ستاسو اوصاف او ستاسو د پیداکیدو حال په تورات کي وینو

وَإِنِّيْ أَشْهَدُ أَنْ لاَّ إِلٰهَ إِلاَّ اللهُ وَأَنَّكَ رَسُوْلُ اللهِ فَقَالَ النَّبِيُّ ﷺ لِأَصْحَابِهِ أَقِيْمُوْا هٰذَا مِنْ عِنْدِ رَأْسِهِ وَلُوْا أَخَاكُمْ . رواه البيهقي في دلائل النبوة.

او زه ددې شاهدي او اعتراف کوم چي د الله جل جلاله څخه ماسیوا بل څوک د عبادت وړ نه سته او تاسو د الله تعالی ربښتونی رسول یاست ، د دې اوریدو سره رسول الله ﷺ صحابه کرامو ته وفرمایل دده پلار دده د سر څخه ولاړ کړئ او تاسو د خپل وررور والي او ساتونکي جوړ سئ. بیهقي

تخریج: رواه البيهقي في دلائل النبوة.

تشریح: زما د وتلو، یو مطلب خو د هیواد یعني مکې څخه په هجرت کولو مدینې ته راتلل دي او دا هم کیدای سي چي لفظ د مخرج دلته د بعث په معنی کي وي.

د نعت او صفت په لغوي توګه یوه معنی ده ، یوازي دا فرق دی چي دلته د نعت څخه مراد د رسول الله ﷺ ذاتي او باطني اوصاف دي او د صفت څخه ظاهري اوصاف مراد دي.

د رسول الله ﷺ بعثت د الله جل جلاله د رحمت ظهور دی

﴿۵۵۵۲﴾: وَعَنْ أَبِيْ هُرَيْرَةَ عَنِ النَّبِيِّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ أَنَّهُ قَالَ إِنَّمَا أَنَا رَحْمَةٌ مُّهْدَاةٌ. رواه الدارمي والبيهقي في شعب الإيمان.

د حضرت ابوهریره رضی الله عنه څخه روایت دئ چي رسول الله ﷺ وفرمایل : زه د الله جل جلاله رالیږل سوی رحمت یم. دارمي او بیهقي.

تخریج: سنن الدارمي ۱\۲۱، رقم: ۱۵. والبيهقي في شعب الايمان ۲\۱۶۴، رقم: ۱۴۴۶.

تشریح: د رسول الله ﷺ ددغه وینا مطلب دادی چي زما وجود ، زما رسالت او زما راوړی دین

د الله ﷻ هغه عظیم رحمت دی چي هغه د ټولو کائناتو لپاره د تحفې په توګه دنیا ته را واستوی، کومو خلګو چي د الله ﷻ دغه تحفه قبوله کړل نو هغوئ کامیاب سول او چا چي قبوله نه کړل نو هغوئ په تاوان کي پاته سول، دغه ارشاد د مضمون په اعتبار د قرآن کریم د دغه الفاظو عکس دی :

وما ارسلناک الا رحمة للعالمين .

ژباړه: (اې محمد ﷺ!) موږ تاسو د ټولي نړۍ لپاره رحمت را لېږلي یاست .

د دغه حدیث څخه د امت محمدي عظمت او کرامت څرګندیږي ځکه چي شاهي تحفه هغه خلکو ته ورکول کیږي چي باعظمته او باکرامته وي .

==========

بَابُ فِيْ اَخْلاَقِهِ وَشِمَائِلِهِ ﷺ

(د رسول الله ﷺ د اخلاقو او عاداتو بیان)

اخلاق د خُلق جمع ده او معنی يې د طبعي خصلت او باطني وصف ده، او همدارنګه شمائل د شمال جمع ده چي معنی يې د عادت او خوی ده، په تېر سوي باب کي د کتاب مؤلف د رسول الله ﷺ د ظاهري شکل او صورت سره اړوند حدیثونه نقل کړل چي هغه ته صورت او خلق ويل کیږي، اوس د دغه باب په قائمولو سره هغه حدیثونه نقل کړل سوي دي چي په هغو کي د رسول الله ﷺ باطني اوصاف او خصائل ذکر سوي دي، چي هغه په سیرت او اخلاق سره تعبیر کیږي، د باطني اوصافو یا سیرت او خلق څخه مراد مهربانه، شجاعت، سخاوت، نرمي، مینه، تحمل، تواضع، رحم، کرم، شرم، حیاء او داسي نور دي .

اَلْفَصْلُ الْأَوَّلُ (لومړی فصل)

بې مثله اخلاق

﴿۵۵۵۳﴾: عَنْ اَنَسٍ قَالَ خَدَمْتُ النَّبِيَّ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ عَشْرَ سِنِينَ فَمَا قَالَ لِي أُفٍّ وَلَا لِمَ صَنَعْتَ وَلَا أَلَّا صَنَعْتَ. متفق عليه.

د حضرت انس رضي الله عنه څخه روایت دی چي ما لس کاله د رسول الله ﷺ خدمت وکړ، رسول الله ﷺ

هيڅکله ما ته اُف هم نه دي کړي او نه يې هيڅکله دا وفرمايل چي تا دا کار ولي وکړ او يا دا کار دي ولي ونه کړ. بخاري او مسلم

تخريج: صحيح البخاري (فتح الباري): ۱۰\۴۵۶، رقم: ۶۰۲۸، ومسلم ۴\۱۸۰۴، رقم: ۵۱- ۲۳۰۹.

تشريح: د مسلم په روايت کي د نهه کالو الفاظ دي، په هرحال رسول الله ﷺ چي د مکې څخه هجرت وفرمايه او مدينې ته ولاړی نو هغه وخت د حضرت انس رضي الله عنه عمر سره له اختلافه اته کاله يا لس کاله وو، د هغه مور بي بي او د هغه ځيني قريبان چي د انصارو څخه وه، هغه يې رسول الله ﷺ ته راوست او د رسول الله ﷺ په خدمت کي يې ورکړ، حضرت انس رضي الله عنه د هغه ورځي څخه تر دغه وخته پوري چي رسول الله ﷺ په مدينه منوره کي د لسو کالو هستوګني څخه وروسته له دنيا څخه رخصت سو، د رسول الله ﷺ پرله پسې خدمت يې کوی، او په دغه حديث کي هغه د رسول الله ﷺ سره د اوږده وخت د خدمت اړوند تجربه بيانوي چي رسول الله ﷺ په دغه وخت کي زما پر غلطۍ او کوتاهۍ باندي رټل خو پرېږده پر يوه خبره يې اف هم نه دي راکړي، اُف د الف په پېښ او د فاء په تشديد او زير سره دی، په يوه نسخه کي په تنوين مکسوره سره دی، دغه لفظ د انسان د ژبي څخه هغه وخت راوځي کله چي د يو ناخوښه يا تکليف ورکونکي صورت سره مخامخ سي.

تا دا کار ولي وکړ .... الخ: ددغه جملې په ذريعه هم حضرت انس رضي الله عنه د رسول الله ﷺ ښه چلن او اخلاق بيان کړل چي په دغه اوږده وخت کي هيڅکله داسي ونه سول چي ما يو کار کړی وي او رسول الله ﷺ اعتراض پر کړی وي چي تا زما د خوښي څخه پرته دا کار ولي وکړ، يا رسول الله ﷺ ما ته د يو کار ويلي وي او ما هغه کار نه وي کړي او رسول الله ﷺ را څخه پوښتنه کړې وي چي تا دا کار ولي ونه کړ، مګر څرګنده دي وي چي حضرت انس رضي الله عنه دغه معامله او چلن د دنياوي امورو يا د ذاتي خدمت اړوند بيان کړي دي نه د ديني معاملاتو او کړنو په اړه، ځکه چي د يو ديني کار کولو يا نه کولو پر اعتراض باندي څه نه ويل روا نه دي.

طيبي رحمه الله عليه ليکلي دي: د حديث څخه خپله د حضرت انس رضي الله عنه ښېګڼه هم ظاهرېږي يا داسي به وو ايو چي حضرت انس رضي الله عنه هم خپل تعريف بيان کړی دی چي ما داسي هيڅ کار نه دی کړی چي رسول الله ﷺ زما پر کار اعتراض کړی وای او يا زما څخه يې شکايت کړی وي مګر دا خبره مناسبه نه معلوميږي، د حديث سياق او سباق او د حضرت انس رضي الله عنه د نبوي اخلاقو په اړه چي د کومو احساساتو اظهار کول غواړي د هغه سره سم د حديث اصل مفهوم هغه دی چي مخکي تېر سو.

شفقت او مروت

﴿۵۵۵۴﴾: وَعَنْهُ قَالَ كَانَ رَسُولُ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ مِنْ أَحْسَنِ النَّاسِ

د حضرت انس رضی اللہ عنہ څخه روايت دی چي رسول الله ﷺ د اخلاقو په اعتبار تر ټولو غوره وو،

خُلُقًا فَأَرْسَلَنِي يَوْمًا لِحَاجَةٍ فَقُلْتُ وَاللّٰهِ لَا أَذْهَبُ وَفِي نَفْسِي أَنْ أَذْهَبَ لِمَا

يوه ورځ يې زه په يو کار پسي لېږلم ما وويل قسم په خدای زه نه ځم، مګر زما اراده وه چي د هغه کار کولو لپاره چي

أَمَرَنِي بِهِ رسول الله صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ فَخَرَجْتُ حَتَّى أَمُرَّ عَلَى صِبْيَانٍ

د هغه حکم نبي ﷺ کړی وو ولاړ سم، بيا زه د کور څخه د باندي راووتم! و پر هغه هلکانو تير

وَهُمْ يَلْعَبُونَ فِي السُّوقِ فَإِذَا رَسُولُ اللّٰهِ ﷺ قَدْ قَبَضَ بِقَفَايَ مِنْ وَرَائِي قَالَ

سوم چي په بازار کي يې لوبي کولې، ناڅاپه د شا د خوا رسول الله ﷺ راغلی او زما څټ يې

فَنَظَرْتُ إِلَيْهِ وَهُوَ يَضْحَكُ فَقَالَ يَا أُنَيْسُ أَذَهَبْتَ حَيْثُ أَمَرْتُكَ قَالَ قُلْتُ

نَعَمْ أَنَا أَذْهَبُ يَا رَسُولَ اللّٰهِ. رواه مسلم

ونيوی ما چي شا ته وکتل نو رسول الله ﷺ مسکا کول، رسول الله ﷺ و فرمايل: اې انيسه! ايا ته په هغه کار پسي ولاړی چي ما درته ويلي وه ما وويل هو زه اوس ځم..مسلم

تخريج: صحيح مسلم ۴\۱۸۰۵، رقم: ۵۴- ۲۳۰۱.

د لغاتو حل: بقفاي: مؤخر العنق (څټ)

تشريح: حضرت انس رضی اللہ عنہ دغه پيښه د هغه زمانې بيان کړې ده چي د هغه د رسول الله ﷺ په خدمت کي د راتللو ډېر وخت نه وو سوی او تر اوسه د کم عمر وو، دا وجه ده چي رسول الله ﷺ هغه چيري استول غوښتل نو سره ددې چي د هغه اراده د رسول الله ﷺ د حکم د پر ځای کولو وه مګر د ماشومتوب په ناپوهي د هغه د ژبي څخه دا راووتل چي زه خو نه ځم، نو رسول الله ﷺ د هغه پر دې خبره د تاديب ضرورت محسوس نه کړ بلکه د هغه سره يې د خندا، نرمۍ او شفقت معامله وکړل.

أنيس د انس تصغير دی او رسول الله ﷺ د حضرت انس ﷛ اصلي نوم په انس سره د مخاطب کولو پر ځای د هغه نوم په تصغير (انيس) سره مخاطب کړ چي د هغه لپاره د رسول الله ﷺ د شفقت او محبت اظهار وو.

تحمل او خوش اخلاقي

﴿۵۵۵۵﴾: وَعَنْهُ قَالَ كُنْتُ أَمْشِي مَعَ رَسُولِ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ وَعَلَيْهِ

د حضرت انس ﷛ څخه روايت دی چي زه په رسول الله ﷺ پسي تر شا روان وم او رسول الله ﷺ

بُرْدٌ نَجْرَانِيٌّ غَلِيظُ الْحَاشِيَةِ فَأَدْرَكَهُ أَعْرَابِيٌّ فَجَبَذَهُ بِرِدَائِهِ جَبْذَةً شَدِيدَةً

د نجران څادر اچولی وو چي د هغه غاړه سخته وه، په لاره کي ورسره يو صحرايي يو ځای سو چي رسول الله ﷺ يې تر څادر ونيوی او دومره په سختي سره يې را کش کړ چي

ورجع نبي الله ﷺ في نجر الاعرابي حَتَّى نَظَرْتُ إِلَى صَفْحَةِ عَاتِقِ رَسُولِ اللَّهِ

نبي كريم ﷺ بې اختياره ور وګرځېدی، ما چي وليدل نو د رسول الله ﷺ د څادر څوکو په غاړه

صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ قَدْ أَثَّرَتْ بِهَا حَاشِيَةُ الْبُرْدِ مِنْ شِدَّةِ جَبْذَتِهِ ثُمَّ قَالَ يَا

کي تغمې کړې وې د ډېر زور څخه د څادر، بيا هغه صحرايي وويل اې محمد (ﷺ)! ستا سره

مُحَمَّدُ مُرْ لِي مِنْ مَالِ اللَّهِ الَّذِي عِنْدَكَ فَالْتَفَتَ إِلَيْهِ رَسُولُ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ ثُمَّ ضَحِكَ ثُمَّ أَمَرَ لَهُ بِعَطَاءٍ. متفق عليه

چي د الله تعالى مال دی د هغه څخه ما ته راکړه، رسول الله ﷺ هغه ته وکتل ورته وه يې خندل او بيا رسول الله ﷺ د يو څه ورکولو حکم وکړ. بخاري او مسلم.

تخريج: صحيح البخاري (فتح الباري): ٦\٢٥١، رقم: ٣١٤٩، ومسلم ٢\٧٣٠، رقم: ١٢٨- ١٠٥٧.

د لغاتو حل: عاتق: وهو موضع الرداء من المنكب. (د څادر څوکه)

تشريح: په يو بل روايت کي دي چي د (مال الله الذي عندک) څخه وروسته هغه صحرايي دا هم وويل: لامن مالک ولامن مال ابيک، يعني نه يې ستاسو د ذاتي مال څخه غوارم او نه يې ستاسو د پلار له مال څخه، او د الله ﷻ د مال څخه مراد د زکوة مال دی.

دغه حديث د خلكو پر سختو خبرو او بداخلاقۍ باندي د رسول الله ﷺ د تحمل او صبر دليل دى، په دې اړه د رسول الله ﷺ يو داسي كړنه وړاندي كوي چي د هغه هيڅ مثال نه سي بيان كېدلاى، ځركنده دي وي چي ذكر سوي صحرائي ډېر بداخلاقه او بې ادبه وو، هغه نه اخلاق او تهذيب زده كړي وه او نه د اخلاقو او ادب په مراتبو خبر وو ځكه هغه رسول الله ﷺ ته په دومره نامناسب انداز كي خپله غوښتنه ظاهره كړل.

ددغه حديث څخه يوه خبره خو دا معلومه سول چي د حاكم او مشر لپاره مستحب دي چي د خپل رعيت او ناپوهانو پر تكليف باندي صبر او تحمل وكړي او بله خبره دا چي د خپل حيثيت او د خپل وقار د ساتني لپاره چا ته څه وركول د پوهي تقاضا ده.

د رسول الله ﷺ اكمليت او جامعيت

﴿۵۵۵۶﴾: وَعَنْهُ قَالَ كَانَ رَسُولُ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ أَحْسَنَ النَّاسِ

د حضرت انس رضي الله عنه څخه روايت دى چي رسول الله ﷺ د حسن او ښكلا، فضل او كمال او د

وَأَجْوَدَ النَّاسِ وَأَشْجَعَ النَّاسِ قَالَ وَلَقَدْ فَزِعَ أَهْلُ الْمَدِينَةِ ذَاتَ لَيْلَةٍ فَانْطَلَقَ

صفات حميده په اعتبار په خلكو كي ډېر سخي، دلاور او شجاع وو، يوه شپه د مدينې خلك (د دښمنانو څخه) وبيريدل او پريشاني پكښي پيدا سوه،

النَّاسُ قِبَلَ الصَّوْتِ فَاسْتَقْبَلَهُمُ النَّبِيُّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ قَدْ سَبَقَ النَّاسَ

خلك د آواز په لوري روان سول نو نبي كريم ﷺ مخته ورته راغلى چي مخكي تر خلكو هلته

إِلَى الصَّوْتِ وَهُوَ يَقُولُ لَنْ تُرَاعُوا لَنْ تُرَاعُوا وَهُوَ عَلَى فَرَسٍ لِأَبِي طَلْحَةَ عُرْيٍ مَا عَلَيْهِ سَرْجٌ فِي عُنُقِهِ سَيْفٌ فَقَالَ لَقَدْ وَجَدْتُهُ بَحْرًا. متفق عليه.

تللى وو په اواز پسي او ويل يې مه بېرېږئ مه بېرېږئ. دغه وخت رسول الله ﷺ د ابوطلحه پر آس سپور وو او پر آس زين نه و او د رسول الله ﷺ په مباركه غاړه كي يې توره وه، رسول الله ﷺ وفرمايل: ما خو دا آس درياب وليدى. (يعني ډېر تيز مي وليدى). بخاري او مسلم.

تخريج: صحيح البخاري (فتح الباري): ۱۰\۴۵۵، رقم: ۶۰۳۳، ومسلم ۴\۱۸۰۲، رقم: ۴۸- ۲۳۰۷

د لغاتو حل: تراعوا: الفزع والخوف (بېره)

تشريح: په يوه روايت كي دا وضاحت هم دى چي آس ډېر سست او سركښه وو، مګر د هغه ورځي څخه وروسته هغه آس داسي تېز سو چي هيڅ آس د هغه څخه مخكي كيداى نه سو، نو دا د رسول الله ﷺ د معجزاتو څخه دي چي د هغه اس حالت د رسول الله ﷺ دلږ سپرتيا په بركت داسي بدل سو.

ددغه حديث څخه معلومه سول كه يوې خوا ته د ښمن ډېره محسوس كړل سي نو د صورت حال د تحقيق لپاره سبقت كول او هغه خوا ته يوازي روانېدل زړه توب هم دى او مستحب هم دي، په شرط ددې چي د هلاكت يقين نه وي همدارنګه د حديث څخه دا هم څرګنده سول چي په كرايه او استعارې سره غوښتل سوى آس باندي جهاد كول جائز دي او د توري په غاړه كول مستحب دي.

هيڅ كله يې سائل نه دى جواب كړى

﴿۵۵۵۷﴾: وَعَنْ جَابِرٍ قَالَ مَا سُئِلَ رَسُولُ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ شَيْئًا قَطُّ فَقَالَ لَا. متفق عليه.

د حضرت جابر ﷛ څخه روايت دى چي د رسول الله ﷺ څخه به يو شى وغوښتل سو نو انكار يې نه دى كړى (كه به شى ورسره وو وربه يې كړى او كه به نه وو ورسره سكوت به يې كوى). بخاري او مسلم.

تخريج: صحيح البخاري (فتح الباري): ۱۰\۴۵۵، رقم: ۶۰۳۴. ومسلم ۴\۱۸۰۵، رقم: ۵۶– ۲۳۱۱

تشريح: علامه ابن حجر ﷫ دا مطلب بيان كړى دى چي كله به يو سړي له رسول الله ﷺ څخه يو شى وغوښتى نو سمدستي به يې وركوى او كله چي به هغه شى نه وو او د غوښتونكي د سوال پر پوره كولو به قادر نه وو نو په دغه صورت كي به يې ښكاره انكار نه كوى بلكه پټه خوله به سو، او يا به يې په مناسبو الفاظو عذر بيانوى او يا به يې ددعاء په الفاظو ورته ويل، يعني رسول الله ﷺ به په هيڅ حالت كي پر خپله ژبه ښكاره د انكار الفاظ نه راوړل.

او شيخ عزالدين ليكلي دي: ددغه حديث مطلب دادى چي د لا (انكار) لفظ د رسول الله ﷺ پر ژبه هيڅكله نه دى راغلى چي يو چا له رسول الله ﷺ څخه يو شى غوښتى وي او رسول الله ﷺ د هغه سوال رد كړى وي، دا بېله خبره ده چي د سوال پوره كول د رسول الله ﷺ په توان كي نه وه او رسول الله ﷺ د عذر په بيانولو سره يا د بل مقصد لپاره د (لا احد ما احملكم عليه)

الفاظ ويلي دي، مشهور شاعر فرزدق د رسول الله ﷺ ددغه صفت په اړه په شعر كي داسي ويلي دي:

ما قال لا قط الا في تشهده　　　لو لا التشهد كانت لاؤه نعم.

همدغه مضمون د فارسي ژبي يو شاعر داسي بيان كړى دى:

نه رفت كلمه لا بر زبان او هر گز　　　مگر باشهدان لا اله الا الله

دوركړي او بخښي كمال

﴿۵۵۵۸﴾: وَعَنْ أَنَسٍ أَنَّ رَجُلًا سَأَلَ النَّبِيَّ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ غَنَمًا بَيْنَ جَبَلَيْنِ فَأَعْطَاهُ إِيَّاهُ فَأَتَى قَوْمَهُ فَقَالَ أَيْ قَوْمِ أَسْلِمُوا فَوَاللّٰهِ إِنَّ مُحَمَّدًا لَيُعْطِي عَطَاءً مَا يَخَافُ الْفَقْرَ. رواه مسلم.

د حضرت انس رضي الله عنه څخه روايت دى چي يو سړي د رسول الله ﷺ څخه دومره پسونه وغوښتل چي د دوو غرونو په منځ كي شيله ډكه كړي، رسول الله ﷺ ورته هغومره پسونه وركړل بيا هغه سړى خپل قوم ته راغلى او ورته وه يې ويل: مسلمانان سئ قسم په خداى محمد ﷺ دومره وركړه كوي چي د فقيرۍ څخه هم نه بيريږي. مسلم

تخريج: صحيح مسلم ۴\۱۸۰۶، رقم: ۵۸- ۲۳۱۲.

تشريح: كيداى سي د سوال كوونكي په گمان كي هم نه وو، چي د هغه دومره لوى سوال په دومره اسانه پوره كړل سي، كله چي رسول الله ﷺ په خپل تصرف كي موجود ټول پسونه وركړل او د هغه سوال يې پوره كړ نو هغه په تعجب كي سو چي رسول الله ﷺ د توكل او قناعت او استغناء كومه درجه باندي وو، هغه د هغه مذهب عكس كيداى سي چي د هغه رسول جوړولو سره رسول الله ﷺ دې دنيا ته را استول سوى دى ځكه هغه خپل قوم ته په ټللو سره مخلصانه تقلين وكړ كه چيري تاسو لوړ اخلاقي اقرار او د لوړ انساني كردار عظمت تر لاسه كول غواړئ نو د اسلام پيروان سئ او د محمد عربي ﷺ پيروان سئ چي د سائل سوال داسي پوره كوي چي د هغه سره څه وي د خپل ضرورت څخه په بې پروا كېدو سره ټول وركوي د خپل فقر او افلاس بېره هم هغه د سائل د طلب او خواهش پوره كولو څخه نه منع كوي.

هر چه آمدت بدست بدادي تو بيش ازان　　　اين جود آن كسي ست كش از فقر عار نيست

نبوي اخلاق

﴿۵۵۵۹﴾: وَعَنْ جُبَيْرِ بْنِ مُطْعِمٍ بَيْنَمَا هُوَ يَسِيرُ مَعَ رَسُولِ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ

د حضرت جبیر بن مطعم رضی اللہ عنہ څخه روایت دی چي د حنین د غزا څخه په راګرځېدو کي هغه د

وَسَلَّمَ مَقْفَلَهُ مِنْ حُنَيْنٍ فَعَلِقَهُ الاعراب يَسْأَلُونَهُ حَتَّى اضْطَرُّوهُ إِلَى سَمُرَةٍ

رسول الله ﷺ سره راتلی چي صحرایان په رسول الله ﷺ پسي ونښتل او د غنیمت مال يې غوښتی، رسول الله ﷺ يې تر دې پوري تنګ کړ چي رسول الله ﷺ يې د يو کيکر د درختي

فَخَطِفَتْ رِدَاءَهُ فَوَقَفَ النَّبِيُّ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ فَقَالَ أَعْطُونِي رِدَائِي لَوْ كَانَ

لاندي بوتلی، د کيکر د درختي سره د رسول الله ﷺ څادر ونښتی، نبي کريم ﷺ ودرېدی او وه يې فرمايل ما ته زما څادر راکړی که

لِي عَدَدُ هٰذِهِ الْعِضَاهِ نَعَمًا لَقَسَمْتُهُ بَيْنَكُمْ ثُمَّ لَا تَجِدُونِي بَخِيلًا وَلَا كَذُوبًا وَلَا جَبَانًا. رواه البخاري.

زما سره د دغه ازغو لرونکو درختو په اندازه حیوانان وای نو هغه به ما ستاسو د ټولو په منځ کي ويشلی وای هغه وخت به زه تاسو بخيل، دروغجن او بېرېدونکي (د فقر څخه) نه وای بللی. بخاري.

تخريج: صحيح البخاري (فتح الباري): ٦\٣٥، رقم: ٢٨٢١.

د لغاتو حل: مقفلة: اي عند رجوعه او وقت رجوعه (د ستنېدو وخت)

تشريح: د حنين غزا هغه مشهوره جګړه ده چي د مکې د فتح څخه سمدستي وروسته د طائف او مکې په منځ کي د پراته بنوهوازن، بنوثقيف او د هغوئ د حليفو قبائلو سره رامنځته سو، د دغه جګړې په پيل کي د څه پريشانۍ او تکليف وروسته مسلمانانو ته ستره کاميابي په برخه سول، د دښمن د شپږو زرو بنديانو څخه ماسوا د غنيمت په مال کي ۴۴ زره اوښان د ۴۴ زره څخه زيات پسونه او څلور زره اوقيه سپين زر د مسلمانانو لاس ته ورغلل، په دغه جګړه کي د مدينې لس زره مهاجرين او انصارو څخه ماسوا د مکې هغه دوه زره خلک هم شامل وه چي د مکې د فتح په وخت کي نوي په اسلام کي داخل سوي وه، رسول الله ﷺ د غنيمت ټول مال د جګړې ميدان ته نژدې د جعرانه په ځای کي د جمع کولو حکم وکړ او د هغه ځای څخه د طائف په

لور ولاړل، د طائف په فتح سره جعرانه ته راستانه سول او هلته يې د غنيمت د مال ويشل پيل كړل، زيات مال د زړه مائلولو لپاره د مكې مسلمانانو ته وركړل سو، نورو كسانو ته يې هم وركړ او يو سړي ته يې د هغه په غوښتنه زيات پسونه وركړل، دا هغه پېښه ده چې د هغه يادونه په تېر حديث كي وسول، همدارنګه كله چې رسول الله ﷺ د هغه ځای څخه روان سو نو ټول مال او سامان يې په ويشلو سره ختم كړی وو، پر مخ تللو باندي په لاره كي ځينو صحرايانو د رسول الله ﷺ څخه سوال وكړ نو رسول الله ﷺ د هغوئ سوال پوره نه كړ، يوې خوا ته دا مجبوري وه چي ټول مال او سامان د ختمېدو په وجه رسول الله ﷺ هغوئ ته څه نه سوو ركولای، بلې خوا ته په ځرګند انكار كولو سره د هغوئ د زړه ماتول يې هم خوښ نه وه مګر كله چې هغه خلك د رسول الله ﷺ د تنګولو او پريشانه كولو تر كوم حد پوري په رسول الله ﷺ پسي ولګېدل نو رسول الله ﷺ هغوئ ته ذكر سوې جمله وفرمايل، د هغې مطلب دا وو چي ستاسو د سوال نه پوره كولو حقيقي سبب دادی چي دغه وخت زما سره هيڅ نه دي پاته سوي، كوم مال او سامان چي زما سره وو هغه ټول مي وويشی او كه زما سره په دغه ځنګل كي ددغه ازغي لرونكو درختو په اندازه مال وای نو ما به ټول په تاسو كي ويشلی وای، هغه وخت به تاسو ته تجربه سوې وای چي زه نه بخيل يم چي مصرفول نه غواړم، نه دا خبره ده چي د خپل مال د ساتلو لپاره د دروا‌غو په دعوه كولو سره د غوښتونكو څخه ځان خلاصه كړم، او نه دا چي زه د كوچني زړه خاوند يم، او ددې بېري څخه تاسو ته څه دركول نه غواړم كه تاسو ته يې دركړم نو زما سره به څه پاته نه سي او خپله به زه په فقر او مسكنت كي اخته سم، خلاصه دا چي د بخل او درواغو هيڅ عادت په ما كي نسته، د رسول الله ﷺ په دغه ارشاد كي ددې خبرې دليل دی چي د باور پيدا كولو لپاره د نه پوهېدونكو په وړاندې د حميده صفتو په ذريعه دومره تعريف كول جائز دی.

د الله ﷻ پر مخلوق باندي شفقت او همدردي

﴿۵۵۶۰﴾: وَعَنْ أَنَسٍ قَالَ كَانَ رَسُولُ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ إِذَا صَلَّى الْغَدَاةَ جَاءَ خَدَمُ الْمَدِينَةِ بِآنِيَتِهِمْ فِيهَا الْمَاءُ فَمَا يَاتُون بِإِنَاءٍ إِلَّا غَمَسَ يَدَهُ فِيهَا فَرُبَّمَا جَاءُوهُ فِي الْغَدَاةِ الْبَارِدَةِ فَيَغْمِسُ يَدَهُ فِيهَا. رواه مسلم.

د حضرت انس رضی الله عنه څخه روايت دی چي رسول الله ﷺ د سهار دلمانځه څخه فارغ سو نو د مديني خادمان به د اوبو د لوښو سره حاضريدل، رسول الله ﷺ به د هر يوه په لوښي كي لاس

دننه کوی او په ډېريخ کي به هم سهار چي دوئ به لوښي راوړل نو رسول الله ﷺ به خپل لاس په دغه اوبو کي دننه کوی (لپاره د برکت). مسلم.

تخريج: صحيح مسلم ۱۸۱۲\۴، رقم: ۷۴- ۲۳۲۴.

تشريح: دغه حديث نه يوازي د رسول الله ﷺ شفقت، مينه او همدردي څرګندوي چي رسول الله ﷺ د خپل امت سره درلودل بلکه دا هم لاربنوونه کوي چي که د تکليف او پريشانۍ په زغملو سره د الله ﷻ مخلوق ته ګټه رسېدای سي نو بايد له هغه څخه بايد ځان منع نه کړل سي.

د غريبو او ستونزمنو سره معامله

﴿۵۵۶۱﴾: وَعَنْهُ قَالَ كَانَتْ أَمَةٌ مِنْ إِمَاءِ أَهْلِ الْمَدِيْنَةِ تَأْخُذُ بِيَدِ رَسُوْلِ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ فَتَنْطَلِقُ بِهِ حَيْثُ شَاءَتْ. رواه البخاري.

د حضرت انس رضي الله عنه څخه روايت دی چي د مديني والاوو يوه مينځه وه چي د رسول الله ﷺ لاس به يې نيوی او چيري چي به يې زړه غوښتل رسول الله ﷺ به يې بيوی. بخاري

تخريج: صحيح البخاري (فتح الباري): ۴۸۹\۱۰، رقم: ۶۰۷۲.

تشريح: مطلب دا که چيري هغه به ضرورت وګڼی نو رسول الله ﷺ به يې د مديني څخه د باندي ليري ځکه بوتلی چي هلته خپله پريشاني ورته بيان کړي او څه چي به يې ويل غوښتل هغه به يې ويل او اورېدل، ددې څخه اندازه لګيږي چي رسول الله ﷺ ته د خپل امت د خلکو سره تر دې چي د کښتني درجې د خلکو سره څومره مينه او تعلق وو او د تواضع او خاکسارۍ پر کوم لوړ مقام باندي وو.

﴿۵۵۶۲﴾: وَعَنْهُ أَنَّ امْرَأَةً كَانَ فِي عَقْلِهَا شَيْءٌ فَقَالَتْ يَا رَسُوْلَ اللهِ إِنَّ لِي

د حضرت انس رضي الله عنه څخه روايت دی چي يوه ښځه وه چي د هغې په عقل کي خلل وو (يعني دماغ يې سم نه وو) يوه ورځ هغې وويل اې دالله رسوله!

إِلَيْكَ حَاجَةً فَقَالَ يَا أُمَّ فُلَانٍ انْظُرِي أَيَّ السِّكَكِ شِئْتِ حَتَّى أَقْضِيَ لَكِ حَاجَتَكِ فَخَلَا مَعَهَا فِي بَعْضِ الطُّرُقِ حَتَّى فَرَغَتْ مِنْ حَاجَتِهَا. رواه مسلم.

ستاسو سره زما يو کار دی، رسول الله ﷺ ورته وفرمايل: د فلانۍ مور! کومي کوڅې ته چي

ته وايي درسره به ځم او ستا كار به كوم (يعني كومه پټه خبره چي ته كول غواړې زه به درسره سم) نو رسول الله ﷺ د هغې سره يو كوڅې ته تشريف يووړ او دهغې كار يې وكړ. مسلم.

تخريج: صحيح مسلم ۴\۱۸۱۲، رقم: ۷۶- ۲۳۲۶.

تشريح: دغه حديث هم د رسول الله ﷺ د سترو اخلاقو دليل دی چي رسول الله ﷺ نه يوازي دا چي هغه ناپوهي ښځي ته توجه ورکړل بلکه هغې چي چيري غوښتل د خپلي خبري اورولو لپاره رسول الله ﷺ بوتلی او ددغه جديث څخه معلومه سول چي د رسول الله ﷺ د هغه ښځي سره په يوه كوڅه كي يوازيوالی اختيارول په كور كي د ښځي سره د يوازيوالي اختيارولو په ډول نه وو ځكه چي په هغه كوڅه كي رسول الله ﷺ د هغه ښځي سره يوازي نه وو بلكه هغه خلک هلته موجوده د چا چي كورونه هلته وه مګر د ادب په لحاظ هغه خلک د هغه ځای څخه پر څه فاصله باندي ولاړ وه چيري چي رسول الله ﷺ د هغه ښځي خبره اورېدل.

د رسول الله ﷺ اوصاف حميده

﴿۵۵۶۳﴾: وَعَنْهُ قَالَ لَمْ يَكُنْ رسول الله صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ فَحَّاشًا وَلاسَبَّابًا وَلَا لَعَّانًا كَانَ يَقُولُ عِنْدَ الْمَعْتِبَةِ مَا لَهُ تَرِبَ جَبِينُهُ. رواه البخاري

د حضرت انس رضی الله عنه څخه روايت دی چي رسول الله ﷺ نه فحش ويونكی ، نه لعنت كونكی او نه ښكنځل كونكی وو، كله چي به رسول الله ﷺ يو چا ته په غصه سو نو يوازي دومره به يې فرمايل: په ده څه سوي دي تندی دي يې په خاورو ولړل سي .بخاري

تخريج: صحيح البخاري (فتح الباري): ۱۰\۴۵۲، رقم: ۶۰۳۱،

د لغاتو حل: ترب: دعاء على المقول له بمعنى رغم انفک او سجد الله وجهک .

تشريح: د فحش اصل معنی په يوه خبره كي يا د يوې خبري په جواب وركولو كي تر حد زياتوب دي ، د دغه لفظ زيات استعمال په هغه كلام كي كيږي چي په هغه كي د جماع يا جماع سره اړوند خبرو څرګند ذكر وي لكه بې حياء او بې شرمه خلک چي د مور او پلار ښكنځل او بې حياء خبري كوي او اهل حياء او شريف خلک د داسي خبري پر ژبه راوړل خو پرېږده ، د هغه اورېدل هم نه زغمي بلكه هغوئ ته كه د داسي خبري كولو ضرورت پېښ سي نو هغه په اشاره او كنايه سره وايي تر دې چي د لويو او تشو بولو يادونه هم د قضاء حاجت په ډول مهذبو الفاظو كي د كنايې په توګه كوي ، همدارنګه د فحش لفظ د هري سختي خرابي ګناه، هر ډول خراب او

بد خصلت او د زنا لپاره هم استعماليږي.

د لعن لغوي معنی د شړلو، محروم كولو او بېكنځل كولو ده، د لعن يا لعنت نسبت كه الله ﷻ ته وي نو د هغه مطلب به دا وي چي د پروردگار د قرب څخه ليري كول او د خپل رحمت څخه محروم كول، او كه چيري د دغه لفظ نسبت بنده ته وي نو ددې څخه مراد بد ويل، د الله ﷻ د رحمت څخه ليري والي او د محرومۍ ښېرا كول دي، د مثال په توگه كه چيري دا وويل سي چي الله ﷻ لعنت پر وكړ، يا پر فلاني باندي د الله ﷻ لعنت نازل سو نو ددې مطلب به دا وي چي الله ﷻ هغه سړی د خپل قرب د مقام څخه ليري كړ او د خپل رحمت څخه يې محروم كړ، او كه دا وويل سي چي فلاني سړي لعنت وكړ يا فلاني سړي لعنت ولېږی نو ددې مطلب به دا وي چي هغه سړي د الله ﷻ د رحمت څخه د ليري والي او محرومۍ ښېرا وكړل.

څرگنده دي وي چي پر هغه چا د لعنت كول چي د لعنت مستحق نه وي سخته گناه ده او په وار وار لعنت كول كبيره گناه ده او د علماؤ پر دې خبره اتفاق دی چي پر يو لعين سړي باندي لعنت ويل حرام نه دي همدارنگه كه په بدۍ كي په اختہ خلكو باندي په مجموعي انداز كي لعنت وكړل سي د مثال په توگه دا وويل سي چي پر كافرانو يا ظالمانو يا سودخوړونكو دي د الله ﷻ لعنت وي نو دا حرام نه دي، په دې خبره بايد پوه سو چي د لعنت دوه ډولونه دي يو خو د الله ﷻ د رحمت او د جنت څخه محرومي او ليري والي او په هميشه عذاب او تباهۍ كي د اختہ كېدو ښېرا ده دغه ډول لعنت د كافرانو سره مخصوص دی او دوهم ډول دادی چي د الله ﷻ رحمت خاص، د هغه قرب او د سابقينو ددرجو څخه د محرومۍ ښېرا كول دي د دغه لعنت تعلق د گناه كارو او بدكارو سره دی، د لعنت د ډولونو په فكر كي ساتلو سره په دغه مسئله كي پيداكېدونكي ډېر سوالونه ليري كيږي.

د هغه تندی دي په خاورو سي، دغه جمله د ذلت او خواري څخه كنايه ده، مطلب دا چي د غصې او ناخوښۍ په وخت كي د رسول الله ﷺ له خوا چي كوم سخت رد عمل څرگندېدی نو هغه به دغه جمله وه چي دژبي مباركي څخه به يې وتل او په دې كي هم رسول الله ﷺ هغه سړي ته خطاب نه كوی چي د هغه د غصې او ناخوښۍ سبب به وو بلكه د هغه د ذات څخه په مخ اړولو سره به يې د غائب صيغه استعمالول، همدارنگه يوه جمله: د هغه پزه دي په خاورو سي، هم راځي چي په دغه معنی او محل كي به استعمالېدل مگر څرگنده دي وي چي دواړي جملې د متضادو معناوو محتمل دي لكه څرنگه چي دغه جمله پر ښېرا باندي په محمول كولو سره د ذلت او خوارۍ څخه كنايه ده همدارنگه دغه دواړي جملې پر دعاء باندي په محمول كولو سره

د عبادت او سجدې کولو څخه کنایه هم ورته ویل کیږي ځکه چې د عبادت او سجدي کونکي تندي او پزه په خاورو کیږي ، په دغه صورت کي ددغه جملو مفهوم به دا وي چې : سجد الله وجهک، الله ﷻ دي ستا مخ په خپل حضور کي پر سجده کړي .

دښمنانو ته به يې هم ښېرا نه کول

﴿۵۵۶۴﴾ : وَعَنْ أَبِي هُرَيْرَةَ قَالَ قِيلَ يَا رَسُولَ اللَّهِ ادْعُ عَلَى الْمُشْرِكِينَ قَالَ إِنِّي لَمْ أُبْعَثْ لَعَّانًا وَإِنَّمَا بُعِثْتُ رَحْمَةً. رواه مسلم.

د حضرت ابوهريره رضي الله عنه څخه روايت دی چي وويل سول اې دالله رسوله ! د كافرانو لپاره ښيرا وكړه ، رسول الله ﷺ ورته وفرمايل : زه د لعنت كولو لپاره نه يم راليږل سوی بلكه زه رحمت راليږل سوی يم. مسلم.

تخريج: صحيح مسلم ۴\۲۰۰۶، رقم: ۸۷- ۲۵۹۹.

تشريح: زه په رحمت گرځولو سره را لېږل سوی يم، دكافرانو په اړه ښېرا څرنگه كولای سم كه څه هم هغوئ زما دښمنان دي .

د مؤمنانو په اړه د رسول الله ﷺ رحمت كېدل خو څرگند دي، پاته سوه د كافرانو خبره نو دهغوئ په اړه رحمت كېدل په دې اعتبار دي چي د الله ﷻ دين او د هغه د رسول د سختي نافرماني ، سركښی او دښمنی سربېره محض د رسول الله ﷺ د بابركته وجود په باعث د هغوئ څخه ددنيا عذاب پورته كړل سوی دی لكه چي الله ﷻ فرمايي : (وكان ليعذبهم وانت فيهم) په داسي حالت كي چي تاسو په دوئ كي موجود ياست د الله ﷻ عذاب پر دوئ (په دنيا كي) نه نازلوي .

بلكه حقيقت خو دادی چي الله ﷻ د رسول الله ﷺ دغه بركت تر ژوند مبارك پوري محدود كړی نه دی بلكه د تل لپاره يې دا بركت باقي ساتلی دی او فيصله يې كړې ده چي د كلي استيصال عذاب به تر قيامته پوري نه نازليږي ، حال دا چي څومره تېر امتونه د خپلو پيغمبرانو د ښېرا په وجه په كلي توگه نيست او نابود سوي دي او دهغوئ هيڅ وجود هم پاته سوی نه دی .

طيبي رحمه الله ويلي دي: د رسول الله ﷺ ددغه ارشاد مطلب دادی چي زه ددې لپاره نه يم راغلی چي ځوک د الله ﷻ له حمت څخه ليري كړم بلكه دنيا ته زما د رالېږلو مقصد دادی چي زه د الله ﷻ نازل سوی هدايت ، خپل تعليمات او د خپل خلاقو په توان سره خلق الله د هغه رحمت

ته نژدې کړم ، په داسي صورت کي کله چي د چا په حق کي ښېرا کول يا پر چا لعنت کول زما د شان څخه ليري او زما د حال سره نامناسب دي نو زه د دغه کافرانو په اړه څرنګه ښېرا وکړم او څرنګه پر هغوئ لعنت ووايم .

د رسول الله ﷺ شرم او حياء

﴿۵۵۶۵﴾: وَعَنْ أَبِي سَعِيدٍ الْخُدْرِيِّ قَالَ كَانَ النَّبِيُّ ﷺ أَشَدَّ حَيَاءً مِنَ الْعَذْرَاءِ فِي خِدْرِهَا فَإِذَا راى شَيْئًا يكرهه عرفناه فِي وَجْهِهِ. متفق عليه.

د حضرت ابوسعيد خدري رضي الله عنه څخه روايت دی چي رسول الله ﷺ ډير حيادار ه وو ، د هغه پيغلي انجلۍ څخه هم زيات حيادار ه کو مه چي په پرده کي وي، او کله چي به يو خبره د رسول الله ﷺ د مزاج خلاف وه نو موږ به د رسول الله ﷺ د مخ څخه د هغوئ ناخوښي پېژندل . بخاري او مسلم

تخريج: صحيح البخاري (فتح الباري): ۱۰\۵۱۳، رقم: ۶۱۰۲، ومسلم ۴\۱۸۰۹، رقم: ۶۷- ۲۳۲۰.

تشريح: خدر، پردې ته وايي، (په پرده کي پيغله انجلۍ) دا په دې اعتبار ورته ويل سوي دي چي ځومره زيات شرم او حياء په هغه پيغله انجلۍ کي وي چي په پرده کي وي او د کور څخه دباندي قدم نه ايږدي او هغه پيغله انجلۍ له هغو څخه نه وي چي بې پردې وي او د کور څخه د باندي وځي .

د حديث د آخري برخي مطلب دادی چي کله به رسول الله ﷺ ته يوه داسي خبره پېښه سوه چي په طبعي توګه به ناخوښه وه يا د غير شرعي کېدو په وجه به د رسول الله ﷺ د مزاج خلاف وه نو د هغه د ناخوښۍ په اثر به د رسول الله ﷺ مخ مبارک سمدستي بدل سو او موږ په په هغه بدلون سره د رسول الله ﷺ ناخوښي محسول کول او د هغه د دفع هڅه مو کول نو د رسول الله ﷺ د مخ مبارک څخه به د ناخوښۍ اثر ختمېدی او دا به محسوس کېدل چي رسول الله ﷺ بالکل په غصه سوی نه وو ، مګر دا به په هغه صورت کي وو کله چي د هغه د مزاج خلاف خبري تعلق به د يو طبعي شي سره وو يا د يو داسي شرعي شي سره به وو چي د هغه کول به حرام او ناجائز نه وه بلکه مکروه به وه .

نووي رحمة الله عليه دا مطلب ليکلی دي چي کله به د طبيعت خلاف يوه خبره پېښه سول نو د حياء له کبله به رسول الله ﷺ د هغه د ناخوښۍ اظهار په ژبه سره نه کوی بلکه د هغه اثرات به د رسول الله ﷺ پر مخ ښکاره کېدل ، صحابه کرامو به د رسول الله ﷺ د مخ مبارک په بدلون سره د رسول

الله ﷺ ناخوښي او ناراضي محسوس کول.

ددغه حديث څخه نه يوازي دا چي د شرم او حياء فضيلت معلوم سو بلکه دا سبق هم تر لاسه کيږي چي دغه وصف په ځان کي زيات پيدا کول ضروري دي تر څو ددې په وجه د يو شرعي او انساني فرض په ادا کولو کي خنډ رامنځته نه سي او د يو ډول تاوان رامنځته کېدو بېره نه وي.

د رسول الله ﷺ خندا

﴿۵۵۶۶﴾: وَعَنْ عَائِشَةَ قَالَتْ مَا رَأَيْتُ النَّبِيَّ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ مُسْتَجْمِعًا قَطُّ ضَاحِكًا حَتّٰى أَرٰى مِنْهُ لَهَوَاتِهِ إِنَّمَا كَانَ يَتَبَسَّمُ. رواه البخاري.

د حضرت عائشې رضي الله عنها څخه روايت دی چي ما هيڅکله رسول الله ﷺ پر داسي خندا کولو نه دی ليدلی چي تالو مبارک يې ووينم ، رسول الله ﷺ چي به خندل نو يوازي تبسم به يې کوی . بخاري

تخريج: صحيح البخاري (فتح الباري): ۱۰\۵۰۴، رقم: ۶۰۹۲.

د لغاتو حل: مستجمعا: المعنى ما رايته ضاحكا كل الضحک بجميع الفم. (په ټوله خوله خندل)

تشريح: مطلب دادی چي څرنګه نور خلک په زوره خاندي او هغه وخت د هغوئ خوله دومره زياته خلاصه سي چي دننه وری، تالو او ستوني معلوميږي همدارنګه رسول الله ﷺ نه دي خندلي ، زيات وختونه به رسول الله ﷺ د خوشحالۍ او مسرت په وخت کي پر تبسم اکتفاء کول او کله ناکله به يې لږ خندل، ددې تفصيل مخکي ددغه موضوع سره اړوند باب کي تېر سوی دی.

د خبرو کولو انداز

﴿۵۵۶۷﴾: وَعَنْهَا قَالَتْ إِنَّ رَسُولَ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ لَمْ يَكُنْ يَسْرُدُ الْحَدِيثَ كَسَرْدِكُمْ كَانَ يُحَدِّثُ حَدِيثًا لَوْ عَدَّهُ الْعَادُّ لَأَحْصَاهُ. متفق عليه.

د حضرت عائشې رضي الله عنها څخه روايت دی چي رسول الله ﷺ به بې ترتيبه (پرله پسې) خبري نه کولې لکه څرنګه چي تاسو په خپل منځ کي خبري کوئ، رسول الله ﷺ به يوه يوه خبره بيله بيله کول، که يو چا به د رسول الله ﷺ جملې شمېرل غوښتل نو شميرلای به يې سوه. بخاري او مسلم.

تخريج: صحيح البخاري (فتح الباري): ۶\۵۶۷، رقم: ۳۵۶۸. ومسلم ۴\۱۹۴۰، رقم: ۱۶۰- ۲۴۹۳.

تشريح: معلومه سول چي د رسول الله ﷺ د خبرو اترو انداز او طرز ډېر عام فهمه او زړه

وړونکی وو، د ډېر مهذب، هوښيار او پوهو خلکو په ډول به رسول الله ﷺ په کراره کراره يوه يوه جمله په غوره لهجه کي ادا کول ، که چا به غوښتل چي د رسول الله ﷺ الفاظ او جملې وشمېري نو يقينا په اساني سره يې شمېرلای سول، د رسول الله ﷺ د خبرو انداز داسي نه وو لکه څرنګه چي د عامو خلکو وي چي خبري کوي نو پرله پسې او په تيزي سره ژبه چلوي ، په دغه تيزۍ کي نه د جملو ترتيب مناسب وي او نه د الفاظو ادا کول صفا وي چي په هغه سره مخاطب ته په پوهېدو کي ستونزه رامنځته کيږي .

﴿۵۵۶۸﴾: وَعَنِ الْأَسْوَدِ قَالَ سَأَلْتُ عَائِشَةَ مَا كَانَ النَّبِيُّ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ يَصْنَعُ فِي بَيْتِهِ قَالَتْ كَانَ يَكُونُ فِي مِهْنَةِ أَهْلِهِ يَعْنِي خِدْمَةَ أَهْلِهِ فَإِذَا حَضَرَتْ الصَّلَاةُ خَرَجَ إِلَى الصَّلَاةِ. رواه البخاري.

د حضرت اسود رضي الله عنه څخه روايت دی چي ما د بي بي عائشې رضي الله عنها څخه پوښتنه وکړه چي رسول الله ﷺ به په کور کي څه کول؟ هغې وويل د کور په کارو کي به يې مرسته راسره کول، يعني د خپل کور والاوو خدمت به يې کوی او کله چي به د لمانځه وخت سو نو لمانځه ته به تلی. بخاري

تخريج: صحيح البخاري (فتح الباري): ۱۲\۱۶۲، رقم: ۶۷۶.

تشريح: د مَهنة يا مِهنة معنی د خدمت کولو او کاروبارو کولو ده، خپله بي بي عائشې رضي الله عنها د دغه لفظ وضاحت وفرمايه چي ددې څخه مراد د کورنۍ خدمت کول او د کور په چارو کي لګېدل دي لکه د ميږي شېدې لويشل، څپلۍ سمول ، د جامو ګنډل او داسي نور، ددې څخه معلومه سول چي د کور کار کول او د کورنۍ مرسته کول د انبياؤ سنت او د صالحينو طريقه ده،

د حديث راوي حضرت اسود ، د سترو تابعينو څخه دی، نوموړي د نبوت زمانه تر لاسه کړې وه او د خلفاء اربعه رضي الله عنهم په زيارت مشرف سو ، د سترو صحابه کرامو څخه يې د حديثو د اورېدو شرف حاصل کړی دی، نوموړي لوی عابد، زاهد، نيک او متقي انسان وو، د اتيا حجونو او عمرو سعادت يې تر لاسه کړی دی ، د ژوند تر آخره پوري همېشه به يې روژې نيولې او هره شپه به يې دوه واره قرآن کريم ختم کوی، د لوړي درجې فقيه وو او ډېر زيات روايتونه يې نقل کړي دي .

ذاتي بدله نه اخيستل

﴿۵۵٦۹﴾: وَعَنْ عَائِشَةَ قَالَتْ مَا خُيِّرَ رَسُولُ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ بَيْنَ

د حضرت عائشې ﷺ څخه روايت دی چي کله به رسول الله ﷺ ته په

أَمْرَيْنِ قط إِلَّا أَخَذَ أَيْسَرَهُمَا مَا لَمْ يَكُنْ إِثْمًا فَإِنْ كَانَ إِثْمًا كَانَ أَبْعَدَ النَّاسِ

دوو کارونو کي د يو کار د اختيارولو موقع ورکړل سوه نو رسول الله ﷺ به په هغو کي آسانه کار اختيار روی، که هغه به گناه نه وه او که هغه کار به د گناه سبب وو نو رسول الله ﷺ به د هغه کار

مِنْهُ وَمَا انْتَقَمَ رَسُولُ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ لِنَفْسِهِ فِي شئ إِلَّا أَنْ تُنْتَهَكَ حُرْمَةُ اللّٰهِ فَيَنْتَقِمَ لِلّٰهِ بِهَا. متفق عليه.

څخه ډير ليري اوسيدی، او رسول الله ﷺ د خپل ذات لپاره هيڅکله په يوه خبره کي د چا څخه بدل نه دی اخيستی، البته که د الله ﷻ حرام کړی کار به چا وکړ نو رسول الله ﷺ به د الله ﷻ لپاره د هغه بدله اخيستل. بخاري او مسلم.

تخريج: صحيح البخاري (فتح الباري): ٦\٥٦٦، رقم: ٣٥٦٠، ومسلم ١٤\١٨١٣، رقم: ٧٧ – ٢٣٢٧.

تشريح: د دغه حديث په وضاحت کي علماؤ او شارحينو ليکلي دي چي د اختيار ورکولو تعلق د الله ﷻ څخه هم کيدای سي او د خلکو څخه هم، که د الله ﷻ له خوا د اختيار حاصلېدل مراد وي نو په دغه صورت کي دا سوال پيدا کيږي چي د رسول الله ﷺ معصوم عن الخطاء کېدل د نص څخه ثابت دي او يوې گناه ته د رسول الله ﷺ نسبت نه سي کيدای، ځکه چي د الله ﷻ له خوا رسول الله ﷺ ته د داسي دوو شيانو څخه د يوه خوښولو اختيار څرنگه ورکول کيدای سو چي په هغه کي يو شی د گناه سبب وي، د دغه سوال جواب دادی، په شرط د دې چي په هغه کي د گناه يو شی وي، دلته د گناه څخه مراد هغه شی دي چي خپله خو گناه نه وي مگر هغه په يوه درجه کي گناه ته د رسېدو احتمال ولري د مثال په توگه الله ﷻ رسول الله ﷺ ته اختيار ورکړی وو چي د دنياوي ژوند تېرولو لپاره د دنيا د خزانو څخه واخلي چي رسول الله ﷺ ته به ورکړل سي او که د ضرورت په اندازه پر روزۍ باندي قناعت وکړي، په دغه دواړو کي دوهم شی رسول الله ﷺ اختيار کړ او لومړی يې ځکه خوښ نه کړ که هم څه هم د دنيا مال او سامان د گناه شيان نه دي مگر د دې احتمال خامخا وي چي يو سړی په هغه کاروبار او معاملاتو کي داسي

اخته سي چي عبادت او ديني چارو ته توجه ورنه کړلای سي،

که د دغه حديث اطلاق د الله ﷻ له خوا پر اختيار باندي وکړل سي نو دا خبره بايد په ذهن کي وي چي د ګناه څخه مراد واقعي ګناه نه ده بلکه هغه شی مراد دی چي د ګناه احتمال ظاهرونکی وي او داسي شی خپله په ګناه کي نه شمېرل کيږي، د خلکو له خوا د اختيار تر لاسه کولو دوه صورتونه دي يو د کافرانو له خوا د اختيار تر لاسه کېدل مراد دي، په دې اړه بالکل څرګنده ده چي په دغه دوو شيانو کي يو شی د ګناه سبب خامخا وي او دوهم چي د مسلمانانو له خوا اختيار تر لاسه کېدل مراد وي نو په دغه صورت کي به د ګناه څخه مراد هغه شی وي چي د ګناه سبب ګرځي لکه د مجاهدې او اقتصاد (ميانه روی) په منځ کي اختيار تر لاسه کول، څرګنده ده چي مجاهده که څه هم خپله ګناه نه ده مګر په مجاهده کي دومره زياتوب او سختي کول چي هلاکت ته ورسيږي نو بيا مجاهده به ناجائز وي.

د الله ﷻ له خوا د اختيار تر لاسه کېدو يو صورت هغه هم مراد کېدای سي چي د هغه تعلق د رسول الله ﷺ سره نه وي بلکه د رسول الله ﷺ په واسطه د نورو سره وي، د مثال په توګه اختيار ورکړل سوی وي چي تاسو د خپل امت په اړه د فلانی ګناه په هغه دوو سزاوو کي يوه سزا خوښه کړئ نو رسول الله ﷺ به هغه سزا خوښول کوم چي به سپکه او اسانه وه، يا که ورته ويل سوي وای چي تاسو د خپل امت په حق کي د هغه دوو شيانو څخه يو شی خوښ کړي چي د سزا سبب نه وي، يا د مثال په توګه رسول الله ﷺ ته اختيار ورکړل سوی وي چي کوم کفار ستا تر واک لاندي راسي نو که هغوئ قتل کړئ او که په جزيه اخيستلو سره د هغوئ د ځان او مال ساتنه وکړئ، رسول الله ﷺ د جزيې صورت خوښ کړي، يا رسول الله ﷺ ته د الله ﷻ په حق کي اختيار ورکړل سوی وي چي د هغه په عبادت کي مجاهده خوښه کړي او يا ميانه روي، نو رسول الله ﷺ ميانه روي خوښه کړل.

د خپل ځان لپاره يې هيڅ بدله نه اخيستل، په دې اړه ابن حجر رحمة الله عليه ليکلي دي چي د دې څخه مراد دادی چي رسول الله ﷺ هيڅکله د يوې غلطۍ او جرم سزا د خپل ذاتي بدلې اخيستلو يا د خپل طبعي خواهش لپاره نه ورکول، په دغه وضاحت سره د رسول الله ﷺ پر هغه عمل سوال نه پيدا کيږي چي رسول الله ﷺ د ځينو خلکو د وژلو حکم وکړ چي رسول الله ﷺ ته يې سخت تکليفونه رسولي وي، هغوئ حرامي خبري کړي وي او د اسلام په دښمنۍ کي تر حد د تجاوز په سبب د الله ﷻ له خوا د سزا وړ ګرځېدلي وه.

رسول الله ﷺ هیڅکله څوک نه دي وهلي

﴿۵۵۷۰﴾: وَعَنْهَا قَالَتْ مَا ضَرَبَ رَسُولُ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ شَيْئًا قَطُّ

د حضرت عائشي ؓ څخه روايت دي چي رسول الله ﷺ د الله ﷻ په لار کي د جهاد کولو د حالت

بِيَدِهِ وَلَا امْرَأَةً وَلَا خَادِمًا إِلَّا أَنْ يُجَاهِدَ فِي سَبِيلِ اللّٰهِ وَمَا نِيلَ مِنْهُ شَيْءٌ

څخه پرته هیڅکله په خپل لاس سره څوک نه دي وهلي يعني نه ښځه او نه خادم، او هر کله چي به

قَطُّ فَيَنْتَقِمَ مِنْ صَاحِبِهِ إِلَّا أَنْ يُنْتَهَكَ شَيْءٌ مِنْ مَحَارِمِ اللّٰهِ فَيَنْتَقِمَ لِلّٰهِ عَزَّ وَجَلَّ. رواه مسلم

رسول الله ﷺ ته د يو چا څخه يو تکليف ورسيدی نو د هغه بدل به يې نه اخيستی مگر که يو چا به د الله ﷻ حرام کړي شی استعمال کړ يا منع کړل سوی کار به يې وکړ نو رسول الله ﷺ به خامخا هغه ته د الله ﷻ لپاره سزا ورکول. مسلم.

تخريج: صحيح مسلم: ۴\۱۸۱۴، رقم: ۷۹- ۲۳۲۸.

تشريح: د حديث په معني کي د د سړي قيد ځکه لګول سوی دی چي په ځينو ځايو کي د سپرلی د حيوانانو وهل منقول دي، د خادم اطلاق پر سړي او ښځه دواړو باندي کيږي او په دغه ارشاد کي د خادم او ښځي يادونه ځکه سوې ده چي په عامه توګه دغه دواړه په کمزور ګڼلو سره زيات وهل کيږي او د سړي په عام ژوند کي د دغه دواړو سره ډېر تعلق وي، د کورني معاملاتو ډېر انحصار پر دوئ وي او په دې وجه د هغوئ له خوا د غصې او ناراضي موقع زياته پېښيږي ځکه د دوئ دواړو په خاصه توګه ذکر کولو سره دې ته اشاره وفرمايل سول چي په دې اړه دغه دواړه بې ارزښته ونه ګڼل سي، داسي نه وي چي د دوئ دواړو د کمزوري او لاچارۍ څخه په فائده پورته کولو د هغوئ سره هر چلن روا وګڼل سي، او پر معمولي خبره باندي هغوئ وهل کيږي، که څه هم په ځينو حالاتو کي په نورو شرطو سره د هغوئ لږ څه وهل جائز دي مګر په دغه حالاتو کي هم د وهلو څخه ځان ساتل غوره ګرځول سوي دي، پر دغه مسئله باندي د اولاد د وهلو مسئله بايد قياس نه سي ځکه چي د هغوئ تاديب تر ټولو مقدم دی او په دې اړه د رعايت ګنجائش نسته، ددې وجه داده چي اولاد وهل د هغوئ د اصلاح لپاره وي او د غلام او ښځي وهلو تعلق زيات وختونه د نفس په غلطه تقاضا سره کيږي، د صحيح روزني او تربيې

لپاره د اولاد پر غلطۍ باندي وهل ښه خبره ده او د نفس پر تقاضا او غصې باندي د واک درلودلو لپاره له دغه دواړو (خادم او ښځي) سره د عفو او بخښني معامله کول غوره وګرځول سول.

ماسوا دهغه صورت څخه چي رسول الله ﷺ به د الله ﷻ په لاره کي جهاد کوی، د الله ﷻ په لاره کي جهاد د الله ﷻ له دښمنانو سره وي ځکه هغه وخت به رسول الله ﷺ دچا سره د عفو او بخښني معامله نه کول، د احد په غزا کي د خدای ﷻ دښمن، ابی ابن خلف رسول الله ﷺ په خپل لاس قتل کړ او دلته د الله ﷻ په لاره کي د جهاد اطلاق یوازي د الله ﷻ د دښمنانو پر وژلو باندي نه بلکه د شرعي حدودو پر ځای کول او د شرعي سزاوو جاري کول هم مراد دي.

اَلْفَصْلُ الثَّانِي (دوهم فصل)

د خادمانو سره چلن

﴿۵۵۷۱﴾: عَنْ أَنَسٍ قَالَ خَدَمْتُ رَسُوْلَ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ وَأَنَا ابْنُ

د حضرت انس رضی الله عنه څخه روایت دی چي ما د رسول الله ﷺ خدمت پیل کړی دی

ثَمَانَ سِنِيْنَ خَدَمْتُهُ عَشَرَ سِنِيْنَ فَمَا لَامَنِيْ عَلٰى شَيْءٍ قَطُّ أُتِيَ فِيْهِ عَلٰى يَدَيَّ

د اتو کالو د عمر څخه او لس کاله مي د رسول الله ﷺ خدمت کړی دی مګر رسول الله ﷺ هیڅکله زما د لاسه د یو شي په ضائع کیدو پر ما ملامتیا نه ده کړې

فَإِنْ لَامَنِيْ لَائِمٌ مِنْ أَهْلِهِ قَالَ دَعُوْهُ فَإِنَّهُ لَوْ قُضِيَ شَيْءٌ كَانَ . هٰذَا لَفْظُ الْمَصَابِيْحِ وَروى البيهقي في شعب الإيمان مع تغيير يسير.

او که د رسول الله ﷺ د کورو الاوو څخه به یو چا پر ما ملامتیا وکړه نو رسول الله ﷺ به فرمایل: پرېږدئ هر کله چي یو خبره کیدونکي وي هغه به ضرور کیږي. بیهقي.

تخريج: البغوي في المصابيح ۴\۵۷، رقم: ۴۵۳۸، والبيهقي في شعب الايمان ۱۱\۳۱۶، رقم: ۱۹۴.

تشريح: کومه خبره چي کېدونکي وي .... الخ: ددې مطلب دادی چي د یو شي ماتېدل او ضائع کېدل د قضاء او قدر الهي مطابق وي، که څه هم د هغه ظاهري سبب بل څه وي، که یو څوک د یو شي د ضائع کېدو ظاهري سبب ګرځي نو د هغه د ملامتیا هیڅ ګټه نسته، ددې سره سم په یو حدیث کي فرمایل سوي دي که د مینځي یا خادم په لاس لوښي مات سي نو هغه مه

وهئ ځکه چي د هر شي لپاره فناء ده او د هغه د پاته کېدو يو وخت تاکل سوی دی.

د رسول الله ﷺ اوصاف حميده

﴿۵۵۲﴾: وَعَنْ عَائِشَةَ قَالَتْ لَمْ يَكُنْ رَسُوْلُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ فَاحِشًا وَلَا مُتَفَحِّشًا وَلَا صَخَّابًا فِي الْأَسْوَاقِ وَلَا يَجْزِي بِالسَّيِّئَةِ السَّيِّئَةَ وَلَكِنْ يَعْفُو وَيَصْفَحُ. رواه الترمذي.

د حضرت عائشې ﷺ څخه روايت دی چي رسول الله ﷺ نه فحش ويونکی او نه يې په تکلف سره فحش ويل، او نه په بازارونو کي شور کونکی وو او نه به يې د بدی بدله په بدی سره اخيستل بلکه معافي او بخښنه به يې کول. ترمذي.

تخريج: سنن الترمذي ۴\ ۳۲۴، رقم: ۲۰۱٦.

په رسول الله ﷺ کي تواضع او انکساري

﴿۵۵۳﴾: وَعَنْ أَنَسٍ يُحَدِّثُ عَنِ النَّبِيِّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ أَنَّهُ كَانَ يَعُوْدُ

حضرت انس ﷺ به د رسول الله ﷺ صفات داسي بيانول چي رسول الله ﷺ به د ناروغ پوښتنه

الْمَرِيْضَ وَيَتْبَعُ الْجَنَازَةَ وَيُجِيبُ دَعْوَةَ الْمَمْلُوْكِ وَيَرْكَبُ الْحِمَارَ لَقَدْ رَأَيْتُهُ

کول، د جنازې سره به تلی، د مريي دعوت به يې قبلوی، پر خره به يې سپرلي کول،

يَوْمَ خَيْبَرَ عَلَى حِمَارٍ خِطَامُهُ لِيفٌ. رواه ابن ماجه والبيهقي في شعب الإيمان

د خيبر په ورځ ما رسول الله ﷺ پر يو خره سپور ليدلی دی چي د هغه مهار د خرماوو د پوست څخه وو. ابن ماجه او بيهقي.

تخريج: سنن ابن ماجه ۲\ ۱۳۹۸، رقم: ۴۱۷۸، والبيهقي في شعب الايمان ٦\ ۲۸۹، رقم: ۸۱۹۰.

د لغاتو حل: خطامه: ای زمامه (مهار)

تشريح: د مملوک څخه مراد هغه غلام دی چي د خپل مالک په اجازه به يې د رسول الله ﷺ مېلمستيا کول، د دې څخه ثابته سول چي کله رسول الله ﷺ د يو غلام مېلمستيا ردول نه

خوښول نو د یو آزاد سړي مېلمستیا خو به یې بالکل نه ده رد کړې.

په دغه حدیث کي چي د رسول الله ﷺ د کومو غوره صفتو ذکر سوی دی هغه ټول د رسول الله ﷺ پر خاکساری. تواضع او بېله فرقه له ټولو انسانانو سره د رسول الله ﷺ د میني او شفقت او د خپلي لوئي د اظهار او تکبر څخه پر پرهېز باندي دلالت کوي، د ضرورت په وخت کي یې د خره د سپرتیا څخه هم منع نه کول او په خاصه توګه د خیبر په ورځ چي د شان او شوکت د اظهار ورځ وه، پر خر سپرېدی، دا ددې خبري علامه ده چي په رسول الله ﷺ کي د پاچاهانو او شتمنو په ډول خویونه نه وه او نه رسول الله ﷺ تکلف او ظاهري لوړتیا ښکاره کول خوښول.

خپل څپلی به یې خپله ګنډلې

﴿۵۵۷۴﴾: وَعَنْ عَائِشَةَ قَالَتْ كَانَ رَسُولُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ يَخْصِفُ

د حضرت عائشې (رض) څخه روایت دی چي رسول الله ﷺ به خپل څپلی په خپله جوړولې،

نَعْلَهُ وَيَخِيطُ ثَوْبَهُ وَيَعْمَلُ فِيْ بَيْتِهِ كَمَا يَعْمَلُ أَحَدُكُمْ فِيْ بَيْتِهِ وَقَالَتْ كَانَ بَشَرًا مِنَ الْبَشَرِ يَفْلِيْ ثَوْبَهُ وَيَحْلُبُ شَاتَهُ وَيَخْدِمُ نَفْسَهُ. رواه الترمذي.

خپله جامه به یې په خپله ګنډل، او په خپل کور کي به یې داسي کار کوی لکه څرنګه چي تاسو په خپلو کورونو کي کار کوئ، او بي بي عائشې رضی الله عنها وویل: رسول الله ﷺ د خلکو څخه یو سړی وو په خپلو جامو کي به یې خپله کتل او د خپل میږي شیدې به یې په خپله لوېشلې او خپل کارونه به یې په خپله کول. ترمذي

تخریج: سنن الترمذي في الشمائل المحمدية ص: ۱۸۱، رقم: ۳۳۵.

تشریح: په خپلو جامو کي به یې کیکي خپله کتلې، د دې مطلب دادی چي خپلي جامې به یې خپله کتلې چي کیکي پکښي نه وي، نو دا خبره د دې خلاف نه ده چي په هغه کي راغلي دي چي رسول الله ﷺ به کیکو نه په تکلیف کوی، په مواهب لدنیه کي دي چي د رسول الله ﷺ په جامو یا بدن مبارک کي هیڅکله کیکي نه وې، همدارنګه امام فخر الدین رازي نقل کړي دي چي د رسول الله ﷺ پر بدن مبارک هیڅکله مچ نه دي کښېنستلی او نه غوماشي یا بل شی رسول الله ﷺ په تکلیف کړی دی.

رسول الله ﷺ همدارنګه یو انسان وو..... الخ: ددغه جملې په اړه طیبي رحمة الله علیه وایي چي بي بي عائشې رضی الله عنها دغه خبره د تمهید (مقدمې) په توګه وفرمایل چي د راتلونکي خبري

ځرګندول يې مقصد وو، کله چي بي بي عائشې ﷞ ولېدل او اورېدل چي کفار او مشرکين دا وايي که محمد ﷺ د الله ﷻ نبي او رسول واى نو خپله هستوګنه او طريقه به يې د عامو خلکو په ډول نه واى، يعني د هغه کفارو په نزد د الله ﷻ رسول بايد د هغه پاچا او مشر په ډول خپل ژوند تېر کړي چي د عامو خلکو د هستوګني او طريقو څخه پرهيز کوي، هغوئ په شان او شوکت سره اوسيږي او خپله لوئي ځرګندوي، د کفارو دغه خبره، قرآن کريم هم په دغه الفاظو سره نقل کړې ده: (مالهذا الرسول ياکل الطعام ويمشي في الاسواق)، په دغه رسول څه سوي دي چي د عامو خلکو په ډول خوراک کوي او په بازارونو کي ګرځي.

نو بي بي عائشې ﷞ د کفارو ددغه خيال او قول په ترديد کي وفرمايل چي رسول الله ﷺ د الله ﷻ د مخلوقاتو څخه يو مخلوق وو، او همدارنګه يو انسان وو لکه څرنګه چي د آدم ﷺ په اولاده کي نور انسانان دي، که په نورو انسانانو او رسول کي فرق واى نو دا چي الله ﷻ، رسول الله ﷺ د خپل رسالت او نبوت پر منصب مشرف کړ او رسول الله ﷺ يې د انسانيت په لوړو مرتبو مزين کړ او د اخلاقو او طريقو هغه ښېګڼه يې ورکړې ده چي په هغه سره د رسول الله ﷺ ذات مبارک د انسانيت د شرف او امتياز مظهر او نمونه وګرځيدی، لکه چي په قرآن کريم کي هم فرمايل سوي دي: (قل انما انا بشر مثلكم يوحى الي) اې پيغمبره! ته دوئ ته ووايه چي زه ستاسو په ډول يو انسان يم، يوازي دا فرق دی چي پر ما وحي نازليږي.

د ذاتي عظمت او انساني اخلاقو د لوړتيا تر دې لوی مثال به نه سي کيدای چي رسول الله ﷺ د شرف او مرتبې تر ټولو لوړ مقام باندي د مشرف کېدو سربېره د يو عام انسان په ډول ژوند تېروی او د الله ﷻ د عامو بندګانو په ډول په ډېره سادګي او خاکساري سره اوسېدی، د عامو خلکو سره د ګډون، د هغوئ په ډول اوسېدل، د هغوئ په ډول محنت او مشقت او د هغوئ سره د همدردۍ، او مرستي د رسول الله ﷺ د لوړو اخلاقو عکس هم وو او د رسول الله ﷺ په دغه عمل او کړنو کي د نورو خلکو لپاره دا تعليم او تلقين هم وو چي تواضع او خاکساري د انساني کردار لوړي وګڼل سي او د الله ﷻ پيغام او د هغه هدايت د هغه مخلوق ته د رسولو ذمه داري يو داسي منصب وګڼل سي چي د هغه د فرائضو په سرته رسولو کي د عوامي تړون څخه پرته ممکن نه ده او عوامي تعلق هغه وخت تر لاسه کيږي چي کله خپل نفس د خودبينۍ څخه په ايستلو سره او د ظاهري شان او شوکت څخه په پرهېز کولو سره خپل ځان د يو عام انسان په صورت کي وړاندي کړي.

﴿۵۵۷۵﴾: وَعَنْ خَارِجَةَ بْنِ زَيْدِ بْنِ ثَابِتٍ قَالَ دَخَلَ نَفَرٌ عَلٰى زَيْدِ بْنِ ثَابِتٍ

د حضرت خارجه بن زيد بن ثابت رضي الله عنه څخه روايت دی چې د خلکو یوه ډله زيد بن ثابت رضي الله عنه ته

فَقَالُوا لَهُ حَدِّثْنَا أَحَادِيْثَ رَسُوْلِ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ قَالَ كُنْتُ جَارَهُ

راغلل او هغه ته يې ووېل موږ ته د رسول الله ﷺ حديثونه بيان کړه ، زيد بن ثابت رضي الله عنه ووېل زه د

فَكَانَ إِذَا نَزَلَ عليه الْوَحْيُ بَعَثَ إِلَيَّ فَكَتَبْتُهُ لَهُ فَكَانَ إِذَا ذَكَرْنَا الدُّنْيَا ذَكَرَهَا

رسول الله ﷺ همسايه وم کله چې به پر رسول الله ﷺ باندې وحي راتلې نو زه به يې را غوښتلم ، زه به يې په خدمت کې حاضر سوم او وحي به مې ليکلې او د رسول الله ﷺ دا عادت وو چې کله

مَعَنَا وَإِذَا ذَكَرْنَا الْآخِرَةَ ذَكَرَهَا مَعَنَا وَإِذَا ذَكَرْنَا الطَّعَامَ ذَكَرَهُ مَعَنَا فَكُلُّ هٰذَا أُحَدِّثُكُمْ عَنْ رَّسُوْلِ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ . رواه الترمذي.

به موږ ددنيا ذکر کوی نو رسول الله ﷺ به هم زموږ سره ددنيا ذکر کوی او کله چې به موږ د آخرت ذکر کوی نو رسول الله ﷺ به هم زموږ سره د آخرت ذکر کوی او کله چې به موږ د خوراک او څښاک ذکر کوی نو رسول الله ﷺ به هم زموږ سره د خوراک او څښاک ذکر کوی او دا ټولي خبري زه د رسول الله ﷺ څخه درته بيان کوم . ترمذي.

تخريج: الترمذي في الشمائل المحمدية ص: ۱۸۲، رقم: ۳۳۶.

تشريح: زه د رسول الله ﷺ په همسايتوب کې اوسېدم.... الخ : ددغه جملې په ذريعه حضرت زيد رضي الله عنه دې ته اشاره وکړل چې ما ته په روحاني او بدني دواړه ډوله سره ډېر زيات قربت تر لاسه وو ، په دې اعتبار د رسول الله ﷺ د کورني او ټولنيز ژوند تفصيل او د رسول الله ﷺ د ورځني معاملاتو او حالاتو علم د نورو په نسبت ما ته ډېر زيات معلوم دی .

د حديث څخه معلومه سول چې د رسول الله ﷺ او عوامو په منځ کې ډېر ژور ټولنيز تعلق وو او رسول الله ﷺ د خپلو صحابه کرامو او ملګرو سره ډېر د خوشحالۍ او بې تکلفه تعلقات درلودل، رسول الله ﷺ به دهغوئ ټولنيز ژوند ، عملي بحث ، ديني خبرو او د هغوئ دنياوي معاملاتو او اخبار کې په مساوي توګه برخه اخيستل، چې د هغه تعلق به د ټولني مختلفو

احوالو ، پېښو او د خلکو د حقوقو او عاداتو سره وو، مګر دغه خبري اتري او په هغه کي د رسول الله ﷺ د ګډون تعلق به يوازي د هغه خبرو سره وو چي مذموم او مکروه به نه وې او کوم چي د مذموم او بدو خبرو تعلق دی نو دا نه سوه کيدای چي د رسول الله ﷺ په مجلس کي او د رسول الله ﷺ په مخکي د هغه يادونه راسي او نه په هغه ذکر او اذکارو کي د رسول الله ﷺ تصور کيدای سو ، نو دا حديث د دغه روايت خلاف نه دی : (انه صلی الله عليه وسلم کان يخزن لسانه الا فيما يعينه وان مجلسه علم) رسول الله ﷺ به خپله ژبه مبارکه خوندي کول پرته د هغه خبرو څخه چي ضروري وې ، يقينا د رسول الله ﷺ مجلس به يوازي علمي مجلس وو .

په دې کي شک نسته چي ډېر وار د دنياوي معاملاتو په ذکر سره ډير علمي، ټولنيز او ادبي ګټي هم تر لاسه کيږي نو په کوم مجلس کي چي داسي خبري وې چي د هغه څخه د ذکر سوو شيانو ګټي تر لاسه کيږي نو هغه مجلس به په علمي مجلس کي شمېرل کيږي او که د يو دنياوي معاملې سره اړوند د غير مذهبي خبرو په باره کي دا هم فرض کړل سي چي هغه د ذکر سوو ګټو څخه خالي وې نو په هغه صورت کي هغه خبري او په هغه کي د رسول الله ﷺ ګډون کول به پر جواز باندي محمول کړل سي، د هغه مطلب به دا وي چي رسول الله ﷺ به د خپلو صحابه کرامو سره په مباح کارو کي هم خبري اتري کولې چي صحابه کرام د هغه په جواز پوه سي او د بيان جواز لپاره په داسي خبرو کي برخه اخيستل پر رسول الله ﷺ واجب هم وه .

دا ټولي خبري تاسو ته د رسول الله ﷺ ښيم، حضرت زيد رضي الله عنه دغه خبره د حديث د صحيح او مستند کېدو لپاره وکړل او د حديث د روايت د شرطونو پوره کولو لپاره يې وکړ .

مصافحه او مواجهه

﴿۵۵۷۶﴾ : وَعَنْ أَنَسٍ اَنَّ رَسُوْلَ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ كَانَ إِذَا صَافَحَ الرَّجُلُ

د حضرت انس رضي الله عنه څخه روايت دی چي کله به رسول الله ﷺ د يو چا سره مصافحه (دلاس

لَمْ يَنْزِعْ يده من يده حتي يكون هو الذي ينزع يده وَلَا يَصْرِفُ وَجْهَهُ عَنْ

روغبړ) کوی نو خپل لاس به يې تر هغه وخته پوري نه بيل کوی تر څو پوري چي هغه سړي به خپل لاس نه وو بيل کړی، رسول الله ﷺ به تر هغه وخته پوري د هغه څخه مخ نه اړوی تر څو

وَجْهِهِ حتى يكون هو الذي يصرف وجهه عن وجهه وَلَمْ يُرَ مُقَدِّمًا

رُكْبَتَيْهِ بَيْنَ يَدَيْ جَلِيسٍ لَهُ. رواه الترمذي.

پوري چي هغه به مخ نه وو گرځولی، او رسول الله ﷺ مي هيڅکله په داسي حال کي نه دی ليدلی چي د خپل ملگري مخته دي يې پښې غزولي وي. ترمذي.

تخريج: سنن الترمذي ۴\۵۶۴، رقم: ۲۴۹۰.

تشريح: د رسول الله ﷺ دغه دوه صفتونه، چي تر څو پوري مصافحه کونکي به خپل لاس ايسته کړی نه وای او تر څو پوري چي هغه سړي به خپله د رسول الله ﷺ د مخ څخه آخوا سوی نه وای نو رسول الله ﷺ به هغه ته متوجه وو، او د هغه څخه به يې خپل مبارک نه اړوی، دا د رسول الله ﷺ پر لوړو اخلاقو او ډېر تحمل او خاکساری باندي دلالت کوي.

د رسول الله ﷺ په نزد دا خبره هم د مجلس د ادب خلاف وه چي خپل ځان ښکاره، غوره او لوی څرگندولو لپاره په مجلس کي د خپل برابر ناست سړي څخه په مخکي کېدو سره کښيني، کله چي به رسول الله ﷺ په يو مجلس کي ناست وو نو د ټولو سره به په يوه صف کي برابر کښېنستی او د خپلو پښو او زنگنو په مخکي کولو سره به نه کښېنستی لکه چي د مغرورو خلکو عادت وي، ځينو شارحينو ليکلي دي چي دد‍ې جملې مقصد دادی چي رسول الله ﷺ به د مجلس د ادابو رعايت په مهذبه طريقه باندي عمل او د اهل مجلس د تعظيم لپاره د خپلو زنگنو په درولو سره نه کښېنستی، او ځينو علماؤ دا ليکلي دي چي د رکبتين څخه مراد دواړي پښې دي او د هغه د مخکي کولو څخه مراد په مجلس کي د پښو غزول دي، په دغه صورت کي به مطلب دا وي چي رسول الله ﷺ د مجلس د ادابو په لحاظ ساتلو سره هيڅکله د چا په مخکي پښې نه غزولې، په هر حال په دغه حديث کي دامت لپاره دا ښوونه ده چي د رسول الله ﷺ په طريقه باندي په عمل کولو سره د هر مسلمان ورور تعظيم او تکريم کول ضروري دي که څه هم هغه په مرتبه کي دده څخه کم وي.

د سبا لپاره شيان نه جمع کول

﴿۵۵۷۷﴾: وَعَنْهُ أَنَّ رَسُوْلَ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ كَانَ لاَ يَدَّخِرُ شَيْئًا لِغَدٍ. رواه الترمذي.

د حضرت انس رضي الله عنه څخه روايت دی چي رسول الله ﷺ به د سبا لپاره هيڅ شی نه ذخيره کوی. ترمذي.

تخريج: سنن الترمذي ۴\۵۰۱، رقم: ۲۳۶۲.

پته خوله اوسیدل

﴿۵۵۷۸﴾: وَعَنْ جَابِرِ بْنِ سَمُرَةَ قَالَ كَانَ رَسُوْلُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ طَوِيْلَ الصَّمْتِ. رواه في شرح السنة.

د جابر بن سمره رضی الله عنه څخه روایت دی چي رسول الله ﷺ به زیات پته خوله اوسیدی. شرح السنه.

تخریج: البغوي في شرح السنة ۱۳\۲۵٦، رقم: ۳٦۹۵.

تشریح: مطلب دادی چي لږ خبري کول د رسول الله ﷺ صفت وو، که چیري یوه ضروري خبره به وه نو هغه به یې کول کنه نو پته خوله به وو.

بخاري، مسلم او نورو محدثینو یو روایت نقل کړی دی: من کان یؤمن بالله والیوم الاخر فلیقل خیر او لیسکت، څوک چي په الله جل جلاله او د اخرت په ورځ ایمان لري نو هغه باید د ژبي څخه د خیر خبره راوباسي او یا پته خوله سي.

حضرت ابوبکر صدیق رضی الله عنه به فرمایل: لیتني کنت اخرس الاعن ذکر الله، ارمان چي زه ګونګی وای مګر د الله جل جلاله د ذکر لپاره ویل راکړل سوي وای.

د رسول الله ﷺ د خبرو انداز

﴿۵۵۷۹﴾: وَعَنْ جَابِرٍ قَالَ كَانَ فِي كَلَامِ رَسُوْلِ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ تَرْتِيلٌ أَوْ تَرْسِيلٌ. رواه ابوداؤد.

د حضرت جابر رضی الله عنه څخه روایت دی چي کله به رسول الله ﷺ خبري کولې نو یوه یوه جمله به یې بیله بیله ادا کول او په کراره کراره به یې خبري کولې. ابوداؤد.

تخریج: سنن ابي داود ۵\۱۷۱، رقم: ۴۸۳۸.

د لغاتو حل: ترسیل: ای تمهیل في حدیثه (په خبرو کي ځنډ)

تشریح: د ترتیل او ترسیل دواړو یوه معنی ده، یعني د یو شي د ویلو په وخت کي یو یو حرف په ځرګنده ویل، ځینو حضراتو په دواړو الفاظو کي دا فرق بیان کړی دی چي د ترتیل معنی د هر حرف برابر ایستل او د ترسیل معنی په ویلو کي تلوار او تیزي نه کول دي بلکه په کراره کراره خبره کول دي، په ښکاره دا معلومیږي چي په دغه حدیث کي د ترتیل تعلق د رسول الله ﷺ د قرآن کریم د تلاوت سره دی او د ترسیل تعلق د رسول الله ﷺ د عامو خبرو سره دی.

﴿۵۵۸۰﴾: وَعَنْ عَائِشَةَ قَالَتْ مَا كَانَ رَسُولُ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ يَسْرُدُ سَرْدَكُمْ هٰذَا وَلٰكِنَّهُ كَانَ يَتَكَلَّمُ بِكَلَامٍ بَيْنَهُ فَصْلٌ يَحْفَظُهُ مَنْ جَلَسَ إِلَيْهِ.

رواه الترمذي.

د حضرت عائشې (رض) څخه روايت دی چي رسول الله ﷺ به داسي خبري نه کولې لکه څرنګه چي تاسو پرله پسې خبري کوئ بلکه داسي خبري به يې کولې چي يوه يوه جمله به يې بېله بېله وه او هغه څوک چي ورسره ناست به وو يادولې به يې. ترمذي.

تخريج: سنن الترمذي ۵\۵۶۰، رقم: ۳۶۳۹.

پر شونډو به يې اکثره مسکاوه

﴿۵۵۸۱﴾: وَعَنْ عَبْدِ اللّٰهِ بْنِ الْحَارِثِ بْنِ جَزْءٍ قَالَ مَا رَأَيْتُ أَحَدًا أَكْثَرَ تَبَسُّمًا مِنْ رَسُولِ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ. رواه الترمذي.

د حضرت عبدالله بن حارث بن جزء رضي الله عنه څخه روايت دی چي ما د رسول الله ﷺ څخه زيات تبسم کونکی هيڅوک نه دی ليدلی. ترمذي

تخريج: سنن الترمذي ۵\۵۶۱، رقم: ۳۶۴۱.

د وحي انتظار

﴿۵۵۸۲﴾: وَعَنْ عَبْدِ اللّٰهِ بْنِ سَلَامٍ قَالَ كَانَ رَسُولُ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ إِذَا جَلَسَ يَتَحَدَّثُ يُكْثِرُ أَنْ يَرْفَعَ طَرْفَهُ إِلَى السَّمَاءِ. رواه ابوداؤد.

د حضرت عبدالله بن سلام رضي الله عنه څخه روايت دی چي کله به رسول الله ﷺ د خبرو کولو لپاره کښېنستی نو اکثر به يې نظر د آسمان په لور وو. (يعني د وحي انتظار به يې کوی). ابوداؤد.

تخريج: سنن ابوداود ۵\۱۷۱، رقم: ۴۸۳۷.

تشريح: يعني رسول الله ﷺ به د خلګو سره د خبرو کولو په وخت کي هم کله نا کله آسمان ته کتل او دا به د رسول الله ﷺ د هغه انتظار د کيفيت اظهار وو چي د حضرت جبرائيل عليه السلام د

نازلېدو او د وحي راتللو په وخت کي به وو.

اَلْفَصْلُ الثَّالِث (دريم فصل)

د اهل او عيال په اړه شفقت او محبت

﴿۵۵۸۳﴾: عَنْ عَمْرِو بْنِ سَعِيدٍ عَنْ أَنَسٍ قَالَ مَا رَأَيْتُ أَحَدًا كَانَ أَرْحَمَ

حضرت عمرو بن سعيد رضي الله عنه د حضرت انس رضي الله عنه څخه روايت کوي چي ما پر اهل او عيال تر

بِالْعِيَالِ مِنْ رَسُولِ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ قَالَ كَانَ إِبْرَاهِيمُ مُسْتَرْضِعًا

رسول الله ﷺ مهربان هيڅوک نه دی ليدلی ، د رسول الله ﷺ زوی ابراهيم رضي الله عنه د مديني لوړي خوا ته په يو کلي کي وو د رضعي مور شيدي يې رودلې

لَهُ فِي عَوَالِي الْمَدِينَةِ فَكَانَ يَنْطَلِقُ وَنَحْنُ مَعَهُ فَيَدْخُلُ الْبَيْتَ وَإِنَّهُ لَيُدَّخَنُ

او رسول الله ﷺ به هغه کلي ته د هغه د ليدو لپاره تشريف وړی، موږ به هم د رسول الله ﷺ سره وو ، رسول الله ﷺ به کور ته د ننه تشريف يووړ

وَكَانَ ظِئْرُهُ قَيْنًا فَيَأْخُذُهُ فَيُقَبِّلُهُ ثُمَّ يَرْجِعُ قَالَ عَمْرٌو فَلَمَّا تُوُفِّيَ إِبْرَاهِيمُ

چي هغه کور به د دود څخه ډک وو ځکه چي د دايي (شيدو ورکونکي) ميړه پښ وو ، رسول الله ﷺ به خپل زوی په غيږ کي واخيستی مچوی به يې بيا به راغلی ، د عمر بن سعيد رضي الله عنه بيان دی کله چي د رسول الله ﷺ زوی ابراهيم رضي الله عنه وفات سو

قَالَ رَسُولُ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ إِنَّ إِبْرَاهِيمَ ابْنِي وَإِنَّهُ مَاتَ فِي الثَّدْيِ وَإِنَّ لَهُ لَظِئْرَيْنِ تُكَمِّلَانِ رَضَاعَهُ فِي الْجَنَّةِ. رواه مسلم.

نو رسول الله ﷺ و فرمايل : دا ابراهيم زما زوی دی چي د شيدو خوړلو په حالت کي مړ سوی دی په جنت کي دده لپاره دوې دايانې دي چي د شيدو ورکولو تر وخته پوري به شيدې ورکوي . مسلم.

تخريج: صحيح مسلم ۱۴/ ۱۸۰۸، رقم: ۶۳ - ۲۳۱۶.

د لغاتو حل: عوالي: اى القرى التي عند المدينة (مديني ته نژدې کلي). الغداة: الفجر (سهار).

تشريح: د ظئر معنی د تي ورکونکي ده، او همدارنګه د تي ورکونکي خاوند ته هم ظئر وايي، د عربو د پخواني رواج مطابق د رسول الله ﷺ زوی ابراهيم چي د تي ورکولو لپاره کومي ښځي ته ورکړل سوی وو د هغې نوم بي بي ام سيف وه او دهغې د خاوند نوم ابوسيف وو چي د کسب په اعتبار پښ وو، ابراهيم رضي الله عنه د تي رودلو په وخت کي وفات سوی وو، د هغه عمر شپاړس يا اووه لس مياشتي وو ځکه د رسول الله ﷺ په برکت او د رسول د زوی کېدو نسبت لري، الله جل جلاله هغه ته دا درجه ورکړل چي نه يوازي د وفات څخه وروسته هغه سمدستي جنت ته ورسول سو بلکه پر وفات کېدو باندي د هغه لپاره په جنت کي دوې دایاني (تی ورکوونکي) وټاکل سوې، هغوئ ته دا خدمت ورکړل سو چي هغوئ ابراهيم ﷺ ته د تي رودلو په وخت کي تی ورکوي.

د رسول الله ﷺ غوره اخلاق او يو يهودي

﴿۵۵۸۴﴾: وَعَنْ عَلِيٍّ أَنَّ يَهُوْدِيًّا كَانَ يُقَالُ لَهُ فُلَانٌ حِبْرٌ كَانَ لَهُ عَلٰى رَسُوْلِ اللّٰهِ

د حضرت علي رضي الله عنه څخه روايت دی چي يو يهودي وو چي هغه ته به فلانی عالم ويل کيدل، د

صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ دَنَانِيْرُ فَتَقَاضَى النَّبِيَّ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ فَقَالَ لَهُ يَا

هغه پر رسول الله ﷺ يو څو ديناره پور وو، هغه د رسول الله ﷺ څخه غوښتنه وکړه، رسول الله ﷺ ورته وفرمايل اې

يَهُوْدِيُّ مَا عِنْدِيْ مَا أُعْطِيْكَ قَالَ فَإِنِّيْ لَا أُفَارِقُكَ يَا مُحَمَّدُ حَتّٰى تُعْطِيَنِيْ فَقَالَ

يهودي زما سره اوس هيڅ نسته چي زه يې درکړم، هغه ورته وويل اې محمد (ﷺ)! زه تر هغه وخته پوري ستا څخه نه جلا کيږم تر څو پوري چي زما پور ادا نه کړې، رسول الله ﷺ ورته

رَسُوْلُ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ إِذًا أَجْلِسَ مَعَكَ فَجَلَسَ مَعَهُ فَصَلّٰى رَسُوْلُ اللّٰهِ

وفرمايل ښه دی زه ستا سره کښينم، نو رسول الله ﷺ د هغه سره کښېنستی او رسول الله ﷺ د

صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ الظُّهْرَ وَالْعَصْرَ وَالْمَغْرِبَ وَالْعِشَاءَ الْآخِرَةَ وَالْغَدَاةَ وَكَانَ

ماپښين، مازديګر، ماښام، ماخستن او بيا د سهار لمونځ هلته وکړ،

أَصْحَابُ رَسُوْلِ اللّٰهِ ﷺ يَتَهَدَّدُوْنَهُ وَيَتَوَعَّدُوْنَهُ فَفَطِنَ رَسُوْلُ اللّٰهِ ﷺ مَا الَّذِيْ

د رسول الله ﷺ صحابه کرامو هغه يهودي ته خبرداری ورکړ او وه يې بيروی، رسول الله ﷺ چي

محسوس كړل چي صحابه كرام هغه ته خبرداري وركوي نو هغوئ يې منع كړل، صحابه كرامو

يَصۡنَعُوۡنَ بِهٖ فَقَالُوۡا يَا رَسُوۡلَ اللّٰهِ يَهُوۡدِيٌّ يَحۡبِسُكَ فَقَالَ رَسُوۡلُ اللّٰهِ ﷺ مَنَعَنِيۡ

عرض وكړ اې دالله رسوله ! ايا يو يهودي تاسو بندي كولاى سي؟ رسول الله ﷺ ورته وفرمايل : الله تعالى زه د دې څخه منع كړى يم چي

رَبِّيۡ أَنۡ أَظۡلِمَ مُعَاهِدًا وَغَيۡرَهٗ فَلَمَّا تَرَجَّلَ النَّهَارُ قَالَ الۡيَهُوۡدِيُّ أَشۡهَدُ أَنۡ لَّآ إِلٰهَ إِلاَّ

زه پر دغه سړي ظلم وكړم چي زموږ په پناه كي دى يا پر هغه چا باندي چي زموږ په پناه كي نه دى ، بيا چي سهار سو نو هغه يهودي وويل زه شاهدي وركوم چي د الله ﷻ څخه پرته بل څوك د

اللّٰهُ وَأَشۡهَدُ أَنَّكَ رَسُوۡلُ اللّٰهِ وَشَطۡرُ مَالِيۡ فِيۡ سَبِيۡلِ اللّٰهِ أَمَا وَاللّٰهِ مَا فَعَلۡتُ بِكَ

عبادت وړ نسته او دا شاهدي وركوم چي تاسو د الله ﷻ رسول ياست، او زما د مال نيمه برخه د الله ﷻ په لاره كي صدقه ده، قسم په خداى ما چي كومه معامله ستاسو سره كړې ده هغه

الَّذِيۡ فَعَلۡتُ بِكَ إِلاَّ لِأَنۡظُرَ إِلٰى نَعۡتِكَ فِي التَّوۡرَاةِ مُحَمَّدُ بۡنُ عَبۡدِ اللّٰهِ مَوۡلِدُهٗ بِمَكَّةَ

يوازي د دې لپاره وه چي زه ووينم چي كوم صفات په تورات كي مذكور دي هغه په تاسو كي سته كه نه، په تورات كي ليكلي دي چي محمد بن عبد الله (ﷺ) به په مكه كي پيدا كيږي د

وَمُهَاجَرُهٗ بِطِيۡبَةَ وَمُلۡكُهٗ بِالشَّامِ لَيۡسَ بِفَظٍّ وَّلَا غَلِيۡظٍ وَّلَا سَخَّابٌ فِي الۡأَسۡوَاقِ وَلَا

طيبې په لور به هجرت كوي او د هغه حكومت به په شام كي وي ، هغه بد ژبانه او سخت زړه به نه وي او نه به په بازارونو كي شور كونكى او نه به فحش ويونكي

مُتَزَيِّ بِالۡفُحۡشِ وَلَا قَوۡلِ الۡخَنَا أَشۡهَدُ أَنۡ لَّآ إِلٰهَ إِلاَّ اللّٰهُ وَأَنَّكَ رَسُوۡلُ اللّٰهِ وَهٰذَا

او نه پالتو خبري كونكى وي، زه شاهدي وركوم چي د الله ﷻ څخه پرته بل څوك د عبادت وړ نه سته او تاسو د الله رسول ياست، دا

مَالِيۡ فَاحۡكُمۡ فِيۡهِ بِمَا أَرَاكَ اللّٰهُ وَكَانَ الۡيَهُوۡدِيُّ كَثِيۡرَ الۡمَالِ. رواه البيهقي في دلائل النبوة

زما مال موجود دى څه حكم چي تاسو مناسب ګڼئ وه يې كړئ ، يعني د الله تعالى د حكم سره كوم ځاى چي يې غواړئ خرڅ يې كړئ، د راوي بيان دى چي دا يهودي ډېر شتمن وو . بيهقي

تخريج: رواه البيهقي في دلائل النبوة.

د لغاتو حل: متزى: اى متصف. الخنا: اى الفحش والخشونة (فحش)

تشريح: او بيا يې د سهار لمونځ ادا کړ، ددې څخه معلومه سول چي رسول الله ﷺ تهوله ورځ په يو ځاى کي ناست تېره کړل او ټوله شپه همدارنګه د يهودي سره ناست وو، نه بېده سو او نه يې ارام وکړ، په ښکاره خو دا معلوميږي چي دغه پېښنه په مسجد نبوي کي پېښنه سوې وه مګر يو احتمال دا هم دی چي رسول الله ﷺ په بل ځاى کي وو او هلته هغه يهودي راغلی، په هغه ځاى کي رسول الله ﷺ د هغه يهودي سره تهوله ورځ او تهوله شپه ناست وو.

... يا هغه بل څوک وي، ددغه تخصيص څخه وروسته تعميم دى يعني رسول الله ﷺ مخکي په خاصه توګه د معاهد ذکر وکړ چي دا يهودي د هغه ذميانو څخه دي چي موږ په خپله پناه او ساتنه کي ورسره عهد کړی دی، که زه ددغه پور ورکولو څخه ماسوا دده څخه بېل سم او دده سره د ناستي څخه انکار وکړم نو دا به زما له خوا پر ده ظلم وي او څرګنده ده چي پر يو معاهد باندي د ظلم کولو څخه الله ﷻ زه منع کړی يم، ددې څخه وروسته رسول الله ﷺ وفرمايل، معاهد خو پرېږده زه پر هر سړي باندي د ظلم کولو څخه منع کړل سوی يم که هغه معاهد وي يا غير معاهدي وي، که مسلمان وي او که کافر وي، دلته رسول الله ﷺ د تعميم څخه وروسته د تخصيص پر ځاى د تخصيص څخه وروسته د تعميم طرز ځکه اختيار کړ چي دغه موقع ددغه طرز متقاضي ده يا رسول الله ﷺ دا خبره په نظر کي وساتل که په دنيا کي د يو مسلمان حق تلفي وي يا د هغه سره د ظلم معامله وي نو د قيامت په ورځ به هغه مسلمان ته د حق خوړونکي يا ظلم کونکي مسلمان د نيکۍ په ورکولو سره راضي کول به يې ممکن وي، مګر کافر ذمي ته د هغه حق خوړونکي يا پر هغه باندي د ظلم کونکي مسلمان نيکي کولو سره هم راضي کول به ممکن نه وي ځکه چي نه خو د مسلمان نيکي هغه ته ورکول کيږي او نه هغه نيکي د هغه په کار ورتلای سي، په دې اعتبار د قيامت په ورځ د معاهد له خوا د يو مسلمان خلاف د ظلم او د هغه د حق خوړلو به زياته سخته مرحله وي، نو رسول الله ﷺ ددغه ارزښت څرګندولو لپاره مخکي په خاصه توګه د معاهد ذکر وکړ او ددې وروسته يې په عامه توګه د هر يو ذکر وکړ.

دلته يو سوال پيدا کيږي چي کله رسول الله ﷺ هغه وخت د هغه يهودي د پور ادا کولو څخه دومره معذور وو چي د هغه يهودي له خوا د دومره سختي پابندۍ سره د رسول الله ﷺ مخامخ کېدل سول نو ايا هلته موجود صحابه کرام د هغه د پور پر ادا کولو قادر نه وه؟ ددې جواب دادی چي اول خو دا خبره ده چي هغه صحابه کرام د رسول الله ﷺ پر هغه پور ادا کولو

باندي قادر نه وه، دوهم دا چي د هغه يهودي اصل مقصد دا وو چي د كومو صفتونو يادونه په تورات كي راغلې ده د هغه امتحان واخلي او له دې كبله د صحابه كرامو له خوا د هغه پور په ادا كولو راضي نه وو.

دغه زما مال حاضر دی، هغه دغه جمله مال ته يا هغه ځای ته چيري چي هغه مال پروت وو، په اشاره كولو سره وويل، او بيا هغه رسول الله ﷺ مختار كړ چي رسول الله ﷺ هغه مال د الله ﷻ د رضا او خوښي او د دين او ملت په ګټه كي څرنګه چي مصرف كول مناسب ګڼي هم هغسي دي مصرف كړي، په ظاهره دا معلوميږي چي دلته د هغه مراد خپل ټول مال وو، مخكي خو هغه د خپل ټول مال نيمه برخه د الله ﷻ په لاره كي د وړاندي كولو اعلان وكړ مګر كله چي د ايمان نور د هغه په زړه كي په ښه ډول ځای پيدا كړ او د الله ﷻ او رسول ﷺ مينه پر هغه غالبه سول نو هغه نه يوازي دا چي ټول مال د الله ﷻ په لار كي وركړ بلكه د خپل سر وړاندي كولو اراده يې هم وكړل.

د غريبانو سره ښه سلوك

﴿۵۵۸۵﴾: وَعَنْ عَبْدِ اللّٰهِ بْنِ أَبِي أَوْفٰى قَالَ كَانَ رَسُولُ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ

د حضرت عبدالله بن ابي اوفى رضي الله عنه څخه روايت دی چي رسول الله ﷺ به د

وَسَلَّمَ يُكْثِرُ الذِّكْرَ وَيُقِلُّ اللَّغْوَ وَيُطِيلُ الصَّلَاةَ وَيُقَصِّرُ الْخُطْبَةَ وَلَا يَأْنَفُ أَنْ يَمْشِيَ مَعَ الْأَرْمَلَةِ وَالْمِسْكِينِ فَيَقْضِيَ لَهُ الْحَاجَةَ. رواه النسائي والدارمي.

الله ﷻ ډېر ذكر كوی، دنياوي خبري به يې كمي كولې، لمونځ به يې اوږد كوی خطبه يې به لنډه وه، او د كونډو او مسكينانو سره تلل به يې پيغور نه ګڼځ، او د هغوئ هر يو كار به يې كوی..نسائي او دارمي

تخريج: سنن النسائي ۳\۱۰۹، رقم: ۱۴۱۳، والدارمي ۱\۴۸، رقم: ۷۴.

تشريح: د ذكر څخه مراد د الله ﷻ ذكر او هر هغه شی دی چي د ذكر الله سره تعلق لري، او حقيقت دا دی چي زيات او په مختلفو نوعيتو هر وخت او هره لمحه به رسول الله ﷺ په ذكر الله كي بوخت وه.

د لغو او پالتو خبرو څخه مراد هره هغه خبره ده چي د ذكر الله ﷻ څخه ماسوا د نورو دنياوي كارو سره تعلق لري، څرګنده دي وي چي د داسي دنياوي كارو ذكر هم چي د حكمت

څخه وي د ذکر حقيقي په اعتبار په پالتو خبرو کي شامل دي، ځکه امام غزالي رحمه الله وايي: ضيت قطعة من العمر العزيز في تاحيف البسيط والوسيط والوجيز، ما دخپل عمر قدرمنه برخه په خپلو کتابونو، بسيط، وسيط او وجيز په تاليف کي ضائع کړل.

که څه هم داسي دنياوي خبري چي د حکمت څخه خالي نه وي په حقيقي معنی کي د لغو او پالتو خبرو په حکم کي نه راځي مګر د هغه ظاهري صورت او انجام په اعتبار او د هغه د حقيقت څخه قطع نظر پر هغه د لغو او پالتو اطلاق سوی دی، د دغه تعبير څرګندولو لپاره د عارفينو دا قول دی چي: حسنات الابرار سيئات المقربين، د لغو د دغه حقيقي معنی په لايعني او باطل کي مراد اخيستل به هم صحيح نه وي چي د رسول الله ﷺ د ژبي مبارکي څخه هيڅکله يوه پالتو خبره نه ده راوتلې او نه دا ممکن وه ځکه چي الله جل جلاله د ټولو مؤمنانو دا صفت بيانوي: (والذين هم عن اللغو معرضون)، نو د رسول الله ﷺ په اړه د لغو او پالتو خبرو تصور څرنګه کيدای سي

ځينو علماؤ دا ويلي دي چي دلته د قليل (لږ) لفظ د عدم په معنی کي استعمال سوی دی، مطلب دا چي رسول الله ﷺ هيڅکله پالتو خبره د ژبي څخه نه ده را ايستلې او د دې په دليل کي هغه حضرات وايي چي قليل لفظ مطلق نفي او اظهار عدم په معنی کي هم استعماليږي لکه چي په قرآن کريم کي فرمايل سوي دي: (قليلا مايؤمنون) نو دغه قول که څه هم د لغو په اړه ډېر بحثونه ختموي مګر حقيقت دادی چي د حديث په سباق کي دغه قول زيات مناسب نه معلوميږي ځکه چي د تکثير لفظ چي د يقل لپاره د کومي معنی تقاضا کوي هغه، هغه ده کوم چي مخکي ذکر سول.

لمونځ به يې اوږد او خطبه به يې لنډه ويل، دلته په خاصه توګه د جمعې لمونځ مراد دی ځکه چي د خطبې سره دا خبره مناسب معلوميږي، او کوم چي د خطبې د لنډوالي خبره ده نو هغه داسي هم صحيح ده چي رسول الله ﷺ به د جمعې په خطبه کي کوم الفاظ او جملې استعمالوې هغه به ډيري جامع او مانع وې، هره جمله که څه هم د الفاظو په اعتبار به لنډه وه مګر د مفهوم او معاني درياب به يې په ځان کي درلودی، او د خطبې د لنډوالي خبره د اکثريت په اعتبار بيان سوې ده، او کله چي به زيات نصيحت کول مقصد وو نو رسول الله ﷺ به په تفصيل سره اوږده خطبه هم فرمايل، په هر حال د دغه جملې اصل مقصد دا بيانول دي چي د رسول الله ﷺ خطبه به د لمانځه په نسبت مختصره وه، په يو بل حديث کي چي په باب الجمعه کي تېر سوی دی، منقول دي چي د لمانځه اوږدېدل او د خطبې مختصر کېدل د فهم او پوهي علامه ده، د دې وجه په ظاهره دا معلوميږي چي لمونځ د مؤمن معراج او د پروردګار د مناجاتو موقع ده ځکه

اوږدوالی یې په دغه مناسبت سره دی ، او د خطبې تعلق خلکو ته د متوجه کېدو او هغوئ حق ته د رابللو لپاره وي چې په هغه کې د بیان د اثر لپاره پر فصاحت او بلاغت باندې توجه ورکول وي او دا داسې وي چې په هغه کې د ریا ګمان کیدای سي ځکه نو د خطبې مختصر کول غوره دي.

د مکې قریشو د رسول الله ﷺ تکذیب ولې وکړ؟

﴿۵۵۸۶﴾: وَعَنْ عَلِيٍّ أَنَّ أَبَا جَهْلٍ قَالَ لِلنَّبِيِّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ إِنَّا لَا نُكَذِّبُكَ وَلَكِنْ نُكَذِّبُ بِمَا جِئْتَ بِهِ فَأَنْزَلَ اللَّهُ تَعَالَى فَإِنَّهُمْ لَا يُكَذِّبُونَكَ وَلَكِنَّ الظَّالِمِينَ بِآيَاتِ اللَّهِ يَجْحَدُونَ. رواه الترمذي.

د حضرت علي رضی الله عنه څخه روایت دی چې ابوجهل نبي کریم ﷺ ته وویل موږ تا دروا غجن نه بلکه هغه شی دروا غ ګڼو کوم چې تا راوړی دی ، نو الله تعالی د ابوجهل وغیره په اړه دا آیت نازل کړ : (فانهم لا یکذبونک ولکن الظالمین ....): (هغوئ تا نه درواغجن کوي بلکه دا ظالمان د الله جل جلاله آیاتو نه دروا غ ګڼي). ترمذي.

تخریج: سنن الترمذي ۵\ ۲۴۳، رقم: ۳۰۶۴.

تشریح: څه چې تا راوړي دي، ددې څخه مقصد وحي الهي یعني کتاب او شریعت دی، د ابوجهل مطلب دا وو چې ستا سره زموږ اختلاف د هغه دین او شریعت په اړه دی چې هغه ته موږ رابولې ، موږ خو ستا تکذیب ځکه کوو چې ستا راوړی کتاب او شریعت رینښتوني نه منو که د غه کتاب او شریعت ستا څخه وځي نو بیا ستا سره زموږ هیڅ جګړه نسته، مګر هغه لعین دومره پوه نه سو چې کله رسول الله ﷺ په دنیاوي معاملاتو کي د خلکو سره درواغ نه وایي او د صادق وصف د هغه دی چې د هغه اعتراف او اقرار خپله د مکې قریش هم کوي نو بیا د دین او آخرت په اړه هغه خلکو ته درواغ ولي ووایي، ولي به هغوئ درواغو ته رابولي او پر الله جل جلاله به ولي تهمت لګوي، اصل خبره داده چې د مکې د قریشو ټول لوی سرداران د رسول الله ﷺ سره د سخت بغض او عناد ښکار وه ، هغوئ ټول په دې خبره سوځېدل چې دغه یتیم او امي سړي ته دومره لویه مرتبه ولي تر لاسه سول، او موږ چې دومره دنیاوي شان او شوکت لرو دده پیروي ولي وکړو او څرنګه هغه لوی او د پیروي وړ ومنو ، او ددغه سوځېدو په وجه به هغوئ د ول د ول خبري کولې چې په هغه کي به معقولیت وو او نه رینښتونتوب.

په تفسیر کشاف کي د ذکر سوي آیت په تفسیر کي دوه مطالب لیکل سوي دي یو خو دا

چي اې محمد! دا کافران چي تا ته دروغجن وايي ، يا ددې منلو څخه انکار کوي چي ته په حقيقت کي د خپل پروردګار له خوا د لوی کتاب او شريعت سره راغلی يې نو دوئ تا نه دروغجن کوي ، په حقيقت کي د الله ﷻ نازل سوي آياتونو او د هغه نازل سوي دين ته درواغ وايي، يعني د الله ﷻ ددغه فرمان مثال داسي دي لکه يو مالک چي خپل غلام ته ، چي خلک يې په ناروا توګه پريشانه کوي او تکليف ورکوي دا ووايي چي دغه خلک تا ته تکليف نه درکوي بلکه ما ته يې راکوي، نو ته ګوره چي زه د دوئ سره څرنګه معامله کوم، دوهم مطلب دادی چي اې محمدﷺ! دغه کافران تا ته دروغجن نه وايي ځکه چي ته د دوئ په نزد ډېر ريښتوني او امين يې او ستا صداقت او امانت په دوئ کي د ضرب المثل حيثيت لري ، مګر دغه خلک د الله ﷻ آياتونه او د هغه دين ته درواغ وايي، دغه مطلب د حديث سره زيات مناسبت او مطابقت لري .

رسول الله ﷺ د ځان لپاره شتمنتوب خوښ نه کړ

﴿۵۵۸۷﴾: وَعَنْ عَائِشَةَ قَالَتْ قَالَ رَسُوْلُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ يَا عَائِشَةَ لَوْ

د حضرت عائشې (رض) څخه روايت دئ چي رسول الله ﷺ وفرمايل : اې عائشې ! که

شِئْتُ لَسَارَتْ مَعِيْ جِبَالُ الذَّهَبِ جَاءَنِيْ مَلَكٌ وَإِنَّ حُجْزَتَهُ لَتُسَاوِيْ الْكَعْبَةَ

زه د الله تعالی ﷻ څخه مال او دولت غواړم نو زما سره به د سرو زرو غرونه روان سي ، ما ته يو ملائکه راغلل چي د هغې ملا د کعبې برابر وه ،

فَقَالَ إِنَّ رَبَّكَ يَقْرَأُ عَلَيْكَ السَّلَامَ وَيَقُوْلُ إِنْ شِئْتَ نَبِيًّا عَبْدًا وَإِنْ شِئْتَ نَبِيًّا

هغې وويل : ستا رب پر تاسو سلام وايي او وايي : که تاسو غواړئ نو بنده پيغمبر جوړ سئ (يعني هغه پيغمبر چي د بندګی او فقر صفت سره موصوف وي) او که غواړئ نو پاچا پيغمبر

مَلِكًا فَنَظَرْتُ إِلٰى جِبْرِيْلَ عَلَيْهِ السَّلَامَ فَأَشَارَ إِلَيَّ أَنْ ضَعْ نَفْسَكَ وَفِيْ رِوَايَةِ ابْنِ

جوړ سئ ، ما جبرائيل عليه السلام ته وکتل (يعني د هغه څخه مي مشوره وغوښتل) هغه را ته وويل : تاسو ځان کښته کړئ (يعني بندګي او فقر خوښ کړئ) ، او د ابن عباس ﷺ په روايت

عَبَّاسٍ فَالْتَفَتَ رَسُوْلُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ إِلٰى جِبْرِيْلَ كَالْمُسْتَشِيْرِ لَهُ

کي دا الفاظ دي چي د ملائکي الفاظ اوريدو سره رسول الله ﷺ جبرائيل علیہ السلام ته وکتل، مطلب دا چي د هغه څخه يې مشوره غوښتل،

فَأَشَارَ جِبْرِيْلُ بِيَدِهِ أَنْ تَوَاضَعْ فَقُلْتُ نَبِيًّا عَبْدًا قَالَتْ فَكَانَ رَسُوْلُ اللهِ صَلَّى اللهُ

جبرائيل علیہ السلام ورته په اشاره سره وښودل چي تواضع اختيار کړه، ما ورته وويل زه بنده پيغمبر

عَلَيْهِ وَسَلَّمَ بَعْدَ ذٰلِكَ لاَ يَأْكُلُ مُتَّكِأً يَقُوْلُ آكُلُ كَمَا يَأْكُلُ الْعَبْدُ وَأَجْلِسُ كَمَا يَجْلِسُ الْعَبْدُ. رواه في شرح السنة.

جوړيدل غواړم، د بي بي عائشي رضی اللہ عنہا بيان دی ددې څخه وروسته رسول الله ﷺ هيڅکله په تکيه لګولو سره خوراک نه دی کړی، رسول الله ﷺ به دا فرمايل: زه داسي خورم لکه څرنګه چي غلام خوراک کوي او داسي کښينم لکه څرنګه چي غلام کښيني. شرح السنه.

تخريج: البغوي في شرح السنة ۱۳\۲۴۷، رقم: ۳۶۸۳.

د لغاتو حل: حجزته: معقد ازاره (د لونګ تړلو ځای)

تشريح: کښته والی او خاکساري اختيار کړه، يعني د فقر، ستونزو او تنګۍ ژوند اختيار کړه چي په هغه کي د دنيا په لحاظ خاکساري ده مګر د الله جل جلاله په نزد لوړتيا ده، ددې پر خلاف د پاچاهي او شتمنۍ ژوند د سرکښۍ او د الله جل جلاله د هېرولو سبب او د تکبر او ناشکرۍ ذريعه ګرځي، چي د هغه په اختيارولو سره انسان د خپل پروردګار د قرب څخه ليري کيږي، حضرت جبرائيل علیہ السلام دغه خبره د غالب حال په اعتبار وښودل او ځکه اکثر انبياء، علماء او صالحين د فقر او تنګۍ ژوند اختيار کړی دی او هغوئ همېشه د مال او دولت او عيش او آرام پر ژوند باندي د محنت او مشقت ژوند ته ترجيح ورکړل: اللهم اجعلنا منهم واحشرنا معهم.

چي غلام يې خوري، ددې مطلب دا وو چي څرنګه يو غلام ته د هغه مالک خوراک ورکوي نو هغه يې په صبر او شکر سره خوري که څه هم هغه هر څومره ناخوښه او د کښتي درجې وي، همدارنګه ما ته چي کوم خوراک تر لاسه سي هغه په صبر او شکر سره خورم نه د ادنا خوراک خواهش مي وي او نه د ادنا خوراک په خوړلو سره تنګي او ناخوښي محسوس کيږي.

لکه څرنګه چي غلام کښېني، ددې څخه د التحيات په شکل ناسته مراد ده او د ناستي غوره حالت همدغه دی، يا د خوراک کولو په وخت کي هغه هيئت مراد دی چي په هغه کي يو زنګون پورته وي او پر کوناټي کښيني په عامه توګه رسول الله ﷺ به په دغه ډول کښېنستی.

بَابُ الْمَبْعَثِ وَبَدْءِ الْوَحْيِ

(د رسول الله ﷺ د بعثت او د وحي د نازلېدو بيان)

د مبعث لفظ د بعث او د بعث د زمانې په معنی دی او د بعث معنی د پورته کولو او لېږلو ده، دلته د دغه لفظ څخه مراد دادی چي الله ﷻ، حضرت محمد عربي ﷺ د خپل نبي او رسول په ګرځولو سره ټول مخلوق ته راولېږی.

د بدء لفظ د پيل او شروع په معنی دی، په ځينو روايتو کي د بدء پر ځای د بدو لفظ دی او ددې معنی د ظهور ده، د مفهوم او مطلب په اعتبار په دواړو کي فرق نسته مګر غوره او مناسب لومړنی روايت دی چي په هغه کي د بدء لفظ دی.

د وحي اصلي معنی د اشاره کولو، ليکلو او په کنايه کي د خبرو کولو، پيغام لېږلو، القاء او الهام کولو ده، په مشارق الانوار کي ليکلي دي چي د وحي اصلي مفهوم په تېزي سره په پټه توګه د پيغام وړل دي، پر رسول الله ﷺ او نورو نبيانو عليهم السلام باندي د وحي د نازلېدو مختلف صورتونه وه، ځينو ته په ژوندی بڼه د الله ﷻ سره د تکلم شرف تر لاسه وو لکه حضرت موسی عليه السلام ته او ددې ثبوت د قرآن کريم څخه تر لاسه کيږي، يا زموږ پيغمبر حضرت محمد ﷺ ته هم د معراج په شپه کي دغه شرف تر لاسه سوی وو، دوحي دوهم صورت رسالت او د ملائکي وساطت دی چي حضرت جبرائيل عليه السلام د الله ﷻ د پيغام او هدايت په راوړلو سره راتلی او حرف په حرف به يې رسول او نبي ته رسوی،

د وحي اکثر او زيات دغه صورت په عمل کي راتلی، دوحي دريم صورت القاء ده يعني د الله ﷻ له خوا د يوې خبري او يو مضمون په زړه کي اچول لکه رسول الله ﷺ وفرمايل: القی في روعي، دغه خبره زما په زړه کي واچول سول، او وايي چي پر حضرت داؤد عليه السلام باندي به کومه وحي راتلل هغه زيات وختونه په دغه صورت کي وه دا خو د هغه وحي ذکر وو چي د هغه نسبت نبيانو ته کيږي، په قرآن کريم کي په ځينو ځايو کي د وحي نسبت د نبيانو څخه ماسوا نورو ته هم سوی دی نو څرګنده دې وي چي په داسي ځايو کي د وحي لفظ د الهام په معنی کي استعمال سوی دي لکه چي په يو ځای کي فرمايي: (واوحينا الی ام موسی) او موږ د موسی عليه السلام مور ته په زړه کي ور واچول، له دې کبله د وحي لفظ د امر په معنی کي هم راځي لکه چي په يو آيت کي دي: (واوحينا الی الحواريين) او موږ حوارينو ته حکم وکړ، او د وحي څخه مراد د طبعي

خاصې پیدا کول هم دي لکه چې الله ﷻ فرمايي :
(واوحى ربک الى النحل) او ستا پروردګار د عسلو موچۍ ته په طبيعت کي دا ور واچول.

اَلْفَصْلُ الْأَوَّلُ (لومړی فصل)

رسول الله ﷺ د څلوېښتو کالو په عمر په نبوت مشرف سو

﴿۵۵۸۸﴾: عَنِ ابْنِ عَبَّاسٍ قَالَ بُعِثَ رَسُولُ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ لِأَرْبَعِينَ سَنَةً فَمَكَثَ بِمَكَّةَ ثَلَاثَ عَشْرَةَ سَنَةً يُوحَى إِلَيْهِ ثُمَّ أُمِرَ بِالْهِجْرَةِ فَهَاجَرَ عَشْرَ سِنِينَ وَمَاتَ وَهُوَ ابْنُ ثَلَاثٍ وَسِتِّينَ. متفق عليه.

د حضرت ابن عباس رضي الله عنه څخه روايت دی چي رسول الله ﷺ د څلوېښتو کالو په عمر کي پيغمبر سو ، ددې وروسته ديارلس کاله په مکه کي وو په دغه دوران کي به وحي راتلې، بيا ورته د هجرت حکم وسو او د هجرت څخه وروسته لس کاله په مدينه کي وو او د درو شپيته کالو په عمر کي وفات سو . بخاري او مسلم.

تخريج: صحيح البخاري (فتح الباري): ۷\۲۲۷، رقم: ۳۹۰۲، ومسلم ۴\۱۸۲۶، رقم: ۱۱۷- ۲۳۵۱.

تشريح: د رسول الله ﷺ د عمر مبارک په اړه مختلف روايتونه منقول دي مګر زيات صحيح دا روايت دی چي د ۶۳ کالو په عمر له دنيا څخه رخصت سو، او د حضرت ابن عباس رضي الله عنه په خپل روايت کي د پنځه شپېته کالو په عمر کي د وفات ذکر دی او د حضرت انس رضي الله عنه په روايت کي چي مخته راځي د شپېتو کالو په عمر کي د وفات ذکر دی، په ظاهره دا معلومېږي چي حضرت ابن عباس رضي الله عنه په مخکنۍ روايت کي د سن ولادت او سن وفات هم پوره کال شمېرل سوی دی او هغه دوه کاله په يو ځای کولو سره ټول ۶۵ کاله يې بيان کړل او حضرت انس رضي الله عنه د درو شپېتو څخه کسر يعني د درو شمېر حذف کړ او د شپېتو کالو يادونه يې وکړل.

د وحي ابتداء

﴿۵۵۸۹﴾: وَعَنْهُ قَالَ أَقَامَ رَسُولُ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ بِمَكَّةَ خَمْسَ عَشْرَةَ

د حضرت ابن عباس رضي الله عنه څخه روايت دی چي رسول الله ﷺ (د نبوت تر لاسه کيدو وروسته) پنځلس کاله په مکه کي قيام وکړ ،

سَنَةً يَسْمَعُ الصَّوْتَ وَيَرَى الضَّوْءَ سَبْعَ سِنِينَ وَلَا يَرَى شَيْئًا وَثَمَانَ سِنِينَ

په دغه وخت کي به يې راسته او چپه خوا ته د (دجبرائيل عليه السلام) اواز اوريدى او په تاريکۍ کي به يې رڼا ليدل، او ددې څخه پرته به يې نه ليدل، تر اوو کلو پوري دغه معامله وه

يُوحَى إِلَيْهِ وَأَقَامَ بِالْمَدِينَةِ عَشْرًا وتوفي وهو ابن خمس وستين سنة. متفق عليه

بيا تر اته کاله پوري وحي راتلل او په مدينه کي يې لس کاله قيام وکړ او د پنځه شپيتو کالو په عمر کي وفات سو. بخاري او مسلم.

تخريج: لم نجده في صحيح البخاري ومسلم ۴\۱۸۲۷، رقم: ۱۲۲– ۲۳۵۳.

تشريح: د ۶۵ کالو وضاحت په تېر سوي تشريح کي وسو، د رسالت پر منصب باندي د شرف تر لاسه کېدو وروسته په مکه کي د رسول الله ﷺ د قيام وخت ۱۵ کاله ښودل سوي دي او په ذکر سوي حديث کي د ۱۳ کالو ذکر دی، نو دلته هم دا وضاحت کيږي چي حضرت ابن عباس رضي الله عنه په دغه روايت کي د ولادت او د هجرت پوره پوره کالونه شمېرلي دي او د ۱۳ کالو پر ځای يې ۱۵ کاله ذکر کړل.

دغه حديث پر دې خبره دلالت کوي چي د رسول الله ﷺ د ذکر سوي آواز اورېدل او هغه عجيبه رڼا لېدل پر منصب نبوت باندي د فائز کېدو څخه وروسته په مکه کي د ۱۵ کالو د قيام په لومړني اووه کالو کي پېښېدل؛ د تاريخي رواياتو او ځينو نورو حديثو څخه دا معلوميږي چي دغه صورت حال د ظهور نبوت څخه مخکي پېښ سوی وو او په دې کي حکمت دا وو چي رسول الله ﷺ د عالم ملکوت سره آشنا سي او داسي نه وي چي د ماوراء الدنيا د حالاتو او کيفياتو په ناڅاپه ظهور سره، د انساني او بشري حالت او قوت زغملو څخه عاجز سي.

وفات

﴿۵۵۹۰﴾: وَعَنْ أَنَسٍ قَالَ تَوَفَّاهُ اللهُ عَلَى رَأْسِ سِتِّينَ سَنَةً. متفق عليه.

د حضرت انس رضي الله عنه څخه روايت دی چي الله جل جلاله رسول الله ﷺ د شپيتو کالو په عمر کي وفات کړ. بخاري او مسلم.

تخريج: صحيح البخاري (فتح الباري): ۱۰\۳۵٦، رقم: ۵۹۰۰، ومسلم ۴\۱۸۲۴، رقم: ۱۱۳– ۲۳۴۷.

درسول الله ﷺ او خلفاء راشدينو عمر

﴿۵۵۹۱﴾: وَعَنْهُ قَالَ قُبِضَ النَّبِيّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ وَهُوَ ابْنُ ثَلَاثٍ وَسِتِّينَ وَأَبُو بَكْرٍ وَهُوَ ابْنُ ثَلَاثٍ وَسِتِّينَ وَعُمَرُ وَهُوَ ابْنُ ثَلَاثٍ وَسِتِّينَ . رواه مسلم قال محمد ابن اسماعيل البخاري ثلث وستين اكثر .

د حضرت انس ﷺ څخه روايت دی چي رسول الله ﷺ د درو شپيتو کالو په عمر کي وفات سو او حضرت ابوبکر صديق ﷺ هم د درو شپيتو کالو په عمر کي وفات سو او حضرت عمر ﷺ هم د درو شپيتو کالو په عمر کي وفات سو . مسلم.

تخريج: صحيح مسلم ۴\۱۸۲۵، رقم: ۱۱۴- ۲۳۴۸.

تشريح: لکه څرنگه چي مخکي يادونه وسول چي د رسول الله ﷺ د عمر مبارک په اړه صحيح روايت دادی چي د ۶۳ کالو په عمر کي د دنيا څخه تشريف يووړ، همدارنگه د خليفه اول حضرت ابوبکر صديق ﷺ په اړه بېله اختلافه ثابته ده چي د هغه عمر ۶۳ کاله وو، د خلافت صديق وخت دوه کاله او څلور مياشتي دی، همدارنگه حضرت ابوبکر صديق ﷺ چي د رسول الله ﷺ څخه وروسته څومره وخت ژوندیَ وو هغومره ورځي تر رسول الله ﷺ کشر وو، د حضرت عمر فاروق ﷺ د عمر په اړه مختلف روايتونه دي، صحيح روايت د ۶۳ کالو دی ، په ځينو روايتو کي د ۵۹ کالو ذکر دی ، خپله د مشکوة مؤلف ليکلي دي چي د مغيره ابن شعبه غلام ابولولوء د ۲۶ ذي الحجې ۲۳ هجري کال د چارشنبې په ورځ په مدينه کي په خنجر سره په حمله کولو حضرت عمر ﷺ زخمي کړ او ۱۰ محرم الحرام ۲۴ هجري کال د يکشنبې په ورځ د هغه ښخېدل وسول، هغه وخت د هغه عمر ۶۳ کاله وو او دا قول زيات صحيح دی، د حضرت عمر فاروق ﷺ د خلافت وخت لس کاله او شپږ مياشتي وو .

حضرت عثمان غني ﷺ د واقدي د روايت مطابق په ۱۸ ذي الحجه ۲۵ هجري کال د جمعې په ورځ د يو مصري سرکښ اسود تجيبي د لاسه د شهادت جام نوش کړ او د شنبې په ورځ په جنت البقيع کي دفن کړل سو ، په هغه ورځ د هغه عمر ۸۲ کاله وو ، ځينو علماؤ ليکلي دي چي ۸۸ کاله وو ، د دوئ په اړه ځيني نور روايتونه هم نقل کيږي ، د حضرت عثمان د خلافت زمانه څو ورځي کم دوولس کاله وو ، حضرت علي ﷺ د حضرت عثمان ﷺ د شهادت په ورځ خليفه وټاکل سو او په ۱۷ د رمضان ۱۰ هجري کال د جمعې په ورځ يو سړي عبدالرحمن ابن ملجم په

کوفه کي پر هغه قاتلانه حمله وکړل چي د هغه په نتیجه کي سخت زخمي سو او د هغه حملې څخه درې ورځي وروسته په حق ورسېدی یعني شهادت یې په برخه سو، نوموړی په نجف کي دفن کړل سو، په هغه ورځ دده عمر ۶۳ کاله وو، د نوموړي د خلافت زمانه څو ورځي زیات څلور کاله او نهه میاشتي وو.

د امام بخاري رحمۃ اللہ علیہ د قول مطلب دادی چي د رسول الله ﷺ د عمر په اړه چي مختلف روایتونه منقول دي په هغو کي تر ټولو زیات صحیح روایت د ۶۳ کالو د قول دی نور اقوال لکه ۶۰ کاله، یا ۶۵ کاله په اړه کم روایتونه دي، ځکه اصل اعتبار د هغه روایت کیږي چي په هغه کي د ۶۳ کاله د عمر ذکر وي او د روایتونو ددغه اختلاف مدار د ظهور نبوت څخه وروسته د قیام مکه پر وخت باندي دی چي رسول الله ﷺ دنبوت پر منصب باندي د مشرف کېدو څخه وروسته په مکه کي لس کاله وو که دیارلس کاله او که پنځلس کاله، او تر ټولو زیات صحیح روایت ددیارلسو کالو دي، او کوم چي د رسول الله ﷺ د زېږېدو د نېټي تعلق دی نو د صحیح او مشهور روایت مطابق د رسول الله ﷺ ولادت مبارک د فیل د پېښي په کال وسو بلکه قاضي عیاض رحمۃ اللہ علیہ لیکلي دي چي د تاریخ پوهانو او علماؤ پر دې اجماع ده، د یوم ولادت په اړه دا خبره خو علماؤ او مؤرخینو په اتفاق سره منلې ده چي رسول الله ﷺ د ربیع الاول په میاشت کي د دوشنبې په ورځ پیدا سو مګر د تاریخ په اړه اختلاف دی چي دوولسم تاریخ وو او که اتلسم یا لسم، د رسول الله ﷺ وفات هم د ربیع الاول په میاشت کي د دوشنبې په ورځ د څاښت په وخت کي وسو.

دوحي د پیل تفصیل

﴿۵۵۹۲﴾: وَعَنْ عَائِشَةَ قَالَتْ أَوَّلُ مَا بُدِئَ بِهِ رَسُولُ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ

د حضرت عائشې رضی اللہ عنہا څخه روایت دی چي تر ټولو لومړنی شي چي د رسول الله ﷺ سره پیل سو

مِنَ الْوَحْيِ الرُّؤْيَا الصَّادِقَةَ فِي النَّوْمِ فَكَانَ لَا يَرَى رُؤْيَا إِلَّا جَاءَتْ مِثْلَ فَلَقِ

دوحي په لړ کي هغه په خوب کي د ریښتوني خوبو لیدل وه، رسول الله ﷺ چي به کوم خوب ولیدی د هغه تعبیر به د ځلانده ورځي په ډول معلومیدی

الصُّبْحِ ثُمَّ حُبِّبَ إِلَيْهِ الْخَلَاءُ وَكَانَ يَخْلُو بِغَارِ حِرَاءٍ يَتَحَنَّثُ فِيهِ وَهُوَ التَّعَبُّدُ

بیا د رسول الله ﷺ کناره کېدل خوښ سول، او رسول الله ﷺ به په غار حراء کي کناره کېدی

(یعني خلوت به یې کوی)، په غار حراء کي به یې عبادت کوی

اللَّيَالِيَ ذوات الْعَدَدِ قَبْلَ أَنْ ينزع إِلَى أَهْلِهِ وَيَتَزَوَّدُ لِذَلِكَ ثُمَّ يَرْجِعُ إِلَى خَدِيجَةَ

او په شماریو څو شپې به په عبادت کي بوخت وو تر هغو پوري چي کور ته به یې خواهش کیدی، رسول الله ﷺ به د ځان سره خوراک وړی او هر کله چي به هغه ختم سوه نو بي بي خدیجې

فَيَتَزَوَّدُ لِمِثْلِهَا حَتَّى فَجِئَهُ الْحَقُّ وَهُوَ فِي غَارِ حِرَاءٍ فَجَاءَهُ الْمَلَكُ فَقَالَ اقْرَأْ

ته به راتلی او څو مره ورځي چي به یې په غار حراء کي د پاته کیدو اراده وه د هغو مره ورځو توښه به یې د ځان سره وړل تر دې چي رسول الله ﷺ ته حق راغلی (یعني د حق پیغام)، رسول الله ﷺ هغه وخت په غار حراء کي وو ، ملائکه ورته راغلل ورته وه یې ویل ووایه!

فَقَالَ مَا أَنَا بِقَارِئٍ قَالَ فَأَخَذَنِي فَغَطَّنِي حَتَّى بَلَغَ مِنِّي الْجَهْدَ ثُمَّ أَرْسَلَنِي فَقَالَ

رسول الله ﷺ وفرمایل : زه لوستونکی نه یم، بیا رسول الله ﷺ وفرمایل : ملائکي زه ونیولم ښه زور یې راکړ تر دې چي زه ستړی سوم ، بیا ملائکي زه پرېښودلم او راته وه یې ویل :

اقْرَأْ فقُلْتُ مَا أَنَا بِقَارِئٍ فَأَخَذَنِي فَغَطَّنِي الثَّانِيَةَ حَتَّى بَلَغَ مِنِّي الْجَهْدَ ثُمَّ

ووایه! ما ورته وویل : زه لوست نه سم کولای، هغه ملائکي زه بیا ونیولم او ښه یې کښېښلم تر دې چي زه ستړی سوم بیا

أَرْسَلَنِي فَقَالَ أَقْرَأْ فَقُلْتُ مَا أَنَا بِقَارِئٍ فَأَخَذَنِي فَغَطَّنِي الثَّالِثَةَ حَتَّى بَلَغَ مِنِّي

ملائکي زه پرېښودلم او وه یې ویل : ووایه! ما ورته وویل زه ویونکی نه یم ، هغه ملائکي زه بیا ونیولم او په دریم واریې بیا زه ښه کښېښلم تر دې چي زه ستړی سوم ،

الْجَهْدَ ثُمَّ أَرْسَلَنِي فَقَالَ اقْرَأْ بِاسْمِ رَبِّكَ الَّذِي خَلَقَ خَلَقَ الْإِنْسَانَ مِنْ عَلَقٍ

بیا هغه ملائکي زه پرې ښودلم او راته وه یې ویل : (اقرا باسم ربک الذي خلق.....تر پایه)، (د خپل هغه پروردګار په نامه سره ووایه چي هر شی یې پیدا کړ چي انسان یې د یخی سوي ویني څخه پیدا کړ

اقْرَأْ وَرَبُّكَ الْأَكْرَمُ الَّذِي عَلَّمَ بِالْقَلَمِ عَلَّمَ الْإِنْسَانَ مَا لَمْ يَعْلَمْ فَرَجَعَ بِهَا

او ستا پروردګار تر ټولو بزرګ دی هغه پروردګار چي د قلم په ذریعه یې علم وښودی او انسان

ته يې هغه شى وښودى چي په هغه نه پوهيدى)، ددې څخه وروسته رسول الله ﷺ ددغه وحي

رَسُولُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ برجف فواده فدَخَلَ عَلَى خَدِيجَةَ فَقَالَ زَمِّلُونِي

سره (مكي ته) را وګرزيدى، او حالت دا وو چي د رسول الله ﷺ مبارك زړه رپيدى، بي بي خديجې ته په رسيدو سره يې ورته وفرمايل پر ما جامه واچوه

زَمِّلُونِي فَزَمَّلُوهُ حَتَّى ذَهَبَ عَنْهُ الرَّوْعُ فقَالَ لِخَدِيجَةَ وَأَخْبَرَهَا الْخَبَرَ لَقَدْ

پر ما جامه واچوه (چي تود سم)، نو جامه پر واچول سوه، تر دې چي بيره يې ولاړه بيا يې بي بي خديجې ته ټوله پېښه بيان كړه، او ورته وه يې فرمايل:

خَشِيتُ عَلَى نَفْسِي فقَالَتْ خَدِيجَةُ كَلَّا وَاللهِ لَا يُخْزِيكَ اللهُ أَبَدًا إِنَّكَ لَتَصِلُ

زما سره د ځان بيره ده، بي بي خديجې ورته وويل تاسو بالكل مه بيريږئ، داسي به نه وي په الله ﷻ دي مي قسم وي هغه به مو هيڅكله ذليل او رسوا نه كړي تاسو د خپلوانو سره ښه چلن كوئ

الرَّحِمَ وَتَصْدُقُ الْحَدِيثَ وَتَحْمِلُ الْكَلَّ وَتَكْسِبُ الْمَعْدُومَ وَتَقْرِي الضَّيْفَ

، رښتيا واياست، د غريبانو او مسكينانو مرسته كوئ د مسكينانو لپاره ګټه كوئ، د ميلمنو ميلمستيا كوئ

وَتُعِينُ عَلَى نَوَائِبِ الْحَقِّ فَانْطَلَقَتْ بِهِ خَدِيجَةُ الى وَرَقَةَ بْنَ نَوْفَلِ بْن عَمِّ

او په قدرتي پېښو كي د خلكو مرسته كوئ، بيا بي بي خديجې د خپل اكا زوى ورقه بن نوفل ته

خَدِيجَةَ فَقَالَتْ لَهُ يا ابن عَمِّ اسْمَعْ مِنْ ابْنِ أَخِيكَ قَالَ له وَرَقَةُ بْنُ نَوْفَلٍ يَا ابْنَ

بوتلى او هغه ته يې وويل د اكا زويه! د خپل وراره (يعني رسول الله ﷺ) خبره واوره، ورقه بن نوفل رسول الله ﷺ ته وويل ولي اې

أَخِي مَاذَا تَرَى فَأَخْبَرَهُ رَسُولُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ خَبَرَ مَا رَآهُ فَقَالَ وَرَقَةُ

زما وراره! څه خبره ده، رسول الله ﷺ ټوله پېښه ورته بيان كړه چي رسول الله ﷺ ليدلي وه، ددې اوريدو سره ورقه وويل:

هَذَا النَّامُوسُ الَّذِي أَنْزَلَ الله عَلَى مُوسَى يَا لَيْتَنِي كنت فِيهَا جَذَعًا يَا لَيْتَنِي

دا هغه ناموس (ملائکه) دی چي د الله تعالی له لوري پر موسی علیه السلام نازل سوی وو ، کاش چي زه هغه وخت زلمی وای چي ته به خپل قوم ته تبلیغ کوې ، یا کاش چي زه

أَكُونُ حَيًّا إِذْ يُخْرِجُكَ قَوْمُكَ فَقَالَ رَسُولُ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ او مخرجيهم

تر هغه وخت پوري ژوندی وای چي ستا قوم به تا وباسي، (د مکې ښخه) رسول الله ﷺ پوښتنه وکړه زما قوم به ما د مکې ښخه باسي؟

قَالَ نَعَمْ لَمْ يَأْتِ رَجُلٌ قَطُّ بِمِثْلِ مَا جِئْتَ بِهِ إِلَّا عُودِيَ وَإِنْ يُدْرِكْنِي يَوْمُكَ

ورقه ورته وویل هو کوم شي چي تا راوړی دی (يعني نبوت او رسالت) نو کوم يو چا چي دا راوړی دی د هغه سره دښمني سوې ده که زه په هغه ورځو کي وای

أَنْصُرْكَ نَصْرًا مُؤَزَّرًا ثُمَّ لَمْ يَنْشَبْ وَرَقَةُ أَنْ تُوُفِّيَ وَفَتَرَ الْوَحْيُ . متفق عليه و زاد

نو زه به ستا ښه مرسته وکړم، ددې پېښې ښخه وروسته ورقه وفات سو او د ښه وخت لپاره وحي بنده سوه، بخاري او مسلم، او بخاري دا الفاظ زيات کړي دي چي

البخاري حَتَّى حَزِنَ النَّبِيُّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ فِيمَا بَلَغَنَا حُزْنًا غَدَا مِنْهُ مِرَارًا

رسول الله ﷺ لکه ښرنګه چي موږ ته د حديثو ښخه معلومه سوې ده د وحي لړۍ په بنديدو سره ډير غمګين سو دومره غمګين چي ښو واره رسول الله ﷺ په سهار کي

كَيْ يَتَرَدَّى مِنْ رُءُوسِ شَوَاهِقِ الْجِبَالِ فَكُلَّمَا أَوْفَى بِذِرْوَةِ جَبَلٍ لِكَيْ يُلْقِيَ مِنْهُ

ددې ارادې سره غرونو ته ولاړی چي ځان د غره د ښوکي ښخه را وغورځوي نو هر وخت چي به غره ته وختی چي خپل ځان لاندي را وغورځوي

نَفْسَهُ تَبَدَّى لَهُ جِبْرِيلُ فَقَالَ يَا مُحَمَّدُ إِنَّكَ رَسُولُ اللَّهِ حَقًّا فَيَسْكُنُ لِذَلِكَ جَأْشُهُ وَتَقِرُّ نَفْسُهُ .

نو جبرائيل علیه السلام به ورته ښکاره سو او فرمايل به يې اې محمد ! بې شکه ته د الله رسول يې ، ددې الفاظو اوريدو سره به يې پريشاني او خفګان دفع سو او زړه به يې مطمئن سو .

تخريج: صحيح البخاري (فتح الباري): ۱\۲۲، رقم: ۳. ومسلم ۱\۱۳۹، رقم: ۲۵۲- ۱۶۰.

د لغاتو حل: الکل: وهو ما لایستقل بامره ای انک تتحمل مونة الکل. جذعا: اي جلدا شابا قویا. (زلمی)

تشریح: بي بي عائشې ﷺ دغه روایت د وحي نازلېدو د پیل ټول تفصیل یا خو خپله له رسول الله ﷺ څخه اورېدلی دی او یا یې له یو صحابي څخه په نقل کولو سره بیان کړی دی، ځکه چي د نبوت د ظهور په لومړنی زمانه کي د بي بي عائشې ﷺ وجود هم نه وو.

رسول الله ﷺ په خوب کي ریښتوني خوبونه لېدل، په دې اړه شارحینو دا قول نقل کړی دی چي د ظهور نبوت څخه مخکي د ریښتونو خوبونو لېدلو وخت شپږ میاشتي وو او د ریښتوني خوب حقیقت دادی چي الله ﷻ د بېده سړي پر زړه او دماغ او د هغه پر احساساتو باندي د هغه شیانو عکس اچوي کوم چي واقع کېدونکي وي، یا مخکي واقع سوي وي مګر د هغه چا په علم کي نه وي، همدارنګه د ویښې په حالت کي د انسان زړه، دماغ او احساس هم بېداره وي، همدارنګه د الله ﷻ په حکم سره د هغه بېده سړي ادراک او احساس هم بېداره کیږي او نیتجه یې داسي چي هغه سړي په خوب کي څهویني هغه بعینه عملي او وجودي تعبیر د هغه د وېښېدو څخه وروسته ویني او په پوهیږي، دغه کار د الله ﷻ په حکم او قدرت سره وي او په عملي دنیا کي ناممکن نه دی، هغه قادر مطلق پر هر شي باندي قدرت لري چي د هغه د فعل په لاره کي خنډ نه سي واقع کیدای.

رسول الله ﷺ په غار حراء کي ناسته اختیار کړل، حراء د هغه مشهور غره نوم دی چي د مکې شاوخوا واقع دی، دغه غره ته جبل ثور هم ویل کیږي، ددغه ځای څخه کعبه شریفه معلومیږي او کیدای سي په دې وجه رسول الله ﷺ د الله ﷻ د عبادت لپاره په دغه غره کي دغه غار ټاکلی وو، ویل کیږي چي حضرت عبدالمطلب هم د فیل د پېښي په وخت کي دغه غر خپل پناه ګاه ګرځولی وو او دلته په دعاء او مناجاتو کي بوخت وو، د حدیث ددغه جملې په اړه شارحینو د خلوت او یوازیوالي په اړه ګټوري خبري لیکلي دي، د مثال په توګه خلوت (یوازیوالی) اختیارول د الله ﷻ د نیکو او صالحو بندګانو یو خاص شان وي ځکه د نبوت د ظهور څخه مخکي رسول الله ﷺ ددغه شان شوقي سو او ددې حکمت دادی چي په خلوت او یوازیوالي کي زړه او دماغ ته پوره سکون او فراغت حاصلیږي، الله ﷻ ته د پوره متوجه کېدو موقع تر لاسه کیږي، د دنیاوي تعلقاتو او فکرو څخه د انساني دماغ قطع کیږي، د الله ﷻ یاد او د هغه په عبادت کي خشوع او خضوع، نورانیت او طمانیت تر لاسه کیږي مګر ددې مطلب دا نه دی چي په هر حالت او هر وخت کي خلوت او یوازیوالی تر ټولو ښه شی او د شریعت په نظر کي زیات غوره دی، بلکه حقیقت دادی چي د خلوت او عزلت په ډول د جلوت او اختلاف هم

ارزښت دی او په دواړو کي کوم صورت چي افضل دی ددې مدار د راتلونکو حالاتو او معاملاتو پر ښه والي او بدوالي باندي دی او په دواړو کي د هر يوه صورت د هغه د شرائطو او ضروریاتو سره سم چي د هغه په شريعت کي اعتبار دی ، پر خپل خپل ځای باندي افضل او غوره دي ، که په يوې ټولنه کي خرابي خپره سوې وي او د خلکو سره په ګډون کي د دين او ايمان د تاوان بېره وي او هيڅوک د نصيحت اورېدو ته تيار نه وي نو په دغه صورت کي خلوت او يوازيوالی افضل دی او که د دين او ايمان خطره نه وي خلک د تعليم او نصيحت اړتيا لري او دا خبره معلومه وي چي خلکو ته د تعليم او نصيحت په ذريعه د نيکۍ روزنه ورکول کيدای سي نو په دغه صورت کي د ټولو سره ګډ اوسېدل او ټولنيز ژوند اختيارول افضل دي .

د تحنث معنی د شپې عبادت کول ده، لکه څرنګه چي خپله بي بي عائشې ﷺ يا بل راوي د (فيتحنث فيه) څخه وروسته د (وهو التعبد الليالي) په ذريعه د دغه لفظ وضاحت کړی دی، په هرحال د ډېرو شپو څخه مراد څو ورځي او شپې دي او په خاصه توګه د شپو ذکر په دې وجه سوی دی چي د خلوت سره د شپې زيات مناسبت وي او دا چي د ډېرو قيد لګول سوی دی نو له دې څخه قلت ته اشاره کول مراد ده چي د پرله پسې شپو او ورځو د عبادت د بوختيا لړۍ به تر زياتو ورځو پوري نه وه بلکه تر څو ورځو پوري به وه، مګر ځينو حضراتو د دې څخه مراد د کثرت مراد کېدل هم د امکان څخه ايستلي نه دي ځکه چي د يو تسلسل ذکر کولو ضرورت په هغه صورت کي وي چي کله هغه په غير معمولي توګه اوږد وي او پر زياتو ورځو مشتمل وي.

تر څو چي د کورنۍ شوق به يې پيدا سوی نه وو، ددې مطلب دادی چي رسول الله ﷺ به ددغه غار حراء څخه په وتلو سره ښار ته هغه وخت راتلی چي کله به پرله پسې د څو ورځو بوختيا وروسته د کورنۍ د خبر اخيستلو او د هغوئ د حقوقو او اړتياوو پوره کولو لپاره هغوئ ته د راتلو خواهش پيدا سو ، دلته دا ذکر کول ضروري دي چي په يوه روايت کي د ينزع پر ځای د يرجع لفظ راغلی دی .

د راتلونکو شپو په اندازه د شيانو په اخيستلو سره به بېرته غار ته تلی، ددې مطلب دادی چي رسول الله ﷺ به تر څو ورځو پوري په خلوت کي وو، د رسول الله ﷺ دا معمول وو چي د عبادت لپاره به غار حراء ته تلی او کله چي به هلته د خوراک او څښناک سامان ختم سو نو په ښار کي خپل کور ته به راتلی او د بي بي خديجې ﷺ څخه به يې د نورو ورځو خوراکي توکي اخيستل او غار ته به تلی، او ددغه شيانو د وړلو مقصد دا وو چي د لوږي او تندي سختي په خلوت کي خنډ نه سي او په پوره اطمينان او ارامه سره په عبادت کي بوخت سي، ددې څخه

معلومه سول چي د ضرورت په اندازه خوراكي توكي د ځان سره ساتل د توكل خلاف نه دي ، محققينو ليكلي دي چي د رسول الله ﷺ د خلوت وخت به په هر كال كي يوه مياشت وو او هغه به د رمضان مباركه مياشت وه .

په دې اړه مختلف قولونه دي چي رسول الله ﷺ د نبوت څخه مخكي په پخوانيو شريعتو كي د يوه شريعت پيروي كول او كه په خپل عقل سره كوم عمل چي به يې خوښ وګڼى په هغه به يې عمل كوى، او كه د هر شريعت څخه به يې هغه عمل اختياروى كوم چي رسول الله ﷺ افضل ګڼى ، او دا چي د پخوانيو شريعتو څخه د يوه شريعت اتباع يې كول نو هغه كوم شريعت وو چي ډېرو علماؤ كه څه هم دا قول اختيار كړى دى چي رسول الله ﷺ د خپل نبوت او شريعت د ظهور څخه مخكي د حضرت ابراهيم عليه السلام په دين عمل كوى ځكه په يوه روايت كي د يتحنث پر ځاى د يتحنف لفظ راغلى دى، ددې مطلب دادى چي رسول الله ﷺ پر دين حنيف يعني د حضرت ابراهيم عليه السلام په دين عمل كوى مګر په دې اړه صحيح او مناسبه خبره دا معلوميږي چي د نبوت څخه مخكي رسول الله ﷺ په عملي توګه د يو دين او شريعت تابع نه وو ، بلكه د الله جل جلاله له خوا د رسول الله ﷺ زړه او دماغ ته د بصيرت هغه نور وركړل سوى وو چي نيک او ښه عمل ته يې د رسول الله ﷺ لارښوونه كول، او همدارنګه رسول الله ﷺ به خپله هغه كار كوى چي د الله جل جلاله په نزد به غوره او مقبول وو ، دلته يو سوال پيدا كيږي چي د رسول الله ﷺ د عبادت تعلق د ذكر او شغل سره وو او كه د ذكر او استغراق سره ؟ په دې اړه څو قولونه دي او صحيح قول دادى چي د رسول الله ﷺ به د ذكر او شغل په صورت كي وو نه د فكر او استغراق په صورت كي .

زه په ويلو نه پوهېږم، د دې مطلب يا خو دا وو چي زه په ښه ډول پر لوستلو قادر نه يم يا دا چي د رسول الله ﷺ د ژبي مباركي څخه دا جواب د هغه د بيري په وجه ووتى چي ناڅاپه د يوې ملائكي د لېدو په وجه د رسول الله ﷺ پر زړه او دماغ باندي خپور سوى وو ، نو دا ګمان دي نه كيږي چي رسول الله ﷺ دغه جواب ځكه وركړ چي رسول الله ﷺ امي وو او په حقيقت كي په ويلو قادر نه وو، ځكه چي امي هغه سړي ته وايي چي په ويلو نه پوهيږي او څرګنده ده چي د يو چا په ښودلو سره ويل يعني د چا د ژبي څخه د يو عبارت او جملې په اورېدو سره په خپله ژبه ادا كول د امي كېدو خلاف نه دي، په خاصه توګه د داسي سړي په حق كي چي په فصاحت او ذهانت كي كامل وي ، او كوم چي د ليكلي عبارت په لېدو سره ويل يا د ليكلو تعلق دى نو دا د امي كېدو خلاف دى، په قاموس كي ليكلي دي: امي هغه سړي ته وايي چي په ليكلو او ليک ويلو باندي نه پوهيږي او په تحرير ورقو كي ما ته يو ليكلى شى نه معلوميږي نو زه څه ووايم، ددغه

روایت په رڼا کي د (زه په ویلو نه پوهېږم) معنی زیاته واضح او مناسب ټاکل کیدای سي .

تر دې چي زه پریشانه سوم، د (حتی بلغ مني الجهد) دغه ترجمه په هغه صورت کي ده چي کله د جهد په لفظ کي د دال حرف منصوب (زور لرونکی) یعني جَهدَ وویل سي، نو مطلب به دا وي چي حضرت جبرائیل علیه السلام د رسول الله ﷺ د خپلي سینې سره په لګولو سره په ډېر زور ونیوی چي په هغه سره رسول الله ﷺ ته تکلیف هم محسوس سو او د حضرت جبرائیل علیه السلام دغه عمل په اصل کي د رسول الله ﷺ په پاک وجود کي ملکوتي نور او په زړه مبارک کي د وحي د منتقل کولو یو داسي صورت وو چي د هغه مقصد رسول الله ﷺ ته د وحي الهي د عظمتونو د تحمل طاقت او قوت ورکول وو، او که د جهد لفظ د دال په پېښ سره یعني جهدُ وویل سي نو په دغه صورت کي به ترجمه دا وي چي حضرت جبرائیل علیه السلام زه دومره په زور ونیولم چي خپله هغه په ډېر تکلیف سو .

چا چي ته او هر شی پیدا کړی دی، ددې مطلب دادی چي تا لره د خپل ذاتي صلاحیت او طاقت یا د بل چا پر مرسته باور او اعتمادل کول نه دي پکار او د هغه مرسته غوښتونکی نه سې ځکه چي هغه هر شی پیدا کړی دی او هغه پر هر شي قادر دی ، دلته یو خاص بحث ته اشاره کول ضروري دي، په دې اړه اختلافي قولونه دي چي تر ټولو مخکي د قرآن کریم کوم سورت نازل سوی دی لکه څرنګه چي ددغه روایت څخه هم ثابتیږي ، د جمهورو علماؤ او مفسرینو قول دادی چي تر ټولو مخکي سورة اقراء نازل سوی دی مګر ځینو ویلي دي چي تر ټولو مخکي نازلېدونکی سورت یا ایها المدثر دی ، که څه هم دغه قول د ډېر کمزوري کېدو په وجه د توجه وړ نه دی مګر ملا علي قاري رحمه الله په دې اړه چي څه لیکلي دي د هغه څخه د دواړو قولو په منځ کي ډېر ښه تطبیق کیږي ، هغه ویلي دي: زما په نزد دا ویل زیات غوره معلومیږي چي سورة اقرا خو حقیقي لومړنی سورت دی او یا ایها المدثر اضافي لومړنی سورت دی یعني د لومړنۍ وحي (سورة اقرا) نازلېدو څخه وروسته د نزول وحي چي کومه لړۍ تر څه وخته پوري قطع سوې وه او بیا دغه لړۍ په دوهم وار پیل سول نو هغه وخت تر ټولو مخکي د یا ایها المدثر سورت نازل سو ، دلته ددې خبري یادونه هم مناسب معلومیږي چي دغه روایت د هغه حضراتو دلیل دی چي وایي : بسم الله الرحمن الرحیم د سورة جزء نه دی بلکه ددې نزول د دوو سورتو په منځ کي د فصل قائمولو لپاره سوی دی .

چي هغه د قلم په ذریعه د ډېر علم تعلیم ورکړ، دلته د قلم څخه مراد هغه قلم قدرت هم کیدای سي چي د الله جل جلاله په حکم سره اولین او آخرین ټول علوم یې په تحریر کي راوستل ، او

ټول آسماني کتابونه په وجود کي د راوستلو لومړنی ذريعه جوړه کړه او زموږ د دنيا دا قلم هم مراد کيدای سي چي په حقيقت کي په دغه کائناتو انساني کي د قلم قدرت مظهر او مثال دی او ددې په ذريعه انسان د الله جَلَّ جَلَالُهُ ورکړی د نور علم او ذهانت په مرسته د څومره علومو او حقائقو اظهار او انکشاف کوي، په مشهور تفسير کشاف کي ددغه آيت په تفسير کي ليکلي دي چي : زموږ دغه قلم د الله جَلَّ جَلَالُهُ د قدرت د کمال عظيم مظهر دی چي څرنګه عجيب او غريب علوم ددې په ذريعه ليکل کيږي .

انسان ته يې هغه شی وښودی چي هغه نه په پوهېدی، ددې مطلب دادی چي د انسان د خپل تاوان خبره نه وه چي په زمان او مکان کي هره لمحه د وجود راتلو نوي نوي شيانو علم او انکشاف باندي قادر سي دا خو د الله جَلَّ جَلَالُهُ د ورکړل سوي هغه نور علم او ذهانت نښه ده چي د انسان د علم او معرفت لوړتيا ته رسوي ، کيدای سي چي دلته د انسان څخه مراد انسان کامل يعني د رسول الله ﷺ ذات مبارک مراد وي، په دغه صورت کي به ويل کيږي چي دلته د الله جَلَّ جَلَالُهُ دغه ارشاد ته اشاره ده : (وعلمک ما لم تکن تعلم وکان فضل الله عليک عظيما) او هر هغه شی يې تاته وښودی چي تا ته معلوم نه وو او دا پر تا د الله جَلَّ جَلَالُهُ لوی فضل دی .

ما ته د خپل ځان ېره ده، د رسول الله ﷺ ددغه بيري اظهار مختلفي وجهي کيدای سي، يا خو د هغه صورت سره ناڅاپه پر رسول الله ﷺ باندي دومره سخته ېره خپره سوې وه چي رسول الله ﷺ د هلاکت يا دماغي توازن خرابېدو ېره محسوس کړې وه يا دا چي رسول الله ﷺ ته دا ېره وه چي د منصب نبوت بار د زغملو څخه ونه وځي يا ددغه منصب په ادا کولو کي چي کوم مصيبتونه او پريشانی راځي د قوم له خوا د کومو تکليفو سره مخامخ کيږي ، د وژني او ظلم اختار ورکول کيږي او خلک چي څرنګه د تکذيب او استهزاء چلن کوي پر هغه صبر وکړل سي ، يا رسول الله ﷺ ته دا ېره وه چي هيوادوال به ما د خپل ښار او هيواد څخه وباسي چي د هغه په وجه د خپل خواږه هيواد او کعبة الله قرب به راڅخه پاته سي .

تاسو د نورو بار پورته کوئ، دا د (تحمل الکل) معنی ده، او کل په اصل کي باور ته وايي او په دې مناسبت سره چي د کورنی خبر ايستل او د هغوئ د اړتياوو پوره کول يو بار وي ځکه نور کورنی ته هم کل ويل کيږي، نو ددې جملې مطلب دادی چي د رسول الله ﷺ يو لوی صفت دا هم دی چي رسول الله ﷺ د خپلي کورنی مصرف او د هغوئ د ذمه داری بار په ډېره ښه توګه پورته کوي او په دغه لار کي راتلونکي تکليفونه هم رسول الله ﷺ نه په تکليف کوي، که څه هم هغه کسان چي رسول الله ﷺ د هغوئ بار پورته کوي له رسول الله ﷺ سره د تعلق ختمولو او

بزدلی معامله کوي ، ځرګنده دي وي چي دلته د بار پورته کولو په معنی کي د کمزورو، يتيمانو، کونډو او مسکينانو باندي مصرف کول هم شامل دي.

تاسو په غريبانو او مسکينانو باندي د مصرف کولو لپاره ګټه کوئ، دا د (تکسب المعدوم) معنی ده او دغه معنی په هغه صورت کي ده چي تکسب د تاء په زور سره وويل سي لکه ځرنګه چي صحيح او مشهور دی او په ځينو روايتو کي دغه لفظ د تاء په پېښ سره هم منقول دی په دغه صورت کي به معنی داسي وي چي تاسو د غريبانو او مسکينانو په ګټه کي مرسته کوئ يعني هغوئ ته روپۍ او مال ورکوئ چي هغه خلک د يو کسب او کار په صورت کي خپل حالت سم کړي او د مسکنۍ ځخه خلاصون تر لاسه کړي، په هر حال په دواړو صورتو کي مفهوم يو دی يعني په نيکو کارو کي د خپل مال مصرف کول ، ځينو حضراتو د معدوم مصداق يوازي پر فقير کړی دی چي عدم تصرف او بالکل د محتاج کېدو په اعتبار پاته وي په دغه صورت کي به مطلب دا وي چي تاسو خپل مال په فقيرانو باندي د مصرف کولو په وجه د هغوئ په ژوند کي حرکت او عمل پيدا کولو سبب ګرځئ.

تاسو د خلکو په حقيقي پېښو او مصيبتو کي د هغوئ مرسته کوئ، دا د تعين علی غائب الحق معنی ده، نوائب په اصل کي د نائبة جمع ده چي د هغه معنی د هغه مصيبت او ضرورت ده چي رانازلېږي، مطلب دا چي رسول الله ﷺ د هر هغه سړي مرسته کوي چي د يو حقيقي پېښي او مصيبت په سبب عاجزه سي د مثال په توګه يو ځوک د پور او ديت په ادا کولو باندي قادر نه وي او په مفلسۍ کي اخته کېدو په وجه د خپل مصيبت ځخه خلاصون نه سي تر لاسه کولای نو رسول الله ﷺ هغه ته د مالي مرستي په ورکولو سره د هغه مصيبت ځخه خلاصون ورکوي، د نوائب الحق د قيد ځخه معلومه سول چي د هغه مصيبت وهلي مرسته او کومک ښه کار او مطلوب دی چي په قدرتي توګه مجبور او لاچاره وي، که يو ځوک د خپل مصيبت خپله سبب سوی وي او هغه د خپلو کړنو او بدوعملو په وجه پر ځان مصيبت نازل کړی وي لکه د اسراف په صورت کي يې خپل مال برباد کړی وي يا په ناروا توګه په غضب او غصه کولو سره د ځان او يا مال تاوان يې کړی وي نو د هغه مرسته کول ښه او مطلوب نه دي.

بي بي خديجې ﷺ په دغه وخت کي د رسول الله ﷺ محاسن او صفتونو په ذکر کولو سره رسول الله ﷺ ته ځرنګه ډاډ ورکړ، او ددې ځخه معلومه سول چي ښه اخلاق او ښه صفتونه انسان په آفت او تاوان کي د لوېدو ځخه ساتي او الله ﷻ يې د هغه صفتو او ښېګڼو په برکت ساتي، ځکه بي بي خديجې ﷺ دا دليل ونيوی چي ته د دومره زياتو ښېګڼو خاوند يې ځکه الله

ﷻ به تاسو د دین او دنیا د هر مصیبت او آفت څخه خوندي وساتي ، ددې څخه د بي بي خدیجې ﷝ په اړه دا ثابته سول چي هغه د ډیري پوهي، بصیرت، معرفت او فقاهت خاونده وه ، او ولي به نه وه چي هغه تر ډیره وخته پوري د رسول الله ﷺ په زوجیت او خدمت کي وه او په رسول الله ﷺ باندي یې تر ټولو مخکي په حقیقت کي ایمان راوړ ، په دغه صفت کي د هغې هیڅوک شریک نسته ، رضي الله عنها ، ددغه حدیث څخه معلومه سول چي یو څوک د یو شي په اړه پریشانه وي نو هغه ته اطمینان او ډاډ ورکول او د هغه په وړاندي د امن او سلامتیا اسباب ذکر کول ښه کار دی او په دغه حدیث کي دې ته اشاره ده چي د رسول الله ﷺ مسکنت اختیارول خپل اختیار سوی شی او خوښ وو، نه دا چي اضطراري او ناخوښه وو چي د هغه اصل بنیاد د سخاوت او کرم اظهار وو ، ددې څخه ماسوا دا خبره هم څرګنده سول چي په رسول الله ﷺ کي ددغه نیکیو او ښېګڼو موجود کېدل تر نبوت مخکي ددې دلیل دی چي دغه ټول انساني او اخلاقي صفتونه او محاسن د رسول الله ﷺ په ذات مبارک کي طبعي وه او په خلقي توګه وه .

ورقه بن نوفل د بي بي خدیجې ﷝ د سکه اکا زوی وو ځکه چي هغه د خالد ابن اسد ابن عبدالعزی لور وه او ورقه د نوفل ابن اسد ابن عبدالعزی زوی وو ، ورقه که څه هم د مکې د مشرکینو سره نسبي تعلق درلود مګر هغه د جاهلیت په زمانه کي د نصرانیت مذهب اختیار کړی وو ، او بیا یې په انجیل کي لویه پوهه تر لاسه کړل او په عربي کي د هغه ترجمه یې هم وکړل ، د نبوت د ظهور په وخت کي کله چي بي بي خدیجې ﷝، رسول الله ﷺ هغه ته وروستی نو په هغه زمانه کي هغه ډېر ضعیف او سپین ږیری سوی وو تر دې چي د هغه بینائي هم له منځه تللې وه .

اې د اکا زویه! د خپل وراره مشکل واوره، د بي بي خدیجې ﷝ ، رسول الله ﷺ ته د ورقه وراره ویل محض د ورقه د سپین ږېرتوب په وجه او د هغه د عزت له موخي وویل، نه دا چي رسول الله ﷺ په حقیقت کي د ورقه وراره وو ، په عربو کي دا رواج وو چي خلکو به په خپلو کي د لیدني او مخاطبت په وخت کي یو بل ته اکا او وراره ویل .

دا خو هغه ناموس (ملائکه) ده ... الخ : ناموس په اصل کي هغه سړي ته وایي چي د پاچا رازدار او باوري کس وي، په دغه مناسبت سره اهل کتابو به حضرت جبرائیل ؑ ته ناموس ویل، ځینو علماؤ ویلي دي چي ناموس د خیر راز دار ته وایي او جاموس د شر راز دار ته ویل کېږي، ورقه ابن نوفل د نصرانیت پیروان وو په دې اعتبار سره د هغه لپاره مناسب دا وه چي هغه داسي ویلي وي دا هغه ناموس دی چي الله ﷻ د وحي په راليږلو سره حضرت عیسی ؑ ته

رالېږي، مګر هغه بې ځایه د خپل دیني تعصب په وجه د حضرت عیسی علیه السلام د ذکر کولو پر ځای د حضرت موسی علیه السلام یادونه وکړل ځکه چي حضرت موسی علیه السلام د کتاب او شریعت د جامعیت په اعتبار زیات جلیل القدر پیغمبر وو.

نو په پوره توان او قوت سره به ستا مرسته وکړم، په دې اړه ځینو علماؤ او شارحینو لیکلي دي چي پر رسول الله ﷺ باندي د ورقه د ایمان راوړلو اختلاف نسته، د هغه په صحابي کېدو کي اختلاف دی، که څه هم دغه پېښه د نبوت د ظاهرېدو څخه وروسته ده نو ظاهره ده چي ورقه ته به صحابي ویل کیږي او که د دغه پېښي تعلق د اظهار نبوت د لومړني پړاو سره وي نو په دغه صورت کي به ورقه ته صحابي نه ویل کیږي، ملا علي قاري رحمه الله د قاموس په حواله لیکلي دي چي د ورقه د ایمان او اسلام په اړه اختلاف سوی دی.

او بیا پر رسول الله ﷺ د وحي راتللو لړۍ پرې سول، یعني پر رسول الله ﷺ باندي د لومړنۍ وحي راتلل او د رسول الله ﷺ د نبوت ظاهرېدل وسول او د هغه څخه وروسته وحي راتلل موقوف سول، ځینو حضراتو ویلي دي چي بیا تر درو کالو پوري وحي نه راغلې، ځینو حضراتو دغه وخت شپږ میاشتي او ځینو دوې نیمي میاشتي ښودلی دی، علامه ابن حجر رحمه الله لیکلي دي چي د وحي د لړۍ د پرې کېدو دا مطلب نه دی چي د سورة اقرء او یا ایها المدثر د نزول په منځ کي رسول الله ﷺ ته د حضرت جبرائیل علیه السلام د راتګ لړۍ هم قطع سوې وه بلکه د وحي د قطع کېدو څخه مراد د قرآن کریم د نزول موقوف کېدل دي، په دغه وخت کي به حضرت جبرائیل علیه السلام راتلی مګر قرآن به یې نه راوړی، او د څه وخت لپاره د وحي د نازلېدلو موقوف کېدو حکمت دا وو چي په لومړنۍ مرحله کي د رسول الله ﷺ په زړه کي کومه ېېره پیدا سوې وه د هغه اثرات زائل سي او د هغه ېېري پر ځای د شوق او انتظار جذبه را پیدا سي:

دیرست که دلدار پیامي نه فرستاد ننوشت سلامي و کلامي نه فرستاد

د انقطاع څخه وروسته بیا وحي

﴿۵۵۹۳﴾: وَعَنْ جَابِرٍ أَنَّهُ سَمِعَ رَسُولَ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ يُحَدِّثُ عَنْ

د حضرت جابر رضي الله عنه څخه روایت دی چي هغه د رسول الله ﷺ د وحي د بندیدو حال داسي

فَتْرَةِ الْوَحْيِ قَالَ فَبَيْنَا أَنَا أَمْشِي سَمِعْتُ صَوْتًا مِنَ السَّمَاءِ فَرَفَعْتُ بَصَرِي

اوریدلی دی چي رسول الله ﷺ فرمایي زه روان وم چي د آسمان څخه ما ته یو آواز وسو چي لوړ

فَإِذَا الْمَلَكُ الَّذِي جَاءَنِي بِحِرَاءٍ قَاعِدٌ عَلَى كُرْسِيٍّ بَيْنَ السَّمَاءِ وَالْأَرْضِ فَجَئِثْتُ

مي وكتل نو وينم چي ما ته هغه ملائکه معلومه سوه چي په غار حراء کي ما ته راغلې وه ، دا ملائکي د مځکي او آسمان په منځ کي پر يو تخت باندي ناسته وه زما په زړه کي د هغه څخه

مِنْهُ رعبا حَتَّى هَوَيْتُ إِلَى الْأَرْضِ فَجِئْتُ أَهْلِي فَقُلْتُ زَمِّلُونِي زَمِّلُونِي فَزَمَّلُونِي

رعب او بيره پيدا سوه تر دې چي زه پر مځکه را ولويدم ، بيا زه خپل کور ته راغلم (کوروالا ته مي وويل چي پر ما جامه واچوئ نو جامه (شړۍ يا توس) راباندي واچول سو ،

فَأَنْزَلَ اللَّهُ تَعَالَى يَا أَيُّهَا الْمُدَّثِّرُ قُمْ فَأَنْذِرْ وَرَبَّكَ فَكَبِّرْ وَثِيَابَكَ فَطَهِّرْ وَالرُّجْزَ فَاهْجُرْ ، ثُمَّ حَمِيَ الْوَحْيُ فَتَتَابَعَ. متفق عليه.

نو الله تعالى دا آيت نازل کړل : (يا ايها المدثر قم فانذر وربک فکبر وثيابک فطهر والرجز فاهجر)، (اې جامه اغوستونکې! ولاړ سه او مخلوق د الله ﷻ د عذاب څخه وبيروه د خپل پروردګار لويي بيان کړه او خپل جامه د نجاست څخه پاکه کړه او ناپاکي پرېږده)، ددې څخه وروسته وحي پر له پسې راتلل پيل سول. بخاري او مسلم.

تخريج: صحيح البخاري (فتح الباري): ۱۱\۲۷، رقم: ۴. ومسلم ۱۱\۱۴۳، رقم: ۲۵۵- ۱۶۱.

د لغاتو حل: فجُئثت: اى خفت و فزعت (و بېرېدم).

تشريح: او مخلوق و بېروه، مطلب دا چي کافران د الهي عذاب څخه و بېروه چي د کفر او شرک لار پرېږدي او د ايمان او اسلام پر لار روان سي او مؤمنانو ته د ثواب او زيرى خبر ورکړه چي د ښه کار کولو جذبه او تحريک پکښي پيدا سي .

او خپل رب لوى ګڼه، مطلب دا چي د لوئي او کبريايي مالک يوازي پروردګار وګڼه او په دې اعتبار يوازي هغه د تعظيم وړ منه او د هغه په وړاندي سر کښته کوه، د هغه په ډول بل هيڅوک لوى مه ګڼه او کله چي د غير الله له خوا يوه خبره رامنځته سي نو الله اکبر ووايه ، منقول دي چي کله دا حکم نازل سو نو د رسول الله ﷺ د ژبي مبارکي څخه بېله قصده د الله ﷻ اکبر نعره ووتل، او بيا بي بي خديجې رضي الله عنها هم دغه نعره (الله اکبر) ووايه او هغوئ ته ډېره خوشحالي او اطمينان تر لاسه سو او دا يقين ورته حاصل سو چي دا د الله ﷻ له خوا نازلېدونکي وحي دي .

او خپلي جامې پاكي كړه، يعني خپل جامې او لباس د نجاست او مردارۍ څخه خوندي ساته او پاكۍ ته خيال كوه، ځينو حضراتو دا ويلي دي چي د جامو په پاكولو كي د جامو څخه مراد انساني صفات او محاسن دي او د پاكولو څخه مراد د خرابو عادتو او خرابو خبرو څخه پرهيز كول دي،

او مرداري پرېږده، د مردارۍ څخه مراد شرک او گناه دي او پر دغه پرهيز په پابندي سره قائم اوسه . ځينو شارحينو ليكلي دي چي د دغه حديث راوي د اقتصار او اختصار له موخي د ذكر سوو آياتونو آخري برخي نه دي نقل كړي چي دا دي :

(ولاتمنن تستكثر و لربک فاصبر) او هيچا ته يې له دې كبله مه وركوه (چي بيا بل وخت) زيات وغواړې او د خپلي خوښي لپاره صبر كوه .

په تفسير مدارک كي ذكر سوى روايت د حضرت جابر ﷛ په الفاظو كي داسي منقول دي چي رسول الله ﷺ وفرمايل: زه يوه ورځ په غار حرا كي وم چي يو چا ما ته په دغه الفاظو ږغ وكړ: يا محمد انک رسول الله، اې محمد ! بېله شكه ته د الله ﷻ رسول يې، ما راسته او چپه خوا ته وكتل بيا مي لوړ وكتل نو وينم چي ما ته ږغ كونكې يوه ملائكه ده چي د مځكي او آسمان په منځ كي پر يو تخت ناسته ده، دهغې په ليدو سره زه و بېرېدم او بي بي خديجې ﷞ ته بېرته راغلم چي پر ما تهو كړ واچوه ، نو بي بي خديجې ﷞ پر ما تهو كړ واچوى ، بيا جبرائيل ﷤ راغلى او ما ته يې دا وبنودل: يا ايها المدثر ... الخ، تر دې وروسته د روايت هغه الفاظ دي كوم چي مخكي ذكر سول .

وحي څنگه راتلل

﴿۵۵۹۴﴾: وَعَنْ عَائِشَةَ أَنَّ الْحَارِثَ بْنَ هِشَامٍ رَضِيَ اللَّهُ عَنْهُ سَأَلَ رَسُولَ اللَّهِ

د حضرت عائشې (رض) څخه روايت دى چي حارث بن هشام ﷛ رسول الله ﷺ ته عرض وكړ

صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ فَقَالَ يَا رَسُولَ اللَّهِ كَيْفَ يَأْتِيكَ الْوَحْيُ فَقَالَ رَسُولُ

اې د الله رسوله ! تاسو ته وحي څنگه راځي؟ رسول الله ﷺ ورته وفرمايل :

اللَّهِ ﷺ أَحْيَانًا يَأْتِينِي مِثْلَ صَلْصَلَةِ الْجَرَسِ وَهُوَ أَشَدُّهُ عَلَيَّ فَيُفْصَمُ عَنِّي

كله خو د هغه اواز د شپيلكي په ډول وي دا پر ما سخت ترين وحي وي ، بيا وحي موقوف سي او

څه چي ما د ملائکي څخه اوريدلي دي هغه زه ياد کړم

وَقَدْ وَعَيْتُ عَنْهُ مَا قَالَ وَأَحْيَانًا يَتَمَثَّلُ لِي الْمَلَكُ رَجُلًا فَيُكَلِّمُنِي فَأَعِي مَا

او کله داسي وي چي د وحي ملائکه د يو سړي په شکل ما ته راسي او زما سره خبري کوي او څه

يَقُولُ قَالَتْ عَائِشَةُ رَضِيَ اللّٰهُ عَنْهَا وَلَقَدْ رَأَيْتُهُ يَنْزِلُ عَلَيْهِ الْوَحْيُ فِي الْيَوْمِ الشَّدِيدِ الْبَرْدِ فَيَفْصِمُ عَنْهُ وَإِنَّ جَبِينَهُ لَيَتَفَصَّدُ عَرَقًا. متفق عليه.

چي زه واورم هغه ياد کړم ، بي بي عائشه وايي ما پر رسول الله ﷺ وحي نازليدل ليدلي دي د يخ په ورځو کي به چي پر رسول الله ﷺ د وحي راتللو څخه وروسته ملائکه ولاړل نو ما به وليدل چي د رسول الله ﷺ د تندي مبارک څخه به خوله جاري وه. بخاري او مسلم

تخريج: صحيح البخاري (فتح الباري): ۱۱\۱۸، رقم: ۲. ومسلم ۱۸۱۶\۴، رقم: ۸۶- ۲۲۳۳.

د لغاتو حل: فيفصم: اي ينقطع على (پر ما قطع کېدی)

تشريح: او دغه وحي پر ما تر ټولو سختي وحي وي، يعني ددغه وحي الفاظ او مفهوم په پوهېدو کي سخت تکليف راته پېښيږي ځکه چي په داسي خبره پوهېدل چي د هغه الفاظ په غير مانوس آواز (لکه د ړنګ آواز) کي وي نو سخت تکليف وي، ددې په نسبت هغه خبره په اساني سره په پوهه کي راځي چي د يو انسان سره د همکلامی او مخاطبت په صورت کي وي.

ملائکي د انسان په شکل اختيارولو سره ...... الخ: په دې اړه شارحينو دا مشهور قول ليکلی دی چي کله به حضرت جبرائيل ﷺ د انسان په شکل کي راتلی نو زيات وختونه به د يو صحابي حضرت دحيه کلبي په شکل او صورت کي راتلی او علماؤ ليکلي دي چي استفاده او استفاضه (يعني د فيض تر لاسه کولو) لپاره دا بنيادي شرط دی چي د خبره کونکي او خبري اورېدونکي په منځ کي هغه مناسبت وي چي يو د بل څخه بهره نه وي، د حضرت جبرائيل ﷺ په ذريعه په رسول الله ﷺ باندي د وحي د نزول لپاره چي دواړي ذکر سوي طريقې په عمل کي راتلې په هغو کي به ددې شرط لحاظ وو ، کله به داسي وه چي د حضرت جبرائيل ﷺ ملکيت او روحانيت به پر رسول الله ﷺ غالب سو او د څه وخت لپاره به رسول الله ﷺ د بشريت څخه بېل کړل سو چي په هغه سره به رسول الله ﷺ ته د حضرت جبرائيل ﷺ سره ملکوتي مناسبت تر لاسه کېدی ، دا به هغه صورت وو چي هغه ته رسول الله ﷺ د وحي د نزول لومړنۍ طريقې ته اشاره

وکړل او کله به داسي وه چي د رسول الله ﷺ بشريت به پر حضرت جبرائيل علیه السلام غالب کړل سو او هغه به د څه وخت لپاره د بشريت د وصف خاوند سو چي په هغه سره به د رسول الله ﷺ او حضرت جبرائيل علیه السلام په منځ کي بشري مناسبت پيدا کيدی ، دا هغه دوهم صورت وو چي هغه ته رسول الله ﷺ د وحي د نزول دوهمه طريقه بيانولو سره اشاره وکړل مګر دا ټول بحث د هغه وخت دی کله چي دا ومنل سي چي رسول الله ﷺ کوم شی د ژنګ په آواز سره تعبير کړ هغه د نفس وحي آواز وو لکه څرنګه چي د حديث د ظاهري عبارت څخه څرګنديږي،

ځيني حضرات وايي چي د ژنګ د آواز په ډول هغه آواز په اصل کي د حضرت جبرائيل علیه السلام خپل آواز وو، چي د وحي رسولو څخه مخکي به ځيني ظاهرېدی، او مخکي د هغه دغه اواز ظاهرېدو حکمت دا وو چي رسول الله ﷺ په پوره توګه ورته متوجه سي او د رسول الله ﷺ اورېدل د وحي د الفاظ اورېدو لپاره داسي تيار او خالي سي چي د وحي څخه ماسوا د بل آواز لپاره د هغه په اورېدو کي ځای پاته نه سي، او له دې کبله د وحي د نازلېدو دغه لومړنی صورت به پر رسول الله ﷺ ډېر سخت وو، چي د رسول الله ﷺ د ټول فکري طاقت په جمع کېدو سره يوازي وحي ته متوجه وي.

...... نو د رسول الله ﷺ تندی مبارک به د خولو څخه ډک معلومېدی، په ظاهره دا معلوميږي چي دغه کيفيت به په هغه صورت کي پېښېدی چي کله به د وحي د نزول لومړنی طريقه په عمل کي راتلل مګر دا هم کيدای سي چي په دواړو صورتو کي به دغه کيفيت وو.

دوحي کيفيت

﴿۵۵۹۵﴾: وَعَنْ عُبَادَةَ بْنِ الصَّامِتِ قَالَ كَانَ النَّبِيُّ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ إِذَا أُنْزِلَ عَلَيْهِ الْوَحْيُ كرب لذالك وتربد وجهه وفي رواية نَكَسَ رَأْسَهُ وَنَكَسَ أَصْحَابُهُ رُءُوسَهُمْ فَلَمَّا أُتْلِيَ عَنْهُ رَفَعَ رَأْسَهُ . رواه مسلم.

د حضرت عباده بن صامت رضی الله عنه څخه روايت دی چي کله به پر رسول الله ﷺ وحي نازليدل نو هغه وخت به رسول الله ﷺ پريشانه سو او د مخ مبارک رنګ به يې بدل سو، او په يوه روايت کي دا الفاظ دي چي کله به پر رسول الله ﷺ وحي راتلل نو خپل سر مبارک به يې کښته کړ او صحابه کرامو به هم سرونه کښته کړل او کله چي به وحي ختم سوه نو سر مبارک به يې پورته کړ

تخريج: صحيح مسلم: ۴\۱۸۱۷، رقم: ۸۸- ۲۳۳۴.

تشريح: نو رسول الله ﷺ ته به سخت غم پېښېدی، ددې مطلب دادی چي څرنګه يو سړی يوه لويه ذمه داري په غم او فکر کي اخته کوي همدارنګه رسول الله ﷺ به د هغه وحي يادولو، او نورو ته د رسولو ذمه دارۍ سخت په غم او فکر کي کړ او د هغه ذمه دارۍ د ادا کولو بندوبست به رسول الله ﷺ د بار څخه سپکوی ځکه الله جل جلاله فرمايي :

لَا تُحَرِّكْ بِهِ لِسَانَكَ لِتَعْجَلَ بِهِ ، إِنَّ عَلَيْنَا جَمْعَهُ وَقُرْآنَهُ

اې پيغمبره! ته د وحي د ختمېدو څخه مخکي په قرآن باندي خپله ژبه چلوه چي ته هغه ژر په ياد کړې ، دا قرآن ستا په زړه کي جمع کول او خوندي کول زموږ پر ذمه دی. يا دغه غم او فکر به رسول الله ﷺ ته له دې کبله وو چي په نازلېدونکي وحي کي د غضب او عذاب اظهار کوونکي آياتونه هم وه او رسول الله ﷺ به د هغه آياتو په وجه د خپل امت په حق کي په غم کي سو چي زما د امت خلک د دغه غضب او عذاب وړ نسي ، د صحابه کرامو سر کښته کول يا خو له دې کبله وو چي هغه وخت پر رسول الله ﷺ باندي کوم کيفيات خپرېدل ، د کمال تعلق او ميني په وجه د هغه اثر په صحابه کرامو کي هم سرايت کوی ، يا دا چي کله به صحابه کرامو ، رسول الله ﷺ په داسي حالت کي وليدی نو د پيروۍ له مو خي به هغوئ هم خپل سرونه کښته کول .

د الله تعالی د دين اول دعوت

﴿۵۵۹۶﴾: وَعَنِ ابْنِ عَبَّاسٍ قَالَ لَمَّا نَزَلَتْ وَأَنْذِرْ عَشِيرَتَكَ الْأَقْرَبِينَ خَرَجَ

د حضرت ابن عباس رضي الله عنهما څخه روايت دی چي کله دا آيت نازل سو : (وانذر عشيرتک الاقربين)، (خپل نژدې خپلوان وبيره)،

النَّبِيُّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ حَتَّى صَعِدَ الصَّفَا جَعَلَ يُنَادِي يَا بَنِي فِهْرٍ يَا بَنِي

نو نبي کريم ﷺ د صفا غونډۍ ته وختی او نعرې يې کړلې اې د فهر اولاده! اې د عدي اولاده!

عَدِيٍّ لِبُطُونِ قُرَيْشٍ حَتَّى اجْتَمَعُوا فَجَعَلَ الرَّجُلُ إِذَا لَمْ يَسْتَطِعْ أَنْ يَخْرُجَ

همداسي د قريشو ټولو قبيلو ته يې نوم په نامه اواز وکړ، تر دې چي ټول يو ځای سول، داسي هم وه چي د قبيلې يو لوی سړی به په يو سبب نه سو تللای

أَرْسَلَ رَسُولًا لِيَنْظُرَ مَا هُوَ فَجَاءَ أَبُو لَهَبٍ وَقُرَيْشٌ فَقَالَ أَرَأَيْتَكُمْ لَوْ

نو د خپل طرف څخه به یې یو بل ځوک ولیږي، غرض دا چې ابولهب او د قریشو ټول خلک راجمع سول، رسول الله ﷺ هغوئ ته وفرمایل:

أَخْبَرْتُكُمْ أَنَّ خَيْلًا تخرج من صفح هذا الجبل وفي رواية ان خيلا تخرج

که زه تاسو ته دا خبر درکړم چې دد غه غره شا ته سل سپاره دي، او په یوه روایت کي دي چې په

بِالْوَادِي تُرِيدُ أَنْ تُغِيرَ عَلَيْكُمْ أَكُنْتُمْ مُصَدِّقِيَّ قَالُوا نَعَمْ مَا جَرَّبْنَا عَلَيْكَ إِلَّا

دغه ځنګل کي، چې پر تاسو حمله کول غواړي نو ایا تاسو به دا خبره رښتیا وګڼئ او ما به رښتوني وګڼئ، خلکو وویل موږ په تجربه کي ته همیشه رښتونی ثابت کړی یې په دې وجه

صِدْقًا قَالَ فَإِنِّي نَذِيرٌ لَكُمْ بَيْنَ يَدَيْ عَذَابٍ شَدِيدٍ فَقَالَ أَبُو لَهَبٍ تَبًّا لَكَ أَلِهَذَا جَمَعْتَنَا فَنَزَلَتْ تَبَّتْ يَدَا أَبِي لَهَبٍ وَتَبَّ. متفق عليه.

موږ ستا خبره صحیح ګڼو، رسول الله ﷺ ورته وفرمایل: زه تاسو د هغه عذاب څخه بیروم کوم چې ستاسو په مخکي دی، ددې اوریدو سره ابولهب وویل، ته هلاک او تباه سې ددې خبري لپاره تا موږ راجمع کړي یو، پر دې خبره باندي سورة تبت یدا ابي لهب وتب، نازل سو، (یعني د ابولهب دواړه لاسونه دي هلاک سي او هغه دي هم هلاک سي). بخاري او مسلم.

تخريج: صحيح البخاري (فتح الباري): ۸\۵۰۱، رقم: ۴۷۷۰.

تشريح: په (تبت یدا ابي لهب) کي د یدا لفظ (چې معنی یې د دواړو لاسو ده) زائد دی، یا له دواړو لاسو څخه مراد د هغه ټول بدن دی او څرنګه چې په ټولو اندامو کي لاس داسي اندام دی چې انسان په هغه سره خپل ټول خارجي کار کوي او د هغه زیات انحصار پر لاسو وي، له دې کبله د لاس په ذکر کولو سره ټول بدن مقصد دی لکه چې په یو بل ځای کي الله ﷻ فرمایي: (ذلک مما قدمت یداک) همدارنګه په ځینو روایتو کي راغلي دي چې په دغه وخت کي د ابولهب په دواړو لاسو کي ډبري وې او کله چې هغه د رسول الله ﷺ له ژبي مبارکي څخه ذکر سوي الفاظ واورېدل نو په ډېره غصه کي یې هغه ډبري د رسول الله ﷺ خوا ته وغورځولې، په دغه صورت کي به معنی دا وي چې د ابولهب لاسونه دي مات سي او هغه دي برباد سي.

د دعوت په بدله کي د قريشو بد چلن

﴿۵۵۹۷﴾: وَعَنْ عَبْدِ اللّٰهِ بْنِ مَسْعُوْدٍ قَالَ بَيْنَمَا رَسُوْلُ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ

د حضرت عبدالله بن مسعود رضي الله عنه څخه روايت دی چي رسول الله ﷺ (يو وار) د کعبې شريفې

يُصَلِّي عِنْدَ الْكَعْبَةِ وَجَمْعُ قُرَيْشٍ فِي مَجَالِسِهِمْ إِذْ قَالَ قَائِلٌ أَيُّكُمْ يَقُوْمُ إِلَى

نژدې لمونځ کوی او د قريشو يو ډله د کعبې څخه شاوخوا د خپل مجلس حلقه جوړه کړې ناست وه، چي ناڅاپه يو سړی وويل په تاسو کي څوک داسي سته چي د فلاني سړي اولاد ته ولاړ سي

جَزُوْرِ آلِ فُلَانٍ فَيَعْمِدُ إِلَى فَرْثِهَا وَدَمِهَا وَسَلَاهَا ثُمَّ يُمْهِلُهُ حَتَّى إِذَا سَجَدَ وَضَعَهُ

چي اوښ يې ذبح کړی دی او د هغه نجاست لړی، کولمې وغيره راوړي، بيا انتظار وکړي او هر کله چي دی (يعني محمد ﷺ) سجدې ته ولاړ سي

بَيْنَ كَتِفَيْهِ فَانْبَعَثَ أَشْقَاهُمْ فَلَمَّا سَجَدَ وَضَعَهُ بَيْنَ كَتِفَيْهِ وَثَبَتَ النَّبِيُّ صَلَّى

نو هغه ټول شيان دده پر اوږو کښېږدي، په هغوئ کي يو بدبخته (چي د هغه نوم عقبه ابي معيط وو) ولاړ سو او هغه شيان يې راوړل، کله چي رسول الله ﷺ سجدې ته ولاړی نو د رسول الله ﷺ د دواړو اوږو مبارکو په منځ کي يې کښېښودل،

اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ سَاجِدًا فَضَحِكُوْا حَتَّى مَالَ بَعْضُهُمْ إِلَى بَعْضٍ مِنَ الضَّحِكِ

رسول الله ﷺ پر سجده پروت وو، هغوئ بدبختان دده په ليدو سره په خندا سول دومره يې وخندل چي د ډيري خندا څخه يو پر بل پريوتل،

فَانْطَلَقَ مُنْطَلِقٌ إِلَى فَاطِمَةَ عَلَيْهَا السَّلَام وَهِيَ جُوَيْرِيَةٌ فَأَقْبَلَتْ تَسْعَى وَثَبَتَ

بيا يو سړی بي بي فاطمې ته ورغلی، بي بي فاطمه رضي الله عنها په منډه راغلل، رسول الله ﷺ هم هغسي

النَّبِيُّ ﷺ سَاجِدًا حَتَّى أَلْقَتْهُ عَنْهُ وَأَقْبَلَتْ عَلَيْهِمْ تَسُبُّهُمْ فَلَمَّا قَضَى رَسُوْلُ اللّٰهِ

پر سجده پروت وو، بي بي فاطمې رضي الله عنها هغه نجاست د رسول الله ﷺ د شا څخه ليري کړ او وه يې غورځول، او کافرانو ته يې بد رد وويل، کله چي رسول الله ﷺ د لمانځه څخه فارغ سو

ﷺ الصَّلَاةَ قَالَ اللّٰهُمَّ عَلَيْكَ بِقُرَيْشٍ ثلثا وكان اذا دعا دعا ثلثا واذا سال سال

نو دا دعاء وکړل اې الله ! ته قریش په سختي سره ونیسئ (درې واره رسول الله ﷺ دا الفاظ وفرمایل)، د رسول الله ﷺ دا عادت مبارک وو چې کله به یې دعاء کول یا د الله ﷻ څخه به یې

ثلاثا اللّٰهُمَّ عَلَيْكَ بِعَمْرِو بْنِ هِشَامٍ وَعُتْبَةَ بْنِ رَبِيعَةَ وَشَيْبَةَ بْنِ رَبِيعَةَ وَالْوَلِيدِ

یو څه غوښتل نو درې واره به یې هغه الفاظ ویل، اې الله ! ته عمرو بن هشام سخت ونیسې، اې الله ! ته عتبه بن ربیعه په سختۍ سره ونیسې، اې الله ! ته شیبه بن ربیعه سخت ونیسې، اې

بْنِ عُتْبَةَ وَأُمَيَّةَ بْنِ خَلَفٍ وَعُقْبَةَ بْنِ أَبِي مُعَيْطٍ وَعُمَارَةَ بْنِ الْوَلِيدِ قَالَ عَبْدُ اللّٰهِ

الله ! ته ولید بن عتبه، امیه بن خلف، عقبه بي ابي معیط او عماره بن ولید سخت ونیسې، د حضرت عبدالله بن مسعود ﷺ بیان دی

فَوَاللّٰهِ لَقَدْ رَأَيْتُهُمْ صَرْعَى يَوْمَ بَدْرٍ ثُمَّ سُحِبُوا إِلَى الْقَلِيبِ قَلِيبِ بَدْرٍ ثُمَّ قَالَ

قسم په خدای ما دا ټول خلک چې رسول الله ﷺ ورته ښیرا کړې وه د بدر په ورځ پر مځکه مړه پراته ولیدل، بیا هغوئ د جنګ د میدان څخه را وایستل سول او د بدر په څاه کې وغورځول سول، او په څاه کې د اچولو څخه وروسته

رَسُولُ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ وَأُتْبِعَ أَصْحَابُ الْقَلِيبِ لَعْنَةً. متفق عليه.

رسول الله ﷺ وفرمایل: پر دغه ډلې چې په څاه کې اچول سوي دي د الله ﷻ لعنت سوی دی. بخاري او مسلم.

تخريج: صحيح البخاري (فتح الباري): ۱\ ۵۹۴، رقم: ۵۲۰، ومسلم ۳\ ۱۴۱۸، رقم: ۱۰۷- ۱۷۹۴.

د لغاتو حل: سلاها: وهو الجلد الرقيق الذي يخرج فيه الولد من بطن امه (د رحم پرده)

تشريح: ناڅاپه په هغوئ کې یو سړي وویل: په دې اړه شارحینو لیکلي دي چې هغه سړی ابوجهل وو، همدارنګه په یوه روایت کې دا هم دي چې د رسول الله ﷺ د لمانځه او عبادت په لېدلو سره او رسول الله ﷺ ته په اشاره کولو سره په هغوئ کې یو سړي وویل: (الا ينتظرون الى هذا المرائي) یعني دغه ریاء کونکي ته وګورئ.

ددغه پېښې په وخت د حضرت فاطمې ﷺ عمر ډېر کم وو ځکه د هغې د زېږېدني په وخت کې د رسول الله ﷺ عمر یو څلوېښت کاله وو مګر په دغه کم عمرۍ کې هم دا د حضرت فاطمې ﷺ لوړ همتي وه چې هغې د دغه خبر په اورېدو سره د قریشو په ډله کې راوځغستل، او نه یوازې

دا چي د رسول الله ﷺ څخه یې هغه شیان پورته کړل بلکه هغه ټولو کافرانو ته یې مخامخ بد وویل او هیڅ ته د هغې د مقابلې کولو توان نه وو.

رسول الله ﷺ چي د مکې د مشرکینو څخه د کومو کسانو په نامه اخیستلو سره ښېرا وکړل، هغوئ په اصل کي د الله ﷻ د دین او د رسول الله ﷺ سخت دښمنان وه او د قریشو په مشرانو کي شمېرل کېدل او همدغه کسان وه چي رسول الله ﷺ ته په تکلیف ورکولو کي وړاندي وه، رسول الله ﷺ د هغوئ پر تکلیفو د بې مثاله صبر او تحمل ثبوت ورکړ، تر ډېره وخته یې له زغم څخه کار اخیستی، په پای کي کله چي الله ﷻ د هغوئ د بربادي فیصله وفرمایل نو د رسول الله ﷺ په ژبه یې د هغوئ لپاره ښېرا جاري کړل او ټوله بدبختان په خپله سزا ورسېدل.

لطف حق گرچه موا ساها کند لیک چون از حد بشد رسوا کند

دغه کسان چي په څاه کي وغورځول سول، ملعون وګرځېدل، رسول الله ﷺ دغه الفاظ صحابه کرامو ته په مخاطب کېدو سره وفرمایل، له دې وروسته رسول الله ﷺ په څاه کي غورځول سوو مشرکانو ته مخاطب سو او وې فرمایل: بېله شکه موږ هغه شی (فتح) تر لاسه کړل کوم چي زموږ رب یې وعده کړې وه او بېله شکه تاسو هم هغه شی (یعني عذاب او سزا) تر لاسه کړل کوم چي ستاسو رب یې ستاسو سره وعده کړې وه، د حدیث دغه آخري الفاظ دلته نقل سوي نه دي مګر د کتاب الجهاد په یوه روایت کي نقل سوي دي، همدارنګه د دغه ټولو قریشي مشرانو په اړه دا ویل چي هغوئ ټول د بدر په غزا کي هلاک او برباد سول او هغوئ په څاه کي وغورځول سول، د اکثر په اعتبار دی چي په هغوئ کي د زیاتو مشرکانو دغه حال سو او په هغوئ کي ځیني مشرکان د مثال په توګه عماره بن ولید په اړه ویل کیږي چي هغه د بدر په غزا کي شریک نه وه بلکه په حبشه کي مړ سو، همدارنګه عقبه بن ابو معیط د بدر په غزا کي وژغورل سو مګر وروسته په بد ډول ووژل سو، همدارنګه امیه بن خلف د بدر په غزا کي ووژل سو مګر د هغه بدن دومره وروست سوی وو چي د دروند کېدو په وجه څاه ته نه سو راوړل کیدای، دغه ټول تفصیل د سیرت او تاریخ په کتابو کي مذکور دي.

د دغه حدیث په اړه دا سوال پیدا کیږي چي کله د رسول الله ﷺ پر ملا مبارکه باندي ناپاکه شیان واچول سول نو یقینا د رسول الله ﷺ بدن مبارک او جامې ناپاکه سولې، نو ددې سره رسول الله ﷺ په لمانځه کي څرنګه بوخت وو؟ ددې جواب دادی چي دغه پېښه د هغه وخت ده کله چي د ویني او مشرکانو د ذبیحې په اړه د حرمت حکم نازل سوی نه وو، له دې کبله د رسول الله ﷺ پر لمانځه هیڅ اثر ونه لویدی لکه چي د شرابو د حرمت نازلېدو مخکي کله چي به پر

جامو شراب ولګېدل نو پر هغه جامو يې لمونځ کوی او لمونځ کيدی .

د عقبه سخت مصائب او د رسول الله ﷺ تحمل

﴿۵۵۹۸﴾: وَعَنْ عَائِشَةَ أَنَّهَا قَالَتْ يَارَسُولَ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ هَلْ أَتَى

د حضرت عائشې (رض) څخه روايت دی چې ما عرض وکړ اې د الله رسوله ! ايا د احد د ورځې

عَلَيْكَ يَوْمٌ كَانَ أَشَدَّ مِنْ يَوْمِ أُحُدٍ فَقَالَ لَقَدْ لَقِيتُ مِنْ قَوْمِكِ وَكَانَ أَشَدَّ مَا

څخه هم زياته سخته ورځ پر تاسو تيره سوې ده ؟ رسول الله ﷺ وفرمايل : ما ستا د قوم څخه هغه څه ليدلي دي چې تر احد هم زيات سخت دي، او تر ټولو سخته ورځ

لَقِيتُ مِنْهُمْ يَوْمَ الْعَقَبَةِ إِذْ عَرَضْتُ نَفْسِي عَلَى ابْنِ عَبْدِ يَالِيلَ بْنِ عَبْدِ

چې پر ما تيره سوې ده چې په هغه کې ما ستا د قوم څخه داسې تکليف پورته کړی دی چې په ټول عمر کې مې هم نه دی زغملی ، هغه د عقبه ورځ او د عقبه مصائب دي (عقبه يو ځای دی چې هلته د حج په ورځو کې ډبرې ويشتل کيږي دې ته جمره عقبه هم وايي) ما خپل ځان (يعني

كُلَالٍ فَلَمْ يُجِبْنِي إِلَى مَا أَرَدْتُ فَانْطَلَقْتُ وَأَنَا مَهْمُومٌ عَلَى وَجْهِي فَلَمْ أَسْتَفِقْ

خپل دعوت) د ابن عبد يا ليل بن عبد کلال په مخکې وړاندې کړ او کوم شی چې ما هغه ته وړاندې کړ د هغه يې هيڅ جواب نه راکړ زه د هغه ځای څخه غمګين ولاړم ،

إِلَّا بِقَرْنِ الثَّعَالِبِ فَرَفَعْتُ رَأْسِي فَإِذَا أَنَا بِسَحَابَةٍ قَدْ أَظَلَّتْنِي فَنَظَرْتُ فَإِذَا

مقام قرن ثعالب ته چې ورسيدم نو ما ته هوښ راغلی (يعني د پريشانۍ حالت راڅخه ليرې سو) ما چې سر پورته کړ نو د وريځې يوه ټوټه راته معلومه سوه چې پر ما باندې يې سايه کړې

فِيهَا جِبْرِيلُ فَنَادَانِي فَقَالَ إِنَّ اللّٰهَ عَزَّ وَجَلَّ قَدْ سَمِعَ قَوْلَ قَوْمِكَ وَمَا رُدُّوا

وه بيا ما په هغه کې جبرائيل عليه السلام وليدی ، جبرائيل عليه السلام ما ته وويل : الله تعالی ستا د قوم خبره واوريده او ستا د خبرې چې هغوئ څه جواب وکړ هغه يې هم واوريدل (يعني تا ته ستا د قوم بد او رد ويل او درواغ ګڼل هر څه خدای جل جلاله ته معلوم دي)

عَلَيْكَ وَقَدْ بَعَثَ إِلَيْكَ مَلَكَ الْجِبَالِ لِتَأْمُرَهُ بِمَا شِئْتَ فِيهِمْ قَالَ فَنَادَانِي

اوس الله تعالی تاسو ته د غرونو ملائکه رالیږلې ده چې د دغه خلکو په اړه تاسو څه حکم کوئ؟
هغه یې پر ځای راوړي ، رسول الله ﷺ وفرمایل : د دې څخه وروسته د غرونو ملائکي پر ما

مَلَكُ الْجِبَالِ فَسَلَّمَ عَلَيَّ ثُمَّ قَالَ يَا مُحَمَّدُ إِنَّ اللَّهَ قَدْ سَمِعَ قَوْلَ قَوْمِكَ وَأَنَا

سلام ووایه ، بیا یې راته وویل اې محمد! الله تعالی ستا د قوم خبره واوریده او زه

مَلَكُ الْجِبَالِ وَقَدْ بَعَثَنِي رَبُّكَ إِلَيْكَ لِتَأْمُرَنِي بِأَمْرِكَ إِنْ شِئْتَ أَنْ أُطْبِقَ

د غرونو ملائکه یې ستا په خدمت کې رالیږلی یم چې زه ستا حکم پر ځای راوړم، که تاسو

عَلَيْهِمُ الْأَخْشَبَيْنِ فَقَالَ رَسُولُ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ بَلْ أَرْجُو أَنْ يُخْرِجَ

وایاست نو زه به داخشبین دواړه غرونه پر دې کفارو را نسکور کړم، رسول الله ﷺ ورته
وفرمایل (زه نه غواړم چې دوئ هلاک سي) بلکه زه امید لرم چې

اللَّهُ مِنْ أَصْلَابِهِمْ مَنْ يَعْبُدُ اللَّهَ وَحْدَهُ لَا يُشْرِكُ بِهِ شَيْئًا. متفق عليه.

الله تعالی به د دوئ په اولاد کې داسې خلک پیدا کړي چې د یوازې د یوه الله ﷻ عبادت به
کوي او شرک به نه کوي . بخاري او مسلم.

تخريج: صحيح البخاري (فتح الباري): ٦\٣١٢، رقم: ٣٢٣١، ومسلم ٣\١٤٢٠، رقم: ١١١- ١٧٩٥.

د لغاتو حل: الثعالب: جبل بين مكة والطائف (د مکې او طائف په منځ کې د یو غره نوم)

تشريح: عقبه ، په اصل کې هغه لارې ته وایي چې د دوو غرو په منځ کې تیریږي مګر دلته له عقبه څخه مراد هغه ځای دی چې په منی کې واقع دی او هغه ته د جمره په نسبت کولو سره جمرة العقبه وایي، د رسول الله ﷺ دا معمول وو چې د حج په زمانه کې او د عامو اجتماعو په ځای کې یې د اسلام دعوت کوی او هغوئ ته یې د الله ﷻ پیغام وړاندې کوی، هغوئ ته یې د نیکو کارو تلقین او تبلیغ کوی او له بدو کارو څخه یې منع کول او د الله ﷻ د عذاب څخه یې بېرول، په دغه ورځ هم داسې وسول چې رسول الله ﷺ د عقبه پر ځای د خلګو په مجمع کې اسلام وړاندې کړ او ټولو قبیلو ته یې د الله ﷻ د دین قبلولو تبلیغ وفرمایه، له دې سره رسول الله ﷺ له هغه ځای څخه ولاړی او د ثقیف قبیلې ته ورسېدی او د هغه قبیلې یو سردار ابن عبد یا لیل ابن کلال ته یې د اسلام دعوت ورکړ مګر نه یوازې دا چې پر هغه خلګو د رسول الله ﷺ د دعوت

او تبليغ هيڅ اثر ونه سو او هيڅ د رسول الله ﷺ خبره ونه منل بلکه د هغه ځای ظالمانو او ناپوهانو له رسول الله ﷺ سره ډېر بد چلن وکړ، رسول الله ﷺ ته يې ښکنځل وکړل، سخت تکليف يې ورکړ، نتيجه دا چي پر رسول الله ﷺ يې ډېري ويشتل پيل کړل چي په هغه سره له رسول الله ﷺ څخه ويني را توی سوې.

زور اغيار واز ديوار سنگ يار مي بارد　　بلائي دردمندان از در و ديوار مي بارد

يوې خوا ته د هغوئ له حق څخه سرغړونه، د دعوت او تبليغ ناکامي، بلي خوا ته د هغه بدبختانو دومره تکليف ورکول چي ټول بدن مبارک په وينو سور سو، دغه سخت غم او تکليفونو پر رسول الله ﷺ ډېره بد حواسي خپره کړل، نه دا خبر وو چي له کومه ځايه روان دی نه دا شعور وو چي چيري ځي، نه د لاري معلومات وو نه د منزل پېژندنه، چيري چي يې مخ سو هلته روان سو، همداسي روان وو چي په لږ هوش کي سو او زړه او د ماغ کار کول پيل کړل نو معلومه سول چي د قرن ثعالب ځای ته رسېدلی دی، دا هغه ځای دی چيري چي د نجد ميقات دی او هغه ته قرن منازل وايي، په دغه ځای کي د وريځي په يوې ټوټې کي حضرت جبرائيل عليه السلام ښکاره سو او همدلته د غرو ملائکو پر ظالمانو د عذاب نازلولو اجازه وغوښتل، مگر دا د رسول الله ﷺ رحمت او شفقت وو چي په دغه سخت حال کي يې د هغوئ خلاف هيڅ فيصله کول ونه غوښتل او دا اميد يې وکړ چي که چيري هغوئ ته هدايت په برخه نه سو نو د هغوئ په اولاد کي به يقينا الله ﷻ داسي خلک پيدا کړي چي د کفر او شرک لاره به پرېږدي او د ايمان او اسلام په غېږ کي به راسي.

د احد په غزا کي زخمي کېدل

﴿۵۵۹۹﴾: وَعَنْ أَنَسٍ أَنَّ رَسُولَ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ كُسِرَتْ رَبَاعِيَتُهُ يَوْمَ أُحُدٍ وَشُجَّ فِي رَأْسِهِ فَجَعَلَ يَسْلُتُ الدَّمَ عَنْهُ يَقُولُ كَيْفَ يُفْلِحُ قَوْمٌ شَجُّوا رَأسَ نَبِيِّهِمْ وَكَسَرُوا رَبَاعِيَتَهُ. رواه مسلم.

د حضرت انس رضي الله عنه څخه روايت دی چي د احد د غزا په ورځ د رسول الله ﷺ د مخکي څلورو غاښو څخه يو غاښ مبارک مات سو، او سر مبارک يې ژوبل سو، رسول الله ﷺ به خپله وينه وچول او فرمايل به يې: هغه قوم کله خلاصون تر لاسه کولای سي چي د خپل نبي سر (مبارک) زخمي کړي او د هغه غاښ مات کړي. مسلم.

تخریج: صحیح مسلم ۳\۱۴۱۷، رقم: ۱۰۴- ۱۷۹۱.

د لغاتو حل: رباعيته: السن التي بين الثنية والناب.

تشریح: رباعیه، په عربي کي دوو لوړو او دوو کښته غاښو ته وايي چي د ثنايا او انياب په منځ کي وي، د رسول الله ﷺ د لاندنيو دوو غاښو څخه راسته خوا ته يو غاښ مات سوی وو له دې سره په لاندي ورېږ کي هم زخم پيدا سوی وو، څرګنده دي وي چي د غاښ ماتېدو دا معنی نه ده چي هغه غاښ له بېخه وتلی وو بلکه د غاښ يوه برخه ماته سوې او بېله سوې وه، همدا رنګه کوم سړي چي پر رسول الله ﷺ حمله وکړل او د غه غاښ يې مات کړی وو د هغه نوم عقبه بن ابي وقاص د مشهور صحابي حضرت سعد بن ابي وقاص ﷺ ورور وو،

په دې اړه اختلافي قولونه دي چي وروسته عقبه ابن ابي وقاص مسلمان سوی وو او د صحابي کېدو شرف يې تر لاسه کړی وو که يا، همدارنګه منقول دي چي د هغه په کورنۍ کي پيدا کېدونکی هر سړی چي کله به بالغ سو نو د هغه مخکنۍ غاښ به خپله ولويدی، په دغه روايت کي د سر مبارک د ژوبل کېدو يادونه ده او په ځينو روايتو کي د تندي ژوبل کېدو يادونه سوې ده، همدا رنګه دا هم منقول دي چي د رسول الله ﷺ ژوبل کونکی د يو پاڼ په رالوېدو سره زخمي سو او هم هلته ذره ذره سو، د أحد په غزا کي رسول الله ﷺ ته نور هم سخت تکليفونه پېښ سوي دي، کافرانو د جنګ په ميدان کي ځای پر ځای کندي کنبلي وې او د وښو په ذريعه يې پټي کړي وې، رسول الله ﷺ د خپل آس سره په داسي يوه کنده کي ولوېدی، ددې په لېدو سره حضرت طلحه ابن عبيدالله ﷺ په ځغاسته راغلی او رسول الله ﷺ يې په خپل غېږ کي راواخيست او له هغه کندي څخه يې راوکښی، رسول الله ﷺ وفرمايل: اوجبه طلحه، يعني طلحه د خپل ځان لپاره جنت واجب کړ، همدارنګه د رسول الله ﷺ پر سر مبارک د اوسپني جنګي خولۍ وه د هغه خولۍ دوې کړۍ د رسول الله ﷺ پر باړخو مبارک ولګېدې، کله چي ابوعبيده بن الجراح ﷺ هغه په خپلو غاښو راکش کړې نو د هغه غاښ مات سو، حضرت مالک ابن سنان ﷺ راوړاندي سو او د رسول الله ﷺ د زخمويني يې پاکولې، په دغه وخت کي هم رسول الله ﷺ وفرمايل: څوک چي زما وينه په ځوښنلو سره پاکه کړي نو دهغه لپاره جنت واجب سو، د سر مبارک د زخم پاکولو لپاره حضرت علي ﷺ په خپل سپر کي اوبه راوړلې او حضرت فاطمې ﷺ د کونی يوه ټوټه وسوځل او په هغه زخم کي يې کښېښودل چي په هغه سره وينه راتلل بند سول، په ځينو روايتو کي منقول دي چي د بشريت په تقاضا سره کله چي د رسول الله ﷺ د سر د زخم په وجه په مزاج کي تغير پيدا سو نو دغه آيت نازل سو:

لَيْسَ لَكَ مِنَ الأَمْرِ شَيْءٌ أَوْ يَتُوبَ عَلَيْهِمْ أَوْ يُعَذِّبَهُمْ فَإِنَّهُمْ ظَالِمُونَ

ژباړه: تاسو ته هيڅ دخل نسته تر دې چي الله ﷻ هغوئ ته متوجه سي او يا پر هغوئ سزا نازله کړي ځکه هغوئ سخت ظلم کړی دی.

دا هم منقول دي چي کله د رسول الله ﷺ له زخمو څخه وينه بهېدل پيل سول نو رسول الله ﷺ د ويني پر مځکه توئېدو څخه منع کولو لپاره پاکول او فرمايل يې: که چيري زما د وينو يو ثاڅکی پر مځکه ولوېږي نو پر دغه کافرانو باندي له آسمان څخه عذاب نازلېدل هيڅوک منع کولای نه سي، په يوه روايت کي دا هم راغلي دي چي د اُحد په ورځ د رسول الله ﷺ پر مخ مبارک د توري اوويا وارونه وسول مګر الله ﷻ د هغه له اثر څخه خوندي کړي.

د رسول الله ﷺ په لاس وژل سوي به په سخت عذاب کي وي

﴿۵۶۰۰﴾: وَعَنْ اَبِيْ هُرَيْرَةَ قَالَ قَالَ رَسُولُ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ اشْتَدَّ

د حضرت ابوهريره ﷛ څخه روايت دئ چي رسول الله ﷺ وفرمايل: پر هغه قوم د الله ﷻ

غَضَبُ اللّٰهِ عَلَى قَوْمٍ فَعَلُوا بِنَبِيِّهِ يُشِيرُ إِلَى رَبَاعِيَتِهِ اشْتَدَّ غَضَبُ اللّٰهِ عَلَى

سخت غضب وسو چي هغوئ د خپل نبي سره داسي وکړل، دې فرمايلو سره رسول الله ﷺ خپل مخکني غاښو ته اشاره وکړه (چي په هغو کي يو غاښ کي د احد په غزا کي شهيد کړل سوی وو) او الله ﷻ پر هغه سړي ډير غضبناک سو چي

رَجُلٍ يَقْتُلُهُ رَسُولُ اللّٰهِ فِي سَبِيلِ اللّٰهِ. متفق عليه. وهذا الباب خال عن الفصل الثاني.

د خدای رسول يې د الله ﷻ په لاره کي ووژی. بخاري او مسلم.

تخريج: صحيح البخاري (فتح الباري): ۷\۳۷۲، رقم: ۴۰۷۳، ومسلم ۳\۱۴۱۷، رقم: ۱۰۶-۱۷۹۳.

تشريح: د جهاد د قيد په ذريعه په حد او قصاص کي وژل سوي کسان مستثنی دي چي هغه کسان په وعيد کي داخل نه دي، همدارنګه د (الله ﷻ رسول) څخه يا خو رسول الله ﷺ خپل ځان مراد واخيست او يا هر پيغمبر مراد دی، او د پيغمبر په لاس وژل سوي کسان د الله ﷻ د سخت عذاب وړ ځکه ورته ويل سوي دي چي د يو سړي د پيغمبر په لاس وژل کېدل د دې ثبوت

وي چي هغه سړی په هيڅ صورت کي د عفو وړ نه وي او د هيڅ ډول رعايت وړ نه وي او د هغه د وژني فيصله د شک او شبهې څخه ماسوا پر حقيقت مبني وي، په دغه صورت کي د هغه واجب القتل او دوږخي کېدل يقيني خبره وي.

په دې باب کي دويم فصل نسته

اَلْفَصْلُ الثَّالِث (دريم فصل)

﴿۵۶۰۱﴾: عَنْ يَحْيَى بْنِ أَبِي كَثِيرٍ قَالَ سَأَلْتُ أَبَا سَلَمَةَ بْنَ عَبْدِ الرَّحْمَنِ عَنْ أَوَّلِ

د حضرت يحيى بن ابي كثير رضي الله عنه څخه روايت دی چي ما د ابو سلمه بن عبد الرحمن رضي الله عنه څخه پوښتنه وکړه چي

مَا نَزَلَ مِنَ الْقُرْآنِ قَالَ يَا أَيُّهَا الْمُدَّثِّرُ قُلْتُ يَقُولُونَ اقْرَأْ بِاسْمِ رَبِّكَ الَّذِي خَلَقَ

په قرآن کريم کي کوم شی تر ټولو وړاندي نازل سوی دی؟ هغه وويل: يا ايها المدثر، ما ورته وويل خلک وايي چي تر ټولو وړاندي: اقرا باسم ربک، نازل سوی دی،

قَالَ أَبُو سَلَمَةَ سَأَلْتُ جَابِرَ بْنَ عَبْدِ اللَّهِ رَضِيَ اللَّهُ عَنْهُمَا عَنْ ذَلِكَ وَقُلْتُ لَهُ مِثْلَ

ابو سلمه رضي الله عنه وويل: ماددې په اړه د حضرت جابر رضي الله عنه څخه پوښتنه وکړه او ما هم هغه ته دا الفاظ ويلي وه کوم چي تا ما ته اوس وويل،

الَّذِي قُلْتَ لِي فَقَالَ لِي جَابِرٌ لَا أُحَدِّثُكَ إِلَّا مَا حَدَّثَنَا رَسُولُ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ

حضرت جابر رضي الله عنه جواب راکړ چي رسول الله صلى الله عليه وسلم موږ ته بيان کړی وو، يعني رسول الله صلى الله عليه وسلم دا

وَسَلَّمَ قَالَ جَاوَرْتُ بِحِرَاءٍ فَلَمَّا قَضَيْتُ جِوَارِي هَبَطْتُ فَنُودِيتُ فَنَظَرْتُ عَنْ

وفرمايل چي زه په غار حراء کي تر يوه مياشت پوري په خلوت کي وم کله چي زما داعتکاف شپه پوره سوه او زه د غره څخه راکښته سوم نو ما ته آواز راغلی، ما راسته او چپه خوا ته وکتل

يَمِينِي فَلَمْ أَرَ شَيْئًا وَنَظَرْتُ عَنْ شِمَالِي فَلَمْ أَرَ شَيْئًا وَنَظَرْتُ خَلْفِي فَلَمْ أَرَ شَيْئًا

نو ما هيڅ شی ونه ليدی، بيا ما شا ته وکتل نو ما هيڅ شی و نه ليدی بيا چي سر مي پورته کړ نو

فَرَفَعْتُ رَأْسِي فَرَأَيْتُ شَيْئًا فَأَتَيْتُ خَدِيجَةَ قُلْتُ دَثِّرُونِي فَدَثَّرُونِي وَصَبُّوا عَلَيَّ

يو شی مي وليدی (يعني ملائکه) ، ددې څخه وروسته بې بې خديجې ته راغلم ورته مي وويل پر ما جامه واچوه پر ما جامه واچوه، پر ما يې جامه واچوه،

مَاءً بَارِدًا فَنَزَلَتْ يَا أَيُّهَا الْمُدَّثِّرُ قُمْ فَأَنْذِرْ وَرَبَّكَ فَكَبِّرْ و ثيابك فطهر وَالرُّجْزَ فَاهْجُرْ ، وذالك قَبْلَ أَنْ تُفْرَضَ الصَّلَاةُ. متفق عليه.

بيا يې پر ما يخي اوبه واچولې ، بيا دا سورة يعني : ياايها المدثر قيم فانذر ..... ، نازل سو او دا پېښه د لمانځه د فرض کيدو څخه مخکي ده . بخاري او مسلم.

تخريج: صحيح البخاري (فتح الباري): ۸\۶۷۶، رقم: ۴۹۲۲، ومسلم ۱\۱۴۳، رقم: ۲۵۵- ۱۶۱.

تشريح: په ښکاره دا معلوميږي چي د حديث د روايت کولو په وخت کي د راوي د هيري په وجه مسئله په ذهن کي په پوره توګه خوندي سوې نه وه چي د هغه په وجه هغه دغه حديث داسي بيان کړ چي دغه حديث ددې خبري دليل دی چي تر ټولو لومړی وحي د يا ايها المدثر ..الخ، دي ، حال دا چي په حقيقت کي تر ټولو مخکي وحي د اقراء باسم ربک... الخ، نازل سوي دي، مګر دا ضرور دي چي د اقرا باسم ربک ، وروسته د وحي نزول تر څه وخت لپاره منقطع سوی وو او دغه لړۍ بي د وهم وار پيل سوه نو هغه وخت تر ټولو مخکي چي کومه وحي نازل سوه هغه د يا ايها المدثر...الخ، وه، لکه چي په دې اړه تفصيلي يادونه مخکي د حضرت عائشې ﷺ په روايت کي وسول، نو د يا ايها المدثر..الخ، اوليت اضافي دي نه حقيقي، خپله د حضرت جابر ﷺ روايت مخکي تېر سوی دی او په هغه کي يې دا بيان کړی دی چي رسول الله ﷺ د وحي د انقطاع په اړه وفرمايل: زه روان وم چي ناڅاپه ما د آسمان څخه راتلونکی آواز واورېدی ، لوړ مي وکتل نو وه مي لېدل چي هغه ملائکه ده چي ما ته په حراء کي راغلې وه...الخ، له دې څخه هم په ښکاره توګه دا خبره ثابتيږي چي دلته په دغه حديث کي د حضرت جابر ﷺ اضافي اوليت مراد اخيستی دی .

يا دا هم ويل کيدای سي چي ددغه حديث راوي له اختصار څخه کار اخيستی دی او تر ټولو لومړنی نازلېدونکي وحي د اقراء باسمک ربک...الخ، په حذف کولو سره يې هغه وحي ذکر کړل چي د انقطاع وروسته په دوهم وار شروع کېدونکي وحي کي تر ټولو لومړنی نازله سول.

===========

بَابُ عَلَامَاتِ النُّبُوَّةِ

(د نبوت د نښو بيان)

علامات، د علامت جمع ده او علامت په اصل كي مطلق نښي ته وايي او په خاصه توګه هغه نښي ته وايي چي د لاري په.شروع كي درول كيږي او د هغه مقصد مسافرو او تېرېدونكو ته د لاري او د هغه د پړاو معلومات وركوي، له همدغه قبيل څخه دوه نور الفاظ، معلم او علم هم په همدغه معنى دي، مګر دلته د علامات څخه مراد هغه نښي دي چي د رسول الله ﷺ پيغمبري ثابتوي او د رسول الله ﷺ پر ذاتي او اخلاقي صفاتو او خصوصياتو، د رسول الله ﷺ پر فضائلو او شمائلو او د رسول الله ﷺ پر كړنو او حالاتو باندي داسي دلالت كوي چي هر يو هوښيار او پوه سړى د هغه په ذريعه د نبوت او رسالت يقين تر لاسه كولاى سي، همدارنګه په پخوانيو آسماني كتابو كي چي د رسول الله ﷺ د كومو صفاتو او ځانګړتياوو يادونه ده هغه هم ددغه قبيل څخه دي.

ښركنده دي وي چي د الله جلاله له خوا رسول الله ﷺ ته څومره معجزې وركړل سوي دي هغه ټول د رسول الله ﷺ د نبوت او رسالت له نښنو څخه دي، په دې اعتبار دا خبره په پوهه كي نه راځي چي د مشكوة مؤلف دوهم باب قائم كړى دى يو خو دغه (د نبوت د نښنو بيان) او دوهم (د معجزو بيان)، ددې څه وجه ده او د علامو او معجزو په منځ كي يې څه فرق په ذهن كي ساتلى دى، حال دا چي په دواړو كي د معجزو يادونه ده، د مشكوة شارحينو د ډېر فكر كولو څخه وروسته هم ددې وجه بيانولو څخه قاصر پاته سوي دي.

اَلْفَصْلُ الْأَوَّلُ (لومړى فصل)

د شق صدر واقعه

﴿۵۶۰۲﴾: عَنْ أَنَسٍ أَنَّ رَسُولَ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ أَتَاهُ جِبْرِيلُ صَلَّى اللّٰهُ

د حضرت انس رضي الله عنه څخه روايت دى چي رسول الله ﷺ ته جبرائيل عليه السلام راغلى (په وړكتوب كي)

عَلَيْهِ وَسَلَّمَ وَهُوَ يَلْعَبُ مَعَ الْغِلْمَانِ فَأَخَذَهُ فَصَرَعَهُ فَشَقَّ عَنْ قَلْبِهِ

او هغه د كوچنيانو سره لوبي كولې، رسول الله ﷺ يې ونيوى او پرې يې ايستى، بيا د رسول

الله ﷺ سینه مبارکه یې د زړه په لور څیرې کړل

فَاسْتَخْرَجَ مِنْهُ عَلَقَةً فَقَالَ هَذَا حَظُّ الشَّيْطَانِ مِنْكَ ثُمَّ غَسَلَهُ فِي طَسْتٍ

او د رسول الله ﷺ د زړه څخه یې د یخی سوې وینې یوه ټوټه را وکښل او وه یې ویل دا ستا په بدن کې د ننه د شیطان برخه وه، ددې ویلو سره جبرائیل علیه السلام هغه

مِنْ ذَهَبٍ بِمَاءِ زَمْزَمَ ثُمَّ لَأَمَهُ ثُمَّ أَعَادَهُ فِي مَكَانِهِ وَجَاءَ الْغِلْمَانُ يَسْعَوْنَ إِلَى

د سرو زرو په تالۍ کې واچوی او د زمزم په اوبو سره یې پریولی، بیا یې وګنډی او پر خپل ځای کښېښودی او سینه یې یو ځای کړه، ماشومانو چې د رسول الله ﷺ سره لوبې کولې رامنډې

أُمِّهِ يَعْنِي ظِئْرَهُ فَقَالُوا إِنَّ مُحَمَّدًا قَدْ قُتِلَ فَاسْتَقْبَلُوهُ وَهُوَ مُنْتَقِعُ اللَّوْنِ قَالَ أَنَسٌ فَكُنْتُ أَرَى أَثَرَ الْخَيْطِ فِي صَدْرِهِ. رواه مسلم.

کړې د رسول الله ﷺ مور یعنې دایي ته راغلل او ورته وه یې ویل چې محمد ﷺ ووژل سو، خلک د رسول الله ﷺ خوا ته راغلل او رسول الله ﷺ یې په داسې حال کې ولیدی چې د مخ مبارک رنګ یې بدل وو، انس رضی الله عنه وایي ما به د رسول الله ﷺ پر سینه مبارکه د ګنډلو نښه لیدل. مسلم.

تخریج: صحیح مسلم ۱۱/۱۴۷، رقم: ۲۶۱ - ۱۶۲.

تشریح: په جامع الاصول کې د (عن قلبه) څخه وروسته د (واستخرجه) لفظ هم منقول دی او ټول عبارت داسې دی: (فشق عن قلبه واستخرجه فاستخرج منه علقه)، په دغه صورت کې به معنی داسې وي: بیا هغوئ د رسول الله ﷺ (سینه) زړه ته نژدې پرې کړل او زړه یې را وایستی او بیا یې له زړه څخه د وینې یوه توره ټوټه را وایستل (چې دبدیو او ګناهو بنیاد وي) او سرو زرو په تالۍ کې د زمزم په اوبو یې پرېولل، د سرو زرو د تالۍ استعمال د رسول الله ﷺ د عظمت او کرامت د اظهار لپاره وو، او کوم چې د سرو زرو د استعمال د منع سوال دی نو د هغه تعلق ددغه دنیا د عام ژوند سره دی چې د هغه مقصد د دغه دنیا په ژوند کې د ډیرو داسې شیانو څخه منع کول د هغه د بندګۍ امتحان اخیستل دي چې په هغه کې د کامیاب کېدو وروسته په آخرت کې هغه شیان هغه ته د اجر او انعام په توګه حاصلیږي، ځکه نو په آخرت کې نه یوازې دا چې د سرو استعمال جائز کیږي بلکه د جنت لوښي هم د سرو زرو وي،

نو د شق صدر دغه ټوله پېښنه چې په دغه وخت یا د معراج په شپه کې رامنځته سول له دغه :نیا

سره تعلق نه لري بلکه د غالم غيب او بلي دنيا سره تعلق لري، پرته له دې دغه نقطه هم بايد په ذهن کي وي چي د سرو زرو د تالی استعمال خپله د رسول الله ﷺ له خوا نه وو سوی بلکه د هغه استعمال ملائکي کړي وو چي په احکامو او مسائلو کي زموږ په ډول مکلف نه دي، دا خبره هم کيدای سي چي د سرو زرو د تالی استعمال د هغه وخت وي کله چي احکام او مسائل جاري سوي نه وه او په شرعي توګه د هيڅ شي د حلت او حرمت حکم نازل سوی او معلوم سوی نه وو.

د حديث له دغه برخي څخه دا ثابته سول چي د زمزم اوبه تر ټولو اوبو افضل او غوره دي تر دې چي د جنت پر اوبو هم فضيلت لري او په دې کي هيڅ شک نسته چي هغه اوبه چي د معجزې په توګه د رسول الله ﷺ د ګوتو څخه راوتلي وې هغه د زمزم تر اوبو هم فضيلت لري ځکه هغه اوبه د رسول الله ﷺ د لاس مبارک په اثر راوتلي وې او د زمزم اوبه د حضرت اسماعيل ؈ د پښو په اثر راوتلي وې.

دغه حديث او داسي نور حديثونه له دې سره تعلق لري چي د هغه منل واجب دي او د مجاز په توګه د تاويل او توجيه په ذريعه د هغه له ظاهري مفهوم او معنی څخه اعراض کول نه خو جائز دي او نه يې هيڅ اړتيا سته ځکه په دغه حديثو کي چي څه بيان سوي دي هغه له انساني عقل او فهم څخه دومره ليري ولي نه وي، د هغه د حق او ريښتيا کېدو لپاره دا خبره کافي ده چي د هغه تعلق د قادر مطلق الله ﷻ د قدرت له ظهور څخه دی او دا هغه خبري دي چي د هغه خبر صادق ومصدوق ﷺ ورکړی دی، ځکه نو د دهغه صداقت د شک او شبهې څخه لوړ دی.

په شق صدر (د سينې په څېرلو) کي حکمت: د رسول الله ﷺ د سينې مبارکي په څېرلو او د زړه مبارک په پاکولو کي دا حکمت وو چي د رسول الله ﷺ باطن پاک او زړه مبارک داسي ځلانده سي چي د وحي الهي د نور په جذب کولو کي هيڅ شی خنډ نه سي، او د منصب رسالت د بار په پورته کولو کي زړه او دماغ له مخکي څخه تيار وي، له نفساني وسوسو څخه د رسول الله ﷺ تېرېدل هم نه وي او شيطان له رسول الله ﷺ څخه غافل کولو کي نه يوازي دا چي کامياب نه سي بلکه له رسول الله ﷺ څخه بالکل مايوس سي لکه چي د حضرت جبرائيل ؈ دغه الفاظ (هذا حظ الشيطان منک) هم دې ته اشاره کوي.

دا ښودل ضروري دي چي له رسول الله ﷺ سره د شق صدر (سينې څېرلو) پېښه څلور واره رامنځته سوې ده، يو وار په وړکتوب کي له حليمه ؓ سره چي د هغه يادونه په دغه حديث کي ده، دوهم وار د لسو کالو په عمر کي، دريم وار د نبوت د ظاهرېدو په وخت کي او څلورم وار د معراج په شپه کي دي کله چي جبرائيل ؈ د رسول الله ﷺ د بيولو لپاره راغلی.

په دې اړه د علماؤ اختلاف دی چې د سینې مبارکي څېرل او د زړه مبارک پرېولل یوازې د رسول الله ﷺ لپاره خاص وه او که له نورو پیغمبرانو سره هم داسې کېدل، له حضرت ابن عباس رضي الله عنه څخه چې کوم روایت د تابوت او سکینه په اړه منقول دې په هغه کې یې دا بیان کړی دی چې په هغه تابوت کې (له نورو تبرکاتو سره) هغه تالی هم وه چې په هغه کې د نبیانو علیهم السلام زړونه پرېولل کېدل، له دغه روایت څخه د هغه علماؤ تائید کېږي چې وایي د رسول الله ﷺ په ډول د نورو نبیانو علیهم السلام سینې هم څیري کېدلې او د هغوئ زړونه هم پرېولل کېدل.

﴿۵۶۰۳﴾: وَعَنْ جَابِرِ بْنِ سَمُرَةَ قَالَ قَالَ رَسُولُ اللهِ ﷺ إِنِّي لَأَعْرِفُ حَجَرًا بِمَكَّةَ كَانَ يُسَلِّمُ عَلَيَّ قَبْلَ أَنْ أُبْعَثَ إِنِّي لَأَعْرِفُهُ الْآنَ. رواه مسلم.

د حضرت جابر بن سمره رضي الله عنه څخه روایت دئ چې رسول الله ﷺ وفرمایل: زه د مکې هغه کاڼی پېژنم چې زما د نبي کېدو څخه مخکې به یې ماته سلام کوی هغه اوس هم پېژنم. مسلم.

تخریج: صحیح مسلم ۴\ ۱۷۸۲، رقم: ۲- ۲۲۷۷.

تشریح: ما ته به یې سلام کوی، یعني کله چې به زه د هغه ډبرې سره تېرېدلم نو ما به د السلام علیک یا نبي الله، آواز اورېدی، ځینو محدثینو ویلي دي چې د دغه ډبرې څخه مراد حجر اسود دی او ځینو ویلي دي چې د دې څخه مراد هغه ډبره ده چې په زقاق الحجر سره مشهور ده، او هغه تر اوسه پورې په مکه کې موجود ده، دغه ډبره چې چیرې پرته ده هغه د مسجد حرام او بي بي خدیجې رضي الله عنها د کور په منځ کې واقع دی.

په یوه روایت کې د بي بي عائشې رضي الله عنها څخه منقول دي چې هغې وویل: **رسول الله** ﷺ ما ته وفرمایل: کله چې حضرت جبرائیل علیه السلام ما ته د رسالت په راوړلو سره راغلی **او زه** یې د نبوت او رسالت په منصب مشرف کړلم نو تر دې وروسته کله چې به د یوې ډبرې **یا** درختي سره تېرېدم نو هغه به ویل: السلام علیک یا رسول الله.

د شق قمر معجزه

﴿۵۶۰۴﴾: وَعَنْ أَنَسٍ قَالَ إِنَّ أَهْلَ مَكَّةَ سَأَلُوا رَسُولَ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ أَنْ يُرِيَهُمْ آيَةً فَأَرَاهُمُ الْقَمَرَ شِقَّتَيْنِ حَتَّى رَأَوْا حِرَاءً بَيْنَهُمَا. متفق علیه.

د حضرت انس رضي الله عنه څخه روایت دی چې د مکې خلکو رسول الله ﷺ ته وویل: چې دوئ ته یو

معجزه وښيي رسول الله ﷺ ورته سپوږمۍ دوې ټوټې کړې وښودل او هغوئ حراء غر د هغه دوو ټوټو په منځ کي وليدی. بخاري او مسلم.

تخريج: صحيح البخاري (فتح الباري): ۷\۱۸۲، رقم: ۳۸۶۸، ومسلم ۴\۲۱۵۹، رقم: ۴۶- ۲۸۰۲.

﴿۵۶۰۵﴾: وَعَنِ ابْنِ مَسْعُودٍ قَالَ انْشَقَّ الْقَمَرُ عَلَى عَهْدِ رَسُولِ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ فِرْقَتَيْنِ فِرْقَةً فَوْقَ الْجَبَلِ وَفِرْقَةً دُونَهُ فَقَالَ رَسُولُ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ اشْهَدُوا. متفق عليه.

د حضرت ابن مسعود رضی الله عنه څخه روايت دی چي د رسول الله ﷺ په زمانه کي سپوږمۍ شق سوه (يعني پر منځ دوې ټوټې سوه يوه ټوټه د غره سربيره خوا ته وه او دويمه لاندي خوا ته) رسول الله ﷺ کافرانو ته وويل زما دنبوت شاهدان اوسئ . بخاري او مسلم

تخريج: صحيح البخاري (فتح الباري): ۸\ ۶۱۷، رقم: ۴۸۶۴، ومسلم ۴\۲۱۵۸، رقم: ۴۳- ۲۸۰۰.

تشريح: شاهدان اوسئ ، ددې يوه معنی څينو حضراتو دا ليکلې ده چي راسئ او دغه معجزه وګورئ، ددغه معنی په صورت کي به د شهدوا لفظ د شهادت څخه مشتق وي او د لومړنۍ معنی په صورت کي به د شهدوا لفظ د شهود څخه مشتق وي .

د شق القمر معجزه، يعني د رسول الله ﷺ د لاس په اشاره سره د سپوږمۍ دوې ټوټې کېدل يوه حقيقي پېښه ده چي د هغه په صداقت کي د هيڅ شک او شبهې ګنجائش نسته، ددغه پېښي سره اړوند روايت د صحابه کرامو او تابعينو يوې لوی ډلي بيان کړی دی او د هغوئ په واسطه ډېرو محدثينو دغه روايت نقل کړی دی، علامه ابن سبکي رحمه الله د ابن حاجب په مختصره شرح کي ليکلي دي: زما په نزد صحيح دادی چي د شق قمر روايت متواتر دی او بخاري، مسلم او نورو د حديثو امامانو په دومره زياتو طريقو سره نقل کړی دی چي په دې کي د شک او شبهې ځای نسته ، ددې څخه ماسوا ددې معجزې د صداقت تر ټولو لوی ثبوت خپله قرآن کريم دی، د ټولو مفسرينو پر دې اتفاق او اجماع ده چي په دغه آيت کريمه :

اقْتَرَبَتِ السَّاعَةُ وَانشَقَّ الْقَمَرُ، وَإِن يَرَوْا آيَةً يُعْرِضُوا وَيَقُولُوا سِحْرٌ مُّسْتَمِرٌّ

ژباړه: قيامت نژدې سو او سپوږمۍ وچاودل او کله چي دغه کافران يوه معجزه ويني نو مخ اړوي او وايي چي دا خو څرګند جادو دی.

دلته په دغه آیت کریمه کي هغه شق قمر مراد دی چي د رسول الله ﷺ د معجزې په توګه واقع سو ، نه هغه شق قمر چي د قیامت په ورځ به واقع کیږي، ددې څرګند دلیل خپله د آیت الفاظ (ان یروا ایة یعرضو.....الخ) دي، ډیرو بې دینو او فلسفیانو ددې څخه معجزې څخه انکار کړی دی، د هغوئ د انکار بنیاد پر دې عقیده دی چي په فلکیاتو کي خرق او التیام ممکن نه دی، په دې اړه لوړی خو باید دا خبره په ذهن کي وي چي الله ﷻ د فلکیاتو خالق او قادر مطلق دی ، ټول فلک د هغه د قدرت مسخر او د هغه د حکم تابع دی، په دغه کائناتو کي څه چي دي ، که مځکه ، که آسمان ، سپوږمی او ستوري یا لمر په دې کي چي کوم یو غواړي هغه په ماتولو سره یوې خوا ته کولای سي ، خپله الله ﷻ ښودلي دي چي د قیامت په ورځ به هغه آسمان داسي راونغاړي لکه څرنګه چي کاغذ را نغښتل کیږي، دوهمه خبره دا چي په فلکیاتو کي د خرق او التیام د محال نظریه چي هغه وخت هم د ځینو فلاسفوو په نزد د نظر محل وو، د تحقیق او تجربي څخه وروسته اوس بالکل باطل سوې ده، د اوس زمانې انسان سپوږمی ته په رسېدو سره د شق القمر معجزې ته ستر تائید رسولی دی، نو د خرق او التیام بحث کولو سره ددې معجزې خلاف دلیل قائمول بالکل بې معنی خبره سوې ده، ددغه معجزې انکار کونکي یو بل اعتراض کوي ، هغوئ وايي چي په سپوږمی کي دومره لوی بدلون کېدل چي هغه په دوو ټوټو وویشل سول ، دا یو معمولي خبره نه وه ، که چیري په حقیقت کي داسي سوي وای نو ددې لیدنه به یوازي تر مکې پوري محدود نه وای بلکه دغه کړنه به ټولو د مځکي اوسیدونکو لیدلې وای، او بېله فرق کولو ټولو مؤرخینو ته به په تواتر سره ددې یادونه کولای، ددې جواب دادی چي اول خو ددغه معجزې واقع کېدل د یو څو خاصو خلکو په غوښتنه سوی وو او هغوئ ته دا وښودل سول ، ددې څخه ماسوا دا د شپې پېښه وه چي د یوه ګړي لپاره وه،

څرګنده ده چي په داسي وخت کي چي ډېر خلک په خوب کي وي ددغه یو ګړي کړني لیدنه څرنګه ممکن ده ، دوهم دا چي د اختلاف مطالع په وجه دا ممکن کیدای نه سي چي سپوږمی په یوه وخت کي پر یو مطلع باندي د دنیا ټول خلک ویني، ځکه ددغه معجزې د واقع کېدو په وخت کي د سپوږمی د دنیا خطو څخه چا ته معلومه سول او چا ته معلومه نه سول، لکه چي د سپوږمی تندره نیولو په وخت کي کیږي، نو هغه وخت په ځینو خطو کي معلومیږي او په ځینو کي نه معلومیږي، ددې څخه ماسوا په ځینو روایتو کي راځي چي هغه ورځ د عربو څخه ماسوا کوم خلک چي مکې مکرمې یا د هغه نژدې سیمو ته راغلي وه هغوئ ټولو خپلو خپلو ښارو او سیمو ته په رسېدو سره ددغه واقعې خبر ورکړ، او کوم چي په تاریخ کي ددغه عجیبه پېښي

(شق قمر) د يادوني تعلق دى نو په اسلامي تاريخ او د سيرت په كتابو كي د دغه واقعې ذكر په تواتر سره موجود دى ، كه څه هم د اسلام مخالفين او له دين څخه بېزاره خلک د دې څخه انكار وكړي مگر د اسلامي تاريخ څخه ماسوا د ځينو نورو قومو نو په يادونه او حالاتو كي هم د دې ذكر تر لاسه كيږي، لكه د هندوستان مليبار يا د مالوه ښار وهار راجه په اړه منقول دي چي هغه خو يوازي د دغه پېښي د ليدني يا تصديق په وجه په اسلام شرف سوى وو .

ابوجهل ته خبرداري

﴿۵۶۰۶﴾: وَعَنْ أَبِي هُرَيْرَةَ قَالَ قَالَ أَبُو جَهْلٍ هَلْ يُعَفِّرُ مُحَمَّدٌ وَجْهَهُ بَيْنَ

د حضرت ابوهريره رضي الله عنه څخه روايت دى چي ابوجهل (د مكې كفارو يا قريشو ته) وويل : ايا محمد (ﷺ) ستاسو په مخ كي مخ په خاورو لړي (يعني لمونځ او سجده كوي) ،

أَظْهُرِكُمْ فَقِيلَ نَعَمْ فَقَالَ وَاللَّاتِ وَالْعُزَّى لَئِنْ رَأَيْتُهُ يَفْعَلُ ذٰلِكَ لَأَطَأَنَّ

ورته وويل سول هو ، هغه ورته وويل په لات او عزى (د بتانو نومونه) دي مي قسم وي كه زه هغه پر داسي كولو ووينم نو غاړه به يې پرې كړم ،

عَلَى رَقَبَتِهِ فَأَتَى رَسُولَ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ وَهُوَ يُصَلِّي زَعَمَ لِيَطَأَ عَلَى

نو هغه (په دې اراده سره) رسول الله ﷺ ته راغلى دغه وخت رسول الله ﷺ لمونځ كوى هغه د رسول الله ﷺ پر غاړه مباركه قدم ايښودلو لپاره قصد وكړ

رَقَبَتِهِ فَمَا فَجِئَهُمْ مِنْهُ إِلَّا وَهُوَ يَنْكُصُ عَلَى عَقِبَيْهِ وَيَتَّقِي بِيَدَيْهِ فَقِيلَ لَهُ

نو ناګاه ابوجهل مخ پر شا حركت شروع كړى چي پوندي يې لګولې او د ځان ساتنه يې په خپل دواړو لاسونو كول ، د هغه څخه پوښتنه وسوه چي

مَا لَكَ فَقَالَ إِنَّ بَيْنِي وَبَيْنَهُ لَخَنْدَقًا مِنْ نَارٍ وَهَوْلًا وَأَجْنِحَةً فَقَالَ رَسُولُ

څه وسول؟ هغه وويل ما وليدل چي زما او د محمد (ﷺ) په منځ كي د اور يو خندق بيره ونكى منظر او وزرونه دي (ملائكي دي چي د رسول الله ﷺ ساتنه كوي) نبي كريم ﷺ وفرمايل :

اللّٰهِ ﷺ لَوْ دَنَا مِنِّي لَاخْتَطَفَتْهُ الْمَلَائِكَةُ عُضْوًا عُضْوًا . رواه مسلم.

كه ابوجهل ما ته رانژدې سوى واى نو ملائكو به ټوټې ټوټې كړى واى . مسلم

تخريج: صحيح مسلم ۴\ ۲۱۵۴، رقم: ۳۸- ۲۷۹۷.

د لغاتو حل: ينكص: اي يرجع (راګرځي)

يوه پيشګوئي

﴿۵۶۰۷﴾: وَعَنْ عَدِيِّ بْنِ حَاتِمٍ قَالَ بَيْنَا أَنَا عِنْدَ النَّبِيِّ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ إِذْ

د حضرت عدي بن حاتم رضي الله عنه څخه روايت دی چې زه د رسول الله ﷺ په خدمت کې حاضر وم چې

أَتَاهُ رَجُلٌ فَشَكَا إِلَيْهِ الْفَاقَةَ ثُمَّ أَتَاهُ آخَرُ فَشَكَا إِلَيْهِ قَطْعَ السَّبِيلِ فَقَالَ يَا عَدِيُّ

يو سړی راغلی د فقر او مفلسۍ شکايت يې وکړ، بيا يو بل سړی راغلی هغه د لوټ کېدو شکايت وکړ، رسول الله ﷺ وفرمايل: اې عدي!

هَلْ رَأَيْتَ الْحِيرَةَ فَإِنْ طَالَتْ بِكَ حَيَاةٌ لَتَرَيَنَّ الظَّعِينَةَ تَرْتَحِلُ مِنَ الْحِيرَةِ حَتَّى

تا حيره ښار ليدلی دی؟ (حيره کوفې ته نژدې يو ښار دی)، که ته ژوندی پاته سوې نو وه به وينې چې يوه ښځه به يوازې د حيره څخه سفر کوي

تَطُوفَ بِالْكَعْبَةِ لَا تَخَافُ أَحَدًا إِلَّا اللّٰهَ وَلَئِنْ طَالَتْ بِكَ حَيَاةٌ لَتُفْتَحَنَّ كُنُوزُ

او د کعبې شريفې طواف به کوي او د الله تعالی څخه پرته به د هيچا څخه نه بيرېږي، که ته ژوندی پاته سوې نو وه به وينې چې د کسرى خزانې به خلاصې کړل سي

كِسْرَى وَلَئِنْ طَالَتْ بِكَ حَيَاةٌ لَتَرَيَنَّ الرَّجُلَ يُخْرِجُ مِلْءَ كَفِّهِ مِنْ ذَهَبٍ أَوْ فِضَّةٍ

او که ته ژوندی پاته سوې نو وه به وينې چې سړی به يو موټ ډک سره زر يا سپين زر را وباسي

يَطْلُبُ مَنْ يَقْبَلُهُ فَلَا يَجِدُ أَحَدًا يَقْبَلُهُ مِنْهُ وَلَيَلْقَيَنَّ اللّٰهَ أَحَدُكُمْ يَوْمَ يَلْقَاهُ

او هغه سړی به لټوي چې دده دا خيرات قبول کړي او هغه ته به يو سړي هم داسي په لاس ورنه سي، او البته د قيامت په ورځ به په تاسو کې يو سړی په داسي حال کې د الله جل جلاله سره يو ځای

وَلَيْسَ بَيْنَهُ وَبَيْنَهُ تَرْجُمَانٌ يُتَرْجِمُ لَهُ فَلَيَقُولَنَّ أَلَمْ أَبْعَثْ إِلَيْكَ رَسُولًا فَيُبَلِّغَكَ

سي چې د هغه او د الله جل جلاله په منځ کې به هيڅ ترجمان نه وي چې الله جل جلاله ته د هغه حال بيان کړي، بيا به الله جل جلاله د هغه څخه پوښتنه وکړي ايا ما تاسو ته رسول نه وو درليږلی چې د دين احکام درته ورسوي؟

فَيَقُولُ بَلَى فَيَقُولُ أَلَمْ أُعْطِكَ مَالًا وَأُفْضِلْ عَلَيْكَ فَيَقُولُ بَلَى فَيَنْظُرُ عَنْ يَمِينِهِ

هغه به ورته وايي هو راليږلی دی وو ، بيا به ورته فرمايي ايا ما تا ته مال نه وو درکړی او فضل مي درباندي نه وو کړی مال مي هم درکړی وو او احسان مي هم درباندي کړی وو هغه به وايي هو، بيا به هغه سړی خپل راسته خوا ته وګوري

فَلَا يَرَى إِلَّا جَهَنَّمَ وَيَنْظُرُ عَنْ يَسَارِهِ فَلَا يَرَى إِلَّا جَهَنَّمَ اتَّقُوا النَّارَ وَلَوْ بِشِقَّةِ

نو دوږخ به ورته معلوم سي او چپه خوا ته چي وګوري نو هم به دوږخ ورته معلوم سي ، ددې څخه وروسته رسول الله ﷺ وفرمايل : اې خلکو ! د دوږخ د اور څخه ځان وساتئ که څه هم د

تَمْرَةٍ فَمَنْ لَمْ يَجِدْ فَبِكَلِمَةٍ طَيِّبَةٍ قَالَ عَدِيٌّ فَرَأَيْتُ الظَّعِينَةَ تَرْتَحِلُ مِنَ الْحِيرَةِ

خرما په يوې ټوټې خيرات کولو سره وي او د چا سره چي دا هم نه وي نو د سوال کونکي سره دې په نرمۍ او ښو اخلاقو سره خبره کوي، عدي بن حاتم راوي وايي ما د رسول الله ﷺ د ارشاد

حَتَّى تَطُوفَ بِالْكَعْبَةِ لَا تَخَافُ إِلَّا اللهَ وَكُنْتُ فِيمَنْ افْتَتَحَ كُنُوزَ كِسْرَى بْنِ

سره سم د حيره څخه کعبې شريفي پوري ښځه په سفر وليدل په داسي حال کي چي طواف يې کوی او هغه د الله جَلَّ جَلَالُهُ څخه پرته د بل چا څخه نه بيريده، او بيا زه په هغه خلکو کي شامل وم چي

هُرْمُزَ وَلَئِنْ طَالَتْ بِكُمْ حَيَاةٌ لَتَرَوُنَّ مَا قَالَ النَّبِيُّ أَبُو الْقَاسِمِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ يُخْرِجُ مِلْءَ كَفِّهِ. رواه البخاري

هغوئ د کسرى خزانې خلاصي کړې او که تاسو ژوندي پاته سوأست نو د رسول الله ﷺ دريم ارشاد به هم په خپلو سترګو ووينئ يعني خلک به ډک موټ سره زر ګرځوي او هيڅوک اخيستونکی به نه وي . بخاري.

تخريج: صحيح البخاري (فتح الباري): ٦١٠/٦. رقم: ٣٥٩٥.

د لغاتو حل: الفاقة: اي الفقر وشدة الحاجة (مسکنت او سخته اړتيا). الظعينة: المراة المسافرة.

تشريح: په دغه حديث کي رسول الله ﷺ د درو خبرو وړاند وينه وفرمايل: يو خو دا چي د عربو په هيواد کي به پوره امن سي، د غلا او لوټ په ډول جرمونه چي عام ژوند په بهره کي اخته کوي ليري دي. د هغه ځای څخه به يوه ښځه د بيت الله د طواف لپاره تر مکې پوري پر اوښ يا

بل سيړلى باندي يوازي سفر كوي او د هغې ځان او مال ته به هيڅ خطره نه وي، دوهم دا چي الله ﷻ به د اسلام د مجاهدينو په لاس د فارس (ايران) ستره پاچاهي فتح كړي او د هغه د پاچا كسرى پر خزانو باندي به د مسلمانانو واک سي، او دريم دا چي په اسلامي پاچاهۍ كي به اقتصادي خوشحالي، او د مال او دولت په پراخۍ سره ځيني خلک يا يوه خاصه طبقه نه بلكه ټول خلک به داسي برخمن سي چي د زكوة او خيرات وركونكي به په خپلو لاسو كي سره زر او روپۍ ګرځوي مګر صدقه او خيرات اخيستونكى به نه وي، ځكه په ټوله اسلامي نړۍ كي به مسكين او محتاج پاته نه سي نو د صدقې او خيرات اخيستونكى به څوک وي ، په دغه درو وړاند وينو كي دوې خو پوره سوي دي او د هغه مشاهده خپله د حديث راوي حضرت عدي ابن حاتم رضي الله عنه وكړل ، او د دريمي وړانديويني په اړه ځيني علماء دا وايي چي دا به په آخره زمانه كي د حضرت عيسى عليه السلام د نزول وروسته پوره كيږي چي د هغه په پاچاهي كي به هيڅوک وږى او محتاج نه وي او د عامي خوشحالۍ به دا حال وي چي په پلټنه كولو سره به هم څوک د خيرات او زكوة اخيستونكى نه پيدا كيږي، په دې اړه يادونه په هغه حديث كي تېره سوې ده چي د حضرت عيسى عليه السلام د نزول په باب كي نقل سوى دى، او ځيني علماء وايي چي دغه دريمه وړاند وينه هم د حضرت عمر ابن عبدالعزيز رحمه الله د خلافت په زمانه كي پوره سوې ده، بيهقي دا قول په جزم سره اختيار كړى دى، د هغه په زمانه كي د عامو خلكو اقتصادي حالت دومره غوره وو چي د صدقې او خيرات اخيستونكى به نه پيدا كېدى، كله چي رسول الله ﷺ لومړۍ وړاندوينه وفرمايل هغه په اصل كي د هغه سړي په جواب كي وه چي هغه د غلاوو شكايت كړى وو، او دوهمه وړاند وينه د هغه سړي په جواب كي وه چي هغه د فقر او مفلسۍ شكايت كړى وو ، ، مګر رسول الله ﷺ ، حضرت عدي ابن حاتم رضي الله عنه مخاطب كړ چي هغه وخت هغه په مجلس كي حاضر وو مګر خطاب عام وو، مقصد دا وو چي د دغه خبرو زيرى ټول صحابه كرام واوري او په دې ضمن كي د هغه دواړو شكايت كونكو جواب هم تر لاسه سي چي په هغه سره هغوئ ته ډاډ تر لاسه سي .

د دغه زيري وركولو څخه وروسته پر مسلمانانو باندي د اقتصادي خوشحالۍ او مالي پراختيا زمانه راتلونكې ده، رسول الله ﷺ دا څرګندول هم ضروري وګڼل چي د مال پراختيا انسان په عيش او عشرت كي اچوي او د آخرت څخه يې غافل كوي ځكه نو مؤمنانو ته پكار ده چي د پراخۍ په زمانه كي دا خبره هېره نه كړي چي په دنيا كي د مال او دولت راحت په اصل كي د آخرت د تنګۍ او سختۍ او د پښيمانۍ سبب دى ، مګر كه چيري مال او دولت د خير په كارو

کي مصرف کړل سي او د آخرت توښه ګرځولو توفيق هم د الله ﷻ له خوا تر لاسه سي نو په دنيا او اخرت دواړو ځايو کي به اساني او راحت وي، خلاصه دا چي رسول الله ﷺ د خپل نبوت سره سم چي رسول الله ﷺ د نيکيو زيری ورکوونکی هم دي او د خرابيو څخه بېرونکی هم دی د مسلمانانو د رزق د پراختيا او د ژوند د فراغت زيری هم ورکړ او د قيامت د ورځي د سختۍ او شدت څخه يې بېرول هم.

ترجمان، هغه سړي ته وايي چي يوه خبره د يوې ژبي څخه په بله ژبه بيان کړي چي هغه ته مترجم هم وايي، نو د هغه او د الله ﷻ په منځ کي به ترجمان نه وي، ددې مطلب دادی چي د قيامت په ورځ به د الله ﷻ او د هغه بنده په منځ کي د هيڅ يو مترجم يا بل چا واسطه نه وي، د پروردګار په حضور کي به د بنده مخامخ وړاندي کېدل او خبري اتري وي.

ايا ما تاته مال او زر نه وه درکړي، دا استفهام اقراري دي، يعني ما ته په مال او دولت سره مشرف کړی وي، پر تا مي خپل فضل او انعام وکړ، د هغه دولت مصرف کولو، د هغه څخه د ګټي اخيستلو او په مستحقو او اړو کسانو باندي د هغه د مصرف کولو توان مي درکړی وو.

راسته او چپه خوا ته د دوږخ د کتلو ذکر په اصل کي ددې خبري څخه کنايه ده چي په هغه ورځ به بنده د ټلورو خواوو څخه د دوږخ په منځ کي راګير وي، او ددغه خطرناکه ځای څخه د خلاصون لپاره به ددې څخه ماسوا نور هيڅ نه وي چي هغه به پر دوږخ سربېره پر پل صراط باندي تيرېږي، که چيري په دنيا کي يې د ايمان او تقوا ژوند اختيار کړی وي او د الله ﷻ فضل ورسره وي نو پر هغه به په تېرېدو سره جنت ته ورسيږي او کنه نو په دوږخ کي به ولوېږي، د الله ﷻ ارشاد دی:

وَإِن مِّنكُمْ إِلاَّ وَارِدُهَا كَانَ عَلَى رَبِّكَ حَتْمًا مَّقْضِيًّا ، ثُمَّ نُنَجِّي الَّذِينَ اتَّقَوا

ژباړه: اوپه تاسو کي هيڅوک داسي نسته چي پر دوږخ سربېره به نه تيرېږي، دا ستاسو د رب حتمي فيصله ده، بيا به موږ پرهېزګارو ته خلاصون ورکړو.

ځکه رسول الله ﷺ وفرمايل: خپل ځان د دوږخ څخه وژغورئ او ددې يوه غوره طريقه صدقه او خيرات هم دی، څومره چي مالي پراختيا وي هغومره همت وي د هغه سره سم د غريبانو، مسکينانو، او اړو کسانو مالي مرسته کولو سره د الله ﷻ په لاره کي خپل مال مصرف کړئ، که يو غوښتونکی ستا سو په وړاندي خپل لاس وغزوي نو ته چي څه ورکولای سي هغه ورکړه که څه هم د خرما يوه ټوټه وي، او که بالکل د څه ورکولو توان نه وي نو کم از کم دا وکړه چي د سخت جواب ورکولو په ذريعه د هغه د زړه ماتولو پر ځای په ډېره نرمۍ او ښه اخلاقو سره

هغه ته خپل عذر بيان کړه، او په داسي طرز کي هغه ته جواب ورکړه چي هغه ستا د چلن څخه خوشحاله سي، په شرط د دې چي په هغه کي د دين سپکاوی نه وي .

د دين په لار کي سخت تکليفونه زغمل

﴿۵۶۰۸﴾ : وَعَنْ خَبَّابِ بْنِ الْأَرَتِّ قَالَ شَكَوْنَا إِلَى النبي صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ

د حضرت خباب بن ارت رضي الله عنه څخه روايت دی چي رسول الله ﷺ د کعبې شريفي په سايه کي تر

وَهُوَ مُتَوَسِّدٌ بُرْدَةً فِي ظِلِّ الْكَعْبَةِ وقد لقينا من المشركين شد فقلنا الا

سر لاندي کمبل ايښی پروت وو، موږ د کفارو څخه سختۍ (تکليفونه) ليدلي وه بيا موږ

تدعو الله فقعد وهو محمر وجهه قَالَ كَانَ الرَّجُلُ فِيمَنْ قَبْلَكُمْ يُحْفَرُ لَهُ

ووېل: تاسو د کافرانو لپاره د الله جل جلاله څخه ښيرا ولي نه غواړئ، دا دې اوريدو سره رسول الله ﷺ کښېنستی او مخ مبارک يې سور سو، بيا رسول الله ﷺ وفرمايل: ستاسو څخه مخکي داسي خلک تير سوي دي چي د هغوئ لپاره به په مځکه کي کنده وکښل سوه

فِي الْأَرْضِ فَيُجْعَلُ فِيهِ فَيُجَاءُ بِالْمِنْشَارِ فَيُوضَعُ عَلَى رَأْسِهِ فَيُشَقُّ بِاثْنَتَيْنِ

بيا به په هغه کنده کي سړی کښېنول سو او بيا به اره کړل سو او پر منځ به دوې ټوټې کړل سو،

فَمَا يَصُدُّهُ ذَلِكَ عَنْ دِينِهِ وَيُمْشَطُ بِأَمْشَاطِ الْحَدِيدِ مَا دُونَ لَحْمِهِ مِنْ عَظْمٍ

مګر د دغه عذاب څخه به هم هغوئ د دين څخه نه اوښتل، او د خلکو بدنونه به د اوسپني په ږمونځ ږمونځېدل چي په هغه سره به د هغوئ غوښه د هډوکو څخه ايسته سوه

أَوْ عَصَبٍ وَمَا يَصُدُّهُ ذَلِكَ عَنْ دِينِهِ وَاللّٰهِ لَيُتِمَّنَّ هَذَا الْأَمْرَ حَتَّى يَسِيرَ

او هغوئ به د دين څخه نه اوښتل، په الله جل جلاله دي مي قسم وي دا دين به پوره وي او تر دې حده به پر مختګ کوي

الرَّاكِبُ مِنْ صَنْعَاءَ إِلَى حَضْرَمَوْتَ لَا يَخَافُ إِلَّا اللّٰهَ أَوِ الذِّئْبَ عَلَى غَنَمِهِ وَلَكِنَّكُمْ تَسْتَعْجِلُونَ. رواه البخاري.

چي يو يوازي سپور به د صنعاء څخه تر حضر موت پوري يوازي سفر كوي، او د الله ﷻ څخه پرته به د هيچا څخه نه بيريږي او رمې والا به پرته د شرموښ څخه د بل چا څخه په بيره كې نه وي، مګر تاسو تلوار كوئ (يعني د صبر او استقامت څخه كار مه اخلئ). بخاري.

تخريج: صحيح البخاري (فتح الباري): ۱۲\۳۱۵، رقم: ٦٩٤٣.

تشريح: مخ مبارک يې سور سو، دا په اصل كې د هغه دنني كيفيت اظهار وو چې د صحابه كرامو د ژبې څخه د كافرانو او د دين د دښمنانو د ظلم او دهغوئ په تكليفو رسولو سره پر رسول الله ﷺ خپور سو، يا دا چې رسول الله ﷺ ته دا خوښه نه وه چې د كافرانو پر ظلم باندي صحابه كرام د بې صبرۍ اظهار وكړي او پر ژبه د شكايت الفاظ راوړي ځكه هغه صحابه كرام چې د كفارو د مخالفت او دښمنۍ څخه شكايت وكړ نو د ناخوښۍ او غصې په وجه د رسول الله ﷺ مخ مبارک سور سو، رسول الله ﷺ چې ورروسته څه وفرمايل ، هغه ته په كتلو سره دغه وضاحت زيات مناسب معلوميږي .

صنعاء، د مشق (شام) په شاوخوا كې د يو كلي نوم وو لكه چې په قاموس كې ليكلي دي ، او دا په اصل كې د جزيره عرب د مشهور هيواد يمن تر ټولو لوی ښار او پلازمينه دی، د اوبو د زياتوالي او د درختو د زياتوب په وجه د يمن شنګيا ډېره مشهوره ده .

حضرت موت هم د يمن يوه برخه وه او د يو ځای نوم وو، مګر اوس د عدن ختيځې خوا ته پر يوې لوي سيمي باندي مشتمل د ډېرو ښارونو مجموعي نوم دی، په يوه زمانه كې د لته صحابه كرام او اولياء دومره زيات وه چې دا مقوله ويل كيدل، حضرت موت ، منبت الاولياء، يعني حضرت موت هغه ځای دی چې اولياء الله پكښې پيدا كيږي، ددغه ځای نوم حضرت موت په دې وجه مشهور دی چې ستر پيغمبر حضرت صالح ؑ دلته وفات سوی وو او د وفات پر وخت هغه دا جمله فرمايلې وه، حضرت الموت، يعني مرګ حاضر سو، د هغه وخت څخه ددغه ځای نوم حضرت موت سو، او ځينو حضراتو ليكلي دي چې يو پيغمبر حضرت جرجيس ؑ هم دلته وفات سوی وو او د هغه وخت څخه ددغه ځای نوم حضرت موت سو .

يو سړي ته د خپلو پسو په اړه ... الخ: ددغه جملې اصلي معنی مقصد نه ده يعني دا مطلب نه دی چې په حقيقت كې د شرموښانو پر پسو حمله كول او د هغوئ ښكار كېدل پرېږدئ ځكه چې په عادت كې داسې ممكن نه ده، كه څه هم په آخره زمانه كې چې حضرت عيسی ؑ دنيا ته را نازل سي او عام انتظام به دهغه په لاس كې وي نو هغه وخت به دومره د بركت او امن وي چې شرموښان به هم پر پسو باندي د حملې كولو څخه منع كيږي بلكه ددغه جملې اصلي

مقصد د انسانانو يو پر بل باور ، د امن او امان ظاهرول دي چي هغه وخت به خلک د يو بل د ظلم او زياتي څخه خوندي او مامون وي او ټوله ټولنه به داسي په امن او عافيت کي وي چي د هغه تصور هم د جاهليت په زمانه کي نه سو کيداى .

مګر تاسو تلوار کوئ، د دغه جملي په ذريعه رسول الله ﷺ صحابه کرامو ته ډاډ ورکړ چي تاسو په وېره او پرېشاني کي مه اخته کيږئ چي د کوم عظيم مقصد په لاره کي تاسو لګيدلي ياست ، هغه به بېله تکليف او پرېشانۍ ژر تر سره کړئ، په دغه لاره کي ډېر خنډونه هم دي او سخت مصيبتونه هم ، او د دغه مصيبتو د زغملو لپاره سخت تکليفونه پر ځان ورل پکار دي ، او پر مصيبتو باندي د صبر او استقامت لمن هم ټينګول پکار دي ، زه تاسو ته يقين درکوم که الله ﷻ وغوښتل نود اسلام او د مسلمانانو د دښمنانو د عناد رويه به ختمه سي او د الله ﷻ دين به لوړ وي نو تاسو د دين په لاره کي پر ټولو مصيبتو باندي صبر کوئ لکه څرنګه چي د تېرو امتونو او مؤمنانو پر مصيبتو باندي د خپل يقين او د ايمان د قوت په مرسته صبر وکړ چي تاسو ته د پېښېدونکو مصيبتو او تکليفو څخه زيات دردناک او سخت وه .

يو خوب او دعاء

﴿۵۶۰۹﴾ : وَعَنْ أَنَسٍ قَالَ كَانَ رَسُولُ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ يَدْخُلُ عَلَى أُمِّ

د حضرت انس رضي الله عنه څخه روايت دی چي رسول الله ﷺ به د ام حرام بنت ملحان کره تلی راتلی،

حَرَامٍ بِنْتِ مِلْحَانَ وَكَانَتْ تَحْتَ عُبَادَةَ بْنِ الصَّامِتِ فَدَخَلَ عَلَيْهَا يَوْمًا

ام حرام د عباده بن صامت ښځه وه ، يوه ورځ رسول الله ﷺ د ام حرام کور ته تشريف راوړ ،

فَأَطْعَمَتْهُ ثُمَّ جَلَسَتْ تَفْلِي رَأْسَهُ فَنَامَ رَسُولُ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ ثُمَّ اسْتَيْقَظَ

ام حرام په رسول الله ﷺ باندي خوراک وخوړی بيا کښېنستل ، د رسول الله ﷺ په سر مبارک کي يې سپږي کتلې رسول الله ﷺ بيده سو ، بيا رسول الله ﷺ په خندا را پورته سو ،

وَهُوَ يَضْحَكُ قَالَتْ فَقُلْتُ مَا يُضْحِكُكَ يَا رَسُولَ اللَّهِ قَالَ نَاسٌ مِنْ أُمَّتِي عُرِضُوا

ام حرام يو ښتنه وکړه اې د الله رسوله ! تاسو ولې وخندل؟ رسول الله ﷺ وفرمايل : زما په امت کي يوه ډله (په خوب کي) داسي زما په مخکي وړاندي کړل سول چي

عَلَيَّ غُزَاةً فِي سَبِيلِ اللَّهِ يَرْكَبُونَ ثَبَجَ هَذَا الْبَحْرِ مُلُوكًا عَلَى الْأَسِرَّةِ أَوْ مِثْلَ

هغوئ د الله ﷻ په لار کي جهاد کوي او په دریاب کي سپاره دي لکه څرنګه چي پاچا پر تخت

الْمُلُوكِ عَلَى الْأَسِرَّةِ فَقُلْتُ يَا رَسُولَ اللَّهِ ادْعُ اللَّهَ أَنْ يَجْعَلَنِي مِنْهُمْ فَدَعَا لَهَا ثُمَّ

ناست وي یا دپاچاهانو په ډول چي پر خپل تخت وي، ام حرام وایي ما عرض وکړ اې د الله رسوله ! د الله ﷻ څخه دعاء وغواړه چي په دغه مجاهدینو کي ما هم شامله کړي، رسول الله ﷺ دعاء وکړه ددې څخه

وَضَعَ رَأْسَهُ فَنَامَ ثُمَّ اسْتَيْقَظَ وَهُوَ يَضْحَكُ فَقُلْتُ يَا رَسُولَ اللَّهِ مَا يُضْحِكُكَ قَالَ

وروسته رسول الله ﷺ (پرتکیه) سر مبارک ولګوی او بیده سو ، بیا په خندا را پورته سو ، ما عرض وکړ اې د الله رسوله ! تاسو ولي خاندئ ؟ رسول الله ﷺ وفرمایل

نَاسٌ مِنْ أُمَّتِي عُرِضُوا عَلَيَّ غُزَاةً فِي سَبِيلِ اللَّهِ كَمَا قَالَ فِي الْأُولَى فَقُلْتُ يَا

زما په امت کي ځیني خلک د الله ﷻ په لاره کي جنګ کونکي راته وښودل سول (لکه څرنګه چي لومړی وار رسول الله ﷺ وفرمایل همداسي یې دا وار هم وفرمایل)، ما عرض وکړ اې د الله

رَسُولَ اللَّهِ ادْعُ اللَّهَ أَنْ يَجْعَلَنِي مِنْهُمْ قَالَ أَنْتِ مِنَ الْأَوَّلِينَ فَرَكِبَتْ أُمُّ حَرَامٍ

رسوله ! دعاء وکړئ چي الله ﷻ ما په دوئ کي شامله کړي ، رسول الله ﷺ ورته وفرمایل : ته په لومړنۍ ډله کي شامله یې ،(او همداسي وسول چي) د معاویه رضي الله عنه په زمانه کي ام حرام د دریاب په کښتۍ کي سپره سوه

الْبَحْرَ فِي زَمَنِ مُعَاوِيَةَ فَصُرِعَتْ عَنْ دَابَّتِهَا حِينَ خَرَجَتْ مِنَ الْبَحْرِ فَهَلَكَتْ.

متفق عليه.

او د دریاب څخه چي کښته کیدل او پر خپلي سپرلۍ سپریده نو را ولویده او وفات سوه. بخاري او مسلم. (ام حرام (رض) د رسول الله ﷺ محرمه وه یعني یا یې رضعي خاله وه یا یې د پلار یا نیکه خاله وه ، د حضرت انس رضي الله عنه خاله وه د ام سلیم خور وه او په اسلام مشرفه وه) .

تخريج: صحيح البخاري (فتح الباري): ١١\٧٠- ٧١، رقم: ٦٢٨٢، ومسلم ١٣\١٥١٨، رقم: ١٦٠- ١٩١٢.

د لغاتو حل: ثبج: اي وسطه ومعظمه. (درمیان)

تشريح: ام حرام رضي الله عنها د بلحان ابن خالد لور وه، د بني نجار د قبیلې سره یې تعلق درلود، د حضرت انس رضي الله عنه خاله ده او د هغه مور د بي بي ام سلیم خور وه، دغه دواړي مبارکي ښځي

يعني بي بي ام حراء ﷺ او بي بي ام سليم ﷺ د تي رودلو په وجه يا د يو بل قرابت په وجه د رسول الله ﷺ خاله ګاني وې ، امام نووي ﷫ ليکلي دي : د ټولو علماؤ پر دې اتفاق دى چي بي بي ام حرام ﷺ د رسول الله ﷺ محرم وه ځکه رسول الله ﷺ په بې تکلفۍ سره په غرمه کي د هغې په کور کي قيلوله (د غرمې آرام) کوی مګر د محرميت په کيفيت کي د علماؤ اختلاف دى ، چا ورته په يوه تعلق محرم ويلي دي او چا په بل تعلق ، بي بي ام حرام ﷺ په اسلام مشرفه سول او د رسول الله ﷺ په لاس مبارک يې بيعت وکړ او د حضرت عثمان ﷺ د خلافت په زمانه کي د خپل خاوند حضرت عباده ابن صامت ﷺ سره چي د انصارو څخه يو ستر صحابي دی، د الله ﷻ په لاره کي د جهاد لپاره ووتل او د روم هيواد ته په رسېدو سره د شهادت پر مرتبه ونازول سول،

په سر مبارک کي د سپږو کتلو لپاره کښېنستل، مخکي دا تحقيق تېر سوی دی چي د رسول الله ﷺ د بدن مبارک په هيڅ برخه کي هم سپږي نه وې ، د بي بي ام حرام ﷺ اصل مقصد د رسول الله ﷺ د وېښتانو مبارکو څخه د ګرد او غبار پاکول وو او دا کتل وه چي سپږه خو به نه وي ،

يا دا يې وفرمايل چي د پاچاهانو په ډول پر تخت وي، دلته راوي د خپل شک اظهار کړی دی چي دلته رسول الله ﷺ د (ملوكا على الاسرة) الفاظ وفرمايل، يا د (مثل الملوک على الاسرة) الفاظ وفرمايل، په دواړو جملو کي لږ فرق دی، د اصل او مفهوم په اعتبار دواړي جملې يو ډول دی، په دغه جمله کي د رسول الله ﷺ د درياب سينه د مځکي په مخ سره او کشتۍ ته له تخت سره مشابهت ورکړ او په کشتۍ کي سپرېدل يې د پاچاهي پر تخت باندي د ناستي مشابه وګرځول، همدارنګه رسول الله ﷺ دا وفرمايل چي هغه خلک که څه هم د خپل ځان په تکليف کولو سره په دومره خطرناک کارپسي روان وه مګر د مقصد له موخي د اخلاص او يقين او الهي رضا جذبه يې درلودل او له دې کبله د هغوئ په زړو کي بېره نه وه ، هغوئ دومره په اطمينان او سکون سره په درياب کي سفر کوئ او پر کشتو ناست وي لکه يو پاچا چي په خپل خوندي او مامون محل کي د پاچاهي پر تخت په اطمينان سره ناست وي .

ته په لومړنۍ ډله کي يې، ددې څخه څرګنديږي چي رسول الله ﷺ ته په دوهم وار خوب کي کومه ډله ښکاره سوې وه د هغه ډلي څخه ماسوا پر نورو خلکو باندي مشتمل وو کوم چي په لومړي ځل ښکاره سوي وه ، دلته دې ته اشاره وه چي ددغه امت يوه ډله به د درياب په سفر کولو سره د الله ﷻ په لاره کي جهاد کوي ، کله به يو لښکر په جګړه وي او کله به بل لښکر د درياب په سفر کولو سره پر دښمنانو حمله کوي، کله چي ام حرام ﷺ په دوهم وار رسول الله ﷺ ته د دعاء غوښتنه وکړل نو رسول الله ﷺ ورته وفرمايل ، ستا په اړه په لومړي ځل دعاء قبوله سوې ده او

ته په هغه ډله کي يې چي تر ټولو مخکي د درياب په سفر کولو سره د الله ﷻ په لاره کي جهاد کوي، ددې څخه دا هم معلومه سول چي ددغه خلکو مرتبه چي هغوئ ته د اول جهاد سعادت په برخه سو د وروسته مجاهدينو څخه لوړه ده.

د روايت د آخري الفاظو څخه په ظاهره دا معلوميږي چي د جهاد په سفر کي د بي بي ام حرام ﷺ روانېدل او د سپرلۍ څخه په ايله کېدو سره د شهادت تر لاسه کېدو پېښه د حضرت امير معاويه ﷺ دحکومت د زمانې ده، او په اسماء الرجال او د سيرت په کتابو کي د هغې شهادت د حضرت عثمان ﷺ د خلافت په زمانه کي بيان سوى دى يعني د حضرت عثمان ﷺ د خلافت په زمانه کي کله چي حضرت معاويه ﷺ عامل او والي وو نو هغه وخت دا پېښه رامنځه سوې وه او دا پېښه د هغه وخت وه کله چي حضرت معاويه ﷺ د امارت پر تخت ناست وو، ددغه وضاحت څخه د دواړو روايتو په منځ کي هيڅ تضاد نه پاته کيږي.

د رسول الله ﷺ اعجاز

﴿۵۶۱۰﴾: وَعَنْ عَبَّاسٍ قَالَ اِنَّ ضِمَادًا قَدِمَ مَكَّةَ وَكَانَ مِنْ أَزْدِ شَنُوءَةَ وَكَانَ يَرْقِي

د حضرت عباس ﷺ څخه روايت دى چي قبيله شنوء د ازد بناخ يو سړى چي د هغه نوم ضماد وو مکې ته راغلى، ضماد به منتر وايه

مِنْ هَذِهِ الرِّيحِ فَسَمِعَ سُفَهَاءَ مِنْ أَهْلِ مَكَّةَ يَقُولُونَ إِنَّ مُحَمَّدًا مَجْنُونٌ فَقَالَ

او د پيريانو وغيره لپاره به يې دم کوى، هغه د مکې د جاهلانو څخه واوريدل چي محمد ﷺ ليونى سوى دى، ددې اوريدو سره هغه وويل

لَوْ أَنِّي رَأَيْتُ هَذَا الرَّجُلَ لَعَلَّ اللهَ يَشْفِيهِ عَلَى يَدَيَّ قَالَ فَلَقِيَهُ فَقَالَ يَا مُحَمَّدُ إِنِّي

که زه دا سړى ووينم نو کيداى سي چي زما په علاج سره الله تعالى هغه ته صحت ورکړي، د ابن عباس ﷺ بيان دى چي ضماد د رسول الله ﷺ په خدمت کي حاضر سو او وه يې ويل: اې محمد

أَرْقِي مِنْ هَذِهِ الرِّيحِ فَهَلْ لَكَ فَقَالَ رَسُولُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ إِنَّ الْحَمْدَ

(ﷺ)! زه د پيريانو منتر وايم که ستاسو خوښه وي نو علاج به مو وکړم؟ رسول الله ﷺ ورته وفرمايل: ټول تعريفونه الله ﷻ لره دي

لِلَّهِ نَحْمَدُهُ وَنَسْتَعِينُهُ مَنْ يَهْدِهِ اللهُ فَلَا مُضِلَّ لَهُ وَمَنْ يُضْلِلْ فَلَا هَادِيَ لَهُ

مورړ د هغه حمد کوو او د هغه څخه مرسته غواړو، هغه چي چا ته سيده لار وښيي نو هغه څوک گمراه کولای نه سي او څوک چي گمراه کړي نو هغه ته څوک هدايت نه سي کولای

وَأَشْهَدُ أَنْ لَا إِلَهَ إِلَّا اللَّهُ وَحْدَهُ لَا شَرِيكَ لَهُ وَأَنَّ مُحَمَّدًا عَبْدُهُ وَرَسُولُهُ أَمَّا بَعْدُ

او زه ددې اقرار او شهادت کوم چي د الله ﷻ څخه ماسېوا بل څوک د عبادت وړ نه سته هغه يوازي يو دی هيڅوک د هغه شريک نه سته او زه ددې شاهدي کوم چي محمد ﷺ د الله ﷻ بنده او د هغه رسول دی، امابعد! ددې څخه وروسته

فَقَالَ أَعِدْ عَلَيَّ كَلِمَاتِكَ هَؤُلَاءِ فَأَعَادَهُنَّ عَلَيْهِ رَسُولُ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ

رسول الله ﷺ خطبه ورکول غوښتل مگر پته خوله سو او څه چي يې فرمايلي وه هغه يې بس وګڼل، ضماد چي د رسول الله ﷺ الفاظ واوريدل نو عرض يې وکړ څه چي تاسو وفرمايل هغه دويم وار وفرمايا ست، نو رسول الله ﷺ هغه الفاظ درې واره وفرمايل،

ثَلَاثَ مَرَّاتٍ فَقَالَ لَقَدْ سَمِعْتُ قَوْلَ الْكَهَنَةِ وَقَوْلَ السَّحَرَةِ وَقَوْلَ الشُّعَرَاءِ فَمَا

ضماد وويل: ما د کاهنانو اقوال اوريدلي دي او د ساحرانو کلمات مي اوريدلي دي او د شاعرانو اشعار مي اوريدلي دي

سَمِعْتُ مِثْلَ كَلِمَاتِكَ هَؤُلَاءِ وَلَقَدْ بَلَغْنَ قَاعُوسَ الْبَحْرِ هَاتِ يَدَكَ أُبَايِعْكَ عَلَى

مگر ستاسو د کلماتو په ډول هيڅ کلام مي نه دی اوريدلی، ستاسو دا کلمې (په فصاحت او بلاغت کي) د درياب بيخ ته رسيدلي دي تاسو خپل لاس را وړاندي کړئ چي زه ستاسو په لاس

الْإِسْلَامِ قَالَ فَبَايَعَهُ. رواه مسلم وفي بعض نسخ المصابيح بلغنا ناعوس

بيعت وکړم، ابن عباس رضي الله عنه وايي، ضماد د رسول الله ﷺ پر لاس مبارک بيعت وکړ او مسلمان سو، مسلم، او په بعضو نسخو د مصابيح کي داسي لفظ دی بلغنا ناعوس

البحر وذكر حديثا ابي هريرة وجابر بن سمرة يهلك كسرى والاخر لتفتحن عصابة في باب الملاحم. وهذا الباب خال عن الفصل الثاني.

البحر، او ذکر سوي دي دوه حديثونه د ابوهريره رضي الله عنه او جابربن سمره رضي الله عنه حديثونه (يهلک

كسرى ...او بل لتفتحن عصابة) په باب الملاحم کي بيان سوي دي.

تخريج: صحيح مسلم ۲\۵۹۳، رقم: ۴۶ - ۸۶۸،

د لغاتو حل: قاموس البحر: اي معظم بحر الكلام والمعنى بلغت غاية الفصاحة (ډېر فصيح)

تشريح: ضماد د ضاد په زبر او په پای کي په کسره (ضِمادِ) دی، مګر ځينو حضراتو دا نوم د آخري لفظ په ميم سره (ضمام) نقل کړی دی، شنوءة د يمن د يوې لوي سيمي نوم دی او ازد ددغه قبيلې يو ښاخ ته وايي، ضماد د خپل وخت يو لوی طبيب هم وو او دم کوونکی هم وو، د علم سره يې خاص تعلق درلودی، عمليات يعني دم او چوپ د هغه خاص فن او کسب وو، د نبوت د زمانې ځخه مخکي له رسول الله ﷺ سره يې شناخت وو ځکه د نبوت د اعلان ځخه وروسته چي هغه مکې ته راغلی او د مکې د بدو مشرکينو د عناد او شر په ذريعه هغه ته دا خبره ورسېدل چي (نعوذبالله) په حضرت محمد ﷺ باندي د پيريانو او نورو شيانو اثر دی، يا د ليونتوب ناروغي پر غالبه سوې ده، چي د هغه په وجه نابلده خبري کوي، نو هغه د خپل تير تعلق په وجه په خپله د رسول الله ﷺ د علاج کولو اراده ظاهره کړل او د رسول الله ﷺ په خدمت کي حاضر سو، رسول الله ﷺ د هغه د خبرو په اورېدو سره مناسب وګڼل چي د اسلام د مخالفينو په اثر هغه چي کومه رايه قائمه کړې ده د هغه ترديد په ډاګه ونه کړل سي بلکه د الله ﷻ پيغام او ددين خبره د هغه په مخکي وړاندي کړل سي چي په هغه سره هغه خپله پوه سي چي کوم ځوک بې عقل، ليونی او مرضي ورته وايي هغه په حقيقت کي کوم حيثيت لري، او د عقل او پوهي پر کوم مقام باندي فائز دی، رسول الله ﷺ د هغه په وړاندي پر پند او نصيحت باندي مشتمله خطبه د حمد او ثناء تمهيدي جملې وفرمايلې او د اما بعد ويلو سره يې اصل خطبه ويل وغوښتل چي د رسول الله ﷺ اعجازته د وړاندي ځه ويلو ضرورت پاته نه سو هغه ته د خطبې د تمهيدي جملو په ويلو سره د خپل زړه او دماغ دنيا بدلېدل محسوس سول، هغه په غوښتنه کولو سره په وار وار د رسول الله ﷺ دغه الفاظ واورېدل او کله چي د هغه دماغ شاهدي ورکړل چي دا سړی نه ليونی دی او نه مرضي دي بلکه په حقيقت کي د الله ﷻ رسول او پيغمبر دی او د هغه په اړه چي د مخالفينو کوم ګمان دی د هغه اصل مقصد ددغه سړي ځخه او ددغه رېښتوني خبرو ځخه ليري کول دي نو هغه سمدستي د رسول الله ﷺ په لاس مبارک بيعت وکړ او مسلمان سو، همدارنګه ضماد ؓ د هغه خوشبختو صحابه کرامو ځخه دی چي په لومړني اسلام کي د دين د منلو شرف ورپه برخه سو، رضي الله عنه،

په قاموس البحر کي اصل لفظ د قاموس دی یا ناعوس، په دې اړه د مسلم شارح ، امام نووي رحمة الله عليه ليکلي دي چي موږ دوه ډوله يعني ناعوس هم نقل کړی دی او قاموس هم، زموږ سره چي د صحيح مسلم کومي نسخې تر لاسه کيږي په هغه کي ناعوس لفظ دی ، مګر د صحيح مسلم څخه ماسوا په نورو کتابو کي د قاموس لفظ ليکلی دی، او قاضي عياض رحمة الله عليه ليکلي دي چي ځينو حضراتو د ناعوس لفظ نقل کړی دی او زموږ شيخ ابو الحسن رحمة الله عليه ويلي دي چي د ناعوس هغه معنی ده کوم چي د قاموس ده مګر توربشتي رحمة الله عليه ويلي دي چي صحيح لفظ د قاموس دی ، دناعوس لفظ خطا او د راوي وهم دی ، دا يادونه کول هم ضروري دي چي د ځينو حضراتو په نزد دغه لفظ قاعوس هم نقل سوی دی او د لغت په مشهورو کتابو کي د ناعوس لفظ نه تر لاسه کيږي .

په دغه باب کي دوهم فصل نسته.

اَلْفَصْلُ الثَّالِث (دريم فصل)

د قيصر روم په دربار کي د ابوسفيان شاهدي

﴿۵۶۱۱﴾: عَنِ ابْنِ عَبَّاسٍ قَالَ حَدَّثَنِي أَبِي سُفْيَانَ ابن حرب مِنْ فِيهِ إِلَى فِيَّ قَالَ

د حضرت ابن عباس رضي الله عنه څخه روايت دی چي ابو سفيان بن حرب رضي الله عنه ما ته دا حديث بيان کړ چي

انْطَلَقْتُ فِي الْمُدَّةِ الَّتِي كَانَتْ بَيْنِي وَبَيْنَ رَسُولِ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ قَالَ

په هغه زمانه کي چي زما او د رسول الله صلى الله عليه وسلم په منځ کي صلح وه (يعني صلح حديبيه) ما سفر وکړ

فَبَيْنَا أَنَا بِالشَّأمِ إِذْ جِيءَ بِكِتَابٍ مِنَ النَّبِيِّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ إِلَى هِرَقْلَ قَالَ

زه په شام کي مقيم وم چي د نبي کريم صلى الله عليه وسلم ليک مبارک د هرقل په نامه راغلی او هغه ليک

وَكَانَ دَحْيَةُ الْكَلْبِيُّ جَاءَ بِهِ فَدَفَعَهُ إِلَى عَظِيمِ بُصْرَى فَدَفَعَهُ عَظِيمُ بُصْرَى إِلَى

دحيه کلبي راوړی وو ، دحيه کلبي هغه ليک د بصری امير ته ورسوی، او د بصری امير هغه

هِرَقْلَ فَقَالَ هِرَقْلُ هَلْ هَا هُنَا أَحَدٌ مِنْ قَوْمِ هَذَا الرَّجُلِ الَّذِي يَزْعُمُ أَنَّهُ نَبِيٌّ

ليک د هرقل په خدمت کي وړاندي کړ، هرقل ووېل : ايا د دغه سړي د قوم يو څوک دلته سته چا چي د نبوت دعوه کړې ده ؟

قَالُوا نَعَمْ فَدُعِيتُ فِي نَفَرٍ مِنْ قُرَيْشٍ فَدَخَلْنَا عَلَى هِرَقْلَ فَأُجْلِسْنَا بَيْنَ يَدَيْهِ

خلكو ويل هو سته، نو د قريشو د يو ډلي سره زه را وستل سوم، موږ هرقل ته ورسيدو او د هغه مخته كښېنستو،

فَقَالَ أَيُّكُمْ أَقْرَبُ نَسَبًا مِنْ هَذَا الرَّجُلِ الَّذِي يَزْعُمُ أَنَّهُ نَبِيٌّ قَالَ أَبُو سُفْيَانَ

هغه پوښتنه وكړه په تاسو كي څوک هغه ته زيات په نسب كي نژدې دی كوم چي ځان ته نبي وايي، د ابو سفيان بيان دی

فَقُلْتُ أَنَا فَأَجْلَسُونِي بَيْنَ يَدَيْهِ وَأَجْلَسُوا أَصْحَابِي خَلْفِي ثُمَّ دَعَا بِتَرْجُمَانِهِ فَقَالَ

ما وويل زه ورته نژدې يم، هر قل زه د ځان سره نژدې كښېنولم او د قريشو نور خلک زما شاته كښېنستل، بيا هر قل ترجمان وغوښتی او هغه ته يې وويل

قُلْ لَهُمْ إِنِّي سَائِلٌ هَذَا عَنْ هَذَا الرَّجُلِ الَّذِي يَزْعُمُ أَنَّهُ نَبِيٌّ فَإِنْ كَذَبَنِي

ته دغه خلكو ته ووايه چي زه د ابو سفيان څخه د هغه سړي حال معلوموم، كه ابو سفيان يو دروغ

فَكَذِّبُوهُ قَالَ أَبُو سُفْيَانَ وَايْمُ اللهِ لَوْلَا مَخَافَةُ أَنْ يُؤْثِرُوا عَلَيَّ الْكَذِبَ لَكَذَبْتُ

خبره وكړي نو تاسو ورته دروغجن ووايا ست، او د ريښتوني خبر څخه ما خبر كړئ، د ابو سفيان بيان دی كه زما سره دا بيره نه وای چي خلک به ما ته دروغجن ووايي نو ما به خامخا دروغ خبري كړي وای،

ثُمَّ قَالَ لِتَرْجُمَانِهِ سَلْهُ كَيْفَ حَسَبُهُ فِيكُمْ قَالَ قُلْتُ هُوَ فِينَا ذُو حَسَبٍ قَالَ

ددې څخه وروسته هر قل خپل ترجمان ته وويل چي د ابو سفيان څخه پوښتنه وكړه چي ستاسو په منځ كي ددغه سړي حسب څه شي دی ؟ ابو سفيان په جواب كي وويل : هغه سړی په موږ كي صاحب حسب دی (يعني په حسب كي ښه دی خانداني سړی دی)، بيا هرقل پوښتنه وكړه

فَهَلْ كَانَ مِنْ آبَائِهِ مَلِكٌ قُلْتُ لَا قَالَ فَهَلْ كُنْتُمْ تَتَّهِمُونَهُ بِالْكَذِبِ قَبْلَ أَنْ

د هغه په پلرونو او نيكونو كي يو څوک پاچا تير سوی دی ؟ ما وويل : يا، بيا هغه پوښتنه وكړه ايا د نبوت ددعوې څخه مخكي تاسو هغه دروغجن ليدلی دی ؟

يَقُولَ مَا قَالَ قُلْتُ لَا قَالَ أَيَتَّبِعُهُ أَشْرَافُ النَّاسِ أَمْ ضُعَفَاؤُهُمْ قَالَ قُلْتُ بَلْ

ابو سفيان وويل: يا، بيا هرقل پوښتنه وکړه: کوم خلک چي پر هغه ايمان راوړي هغه شريف خلک دي که کمزوري او ضعيف؟ ما وويل

ضُعَفَاؤُهُمْ قَالَ يَزِيدُونَ أَوْ يَنْقُصُونَ قَالَ قُلْتُ لَا بَلْ يَزِيدُونَ قَالَ هَلْ يَرْتَدُّ

ضعيف او کمزوري خلک پر هغه ايمان راوړي، هرقل پوښتنه وکړه د هغه د پيروانو حلقه زياتيږي که کميږي؟ ما وويل زياتيږي، هرقل پوښتنه وکړه د هغه په دين کي د داخليدو څخه

أَحَدٌ مِنْهُمْ عَنْ دِينِهِ بَعْدَ أَنْ يَدْخُلَ فِيهِ سَخْطَةً لَهُ قَالَ قُلْتُ لَا قَالَ فَهَلْ

وروسته څوک په پټه سره مرتد کيږي هم؟ما وويل يا داسي نه کيږي، هرقل پوښتنه وکړه ايا

قَاتَلْتُمُوهُ قُلْتُ نَعَمْ قَالَ فَكَيْفَ كَانَ قِتَالُكُمْ إِيَّاهُ قَالَ قُلْتُ تَكُونُ الْحَرْبُ بَيْنَنَا

د هغه سره ستاسو جنګ هم سوی دی؟ ما وويل هو، هرقل پوښتنه وکړه د هغه سره ستاسو د جنګ پای څه وو؟ ما ورته وويل زموږ او د هغه په منځ کي د جنګ نتيجه دا وي

وَبَيْنَهُ سِجَالًا يُصِيبُ مِنَّا وَنُصِيبُ مِنْهُ قَالَ فَهَلْ يَغْدِرُ قُلْتُ لَا وَنَحْنُ مِنْهُ فِي

لکه سلواغې چي کله هغه پر موږ غالب سي او کله موږ پر غالب سو، کله زموږ څخه هغه ته مصيبت رسيږي او کله د هغه څخه موږ ته مصيبت رسيږي، هرقل پوښتنه وکړه ايا هغه خپل قول ماتوي؟ ما وويل: قول ماتول نه کوي، نن سبا زموږ او د هغه په منځ کي صلح ده،

هَذِهِ الْمُدَّةِ لَا نَدْرِي مَا هُوَ صَانِعٌ فِيهَا قَالَ وَاللَّهِ مَا أَمْكَنَنِي مِنْ كَلِمَةٍ أُدْخِلُ فِيهَا

موږ نه سو ويلای چي د دې صلح په معامله کي به د هغه کردار څه وي، د ابو سفيان بيان دی چي په دغه ټولو خبرو کي پر ته د آخري خبري څخه ما د خپل لوري هيڅ ونه ويل، (يعني د رسول الله ﷺ خلاف د دې خبري څخه پرته چي د اوسني صلح په اړه هيڅ نه سم ويلای چي د دې به پای څه وي نور مي هيڅ نه سوای ويلای)،

شَيْئًا غَيْرَ هَذِهِ قَالَ فَهَلْ قَالَ هَذَا الْقَوْلَ أَحَدٌ قَبْلَهُ قُلْتُ لَا ثُمَّ قَالَ لِتُرْجُمَانِهِ

هرقل پوښتنه وکړه دا ډول خبره د دغه څخه مخکي يو چا کړې ده؟ ما وويل: يا، د دې څخه

وروسته هرقل د خپلو سوالونو وضاحت پيل کړاو ترجمان ته يې وويل

قُلْ لَهُ إِنِّي سَأَلْتُكَ عَنْ حَسَبِهِ فِيكُمْ فَزَعَمْتَ أَنَّهُ فِيكُمْ ذُو حَسَبٍ وَكَذَلِكَ

ابوسفيان ته ووايه چي زما څخه د هغه سړي د حسب پوښتنه کړې وه نو تا وويل چي هغه ستاسو

الرُّسُلُ تُبْعَثُ فِي أَحْسَابِ قَوْمِهَا وَسَأَلْتُكَ هَلْ كَانَ فِي آبَائِهِ مَلِكٌ فَزَعَمْتَ أَنْ لَا

په قوم کي صاحب حسب دی، پيښه داده چي نبي د قوم د اشرافو خلکو څخه وي بيا ما ستا څخه پوښتنه وکړه چي د هغه په پلرونو او نيکونو کي يو ثوک پاچا تير سوی وو نو دا خيال کيدای

فَقُلْتُ لَوْ كَانَ مِنْ آبَائِهِ مَلِكٌ قُلْتُ رَجُلٌ يَطْلُبُ مُلْكَ آبَائِهِ وَسَأَلْتُكَ عَنْ أَتْبَاعِهِ

سو چي هغه د خپل خانداني حکومت غوښتونکی وي، بيا ما ستا څخه پوښتنه کړې وه چي د هغه تابعداران کوم خلک دي؟

أَضُعَفَاؤُهُمْ أَمْ أَشْرَافُهُمْ فَقُلْتَ بَلْ ضُعَفَاؤُهُمْ وَهُمْ أَتْبَاعُ الرُّسُلِ وَسَأَلْتُكَ هَلْ

اشرف يا ضعيف او کمزوري خلک؟ تا وويل ضعيف او کمزوري خلک د هغه پيروان دي، او په حقيقت کي هم داسي خلک د رسول تابعداروي، بيا ما پوښتنه وکړه ايا

كُنْتُمْ تَتَّهِمُونَهُ بِالْكَذِبِ قَبْلَ أَنْ يَقُولَ مَا قَالَ فَزَعَمْتَ أَنْ لَا فَعَرَفْتُ أَنَّهُ لَمْ

تاسو هغه درواغجن ګڼئ او پر هغه د درواغو تور لګوی؟ تا وويل: يا، نو زه پوه سوم چي ثوک

يَكُنْ لِيَدَعَ الْكَذِبَ عَلَى النَّاسِ ثُمَّ يَذْهَبَ فَيَكْذِبَ عَلَى اللَّهِ وَسَأَلْتُكَ هَلْ يَرْتَدُّ

په انسانانو کي درواغ نه وايي هغه پر خدای ﷻ څرنګه درواغ تړلای سي، بيا ما پوښتنه وکړه ايا د هغه د دين څخه ثوک اوښتی دی

أَحَدٌ مِنْهُمْ عَنْ دِينِهِ بَعْدَ أَنْ يَدْخُلَ فِيهِ سَخْطَةً لَهُ فَزَعَمْتَ أَنْ لَا وَكَذَلِكَ

يعني د هغه د مذهب قبلولو څخه وروسته د هغه څخه يا د هغه د مذهب څخه يو ثوک ناراضه کيدو سره مرتد سوي دي؟ تا وويل: يا، هر کله چي ايمان په زړه کي ځای ونيسي او

الْإِيمَانُ إِذَا خَالَطَ بَشَاشَةَ الْقُلُوبِ وَسَأَلْتُكَ هَلْ يَزِيدُونَ أَمْ يَنْقُصُونَ فَزَعَمْتَ

زړه د هغه د خوند څخه خبر سي نو دا حال د ايمان دی ، او ما ستا څخه پوښتنه کړې وه چي د هغه د پيروانو شمير زياتيږي که کميږي ؟ نو تا ځرګنده کړه چي

أَنَّهُمْ يَزِيدُونَ وَكَذَلِكَ الإِيمَانُ حَتَّى يَتِمَّ وَسَأَلْتُكَ هَلْ قَاتَلْتُمُوهُ فَزَعَمْتَ أَنَّكُمْ

هغه زياتيږي ، او د ايمان هم دا کيفيت وي چي هغه زياتيږي تر دې چي پوره سي ،ما بيا پوښتنه کړې وه چي تاسو د هغه سره جنګ کوئ ؟ تا وويل هو ،

قَاتَلْتُمُوهُ فَتَكُونُ الْحَرْبُ بَيْنَكُمْ وَبَيْنَهُ سِجَالًا يَنَالُ مِنْكُمْ وَتَنَالُونَ مِنْهُ

جنګ ورسره کوو او د جنګ مثال لکه د سلواغو چي کله هغه را باندي غالب سي او کله موږ هغه ته ستاسو څخه مصيبت رسيږي او تاسو ته د هغه څخه

وَكَذَلِكَ الرُّسُلُ تُبْتَلَى ثُمَّ تَكُونُ لَهُمُ الْعَاقِبَةُ وَسَأَلْتُكَ هَلْ يَغْدِرُ فَزَعَمْتَ أَنَّهُ لَا

او خبره داده چي د رسولانو څخه هم داسي امتحان اخيستل کيږي او بيا د هغه فتح نصيب کيږي، بيا ما پوښتنه کړې وه چي ايا هغه قول ماتوي ؟تا وويل هغه وعده ماتونکی نه دی

يَغْدِرُ وَكَذَلِكَ الرُّسُلُ لَا تَغْدِرُ وَسَأَلْتُكَ هَلْ قَالَ هَذَا الْقَوْلَ أَحَدٌ قَبْلَهُ فَزَعَمْتَ

او رسولان همداسي وي ، ما بيا پوښتنه وکړه ددې څخه مخکي ستاسو قوم کي يو چا داسي دعوا کړې ده ؟تا وويل چي

أَنْ لَا فَقُلْتُ لَوْ كَانَ قَالَ هَذَا الْقَوْلَ أَحَدٌ قَبْلَهُ قُلْتُ رَجُلٌ ائْتَمَّ بِقَوْلٍ قِيلَ قَبْلَهُ

يا ، نو زه په زړه کي پوه سوم که يو چا ددې څخه مخکي ددغه ډول دعوا کړې وي نو ويل کيدای سوه چي هغه د هغوئ پيروي کړې ده ، د ابوسفيان بيان دی ددې څخه وروسته

قَالَ ثُمَّ قَالَ بِمَ يَأْمُرُكُمْ قَالَ قُلْتُ يَأْمُرُنَا بِالصَّلَاةِ وَالزَّكَاةِ وَالصِّلَةِ وَالْعَفَافِ

هرقل زما څخه پوښتنه وکړه چي هغه سړی تاسو ته د کومي خبري حکم درکوي ؟ ما ورته وويل هغه موږ ته وايي چي لمونځ کوئ ، زکوة ورکوئ ، صله رحمي کوئ او د خپلوانو سره مينه او ښه

قَالَ إِنْ يَكُ مَا تَقُولُ حَقًّا فَإِنَّهُ نَبِيٌّ وَقَدْ كُنْتُ أَعْلَمُ أَنَّهُ خَارِجٌ وَلَمْ أَكُ أَظُنُّهُ

چلن کوئ او حرامو څخه ځان وساتئ ، هرقل وويل که ستا بيان صحيح وي نو يقينا هغه سړی

نبي دی او زه په دې پوهيدم چي يو نبي پيدا كيدونكی دی

مِنْكُمْ وَلَوْ أَنِّي أَعْلَمُ أَنِّي أَخْلُصُ إِلَيْهِ لَأَحْبَبْتُ لِقَاءَهُ وَلَوْ كُنْتُ عِنْدَهُ لَغَسَلْتُ عَنْ

مګر زه په دې نه پوهيدم چي هغه به ستاسو په قوم كي پيدا كيږي كه زه هغه ته رسيدلای سوای نو هغه مي به ليدلی وای او د هغه سره به مي ملاقات ډير خوښ سوی وای او زه به د هغه په خدمت كي حاضر سوای وای او د هغه پښې مباركي به مي په خپلو لاسونو سره پريولي وای

قَدَمَيْهِ وَلَيَبْلُغَنَّ مُلْكُهُ مَا تَحْتَ قَدَمَيَّ ثُمَّ دَعَا بِكِتَابِ رَسُولِ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ

او زه تاسو ته ښيم چي د هغه حكومت به دغه ځكي ته را رسيږي كومه چي نن زما تر قدم لاندي ده ، بيا هرقل د رسول الله ﷺ مبارك ليكل وغوښتی او

وَسَلَّمَ فَقَرَأَهُ. متفق عليه وقد سبق تمام الحديث في باب الكتاب الى الكفار.

هغه يې وواېه . بخاري او مسلم ، او دا پوره حديث مخكي هم په باب الكتاب الى الكفار كي تير سوی دی.

تخريج: صحيح البخاري (فتح الباري): ۱\۳۱- ۳۲، رقم: ۷. ومسلم ۳\۱۳۹۳، رقم: ۷۴- ۱۷۷۳.

د لغاتو حل: سخُطة: اي كراهة . العدة: اي مدة الهدنة والصلح الذي جرى يوم الحديبية.

تشريح: ابوسفيان ماته مخامخ دا بيان وكړ، ددې مطلب طيبي رحمة الله عليه دا ليكلي دی چي حضرت ابن عباس رضي الله عنه دا وضاحت كړی دی چي ابوسفيان خپله دغه پېښه ما ته مخامخ خپله بيان كړې ده، دا نه چي په يوې واسطې ما ته را رسېدلې ده مګر دا ويل زيات صحيح معلوميږي چي حضرت ابن عباس رضي الله عنه د دغه الفاظو په ذريعه دا واضحه كړل چي كله ابوسفيان دغه پېښه ماته بيان كړل نو هغه وخت زما ځخه ماسوا بل څوک موجود نه وو نو د حدثني لفظ هم پر دغه مطلب دلالت كوي .

په دغه وخت كي چي زما او د رسول الله ﷺ په منځ كي وو ، دلته د وخت ځخه مراد د صلح حديبيه زمانه ده ، دغه صلح په شپږم هجري كال كي سوې ده او د صلح له موخي د دې وخت لس كاله ګرځول سوي وو مګر خپله د مكې كفارو دغه صلح داسي ختمه كړې وه چي هغوئ د رسول الله ﷺ د حليف قبيلې، خزاعه ځيني خلک ناحق قتل كړي وه چي د هغه په وجه رسول الله ﷺ ته د مكې د كفارو جګړه كول پرېوتل او د هغه په نتيجه كي مكه فتح سول، دا د اتم هجري كال واقعه ده .

کله چي د نبي کريم ﷺ ليک، هرقل ته ورسېدی، د هرقل لفظ د هاء په زير او د راء په زبر او د قاف په جزم سره يعني (هرقل) هم راغي او د هاء په زور، د راء په جزم او د قاف په زور سره (يعني هرقل) هم منقول دی، دا د هغه وخت د رومي پاچاهۍ د پاچا نوم وو، په اصل کي رومي پاچاهي د خپل وخت لوی نړيوال طاقت وو او د هغه تر اثر لاندي سيمو کي ټول بر اعظم، يورپ، مصر او کوچنۍ آسيا شامل وه، او د څلورمي عيسوي پېړۍ په اول کي په دوو برخو کي وويشل سو، نو د ختيځي برخي پلازمينه روماشو او د ختيځي برخي پلازمينه قسطنطنيه وګرځېدل لکه څرنګه چي په پخواني او متحد رومي پاچاهي حکمرانانو ته به يې قيصر ويل همدارنګه ددغه دواړو تقسيم سوي رومي سلطنت حکمرانانو هم د ځان لپاره قيصر لقب اختيار کړ، دا وجه ده چي د قسطنطنيه پاچاه ته يې هم د روم قيصر په نامه ويل چي د هغه لاندي مصر، حبش، فلسطين، شام او کوچنۍ آسيا او د بلقان هيوادونه وه، ددغه ختيځ رومي پاچاهۍ د شان او شوکت او قوت په وړاندي د لويديځ روم هيڅ حيثيت نه وو، د رسول الله ﷺ زېږېدني په وخت کي په قسطنطنيه کي سخته سرکښي وسول او د هغه وخت قيصر (فوقا) د پاچاهۍ د تخت څخه په کښته کولو سره قتل کړ او د افريقي مقبوضاتو والي مصر ته يې د قسطنطنيه د تخت سنبالولو دعوت ورکړ، د افريقي والي د بوډاتوب په وجه نه راغلی مګر دهغه زلمی زوی، هرقل قسطنطنيه ته په رسېدو سره ددغه عظيمي پاچاهۍ پاچا سو، او د سلطنت ارکان هم د هرقل په خوښه ومنل سول، د پوه پاچاهۍ په ډول خپله هرقل هم عيسائي وو، پر دينار باندي په ټاپه لګولو سره هغه ته شکل ورکوونکی لومړنی پاچا هرقل وو، په عيسائي نړۍ کي دا امتياز هم هغه ته حاصل دی چي دعيسايانو عبادت ګاه په لومړۍ ځل هغه جوړه کړل، او رسول الله ﷺ د نورو پاچاهانو او مشرانو په ډول د روم قيصر ته چي د اسلام مبارک ليک ليږلی وو هغه دا هرقل د قسطنطنيه د پاچاهۍ مشرتابه وو.

بُصری، په شام کي د يو ښار نوم وو او د قسطنطنيه د روم د قيصر تر واک لاندي وو، ددغه ښار حاکم د روم د قيصر د والي په حيثيت سره د پاچاهۍ له دربار سره نژدې تعلق درلود، نو رسول الله ﷺ د روم د قيصر په نامه خپل مبارک ليک د حضرت دحيه کلبي رضی الله عنه په ذريعه د بصری حاکم ته ليږلی وو او هغه ليک مبارک د روم قيصر ته رسول سوی وو.

په تاسو کي څوک ددغه سړي نژدې قريب دی، په دې اړه علماؤ ليکلي دي چي د يو سړي حالات او کوائف هغه سړي ته په زياته توګه معلوم وي او هغه يې په ښه توګه بيانولای سي چي په نسب او قرابت کي د رسول الله ﷺ نژدې قريب وي نو هغه (يعني ابوسفيان) يې د سوال

او جواب لپاره منتخب کړ.

او زما ملګري يې زما شاته کښېنول، هرقل د صحيح جوابو تر لاسه کولو لپاره دا احتياط وکړ چي د ابوسفيان ټول ملګري يې د هغه شاته کښېنول ، که چيري ابوسفيان په جواب کي غلط بيان وکړي نو د هغه ملګري به د هغه په ترديد کولو کي د څه خدشې ښکار نه سي ، يا د هغه خلکو شاته کښېنولو کي د هرقل مقصد دا هم کېداى سو که ټول خلک د ابوسفيان سره يو ځاى يا د هغه مخته ناست وي نو کېداى سي هغه خلک د سترګي يا لاس په اشاره سره ابوسفيان د يوې خبري کولو څخه منع کړي.

که دا بېره نه واى چي دلته موجود زما ملګري به مکې ته په تللو سره زما د قوم په مخکي دا ووايي چي ابوسفيان دهرقل په دربار کي د غلط بيان په ذريعه د محمد ﷺ خلاف ويلو کوښښ وکړ او هر څومره که زما د قوم خلک د اوس لپاره خوشحاله سي مګر په داسي کولو به زما دروا غجن کېدل مشهور سي، چي په هغه سره به د قوم په نظر کي زما د کردار عظمت پاته نه سي نو هغه وخت چي د رسول الله ﷺ کوم بغض او عناد ما درلود د هغه سره سم دهرقل په مخکي به خامخا غلط بيان کړې واى او د رسول الله ﷺ په اړه مي به هغه صحيح خبري هيڅکله نه کولاى چي په هغه سره د رسول الله ﷺ دنبوت دعوه پر حق کېدل ثابتېدل، مګر ملا علي قاري رحمة الله عليه وايي: زما په نزد ددغه جملې صحيح مطلب دادى که ما ته دا بېره نه واى چي زه په دغه وخت کي غلط بيان وکړم نو دلته موجود زما ملګري به زما ترديد وکړي او دهرقل په مخکي به زما دروا غجن کېدل ثابت سي نو ما به د هرقل د سوالو په جوابو کي خامخا د غلط بيان کولو څخه کار اخيستى واى او د رسول الله ﷺ په اړه به مي صحيح خبري نه واى کړې.

هغه سړى په موږ کي د حسب خاوند دى، د حسب لغوي معنى د شريف الاصل کېدو او د صفت ده، يعني هغه په ذاتي، پلرني او کورنۍ صفاتو او ځانګړتياوو چي يو سړي ته په شرف او فضيلت ورکولو سره په ټولنه کي مفتخر وي، په دې اعتبار د حسب سره دنسب مفهوم هم راځي نو ابوسفيان ددغه جواب په ذريعه دې ته اشاره وکړل چي هغه سړى (محمد ﷺ) د ډيري شريفي کورنۍ څخه دى او د هغه نسبي تعلق د بني هاشم سره دى چي په قريشو کي تر ټولو افضل دي، په بخاري کي د حسب پر ځاى دنسب لفظ دى د هغه عبارت داسي دى: کيف نسبه فيکم...الخ: په تاسو خلکو کي د هغه نسب څرنګه دى.

د هغه پيروي کوونکي څوک دي، شريفان دي که کمزوري او ضعيف خلک، د شريفانو څخه مراد هغه خلک دي چي د دنيا په نظر کي د عزت او عظمت خاوندان وي او هغوئ خپله پر

خپل حیثیت باندي مغرور وي، کنه نو څرګنده ده که د شریفانو لغوي او عرفي معنی مراد واخیستل سي نو دبني هاشم سره تعلق لرونکي حضرت عباس، حضرت حمزه رضي الله عنهما او داسي نور د قریشو د اکابرو سره تعلق لرونکي حضرت ابوبکر، حضرت عمر، حضرت عثمان او نور جلیل القدر قریشي صحابه کرامو رضي الله عنهم څخه زیات شریف څوک کیدای سو، چي د هرقل او ابوسفیان ددغه سوال او جواب څخه مخکي په اسلام مشرف سوي وه.

د هغه پیروان کمزوري او ضعیف خلک دي، د ابواسحاق په روایت کي دلته د ابوسفیان جواب په دغه الفاظو نقل سوی دی چي د هغه اتباع کومو خلکو کړي ده ایا هغه کمزوري، ضعیف، مسکین او ځوانان دي، کوم چي د لوړ نسب د شرف لرونکو تعلق دی نو هغوئ د هغه پیروي نه ده کړې که ابوسفیان په دغه الفاظ، کي جواب ورکړی وي نو ددې مطلب دادی چي هغوئ دا خبره د اکثر او اغلب په اعتبار کړې ده.

د پیروانو شمېر ورځ په ورځ زیاتیږي او که کمیږي، د هرقل د سوال مطلب دا وو چي ایا دا صورت دی چي د هغه سړي منونکي او پر هغه د ایمان راوړنکو په شمېر کي ورځ په ورځ د نوو خلکو زیاتوب کیږي یا د هغه د پیروانو په شمېر کي داسي کمیږي چي یو وار کومو خلکو ایمان پر راوړی دی هغوئ خو ایمان راوړ اوس که په هغوئ کي څوک ددین په پرېښودو سره خپل مخکني دین یعني کفر او شرک ته ستنیږي یا یو سړی مړ سي نو د هغه د کمي او نقصان پوره کولو لپاره نوي خلک د هغه په دین کي نه داخلیږي، ددې جواب ابوسفیان دا ورکړي چي د هغه د پیروانو شمېر په هیڅ صورت کي هم نه کمیږي بلکه ورځ په ورځ زیاتیږي.

د پیغمبرانو پیروان کمزوري او ضعیف خلک وي، هرقل دا خبره په پای کي وکړل چي کله د حق آواز پورته کیږي نو هغه ته د لبیک ویلو لپاره تر ټولو مخکي کمزوري او مفلس خلک رامخته کیږي، او کوم چي د شتمنو او عزت لرونکو خلکو تعلق دی نو هغوئ په خپل کاروبار او تکبر کي د بوختیا په وجه ددغه سعادت څخه محروم وي، مګر کله چي مجبور سي او د حق پناه تر لاسه کولو څخه پرته بله د خلاصون لار نه وي نو بیا هغوئ هم د مؤمنانو په صف کي ګډون کوي.

د خلکو سره د درواغ ویلو پرهیز کوي او د الله جل جلاله په نسبت درواغ وایي، یعني په دې هر څوک پوهیږي چي د خپل خالق او پروردګار په حق کي درواغ ویل او په هغه پسي درواغ تړل ډېر بد دي، نو کوم څوک چي ستاسو په اقرار خلکو ته هیڅکله درواغ نه دي ویلي نو هغه سړی د الله جل جلاله په اړه دومره لوی درواغ ویل وایي چي الله جل جلاله هغه د خپل رب په جوړولو سره رالېږلی

دی ، خپله ستاسو د اقرار څخه ثابته ده چي هغه سړی په خپله خبره کي ریښتونی دی او یقینا د الله ﷻ پاک رسول دی .

او پای کي هغه تکمیل او اتمام ته رسیږي، ددې مطلب دادی چي د الله ﷻ دین همداسي پرمختګ کوي او خپرېږي چي یوې خواته د هغه د پیروانو او مرسته کونکو شمېر ورځ په ورځ زیاتیږي او بلي خوا ته خپله ددین اصولي او بنیادي احکام او قوانین په تدریج سره نازلیږي تر دې چي هغه عروج ته ورسیږي، او هلته په رسېدو سره دین آخري او کامل شکل اختیاروي، او مؤمنانو ته ستره غلبه تر لاسه کیږئ نو د اسلام د دین معامله داسي سوه چي یوې خوا ته د رسول الله ﷺ په پرله پسې هڅو سره د مسلمانانو شمېر ورځ په ورځ زیاتیدی او بلي خوا ته د اسلام احکام او قوانین لکه لمونځ، روژه، زکوة ، حج او داسي نور فرائض نازلیدل او بیا هغه ورځ راغلل چي کله الله ﷻ د رسول الله ﷺ د عمر په پای کي د خپل دین نوم اخیستونکو ته ستره غلبه هم ورکړل او د دین په کامل او مکمل کولو سره دغه آیت هم نازل سو :

الْيَوْمَ أَكْمَلْتُ لَكُمْ دِينَكُمْ وَأَتْمَمْتُ عَلَيْكُمْ نِعْمَتِي...

ژباړه: نن ورځ ما ستاسو لپاره ستاسو دین بشپړ کړ او تاسو ته مي خپل ټول نعمتونه درکړل .

زما دا خیال نه وو چي هغه به ستاسو په قوم کي پیدا کیږي، د هرقل مطلب دا وو چي د حضرت ابراهیم علیه السلام څخه وروسته زیات نبیان زموږ د قوم یعني د حضرت اسحاق علیه السلام د اولادې څخه وي ځکه نو زما ګمان وو چي نبئ آخر زمان ﷺ به هم د دوئ د نسل څخه وي، ستاسو د قوم یعني د حضرت اسماعیل علیه السلام د نسل څخه به نه وي چي د عربو مورث اعلی دی او د هرقل ، ابوسفیان ته دا ویل چي تا کومي خبري بیان کړي دي که هغه ریښتیا وي نو هغه سړی یقینا پیغمبر دی، دا ددې خبري ښنه ده چي هرقل د پخواني آسماني کتابو علم درلود او په هغه کتابو کي د رسول الله ﷺ د نبوت او رسالت په اړه ښني لیکلي وې ځکه هرقل چي د خپل علم سره سم دا یقین تر لاسه کړ چي د هغه د نبوت په دعوه کي دغه ټولي ښني تر لاسه کیږي نو هغه ابوسفیان ته څرګنده کړل چي ددغه سړي په نبي او رسول کېدو کي د هیڅ شک او شبهې ګنجائش نسته، ددې څخه ماسوا هرقل د نجم علم او په کهانت کي هم ماهر وو، او ددغه علم په ذریعه هم هغه د رسول الله ﷺ د نبوت او رسالت ذکر سوي ښني و پېژندلې، لکه څرنګه چي د بخاري په یوه روایت کي ابن ناطور د حاکم بیت المقدس په حواله سره بیان کړي دي چي کله د روم پاچا هرقل په بیت المقدس کي مقیم وو نو یوه ورځ سهار په بېره کي را پورته سو ، یو سړي

ددغه پريشانۍ سبب ځيني وپوښتنى نو هرقل ورته وويل: نن شپه ما ستورى وليدى ،

نو څرګنده سول چي د مختون قوم پر ټولو هيوادو باندي غالب کېدونکى دى، ددې څخه وروسته هغه پوښتنه وکړل چي هغه کوم قوم دى چي په هغوئ کي د ختنې (سنت كولو) رواج دى، نو هغه ته وښودل سول چي په عربو کي د ختنې رواج دى مګر دا د هرقل تر ټولو لويه بدبختي وه چي هغه خپل علم او ذهانت څخه د رسول الله ﷺ د نبوت او رسالت حقيقت پېژندلو سربېره د ايمان د دولت څخه بې برخه پاته سو، او د خپل علم څخه يې ګټه تر لاسه نه کړل، هغه نه يوازي دا چي د رسول الله ﷺ پر دعوت په لبيک ويلو سره اسلام قبول نه کړ بلکه د رسول الله ﷺ او صحابه كرامو پر خلاف په جګړه سو، هغه د اسلام او مجاهدينو پر خلاف کله د رومي پاچاهۍ لښکر رالېږى او او له اسلامي لښکر سره په جګړه کېدل ، مګر د الله جل جلاله مرسته د خپل نامه اخيستونکو سره وه ځکه د جنګ په هر ميدان کي او په هر وخت کي د هرقل فوج ته سخته ماته وه او دهغه د لښکر ډېر کم خلک د جنګ د ميدان څخه د صحيح او سالم ستنېدو موقع په برخه سوه ، هرقل د خپل ستر سلطنت او ډېر فوج په طاقت د اسلام او مسلمانانو د زياتيدونكي اسلامي طاقت ختمولو کي ټول عمر مصروف وو مګر الله جل جلاله تل د اسلام په مقابله کي مغلوب کړ، تر دې چي هغه مسلمانانو ته د ماتي ورکولو په ارمان کي مړ سو او د هغه د عظيم سلطنت يوه لويه برخه لکه د شام هيواد اونور هيوادونه مسلمانانو فتح کړل، د هرقل وروسته د هغه زوى پر تخت کښېنست مګر د اسلام په مقابله کي زوال پذير رومي سلطنت ته هم هغه مرسته ور نه کړل سول او د هغه د مرګ څخه وروسته د هغه د سلطنت وجود ختم سو او بيا هغه زمانه راغلل چي په دغه روميانو (ترک) کي الله جل جلاله د ايمان او اسلام سعادت ورکړ ،

دغه قوم د خپلي بې پايه مېړانه او د ايمان په ستر طاقت سره نه يوازي دا چي په خپله زمانه كي د ټولي عيسائي نړۍ طاقت تر پښو لاندي کړ ، د كفر او شرک په مقابله کي يې د اسلام ساتنه وکړل ، بلكه ځان ته مسلمان ويونكو د رافضيه ډلي بېخ يې هم له منځه يووړ، چي د مكر او فلان په ذريعه د اسلامي حكومت ختمولو او د اسلام او مسلمانانو په له منځه وړلو کي بوخت وه، دا ترک وو چي الله جل جلاله د حرمين شريفين دجوړولو او پرمختګ ، د مكې او مدينې د ساتني او مالي مرستي او د علماؤ او مشائخو تعظيم او تكريم كوم اخلاص او كوم عقيده وركړل د هغه مثال نه سي تر لاسه كيداى، ددې څخه معلومه سول چي چا ته الله جل جلاله هدايت ور په برخه کړي نو هغه هيڅوک ګمراه كولاى نه سي او څوک چي الله جل جلاله په ګمراهي کي واچوي نو هغه ته څوک هدايت نه سي كولاى، يوې خوا ته خو هرقل وو چي هغه ته د رسول الله ﷺ پوره

حقیقت معلوم وو ، مګر د هغه رېښتوني معلومات د هغه هیڅ په کار نه راغلل لکه څرنګه چي د هغه اصل مقصد هغه پاچاهي وه چي هغه په هیڅ حال کي پرېښودل نه غوښتل او د مال هغه مینه یې وه چي د هغه پر زړه او دماغ باندي د حقیقت خوښولو څخه زیاته خپره سوې وه نو هغه د توفیق الهي او همېشني سعادت څخه محروم پاته سو او د همیشه بدبختۍ مستحق وګرځول سو ، بلي خوا د هغه سیمه او د هغه د قوم سره تعلق لرونکي هغه خلک وه چي د خپل همیشني سعادت په وجه نه یوازي دا چي د ایمان او اسلام په دولت برخمن سول بلکه د دنیا د ستر طاقت او عظیمي پاچاهۍ حکمرانان سول .

دلته د هرقل د هغه ښېګڼي یادونه هم پکار ده چي کله هغه ته د رسول الله ﷺ مبارک لیک ورسېدی نو هغه نه یوازي دا چي په شوق یې ووایه بلکه د هغه تعظیم او تکریم یې وکړ او د هغه مبارک لیک د خوندي ساتلو سخت بندوبست یې وکړ ، د هغه نتیجه دا سوه چي هغه خپله هم په ټول ژوند کي د پاچاهۍ مالک وو او د هغه اولاد هم تر یوې اوږدې مودې پوري پر اقتدار وو ، ددې پر خلاف د فارس (ایران) پاچا کسری ، د رسول الله ﷺ د مبارک لیک بې عزتي وکړل او هغه بدبخته د لیک په څېرلو سره ټوټې ټوټې کړ ، نو ددې په بدله کي الله ﷻ د هغه پاچاهي هم ټوټې ټوټې کړل او د هغه اولاد هم په ذلت او رسوایي سره دربدر سو ، او هغه په راتلونکي نسل کي هیڅا ته هم د پاچاهۍ تخت او تاج په برخه نه سو .

په صحیح بخاري کي دا روایت نقل سو دی چي هرقل د روم قیصر د رسول الله ﷺ د مبارک لیک په ویلو سره د خپل هیواد مشران او لویان خلک په خپل محل کي راجمع کړل ، او بیا په بنده کوټه کي د هغوئ مجلس جوړ سو او ټولو ته یې وویل : اې خلکو ! که تاسو خپل مقصد ته رسېدل غواړئ او د کامیابۍ خواهش لرئ نو ددغه نبي ﷺ دعوت قبول کړئ او ایمان پر راوړئ ، ددې په اورېدو سره هغه ټولو خلکو د سختي غصې او نفرت اظهار وکړ او دومره په غصه سول چي هرقل د هغوئ د رد عمل په لېدو سره وبېرېدی ، هغه وویل : تاسو مه په غصه کېږئ ، پر خپل دین قائم اوسئ ، ما خو یوازي ددغه امتحان لپاره چي تاسو په خپل دین او عقیده کي څومره ټینګ او مستحکم یاست ، دا خبره کړې وه ، بیا هغه مشران خوشحاله سول او د هغه په مخکي پر سجده سول .

ځینو حضراتو د هرقل ایمان ته اشاره کړې ده او د مختلفو آثارو او قرائنو په رڼا کي یې هغه ته مؤمن ویلي دي مګر راجح قول او حقیقت هم دا دی چي هغه پر کفر او شرک عامل وو او کافر او مشرک مړ سو ، د ایمان او اسلام دولت یې په برخه نه سو ، په مسند امام احمد کي یو

روايت نقل سوى دى چي هغه د تبوک څخه رسول الله ﷺ ته ليکلي وه چي زه مسلمان يم، مگر رسول الله ﷺ وفرمايل: هرقل دروا غ وايي ، هغه پر نصرانيت قائم دى، په هر حال د هرقل د واقعې په لېدو سره منل پکار دي چي علم او پوهي د هدايت تر لاسه کولو لپاره کافي نه دي تر څو چي د الله ﷻ توفيق او د فطرت سليم لارښوونه هغه ته تر لاسه نه سي چي د حق منلو ته يې رسوي،

عشق کاريست که موقوف هدايت باشد ، او دا هم څرگنده سول چي د دنيا مينه او د عزت حرص د حق په لاره کي تر ټولولوى خنډ وي .

==========

بَابُ فِيْ الْـمِعْرَاجِ

(د معراج بيان)

د معراج لفظ د عروج څخه اخيستل سوى دى چي معنى يې د ختلو ده، معراج هغه شي ته وايي چي د لوړ تللو ذريعه وگرځي يعني زينه، الله ﷻ په نبي کريم ﷺ د آسمانو لېدنه وکړل او هلته خاص نښي ورته وښودل سوې، دې ته معراج ځکه ويل کيږي چي گويا رسول الله ﷺ ته زينه کښېښودل سوه چي پر هغه باندي په ختلو سره آسمان ته ولاړ، په يوه روايت کي د معراج يعني زينې يادونه هم راغلې ده کله چي د رسول الله ﷺ د لوړي نړې سفر پيل سو نو د رسول الله ﷺ لپاره يوه زينه کښېښودل سول چي د هغه په ذريعه آسمان ته ولاړى او دا هغه زينه ده چي د هغه په ذريعه ملائکي آسمان ته تگ راتگ کوي او پر هغه باندي د انسانانو روحونه آسمان ته خيژي .

د معراج زمانه: د اکثرو علماؤ قول دى چي معراج د نبوت په دوولسم کال يعني د هجرت څخه يو کال مخکي د ربيع الاول په مياشت کي رامنځته سوا و ځيني حضرت وايي چي د رمضان په اوه ويشتمه نېټه رامنځته سو ، د ځينو حضراتو قول د ۲۷ رجب دى او په عامو خلکو کي دغه مشهوره ده، ځيني حضرات د هجرت څخه درې مياشتي مخکي او ځيني د هجرت څخه پنځه کاله مخکي د معراج رامنځته کېدو ويونکي دي .

د معراج او اسراء فرق : بايد پوه سو چي يو خو معراج دى او يو اسراء، اسراء هغه سفر ته وايي چي رسول الله ﷺ په دغه شپه کي د مسجد حرام څخه مسجد اقصى پوري وکړ او د

مسجد اقصی څخه تر آسمان پوري سفر ته معراج ویل کیږي، د اسراء لفظ د قرآن کریم څخه ثابت دی او له دې څخه انکار کول د اسلام څخه وتل دي، معراج د مشهورو او متواترو حدیثو څخه ثابت دی او د دې څخه انکار کونکي ته ګمراه او بدعتي ویل کیږي.

په خوب کي که په وېښه! په دې اړه د علماؤ اختلاف دی چي د رسول الله ﷺ معراج د خوب ږېښه ده او که د ویښي؟ دغه پېښه یو ځل رامنځته سوې ده او که څو واره؟ یا دا چي یو وار په وېښه رامنځته سوه او په خوب کي څو واره رامنځته سوه، یا دا چي دغه پېښه په خوب هم رامنځته سوه، نو ایا هغه اصل پېښه ده یا د هغه حقیقي پېښي پېل او تمهید وو چي په وېښه کي رامنځته سو، او د دې مقصد دا وو چي په بدني توګه د آسمانونو لېدلو څخه مخکي رسول الله ﷺ په روحاني او نفسیاتي توګه د لوړي نړۍ سره یو ډول مناسبت او تعلق پیدا سي، لکه چي د نبوت په پیل کي په رؤیا صادقه، وحي او د لوړي نړۍ سره د رسول الله ﷺ د مناسبت ذریعه جوړه سوې ده یا دا چي اسراء یعني د مسجد حرام څخه مسجد اقصی ته او بیا لوړي نړۍ ته تلل محض په روحاني توګه پېښ سوي دي، په هر حال دغه ټولو قولونو او د دې سره اړوند بحثونو ته په فکر کولو سره دا ښودل کافي دي چي په دې اړه کوم قول تحقیقي او زیات صحیح ګڼل کیږي هغه دا ویل دي چي د معراج پېښه یو وار رامنځته سوې ده او په وېښه کي د بدن او روح سره لومړی رسول الله ﷺ د مسجد حرام څخه تر مسجد اقصی پوري او بیا د مسجد اقصی څخه تر آسمانو پوري او بیا د آسمانو څخه هغه خاصو ځایو ته تر څو چي الله ﷻ غوښتل، رسول الله ﷺ بوتلل سو،

د جمهورو فقهاؤ، علما، محدثینو او متکلمینو دا مذهب دی او په دې اړه د رسول الله ﷺ حدیثونه او د صحابه کرامو اقوال ډېر منقول دي چي په هغو کي شک او شبهې ورتیا نسته او حقیقت دا دی که چیري د معراج د پېښي تعلق محض د خوب سره وای نو دغه پېښه به په غیر معمولي اندازه نه بیان کېدای او نه به د دې سره اړوند هغه ټول بحثونه کیدای کوم چي علماؤ او محققینو کړي دي، د دې څخه ماسوا د دغه مسئلې په راپورته کولو سره ځینو خلکو چي کومي فتنې کړي دي نه به هغه وای او نه به دا مسئله د اختلاف او انکار سبب جوړېدای.

معراج د رسول الله ﷺ ځانګړی شرف دی:

په بدن او روح سره د معراج تر لاسه کېدل د رسول الله ﷺ ځانګړی شرف دی، دغه مرتبه بل نبي او رسول ته نه ده تر لاسه سوې، الله ﷻ په خاصه توګه د خپل آخري نبي ﷺ د عظمت او بزرګۍ څرګندولو لپاره دغه خارق العادت قدرت څرګند کړ، نو د معراج پېښي ته په دغه سیاق

او سباق سره كتل اړين دي ، دغه مسئله د عقل او قياس په پيمانه سره تلل بې گټي هم دی او د هغه حقيقت ته د دماغي قابليت په زور خپل ځان پوه كول او بل پوهول د عقل د توان څخه وتلې خبره ده، دغه مسئله يوازي د يقين او عقيدې ده ، يوازي پر دې ايمان راوړل او حقيقت يې الله ﷻ ته سپارل عين سعادت دی، همدارنگه نبوت، وحي او معجزي هم د عقل او قياس څخه لوړ شيان دي ، كوم څوک چي دغه شيان د قياس تابع او خپل عقل او فهم باندي موقوف كوي او وايي چي دغه شيان تر څو پوري په عقل كي رانسي نو زه يې نه منم او پر دې عقيده نه لرم ، نو بايد پوه سي چي هغه د ايمان د خپلي برخي څخه محروم دی، مگر اولياء الله او عارفين ښېله شكه د معرفت يو خاص مقام ته د رسېدو وروسته دومره صلاحيت تر لاسه كولای سي چي پر دوئ باندي د شيانو حقيقت ځلانده او واضح كيږي او كوم كسان چي د معرفت دغه مقام ته نه وي رسېدلي نو د هغوئ د ايمان تقاضا داده چي الله ﷻ او رسول ﷺ څه فرمايي يوازي هغه ومني او بېله بحث كولو پر هغه ايمان راوړي ، د سلامتيا او خلاصون لاره بېله دې بله نسته.

اَلْفَصْلُ الْأَوَّلُ (لومړی فصل)

د رسول الله ﷺ د معراج سفر

﴿۵۶۱۲﴾: عَنْ قَتَادَةَ عَنْ أَنَسِ بْنِ مَالِكٍ عَنْ مَالِكِ بْنِ صَعْصَعَةَ رَضِيَ اللَّهُ عَنْهُمَا

د حضرت قتاده رضي الله عنه څخه روايت دی چي ما ته انس بن مالک رضي الله عنه بيان وكړ او انس رضي الله عنه وايي هغه ته مالک بن صعصعه رضي الله عنه بيان وكړ چي

أَنَّ نَبِيَّ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ حَدَّثَهُمْ عَنْ لَيْلَةِ أُسْرِيَ بِهِ بَيْنَمَا أَنَا فِي

نبي كريم ﷺ د معراج د شپې حال صحابه كرامو ته بيان كړ چي په هغه كي رسول الله ﷺ (آسمان ته) بيول سوی وو، نو رسول الله ﷺ وفرمايل : زه په

الْحَطِيمِ وَرُبَّمَا قَالَ فِي الْحِجْرِ مُضْطَجِعًا إِذْ أَتَانِي آتٍ فَشَقَّ مَا بَيْنَ هَذِهِ إِلَى هَذِهِ

حطيم يا حجر (كعبه) كي پر بغل پروت وم چي يوه ملائكه ما ته راغلل او ددې ځای څخه تر دې ځايه پوري يې زما سينه څيري كړل،

يَعْنِي مِنْ ثُغْرَةِ نَحْرِهِ إِلَى شِعْرَتِهِ فَاسْتَخْرَجَ قَلْبِي ثُمَّ أُتِيتُ بِطَسْتٍ مِنْ ذَهَبٍ

مالک ﷛ وايي رسول الله ﷺ د سينې د اوږې څخه تر نامه پورې اشاره کولو سره وفرمايل چې ددې ځايه څخه تر دې ځايه پورې يې زما سينه څيرې کړل او بيا يې زما زړه راوکښي ، هغه يې د سرو زرو په يو تالۍ کې کښېښود چې

مَمْلُوءَةٍ إِيمَانًا فَغُسِلَ قَلْبِي ثُمَّ حُشِيَ ثُمَّ أُعِيدَ وفي رواية ثم غسل البطن بماء

د ايمان څخه ډک وو او په هغه کې يې زما زړه پريولی ، بيا زما زړه د الله ﷻ د محبت څخه ډک کړل سو او بيا زړه په سينه کې کښېښودل سو ، او په يوه روايت کې دا الفاظ دي چې زما نس د

زمزم ثم ملئ ايمانا و حكمة ثُمَّ أُتِيتُ بِدَابَّةٍ دُونَ الْبَغْلِ وَفَوْقَ الْحِمَارِ أَبْيَضَ

زمزم په اوبو سره پريولل سو بيا د ايمان او حکمت څخه ډک کړل سو ، بيا د سپرلۍ يو حيوان راوستل سو چې د غاترې څخه کوچنی او تر خره لوړ وو ، دا حيوان سپين وو

فَقَالَ لَهُ الْبُرَاقُ يَضَعُ خَطْوَهُ عِنْدَ أَقْصَى طَرْفِهِ فَحُمِلْتُ عَلَيْهِ فَانْطَلَقَ بِي جِبْرِيلُ

ددې نوم بُراق وو ، (يعني د بريښنا په ډول ځغستونکی) ، د هغه يو قدم د نظر تر حده پورې رسيدی بيا زه پر هغه سپور کړل سوم ، جبرائيل عليه السلام زه بوتلم ،

حَتَّى أَتَى السَّمَاءَ الدُّنْيَا فَاسْتَفْتَحَ قبلَ مَنْ هَذَا قَالَ جِبْرِيلُ قِيلَ وَمَنْ مَعَكَ

تر دې چې زه د دنيا آسمان ته ورسيدم ، جبرائيل ﷷ د دروازې خلاصولو طلب وکړ ، پوښتنه وسول څوک يې ؟ جبرائيل ﷷ وويل : زه جبرائيل يم ، بيا پوښتنه وسول ستا سره څوک دی؟

قَالَ مُحَمَّدٌ قِيلَ وَقَدْ أُرْسِلَ إِلَيْهِ قَالَ نَعَمْ قِيلَ مَرْحَبًا بِهِ فَنِعْمَ الْمَجِيءُ جَاءَ

ورته يې وويل : محمد ﷺ دی ، بيا پوښتنه وسول ايا دی راغوښتل سوی دی ؟ هغه ورته وويل :هو ، ملائکو ورته وويل : محمد ﷺ ته دې ښه راغلاست وي ، دده راتلل دې مبارک وي

فَفَتَحَ فَلَمَّا خَلَصْتُ فَإِذَا فِيهَا آدَمُ فَقَالَ هَذَا أَبُوكَ آدَمُ فَسَلِّمْ عَلَيْهِ فَسَلَّمْتُ

، ددې څخه وروسته د آسمان دروازه خلاصه سوه ، (رسول الله ﷺ فرمايي) کله چې زه په آسمان کې داخل سوم نو ما حضرت آدم ﷷ وليدی ، جبرائيل ﷷ راته وويل دا ستا پلار حضرت آدم ﷷ دی ، ده ته سلام وکړه ، ما ورته سلام وکړ ،

عَلَيْهِ فَرَدَّ السَّلَامَ ثُمَّ قَالَ مَرْحَبًا بِالِابْنِ الصَّالِحِ وَالنَّبِيِّ الصَّالِحِ ثُمَّ صَعِدَ بِي

آدم علیه السلام د سلام جواب راکړ او وه یې فرمایل: اې نیک بخته زویه او صالحه نبي! هر کله راسې، ددې څخه وروسته زه حضرت جبرائیل علیه السلام پورته بوتلم،

حَتَّى أَتَى السَّمَاءَ الثَّانِيَةَ فَاسْتَفْتَحَ قِيلَ مَنْ هَذَا قَالَ جِبْرِيلُ قِيلَ وَمَنْ مَعَكَ

دویم آسمان ته راغلو او د هغه د خلاصولو غوښتنه یې وکړه، پوښتنه وسول څوک دی؟ جبرائیل علیه السلام وویل زه جبرائیل یم، بیا پوښتنه وسوه ستا سره څوک دی؟

قَالَ مُحَمَّدٌ قِيلَ وَقَدْ أُرْسِلَ إِلَيْهِ قَالَ نَعَمْ قِيلَ مَرْحَبًا بِهِ فَنِعْمَ الْمَجِيءُ جَاءَ

جبرائیل علیه السلام ورته وویل: محمد ﷺ دی، پوښتنه وسول ایا دی راغوښتل سوی دی؟ جبرائیل علیه السلام وویل: هو، ملائکي وویل محمد ﷺ دي په خیر راسي، د راتلونکي راتلل دي مبارک وي،

فَفَتَحَ فَلَمَّا خَلَصْتُ إِذَا يَحْيَى وَعِيسَى وَهُمَا ابْنَا الْخَالَةِ قَالَ هَذَا يَحْيَى و هذا

وروسته (د دویم آسمان) دروازه خلاصه سوه او زه دویم آسمان ته ورسیدم نو وینم چي یحیی علیه السلام او عیسی علیه السلام ولاړ دي چي یو بل د خاله زامن وه، جبرائیل علیه السلام وویل: دا یحیی علیه السلام او دا

عِيسَى فَسَلِّمْ عَلَيْهِمَا فَسَلَّمْتُ فَرَدَّا ثُمَّ قَالَا مَرْحَبًا بِالْأَخِ الصَّالِحِ وَالنَّبِيِّ

عیسی علیه السلام دی دوئ ته سلام وکړه، ما سلام ادا کړ او دواړو د سلام جواب راکړ، او وه یې ویل: زموږ نیک بخته وروره او صالح نبي! ستا راتلل دي مبارک وي،

الصَّالِحِ ثُمَّ صَعِدَ بِي إِلَى السَّمَاءِ الثَّالِثَةِ فَاسْتَفْتَحَ قِيلَ مَنْ هَذَا قَالَ جِبْرِيلُ

بیا زه جبرائیل علیه السلام پورته بوتلم یعني د دریم آسمان په لور، او د هغه دروازې رسید و سره یې د هغه د خلاصولو طلب وکړ، پوښتنه وسول څوک یې؟ جبرائیل علیه السلام وویل زه جبرائیل یم،

قِيلَ وَمَنْ مَعَكَ قَالَ مُحَمَّدٌ قِيلَ وَقَدْ أُرْسِلَ إِلَيْهِ قَالَ نَعَمْ قِيلَ مَرْحَبًا بِهِ

بیا پوښتنه وسول ستا سره څوک دی؟ جبرائیل علیه السلام ورته وویل: محمد ﷺ دی، (د دریم آسمان) ملائکو وویل: ایا دی راغوښتل سوی دی، وویل سوه هو، وه یې ویل: محمد ﷺ دي

فَنِعْمَ الْمَجِيءُ جَاءَ فَفُتِحَ فَلَمَّا خَلَصْتُ إِذَا يُوسُفُ قَالَ هَذَا يُوسُفُ فَسَلِّمْ عَلَيْهِ

په خير راسي او دده راتلل دي مبارک وي، ددې ويلو سره دروازه خلاصه سوه زه دريم آسمان ته ورسيدم وه مي ليدل چي يوسف عليه السلام ولاړ دی، جبرائيل عليه السلام وويل: دا يوسف عليه السلام دی ده ته سلام وکړه،

فَسَلَّمْتُ عَلَيْهِ فَرَدَّ ثُمَّ قَالَ مَرْحَبًا بِالْأَخِ الصَّالِحِ وَالنَّبِيِّ الصَّالِحِ ثُمَّ صَعِدَ بِي

ما ورته سلام ادا کړ او حضرت يوسف عليه السلام د سلام جواب راکړ، او وه يې فرمايل اې نيک بخته وروره او صالحه نبي! په خير راغلې، بيا جبرائيل عليه السلام زه پورته بوتلم

حَتَّى أَتَى السَّمَاءَ الرَّابِعَةَ فَاسْتَفْتَحَ قِيلَ مَنْ هَذَا قَالَ جِبْرِيلُ قِيلَ وَمَنْ مَعَكَ

د څلورم آسمان دروازې ته په رسيدو سره يې د هغه د خلاصولو طلب وکړ، پوښتنه وسوه څوک دی؟ جبرائيل عليه السلام ورته وويل زه جبرائيل يم، بيا پوښتنه وسول ستا سره څوک دی؟

قَالَ مُحَمَّدٌ قِيلَ أَوَقَدْ أُرْسِلَ إِلَيْهِ قَالَ نَعَمْ قِيلَ مَرْحَبًا بِهِ فَنِعْمَ الْمَجِيءُ جَاءَ

جبرائيل عليه السلام وويل: محمد صلی الله علیه وسلم دی، پوښتنه وسول ايا دی راغوښتل سوی دی؟ جبرائيل عليه السلام وويل: هو، (د څلورم آسمان) ملائکو وويل د محمد صلی الله علیه وسلم راتلل دي مبارک وي غوره راتلونکی دی،

فَفُتِحَ فَلَمَّا خَلَصْتُ فَاذا إِدْرِيس فقَالَ هَذَا إِدْرِيسُ فَسَلِّمْ عَلَيْهِ فَسَلَّمْتُ عَلَيْهِ

بيا دروازه خلاصه سوه، او زه څلورم آسمان ته داخل سوم وينم چي ادريس عليه السلام هلته ولاړ دی، جبرائيل عليه السلام وويل دا ادريس عليه السلام دی ده ته سلام ادا کړه، ما سلام ورته ادا کړه

فَرَدَّ ثُمَّ قَالَ مَرْحَبًا بِالْأَخِ الصَّالِحِ وَالنَّبِيِّ الصَّالِحِ ثُمَّ صَعِدَ بِي حَتَّى أَتَى السَّمَاءَ

او هغه د سلام جواب راکړ، او وه يې فرمايل: اې خوش نصيبه وروره! او صالحه نبي! په خير راغلې، بيا جبرائيل عليه السلام زه بوتلم

الْخَامِسَةَ فَاسْتَفْتَحَ قِيلَ مَنْ هَذَا قَالَ جِبْرِيلُ قِيلَ وَمَنْ مَعَكَ قَالَ مُحَمَّدٌ

د پنځم آسمان په لور، دروازې ته چي ورسيدو د دروازې د خلاصولو لپاره طلب وکړ، پوښتنه وسول: څوک دی؟ جبرائيل عليه السلام ورته وويل: زه جبرائيل يم، بيا پوښتنه وسول ستا سره څوک دی؟ جبرائيل عليه السلام ورته وويل: محمد صلی الله علیه وسلم دی،

قِيلَ وَقَدْ أُرْسِلَ إِلَيْهِ قَالَ نَعَمْ قِيلَ مَرْحَبًا بِهِ فَنِعْمَ الْمَجِيءُ جَاءَ فَلَمَّا خَلَصْتُ

پوښتنه وسول ايا دى راغوښتل سوى دى؟ جبرائيل عليه السلام ورته وويل: هو، ملائکو وويل محمد ﷺ دي هر کله راسي غوره راتلونکى دى ددې څخه وروسته دروازه خلاصه کړل سوه او موږ پنځم آسمان ته ورسيدو

فَإِذَا هَارُونُ قَالَ هَذَا هَارُونُ فَسَلِّمْ عَلَيْهِ فَسَلَّمْتُ عَلَيْهِ فَرَدَّ ثُمَّ قَالَ مَرْحَبًا

هلته هارون عليه السلام ولاړ وو، جبرائيل عليه السلام وويل دا هارون عليه السلام دى ده ته سلام وکړه، ما سلام ادا کړ او هغه د سلام جواب راکړ او وه يې فرمايل:

بِالْأَخِ الصَّالِحِ وَالنَّبِيِّ الصَّالِحِ ثُمَّ صَعِدَ بِي حَتَّى أَتَى السَّمَاءَ السَّادِسَةَ فَاسْتَفْتَحَ

اې خوش نصيبه وروره او صالح نبي! ستا راتلل دي مبارک وي، بيا جبرائيل عليه السلام زه د شپږم آسمان په لور بوتلم، هلته په رسيدو سره د دروازې خلاصولو غوښتنه يې وکړه،

قِيلَ مَنْ هَذَا قَالَ جِبْرِيلُ قِيلَ مَنْ مَعَكَ قَالَ مُحَمَّدٌ قِيلَ وَقَدْ أُرْسِلَ إِلَيْهِ قَالَ

پوښتنه وسول څوک دى؟ جبرائيل عليه السلام ورته وويل زه جبرائيل يم، بيا پوښتنه وسول ستا سره څوک دى؟ جبرائيل عليه السلام ورته وويل: محمد ﷺ دى، پوښتنه وسول ايا دى راغوښتل سوى دى؟ جبرائيل عليه السلام ورته وويل:

نَعَمْ قَالَ مَرْحَبًا بِهِ فَنِعْمَ الْمَجِيءُ جَاءَ فَلَمَّا خَلَصْتُ فَإِذَا مُوسَى قَالَ هَذَا مُوسَى

هو، ملائکو وويل ده راتلل دي مبارک وي څه ښه راتلونکيدى، ددې څخه وروسته دروازه خلاصه سوه او شپږم آسمان ته ورسيدو هلته وينم چي موسى عليه السلام ولاړ دى، جبرائيل عليه السلام وويل دا موسى عليه السلام دى

فَسَلِّمْ عَلَيْهِ فَسَلَّمْتُ عَلَيْهِ فَرَدَّ ثُمَّ قَالَ مَرْحَبًا بِالْأَخِ الصَّالِحِ وَالنَّبِيِّ الصَّالِحِ

ده ته سلام وکړه، ما ورته سلام وکړ او هغه د سلام جواب راکولو سره وفرمايل خوش نصيبه ورور او صالح نبي دي په خير راسي،

فَلَمَّا جَاوَزْتُ بَكَى قِيلَ لَهُ مَا يُبْكِيكَ قَالَ أَبْكِي لِأَنَّ غُلَامًا بُعِثَ بَعْدِي يَدْخُلُ

زه د هغه څخه مخ ته تير سوم نو موسى عليه السلام په ژړا سو، پوښتنه ځيني وسول: ولي ژاړې؟ موسى عليه السلام وويل: يو زلمى هلک زما څخه وروسته راوليږل سو

الْجَنَّةَ مِنْ أُمَّتِهِ أَكْثَرُ مِمَّنْ يَدْخُلُهَا مِنْ أُمَّتِي ثُمَّ صَعِدَ بِي إِلَى السَّمَاءِ السَّابِعَةِ

او د هغه د امت خلک به زما د امت د خلکو څخه زیات په جنت کي داخل سي، بیا جبرائیل علیه السلام زه د اووم آسمان په لور بوتلم،

فَاسْتَفْتَحَ جِبْرِيلُ قِيلَ مَنْ هَذَا قَالَ جِبْرِيلُ قِيلَ وَمَنْ مَعَكَ قَالَ مُحَمَّدٌ قِيلَ

هلته د دروازې خلاصولو طلب وکړ، پوښتنه وسول: څوک دی؟ جبرائیل علیه السلام وویل: زه جبرائیل یم، پوښتنه وسول ستا سره څوک دی؟ جبرائیل علیه السلام ورته وویل محمد ﷺ دی، بیا

وَقَدْ بُعِثَ إِلَيْهِ قَالَ نَعَمْ قَالَ مَرْحَبًا بِهِ فَنِعْمَ الْمَجِيءُ جَاءَ فَلَمَّا خَلَصْتُ فَإِذَا

پوښتنه وسول ایا دی را بلل سوی دی؟ جبرائیل علیه السلام ورته وویل هو، (د اووم آسمان ملائکو) وویل: محمد ﷺ ته دې هر کلی وي، ښه راتلونکی راغلی، ددې څخه وروسته دروازه خلاصه

إِبْرَاهِيمُ قَالَ هَذَا أَبُوكَ فَسَلِّمْ عَلَيْهِ قَالَ فَسَلَّمْتُ عَلَيْهِ فَرَدَّ السَّلَامَ ثُمَّ قَالَ

سوه، نو ما ولیدل چي ابراهیم علیه السلام ولاړ دی، جبرائیل علیه السلام راته وویل دا ستا پلار ابراهیم علیه السلام ولاړ دی، سلام ورته وکړه ما هغه ته سلام وکړ او هغه د سلام جواب راکړ او وه یې فرمایل:

مَرْحَبًا بِالِابْنِ الصَّالِحِ وَالنَّبِيِّ الصَّالِحِ ثُمَّ رُفِعْتُ إِلَيَّ سِدْرَةُ الْمُنْتَهَى فَإِذَا نَبْقُهَا

اې نیک بخته زویه او صالح نبي ستا راتلل دې مبارک وي، بیا زه سدرة المنتهی ته بوتلل سوم، ما ولیدل چي د سدرة المنتهی میوې

مِثْلُ قِلَالِ هَجَرَ وَإِذَا وَرَقُهَا مِثْلُ آذَانِ الْفِيَلَةِ قَالَ هَذِهِ سِدْرَةُ الْمُنْتَهَى وَإِذَا

د مقام هجر د منګیانو په اندازه دي، او ددې بلګونه د فیلانو د غوږونو برابر دي، جبرائیل علیه السلام راته وویل دا سدرة المنتهی ده، ما ولیدل چي هلته

أَرْبَعَةُ أَنْهَارٍ نَهْرَانِ بَاطِنَانِ وَنَهْرَانِ ظَاهِرَانِ فَقُلْتُ مَا هَذَانِ يَا جِبْرِيلُ قَالَ أَمَّا

یو څو ویالې دي، دوې ویالې پټې او دوې ویالې ښکاره دي، ما د جبرائیل علیه السلام څخه پوښتنه وکړه دا دوه ډوله ویالې څنګه دي؟ جبرائیل علیه السلام وویل:

الْبَاطِنَانِ فَنَهْرَانِ فِي الْجَنَّةِ وَأَمَّا الظَّاهِرَانِ فَالنِّيلُ وَالْفُرَاتُ ثُمَّ رُفِعَ لِي الْبَيْتُ

دا دوې ویالې چي پټې دي د جنت ویالې دي (یعني کوثر او سلسبیل) او دا ښکاره چي دي نیل

او فرات دي، ددې ځخه وروسته ما ته بيت المعمور وښودل سو (بيت المعمور د كعبې شريفي سربيره په اووم آسمان كي د يو مسجد نوم دى)،

الْمَعْمُورُ ثُمَّ أُتِيتُ بِإِنَاءٍ مِنْ خَمْرٍ وَإِنَاءٍ مِنْ لَبَنٍ وَإِنَاءٍ مِنْ عَسَلٍ فَأَخَذْتُ اللَّبَنَ

بيا ما ته يو لوښى د شرابو او يو لوښى د شيدو او يو د شاتو راوړل سول، په هغو كي ما د شيدو لوښى واخيست،

قَالَ هِيَ الْفِطْرَةُ أَنْتَ عَلَيْهَا وَأُمَّتُكَ ثُمَّ فُرِضَتْ عَلَيَّ الصَّلَوَاتُ خَمْسِينَ صَلَاةً كُلَّ

جبرائيل عليه السلام وويل شيدې فطرت دي يعني هغه فطرت چي پر هغه به ته او ستا امت قائم دى، (ددې ځخه مراد اسلام دى) ددې ځخه وروسته پر ما لمونځ فرض سو، يعني په شپه او ورځ كي پنځوس لمنځونه راباندي فرض سول،

يَوْمٍ فَرَجَعْتُ فَمَرَرْتُ عَلَى مُوسَى فَقَالَ بِمَا أُمِرْتَ قلت أُمِرْتُ بِخَمْسِينَ صَلَاةً كُلَّ

بيا زه را روان سوم، د موسى عليه السلام سره تېر سوم، موسى عليه السلام راځخه پوښتنه وكړه تا ته څه حكم دركړل سو، ما وويل په شپه او ورځ كي د پنځوسو لمنځونو حكم راكړل سو،

يَوْمٍ قَالَ إِنَّ أُمَّتَكَ لَا تَسْتَطِيعُ خَمْسِينَ صَلَاةً كُلَّ يَوْمٍ وَإِنِّي وَاللَّهِ قَدْ جَرَّبْتُ

موسى عليه السلام راته وويل ستا امت په شپه او ورځ كي د پنځوسو لمنځونو ادا كولو قوت نه لري، قسم په خداى ما ستا ځخه مخكي خلک (بني اسرائيل) ازمويلي دي

النَّاسَ قَبْلَكَ وَعَالَجْتُ بَنِي إِسْرَائِيلَ أَشَدَّ الْمُعَالَجَةِ فَارْجِعْ إِلَى رَبِّكَ فَاسْأَلْهُ

هغوئ اصلاح قبوله نه كړلاى سول، ته خپل پروردگار ته بيرته ولاړ سه او د خپل امت لپاره په

التَّخْفِيفَ لِأُمَّتِكَ فَرَجَعْتُ فَوَضَعَ عَنِّي عَشْرًا فَرَجَعْتُ إِلَى مُوسَى فَقَالَ مِثْلَهُ

لمنځو كي كمي وغواړه، زه د الله جل جلاله په دربار كي حاضر سوم نو لس لمنځونه كم كړل سول، زه بيا موسى عليه السلام ته راغلم هغه راته بيا هم هغسي وويل،

فَرَجَعْتُ فَوَضَعَ عَنِّي عَشْرًا فَرَجَعْتُ إِلَى مُوسَى فَقَالَ مِثْلَهُ فَرَجَعْتُ فَوَضَعَ عَنِّي

زه بيا د الله جل جلاله په دربار كي حاضر سوم نو لس لمنځونه نور كم كړل سول، بيا موسى عليه السلام ته

راغلم هغه بيا راته هم هغسي وويل زه بيا (په دريم ځل) په دربار الهي کي حاضر سوم او لس

عَشْرًا فَرَجَعْتُ إِلَى مُوسَى فَقَالَ مِثْلَهُ فَرَجَعْتُ فَأُمِرْتُ بِعَشْرِ صَلَوَاتٍ كُلَّ يَوْمٍ

لمنځونه نور کم کړل سول، زه بيا موسی ﷺ ته ورغلم نو هغه را ته بيا هم هغسي وويل، زه بيا (په څلورم وار) د رب العزت په دربار کي حاضر سوم نو لس منځونه نور کم کړل سول

فَرَجَعْتُ فَقَالَ مِثْلَهُ فَرَجَعْتُ فَأُمِرْتُ بِخَمْسِ صَلَوَاتٍ كُلَّ يَوْمٍ فَرَجَعْتُ إِلَى

زه بيا موسی ﷺ ته ورغلم نو هغه بيا هم هغسي راته وويل، زه بيا ولاړم او د رب العزت په دربار کي حاضر سوم نو په شپه او ورځ کي د پنځو لمنځو حکم وسو، زه موسی ﷺ ته راغلم

مُوسَى فَقَالَ بِمَ أُمِرْتَ قُلْتُ أُمِرْتُ بِخَمْسِ صَلَوَاتٍ كُلَّ يَوْمٍ قَالَ إِنَّ أُمَّتَكَ لَا

هغه راته بيا هم هغسي وويل، ما ورته وويل اوس ما ته په شپه او ورځ کي د پنځو لمنځونو حکم سوی دی، موسی ﷺ راته وويل ستا امت به

تَسْتَطِيعُ خَمْسَ صَلَوَاتٍ كُلَّ يَوْمٍ وَإِنِّي قَدْ جَرَّبْتُ النَّاسَ قَبْلَكَ وَعَالَجْتُ بَنِي

په شپه او ورځ کي پنځه لمنځونه هم ادا نه کړلای سي، ما ته پر مخکنيو خلکو تجربه تر لاسه ده،

إِسْرَائِيلَ أَشَدَّ الْمُعَالَجَةِ فَارْجِعْ إِلَى رَبِّكَ فَاسْأَلْهُ التَّخْفِيفَ لِأُمَّتِكَ قَالَ سَأَلْتُ

او بني اسرائيل مي پوره ازمويلي دي، ته خپل پروردګار ته ورسه او نوره کمي وغواړه، ما ورته وويل ما په څو واره

رَبِّي حَتَّى اسْتَحْيَيْتُ وَلَكِنِّي أَرْضَى وَأُسَلِّمُ قَالَ فَلَمَّا جَاوَزْتُ نَادَى مُنَادٍ أَمْضَيْتُ فَرِيضَتِي وَخَفَّفْتُ عَنْ عِبَادِي. متفق عليه.

خپل پروردګار ته د کمۍ سوال کړی دی اوس ما ته حيا راځي، زه په دغه (پنځو لمنځو) راضي يم، هر کله چي راتير سوم نو يو آواز کونکي اواز وکړ چي ما خپل فرض جاري کړل او پر خپلو بندګانو باندي مي اسانتيا وکړه، (يعني په پنځوسو لمنځو کي مي کمي وکړه مګر هغوئ ته به ثواب د پنځوسو لمنځو رسيږي). بخاري او مسلم.

تخريج: صحيح البخاري (فتح الباري): ٦\٣٠٢، رقم: ٣٢٠٧، ومسلم ١\١٥١، رقم: ٢٦٥ - ١٦٤.

د لغاتو حل: شعرته: اي عانته. نبقها: اي ثمرها (مېوه يې). قلال: قلة العرب كالجرة الكبيرة.

تشريح: حطيم، د كعبې شريفې د شمالي دېوال څخه د يو نيم گز په فاصله د يو سپوږمېږ دېوال نوم دی، ددغه دېوال دننه برخې ته حطيم ويل کيږي، او حجر د حاء په زېر سره هم دغه حطيم ته ويل کيږي، دغه ځای (يعني حطيم يا حِجر) په اصل کې د کعبې شريفې برخه ده، د معراج په شپه کله چې حضرت جبرائيل عليه السلام د رسول الله ﷺ د بېولو لپاره راغلی نو رسول الله ﷺ په دغه ځای کې آرام کوی.

ددغه ځای څخه تر هغه ځای پورې برخه يې څيرې کړل: د شق صدر (سينې څېرلو) دغه پېښه دهغه پېښې څخه جلا ده چې په وړکتوب کې رامنځته سوې وه ، هغه وخت (په وړکتوب کې) د رسول الله ﷺ د سينې مبارکې څېرلو مقصد د رسول الله ﷺ څخه د هغه مادې ايستل وو چې د هغه په ذريعه د انسانانو د گمراه کولو شيطان ته موقع په لاس ورځي يا د هغه په سبب خپله د انسان نفس په گمراهۍ او بدۍ کې اخته کيږي، او په دغه وخت کې (يعني د معراج په شپه) د شق صدر (سينې څېرلو) مقصد د رسول الله ﷺ زړه مبارک د علم او معرفت د کمال څخه ډکول وو.

د سرو زرو تالۍ راوړل سول چې د ايمان څخه ډکه سوې وه، دا د کنايې او بېلگې په توگه ويل سوي دي يا دا چې ايمان ته د ظاهري جسم په ورکولو سره چې په حقيقت کې هغه تالۍ ډکه سول چې هغه په ميزان کې وتلل سي .

د هغه نوم براق وو، د رسول الله ﷺ د سپرلۍ لپاره د هغه خاص حيوان نوم براق په دې مناسبت سره کښېښنودل سو چې هغه د برق (برېښنا) په ډول تېز او رڼا په ډول ځلانده وو، د هغه د تيزوالي په اړه يې دا وفرمايل چې د هغه يو قدم به پر مدنظر باندې لويدی نو ددې څخه ځينو حضراتو دا استدلال کړی دی چې هغه براق به په يوه قدم آسمان ته رسېدلي وي ځکه چې دمځکې څخه د هغه مدنظر آسمان وو، په دې اعتبار تر اووم آسمان پورې هغه په اوو قدمو رسېدلی دي، ددغه براق په اړه ځينو حضراتو ويلي دي چې هغه براق د ټولو انبياؤ د سپرلۍ لپاره ټاکل سوی وو او ځيني حضرات وايي چې د هر نبي لپاره د هغه د حيثيت او مرتبې سره سم جلا جلا براق جوړ سوی وو، د حديث ددغه جملې څخه هم څرگنديږي چې دغه براق د رسول الله ﷺ د سپرلۍ لپاره خاص او متعين وو .

زه پر هغه باندې سپور کړل سوم: په دغه جمله کې دې ته اشاره ده چې پر هغه براق باندې د رسول الله ﷺ سپرېدل محض د الله جل جلاله په مرسته او قدرت سره ممکن سو او دا هم ويل کيږي چې حضرت جبرائيل عليه السلام د خپل قوت ملکيت په ذريعه رسول الله ﷺ پر هغه براق سپور کړ، او

دا خبره د امكان څخه ليري ځكه نه سي كيداى چي پر رسول الله ﷺ باندي د وحي نازلېدو او رسول الله ﷺ ته د فيض الهي رسېدو اصل ذريعه حضرت جبرائيل عليه السلام وو، او د معراج په سفر كي هم دهغه حيثيت د هغه د سفر ملگرى او خادم وو چي د هغه مقصد هر ډول راحت او مرسته كول وي، په يوه روايت كي راغلي چي حضرت جبرائيل عليه السلام د رسول الله ﷺ ركاب (پېزوان) نيولى وو او ميكائيل عليه السلام د براق واگي نيولي وې.

تر دې چي زه د دنيا آسمان ته ورسېدم: دلته په ښكاره دا معلومېږي چي رسول الله ﷺ د براق د سپرلۍ په ذريعه په آسمان كي داخل سو او كوم حضرات چي وايي چي د معراج پېښه ددغه شپې څخه ماسوا د يوې بلي شپې پېښه وه چي په هغه كي يوازي اسراء يعني تر بيت المقدس پوري سفر رامنځه سوى وو، او هغه ته ليلة الاسراء ويل كيږي، هغوئ ددغه حديث څخه استدلال كوي ، د هغوئ وينا ده چي په دغه روايت كي تر بيت المقدس پوري د سفر هيڅ يادونه نسته بلكه د مسجد حرام څخه پر براق باندي په سپرېدو سره د روانېدو يادونه ده، ددې څخه معلومه سول چي اسراء يعني تر بيت المقدس پوري سفر په دوهمه شپه كي رامنځته سوى وو، د معراج په وخت كي كله چي رسول الله ﷺ آسمان ته تشريف يوړ نو پر براق باندي سپور وو يا د زينې په ذريعه وختى، په دې اړه هم د علماؤ اختلاف دى ، ددغه روايت څخه دا معلومېږي چي پر براق باندي په سپرېدو سره آسمان ته ولاړى حال دا چي د بل روايت څخه دا ثابتيږي چي تر آسمان پوري د رسول الله ﷺ ختل د زينې په ذريعه وسول ، ملا علي قاري رحمة الله عليه د روايتو ددغه اختلاف ختمولو لپاره ليكلي دي چي دلته په دغه روايت كي راوي د اختصار څخه كار اخيستى دى او ددغه پېښي د تفصيلي يادوني كولو پر ځاى يې پر اجمالي يادوني اكتفاء كړې ده، د روايت په تفصيل كي دا بيان سوي دي چي رسول الله ﷺ پر براق باندي په سپرېدو سره بيت المقدس ته ورسېدى او هلته يې براق د كړۍ سره وتړى چي په هغه سره انبياء عليهم السلام خپل براقونه تړل، د بيت المقدس د بوختياوو (لكه انبياء عليهم السلام ته لمونځ وركول، د هغوئ سره لېدنه او نورو) څخه د فارغ كېدو وروسته رسول الله ﷺ آسمان ته وختى او دا عين ممكن ده چي د زينې په ذريعه رسول الله ﷺ آسمان ته تللى وي ، راوي ددغه درمياني تفصيل په حذف كولو سره يوازي آسمان ته د رسېدو يادونه وكړل او دا هم ممكن ده چي رسول الله ﷺ پر براق باندي په سپرېدو سره د زينې په ذريعه آسمان ته تللى وي لكه څرنگه چي د ځينو علماؤ قول دى، ددغه وضاحت په رڼا كي ټول روايتونه متفق كيږي .

پوښتنه وسول چي څوک دى؟ حضرت جبرائيل عليه السلام وويل: زه جبرائيل يم ، ددې څخه

معلومه سول چي په آسمان کي حقيقتا دروازې دي او پر هغه دروازو باندي ځارونکي ټاکل سوي دي، او ويل کيږي چي هغه دروازې د بيت المقدس په شاوخوا کي دي، د حديث ددغه جملې څخه دا هم ثابته سول که د چا کور ته په ورتلو سره دروازه وټکول سي يا آواز وکړي او د کور څخه دننه پوښتنه وسي چي څوک دی نو دهغه په جواب کي دي يوازي دا نه وايي چي زه يم لکه څرنګه چي د عامو خلکو عادت دی او ددې څخه منع هم منقول ده، بلکه د خپل نامه په اخيستلو سره دي جواب ورکړل سي د مثال په توګه داسي دي ووايي چي زه زيد يم،

دوئ ته سلام وکړ، په دې اړه علماؤ ليکلي دي چي د حضرت جبرائيل ﷺ له خوا رسول الله ﷺ ته په سلام کي د سبقت حکم د تواضع او شفقت د اظهار لپاره وو ځکه چي په دغه وخت کي رسول الله ﷺ ته هغه لوړه مرتبه او مقام حاصل سوی وو چي د هغه څخه د لوړي مرتبې او مقام تصور هم د بل چا لپاره نسي کيدای نو پر رسول الله ﷺ باندي لازم وه چي د تواضع، خاکسارۍ او شفقت اظهار وکړي او په سلام کي سبقت (مخته والی) ددې غوره ذريعه ده، او ځينو حضراتو دا هم ليکلي دي چي هغه وخت رسول الله ﷺ پر هغه انبياء عليهم السلام باندي تېرېدی او په دې اعتبار رسول الله ﷺ د هغه چا په حکم کي وو چي ولاړ وي او انبياء عليهم السلام پر خپل خپل ځای د مخکي څخه موجود وه او په دې اعتبار هغوئ د هغه چا په حکم کي وه چي ناست وي او اصل دادی که يو سړی ولاړ وي او بل سړی ناست وي نو ولاړ سړی دي مخکي سلام ادا کوي که څه هم هغه د ناست سړي څخه افضل وي نو انبياء عليهم السلام ته د رسول الله ﷺ مخکي سلام ادا کول دا سوال نه پيدا کوي چي رسول الله ﷺ تر ټولو نبيانو عليهم السلام څخه افضل دی ځکه په سلام کي رسول الله ﷺ ته د مخته والي حکم ولي ورکړل سو.

زه خوشبخته زوی او پيغمبر صالح ته ښه راغلاست وايم، نه يوازي حضرت آدم ﷺ بلکه په حديث کي ذکر سوو ټولو نبيانو د رسول الله ﷺ په ښه راغلاست او تعريف کي د خوشبختۍ يادونه وکړل، ددې څخه معلومه سوه چي خوشبختي هغه عظيمه مرتبه او لوړ مقام دی چي د ټولو انساني او اخلاقي ښېګڼو او خيرونو ټولګه ده، ځکه ويل سوي دي چي صالح يعني نيک هغه سړی دی چي د الله ﷻ او د هغه د بندګانو ټولو لازمي حقوقو ادا کولو باندي قائم وي او الله ﷻ هم په قرآن کريم کي د نبيانو اصل وصف صلاح بيان کړی دی لکه چي فرمايي : (وکل من الصالحين، او و کلا جعلنا صالحين).

ددغه امت خلک زما د امت د خلکو څخه زيات په جنت کي داخليږي، په دې اړه علماؤ ليکلي دي چي حضرت موسی ﷺ د خپلي ژړا سبب بيان کړ نو ددې مطلب دا نه دی چي د رسول

الله ﷺ د امت د فضیلت په وجه د حضرت موسی علیه السلام په زړه کي حسد وو، ځکه چي حسد هغه خرابه جذبه ده چي د هغه څخه عامو مؤمنانو ته هم د ځان ساتني تلقین سوی دی او په هغه دنیا (آخرت) کي خوبه د معمولي درجې مؤمن د زړه څخه هم دغه جذبه وایستل سي، نو بیا دا څرنګه ممکن ده چي د حضرت موسی علیه السلام په ډول عظیم ذات دي په دغه جذبه کي اخته سي چي الله جل جلاله خپل غوره بنده ګرځولی دی، د نبوت پر منصب او رسالت یې فائز کړ او د تکلم په شرف یې ونازوی، نو ویل کیږي چي په دغه وخت کي د حضرت موسی علیه السلام ژړا به د دغه افسوس او حسرت په وجه وي چي د هغه د امت خلکو د الله جل جلاله د احکامو او تعلیماتو په مخالفت کولو سره سرکښي او نافرماني وکړل او ملي حیثیت ته یې سخت تاوان ورسوی، د هغه نتیجه دا سول چي خپله د حضرت موسی علیه السلام هغه اجر او انعام هم ولاړی چي په هغه سره د هغه د مرتبو او درجو د پرمختګ لار خلاصه وه، همدارنګه د هغه د امت خلکو یوازي خپل تاوان ونه کړ بلکه د خپل پیغمبر د اجر او ثواب د تاوان سبب هم سول ځکه هر پیغمبر ته د هغه چا ثواب ورکول کیږي چي د هغه پیروي کوي، کومو خلکو ته چي خپل ثواب نه تر لاسه کیږي نو هغوئ د خپل پیغمبر په اجر او ثواب کي د پرمختګ سبب څرنګه ګرځېدای سي چي دا یو ډول دهغه پیغمبر لپاره تاوان دی، ددې خبري زیات وضاحت دادی که چیري د حضرت موسی علیه السلام د امت خلکو د هغه د خبري په منلو سره د سرکښی او نافرمانی څخه ځان ساتلی وای او د الله جل جلاله د طاعت او فرمانبرداری پر لاره تللي واي نو حضرت موسی علیه السلام ته به هم هغه ثواب تر لاسه کېدی چي د هغه حقدار د هغه د امت خلک دي ځکه چي څومره ثواب هغه سړي ته تر لاسه کیږي چي نیک عمل کوي هغومره ثواب د هغه نیک عمل لارښوونکي ته هم ورکول کیږي نو د موسی علیه السلام د قوم په سرکښی او نافرمانی سره حضرت موسی علیه السلام ته تر لاسه کېدونکي اجر او ثواب ولاړ، ددې پر خلاف کله چي هغه د رسول الله ﷺ فضیلت او دهغه لوړه مرتبه او درجې ولېدلې نو د رسول الله ﷺ د امت د پیروی او فرمانبرداری په وجه چي رسول الله ﷺ ته کوم ثواب تر لاسه کېدونکي وو هغه د خپل اجر او ثواب پر محرومی باندي د افسوس په وجه وژړل.

ځینو علماؤ دا لیکلي دي چي د حضرت موسی علیه السلام ژړا په اصل کي د خپل قوم پر حال باندي د افسوس او شفقت اظهار وو، کله چي هغه ولیدل چي یوې خوا ته زما د امت خلک دي چي الله جل جلاله اوږده عمرونه ورکړي وه، په قوت سره یې نازولي دي مګر هغوئ زما د اتباع څخه هغه ګټه ترلاسه نه کړل کوم چي د حضرت محمد ﷺ امت د لږ عمر او کمزوری سربېره د خپل پیغمبر په اتباع کي تر لاسه کړل او نه زما د امت خلک زیات سول کوم چي د حضرت محمد ﷺ

د خلکو په برخه کیږي نو د دغه شفقت په وجه چي د خپل امت په اړه د يو پيغمبر په زړه کي وي، حضرت موسی علیه السلام په ژړا سو، د هغه خيال وو چي دا يو داسي مبارک وخت دی چي په هغه کي د الله جل جلاله د رحم او کرم درياب په جوش کي وي، کيدای سي الله جل جلاله د دغه وخت په برکت زما پر امت هم رحم وکړي او د هغوئ سره سخته معامله ونه کړي کوم چي هغوئ يې مستحق سوي دي.

او ځينو علماؤ ليکلي دي چي هغه وخت د حضرت موسی علیه السلام د ژړا مقصد زموږ د حضرت محمد ﷺ د زړه خوشحاله کول وو، يعني هغه د رسول الله ﷺ په وړاندي دا اقرار وکړ چي د رسول الله ﷺ د پيروانو شمېر به ډېر زيات وي او په جنت کي چي څومره نور امتونه داخليږي تر هغوئ ټولو به د رسول الله ﷺ امتيان په زيات شمېر جنت ته داخليږي، څرګنده دي وي چي په دغه وخت کي حضرت موسی علیه السلام دا وويل: يو زلمی چي زما وروسته په رسول ګرځولو سره دنيا ته راواستول سو...الخ: نو د دې څخه د رسول الله سپکاوی يا توهين مقصد نه دی بلکه دغه جمله د الله جل جلاله پر قدرت او کرم باندي د اظهار تعجب په توګه وه، دغه جمله داسي ده لکه چي هغه وويل: د پروردګار د قدرت لوئي به څه بيان کړو هغه خو يو زلمي ته په کم عمرۍ کي هغه مرتبه او فضل ورکړ چي مخکنيو نبيانو ته يې په لوی عمر کي نه دي ورکړي، او دا هم کيدای سي چي هغه د غلام لفظ د رسول الله ﷺ د عمر په اعتبار استعمال کړی وي ځکه چي هغه وخت د انبياء کرامو د عمرونو په نسبت چي هغوئ په دنيا کي تېر کړی دی او بيا څومره ډېر وخت هغوئ په عالم برزخ کي تېر کړ، د رسول الله ﷺ عمر يقينا ډېر کم وو او د هغوئ په وړاندي رسول الله ﷺ بالکل زلمی وو، دلته سوال پيدا کيږي چي په آسمانو کي د کومو نبيانو سره د رسول الله ﷺ لېدنه وسول هغوئ د بدن او روح سره هلته موجود وه او که د هغوئ موجودتيا محض روحاني وه؟

که چيري هغوئ د جسم په لحاظ هلته موجود وي نو بيا دا سوال پيدا کيږي چي د هغوئ بدنونه خو په قبرو کي وه، په آسمانو کي د هغوئ موجودتيا څرنګه وه؟ په دې اړه علماؤ چي څه ليکلي دي د هغه خلاصه داده چي د هغه انبياؤ اجسام اهليه خو په قبرو کي وه او الله جل جلاله د هغوئ ارواح په اجسام مثاليه متمثل کولو سره د رسول الله ﷺ د لېدني لپاره جمع کړل مګر رسول الله ﷺ، حضرت عيسی علیه السلام په آسمان کي په اصلي جسم سره وليدی ځکه چي هغه د جسم سره ژوندی آسمان ته خېژول سوی دی، همدارنګه حضرت ادريس علیه السلام يې هم په اصلي جسم وليدی هغه هم آسمان ته ژوندی پورته کړل سوی دی، يا دا چي الله جل جلاله د رسول الله ﷺ د اکرام لپاره هغه نبيان مع اجسام عنصر په مسجد اقصی او آسمانو کي جمع کړل، همدارنګه رسول

الله ﷺ ټول نبيان د هغوئ د اصلي جسدونو سره ولېدل او د الله ﷻ د قدرت په وړاندي هيڅ ناممكن نه دي چي د يوې شپې دپاره دهغه نبيانو اجسام عنصريه د هغوئ د قبرو څخه بيت المقدس او بيا پر آسمانو باندي جمع كړي او بيا بېرته هغوئ خپلو قبرو ته واستوي.

يو بل سوال پيدا كيږي چي په آسمانو كي هغه څو نبيان د رسول الله ﷺ د ليدني لپاره ولي خاص كړل سول او په دې كي څه حكمت وو؟ په دې اړه علماؤ ليكلي دي چي ددغه څو نبيانو سره د رسول الله ﷺ د ليدني او په هغوئ كي د هر نبي د تفاوت او درجو په ترتيب سره د يوه يوه آسمان سره د خاصولو هغه خاص حالاتو ته اشاره مقصد وه چي رسول الله ﷺ ته وخت پر وخت وروسته رامنځته سول، په لومړي آسمان كي د حضرت آدم عليه السلام سره د ليدني خاصيت دا وو چي حضرت آدم عليه السلام تر ټولو لومړنی نبي دی او د هر انسان پلار دی ځكه تر ټولو مخكي د هغه سره ملاقات وكړل سو، په دغه ملاقات كي هجرت ته اشاره وه لكه څرنګه چي حضرت آدم عليه السلام د خپل دښمن (ابليس) په وجه د آسمان او جنت څخه مځكي ته هجرت وكړ همدارنګه رسول الله ﷺ به هم د خپلو دښمانو په وجه دمكې څخه مدينې ته هجرت وكړي، او د حضرت آدم رحمة الله عليه په ډول به پر رسول الله ﷺ هم د خپل هيواد بېلوالی سخت وي.

پر دوهم آسمان باندي د حضرت عيسى رحمة الله عليه سره د ليدني ځانګړتيا دا وه چي په ټولو نبيانو كي د كوم نبي سره چي رسول الله ﷺ ته تر ټولو زيات نژدې زمانه حاصله وي هغه حضرت عيسى عليه السلام دی او حضرت عيسى عليه السلام به په آخره زمانه كي د دجال د وژني لپاره د آسمان څخه راكښته كيږي او په امت محمديه كي د يو مجدد په حيثيت سره به شريعت محمدي جاري كوي او د قيامت په ورځ به د ټولو خلكو سره د رسول الله ﷺ په خدمت كي حاضريږي او رسول الله ﷺ ته به د شفاعت درخواست كوي، ددغه وجهو څخه د حضرت عيسى عليه السلام سره ملاقات وكړل سو ، او د حضرت عيسى عليه السلام سره د حضرت يحيى معيت (موجود كېدل) محض د هغه د نسبي قرابت په وجه وو .

په دريم آسمان كي د حضرت يوسف عليه السلام سره د ليدني ځانګړتيا دا وه چي د حضرت عيسى عليه السلام څخه وروسته رسول الله ﷺ ته د حضرت يوسف عليه السلام سره په دې وجه تر ټولو زيات خاص قرب حاصل دی چي كله د رسول الله ﷺ امت په جنت كي داخليږي نو د حضرت يوسف عليه السلام په شكل او صورت به وي او په دغه ليدنه كي دې ته اشاره ده چي د حضرت يوسف عليه السلام په ډول رسول الله ﷺ ته به هم د خپل كورنۍ وړونو او قريبانو څخه سخت تكليفونه زغمل وي او په پای كي به رسول الله ﷺ پر هغوئ غالب سي او هغوئ به معاف كړي.

په څلورم آسمان كي د حضرت ادريس علیه السلام سره د ليدني ځانګړتيا دا وه چي الله جل جلاله د حضرت ادريس علیه السلام په اړه وفرمايل : (ورفعناه مكانا عليا) او په اوو آسمانو كي درمياني او معتدل څلورم آسمان دى ځكه هغه پر څلورم آسمان باندي وساتل سو، او په دغه ملاقات كي دې ته اشاره ده چي رسول الله ﷺ به د نړۍ پاچاهانو ته خطونه واستوي ځكه چي د خط او ليكني اول موجد حضرت ادريس علیه السلام دى،

په پنځم آسمان كي د حضرت هارون علیه السلام سره د ليدني ځانګړتيا دا وه چي هغه د حضرت موسى علیه السلام د ورور كېدو په وجه هغه ته ډېر نژدې هم وو او د حق د دعوت په لاره كي د هغه مرستيال هم وو، په دې اعتبار هغه د حضرت موسى علیه السلام د آسمان سره نژدې په پنځم آسمان كي وساتل سو د هغوئ سربېره پر شپږم آسمان حضرت موسى علیه السلام وساتل سو ځكه چي هغه د كليم الله د فضيلت درلودلو په وجه د نورو نبيانو سربېره په شپږم آسمان كي موزونيت درلود، نو په دغه ملاقات كي دې ته اشاره ده چي څرنګه حضرت موسى علیه السلام د شام په هيواد كي د جبارينو سره د جهاد او قتال لپاره ولېږل سو او الله جل جلاله هغه ته فتح وركړه همدارنګه رسول الله ﷺ به هم د دين د دښمنانو سره د جهاد او قتال دپاره د شام هيواد ته داخل سي، نو رسول الله ﷺ د شام په هيواد كي د تبوک د غزا دپاره تشريف يووړ او د دومة الجندل رئيس د جزيې په وركولو سره د صلح درخواست وړاندي كړ او رسول الله ﷺ د هغه د صلح درخواست ومنى او څرنګه چي د شام هيواد د حضرت موسى علیه السلام څخه وروسته د حضرت يوشع علیه السلام په لاس فتح سو،

همدارنګه د رسول الله ﷺ څخه وروسته د حضرت عمر رضی الله عنه په لاس د شام ټول هيواد فتح سو، حضرت ابراهيم علیه السلام د الله جل جلاله خليل دى په دې اعتبار زموږ د رسول الله ﷺ څخه وروسته په ټولو نبيانو كي هغه تر ټولو افضل او اشرف دى نو هغه تر ټولو نبيانو سربېره په اووم آسمان كي وساتل سو، حضرت ابراهيم علیه السلام د كعبې باني (بنياد اېښودونكى) هم دى ځكه په دغه آخرني ملاقات كي دې ته اشاره وه چي رسول الله ﷺ به د وفات څخه مخكي د بيت الله شريفي حج وكړي او په پاى كي به مكه مكرمه د رسول الله ﷺ په لاس فتح سي.

علماؤ ليكلي دي، دلته دا احتمال دى چي په دغه شپه كي په آسمان كي د ټولو نبيانو جمع كولو پر ځاى د دغه څو خاصو نبيانو جمع كول كافي وګڼل سول، د بلي خوا دا احتمال هم سته چي نور ټول نبيان دي هم جمع كړل سوي وي او په دغه وخت كي هغوئ ټول دخپل حيثيت او درجې سره سم پر مقاماتو باندي په آسمانو كي موجود وه مګر په يادونه كي يوازي د دغه څو خاصو او مشهورو نبيانو په آسمانو كي اكتفاء سوې وي او د پاته نبيانو يادونه اړينه ونه ګڼل سوې نه وي.

ددې وروسته زه سدرة المنتهى ته ورسول سوم، سدرة المنتهى په اووم آسمان کي د بيري يوه درخته ده چي د هغې رېښې په شپږم آسمان کي دي ، د سدره معنی د بيري د درختي ده او د منتهی معنی د هغه شي ده چي هلته د يو شي په رسېدو سره ودرول سي، د مځکي څخه چي کوم شي پورته ځي هغه پر سدرة المنتهى باندي دریږي او بيا لوړ خېژول کيږي ، همدا رنګه د ملاء اعلي څخه چي کوم شی راکښته کيږي هغه پر سدرة المنتهى باندي درول کيږي او بيا لاندي راوړل کيږي، يعني دا هغه مقام دی چي د هغه وړاندي ملائکي هم نه سي تللای، دغه سعادت يوازي زموږ پيغمبر ﷺ ته تر لاسه سو چي رسول الله ﷺ ددغه مقام څخه هم وړاندي تشريف يووړ، د رسول الله ﷺ څخه ماسوا بل څوک ددغه ځای څخه وړاندي نه دی تللی .

(واذا ورقها آذان الفيلة) او دهغه بلګونه د فيل د غوږو په اندازه وې، په دغه جمله کي د فيلة لفظ په اصل کي د فيل جمع ده او د ديک پر وزن دی چي د ديک جمع ده، د سدرة المنتهى ميوه د لويو لويو منګيانو برابر او د هغه بلګو ته د فيل د غوږونو په اندازه ويل د عوامو د پوهېدو او په عقل کي د راوستلو لپاره دي . حقيقت دادی چي په لفظي توګه نه خو ددغه درختي اوږدوالي په فهم کي راتلای سي او نه د ميوو او بلګو اندازه لګول کيدای سي .

جبرائيل عليه السلام وويل: دا سدرة المنتهى ده، د حضرت جبرائيل عليه السلام دا ويل يا خو د رسول الله ﷺ ددغه مقام سره متعارف کول او ددې خبري زيری ورکول وو چي تاسو دغه مقام ته را رسېدلي یاست چي د ټول خلائق د عقل او علم منتهی ده او تر دې وړاندي ستاسو څخه ماسوا د بل چا رسېدل ممکن نه دي ، يا د حضرت جبرائيل عليه السلام ددغه وينا مقصد دا عذر بيانول وو چي اوس هغه مقام راغلی دی چي تر هغه وړاندي ما ته هم د تللو اجازه او توان نسته ځکه زه ددغه ځای څخه وړاندي ستاسو ملګرتيا نه سم کولای .

دا د باطن دوې ويالې د جنت دي، په دې اړه طيبي رحمه الله ليکلي دي چي د جنت هغه دوې ويالې يو سلسبيل وو او دوهم کوثر وو، دغه دواړو ويالو ته باطن (پټ) په دې اعتبار ويل سوي دي چي هغه په جنت کي بهيږي او د هغه ځای څخه راوځي او ځينو حضراتو ويلي دي چي د جنت دغه دواړو ويالو ته باطن په دې اعتبار ويل سوي دي چي عقل د هغه د صفتو او ځانګړتياوو او حقيقت ادراک نه سي کولای .

او دغه ظاهر دوې ويالې نيل او فرات دي، په دې اړه په ظاهره دا معلوميږي چي ددغه دواړو ويالو څخه مراد د مصر د نيل سند او د عراق د فرات سند مراد دي چي د هغه په اړه په حديث کي دي چي دغه دواړه سندونه په اصل کي د سدرة المنتهى د ريښو څخه په راوتلو سره

مځکي ته راغلي دي او د مځکي په هغه سيمو کي بهيږي ، او ځينو حضراتو ويلي دي چي دغه دواړي ويالو په نيل او فرات سره تعبير کول يا خو د تشبيه په توګه دي چي د نيل او فرات اوبه د خوږوالي او ګتهور کېدو په اعتبار د جنت د اوبو مشابه دي يا محض اسم اشتراک دی چي د مځکي د دوو سندو نوم نيل او فرات دی همدارنګه د جنت د دوو ويالو نوم هم نيل او فرات دی.

بيا ما ته بيت المعمور وښودل سو ، بيت المعمور هم د الله ﷻ کور دی چي د ملائکو قبله ده او په اووم آسمان کي واقع دی، د هغه محل او وقوع د خانه کعبې په شاوخوا کي دی که چيري هغه ولويږي نو پر عين کعبه به را ولويږي، په دې اړه يادونه په راتلونکي حديث کي راځي.

شېدې فطرت دی...الخ: د فطرت څخه مراد د اسلام دين دی چي الله ﷻ د هر انسان د پيدائش او خلقت بنياد ګرځولی دی، په شېدو او فطرت يعني د اسلام په دين کي مماثلت او مناسبت دادی چي څرنګه د اسلام دين د انسان روحاني او اعتقادي تخليف اوله خښته ده همدارنګه شېدې د انسان د بدني روزني بنيادي عنصر دی، همدغه شېدې دي چي په هغه سره د انسان د پيداکېدو سره د هغه روزنه پيل کيږي او بيا په شېدو کي چي کومي فطري ښېګڼي، پاکوالی، خوږوالي او ګټه ده نو له دې سره دين فطرت يعني اسلام ته ډېر مناسبت تر لاسه دی ځکه په لوړه نړۍ کي د دين او علم مثال د شېدو سره ګرځول سوی دی، او علماء وايي که يو سړی په خوب کي ويني چي هغه شېدي څښي نو ددې تعبير به دا وي چي هغه سړي ته به د دين او علم څخه زيات برخه او بې شمېره ګټې تر لاسه کيږي .

ته او ستا امت به پر دغه فطرت ياست، دا د حضرت جبرائيل عليه السلام له خوا زيری وو چي رسول الله ﷺ د شېدو پياله اختيار کړل ، ځکه ثابته سول چي رسول الله ﷺ او د هغه د امت خلک به د دين او علم پر لار روان سي، د شېدو په مقابله کي شراب دي چي د هري خرابي بنياد ښودل سوي دي او رسول الله ﷺ د هغه په پرېښودو سره د خپل امت خلک يې په عامه توګه د بدۍ پر لار تللو څخه منع کړي دي ، په يو حديث کي دا منقول دي چي جبرائيل عليه السلام هم دا ويلي وه که چيري تاسو د شرابو پياله اخيستې وای نو بيا به ستاسو په امت کي د فتنې او فساد يعني د ټولو خرابيو بنياد اېښودل سوی وای ، څرګنده دي وي چي د معراج پېښه د هغه زمانې ده کله چي شراب څښل مباح وه، په خاصه توګه د جنت شراب چي رسول الله ﷺ ته په هغه وخت کي وړاندي کړل سول، د هغه حيثيت بل وو مګر ددې سربېره په لوړه نړۍ کي کوم شی چي د خرابۍ او بدۍ مثال وګرځول سو هغه شراب دي، اوس پاته سوه د عسلو خبره ، که څه هم عسل يو پاک او نرم شی دی او هغه ته د شفاء ذريعه هم ويل سوي دي مګر ددې لطافت، پاکي او ګټې تر

شېدو زياتي نه دي بلکه د هغه څخه کمي دي، او د دې حيثيت هم د شپېدو په نسبت غير اهم دی، ځکه رسول الله ﷺ د شېدو په مقابله کي عسلو ته هم ترجيح ور نه کړل، وړاندي چي کوم حديث راځي په هغه کي د عسلو يادونه هم نسته يوازي د شېدو او شرابو د پيالې يادونه ده او ددغه حديث څخه دا معلوميږي چي د ذکر سوو شيانو پيالې د رسول الله ﷺ په وړاندي هغه وخت وړاندي کړل سوې کله چي رسول الله ﷺ د سدرة المنتهى سره وو،

حال دا چي د راتلونکي حديث څخه دا ثابتيږي چي دغه پيالې رسول الله ﷺ ته په بيت المقدس کي وړاندي کړل سوې ، علماؤ ليکلي دي چي دغه پيالې رسول الله ﷺ ته دوه واره وړاندي کړل سوي دي يو وار په مسجد اقصى کي د لمانځه څخه د فارغه کېدو وروسته ، هغه وخت يوازي دوې پيالې وړاندي کړل سوې يعني يوه د شېدو او يوه د شرابو، لکه چي په تېر سوي حديث کي ذکر دي، او دوهم وار په آسمان کي د سدرة المنتهى سره درې پيالې وړاندي کړل سوې چي په هغو کي يوه پياله د شېدو ، يوه د عسلو او يوه د شرابو وه.

ته بيا خپل پروردګار ته ورسه او د خپل امت لپاره په پنځو لمونځو کي هم د کمي درخواست وکړه، په دې اړه خطابي رحمة الله عليه ويلي دي : د حضرت موسى عليه السلام په وار وار د رسول الله ﷺ ، الله جل جلاله ته استول او د هغه په مشوره الله جل جلاله ته د لمونځو په شمېر کي د کمي درخواست کول، ددې خبري نښه ده چي حضرت موسى عليه السلام ته د مخکي څخه دا معلومه وه چي د الله جل جلاله له خوا د لمونځو د فرضيت کوم ابتدائي حکم چي صادر سوی دی هغه د وجوب قطعي په توګه نه دی، په هغو کي د بدلون امکان سته ، که چيري حضرت موسى عليه السلام ته دا خبره معلومه نه وای نو هغه به په وار وار د کمي کولو مشوره نه ورکولای او د رسول الله ﷺ له خوا په وار وار د کمي درخواست کول او هر وار د هغه درخواست قبلېدل هم ددې دليل دی چي د الله جل جلاله لومړنی حکم د وجوب په توګه نه وو ځکه کوم حکم چي د وجوب په توګه جاري کيږي په هغه کي د کمي امکان نه وي، ملا علي قاري رحمة الله عليه د خطابي رحمة الله عليه دغه قول د طيبي رحمة الله عليه په حواله نقل کولو څخه وروسته د خپل ځان څخه هم ليکنه کړې ده چي خلاصه يې داده: د هغه په نزد د خطابي خبره وزن لرونکې نه ده ، د هغه وينا ده چي د کمي درخواست کول په اصل کي ددې خبري نښه وه چي د الله جل جلاله حکم د وجوب په توګه وو ځکه چي کوم شی واجب نه وي په هغه کي د کمي درخواست کولو اړتيا نه وي او په دې اړه صحيح خبره هغه ده چي ځينو حضراتو نقل کړې ده چي الله جل جلاله په پيل کي پنځوس لمونځونه فرض کړي وه بيا د خپلو بندګانو پر حال په رحم کولو سره د پنځو لمونځو حکم جاري او نافذ کړ لکه چي په نورو احکامو کي هم د بدلون او

منسوخې عمل سوی دی .

اسراء او د معراج ذکر

﴿۵۶۱۳﴾: وَعَنْ ثَابِتٌ الْبُنَانِيُّ عَنْ أَنَسٍ أَنَّ رَسُولَ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ قَالَ

د حضرت ثابت بناني رضي الله عنه څخه روایت دی چي انس رضي الله عنه روایت وکړ چي رسول الله ﷺ وفرمايل:

أُتِيتُ بِالْبُرَاقِ وَهُوَ دَابَّةٌ أَبْيَضُ طَوِيلٌ فَوْقَ الْحِمَارِ وَدُونَ الْبَغْلِ يَقَعُ حَافِرُهُ عِنْدَ

ما ته بُراق راوستل سو، دا د سپین رنګ یو حیوان وو، چي تر خره لوړ او تر غاټري کښته وو، د هغه قدم د نظر تر حده پوري پورته کیدی

مُنْتَهَى طَرْفِهِ فَرَكِبْتُهُ حَتَّى أَتَيْتُ بَيْتَ الْمَقْدِسِ فَرَبَطْتُهُ بِالْحَلْقَةِ الَّتِي يَرْبِطُ بِهَا

زه پر هغه سپور سوم او بیت المقدس ته راغلم او ما براق پر هغه حلقه وتړی چي د هغه سره به

الْأَنْبِيَاءُ قَالَ ثُمَّ دَخَلْتُ الْمَسْجِدَ فَصَلَّيْتُ فِيهِ رَكْعَتَيْنِ ثُمَّ خَرَجْتُ فَجَاءَنِي

انبیاؤو براقونه تړل، بیا زه په مسجد اقصی کي داخل سوم دوه رکعته لمونځ مي وکړ بیا زه د مسجد څخه دباندي راووتم او ما ته راوړل

جِبْرِيلُ عَلَيْهِ السَّلَام بِإِنَاءٍ مِنْ خَمْرٍ وَإِنَاءٍ مِنْ لَبَنٍ فَاخْتَرْتُ اللَّبَنَ فَقَالَ

جبرائیل علیه السلام یوه پیاله د شرابو او یوه پیاله د شیدو ، ما د شیدو پیاله واخیستل، وویل

جِبْرِيلُ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ اخْتَرْتَ الْفِطْرَةَ ثُمَّ عَرَجَ بِنَا إِلَى السَّمَاءِ وساق

جبرائیل علیه السلام : تا فطرت (یعني دین اسلام) اختیار کړ او بیا جبرائیل علیه السلام زه د آسمان په لور

مثل معناه قال فَإِذَا أَنَا بِآدَمَ فَرَحَّبَ بِي وَدَعَا لِي بِخَيْرٍ وقال في السَّمَاءِ الثَّالِثَةِ

بوتلم ددې څخه وروسته انس رضي الله عنه د تیر سوي حدیث هم معنا حدیث بیان کړ او بیا یې وفرمایل: رسول الله ﷺ وفرمایل: ما آدم علیه السلام ولیدی هغه ما ته وویل هر کله راسې او وه یې ویل زما لپاره دعاء وکړه ، او د دریم آسمان حال بیانولو سره رسول الله ﷺ وفرمایل:

فَإِذَا أَنَا بِيُوسُفَ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ إِذَا هُوَ قَدْ أُعْطِيَ شَطْرَ الْحُسْنِ فَرَحَّبَ وَدَعَا

هلته ما ته یوسف علیه السلام په نظر راغلی چي هغه ته الله تعالی د دنیا نیم حسن ورکړی دی، هغه راته هم مرحبا وویل او زما لپاره یې د خیر دعاء وکړل،

لِي بِخَيْرٍ ولم يذكر بكاء موسى صلى الله عليه وسلم وقال في السماء السابعة

انس رضي الله عنه په دې لړۍ کي د موسی علیه السلام د ژړا ذکر ونه کړ، د اووم آسمان په اړه رسول الله ﷺ وفرمایل:

فَإِذَا أَنَا بِإِبْرَاهِيمَ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ مُسْنِدًا ظَهْرَهُ إِلَى الْبَيْتِ الْمَعْمُورِ وَإِذَا هُوَ

ناڅاپه هلته د حضرت ابراهیم علیه السلام سره یو ځای سوم چي ملا یې د بیت المعمور سره لګولې وه،

يَدْخُلُهُ كُلَّ يَوْمٍ سَبْعُونَ أَلْفَ مَلَكٍ لَا يَعُودُونَ إِلَيْهِ ثُمَّ ذَهَبَ بِي إِلَى السِّدْرَةِ

په بیت المعمور کي هره ورځ اویا زره ملائکي داخلیږي او کومي ملائکي چي یو وار داخلي سي هغوئ ته دویم وار د داخلیدو موقع نه سي ورکول کیدلای، بیا زه سدرة المنتهی ته بوتلل سوم

الْمُنْتَهَى وَإِذَا وَرَقُهَا كَآذَانِ الْفِيلَةِ وَإِذَا ثَمَرُهَا كَالْقِلَالِ قَالَ فَلَمَّا غَشِيَهَا مِنْ أَمْرِ

ددغه درختي پاڼي د فیل د غوږونو برابر دي او ددې میوې د منګیانو برابري دي، سدرة المنتهی د الله جل جلاله په حکم هغه شی پټ کړی دی څه سره چي

اللَّهِ مَا غَشِيَ تَغَيَّرَتْ فَمَا أَحَدٌ مِنْ خَلْقِ اللَّهِ يَسْتَطِيعُ أَنْ يَنْعَتَهَا مِنْ حُسْنِهَا

الله تعالی د هغه پټول مناسب وګڼل چي د هغه علم الله تعالی ته دی، ددې څخه وروسته د سدرة المنتهی حالت بدل سو او اوس هیڅوک د الله تعالی د مخلوقاتو څخه د هغه ښکلا نه سي بیانولای،

فَأَوْحَى إِلَيَّ مَا أَوْحَى فَفَرَضَ عَلَيَّ خَمْسِينَ صَلَاةً فِي كُلِّ يَوْمٍ وَلَيْلَةٍ فَنَزَلْتُ إِلَى مُوسَى

بیا الله تعالی ما ته وحي راولیږل، بیا پر ما پنځوس لمنځونه فرض سول په شپه او ورځ کي، زه راکښته سوم او موسی علیه السلام ته راغلم،

صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ فَقَالَ مَا فَرَضَ رَبُّكَ عَلَى أُمَّتِكَ قُلْتُ خَمْسِينَ صَلَاةً قَالَ

هغه را څخه پوښتنه وکړه ستا پروردګار ستا پر امت څه فرض کړل، ما ورته وویل په شپه او ورځ کي پنځوس لمنځونه، موسی علیه السلام وویل:

ارْجِعْ إِلَى رَبِّكَ فَاسْأَلْهُ التَّخْفِيفَ فَإِنَّ أُمَّتَكَ لَا يُطِيقُونَ ذَلِكَ فَإِنِّي قَدْ بَلَوْتُ بَنِي

خپل پروردګار ته ولاړ سه او د تخفيف خواست وکړه ځکه چي ستا امت دومره طاقت نه لري، ما

إِسْرَائِيلَ وَخَبَرْتُهُمْ قَالَ فَرَجَعْتُ إِلَى رَبِّي فَقُلْتُ يَا رَبِّ خَفِّفْ عَلَى أُمَّتِي فَحَطَّ

بني اسرائيل ازمويلي دي او د هغوئ امتحان مي اخيستی دی، زه بيرته ولاړم او عرض مي وکړ اې پروردګاره! زما پر امت اساني وکړې او په لمنځونو کي کمي راکړې،

عَنِّي خَمْسًا فَرَجَعْتُ إِلَى مُوسَى فَقُلْتُ حَطَّ عَنِّي خَمْسًا قَالَ إِنَّ أُمَّتَكَ لَا يُطِيقُونَ

نو الله تعالی پنځه لمنځونه کم کړل، موسی عليه السلام راته وويل ستا امت دومره طاقت نه لري

ذَلِكَ فَارْجِعْ إِلَى رَبِّكَ فَاسْأَلْهُ التَّخْفِيفَ قَالَ فَلَمْ أَزَلْ أَرْجِعُ بَيْنَ رَبِّي تَبَارَكَ

ته بيا خپل پروردګار ته ورسه او کمي وغواړه، رسول الله ﷺ وفرمايل: کله چي زه د خپل پروردګار او موسی عليه السلام په منځ کي تلم راتلم

وَتَعَالَى وَبَيْنَ مُوسَى عَلَيْهِ السَّلَامِ حَتَّى قَالَ يَا مُحَمَّدُ إِنَّهُنَّ خَمْسُ صَلَوَاتٍ كُلَّ

او دکمي لړۍ جاري وه تر دې چي الله تعالی وفرمايل: اې محمد! دا پنځه لمنځونه په شپه او

يَوْمٍ وَلَيْلَةٍ لِكُلِّ صَلَاةٍ عَشْرٌ فَذَلِكَ خَمْسُونَ صَلَاةً وَمَنْ هَمَّ بِحَسَنَةٍ فَلَمْ يَعْمَلْهَا

ورځ کي فرض سوي دي او په دې کي د هره لمانځه ثواب د لسو لمونځو برابر دی، داسي دا پنځه لمنځونه په ثواب کي د پنځوسو لمنځونو برابر دي، چا چي د نيکي اراده وکړه او د يو عذر په سبب يې هغه ونه کړلای سوه

كُتِبَتْ لَهُ حَسَنَةً فَإِنْ عَمِلَهَا كُتِبَتْ لَهُ عَشْرًا وَمَنْ هَمَّ بِسَيِّئَةٍ فَلَمْ يَعْمَلْهَا لَمْ

نو د هغه په حساب کي يوازي په ارادې سره يوه نيکي ليکل کيږي او هر کله چي هغه نيکي وکړي نو د هغه په حساب کي لس نيکی ليکل کيږي، او څوک چي د خراب کار اراده وکړي او هغه ونه کړلای سي يا وه يې نه کړي

تُكْتَبْ له شَيْئًا فَإِنْ عَمِلَهَا كُتِبَتْ سَيِّئَةً وَاحِدَةً قَالَ فَنَزَلْتُ حَتَّى انْتَهَيْتُ إِلَى

نو هيڅ يې نه ليکل کيږي، او که هغه خراب کار وکړي نو يوازي يوه بدي د هغه په حساب کي ليکل کيږي، ددې څخه وروسته رسول الله ﷺ وفرمايل: زه د رب العزت د دربار څخه راکښته

مُوسَى صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ فَأَخْبَرْتُهُ فَقَالَ ارْجِعْ إِلَى رَبِّكَ فَاسْأَلْهُ التَّخْفِيفَ

سوم او حضرت موسی علیہ السلام ته راورسیدم او هغه مي حقیقت څخه خبر کړ هغه بیا هم هغه مشوره راکړه چي خپل پروردګار ته ورسه او دکمي خواست ورته وکړه،

فَقَالَ رَسُولُ اللّٰهِ ﷺ فَقُلْتُ قَدْ رَجَعْتُ إِلَى رَبِّي حَتَّى اسْتَحْيَيْتُ مِنْهُ. رواه مسلم

رسول الله ﷺ وفرمایل: ما حضرت موسی علیہ السلام ته وویل: زه په څو څو واره د الله جل جلاله په دربار کي حاضر سوم اوس خو هلته د ورتلو څخه ما ته حیا راځي. مسلم.

تخريج: صحیح مسلم ۱\ ۱۴۵، رقم: ۲۵۹- ۱۶۲.

تشريح: بیا زه مسجد اقصی ته داخل سوم، په دې اړه ملا علي قاري رحمۃ اللہ علیہ لیکلي دي چي پر اسراء یعني تر تر مسجد اقصی پوري پر سفر باندي د ټولو اتفاق دی او هیڅا د هغه د واقعیت څخه انکار نه دی کړی مګر د مسجد اقصی څخه تر آسمان پوري سفر یعني د معراج په پېښه کي ځینو کسانو لکه معتزله، اختلاف کړی دی او د هغوئ دغه اختلاف هم د پخواني علماؤ د دغه نظریې منلو سره دی چي په آسمان کي خرق او التیام محال دی.

او دوه رکعته لمونځ مي وکړ: دا د تحیة المسجد دوه رکعته وه چي رسول الله ﷺ په مسجد اقصی کي د داخلېدو وروسته ادا کړل او صحیح خبره داده چي دا د هغه لمانځه یادونه ده چي په هغه کي رسول الله ﷺ امامت وکړ او د نورو نبیانو علیهم السلام چي د رسول الله ﷺ په اکرام کي په بیت المقدس کي جمع کړي وه د رسول الله ﷺ اقتداء کړې وه، راوي په دغه وخت کي د امامت یادونه یا د اختصار له کبله ونه کړل او یا یې ذکر کول هېر سول لکه څرنګه چي په مخکني حدیث کي د رسول الله ﷺ مسجد اقصی ته د تللو یادونه هم نسته.

جبرائیل علیہ السلام ما ته یوه پیاله د شرابو او یوه پیاله د شېدو راوړل، کیدای سي چي راوي دلته د اختصار څخه په کار اخیستلو یوازي د دوو پیالو یادونه وکړل او دریمه پیاله یعني د عسلو د پیالې یادونه یې ضروري ونه ګڼل او څرنګه چي مخکي بیان سول دا هم ممکن ده چي په مسجد اقصی کي د رسول الله ﷺ په وړاندي دوې پیالې یعني د شرابو او د شېدو پیالې راوړل سوي وي مګر په آسمان کي درې پیالې وړاندي سوي وي چي په هغو کي یوه پیاله د عسلو وه.

بیا موږ آسمان ته پورته کړل سو، دا د (ثم عرج بنا الی السماء) لفظ ژباړه ده، په دغه جمله کي د عرج لفظ د عین او راء په زور سره دی لکه چي نووي او سیوطي رحمة الله علیهما لیکلي

دي، په دغه صورت کي د عرج فاعل يا خو حضرت جبرائيل عليه السلام دی يا دا چي رسول الله ﷺ مخکي د بنا لفظ فرمايلي دی ځکه د عرج فاعل الله جل جلاله سو، مطلب دا چي بيا الله جل جلاله زه او جبرائيل عليه السلام آسمان ته ورسولو، او دا هم ممکن ده چي د بنا لفظ د تعجب لپاره وي نو بيا د عرج فاعل حضرت جبرائيل عليه السلام کيږي، په يوه نسخه کي د عرج لفظ مجهول نقل سوی دی، په دغه صورت کي به ژباړه داسي وي: بيا موږ لوړ آسمان ته ورسول سوو.

حضرت يوسف عليه السلام مي وليدی چي هغه ته نيمه ښکلا ورکړل سوې وه، د نيمي ښکلا څخه څه مراد دی، په دې اړه صحيح او تحقيقي قول دادی چي رسول الله ﷺ دا څرګنده کړل چي د حضرت يوسف عليه السلام په زمانه کي څومره ښکلا په ټولو خلکو کي وه د هغه نيمه برخه يوازي حضرت يوسف عليه السلام ته ورکړل سوې وه، او ځينو حضراتو ددغه جملې څخه د رسول الله ﷺ دا مراد بيان کړی دی چي حضرت يوسف عليه السلام ته زما د ښکلا نيمه برخه ورکړل سوې ده يعني رسول الله ﷺ ته چي کومه ښکلا ورکړل سوې ده د هغه نيمه برخه حضرت يوسف عليه السلام ته ورکړل سوې وه، ددې څخه دا خبره څرګنده سول چي حضرت يوسف عليه السلام په ښکلا او جمال کي زموږ تر پيغمبر ﷺ زيات نه وو بلکه ډېرو علماؤ ليکلي دي چي رسول الله ﷺ تر حضرت يوسف عليه السلام د ډېري ښکلا او جمال خاوند وو، او ددې يو دليل دا بيان سوی دی چي د حضرت يوسف عليه السلام په اړه دا هيڅ ځای نه دي راغلي چي د حضرت يوسف عليه السلام د صورت د جمال عکس په مثل د هنداري پر دېوال لوېدی او مخته شيان به معلومېدل حال دا چي د رسول الله ﷺ په اړه دا نقل سوي دي چي د رسول الله ﷺ جمال دا ډول وو، دا بېله خبره ده چي الله جل جلاله د رسول الله ﷺ ددغه جمال ډېره برخه د رسول الله ﷺ په صحابوو کي پټه ابښې وه که داسي نه وای نو د رسول الله ﷺ د مخ ښکلا او نور به د خپلي پوره ځلا سره څرګند وای .هيچا به توان نه درلودای او نه به هيچا ته د رسول الله ﷺ د نوراني مخ د ليدني سعادت تر لاسه کېدای، حال دا چي د حضرت يوسف عليه السلام کوم حسن او ښکلا چي وه هغه د ټولو په وړاندي څرګنده وه، او په هغه کي هيڅ برخه پټه نه وه ساتل سوې، په دې اړه شيخ عبدالحق محدث دهلوي رحمة الله عليه يوه بله خبره ليکلې ده، د هغه وينا ده، د حضرت يوسف عليه السلام په شان کي او د هغه د حسن او ښکلا په تعريف کي چي کومي خبري منقول او ثابت دي په هغو کي ځيني شيان داسي دي چي په ذهن کي دا خبره اچوي چي د حضرت يوسف رحمة الله عليه حسن او جمال بې مثله وو لکه چي د معراج د پېښي سره اړوند په يوه روايت کي منقول دي چي رسول الله ﷺ وفرمايل: په هغه شپه ما يو سړی (يعني حضرت يوسف عليه السلام) هم وليدی او د هغه سره يو ځای سوم چي د قدرت تر ټولو ښکلی تخليق وو چي د الله جل جلاله

په مخلوق کي تر ټولو زيات ښکلی وو ، لکه چي په ټولو ستورو کي سپوږمۍ تر ټولو زياته روښانه معلوميږي مګر بلي خوا ته هغه حديث هم سته چي ترمذي د حضرت انس رضي الله عنه څخه نقل کړی دی چي الله جل جلاله هيڅ نبي او رسول داسي نه دی را استولی چي ښکلی او خوش آوازه نه وي او تر ټولو زيات ښکلی او خوش آوازه ستاسو پيغمبر صلى الله عليه وسلم وو ،

او کوم چي د معراج د پېښې ددغه حديث تعلق دی چي شيخ عبدالحق دهلوي رحمة الله عليه وړاندی کړی دی نو دا ويل کيدای سي چي رسول الله صلى الله عليه وسلم د خپل ځان په بېلولو سره دا خبره فرمايلې ده يعني د رسول الله صلى الله عليه وسلم مطلب دا وو چي د رسول الله صلى الله عليه وسلم څخه ماسوا په ټول مخلوق کي تر ټولو زيات ښکلی حضرت يوسف عليه السلام وو او ددغه تاويل امکان داسي هم کيدای سي چي خبري کوونکی په عمومي خطاب کي داخل نه وي، شيخ ابن حجر مکي رحمة الله عليه د شمائل ترمذي په تشريح کي ليکلي دي : پر رسول الله صلى الله عليه وسلم د کامل ايمان څخه يوه برخه دا عقيده هم ده چي څومره ښکلا د رسول الله صلى الله عليه وسلم ذات اقدس او ظاهري شکل و صورت ته ورکړل سوې وه هغومره ښکلا او جمال د هيڅ انسان ذات او ظاهري شکل ته نه وه ورکړل سوې ، څومره فضل او کمال چي د رسول الله صلى الله عليه وسلم په باطن کي اېښودل سوی وو دومره فضل او کمال د بل هيڅ انسان په باطن کي نه وو ، د يو انسان ظاهر د هغه د باطن مظهر وي ځکه نو څرنګه چي د رسول الله صلى الله عليه وسلم باطن بې مثله وو همدارنګه ظاهر يې هم بې مثله وو ، او د رسول الله صلى الله عليه وسلم د ظاهري او باطني ښکلا په تعريف کي دا خبره د اصول درجه لري چي د الله جل جلاله څخه ماسوا د فضل او کمال چي نوري څومره مرتبې او درجې کېدای سي هغه ټولي د رسول الله صلى الله عليه وسلم لپاره ثابتي دي او د رسول الله صلى الله عليه وسلم څخه زيات نه بلکه د رسول الله صلى الله عليه وسلم برابر هيڅ کامل انسان تر ننه پوري پيدا سوی نه دی او نه به په راتلونکي کي پېدا سي .

کسي بحسن وملاحت بيار ما نرسد ترا درين سخت انکار کار ما نرسد

هزار نقد بـــــازار کائنات آرند يکي بسکه صاحب عيار ما نرسد

دغه حقيقت په يو بل انداز کي يو شاعر داسي بيا کړی دی :

يا صاحب الجمال ويا سيد البشر من وجهک المنير لقد نور القـــمر

لايمكـــــن الثناء كما كان حقه بعد از خدا بزرگ توئي قصه مختصر

سدرة المنتهی د الله جل جلاله په حکم سره پټونکی شی پټ کړ ، په دې اړه مختلف اقوال دي چي کوم شی سدرة المنتهی پټ کړی وو ، ځيني حضرات وايي چي بې شمېره ملائکو سدرة المنتهی راچاپېره کړې وه ، د هغوئ د وزرونو رڼا او ځلا پر ټوله درخته باندي د نور او جمال څادرونه

اچولي وه او ځيني حضرات وايي چې د الله ﷻ د جلال او عظمت نور د سرو زرو د پتنګانو په ډول پر هغه اوربدل چې تر هغه لاندي تهوله درخته پټه سوې وه، ځينو حضراتو دا ويلي دي چې د سروزرو پتنګانو او نورو عجيبو شيانو چې د هغه حقيقت او كيفيت چا ته معلوم نه دی، سدرة المنتهی يې پټه كړې وه.

بيا الله ﷻ چې كومه وحي غوښتل، ما ته يې راولېږل، دا هغه وخت دی چې رسول الله ﷺ د الله ﷻ دربار ته نژدې ورسېدی او د نور السماوات والارض جمال يې د حجاب څخه وليدی او بېله واسطې په كلام الهي او وحي سره ونازول سو، هغه كلام څه وو او هغه وحي په كومو الفاظو كي وې، دا يو راز دی چې د الله ﷻ او د هغه د رسول ﷺ څخه ماسوا بل څوک نه په پوهيږي، د ادب او احتياط تضاضا ده چې دا مبهم او مجمل وساتل سي او په دې اړه د وضاحت او پلتني هڅه ونه كړل سي.

الله ﷻ زما په وجه زما د امت لپاره پنځه لمونځونه كم كړل، ددغه حديث څخه څرګنديږي چې په پنځوسو لمونځو كي كومه كمي وسول هغه هر وار د پنځه پنځه لمونځو كمېدو په صورت كي وسول، حال دا چې په تېر سوي حديث كي هر وار د لس لس او په پای كي د پنځو لمونځو كمېدو يادونه سوې ده، نو كېدای سي چې دلته اصل عبارت داسي وي چې زما د امت په اړه پنځه او بيا پنځه لمونځونه كم كړل سول، يعني په هر وار پنځه پنځه كولو سره لس لمونځونه كم كړل سوي وي او په داسي به د تېر سوي حديث سره مطابقت پېدا سي، مګر صحيح خبره داده چې هر وار د پنځو پنځو لمونځو كمېدل او په تېر سوي حديث كي د اوړدوالي څخه د ساتني لپاره هر وار د پنځو پنځو يادونه كولو پر ځای د لسو لسو ذكر كولو سره كلام مختصر كړل سو، ددې تائيد ددغه حديث ددغه الفاظو څخه هم كيږي چې رسول الله ﷺ وفرمايل: بيا زه حضرت موسی عليه السلام ته راغلم او هغه ته مي وويل چې زما په درخواست باندي پنځه لمونځونه كم كړل سول.

نو د هغه په حساب كي هغه نيكي لس برابر ليكل كيږي: يعني نيكي خو يوه كوي مګر د هغه په عملنامه كي ثواب د لسو نيكيو ليكل كيږي، په قرآن كريم كي الله ﷻ دغه زيری داسي وركړی دی: (من جاء بالحسنة فله عشر امثالها) څوک چې يوه نيكي وكړي نو هغه ته به د لسو نيكيو ثواب وركول كيږي.

او په غير حرم كي د زياتېدو دا تر ټولو ادنا درجه ده يعني د حرم شريف څخه ماسوا په نورو ځايو كي كيدونكي يو نيک عمل چې څو برابر زيات د ثواب وعده فرمايل سوې ده په هغه كي

لس برابر تر تهولو ادنا درجه ده، د نورو حدیثو څخه ثابته ده چي په ځینو صورتو کي پر یو عمل باندي تر لس برابر زیات تر دې چي تر اووه سوه پوري ثواب ورکول کیږي بلکه د صدق او اخلاص د حیثیت او کیفیت په اندازه تر اووه سوه هم زیات ثواب ورکول کیږي.

او بیا یې هغه بدکار ونه کړلای سو، نو دهغه په حساب کي هغه بدي نه لیکل کیږي، یعني که چیري یو سړی د یو بدکار کولو اراده وکړي او بیا د یو وجه ماسوا یا په یو داسي سبب سره چي مباح وي هغه بدکار ونه کړي نو د هغه په عملنامه کي هیڅ بدي نه لیکل کیږي، په شرط ددې چي هغه اراده محض په سطحي توګه پیدا سوې وي په زړه کي ټینګه او پخه سوې نه وي او که چیري هغه د بدکار داسي اراده کړې وي چي د زړه په ټینګۍ سره وه او بیا هغه بدکار ونه کړ نو کتل کیږي چي هغه د پخې ارادې سربېره هغه بدکار په کوم سبب ونه کړ که دا سبب وي چي هغه د ارادې څخه وروسته د هغه پر زړه باندي د الله ﷻ بېره غالبه سول او هغه محض د الله ﷻ د رضا لپاره هغه بد.کار ونه کړ نو په دغه صورت کي د هغه په عملنامه کي یوه بدي لیکل کیږي.

نو د هغه په حساب کي به یوازي هغه یوه بدي لیکل کیږي، ددې مطلب دادی چي څرنګه پر یوې نیکۍ کولو باندي په عملنامه کي لس نیکۍ لیکل کیږي همدا رنګه پر یوې بدي کولو باندي په عملنامه کي هغه بدۍ لس برابر نه لیکل کیږي بلکه یوه بدي لیکل کیږي ځکه چي د کمیت په اعتبار بدي څو برابر کیږي او د الله ﷻ ارشاد دی:

ومن جاء بالسیئة فلا یجزي الا مثلها وهم لایظلمون، او څوک چي یوه بدي راوړي نو هغه ته به هم هغه سزا ورکول کیږي او پر هغوئ به ظلم نه کیږي.

او پر هغوئ به ظلم نه کیږي، ددې څخه څرګنده سول چي د بدۍ څو برابر نه کېدل د الله ﷻ د عدل اظهار دی حال دا چي د نیکۍ څو برابر کېدل د الله ﷻ فضل او مهرباني ده.

د معراج ذکر

﴿۵۶۱۴﴾: وَعَنِ ابْنِ شِهَابٍ عَنْ أَنَسٍ قَالَ كَانَ أَبُو ذَرٍّ يُحَدِّثُ أَنَّ رَسُولَ اللَّهِ صَلَّى

حضرت ابن شهاب رضی الله عنه د حضرت انس رضی الله عنه څخه روایت کوي چي ابوذر رضی الله عنه بیان وکړ چي رسول

اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ قَالَ فُرِجَ عَنْ سَقْفِ بَيْتِي وَأَنَا بِمَكَّةَ فَنَزَلَ جِبْرِيلُ صَلَّى اللَّهُ

الله ﷺ وفرمایل: زه په مکه کي وم چي زما د سرای بام خلاص کړل سو او د هغه څخه جبرائیل علیه السلام راکښته سو

عَلَيْهِ وَسَلَّمَ فَفَرَجَ صَدْرِي ثُمَّ غَسَلَهُ بِمَاءِ زَمْزَمَ ثُمَّ جَاءَ بِطَسْتٍ مِنْ ذَهَبٍ

هغه زما سینه څیري کړل او د زمزم په اوبو سره يې پریولل، بیا د سرو زرو یو تالی راوړل سول

مُمْتَلِئٍ حِكْمَةً وَإِيمَانًا فَأَفْرَغَهُ فِي صَدْرِي ثُمَّ أَطْبَقَهُ ثُمَّ أَخَذَ بِيَدِي فَعَرَجَ بِي إِلَى

چي د حکمت او ایمان څخه ډک وه هغه زما په سینه کي دننه توی کړل سو، بیا زما سینه خپل ځای ته وروسته سوه، بیا جبرائیل علیه السلام زما لاس ونیوی زه يې بوتلم

السَّمَاءِ فَلَمَّا جِئْتُ إِلَى السَّمَاءِ الدُّنْيَا قَالَ جِبْرِيلُ لِخَازِنِ السَّمَاءِ افْتَحْ قَالَ مَنْ

د آسمان په لور، د دنیا آسمان ته چي راورسیدو، جبرائیل علیه السلام د آسمان ساتونکی ته وویل دروازه خلاصه کړه ساتونکي پوښتنه وکړه څوک يې؟

هَذَا قَالَ هَذَا جِبْرِيلُ قَالَ هَلْ مَعَكَ أَحَدٌ قَالَ نَعَمْ مَعِي مُحَمَّدٌ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ

جبرائیل علیه السلام وویل زه جبرائیل یم، ساتونکي بیا پوښتنه وکړه بل څوک هم درسره سته؟ جبرائیل علیه السلام وویل هو زما سره محمد ﷺ دی،

وَسَلَّمَ فَقَالَ أُرْسِلَ إِلَيْهِ قَالَ نَعَمْ فَلَمَّا فَتَحَ عَلَوْنَا السَّمَاءَ الدُّنْيَا فَإِذَا رَجُلٌ قَاعِدٌ

ساتونکي بیا پوښتنه وکړه ایا دی رابلل سوی دی، جبرائیل علیه السلام وویل هو، کله چي دروازه خلاصه سوه نو موږ د دنیا آسمان ته ورسیدو، ناڅاپه پر یو سړي مي نظر ولویدی چي هلته ناست وو

عَلَى يَمِينِهِ أَسْوِدَةٌ وَعَلَى يَسَارِهِ أَسْوِدَةٌ إِذَا نَظَرَ قِبَلَ يَمِينِهِ ضَحِكَ وَإِذَا نَظَرَ قِبَلَ

او د هغه راسته خوا ته تور شیان دي او چپه خوا ته يې هم تور شیان دي هغه چي پر راسته خوا وکتل نو وه به يې خندل او چي چپه خوا ته به يې وکتل

شماله بَكَى فَقَالَ مَرْحَبًا بِالنَّبِيِّ الصَّالِحِ وَالِابْنِ الصَّالِحِ قُلْتُ لِجِبْرِيلَ مَنْ هَذَا

نو وه به يې ژړل، هغه راته وویل اې صالحه نبي او نیک بخته زویه: هر کله راسې، ما د جبرائیل علیه السلام څخه پوښتنه وکړه دا څوک دی؟

قَالَ هَذَا آدَمُ وَهَذِهِ الْأَسْوِدَةُ عَنْ يَمِينِهِ وَشِمَالِهِ نَسَمُ بَنِيهِ فَأَهْلُ الْيَمِينِ مِنْهُمْ

هغه راته وويل دا آدم علیه السلام دی او دا راسته او چپه خوا ته چي دا تور تور شیان دي دده د اولاد

أَهْلُ الْجَنَّةِ وَالْأَسْوِدَةُ الَّتِي عَنْ شِمَالِهِ أَهْلُ النَّارِ فَإِذَا نَظَرَ عَنْ يَمِينِهِ ضَحِكَ وَإِذَا

روحونه دي ، په دوئ کي چي کوم خلک راسته خوا ته دي هغه جنتیان دي او دا تور کوم چي چپه خوا ته ناست دي هغه دوږخیان دي ، آدم علیه السلام چي راسته خوا ته وګوري نو خوشحاله سي او

نَظَرَ قِبَلَ شِمَالِهِ بَكَى حَتَّى عَرَجَ بِي إِلَى السَّمَاءِ الثَّانِيَةِ فَقَالَ لِخَازِنِهَا افْتَحْ فَقَالَ

وخاندي او کله چي چپه خوا ته وګوري نو خفه سي او په ژړا سي ، بیا جبرائیل علیه السلام زه دویم آسمان ته بوتلم او د هغه ساتونکي ته یې وویل دروازه خلاصه کړه ، ساتونکي هم هغه

لَهُ خَازِنُهَا مِثْلَ مَا قَالَ الْأَوَّلُ قَالَ أَنَسٌ فَذَكَرَ أَنَّهُ وَجَدَ فِي السَّمٰوَاتِ آدَمَ

پوښتني ځیني وکړې ، د انس رضی الله عنه بیان دی چي رسول الله صلی الله علیه وسلم په آسمانونو کي آدم علیه السلام ،

وَإِدْرِيسَ وَمُوسَى وَعِيسَى وَإِبْرَاهِيمَ صَلَوَاتُ اللّٰهِ عَلَيْهِمْ وَلَمْ يُثْبِتْ كَيْفَ

ادریس علیه السلام ، موسی علیه السلام ، عیسی علیه السلام او ابراهیم علیه السلام سره د ملاقات کولو ذکر وکړ ، مګر د هغوئ

مَنَازِلُهُمْ غَيْرَ أَنَّهُ ذَكَرَ أَنَّهُ وَجَدَ آدَمَ فِي السَّمٰوَاتِ الدُّنْيَا وَإِبْرَاهِيمَ فِي السَّمَاءِ

د مقاماتو او منازلو کیفیت یې بیان نه کړ ، یوازي د آدم علیه السلام سره په لومړني آسمان کي د یو ځای کیدو ذکر یې وکړ ، او په آسمان کي یې د حضرت ابراهیم علیه السلام لیدل ظاهر کړل ،

السَّادِسَةِ قَالَ ابْنُ شِهَابٍ فَأَخْبَرَنِي ابْنُ حَزْمٍ أَنَّ ابْنَ عَبَّاسٍ وَأَبَا حَبَّةَ الْأَنْصَارِيَّ

ابن شهاب رضی الله عنه وایي ما ته ابن حزم رضی الله عنه ښودلي دي چي ابن عباس رضی الله عنه او ابو حبه انصاري رضی الله عنه

كَانَا يَقُولَانِ قَالَ النَّبِيُّ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ ثُمَّ عُرِجَ بِي حَتَّى ظَهَرْتُ لِمُسْتَوَى

ویل چي نبي کریم صلی الله علیه وسلم وفرمایل : زه وخېژول سوم تر دې چي زه یو هوار او لوړ ځای ته ورسیدم

أَسْمَعُ فِيهِ صَرِيفَ الْأَقْلَامِ قَالَ ابْنُ حَزْمٍ وَأَنَسُ بْنُ مَالِكٍ قَالَ النَّبِيُّ صَلَّى اللّٰهُ

هلته د قلمونو د لیکلو اوازونه راتلل ، ابن حزم او انس وایي نبي کریم صلی الله علیه وسلم وفرمایل :

عَلَيْهِ وَسَلَّمَ فَفَرَضَ اللّٰهُ عَزَّ وَجَلَّ عَلَى أُمَّتِي خَمْسِينَ صَلَاةً فَرَجَعْتُ بِذٰلِكَ حَتَّى

بیا الله تعالی زما پر امت پنځوس لمنځونه فرض کړل او زه د هغه لمنځونو د حکم سره د الله ﷻ
د دربار څخه راوګرځېدم

مَرَرْتُ عَلَى مُوسَى فَقَالَ مَا فَرَضَ اللهُ لَكَ عَلَى أُمَّتِكَ قُلْتُ فَرَضَ خَمْسِينَ صَلَاةً

او پر موسی علیه السلام تیر سوم، هغه پوښتنه وکړه ستا په ذریعه الله تعالی ستا پر امت څه فرض کړل،
ما ورته وویل پنځوس لمنځونه یې فرض کړل،

قَالَ فَارْجِعْ إِلَى رَبِّكَ فَإِنَّ أُمَّتَكَ لَا تُطِيقُ ذَلِكَ فَرَاجَعْتُ فَوَضَعَ شَطْرَهَا فَرَجَعْتُ

موسی علیه السلام راته وویل خپل پروردګار ته بیرته ولاړ سه ستا امت دومره طاقت نه لري چي
پنځوس لمنځونه ادا کړي، زه د الله ﷻ په دربار کي حاضر سوم او په هغه کي د څو لمنځو کمي

إِلَى مُوسَى قُلْتُ وَضَعَ شَطْرَهَا فَقَالَ رَاجِعْ رَبَّكَ فَإِنَّ أُمَّتَكَ لَا تُطِيقُ فَرَاجَعْتُ

وکړل سول، بیا زه موسی علیه السلام ته راغلم ورته وه مي ویل د هغه یو څه برخه معاف کړل سوه،
موسی علیه السلام راته وویل بیا خپل پروردګار ته ولاړ سه ستا د امت دومره توان نسته چي دا هم ادا
کړلای سي، بیا ولاړم

فَوَضَعَ شَطْرَهَا فَرَجَعْتُ إِلَيْهِ فَقَالَ ارْجِعْ إِلَى رَبِّكَ فَإِنَّ أُمَّتَكَ لَا تُطِيقُ ذَلِكَ

او یو څو نور لمنځونه راته معاف کړل سول، ددې څخه وروسته بیا موسی علیه السلام ته راغلم هغه
راته وویل بیا خپل رب ته ورسه ستا امت ددومره طاقت هم نه لري.

فَرَاجَعْتُهُ فَقَالَ هِيَ خَمْسٌ وَهِيَ خَمْسُونَ لَا يُبَدَّلُ الْقَوْلُ لَدَيَّ فَرَجَعْتُ إِلَى

زه بیا ولاړم نو الله تعالی وفرمایل پنځه لمنځونه فرض سوي دي چي په ثواب کي د پنځوسو
لمنځونو برابر دي او زما قول نه بدلیږي یعني زه به د پنځوسو لمنځونو ثواب درکوم، که څه هم
چي د هغه په شمیر کي کمي سوې ده، ددې څخه وروسته زه راغلم

مُوسَى فَقَالَ رَاجِعْ رَبَّكَ فَقُلْتُ اسْتَحْيَيْتُ مِنْ رَبِّي ثُمَّ انْطَلَقَ بِي حَتَّى انْتَهَى بِي

موسی علیه السلام ته هغه بیا زما لیږل غوښتل خو ما ورته وویل اوس ما ته د خپل پروردګار څخه حیا
راځي، ددې څخه وروسته رسول الله ﷺ وفرمایل: زه ورسول سوم

إِلَى سِدْرَةِ الْمُنْتَهَى وَغَشِيَهَا أَلْوَانٌ لَا أَدْرِي مَا هِيَ ثُمَّ أُدْخِلْتُ الْجَنَّةَ فَإِذَا فِيهَا جنابذ اللُّؤْلُؤِ وَإِذَا تُرَابُهَا الْمِسْكُ. متفق عليه.

سدرة المنتهى ته پر هغه چې څه رنګونه وه زه يې نه سم ويلاى چې هغه څه شي وه، بيا زه په جنت كې داخل كړل سوم په هغه كې ما د ملغلرو ګنبدې وليدلې او د جنت خاوره د مشک وه. بخاري او مسلم.

تخريج: صحيح البخاري (فتح الباري): ۱\۴۵۸، رقم: ۳۴۹، ومسلم ۱\۱۴۸، رقم: ۲۶۳- ۱۶۳.

د لغاتو حل: فرج: اي ازيل. (ايسته سو، خلاص سو). اسودة: الشخص لانه يروى انه اسود من بعيد. نسم: وهي الروح او النفس. صريف الاقلام: اى صوتها عند الكتابة (د ليكنې په وخت كې د قلم برغ). جنابذ: وهي ما ارتفع من الشئ واستدار.

تشريح: د فُرِجَ، لفظ په تخفيف سره د مجهول صيغه ده او ځينو حضراتو په تشديد سره هم نقل كړى دى، په دواړو صورتو كې معنى يوه ده، يعني حضرت جبرائيل عليه السلام د خونې د بام په ليرې كولو سره د لوړې څخه راغلى، د اسراء او معراج د سفر پيل د كوم ځاى څخه وسو، په دې اړه مختلف او متضاد روايتونه منقول دي، په ځينو روايتو كې د حطيم او په ځينو كې د حجر ذكر دى لكه چې د مخكنې حديث څخه معلومه سوه، په ځينو روايتو كې د شعب ابو طالب ذكر دى او په ځينو رواتيو كې دا ذكر دى چې كله حضرت جبرائيل عليه السلام د رسول الله ﷺ د بېولو لپاره راغلى نو هغه وخت رسول الله ﷺ د بي بي ام هانئ په ځاى كې د راحت پر بستر آرام كوى او دغه روايت زيات مشهور دى، په دغه ټولو روايتو كې غوره تطبيق هغه دى كوم چې په فتح الباري كې ليكلى دي يعني په دغه شپه كې چې د اسراء او معراج پېښه رامنځته سول نبي كريم ﷺ د بي بئ ام هانئ په خونه كې بېده وو چې په شعب ابي طالب كې واقع وو، حضرت جبرائيل عليه السلام د خونې د بام په څېرلو سره رسول الله ﷺ ته راغلى او د رسول الله ﷺ په وېښولو سره يې كعبې ته راوست چيرې چې حطيم او حجر دى، رسول الله ﷺ په حطيم كې پروت وو او د خوب اثر ور باندې وو ځكه رسول الله ﷺ هلته بيا بېده سو، حضرت جبرائيل عليه السلام بيا راويښ كړ او د شق صدر او نورو مرحلو څخه وروسته يې رسول الله ﷺ د مسجد حرام دروازې ته راوست، هلته رسول الله ﷺ پر براق باندې په سپرېدو سره مسجد اقصى ته بوتلل سو نو د اسراء او معراج د سفر پيل په اصل كې د بي بي ام هانئ د كور څخه وسو چې رسول الله ﷺ خپل كور په دې اعتبار ورته وويل چې رسول الله ﷺ په هغه شپه په هغه كور كې مقيم وو.

او بيا زما سينه په يو ځاى كولو سره برابره كړل سول، د شق صدر په اړه وضاحت په تېر

سوي فصل کي تېر سوی دی هلته چي د حديث کوم الفاظ وه د هغو څخه دا ظاهرېږي چي د رسول الله ﷺ زړه مبارک د سرو زرو په تالی۔ کي پرېولل سو او د هغه وروسته د علم او ايمان څخه ډک کړل سو مګر دلته چي د حديث کوم الفاظ دي د هغو څخه دا معلومېږي چي مخکي د رسول الله ﷺ سينه مبارکه د زمزم په اوبو سره پرېولل سول او بيا د ايمان او حکمت څخه ډکه تالی۔ راوړل سول او د هغه په سينه کي چپه کړل سول، په دغه دواړو خبرو کي ژور اختلاف نسته ، د پېښې ترتيب دا وو چي د رسول الله ﷺ سينه مبارکه څيري کړل سول بيا د زړه مبارک په راکښلو سره د زمزم په اوبو پرېولل سو بيا د ايمان او حکمت څخه ډکه تالی۔ راوړل سول او په هغه ايمان او حکمت سره د رسول الله ﷺ زړه مبارک ډک کړل سو .

تر دې وروسته حضرت جبرائيل ؑ زما لاس ونيوی او زه يې آسمان ته وخېژولم، دلته نه خو د براق راوستلو او پر هغه باندي د رسول الله ﷺ د سپرتيا ذکر دی او نه مسجد اقصی ته د بېولو ذکر دی ، ځکه ځينو حضراتو دا رايه قائمه کړې ده چي اسراء او معراج دوې بېلي پېښې دي او دواړي پېښې په بېلو شپو کي رامنځته سوې ده او د براق سپرلی۔ د اسراء په شپه وه حال دا چي د معراج په شپه کي د زينې په ذريعه آسمان ته تللی دی .

او دغه خلک چي د هغه راسته او چپه خوا ته ناست دي د هغه د اولاد روحونه دي، په دې اړه شارحينو ليکلي دي چي نقل سوي دي چي د مؤمنانو روحونه په عليين کي آرام کوي او د کافرانو روحونه په سجين کي بنديان دي، دلته دا سوال پيدا کيږي چي هغه ټول روحونه په يو ځای کي يعني په آسمان کي د حضرت آدم ؑ راسته او چپه خوا ته څرنګه جمع سول، ددې جواب دادی چي کيدای سي په يو ټاکلي وخت کي دغه روحونه د حضرت آدم ؑ په وړاندي راوړل کيږي او رسول الله ﷺ چي ددنيا آسمان ته ورسېدی او د حضرت آدم ؑ سره يې ولېدل نو دا هغه وخت وو چي کله ټول روحونه د حضرت آدم ؑ په وړاندي راوستل سوي وه او دا هم کيدای سي چي رسول الله ﷺ د معراج په شپه کي د حضرت آدم ؑ راسته او چپه خوا ته کوم روحونه ليدلي وه هغه د هغه خلکو وه چي تر هغه وخته پوري په دنيا کي نه وه پيدا سوي او هغه روحونه خپل خپل اجسامو ته نه وه تللي، او کېدای سي چي ددغه دواړو د اوسېدو ځای د حضرت آدم ؑ راسته او چپه خوا وي، او حضرت آدم ؑ د هغه روحونو په انجام خبر وو چي کوم روحونه راسته خوا ته دي هغوئ په دنيا کي د نيکو اعمالو او نيکي عقيدې په درلودلو سره جنت ته ځي او کوم روحونه چي چپه خوا ته دي هغوئ په دنيا کي د خرابو عقېدو او بدو عملونو په اختيارولو سره دوږخ ته ځي .

او د حضرت ابرهيم علیه السلام سره په شپږم آسمان كي د ليدني يادونه يې وكړل، د حضرت شهاب رحمة الله عليه دغه روايت چي دا مفهوم ځيني اخيستل كيږي چي د معراج په شپه كي د حضرت ابراهيم علیه السلام د رسول الله ﷺ لېدنه په شپږم آسمان كي سوې وه ، دا د هغه روايت مطابق دی چي د حضرت انس علیه السلام ځخه يو بل راوي حضرت شريک نقل كړی دی، ددغه روايتو ځخه ماسوا د نورو ټولو روايتو ځخه دا ثابتيږي چي د حضرت ابراهيم علیه السلام سره ليدنه په اووم آسمان كي سوې وه كه دا وويل سي چي د معراج پېښنه تر يو وار زيات پېښنه سوې ده نو په دغه صورت كي د متضادو روايتو ځخه سوال نه پيدا كيږي مگر سوال هغه وخت پيدا كيږي كله چي دا وويل سي چي د معراج پېښنه يو وار پېښنه سوې ده لكه چي مشهور او معتمد قول دی ، په دغه صورت كي به د سوال جواب دا وي چي د معراج په اړه تر ټولو زيات قوي او صحيح روايت هغه دی چي په هغه كي بيان سوی دی چي رسول الله ﷺ د معراج په شپه كي حضرت ابراهيم علیه السلام وليدی نو هغه د بيت المعمور سره شا لگولې ناست وو او دا خبره بېله اختلافه ثابته ده چي بيت المعمور په اووم آسمان كي دی ، ددې ځخه ماسوا دلته راوي ويلي دي چي رسول الله ﷺ ټولو آسمانو ته د رسېدو او هلته د حضرت آدم علیه السلام او حضرت ادريس علیه السلام او نورو سره د ليدني ذكر وفرمايه مگر دهغه منازل او مقامات يې بيان نه كړل ، ددې ځخه دا خبره ثابتيږي چي راجح او د باور وړ روايت هغه گرځول كيږي چي په هغه كي د هر نبي او رسول په اړه وضاحت ذكر دی چي د كوم نبي سره په كوم آسمان كي ليدنه وسول، خلاصه دا چي د آسمانو په تعين او د نبيانو سره د ليدني په اړه په حديثو كي اختلاف تر لاسه كيږي او هغه اختلاف د راويانو د اشتباه په وجه دی او دا هم كېدای سي چي رسول الله ﷺ د حضرت ابراهيم علیه السلام سره په شپږم آسمان كي هم ليدلي وي او په اووم آسمان كي هم، ځكه په ځينو روايتو كي په شپږم آسمان كي د ليدني يادونه ده او په ځينو روايتو كي په اووم آسمان كي دليدني يادونه ده .

چي هلته د قلمونو د ليكني آواز راتلی، دا د صريف الاقلام يادونه ده، صريف الاقلام د قلم هغه آواز ته وايي چي د ليكني په وخت كي پيدا كيږي، مطلب دا چي رسول الله ﷺ ته نور عروج وسو نو هغه لوړ مقام ته ورسېدی چيري چي د قضاء او قدر قلم بوخت وو، ملائكي د الهي چارو په لېكنه او د الله جل جلاله د احكامو د لوح محفوظ ځخه په نقل كولو بوخت وې .

ځينو محققينو علماؤ د حديث ددغه جملې په وضاحت كي ليكلي دي چي د رسول الله ﷺ د ارشاد مقصد دادی چي ددغه تگ عروج په دوران كي هغه ځای ته بوتلل سو چيري چي د مرتبې د رفعت په سبب هغه ځای ته رسېدل هم په برخه سول چي د كائناتو د نظام قدرت، الهي

احکامو د صدرو او د مخلوق د تول نظم بیله تشبیه مرکزي دفتر او صدر مقام دی، هغه ځای ته د رسول الله ﷺ څخه وړاندي هیڅوا ته تګ په برخه سوی نه دی، پاته سوه دا خبره چي هغه قلمونه څرنګه وه او د هغه شکل څه وو، نو ددې علم د الله ﷻ او د هغه د رسول ﷺ څخه ماسوا بل چا ته معلوم نه دی، په دې اړه پلټنه کول پالتو دي، د قلم د حقیقت په اړه دا ښودل ضروري دي چي دا د هغه شي نوم دی چي د هغه څخه نقشونه او حروف پیدا کیږي او د هغه حقیقیت او حیثیت هر څه کېدای سي، د یو نوک لرونکي قلم په حقیقت کي داخل نه دی ځینو خلکو دلته د قلم په وضاحت کي د تاویل طریقه اختیار کړې ده او د هغه ظاهري معنی یې نه ده اخیستې مګر دا غیر مناسب خبره ده، یوازي په اعتقادي لحاظ د تاویل ګنجائش نسته، قلم دهغه پر ظاهري معنی محمول کول پکار دي او د قلم د وجود عقید درلودل ضروري دي او دا چي د هغه قلم د حقیقت او کیفیت عمل الله ﷻ ته وسپارل سي.

زما قول نه بدلیږي، ددغه الفاظو دوې معناوي کېدای سي یو خو دا چي ما د اجر او ثواب په اعتبار پنځه لمونځونه د پنځوسو لمونځو برابر کړه او په دې کي به هیڅ تبدیلي نه وي او دوهم دا چي ستا په وار وار ویلو سره ما د پنځوسو لمونځو پر ځای پنځه لمونځونه کړي دي او اوس به په دې کي څه کمي نه وي.

اوس زه د خپل پروردګار څخه شرمېږم، د رسول الله ﷺ مقصد دا وو چي کله الله ﷻ وفرمایل چي اوس په دې کي هیڅ تبدیلي نسته نو بیا دهغه په دربار کي حاضرېدل او د نوري کمي درخواست کول د حیاء خلاف دی، ددې څخه ماسوا ددې خبري څخه هم د رسول الله ﷺ شرم محسوس سو چي تر اوسه پوري مي د دومره کمی درخواست کړی دی او هر وار په رخصت اخیستلو سره راغلی یم او بیا په درخواست وړلو سره ورځم، نو رسول الله ﷺ، حضرت موسی ؑ ته په داګه وویل چي اوس زه د کمي خواست کولو لپاره نه ځم.

هلته ما د غمیانو ګنبده ولېدل، د مسلم په یوه روایت کي داسي بیان سوی دی چي ما د جنت لېدنه کول چي ناڅاپه مي یوه ویاله ولېدل چي د هغه پر دواړو څوندو باندي لوی لوی د غمیانو ګنبدي وې، او دا مي هم ولېدل چي د جنت خاوره مشک وه او د هغه خوشبویي داسي وه لکه چي د مشکو خوشبویي، یا دا چي د جنت خاوره په اصل کي مشک ده او د هغه خوشبویي دومره زیاته ده چي په یو حدیث کي فرمایل سوي دي چي د جنت خوشبویي د پنځه سوه کالو مسافت پوري رسیږي.

سدرة المنتهى

﴿٥٦١٥﴾: وَعَنْ عَبْدِ اللَّهِ بْنِ مسعود قال لَمَّا أُسْرِيَ بِرَسُولِ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ

د حضرت عبدالله بن مسعود رضي الله عنه څخه روايت دی چي کله رسول الله ﷺ د شپې بوتلل سو

عَلَيْهِ وَسَلَّمَ انْتُهِيَ بِهِ إِلَى سِدْرَةِ الْمُنْتَهَى وَهِيَ فِي السَّمَاءِ السَّادِسَةِ إِلَيْهَا

نو سدرة المنتهى ته ورسول سو او سدرة المنتهى په شپږم آسمان کي ده او د مځکي څخه چي

يَنْتَهِي مَا يُعْرَجُ بِهِ مِنَ الْأَرْضِ فَيُقْبَضُ مِنْهَا وَإِلَيْهَا يَنْتَهِي مَا يُهْبَطُ بِهِ مِنْ

کوم شی پورته ويوړل سي هغه تر دې سدرة المنتهى پوري رسيږي او د دې ځای څخه هغه
بلا واسطه پورته وړل کيږي او که يو شی

فَوْقِهَا فَيُقْبَضُ مِنْهَا قَالَ إِذْ يَغْشَى السِّدْرَةَ مَا يَغْشَى قَالَ فَرَاشٌ مِنْ ذَهَبٍ

د لوړه څخه راکښته کيږي نو هم دغه درختي ته راورسيږي، د دې څخه وروسته ابن مسعود دا
آيت تلاوت کړ: (اذ يغش السدرة ....) هغه وخت چي پټه کړه سدره لره کوم شی چي پټه

قَالَ فَأُعْطِيَ رَسُولُ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ ثَلَاثًا أُعْطِيَ الصَّلَوَاتِ الْخَمْسَ

کړه، او ويلي دي رسول الله ﷺ هغه شی چي سدرة المنتهى يې پټه کړې ده د سروزرو پتنګان
دي، د دې څخه وروسته ابن مسعود بيان وکړ چي

وَأُعْطِيَ خَوَاتِيمَ سُورَةِ الْبَقَرَةِ وَغُفِرَ لِمَنْ لَمْ يُشْرِكْ بِاللَّهِ مِنْ أُمَّتِهِ شَيْئًا
الْمُقْحِمَاتُ. رواه مسلم.

د معراج په شپه رسول الله ﷺ ته درې شيان ورکړل سول: پنځه لمنځونه، د سورة بقرې آخري اياتونه
ورکړل سول، او د امت محمدي لوی ګناهونه معاف کړل سول. مسلم.

تخريج: صحيح مسلم ۱۱ /۱۵۷، رقم: ۲۷۹ - ۱۷۳.

د لغاتو حل: المقحمات: اي الكبائر المهلكات. (لوی ګناهونه)

تشريح: سدرة المنتهى په شپږم آسمان کي ده، د دغه جملې په اړه ځينو شارحينو ويلي دي چي
دا د يو راوي وهم دی يعني په اصل حديث کي د حضرت ابن مسعود رضي الله عنه څخه سدرة المنتهى په

اووم آسمان کي ذکر سوې ده مګر د هغه وروسته يو راوي په غلط فهمۍ سره يا په هېره د شپږم آسمان ذکر وکړ، تحقيقي خبره داده چي سدرة المنتهى په اووم آسمان کي ده، جمهورو راويانو دا نقل کړي دي، قاضي رحمة الله عليه وويل: دا خبره زياته صحيح ده چي سدرة المنتهى په اووم آسمان کي ده د اکثرو علماؤ او محققينو همدغه قول دی، يو بل لوی محقق او محدث خليل ويلي دي: سدرة المنتهى په اووم آسمان کي ده چي پر ټولو آسمانو او جنت باندي خپره سوې ده، امام نووي رحمة الله عليه ويلي دي: که چيري دا ومنل سي چي په دغه حديث کي د شپږم آسمان ذکر د يو راوي وهم نه دی بلکه د روايت اصل الفاظ دي نو په دغه صورت کي د دغه روايت او د هغه روايتو چي په هغو کي سدرة المنتهى په اووم آسمان کي ذکر دی، داسي مطابقت پيدا کړل سي چي د سدرة المنتهى ريښې په شپږم آسمان کي دي ځکه پر هغه د شپږم آسمان ذکر سوی دی، د سدرة المنتهى اصل ظهور او ښاخونه په اووم آسمان کي دي ځکه په ډېرو روايتو کي داسي ذکر سوي دي چي هغه په اووم آسمان کي ده.

هغه پر دغه سدرة المنتهى باندي ختميږي ...الخ: ددغه ټول عبارت مطلب دادی چي د مځکي څخه کوم شيان يعني د بندګانو اعمالو او دهغوئ روحونه د ملائکو په ذريعه لوړ وړل کيږي هغه ټول پر دغه سدرة المنتهى باندي درول کيږي، تر دې وړاندي ملائکو ته د تللو اجازه نسته ځکه د دغه ځای څخه هغه شيان د ملائکو پرته الله جل جلاله په خپل قدرت سره پورته کوي، همدارنګه کوم شيان چي د الله جل جلاله څخه پر مځکه نازليږي لکه اوامر، احکام، هغه ټول د لوړي خوا څخه په راتللو سره پر سدرة المنتهى باندي دريږي او هلته متعين ملائکي هغه شيان اخلي او لاندي يې رسوي، نو د مخلوق د علومو او د ملائکو د عروج آخري حد سدرة المتهى ده د دې څخه مخکي او د لوړ اجازه مقربو ملائکو ته هم نسته، دا يوازي زموږ د حضرت محمد صلى الله عليه وسلم ذات دی چي د سدرة المنتهى څخه هم د مخکي تللو شرف ور په برخه سو، بلکه رسول الله صلى الله عليه وسلم هغه مقام ته تشريف يووړ چي د لامکان څخه هم ماوراء دی.

هغه وخت چي سدرة المنتهى يې پټه کړل کوم شی چي پټه کړل، دا د دغه آيت کريمه (اذ يغشى السدرة ...الغ) ژباړه ده، چي حضرت عبدالله ابن مسعود رضي الله عنه د سدرة المنتهى د ذکر په مناسبت ووايه، يعني الله جل جلاله هم دغه شی مبهم وساتی کوم شی چي سدرة المنتهى پټه کړې ده او په دې کي دې ته اشاره ده چي هغه يو داسي شی دی چي د هغه په حقيقت هيڅوک نه سي پوهېدلای او نه څوک دا ښودلای سي چي هغه شی په مقدار او شمېر کي څومره دی او د کيفيت په اعتبار څرنګه دی او د مبهم انداز بيان مقصد د هغه شي مقصد او کثرت بيانول دي او په

مخکني حديث کي د رسول الله ﷺ ددغه الفاظو (لا ادري ما هيئته) زه نه پوهيږم چي د هغه هيئت څه وو، څخه هم دا مراد دی، نه دا چي واقعي د علم او ادراک نفي مراد ده ، په يو بل روايت کي د سدرة المنتهى په اړه دا راغلي دي چي د هغې پر هره پاڼه يوه ملائکه ولاړه ده چي د الله ﷻ په تسبيح کي بوخته ده او په يوه روايت کي داسي دي چي د هغه پر ښاخونو او پاڼو باندي شنه مرغان جمع دي، ځينو حضراتو ويلي دي چي هغه شنه مرغان په اصل کي د انبياء عليهم السلام او اولياء الله روحونه دي .

هغه شی د سرو زرو پتنګان دي، د حضرت ابن مسعود ﷛ د هغه شي د سرو زرو په پتنګانو سره تعبير کول د هغه حقيقت او ماهيت بيانولو لپاره نه دي چي هغه شی په حقيقت کي د سروزرو پتنګان دي بلکه دا خو هغه محض د تشبيه په توګه ذکر کړي دي، مطلب دا چي بې شمېره ملائکي پر سدرة المنتهى باندي تاکل سوي دي ، د هغوئ د ډېرښت ځلا داسي معلوميږي لکه د سروزرو پتنګانو چي سدرة المنتهى پټه کړې وي او په دغه تعبير کي د فراش استعمال پر سدرة باندي د نازلېدونکي نور اقدس حق تعالى په اړه د هغه ملائکي حيراني او سرګرداني ته اشاره کوي ، په يوه روايت کي د جراد من ذهب، د سرو زرو د ملخانو الفاظ هم راغلي دي او دا هم د تمثيل او تشبيه په توګه دي ځکه کله چي ملخان پر يوې درختي باندي ودرېږي نو سربېره تر ټوله درخته د هغه لاندي پټه سي، همدارنګه د من ذهب الفاظ هم د ځلا څخه کنايه ده او کېداى سي چي ددغه الفاظو ظاهري او حقيقي معنى مراد وي يعني هغه پتنګان يا ملخان په حقيقت کي د سرو زرو وي ځکه چي د الله ﷻ د قدرت څخه هيڅ شی وتلی نه دی .

د معراج په شپه رسول الله ﷺ ته دري شيان ورکړل سول، حقيقت دا دی چي په دغه شپه کي علم او عمل، معرفت او حقائق د اسراء ، فيوض او انورو برکاتو د ډول څخه دي چي عظيمي خزانې رسول الله ﷺ ته ورکړل سوې، د هغه لامحدوديت د حصر او شمار څخه لوړ دی، دغه درې شيان خو حضرت ابن مسعود ﷛ هغه بيان کړي دي چي د امت د تعلق څخه خاص شرف او کرامت لري او د هغه د خاص ارزښت په اعتبار د هغو ذکر کېدل ضروري هم وه .

د سورة بقرې آخري آياتونه ورکړل سول، دلته د آمن الرسول څخه تر پايه پوري آياتونه مراد دي، او د معراج په شپه ددغه آياتونو د ورکول کېدو مطلب دا دی چي الله ﷻ ددغه دعاګانو د قبوليت پروانه ورکړل کوم چي په دغه آياتو کي مذکور دي، نو دا روايت د هغه روايت خلاف نه دی چي په صحيح مسلم او نورو کتابو کي منقول دي چي يوه ورځ حضرت جبرائيل ﷺ د رسول الله ﷺ سره ناست وو چي هغه ناڅاپه د دروازې خلاصېدو آواز واورېدی ، حضرت جبرائيل ﷺ

لوړ وکتل او بیا یې وویل: دا یوه ملائکه ده چې د نن څخه مخکې هیڅکله مځکې ته نه وه راغلې ، ددې وروسته هغه نوي ملائکي رسول الله ﷺ ته سلام وکړ او رسول الله ﷺ ته یې وویل: تاسو ته دې مبارک وي ، ما دا زیری راوړی دی چې تاسو ته هغه دوه نورونه درکړل سوي دي چې ستاسو څخه مخکې هیڅ نبي ته نه دي ورکړل سوي، یو خو فاتحة الکتاب یعني سورة فاتحه او دوهم د سورة بقره آخري آیاتونه، تاسو چې ددغه دواړو څخه کوم حرف وایاست د هغه په عوض به ونازول سئ ، ګویا د معراج په شپه ددغه آیاتونه ورکول د هغه الهي ورکړې یوه برخه وه چې په هغه سره په دغه ارزښتناک وخت کې نازول سوی دي او د هغه یو یادګار پنځه لمونځونه دي، د مسلم او نورو په دغه روایت کې چې څه بیان سو یدي د هغه مقصد دادی چې د ملائکي د آسمان څخه راکښته کېدل رسول الله ﷺ ته د معراج په شپه کې د ورکړل سوي دغه آیاتونو ارزښت او فضیلت څرګندولو او زیري ورکولو لپاره وو چې رسول الله ﷺ ته تر ټولو لوی شی ورکړل سوی دی، د رسول الله ﷺ څخه مخکې هیڅ نبي ته نه دی ورکړل سوی، په دغه صورت کې د دواړو روایتو په منځ کې سوال نه پیدا کیږي،

مګر دلته یو مشکل پیدا کیږي چې سورة بقره هغه سورت دی چې مدني ورته ویل سوي دي یعني دغه سورت په مدینه منوره کې نازل سوی دی حال دا چې د معراج پېښه د هجرت څخه مخکې د مکې مکرمې د هستوګنې په وخت کې رامنځته سوې ده ، په نورو الفاظو د سورة بقره د آیاتونو د معراج په شپه کې د ورکول کېدو مطلب دا سو چې دغه آیاتونه مدني نه دي بلکه مکي دي، ددې جواب محدثینو او شارحینو دا ورکړی دی چې سورة بقره ته په دې لحاظ مدني نه دي ویل سوي دي چې د پیل څخه تر پایه پوري ددغه سورت ټول آیاتونه په مدینه کې نازل سوي دي بلکه په دې اعتبار ورته ویل سوي دي چې ددغه دواړو آیاتو څخه پرته نور ټول آیاتونه په مدینه کې نازل سوي دي .

ابن ملک رحمة الله علیه د حسن، ابن سیرین او مجاهد رحمة الله علیهم څخه دا قول نقل کړی دی چې الله جل جلاله د سورة بقره وحي د حضرت جبرائیل علیه السلام څخه پرته د معراج په شپه په خپله ورکړې دي،د دې مطلب دا سو چې ددغه حضراتو په نزد ټول سورة بقره مکي دي مګر د جمهورو مفسرینو او محدثینو قول دادی چې دغه ټول سورت مدني دی او ددغه قول په رڼا کې ددغه روایت مفهوم چې د سورة بقره آخري آیاتونه د معراج په شپه کې ورکړل سول، ددې دا وضاحت وکړل سي چې د ورکول کېدو مطلب دا نه دي چې بذات خود دغه آیاتونه د معراج په شپه کې رسول الله ﷺ ته ورکړل سول بلکه مطلب دادی چې د آیاتونو الفاظ (غفرانک ...ترپایه) چې

کومه دعاء تقلین کړل سوې ده ، رسول الله ﷺ او ددغه آیاتونو ویونکو په حق کې ددغه دعاء د قبلېدو فضیلت د معراج په شپه کې ورکړل سو .

او د رسول الله ﷺ د امت څخه د هغه سړي د لویو ګناهو معافي ورکړل سول...الخ، ددې مطلب دادی چې د معراج په شپه د امت د بخښنې وعده وسول یعني دا چې الله ﷻ چا ته وغواړي بېله عذابه یې هم وبخښي که څه هم هغه د ګناه کبیر کونکی وي مګر شرط دادی چې هغه شرک نه وي کړي ، الله ﷻ وفرمایل: (ان الله لایغفر ان یشرک به ویغفر ما دون ذلک لمن یشاء)، الله ﷻ هغه ګناه نه بخښي چې څوک د هغه سره شریک جوړ کړل سي او ددې څخه ماسوا (نوري ګناوي) کله چې وغواړي بخښي یې .

نو د حدیث ددغه جملې څخه دا ګڼل نه دي پکار چې د لویو ګناهو کونکي ته څرګنده معافي ورکړل سول او هیڅ مؤمن او موحد به د عذاب سره مخامخ نه سي ځکه چې ددغه مؤمنانو او مؤحدینو په عذاب کې اخته کېدل چې د لویو ګناهو کونکي وي ، په نصوص شرعیه او اجماع ثابت دي ، پاته سو دا سوال که چیري د لویو ګناه کونکي د بخښنې تعلق د الله ﷻ د رضا سره دی نو بیا په حدیث کې ددې ذکر ولې ونه سو؟ ددې جواب دادی چې د مغفرت انحصار د الله ﷻ پر خوښه کېدل یوه څرګنده خبره ده چې د هغه علم د مخکې څخه ټولو ته حاصل دی ځکه د الله ﷻ د خوښې د ذکر کولو اړتیا محسوس نه کړل سول ، ابن حجر رحمة الله علیه دا لیکلي دي چې د لویو ګناهو د بخښې څخه مراد دادی چې په مؤمنانو کې هیڅوک د تل لپاره په دوږخ کې نه ساتل کیږي که څه هم هغه هر څومره لوی ګناه کړې وي ، حال دا چې مشرکان به تل په دوږخ کې وي مګر ملا علي قاري رحمة الله علیه د ابن حجر رحمة الله علیه پر دغه خبره باندي وار کړی دی ، دهغه وینا ده چې په دغه صورت کې نه خو ددغه امت ځانګړتیا پاته کیږي او نه د هغه د مرتبې لوړوالی څرګندیږي. نو دا ویل زیات مناسب معلومیږي چې د بخښې څخه مراد د امت محمدیه زیاتو کسانو ته د بخښې ورکول دي یعني د نورو امتونو په مقابله کې دغه ځانګړتیا به د رسول الله ﷺ امت ته تر لاسه وي چې د هغه د امت زیات خلک به د خاص رحمت په وجه وبخښل سي او دوئ ته به عذاب نه ورکول کیږي او په دې اعتبار دغه امت ته امت مرحومه ویل سوي دي .

د قریشو پر سوال باندي بیت المقدس د رسول الله ﷺ مخته راوستل سو

﴿۵۶۱۶﴾: وَعَنْ أَبِي هُرَيْرَةَ قَالَ قَالَ رَسُولُ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ لَقَدْ

د حضرت ابوهريره رضي الله عنه څخه روايت دئ چي رسول الله ﷺ وفرمايل :

رَأَيْتُنِي فِي الحِجْرِ وَقُرَيْشٌ تَسْأَلُنِي عَنْ مَسْرَايَ فَسَأَلَتْنِي عَنْ أَشْيَاءَ مِنْ

ما خپل ځان په حجر (حطيم) کي وليدی په داسي حال کي چي زه ولاړ يم او قريشو زما څخه شب معراج ته زما دتلو حال وغوښتی هغوئ زما څخه

بَيْتِ المَقْدِسِ لَمْ أُثْبِتْهَا فَكُرِبْتُ كُرْبَةً مَا كُرِبْتُ مِثْلَهُ فَرَفَعَهُ اللّٰهُ لِي أَنْظُرُ

د بيت المقدس شيان او نښو پوښتني کولې چي ما ته ياد نه وه ، ددې سره زه ډير غمگين او پريشانه سوم چي دومره غمگين او پريشانه هيڅکله نه وم سوی نو الله تعالی بيت المقدس

إِلَيْهِ مَا يَسْأَلُونِي عَنْ شَيْءٍ إِلَّا أَنْبَأْتُهُمْ وَقَدْ رَأَيْتُنِي فِي جَمَاعَةٍ مِنَ الأَنْبِيَاءِ

پورته کړ او هغه زما مخته راغلی ما هغه ته کتل او هغوئ چي زما څخه کومي پوښتني کولې د هغو جواب به مي ورکوی او ما خپل ځان په شب معراج کي د انبياؤ په ډله کي وليدی

فَإِذَا مُوسَى قَائِمٌ يُصَلِّي فَإِذَا رَجُلٌ ضَرْبٌ جَعْدٌ كَأَنَّهُ مِنْ رِجَالِ شَنُوءَةَ وَإِذَا

ما ناڅاپه وليدل چي موسی عليه السلام ولاړ دی لمونځ کوي ما وليدل چي موسی عليه السلام د يو متوسط قد سړی دی غونډ بدن ولول وريښتان لکه د قبيله شنوءيو سړی دی ،

عِيسَى ابْنُ مَرْيَمَ عَلَيْهِ السَّلَامُ قَائِمٌ يُصَلِّي أَقْرَبُ النَّاسِ بِهِ شَبَهًا عُرْوَةُ بْنُ

ناڅاپه زما نظر پر عيسی عليه السلام پريوتی چي ولاړ وو لمونځ يې کوی په شکل او صورت کي د هغه سره زيات مشابه عروه بن

مَسْعُودٍ الثَّقَفِيُّ وَإِذَا إِبْرَاهِيمُ عَلَيْهِ السَّلَامُ قَائِمٌ يُصَلِّي أَشْبَهُ النَّاسِ بِهِ

مسعود ثقفي دی ، بيا ما ناڅاپه ابراهيم عليه السلام پر لمانځه وليدی چي د هغه سره ستاسو دوست

صَاحِبُكُمْ يَعْنِي نَفْسَهُ فَحَانَتِ الصَّلَاةُ فَأَمَمْتُهُمْ فَلَمَّا فَرَغْتُ مِنَ الصَّلَاةِ

(يعني خپله رسول الله ﷺ) زيات مشابه دی بيا دلمانځه وخت سو او زه د هغوئ ټولو امام جوړ سوم کوم وخت چي ما لمونځ ورکړ نو

قَالَ قَائِلٌ يَا مُحَمَّدُ هَذَا مَالِكٌ خَازِنُ النَّارِ فَسَلِّمْ عَلَيْهِ فَالْتَفَتُّ إِلَيْهِ فَبَدَأَنِي بِالسَّلَامِ. رواه مسلم. و هذا الباب خال عن الفصل الثاني.

يو سړي ما ته وويل اې محمد ﷺ! دا د دوږخ ساتونکی موجود دی ده ته سلام وکړه ما هغه ته وکتل نو هغه را باندي په سلام کښي مخکښي سو. مسلم.

تخريج: صحيح مسلم ١٥٦/١، رقم: ٢٧٨- ١٧٢.

د لغاتو حل: ضرب: ای نوع وسط (درمیانه)

تشريح: ما خپل ځان د نبیانو په ډله کي ولیدی، دغه خبره رسول الله ﷺ د هغه وخت کړې ده کله چي د معراج په شپه د مکې څخه روان سو او آسمانو ته د تللو څخه مخکښي بیت المقدس ته ولاړی، د علماؤ او محققینو په اتفاق وینا ده چي دغه لیدل د هغه د لیدو څخه ماسوا دي کوم چي په آسمانو کي وو، مطلب دا چي یو وار خو رسول الله ﷺ، نبیان په مسجد اقصی کي هغه وخت ولیدل کله چي رسول الله ﷺ آسمانو ته د تللو څخه مخکښي بیت المقدس ته ولاړی او بیا یې هغه نبیان په آسمانو کي ولیدل او د هغوئ سره یې لیدنه وکړل، او ځینو حضراتو ویلي دي چي د نبیانو په آسمانو کي لیدل د هغوئ پر روحو محمول دی یعني هغه نبیان په آسمان کي د خپلو جسمو سره نه وه بلکه د هغوئ روحونه هلته راجمع سوي وه مګر د حضرت عیسی ﷺ ذات مستثنی دی ځکه چي د هغه په اړه دا ثابته ده چي هغه د خپل بدن سره آسمان ته خېژول سوی دی او هلته موجود دی، همدارنګه ځینو حضراتو د حضرت ادریس ﷺ په اړه هم دا ویلي دي، پاته سوه د مسجد اقصی خبره چي هلته لمونځ کول پر کوم صورت باندي محمول دي، نو دا هم کیدای سي چي محض د هغوئ روحونو لمونځ کړی وي او دا هم کېدای سي چي هغوئ دخپلو بدنو او روحو سره لمونځ کړي وای،

دغه دوهم احتمال هغه قیاس ته نژدې دی چي نبیان د خپل پروردګار په نزد ژوندي دي او الله ﷻ د نبیانو بدنونه خوړل پر مځکه حرام کړي دي، یعني د الله ﷻ په حکم سره مځکه د نبیانو بدن نه خوري او هغوئ په خپلو قبرو کي همدارنګه موجود دي او د هغوئ بدن د عامو بدنونو په ډول کثیف نه دي بلکه د روحونو په ډول لطیف دي، نو د قادر مطلق الله ﷻ د قدرت په وجه په ملکوت کي چیري چي د هغوئ په حاضرېدو او جمع کېدو کي یو شی مانع نه دي خپله د حدیث هغه الفاظ هم چي په هغه کي د حضرت موسی او عیسی علیهما السلام د لمانځه کولو

یادونه ده ، ددې خبري تائید کوي چي انبیاء علیهم السلام د لمانځه کولو پر وخت په بیت المقدس کي د خپلو بدنو او روحو دواړو سره موجود وه، ځکه چي د لمانځه مقصد دادی چي هغه مختلف افعال چي د بدن په اندامو صادرېږي نه محض په روح سره ،

دلته یو سوال پیدا کېږي چي کله رسول الله ﷺ هغه نبیان په مسجد اقصی کي په لمانځه کولو لیدلي وه بلکه هغوئ ته یې لمونځ ورکړی وو نو بیا یې هغوئ په آسمانو کي څرنګه ولېدل؟ ددې جواب دادی چي مخکي هغه نبیان په مسجد اقصی کي په رسول الله ﷺ پسي لمونځ وکړ او بیا هغوئ د رسول الله ﷺ د ښه راغلاست او تکریم لپاره آسمانو ته ورسول سول، یا دا چي په مسجد اقصی کي د لمانځه کولو وروسته د هغوئ روحونه په آسمانو کي متشکل کړل سول چي رسول الله ﷺ هلته ملاقات ورسره وکړ، مګر حضرت عیسی علیه السلام او حضرت ادریس علیه السلام د خپلو بدنو سره په آسمانو کي وه او دا هم کېدای سي چي هغه نبیانو ته د رسول الله ﷺ د لمانځه ورکولو او د هغوئ سره د جمع کېدو پېښه د سدرة المنتهی څخه د ستنېدو وروسته پېښه سوې وي مګر په دې اړه صحیح خبره داده چي الله جل جلاله قادر مطلق دی د هغه د قدرت څخه هیڅ شی وتلی نه دی هغه چي څرنګه وغوښتل د خپل قدرت کړنه یې ظاهره کړل ، که اولیاء الله په ډېرو صورتو سره په مختلفو ځایو کي خلګ لیدلای سي نو د انبیاؤ سره د داسي صورت په پېښېدو کي څه لیري والي دی او خوارق عادات یعني د معجزو او کراماتو مطلب هم دادی چي کوم شی په عقل او قیاس کي راتلای نه سي هغه د الله جل جلاله په قدرت سره څرګند سي .

حضرت موسی علیه السلام یو میانه قده سړی معلومیدی، دلته میانه قد د جعد معنی ده ، ددغه لفظ په لغت کي مختلفي معناوي دي چي په هغو کي یوه معنی د میانه قد ده، دوهم د سپک یعني ګردي، په دغه صورت کي به مطلب دا وي چي حضرت موسی علیه السلام د ټېنګ بدن خاوند وو او دریم د پېچلو وېښتانو والا ، مګر څرنګه چي ځینو حضراتو ویلي دي ددغه دریمي معنیٰ اطلاق پر حضرت موسی علیه السلام مناسب نه دي ځکه چي د نورو روایتو څخه ثابته ده چي د حضرت موسی علیه السلام وېښتان پېچل سوي نه وه بلکه د سېده وېښتانو خاوند وو .

کله چي د لمانځه وخت سو نو زه د هغوئ ټولو امام سوم، دلته د هغه نبیانو په مسجد اقصی کي جمع کېدل او لمونځ کول دې خبري ته اشاره کوي چي لمونځ په اصل کي د مؤمن معراج دی یعني دا هغه عبادت دی چي بنده د خپل خالق سره یو ځای کوي او د عبودیت تر ټولو لویه مرتبه ورکول کېږي ځکه چي د خپل رب په وړاندي حضور او د پروردګار د قرب حالت په دغه عبادت سره تر لاسه کېږي او دغه حالت د عاشقانو په نزد تر ټولو لوی خوند او تر ټولو

زيات كيف لرونكى وي، د حديث د الفاظو څخه په ښكاره دا معلوميږي چي رسول الله ﷺ هغه نبيانو ته لمونځ د آسمان څخه تلو مخكي په بيت المقدس كي وركړى دى او دا هم كېداى سي چي د هغه نبيانو لمونځ كول او د رسول الله ﷺ د امامت پېښنه پر آسمان باندي هم پېښنه سوې ده ، كه څه هم دحديث الفاظ دې ته اشاره نه كوي بلكه ددغه پېښي په بيت المقدس كي پېښېدل مراد اخيستل كيږي او دغه لمونځ چي امامت يې رسول الله ﷺ وكړ يا د تحيې لمونځ وو يا د معراج په مناسبت سره هغه خاص لمونځ وو چي يوازي په هغه وخت كي وكړل سو، دلته هم دا سوال پيدا كيږي چي د مكې څخه تر بيت المقدس پوري او د هغه ځاى څخه تر آسمانو پوري د معراج ټوله پېښنه ددغه دنيا څخه ماوراء د عالم ملكوت سره تعلق لري او هغه د عالم عبادات او اعمالو هيڅ ذمه داري او مسئوليت نه عائد كوي نو بيانبيانو لمونځ ولي وكړ، ددې جواب دادى چي لومړى خو ټول انبياء عليهم السلام د خپل حقيقي ژوند سره ژوندي دي او كله چي هغوئ ژوندي دي نو ځكه كېداى سي چي هغوئ د لمونځ د ادا كولو مكلف ګرځول سوي وي، دوهم دا چي په دغه عالم كي د لمانځه يا بل عبادت وجوب بېله شكه پورته سوى دى مګر دهغه وجود نه دى پورته سوى.

مګر په سلام كولو كي هغه وړاندي سو، يعني د رسول الله ﷺ شان رحمت د دوږخ پر اور او د دوږخ پر څارونكو باندي غالب دى نو د رسول الله ﷺ ددغه لوړوالي او غوره والي په وجه د دوږخ څارونكي په وړاندي كېدو سره سلام وكړ، په ښكاره دا معلوميږي چي دغه پېښنه په آسمان كي رامنځته سوې ده لكه چي د ژباړي په دوران كي هم اشاره وسول.

وهذا الباب خال عن الفصل الثاني = په دې باب كي دويم فصل نسته

اَلْفَصْلُ الثَّالِث (دريم فصل)

بيت المقدس د رسول الله مخته راوستل سو

﴿۵۶۱۷﴾: عَنْ جَابِرٍ اَنَّهُ سَمِعَ رَسُولَ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ يَقُولُ لَمَّا كَذَّبَتْنِي قُرَيْشٌ قُمْتُ فِي الْحِجْرِ فَجَلَا اللّٰهُ لِي بَيْتَ الْمَقْدِسِ فَطَفِقْتُ أُخْبِرُهُمْ عَنْ آيَاتِهِ وَاَنَا اَنْظُرُ اِلَيْهِ. متفق عليه.

د حضرت جابر رضي الله عنه څخه روايت دى چي هغه د رسول الله ﷺ څخه اوريدلي دي هر كله چي قريشو د

معراج په اړه زه د رواغجن وبللم نو زه په مقام حجر كي ودريدم او الله تعالى بيت المقدس زما نظر ته مخامخ كړ ما بيت المقدس ته كتل او هغوئ ته به مي جواب وركوى. بخاري او مسلم

تخريج: صحيح البخاري (فتح الباري): ۱۹۶۱۷، رقم: ۳۸۸۶، ومسلم ۱۵۶۱۱، رقم: ۲۷۶-۱۷۰.

تشريح: الله ﷻ بيت المقدس زما مخته راوست: ددې مطلب دادى چي په هغه وخت كي كله چي د مكې قريشو د بيت المقدس د عمارت او نښو په اړه زما څخه پوښتني كولې او زما په ذهن كي د بيت المقدس ټوله نقشه او د هغه د نښو نه خوندي كېدو په وجه ما هغه عمارت د دوهم وار لېدو څخه ماسوا د هغوئ د سوالو جوابونه نه سوه وركولاى، نو قادر مطلق زما داسي مرسته وكړل چي زما او د بيت المقدس په منځ كي ټولي فاصلې يې راټولي كړلې او زما د ستركو په وړاندي يې هغه ټول خنډونه ليري كړل كوم چي زما او د بيت المقدس په مخكي وه، او ما داشتباه او احتمال څخه پرته د هغه يو يو شى په ښه ډول لېدو سره د مكې د قريشو د يوه يوه سوال بالكل صحيح جواب وركولو باندي قادر سوم، او دا هم كېداى سي چي د بيت المقدس په پورته كولو سره راوړل سوى وي او د رسول الله ﷺ په وړاندي اېښودل سوى وي لكه چي په يوه روايت كي چي د حضرت ابن عباس رضي الله عنهما څخه منقول دى، بيان سوي دي چي رسول الله ﷺ وفرمايل: مسجد اقصى په پورته كولو سره راوستل سو او د دار عقيل سره كېښېښودل سو، او حقيقت دادى چي د معجزې په ظهور كي كامل صورت هم دادى لكه چي د حضرت سليمان عليه السلام په واقعه كي ثابته ده چي د بلقيس تخت په يوه ګړي كي د حضرت سليمان عليه السلام مخته راوړل سول، د معراج باب پاى ته رسېږي مګر د كتاب مؤلف په دغه باب كي داسي حديث نقل نه كړ چي په هغه كي د الله ﷻ په دربار كي د رسول الله ﷺ د حاضرېدو او د الله ﷻ د لېدو ذكر وي، د علماؤ په دې اړه اختلاف دى چي رسول الله ﷺ ته د معراج په شپه كي د الله ﷻ ليدنه په برخه سوې كه يا، او كه تر لاسه سوې وي نو هغه د سر په ستركو وه او كه د زړه په ستركو سره، څرګنده دي وي چي د زړه په ستركو لېدل يو بېل شى دى او پوهېدل يو بل شى دى، ځينو حضراتو چي په هغو كي صحابه كرامو او تابعين هم دى، دا ويلي دي چي رسول الله ﷺ ته د معراج په شپه كي د الله ﷻ ليدنه په برخه سوې ده مګر هغه بصري نه وو بلكه قلبي وو، مګر رسول الله ﷺ د زړه په ستركو سره ولېدى د سر په ستركو نه، حال دا چي د جمهورو صحابه كرامو او تابعينو مذهب دادى چي رسول الله ﷺ خپل پروردګار د سر په ستركو سره ولېدى او د محققينو په نزد دغه قول راجح او حق دى، ددغه مسئلې تفصيل د الله ﷻ د ليدني په باب كي مخكي تېر سوى دى.

بَابُ فِي الْـمَعْجُزَاتِ

(د معجزو بیان)

معجزات د معجزة جمع ده او معنی یې د هغه نادره عادت ده چې الله ﷻ یې د یو نبي او رسول په لاس ښکاره کړي او نور خلګ د هغه څخه عاجز وي، د معجزې لفظ په اصل کې د عجز څخه مشتق دی چې د هغه معنی د ناتوانه کېدو ده، او د حزم (قادر کېدو) ضد دی. ددغه لفظ څخه معجز جوړ سوی دی چې د هغه معنی د عاجز کونکي ده، الله ﷻ د خپلو نبیانو او رسولانو د ریښتوني ثابتولو لپاره او د هغوئ دنبوت او رسالت ددلیل په توګه چې کومې نادره نښې ښکاره کوي هغه ته معجزه په دغه مناسبت سره ویل کیږئ چې د کوم نبي او رسول په لاس یوه معجزه ښکاره کیږي د هغه امت او د هغه د قوم خلګ نه یوازې دا چې په مقابل کې د هغه معجزې په ډول د یو نښې ښودلو او وړاندې کولو څخه عاجز وي بلکه که څوک غواړي چې هغه معجزه ماته کړي نو دا هم ممکن نه ده.

شیخ عبدالحق محدث دهلوي رحمة الله علیه لیکلي دي چې د معجزة لفظ د اعجاز څخه مشتق دی چې د هغه معنی د عاجز کولو ده، او معجزه هغه شي ته وایي چې خارق عادت وي او په هغه سره د نبوت او رسالت دعوه ثابتیږي او کوم خوارق عادات چې د نبوت د ظهور څخه مخکې ظاهریږي هغه ته معجزات نه وایي بلکه ارهاصات ورته وایي چې د ارهاص جمع ده، د ارهاص لغوي معنی په خښته، خاوره او ډبري سره د ټینګولو ده، نو د نبوت د ظهور څخه مخکې ظاهرېدونکي خوارق عادات ګویا د نبوت او رسالت د عمارت د ټینګولو ابتدائي ذریعه وي.

د خوارق عادات ډولونه: خارق عادت، یعني د داسي شي پېښېدل چې د روان نظام څخه خلاف او د عادت خلاف وي او هغه عجیبه ګڼل کیږي، ددې مختلف ډولونه دي او په دې اعتبار د هغه بېل بېل ډولونه دي او بیا دغه ډولونه په جلا جلا نومو سره تعبیر سوي دي چې د ټولو خپل خپل حیثیت هم متعین سي او د یو بل څخه ممتاز هم سي، د عادت خلاف کړنو لومړی ډول هغه دی چې د نبي او رسول څخه ښکاره کیږي او هغه ته معجزه وایي، دوهم ډول هغه دی چې د عامو مسلمانانو څخه ښکاره کیږي چې هغه ته معونت ویل کیږي، دریم ډول هغه دی چې داولیاء الله څخه ښکاره کیږي او هغه ته کرامت وایي، څلورم ډول هغه دی چې د کافرانو او فاسقانو څخه ښکاره سي دې ته استدراج ویل کیږي، ددې څخه معلومه سوه چې په دغه څلورو

ډولو کي د لومړي ډول څخه ماسوا پاته درې ډولونه د خپل مفهوم او مصداق په اعتبار د نبوت د دعوې د قید څخه وتلي یعني په دغه درو ډولو کي هیڅ یوه ته هم معجزه نه سي ویل کیدای ځکه چي معجزه هغه د عادت خلاف کار دی چي د نبوت په دعوه سره وي.

سحر د عادت خلاف نه دی: شعبده او سحر یعني جادو ته د عادت خلاف نه سي ویل کیدای ځکه چي د سحر صدور او ظهور د ظاهري اسبابو تابع وي او یو سړی په دغه اسبابو کي د مهارت په تر لاسه کولو سره سحر او جادو ښکاره کوي نو کوم شی چي د ظاهري اسبابو په ذریعه په وجود کي راسي پر هغه د خرق عادت اطلاق نه سي کېدای، په دې وجه د رملنو او طبي تدابیرو ته هم خارق عادت نه سي ویل کیدای، که څوک دې ته خارق عادت وایي نو د ظاهري صورت په اعتبار به وي.

اَلْفَصْلُ الْأَوَّلُ (لومړی فصل)

د غار ثور واقعه

﴿۵۶۱۸﴾: عَنْ أَنَسٍ ابن مالك اَنَّ أَبَا بَكْر الصديق قَالَ نظرت الی اقدام

د حضرت انس بن مالک ﷛ څخه روایت دی چي ابوبکر صدیق ﷛ د هجرت پېښه بیانولو سره په غار کي د پټیدو حال بیان کړ او وه یې ویل: ما

المشر كين على رؤسنا ونحن في الغار فقلت يا رسولَ الله لَوْ أَنَّ أَحَدَهُمْ نَظَر

زموږ د سرونو لوړي خوا ته وکتل نو ما ته د مشرکانو قدمونه معلومیدل، ما عرض وکړ اې دالله رسوله! که په دوئ کي د یوه قدم هم پر خپلو قدمونو پریوتی

الی قَدَمِهِ أَبْصَرَنَا فَقَالَ يَا أَبَا بَكْرٍ مَا ظَنُّكَ بِاثْنَيْنِ اللهُ ثَالِثُهُمَا. متفق عليه.

نو موږ به وویني، رسول الله ﷺ وفرمایل: اې ابوبکر! ستا خیال د هغه دوو خلکو په نسبت څه دی چي د هغوئ دریم ملګری الله تعالی وي. بخاري او مسلم.

تخريج: صحيح البخاري (فتح الباري): ۱۷/۸، رقم: ۲۶۵۳، ومسلم ۴/۱۸۵۴، رقم: ۱-۲۳۸۱.

تشریح: د غار څخه مراد د مشهور غره (جبل ثور) د پورتنۍ برخي هغه غار دی چي په هغه کي رسول الله ﷺ د مکې څخه د مدینې په سفر کي درې شپې هلته تیري کړي وې او حضرت ابوبکر صدیق ﷛ ورسره ملګری وو، جبل ثور د مکې د جنوب لویدیځ څخه تقریبا پر درې نیم سوه

ميله فاصله باندي واقع دى ، كله چي رسول الله ﷺ د الله جَلَّ جَلالُهُ په حكم سره د خپل كران هيواد په پرېښودو سره مدينې منورې ته د تللو لپاره د مكې څخه روان سو او د رسول الله ﷺ د روانېدو وروسته د مكې مشركانو ته معلومه سول نو هغوئ خپل خلك په رسول الله ﷺ پسي واستول ، هغوئ ته حكم وركړل سو چي څرنگه كېداى سي حضرت محمد ﷺ دي مكې ته بېرته راوستل سي، رسول الله ﷺ د خپل ملگري ، حضرت ابوبكر صديق رضي الله عنه سره د جبل ثور په هغه غار كي پټ وو چي ناڅاپه د هغه خلكو يوه ډله هغه غار ته ورسېدل ، د دغه غار محل وقوع داسي دى كه يو سړى د غار پر دباندي څوكه باندي ولاړ وي نو په غار كي دننه د موجود سړي نظر د هغه پر پښو لوېږي او كه دباندي ولاړ سړى لاندي په نظر كولو سره خپلو پښو ته وگوري نو په هغه غار كي دننه موجود سړى به په ډېره اساني سره وليدل سي ،

حضرت ابوبكر صديق رضي الله عنه ولېدل چي د مكې د مشركانو خلك د رسول الله ﷺ په پلټنه كي هغه غار ته را رسېدلي دي او هغه خلك بالكل د غار پر غاړه ولاړ دي ، كه چيري په هغوئ كي يو سړى خپلو پښو ته وگوري نو موږ به ووينې او په دا ډول به پر رسول الله ﷺ د هغوئ موقع تر لاسه سوې واى، حضرت ابوبكر صديق رضي الله عنه د خپلي دغه پريشانى اظهار رسول الله ﷺ ته وكړ نو رسول الله ﷺ په ډېر يقين سره هغه ته ډاډ او اطمينان وركړ چي زه او ته هغه كسان يو چي د هغوئ سره يو بل ذات د الله جَلَّ جَلالُهُ مرسته او نصرت هم دى ، زموږ پروردگار زموږ ساتنه كوي او موږ د خپلو دښمنانو څخه ژغوري، او همدارنگه وسول چي الله جَلَّ جَلالُهُ د خپل خواږه رسول ﷺ او د هغه د ملگري حضرت ابوبكر صديق رضي الله عنه داسي ساتنه وكړل چي هغه د مكې مشركان چي بالكل د غار پر غاړه ولاړ وه په تېز نظر سره آخوا دېخوا د رسول الله ﷺ پلټنه كول او پر دې يې يقين درلود چي رسول الله ﷺ په دغه غار كي موجود دى ، هغوئ په دغه وخت كي خپل حوصله د لاسه وركړل ، نه هغوئ ته د رسول الله ﷺ د پلټني كولو موقع په لاس ورغلل او نه هغوئ ته د لاندي كتل په برخه سول ، دا يوازي د الله جَلَّ جَلالُهُ د قدرت نښه او د رسول الله ﷺ د معجزې ظهور وو .

طيبي رحمة الله عليه دا هم ليكلي دي چي په دغه وخت كي رسول الله ﷺ د هغه مشركانو په حق كي دا ښېرا كړې وه چي اې الله! د دوئ د ستركو رڼا معطل كړې، نو الله جَلَّ جَلالُهُ په خپل قدرت سره هغوئ ټول داسي بې بصر كړل چي هغوئ د غار څلورو خواوو ته وكرځېدل مگر پر دننه كتلو باندي قادر نه سول ، او څرنگه چي په ځينو روايتو كي راغلي دي چي په دغه وخت كي كوترو د غار په خوله كي هگۍ اچولي وې او جولاگيانو ځالي جوړي كړي وې دا هم معجزه وه .

د هجرت په دوران کي د معجزې ظهور

﴿۵۶۱۹﴾: وَعَنِ الْبَرَاءِ بْنِ عَازِبٍ عَنْ اَبِيْهِ اَنَّهُ قَالَ لابي بكر يَا أَبَا بَكْرٍ حَدِّثْنِي

براء بن عازب رضي الله عنه د خپل پلار څخه روایت کوي چي هغه ابوبکر صدیق رضي الله عنه ته وویل اې ابوبکر!

كَيْفَ صَنَعْتُمَا حِينَ سَرَيْتَ مَعَ رَسُولِ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ قَالَ أَسْرَيْنَا

ته چي د شپې د رسول الله ﷺ سره د مکې څخه مدینې ته په هجرت تللی وې نو تا څه وکړل؟
ابوبکر رضي الله عنه وویل: (د غار څخه په وتلو سره) موږ ټوله شپه روان وو،

لَيْلَتَنَا وَمِنَ الْغَدِ حَتَّى قَامَ قَائِمُ الظَّهِيرَةِ وَخَلَا الطَّرِيقُ لَا يَمُرُّ فِيهِ أَحَدٌ

په دویمه ورځ هم تر نیمي ورځي پوري مو سفر وکړ چي غرمه سوه او لمر ودریدی او لار خالي سوه هیڅوک نه تېریدی

فَرُفِعَتْ لَنَا صَخْرَةٌ طَوِيلَةٌ لَهَا ظِلٌّ لَمْ تَأْتِ عَلَيْهِ الشَّمْسُ فَنَزَلْنَا عِنْدَهُ

نو موږ ته یوه ډېره معلومه سوه چي ډیره اوږده وه او تر هغې لاندي سایه وه او لمر پر هغې نه وو راغلی، موږ د هغې په سایه کي کښېنستلو

وَسَوَّيْتُ لِلنَّبِيِّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ مَكَانًا بِيَدِي يَنَامُ عَلَيْهِ وَبَسَطْتُ فِيهِ

او ما د رسول الله ﷺ لپاره په خپلو لاسونو سره یو ځای پاک او هوار کړ چي رسول الله ﷺ پر بیده سي، بیا ما پوستین اوار کړ

فَرْوَةً وَقُلْتُ نَمْ يَا رَسُولَ اللَّهِ وَأَنَا أَنْفُضُ لَكَ مَا حَوْلَكَ فَنَامَ وَخَرَجْتُ أَنْفُضُ

او عرض مي وکړ اې د الله رسوله! تاسو بیده سئ او زه به آخوا دیخوا ګورم، او ستاسو ساتنه به کوم، نو دی بیده سو او زه راووتم چي دده چوکیداري مي کول

مَا حَوْلَهُ فَإِذَا أَنَا بِرَاعٍ مُقْبِلٍ قُلْتُ أَفِي غَنَمِكَ لَبَنٌ قَالَ نَعَمْ قُلْتُ أَفَتَحْلُبُ

ناڅاپه ما یو شپون ولیدی چي را روان وو، ما د هغه څخه پوښتنه وکړه ایا ستا په میږو کي شیدې سته؟ هغه وویل هو سته، ما ورته وویل ایا ته شیدې لویشې،

قَالَ نَعَمْ فَأَخَذَ شَاةً فَحَلَبَ فِي قَعْبٍ كُثْبَةً مِنْ لَبَنٍ وَمَعِي إِدَاوَةٌ حَمَلْتُهَا

هغه وویل هو ، ددې ویلو سره هغه یوه میږه راونیول او د لرګي په پیاله کي یې لږ شیدې ولویشلې ، زما سره یو پتک وو چي ما د رسول الله ﷺ لپاره د اوبو څخه ډک کړی وو

لِلنَّبِيِّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ يَرْتَوِي مِنْهَا يَشْرَبُ وَيَتَوَضَّأُ فَأَتَيْتُ النَّبِيَّ صَلَّى

چي رسول الله ﷺ به څیښلې هم او اودس به یې هم په کوی ، زه چي بیرته راغلم نو رسول الله ﷺ

اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ فَكَرِهْتُ أَنْ أُوقِظَهُ فَوَافَقْتُهُ حتى اسْتَيْقَظَ فَصَبَبْتُ مِنَ

بیده سوی وو ، ما راویښول مناسب ونه ګڼل او خپل هم بیده سوم تر دې چي رسول الله ﷺ خپله راویښ سو ما په شیدو کي لږ اوبه ګډي کړې

الْمَاءِ عَلَى اللَّبَنِ حَتَّى بَرَدَ أَسْفَلُهُ فَقُلْتُ اشْرَبْ يَا رَسُولَ اللَّهِ قَالَ فَشَرِبَ حَتَّى

او هغه شیدې یخي سوې ، بیا مي عرض وکړ اې د الله رسوله ! شیدې وڅښئ ، رسول الله ﷺ شیدې وڅښلې

رَضِيتُ ثُمَّ قَالَ أَلَمْ يَأْنِ لِلرَّحِيلِ قُلْتُ بَلَى قَالَ فَارْتَحَلْنَا بَعْدَمَا مَالَتْ

او زه ډیر خوشحاله سوم ، بیا رسول الله ﷺ وفرمایل : د سفر وخت نه دی راغلی ؟ ما عرض وکړ هو وخت سو ، ابوبکر رضي الله عنه وایي موږ روان سوو او زموږ په پیدا کولو پسي

الشَّمْسُ وَاتَّبَعَنَا سُرَاقَةُ بْنُ مَالِكٍ فَقُلْتُ أُتِينَا يَا رَسُولَ اللَّهِ فَقَالَ لَا تَحْزَنْ

سراقه بن مالک راغلی چي د مکې کافرانو د رسول الله ﷺ په پیدا کولو پسي رالیږلی وو او سل اوښان یې ورته په انعام کي ټاکلي وه ، ما عرض وکړ اې د الله رسوله ! دښمن راورسیدی ، رسول الله ﷺ وفرمایل : غم مه کوه

إِنَّ اللَّهَ مَعَنَا فَدَعَا عَلَيْهِ النَّبِيُّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ فَارْتَطَمَتْ بِهِ فَرَسُهُ إِلَى

الله جل جلاله زموږ سره دی ددې څخه وروسته رسول الله ﷺ د سراقه لپاره ښیرا وکړه او سراقه او

بَطْنِهَا فِي جَلَدٍ مِنْ الْأَرْضِ فَقَالَ إِنِّي أُرَاكُمَا دَعَوْتُمَا عَلَيَّ فَادْعُوَا لِي فَاللَّهُ لَكُمَا

اوښ یې ترنس پوري په ځمکه کي کښته ولاړل، سراقه وویل زه پوهیږم تاسو دواړو ما ته ښیرا کړې ده تاسو زما د خلاصون دعاء وکړئ زه په الله ﷻ شاهد کولو سره وایم چي

أَنْ أُرُدَّ عَنْكُمَا الطَّلَبَ فَدَعَا لَهُ النَّبِيُّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ فَنَجَا فَجَعَلَ لَا يَلْقَى أَحَدًا إِلَّا قَالَ كَفَيْتُمْ مَا هُنَا فَلَا يَلْقَى أَحَدًا إِلَّا رَدَّهُ. متفق عليه.

زه به کفار په تاسو پسي دراتلو څخه منع کړم، رسول الله ﷺ د هغه لپاره دعاء وکړه او هغه خلاص سو، بیا چي کوم سړی به د سراقه سره په لاره کي یو ځای سو نو هغه ته به یې ویل ستاسو لپاره زما لټون کافي دی، دېخوا هغه سړی (یعني رسول الله ﷺ) نه سته د هغه سره به چي څوک یو ځای کیدی نو دغه به یې ورته ویل. بخاري او مسلم.

تخريج: صحيح البخاري (فتح الباري): ٦\٦٢٢، رقم: ٢٦١٥، ومسلم٤\٢٣٠٩، رقم: ٧٥-٢٠٠٩.

د لغاتو حل: انفض: اي انجسس الاخبار واتفحص عن العدو. قعب: اي قدح من خشب (د لرګي کاسه).

تشريح: او خپله مي هم د رسول الله ﷺ ملګرتیا وکړل، دا د (فوافقته) ژباړه ده، یعني د رسول الله ﷺ په خوب لېدو سره نه یوازي دا چي ما د رسول الله ﷺ وېښول مناسب ونه ګڼل بلکه د رسول الله ﷺ په ډول خپله هم یوې خوا ته په پرېوتلو سره بېده سوم، په یوه روایت کي دغه لفظ پر فاء باندي د قاف په تقدیم سره دی، په دغه صورت کي به معنی دا وي چي ما د رسول الله ﷺ په خوب لېدو سره توقف وکړ یعني د رسول الله ﷺ وېښول مي مناسب ونه ګڼل او تر هغه وخته مي انتظار وکړی ترڅو چي رسول الله ﷺ راوېښ سو.

بیا ما په شېدو کي اوبه واچولې، د عربو عام عادت وو چي د شېدو حرارت زائل کولو لپاره به یې په هغه کي یخې اوبه اچولې اوبیا به یې هغه څېښلې، په دغه وخت کي حضرت ابوبکر صدیق رضی الله عنه هم د عادت سره سم د میږي په هغه شېدو کي دومره اوبه واچولې چي په هغه سره شېدې ښه یخي سوې.

او زه ډېر خوشحاله سوم، یعني حضرت ابوبکر صدیق رضی الله عنه ته پر دې خبـــــره خوشحالي محسوس سول چي د هغه په وجه نه یوازي دا چي رسول الله ﷺ ته د څه وخت لپاره د استراحت موقع تر لاسه سوه بلکه دومره شیدې هم تر لاسه سوې چي رسول الله ﷺ په خوش طبعي سره وڅېښلې، ددې څخه معلومه سوه چي د محب اصله خوشحالي د محبوب په خوشحالي او راحت کي وي.

دلته دا سوال پیدا کیږي چې د داسې میږي شیدې یې څرنګه ولویشلې او بیا یې وڅښلې حال دا چې د هغه د مالک اجازه نه وه، ددې جواب دادی چې هغه میږه د یو داسې سړي وه چې د حضرت ابوبکر صدیق رضي الله عنه ملګری او باوري کس وو او حضرت ابوبکر صدیق رضي الله عنه د خپل ملګري د اجازې باور درلود، دوهم جواب دادی چې د عربو او په خاصه توګه د مکې د اوسېدونکو عادت وو چې هغوئ به خپلو شپنیانو ته د مخکې څخه اجازه ورکړې وه که چیرې یو مسافر یا وږی سړی ورسره یو ځای سي نو هغه ته دې د شېدو لویشلو اجازه ورکوي، دریم جواب دا کېدای سي چې حضرت ابوبکر رضي الله عنه به د روپو په ورکولو سره شیدې تر لاسه کړې وي.

سراقه بن مالک د هغه کسانو څخه وو چې د مکې قریشو د رسول الله ﷺ پر تعاقب مامور کړي وه او دا اعلان یې کړی وو چې کوم سړی محمد ﷺ ونیسي او موږ ته یې وسپاري نو هغه ته به د انعام په توګه سل اوښان ورکول کیږي ، دغه سراقه بن مالک د مکې د فتح څخه وروسته مسلمان سوی دی .

او د هغه د نیوکې څخه یې خلاصون تر لاسه کړ، په یوه روایت کې دي چې د رسول الله ﷺ د ښېرا په نتیجه کې د سراقه په مځکه کې غرقېدل او بیا د رسول الله ﷺ په دعاء سره خلاصون تر لاسه کولو پېښه درې واره وسول، یعني هغه به هر وار د رسول الله ﷺ په دعاء خلاصون تر لاسه کړ او بیا به د رسول الله ﷺ د نیولو لپاره را وړاندې سو تر دې چې هغه په دریم وار د خپل آس سره په مځکه کې په غرقېدو سو او د هغه په زارۍ کولو سره رسول الله ﷺ د هغه لپاره دعاء وکړل او هغه خلاصون تر لاسه کړ نو هغه د خپلې دغه خرابې ارادې څخه منع سو او بیا نه یوازې دا چې د رسول الله ﷺ د نیولو لپاره را وړاندې نه سو بلکه په ستنېدو کې کوم څوک چې به د رسول الله ﷺ د نیولو لپاره راتلی هغه به یې هم بېرته استوی او هیڅوک یې رسول الله ﷺ ته نه پرېښودی .

په دغه حدیث کې یوې خوا ته د رسول الله ﷺ د معجزې او د ابوبکر صدیق رضي الله عنه د فضیلت اظهار دی بلې خوا ته ډیرې ګټورې خبرې هم منځته راځي، یو دا چې تابع لره د خپل متبوع په خدمت کې خپل پوره هڅه کول ضروري دي، دوهم دا چې په سفر کې د داسې لوښي د ځان سره درلودل چې په هغه کې اوبه څښل او د اوداسه په کار راتلل ډېر ضروري وي، او دریم دا چې بنده لره په هر حال کې پر الله جل جلاله باندې باور او توکل کول اړین دي چې د نتیجې او انجام غوره والی په دغه صورت کې تر لاسه کیږي .

د عبدالله بن سلام د اسلام راوړلو پېښه

﴿۵۶۲۰﴾: وَعَنْ أَنَسٍ قَالَ سَمِعَ عَبْدُ اللّٰهِ بْنُ سَلَامٍ بِمَقْدَمِ رَسُولِ اللّٰهِ صَلَّى

د حضرت انس رضی اللہ عنہ څخه روايت دی چي عبدالله بن سلام رضی اللہ عنہ په يو ځای کی د درختو ميوې جمع

اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ وَهُوَ فِي أَرْضٍ يَخْتَرِفُ فَأَتَى النَّبِيَّ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ فَقَالَ

کولې چي هغه د رسول الله ﷺ د مکې څخه مدينې ته د راتلو حال واوريدی هغه د نبي کريم ﷺ
په خدمت کي حاضر سو عرض يې وکړ:

إِنِّي سَائِلُكَ عَنْ ثَلَاثٍ لَا يَعْلَمُهُنَّ إِلَّا نَبِيٌّ فَمَا أَوَّلُ أَشْرَاطِ السَّاعَةِ وَمَا أَوَّلُ

زه ستاسو څخه د درو خبرو پوښتنه کوم چي پرته د نبي څخه بل څوک يې نه پيژني، يو خو دا چي
د قيامت لومړنی نښه به څه وي؟ دويم دا چي د جنتيانو لومړنی

طَعَامِ أَهْلِ الْجَنَّةِ وَمَا يَنْزِعُ الْوَلَدُ إِلَى أَبِيهِ أَوْ إِلَى أُمِّهِ قَالَ أَخْبَرَنِي بِهِنَّ

خوراک به څه وي، دريم دا چي هغه کوم شی دی چي اولاد مور يا پلار ته د مشابهت په لور
بيايي، رسول الله ﷺ ورته وفرمايل:

جِبْرِيلُ آنِفًا أَمَّا أَوَّلُ أَشْرَاطِ السَّاعَةِ فَنَارٌ تَحْشُرُ النَّاسَ مِنَ الْمَشْرِقِ إِلَى

جبرائيل عليه السلام همدا اوس زه دد غه خبرو څخه خبر کړی يم، د قيامت لومړنی نښه هغه اور دی چي
خلک به د مشرق څخه

الْمَغْرِبِ وَأَمَّا أَوَّلُ طَعَامٍ يَأْكُلُهُ أَهْلُ الْجَنَّةِ فَزِيَادَةُ كَبِدِ حُوتٍ وَإِذَا سَبَقَ مَاءُ

مغرب ته په راکشولو سره بوځي، او د جنتيانو لومړنی خوراک به د ماهي د ځيګر هغه ټوټه وي
چي د اينې څخه بيله زړېږي، په اولاد کي د مور او پلار د مشابهت سبب دادی که د نارينه د مني

الرَّجُلِ مَاءَ الْمَرْأَةِ نَزَعَ الْوَلَدَ وَإِذَا سَبَقَ مَاءُ الْمَرْأَةِ نَزَعَتْ قَالَ أَشْهَدُ أَنْ لَا

او به د ښځي د مني ترا وبو مخ ته سي نو ماشوم د پلار سره مشابه کيږي، او که د ښځي اوبه مخ
ته سي نو ماشوم د مور مشابه کيږي، ددې اوريدو سره عبدالله بن سلام وويل زه شاهدي ورکوم

إِلَهَ إِلَّا اللَّهُ وَأَشْهَدُ أَنَّكَ رَسُولُ اللَّهِ يَا رَسُولَ اللَّهِ إِنَّ الْيَهُودَ قَوْمٌ بُهْتٌ وَإِنَّهُمْ

چي د الله ﷻ څخه پرته بل څوک د عبادت وړ نسته او ته د الله ﷻ رښتونی رسول يې، ددې څخه وروسته عبدالله بن سلام وويل: اې د الله رسوله! يهوديان ډېر تهمت لګونکی قوم دی،

إِنْ يَعْلَمُوا بِإِسْلَامِي قَبْلَ أَنْ تَسْأَلَهُمْ يَبْهَتُونِي فَجَاءَتْ الْيَهُودُ فَقَالَ أَيُّ

هغوئ ته چي زما مسلمان کيدل معلوم سي نو پر ما باندي به د دروغو تهمتونه ولګوي، په دې سبب غوره داده چي د اسلام حال معلوم مولو څخه مخکي تاسو زما په اړه د هغوئ څخه پوښتنه وکړئ، نو يهود را وغوښتل سول او رسول الله ﷺ د هغه يهوديانو څخه پوښتنه وکړه چي

رَجُلٍ عَبْدُ اللَّهِ فِيكُمْ قَالُوا خَيْرُنَا وَابْنُ خَيْرِنَا وَسَيِّدُنَا وَابْنُ سَيِّدِنَا فَقَالَ

په تاسو کي عبدالله بن سلام څنګه سړی دی؟ هغوئ وويل په موږ کي غوره او د غوره سړي زوی دی، زموږ سردار دی او زموږ د سردار زوی دی، رسول الله ﷺ ورته وفرمايل:

أَرَأَيْتُمْ إِنْ أَسْلَمَ عَبْدُ اللَّهِ بْنُ سَلَامٍ قَالُوا أَعَاذَهُ اللَّهُ مِنْ ذَلِكَ فَخَرَجَ عَبْدُ

که عبدالله بن سلام اسلام راوړي، يهوديانو ويل: الله ﷻ دي هغه د اسلام څخه وساتي او په خپل پناه کي دي هغه وساتي، ددې اوريدو سره عبدالله بن سلام د هغوئ مخته راغلی

اللَّهِ فَقَالَ أَشْهَدُ أَنْ لَا إِلَهَ إِلَّا اللَّهُ وَأَنَّ مُحَمَّدًا رَسُولُ اللَّهِ فَقَالُوا شَرُّنَا وَابْنُ

او وه يې ويل: زه شاهدي ورکوم چي د الله ﷻ څخه پرته بل څوک د عبادت وړ نسته او محمد ﷺ د الله ﷻ رسول دی، ددې اوريدو سره يهوديانو وويل په موږ کي دا ډېر خراب سړی دی

شَرِّنَا وَانْتَقَصُوهُ قَالَ فَهَذَا الَّذِي كُنْتُ أَخَافُ يَا رَسُولَ اللَّهِ. رواه البخاري.

د بدترين سړي زوی دی او ډول ډول عيبونه يې پر هغه ولګول، عبدالله بن سلام وويل اې د الله رسوله! دا هغه خبره وه چي ما ځيني بيره کول. بخاري.

تخريج: صحيح البخاري (فتح الباري): ۸\ ۱٦٥، رقم: ۴۴۸۰.

د لغاتو حل: يخترف: اي يجتنى من الفواكه. ينزع: نزع الولد الى ابيه اذا اشبهه. المعنى وما يشبه. بهت: جمع بهوت من بناء المبالغة في البهتان (سخت بهتان).

تشریح: عبداللہ بن سلام ﷺ په یو ځای کي د درختو څخه میوې شکولې، دلته یا خو د پښني صورت دا وو چي عبدالله ابن سلام په خپل باغ کي د درختو څخه میوې راشکولې او جمع کولې، چيې د یو چا په ښوونه هغه ته وښودل سول چي د نبوت په دعوه اود اسلام د دین په دعوت کولو سره محمد ﷺ مدینې ته راغلی دی، ددې په اورېدو سره يې خپل کار پرېښود او د رسول الله ﷺ په خدمت کي حاضر سو، یا دا چي عبدالله ابن سلام د رسول الله ﷺ د راتللو په خبر اورېدو سره د رسول الله ﷺ په خدمت کي په تلوار او شوق سره حاضر سي هغه ددغه الفاظو په ذریعه په مبالغې سره بیان سوی دی، مطلب دا که چیري عبدالله ابن سلام غوا ړي نو د خپل کار کولو څخه وروسته د فراغت په وخت کي او په اطمینان سره د رسول الله ﷺ په خدمت کي حاضرېدای سي مګر هغه په تورات کي د رسول الله ﷺ صفات او ځانګړتیاوي ویلي وي او د نبي آخر زمان ﷺ د راتللو په سخته منتظروو، ځکه څرنګه چي هغه د رسول الله ﷺ د راتللو خبر سو نو سمدستي د څه توقف کولو څخه پرته د رسول الله ﷺ په خدمت کي حاضر سو.

مدتي برد که مشتاق نقایت بودم لاجرم روئي ترا دیدار وازجارفتم

د عبدالله بن سلام د نسب لړۍ د حضرت یوسف علیه السلام سره یو ځای کیږي، نوموړي د مدینې د یهودو د سردارانو څخه وو، ډېر عقلمند، عالم او په تورات باندي پوره پوه وو، کله چي رسول الله ﷺ د مکې څخه مدینې ته په هجرت کولو سره مدینې ته تشریف راوړ نو سمدستي د رسول الله ﷺ په خدمت کي حاضر سو او د اسلام په دولت مشرف کېدو سره د لوړي درجې په صحابه کرامو کي وشمېرل سو،. رضي الله عنه.

چي د نبي څخه ماسوا بل څوک نه په پوهیږي، ددې څخه د عبدالله ابن سلام ﷺ مراد دا وو چي زه د کومو درو شیانو پوښتنه کوم د هغه په اړه صحیح معلومات او ښوونه یوازي د نبي کار دی د نبي څخه ماسوا هغه څوک په پوهیږي چي یا خو ورښودل سوي دي او یا د الله جل جلاله د کتاب څخه يې معلومه کړې وي، دا بیان ځکه ضروري دي چي خپله عبدالله ابن سلام ﷺ هم ددغه شیانو په اړه په اجمالي او تفصیلي توګه پوهېدی او هغه ته دا علم د تورات څخه حاصل سوی وو او ددغه سوالو څخه د هغه اصل مقصد د رسول الله ﷺ د نبوت او رسالت تصدیق تر لاسه کول وو ، ددغه درو شیانو جوابونه د هغه په اړه د رسول الله ﷺ معجزه ثابت سول او هغه ته د رسول الله ﷺ د رسالت او نبوت د علم یقین وسو او غالبا په دغه مناسبت سره دغه حدیث دلته د معجزو په باب کي نقل سوی دی.

همدا اوس جبرائیل علیه السلام زه په دغه سوالو خبر کړم، د خپلو سوالونو د جواب په اورېدو سره

عبدالله ابن سلام ته دا وهم كېداى سي چي كېداى رسول الله ﷺ د اهل كتاب څخه دغه خبري اورېدلي وي او په دې وجه يې زما د سوالونو جوابونه راكړل، نو رسول الله ﷺ ددغه وهم او شبهې د لاري بندولو لپاره څرګنده كړل چي دغه جوابونه كوم چي زه يې بيانوم د الله ﷻ له خوا جبرائيل عليه السلام ما ته را رسولي دي او ددغه الفاظو څخه د رسول الله ﷺ مقصد د عبدالله بن اسلام رضي الله عنه خبرول وو چي په هوښ سره د خپلو سوالونو جوابونه واوره، ددې څخه ماسوا د هغه د وجود وحي او نزول جبرائيل عليه السلام څخه خبرول هم مقصد وو.

اذا سبق ماء الرجل...الخ: دلته د سبق معنى ملا علي قاري رحمه الله د علا او غلب ليكلې ده او په ترجمه كي ددغه معنى رعايت سوى دى، شيخ عبدالحق رحمه الله ددغه معنى د (پيش ميشود) يعني په رحم كي مخكي رسېدل ليكلي دي، مطلب دادى چي په سړي او ښځه كي د چا اوبه د ښځي رحم ته مخكي ورسيږي د هغه شكل او شباهت په اولاد كي راځي، شيخ عبدالحق رحمه الله وروسته دا هم ليكلي دي چي ددغه حديث څخه معلوميږي چي د اولاد د مور او پلار د مشابه كېدو سبب غلبه او سبقت دواړه ښودل سوي دي په دې اعتبار د سبق معنى د غلبې او سبقت دواړو كيداى سي.

د بدر د غزا په اړه پيشګويي

﴿۵۶۲۱﴾: وَعَنْهُ قَالَ اِنَّ رَسُولَ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ شَاوَرَ حِينَ بَلَغَنَا

د حضرت انس رضي الله عنه څخه روايت دى چي كله رسول الله ﷺ د ابوسفيان (د شام څخه) د راتګ خبر

إِقْبَالُ أَبِي سُفْيَانَ وَقَامَ سَعْدُ بْنُ عُبَادَةَ فَقَالَ يَا رَسُولَ اللّٰهِ وَالَّذِي نَفْسِي

واوريدى نو د مدينې والاوو سره يې مشوره وكړه، سعد بن عباده رضي الله عنه ولاړ سو او عرض يې وكړاې دالله رسوله! په هغه ذات دي مي قسم وي چي

بِيَدِهِ لَوْ أَمَرْتَنَا أَنْ نُخِيضَهَا الْبَحْرَ لَأَخَضْنَاهَا وَلَوْ أَمَرْتَنَا أَنْ نَضْرِبَ أَكْبَادَهَا

د هغه په لاس كي زما ساه ده كه تاسو موږ ته دا حكم راكړئ چي موږ خپل آسونه درياب ته ور ننه باسو نو موږ به همداسي كوو او كه تاسو دا فرمايا ست چي موږ د خپلو سپرلو (يعني آسانو

إِلَى بَرْكِ الْغِمَادِ لَفَعَلْنَا قَالَ فَنَدَبَ رَسُولُ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ النَّاسَ

او اوښانو) ځيګر تر (برک غماد) پوري وهو نو موږ به داسي وكړو، (برک غماد په يمن كي يو

ښار دی مطلب دادی که تاسو حکم کوئ چې موږ تر برک غماد پورې خپل اوښان او آسونه وځغلوو نو موږ به انکار نه کوو)، د انس رضي الله عنه بیان دی چې رسول الله ﷺ د جنګ لپاره خلک

فَانْطَلَقُوا حَتَّى نَزَلُوا بَدْرًا فَقَالَ رَسُولُ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ هَذَا مَصْرَعُ

راوبلل او خلک د رسول الله ﷺ سره روان سول د بدر مقام ته چې ورسیدل، نو رسول الله ﷺ وفرمایل: دا ځای د فلاني سړي د مړي دي (یعني هغه به دلته مړ کیږي)

فُلَانٍ قَالَ وَيَضَعُ يَدَهُ عَلَى الْأَرْضِ هَاهُنَا هَاهُنَا قَالَ فَمَا مَاطَ أَحَدُهُمْ عَنْ مَوْضِعِ يَدِ رَسُولِ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ. رواه مسلم.

او همداسې رسول الله ﷺ به پر مځکه لاس ایښودی په دې ځای کې او په دې ځای کې، ویلي دي انس رضي الله عنه بیا کوم کوم ځایونه چې رسول الله ﷺ ټاکلي وه په هغو کې د هر یوه سره هم هغسې وسول په کوم ځای کې چې رسول الله ﷺ مبارک لاس ایښې وو هغه کافر هم هلته هلاک سو. مسلم.

تخریج: صحیح مسلم ۳\۱۴۰۳، رقم: ۸۳- ۱۷۷۹.

د لغاتو حل: الغماد: اي مثلا من المواضع البعيدة. فما ماط: اي مازال وبعد وتجاوز.

تشریح: کله چې موږ د ابوسفیان په راتګ خبر سوو، دا د بدر د غزا د لومړي پړاو یادونه ده چې د مکې یو سردار، ابوسفیان د خپلې تجارتي قافلې سره د شام څخه مکې ته راتلی، په قافله کې ځلوېښت کسان وه مګر مال او سامان ډېر زیات وو، کله چې مسلمانانو ته په مدینه کې د ابوسفیان دد غه تجارتي قافلې په اړه معلومه سول نو هغوئ پر اهل مکه باندې د اقتصادي وار کولو لپاره دا موقع غنیمت وګڼل، دهغوئ خیال وو چې د قافلې د ځلوېښتو کسانو په لاندې کولو سره د هغوئ پر ټول مال او سامان باندې قبضه وکړل سي مګر ابوسفیان ته د مسلمانانو د حملې خبر وسو نو هغه د عامې لارې په پرېښودو سره ساحلي لار اختیار کړل چې د مسلمانانو د حملې څخه خوندي سو، دوهم دغه خبر مکې ته هم ورسېدی نو د مکې خلکو د مسلمانانو سره د سخت جنګ کولو اراده وکړل، ابوجهل د کعبې پر بام په ختلو سره د مکې اوسېدونکي یې د مسلمانانو خلاف وبلل، او د هغوئ په مشتعل کولو سره یې جنګ ته اماده کړل، کله چې پوره تیاري وسول نو ابوجهل په پوره جنګي طاقت سره د مکې څخه روان سو، په لاره کې ځینو خلکو هغه پوه کړ چې زموږ قافله پر ساحلي سیمه روانه ده او د مسلمانانو د حملې څخه خوندي ده نو د مسلمانانو پر خلاف په جګړه کولو کې عقلمندي نسته، غوره داده چې موږ مکې ته ولاړ سو،

مګر د ابوجهل د زوال وخت راغلی وو، هغه د خلکو دغه مشوره ونه منل او بدر نامي ځای ته ورسېدل، په دغه وخت کي حضرت جبرائیل ﷺ راغلی او رسول الله ﷺ یې خبر کړ چي الله ﷻ په دوو صورتو کي د یوه صورت وعده کړې ده، یا دا چي د قافلې په لاندي کولو سره مال تر لاسه کړئ او که په جګړې کولو سره مشوره وکړئ چي ابوسفیان د ساحلي لاري په اختیارولو سره زموږ د حملې څخه خوندي سوی دی اوس ابوجهل زموږ د ماتولو عزم کړی دی او ډېر لښکر یې زموږ د مقابلې لپاره راوستلی دی نو موږ لره کومه طریقه اختیارول پکار دي.

د رسول الله ﷺ دغه مشوره غوښتل په اصل کي د مدینې د انصارو امتحان او د هغوئ په رد عمل پوهېدل وو ځکه چي رسول الله ﷺ په پیل کي د هغوئ څخه بیعت اخیستی وو چي په هغه کي دا خبره شامل نه وه چي هغه به د جهاد لپاره د رسول الله ﷺ سره ځي او د دښمن په مقابله کي به د مسلمانانو ځاني او مالي مرسته کوي، هغوئ نه یوازي پر دغه خبره بیعت کړی وو چي هغوئ به د هغه خلکو څخه د رسول الله ﷺ ساتنه کوي څوک چي پر هغه حمله کوي، هغه وخت دا صورت حال وو چي هغه وخت هیڅ دښمن پر رسول الله ﷺ او مسلمانانو باندي حمله نه کول بلکه خپله د مسلمانانو له خوا د ابوسفیان پر تجارتي قافله باندي د حملې کولو فلان جوړ سوی وو او ددې په جواب کي د مکې اوسیدونکي د مسلمانانو سره د جګړې کولو لپاره راوتلي وه نو رسول الله ﷺ ضروري وګڼل چي د انصارو سره په مشوره کولو د هغوئ په رد عمل پوه سي چي ایا هغوئ په دغه کړنه کي زموږ مرسته کوي که یا، رسول الله ﷺ د انصارو له خوا د حوصلې ډک جواب تر لاسه کړ، هغوئ نه یوازي په دغه وخت کي په مال او ځان سره د قربانۍ ثبوت ورکړ بلکه مخکي هم کله چي داسي وخت راتلی هغوئ په پوره موافقت سره د رسول الله ﷺ او مؤمنانو سره وړه په وړه ولاړ وه، د رسول الله ﷺ په دغه مشوره کولو کي د امت لپاره هم تلقین او ترغیب دی چي په خپلو مسائلو او معاملاتو کي د پوهانو او ملګرو سره مشوره کول د ښه پایلي او برکت ذریعه ده.

سعد ابن عباده ولاړ سو او عرض یې وکړ، لکه چي مخکي ذکر سول چي د مشورې کولو څخه د رسول الله ﷺ اصل مقصد د انصارو په رد عمل پوهېدل وو ځکه د رسول الله ﷺ په ارشاد حضرت سعد ابن عباده د جواب لپاره ولاړ سو چي د انصارو یو مشر وو، هغه رسول الله ﷺ ته جواب ورکړ او د هغه مطلب دا وو چي موږ په هیڅ حالت کي ستاسو د مرسته کولو څخه نه تر شا کیږو، دا خو ډېر نژدې د دښمن سره د جګړې خبره ده که موږ ته د لیري سیمو تللو حکم راکړئ که څه هم موږ ته پر مځکه سفر کول یا په دریاب کي کښنته کېدل موږ به ستاسو د حکم په عملي

كولو هيڅ منع نه كوو او د خپل سر او مال په لويو قربانيو وركولو سره به ستاسو او د اسلام د دښمانو سره مقابله كوو .

برك غماد د يوې سيمي نوم وو چي د مديني څخه ډېر ليري په يمن كي واقع وو، يا دهجر پر غاړه يا د هغه د كليو څخه پر آخري ځوكه باندي واقع وو .

د اوښانو يا اسونو ځيگر وهل، دا د سپرلۍ د تېزوالي كنايه ده او دلته لفظي مناسبت دادى چي كله يو سړى پر آس باندي سپور وي او آس تېز ځغلي نو د سپاره سړي پښه د هغه آس د بدن د هغه برخي سره موښلي چيري چي ځيگر دى، ددغه جملې مطلب دا وو كه تاسو موږ ته د خپلو سپرليو د تېز ځغلولو تر برك عماد پوري د دښمن په مقابله كي د رسېدو حكم راكړئ نو موږ به ستاسو د حكم په عملي كولو كي سمدستي روان سو او په يو ځاى كي د درېدو څخه پرته به په ډېره تيزي سره برك عماد ته په رسېدو سره ساه اخلو .

د حديث په پاى كي د رسول الله ﷺ د يوې لوى معجزې ذكر دى چي رسول الله ﷺ د بدر ځاى ته په رسېدو سره د جنگ پيل كېدو څخه هم مخكي د اوويا كافرانو د مړو د لوېدو د ځايو په باره كي يادونه كړې وه، رسول الله ﷺ د هغوئ ټولو د نومونو په اخيستلو سره او پرېوه يوه ځاى باندي په لاس اېښودو سره صحابه كرام خبر كړي وه چي په دوئ كي به فلاني سړى په دغه ځاى كي په وژل كېدو سره پروت وي او د فلاني سړي مړى به دلته پروت وي، نو همدارنگه وسول ، كله چي جگړه پېل سول او د اسلام مجاهدينو د كافرانو وژل پيل كړل، رسول الله ﷺ چي د كوم كافر لپاره كوم ځاى ښودلى وو په هغه ځاى كي ووژل سول او د هغه مړى د هغه ځاى څخه يوه ذره آخوا دېخوا نه وو .

د بدر د غزا په ورځ دعاء

﴿۵۶۲۲﴾: وَعَنِ ابْنِ عَبَّاسٍ اَنَّ النَّبِيَّ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ قَالَ وَهُوَ فِي قُبَّةٍ

د حضرت ابن عباس رضي الله عنهما څخه روايت دى چي رسول الله ﷺ د بدر په ورځ په خيمه كي وو چي دا

يَوْمَ بَدْرٍ اللّٰهُمَّ إِنِّي أَنْشُدُكَ عَهْدَكَ وَوَعْدَكَ اللّٰهُمَّ إِنْ تَشَأْ لَا تُعْبَدْ بَعْدَ

دعاء يې وكړل اې الله! زه ستا څخه ستا امان او ستا وعدې پوره كول غواړم، اې الله ! كه ته غواړې (چي مؤمنان هلاك سي) نو د نن څخه وروسته به ستا عبادت نه كيږي،

الْيَوْمِ فَأَخَذَ أَبُو بَكْرٍ بِيَدِهِ فَقَالَ حَسْبُكَ يَا رَسُولَ اللّٰهِ أَلْحَحْتَ عَلَى رَبِّكَ

رسول الله ﷺ دومره فرمايلي وه چي ابوبكر رضي الله عنه د رسول الله ﷺ مبارك لاس ونيوى او عرض يې وكړې اې د الله رسوله ! بس دومره كافي ده تاسو په خپله دعاء كي خپل پروردګار ته ډيري

فخرج وَهُوَ يَثِبُ فِي الدِّرْعِ وَهُوَ يَقُولُ سَيُهْزَمُ الْجَمْعُ وَيُوَلُّونَ الدُّبُرَ. رواه البخاري.

زارى وكړې ، ددې څخه وروسته رسول الله ﷺ په تيزي سره د خيمې څخه دباندي راووتى حال دا چي رسول الله ﷺ زغره اغوستې وه (او په لوړ آواز سره يې) دا آيت تلاوت كړ : (سيهزم الجمع .....)، (كفار به ډير ژر ماته وخوري او پر شا به وتښتي). بخاري.

تخريج: صحيح البخاري (فتح الباري): ۸\٦۱۹، رقم: ۴۸۷۵.

تشريح: ستا د وعدې پوره كول غواړم، رسول الله ﷺ ددغه جملې په ذريعه دغه آيت كريمه (واذ يعدكم الله احدي الطائفتين) يعني كله چي الله جل جلاله ستاسو سره د هغه دوو ډلو په اړه د يوه وعده كول چي هغه به ستاسو لاس ته راسي، ته اشاره وكړل، چي په هغه كي الله جل جلاله وعده فرمايلې ده، كه مسلمانان د مكې د كفارو سره جګړه اختيار كړي نو هغوئ ته به په دغه جګړه كي كاميابي په برخه سي ، دلته دا سوال پيدا كيږي چي رسول الله ﷺ خو ډېر عارف بالله وو او ښه پوهيدى چي الله جل جلاله كومه وعده وكړي نو هغه پوره كېدونكي وه،

په داسي صورت كي رسول الله ﷺ ولي دعاء وكړل ، ددې جواب دادى چي اول خو ددغه دعاء څخه د رسول الله ﷺ مقصد د هغه حكم تعميل وو چي بنده لره په هر حال كي د الله جل جلاله څخه د مرستې او مقصد ته رسېدو دعاء كول پكار دي كه څه هم د هغه مقصد تر لاسه كېدل يقيني وي يا نه وي، دوهم دا چي علم بالله پر خپل ځاى الله جل جلاله ته د خوف متقاضي وي او نبيان عليهم السلام ددغه خوف څخه خالي نه وي نو كېداى سي چي رسول الله ﷺ محض ددغه خوف په وجه دعاء كړې وي چي كه چيري الله جل جلاله د فتح او نصرت وعده كړې ده مګر داسي نه وي چي خپله زما له خوا يو داسي شى رامنځته سي چي د فتح او نصرت په لاره كي خنډ وګرځي او د الله جل جلاله له خوا هغه موعوده فتح او نصرت رد كړل سي او دا هم كيداى سي چي الله جل جلاله، د رسول الله ﷺ سره بېله شكه د نصرت وعده كړې وه مګر د نصرت وخت يې ټاكلى نه وي او رسول الله ﷺ د ځنډ كولو څخه و بيريدى ځكه رسول الله ﷺ دعاء وكړل چي هغه وعده نن پوره سي ، په دې اړه بايد دا خبره هم په ذهن كي وي چي كيداى سي په هغه وخت كي د رسول الله ﷺ ذهن دغه آيت ته

متوجه سوی وي (والله هو الغني الحمید، ان یشایذهبکم ویات بخلق جدید) او دغه آیت (ان الله لغني عن العالمین)، چي د الله ﷻ پر بې پرواهي او بې نیازي باندي دلالت کوي، نو رسول الله ﷺ ددغه آیاتونو په فکر کي ساتلو په وجه د الله ﷻ څخه د مرستي او نصرت دعاء غوښتې وي، دا خبره امام غزالي رحمه الله هم لیکلې ده چي د رسول الله ﷺ احساس او امساک ډېر کامل وو او د الله ﷻ د بې نیازی او د هغه د جلال په اړه د رسول الله ﷺ علم او عرفان پراخ وو ځکه رسول الله ﷺ د الله ﷻ د نصرت د وعدې سربېره د فتح دعاء په ډېره عاجزي سره وکړل، حال دا چي د حضرت ابوبکر صدیق رضي الله عنه نظر محض د الله ﷻ پر ظاهري وعده وو ځکه هغه د زیاتي دعاء ضرورت محسوس نه کړ.

د الله ﷻ پر وعده باندي د پوره باور درلودلو سربېره د رسول الله ﷺ دعاء کول او په هغه دعاء کي زاری اختیارول یو خاص مقصد درلودی او هغه د مجاهدینو او صحابه کرامو زړه ته تقویت ورکول، دهغوئ ثابت قدمه ساتل او په هغوئ کي د حوصلې پیدا کول وو ځکه چي صحابه کرام پوهېدل چي د رسول الله ﷺ دعاء په یقیني توګه قبلېدونکې ده، په خاصه توګه کله چي په ډېرو زاریو سره وي.

د ډېري خوشحالۍ څخه په ډېره تیزي د خپلي خیمې څخه راووتی...الخ: مخکي خو رسول الله ﷺ د خوف او رجاء (بیري او امید) په منځ کي وو مګر کله چي د الله ﷻ حتمي وعده نازله سوه چي دښمنان به ماته خوري او هغوئ به تېښته کوي نو د امید اړخ غالب سو، مجاهدینو ته د کفارو د ماتي او د مسلمانانو د کامیابۍ د زیري ورکولو لپاره رسول الله ﷺ ذکر سوی آیت په لوړ آواز ویلو سره د خیمې څخه دباندي راووتی، او دا یوه معجزه وه چي د دښمنانو په مقابله کي مسلمانانو ته د فتح خبر چي هغه تر هغه وخته پوري د الله ﷻ څخه ماسوا د بل چا په علم کي نه وو، رسول الله ﷺ د الله ﷻ له خوا په زیري او خبر سره مؤمنان خبر کړل.

د بدر په غزا کي د جبرائیل علیه السلام شرکت

﴿۵۶۲۳﴾: وَعَنْهُ أَنَّ النَّبِيَّ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ قَالَ يَوْمَ بَدْرٍ هَذَا جِبْرِيلُ آخِذٌ بِرَأْسِ فَرَسِهِ عَلَيْهِ أَدَاةُ الْحَرْبِ. رواه البخاري.

د حضرت انس رضي الله عنه څخه روایت دی چي د بدر په ورځ رسول الله ﷺ وفرمایل: دا جبرائیل علیه السلام دی چي د خپل آس واګي یې نیولي دي، او پر هغه یې د جنګ سامان اچولی دی. بخاري

تخريج: صحيح البخاري (فتح الباري): ۷\۳۱۲، رقم: ۲۹۹۵.

تشريح: په دغه حديث کي د رسول الله ﷺ د هغه معجزې يادونه ده چي رسول الله ﷺ د بدر په غزا کي حضرت جبرائيل علیه السلام وليدی چي د الله جل جلاله په حکم سره کفارو ته د ماتي ورکولو او مسلمانانو ته د کاميابۍ ورکولو لپاره د آسمان څخه راکښته سوی وو، څرګنده دي وي چي بدر په اصل کي د يو ځاه نوم دی چي د مکې او مدينې په منځ کي پر څلور پړاوه فاصله باندي واقع دی، د مکې د کافرانو او مسلمانانو په منځ کي دا لومړنۍ جګړه وه چي د روژې مبارکي پر ۱۷ نېټه په دوهم هجري کال کي د جمعې په ورځ رامنځته سول، دغه جګړه د بدر د ځاه سره نژدې په يو ميدان کي ترسره سول ځکه دې ته د بدر جګړه يا غزوه بدر ويل کيږي.

د اسماني مرستي مشاهده

﴿۵۶۲۴﴾: وَعَنْهُ قَالَ بَيْنَمَا رَجُلٌ مِنَ الْمُسْلِمِينَ يَوْمَئِذٍ يَشْتَدُّ فِي أَثَرِ رَجُلٍ

د حضرت انس رضي الله عنه څخه روايت دی چي په دغه ورځ (يعني د بدر د غزا په ورځ) چي يو مسلمان په يوه مشرک پسې ځغاستی

مِنَ الْمُشْرِكِينَ أَمَامَهُ إِذْ سَمِعَ ضَرْبَةً بِالسَّوْطِ فَوْقَهُ وَصَوْتَ الْفَارِسِ يَقُولُ

[illegible]په هغه د چابک (غمچيني) اواز واوريدی چي واريې پر هغه کافر ولګيدی بيا هغه د يو سپاره اواز واوريدی چي ويل يې:

[illegible]دِمْ حَيْزُومُ اذا نَظَرَ إِلَى الْمُشْرِكِ أَمَامَهُ فَخَرَّ مُسْتَلْقِيًا فَنَظَرَ إِلَيْهِ فَإِذَا هُوَ

[illegible] حيزوم مخکي سه، (حيزوم د جبرائيل علیه السلام د آس نوم دی)، بيا هغه مسلمان چي په هغه مشرک پسې وو وليدل چي هغه د هغه په مخکي پريوتی

قَدْ خُطِمَ أَنْفُهُ وَشُقَّ وَجْهُهُ كَضَرْبَةِ السَّوْطِ فَاخْضَرَّ ذَلِكَ أَجْمَعُ فَجَاءَ

پر پزه يې نښه وه او د هغه مخ چاودلی وو، او پر کوم ځای چي غمچينه لګيدلې وه هغه ټول

الْأَنْصَارِيُّ فَحَدَّثَ رَسُولَ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ فَقَالَ صَدَقْتَ ذَلِكَ مِنْ مَدَدِ السَّمَاءِ الثَّالِثَةِ فَقَتَلُوا يَوْمَئِذٍ سَبْعِينَ وَأَسَرُوا سَبْعِينَ. رواه مسلم.

پوست شين سوی وو ، هغه مسلمان د رسول الله ﷺ په خدمت کي حاضر سو او پېښه يې بيان کړه ، رسول الله ﷺ ورته وفرمايل : ته رښتيا وايي ، بيا يې وفرمايل دغه ملائکه د دريم آسمان د مرستيال فوځ ملائکه وه، په دغه ورځ اويا کافران د مسلمانانو په لاس قتل سول او اويا کافران بنديان سول. مسلم

تخريج: صحيح مسلم ۳\ ۱۳۸۴، رقم: ۵۸- ۱۷۶۳.

د لغاتو حل: حيزوم: اسم فرس (د آس نوم). خطم: وهو الاثر علی الانف.

تشريح: حيزوم مخکي سه، دا د اقدم حيزوم ترجمه سوې ده، د اقدام معنی په اصل کي د دښمن په جګړه کي رابلل ، بېرول او مېړانه ښودل دي، مګر دا معنی په هغه صورت کي مراد اخيستل کيږي کله چي د اقدم لفظ د الف په زور ، د قاف په جزم او ددال په زېر سره وي او که دغه لفظ د الف او دال په پېښ سره وي نو بيا ددې معنی به د مخکې کېدو وي ، په دغه صورت کي به د اقدم حيزوم معنی دا وي چي حيزوم پر مخ ځه، حيزوم د حضرت جبرائيل عليه السلام د آس نوم دی لکه چي په قاموس کي ذکر سوي دي مګر ځينو حضراتو ويلي دي چي دا د يوې بلي ملائکي د آس نوم دی .

د بدر په جګړه کي مسلمانانو ته د غيبو څخه آسماني مرسته تر لاسه سول او د هغه مرستي تعلق لرونکي د يوې ملائکي دغه کړنه پر يو صحابي باندي په ذکر سوي صورت کي کشف او اظهار وسو، دا په اصل کي د هغه صحابي کرامت دی او د تابع يعني صحابي څخه ظاهرېدونکي کرامت د هغه د متبوع يعني نبي د معجزې يو صورت وي ، په خاصه توګه په داسي حالت کي کله چي هغه کرامت د نبي په موجودتيا کي ظاهر سوی وي په دغه مناسبت سره دغه حديث د معجزاتو په باب کي نقل کول غير مناسب نه دي يا داهم ويل کيږي چي په دغه حديث کي د کومي پېښي ذکر دی د هغه خبر باوري صحابي ورکړ او صادق او مصدوق ﷺ د هغه تصديق وکړ او دغه تصديق يوازي د رسول الله ﷺ کار وو چي ددغه تعلق د اعجاز رسالت سره دی نو دغه پېښه د رسول الله ﷺ په معجزاتو کي شمېرل هم صحيح دي .

د احد په غزا کي د ملائکو د مرستي معجزه

﴿۵۶۲۵﴾: وَعَنْ سَعْدِ بْنِ أَبِي وَقَّاصٍ رَضِيَ اللَّهُ عَنْهُ قَالَ رَأَيْتُ عن يمين

د حضرت سعد بن ابي وقاص رضی الله عنه څخه روايت دی چي ما د احد په غزا کي د رسول الله ﷺ

رَسُول اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ عن شماله يَوْمَ أُحُدٍ رَجُلَيْن عَلَيْهِمَا ثِيَابٌ

راسته او چپه خوا ته دوه کسان ولیدل چې سپینې جامې یې اغوستې وې او د دښمنانو سره یې

بِيضٌ يُقَاتِلَانِ كَأَشَدِّ الْقِتَالِ مَا رَأَيْتُهُمَا قَبْلُ وَلَا بَعْدُ يعني جبرئيل

وميكائيل. متفق عليه.

په ډیره سختۍ سره جنګ کوئ هغه کسان ما هیڅکله نه و لیدلی او نه مې وروسته ولیدل، او دا دواړه جبرائیل علیه السلام او میکائیل علیه السلام ملائکې وې. بخاري او مسلم

تخریج: صحیح البخاري (فتح الباري): ٧\٣٥٨، رقم: ٤٠٥٤، ومسلم ٤\١٨٠٢، رقم: ٤٦-٢٣٠٦.

تشریح: یعني حضرت جبرائیل علیه السلام او میکائیل علیه السلام وو، دغه وضاحت خپله راوي کړی دی او هغه د دغه دواړو ملائکو کېدل یا خو ددې څخه وګڼل چې هغه دواړه یې نه مخکې لیدلي وه او نه یې وروسته ولیدل یا هغه خپله د رسول الله ﷺ څخه اورېدلي وي چې هغه دواړه پردي خلک حضرت جبرائیل علیه السلام او حضرت میکائیل علیه السلام وه.

د ماتې پښې علاج

﴿٥٦٢٦﴾: وَعَنِ الْبَرَاءِ قَالَ بَعَثَ النبي صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ رهطا إِلَى أَبِي رَافِعٍ

د حضرت براء رضي الله عنه څخه روایت دی چې رسول الله ﷺ یوه ډله ابورافع ته ولیږل، د هغه ډلې څخه

فدخل عَلَيْهِ عَبْدَ اللَّهِ بْنَ عَتِيكٍ بيته ليلا وهو نائم فقتله فَقَالَ عَبْدُ اللَّهِ

عبدالله بن عتیک د شپې د ابورافع په کور کې داخل سو چې هغه بیده وو نو مړ یې کړی، د عبدالله بن عتیک بیان دی چې

بن عتيك فَوَضَعْتُ السَّيْفَ فِي بَطْنِهِ حَتَّى أَخَذَ فِي ظَهْرِهِ فَعَرَفْتُ أَنِّي قَتَلْتُهُ

ما د ابورافع پر نس توره کښېښودل تر دې چې د هغه د شا څخه ووتل، زه پوه سوم چې مړ مې کړ

فَجَعَلْتُ أَفْتَحُ الْأَبْوَابَ حَتَّى انْتَهَيْتُ إِلَى دَرَجَةٍ فَوَضَعْتُ رِجْلِي فَوَقَعْتُ فِي

بیا مې د دروازې خلاصول شروع کړل تر دې چې د زینې پای ته ورسیدم، د سپوږمۍ شپه وه

لَيْلَةٍ مُقْمِرَةٍ فَانْكَسَرَتْ سَاقِي فَعَصَبْتُهَا بِعِمَامَةٍ فَانْطَلَقْتُ إِلَى أَصْحَابِي

څرنګه چې ما پښه کښېښودل نو را ولویدم او زما پنډۍ ماته سوه، ما په خپل لنګوټي سره خپل

پنډۍ وتړل او خپلو ملګرو ته را ورسیدم،

فَانْتَهَيْتُ إِلَى النَّبِيِّ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ فَحَدَّثْتُهُ فَقَالَ ابْسُطْ رِجْلَكَ فَبَسَطْتُ رِجْلِي فَمَسَحَهَا فَكَأَنَّهَا لَمْ أَشْتَكِهَا قَطُّ. رواه البخاري.

بیا د نبي کریم ﷺ په خدمت کې حاضر سوم او پښه مي ورته بیان کړه، رسول الله ﷺ راته وفرمایل: خپله پښه را وغزوه، ما خپله پښه ور وغزول، رسول الله ﷺ پر هغه لاس مبارک را تیر کړ او هغه داسي روغه سوه لکه هیڅکله چي ماته سوې نه وي. بخاري.

تخريج: صحيح البخاري (فتح الباري): ٦\١٥٥، رقم: ٣٠٢٢.

تشريح: ابو رافع یو یهودي تجار وو، د هغه کنیت ابو الحقیق وو، ډېر بد خصلته او د رسول الله ﷺ او مسلمانانو سخت دښمن وو مګر هغه د خپل عهد ماتولو او اذیت رسولو په وجه رسول الله ﷺ ډېر سخت په تکلیف کړي وو، دغه بدبخت د رسول الله ﷺ په شان کي بدوینه هم کړې وه، په پای کي رسول الله ﷺ په مجبوره کېدو سره د هغه خلاف د سختي کړني اراده وفرمایل او د حضرت عبد الله ابن عتیک رضي الله عنه په مشرۍ کي څو انصار زلمیان د هغه د بندي کولو او یا وژلو لپاره ولېږل، هغه د حال په څرګندېدو سره په خپله خوندي قلعه کي محصور سوی وو، عبد الله ابن عتیک رضي الله عنه په یو ډېر عجیبه او حیرانونکي تدبیره د مخکي څخه د هغه په قلعه کي او بیا چي ابو رافع د شپې د خوراک کولو څخه وروسته بېده سوی وو د هغه د خوب په ځای کي داخل سوی وو او په خپله توره یې د هغه کار خلاص کړی وو.

کله چي هغه د خپلي کړني تر سره کولو وروسته راستنېدی او پر یوه زینه کښته کېدی نو د شپې د سپوږمۍ د رڼا په وجه داسي رڼا وه چي هغه معلوم سو، عبد الله ابن عتیک رضي الله عنه په دې ګڼلو سره قدم پورته کړ چي زینه ختم سوې ده او مخکي ځمکه ده مګر هلته تر اوسه پوري زینه پاته وه او د هغه پښه داسي ولوېدل چي هغه خپل توازن برقرار ونه ساتلای سو، لاندي را ولوېدی چي د هغه په وجه یې پنډۍ ماته سوه، بیا کله چي هغه د رسول الله ﷺ په خدمت کي حاضر سو او ټوله پېښه یې رسول الله ﷺ ته بیان کړل نو رسول الله ﷺ د هغه پر پښه خپل مبارک لاس را تېر کړ چي د هغه په برکت د هغه ماته پنډۍ روغه سول او ټول تکلیف یې ولاړ، دا د رسول الله ﷺ معجزه وه.

د احزاب په غزا کي د خوراک معجزه

﴿۵۶۲۷﴾: وَعَنْ جَابِرٍ قَالَ إِنَّا يَوْمَ الْخَنْدَقِ نَحْفِرُ فَعَرَضَتْ كُدْيَةٌ شَدِيدَةٌ

د حضرت جابر رضي الله عنه څخه روایت دی چي د خندق په غزا کي موږ خندق کیندی چي یو سخته مځکه ښکاره سوه،

فَجَاءُوا النَّبِيَّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ فَقَالُوا هَذِهِ كُدْيَةٌ عَرَضَتْ فِي الْخَنْدَقِ فَقَالَ

صحابه کرام د رسول الله ﷺ په خدمت کي حاضر سول او عرض يې وکړ چي یو سخته مځکه په خندق کي راغلل، رسول الله ﷺ وفرمایل:

أَنَا نَازِلٌ ثُمَّ قَامَ وَبَطْنُهُ مَعْصُوبٌ بِحَجَرٍ وَلَبِثْنَا ثَلَاثَةَ أَيَّامٍ لَا نَذُوقُ ذَوَاقًا فَأَخَذَ

زه خندق ته ور کښته کيږم ګورم يې، ددې فرمایلو سره رسول الله ﷺ ولاړ سو او حالت يې دا وو چي د زیاتي لوږي له کبله رسول الله ﷺ پر خپل مبارک نس ډبري تړلي وې او د درو ورځو څخه زموږ دا حالت وو چي موږ د څښلو یو شی نه وو څيښلی،

النَّبِيُّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ الْمِعْوَلَ فَضَرَبَ فَعَادَ كَثِيبًا أَهْيَلَ فَانْكَفَأْتُ إِلَى امْرَأَتِي

رسول الله ﷺ په خپل لاس مبارک تبر پورته کړ او په هغه يې پر مځکي وار وکړ نو هغه سخته ډبره د شګو په ډول ذرې ذرې سول، د حضرت جابر رضي الله عنه بیان دی ددې څخه وروسته زه د هغه ځای څخه خپل کور ته روان سوم خپلي ښځي ته مي وویل

فَقُلْتُ هَلْ عِنْدَكِ شَيْءٌ فَإِنِّي رَأَيْتُ بِالنَّبِيِّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ خَمَصًا شَدِيدًا

ستا سره د خوراک یو شی سته، ما ته معلومه سوې ده چي رسول الله ﷺ سخت وږی دی،

فَأَخْرَجَتْ جِرَابًا فِيهِ صَاعٌ مِنْ شَعِيرٍ وَلَنَا بُهَيْمَةٌ دَاجِنٌ فَذَبَحْتُهَا وَطَحَنَتْ

زما ښځي یوه کڅوړه راوکښل چي په هغې کي یو صاع اوربشي وې او زموږ په کور کي یو لوی وری وو ما هغه حلال کړ او زما ښځي اوړه وکړل

الشَّعِيرَ حَتَّى جَعَلْنَا اللَّحْمَ فِي الْبُرْمَةِ ثُمَّ جِئْتُ النَّبِيَّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ

بیا ما په کټو کي غوښه واچول او د رسول الله ﷺ په خدمت کي حاضر سوم، کرار مي ورته

فَسَارَرْتُهُ فَقُلْتُ يَا رَسُولَ اللّٰهِ ذَبَحْنَا بُهَيْمَةً لَنَا وَطَحَنت صَاعًا مِنْ شَعِيرٍ فَتَعَالَ

وويل اې دالله رسوله ! موږ يو وری ذبح کړی دی او يو صاع اوربشي مو اوړه کړي دي تاسو د

أَنتَ وَنَفَرٌ مَعَكَ فَصَاحَ النَّبِيُّ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّم يَا أَهْلَ الْخَنْدَقِ إِنَّ جَابِرًا

خپلو يو څو ملګرو سره تشريف راوړئ ،ددې اوريدو سره رسول الله ﷺ په لوړ آواز سره وفرمايل : اې خندق والاوو ! راځئ جابر مېلمستيا تياره کړې ده

صَنَعَ سُورًا فَحَيَّ هَلًا بِكم فَقَالَ رَسُولُ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ لَا تُنْزِلُنَّ

ژر راځئ چې ورسو ، ددې څخه وروسته رسول الله ﷺ ما ته وفرمايل: تاسو خپل کټو د نغرې

بُرْمَتَكُمْ وَلَا تَخْبِزُنَّ عَجِينَكُمْ حَتَّى أَجِيءَ وَجَاءَ فَأَخْرَجَتْ لَهُ عَجِينًا فَبَصَقَ

څخه مه کښته کوئ او اوړه مه پخوئ تر څو پورې چې زه در نه سم، نو رسول الله ﷺ تشريف راوړ او اغښلي اوړه د رسول الله ﷺ مخته راوړل سول ، رسول الله ﷺ په هغه اوړو کې د خپل

فِيهِ وَبَارَكَ ثُمَّ عَمَدَ إِلَى بُرْمَتِنَا فَبَصَقَ وَبَارَكَ ثُمَّ قَالَ ادْعِي خَابِزَةً فَلْتَخْبِزْ

خولې مبارک لعاب (نارې) واچول او د برکت دعاء يې وکړل، بيا زموږ کټو ته راغلی نو په هغه کې يې هم لعاب مبارک واچول او د برکت دعاء يې وکړه ، بيا يې زما بي بي ته وفرمايل : ډوډۍ پخونکې راوغواړه چې ستا سره ډوډۍ پخه کړي

مَعك وَاقْدَحِي مِنْ بُرْمَتِكُمْ وَلَا تُنْزِلُوهَا وَهُمْ أَلْفٌ فَأُقْسِمُ بِاللّٰهِ لَا أَكَلُوا حَتَّى

او غوښې د کټو څخه راوکاږه او کټو پر نغري پريږده چې پرته وي، د جابر ﷺ بيان دی چې خندق والا زر کسان وه ، په الله ﷻ قسم کولو سره وايم چې ټولو (په ماړه نس) ډوډۍ وخوړل او

تَرَكُوهُ وَانْحَرَفُوا وَإِنَّ بُرْمَتَنَا لَتَغِطُّ كَمَا هِيَ وَإِنَّ عَجِينَنَا لَيُخْبَزُ كَمَا هُوَ. متفق عليه

پاته هم سول او بيرته ولاړل، او زموږ کټو هم هغسې ډکه وه لکه څرنګه چې د خوراک څخه مخکې وه ، او اوړه پخيدل چې نه خلاصيدل لکه څرنګه چې په اول کې وه. .بخاري او مسلم.

تخريج: صحيح البخاري (فتح الباري): ۷\۳۹۵ ،رقم: ۴۱۰۱، ومسلم ۳\۱۶۱۰، رقم: ۱۴۱– ۲۰۲۹.

د لغاتو حل: كدية: اي قطعة (ټوټه). اهيل: اي سائلا. خمصا : اي خمور في بطنه من الجوع. داجن: سمينة. (چاغ). البرمة: اي القدر من الحجر (د ډبرې دېګ). سورا : اي طعاما (خوراک).

تشریح: په حدیث کي د سُور لفظ چي معنی يې د مېلمستيا په خوراک سره سوې ده، دا په اصل کي د فارسي لفظ دی چي د رسول الله ﷺ پر خوله جاري سو، دغه لفظ د فارسیانو په اصطلاح کي د واده د ډوډۍ لپاره استعمالیږي، ددغه لفظ څخه ماسوا د فارسي نور الفاظ هم پر مختلفو ځایو باندي د رسول الله ﷺ د ژبي مبارکي څخه ادا سوي دي.

د خوراک دغه اندازه د څو کسانو لپاره کافي کیدای سي، نه یوازي دا چي په زرهاوو کسانو په ماړه نس ډوډۍ وخوړل بلکه هم هغسي پاته سول، دا په اصل کي د هغه د ذات د برکت په وجه وو چي د ټولو برکتونو منبع او مخزن دی، او ټول کائنات بلکه مځکه او آسمان دده په برکت معمور دي، همدارنګه بې شمېره معجزې يعني د لږ خوراک زیاتېدل، تر ګوتو مبارکو اوبه روانېدل او د لږ اوبه ډېرېدل، دخوراک څخه د تسبیح آواز راتلل، د خرما د درختي زارۍ کول، او داسي نور، دا ټولي داسي پېښي دي چي د حدیثو او تاریخ په کتابو کي زیاتي مذکور دي او ددې اړوند روایتونه حد تواتر ته رسیدلي دي چي د هغه څخه علم قطعي تر لاسه کیږي، دغه معجزې چي د رسول الله ﷺ د نبوت او رسالت دلیل دي، مختلفو محققو علماؤ په ډېر محنت سره په خپلو کتابو کي جمع کړي دي، په دې اړه ډېر ښه کتاب د امام بیهقي رحمه الله دلائل النبوت منل سوی دی.

د عمار بن یاسر په باره کي پیشګویي

﴿۵۶۲۸﴾: وَعَنْ اَبِيْ قَتَادَةَ أَنَّ رَسُولَ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ قَالَ لِعَمَّارٍ حين يحفر الخندق فجعل يمسح راسه ويقول بوس ابن سمية تَقْتُلُكَ الْفِئَةُ الْبَاغِيَةُ. رواه مسلم.

د حضرت ابو قتاده رضي الله عنه څخه روایت دی چي عمار بن یاسر رضي الله عنه خندق کیندی چي رسول الله ﷺ د هغه پر سر خپل مبارک لاس را تیر کړ او وه يې فرمایل: اې د سمیه زویه! دومره کوښښ او مشقت، تا به یو سرکښه ډله قتل کړي (نو هغه په جنګ صفین کي قتل کړل سو). مسلم.

تخریج: صحیح مسلم ۴/۲۲۳۵، رقم: ۷۰- ۲۹۱۵.

تشریح: سمیة د یوې صحابي مېرمني نوم دی، هغې په پیل کي اسلام قبول کړی وو او دنورو مسلمانانو په ډول دا هم د مکې د کفارو د ظلم او ستم ښکار سوې وه، د ښځي کېدو په وجه هغې د کافرانو د لاسه سخت تکلیفونه وزغمل، مګر ددین د لاري څخه یو انچ لیري کېدو ته

تیاره نه سول، په پای کي ابوجهل لعين یوه ورځ هغه مبارکه په شرمګاه کي په خنجر وهلو سره شهیده کړل، حضرت عمار ابن یاسر رضی الله عنه د دغه مبارکي ښځي زوی وو، د احزاب د غزا په وخت چي د مدینې د ساتني لپاره صحابه کرامو خندق کیندی نو حضرت عمار رضی الله عنه په پوره مېړانه په دغه کار کي بوخت وو، رسول الله صلی الله علیه وسلم هغه ولیدی، د هغه د محنت او مشقت احساس ورته وسو، بیا د عالم الغیب څخه پر رسول الله صلی الله علیه وسلم منکشف سول چي د عمار رضی الله عنه مرګ به د باغیانو د لاسه وي نو د رسول الله صلی الله علیه وسلم زړه مبارک د عمار په اړه د جذبه ترحم او محبت څخه ډک سو او پر ژبه مبارکه یې ذکر سوي حسرتناک الفاظ جاري سول، په دغه الفاظو کي رسول الله صلی الله علیه وسلم یا خو د عمار سختي او مصیبت وکړ مګر مخاطب خپله عمار وو، ددې مطلب دا وو چي اې عماره! زما پر تا باندي ډېر زړه خوږېږي، ته به یوه ورځ په داسي سختي او مصیبت کي وي چي د باغیانو یوه ډله به د امام حق او د وخت خلیفه پر خلاف د بغاوت بېرغ پورته کړي او تا به شهید کړي.

د حدیث مصداق

د حدیث شارحینو لیکلي دي چي د رسول الله صلی الله علیه وسلم دغه وړاند وینه پوره سول، حضرت عمار ابن یاسر رضی الله عنه د صفین په جګړه کي د امیر المؤمنین حضرت علي رضی الله عنه له خوا شریک سو او د حضرت معاویه د ډلي په لاس شهید سو، ددې څخه معلومه سوه چي په دغه جګړه کي حضرت علي رضی الله عنه پر حق وو، ځکه رسول الله صلی الله علیه وسلم فرمایلي وه چي د عمار مرګ به د باغیانو په لاس وي او د حضرت معاویه ډلي هغه قتل کړ، په یوه روایت کي نقل سوي دي چي کله حضرت عمار رضی الله عنه شهید سو نو حضرت عمرو ابن العاص چي د حضرت معاویه سره وو ډېر پریشانه سو او حضرت معاویه رضی الله عنه ته راغلی هغه ته یې وویل: دا خو ډېره د پریشانۍ خبره ده چي عمار زموږ د لښکر په لاس ووژل سو، معاویه وویل: ولي؟ په دې کي د پریشانۍ څه خبره ده؟ عمرو بن العاص، معاویه رضی الله عنه ته وویل: ما د رسول الله صلی الله علیه وسلم څخه د عمار رضی الله عنه په اړه اورېدلي وه چي تا به د باغیانو یوه ډله قتل کړي، معاویه رضی الله عنه جواب ورکړ، نو عمار رضی الله عنه موږ کله قتل کړی دی، په اصل کي خو علي رضی الله عنه هغه وژلی دی هغه د ځان سره د جنګ لپاره راوستلی وو، دا هم منقول دی چي حضرت معاویه رضی الله عنه ددغه حدیث په الفاظو کي تاویل کوی، دهغه وینا وه چي د باغیه لفظ دلته د بغي څخه مشتق دی چي د هغه معنی د بغاوت ده بلکه د بغاء څخه مشتق دی چي د هغه معنی لټول دي، په دې اعتبار د هغه په نزد د رسول الله صلی الله علیه وسلم د ارشاد (تقتلک الفئة الباغیة) معنی دا سوه چي اې عماره! تا به د مطالبه کونکو یوه ډله قتل کړي،

مطلب دا چي كومه ډله د قصاص مطالبه كوي د هغوئ په لاس به عمار قتل سي ، حضرت معاويه رضي الله عنه به ويل چي نحن فئة باغية طالبة لدم عثمان، (موږ مطالبه كونكې ډله يو چي د حضرت عثمان رضي الله عنه دويني غوښتونكي يو) مګر د عقل او نقل په رڼا كي د حضرت معاويه رضي الله عنه دا تاويل صحيح نه دى بلكه صريح تحريف دى ، په ځينو روايتو كي دا هم نقل سوي دي چي كله حضرت عمروبن العاص رضي الله عنه د حضرت معاويه رضي الله عنه په وړاندي ذكر سوې پريشاني ذكر كړل نو معاويه رضي الله عنه هغه ته وويل: ته خو عجيبه سړى يې ، د ځان څخه د كم سړي په اړه دي پښې ښوئيږي يعني عمار خو ستا په مقابله كي يو ادنا سړى وو، بيا دا څه دي چي تا د هغه معامله اخيستې ده او د شک ښكار سوى يې، او زموږ د ملګرتيا څخه جلا كېدل غواړي، مګر ملا علي قاري رحمة الله عليه د شيخ اكمل الدين په حواله ليكلي دي چي دغه دواړي خبري پر حضرت معاويه رضي الله عنه باندي افتراء ده ، هغه نه خو د حديث دغه تاويل كړى دى چي د تحريف مرادف دى او نه يې د حضرت عمار په اړه داسي سپكه خبره كړې ده .

خبرداري!

بېله شكه د دغه حديث څخه دا ثابته سول چي د حضرت علي رضي الله عنه او حضرت معاويه رضي الله عنه په منځ كي كومه جګړه رامنځته سوه نو په دې كي حضرت علي رضي الله عنه پر حق وو او كوم خلک چي د هغه د اطاعت څخه په وتلو د جګړې لپاره راوتلي وه هغوئ خروج وكړ مګر ددې دا مطلب هيڅكله نه دى چي خلک د حديث په لېدو سره او ددې پر محمول او مصداق باندي په پوهېدو سره د حضرت معاويه رضي الله عنه په اړه د لعن او بدويني ژبه اوږده كړي، او د هغوئ ذات د ملامتيا نښه وګرځي، راسخ العقيده او صحيح الفكر مسلمان لره د خلاصون لاره داده چي په دغه نازكه مسئله كي خپله ژبه بنده كړي او د دواړو معامله الله جل جلاله ته وسپاري، حضرت معاويه رضي الله عنه يو جليل القدر صحابي وو، د رسول الله صلى الله عليه وسلم په وړاندي يې ډېر عزت او ارزښت درلود، د هغه په شان كي بده خبره د ژبي څخه ايستل د يو صحابي بې ادبي كول دي او د يو صحابي بې ادبي كول د الله جل جلاله عذاب ته بلنه وركول دي، رسول الله صلى الله عليه وسلم د خپلو ټولو صحابه كرامو په اړه وفرمايل: اې خلكو ! زما د صحابوو په اړه د الله جل جلاله څخه وبيرېږئ، هغوئ د ملامتيا نښه مه ګرځوئ، په ياد ولرئ كوم څوک چي زما د صحابوو سره مينه وكړي نو هغوئ زما سره د ميني درلودلو په وجه د هغوئ سره مينه وكړل او كوم څوک چي زما د صحابه كرامو سره بغض وساتي نو هغوئ زما سره د بغض ساتلو په وجه د هغوئ سره بغض وكړ،

او كوم څوک چي زما صحابوو ته تکليف ورسوي نو هغه په حقيقت کي ما ته تکليف ورسوی او کوم څوک چي ما ته تکليف ورسوي نو هغه ګويا الله ﷻ ته تکليف ورسوی او کوم څوک چي الله ﷻ ته تکليف ورسوي نو هغه به د الله ﷻ په عذاب کي اخته سي، دغه ارشاد ترمذي نقل کړی دی او په دغه کتاب کي هم وړاندي د فضائل صحابه په باب کي داسي ډېر حديثونه راغي، او همدا رنګه ډېر حديثونه منقول دي چي د هغه څخه دا ثابتيږي چي ژبه خوله کېدل خير دی، په دې کي دا يو حديث د سبق تر لاسه کولو لپاره ډېر کافي دی چي : من سكت سلم و من سلم نجا ، څوک چي ژبه خوله سو نو هغه سلامتيا تر لاسه کړل او څوک چي سلامت سو نو هغه خلاصون تر لاسه کړ، ددې څخه ماسوا ځيني حديثونه د حضرت معاويه ﷜ په فضيلت کي منقول دي لکه چي په مخکني باب (علامات النبوة) کي دغه حديث تېر سوی دی چي رسول الله ﷺ وفرمايل: زما په امت کي د داسي خلکو يوه ډله زما په وړاندي راوستل سول چي هغوئ د الله ﷻ په لاره کي جهاد کوی او د درياب پر سر باندي داسي په سفر کولو وښودل سول لکه چي هغوئ د پاچاهانو پر تختو باندي ناست وي...الخ، ددغه حديث مصداق حضرت معاويه ﷜ او د هغه د لښکر خلک وه چي هغوئ تر درياب په تېرېدو د کفارو سره جهاد وکړ، خلاصه دا چي د حضرت معاويه ﷜ په اړه بې ادبي کول ، دهغه سره بغض او نفرت کول او هغه ته بد رد ويلو څخه ځان ساتل پکار دي ځکه دا د رفض او شيعيت د عقائدو څخه دي، الله ﷻ دي موږ دداسي بدو عقيدو څخه خوندي وساتي، ځيني سنيان هم د جهالت او ناپوهی په وجه ددغه فتنې ښکار سي او د صحابي په حق کي د بدو الفاظو اظهار کوي ، ملاعلي قاري ﷫ په شرح فقه اکبر کي په څرګنده د حضرت علي ﷜ او حضرت معاويه ﷜ دغه معامله پر خطاء اجتهادي باندي محمول کړې ده، نو اهل سنت ته په خاصه توګه په دې اړه د احتياط لمن نيول پکار دي او خپل زړه د يو صحابي د بغض څخه ساتل پکار دي که څه هم دهغه تعلق د اهل بيت نبوي سره وي يا د عام صحابه کرامو د ډلي سره وي، او د رسول الله ﷺ په دغه ارشاد په عمل کولو سره پر خپله ژبه د سکوت مهر لګول ضروري دي . (ليحجرک عن الناس ما تعلم من نفسک).

او کله چي د عامو خلکو په اړه دا حکم سوی دی چي (ولاتذكر الناس الا بخير) يعني خلک مه يادوه مګر په خير سره، نو صحابه کرام خو په درجه اولی ددې وړ دي چي د هغوئ په يادونه کي داسي لفظ رانه سي چي په هغه سره د هغوئ پر حيثيت باندي حرف راسي او دا خبره هم بايد په فهم کي وي چي د کومو مقدسو کسانو په اړه الله ﷻ فرمايي :

وَنَزَعْنَا مَا فِي صُدُورِهِم مِّنْ غِلٍّ إِخْوَانًا عَلَى سُرُرٍ مُّتَقَابِلِينَ

او دهغوئ په زړونو کي چي کومه کينه وي هغه به موږ ليري کړو او ټول به د وړونو په ډول پر تختونو يو بل ته مخامخ ناست وي، نو ايا دا بدبختي نه ده چي موږ ددغه کسانو په اړه د بد ويلو په ذريعه خپله ژبه چټله کړو .

يوه پيشګويي چي پوره سوه

《٥٦٢٩》: وَعَنْ سُلَيْمَانَ بْنَ صُرَدٍ قَالَ قَالَ النَّبِيُّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ حِينَ أَجْلَى الْأَحْزَابَ عَنْهُ الْآنَ نَغْزُوهُمْ وَلَا يَغْزُونَا نَحْنُ نَسِيرُ إِلَيْهِمْ. رواه البخاري

د حضرت سليمان بن صرد رضي الله عنه څخه روايت دئ چي رسول الله ﷺ هغه وخت چي په جنګ احزاب کي کفار په متفرق کيدو سره خپاره سول وه فرمايل :اوس به موږ د هغوئ سره جنګ کوو او هغوئ به زموږ سره جنګ نه کوي موږ به پر هغوئ ورځو . بخاري

تخريج: صحيح البخاري (فتح الباري): ٧\٤٠٥، رقم: ٤١٠٩.

تشريح: داد خندق د غزا يادونه ده، کله چي ټول کفار سره د يهودو د زرهاوو په شمېر پر مدينه منوره حمله کونکي سول او د مدينې منورې د ساتني لپاره رسول الله ﷺ د خپلو صحابه کرامو سره په يو ځای کېدو د ښار شاوخوا خندق (کنده) کښنلې وو، د قريشو د لښکر مشر ابوسفيان وو، همدارنګه د مشرکانو او کافرانو د نورو ډلو هم خپل خپل مشر وو، دښمن پرله پسې تر يوې مياشتي پوري د مدينې منورې محاصره کړې وه او د خندق بلې خوا ته تيار وه، په دغه وخت کي هيڅ جګړه ونه سول، کله نا کله به د غشي ويشتلو او ډبرو غورځولو لړۍ تر يو وخته روانه وه، په پای کي الله جل جلاله خپل غيبي مرسته وکړل، ملائکي نازلې سوې چي د دښمن په مخکي د نه معلومېدو سربېره يې د هغوئ خاتمه وکړل، د باد داسي سخت طوفان راغلئ چي د کفارو په لښکر کي سخته تباهي خپره سول او همدارنګه د هغوئ په زړو کي داسي ېېره ولوېدل چي ټول لښکر په خپرېد وسره وتښتېدی، په دغه مناسبت سره دې ته د احزاب غزا ويل کيږي، دلته هم رسول الله ﷺ وړاند وينه کړې وه چي نن ورځ د مشرکان همت ختم سوی دی اوس به هيڅکله دښمن ته پر موږ باندي د حملې کولو جرئت نه وي اوس به موږ پر هغوئ حمله کوو ، نو همداسي وسول چي ددغه غزا څخه وروسته د کفارو لښکر پر مدينې حمله ونه کړل بلکه رسول الله ﷺ پر مکې او نورو سيمو باندي حملې وکړلې او الله جل جلاله په هر وخت کي فتح ور په برخه کړل .

حضرت جبرائيل عليه السلام او د ملائكو د مرستي معجزه

﴿۵۶۳۰﴾: وَعَنْ عَائِشَةَ قَالَت لَمَّا رَجَعَ رَسُولُ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ مِنْ

د حضرت عائشي رضي الله عنها څخه روايت دی چي رسول الله ﷺ د جنګ احزاب څخه د راګرځېدو

الْخَنْدَقِ و وَضَعَ السِّلاَحَ وَاغْتَسَلَ أَتَاهُ جِبْرِيلُ وَهُوَ يَنْفُضُ رَأْسَهُ مِنَ الْغُبَارِ

وروسته وسله کښېښودل او د غسل اراده يې وکړه چي جبرائيل عليه السلام تشريف راوړ په داسي حال کي چي رسول الله ﷺ د سر مبارک څخه ګرد او غبار څنډی

فَقَالَ قَدْ وَضَعْتَ السِّلاَحَ وَاللّٰهِ مَا وَضَعْتُهُ اخْرُجْ إِلَيْهِمْ فَقَالَ النَّبِيُّ صَلَّى

او ورته يې وويل: تاسو خو وسله ايسته کړه او په الله جل جلاله دي مي قسم وي ما لا تر اوسه وسله نه ده ايسته کړې راځه چي پر کفارو ورځو، رسول الله ﷺ پوښتنه وکړه

اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ فَأَيْنَ فَأَشَارَ إِلَى بَنِي قُرَيْظَةَ فَخرج النبي صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ

چيري؟ جبرائيل عليه السلام د بنو قريظه په لور اشاره وکړه، نو رسول الله ﷺ د بنو قريظه په لور ور

وَسَلَّمَ اِلَيْهِمْ. متفق عليه وفي رواية للبخاري قال انس كاني انظر الى الغبار

ووتئ (او فتح يې تر لاسه کړه)، بخاري او مسلم او د بخاري په يوه روايت کي دا الفاظ دي چي د انس بيان دی چي زه ګويا هغه ګرد او غبار اوس هم وينم

ساطعا في زقاق بني غنم موكب جبرئيل عليه السلام حين سار رسول الله ﷺ الى بني قريظة.

کوم چي د قبيله بنو غنم په کوڅو کي الوتی د هغه سپرو د ډلي څخه د کوم سره چي جبرائيل عليه السلام ملګری وو کله چي رسول الله ﷺ د بنو قريظه په لور روان وو.

تخريج: صحيح البخاري (فتح الباري): ۷\۴۰۷، رقم: ۴۱۱۷.

د لغاتو حل: غنم موكب: قبيلة من الانصار (د انصارو يوه قبيله).

تشريح: د غسل اراده يې كول، ددې څخه دا مراد دی چي رسول اله ﷺ د غسل اراده کړې وه او د لمبېدو لپاره تلی چي حضرت جبرائيل عليه السلام راغلی، په يوه روايت کي دا دي چي کله حضرت

جبرائیل علیہ السلام راغلی نو رسول الله ﷺ غسل کوی او د سر مبارک یوه برخه پرېولل یې پاته وه، یعني هغه وخت د رسول الله ﷺ غسل پوره سوی نه وو حال دا چې هغه د خپل سر مبارک څخه د خندق د غزا دوړي پاکولې، دلته د هغه ضمیر حضرت جبرائیل علیہ السلام ته هم راجع کېدای سي او رسول الله ﷺ ته هم، خلاصه دا چي د حضرت جبرائیل علیہ السلام راتلل او د رسول الله ﷺ د بني قریضه سره د جګړې لپاره روانېدل د خندق د غزا څخه وروسته سمدستي رامنځته سوي دي.

د بنو قریظه څخه مراد د یهودو هغه قوم دی چي د مدینې څخه دباندي پر درې یا څلور میله فاصله باندي اباد وو، هلته د هغوئ سرای او یوه ټینګه قلعه هم وه، هغوئ د وعدې خلاف ورزي وکړل او د رسول الله ﷺ سره د صلح د معاهدې سربېره د خندق په غزا کي د دښمنانو سره ملګري سول او د مسلمانانو د تباهۍ فلان یې جوړ کړی وو، په هر حال رسول الله ﷺ د هغوئ سره جګړه وکړل او الله جل جلاله کامیابي ور په برخه کړل، په دې اړه تفصیل د تاریخ او سیرت په کتابو کي ذکر سوی دی.

غنم د انصارو د یوې قبیلې نوم دی، رسول الله ﷺ د بنو قریظه په لور تللو سره د دغه قبیلې پر کلي تیرېدی او په ښکاره دا معلومېږي چي هغه وخت د دغه کلي په کوڅه کي د خلګو تګ راتګ نه وو، له دې کبله په کوڅه کي د پورته کېدونکي ګرد په لېدو سره حضرت انس رضی الله عنه دا نتیجه واخیستل چي د ملائکو لښکر روان دی او د هغوئ د قدمو څخه ګرد او غبار پورته کېږي، او غالب ګمان دا دی چي د ملائکو د دغه لښکر امیر حضرت جبرائیل علیہ السلام وو.

په دغه حدیث کي چي کوم شی د رسول الله ﷺ معجزه ثرګندوي هغه یو خو د حضرت جبرائیل علیہ السلام د خپل لښکر سره د رسول الله ﷺ د مرستي لپاره راتلل دي، او دوهم د ملائکو د قدمونو څخه د ګرد او غبار پورته کېدل دي مګر خپله هغه ملائکي چا ته نه معلومېدلې.

د ګوتو مبارکو څخه د اوبو وتلو معجزه

﴿۵۶۳۱﴾: وَعَنْ جَابِرٍ قَالَ عَطِشَ النَّاسُ يَوْمَ الْحُدَيْبِيَةِ وَرَسُولُ اللهِ صَلَّى اللهُ

د حضرت جابر رضی الله عنه څخه روایت دی چي د حدیبیې په ورځ کي خلک تږي وه او د رسول الله ﷺ

عَلَيْهِ وَسَلَّمَ بَيْنَ يَدَيْهِ رَكْوَةٌ فَتَوَضَّأَ مِنْهَا ثُمَّ أَقْبَلَ النَّاسُ نَحْوَهُ قَالُوا لَيْسَ

مخکي یو پتک پروت وو چي په هغه سره رسول الله ﷺ اودس وکړي بیا یو ډله د رسول الله ﷺ په خدمت کي حاضره سول او عرض یې وکړ چي

عِنْدَنَا مَاءٌ نَتَوَضَّأُ بِهِ و نَشْرَبُ إِلَّا مَا فِي رَكْوَتِكَ فَوَضَعَ النَّبِيُّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ

زموږ سره د اودس او څښلو لپاره اوبه نسته او يوازې دا اوبه دي چي ستاسو سره په پتک کي دي ، ددې اوريدو سره نبي کريم ﷺ

وَسَلَّمَ يَدَهُ فِي الرَّكْوَةِ فَجَعَلَ الْمَاءُ يَفُورُ مِنْ بَيْنِ أَصَابِعِهِ كَأَمْثَالِ الْعُيُونِ

خپل لاس مبارک پر پتک کښېښود او د ګوتو څخه په داسي جوش اوبه راوتلې لکه د چينو څخه

قَالَ فَشَرِبْنَا وَتَوَضَّأْنَا قيل لِجَابِرٍ كَمْ كُنْتُمْ قَالَ لَوْ كُنَّا مِائَةَ أَلْفٍ لَكَفَانَا كُنَّا خَمْسَ عَشْرَةَ مِائَةً. متفق عليه.

، د جابر بيان دی چي موږ ټولو خلکو اوبه و څښلې او اودس مو هم وکړ ، د جابر ﷛ څخه پوښتنه وسول چي تاسو ټول څو کسان واست؟ هغه وويل که موږ يو لک هم وای نو بيا به هم هغه اوبه بس وای او هغه وخت زموږ شمير پنځلس سوه وو. بخاري او مسلم

تخريج: صحيح البخاري (فتح الباري): ۷\۴۴۱، رقم: ۴۱۵۲، ومسلم ۳\۱۴۸۴، رقم: ۷۳- ۱۸۵۶.

د لغاتو حل: ركوة: اي ظرف ماء من مطهرة او سقاية. (د اوبو يو لوښی).

تشريح: موږ ټولو خلکو ښه اوبه وڅښلې، څومره د فخر وړ وه هغه خلک چي هغوئ ته ددغه مقدسو اوبو څښلو سعادت په برخه سو او د هغه په برکت د هغوئ په ظاهر او باطن کي څومره پاکي هغوئ ته ترلاسه سول، ځکه چي په مځکه او آسمان کي د هغه اوبو څخه زيات افضل اوبه هيڅ نسته.

که موږ يو لک وای، د حضرت جابر ﷛ دغه جواب يو باريک طنز وو چي د معجزې په اړه د کميت پوښتنه څه معنی لري، هغه وروسته ثرګند جواب ورکړ چي هغه وخت زموږ شمېر پنځلس سوه وو او هغه د يو زر او پنځه سوه ويلو پر ځای پنځلس سوه ځکه وويل چي د کثرت کوم سخت تاثر د پنځلس سوه الفاظو څخه ثرګنديږي هغه د يو زر او پنځه سوه الفاظو څخه نه ثرګنديږي ، ددې څخه ماسوا د ځينو روايتو څخه معلوميږي چي د صلح حديبيه په وخت کي چي کوم صحابه کرام موجود وه هغوئ د بېلو بېلو ډلو په صورت کي ويل سوي وه او هره ډله پر سلو کسانو باندي مشتمل وه نو جابر ﷛ د پنځلس سوه په ذريعه پنځلس ډلو ته اشاره وکړل.

وچ څاه د اوبو څخه ډک سو

﴿۵۶۳۲﴾ : وَعَنِ الْبَرَاءِ بْنِ عَازِبٍ قَالَ كُنَّا مَعَ رَسُولِ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ

د حضرت براء بن عازب رضی الله عنه څخه روایت دی چي د حدیبیې په پېښه کي زموږ شمیر څوارلس

اربع عشرة مائة يَوْمَ الْحُدَيْبِيَةِ والحديبية بِئْر فَنَزَحنَاهَا فلم نترك فيها

سوه وو ، حدیبیه یو څاه دی موږ د هغه څخه اوبه راوکښلې تر دې چي په هغه کي یو څاڅکی اوبه پاته نه سوې ،

قطرة فبلغ النبي صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ فَأَتَاهَا فجلس عَلَى شَفِيرِهَا ثُمَّ دعا

نبي کریم صلی الله علیه وسلم ته چي ددې خبر ورسیدی نو څاه ته یې تشریف راوړ د څاه پر غاړه کښېنستی ، د

باناء مِنْ مَاءٍ فتوضا ثم مضمض وَدَعَا ثُمَّ صبه فيها ثم قَالَ دَعُوهَا سَاعَةً

فَأَرْوَوْا أَنْفُسَهُمْ وَرِكَابَهُمْ حَتَّى ارْتَحَلُوا. رواه البخاري.

اوبو لوښی یې وغوښتی او اودس یې وکړ د اوداسه څخه وروسته یې په خوله مبارکه کي اوبه واخیستلې او دعاء یې وکړل ، بیا یې دخولې مبارکي اوبه پکښې واچولې بیا یې وفرمایل : د لږ وخت لپاره څاه پرېږدئ د هغه څخه وروسته خلکو او د هغوئ سپرلیو ښه اوبه وڅښلې او بیا د هغه ځایه روان سول. بخاري.

تخریج: صحیح البخاري (فتح الباري): ۱۷\۴۴۱، رقم: ۴۱۵۰.

د لغاتو حل: شفیرها : اي طرفها (څونډه).

تشریح: د حضرت جابر رضی الله عنه په روایت کي د پنځلس سوه شمېر بیان سوي وو ، حال دا چي د حضرت ابراء رضی الله عنه په روایت کي د څورلس سوه شمېر بیان سوی دی، لکه څرنگه چي ځینو حضراتو ویلي دي چي اصل شمېر تر څورلس سوه زیات او تر پنځلس سوه کم وو ، کوم راوي چي د کسر په شمېرلو سره بیان وکړ هغه د پنځلس سوه شمېر بیان کړ او کوم راوي چي کسر پرېښود نو هغه د څورلس سوه شمېر بیان کړ، یا دا چي اهل حدیبیه په ډلو ویشل سوي وه او داسي کېدل چي د اوبو لپاره به ډلي راتللې نو ځیني ډلي به د اوبو په راوړلو سره تلل ،

په دغه صورت کي یو وخت به مجموعي شمېر څورلس سوه سو او یو وخت به پنځلس سوه

سو، نو کوم راوي چي کوم شمېر وليدی هغه يې بيان کړ، او دا هم کيدا سي چي مخکي ټول شمېر پنځلس سوه وو چي حضرت جابر رضي الله عنه بيان کړ او کله چي حضرت براء رضي الله عنه بيان کړ نو هغه وخت د شمېر په کمېدو سره څورلس سوه سوي وي، يو قول دا هم دی چي په هغوئ کي هيڅ راوي هم د يوه يوه سړي په شمېرلو سره يقيني شمېر نه دی بيان کړی بلکه چا چي کوم شمېر بيان کړ، هغه يې د اندازې په توګه بيان کړی دی، چا د څورلس سوه اندازه ولګول او چا د پنځلس سوه اندازه ولګول، او دا هم ويل سوي دي چي په ظاهره دا معلومېږي چي حضرت جابر رضي الله عنه کومه پېښه بيان کړې ده هغه د دغه پېښي څخه چي حضرت براء رضي الله عنه بيان کړې دي د مخکي پېښه ده او په حديبيه کي داسي معجزې په ډېر واره څرګنده سوي دي نو د ډېرو پېښبو په لېدو سره په دواړو روايتو کي د شمېر هيڅ تضاد نه پاته کيږي.

د يوه ساعت لپاره څاه پرېږدئ، ددې مطلب دادی چي د لږ وخت لپاره څاه همداسي پرېږدئ، سمدستي د اوبو راکښلو اراده مه کوئ، لږ څه وخت وروسته به څاه ډک سي نو د هغه څخه اوبه راوکاږئ، کيدای سي رسول الله صلی الله علیه وسلم داسي ارشاد فرمايلي وي چي په څاه کي د اوبو زياتېدو کومه دعاء چي سوې ده د هغه د قبلېدو ساعت به تدريجي وي.

په اوبو کي د برکت معجزه

﴿۵۶۳۳﴾: وَعَنْ عَوْفٍ عَنْ اَبِيْ رِجَاءٍ عَنْ عِمْرَانَ بْنِ حُصَيْنٍ قَالَ كُنَّا فِيْ سَفَرٍ

عوف رضي الله عنه د ابو رجاء څخه او هغه د عمران بن حصين رضي الله عنه څخه روايت کوي چي موږ په يوه سفر

مَعَ النَّبِيِّ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ فَاشْتَكٰى اِلَيْهِ النَّاسُ مِنَ الْعَطَشِ فَنَزَلَ فَدَعَا

کي د رسول الله صلی الله علیه وسلم سره وو نو ده مبارک ته خلکو د تندي څخه شکايت وکړ، ددې شکايت اوريدو سره رسول الله صلی الله علیه وسلم راکښته سو،

فُلَانًا كَانَ يُسَمِّيْهِ ابو رجاء ونسيه عوف ودعا عليا فقال اذهبا فابتغيا الماء

يو نفر يې را وغوښتی ابورجا د هغه نفر نوم ياد کړی وو خو د عوف څخه هير وو او حضرت علي رضي الله عنه يې هم راوغوښتی، بيا يې دواړو ته وفرمايل: تاسو ولاړ سئ اوبه ولټوئ،

فانطلقا فتلقيا امْرَأَةً بَيْنَ مَزَادَتَيْنِ او سطيحتين من ماء فجاءا بها الى

دواړه د اوبو په لټه پسي روان سول، په يو ځای کي يوه ښځه وليدل چي د اوبو دوه لوی ژي يې

النبي ﷺ فاستنزلوها عن بعيرها ودعا النبي ﷺ باناء ففرغ فيه من

پر اوښ اچولی ناسته وه، دواړو هغه ښځه د نبي کريم ﷺ په خدمت کي حاضره کړه، خلکو هغه ښځه او د اوبو ژي د اوښ څخه راکښته کړل او نبي کريم ﷺ د اوبو لوښی وغوښتی

افواه المزادتين ونودي في الناس اسقوا فاستسقوا قَالَ فَشَرِبْنَا عِطَاشًا

او حکم يې وکړ چي د ژي د خولې څخه دي په لوښي کي اوبه واچول سي، بيا خلکو ته اواز وکړل سو چي راسئ اوبه وڅښئ، نو ټولو خلکو اوبه وڅښلې، د عمران بن حصين رضي الله عنه بيان دی چي

أَرْبَعِينَ رَجُلًا حَتَّى رَوِينَا فَمَلَأْنَا كُلَّ قِرْبَةٍ مَعَنَا وَإِدَاوَةٍ وَايْمُ اللهِ لَقَدْ أُقْلِعَ عَنْهَا وَإِنَّهُ لَيُخَيَّلُ إِلَيْنَا أَنَّهَا أَشَدُّ مِلْئَةً مِنْهَا حِيْنَ ابْتَدِئَ. متفق عليه.

موږ څلوېښت کسان وو موږ ټولو په ښه ماړه نس اوبه وڅښلې، او خپل ژيان او پتکان مو هم د اوبو څخه ډک کړل، په خدای دي مي قسم وي موږ ته چي اوبه راکړل سوې نو موږ محسوسه کړه چي هغه ژيان تر مخکي هم زيات ډک دي. بخاري او مسلم.

تخريج: صحيح البخاري (فتح الباري): ١١\٤٤٧، رقم: ٣٤٤، ومسلم ١\٤٧٤، رقم: ٣١٢- ٦٨٢.

د لغاتو حل: مزادتين: لما يوضع فيه الزاد. (هغه شی چي تو ښه پکښې اېښودل کيږي).

تشريح: د حديث د آخري جملې مطلب دادی چي موږ ټولو د هغه پتک څخه په ماړه نس اوبه وڅښلې او د چا سره چي کوم لوښی وو هغه يې هم په ښه ډول ډک کړ، ددې څخه وروسته په هغه پتک (لوښي) کي نه يوازي دا چي اوبه هم هغسي پاته وې بلکه داسي محسوسه سول چي هغه پتک تر مخکي هم زيات ډک سوی دی.

ددغه حديث په پای کي دا الفاظ هم دي چي دلته نه دي نقل سوي دي چي تر دې وروسته رسول الله ﷺ هغه ښځي ته خوراک، غله او نور څه ورکړل، هغه چي په ستنېدو سره خپل قوم ته راغلل نو خلکو ته يې ټوله قصه بيان کړل او ويې ويل چي هغه سړی يا خو لوی جادوګر دی چي د هغه برابر هيڅ جادوګر په مځکه او آسمان کي نسته او يا هغه سړی په حق نبي دی.

د درختو د اطاعت معجزه

﴿٥٦٣٤﴾: وَعَنْ جَابِرٍ قَالَ سِرْنَا مَعَ رَسُولِ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ حَتَّى نَزَلْنَا

د حضرت جابر رضي الله عنه څخه روايت دی چې موږ د رسول الله ﷺ سره روان وو چې موږ په يو لوی

وَادِيًا أَفْيَحَ فَذَهَبَ رَسُولُ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ يَقْضِي حَاجَتَهُ فَلَمْ يَرَ شَيْئًا

ميدان کي معطله سوو ، رسول الله ﷺ د قضاء حاجت لپاره تشريف يووړ ، مګر د پردې هيڅ ځای

يَسْتَتِرُ بِهِ وَإِذَا شَجَرَتَيْنِ بِشَاطِئِ الْوَادِي فَانْطَلَقَ رَسُولُ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ

رسول الله ﷺ پيدا نه کړ ، ناڅاپه د رسول الله ﷺ نظر د ميدان پر غاړه پر دوو درختو ولويدی ،

إِلَى إِحْدَاهُمَا فَأَخَذَ بِغُصْنٍ مِنْ أَغْصَانِهَا فَقَالَ انْقَادِي عَلَيَّ بِإِذْنِ اللَّهِ فَانْقَادَتْ

رسول الله ﷺ په هغو کي د يوې درختي خوا ته ورغلی د هغې يو ښاخ يې ونيوی او وه يې فرمايل : د خدای جل جلاله په حکم سره زما فرمانبرداري وکړه ، هغه درختي سمدستي اطاعت وکړ را روانه سول

مَعَهُ كَالْبَعِيرِ الْمَخْشُوشِ الَّذِي يُصَانِعُ قَائِدَهُ حَتَّى أَتَى الشَّجَرَةَ الْأُخْرَى فَأَخَذَ

او د تړلي اوښ په ډول چې د خپل شړونکي اطاعت کوي خپل ښاخونه يې راکښته کړل ، بيا رسول الله ﷺ بلي درختي ته ورغلی د هغې يو ښاخ يې ونيوی

بِغُصْنٍ مِنْ أَغْصَانِهَا فَقَالَ انْقَادِي عَلَيَّ بِإِذْنِ اللَّهِ فَانْقَادَتْ مَعَهُ كَذَلِكَ حَتَّى إِذَا

او وه يې فرمايل : د خدای جل جلاله په حکم سره زما اطاعت وکړه هغې هم هغسي اطاعت وکړ را روانه سول او خپل ښاخونه يې پر مځکه راکښته کړل ،

كَانَ بِالْمَنْصَفِ مِمَّا بَيْنَهُمَا قَالَ الْتَئِمَا عَلَيَّ بِإِذْنِ اللَّهِ فَالْتَأَمَتَا فَجَلَسْتُ أُحَدِّثُ

بيا رسول الله ﷺ د دواړو درختو منځته تشريف يووړ ، او وه يې فرمايل : د خدای په حکم سره تاسو دواړې زما لپاره يو ځای سئ نو دواړې درختي يو ځای سوې ، د جابر رضي الله عنه بيان دی ، ددې

نَفْسِي فَحَانَتْ مِنِّي لَفْتَةٌ فَإِذَا أَنَا بِرَسُولِ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ مُقْبِلًا وَإِذَا

الشَّجَرَتَيْنِ قَدِ افْتَرَقَتَا فَقَامَتْ كُلُّ وَاحِدَةٍ مِنْهُمَا عَلَى سَاقٍ. رواه مسلم.

پېښې په ليدو سره زه حيران وم او په خپل زړه کي مي پر دې عجيبه پېښه خبري کولې ، ناڅاپه زما نظر پر يو خوا سو وينم چې رسول الله ﷺ را روان دی او هغه درختي مي وليدې چې دواړې بيرته بيلي سوې او هره درخته بيله بيله پر خپل ځای ودرېدل . مسلم.

تخريج: صحيح مسلم ۴\۲۳۰٦، رقم: ۷۴ – ۳۰۱۲.

د لغاتو حل: افيح: اي واسع (پراخ). المخشوش: هو عويدة تجعل في انف البعير ليكون اسرع. المنصف: نصف الطريق (نيمه لار).

پر زخم دم كول

﴿۵٦۳۵﴾: وَعَنْ يَزِيدَ بْنِ أَبِي عُبَيْدٍ قَالَ رَأَيْتُ أَثَرَ ضَرْبَةٍ فِي سَاقِ سَلَمَةَ بْنِ الاكوع فَقُلْتُ يَا أَبَا مُسْلِمٍ مَا هَذِهِ الضَّرْبَةُ قَالَ ضَرْبَةٌ أَصَابَتْنِي يَوْمَ خَيْبَرَ فَقَالَ النَّاسُ أُصِيبَ سَلَمَةُ فَأَتَيْتُ النَّبِيَّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ فَنَفَثَ فِيهِ ثَلَاثَ نَفَثَاتٍ فَمَا اشْتَكَيْتُهَا حَتَّى السَّاعَةِ. رواه البخاري.

د حضرت يزيد بن ابي عبيده رضي الله عنه څخه روايت دى چي ما د سلمه بن اكوع رضي الله عنه پر پونده د زخم نښه وليده او وه مي ويل اې سلمه ! دا زخم د څه شي دى؟ سلمه راته وويل د خيبر په ورځ دا زخم راغلى وو، خلكو وويل سلمه سخت زخمي سو، بيا زه د نبي كريم صلى الله عليه وسلم په خدمت كي حاضر سوم، رسول الله صلى الله عليه وسلم د زخم ځاى درې واره دم كړ بيا تر ننه د هغه تكليف ما نه دى محسوس كړى. بخاري

تخريج: صحيح البخاري (فتح الباري): ۷\۴۷۵، رقم: ۴۲۰٦.

د نادېده واقعې خبر وركولو معجزه

﴿۵٦۳٦﴾: وَعَنْ أَنَسٍ قَالَ نَعَى النَّبِيَّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ زَيْدًا وَجَعْفَرًا وَابْنَ رَوَاحَةَ لِلنَّاسِ قَبْلَ أَنْ يَأْتِيَهُمْ خَبَرُهُمْ فَقَالَ أَخَذَ الرَّايَةَ زَيْدٌ فَأُصِيبَ ثُمَّ أَخَذَ جَعْفَرٌ فَأُصِيبَ ثُمَّ أَخَذَ ابْنُ رَوَاحَةَ فَأُصِيبَ وَعَيْنَاهُ تَذْرِفَانِ حَتَّى أَخَذَ

د حضرت انس رضي الله عنه څخه روايت دى چي رسول الله صلى الله عليه وسلم د زيد، جعفر او ابن رواحه د شهيد كېدو خبر د مخه خلكو ته وركړى وو، (يعني تر دې مخكي چي د جنګ د ميدان څخه د هغوئ د شهادت خبر راسي)، نو رسول الله صلى الله عليه وسلم وفرمايل: چي زيد رضي الله عنه په لاس كي بيرغ واخيستى او شهيد كړل سو، بيا بيرغ جعفر رضي الله عنه واخيستى او هغه هم شهيد كړل سو بيا ابن

رواحه رضي الله عنه بيرغ واخيست او هغه هم شهيد کړل سو ، رسول الله ﷺ دا پېښه بيانول او د سترګو مبارکو څخه يې اوښکي بهيدلې، بيا رسول الله ﷺ وفرمايل : ددې څخه وروسته بيرغ هغه

الرَّايَةَ سَيْفٌ مِنْ سُيُوفِ اللّٰهِ يعني خالد بن وليد حَتّٰى فَتَحَ اللّٰهُ عَلَيْهِمْ. رواه البخاري

سړي واخيست چي سيف من سيوف الله دی، (يعني د خدای جل جلاله د تورو څخه يوه توره ده) ، يعني خالد بن وليد رضي الله عنه تر دې چي الله تعالی مسلمانانو ته پر دښمنانو فتح ورکړه. بخاري.

تخريج: صحيح البخاري (فتح الباري): ۷\۵۱۲، رقم: ۴۲۶۲.

تشريح: دغه پېښه د موته د غزا ده، موته د يو ځای نوم دی چي د شام په هيواد کي واقع دی، دغه جګړه په اتم هجري کال د روميانو سره سوې ده او رسول الله ﷺ هلته د ذکر سوو درو جليل القدر صحابه کرامو نومونه واخيستل ، که چيري د جنګ په دوران کي د لښکر امير ، زيد بن حارثه رضي الله عنه شهيد سي نو د هغه څخه وروسته به جعفر رضي الله عنه د لښکر امير وي او د اسلام بېرغ به د هغه په لاس کي وي، او که هغه هم شهيد سي نو بيا به د لښکر امير ابن رواحه رضي الله عنه وي او د اسلام بيرغ به د هغه په لاس کي وي نو په دغه جګړه کي همداسي وسول چي دغه درې سره کسان يو په بل پسې شهيدان سول بيا د اسلامي لښکر مشر حضرت خالد ابن وليد رضي الله عنه وټاکل سو او الله ﷻ د هغه په لاس فتح ورکړل، رسول الله ﷺ په مدينه منوره کي وو او تر هغه وخته پوري د اسلامي لښکر له خوا د جنګ حالات او د صحابه کرامو د شهادت په اړه هيڅ خبر نه وو راغلی، په موته کي د يوې مياشتي د مسافت په اندازه په مدينه منوره کي ناست ددغه پېښي خبر يې ورکړی وو ، دا د رسول الله ﷺ معجزه وه او ددغه حديث څخه دا هم ښکاره سول چي د مرګ خبر رسول جائز دي .

چي د الله جل جلاله د تورو څخه يوه توره وه، ددې مطلب دادی چي د الله جل جلاله د غيرتمندو بندګانو څخه يو غيرتي بنده دی، او په دې مناسبت سره دهغه لقب سيف الله (د الله جل جلاله توره) دی، نو په دغه جمله کي الله جل جلاله ته د تورې نسبت په اصل کي د حضرت خالد رضي الله عنه عظمت او د هغه بې مثاله مېړاني ښکارندولو لپاره دي، منقول دي چي هغه به دد ښمن پر زرو کسانو باندي په حمله کولو سره پر مخکه را غورځول او د هغه ورځ په جګړه کي د هغه په لاس اته توري ماتي سوې.

تر دې چي الله جل جلاله مسلمانانو ته بری ورکړ، په دې اړه د محدثينو او شارحينو اختلاف دی

چې په دغه جګړه کې د ښمنانو ته پوره ماته وسول او مسلمانان د غنیمت د مال په اخیستلو سره راستانه سوي دي او که د فتح څخه مراد د مسلمانانو په خپل دفاع کې کامیاب کېدل دي، چې اسلامي لښکر د دښمن د زیات قوت او شمېر په مقابله کې صحیح او سلامت راستانه سول.

شیخ عبدالحق رحمة الله علیه دلته لیکلي دي چې د الله جل جلاله له خوا د فتح ورکولو مطلب دادی چې الله جل جلاله د رومیانو پر خلاف په جګړه کې د مسلمانانو مرسته وکړل او مسلمانان د هغوئ په لاس د ماتې خوړلو څخه خوندي پاته سول.

د حنین د غزا معجزه

﴿۵۶۳۷﴾: وَعَنْ عَبَّاسٍ قَالَ شَهِدْتُ مَعَ رَسُولِ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ يَوْمَ حُنَيْنٍ

د حضرت عباس رضي الله عنه څخه روایت دی چې په غزوه حنین کې زه د رسول الله صلی الله علیه وسلم سره ملګری وم

فَلَمَّا الْتَقَى الْمُسْلِمُونَ وَالْكُفَّارُ وَلَّى الْمُسْلِمُونَ مُدْبِرِينَ فَطَفِقَ رَسُولُ اللّٰهِ صَلَّى

چې مسلمانانو او کافرانو پر یو بل حملې پیل کړې، نو مسلمانان پر شا کولو سره په تېښته سول ، (ددې لیدو سره) رسول الله صلی الله علیه وسلم خپل غاتري ته پونده ورکړه

اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ يَرْكُضُ بَغْلَتَهُ قِبَلَ الْكُفَّارِ قَالَ عَبَّاسٌ وَأَنَا آخِذٌ بِلِجَامِ بَغْلَةِ

او د کفارو پر لور ور مخکې سو ، دغه وخت ما د رسول الله صلی الله علیه وسلم د غاتري واګې نیولي وې او په

رَسُولِ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ أَكُفُّهَا إِرَادَةَ أَنْ لَا تُسْرِعَ وَأَبُو سُفْيَانَ ابن

دې خیال سره چې هغه یې راټینګوله چې په کافرانو کې په تیزي سره ور دننه نه سي ، او ابوسفیان

الحارث آخِذٌ بِرِكَابِ رَسُولِ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ فَقَالَ رَسُولُ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ

بن حارث د رسول الله صلی الله علیه وسلم رکاب نیولی وو، رسول الله صلی الله علیه وسلم ما ته وفرمایل:

عَلَيْهِ وَسَلَّمَ أَيْ عَبَّاسُ نَادِ أَصْحَابَ السَّمُرَةِ فَقَالَ عَبَّاسٌ وَكَانَ رَجُلًا صَيِّتًا

اې عباس ! اصحاب سمره ته اواز وکړه (سمره د کیکر درختي ته وایي د حدیبیې پر موقع ډېرو صحابه کرامو د یو کیکر تر درختي لاندې په جنګېدو د مړ کېدو بیعت کړی وو د غه بیعت ته بیعت رضوان هم وایي)، د عباس رضي الله عنه لوړ آواز وو

فَقُلْتُ بِأَعْلَى صَوْتِي أَيْنَ أَصْحَابُ السَّمُرَةِ فقَالَ وَاللهِ لَكَأَنَّ عَطْفَتَهُمْ حِينَ سَمِعُوا

ما په لوړ آواز سره وویل اصحاب سمره چیري دي؟ د عباس رضی الله عنه بیان دی قسم په خدای زما د آواز اوریدو سره اصحاب سمره داسي رامنډي کړې لکه څرنګه چي

صَوْتِي عَطْفَةُ الْبَقَرِ عَلَى أَوْلَادِهَا فَقَالُوا يَا لَبَّيْكَ يَا لَبَّيْكَ قَالَ فَاقْتَتَلُوا وَالْكُفَّارَ

غواوي د خپلو بچو په لیدو سره د هغوئ طرف ته ورځي، او وه یې ویل موږ حاضر سو، عباس رضی الله عنه وايي ددې څخه وروسته مسلمانان د کفارو سره وموښتل،

وَالدَّعْوَةُ فِي الْأَنْصَارِ يَقُولُونَ يَا مَعْشَرَ الْأَنْصَارِ يَا مَعْشَرَ الْأَنْصَارِ قَالَ ثُمَّ

او انصارو خپل ډلي داسي رابللې اې د انصارو ډلي! اې د انصارو ډلي مرسته وکړئ د دښمنانو سره وجنګیږئ

قُصِرَتْ الدَّعْوَةُ عَلَى بَنِي الْحَارِثِ بْنِ الْخَزْرَجِ فَنَظَرَ رَسُولُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ

بیا دا بلل یوازي پر قبیله بنو حارث بن خزرج باندي موقوف سول یعني یوازي د حارث اولاد یې را بلی ځکه چي په انصارو کي دا لویه قبیله وه، رسول الله صلی الله علیه وسلم

وَهُوَ عَلَى بَغْلَتِهِ كَالْمُتَطَاوِلِ عَلَيْهَا إِلَى قِتَالِهِمْ فَقَالَ هَذَا حِينَ حَمِيَ الْوَطِيسُ ثُمَّ

پر خپله غاتره سپور وو او غاړه یې پورته کړې وه (جنګ یې کتی) بیا رسول الله صلی الله علیه وسلم خلک مخاطب کړل چي دا وخت د جنګ د ګرمیدو دی،

أَخَذَ حَصَيَاتٍ فَرَمَى بِهِنَّ وُجُوهَ الْكُفَّارِ ثُمَّ قَالَ انْهَزَمُوا وَرَبِّ مُحَمَّدٍ فَوَاللهِ مَا هُوَ

بیا رسول الله صلی الله علیه وسلم یو څو ډبري په خپل مبارک لاس کي واخیستې او هغه یې د کافرانو مختو وغورځولې، ددې څخه وروسته یې وفرمایل: د محمد صلی الله علیه وسلم په پروردګار دي مي قسم وي کافرانو ماته وخوړل، عباس رضی الله عنه وايي قسم په خدای دا ماته یوازي د رسول الله صلی الله علیه وسلم د ډبرو

إِلَّا أَنْ رَمَاهُمْ بِحَصَيَاتِهِ فَمَا زِلْتُ أَرَى حَدَّهُمْ كَلِيلًا وَأَمْرَهُمْ مُدْبِرًا. رواه مسلم.

غورځولو په سبب کافرانو ته وسول، د رسول الله صلی الله علیه وسلم د ډبرو غورځولو څخه وروسته تر پایه پوري ما لیدل چي د کافرانو توري او نیزې همداسي پڅي پرتې وي او هغوئ ذلیل او خوار سوي وه. مسلم

تخريج: صحیح مسلم ۱۳۹۸\۳، رقم: ۷٦ - ۱۷۷۵.

د لغاتو حل: السمرة: وهي الشجرة التي بايعوا تحتها يوم الحديبية. كليلا: اي ضعيفا (ناتوانه).

تشريح: حنین د مکې او طائف په منځ کې د عرفات څخه وړاندې د یو ځای نوم دی، چې د مکې د فتح څخه وروسته د شوال په میاشت کې په اتم هجري کال د مسلمانانو او په دغه ځای کې دمیشتو قبائلو هوازن او ثقیف په منځ کې سخته جګړه سوې ده، د جګړې په پیل کې مسلمانان د دښمن د لښکر له خوا د صبح کاذب په تیاره کې د دومره سختې او ناڅاپه حملې سره مخامخ سول چې مسلمانان پرېشانه سول، تر ټولو مخکې په اهل مکه کې نوي ایمان راوړونکو مسلمانانو حوصله د لاسه ورکړل او په تېښته سول، د هغوئ په لېدو سره انصار او مهاجرین هم په پریشاني کې آخوا دېخوا خپاره سول، هغوئ په اصل کې د مرستې او ساتنې لپاره په تللو او راتللو سره رسول الله ﷺ ته راتلل مګر په دغه ګڼه ګوڼه کې دا محسوس کېدل چې مسلمانان تېښته کوي، په هر حال په مسلمانانو کې داسې پېښه خامخا رامنځته سوې وه چې په هغه سره د جنګ نقشه د مسلمانانو پر خلاف هم کېدای سول مګر د رسول الله ﷺ میړانې، استقلال او کامیاب حکمت عملي او د الله ﷻ مرستې او نصرت لږ څه وروسته مسلمانان په واک کې کړ او دښمنانو سخته ماته وخوړل.

په دغه جګړه کې رسول الله ﷺ چې پر کومې غاترې سپور وو د هغه نوم دلدل وو، فروه ابن نفاثه چې یو مشرک وو د رسول الله ﷺ په خدمت کې تحفه رالېږلې وه، ددې څخه معلومه سوه چې دمشرکانو تحفه قبلول صحیح دي مګر څرنګه چې په حدیثو کې راغلي دي چې رسول الله ﷺ د ځینو کافرانو تحفې رد کړې دي نو ځینو ویلي دي چې د رسول الله ﷺ د دلدل تحفه قبلول د هغه عمل ناسخ دی چې رسول الله ﷺ د ځینو مشرکانو هدیه نه وه قبوله کړې، مګر دا قول د نظر وړ دی ځکه د تاریخ په تعین سره دا خبره ثابته نه ده چې د تحفې قبلولو خبره مخکې ده او که د رد کولو، نو دهغه مشرک هدیه یې قبوله کړه چې دهغه د مسلمان کېدو امید وو او د هغه په ذریعه مسلمانانو ته ګټه رسېدل، او د کومو مشرکانو معامله چې ددې برعکس وه د هغوئ تحفه یې رد کړل.

سمره د کیکر درختې ته وایي او په حدیبیه کې رسول الله ﷺ چې د ډېرو صحابه کرامو څخه د کومې درختې لاندې د قربانۍ بیعت اخیستی وو، هغه د کیکر درخته وه، دغه بیعت ته بیعت الرضوان وایي او د کومو صحابه کرامو څخه چې بیعت اخیستل سوی وو هغوئ ته صحاب سمره ویل کیږي.

اصحاب سمره ته بږغ وکړه، ددې څخه د رسول الله ﷺ مقصد دا وو چې کوم خلک د

حدیبیه پر موقع موجود وه او هغوئ زما په لاس بیعت کړی دی ، هغوئ ته په ږغ کولو سره وو ایه چي دغه وخت ستاسو د امتحان دی د الله ﷻ په لاره کي، او زما د ساتني او حفاظت لپاره د خپلو ځانو قربانولو چي تاسو عهد کړی وو اوس د هغه د پوره کولو لپاره راسئ.

په دغه حدیث کي د رسول الله ﷺ د دوو معجزو یادونه ده، یو خو دا چي رسول الله ﷺ د مخکي څخه خبر ورکړی وو چي کفارو ماته وخوړل او دوهمه معجزه دا وه چي رسول الله ﷺ د دښمن مخته شګي وغورځولې او په هغه سره دښمنان د جنګ د میدان څخه وتښتېدل.

د حنین په غزا کي د رسول الله ﷺ شجاعت

﴿۵۶۳۸﴾: وَعَنْ أَبِي إِسْحٰقَ قَالَ قَالَ رَجُلٌ لِلْبَرَاءِ يَا أَبَا عُمَارَةَ فَرَرْتُمْ يَوْمَ

د حضرت ابو اسحاق رحمه الله څخه روایت دی چي یو سړي د براء بن عازب رضي الله عنه څخه پوښتنه وکړه چي اې ابوعماره ! ایا تاسو د حنین په ورځ د کافرانو د مقابلې څخه تښتیدلي واست؟

حُنَيْنٍ قَالَ لَا وَاللّٰهِ مَا وَلّٰى رَسُولُ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ وَلٰكِنَّ خَرَجَ

براء بن عازب رضي الله عنه وویل : نه، قسم په خدای رسول الله ﷺ شا کړې نه وه ، پښښه یوازي دومره وه

شُبَّانُ أَصْحَابِهِ لَيْسَ عَلَيْهِمْ كَثِيرُ سِلَاحٍ فَلَقُوا قَوْمًا رُمَاةً لَا يَكَادُ يَسْقُطُ

چي صحابه کرامو یو څو زلمیان چي د هغوئ سره زیاته وسله نه وه د غشي ویشتونکو کافرانو سره ومونښتل ، دغه کافران داسي غشي ویشتونکي وه چي د هغوئ یو غشي هم پر مځکه نه

لَهُمْ سَهْمٌ فَرَشَقُوهُمْ رَشْقًا مَا يَكَادُونَ يُخْطِئُونَ فَأَقْبَلُوا هُنَاكَ إِلَى رَسُولِ

لویدی، دغه غشي ویشتونکو کافرانو پر هغو داسي غشي اورول چي یو غشي یې نه خطا کیدی ، دا زلمیان د دغه ځای څخه رسول الله ﷺ ته ورغلل ،

اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ ورسول الله ﷺ عَلَى بَغْلَتِهِ الْبَيْضَاءِ وَأَبُو سُفْيَانَ

رسول الله ﷺ هغه وخت پر سپیني غاتري سپور وو او ابوسفیان بن حارث د غاتري واګي نیولې

بْنُ الْحَارِثِ يَقُودُه فَنَزَلَ وَاسْتَنْصَرَ وَقَالَ أَنَا النَّبِيُّ لَا كَذِبْ أَنَا ابْنُ عَبْدِ

وې ، د دغه زلمیانو په لیدو سره رسول الله ﷺ د غاتري څخه راکښته سو او د الله ﷻ مرسته او

فتح يې وغوښتل او وه يې فرمايل: زه نبي يم دا خبره دروغ نه ده او زه

الْمُطَّلِبْ ثُمَّ صَفَّهُمْ. رواه مسلم وللبخاري معناه وفي رواية لهما قال البراء كنا والله اذا احمر الباس نتقي به وان الشجاع منا للذي يحاذي به يعني النبي صلى الله عليه وسلم.

د عبدالمطلب زوی يم، ددې څخه وروسته مسلمانان يې يو ځای کړل صف بندي يې وکړل، مسلم، او معنا يې د بخاري ده، او د بخاري او مسلم په يوه روايت کي دا الفاظ دي چي براء بن عازب ﷛ وويل قسم په خدای کله چي جنګ سخت سو نو موږ به رسول الله ﷺ ته پناه وروړل او په موږ کي تر ټولو زيات شجاع او زړه ور هغه سړی شميرل کيدی کوم چي به د رسول الله ﷺ برابر ولاړ وو.

تخريج: صحيح البخاري (فتح الباري): ٦\١٠٥، رقم: ٢٩٣٠، ومسلم ٣\١٤٠٠، رقم: ٧٨-١٧٧٦

تشريح: رسول الله ﷺ هيڅکله تر شا سوی نه وو، د حضرت براء ﷛ دغه جواب پر ډېره هوښياري او د رسول الله ﷺ په اړه پر ادب او احترام باندي مبني وو، په اصل کي د پوښتنه کوونکي مطلب دا وو چي ايا تاسو ټول خلک تېښتېدلي واست او په ټولو کي د رسول الله ﷺ د ذات سوال هم کېدای سو ځکه حضرت براء ﷛ تر ټولو وړاندي په څرګنده الفاظو کي بيان وکړ چي رسول الله ﷺ نه خو په حقيقت کي تر شا سوی دی او نه په هغه خلکو کي شامل وو چي هغوئ د دښمن څخه پر شا سوي وه چي پر هغوئ باندي صورتا د شا کېدو اطلاق کېدای سو، بيا حضرت براء ﷛ د هغه وخت د اصل صورت حال وضاحت وکړ چي هغه خلک هم په حقيقت کي تر شا سوي نه وه، کله چي د دښمن سره په مقابله سول نو پر هغوئ باندي يوې ډلي داسي سخت د غشي وارونه کول چي په غشي ويشتلو کي يې ډېر مهارت درلود، د هغوئ هيڅ غشی نه خطا کېدی، په داسي صورت کي صحابه کرامو دا مناسب وګڼل چي د خپلو ځانو د ضائع کولو پر ځای د دښمن د مخ څخه آخوا سي او رسول الله ﷺ ته په رسېدو سره د دښمن پر خلاف يو بل محاذ جوړ کړي، د دښمن څخه په موقتي توګه تر شا کېدلو ته هيڅکله تېښته نه وايي هغوئ يوازي د مرستي اخيستلو لپاره راغلي وه چي په مرسته اخيستلو سره د دښمن خلاف په زيات مؤثره توګه جنګ وکړل سي،

دلته يو سوال پيدا کيږي چي مخکي د حضرت عباس ﷛ په روايت کي د تېښتي الفاظ دي حال دا چي حضرت براء ﷛ وايي چي هغه صحابه کرامو دد دښمن څخه په آخوا کېدو سره

رسول الله ﷺ ته راغلل ، نو د دواړو په بيان کي تضاد معلوميږي، ددې جواب دادی چي د دښمن د حملې او غشي ويشتني په وخت کي خو داسي وښودل سول لکه چي اسلامي لښکر د جنګ د ميدان په پرېښودو سره تښتي مګر سمدستي کله چي رسول الله ﷺ هغوئ ته متوجه سو او حضرت عباس رضي الله عنه د هغوئ رابلل پيل کړل نو په هغه سره په اسلامي لښکر کي د جوش او مېړاني يوه نوې څپه راپيدا سول نو هغوئ د مېدان پرېښودو پر ځای رسول الله ﷺ ته متوجه سول او رسول الله ﷺ ته په نژدې رسېدو سره د جمع کېدو سعادت ور په برخه سو ، نو همدارنګه هغه عمل چي د تېښتي په صورت کي معلوميدی ، وروسته د قرار او استقامت په صورت کي بدل سو ، نو حضرت عباس رضي الله عنه د لومړني صورت نقشه را وايستل او حضرت براء رضي الله عنه وروسته صورت حال بيان کړ .

او ابوسفيان ابن حارث رضي الله عنه د غاتري واګي نيولي وې، ددغه حديث دغه جمله هم په ظاهره د حضرت عباس رضي الله عنه د روايت خلاف ده چي په هغه کي دا بيان سوي دي چي د رسول الله ﷺ د غاتري واګي حضرت عباس رضي الله عنه نيولي وې او حضرت ابوسفيان رضي الله عنه د رسول الله ﷺ رکاب نيولی وو مګر په حقيقت کي ددغه دواړو په منځ کي تضاد او تعارض نسته ځکه چي دا خبره پر وار وار نيولو باندي محمول کيږي ، يعني کله به حضرت عباس رضي الله عنه واګي نيولي وي او کله به يې رکاب نيولی وو ، نو ابوسفيان رضي الله عنه به واګي نيولي وي او دا هم ممکنه ده چي يوه داسي موقع راغلې وي چي د دواړو لپاره د واګو نيول ضروري سوي وي نو په دواړو روايتو کي بېل بېل د دواړو حضراتو ذکر وسو .

زه نبي يم، په دې کي هيڅ درواغ نسته، زه د عبدالمطلب زوی يم ، دا د (انا النبي لاکذب انا ابن عبد المطلب) ترجمه ده، او ددغه جملې لفظ د کذب يعني د باء په جزم سره دی چي ددغه جملې پر شعري ترکيب باندي دلالت کوي مګر دغه جمله د رسول الله ﷺ د مناسب طبيعت سره سم بېله قصده د رسول الله ﷺ پر ژبه مبارکه باندي د شعر پر وزن سوې ده نو دې ته شعر نه سي ويل کيدای ، په دغه جمله کي رسول الله ﷺ خپل نسبت خپل پلار حضرت عبدالله ته په نه کولو سره خپل نيکه عبدالمطلب ته وکړ ، ددې وجه داده چي په عزت او بزرګۍ کي عبدالمطلب زيات مشهور وو او په دغه جمله کي چي رسول الله ﷺ خپل تعريف وکړ نو دا د غرور او تکبر په توګه نه وو بلکه داسي وو لکه څرنګه چي په عامه توګه د جنګ په ميدان کي غازي او مجاهد د دښمنانو په مخکي د خپلي مېړاني او شجاعت اظهار کوي ، ددې څخه معلومه سول چي پر داسي موقع باندي او ددغه مقصد لپاره د خپل ځان تعريف کول جائز دي .

هغه وخت په موږ کي زيات شجاع او زړه ور سړی به هغه وو..الخ: يعني هغه وخت د جنګ ميدان دومره سخت او دد ښمن حمله دومره د بيري ډکه وه چي هيڅ مسلمان تر رسول الله ﷺ زيات په مېړانه سره پر دړېدو باندي قادر نه وو، زيات تر زيات داسي وو چي کوم خلک ډېر زړه ور وه هغوئ د آخوا څخه په ډېخوا راتللو سره هغه ځای ته د رسېدو هڅه کول چيري چي رسول الله ﷺ وو، همدارنګه هغه خلکو د خپلي دغه حوصلې اظهار کوی چي هغوئ په هيڅ حال کي د رسول الله ﷺ په يوازي پرېښودو سره د جنګ د ميدان څخه نه ځي بلکه د رسول الله ﷺ د مرستي او حوصلې په تر لاسه کولو سره د ښمن مقابلې ته تلل، که يو سړی به بې زړه وو نو هغه به يقينا رسول الله ﷺ ته د راتللو پر ځای په خپله تېښته کي عافيت ليدی، ددې څخه د رسول الله ﷺ ډېره مېړانه، شجاعت او د الله ﷻ پر ذات باندي د پوره اعتماد او باور اظهار کيږي.

په دغه حديث کي د رسول الله ﷺ د هغه معجزې ذکر دی چي رسول الله ﷺ په هغه وخت کي د خپلي غاتري څخه په را کښته کېدو د الله ﷻ څخه د فتح او نصرت دعاء غوښتل او د شګو په پورته کولو سره يې د ښمن پر خوا غورځولې چي د هغه په سبب هغه طاقتور لښکر سخته ماته وخوړل.

د شګو معجزه

﴿۵۶۳۹﴾: وَعَنْ سَلَمَةَ بْنِ الْاَكْوَعِ قَالَ غَزَوْنَا مَعَ رَسُولِ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ

د حضرت سلمه بن اکوع ؓ څخه روايت دی چي موږ د رسول الله ﷺ په ملګرتيا کي په غزوه

وَسَلَّمَ حُنَيْنًا فَوَلّٰى صَحَابَةُ رسول الله صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ فَلَمَّا غَشُوا رَسُولَ

حنين کي ګډون وکړ، د رسول الله ﷺ ملګرو تېښته وکړه بيا کافرانو رسول الله ﷺ را ګير کړ نو

اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ نَزَلَ عَنِ الْبَغْلَةِ ثُمَّ قَبَضَ قَبْضَةً مِنْ تُرَابٍ مِنْ

رسول الله ﷺ د سپرلۍ څخه را کښته سو او د مځکي څخه يې يو موټ خاوره پورته کړه او د

الْأَرْضِ ثُمَّ اسْتَقْبَلَ بِهِ وُجُوهَهُمْ فَقَالَ شَاهَتِ الْوُجُوهُ فَمَا خَلَقَ اللّٰهُ مِنْهُمْ

هغه څخه وروسته يې د کافرانو پر مخ خاوره غورځولو سره وفرمايل د هغوئ مخونه خراب سول يا د هغوئ مخونه دي خراب سي، بيا چي الله تعالی د هغوئ څخه کوم انسانان پيدا کړي.

إِنْسَانًا إِلَّا مَلَأَ عَيْنَيْهِ تُرَابًا بِتِلْكَ الْقَبْضَةِ فَوَلَّوْا مُدْبِرِينَ فَهَزَمَهُمُ اللّٰهُ عَزَّ

وه (يعني كوم كافر چي هلته د خداى په مخلوق كي موجود وو) د هر يوه ستركي د خاورو څخه ډكي سوې، او هغوي وتښتېدل او

وَجَلَّ وَقَسَمَ رَسُولُ اللّٰهِ ﷺ غَنَائِمَهُمْ بَيْنَ الْمُسْلِمِينَ. رواه مسلم.

خداى ﷻ هغوئ ته ماته وركړه او د هغوئ د غنيمت مال رسول الله ﷺ د مسلمانانو په منځ كي وويشى. مسلم

تخريج: صحيح مسلم: ۱۴۰۲\۳، رقم: ۸۱- ۱۷۷۷.

د لغاتو حل: غشوا: لما قاربوا غشيانه.

تشريح: په دغه حديث كي درې معجزې دي، يو خو دا چي رسول الله ﷺ يو موټ خاوره د كافرانو په لور وپاشل او هغه د ټولو ستركو ته ورسېدل، دوهم دا چي په دومره لږ خاوره سره د هغوئ ټولي ستركي ډكي سوې چي د هغوئ شمېر څلور زره وو او دريم دا چي د ظاهري طاقت پرته محض د هغه خاوري او شكو په ذريعه دومره لوى لښكر ماته وخوړل.

يوه پيشګوئي

﴿۵۶۴۰﴾: وَعَنْ أَبِي هُرَيْرَةَ رَضِيَ اللّٰهُ عَنْهُ قَالَ شَهِدْنَا مَعَ رَسُولِ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ

د حضرت ابو هريره ؓ څخه روايت دى چي مونږ په غزوه حنين كي د رسول الله ﷺ سره ګډون

عَلَيْهِ وَسَلَّمَ حُنَيْنًا فَقَالَ رَسُولُ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ لِرَجُلٍ مِمَّنْ معه

وكړ، رسول الله ﷺ د يو سړي په اړه چي خپل ځان ته يې مسلمان ويل، دا وفرمايل: چي دا

يَدَّعِي الْإِسْلَامَ هٰذَا مِنْ أَهْلِ النَّارِ فَلَمَّا حَضَرَ الْقِتَالُ قَاتَلَ الرَّجُلُ مِنْ أَشَدِّ

سړى دوږخي دى بيا چي د جنګ وخت راغلى نو هغه سړى ښه وجنګيدى او پر بدن يې ډير

الْقِتَالِ وَكَثُرَتْ بِهِ الْجِرَاحُ فجاء رجل فَقَالَ يا رسول الله ارايتَ الَّذِي

زخمونه راغلل، يو سړى د رسول الله ﷺ په خدمت كي حاضر سو او عرض يې وكړ اې دالله

تحدثُ انه مِنْ أَهْلِ النَّارِ قَدْ قَاتَلَ فِي سَبِيلِ اللّٰهِ مِنْ أَشَدِّ الْقِتَالِ فَكَثُرَتْ بِهِ

رسوله ! تاسو چي د کوم سړي په اړه دا فرمايلي وه چي هغه دوږخي دي هغه د خداى په لار کي ښه وجنګيدى او ډير زخمونه يې وخوړل،

الْجِرَاحُ فَقَالَ أَمَا إِنَّهُ مِنْ أَهْلِ النَّارِ فَكَادَ بعض الناس يَرْتَابُ فَبَيْنَمَا هُوَ عَلَى

رسول الله ﷺ وفرمايل : ياد ساتئ هغه دوږخي دى ، نژدې وه چي د ځيني خلکو په زړونو کي ددې په ښتي ځخه شکونه او شبهې پيدا سوې واى ، (چي ناڅاپه) هغه سړى چي

ذَلِكَ إِذْ وَجَدَ الرَّجُلُ أَلَمَ الْجِرَاحِ فَأَهْوَى بِيَدِهِ إِلَى كِنَانَتِهِ فَانْتَزَعَ سَهْمًا

د هغه په اړه رسول الله ﷺ د دوږخي کيدو حکم کړى وو د زخمونو د تکليف څخه بې ارامه سو او خپل لاس يې په خپله د غشو د کڅوڼي په لور وړاندي کړيو غشى يې راوکښى

فَانْتَحَرَ بِهَا فَاشْتَدَّ رِجَالٌ مِنَ الْمُسْلِمِينَ إِلَى رَسُولِ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ

او په هغه يې خپل ځان حلال کړ (يعني ځان يې خپله مړ کړ) ددې ليدو سره ډيرو مسلمانانو د رسول الله ﷺ په طرف را منډي کړې

فَقَالُوا يَا رَسُولَ اللَّهِ صَدَّقَ اللَّهُ حَدِيثَكَ قَدْ انْتَحَرَ فُلَانٌ وَقَتَلَ نَفْسَهُ فَقَالَ

او عرض يې وکړ اې د الله رسوله ! خداى جَلَّ جَلَالُهُ ستاسو خبره ريښتونې کړه فلاني سړي خپل ځان خپله ووژه، او خپل ځان يې قتل کړ،

رَسُولُ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ اللَّهُ أَكْبَرُ أَشْهَدُ أَنِّي عَبْدُ اللَّهِ وَرَسُولُهُ يَا بِلَال

رسول الله ﷺ وفرمايل : الله اكبر، زه شاهدي ورکوم چي زه د الله بنده او د هغه رسول يم، اې بلاله !

قم فاذن لَا يَدْخُلُ الْجَنَّةَ إِلَّا مؤمنٌ وَإِنَّ اللَّهَ لَيُؤَيِّدُ هَذَا الدِّينَ بِالرَّجُلِ الْفَاجِرِ. رواه البخاري.

ولاړ سه او د خلکو په منځ کي اعلان وکړه چي په جنت کي به يوازي مؤمن داخليږي او دا چي الله تعالى دا دين د فاجر سړي په ذريعه هم قوي کوي . بخاري

تخريج: صحيح البخاري (فتح الباري): ۱۶\۱۷۹، رقم: ۳۰۶۲، ومسلم ۱\۱۰۵، رقم: ۱۷۸- ۱۱۱.

د لغاتو حل: كِنانته: اي جعبته. اشتد: اي عدوا واسرعوا (تېز سوه).

تشريح: دلته ددغه پېښي ذكر د حنين دغزا په نسبت سوی دی ، حال دا چي په مواهب لدنيه كي ددغه پېښي يادونه د خيبر د غزا پر موقع سوې ده، په حديث كي چي د كوم سړي يادونه سوې ده د هغه نوم قرمان وو ، هغه يو منافق وو كه څه هم د هغه منافق كېدل ښكاره نه وه .

يو غشی يې راوكښی او په خپله سينه كي يې چخ كړ، د بخاري په زياتو روايتو كي د سهما پر ځای د جمع صيغه اسهما نقل سوې ده چي مطلب يې دادی : هغه سړي د خپلي كڅوړي څخه په يو وخت كي ډېر غشي راوكښل او هغه ټول يې په خپله سينه كي داخل كړل، د صحيح بخاري په يوه روايت كي نقل سوي دي چي هغه سړي خپله توره پر مځكه كښېښودل او د هغه تېره خوا يې پر خپله سينه كښېښودل او زور يې پر وكړ تر دې چي مړ سو ، مگر په دغه دواړو خبرو كي تضاد نسته، كېدای سي چي هغه مخكي د غشي په ذريعه د خپل ځان ختمول غوښتل ، مگر كله چي سمدستي مړ نه سو نو بيا يې د توري په ذريعه د ځان وژني عمل پوره كړی وي، خلاصه دا چي د هغه سړي مرگ په داسي حال كي راغلی چي په هغه كي د ننه خبث باطن (نفاق) وو ، او يا دا چي هغه د ځان وژني په سبب د فاسق په مرگ مړ سو .

الله جَلَّ جَلالُهُ دغه دين د فاسق سړي ...الخ: دلته د فاسق څخه مراد يا خو منافق دی يا هغه څوک مراد دی چي د نامه لپاره نېک عمل هم كوي او د گناه كار هم كوي، يا دا چي ټول عمر نيک عمل كوي مگر په پای كي يو داسي بدعمل وكړي چي په هغه سره يې خاتمه بالخير نه وي، يو احتمال خو دادی چي ددغه جملې تعلق هم د هغه اعلان سره دی چي د هغه حكم رسول الله ﷺ ، بلال رضي الله عنه ته وركړ مگر دوهم احتمال دادی چي ددغه جملې تعلق د هغه اعلان سره نه دی بلكه رسول الله ﷺ دغه جمله جلا وفرمايل او ددې مقصد دا څرگندول وو چي زباني قول او دعوه او ظاهري اعمال په هر صورت د حقيقت ترجمان نه وي داسي هم كيږي چي يو سړی په ژبه سره دخپلي نيكۍ دعوه هم كوي او په ظاهر نيک كار كول هم ښيي مگر په هغه كي د نيت د فساد يا د نفاق داسي خرابي وي چي په هغه سره د هغه حقيقي احوال او د هغه باطن د هغه د ظاهر سره تعلق نه وي كه څه هم د هغه د ظاهري اعمالو په سبب دين ته گټه رسوي ، ددې لوی مثال هغه خلک دي چي محض د مالي مفاد او دنياوي مقصد لپاره ديني كتابونه تصنيف كوي او درس و تدريس كوي يا آذان كوي، امامت كوي ، وعظ او تقرير كوي ، مسجد او مدرسه جوړوي ، داسي خلک په ظاهره په ښه كار كي بوخت معلوميږي او دهغوئ دغه عمل او خدمت اسلام ته او مسلمانانو ته گټه رسوي او ددين او ملت د تقويت سبب جوړيږي مگر په حقيقت كي هغوئ پر خپل دغه عمل او خدمت باندي د اجر او ثواب څخه بې برخي وي .

ځان وژونکی دوږخی دی

دغه حدیث پر دې خبره دلالت کوي چي ځان وژونکی به دوږخ ته ځي مګر په دې مسئله کي علماؤ لیکلي دي که داسي سړی چي په ځان وژنه یې خپل ځان ختم کړی وي، مؤمن وي او د ایمان تصدیق یې درلود نو په دوږخ کي به تل نه پاته کیږي، لکه چي د یو مؤمن په قصد سره وژونکي حکم دی، د یو مؤمن خپل ځان وژل داسي دي لکه چي هغه یو بل مؤمن قتل کړی وي، څرګنده دي وي چي د قرآن کریم په یو آیت کي د وژونکي مؤمن په اړه د تل دوږخي حکم بیان سوی دی، مګر علماؤ په دغه آیت کي تاویلونه کړي دي ځکه چي د قرآن کریم د نورو آیاتو او حدیثو څخه د مؤمن په قصد وژونکي په اړه عدم خلود نار حکم ثابتیږي هغه محدثین چي دهغوئ تعلق د اهل ظواهر سره دی، هغوئ ویلي دي چي داسي سړی که څه هم مؤمن وي مګر د دوږخ د تل عذاب مستحق به نه وي. یعني دهغوئ په نزد د دوږخ د تل عذاب سره کافران مخصوص نه دي مګر دغه قول شاذ دی او د اهل سنت والجماعة د متفق مذهب بالکل خلاف دی.

پر رسول الله ﷺ د جادو واقعه

﴿۵۶۴۱﴾: وَعَنْ عَائِشَةَ قَالَتْ سُحِرَ رَسُولُ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ حتي انه

د حضرت عائشې رضی الله عنها څخه روایت دی چي په رسول الله ﷺ باندي جادو سوی وو (د رسول الله

لَيُخَيَّلُ إِلَيْهِ أَنَّهُ فَعَلَ الشَّيْءَ وَمَا فَعَلَهُ حَتَّى إِذَا كَانَ ذَاتَ يَوْمٍ عِنْدِي دَعَاالله

ﷺ دا حالت سو) چي دا خیال به یې کوی چي یو کار یې کړی دی حال دا چي هغه به یې نه وو کړی (یعني هیره یې زیاته سوه) په دغه ورځو کي یو وار رسول الله ﷺ زما سره وو، د خدای جل جلاله څخه یې دعاء وغوښتل

وَدَعَاه ثُمَّ قَالَ أَشَعَرْتِ يَا عَائِشَةُ أَنَّ اللَّهَ قد أَفْتَانِي فِيمَا اسْتَفْتَيْتُهُ جاءني

او بیا یې دعاء وکړل (یعني دوه واره یې دعاء وکړل)، بیا رسول الله ﷺ ما ته وفرمایل اې عائشې! تا ته معلومه ده چي ما د خدای جل جلاله څخه کومه خبره پوښتلې وه هغه خدای جل جلاله ما ته و

رَجُلَانِ جلس أَحَدُهُمَا عِنْدَ رَأْسِي وَالْآخَرُ عِنْدَ رِجْلَيَّ ثم قَالَ أَحَدُهُمَا

ښودل، او هغه داسي چي دوې ملائکي ما ته راغلې په هغوئ کي یوه زما سر ته کښېنستل او دویمه پښو ته، بیا په هغوئ کي یوې د بلې څخه پوښتنه وکړه چي

لِصَاحِبِهِ مَا وَجَعُ الرَّجُلِ قَالَ مَطْبُوبٌ قَالَ مَنْ طَبَّهُ قَالَ لَبِيدُ بْنُ الْأَعْصَمِ

د دغه سړي څه ناروغي ده؟ دويم ورته وويل په ده جادو سوی دی، بيا اولي پوښتنه وکړه چا جادو په کړی دی؟ دويمي ورته وويل لبيد بن عاصم

اليهودي قَالَ فِيماذا قَالَ فِي مُشْطٍ وَمُشَاطَةٍ وَجُفِّ طَلْعِةِ ذَكَرٍ قَالَ فَأَيْنَ هُوَ

يهودي، لومړني پوښتنه ځيني وکړه په څه شي کي يې جادو کړی دی؟ دويمي ورته وويل په ږمونځ کي او په هغه وريښتانو کي کوم چي د ږمونځ څخه غورځول کيږي او د خرما د درختي په تازه غونچک کي، لومړني پوښتنه وکړه هغه جادو کړل سوی شی په کوم ځای کي ايښودل

قَالَ فِي بِئْرِ ذَرْوَانَ فَذهب النبي صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ فِي أُنَاسٍ مِنْ أَصْحَابِهِ

سوی دی؟ دويمي ورته وويل د ذروان په څاه کي، ددې معلومولو سره رسول الله ﷺ د صحابه کرامو سره د هغه څاه په طرف تشريف يووړ،

الى البئر فَقَالَ هذه البئر التي اريتها وكَأَنَّ مَاءَهَا نُقَاعَةُ الْحِنَّاءِ و كَأَنَّ نَخْلَهَا رُءُوسُ الشَّيَاطِينِ فَاسْتَخْرَجَهُ. رواه البخاري.

او وه يې فرمايل: دا هغه څاه دی چي ما ته ښودل سوی دی، ددغه څاه اوبه د نکريزو په ډول يخي دي او د خرما د درختي غونچک (چي په څاه کي دی) داسي دي ګويا چي هغه د شيطانانو سرونه دي، رسول الله ﷺ دا ټول شيان د څاه څخه را وايستل (او د جادو اثر ختم سو). بخاري.

تخريج: صحيح البخاري (فتح الباري): ۱۰\ ۳۳۴، رقم: ۳۲۶۸، ومسلم ۴\ ۱۷۱۹، رقم: ۴۳– ۲۱۸۹.

د لغاتو حل: مطبوب: اي مسحور. وجف: وهو وعاء طلع النخل. نقاعة: المعني ان ماءها متغير لونه مثل ماء نقع فيه الحناء.

تشريح: د يو شي په اړه به د رسول الله ﷺ خيال وو... الخ: ځينو شارحينو ددغه جملې مطلب دا ليکلی دی چي په رسول الله ﷺ کوم سحر او جادو سوی وو د هغه په اثر د رسول الله ﷺ هيره داسي غالبه سوې وه چي د يو کار کولو يا نه کولو فکر به ورسره وو، د مثال په توګه د رسول الله ﷺ په فکر کي به دا خبره راتلل چي ما فلانی کار کړی دی حال دا چي هغه به يې نه وو کړی، همدارنګه يو کار به يې کړی وو او دا خيال به يې وو چي هغه کار يې نه دی کړی، ددغه هيري

تعلق يوازي د دنياوي معاملاتو سره وو، په هيڅ يو ديني کار کي دغه صورت هيڅکله نه پيښېدی، په دغه حديث کي د رسول الله ﷺ د ذهني کيفيت او حالت څرګندولو لپاره د يخيل لفظ استعمال سوی دی چي د هغه مثال په قرآن کريم کي د الله ﷻ دغه ارشاد دی چي د حضرت موسی ؑ په اړه يې فرمايلی دی: (يخيل اليه من سحرهم انهاتسعی) يعني د موسی ؑ په فکر کي دا خبره راغلل چي د جادو په اثر رسۍ ځغلي حال دا چي رسۍ نه ځغلي بلکه د هغه کافرانو جادوګرو له خوا د نظر بندۍ اثر وو چي پر مځکه باندي ساکت رسۍ په فکر کي ځغلېدونکي معلومېدی، يا دا چي هغه جادوګرانو پر رسيو باندي د مخکي څخه يو شی موږلی وي چي هغه رسۍ په لمر کي وغورځول سي نو دلمر په ګرمۍ سره د هغه پر ظاهري سطح باندي داسي خپرېدل ظاهر سول چي په هغه سره حضرت موسی ؑ ته خيال راغلی چي دغه رسۍ خپله حرکت کوي.

په يوه حديث کي د رسول الله ﷺ دغه حالت چي د سحر په اثر په رسول الله ﷺ کي پيدا سوو، داسي بيان سوی دی چي د رسول الله ﷺ په خيال کي به راتلل چي د خپلي يوې بې بي سره کوروالي وکړي مګر بيا به يې نه کول، يعني په رسول الله ﷺ کي به دا خواهش پيدا سو او په دې پوهيدی چي د کوروالۍ طاقت لرم مګر کله چي به بي بي ته ورغلی نو پر هغې به قادر نه وو، څرګنده دي وي چي د نورو ناروغيو په ډول جادو هم يوه ناروغي ده، د انبياء عليهم السلام د بشريت سره سم څرنګه چي پر هغوئ د نورو بدني ناروغيو اثر کيږئ همدارنګه د سحر اثر هم پر هغوئ کېدل د نبوت خلاف نه دي او د رسول الله ﷺ په بدن مبارک کي د جادو تاثير ددغه حکمت اظهار هم وو چي د سحر د تاثير يو حقيقت کيدل داسي ثابت سي چي کله د اشرف المخلوقات تر ټولو عظيم شخصيت هم د سحر څخه متاثر کېدای سي نو د نورو څه حيثيت دی، ددې څخه د رسول الله ﷺ د نبوت يو واضح دليل هم د هغه کفارو په مخکي راغلی چي رسول الله ﷺ ته يې ساحر ويل، سحر خپله پر ساحر اثر نه کوي او په رسول الله ﷺ سحر اثر کړی وو نو ثابته سوه چي رسول الله ﷺ ساحر نه وو.

د رسول الله ﷺ سره د سحر کېدو دغه پيښه د ذي الحجه د شپږم کال ده، کله چي رسول الله ﷺ د صلح حديبيه څخه وروسته مدينې منورې ته تشريف راوړی وو او علماؤ ليکلي دي چي د سحر دغه اثر پر رسول الله ﷺ باندي تر څلوېښتو ورځو پوري وو، په يوه روايت کي شپږ مياشتي وخت هم منقول دی او د يو قول مطابق دغه اثر تر يوه کال پوري منقول دی، مګر بيا هم په دغه روايتو کي څه تضاد نسته، غالب ګمان دادی چي ددغه سحر اثر په سختي سره تر

څلوېښتو ورځو پوري وو، او بيا ځيني نښي يې تر شپږو مياشتو پوري وې او پاته لږ اثر يې تر يوه كال پوري وو، په هر حال څرنګه چي بي بي عائشې ﷺ بيان كړى دى، الله ﷻ په ذكر سوي صورت كي د هغه سحر حقيقت څرګند كړ او د هغه څخه يې خلاصون وركړ.

د الله ﷻ څخه يې دعاء وغوښتل او بيا يې دعاء وغوښتل، ددې مطلب دادى چي رسول الله ﷺ په وار وار دعاء غوښتل او الله ﷻ ته په زارۍ كي پرله پسې مصروف وو، ددې څخه معلومه سوه كه يو ناخوښه او تكليف وركوونكي صورت رامنځته سي نو پر يو آفت نازلېدو باندي الله ﷻ ته رجوع كول او د خلاصون لپاره دعاء كول مستحب دي.

دلته علماؤ دا نكته بيان كړې ده چي الله ﷻ د خپل خاص بندګانو په زړه كي د دعاء غوښتل هغه وخت اچوي كله چي د قبوليت ساعت راسي، ددې پر خلاف د عامو خلكو معامله بله وي هغوئ پر خپل حال پرېښودل كيږئ چي هغوئ دعاء كوي تر دې چي د قبوليت وخت راسي نو د هغوئ دعاء قبوله سي.

لبيد بن اعصم يهودي، ځينو حضراتو ليكلي دي چي دلته د لبيد څخه مراد هغه لوڼي دي، يعني هغه ملائكي وښودل چي د لبيد بن اعصم لوڼو په رسول الله ﷺ باندي سحر كړى دى، دغه حضراتو دغه مراد د قرآن كريم د سورة قل اعوذبرب الفلق د هغه الفاظو پر بنياد بيان كړى دى چي (ومن شر النفاثات في العقد) يعني زه پناه غواړم د پوه كونكو د بدۍ څخه، د نفاثات معنى پر نفوس سواحر، د جادوګر په ويلو ويلو سره پر تار باندي پوكل او غوټه وركولو هم كيداى سي.

قاضي رحمة الله عليه په خاصه توګه د شر نفاثات څخه د پناه غوښتلو د سبب په ليكني سره بيان كړى دى چي يوې يهودي په رسول الله ﷺ باندي سحر كړى وو او د هغه صورت دا وو چي هغې يهودي د ليندۍ تار جوړ كړ او هغه ته يې يوولس غوټې وركړې بيا يې هغه تار په څاه كي ښخ كړ نو رسول الله ﷺ د هغه په اثر ناروغ سو، بيا الله ﷻ معوذتين يعني قل اعوذ برب الفلق او قل اعوذبرب الناس نازل كړل او حضرت جبرائيل عليه السلام، رسول الله ﷺ ته هغه څاه ور وښودى چيري چي هغې تار ښخ كړى وو، رسول الله ﷺ، حضرت علي رضي الله عنه واستوى، هغه تار راوكښى او را يې وړى، او پر هغه يې دغه سورتونه چف كړل، حضرت علي رضي الله عنه چي به يو آيت پر هغه تار باندي چف كړ نو يوه غوټه به خپله خلاصه سوه، همدارنګه د هر آيت پر يوه يوه غوټه باندي په چف كولو سره ټولي غوټې خلاصي سوې، ددې څخه وروسته رسول الله ﷺ په خپل حالت كي تخفيف محسوس كړ، قاضي رحمة الله عليه دا هم ليكلي دي چي ددغه پېښي څخه د هغه وخت د

کافرانو د دغه خبري رښتيا کېدل نه لازمېږي چي هغوئ ويل: د محمد ﷺ سحر زده دی، هغوئ خو دا خبره په دې معنی کول چي پر محمد ﷺ باندي د يو داسي سحر اثر دی چي په هغه سره (نعوذبالله) د هغه عقل خراب سوی دی او پر هغه ليونتوب خپور سوی دی، حال دا چي د رسول الله ﷺ د سحر اثر بل ډول وو، په هرحال په ښکاره دا معلومېږي چي قاضي رحمه الله کوم روايت بيان کړی دی هغه بله پېښه ده او د دغه پيښي څخه ماسوا ده کوم چي دلته د بي بي عائشي رضي الله عنها په روايت کي بيان سوې ده، دا هم ويل کيږي چي واقعه خو يوه ده مګر په جلا جلا دوو صورتو کي يو ځای پېښه سوې وه يعني خپله لبيد هم په خپلو تدبيرونو سره په رسول الله ﷺ باندي سحر وکړ او د هغه لوڼو هم کړی وو، او همدارنګه الله جل جلاله د رسول الله ﷺ د ثواب دوه برابر کولو لپاره د دواړو د سحر په اثر کي اخته کړ.

لکه هغه چي د شيطان سرونه وي، د خرما هغه وږي څه خو د جادو د اثر په وجه او څه په اوبو کي د پاته کېدو په وجه چي ځومره زيات په بد شکل کي وې د هغه د ظاهرولو لپاره هغه ته يې د شيطانانو د سرونو سره مشابهت ورکړ ځکه چي عربو د شيطان سره د بدشکلۍ او وحشت علامه ګڼل.

او ځينو حضراتو ويلي دي چي دلته د شيطانانو د سرونو څخه ښېرونکي ماران مرادي، په دغه صورت کي مطلب دا وي چي د خرماوي هغه وږي داسي سوې وي لکه چي ښېرونکي ماران وي، د دغه پېښي اړوند د حضرت ابن عباس رضي الله عنه هم يو روايت سته چي په هغه کي بيان دی: سحر او د هغه د ځای د معلومېدو څخه وروسته رسول الله ﷺ، حضرت علي رضي الله عنه او حضرت عمار رضي الله عنه د سحر د هغه شيانو را ايستلو لپاره د ذروان څاه ته واستول، کله چي هغوئ دواړو د خرما هغه غونچک د څاه څخه راوکښی نو دهغوئ په خول کي چي د موم څخه جوړ سوی وو د رسول الله ﷺ يو تابوت پيدا کړ، په هغه تابوت کي ستني جګي سوې وي او د هغه سرېږه په يوولس غوټو ورکولو سره نغښتي وې، بيا حضرت جبرائيل عليه السلام معوذتين (سورة فلق او سورة الناس) سره نازل سو، د دغه دواړو سورتونو ويل پيل سول نو د هر آيت په ويلو سره يوه غوټه خلاصېدل د هغه تابوت څخه، نو رسول الله ﷺ ته به تسکين او راحت محسوس کېدی، همدارنګه ټولي غوټي خلاصي سوې نو د هغه تابوت څخه ټولي ستني وکښل سوې.

د دغه روايت په اړه شارحينو ويلي دي چي د هغه دواړو کسانو سره به رسول الله ﷺ هم تشريف وړی وي او حضرت علي رضي الله عنه او حضرت عمار رضي الله عنه ته به يې هغه څاه ته په ورتللو سره د هغه شيانو د راکښلو حکم ورکړی وي، په نورو روايتو کي هم دا راغلي دي چي د سحر او جادو

ددغه انكشاف څخه وروسته رسول الله ﷺ د هغه يهودي پر خلاف هيڅ ونه كړل بلكه دا يې وفرمايل چي زه دغه فتنه خپرول نه خوښوم.

د خوارجو په اړه پيشگوئي چي پوره سول

﴿۵۶۴۲﴾: وَعَنْ أَبِيْ سَعِيدٍ الْخُدْرِيِّ رَضِيَ اللّٰهُ عَنْهُ قَالَ بَيْنَمَا نَحْنُ عِنْدَ رَسُولِ

د حضرت ابوسعيد خدري رضي الله عنه څخه روايت دی چي موږ (په حجرانه نامي ځای كي) د رسول الله

اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ وَهُوَ يَقْسِمُ قِسْمًا أَتَاهُ ذُو الْخُوَيْصِرَةِ وَهُوَ رَجُلٌ مِنْ بَنِي

ﷺ په خدمت كي حاضر وو، او رسول الله ﷺ (د حنين د غزا) د غنيمت مال ويشئ، چي د رسول الله ﷺ په خدمت كي د قبيله بنو تميم يو سړی حاضر سو چي د هغه نوم ذوالخويصره وو

تَمِيمٍ فَقَالَ يَا رَسُولَ اللّٰهِ اعْدِلْ فَقَالَ وَيْلَكَ فَمَنْ يَعْدِلُ إِذَا لَمْ أَعْدِلْ قَدْ خِبْتَ

او عرض يې وكړ اې دالله رسوله! د عدل او انصاف څخه كار واخلئ، رسول الله ﷺ ورته وفرمايل پر تا دي افسوس وي چي زه عدل او انصاف ونه كړم نو څوک به يې كوي،

وَخَسِرْتَ إِنْ لَمْ أَكُنْ أَعْدِلُ فَقَالَ عُمَرُ ائْذَنْ لِي أَضْرِبْ عُنُقَهُ فَقَالَ دَعْهُ فَإِنَّ لَهُ

بېشكه كه زه انصاف ونه كړم نو د نااميده او تاوانيانو څخه به سم، حضرت عمر رضي الله عنه عرض وكړ اې دالله رسوله! ما ته اجازه راكړئ چي زه يې غاړه ووهم، رسول الله ﷺ ورته وفرمايل دی پر خپل حال پرېږدئ چي ددغه سړي

أَصْحَابًا يَحْقِرُ أَحَدُكُمْ صَلَاتَهُ مَعَ صَلَاتِهِمْ وَصِيَامَهُ مَعَ صِيَامِهِمْ يَقْرَءُونَ

ځيني خلک ملګري دي چي تاسو به خپل لمنځونه د هغوئ د لمنځونو څخه او خپل روژې د هغوئ د روژو څخه حقيري وګڼئ، دا خلک به قرآن وايي

الْقُرْآنَ لَا يُجَاوِزُ تَرَاقِيَهُمْ يَمْرُقُونَ مِنَ الدِّينِ كَمَا يَمْرُقُ السَّهْمُ مِنَ الرَّمِيَّةِ

مګر قرآن به د هغوئ د حلق څخه نه كښته كيږي، (يعني پر زړه به يې اثر نه وي)، او دا خلک به د دين څخه داسي وځي لكه څرنګه چي غشی د ښكار څخه ووځي

يُنْظَرُ إِلَى نَصْلِهِ إِلَى رِصَافِهِ إِلَى نَضِيِّهِ وَهُوَ قِدْحُهُ إِلَى قُذَذِهِ فَلَا يُوجَدُ فِيهِ شَيْءٌ قَدْ

او ورته وكتل سي توبرې ته نضيي ته چي لرګي دي وزرونو ته ددې غشي نو پر هغه شي به بل

سَبَقَ الْفَرْثَ وَالدَّمَ آيَتُهُمْ رَجُلٌ أَسْوَدُ إِحْدَى عَضُدَيْهِ مِثْلُ ثَدْيِ الْمَرْأَةِ أَوْ

پيدا نه کړي ببله دې چي غشي به تير سوی وي تر خوشايو او تر وينو، او ددغه سړي د ځيني تابعدارانو نښه داده چي هغه به د تور رنګ سړی وي چي د هغه په يوه موټ کي به د ښځي د تي

مِثْلُ الْبَضْعَةِ تَدَرْدَرُ وَيَخْرُجُونَ عَلَى خير فُرْقَةٍ مِنَ النَّاسِ قَالَ أَبُو سَعِيدٍ أَشْهَدُ

په ډول غوښه يا د غوښي يوه ټوټه وي چي ښوري به، (يعني د ذوالخويصره هم خيال خلکو کي به يو سړی داسي وي چي د هغه نښه به دغه وي)، او دا خلک (يعني د ذوالخويصره هم خيال او تابعداري به د خلکو د يو غوره ډلي خلاف سرکښي کوي، د ابو سعيد خدري ﷺ بيان دی چي

أَنِّي سَمِعْتُ هَذَا الْحَدِيثَ مِنْ رَسُولِ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ وَأَشْهَدُ أَنَّ عَلِيَّ

زه شاهدي ورکوم چي دا حديث ما د رسول الله ﷺ څخه اوريدلی دی او بيا زه دا شاهدي ورکوم

بْنَ أَبِي طَالِبٍ قَاتَلَهُمْ وَأَنَا مَعَهُ فَأَمَرَ بِذَلِكَ الرَّجُلِ فَالْتُمِسَ فَأُتِيَ بِهِ حَتَّى نَظَرْتُ

چي حضرت علي ﷺ ددغه خلکو (يعني خوارجو) سره وجنګيدی او زه په هغه جنګ کي د حضرت علي ﷺ سره وم، کله چي حضرت علي ﷺ فتح تر لاسه کړه نو د هغه سړي د لټولو حکم يې وکړ چي د هغه په اړه رسول الله ﷺ فرمايلي وه نو هغه سړی پيدا کړل سو او راوستل سو ما

إِلَيْهِ عَلَى نَعْتِ النَّبِيِّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ الَّذِي نَعَتَهُ وفي رواية أَقْبَلَ رَجُلٌ غَائِرُ

هغه وليدی د هغه کوم صفت چي رسول الله ﷺ بيان کړی وو په هغه کي موجود وه، او په يوه روايت کي د ذوالخويصره د حاضريدو پر ځای دا الفاظ دي چي يو سړی د رسول الله ﷺ په

الْعَيْنَيْنِ نَاتِئُ الْجَبهة كَثُّ اللِّحْيَةِ مُشْرِفُ الْوَجْنَتَيْنِ مَحْلُوقُ الرَّأْسِ فَقَالَ يَا

خدمت کي حاضر سو چي د هغه سترګي دننه ژوري وي تندی يې راوتلی وو ږيره يې لرلې وه او بارخوګان يې پړسيدلي وه او سر يې خريلی وو، او رسول الله ﷺ ته يې دا وويل اې محمد !

مُحَمَّدُ اتَّقِ اللَّهَ فَقَالَ النَّبِيُّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ فَمَنْ يُطِيعُ اللَّهَ إِذَا عَصَيْتُهُ

د الله جل جلاله څخه وبيريږه، رسول الله ﷺ ورته وفرمايل که زه د خدای نافرماني وکړم نو څوک به د

هغه اطاعت کوي او خدای جل جلاله ما د مځکي په خلکو کي

فَيَأْمَنُنِي اللهُ عَلَى أَهْلِ الْأَرْضِ وَلَا تَأْمَنُونِي فَسَأَلَ رَجُلٌ قَتْلَهُ فَمَنَعَهُ فَلَمَّا وَلَّى

امين ګڼي، ته ما امين نه ګڼې او پر ما اعتماد نه لرې، يو سړي د رسول الله ﷺ څخه پوښتنه وکړه ايا دی قتل کړو؟ رسول الله ﷺ منع وکړه بيا چي هغه سړی ولاړ

قَالَ إِنَّ مِنْ ضِئْضِئِ هَذَا قَوْمًا يَقْرَءُونَ الْقُرْآنَ لَا يُجَاوِزُ حَنَاجِرَهُمْ يَمْرُقُونَ

نو رسول الله ﷺ وفرمايل: د دغه سړي د اصل څخه به يو قوم پيدا کيږي چي قرآن به وايي او قرآن به د هغوئ د حلق څخه لاندي نه ځي (يعني عمل به نه په کوي) دا خلک به د دين اسلام

مِنَ الْإِسْلَامِ مُرُوقَ السَّهْمِ مِنَ الرَّمِيَّةِ فَيَقُولُونَ أَهْلَ الْإِسْلَامِ وَيَدَعُونَ أَهْلَ الْأَوْثَانِ لَئِنْ أَدْرَكْتُهُمْ لَأَقْتُلَنَّهُمْ قَتْلَ عَادٍ. متفق عليه.

څخه داسي ووځي لکه څرنګه چي غشی د ښکارلپاره وځي بيا دا خلک به مسلمانان قتل کړي او بت پرسته به پر خپل حال پريږدي، که زه هغه خلک تر لاسه کړم نو زه به يې داسي هلاک کړم لکه څرنګه چي عاد قوم هلاک کړل سو. بخاري او مسلم

تخريج: صحيح البخاري (فتح الباري): ۶\۳۷۶، رقم: ۳۳۴۴، ومسلم ۲\۷۴۱، رقم: ۱۴۳- ۱۰۶۴.

د لغاتو حل: يمرقون: اي يخرجون (راوزي) رصافة: وهو عصب يلوي فوق مدخل النصل. قذذة: ريش السهم (د غشي څوکه). البضعة: قطعة اللحم (د غوښو ټوټه).

تشريح: ذوالخويصره نامی سړی چي په حديث کي يې يادونه وسول، په اصل کي منافق وو. او څرنګه چي رسول الله ﷺ وړاند وينه کړې وه د امير المؤمنين حضرت علي رضي الله عنه په زمانه کي کومي ډلي چي د حضرت علي رضي الله عنه خروج او بغاوت لار اختيار کړې وه هغه خوارجو په نامه مشهوره سوه، د دغه ډلي اصل بنياد دغه سړی وو چي د هغه په اړه د قرآن کريم دغه آيت: وَمِنْهُم مَّن يَلْمِزُكَ فِي الصَّدَقَاتِ، نازل سو، يو شارح دا ويلي دي چي ذوالخويصَره د خارجيانو سردار وو نو دا خبره صحيح نه ده ځکه چي د خارجيانو ظهور د حضرت علي رضي الله عنه په زمانه کي سوی دی.

د حنين په غزا کي دغنيمت په توګه چي کوم مال او سامان د اسلامي لښکر په لاس ورغلی وو، رسول الله ﷺ هغه په مسلمانانو کي داسي وويشی چي د کوم چا څومره ضرورت او اړتيا

وه هغه ته يې په هغه اعتبار ورکړل، هغه منافق ، ذوالخويصره ته دا خبره ناخوښه سول اود خپلي بدګمانۍ په اظهار يې دا اعتراض وکړ چي تاسو بايد د غنيمت مال داسي ونه ويشئ، بلکه هر چا ته برابر ورکول پکار دي، ددغه خبري چي رسول الله ﷺ کوم جواب ورکړ د هغه خلاصه دا وه چي د انصاف او عدل پر تقاضا باندي زما څخه زيات څوک پوهېداى سي د غنيمت د مال د وېشلو چي کومه طريقه ما اختيار کړې ده د هغه بنياد د عدل او نصاف څخه ماسوا نور هيڅ نه دى، دعدل مطلب دا نه دى چي هر سړي ته دي برابر ورکړل سي که څه هم د يو سړي ضرورت زيات وي نو هغه ته د ضرورت په اعتبار زيات ورکول پکار دي چي د هغه ضرورت پوره سي او کوم څوک چي لږ ضرورت لري نو هغه ته کم ورکړل سي ، بيا رسول الله ﷺ هغه سړي ته څرګنده کړل چي زه رحمة العالمين دنيا ته را استول سوى يم چي د هر چا سره دعدل او انصاف معامله وکړم که يو څوک زما پر عدالت او انصاف باندي اعتراض کوي نو ددې مطلب داداى چي د هغه په برخه د مايوسۍ او محرومۍ څخه ماسوا نور هيڅ نسته نو ستاسو غوره والى په دې کي ده چي ته زما پر عدل باور وکړې، او که ته زما پر عدل باور نه کوې اوستا په نزد زه انصاف نه کوم نوپوه سه چي ته خپله د خپل ګمان سره سم نااميده او محروم سوې او په تاوان کي سوې .

په شرح السنه کي دي چي رسول الله ﷺ ، حضرت عمر رضي الله عنه د هغه سړي د وژني څخه منع کړ مګر د بل روايت په سبب رسول الله ﷺ دخپل دغه ارادې اظهار وکړ که زه ددغه سړي پيروي کوونکى تر لاسه کړم نو قتل به يې کړم، په دغه دواړو روايتو کي په ښکاره تضاد معلومېږي ، ددې وجه داده چي رسول الله ﷺ د خپل ارادې د اظهار په صورت کي دهغه خلکو قتل ته چي مباح وفرمايل نو ددې تعلق د هغه صورت سره دى چي کله هغه خلک خپله ډله جوړه کړي او ټول په يو ځاى کېدو سره د نورو خلکو يعني مسلمانانو سره مخالفت وکړي او دهغوئ خلاف د جنګ اعلان وکړي، حال دا چي د حضرت عمر رضي الله عنه د منع کولو پر وخت دا صورت نه وو ، هغه محض يو سړى وو چي دخپلي بدګمانۍ او نفاق اظهار يې کړى وو ، دغه د فتنې ظهور اود فساد پيل د حضرت علي رضي الله عنه په زمانه کي وسو ، حضرت علي رضي الله عنه د هغوئ مقابله وکړل او په هغوئ کي يې ډېره ووژل، مګر صحيح او ښه خبره هغه ده چي يو شارح ليکلې ده چي د رسول الله ﷺ ، حضرت عمر رضي الله عنه ته د هغه سړي د قتل اجازه نه ورکول دا په اصل کي د وسول الله ﷺ حسن اخلاق او تحمل دليل دى چي رسول الله ﷺ هيڅکله د خپل ذات مبارک په اړه د چا څخه بدله اخيستل نه غوښتل حال دا چي هغه سړي د زياتوب او دښمني په اظهار کي هيڅ کمي نه وه کړې

، ځکه رسول الله ﷺ ته مخامخ په مخاطب کېدو سره دا وويل چي د الله ﷻ څخه و بېرېږه ،

او په يوه روايت کي د هغه دغه الفاظ هم منقول دي چي اې محمد !(ﷺ) ته چي څرنګه مال ويشې په هغه کي عدل او انصاف نسته، د هغه داسي الفاظ ددې لپاره کافي دي چي هغه سمدستي ووژل سي، ځکه چي هغه پر رسول الله ﷺ باندي بدګماني وکړل او پر رسول الله ﷺ يې عيب ووايه ځکه که يو سړی نن هم د رسول الله ﷺ په اړه داسي الفاظ د خولې څخه وباسي نو پر هغه دي د کفر او ارتداد حکم ولګول سي مګر ددې سربېره رسول الله ﷺ هغه ته سزا ورنه کړل او هغه ته يې د قرار واقعي سزا ورکولو اجازه ورنه کړل .

چي د هغوئ دلمونځونو په مقابله کي ستاسو لمونځونه ...الخ: ددې مطلب دادی چي د هغه سړي پيروان به په ظاهره ډېر دېنداره او د شريعت تابع معلومېږي ، هغوئ به دعامو مسلمانانو په نظر کي داسي ښه لمونځونه کوي او داسي ښه روژې به نيسي چي لوی لوی پاخه او رېښتوني مسلمانان به د هغوئ په مقابله کي خپل لمونځونه او روژې کم ګڼي، هغوئ به د قرآن کريم تلاوت کوي او داسي به کوي چي د ترتيل او تجويد او مخارج حروف د ټولو قواعدو او ادابو خيال به ساتي مګر د هغوئ په زړه کي به نفاق وي ځکه د هغوئ تلاوت به تر ستوني نه کښته کيږي، يعني نه به د هغوئ تلاوت او قرائت د الله ﷻ په نزد مقبول وي او نه به د هغوئ عبادت او اعمال پورته خيژي او نه به نتيجه ورکوي، يا دا چي د هغوئ تلاوت به يوازي د هغوئ تر ژبو پوري محدود وي، زړه ته به نه ځي او نه به د هغه اثر روح ته رسيږي ، بيا هر کله چي دغه خلک خپله ټينګه ډله جوړه کړي او د طاقتوري ډلي صورت اختيار کړي نو بيا د دين اطاعت او فرمانبرداري يا د وخت د امام د اطاعت او يا د اسلام د دائرې څخه داسي وځي لکه څرنګه چي غشی د ليندۍ څخه وي .

څرنګه چي د ښکار د منځ څخه وتلی غشی په وينه يا نور نجاست نه لړل کيږي همدارنګه دغه خلک به د دين څخه د وتلو وروسته پر هغوئ د دينداری او اسلام سره د تعلق او د مسلمانانو سره دميني د ذرې په اندازه اثر هم نه ښکار کيږي حال دا چي هغوئ ښه لمونځ کونکي ، ډېر تلاوت کونکي او د تهجد ادا کونکي وي .

هغوئ به د دين څخه داسي وځي...الخ: د حديث دغه جمله د هغه علماؤ دليل دی چي د خوارجو د کافر کېدو قائل دي او خطابي رحمه الله ويلي دي چي د دغه جملې (د دين څخه به وځي) دا مطلب نه دی چي هغه خلک به بالکل د دين څخه خارج سي بلکه دهغوئ د وخت د امام پر خلاف سرکښي کول مراد دي .

او سريې خريلی وو: دا د هغه سرې د هغه هيئت او شکل ظاهري مخالفت وو چي پر هغه بانديې د رسول الله ﷺ اکثر صحابه کرام وه، اکثرو صحابه کرامو پر سر وېښتان پرېښودل او نه به يې خريل، ماسوا د هغه وخت څخه چي کله د حج څخه دفارغه کېدو وروسته د سر خريل ضروري وي، مګر د حضرت علي رضي الله عنه په اړه منقول دي چي هغه به زيات وختونه سر خرايه او هغه هم له دې کبله چي د غسل کولو په وخت کي سر ته اوبه ورسېږي.

لکه څرنګه چي د عاد قوم خلک وژل سوي وه، دلته د وژني څخه مراد هغوئ اجتماعي هلاکت او دهغوئ له منځه وړل دي او دغه هلاکت په قتل سره تعبير کول محض د مشابه کېدو لپاره دي، او کوم چي د حقيقت تعلق دی نو د عاد قوم قتل سوي نه وه بلکه د سخت طوفان په ذريعه داسي هلاک سوي وه چي ټول قوم نيست او نابود سو.

دابوهريره رضي الله عنه د مور اسلام راوړلو واقعه

﴿۵۶۴۳﴾: وَعَنْ أَبِي هُرَيْرَةَ قَالَ كُنْتُ أَدْعُو أُمِّي إِلَى الْإِسْلَامِ وَهِيَ مُشْرِكَةٌ

د حضرت ابو هريره رضي الله عنه څخه روايت دی چي ما به خپل مور ته چي مشرکه وه هميشه د اسلام راوړلو دعوت ورکوی،

فَدَعَوْتُهَا يَوْمًا فَأَسْمَعَتْنِي فِي رَسُولِ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ مَا أَكْرَهُ فَأَتَيْتُ

يوه ورځ ما هغې ته د اسلام راوړلو دعوت ورکړي نو هغې د رسول الله ﷺ په شان کي داسي خبره وکړه چي پر ما بده ولګيدل،

رَسُولَ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ وَأَنَا أَبْكِي قُلْتُ يَا رَسُولَ اللَّهِ ادْعُ اللَّهَ أَنْ يَهْدِيَ

زه په ژړا ژړا رسول الله ﷺ ته راغلم او عرض مي وکړ اې دالله رسوله! د الله جل جلاله څخه دعاء وغواړه چي زما مور ته هدايت وکړي چي اسلام راوړي،

أُمَّ أَبِي هُرَيْرَةَ فَقَالَ اللَّهُمَّ اهْدِ أُمَّ أَبِي هُرَيْرَةَ فَخَرَجْتُ مُسْتَبْشِرًا بِدَعْوَةِ النَّبِيِّ

رسول الله ﷺ وفرمايل: اې الله! د ابوهريره مور ته د اسلام راوړلو هدايت وکړې، زه د رسول الله ﷺ په دعاء سره خوشحاله سوم بيرته راغلم

صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ فَلَمَّا صِرْتُ إِلَى الْبَابِ فَإِذَا هُوَ مُجَافٌ فَسَمِعَتْ أُمِّي خَشْفَ

او د خپلي مور د کور دروازې ته ورسيدم، نو وينم چي دروازه بنده وه، زما مور زما د قدمونو

قَدَمَيَّ فَقَالَتْ مَكَانَكَ يَا أَبَا هُرَيْرَةَ وَسَمِعْتُ خَضْخَضَةَ الْمَاءِ فَاغْتَسَلَتْ فَلَبِسَتْ

اواز واوريدی نو هغې وويل: لږ تم سه، بيا ما د اوبو توئيدلو اواز واوريدی (يعني د غسل کولو) زما مور غسل وکړ او جامه يې واغوستل او

دِرْعَهَا وَعَجِلَتْ عَنْ خِمَارِهَا فَفَتَحَتْ الْبَابَ ثُمَّ قَالَتْ يَا أَبَا هُرَيْرَةَ أَشْهَدُ أَنْ لَا

پوړنی يې پر سر کړی لا نه وو چي دروازه يې خلاصه کړه او وه يې ويل: اې ابوهريره! زه شاهدي ورکوم چي د الله ﷻ څخه پرته

إِلَهَ إِلَّا اللَّهُ وَأَشْهَدُ أَنَّ مُحَمَّدًا عَبْدُهُ وَرَسُولُهُ فرجعت الى رسول الله صلى الله عليه وسلم وَأَنَا أَبْكِي مِنَ الْفَرَحِ فَحَمِدَ اللَّهَ وَقَالَ خَيْرًا. رواه مسلم

بل څوک د عبادت وړ نه سته او زه شاهدي ورکوم چي محمد ﷺ د الله بنده او د هغه رسول دی. (ابوهريره ﷺ وايي) زه بيرته ولاړم رسول الله ﷺ ته ما د خوشحالۍ څخه ژړل، رسول الله ﷺ د خدای تعريف وکړ او زما د مور پر اسلام راوړلو يې ښه وويل. مسلم.

تخريج: صحيح مسلم: ۱۹۳۸/۴، رقم: ۱۵۸- ۲۴۹۱.

د لغاتو حل: مجاف: اي مردود. خشف: اي صوتهما وقيل حركتهما. عجلت: اي تركت خمارها.

تشريح: او د خوشحالۍ څخه په اوښکو تويولو سره...الخ: حقيقت دادی چي انسان محض د غم په وخت کي اوښکي نه بيوي بلکه په ډېره خوشحالي کي هم د سترګو څخه اوښکي بهيږي، يو هوښيار سړي ډېره ښه خبره کړې ده چي د خوشحالۍ ژړا له دې کبله وي چي غم د اوښکو په صورت کي په بهېدو سره وتل غواړي.

او ښه يې وفرمايل، ددې يو مطلب خو دادی چي رسول الله ﷺ د دغه زيري په اورېدو سره پر دعاء او زيري باندي مشتمله يوه ښه خبره وفرمايل، او يا دا چي د خير لفظ د يو داسي عبارت سره تعلق لري چي الفاظ خو مذکور نه دي مګر د هغه مفهوم مراد سوی دی يعني رسول الله ﷺ داسي وفرمايل: اې ابوهريره! ته د خپلي مور د اسلام راوړلو په سبب د اجر او انعام مستحق سوې.

په دغه حديث کي د رسول الله ﷺ د هغه معجزې يادونه ده چي د حضرت ابوهريره ﷺ مور پر کفر او انکار باندي سخته ولاړه وه او د اسلام سره يې سخت بغض او نفرت درلودی مګر د

رسول الله ﷺ دعاء سمدستي اثر وکړ او د هغې په زړه او دماغ کي حيرانوونکي بدلون راغلی چي د اسلام غيږي ته راغلل.

د ابوهريره رضي الله عنه ډير روايتونه

﴿۵۶۴۴﴾: وَعَنْهُ قَالَ اِنَّكُمْ تَقُوْلُوْنَ اَكْثَرَ اَبُوْهُرَيْرَةَ عَنِ النَّبِيِّ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ

د حضرت ابوهريره رضي الله عنه څخه روايت دئ چي هغه تابعينو ته په مخاطب کولو سره وويل چي تاسو وايا ست چي ابوهريره د نبي کريم ﷺ څخه زيات حديثونه نقل کوي

وَسَلَّمَ وَاللّٰهُ الْمَوْعِدُ وَإِنَّ إِخْوَتِي مِنَ الْمُهَاجِرِينَ كَانَ يَشْغَلُهُمُ الصَّفْقُ بِالْأَسْوَاقِ

او الله جل جلاله وعده ګاه دی (يعني د قيامت په ورځ زموږ د الله جل جلاله په مخکي حاضريدل دي) که ما په حديث بيانولو کي يو خيانت کړی وي نو ما ته به خدای جل جلاله سزا راکړي، ښه داده چي زما مهاجرو وروڼو به په بازار کي کاروبار کوی

وَإِنَّ إِخْوَتِي مِنَ الْأَنْصَارِ كَانَ يَشْغَلُهُمْ عَمَلُ أَمْوَالِهِمْ وَكُنْتُ امْرَأً مِسْكِينًا

او د هغوئ دغه بوختيا به هغوئ د رسول الله ﷺ په خدمت کي د زياتي حاضرۍ څخه منع کول، او انصار وروڼه به په مالي کارونو کي بوخت وه، هغوئ ته به هم د حاضرۍ زياته موقع په لاس نه ورتلل، او زه يو مسکين سړی وم چي

أَلْزَمُ رَسُولَ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ عَلَى مِلْئِ بَطْنِي وَقَالَ النَّبِيُّ صَلَّى اللّٰهُ

نس به مي موړ سو نو پر هغه به مي قناعت وکړ او د رسول الله ﷺ په خدمت کي به پروت وم، يوه ورځ نبي کريم ﷺ وفرمايل: دا

عَلَيْهِ وَسَلَّمَ يَوْمًا لَنْ يَبْسُطَ أَحَدٌ مِنْكُمْ ثَوْبَهُ حَتَّى أَقْضِيَ مَقَالَتِي هَذِهِ ثُمَّ

هيڅکله نه سي کيدلای چي په تاسو کي دي يو څوک خپله جامه وغوړوي (يعني زما د حديث اوريدو لپاره دي لمن هواره کړي) او تر هغه وخته پوري دي غوړولې لري چي زه خپله خبره پای

يَجْمَعَهُ إِلَى صَدْرِهِ فَيَنْسَى مِنْ مَقَالَتِي شَيْئًا أَبَدًا فَبَسَطْتُ نَمِرَةً لَيْسَ عَلَيَّ

ته ورسوم، او بيا به هغه خپله جامه د خپل سينې سره لګوي، او بيا دي زما حديث ځيني هير

سي. (يعني كوم سړی چي په پوره توجه سره زما سره خبره واوري او تر پايه پوري يې واوري او بيا هغه په سينه كي محفوظ كړي هغه هيڅكله زما خبره نه سي هيرولای)

ثَوْبٌ غَيْرُهَا حَتَّى قَضَى النَّبِيُّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ مَقَالَتَهُ ثُمَّ جَمَعْتُهَا إِلَى

دا رسول الله ﷺ د خپلو صحابه كرامو په اړه دعاء كړې وه، نو ما خپله شړۍ خلاصه كړل ځكه چي بله يو جامه زما سره نه وه تر دې چي رسول الله ﷺ حديث پوره كړ بيا ما هغه د

صَدْرِي فَوَالَّذِي بَعَثَهُ بِالْحَقِّ مَا نَسِيتُ مِنْ مَقَالَتِهِ ذالك إِلَى يَوْمِي هَذَا. متفق عليه.

خپل سينې سره ولګول، په هغه ذات دې مي قسم وي چي محمد ﷺ يې په حق سره راليږلی دی ما د رسول الله ﷺ د حديثونو څخه تر اوسه پوري هيڅ نه دي هير كړي. بخاري او مسلم

تخريج: صحيح البخاري (فتح الباري): ۵\۲۸، رقم: ۲۳۵۰، ومسلم ۴\۱۹۳۹، رقم: ۱۴۹- ۲۴۹۲.

د لغاتو حل: الصفق: اي ضرب اليد على اليد عند البيع (چكچكي). نمرة: اي شملة مخططة من مآزر الاعراب.

تشريح: د الله ﷻ وعده حق ده، دلته د الله ﷻ د وعدې څخه مراد د قيامت ورځ ده، په دغه خبره دابوهريره رضي الله عنه مطلب دا وو چي د قيامت په ورځ موږ ټولو ته د الله ﷻ په مخكي حاضرېدل دي كه ما د رسول الله ﷺ د حديث په بيانولو كي كمي اوزياتوب يا خيانت كړی وي نو يقينا الله ﷻ به د قيامت په ورځ ما ته سزا راكړي ځكه رسول الله ﷺ فرمايلي: كوم څوك چي پر ما درواغ ووايي يعني زما له خوا د دروا غوپه نسبت كولو سره حديث بيان كړي نو هغه دي خپل ځای په دوږخ كي تيار وګڼي.

د نورو صحابه كرامو په نسبت، حضرت ابو هريره رضي الله عنه د رسول الله ﷺ څخه زيات حديثونه ولي بيانوي، نوموړي خپله ددې دوه سببه بيان كړي دي، لومړی دا چي د رسول الله ﷺ په خدمت كي تر ټولو زيات د حاضرېدو سعادت هغه ته تر لاسه وو، لكه چي ابو هريره رضي الله عنه بيان وكړ چي مهاجر صحابه كرام زيات تجارت كوونكي وه، د خپل تجارت او كاروبار د بوختيا په وجه د رسول الله ﷺ په خدمت كي هر وخت نه حاضرېدل، همدارنګه انصار په خپلو مځكو او باغو كي د بوختيا په وجه د رسول الله ﷺ په خدمت كي په خاصو وختو كي حاضرېدل، ددغه ټولو پرخلاف د حضرت ابو هريره رضي الله عنه كاروبار نه وو هغه يو مفلس او فقير سړی وو، د هغه د

قناعت لپاره دا بس وه چې د خوراک او څښاک یو شی پیدا سي او خپله لوږه په ختمه کړي، ددې څخه ماسوا هغه ته د بل هیڅ شی ضرورت نه وو، له دې کبله به هغه تقریبا خپل ټول وخت د رسول الله ﷺ په خدمت کې تېروی، او له دې کبله د رسول الله ﷺ د حالاتو او معاملاتو د لېدلو او اورېدلو زیاته موقع هغه ته تر لاسه وه، حضرت ابوهریره رضي الله عنه چې دوهم سبب بیان کړ هغه په اصل کې د رسول الله ﷺ د ارشاد اورېدو سره په خپل دماغ کې د خوندي ساتلو هغه خاص صفت وو چې د یو سعادت په توګه هغه ته د اعجاز نبوي په برکت تر لاسه سو، ددغه سعادت د تر لاسه کولو چې کومه پېښه وه او حضرت ابوهریره رضي الله عنه د هغه یادونه په کومو الفاظو کې وکړل، د هغه وضاحت دادی چې رسول الله ﷺ غوښتل چې زما دامت خلک زما څخه یو حدیث واوري نو هغه په ښه ډول یاد کړي چې د هغه په ذریعه د هدایت او اصلاح لړۍ جاري وساتل سي، رسول الله ﷺ یوه ورځ وفرمایل: دغه وخت زه د خپل پروردګار څخه دا دعاء غواړم چې زما صحابه کوم حدیثونه واوري هغه د هغوئ په دماغ کې پوره خوندي سي،

په دغه وخت کې چې کوم څوک خپله جامه وغوړوي او زما د دعاء تر ختمېدو پوري هغه جامه غوړولې وي او بیا دهغه جامې په راټولولو سره د سینې سره ولګوي نوددغه دعاء په برکت به د هغه حافظه دومره قوي سي چې هغه زما کوم حدیث واوري ټول عمر به ئې ني هېر نه سي، حضرت ابوهریره رضي الله عنه خپله کمبله چې هغه وخت دده سره یوازینی جامه وه، سمدستي وغوړول، رسول الله ﷺ دعاء کول پیل کړل او تر څو پوري چې رسول الله ﷺ دعاء غوښتل تر هغه وخته یې خپله کمبله غوړولې وه او ناست وو، کله چې رسول الله ﷺ دعاء ختمه کړل نو حضرت ابوهریره رضي الله عنه خپله کمبله راټوله کړل او د سینې سره یې ولګول، د هغه اثر دا سو چې ابوهریره رضي الله عنه به د رسول الله ﷺ څخه یو ارشاد واورېدی نو هغه به یې په دماغ کې خوندي سو. همدارنګه د هغه سینه او دماغ د احادیث نبوي یوه زیرمه جوړه سول.

د حضرت جریر رضي الله عنه لپاره دعاء

﴿۵۶۴۵﴾: وَعَنْ جَرِيرِ بْنِ عَبْدِاللّٰهِ قَالَ قَالَ لِي رَسُولُ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ

د حضرت جریر بن عبدالله رضي الله عنه څخه روایت دی چې رسول الله ﷺ ما ته وفرمایل:

أَلَا تُرِيحُنِي مِنْ ذِي الْخَلَصَةِ فَقُلْتُ وكنت اِلَا أَثْبُتُ عَلَى الْخَيْلِ فَذَكَرْتُ

ایا ته په ذي الخلصه ماتولو سره ما ته آرام نه راکوې؟ (ذي الخلصله یوه بت خانه وه چې رسول الله ﷺ

ته د هغه څخه ډیر روحاني تکلیف رسیدی)، ما عرض وکړ: هو، زه به هغه ماته کړم تاسو به خوشحاله کړم زما حالت دا وو چي ما پر آس په ښه ډول سپرلی نه سوای کولای او کله کله به د آس څخه را ایله سوم

ذٰلِكَ لِلنَّبِيِّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ فَضَرَبَ يَدَهُ عَلٰى صَدْرِيْ حَتّٰي رَاَيْتُ اَثَرَ

، ددې ذکر ما رسول الله ﷺ ته وکړ، رسول الله ﷺ زما پر سینه خپل مبارک لاس راتیر کړ چي اثر

يَدِهٖ فِيْ صَدْرِيْ وَقَالَ اَللّٰهُمَّ ثَبِّتْهُ وَاجْعَلْهُ هَادِيًا مَهْدِيًّا قَالَ فما وقعت عن

یې زما زړه ته ورسیدی، بیا یې وفرمایل: اې الله! دی ثابت کړې، دی سیده لار ښوونکی او سیده لار تر لاسه کونکی جوړ کړې، د جریر بیان دی چي ددې څخه وروسته زه هیڅکله د آس

فرسي بعد فانطلق في مائه وخَمْسِينَ فَارِسًا مِنْ أَحْمَسَ فحرقها بالنار وكسرها. متفق عليه.

څخه نه یم را ایله سوی، بیا زه د یونیم سل سپرو سره د ذوالخلصه ماتولو لپاره روان سوم دا سپاره د قبیله احمس (قریش) وه، جریر ﷺ ذوالخلصه وسوځول او ما ته یې کړل. بخاري او مسلم.

تخریج: صحيح البخاري (فتح الباري): ۱۸\۷۰، رقم: ۴۳۵۸، ومسلم ۴\۱۹۲۵، رقم: ۱۳۶– ۲۴۷۶.

د لغاتو حل: الخصلة: هو بيت الخثعم يدعى كعبة اليمامة. احمس: الشجاع (میړانه).

تشریح: ذوالخَلصه یا ذوالخُلصه د عربو د قبیلې (خثعم) د بت خانې نوم وو، دغه بت خانې ته به یې کعبة الیمامه هم ویل، په دې کي یو ډېر لوی بت وو چي د هغه نوم خلصه وو، د دغه بت ډېر عبادت کیدی، دغه صورت حال رسول الله ﷺ ته ډېر تکلیفي وو ځکه رسول الله ﷺ. حضرت جریر ﷺ ته وفرمایل چي ته دغه بت خانه ماته کړه چي ما ته ارام ورسیږي.

ددې څخه معلومه سول چي نفوس قدسه او کاملینو ته د غیر الله ﷺ په عبادت او د شریعت خلاف کارو په لېدو سره سخت غم رسیږي او اذیت محسوس کوي.

احمس چي د احمر پر وزن دی په اصل کي د حماسه څخه جوړ سوی دی چي معنی یې د میړاني او شجاعت ده، د قریشو ځیني قبیلې چي په شجاعت او میړانه کي یې امتیازي حیثیت درلودی هغوئ ته احمس ویل کېدل.

او بیا د احمس څخه د یونیم سل سپرو کسانو سره جابر ﷺ روان سو...الخ: د روایت ددغه برخي په اړه شارحینو لیکلي دي چي دا د راوي الفاظ دي چي هغه دغه روایت د جریر ﷺ څخه

نقل کړی دی مګر ځینو حضراتو ویلي دي چي دغه جمله هم د اصل روایت ده او د حضرت جریر رضی اللہ عنہ خپل الفاظ دي چي هغه ته التفات ویل کیږي یعني په دغه جمله کي هغه د خپل یادوني لپاره د متکلم د صیغې په پرېښودو سره د غائب صیغه اختیار کړل.

د ژبي مبارکي څخه وتلی لفظ حقیقت سو

﴿۵۶۴۶﴾: وَعَنْ أَنَسٍ قَالَ إِنَّ رَجُلاً كَانَ يَكْتُبُ لِلنَّبِيِّ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ

د حضرت انس رضی اللہ عنہ څخه روایت دی چي یو سړي به د رسول الله ﷺ وحي لیکل (چي لومړی

فَارْتَدَّ عَنِ الْإِسْلاَمِ وَلَحِقَ بِالْمُشْرِكِيْنَ فَقَالَ النَّبِيُّ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ

نصراني وو او بیا مسلمان سوی وو) بیا هغه مرتد سو (یعني د دین څخه واوښتی) او د مشرکانو سره یو ځای سو، رسول الله ﷺ د هغه په اړه وفرمایل:

إِنَّ الْأَرْضَ لاَ تَقْبَلُهُ فَأَخْبَرَنِيْ أَبُوْ طَلْحَةَ أَنَّهُ أَتَى الْأَرْضَ الَّتِيْ مَاتَ فِيْهَا

مځکه به دی قبول نه کړي، د انس رضی اللہ عنہ بیان دی چي ما ته طلحه رضی اللہ عنہ وویل زه هغه ځای ته ورسیدم په کوم کي ځای چي هغه سړی مړ سوی وو،

فَوَجَدَهُ مَنْبُوْذًا فَقَالَ مَا شَأْنُ هٰذَا فَقَالُوْا دَفَنَّاهُ مِرَارًا فَلَمْ تَقْبَلْهُ الْأَرْضُ. متفق عليه

ما ولیدل چي هغه د قبر څخه د باندي پروت دی ابو طلحه وایي ما پوښتنه وکړه دا څه حال دی؟ خلکو راته وویل چي موږ څو واره دی په مځکه کي ښخ کړی دی مګر مځکه دی قبول نه کړي. بخاري.

تخريج: صحيح البخاري (فتح الباري): ٦\٦٢٤، رقم: ٣٦١٧، ومسلم ۴\٢١۴۵، رقم: ١۴- ٢٧٨١.

تشريح: هغه سړي مخکي نصراني (عیسايي) وو بیا یې ایمان راوړ او مسلمان سو، مګر په لیکلو او ویلو باندي پوهېدی ځکه رسول الله ﷺ د وحي پر لیکنه مامور کړ مګر بیا معلومه نه ده چي څه وسول چي هغه د اسلام څخه مرتد سو او بېرته نصراني سو، او د اسلام د مخالفینو یعني مشرکانو په صف کي شامل سو، په دغه خبري سره رسول الله ﷺ ته سخت تکلیف پېښ سو او د ژبي مبارکي څخه یې دغه الفاظ ووتل چي دغه سړی به مځکه قبول نه کړي، د هغه مړی به دباندي راغورځوي، نو همداسي وسول کله چي هغه مړ سو او مشرکانو د هغه ښخول

وغوښتل نو په سهار كي هغوئ ولېدل چي د هغه مړي د قبر څخه دباندي پروت دی، هغوئ وويل چي دا د محمد (ﷺ) او دهغه دملګرو كار دی چي د قبر په كښلو سره يې د هغه مړي دباندي غورځولی دی، او بيا يې په ډېر كوښښ سره ګهره كنده وكښل او هغه يې پكښي ښخ كړ، بيا كله چي سهار راغلل نو وه يې لېدل چي قبر هغه د باندي راغورځولی دی، اوس هغوئ ته احساس وسو چي دا د يو سړي كار نه دی نو هغوئ نااميده ولاړل او مړی يې پر هغه ځای پرېښود.

د يهوديانو د قبرو انكشاف

﴿۵۶۴۷﴾: وَعَنْ أَبِي أَيُّوبَ رَضِيَ اللَّهُ عَنْهُمْ قَالَ خَرَجَ النَّبِيُّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ وَقَدْ وَجَبَتْ الشَّمْسُ فَسَمِعَ صَوْتًا فَقَالَ يَهُودُ تُعَذَّبُ فِي قُبُورِهَا. متفق عليه.

د حضرت ابو ايوب رضي الله عنه څخه روايت دی چي لمر لويدلی وو او رسول الله ﷺ د باندي تشريف راوړ او يو آواز يې واوريدی ، وه يې فرمايل : دا آواز د يهوديانو دی چي هغو ته په قبر كي عذاب وركول كيږي . بخاري او مسلم.

تخريج: صحيح البخاري (فتح الباري): ۳۴۱\۳، رقم: ۱۳۷۵، ومسلم ۴\۲۲۰۰، رقم: ۶۹– ۲۸۶۹.

تشريح: يو آواز يې واورېدی، په دې اړه شارحينو ليكلي دي چي هغه آواز يا خو د هغه ملائكي وو چي په قبر كي په آواز كولو ماموره ده او يا د هغه يهوديانو وو چي هغوئ ته په قبر كي عذاب وركول كيدی، د حديث د عبارت : يهود تعذب في قبورها، سره سم دوهم احتمال قياس ته ډېر نژدې دی .

ددغه حديث څخه د قبر عذاب ثابتيږي او د رسول الله ﷺ دغه معجزه ښكاره سول چي پر رسول الله ﷺ باندي د يهودو د قبر حال منكشف سو او رسول الله ﷺ هغه بيان كړ .

د طوفان په لېدو سره د يو منافق د مرګ خبر وركول

﴿۵۶۴۸﴾: وَعَنْ جَابِرٍ قَالَ قَدِمَ النَّبِيّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ مِنْ سَفَرٍ فَلَمَّا

د حضرت جابر رضي الله عنه څخه روايت دی چي يو وار رسول الله ﷺ د يو سفر څخه تشريف راوړ ، كله

كَانَ قُرْبَ الْمَدِينَةِ هَاجَتْ رِيحٌ شَدِيدَةٌ تَكَادُ أَنْ تَدْفِنَ الرَّاكِبَ فَزَعَمَ أَنَّ

چي مدينې منورې ته نژدې سو نو تيز باد راغلی دومره تيز نژدې وو چي سپور سړی پر مځکه را ايله کړي او په مځکه کي يې ښخ کړي،

رَسُولَ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ قَالَ بُعِثَتْ هَذِهِ الرِّيحُ لِمَوْتِ مُنَافِقٍ فَلَمَّا قَدِمَ الْمَدِينَةَ فَإِذَا مُنَافِقٌ عَظِيمٌ مِنَ الْمُنَافِقِينَ قَدْ مَاتَ. رواه مسلم.

رسول الله ﷺ وفرمايل: دا هواء د يو منافق د مرګ لپاره راليږل سوې ده، بيا چي مدينې ته داخل سوه نو معلومه سوه چي يو لوی منافق مړ سوی دی. مسلم

تخريج: صحيح مسلم ۴\۲۱۴۵، رقم: ۱۵- ۲۷۸۲.

تشريح: ځينو علماؤ دا ليکلي دي چي د مړ کېدونکي منافق نوم رفاعه بن دريد وو، او دغه پېښه دهغه وخت ده کله چي رسول الله ﷺ د تبوک د غزا څخه را ستون سو او ځينو حضراتو ويلي دي چي د هغه منافق نوم رافع وو او دا د هغه وخت پېښه ده چي کله رسول الله ﷺ د بني مصطلق د غزا څخه راستون سو.

د هغه لوی منافق پر مرګ باندي د دومره سخت باد راتلل په اصل کي د هغه د وحشت، بدحالی او چټلي د قدرت له خوا اظهار وو چي د هغه سره منافق د مرګ په وخت کي مخامخ کيږي، او دا ددې خبري نښه ده چي په آخرت کي هم د داسي خلکو په د اسي حالت سره چي پريشان او په تباهی کي اخته وي، مخامخ کيږي.

د مدينې د ساتني لپاره معجزانه خبر

﴿۵۶۴۹﴾: وَعَنْ أَبِي سَعِيدٍ الْخُدْرِيِّ قَالَ خَرَجْنَا مَعَ نَبِيِّ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ

د حضرت ابوسعيد خدري رضي الله عنه څخه روايت دی چي موږ د رسول الله ﷺ سره (د مکې څخه د

وَسَلَّمَ حَتَّى قَدِمْنَا عُسْفَانَ فَأَقَامَ بِهَا لَيَالِيَ فَقَالَ النَّاسُ مَا نَحْنُ هَا هُنَا فِي

مدينې په لور) روان سوو، کله چي موږ عسفان ته ورسيدو نو رسول الله ﷺ يو څو ورځي تم سو ځيني خلکو وويل موږ دلته څه کوو، (يعني ولي بيکاره ناست يو)،

شَيْءٍ وَإِنَّ عِيَالَنَا لَخُلُوفٌ مَا نَأْمَنُ عَلَيْهِمْ فَبَلَغَ ذَلِكَ النَّبِيَّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ

حال دا چي زموږ اهل او عيال تر شا پاته دي، او موږ د هغوئ څخه مطمئن نه يو، هر کله چي

وَسَلَّمَ فَقَالَ وَالَّذِي نَفْسِي بِيَدِهِ مَا فِي الْمَدِينَةِ شِعْبٌ وَلَا نَقْبٌ إِلَّا عَلَيْهِ

وه يې فرمايل : په هغه ذات دي مې قسم وي چې د هغه په لاس کې زما ساه ده د مدينې هيڅ لاره او هيڅ کوڅه داسي نه ده چې پر

مَلَكَانِ يَحْرُسَانِهَا حَتَّى تَقْدَمُوا إِلَيْهَا ثُمَّ قَالَ ارْتَحِلُوا فَارْتَحَلْنَا وَأَقْبَلْنَا إِلَى

هغه ملائکي ټاکلي نه وي، يعني په هره لاره او په هره کوڅه کې دوې ملائکې د ساتنې لپاره موجود دي، او تر هغه وخته پورې به وي تر څو پورې چې تاسو مدينې ته ورسيږئ،

الْمَدِينَةِ فَوَالَّذِي يُحْلَفُ بِهِ مَا وَضَعْنَا رِحَالَنَا حِينَ دَخَلْنَا الْمَدِينَةَ حَتَّى أَغَارَ

رسول الله ﷺ د سفر حکم وکړ او موږ روان سوو، او مدينې ته ورسيدو ، په هغه ذات دي مې قسم وي چې په هغه قسم اخيستل کيږي چې موږ لا د اوښانو کجاوې کښته کړې له وې او مدينې ته داخل سوي وو چې

عَلَيْنَا بَنُو عَبْدِ اللَّهِ بْنِ غَطَفَانَ وَمَا يَهِيجُهُمْ قَبْلَ ذَلِكَ شَيْءٌ. رواه مسلم.

بنو عبد الله بن عطفان پر موږ راغلل (زموږ د لوټلو لپاره) او زموږ د راتلو څخه مخکې هغوئ هيڅ شی نه وو پورته کړی . مسلم

تخريج : صحيح مسلم ۲\۱۰۰۱، رقم: ۴۷۵- ۱۳۷۴.

د لغاتو حل :عسفان: موضع على مرحلين وهي مايساوي مسافة القصر من مكة. نقب: اي طريق بين الجبلين. (د دوو غرونو په منځ کې لاره).

تشريح : د شعب لغوي معنی د هغه لاري ده چې د غره په منځ کې تېريږي، همدا رنګه د نقب معنی هم د هغه لاري ده چې په ښار او کلي کې د تګ راتګ ذريعه وي، د نقب څخه مراد هغه لاره ده چې دواړو خواوو ته د جوړ سوو سرايو تر منځ وي چې هغه ته کوڅه هم وايي، لکه چې په يو حديث کې راغلي دي : پر انقاب مدينه، يعني د مدينې پر کوڅو ملائکې ټاکل سوي دي، د هغوئ په وجه نه طاعون راځي او نه به دجال داخليدلای سي .

بنو عبد الله ابن غطفان پر موږ راوختل، بنوعبد الله ا بن غطفان د يوې قبيلې نوم دی ، مطلب دادي چې زموږ په نه موجودتيا کې مدينه بالکل خوندي وه لکه څرنګه چې رسول الله ﷺ

د معجزې په توګه موږ ته ښودلي وه او تر هغه وخته پورې زموږ د هيڅ دښمن د جارحانه ارادو په لاره کې د ملائکو د ساتنې څخه ماسوا هيڅ ظاهري خنډ نه وو، مدينې ته د رسېدو څخه وروسته موږ د رسول الله ﷺ د ورکړې هغه خبر د صداقت مشاهده وکړل چې تر څو پورې چې موږ مدينې ته رسېدلي نه وو، د ملائکو د ساتنې په وجه هيڅ دښمن حمله نه سوه کولای، د هغه حملې په سبب چې زموږ د راتګ څخه مخکې پيدا سوې نه وو دا محسوس سوه چې محض موږ ته د تاوان رسولو لپاره هغه دښمن پر موږ حمله وکړل او زموږ په نه شتون کې د هغوئ د ارادو د تکميل غوره موقع وه مګر دغه غيبي طاقت وو چې د هغه دښمن څخه يې زموږ د کورنيو ساتنه وکړل او هغوئ يې زموږ په نه شتون کې په مدينه کې د داخلېدو څخه منع کړل او پر مدينې باندې د حملې کولو څخه يې منع کړل.

د باران اړوند د قبوليت دعاء

﴿٥٦٥٠﴾: وَعَنْ أَنَسٍ قَالَ أَصَابَتْ النَّاسَ سَنَةٌ عَلَى عَهْدِ رسول الله صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ

د حضرت انس رضي الله عنه څخه روايت دی چې د رسول الله ﷺ په زمانه کې وچ کالي سول، په دغه

وَسَلَّمَ فَبَيْنَا النَّبِيُّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ يَخْطُبُ فِي يَوْمِ جُمُعَةٍ قَامَ أَعْرَابِيٌّ فَقَالَ

ورځو کې رسول الله ﷺ د جمعې په ورځ خطبه فرمايل چې يو صحرايي ودريدی او عرض يې

يَا رَسُولَ اللَّهِ هَلَكَ الْمَالُ وَجَاعَ الْعِيَالُ فَادْعُ اللَّهَ لَنَا فَرَفَعَ يَدَيْهِ وَمَا نَرَى فِي

وکړ اې د الله رسوله! حيوانان هلاک سول او ماشومان د لوږې څخه مړه کېږي زموږ لپاره د الله جل جلاله څخه د دعاء لاس پورته کړه، رسول الله ﷺ دعاء وکړل، هم هغه وخت

السَّمَاءِ قَزَعَةً فَوَالَّذِي نَفْسِي بِيَدِهِ مَا وَضَعَهَا حَتَّى ثَارَ السَّحَابُ أَمْثَالَ الْجِبَالِ

پر آسمان د وريځې يوه ټوټه هم نه وه، په هغه ذات دې مې قسم وي چې د چا په واک کې زما ساه ده، رسول الله ﷺ د دعاء څخه لاس کښته کړی لا نه وو چې د غرونو په شان وريځ را پورته سول

ثُمَّ لَمْ يَنْزِلْ عَنْ مِنْبَرِهِ حَتَّى رَأَيْتُ الْمَطَرَ يَتَحَادَرُ عَلَى لِحْيَتِهِ فَمُطِرْنَا يَوْمَنَا ذَلِكَ

او رسول الله ﷺ د منبر څخه کښته سوی لا نه وو چې د باران اوبه د رسول الله ﷺ پر ږيره مبارکه څڅېدلې، په هغه ورځ،

وَمِنْ الْغَدِ وَمن بَعْدَ الْغَدِ حَتَّى الْجُمُعَةِ الْأُخْرَى وَقَامَ ذَلِكَ الْأَعْرَابِيُّ وغَيْرُهُ

په دويمه ورځ او په دريمه ورځ حتى تر بلي جمعې پوري باران و اوريدی، تر دې چې هغه صحرايي يا بل ځوک راغلی

فَقَالَ يَا رَسُولَ اللهِ الْبِنَاءُ وَغَرِقَ الْمَالُ فَادْعُ اللهَ لَنَا فَرَفَعَ يَدَيْهِ فَقَالَ اللّهُمَّ

او عرض يې وکړ اې دالله رسوله! سرايونه ونړيدل، حيوانان ډوب سول، د الله ﷻ ځخه دعاء وغواړه، رسول الله ﷺ د دعاء لپاره لاس پورته کړ او وه يې فرمايل: اې الله!

حَوَالَيْنَا وَلَا عَلَيْنَا فَمَا يُشِيرُ بِيَدِهِ إِلَى نَاحِيَةٍ مِنْ السَّحَابِ إِلَّا انْفَرَجَتْ وَصَارَتْ

زموږ شاوخوا کي يې و اوروې (يعني په کښتو وغيره کي) او پر موږ يې (يعني پر ابادۍ) يې مه اوروې، رسول الله ﷺ چي به کومي خوا ته اشاره کول وريځ به هغه خوا ته تلل،

الْمَدِينَةُ مِثْلَ الْجَوْبَةِ وَسَالَ الْوَادِي قَنَاةُ شَهْرًا وَلَمْ يَجِئْ أَحَدٌ مِنْ نَاحِيَةٍ إِلَّا

د مدينې سربيره وريځ صفا سوه او آسمان صفا په نظر راتلی او د اوبو لښتيان تر يوې مياشتي پوري جاري وه او د شاوخوا ځخه به چي يو ځوک راغلی هغو به په کثرت سره د باران اوريدو

حَدَّثَ بِالْجَوْدِ وفي رواية قال اللّهُمَّ حوالينا ولا علينا عَلَى الْآكَامِ وَالظِّرَابِ

خبره کول، او په يوه روايت کي داسي دي چي نبي کريم ﷺ داسي دعاء وکړه اې الله! زموږ پر شاوخوا يې و اوروې او پر موږ يې مه اوروې، اې الله! پر غونډيو، غرونو

وَبُطُونِ الْأَوْدِيَةِ وَمَنَابِتِ الشَّجَرِ قَالَ فَأُقْلِعَتْ وَخَرَجْنَا نَمْشِي فِي الشَّمْسِ.

متفق عليه.

او ناليو کي او ددرختو او کښتونو د شنه کيدو پر ځايونو يې و اوروې، د انس ﷺ بيان دی ددې دعاء ځخه وروسته وريځ صفا سوه او موږ د باندي راووتلو په داسي حال کي چي په لمر کي روان وو. بخاري او مسلم.

تخريج: صحيح البخاري (فتح الباري): ۲\۴۱۳، رقم: ۹۳۳، ومسلم۲\۶۱۴، رقم: ۹-۸۹۷،

د لغاتو حل: قزعة: اي قطعة من السحاب. (د وريځي ټوټه). الجوبة: الفرجة من السحاب. الظراب: الجبال الصغار. (کوچني غرونه).

تشريح: د يتحاد لفظ په اصل کي د ينزل و يقطر معنی ظاهروي مګر دلته په حديث کي دغه لفظ د يتساقط په معنی کي دی، مطلب دا چي د باران اوبه د رسول الله ﷺ پر ږيره مبارکه رالويدې.

د مشکوة په ځينو نسخوکي د (علی لحيته) الفاظ دي، دغه معنی د دغه په لحاظ سوې ده مګر په ځينو نسخو کي د (عن لحيته) الفاظ دي، شيخ عبدالحق رحمة الله عليه په دې اعتبار سره معنی کړې ده چي د باران اوبه د رسول الله ﷺ پر ږيره مبارکه څڅېدل پيل سول، خلاصه دا چي رسول الله ﷺ د باران لپاره دعاء وکړل او تر اوسه د منبر څخه را کښته سوی نه وو او د مسجد څخه وتلی نه وو چي سخت باران پيل سو.

امام نووي رحمة الله عليه د دغه حديث په تشريح کي ليکلي دي: د دغه حديث څخه معلومه سول چي کله د باران لړۍ سخته او اوږده سي او دهغه په وجه کورو او نورو شيانو ته تاوان رسيږي نو دغه دعاء کول مستحب دي چي اې الله! اوس زموږ پر کورو باران مه اوروه، مګر د دغه دعاء لپاره لمونځ کول او د کورو څخه د باندي صحراء ته وتل مشروع نه دي.

د اسطوانه حنانه معجزه

﴿٥٦٥١﴾: وَعَنْ جَابِرٍ قَالَ كَانَ النَّبِيُّ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ اِذَا خَطَبَ اِسْتَنَدَ

د حضرت جابر رضي الله عنه څخه روايت دی چي کله به رسول الله په مسجد کي د جمعې په ورځ خطبه

اِلٰى جِذْعِ نَخْلَةٍ مِنْ سَوَارِيْ الْمَسْجِدِ فَلَمَّا صُنِعَ لَهُ الْمِنْبَرُ فَاسْتَوٰى عَلَيْهِ

ويل نو د خرما پر هغه تنه چي د ميل په توګه په مسجد کي ولاړه وه تکيه کول، بيا چي د نبي کريم ﷺ لپاره منبر تيار سو،

صَاحَتِ النَّخْلَةُ الَّتِيْ كَانَ يَخْطُبُ عِنْدَهَا حَتّٰى كَادَتْ اَنْ تَنْشَقَّ فَنَزَلَ النَّبِيُّ

نو رسول الله ﷺ پر هغه کښېنستی او خطبه يې ويل، نو هغه خرما چي پر هغه به يې تکيه کول، او خطبه به يې ويل هغه خرما چغي کړې (يعني د نبي ﷺ پر بيلتون په ژړا سوه)

ﷺ حَتّٰى اَخَذَهَا فَضَمَّهَا اِلَيْهِ فَجَعَلَتْ تَئِنُّ اَنِيْنَ الصَّبِيِّ الَّذِيْ يُسَكَّتُ حَتّٰى

او نژدې وه چي د بيلتون د شدت څخه وچوي، نو رسول الله ﷺ د منبر څخه را کښته سو هغه ميل د خرما يې په خپلو لاسونو مبارکو سره ونيوی او د ځان سره يې جوخته کړل، بيا هغه درختي د هغه ماشوم په ډول سلګۍ پيل کړې کوم چي کرار کړل سي، تر دې چي

اسْتَقَرَّتْ قَالَ بَكَتْ عَلَى مَا كَانَتْ تَسْمَعُ مِنَ الذِّكْرِ . رواه البخاري.

هغه درختې ته سکون حاصل سو ، رسول الله ﷺ وفرمايل : دغه درختې ځکه ژړل چي کوم بيان به هغې مخکې اوريدی هغه يې نه واوريدی . بخاري.

تخريج: صحيح البخاري (فتح الباري): ۳۱۹\۴، رقم: ۲۰۹۵.

تشريح: د رسول الله ﷺ په زمانه کي د مسجد نبوي ستني د خرماوو د تنو وې، په لومړنۍ زمانه کي چي منبر نه وو تيار سوی، رسول الله ﷺ به پر هغه ستنو باندي په تکيه کولو سره دريدی، مګر کله چي منبر تيار سو او رسول الله ﷺ پر هغه ستنو باندي د تکيې کولو پر ځای پر منبر باندي ودريدی نو هغه ستني د خپل سعادت د محرومۍ په وجه په چغو په ژړا سوې ، رسول الله ﷺ وفرمايل: د الله ﷻ د ذکر يعني د خطبې په وخت کي هغوئ ته زما نژدېوالي حاصل وو او زما خطبه يې ډېره نژدې اوريدل د هغه څخه د محرومۍ په وجه په ژړا مجبوره سوې ، د دغه پېښي په وجه هغه ستنو ته اسطوانه حنانه ويل پيل سول .

دغه حديث چي په هغه کي د ستنو د ژړا يادونه ده د ډېرو صحابه کرامو څخه منقول دي او په دې اړه هيڅ شک او شبه نه سي کيدای او ځينو محدثينو دغه حديث ته متواتر ويلي دي، دا په اصل کي د رسول الله ﷺ يوه لويه معجزه وه چي د خرما د درختې د تني په ډول بې ساه شی د رسول الله ﷺ د نژدې والي څخه د محرومۍ په سبب ژاړي او د هغه د ژړا آواز په مسجد نبوي کي موجود صحابه کرامو په خپلو غوږو سره واوريدل، د حضرت حسن بصري رحمه الله په اړه منقول دي چي کله به هغه دغه حديث بيانوی نو بې اختياره به په ژړا سو او ويل يې: اې خلګو! د خرماوو وچ سوي لرګي د رسول الله ﷺ په مينه او شوق کي ژړل تاسو لره د هغه څخه زيات د رسول الله ﷺ په مينه او شوق کي بې کراري کول پکار دي .

د ناحقه عذر بيانونکي معذور سو

﴿۵۶۵۲﴾: وَعَنْ سَلَمَةَ بْنِ الْأَكْوَعِ أَنَّ رَجُلًا أَكَلَ عِنْدَ رَسُولِ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ بِشِمَالِهِ فَقَالَ كُلْ بِيَمِينِكَ قَالَ لَا أَسْتَطِيعُ قَالَ لَا اسْتَطَعْتَ مَا مَنَعَهُ إِلَّا الْكِبْرُ قَالَ فَمَا رَفَعَهَا إِلَى فِيهِ. رواه مسلم

د حضرت سلمه ابن اکوع رضي الله عنه څخه روايت دی چي يو سړي د رسول الله ﷺ په مخکي په چپه

لاس سره خوراک کوی ، رسول الله ﷺ ورته وفرمایل : په خپل راسته لاس یې خوره ، هغه وویل : زه یې په راسته لاس سره نه سم خوړلای، رسول الله ﷺ وفرمایل : ته دي په راسته لاس سره د خوړلو قدرت تر لاسه نه کړې. هغه د درواغ عذر کړی وو او په خپل چپه لاس سره یې یوازي د تکبر او غرور په وجه خوراک کوی، د راوي بیان دی د رسول الله ﷺ د ښېرا سره هغه خپل راسته لاس تر خولې پوري نه سو رسولای . مسلم

تخریج: صحیح مسلم ۳\۱۵۹۹، رقم: ۱۰۷- ۲۰۲۱.

تشریح: هغه سړي د غرور په وجه په خپل راسته لاس خوراک نه کوی، دا د راوي الفاظ دي چي د هغه په ذریعه یې دا وضاحت کړی دی چي رسول الله ﷺ د رحمة للعالمین کېدو سربېره د هغه سړي په اړه کومه ښېرا وکړل نو د هغه وجه داوه چي هغه سړي د رسول الله ﷺ د نصیحت په اوریدو سره د صحیح عمل کولو پر ځای د خپل غلط عمل درواغ تاویل وکړ او د درواغو عذر یې بیان کړ ، د هغه سړی په چپه لاس خوړل په دې وجه نه وو چي د هغه په راسته کي یوه خرابي وه یا هغه په راسته لاس د خوراک څخه معذور وو بلکه هغه د یو مغرور په ډول بېله واقعي عذر په خپل چپه لاس سره خوراک کوی او د رسول الله ﷺ د نصیحت یې په ډېره بې باکي سره جواب ورکړ نو رسول الله ﷺ د هغه په اړه ښېرا وکړل ، د هغه د ښېرا اثر دا سو چي هغه سړی په راسته لاس خوراک باندي هیڅکله قادر نه سو او د هغه راسته لاس بېکاره سو چي د کوښښ کولو سره یې تر خولې پوري رسولای نه سو .

د رسول الله ﷺ د سپرتیا په برکت اس تېز سو

﴿۵۶۵۳﴾: وَعَنْ أَنَسٍ أَنَّ أَهْلَ الْمَدِينَةِ فَزِعُوا مَرَّةً فَرَكِبَ النَّبِيُّ صَلَّى اللَّهُ

د حضرت انس رضی الله عنه څخه روایت دی چي یو وار د غلو یا د ښمنانو د بیري له کبله د مدینې خلک

عَلَيْهِ وَسَلَّمَ فَرَسًا لِأَبِي طَلْحَةَ كَانَ يَقْطِفُ أَوْ كَانَ فِيهِ قِطَافٌ فَلَمَّا رَجَعَ قَالَ

وبیریدل ، نبي کریم ﷺ د ابو طلحه پر اس پرته د زین څخه سپور سو چي ډیر کرار وو ، رسول الله ﷺ چي را وګرځیدی نو وه یې فرمایل :

وَجَدْنَا فَرَسَكُمْ هَذَا بَحْرًا فَكَانَ بَعْدَ ذَلِكَ لَا يُجَارَى، وفي رواية فما سبق بعد ذالك اليوم. رواه البخاري.

ما خو دا آس د درياب په ډول وليدی (يعني ډير تيز) بيا هغه آس تېز شو چي هيڅ يو آس نه سو پسي رسيدلای، او په يوه روايت كي دا الفاظ دي چي د هغه ورځي څخه وروسته هيڅ يو آس د هغه څخه مخكي كيدلای نه سو. بخاري.

تخريج: صحيح البخاري (فتح الباري): ٦١\٧٠، رقم: ٢٨٦٧، ومسلم ٤\١٨٠٢، رقم: ٤٨- ٢٣٠٧.

د لغاتو حل: يقطف: اي يمشي مشيا ضيقا. بحرا: اي جلدا.

په خرماوو كي د بركت معجزه

﴿٥٦٥٤﴾: وَعَنْ جَابِرٍ قَالَ تُوُفِّيَ اَبِيْ وَعَلَيْهِ دَيْنٌ فَعَرَضْتُ عَلٰى غُرَمَائِهِ اَنْ يَّاْخُذُ

د حضرت جابر رضي الله عنه څخه روايت دی چي زما پلار وفات سو او پر هغه يو څه پور باندي وو، ما پور غوښتونكی ته وويل چي د پور په بدله كي

وَالتَّمَرَ بِمَا عَلَيْهِ فَاَبَوْا فَأَتَيْتُ النبي صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ فَقُلْتُ قَدْ عَلِمْتَ أَنَّ

زموږ ټولي خرماوي واخله، خو هغه د داسي كولو څخه انكار وكړ، ما د رسول الله ﷺ په خدمت كي عرض وكړ تا ته معلومه ده چي

وَالِدِي قَدْ اسْتُشْهِدَ يَوْمَ أُحُدٍ وَتَرَكَ دَيْنًا كَثِيرًا وَإِنِّي أُحِبُّ أَنْ يَرَاكَ الْغُرَمَاءُ

زما پلار د احد په غزا كي شهيد سوی دی پر هغه ډير پور پاته سوی دی زما دا خوښه ده چي ته هغه پور وروړي ووينې،

فَقَالَ اذْهَبْ فَبَيْدِرْ كُلَّ تَمْرٍ عَلَى نَاحِيَةٍ فَفَعَلْتُ ثُمَّ دَعَوْتُهُ فَلَمَّا نَظَرُوا إِلَيْهِ كَأَنَّهُمْ

رسول الله ﷺ وفرمايل: ولاړ سه د هر ډول خرماوو بيل بيل كوټي جوړي كړه، نو ما همداسي وكړه او رسول الله ﷺ ته مو د تشريف راوړلو لپاره وويل، پور غوښتونكي چي كله رسول الله

أُغْرُوا بِي تِلْكَ السَّاعَةَ فَلَمَّا رَأَى مَا يَصْنَعُونَ طَافَ حَوْلَ أَعْظَمِهَا بَيْدَرًا ثَلَاثَ

ﷺ وليدی نو په سختۍ سره يې د پور غوښتنه وكړه هغه پر ما زړه ور سوی وو، نو رسول الله ﷺ چي د پور غوښتونكي طرز عمل وكتی، نو رسول الله ﷺ ولاړ سو او د خرماوو د لوی كوټي څخه شا وخوا درې واره وګرځيدی،

مَرَّاتٍ ثُمَّ جَلَسَ عَلَيْهِ ثُمَّ قَالَ ادْعُ لِي أَصْحَابَكَ فَمَا زَالَ يَكِيلُ لَهُمْ حَتَّى أَدَّى

بيا پر کوټې کښېنستی او وه يې فرمايل: خپل پوروړي را وغواړه (نو هغوئ راغلل) او د رسول الله ﷺ په حکم سره خرماوي تلل پيل سول تر دې چي

اللَّهُ عَنْ وَالِدِي أَمَانَتَهُ وَأَنَا أَرْضَى أَنْ يُؤَدِّيَ اللَّهُ أَمَانَةَ وَالِدِي وَلَا أَرْجِعَ إِلَى

الله ﷻ زما د پلار ټول پور ادا کړ او زه په دې راضي وم چي الله ﷻ په دغه خرماوو سره زما د پلار ټول پور ادا کړي، که څه هم چي

أَخَوَاتِي بِتَمْرَةٍ فَسَلَّمَ اللَّهُ الْبَيَادِرَ كُلَّهَا وَحَتَّى إِنِّي أَنْظُرُ إِلَى الْبَيْدَرِ الَّذِي كَانَ عَلَيْهِ النَّبِيُّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ كَأَنَّهَا لَمْ تَنْقُصْ تَمْرَةً وَاحِدَةً. رواه البخاري.

زما خويندو ته يوه خرما هم پاته نه سي، (الله ﷻ د رسول الله ﷺ د دعاء د برکته ټول پور ادا کړ او) او د خرماوو کوټه چي څرنګه وه هم هغسي پاته سوه پر کومه کوټه چي رسول الله ﷺ ناست وو، ما هغې ته کتل داسي معلومېدل چي د هغه څخه يوه خرما هم نه ده کمه سوې. بخاري.

تخريج: صحيح البخاري (فتح الباري): ۵\۴۱۳، رقم: ۲۷۸۱.

د لغاتو حل: الغرماء: اي عندي لعلهم يراعوني. فبيدر: اي اجمع كل نوع صبرة على حدة.

تشريح: د حضرت جابر ؓ پلار په خپلو وارثانو کي څو لوڼي هم پرې اېښي وې چي د حضرت جابر ؓ خويندي وې، د حضرت جابر ؓ مطلب دا وو چي په خرماوو کي د ځان لپاره يا د خويندو لپاره زما خواهش نه وو، زه خو په دې خوشحاله وم چي په يوه طريقه زما د پلار ټول پور ختم سي که څه هم زموږ لپاره په هغه خرماوو کي هيڅ پاته نه سي مګر الله ﷻ د رسول الله ﷺ په برکت او د هغه د معجزې په طفيل د هغه خرماوو په ذريعه نه يوازي زما د پلار ټول پور ادا کړ بلکه ټولي خرماوي همداسي پاته سوې.

د غوړو معجزه

﴿۵۶۵۵﴾: وَعَنْهُ قَالَ أَنَّ أُمَّ مَالِكٍ كَانَتْ تُهْدِي لِلنَّبِيِّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ فِي

د حضرت جابر ؓ څخه روايت دی چي بي بي ام مالک به رسول الله ﷺ ته د تحفې په توګه پ

عُكَّةٍ لَهَا سَمْنًا فَيَأْتِيهَا بَنُوهَا فَيَسْأَلُونَ الْأُدْمَ وَلَيْسَ عِنْدَهُمْ شَيْءٌ فَتَعْمِدُ

كپې کي غوړي راليږل نو ددې زامن به راغلل ددې څخه به يې کتغ غوښتى حال دا چې د هغې سره به د کتغ د ډول څخه هيڅ شى نه وو، نو ام مالک به د هغه کپې په لور متوجه سوه

إِلَى الَّذِي كَانَتْ تُهْدِي فِيهِ لِلنَّبِيِّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ فَتَجِدُ فِيهِ سَمْنًا فَمَا

کومه کي به يې چي رسول الله ﷺ ته غوړي ليږل او په هغې کي به يې غوړي تر لاسه کول او همېشه به د ام مالک د كور کتغ دغه غوړي وه بيا چي ام مالک هغه غوړي وتوړل (ټول

زَالَ يُقِيمُ لَهَا أُدْمَ بَيْتِهَا حَتَّى عَصَرَتْهُ فَأَتَتْ النَّبِيَّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ فَقَالَ عَصَرْتِيهَا قَالَتْ نَعَمْ قَالَ لَوْ تَرَكْتِيهَا مَا زَالَ قَائِمًا. رواه مسلم.

راوكښل) نو بركت ځيني ولاړى، ام مالک د رسول الله ﷺ په خدمت کي حاضره سوه او ددې خبري يادونه يې وكړه، رسول الله ﷺ پوښتنه وكړه ايا تا هغه غوړي ټوله راوكښل، هغې وويل هو، نو رسول الله ﷺ ورته وفرمايل كه تا هغه پر حال پرې ايښى واى نو په هغو کي به هميشه لپاره غوړي پاته واى . مسلم.

تخريج: صحيح مسلم ۴\ ۱۷۸۴، رقم: ۸- ۲۲۸۰.

د لغاتو حل: عكة: قربة صغيرة.

په خوراک کي د برکت معجزه

﴿۵۶۵۶﴾: وَعَنْ أَنَسٍ قَالَ قَالَ أَبُو طَلْحَةَ لِأُمِّ سُلَيْمٍ لَقَدْ سَمِعْتُ صَوْتَ رَسُولِ اللَّهِ

د حضرت انس رضي الله عنه څخه روايت دى چي ابو طلحه رضي الله عنه ام سليم ته وويل: نن ما د رسول الله ﷺ

صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ ضَعِيفًا أَعْرِفُ فِيهِ الْجُوعَ فَهَلْ عِنْدَكِ مِنْ شَيْءٍ فَقَالَتْ

آواز کمزوري واوريدى، زما په خيال رسول الله ﷺ وږى دى، ايا ستا سره د خوراک يو شى سته؟ بي بي ام سليم وويل:

نَعَمْ فَأَخْرَجَتْ أَقْرَاصًا مِنْ شَعِيرٍ ثُمَّ أَخْرَجَتْ خِمَارًا لَهَا فَلَفَّتْ الْخُبْزَ بِبَعْضِهِ

هو سته، ددې ويلو سره ام سليم د اوربشو يو څو ډوډۍ راوكښلې بيا يې خپل پوړنى راواخيست په هغه کي يې ډوډۍ ونغښتل

ثُمَّ دَسَّتْهُ تَحْتَ يَدِي وَلَاثَتْنِي بِبَعْضِهِ ثُمَّ أَرْسَلَتْنِي إِلَى رَسُولِ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ

د پوړني بل طرف يې زما پر لاس شا وخوا را وپيچی او زه يې رسول الله ﷺ ته ولېږلم نو يومي

وَسَلَّمَ فَذَهَبْتُ بِهِ فَوَجَدْتُ رَسُولَ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ فِي الْمَسْجِدِ وَمَعَهُ

وړلې هغه وخت رسول الله ﷺ په مسجد کې تشريف فرما وو او يو شو کسان هم ورسره ناست وه،

النَّاسُ فَسلمت عَلَيْهِمْ فَقَالَ لِي رَسُولُ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ آرْسَلَكَ أَبُو

ما سلام وکړ ، رسول الله ﷺ زما څخه پوښتنه وکړه ايا ابوطلحه رالېږلی يې ،

طَلْحَةَ قُلْتُ نَعَمْ قَالَ بِطَعَامٍ قُلْتُ نَعَمْ فَقَالَ رَسُولُ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ

ما عرض وکړ هو ، بيا يې پوښتنه وکړه ډوډۍ يې درکړې ده ، ما عرض وکړ هو ، رسول الله ﷺ

لِمَنْ مَعَهُ قُومُوا فَانْطَلَقَ وَانْطَلَقْتُ بَيْنَ أَيْدِيهِمْ حَتَّى جِئْتُ أَبَا طَلْحَةَ فَأَخْبَرْتُهُ

هغه خلکو ته چې هلته موجود وه وفرمايل : را ولاړ سئ (يعني راځئ چې ورسو) ددې فرمايلو سره ټول خلک د رسول الله ﷺ سره د ابو طلحه کور ته روان سول ، زه ځيني مخکې مخکې روان

فَقَالَ أَبُو طَلْحَةَ يَا أُمَّ سُلَيْمٍ قَدْ جَاءَ رَسُولُ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ بِالنَّاسِ

وم، ابو طلحه ته چې ورسيدم نو د رسول الله ﷺ د راتلو څخه مې خبر کړ، ابو طلحه ام سليم ته وويل : رسول الله ﷺ تشريف راوړي، او صحابه کرام هم ورسره دي

وَلَيْسَ عِنْدَنَا مَا نُطْعِمُهُمْ فَقَالَتْ اللّٰهُ وَرَسُولُهُ أَعْلَمُ فَانْطَلَقَ أَبُو طَلْحَةَ حَتَّى لَقِيَ

او زموږ سره دومره د خوراک سامان نسته چې په ټولو يې وخورو ، بي بي ام سليم وويل : الله او د هغه رسول ښه پوهيږي، ابو طلحه د ښه راغلاست ويلو لپاره د کور څخه د باندې ووتی

رَسُولَ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ فَأَقْبَلَ رَسُولُ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ وَأَبُو

او د رسول الله ﷺ سره يې ملاقات وکړ ، بيا رسول الله ﷺ د ابو طلحه سره تشريف راوړ او وه يې

طَلْحَةَ مَعَهُ فَقَالَ رَسُولُ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ هَلُمِّي يَا أُمَّ سُلَيْمٍ مَا عِنْدَكِ

فرمايل : اې ام سليم ! څه خوراک چې دې درسره وي هغه راوړه، ام سليم هغه ډوډۍ راوړه او

فَأَتَتْ بِذَلِكَ الْخُبْزِ فَأَمَرَ بِهِ رَسُولُ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ فَفُتَّ وَعَصَرَتْ أُمُّ

رسول الله ﷺ ابو طلحه ته حكم وكړ چي هغه ډوډۍ ټوټې ټوټې كړي نو هغه ټوټې ټوټې كړل سول او ام سليم د كپۍ څخه غوړي راوكښل

سُلَيْمٍ عُكَّةً فَأَدَمَتْهُ ثُمَّ قَالَ رَسُولُ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ فِيهِ مَا شَاءَ اللَّهُ أَنْ

چي كتغ سو ، بيا رسول الله ﷺ وفرمايل : (يعني دعاء يې وكړل) ددې څخه وروسته رسول الله

يَقُولَ ثُمَّ قَالَ ائْذَنْ لِعَشَرَةٍ فَأَذِنَ لَهُمْ فَأَكَلُوا حَتَّى شَبِعُوا ثُمَّ خَرَجُوا ثُمَّ قَالَ

ﷺ حكم وكړ چي لس لس كسان را غواړئ ، نو لسو كسانو ته د خوراك اجازه وركړل سوه ، هغوئ په ماړه نس ډوډۍ وخوړل بيا هغوئ ولاړل بيا يې وفرمايل

ائْذَنْ لِعَشَرَةٍ ثم لعشرة فأكلوا القوم كلهم حَتَّى شَبِعُوا وَالْقَوْمُ سَبْعُونَ أَوْ

اجازه وركړه نورو لسو كسانو ته ، نور لس كسان راغلل ددې څخه وروسته بيا لس كسان وغوښتل سول تر دې چي همداسي ټولو خلكو ښه په ماړه نس ډوډۍ وخوړل ، دا ټول اويا يا

ثَمَانُونَ رَجُلًا . متفق عليه وفي رواية لمسلم انه قال ائْذَنْ لِعَشَرَةٍ فَدَخَلُوا

اتيا كسان وه ، بخاري او مسلم ، او د مسلم په يوه روايت كي دا الفاظ دي چي رسول الله ﷺ ابو طلحه رضي الله عنه ته وفرمايل : لس كسان راوغواړه ، هغوئ راغلل

فَقَالَ كُلُوا وَسَمُّوا اللَّهَ فَأَكَلُوا حَتَّى فَعَلَ ذَلِكَ ثَمَانِينَ رَجُلًا ثُمَّ أَكَلَ النَّبِيُّ صَلَّى اللَّهُ

نو رسول الله ﷺ وفرمايل : خورئ او د الله جل جلاله نوم اخيستو سره خورئ ، هغوئ وخوړل ، همداسي اتيا كسانو سره وسول بيا نبي كريم ﷺ

عَلَيْهِ وَسَلَّمَ وَأَهْلُ الْبَيْتِ وَتَرَكَ سُؤْرًا . وفي رواية للبخاري قال أَدْخِلْ عَلَيَّ

او د كور خلكو ډوډۍ وخوړل او خورك لا پاته هم سو ، او د بخاري په يوه روايت كي داسي راغلي دي چي رسول الله ﷺ وفرمايل : لس كسان ما ته راولئ

عَشَرَةً حَتَّى عَدَّ أَرْبَعِينَ ثُمَّ أَكَلَ النَّبِيُّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ فَجَعَلْتُ أَنْظُرُ هَلْ

همداسي څلو پښت کسان يې وشميرل ، د هغه څخه وروسته نبي کريم ﷺ وخوړل او ما کتل چي

نَقَصَ مِنْهَا شَيْءٌ، وفي رواية لمسلم ثُمَّ أَخَذَ مَا بَقِيَ فَجَمَعَهُ ثُمَّ دَعَا فِيهِ بِالْبَرَكَةِ قَالَ فَعَادَ كَمَا كَانَ فَقَالَ دُونَكُمْ هذا .

په خوراک کي هيڅ کمي نه ده سوې ، او د مسلم په يوه روايت کي دي چي بيا رسول الله ﷺ پاته خوراک يو ځای کړ او دعاء يې وکړه نو هغه خوراک هم هغسي سو لکه څرنګه چي مخکي وو ، بيا رسول الله ﷺ وفرمايل دديې څخه يې خورئ .

تخريج: صحيح البخاري (فتح الباري): ٦\٥٨٦، رقم: ٣٥٧٨، ومسلم ٣\١٦١٢، رقم: ١٤٢- ٢٠٤٠.

تشريح: په رسول الله ﷺ او صحابه کرامو ﷺ باندي د ډوډۍ خوړلو او په لږ خوراک کي د برکت دغه پېښه داسي وه لکه څرنګه چي د حضرت جابر ﷺ سره پېښه سوې وه او د حضرت جابر ﷺ د پېښي په ډول دغه پېښه هم د خندق د غزا ده، نو د حضرت انس ﷺ دغه الفاظ چي رسول الله ﷺ هغه وخت په مسجد کي وو ، دلته د مسجد څخه مراد خندق ته نژدې هغه ځای دی چي رسول الله ﷺ د دښمنانو له خوا د مدينې د محاصرې او خندق کښلو په وخت کي دلمانځه کولو لپاره ټاکلی وو ، د رسول الله ﷺ پر دغه سوال چي ايا ته ابو طلحه ﷺ را استولی يې؟ او د حضرت انس ﷺ هو ويل ددې خلاف نه وو چي د هغه په وينا ام سليم ﷺ، حضرت انس ﷺ ته د ډوډۍ په ورکولو سره د رسول الله ﷺ په خدمت کي لېږلی وو.

ايا د خوراک په ورکولو سره يې را استولی يې؟ د رسول الله ﷺ ددغه خبري د لومړنۍ خبري (ايا ته ابو طلحه را استولی يې) څخه بېل پوښتنه کول يا خو د پوهولو لپاره وو يا د وحي او علم د تاخير په وجه وو ، يعني مخکي خو رسول الله ﷺ ته د وحي په ذريعه يوازي ددې خبري علم سوی وو چي انس ﷺ د ابو طلحه ﷺ په وينا را استول سوی دی نو رسول الله ﷺ دا سوال وکړ چي ايا ته ابو طلحه ﷺ را استولی يې؟ بيا وروسته کله چي دوهم وار د وحي په ذريعه رسول الله ﷺ ته دا علم وسو چي د انس ﷺ سره خوراک هم دی نو رسول الله ﷺ بيا دا پوښتنه وکړل چي ايا د خوراک سره يې را استولی يې ؟

ولاړ سئ (د ابو طلحه کور ته ځو) ، په دې اړه شارحينو ليکلي دي چي رسول الله ﷺ ته د وحي په ذريعه دا معلومه سوې وه چي د انس ﷺ سره څو ډوډۍ دي نو رسول الله ﷺ دا خوښه نه کړل چي په دومره لويه ډله کي خپله يوازي يا د دوو درو کسانو سره د خوراک لپاره کښېني او

پاته خلک وږي پاته سي، په دې سره د رسول الله ﷺ اراده د دغه معجزې د اظهار هم وسوه چې د هغه په نتیجه کې په یو څو ډوډیو سره ټول په ماړه نس ماړه سول او د دې تر څنګ د وهمه معجزه (د ابو طلحه په کور کې کښینئ) کې د خیر او برکت په صورت کې هم ظاهرېږي چې هغه او د هغه کورنۍ د رسول الله ﷺ په اړه د کوم اخلاص، میني او خدمت د جذبې او عمل اظهار وکړ د هغه میوه هغوئ ته د برکت تر لاسه کېدو په صورت کې حاصل سو،، نو رسول الله ﷺ د صحابه کرامو سره د ابو طلحه رضی الله عنه کور ته ولاړل.

الله جل جلاله او د هغه رسول ﷺ ښه پوهیږي، د دغه جواب په ذریعه ام سلیم رضی الله عنها ابو طلحه رضی الله عنه ته اطمینان ورکړ که رسول الله ﷺ د دومره صحابه کرامو سره راسي نو په دې وجه موږ باید په بېره کې نه سو چې موږ به دومره لږ خوراک په دومره زیاتو کسانو څرنګه بس کوو، ځکه په دې کې خامخا یو حکمت وی چې الله جل جلاله او د هغه رسول ﷺ ښه په پوهیږي، او د خپلو صحابه کرامو سره د رسول الله ﷺ راتګ به یقینا زموږ لپاره د خیر او برکت سبب وي، یعني ام سلیم رضی الله عنها سمدستي محسوسه کړل چې د رسول الله ﷺ د یوې معجزې د اظهار لپاره دی، د دې څخه د ام سلیم رضی الله عنها دینداري، پوهي او د یقین اظهار کیږي چې هغې ته د صحابه کرامو په راتګ هیڅ پریشانه پېښه نه سول بلکه سمدستي یې په دماغ کې دا خبره راغلل چې رسول الله ﷺ ته د خوراک اندازه ښه معلومه ده ، که چیري په دې کې یو حکمت نه وای نو د ټولو راوستلو ضرورت به یې ولي محسوس کولای، نو د رسول الله ﷺ هیڅ فعل د حمت څخه خالي نه دی ځکه د صحابه کرامو سره د رسول الله ﷺ په راتګ کې یقینا یو حکمت دی، دا هم د رسول الله ﷺ اعجاز وو چې د هغه زمانې یوې ښځې زموږ د زمانې د ډېرو نارینوو څخه زیات یقین او ایمان درلود، رضي الله عنها وعن اهل عصرها وجعلنا في زمرتهم یا رب العالمین.

هغه یې وفرمایل چې الله جل جلاله غوښتل، د دې مطلب دادی چې رسول الله ﷺ د خیر او برکت دعاء وکړل، یا د اسماء الهي په ویلو سره یې پر هغه خوراک دم کړ، او په یوه روایت کې دادي چې رسول الله ﷺ دغه الفاظ وفرمایل: (بسم الله اللهم اعظم فیها البرکة).

بیا رسول الله ﷺ حکم وکړ چې لس کسان راوغواړئ، رسول الله ﷺ ټولو خلکو ته د خوراک ورکولو پر ځای د لسو لسو کسانو په رابللو سره د خوراک ورکولو حکم وکړ ځکه په کوم لوښي کې چې خوراک وو هغه دومره لوی وو چې د هغه چاپیره لس کسان په اطمینان سره کښېنستلای سول، او ځینو حضراتو لیکلي دي چې په خونه کې د ځای د کموالي په وجه یې د لسو لسو کسانو رابللو حکم وکړ.

او دغه ټول او یا یا اتیا کسان وه، ددې په وضاحت کې ابن حجر رحمة الله علیه لیکلي دي چي دلته شمېر د شک سره ذکر سوی دی، مګر په بل روایت کي په تعین سره د اتیا شمېر ذکر دی، او په دغه روایت کي د اتیا څخه د زیات ذکر دی، مګر په دواړو روایتو کي اختلاف نسته ځکه چي د اتیا کسانو په روایت کي احتمال دی چي راوي د شمېر ذکر کولو په وخت کي کسر حذف کړی وي مګر په یو بل روایت کي چي امام احمد رحمة الله علیه نقل کړی دی دا بیان سوي دي چي د هغه خوراک څخه ځلوېښتو کسانو خوراک وکړ او بیا هم هغه خوراک هم هغسي پاته وو، یا دلته د امام بخاري رحمة الله علیه دوهم روایت چي نقل سوی دی او په هغه کي د ځلوېښتو کسانو د خوراک او د هغوئ څخه وروسته د رسول الله ﷺ د خوراک یادونه ده، نو په دې سره په روایتونو کي د پېښي زیاتوالی معلومېږي یعني په دغه روایتو کي د یوې واقعې ذکر نه دی بلکه د بېلو بېلو دوو پېښو یادونه ده، که په یوه پېښه کي اتیا کسانو خوراک کړي وي نو په بله پېښه کي به ځلوېښتو کسانو خوراک کړي وي مګر یو شارح ویلي دي چي دغه پېښه څو واره نه ده رامنځته سوې بلکه یوه وه چي د هغه یادونه په دغه روایتو کي ده او په دغه روایتو کي تطبیق دادی چي هغه اتیا کسانو په دوه واره خوراک کړي وي، لومړی یې د لسو لسو په کولو سره ځلوېښت کسان فارغ سوي وي او دهغه څخه وروسته ځلوېښتو کسانو خوراک کړی وي چي د راتلو مخکي ځلوېښت کسانو څخه وروسته پاته سوي وه، یا دا چي رسول الله ﷺ هغوئ وروسته رابللي وي، ددغه تطبیق په رڼا کي د بخاري ددوهم روایت دغه الفاظ چي ځلوېښتو کسانو خوراک وکړ او دهغوئ څخه وروسته رسول الله ﷺ خوراک وکړ، ددې وضاحت وسو چي کله ځلوېښت کسان د خوراک څخه فارغ سول نو د ځلوېښتو کسانو د دوهمي ډلي د راتلو څخه وروسته رسول الله ﷺ خوراک وکړ، همدارنګه د رسول الله ﷺ برکت لومړۍ ډلي ته هم حاصل سو او دوهمي ډلي ته هم.

د ګوتو څخه د اوبو وتلو معجزه

﴿۵۶۵۷﴾: وَعَنْهُ قَالَ أُتِيَ النَّبِيُّ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ بِإِنَاءٍ وَهُوَ بِالزَّوْرَاءِ فَوَضَعَ

د حضرت انس رضی الله عنه څخه روایت دی چي رسول الله ﷺ په زوراء نامي ځای د مدینې د بازار سره

يَدَهُ فِي الْإِنَاءِ فَجَعَلَ الْمَاءُ يَنْبُعُ مِنْ بَيْنِ أَصَابِعِهِ فَتَوَضَّأَ الْقَوْمُ قَالَ قَتَادَةُ

كي خپل مبارک لاس کښېښود او اوبه د رسول الله ﷺ د مبارکو ګوتو څخه رواني سوې او خلکو په هغه سره اودس وکړ و

قُلْتُ لِأَنَسٍ كَمْ كُنْتُمْ قَالَ ثَلَاثَ مِائَةٍ أَوْ زُهَاءَ ثَلَاثِ مِائَةٍ. متفق عليه

قتاده د انس څخه پوښتنه وکړه چي هغه وخت تاسو څومره کسان واست، هغه ورته وويل درې سوه يا دې ته نژدې، بخاري او مسلم

تخريج: صحيح البخاري (فتح الباري): ٦١\٥٨٠، رقم: ٣٥٧٢ ومسلم ١٤\١٧٨٣، رقم: ٦-٢٢٧٩.

د لغاتو حل: الزوراء: وهي البئر البعيدة القعر (ژور څاه).

تشريح: د ګوتو مبارکو په منځ کي د اوبو بهېدل پيل سول، د دې په وضاحت کي دوه قوله دي، يو خو دا چي د خپلو ګوتو مبارکو څخه يې اوبه بهېدل پيل سوي وه، دا قول د مزني رحمة الله عليه دي او د اکثرو علماؤ رجحان دې ته دی او ددې تائيد ددغه روايت څخه کيږي چي د هغه الفاظ دادي: فرايت الماء من اصابعه، يعني ما د رسول الله ﷺ د ګوتو مبارکو څخه اوبه بهېدل ولېدل او په دې کي څه شک نسته چي داصل معجزې لوی والي هم ددې خبري څخه ثابتيږي او د رسول الله ﷺ ددغه معجزې د حضرت موسی عليه السلام د هغه معجزې څخه افضل کېدل هم ظاهريږي چي د هغه د لکړي په وهلو سره د اوبو چينې رواني سوې، دوهم قول دادی چي د هغه په لوښي کي چي مخکي کومي اوبه موجود وې هغه د لاس مبارک په برکت سره الله جل جلاله دومره زياتي کړې چي د رسول الله ﷺ د ګوتو مبارکو څخه د فوارې په ډول اوبه رواني سوې.

د خوراک څخه د تسبيح د اواز راتلو معجزه

﴿٥٦٥٨﴾: وَعَنْ عَبْدِ اللَّهِ بْنِ مَسْعُودٍ قَالَ كُنَّا نَعُدُّ الْآيَاتِ بَرَكَةً وَأَنْتُمْ

د حضرت عبد الله بن مسعود رضي الله عنه څخه روايت دی چي موږ خلکو به د قرآن کريم آياتونه يا نبوي

تَعُدُّونَهَا تَخْوِيفًا كُنَّا مَعَ رَسُولِ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ فِي سَفَرٍ فَقَلَّ الْمَاءُ

معجزې د برکت سبب ګڼل، او تاسو يې د کافرانو د بيرولو سبب ګڼئ، يو وار موږ په يو سفر کي د رسول الله ﷺ سره وو چي اوبه کمي سوې،

فَقَالَ اطْلُبُوا فَضْلَةً مِنْ مَاءٍ فَجَاءُوا بِإِنَاءٍ فِيهِ مَاءٌ قَلِيلٌ فَأَدْخَلَ يَدَهُ فِي

رسول الله ﷺ موږ ته حکم راکړ چي يو لږ پاته سوي اوبه راوړئ، صحابه کرامو په لوښي کي لږ

پاته سوي او به راوړي، رسول الله ﷺ په هغه لوښي کي خپل مبارک لاس کښېښود،

الْإِنَاءِ ثُمَّ قَالَ حَيَّ عَلَى الطَّهُورِ الْمُبَارَكِ وَالْبَرَكَةُ مِنَ اللهِ فَلَقَدْ رَأَيْتُ الْمَاءَ

اووه يې فرمايل راځئ پاکونکو د برکت ناکو اوبو په لور متوجه سئ، او برکت د خدای د طرف څخه دی، ما وليدل چي اوبه

يَنْبُعُ مِنْ بَيْنِ أَصَابِعِ رَسُولِ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ وَلَقَدْ كُنَّا نَسْمَعُ تَسْبِيحَ الطَّعَامِ وَهُوَ يُؤْكَلُ. رواه البخاري.

د رسول الله ﷺ د ګوتو مبارکو څخه رواني وې او موږ د هغه خوراک تسبيح هم اوريدل کوم چي خوړل کيدل. بخاري.

تخريج: صحيح البخاري (فتح الباري): ۶\۵۸۷، رقم: ۳۵۷۹.

تشريح: د آيات څخه مراد يا خو د قرآن کريم آياتونه دي چي د آسمان څخه نازل سوي وه يا هغه معجزې مراد دي چي الله جل جلاله يې د رسول الله ﷺ په ذريعه څرګندوي، زيات صحيح او د حديث د سياق څخه زيات مناسب دادي چي د آيات څخه مراد معجزات واخيستل سي، د حضرت عبدالله ابن مسعود رضي الله عنه د ارشاد مطلب دا وو چي آيات که څه هم د کافرانو او منکرانو د ېرولو لپاره وي مګر د اهل ايمانو په حق کي چي د دغه آيات محب او معتقد وي د زيرى او برکت او د ايمان د زياتوب موجب دى، دغه وضاحت شيخ عبدالحق د طيبي په حواله سره نقل کړى دى او ملا علي قاري رحمه الله ليکلي دي چي د آيات څخه مراد يوازي معجزې او کرامات دي، نوموړي څرګنده کړې ده چي دلته د آيات څخه مراد د قرآن کريم آياتونه اخيستل غير مناسب دي.

ددغه حديث د الفاظو څخه په صريحه معلوميږي چي د رسول الله ﷺ د ګوتو مبارکو څخه اوبه بهېدلې لکه څرنګه چي د جمهورو علماؤ قول دى او په دې نسبت سره د رسول الله ﷺ دغه معجزې ته د ډبري څخه د اوبو تلو، د حضرت موسى عليه السلام پر معجزه ترجيح ورکول کيږي، نو دغه قول ناقابل اعتناد ګرځي، چي اوبه د ګوتو مبارکو څخه نه دي وتلي بلکه د ګوتي لږ اوبه چي په لوښي کي موجود وي هغه زياتي سوې او دومره زياتي سوې چي د رسول الله ﷺ د ګوتو مبارکو د منځ څخه د فوارې په ډول بهېدلې، دغه قول په اصل کي د حديث د الفاظو تاويل دى او معلومه نه ده چي د حديث ددغه واضح مفهوم سربېره ددې تاويل ضرورت ولي پېښ سو،

مګر دا سوال پيدا کيږي چي د اوبو ددغه معجزې اظهار خو د خالي لوښي په ذريعه هم کيدای سو بيا د لږ اوبو په پلټنه کي څه ضرورت وو، په دې کي يقيناً يو حکمت او مصلحت وو، مګر هغه حکمت څه وو؟ محدثينو او شارحينو د ډېر غور او فکر څخه وروسته ددې مقصد ته رسېدلي نه دي نو ددې علم الله ﷻ ته سپارل او پټه خوله کېدل غوره دي.

د اوبو معجزه

﴿۵۶۵۹﴾: وَعَنْ أَبِي قَتَادَةَ قَالَ خَطَبَنَا رَسُولُ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ فَقَالَ إِنَّكُمْ

د حضرت ابو قتاده رضي الله عنه څخه روايت دی چي رسول الله ﷺ زموږ په وړاندي خطبه وفرمايل، په هغه کي يې بيان وکړ چي تاسو به

تَسِيرُونَ عَشِيَّتَكُمْ وَلَيْلَتَكُمْ وَتَأْتُونَ الْمَاءَ إِنْ شَاءَ اللَّهُ غَدًا فَانْطَلَقَ النَّاسُ لَا

ددغه شپې په اوله برخه کي او آخره برخه کي سفر کوئ او سبا ته به انشاء الله يو اوبو ته ورسيږئ، نو خلک بې اختياره روان سول داسي چي

يَلْوِي أَحَدٌ عَلَى أَحَدٍ قَالَ أَبُو قَتَادَةَ فَبَيْنَمَا رَسُولُ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ يَسِيرُ

د يو بل يې څه پروا نه وه، د ابو قتاده رضي الله عنه بيان دی چي د هغه شپې په اوله برخه کي رسول الله ﷺ

حَتَّى ابْهَارَّ اللَّيْلُ فَمَالَ عَنِ الطَّرِيقِ فَوَضَعَ رَأْسَهُ ثُمَّ قَالَ احْفَظُوا عَلَيْنَا صَلَاتَنَا

روان وو چي نيمه شپه تيره سوه او رسول الله ﷺ د لاري څخه آخوا سو يو ځای يې سر مبارک کښېښودی، بيا يې وفرمايل: زموږ د لمانځه حفاظت کوئ (يعني د سهار د لمانځه پر وخت

فَكَانَ أَوَّلَ مَنِ اسْتَيْقَظَ رَسُولُ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ وَالشَّمْسُ فِي ظَهْرِهِ ثُمَّ

مي راويښ کړئ) تر ټولو وړاندي د رسول الله ﷺ سترګي ولغړېدلې چي لمر د رسول الله ﷺ شا مبارکي ته را رسيدلی وو،

قَالَ ارْكَبُوا فَرَكِبْنَا فَسِرْنَا حَتَّى إِذَا ارْتَفَعَتِ الشَّمْسُ نَزَلَ ثُمَّ دَعَا بِمِيضَأَةٍ كَانَتْ

رسول الله ﷺ وفرمايل: سپاره سئ نو موږ ټول سپاره سو او سفر مو تر هغه وخته پوري جاري وساتئ تر څو پوري چي لمر پورته سو، بيا رسول الله ﷺ د سپرلۍ څخه راکښته سو او د اوداسه کولو لوښی يې وغوښتی چي

مَعِي فِيهَا شَيْءٌ مَنْ مَاءٍ فَتَوَضَّأَ مِنْهَا وُضُوءًا دُونَ وُضُوءٍ قَالَ وَبَقِيَ فِيهَا شَيْءٌ

زما سره وو او په هغه کي لږ اوبه وې، رسول الله ﷺ په هغه سره اودس وکړ، مختصر اودس، د ابو قتاده رضي الله عنه بيان دی د اوداسه ځخه وروسته لږ اوبه په هغه لوښي کي پاته سوې،

مِنْ مَاءٍ ثُمَّ قَالَ احْفَظْ عَلَيْنَا مِيضَأَتَكَ فَسَيَكُونُ لَهَا نَبَأٌ ثُمَّ أَذَّنَ بِلَالٌ بِالصَّلَاةِ

رسول الله ﷺ وفرمايل: د خپل اوداسه لوښي زموږ لپاره خوندي وساتئ يا دي او به خوندي وساتل سي، ځکه چي ډېر ژر به ددې ځخه يو نور ظهور وکړي، ددې ځخه وروسته بلال رضي الله عنه د لمانځه لپاره اذان وکړ

فَصَلَّى رَسُولُ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ رَكْعَتَيْنِ ثُمَّ صَلَّى الْغَدَاةَ وَرَكِبَ وَرَكِبْنَا

او رسول الله ﷺ دوه رکعته لمونځ وکړ بيا يې د سهار فرض لمونځ دوه رکعته ادا کړ، ددې ځخه وروسته رسول الله ﷺ هم سپور سو او موږ هم،

مَعَهُ فَانْتَهَيْنَا إِلَى النَّاسِ حِينَ امْتَدَّ النَّهَارُ وَحَمِيَ كُلُّ شَيْءٍ وَهُمْ يَقُولُونَ يَا

او کله چي لمر بنه تود سو او په هر شي کي ګرمي پيدا سوه نو هغه وخت موږ هغه خلکو ته ورسيدو (کوم چي زموږ ځخه مخکي روان سوي وه) د رسول الله ﷺ په ليدو سره هغه خلکو

رَسُولَ اللَّهِ هَلَكْنَا عَطِشْنَا فَقَالَ لَا هُلْكَ عَلَيْكُمْ ثُمَّ دَعَا بِالْمِيضَأَةِ فَجَعَلَ يَصُبُّ

عرض وکړ اې دالله رسوله ! موږ خو د ګرمۍ او تندي ځخه هلاک سوو، رسول الله ﷺ ورته وفرمايل: پر تاسو هلاکت نسته، ددې ځخه وروسته رسول الله ﷺ د اوداسه لوښی را وغوښتی

وَأَبُو قَتَادَةَ يَسْقِيهِمْ فَلَمْ يَعْدُ أَنْ رَأَى النَّاسُ مَاءً فِي الْمِيضَأَةِ تَكَابُّوا عَلَيْهَا فَقَالَ

، رسول الله ﷺ به د لوښي ځخه اوبه اچولې او ابو قتاده به په خلکو اوبه ځيښلې، خلکو چي په لوښي کي اوبه وليدلې نو يو دم را ولويدل ګڼه ګوڼه پر جوړه سوه، رسول الله ﷺ وفرمايل:

رَسُولُ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ أَحْسِنُوا الْمَلَأَ كُلُّكُمْ سَيَرْوَى قَالَ فَفَعَلُوا فَجَعَلَ

د مخلوق سره نيکي او ښېګڼه کوئ (يعني يو بل ته تکليف مه ورکوئ) تاسو ټول به په دغه اوبو اوبه سئ، د ابو قتاده رضي الله عنه بيان دی خلکو همداسي وکړل،

رَسُولُ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ يَصُبُّ وَأَسْقِيهِمْ حَتّٰى مَا بَقِيَ غَيْرِي وَغَيْرُ رَسُولِ

بيا رسول الله ﷺ اوبه را اچولې او ما به په خلکو څښنلې تر دې چې زما او رسول الله ﷺ څخه پرته هيڅوک پاته نه سو ،

اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ ثُمَّ صَبَّ فَقَالَ لِي اشْرَبْ فَقُلْتُ لَا أَشْرَبُ حَتّٰى تَشْرَبَ

رسول الله ﷺ بيا اوبه را واچولې او ما ته يې وويل وه يې څښنه، ما عرض وکړ اې د الله رسوله ! تر څو پوري چې تاسو اوبه ونه څښنئ زه يې نه څښنم،

يَا رَسُولَ اللّٰهِ فَقَالَ إِنَّ سَاقِيَ الْقَوْمِ آخِرُهُمْ شُرْبًا قَالَ فَشَرِبْتُ وَشَرِبَ قَالَ فَأَتَى

رسول الله ﷺ راته وفرمايل د ډلي اوبه کونکي د ډلي څخه وروسته څښني، ابو قتاده ﷛ وايي ما هم اوبه وڅښنلې او رسول الله ﷺ هم، د ابو قتاده بيان دى ددې څخه وروسته

النَّاسُ الْمَاءَ جَامِّينَ رِوَاءً. رواه مسلم هكذا في صحيحه وكذا في كتاب الحميدي وجامع الاصول و زاد في المصابيح بعد قوله اخرهم لفظة شربا.

خلک اوبو ته ورسيدل په داسي حال کي چي هغوئ په اوبو ماړه او په آرام سره وه، مسلم او دا ډول د حميدي په کتاب او په جامع الاصول کي هم دي خو په مصابيح کي (آخرهم) لفظ او د شربا لفظ زيات راوړل سوى دى.

تخريج: صحيح مسلم ۱\ ۴۷۲، رقم: ۳۱۱ - ۶۸۱.

د لغاتو حل: ابهار: اي انتصف و توسط. بميضاة: مطهرة كبيرة يتوضا منها. جامين: مستريحين.

تشريح: رسول الله ﷺ د ويښېدو سمدستي وروسته قضاء لمونځ ونه کړ بلکه د هغه په ځنډولو سره د هغه ځای څخه روان سول ، نو ددې وجه داوه چي رسول الله ﷺ يو داسي ځای ته په رسېدو سره لمونځ کول غوښتل چي هلته اوبه وي، يا دا وجه وه چي کله رسول الله ﷺ راويښ سو نو هغه د لمانځه د کراهت وخت وو ځکه رسول الله ﷺ د هغه د کراهت د وخت د ايستلو لپاره لمونځ وځنډوى او د هغه ځای څخه روان سو لکه چي د لومړني روايت الفاظ (فركبنا فسرنا حتى اذا ارتفعت الشمس) دلالت کوي، ددې څخه دا هم معلومه سوه چي د هغه ځای څخه سمدستي تلل پکار دي چيري چي د الله ﷻ د حکم په تعميل کي ځنډ پيدا سوى وي، يا د يو

منع خبري کار سوی وی، که څه هم د هغه کېدل په قصد سره نه وي، او رسول الله ﷺ د سهار قضاء لمونځ ادا کولو څخه مخکي چي کوم رکعتونه وکړل هغه سنت وه،

او مسئله داده که د خوب څخه د راوېښېدو یا په یو بل سبب د سهار لمونځ ادا نه کړي او بیا د هغه قضاء د لمر د زوال څخه مخکي ادا کړل سي د هغه سره د سنت دوه رکعته هم کول پکار دي، مګر که فرض لمونځ فوت سوی نه وي بلکه یوازي سنت فوت سوي وي نو د هغه قضاء نسته مګر د امام محمد رحمه الله علیه قول دی چي د لمر راختلو څخه وروسته د لمر تر زوال مخکي د قضاء سوي سنتو قضاء راوړل پکار دي، یعني د هیڅ امام په مذهب کي د لمر د زوال څخه وروسته د هغه قضاء نسته.

د سهار قضاء لمونځ یې په جماعت ادا کړ، ددې څخه دا نتیجه اخیستل کېږي چي د صحابه کرامو سره هم خپل لوښي وه چي په هغو کي یې دومره اوبه درلودلې چي هغه وخت په اودس کولو سره په لمانځه کي ګډون وکړي، او دا هم کېدای سي چي د صحابه کرامو سره دومره اوبه هم نه وي چي د رسول الله ﷺ په ډول مختصر اودس یې کړی وای نو هغوئ په تیمم وهلو سره په لمانځه کي ګډون وکړ، په هر حال په دې اړه د حدیث الفاظ بالکل ساکت دي چي د رسول الله ﷺ څخه ماسوا پاته خلکو اودس وکړ که یې تیمم وهلی وو،

پر تاسو هلاکت نسته، ددغه ارشاد په ذریعه رسول الله ﷺ خلکو ته ډاډ او زیری ورکړ چي مه بېرېږئ، ستاسو لپاره هیڅ هلاکت نسته، الله جل جلاله به ستاسو لپاره د غیبو څخه اوبه راواستوي، په دې اعتبار دغه جمله خبریه سوه یا دا چي دغه ارشاد په اصل کي دعائیه جمله وه یعني رسول الله ﷺ دا وفرمایل چي الله جل جلاله دي تاسو نه هلاکوي او د غیبو څخه دي ستاسو د اوبه کولو بندوبست وکړي.

په تبوک کي د خوراک د برکت معجزه

﴿۵۶۶۰﴾: وَعَنْ اَبِيْ هُرَيْرَةَ قَالَ كَمَا كَانَ يَوْمَ غزوة تَبُوكَ أَصَابَ النَّاسَ مَجَاعَةٌ

د حضرت ابو هریره رضي الله عنه څخه روایت دی چي د تبوک د غزا په ورځ خلک د لوږي څخه ډېر تنګ سول

فقال عمر يَا رَسُولَ اللّٰهِ ادْعُهُمْ بِفَضْلِ أَزْوَادِهِمْ ثُمَّ ادْعُ اللّٰهَ لَهُمْ عَلَيْهَا

حضرت عمر رضي الله عنه عرض وکړ اې د الله رسوله! د خلکو څخه پاته سوې توښه راوغواړم، چي خدای پاک ته پر هغه توښه باندي د برکت دعاء وکړې،

بِالْبَرَكَةِ فَقَالَ نَعَمْ فَدَعَا بِنِطَعٍ فَبَسَطَهُ ثُمَّ دَعَا بِفَضْلِ أَزْوَادِهِمْ فَجَعَلَ الرَّجُلُ

رسول الله ﷺ وفرمايل هو، ددې څخه وروسته رسول الله ﷺ د پوست دسترخوان راوغوښتی وه يې غوړوی او بيا پاته سوی خوراک يې را وغوښتی، نو خلکو شيان راوړل،

يَجِيءُ بِكَفِّ ذُرَةٍ وَيَجِيءُ الْآخَرُ بِكَفِّ تَمْرٍ قَالَ وَيَجِيءُ الْآخَرُ بِكَسْرَةٍ حَتَّى

چا يو موټ لوبيا راوړل، چا يو موټ خرما راوړل چا د ډوډۍ ټوټه راوړل تر دې چي پر

اجْتَمَعَ عَلَى النِّطَعِ شَيْءٌ يَسِيرٌ فَدَعَا رَسُولُ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ بِالْبَرَكَةِ ثُمَّ

دسترخوان لږ شيان جمع سول، رسول الله ﷺ د برکت دعاء وکړل بيا يې وفرمايل: څومره چي مو

قَالَ خُذُوا فِي أَوْعِيَتِكُمْ فَأَخَذُوا فِي أَوْعِيَتِهِمْ حَتَّى مَا تَرَكُوا فِي الْعَسْكَرِ وِعَاءً إِلَّا

زړه غواړي ددې څخه خپل لوښي ډک کړئ، خلکو لوښي ډک کړل تر دې چي په لښکر کي کوم يو لوښي موجود وو هغه ډک کړل سو،

مَلَئُوهُ قَالَ فَأَكَلُوا حَتَّى شَبِعُوا وَفَضَلَتْ فَضْلَةٌ فَقَالَ رَسُولُ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ

ابو هريره وايي خلکو په ماړه نس خوراک وکړاو پاته هم سول ددې څخه وروسته رسول الله ﷺ

وَسَلَّمَ أَشْهَدُ أَنْ لَا إِلَهَ إِلَّا اللَّهُ وَأَنِّي رَسُولُ اللَّهِ لَا يَلْقَى اللَّهَ بِهِمَا عَبْدٌ غَيْرَ شَاكٍّ فَيُحْجَبَ عَنِ الْجَنَّةِ. رواه مسلم.

وفرمايل: زه شاهدي ورکوم چي د الله جل جلاله څخه پرته بل څوک د عبادت وړ نسته او دا چي زه د الله جل جلاله رسول يم، څوک چي ددغه دوو خبرو سره يو ځای سي او په دې کي شک نه کوي هغه به جنت نه سي منع کولای. مسلم.

تخريج: صحيح مسلم ۱\۵۶، رقم: ۴۵ - ۲۷.

د لغاتو حل: نطع: كعنب بسلط من الاديم.

تشريح: تبوک د يو ځای نوم دی چي ذ مدينې منورې څخه تقريبا پر ۴۶۵ ميله فاصله باندي واقع دی، د رجب په مياشت د هجرت په ۹ کال رسول الله ﷺ د غزا لپاره هلته اسلامي لښکر بېولی وو، ويل کيږي چي په هغه لښکر کي يو لک مجاهدين وه او د رسول الله ﷺ دغه آخري غزا وه.

کوم لږ خوراک چي د خلکو سره پاته سوی وو...الخ: په دې سره د حضرت عمر رضي الله عنه دا مراد وو چي په عامه توګه د لښکر خلک د خوراکي سامان د لږ والي سره مخامخ وي او ډېر خلک وږي پاته سوي دي، بیا هم ځیني خلک داسي دي چي د هغوئ سره تر اړتیا زیات سامان وي نو (اې دالله رسوله!) تاسو خلکو ته هدایت وکړئ چي هغوئ د پاته سوي سامان په راوړلو سره تاسو ته راسي، په دغه روایت کي د اختصار څخه کار اخیستل سوی دی، پوره روایت داسي دي چي کله د لښکر خلک د خوراک د لږ والي سره مخامخ سول او خلک وږي پاته سول نو هغوئ رسول الله صلی الله علیه وسلم ته عرض وکړ: اې دالله رسوله! که تاسو اجازه وکړئ نو موږ به اوښان ذبح کړو او خپل خوراکي ضرورت به پوره کړو، رسول الله صلی الله علیه وسلم هغوئ ته اجازه ورکړل، مګر کله چي حضرت عمر رضي الله عنه ته دا معلومه سول نو هغه د رسول الله صلی الله علیه وسلم په خدمت کي حاضر سو او عرض یې وکړ چي اې دالله رسوله! که تاسو خلکو ته د اوښانو د ذبح کولو حکم ورکړی نو په دې سره به لښکر ته د سپرلیو د لږوالي پریشاني رامنځته سي، نو دغه خلکو ته د اوښانو د ذبح کولو پر ځای دا حکم ورکړئ چي د چا سره پاته سوی سامان وي نو هغه دي تاسو ته راوړي...الخ.

داسي هیڅکله نه سي کیدای چي یو سړی ...الخ: ددغه ارشاد په ذریعه رسول الله صلی الله علیه وسلم دا حقیقت څرګند کړ چي کوم څوک په پوره یقین او اعتقاد سره د توحید او رسالت شاهدي ورکړي او بیا بېله شک و شبهې په دغه یقین او ایمان سره په داسي حالت کي وفات سي نو هغه به جنت ته د تللو څخه نه منع کیږي.

د ام المؤمنین بي بي زینب په ولیمه کي د برکت معجزه

﴿۵۲۶۱﴾: وَعَنْ اَنَسٍ قَالَ كَانَ النَّبِيُّ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ عَرُوْسًا بِزَيْنَبَ

د حضرت انس رضي الله عنه څخه روایت دی چي د رسول الله صلی الله علیه وسلم د بي بي زینب (رض) سره نکاح وسول،

فَعَمِدَتْ اُمِّي اُمُّ سُلَيْمٍ اِلٰى تَمْرٍ وَ سَمْنٍ وَاَقِطٍ فَصَنَعَتْ حَيْسًا فَجَعَلَتْهُ فِي تَوْرٍ

زما مور ام سلیم د خرما، غوړو او پنیر حیس جوړ کړ، ډکه پیاله یې ما ته راکړه

فَقَالَتْ يَا اَنَسُ اذْهَبْ بِهٰذَا اِلٰى رَسُوْلِ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ فَقُلْ بَعَثَتْ

او وه یې ویل اې انس! دا رسول الله صلی الله علیه وسلم ته یوسه، او عرض ورته وکړه چي زما مور دا معمولي

بِهَذَا إِلَيْكَ أُمِّي وَهِيَ تُقْرِئُكَ السَّلَامَ وَتَقُولُ إِنَّ هَذَا لَكَ مِنَّا قَلِيلٌ يَا رَسُولَ

تحفه ستاسو په خدمت کي راليږلي ده ، او تاسو ته يې سلام عرض کړی دی او ويلي يې دي اې دالله رسوله ! دا لږ تحفه زموږ د لوري قبوله کړئ،

اللهِ فَذَهَبْتُ فَقُلْتُ فَقَالَ ضَعْهُ ثُمَّ قَالَ اذْهَبْ فَادْعُ لِي فُلَانًا وَفُلَانًا وَفُلَانًا

زه ورغلم او څه چي مور راته ويلي وه هغه مي عرض کړل ، رسول الله ﷺ وفرمايل دلته يې کښېږده او فلانی فلانی فلانی سړی را وغواړه

سَمَّاهُمْ وَادْعُ لِي مَنْ لَقِيتَ فَدَعَوْتُ مَنْ سَمَّى وَمَنْ لَقِيتُ فرجعت فَإِذَا

چي د هغوئ نومونه يې راته وښودل ، او په لاره کي چي کوم سړی درسره يو ځای سي هغه هم راوله، نو د چا نومونه چي رسول الله ﷺ ښودلي وه او ثوک چي په لاره کي راسره يو ځای سوی

الْبَيْتُ غَاصٌّ بِأَهْلِهِ قِيلَ لِأَنَسٍ عَدَدُكُمْ كَمْ كَانُوا قَالَ زُهَاءَ ثَلَاثِ مِائَةٍ

وه هغه مي راويستل، چي د هغوئ ټول کور ډک سو ، د انس رضي الله عنه څخه پوښتنه وسوله چي تاسو ثوک کسان واست ؟ هغه وويل دري سوو ته نژدې ،

فرايت النبي ﷺ وضع يده على تلك الحيسة وتكلم بما شاء الله ثم جعل

بيا ما وليدل چي رسول الله ﷺ پر هغه خوراک مبارک لاس کښېښود او دعاء يې وکړه کومه چي خدای ته منظوره وه، بيا يې

يدعو عَشَرَةً عَشَرَةً ياكلون منه ويقول لهم اذكروا اسم الله وَلْيَأْكُلْ كُلُّ

لس لس کسان د خوراک لپاره را بلل او خوراک کونکو ته به يې ويل د الله جل جلاله په نوم اخيستو

رجل مِمَّا يَلِيهِ قَالَ فَأَكَلُوا حَتَّى شَبِعُوا فَخَرَجَتْ طَائِفَةٌ وَدَخَلَتْ طَائِفَةٌ حَتَّى

سره يې خورئ، او د خپل خپل مخ څخه يې خورئ، کله چي خلکو خوراک وکړ او په نس ښه ماړه سول نو هغوئ ولاړ سول او بله ډله راغلل دغه ډول ټولو خلکو خوراک وکړ ،

أَكَلُوا كُلُّهُمْ قَالَ لِي يَا أَنَسُ ارْفَعْ فَرَفَعْتُ فَمَا أَدْرِي حِينَ وَضَعْتُ كَانَ أَكْثَرَ أَمْ

حِينَ رَفَعْتُ. متفق عليه.

ددې څخه وروسته رسول الله ﷺ وفرمایل: اې انس! پیاله را پورته کړه، ما را پورته کړه، زه نه سم ویلای چې کله ما پیاله ایښې وه هغه وخت پکښې خوراک زیات وو یا هغه وخت چې ما را پورته کړه. بخاري او مسلم.

تخريج: صحيح البخاري (فتح الباري): ۹\۲۲٦، رقم: ۵۱٦۳، ومسلم ۲\۱۰۵۱، رقم: ۹۴- ۱۴۲۸.

د لغاتو حل: اقط: اي لبن مجفف يابس (وچې شېدې). حيسا: مجموع التمر والسمن والاقط. (یو ډول خواړه)

تشريح: چې د هغوئ نومونه رسول الله ﷺ ښودلي وه، ددغه الفاظو په ذريعه حضرت انس ﷺ دا بيان وکړ چې رسول الله ﷺ په متعين کولو سره د هغه درو کسانو نومونه ښودلي وه مګر اوس زما په ذهن کې هغه نومونه نسته، نو ما هغه درې سره کسان په فلان او فلان سره تعبير کړي دي، ددې څخه ثرکنده سول چې د (رجالا سماهم) الفاظ خپله د حضرت انس ﷺ دي چې په نحوي توګه د (فلانا او فلانا وفلانا) بدل دي، يا دا چې د دغه الفاظو څخه مخکې اعني يا يعني لفظ محذوف دی.

او زه نه سم ويلای چې ...الخ: يعني د ظاهري صورت په اعتبار ما صحيح اندازه ونه لګولای سول چې هغه مالېده مخکې زياته وه يا کله چې د هغه ځای څخه پورته سول، مګر حقيقت دادی چې په دې کې څه شک نسته چې د رسول الله ﷺ د بابرکت لاس په اېښودو سره او د صحابه کرامو د پسخورده کېدو په وجه هغه مالېده هغه وخت هم کله چې پورته سول زياته بابرکته وه.

ځينو علماوو ليکلي دي چې د حديث د ظاهري مفهوم څخه دا ثابتېږي چې د ام المؤمنين بي بي زينب ﷺ وليمه په دغه ماليده سره وسول چې د حضرت انس ﷺ مور د رسول الله ﷺ په خدمت کې را استولې وه مګر د نورو روايتو څخه دا معلومېږي چې د هغې د وليمې ډوډۍ پر غوښو او ډوډۍ مشتمل وه لکه څرنګه چې خپله د حضرت انس ﷺ يو روايت دی چې رسول الله ﷺ د بي بي زينب ﷺ په وليمه کې يو پسه حلال کړ او په دغه وخت کې زرو کسانو غوښې او ډوډۍ په ماړه نس وخوړل، نو په دغه دواړو روايتو کې په ظاهره چې کوم تضاد معلومېږي د هغه ليرې کولو لپاره دا ويل سوي دي چې په اصل کې هغه ماليده د رسول الله ﷺ په خدمت کې هغه وخت رسېدلې وه کله چې رسول الله ﷺ د وليمې ډوډۍ چې پر غوښو او ډوډۍ مشتمل وه په خلکو خوړلې وه، همدارنګه په دغه وليمه کې دواړه شيان وخوړل سول يعني ماليده هم او

غوښي هم، او دا هم کېداى سي چي يوه ورځ د مالېدې واقعه رامنځته سوې وي او بله ورځ د غوښو او ډوډۍ خوړلو واقعه راپېښه سوې وي.

ملا علي قاري رحمة الله عليه ددغه حديث په تشريح کي دا ليکلي دي چي ددغه حديث څخه دا هيڅکله نه ثابتيږي چي د حضرت انس رضي الله عنه مور چي کومه ماليده د رسول الله ﷺ په خدمت کي را استولې وه، د هغې وليمه سول، بلکه هغې مالېده د تحفې په توګه رسول الله ﷺ ته را استولې وه چي رسول الله ﷺ په درو سوه کسانو باندي خوړلې وه او بيا هغه مابنام ته يا په راتلونکي ورځ رسول الله ﷺ يو پسه ذبح کړ او وليمه يې وکړل او د يوه پسه په غوښه او ډوډۍ کي الله جل جلاله دومره برکت واچوى چي زر کسان په ماړه سول، نه خو په دغه روايتو کي څه اختلاف سته او نه په دواړو معجزو کي څه اختلاف سته.

د اوښ معجزه

﴿۵۶۶۲﴾: وَعَنْ جَابِرٍ قَالَ غَزَوْتُ مَعَ رَسُولِ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ وَأَنَا عَلَى

د حضرت جابر رضي الله عنه څخه رويت دى چي د رسول الله ﷺ په ملګرتيا کي مي غزاګاني وکړې، زه

نَاضِحٍ قَدْ أَعْيَا فَلَا يَكَادُ يَسِيرُ تتلاحق بي النبي صلى الله عليه وسلم فَقَالَ

پر يو اوبو راکښونکي اوښ سپور وم چي ستړى سوى وو، پر يو ځاى رسول الله ﷺ زما سره يو ځاى سو او پوښتنه يې وکړه

مَا لِبَعِيرِكَ فقُلْتُ قد عَيِيَ فَتَخَلَّفَ رَسُولُ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ فَزَجَرَهُ

ستا په اوښ څه وسول؟ ما عرض وکړ ستړى سوى دى، ددې اوريدو سره رسول الله ﷺ زما د اوښ تر شا ودريدى او هغه يې هله هله (يعني ژر روان سه) کړى

وَدَعَا لَهُ فَمَا زَالَ بَيْنَ يَدَيِ الْإِبِلِ قُدَّامَهَا يَسِيرُ فَقَالَ لِي كَيْفَ تَرَى بَعِيرَكَ

او د هغه لپاره يې دعاء وکړل، ددې څخه وروسته هغه اوښ تر ټولو اوښانو مخکي وو، بيا رسول الله ﷺ زما څخه پوښتنه وکړه چي اوس ستا اوښ څنګه دى؟

قَالَ قُلْتُ بِخَيْرٍ قَدْ أَصَابَتْهُ بَرَكَتُكَ قَالَ أَفَتَبِيعُنِيهِ بوقية فَبِعْتُهُ عَلَى أَنَّ لِي

ما عرض وکړ ستاسو د دعاء برکت ور ورسيدى، رسول الله ﷺ وفرمايل: په څلوېښت درهمه

فَقَارَ ظَهْرِهِ الى الْمَدِينَةِ فَلَمَّا قَدِمَ رَسُولُ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ الْمَدِينَةَ غَدَوْتُ عَلَيْهِ بِالْبَعِيرِ فَأَعْطَانِي ثَمَنَهُ وَرَدَّهُ عَلَيَّ. متفق عليه.

يې خرڅوې؟ ما په دې شرط اوښ خرڅ کړ چي تر مدينې پورې به زه پر سپور ځم،. بيا چي رسول الله ﷺ مدينې ته راورسيدی نو سهار مي اوښ رسول الله ﷺ ته بوتلی، رسول الله ﷺ د اوښ بيه راکړل او اوښ يې هم ما ته راکړ. بخاري او مسلم

تخريج: صحيح البخاري (فتح الباري): ٦\١٣١، رقم: ٢٩٦٧، ومسلم ٣\١٢٢١، رقم: ١١٠- ٧١٥.

د لغاتو حل: ناضح: اي راكب على بعير يستقي عليه. فقار الظهر: هي عظام الظهر.

تشريح: ما په دې شرط دغه اوښ خرڅ کړ... الخ: د دې څخه دا معلومېږي چي د يو شي پلورلو په وخت کي داسي شرط لګول چي د هغه څخه پلورونکي ته ګټه وي، جائز دي، حال دا چي د مسئلې له موخي دا جائز نه دي يا خو په دغه مسئله کي دغه حديث د منسوخ په حکم کي دی يا دا چي د ذکر سوي شرط تعلق د عين عقد سره نه وو بلکه د رانيولو او پلورلو څخه وروسته يا خو د حضرت جابر رضی الله عنه په غوښتنه باندي خپله رسول الله ﷺ د مهربانۍ له موخي دا فيصله وکړل چي تر مدينې پوري دغه اوښ به د جابر رضی الله عنه د سپرلۍ لپاره وي بيا هم دا وضاحت د حديث د ظاهري عبارت سره تعلق نه لري.

د تبوک د غزا په وخت کي درې معجزې

﴿٥٦٦٣﴾: وَعَنْ أَبِي حُمَيْدٍ السَّاعِدِيِّ قَالَ خَرَجْنَا مَعَ رَسُولِ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ غَزْوَةَ تَبُوكَ فَأَتَيْنَا وَادِيَ الْقُرَى عَلَى حَدِيقَةٍ لِامْرَأَةٍ فَقَالَ رَسُولُ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ اخْرُصُوهَا فَخَرَصْنَاهَا وَخَرَصَهَا رَسُولُ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ عَشَرَةَ أَوْسُقٍ وَقَالَ أَحْصِيهَا حَتَّى نَرْجِعَ إِلَيْكِ إِنْ شَاءَ

د ابو حميد ساعدي رضی الله عنه څخه روايت دی چي زه د تبوک په غزا کي د رسول الله ﷺ سره روان سوم، او په وادي قرى کي د يوې ښځي باغ ته ورسيدو، رسول الله ﷺ خلکو ته وفرمايل: د دغه باغ ميوه اندازه کړئ، موږ اندازه کړل، او رسول الله ﷺ هم اندازه کړل، رسول الله ﷺ

وفرمایل: لس وسقه میوه به وي، ددې څخه وروسته رسول الله ﷺ هغه ښځي ته وفرمایل: هر کله چي میوه شکوې نو د وزن یاد ساته تر څو پوري چي موږ بیرته راګرځو،

اللهُ وَانْطَلَقْنَا حَتّٰى قَدِمْنَا تَبُوكَ فَقَالَ رَسُولُ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ سَتَهُبُّ

ددې څخه وروسته چي موږ روان سوو نو تبوک ته ورسیدو، رسول الله ﷺ وفرمایل: نن شپه به

عَلَيْكُمُ اللَّيْلَةَ رِيحٌ شَدِيدَةٌ فَلَا يَقُمْ فِيهَا أَحَدٌ مِنْكُمْ فَمَنْ كَانَ لَهُ بَعِيرٌ

پر تاسو تیزه هواء چلیږي هیڅوک دي نه دریږي او د چا سره چي اوښ وي د هغه پښې دي ټینګي

فَلْيَشُدَّ عِقَالَهُ فَهَبَّتْ رِيحٌ شَدِيدَةٌ فَقَامَ رَجُلٌ فَحَمَلَتْهُ الرِّيحُ حَتّٰى أَلْقَتْهُ

وتړي، نو سخت طوفاني باد راغلی یو سړی ودریدی هوا هغه پورته کړ او د طی د غرونو په

بِجَبَلَيْ طَيِّءٍ ثُمَّ أَقْبَلْنَا حَتّٰى قَدِمْنَا وَادِيَ الْقُرٰى فَسَأَلَ رَسُولُ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ

منځ کي یې وغورځوی، بیا موږ د مدینې په لور متوجه سوو او وادی قری ته راورسیدو، رسول

عَلَيْهِ وَسَلَّمَ الْمَرْأَةَ عَنْ حَدِيقَتِهَا كَمْ بَلَغَ ثَمَرُهَا فَقَالَتْ عَشَرَةَ أَوْسُقٍ.

متفق عليه.

الله ﷺ د باغ والا ښځي څخه پوښتنه وکړه ستا په باغ کي څومره میوه وسوه، هغې وویل لس وسقه (لکه څرنګه چي رسول الله ﷺ ورته فرمایلي وه). بخاري او مسلم.

تخريج: صحيح البخاري (فتح الباري): ۳\۳۴۳، رقم: ۱۴۸۱، ومسلم ۴\۱۷۸۵، رقم: ۱۱- ۱۳۹۲.

د لغاتو حل: وادي القرى: اسم موضع مشهور. اخرصوها: اي خمنوا.

تشريح: طی، په اصل کي د هغه مشهوري قبیلې د غټ مورث نوم دی چي د طی قبیله ورته وایي، او د پخواني جغرافیایي ویش سره سم په یمن کي اباده وه، د مشهور تاریخي شخصیت حاتم طائي تعلق ددغه قبیلې سره وو، هغه سیمه چیري چي د طی قبیله اباده وه او چي تلاوطي ورته ویل کیدل او د هغه ځای غرونه د جبال طی په نامه سره مشهور دي، په اوسنی جغرافیایي ویش کي د سعودي عرب په خطه نجد کي شامله ده او شمر ورته ویل کیږي.

په دغه حدیث کي د رسول الله ﷺ دري معجزې ذکر سوي دي، یو دا چي رسول الله ﷺ پر

درختو باندي د لګېدل سوو مېوو صحيح وزن وښودی، دوهم د سخت باد معجزه چي رسول الله ﷺ د يو ظاهري علامې او اثر څخه ماسوا د سخت باد وړاندي وينه وکړل چي هغه صحيح ثابته سول، او دريمه معجزه چي کوم سړي د رسول الله ﷺ په هدايت عمل ونه کړ، نو باد هغه په هواء کړ او دومره ليري يې وغورځوی، دلته ددغه درو سره معجزو اظهار يا خو پر هغه منافقانو باندي د رسول الله ﷺ د نبوت د صداقت څرګندولو لپاره وسو چي د رسول الله ﷺ په لښکر کي شامل وه يا د مؤمنانو د يقين او عقيدې لپاره وو.

د مصر د فتح پيشګوئي

﴿۵۶۶۴﴾: وَعَنْ أَبِي ذَرٍّ قَالَ قَالَ رَسُولُ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ إِنَّكُمْ سَتَفْتَحُونَ

د حضرت ابوذر رضی الله عنه څخه روايت دئ چي رسول الله ﷺ وفرمايل: ډير ژر به تاسو فتح کړئ د

مِصْرَ وَهِيَ أَرْضٌ يُسَمَّى فِيهَا الْقِيرَاطُ فَإِذَا فَتَحْتُمُوهَا فَأَحْسِنُوا إِلَى أَهْلِهَا

مصر هيواد چي په هغه کي به د يو سکې نوم قيراط وي، هر کله چي تاسو هغه فتح کړئ نو د هغه اوسيدونکو سره ښه چلن کوئ

فَإِنَّ لَهُمْ ذِمَّةً وَرَحِمًا أَوْ قَالَ ذِمَّةً وَصِهْرًا فَإِذَا رَأَيْتَ رَجُلَيْنِ يَخْتَصِمَانِ فِيهَا

ځکه چي د مصر والاوو لپاره امان او قرابت دی، يا دا يې وفرمايل: چي مصر والاوو لپاره امان دی، او د هغوئ سره يې د خسرګنۍ قرابت وو، (د رسول الله ﷺ د زوی ابراهيم رضی الله عنه مور ماريه قبطيه د مصر څخه وه، او قرابت د بي بي هاجرې په سبب دی چي د اسماعيل عليه السلام مور وه) بيا هر

فِي مَوْضِعِ لَبِنَةٍ فَاخْرُجْ مِنْهَا قَالَ فَرَأَيْتُ عَبْدَ الرَّحْمَنِ بْنَ شُرَحْبِيلَ بْنِ

کله چي تاسو ووينئ چي دوه کسان د يوې خښتي پر ځای جګړه کوي نو ته د هغه ځای څخه وځه، ابوذر وايي ما عبدالرحمن بن شرحبيل بن

حَسَنَةَ وَأَخَاهُ رَبِيعَةَ يَخْتَصِمَانِ فِي مَوْضِعِ لَبِنَةٍ فَخَرَجْتُ مِنْهَا. رواه مسلم

حسنه او د هغه ورور ربيعه د يوې خښتي پر ځای په جګړه وليدل، نو زه د مصر څخه راغلم. مسلم.

تخريج: صحيح مسلم ۱۴/۱۹۷۰، رقم: ۲۲۶- ۲۵۴۳.

د لغاتو حل: القيراط: نصف عشر دينار، لبنة: الآخر قبل طبخه. (اومې خښتي)

تشریح: قیراط د یوې سکې نوم وو چې د پنځه اوربشو سرو زرو برابر وو، او په هغه زمانه کې په مصر کې رواج وو، د مصر څخه ماسوا په نورو سیمو کې هم د قیراط رواج وو او مختلف وزنونه او مالیت یې درلود، دمثال په توګه په مکه معظمه او د هغه په شاوخوا سیمو کې یو قیراط د دینار د څلیرویشتمې برخې برابر او دعراق د دینار د شلمې برخې برابر وو.

چیرې چې قیراط ویل کیږي: ددغه جملې په ذریعه نه یوازې دا چې رسول الله ﷺ په دغه سکې سره د مصر تعارف وکړ بلکه دې ته یې هم اشاره وفرمایل چې ددغه هیواد خلک چې هغه وخت قبطي کافران وه سست مزاج یې درلود چې د هغه نښه داده چې د هغوئ پر ژبه د قیراط ذکر ډېر کېدی، ددې څخه معلومه سول چې کوم خلک لوړه حوصله او کریم النفس وي د هغوئ پر ژبه د حقیر او سپک شیانو ذکر زیات نه وي.

د هغه ځای د خلکو سره ښه چلن کوئ، ددغه لارښووني مطلب دا وو که چیرې د مصر خلک د خپل خاص کیفیت په اعتبار تاسو ته تکلیف درکونکي وي مګر ددې سربېره تاسو له هغوئ سره نیک چلن کوئ که تاسو د هغوئ داسې افعال او اعمال وینئ چې ستاسو په نزد خراب وي او د هغوئ څخه تاسو ته ذهني یا بدني تکلیف رسیږي نو د هغوئ سره په هر حال د عفو او بخښنې معامله کوئ، داسې نه وي چې د هغوئ په یوه خبره یا کار سره تاسو هغوئ ته تکلیف رسول پیل کړئ، او هدایت ځکه دی چې د مصریانو سره زموږ دوه خاص تعلقات دي یو خو د هغوئ د امان او حرمت په سبب زموږ د زوی ابراهیم ابن محمد په نسبت سره مصریانو ته حاصل دی، د ابراهیم د مور نوم ماریه قبطیه وو، او د مصري قوم سره یې تعلق درلودی او د هغوئ سره دوهم تعلق دادی چې زموږ د نیکه حضرت اسماعیل علیه السلام په نسبت سره د مصریانو سره زموږ قرابت هم دی، د حضرت اسماعیل علیه السلام مور بي بي هاجره مصري النسل وه، یا دا یې وفرمایل: هغوئ ته امان دی او د هغوئ سره د خسرګنۍ قرابت دی، دلته د او لفظ د شک لپاره دی چې د هغه په ذریعه راوي دا ظاهره کړې ده چې رسول الله ﷺ یا خو د (فان لها ذمة ورحما) الفاظ فرمایلي وه، یا د (فان لها ذمة وصهرا) الفاظ فرمایلي وي، ددغه دوهم روایت په صورت کې د امان تعلق به د بي بي هاجرې په نسبت سره وي او د د مصاهرت (خسرګنۍ) تعلق د بي بي ماریه قبطیه په نسبت سره دی.

کله چې تاسو ووینئ چې هلته دوه کسان ...الخ: ددغه الفاظو په ذریعه رسول الله ﷺ د اهل مصر بې زړه توب بیان کړ چې هغه خلک د یوې خښتې د ځای لپاره جګړه کوي، په دغه جمله کې چې (رایتم) یعنې تاسو ووینئ، د جمع په صیغه فرمایل سوی دی، په دغه مناسبت

سره مخته د جمع صيغه (فاخرجوا) نو تاسو د هغه ځای څخه ووځئ، لفظ استعمالول پکار وه، مګر رسول الله ﷺ د واحد صيغه (واخرج) په استعمالولو سره يوازي ابوذر رضی الله عنه ته خطاب وفرمايه چي د حضرت ابوذر رضی الله عنه په اړه د رسول الله ﷺ خاص تعلق او شفقت باندي دلالت کوي، مګر دا هم کيدای سي چي ددې څخه عمومي خطاب مراد وي.

مصر د حضرت عمر رضی الله عنه په زمانه کي فتح سو او حضرت ابوذر رضی الله عنه هلته د خپل قيام په دوران کي دوه کسان د يوې خښتي پر ځای په جګړه وليدل نو سمدستي د مصر په پرېښودو سره راغلی، دا د حضرت عثمان رضی الله عنه د خلافت د زمانې واقعه ده، نو رسول الله ﷺ ته د غيبو څخه علم سوی وو چي د يوې خښتي پر ځای جنګ کول په اصل کي د مصريانو خصومت او فتنې هغه علامه ده چي د هغه وروسته به د فتنې او فساد يوه اوږده لړۍ پيل وي، چي د هغه په نتيجه کي به مسلمانان او اسلام د سخت تاوان سره مخامخ سي، وروسته د مصريانو د عثماني خلافت څخه په بغاوت کولو سره پر مدينه حمله کول، حضرت عثمان رضی الله عنه شهيد کول او بيا په مصر کي د حضرت علي رضی الله عنه له خوا د حاکم حضرت محمد ابن ابوبکر رضی الله عنه وژل، دا هغه پېښي دي چي د هغه علم رسول الله ﷺ ته د مخکي څخه سوی وو، ځکه رسول الله ﷺ حضرت ابوذر رضی الله عنه ته هدايت او وصيت وفرمايه چي کله په مصر کي پر معمولي خبره باندي د دوو کسانو په منځ کي جګړه رامنځته سي نو ته د هغوئ سره د يو ځای کېدو، او په هغوئ کي د اوسېدو څخه پرهيز وکړه نو حضرت ابوذر رضی الله عنه همداسي وکړل.

د منافقانو د سخت انجام پيشګوئي

﴿۵۶۶۵﴾: وَعَنْ حُذَيْفَةَ عَنِ النَّبِيِّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ قَالَ فِيْ اَصْحَابِيْ وفي

د حضرت حذيفه رضی الله عنه څخه روايت دئ چي رسول الله ﷺ وفرمايل: زما په صحابه کرامو کي،

رواية قال وَ فِي أُمَّتِي اثْنَا عَشَرَ مُنَافِقًا لَا يَدْخُلُونَ الْجَنَّةَ وَلَا يَجِدُونَ رِيحَهَا

او په يوه روايت کي دي چي زما په امت کي دوولس منافقان دي، چي په جنت کي به نه داخليږي، داخليدل خو څه چي د جنت بوی به هم پيدا نه کړي،

حَتَّى يَلِجَ الْجَمَلُ فِي سَمِّ الْخِيَاطِ ثَمَانِيَةٌ مِنْهُمْ تَكْفِيكَهُمُ الدُّبَيْلَةُ سِرَاجٌ مِنْ

تر څو پوري چي د ستن په سوري کي اوښ تير نه سي، په دې کي به د اتو منافقانو شر او فتنه دبيله دفع کړي (دبيله د نس ناسي يا طاعون ناروغي ده)، دا به د

النَّارِ يَظْهَرُ فِي أَكْتَافِهِمْ حَتَّى تَنْجُمَ مِنْ صُدُورِهِمْ . رواه مسلم و سنذكر حديث سهل بن سعد لاعطين هذه الراية غدا في مناقب علي وحديث جابر من يصعد الثنية في جامع المناقب انشاء الله تعالى.

او ريوه شعله وي چي د هغوئ په اوږو كي به پيدا سي او اثر به يې تر سينو پوري رسيږي ، مسلم او ډير ژر به د سهل بن سعد حديث لا عطين الخ ، به په مناقب علي كي او د جابر حديث من يصد .الخ، به انشاء الله په جامع المناقب كي بيان كړل سي.

تخريج: صحيح مسلم: ۱۴\۲۱۴۳، رقم: ۹- ۲۷۷۹.

د لغاتو حل: الدبيلة: الداهية. تنجم: اي تظهر وتطلع النار . (بلبدل).

تشريح: تر څو چي اوښ د ستني تر سوري تېر نه سي، دا مبالغه او تعليق بالمحال دى، مطلب دا چي څرنګه د ستني په سوري كي د اوښ تېرېدل محال او ناممكن دي، همدارنګه د دغه منافقانو جنت ته تلل هم محال او ناممكن دي، په قرآن كريم كي دغه الفاظ راغلي دي:

وَلاَ يَدْخُلُونَ الْجَنَّةَ حَتَّى يَلِجَ الْجَمَلُ فِي سَمِّ الْخِيَاطِ

او هغه كافران به په جنت كي نه داخليږي تر څو چي د ستني په سوري كي اوښ تېر نه سي.

څرګنده دي وي چي د امت اطلاق پر منافقانو كېداى سي كه د امت څخه مراد امت دعوت وي نو زما په امت كي دولس منافقان دي، په دې كي زما د امت څخه د رسول الله ﷺ مراد امت دعوت وو يعني انسانيت عامه چي د رسول الله ﷺ د دعوت مخاطب دي او هغوئ اسلام ته رابلل د رسول الله ﷺ د پيغمبرۍ مقصد دى، مګر پر منافقانو باندي د صحابه كرامو اطلاق نه سي كيداى نو زما په صحابه كرامو كي دوولس منافقان دي، د دې به دا تاويل كيږي چي رسول الله ﷺ پر هغه منافقانو باندي د صحابه كرامو اطلاق د هغوئ د ظاهري حال په اعتبار وكړ ، كه څه هم په هغوئ كي منافق وو مګر په ظاهره په هغوئ كي كلمه ويونكي هم وه او د خپل ظاهري حيثيت په وجه هغوئ د صحابه كرامو د جماعت سره ګډ سوي وه ، په هغوئ كي به اوسېدل ، مطلب دا چي د هغوئ د ظاهري حال په اعتبار او د صحابي سره د هغوئ ګډېدل د رسول الله ﷺ هغوئ ته مجازا صحابه وفرمايل، په دې اعتبار د امت په اړه هم ويل كيږي چي امت دعوت نه بلكه امت اجابت مراد دى.

د حضرت حذیفه ﷛ په روایت کي منقول دي چي د هغه منافقانو شمېر څورلس وو، مګر په هغوئ کي دوو توبه کړې وه او دوولس پر نفاق باندي قائم وه او څرنګه چي مخبر صادق ﷺ خبر ورکړی وو هغه بدبخت په هغه حالت کي مړه سول، په هر حال رسول الله ﷺ خپل ځینو خاصو او مقربو صحابه کرامو ته د هغه منافقانو په اړه په تشخص سره ښوولي وه چي د هغوئ د مرګ او فریب څخه هوښیار وي، ، دغه منافقانو چي د اسلام او مسلمانانو پر خلاف د خپل عناد پر بنسټ کومه فتنه خپره کړل د هغه د ذکر څخه اسلامي تاریخ ډک دی د دغه بدبختو د مکروه عزائمو نقطه عروج هغه وخت مخته راغلی کله چي هغوئ د تبوک د غزا څخه د ستنېدو په دوران کي پر لاره د رسول الله ﷺ د وژلو اراده کړې وه مګر الله ﷻ رسول الله ﷺ خوندي کړ.

دبیلة د دبل یا دبلة تصغیر دی چي د هغه معنی د هغه دانې ده چي په نس کي وي او د هغه په سبب زیات وختونه مرګ واقع کیږي، ځینو حضراتو ویلي دي چي د دبیله څخه د طاعون یا پړسوب مراد دی چي په انګریزي کي پلیک ورته وایي، د دبل یوه معنی د آفت او مصیبت هم ده.

چي د هغوئ په اوږو کي به پیدا کیږي...الخ: ددغه الفاظو په ذریعه د دبیله وضاحت سوی دی او په ظاهره دا معلومیږي چي دغه الفاظ د رسول الله ﷺ د ارشاد جز نه دی بلکه د حضرت حذیفه ﷛ خپل الفاظ دي او ددغه الفاظو څخه دا هم ثابته سول چي د دبیله څخه د طاعون یا پړسوب مراد دی، د حضرت حذیفه ﷛ څخه یو روایت دا منقول دی چي رسول الله ﷺ ددغه منافقانو په اړه ما ته په پوره توګه ښودلي وه چي هغه کوم کوم خلک دي او څرنګه به مړه کیږي نو هغوئ ټول هم هغسي مړه سول لکه څرنګه چي ما ته رسول الله ﷺ ښودلي وه.

اَلْفَصْلُ الثَّانِي (دوهم فصل)

د بحیرا د راهب واقعه

﴿۵۶۶۶﴾: عَنْ أَبِي مُوسَى قَالَ خَرَجَ أَبُو طَالِبٍ إِلَى الشَّامِ وَخَرَجَ مَعَهُ النَّبِيُّ صَلَّى

د حضرت ابو موسی ﷛ څخه روایت دی چي (د رسول الله ﷺ اکا) ابو طالب د شام په لور ولاړی، نبي کریم ﷺ هم ورسره وو

اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ فِي أَشْيَاخٍ مِنْ قُرَيْشٍ فَلَمَّا أَشْرَفُوا عَلَى الرَّاهِبِ هَبَطُوا فَحَلُّوا

او د قریشو یو څو سرداران هم، کله چي راهب ته ورسیدل نو هلته کښته سول او بارونه یې

رِحَالَهُمْ فَخَرَجَ إِلَيْهِمُ الرَّاهِبُ وَكَانُوا قَبْلَ ذٰلِكَ يَمُرُّونَ بِهِ فَلَا يَخْرُجُ إِلَيْهِمْ

خلاص كړل راهب دوئ ته راووتى او دا لومړنى موقع وه، ددې څخه مخكې هغه هيڅ يو قافلې والا ته چې دلته به تيريدل د ملاقات لپاره نه راتلى، د راوي بيان دى چې خلكو خپل كجاوې

قَالَ فَهُمْ يَحُلُّونَ رِحَالَهُمْ فَجَعَلَ يَتَخَلَّلُهُمُ الرَّاهِبُ حَتَّى جَاءَ فَأَخَذَ بِيَدِ

كښته كړې او راهب په هغو كې يو ځوك لټوئ تر دې چې هغه رسول الله ﷺ ته راغلى، د رسول

رَسُولِ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ قَالَ هٰذَا سَيِّدُ الْعَالَمِينَ هٰذَا رَسُولُ رَبِّ الْعَالَمِينَ

الله ﷺ مبارك لاس يې ونيوى او وه يې فرمايل: دا ددې ټولو قومونو سردار، ددې ټولو قومونو د پروردګار رسول

يَبْعَثُهُ اللّٰهُ رَحْمَةً لِلْعَالَمِينَ فَقَالَ لَهُ أَشْيَاخٌ مِنْ قُرَيْشٍ مَا عِلْمُكَ فَقَالَ إِنَّكُمْ

چې الله تعالى د نړيوالو لپاره رحمت راليږلى دى، د قريشو ځينې سردارانو پوښتنه ځينې وكړه تا ته دده حال د كوم ځاى څخه معلوم دى، راهب ورته وويل: كله چې تاسو

حِينَ أَشْرَفْتُمْ مِنَ الْعَقَبَةِ لَمْ يَبْقَ شَجَرٌ وَلَا حَجَرٌ إِلَّا خَرَّ سَاجِدًا وَلَا يَسْجُدَانِ

د دوو غرونو د منځ څخه وتلي واست ما وليدل چې هيڅ يو ډبره او درخته داسي نه وه چې هغو ورته سجده نه وې كړې، او دا شيان نبي ته سجده كوي،

إِلَّا لِنَبِيٍّ وَإِنِّي أَعْرِفُهُ بِخَاتَمِ النُّبُوَّةِ أَسْفَلَ مِنْ غُضْرُوفِ كَتِفِهِ مِثْلَ التُّفَّاحَةِ ثُمَّ

او بيا ما د مهر نبوت څخه و پيژندى چې د رسول الله ﷺ د اوږو د هډوكي لاندې د سيب په ډول

رَجَعَ فَصَنَعَ لَهُمْ طَعَامًا فَلَمَّا أَتَاهُمْ بِهِ وَكَانَ هُوَ فِي رِعْيَةِ الْإِبِلِ قَالَ أَرْسِلُوا إِلَيْهِ

واقع دى، ددې څخه وروسته راهب ولاړى، او د قافلې والاوو لپاره يې خوراك تيار كړ، كله چې يې خوراك راوړ هغه وخت رسول الله ﷺ اوښان پيول، راهب وويل په هغه پسې څوك

فَأَقْبَلَ وَعَلَيْهِ غَمَامَةٌ تُظِلُّهُ فَلَمَّا دَنَا مِنَ الْقَوْمِ وَجَدَهُمْ قَدْ سَبَقُوهُ إِلَى فَيْءِ

وليږى، نو رسول الله ﷺ تشريف راوړ په داسې حال كې چې د وريځې يوه ټوټې پر رسول الله

ﷺ سايه کړې وه، کله چې رسول الله ﷺ خلکو ته راورسيدی نو وه يې ليدل چې خلکمد درختو

الشَّجَرَةِ فَلَمَّا جَلَسَ مَالَ فَيْءُ الشَّجَرَةِ عَلَيْهِ فقال انظروا الى فئ الشجرة مال

سايې ته ناست دي، کله چې رسول الله ﷺ کښېنستی نو د درختو ښاخونو پر رسول الله ﷺ راکښته سول، ددې ليدو سره راهب وويل ددې درختي سايې ته وګورئ چې پر نبي ﷺ را کوږ

عليه فَقَالَ أَنْشُدُكُمُ اللهَ أَيُّكُمْ وَلِيُّهُ قَالُوا أَبُو طَالِبٍ فَلَمْ يَزَلْ يُنَاشِدُهُ حَتَّى رَدَّهُ

سو زه تاسو ته په خدای ﷻ قسم درکولو سره پوښتنه کوم دا راته ووايا ست چې په تاسو کي دده سرپرست څوک دی؟ خلکو ورته وويل: ابوطالب، راهب هغه پوه کړ

أَبُو طَالِبٍ وَبَعَثَ مَعَهُ أَبُو بَكْرٍ بِلَالًا وَزَوَّدَهُ الرَّاهِبُ مِنَ الْكَعْكِ وَالزَّيْتِ. رواه الترمذي.

باعث يې کړ او ورته وه يې ويل دی مکې ته بيرته بوځه، نو ابوطالب مکې ته بيرته وليږی او حضرت ابوبکر رضي الله عنه د رسول الله ﷺ سره بلال وليږی، او راهب رسول الله ﷺ ته ډوډی او زيتون د ناشتې لپاره ورسره ورکړل. ترمذي..

تخريج: سنن الترمذي ۵\۵۵۰، رقم: ۳۶۲۰.

تشريح: او ما دغه سړی د مهر نبوت په ذريعه هم پېژندلی دی...الخ: په ځينو روايتو کي دا هم راغلي دي چې راهب د قافلې خلکو ته ددغه جواب ورکولو وروسته ولاړ سو او رسول الله ﷺ يې تر غاړې ونيوی او بيا يې د قافلې دخلکو څخه د رسول الله ﷺ د ذاتي ژوند په اړه ډېر سوالونه وکړل چې د رسول الله ﷺ شپه او ورځ څرنګه تېرېږي، د اوسېدو، ولاړې او ناستې، خوب او خوراک څه انداز دی او د خلکو سره يې اخلاق او معاملات څرنګه دي، د قافلې خلکو چې کوم جوابونه ورکړل هغه يې په خپلو کتابو کي د ويلو خبرو او د خپل معلومات بالکل مطابق تر لاسه کړل.

د درختو ښاخونه په راکښته کېدو سره پر رسول الله ﷺ سايه وکړل، په دې اړه شارحينو ليکلي دي که څه هم هغه وخت د رسول الله ﷺ پر سر مبارکه د وريځي د هغه ټوټې سايه موجود وه کوم چې په لاره کي پر رسول الله ﷺ باندي سايه کوونکې را روانه وه مګر ددې سربېره د درختو په راکښته کېدو سره پر رسول الله ﷺ سايه کول د رسول الله ﷺ د امتيازي حيثيت او

عزت د اظهار لپاره وو، او دا هم کېدای سي چي هغه وخت د وريځي سايه ليري سوې وي ځکه درختي په راکښته کېدو سره سايه وکړل چي په هغه کي د رسول الله ﷺ د معجزې اظهار وو، په هر حال پر سر مبارک باندي دوريځي سايه کول د رسول الله ﷺ د معجزاتو څخه دي، مګر علماؤ ليکلي دي چي دغه صورت به تل نه وو بلکه کله نا کله به د ضرورت او اړتيا په وخت کي دغه معجزه څرګندېدل.

د درختي سايې ته وګورئ چي پر هغه راکښته سوې ده، ددې څخه د راهب مطلب دا وو که تاسو د وريځي په صورت کي د آسمان سايه نه سئ ليدلای نو د مځکي دغه سايې ته وګورئ چي د درختي د ښاخونو په صورت کي پر دغه ذات باندي راکښته سوې ده.

صحيح خبره داده چي د راهب مراد د قافلې د خلکو د سر په سترګوسره بلکه د زړه په سترګو سره لېدو ته متوجه کول وو، ځکه چي د سر په سترګو خو يې خپله لېدل مګر حقيقت دادی چي کومو خلکو د خپل فطرت سليم په مسخ کولو سره د جهل او انکار په تياره کي ګمراه کېدل خپل مقصد ګرځولی وو، د هغوئ د زړه سترګي خو د تعصب په وجه داسي بندي سوي دي چي هغوئ د پيغمبر ﷺ د آسماني صداقت هغه لوی نښي په خلاصو سترګو سره د لېدو سربېره د نور هدايت هيڅ کړنه تر لاسه نه کړه، هغوئ د رسول الله ﷺ د نبوت او رسالت ټولي نښي د ستر په سترګو سره لېدلې مګر د زړه د سترګو داسي لېدل هغوئ ته په برخه نه سول چي د هغوئ په کار راغلي وای او هغوئ يې پر سېده لار راوستلي وای لکه چي په قرآن کي فرمايي:

وَتَرَاهُمْ يَنظُرُونَ إِلَيْكَ وَهُمْ لاَ يُبْصِرُونَ ، او دغه کافران ته وينې چي ګويا تا ويني حال دا چي هغوئ هيڅ نه ويني.

په پای کي ابو طالب، رسول الله ﷺ مکې ته بېرته واستوی، اصل خبره دا وه چي بصری د رومي پاچاهۍ لاندي وه هلته د عيسائي پاچا بېرغ ولاړ وو او هلته لوی لوی عيسايان د خپل علم او قيافې په بنياد د نبي آخر الزمان ﷺ د پيغمبرۍ خبر ورکړی وو چي په هغه سره يو ډول پريشاني پر هغه عيسائي پاچا خپره سوې وه، او ددې خبري پراخ انتظام سوی وو چي څرنګه ممکن دي هغه نبي د خپل اثر خپرولو څخه مځکي ددغه دنيا څخه ختم کړل سي، راهب بحيرا د آسماني کتابو رښتونی عالم وو او د نبي ﷺ عقيده يې درلودل ځکه هغه رسول الله ﷺ په پېژندلو سره پر حضرت ابو طالب باندي زور واچوی چي رسول الله ﷺ مکې ته بېرته استوي، هغه ته بېره وه که د رومي پاچاهۍ سپاهيانو ته په لاس ورغلی نو په نيولو سره به يې بوځي او

قتل به یې کړي، ترمذي او حاکم دغه روایت هم نقل کړی دی چي یوې خوا ته د ابوطالب د تجارتي قافلې سره د رسول الله ﷺ سفر پیل سو او بلي خوا ته د رومي پاچاهۍ سپاهیانو چي د هغوئ شمېر اووه وو، په رسول الله ﷺ پسي ولګېدل چي چیري یې پیدا کړي او قتل یې کړي، په دغه پلټنه کي هغوئ بحیرا راهب ته هم ورسېدل، بحیرا د هغوئ په لېدو سره وویل: تاسو دلته د څه لپاره راغلي یاست، هغوئ وویل: موږ ته معلومه سوې ده چي پیغمبر نبي آخر زمان ﷺ په دغه میاشت کي د خپل هیواد څخه په سفر روانېدونکی دی، نو پر هره لار باندي خلک ولګول سول چي کله هغه زموږ د پاچهي په حدودو کي داخل سي نو سمدستي دي ووژل سي، بحیرا وویل: ما ته دا وښیاست که الله ﷻ یو شی مقدر کړی وي نو ایا یو سړی هغه بدلولای سي، هغه سپاهیانو جواب ورکړ: یا، بیا بحیرا وویل: زه تاسو ته ریښتیا خبره ښیم چي تاسو د کوم چا په پلټنه کي یاست هغه یقینا د الله ﷻ تر ټولو لوی پیغمبر کېدونکی دی، د دنیا هیڅ طاقت هغه ته تاوان نه سي رسولای نو تاسو د خپل دغه خیال څخه منع سئ چي هغه به قتل کړئ او غوره داده چي تاسو د هغه د اطاعت په قبلولو سره د هغه سره عقیده او مینه ولرئ.

د غنمو د ډوډۍ او د زیتون د تیلو توښه یې د رسول الله ﷺ سره ملګري کړل، کنک لوی ډوډۍ ته وایي او ځینو حضراتو ویلي دي چي کنک هغه خاص ډوډۍ ته وایي چي د اوړو، شېدو او بورې په یو ځای کولو سره جوړېږي، د ډوډۍ سره یې د زیتون تېل ددې لپاره ورکړي وه چي په ډوډۍ باندي موږلو سره د خوراک په کار ورسي، جزري رحمة الله علیه ددغه حدیث په اړه لیکلي دي چي ددغه حدیث اسناد صحیح دي او ددغه حدیث رجال د بخاري او مسلم یا دواړو کي د یوې لړۍ سره تعلق لري مګر په دغه حدیث کي د حضرت ابوبکر رضي الله عنه او حضرت بلال رضي الله عنه چي کوم ذکر دی هغه خوندي نه دی (یعني د اصل روایت څخه نه دی) یا د یو راوي په سهوه سره دا جز نقل سوی دی ځکه چي هغه وخت خپله د رسول الله ﷺ عمر دوولس کاله او د حضرت ابوبکر صدیق رضي الله عنه د رسول الله ﷺ څخه دوه نیم کاله کشر وو، او حضرت بلال رضي الله عنه کیدای سي په هغه ورځو کي پیدا سوی هم نه وو، نو دا ویل چي ابوبکر رضي الله عنه، بلال رضي الله عنه د رسول الله ﷺ ملګری کړی وو، نو دا څه معنی نه لري، ځکه ذهبي رحمة الله علیه دا روایت ضعیف ګرځولی دی که څه هم ځینو حضراتو د ذهبي رحمة الله علیه دا قول مسترد کړی دی،

حافظ ابن حجر رحمة الله علیه ددغه حدیث په اړه لیکلي دي چي ددغه حدیث راوي باوري دی او په دې کي هیڅوک منکر نسته، پرته ددغه برخي څخه چي په هغه کي دا مذکور دي چي حضرت ابوبکر رضي الله عنه، بلال رضي الله عنه د رسول الله ﷺ ملګری کړی وو، په هر حال دا خبره خو ثابته ده چي دا

حديث صحيح دی مګر ددغه ذکر سوي برخي په اړه دا ویل کیدای سي چي دا په اصل کي د روایت جزء نه دی بلکه د یو راوي څخه په سهوه نقل سوی دی.

د درختو او ډبرو سلام

﴿۵۶۶۷﴾: وَعَنْ عَلِيِّ بْنِ أَبِي طَالِبٍ قَالَ كُنْتُ مَعَ النَّبِيِّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ بِمَكَّةَ فَخَرَجْنَا فِي بَعْضِ نَوَاحِيهَا فَمَا اسْتَقْبَلَهُ جَبَلٌ وَلَا شَجَرٌ إِلَّا وَهُوَ يَقُولُ السَّلَامُ عَلَيْكَ يَا رَسُولَ اللَّهِ. رواه الترمذي والدارمي.

د حضرت علي بن ابي طالب ﷛ څخه روایت دی چي زه د نبي کریم ﷺ سره په مکه کي وم، موږ چي به د رسول الله ﷺ سره شاوخوا تلو نو غرونه، ډبري او درختي چي به مخته راغلې نو هغوئ به دا ویل السلام علیک یارسول الله. ترمذي او دارمي.

تخریج: سنن الترمذي ۵\۵۵۳، رقم: ۳۶۲۶، والدارمي ۱\۲۵، رقم: ۲۱

تشریح: صحیح دا معلومیږي چي کومي ډبري او درختي رسول الله ﷺ ته سلام کوی د هغه آواز حضرت علي ﷛ هم اورېدی، په دې اعتبار سره دغه واقعه معجزه او کرامت دواړه ظاهروي، معجزه د رسول الله ﷺ په نسبت سره او کرامت د حضرت علي ﷛ په نسبت سره مګر دا هم احتمال لري چي د هغوئ د سلام کولو آواز خپله حضرت علي ﷛ نه وي اورېدلي بلکه هغه ته رسول الله ﷺ ښودلي وي.

د براق معجزه

﴿۵۶۶۸﴾: وَعَنْ أَنَسٍ أَنَّ النَّبِيَّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ أُتِيَ بِالْبُرَاقِ لَيْلَةَ أُسْرِيَ

د حضرت انس ﷛ څخه روایت دی چي د معراج په شپه براق راوستل چي هغه زین سوی او

بِهِ مُلْجَمًا مُسْرَجًا فَاسْتَصْعَبَ عَلَيْهِ فَقَالَ لَهُ جِبْرِيلُ أَبِمُحَمَّدٍ تَفْعَلُ هَذَا فَمَا

واګي پر اچول سوي وې، کله چي رسول الله ﷺ د سپرتیا اراده وکړه نو هغه شوخي پیل کړل او رسول الله ﷺ ته سپرتیا مشکل سول، جبرائیل علیه السلام براق ته وویل ایا ته د محمد ﷺ

رَكِبَكَ أَحَدٌ أَكْرَمُ عَلَى اللَّهِ مِنْهُ قَالَ فَارْفَضَّ عَرَقًا. رواه الترمذي وقال هذا

حديث غريب.

سره شوخي كوې او تر ننه پوري پر تا تر ده غوره سړی نه دی سپور سوی چي عزت ناک وي الله ﷻ ته، د راوي بيان دی ددې اوريدو سره براق خوله خوله سو. ترمذي ويلي دي دا حديث غريب دی.

تخريج: سنن الترمذي ۵\۲۸۱، رقم: ۳۱۳۱.

د لغاتو حل: فارفض: اي انصب البراق.

تشريح: دا هغه ذات دی...الخ: ددغه بين السطور عبارت څخه دا معلوميږي چي پر هغه براق باندي مخكي نور انبياء عليهم السلام هم سپاره سوي وه، په دې اړه تفصيلي تحقيق په باب المعراج كي تېر سوی دی.

براق خولې خولې سو، په دې اړه شارحينو ليكلي دي چي هغه براق د هغه خوشحالۍ په وجه تهوپونه وهل چي د رسول الله ﷺ د سپرلۍ شرف ما ته تر لاسه كيږي مگر حضرت جبرائيل ؈ دا گمان وكړ چي د هغه تهوپونه د شوخۍ په وجه دي، كله چي حضرت جبرائيل ؈ براق خبردار كړ او براق ته د حضرت جبرائيل ؈ د هغه گمان احساس وسو نو د شرم څخه خولې خولې سو.

د معراج يوه معجزه

﴿۵۶۶۹﴾: وَعَنْ بُرَيْدَةَ قَالَ قَالَ رَسُولُ اللَّهِ ﷺ لَمَّا انْتَهَيْنَا إِلَى بَيْتِ الْمَقْدِسِ قَالَ جِبْرِيلُ بِإِصْبَعِهِ فَخَرَقَ بِهِ الْحَجَرَ وَشَدَّ بِهِ الْبُرَاقَ. رواه الترمذي.

د حضرت بريده ؓ څخه روايت دئ چي رسول الله ﷺ وفرمايل: د معراج په شپه چي كله موږ بيت المقدس ته ورسيدو نو جبرائيل ؈ د گوتي په اشاره سره په ډبره كي سوری وكړ او په هغه سوري پوري يې براق وتړی. ترمذي.

تخريج: سنن الترمذي ۵\۲۸۱، رقم: ۳۱۳۲.

تشريح: په باب المعراج كي د حضرت انس ؓ دغه روايت تېر سوی دی چي براق يې په هغه كړۍ وتړی چي په هغه سره به ټولو نبيانو عليهم السلام خپل براقونه تړل، ددغه روايت او هغه روايت په منځ كي چي كوم تضاد معلوميږي د هغه رفع كولو لپاره شارحينو ليكلي دي چي د حضرت انس ؓ په روايت كي د كړۍ څخه مراد كيدای سي هغه ځای وي چيري چي حلقه

(سوری) وو او یې بند سوی وو، د معراج په شپه حضرت جبرائیل عليه السلام د خپلي ګوتي په اشاره سره هغه سوری خلاص کړ، په دواړو روایتو کي فرق دادی چي د حضرت انس رضي الله عنه په روایت کي د حلقې (سوري) خلاصولو یادونه نه ده سوې او دلته د حضرت بریده رضي الله عنه په روایت کي د هغه یادونه سوې ده.

د اوښ شکایت، د درختي سلام او د یو هلک د بد اثر څخه د خلاصون معجزې

﴿۵۶۷۰﴾: وَعَنْ يَعْلَى بْنِ مُرَّةَ الثَّقَفِيِّ قَالَ ثَلَاثَةُ أَشْيَاءٍ رَأَيْتُهَا مِنْ رَسُولِ اللهِ صَلَّى

: حضرت یعلي بن مره ثقفي رضي الله عنه څخه روایت دی چي دري شیان ما د رسول الله ﷺ د معجزو

اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ بَيْنَا نَحْنُ نَسِيرُ مَعَهُ إِذْ مَرَرْنَا بِبَعِيرٍ يُسْنَى عَلَيْهِ فَلَمَّا رَآهُ

څخه ولیدل: یو خو دا چي موږ د رسول الله ﷺ سره په سفر روان وو چي موږ یو څکیدونکی اوښ ولیدی چي د رسول الله ﷺ په لیدو سره یې فریاد وکړی

الْبَعِيرُ جَرْجَرَ فَوَضَعَ جِرَانَهُ فَوَقَفَ عَلَيْهِ النَّبِيُّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ فَقَالَ أَيْنَ

یې یې خپل غاړه پر مځکه کېښېښوده، رسول الله ﷺ د هغه اوښ سره ودریدی او پوښتنه یې

صَاحِبُ هٰذَا الْبَعِيرِ فَجَاءَهُ فَقَالَ بِعْنِيهِ فَقَالَ بَلْ نَهَبُهُ لَكَ يَا رَسُولَ اللهِ وَإِنَّهُ

وکړه د دې اوښ مالک چیري دی؟ هغه مالک حاضر سو، نو رسول الله ﷺ ورته وفرمایل ته دا اوښ پر ما خرڅ کړه، هغه عرض وکړ ای د الله رسوله!

لِأَهْلِ بَيْتٍ مَا لَهُمْ مَعِيشَةٌ غَيْرُهُ قَالَ أَمَا إِذَا ذَكَرْتَ هٰذَا مِنْ أَمْرِهِ فَإِنَّهُ شَكَا

تاسو ته یې په بخښنه درکوم، که څه هم دا اوښ د داسي کورنۍ دی چي د هغوئ سره د دې پرته بل هیڅ نسته، رسول الله ﷺ ورته وفرمایل هر کله چي دا حالت دی کوم چي تا بیان کړ نو اوښ

كَثْرَةَ الْعَمَلِ وَقِلَّةَ الْعَلَفِ فَأَحْسِنُوا إِلَيْهِ ثُمَّ سِرْنَا حتى نزلنا مَنْزِلًا فَنَامَ النَّبِيُّ

د کار د زیاتوالي او د خوراک د کمي څخه فریاد وکړ، نو تاسو د ده سره ښه چلن کوئ، دوهمه معجزه یې موږ مخته ولاړو تر دې چي موږ پر یوځای تم سوو او نبي کریم ﷺ ویده سو

صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ فَجَاءَتْ شَجَرَةٌ تَشُقُّ الْأَرْضَ حَتَّى غَشِيَتْهُ ثُمَّ رَجَعَتْ إِلَى

يوه درخته په مځکه څيرلو سره راغلل او رسول الله ﷺ يې پټ کړ، او ددې څخه وروسته بيرته

مَكَانِهَا فَلَمَّا اسْتَيْقَظَ رَسُوْلُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ ذَكَرْتُ لَهُ فَقَالَ هِيَ شَجَرَةٌ

خپل ځای ته ولاړل، کله چې رسول الله ﷺ راويښ سو نو ما ورته دا يادونه وکړه، رسول الله ﷺ وفرمايل: دا يوه درخته ده چې

اِسْتَأْذَنَتْ رَبَّهَا عَزَّ وَجَلَّ فِي أَنْ تُسَلِّمَ عَلٰى رَسُوْلِ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ فَأَذِنَ

د خپل پروردګار څخه يې اجازه غوښتې وه چې هغه د خدای پيغمبر ﷺ ته سلام وکړي، الله

لَهَا قَالَ ثُمَّ سِرْنَا فَمَرَرْنَا بِمَاءٍ فَأَتَتْهُ امْرَأَةٌ بِابْنٍ لَهَا بِهِ جِنَّةٌ فَأَخَذَ النَّبِيُّ صَلَّى اللهُ

تعالى اجازه ورکړه هغه د سلام لپاره راغلې وه، د يعلي بيان چې دريمه معجزه، بيا موږ پر مخ ولاړو او د اوبو سره نژدې تيريدو، يوې ښځې رسول الله ﷺ ته خپل زوی راوستی چې پر هغه

عَلَيْهِ وَسَلَّمَ بِمَنْخَرِهِ ثم قَالَ اُخْرُجْ فَإِنِّي مُحَمَّدٌ رَسُوْلُ اللهِ ثُمَّ سِرْنَا فَلَمَّا رَجَعْنَا

پيريان وه نبي کريم ﷺ د هغه هلک پزه ونيول او وه يې ويل: ووځه زه محمد د خدای رسول (ﷺ) يم، ددې څخه وروسته موږ پر مخ روان سوو او کله چې راستانه سو او پر هغه اوبو

مَرَرْنَا بِذٰلِكَ الْمَاءِ فَسَأَلَهَا عَنِ الصَّبِيِّ فَقَالَتْ وَالَّذِيْ بَعَثَكَ بِالْحَقِّ مَا رَأَيْنَا مِنْهُ رَيْبًا بَعْدَكَ. رواه في شرح السنة.

تيريدو نو د هغه هلک د مور څخه رسول الله ﷺ د هلک د حال پوښتنه وکړه، هغې ورته وويل په هغه ذات دې مې قسم وي چې تاسو يې په حقه راليږلی ياست بيا موږ پر دغه هلک هيڅ د پريشانۍ خبره ونه ليدل. شرح السنه.

تخريج: البغوي في شرح السنة ۱۳\۲۹۵، رقم: ۲۷۱۸.

د لغاتو حل: يسنى: اي يستقى: جرجر: اي صاح من الجرجرة. جرانية: اي مقدم عنقه.

د يو بل هلک د شيطاني اثر څخه د خلاصون معجزه

﴿۵۶۷۱﴾: وَعَنِ ابْنِ عَبَّاسٍ قَالَ إِنَّ امْرَأَةً جَاءَتْ بِابْنٍ لَهَا إِلٰى رسول الله صَلَّى

د حضرت ابن عباس رضی الله عنهما څخه روايت دی چې يوه ښځه د خپل زوی سره د نبي کريم ﷺ په خدمت

اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ فَقَالَتْ يَارَسُوْلَ اللهِ إِنَّ ابْنِيْ بِهِ جُنُوْنٌ وَإِنَّهُ لَيَأْخُذُهُ عِنْدَ

كي حاضره سوه او عرض يې وکړ اې دالله رسوله ! زما زوی ته ليونتوب دی چي سهار او مانبام

غَدَائِنَا وَعَشَائِنَا فَمَسَحَ رَسُوْلُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ صَدْرَهُ وَدَعَا فَثَعَّ ثَعَّةً وَخَرَجَ مِنْ جَوْفِهِ مِثْلَ الْجِرْوِ الْأَسْوَدِ يَسْعٰى . رواه الدارمي.

دوره پر راځي، رسول الله ﷺ د هغه هلک پر سينه خپل لاس مبارک را تير کړ او دعا يې وکړه، هغه هلک قی وکړ او يو تور شی د کوترې په مثل راووتی چي ځغاستی. ترمذي.

تخريج: سنن الدارمي ۱\ ۲۴، رقم: ۱۹.

د لغاتو حل: فثع: اي قاء

د درختي معجزه

﴿۵۶۷۲﴾: وَعَنْ أَنَسٍ قَالَ جَاءَ جِبْرِيْلُ إِلَى النَّبِيِّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ وَهُوَ

د حضرت انس رضی الله عنه څخه روايت دی چي رسول الله ﷺ غمگين ناست وو په وينو لړلی، ځکه چي

جَالِسٌ حَزِيْنٌ وَقَدْ تَخَضَّبَ بِالدَّمِ مِنْ فِعْلِ أَهْلِ مَكَّةَ فَقَالَ يَا رَسُوْلَ اللهِ

مکې والاوو ورته زخمونه رسولي وه، په دغه حال کي جبرائيل علیه السلام راغلی او وه يې فرمايل:

هَلْ تُحِبُّ أَنْ نُّرِيَكَ آيَةً قَالَ نَعَمْ فَنَظَرَ إِلٰى شَجَرَةٍ مِنْ وَّرَائِهِ فَقَالَ ادْعُ بِهَا

اې دالله رسوله ! ايا تاسو خوښوئ چي زه درته يوه معجزه وښيم، رسول الله ﷺ ورته وفرمايل: هو، نو جبرائيل علیه السلام د هغه درختي په لور وکتل چي د هغه شا ته وه، بيا يې رسول الله ﷺ ته وويل: دا درخته را وغواړه،

فَدَعَا بِهَا فَجَاءَتْ فَقَامَتْ بَيْنَ يَدَيْهِ فَقَالَ مُرْهَا فَلْتَرْجِعْ فَأَمَرَهَا فَرَجَعَتْ فَقَالَ رَسُوْلُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ حَسْبِيْ حَسْبِيْ . رواه الدارمي.

رسول الله ﷺ هغې ته اشاره وکړه هغه درخته راغلل او د رسول الله ﷺ مخته ودريدل، بيا جبرائيل علیه السلام ورته وويل اوس دې ته حکم وکړه چي بيرته ولاړه سي، رسول الله ﷺ هغې ته حکم وکړ نو هغه بيرته

ولاړل، ددې په ليدو سره رسول الله ﷺ وفرمايل : زما لپاره دا بس دي ، زما لپاره دا بس دي . دارمي.

تخريج: سنن الدارمي ۱۱\۷٦، رقم: ۲۳.

تشريح: چي د مکې اوسېدونکو ورته رسولي وه، ددې څخه د مکې د کفارو هغه بدچلن او تکليف رسول مراد دي چي د هغوئ له خوا رسول الله ﷺ ته د احد په غزا کي رسېدلي وه چي د هغه په نتيجه کي د رسول الله ﷺ غاښ مبارک شهيد سو او بارخو مبارک ئې زخمي سوی وو .

زما لپاره بس ده، زما لپاره بس ده، ددې څخه د رسول الله ﷺ مراد دا وو چي يوازي دغه مهرباني د الله ﷻ زما لپاره کافي ده ، ددغه معجزې په صورت کي د الله ﷻ په دربار کي د خپلي لوړي مرتبې او خپل عظمت په لېدو سره ما ته نه د خپلو زخمونو احساس پاته سوی دی او نه غم پاته سوی دی ، ددې څخه معلومه سوه چي د خارق عادت (يعني معجزه يا کرامت) ظهور د يقين او اعتقاد ټينګوالي او د غم په دفع کي مؤثر کردار ادا کوي او دا هم ثابته سول چي کوم بندګان د الله ﷻ په دربار کي د تقرب او عظمت مقام ته رسېدلي وي ، که هغوئ ته د دښمن او مخالف له خوا بدني يا روحاني تکليف او غم ورسيږي نو پر هغه باندي صبر کول پکار دي ځکه چي د دين په معامله کي څومره تکليف او پريشاني پېښيږي ، هغومره اجر زياتيږي .

د رسول الله ﷺ د رسالت شاهدي د درختي په ژبه

﴿۵٦۷۳﴾: وَعَنِ ابْنِ عُمَرَ قَالَ كُنَّا مَعَ النَّبِيِّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ فِيْ سَفَرٍ

د حضرت ابن عمر رضي الله عنهما څخه روايت دی چي موږ د رسول الله ﷺ سره په سفر کي وو چي يو

فَأَقْبَلَ أَعْرَابِيٌّ فَلَمَّا دَنَا قَالَ لَهُ رَسُوْلُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ تَشْهَدُ أَنْ لاَّ

صحرايي راغلی ، کله چي هغه رسول الله ﷺ ته نژدې سو نو رسول الله ﷺ ورته وفرمايل : ايا ته ددې خبري شاهدي ورکوي چي

إِلٰهَ إِلاَّ اللهُ وَحْدَهُ لاَ شَرِيْكَ لَهُ وَأَنَّ مُحَمَّدًا عَبْدُهُ وَرَسُوْلُهُ قَالَ وَمَنْ يَّشْهَدُ

ديو خدای ﷻ څخه پرته بل څوک د عبادت وړ نه سته او محمد ﷺ د خدای بنده او د هغه رسول دی؟ صحرايي وويل : بل څوک ددې شاهدي ورکوي

عَلٰى مَا تَقُوْلُ قَالَ هٰذِهِ السَّلَمَةَ فَدَعَاهَا رَسُوْلُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ وَهُوَ

کوم چي تا وويل ؟ رسول الله ﷺ ورته وفرمايل دا د سلمه درخته به شاهدي وکړي، ددې

فرمايلو سره رسول الله ﷺ هغه درختي ته نعرې كړې ، رسول الله ﷺ

بِشَاطِئِ الْوَادِيْ فَأَقْبَلَتْ تَخُدُّ الْأَرْضَ حَتَّى قَامَتْ بَيْنَ يَدَيْهِ فَاسْتَشْهَدَهَا ثَلَاثًا أَنَّهُ كَمَا قَالَ ثُمَّ رَجَعَتْ إِلَى مَنْبَتِهَا . رواه الدارمي.

د شيلې پر غاړه وو هغه درخته په مځكه پرې كولو سره رسول الله ﷺ ته راغلل او مخته يې ودريدل، رسول الله ﷺ د هغې څخه درې واره شاهدي وغوښتل او هغه درختي درې واره شاهدي وركړه ، ددې څخه وروسته هغه درخته خپل ځاى ته ولاړل . دارمي.

تخريج: سنن الدارمي ١\٢٢، رقم: ١٦.

د لغاتو حل: السلمة: شجرة من البادية.

د خرما دوانبكي شاهدي

﴿٥٦٧٤﴾: وَعَنِ ابْنِ عَبَّاسٍ قَالَ جَاءَ أَعْرَابِيٌّ إِلَى رَسُولِ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ

د حضرت ابن عباس رضي الله عنهما څخه روايت دى چې يو صحرايي د نبي كريم ﷺ په خدمت كې حاضر

وَسَلَّمَ قَالَ بِمَ أَعْرِفُ أَنَّكَ نَبِيٌّ قَالَ إِنْ دَعَوْتُ هَذَا الْعِذْقَ مِنْ هَذِهِ النَّخْلَةِ

سو وه يې ويل په كومه علامه به زه پوه سم چې تاسو نبي ياست؟ رسول الله ﷺ ورته وفرمايل : زه د خرما دغه وانبكى را غواړم

أَتَشْهَدُ أَنِّي رَسُولُ اللَّهِ فَدَعَاهُ رَسُولُ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ فَجَعَلَ يَنْزِلُ

هغه به شاهدي ووايي چې زه د خداى رسول يم، رسول الله ﷺ هغه وانبكى را وبلى او هغه د

مِنَ النَّخْلَةِ حَتَّى سَقَطَ إِلَى النَّبِيِّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ ثُمَّ قَالَ ارْجِعْ فَعَادَ فَأَسْلَمَ الْأَعْرَابِيُّ. رواه الترمذي.

درختي څخه په راكښته كيدو سو ، د رسول الله ﷺ نژدې پر مځكه را ايله سو ، بيا رسول الله ﷺ ورته وفرمايل : بيرته ولاړ سه ، هغه وانبكى بيرته ولاړى ، ددې معجزې ليدو سره هغه صحرايي مسلمان سو . ترمذي.

تخريج: سنن الترمذي ٥\ ٥٥٤، رقم: ٣٦٢٨.

د شرموښ خبري کول

﴿٥٦٧٥﴾: وَعَنْ أَبِي هُرَيْرَةَ قَالَ جَاءَ ذِئْبٌ إِلَى رَاعِي غَنَمٍ فَأَخَذَ مِنْهَا شَاةً فَطَلَبَهُ

د حضرت ابو هريره رضي الله عنه څخه روايت دی چي يو شرموښ راغلی او د شپانه د رمې څخه يې يو پسه

الرَّاعِي حَتَّى انْتَزَعَهَا مِنْهُ قَالَ فَصَعِدَ الذِّئْبُ عَلَى تَلٍّ فَأَقْعَى وَاستنفرو وَقَالَ

پورته کړ، شپانه ورپسي ورغلی او پسه يې ځيني ونيوی، دا بوهريره بيان دی چي بيا هغه شرموښ يوې غونډۍ ته وختی او هلته د اقعاء په ډول کښينستی وه يې ويل :

قَدْ عَمَدْتُ إِلَى رِزْقٍ رَزَقَنِيهِ اللهُ أَخَذْتُهُ ثُمَّ انْتَزَعْتَهُ مِنِّي فَقَالَ الرَّجُلُ تَاللهِ إِنْ

ما د خپل رزق اراده کړې وه چي الله جل جلاله راکړ، ما پر هغه قبضه وکړه مګر تا زما څخه هغه په زور واخيست، شپانه ورته وويل : قسم په خدای

رَأَيْتُ كَالْيَوْمِ ذِئْب يَتَكَلَّمُ فَقَالَ الذِّئْبُ أَعْجَبُ مِنْ هٰذَا رَجُلٌ فِي النَّخْلَاتِ بَيْنَ

داسي عجيبه کار ما هيڅکله نه دی ليدلی کوم چي نن مي ليدلی دی چي شرموښ خبري کوي، شرموښ ورته وويل د دې څخه زيات عجيبه د هغه سړي حال دی چي په درختو کي دی، د

الْحَرَّتَيْنِ يُخْبِرُكُمْ بِمَا مَضَى وَبِمَا هُوَ كَائِنٌ بَعْدَكُمْ فَكَانَ الرَّجُلُ يَهُودِيًّا فَجَاءَ

خرماو هغه درختي چي دوو ډبرينو مځکو په منځ کي واقع دی (يعني مدينه طيبه)، هغه سړی د تيرو خبرو خبر ورکوي او کومي پېښي چي ستاسو څخه وروسته کيدونکي دي هغه هم ښيي، د ابو هريره رضي الله عنه بيان دی چي هغه شپانه يهودي وو،

إِلَى النَّبِيِّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ فَأَخْبَرَهُ وَأَسْلَمَ فَصَدَّقَهُ النَّبِيُّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ

د شرموښ څخه د دا خبري په اوريدو سره هغه د نبي کريم صلی الله عليه وسلم په خدمت کي حاضر سو او پېښه يې

وَسَلَّمَ ثُمَّ قَالَ النَّبِيُّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ إِنَّهَا أَمَارَاتٌ بَيْنَ يَدَيِ السَّاعَةِ قَدْ

ورته بيان کړل او مسلمان سو، رسول الله صلی الله عليه وسلم دا خبره تصديق کړه، او بيا يې وفرمايل : دا د قيامت تر مخه علامې دي هغه وخت نژدې دی

أُوْشَكَ الرَّجُلُ أَنْ يَّخْرُجَ فَلاَ يَرْجِعُ حَتّٰى يُحَدِّثَهُ نَعْلاَهُ وَسَوْطُهُ بِمَا أَحْدَثَ أَهْلَهُ بَعْدَهُ. رواه في شرح السنة.

چي سړی به د کور څخه ووځي کور ته به لا نه وي راغلی چي د هغه څپلی او د هغه د غمچيني تسمه هغه ته ټولي خبري بيان کړي چي د هغه په نه شتون کي د ده اهل کړي وي. شرح السنه.

تخريج: البغوي في شرح السنة ۱۵\۸۷، رقم: ۴۲۸۲.

د لغاتو حل: استثفر: اي ادخل ذنبه بين رجليه.

تشريح: توريشتي رحمة الله عليه ليکلي دي، د هغه شپانه نوم چي وروسته په اسلام او صحابيت مشرف سو، اهبار ابن اوس خزاعي وو، د دغه پېښي په نسبت هغه ته (مکلم الذئب) ويل کېدل پيل سول، مګر د روايت د دغه الفاظ چي هغه يهودي وو، د دې خبري ترديد کوي چي اهبار ابن اوس خزاعي وو ځکه چي د خزاعه قبيلې خلک يهوديان نه وه مګر دا ويل کيدای سي چي د اهبار ابن اوس تعلق د خزاعه قبيلې سره وو او هغه د خپلي قبيلې پر خلاف د يهوديت مذهب اختيار کړی وو، په دغه صورت کي د توريشتي رحمة الله عليه پر قول باندي دغه اعتراض نه کيږي.

د خرماوو د درختو شاته د دوو ډبرينو مځکو د منځ څخه مراد د مدينې ښار وو او دوه غرونه په اصل کي د حرتينو ترجمه ده چي د حرتين تثنيه ده، د حره معنی د ډبريني مځکي ده، د مدينې ښار په يو داسي ميدان کي اباد دی چي د لويديځ او ختيځ له خوا د دوو ډبرينو مځکو په منځ کي واقع دی.

د تېرو خبرو څخه د تېرو امتونو حال مراد دی او د وروسته واقع کېدونکو خبرو څخه مراد د راتلونکو زمانو کومي پېښي را منځته کيږي د هغه وړاندي وينه هم ده او د آخرت حقائق او کوائف ښودل هم دي.

برکت به د کوم ځای څخه راتلی؟

﴿۵۶۷۶﴾: وَعَنْ أَبِي الْعَلاَءِ عَنْ سَمُرَةَ بْنِ جُنْدَبٍ قَالَ كُنَّا مَعَ النبي صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ نَتَدَاوَلُ فِي قَصْعَةٍ مِنْ غُدْوَةٍ حَتَّى اللَّيْلِ يَقُومُ عَشَرَةٌ وَيَقْعُدُ

حضرت ابو العلاء رضي الله عنه د حضرت سمره بن جندب رضي الله عنه څخه روايت کوي موږ خلکو به د يوې کاسې څخه د سهار څخه آن تر ماښام پوري نوبت په نوبت خوراک کوی لس کسه به ولاړېدل او

عَشَرَةٌ قُلْنَا فَمَا كَانَتْ تُمَدُّ قَالَ مِنْ أَيِّ شَيْءٍ تَعْجَبُ مَا كَانَتْ تُمَدُّ إِلَّا مِنْ هَاهُنَا وَأَشَارَ بِيَدِهِ إِلَى السَّمَاءِ. رواه الترمذي والدارمي.

لس کسه به کښېنستل، موږ د سمره څخه پوښتنه وکړل د کاسې سره به په څه شي سره مرسته کېدل، (يعني په کاسه کې به د خوراک زياتوب څنګه کېدی)، هغه وويل : تاسو پر څه شي تعجب کوئ په هغه کي به آسماني برکت ګډېدی او خوراک به زياتيدی او په لاس سره يې اسمان ته اشاره وکړه ، ترمذي او دارمي.

تخريج: سنن الترمذي ٥\ ٥٥٣،رقم: ٣٦٢٥، والدارمي ١\ ٤٣،رقم: ٥٦.

د لغاتو حل: عدوة: اي من اول النهار.

تشريح: ستا لپاره په دې کي د تعجب څه خبره ده، سوال خو د ټولو تابعينو له خوا وو چي د هغوئ په وړاندي حضرت سمره ﷺ بيان وکړ مګر حضرت سمره ﷺ په جواب کي يوازي ابوالعلاء مخاطب کړ ځکه چي لومړی خو هغه هم د سوال کونکو څخه وو ، دوهم دا چي په هغه مجلس کي د حضرت ابو العلاء رحمة الله عليه حيثيت د جليل القدر تابعينو څخه د کېدو په وجه تر ټولو ترګند وو، يا دا چي حضرت سمره ﷺ يو سړی يا يوازي د هغه مجلس خلک مخاطب نه کړل بلکه د هغه خطاب په عمومي توګه هر هغه سړي ته دی کوم چي دغه حديث واوري يا يې روايي، په هر حال د حضرت سمره ﷺ مطلب دا وو چي په دې کي د تعجب څه خبره ده چي هغه په يوې پياله کي موجود لږ خوراک څخه دومره زياتو خلکو ټوله ورځ وخوړل، سره د دې چي په ظاهره توګه داسي يوه ذريعه نه وه چي په هغه سره د هغه پيالې په خوراک کي زياتوب وسو ځکه چي دا خو د معجزې خبره ده ، د الله ﷻ او د هغه د رسول معامله وه، د الله ﷻ رسول به دعاء کول او په خپل لاس مبارک به يې هغه پياله مسه کول چي د هغه په سبب الله ﷻ د آسمان څخه برکت نازلوی او په هغه پياله کي د آسمان څخه خوراک نازلېدی، دلته د قرآن کريم دغه آيت کريمه (وفي السماء رزقکم) ته اشاره ده .

د بدر په غزا کي د قبوليت دعاء

﴿٥٦٧٧﴾: وَعَنْ عَبْدِ اللهِ بْنِ عَمْرٍو أَنَّ النَّبِيَّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ خَرَجَ يَوْمَ

د حضرت عبدالله بن عمرو ﷺ څخه روايت دی چي د بدر په ورځ رسول الله ﷺ

بَدْرٍ فِيْ ثَلَاثَمِائَةٍ وَخَمْسَةَ عَشَرَ قَالَ اَللّٰهُمَّ إِنَّهُمْ حُفَاةٌ فَاحْمِلْهُمْ اَللّٰهُمَّ

د درو سوو پنځلس (۳۱۵) کسانو سره ووتی او دا دعاء يې وکړه اې الله! دا خلک پر پښو دي دوئ ته سپرلی ورکړې، اې الله!

إِنَّهُمْ عُرَاةٌ فَاكْسُهُمْ اَللّٰهُمَّ إِنَّهُمْ جِيَاعٌ فَأَشْبِعْهُمْ فَفَتَحَ اللّٰهُ لَهُ فَانْقَلَبُوْا

دوئ لوڅ دي جامه ورکړې، اې الله! دوئ وږي دي په ماړه نس ډوډۍ ورکړې، نو الله تعالی مسلمانانو ته فتح ورکړه او هغوئ په داسي حال کي راستانه سول چي

وَمَا مِنْهُمْ رَجُلٌ إِلاَّ وَقَدْ رَجَعَ بِجَمَلٍ أَوْ جَمَلَيْنِ وَاكْتَسَوْا وَشَبِعُوْا. رواه أبو داود

په هغوئ کي يو سړی هم داسي نه وو چي يو يا دوه اوښه به ورسره نه وه، په جامو پټ او په نس ماړه هم سول. ابوداؤد.

تخريج: سنن ابي داود ۳\ ۱۸۰، رقم: ۲۷۴۷.

تشريح: مطلب دا چي د ماته خوړونکو دښمنانو کوم اوښان، جامې او خوراکي سامان د غنيمت په توګه اسلامي لښکر ته په لاس ورغلی د هغه په وجه مجاهدينو ته اوښان هم تر لاسه سول، جامې هم تر لاسه سوې، په نس هم ماړه سول نو د رسول الله ﷺ هره دعاء قبوله سول.

له دې څخه معلومه سول چي د دعاء قبلېدل او بيا دومره ژر او په پوره توګه قبلېدل خارق عادت (يعني د معجزې او کرامت) له قبيل څخه دي او دا نتيجه ده د هغه صبر چي د هغه ځرګندونه د الله ﷻ په لاره کي پر پېښېدونکو ټولو مصيبتو او پريشانيو باندي د رسول الله ﷺ او د اسلام د مجاهدينو له خوا وسول لکه څرنګه چي په يو حديث کي راغلي دي: ان الصبر على ما يكره فيه خير كثير، پر ناخوښو او پريشانه کوونکو کارو باندي صبر کول په حقيقت کي د ډېرو شيانو او ګټو تر لاسه کول دي، او ددغه صبر ثمره وه چي په دنيا کي تر لاسه سول، او اصل ثمره خو پاته ده چي په آخرت کي به تر لاسه کيږي (والاخرة خير وابقى).

يو زيری او يو هدايت

﴿۵۶۷۸﴾: وَعَنِ ابْنِ مَسْعُوْدٍ عَنْ رَّسُوْلِ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ قَالَ إِنَّكُمْ مَنْصُوْرُوْنَ وَمُصِيْبُوْنَ وَمَفْتُوْحٌ لَّكُمْ فَمَنْ أَدْرَكَ ذٰلِكَ مِنْكُمْ فَلْيَتَّقِ اللّٰهَ

وَلْيَأْمُرْ بِالْمَعْرُوفِ وَلْيَنْهِ عَنِ الْمُنْكَرِ . رواه أبو داود.

د حضرت ابن مسعود رضي الله عنه څخه روايت دئ چي رسول الله ﷺ وفرمايل : ستاسي سره به (د الله جل جلاله له طرفه) مرسته وکړل سي او تاسي به غنيمتونه پيدا کړئ او تاسي ته به فتحه نصرت درکړل سي نو په تاسي کي چي څوک دغه حال تر لاسه کړي نو وه دي دربېږي او امر بالمعروف او نهي عن المنكر دي کوي . ابوداؤد .

تخريج: مسند ابي داود الطيالسي ص: ۴۴– ۴۵، رقم: ۳۳۷.

د لغاتو حل: مصيبون: اي مصيبون للغنام.

تشريح: د دغه ارشاد په ذريعه رسول الله ﷺ د اعتدال او توازن د لاري لاربښوونه وفرمايل چي هيڅوک دي د فتح او کاميابۍ او د مال په زياتوب سره د خپل حيثيت او خپل منصب او مقصد څخه نه غافل کيږي او د غرور، تکبر ، اصراف او ظلم پر لاره باندي په تللو سره د الله جل جلاله د غضب مورد دي نه جوړيږي .

په اصل کي د دغه ارشاد په ذريعه رسول الله ﷺ ، مسلمانان د قرآن کريم دغه آيت ته متوجه کړل چي په هغه کي فرمايل سوي دي :

(الَّذِينَ إِن مَّكَّنَّاهُمْ فِي الأَرْضِ أَقَامُوا الصَّلاَةَ وَآتَوُا الزَّكَاةَ وَأَمَرُوا بِالْمَعْرُوفِ وَنَهَوْا عَنِ الْمُنكَرِ)،

دغه (ريښتوني مسلمانان) داسي دي که موږ دوئ ته په دنيا کي حکومت او امارت ورکړو نو دا خلک د لمانځه پابندي کوي او زکوة ورکوي او نورو خلکو ته هم د نيکو کارو تلقين او هدايت کوي او د خرابو کارو څخه يې منع کوي .

په زهر لړلو غوښو د شاهدۍ معجزه

﴿۵۶۷۹﴾: وَعَنْ جَابِرٍ أَنَّ يَهُودِيَّةً مِنْ أَهْلِ خَيْبَرَ سَمَّتْ شَاةً مَصْلِيَّةً ثُمَّ أَهْدَتْهَا

د حضرت جابر رضي الله عنه څخه روايت دی چي د اهل خيبر يوې يهودي ښځي د يو وريي په غوښه کي زهر ګډ کړي وه بيا يې د تحفې په توګه

لِرَسُولِ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ فَأَخَذَ رَسُولُ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ الذِّرَاعَ

رسول الله ﷺ ته هغه غوښه راوړل، رسول الله ﷺ د هغې څخه ورون واخيست ، خپله يې هم

فَأَكَلَ مِنْهَا وَأَكَلَ رَهْطٌ مِنْ أَصْحَابِهِ مَعَهُ فقال رَسُولُ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ

وخوړل او صحابه کرامو هم، (د خوراک په دوران کې) رسول الله ﷺ صحابه کرامو ته وويل

ارْفَعُوا أَيْدِيَكُمْ وَأَرْسَلَ إِلَى الْيَهُودِيَّةِ فَدَعَاهَا فَقَالَ لَهَا أَسَمَمْتِ هَذِهِ الشَّاةَ

لاسونه پورته کړئ (يعني مه يې خورئ)، بيا يې په هغه يهودۍ پسې څوک وليږل او را وه يې غوښتله او هغې ته يې وفرمايل: ايا تا په دغه (غوښه) کې زهر ګډ کړي دي؟

فَقَالَتِ الْيَهُودِيَّةُ مَنْ أَخْبَرَكَ قَالَ أَخْبَرَتْنِي هَذِهِ فِي يَدِي لِلذِّرَاعِ قَالَتْ نَعَمْ قُلْتُ

هغې ورته وويل: تاسو ته چا وويل؟ رسول الله ﷺ ورته وفرمايل: ما ته (د غوښو) دغه ورون وويل کوم چې زما په لاس کې دی، هغې وويل: هو ما پکښې ګډ کړي دي، او په ذې خيال مې

إِنْ كَانَ نَبِيًّا فَلَنْ يَضُرَّهُ وَإِنْ لَمْ يَكُنْ نَبِيًّا اسْتَرَحْنَا مِنْهُ فَعَفَا عَنْهَا رَسُولُ اللهِ

پکښې اچولي وه که تاسو نبي ياست نو هيڅ تاوان به درته ونه رسوي او که نه ياست نو موږ به درڅخه خلاص سو، رسول الله ﷺ هغه يهودۍ معاف کړه

صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ وَلَمْ يُعَاقِبْهَا وَتُوُفِّيَ بَعْضُ أَصْحَابِهِ الَّذِينَ أَكَلُوا مِنَ الشَّاةِ

او سزا يې ور نه کړل، او په صحابه کرامو کې چې کومو کسانو هغه غوښه خوړلې وه هغوئ مړه

وَاحْتَجَمَ رَسُولُ اللهِ ﷺ عَلَى كَاهِلِهِ مِنْ أَجْلِ الَّذِي أَكَلَ مِنَ الشَّاةِ حَجَمَهُ أَبُو هِنْدٍ

سوه، او د دغه غوښو خوړلو له جهته رسول الله ﷺ د خپلو اوږو په منځ کې (د وينې کښلو لپاره) ښکر ولګوی، او ابوهند

بِالْقَرْنِ وَالشَّفْرَةِ وَهُوَ مَوْلًى لِبَنِي بَيَاضَةَ مِنَ الْأَنْصَارِ. رواه ابوداؤد والدارمي.

ښکر و لګوی په ښکر او په چاړه سره او ابوهند د بني بياضه ازاد کړل سوی غلام وو. ابوداؤد او دارمي

تخريج: سنن ابي داود ۴\۶۴۸، رقم: ۴۵۱۰، وسنن الدارمي ۱\۴۶، رقم: ۶۸.

د لغاتو حل: مصلية: اي مشوية. (ايشول سوې)

تشريح: د هغه يهودۍ نوم زينت حارث وو او د سلام بن مشکم ښځه وه، په يو بل روايت کې دا هم منقول دي چې هغه ښځې د خلکو څخه معلومه کړې وه چې رسول الله ﷺ ته کومه برخه د غوښو خوښه وه، هغې يو وری ذبح کړ او د هغه په ايشولو سره يې پکښې داسي ژر اثر کونکي زهر يو ځای کړل چې د خوړلو سمدستي مړ سي، په ورانه کې يې زيات زهر ګډ کړل او بيا يې

هغه وری رسول الله ﷺ او صحابه کرامو ته راوړ،

نو دغه په زهرو لړل سوی وری به هیڅکله تاوان ونه رسوي، یعني یا خو په دې وجه پر انبیاؤ باندې زهر اثر نه کوي چې د هغوئ ژوند ختم کړي یا په دې وجه چې د دعوت اسلام د اتمام او دین د تکمیل څخه مخکي د رسول الله ﷺ مرګ واقع کېدای نه سو، د لومړي احتمال په صورت کي هغه روایت د سوال باعث کیدای سي چې په هغه کي یې ویلي دي چې د رسول الله ﷺ وفات د هغه زهرو د تاثیر په وجه وسو کوم چې په خیبر کي رسول الله ﷺ ته په خوراک کي ورکړل سوي دي مګر محققینو لیکلي دي چې دا روایت صحیح نه دی، د دغه سوال هیڅ شبه نه پیدا کیږي بلکه په یوه روایت کي خو دا راغلي دي چې یو چا له رسول الله ﷺ څخه د مرګ په ناروغۍ کي پوښتنه وکړل چې په تاسو کي د هغه زهرو اثر تاثیر کوي کوم چې په خیبر کي تاسو ته درکړل سوي وه، رسول الله ﷺ وفرمایل: ما ته تر دې هیڅ تکلیف نه سي رسېدلای کوم چې زما په مقدر کي لیکلی دی او څه چې الله ﷻ غواړي.

هغه ښځه یې معاف نه کړل او هیڅ سزا یې ور نه کړل، په دې اړه ځینو حضراتو ویلي دي چې هغه ښځه نه ووژل سول او نه بله سزا ورکړل سول او هغې اسلام قبول کړی وو، سلیمان تیمي په خپل کتاب، المغازي کي د دغه روایت په نقل کولو سره د (فلن یضره) څخه وروسته دا نقل کړي دي (وان کنت کاذبا ارحت الناس منک وقد استبان لي انک صادق وانا اشهدک ومن حضر علی دینک ان لااله الاالله وان محمدا عبده ورسوله) یعني هغه ښځي وویل: ما فکر کړی وو که محمد ﷺ نبي وي نو دغه زهر به هغه ته هیڅ تاوان ونه رسوي او که (نعوذبالله) دروغجن وي نو زه به خلکو ته له هغه څخه خلاصون ورکړم، مګر اوس ما ته څرګنده سول چې رسول الله ﷺ په حقیقت سره رسول دی زه د رسول الله ﷺ او هغه چا چې د هغه پر دین قائم وي، په شاهد ګرځولو سره اقرار کوم چې د الله ﷻ څخه ماسوا بل معبود نسته او بېله شکه محمد (ﷺ) د الله ﷻ بنده او د هغه رسول دی، مګر طیبي رحمة الله علیه لیکلي دي چې په دې اړه اختلاف دی لکه څرنګه چې په ځینو روایتو کي راغلي دي چې رسول الله ﷺ هغه ښځه معاف کړل او هیڅ سزا یې ور نه کړل، همدارنګه په یوه روایت کي دا هم راغلي دي چې رسول الله ﷺ د هغه ښځي د وژلو حکم وکړ نو هغه قتل کړل سول، نو د دغه دواړو روایتو په منځ کي تطبیق دا دی چې په پیل کي رسول الله ﷺ هغه ښځه معاف کړې وه او سزا یې ور نه کړل په دې اعتبار په ځینو روایتو کي د معافی ذکر سوی دی مګر بیا وروسته کله چې د هغه زهرجنو غوښو په خوړلو سره د رسول الله ﷺ یو صحابي حضرت بشر ابن براء ابن معرور مرګ د هغه زهرو په وجه وسو چې

هغه د رسول الله ﷺ د منع كولو څخه مخكې د غوښو يوه ټوټه خوړلې وه ، رسول الله ﷺ د هغه يهودي ښځې د قتل حكم صادر كړ نو هغه ښځه د حضرت بشر رضي الله عنه په قصاص كې قتل كړل سول او په دې وجه په ځينو روايتو كي د هغه ښځي د وژل كېدو او سزا وركول كېدو يادونه ده .

د حنين په غزا كې د فتح وړاندوينه

﴿۵۶۸۰﴾: وَعَنْ سَهْلِ ابْنِ الْحَنْظَلِيَّةِ أَنَّهُمْ سَارُوا مَعَ رَسُولِ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ

د حضرت سهل بن حنظليه رضي الله عنه څخه روايت دى چې صحابه كرام د رسول الله ﷺ سره روان سول

وَسَلَّمَ يَوْمَ حُنَيْنٍ فَأَطْنَبُوا السَّيْرَ حَتَّى كَانَتْ عَشِيَّةً فَجَاءَ فَارِسٌ فَقَالَ يَا رَسُولَ

د حنين په جنګ كې او اوږد سفر يې وكړ تر هغو چې شپه سول، يو سپور حاضر سو او عرض يې

اللّٰهِ إِنِّي طلعت طَلَعْتُ جَبَلَ كَذَا وَكَذَا فَإِذَا أَنَا بِهَوَازِنَ عَلَى بَكْرَةِ آبَائِهِمْ بِظُعُنِهِمْ

وكړ اې د الله رسوله ! زه پر داسي او داسي غره ختلى وم (د غره كيفيت يې ورته بيان كړ) ما وليدل چې د هوازن قبيله د خپل پلار پر اوښ راغلې ده (دا يو محاوره ده يعني د دې قبيلې

وَنَعَمِهِمْ اجْتَمَعُوا إِلَى حُنَيْنٍ فَتَبَسَّمَ رَسُولُ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ وَقَالَ تِلْكَ

خاوندانو په خپلو كې خبري اترې كولې چې مراد ځيني ټوله قبيله ده) د هغه قبيلې سره د هغوئ ښځې او اوښان هم وه او دا ټول د حنين په لور روان سوي دي، ددې اوريدو سره رسول الله ﷺ په مسكا سو او وه يې فرمايل :

غَنِيمَةُ الْمُسْلِمِينَ غَدًا إِنْ شَاءَ اللّٰهُ ثُمَّ قَالَ مَنْ يَحْرُسُنَا اللَّيْلَةَ قَالَ أَنَسُ بْنُ أَبِي

كه الله جل جلاله ته منظوره وي نو سبا به دا ټول شيان د مسلمانانو غنيمت وي، ددې څخه وروسته رسول الله ﷺ وفرمايل : نن شپه به زموږ چوكيداري څوك كوي ؟ انس بن ابي

مَرْثَدٍ الْغَنَوِيُّ أَنَا يَا رَسُولَ اللّٰهِ قَالَ ارْكَبْ فَرَكِبَ فَرَسًا لَهُ فَقَالَ اسْتَقْبِلْ هَذَا

مرثد غنوي رضي الله عنه عرض وكړ اې د الله رسوله ! دا خدمت به زه تر سره كړم، رسول الله ﷺ ورته وفرمايل : ښه دى سپور سه، حضرت انس رضي الله عنه پر خپل آس سپور سو ، رسول الله ﷺ ورته

الشِّعْبَ حَتَّى تَكُونَ فِي أَعْلَاهُ فَلَمَّا أَصْبَحْنَا خَرَجَ رَسُولُ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ

وفرمايل : دغه درې ته مخ كړه تر هغو چې د غره سر ته ورسېږې ، كله چې سهار سو نو رسول الله

إِلَى مُصَلَّاهُ فَرَكَعَ رَكْعَتَيْنِ ثُمَّ قَالَ هَلْ أَحْسَسْتُمْ فَارِسَكُمْ فقال رجل يَا

ﷺ د لمانځه لپاره تشريف يوور ، دوه ركعته لمونځ يې وكړ بيا يې وفرمايل ايا تاسو خپل سپور ليدلى دى يو سړي عرض وكړ چي

رَسُولَ اللّٰهِ مَا أَحْسَسْنَاهُ فَثُوِّبَ بِالصَّلَاةِ فَجَعَلَ رَسُولُ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ

نه مو دى ليدلى ، ددې ځخه وروسته اقامت وسو (لمونځ پيل سو) رسول الله ﷺ (په لمانځه كي)

يُصَلِّي وَهُوَ يَلْتَفِتُ إِلَى الشِّعْبِ حَتَّى إِذَا قَضَى صَلَاتَهُ وَسَلَّمَ قَالَ أَبْشِرُوا فَقَدْ

د درې خوا ته كتل كله چي رسول الله ﷺ د لمانځه ځخه فارغ سو نو وه يې فرمايل : خوشحاله سئ

جَاءَكُمْ فَارِسُكُمْ فَجَعَلْنَا نَنْظُرُ إِلَى خِلَالِ الشَّجَرِ فِي الشِّعْبِ فَإِذَا هُوَ قَدْ جَاءَ

ستاسو سپور را روان دى ، موږ د درختو په منځ كي د غره د شيلې خوا ته وكتل چي سپور را

حَتَّى وَقَفَ عَلَى رَسُولِ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ فَسَلَّمَ فَقَالَ إِنِّي انْطَلَقْتُ حَتَّى

روان وو ، سپاره د رسول الله ﷺ مخكي د حاضريدو سره عرض وكړ چي زه ددې ځاى ځخه روان

كُنْتُ فِي أَعْلَى هَذَا الشِّعْبِ حَيْثُ أَمَرَنِي رَسُولُ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ فَلَمَّا

سوم او د غره سر ته ورسيدم كوم ځاى ته چي تاسو د ورتلو حكم كړى وو ، كله چي سهار سو نو

أَصْبَحْتُ اطَّلَعْتُ الشِّعْبَيْنِ كِلَيْهِمَا فَلَمْ أَرَ أَحَدًا فَقَالَ لَهُ رَسُولُ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ

پر دواړو درو باندي وختلم هلته مي هيځوك ونه ليدل ، رسول الله ﷺ هغه سپور ته وفرمايل :

عَلَيْهِ وَسَلَّمَ هَلْ نَزَلْتَ اللَّيْلَةَ قَالَ لَا إِلَّا مُصَلِّيًا أَوْ قَاضِيًا حَاجَةً قَالَ لَهُ رَسُولُ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ فَلَا عَلَيْكَ أَنْ لَا تَعْمَلَ بَعْدَهَا. رواه ابوداؤد.

ايا ته د شپې د آس ځخه كښته سوى وې هغه وويل يوازي دلمانځه يا حاجت انساني لپاره كښته سوى وم ، رسول الله ﷺ ورته وفرمايل كه چيري ته ددې ځخه وروسته يو عمل ونه كړي نو هم هيڅ پروا نه سته . ابوداؤد .

تخريج: سنن ابي داود ۳\۲۰۱۳، رقم: ۲۵۰۱.

د لغاتو حل: هوازن: قبيلة كبيرة. (يوه لويه قبيله). بظعنهم: الرجال والنساء الذين يرتحلون . (کوچ کوونکي). فثوب: اي اقيم. (هستوکنه)

تشريح: بكرة، ځوان اوښ ته وايي، او (على بكرة ابيهم) د عربو يوه محاوره ده چي د هغه چا په اړه استعماليږي چي يو ځای ته راسي او ټول يو ځای راسي او په هغوئ کي هيڅوک پاته نه سي، دغه محاوره د هغه وخت څخه رواج وه چي په يوه زمانه کي په يو ځای کي د عربو د يوې ډلي خلک يو ځای ته دتللو لپاره تيار سول، هغوئ کوچ وکړ، نو کوم چا چي چيري ولاړ اوښ پيدا کړ هغه يې ونيوی او پر هغه سپور روان سو، هغه اوښ خپله د هغه خلکو ملکيت نه وو بلکه د هغوئ د پلار وه چي ځرېدل، همدارنګه هغه ټول خلک پر اوښانو سپاره روان سول نو په هغوئ کي هيڅوک داسي پاته نه سو چي پر اوښ دي سپور نه وو، نو ددې وروسته دا محاوره رواج سول چي کله د يو قوم يا ډلي خلک ټول يو ځای تلل نو د هغوئ د اجتماعيت بيانولو لپاره به ويل کيدل چي (جاءوا على بكرة ابيهم) يعني هغه خلک د خپل پلار پر اوښانو راغلل.

قاضي رحمة الله عليه ليکلي دي چي په (على بكرة ابيهم) کي د على لفظ د مع په معنی کی دی او دغه جمله د ضرب الامثال په توګه استعماليږي او دا متل د هغه څخه رواج وو چي د عربو يوې کورنۍ د يوې پېښي په وجه د خپلي سيمي پرېښودلو ته مجبور سول نو هغه ټولو خلکو د هغه ځای څخه کوچ وکړ، هغه خلکو به هيڅ شی تر خپل شا پرېښودل نه غوښتل ځکه هر شی له ځان سره واخيست تر دې چي يو اوښ چي د هغوئ سره وو، هغه يې هم د ځان سره بوتلی، له دې کبله ځينو خلکو وويل: (جاءوا على بكرة ابيهم) يعني دغه خلکو هر څه له ځان سره يووړل، تر دې چي د خپل پلار اوښ يې هم راوست، ددې څخه دغه جمله د خلکو ضرب المثال وګرځېدل، که څه هم له هغوئ سره اوښ وو يا نه وو، او ځينو حضراتو دا ليکلي دي چي يو سړی خپل ټوله کورنۍ پر اوښ سپاره کړل او ګرځېدی، د هغه په لېدو سره يو چا دغه جمله وويل او له هغه وخت څخه دغه جمله متل وګرځېدل.

چي د هغه شپې څخه وروسته يې هيڅ عمل ونه کړ، ددغه ارشاد په ذريعه رسول الله ﷺ هغه سپاره، يعني حضرت انس ابن مرثد رضي الله عنه ته زيری ورکړ چي ستا لپاره د الله جل جلاله په نزد نن شپه کافي ده، ستا په عملنامه کي ددغه شپې د خدمت په بدله کي دومره اجر او ثواب جمع سوی دی او تا ته دومره فضيلت درکړل سوی دی که ته د فضائلو او نفلو څخه بل هيڅ عمل ونه کړې نو په آخرت کي به تا ته لوړي درجې درکړل سي، په دغه جمله کي د عمل څخه نوافل او نيک کارونه مراد دي نه فرائض، ځکه چي فرائض په هيڅ حالت کي نه ساقط کيږي او ځينو

حضراتو دا ويلي دي چي په دغه ارشاد کي د عمل څخه جهاد مراد دی مطلب دا چي تا نن شپه د الله جَلَّ جَلَالُهُ په لار کي زموږ د ساتني ذمه داري په تکليف او قرباني سره تر سره کړل نو تر دې وروسته که ته په جهاد کي ګډون ونه کړې نو پر تا باندي هيڅ نيوکه نسته .

په خرماوو کي د برکت معجزه

﴿۵٦٨١﴾: وَعَنْ أَبِي هُرَيْرَةَ قَالَ أَتَيْتُ النَّبِيَّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ بِتَمَرَاتٍ فَقُلْتُ

د حضرت ابو هريره رَضِيَ اللهُ عَنْهُ څخه روايت دی چي ما رسول الله صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ ته لږ خرماوي راوړلې او عرض مي

يَا رَسُولَ اللَّهِ ادْعُ اللَّهَ فِيهِنَّ بِالْبَرَكَةِ فَضَمَّهُنَّ ثُمَّ دَعَا لِي فِيهِنَّ بِالْبَرَكَةِ

وکړ اې دالله رسوله! د خدای جَلَّ جَلَالُهُ څخه په دې کي دبرکت دعاء وغواړه، رسول الله صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ هغه خرماوي په خپل لاس مبارک کي واخيستې او بيا يې د برکت دعاء وکړه،

فَقَالَ خُذْهُنَّ فَاجْعَلْهُنَّ فِي مِزْوَدِكَ كُلَّمَا أَرَدْتَ أَنْ تَأْخُذَ مِنْهُ شَيْئًا فَأَدْخِلْ

بيا يې وفرمايل: دا يوسه او په خپل لوښي کي يې واچوه هر کله چي ته ددې څخه يو څه اخيستل غواړې نو په لوښي کي لاس ور دننه کړه

فِيهِ يَدَكَ فَخُذْهُ وَلَا تَنْثُرْهُ نَثْرًا فَقَدْ حَمَلْتُ مِنْ ذَلِكَ التَّمْرِ كَذَا وَكَذَا مِنْ

او راکاږه يې مګر لوښي په خالي کولو سره مه څنډه، د ابو هريره رَضِيَ اللهُ عَنْهُ بيان دی چي ما د هغه خرماوو څخه دومره دومره پيمانې د الله جَلَّ جَلَالُهُ په لاره کي مصرف کړې

وَسْقٍ فِي سَبِيلِ اللَّهِ فَكُنَّا نَأْكُلُ مِنْهُ وَنُطْعِمُ وَكَانَ لَا يُفَارِقُ حِقْوِي حَتَّى كَانَ يَوْمُ قَتْلِ عُثْمَانَ فَإِنَّهُ انْقَطَعَ. رواه الترمذي.

موږ به دغه خرماوي خوړلې او خلکو ته مو هم ورکولې او دا لوښي به هيڅکله زما څخه بيل نه وو، تر دې چي د حضرت عثمان رَضِيَ اللهُ عَنْهُ د شهادت په ورځ هغه لوښي ضائع سو . ترمذي.

تخريج: سنن الترمذي ۵\٦۴۳، رقم: ۳۸۳۹.

تشريح: د روايت د آخري الفاظو څخه معلومه سول چي کله په ټولنه کي فتنه او فساد خپور سي او په خلکو کي انتشار زيات سي نو خير او برکت له منځه ځي، په يوه روايت کي منقول دي

چي د حضرت عثمان ﷛ د شهادت په ورځ حضرت ابوهريره ﷛ خپل درد او غم په دغه شعر كي ظاهر كړ :

للناس هم ولي اليوم همـــان بينهم هم الجراب وهم الشيخ عثمانا

ژباړه: نن ورځ نورو خلكو ته يو غم دی او پر ما دوه غمونه دي، يو غم د لوښي د ضائع كېدو او بل غم د حضرت عثمان ﷛ د شهادت.

اَلْفَصْلُ الثَّالِث (دريم فصل)

د هجرت واقعه او د غار ثور معجزه

﴿٥٦٨٢﴾: عَنِ ابْنِ عَبَّاسٍ قَالَ تَشَاوَرَتْ قُرَيْشٌ لَيْلَةً بِمَكَّةَ فَقَالَ بَعْضُهُمْ إِذَا

د حضرت ابن عباس ﷛ څخه روايت دی چي يوه شپه قريشو په مكه كي مشوره وكړه، ځينو وويل

أَصْبَحَ فَأَثْبِتُوهُ بِالْوَثَاقِ يُرِيدُونَ النَّبِيَّ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ فَقَالَ بَعْضُهُمْ بَلْ

په سهار كيدو سره هغه (يعني رسول الله ﷺ) په رسۍ سره ټينګ و تړئ، ځينو دا مشوره وركړه

اقْتُلُوهُ وَقَالَ بَعْضُهُمْ بَلْ أَخْرِجُوهُ فَأَطْلَعَ اللّٰهُ عَزَّ وَجَلَّ نَبِيَّهُ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ

چي مړ يې كړئ او ځينو وويل جلا وطنه يې كړئ، الله ﷻ خپل نبي د كفارو د دغه مشورې څخه

وَسَلَّمَ عَلَى ذٰلِكَ فَبَاتَ عَلِيٌّ عَلَى فِرَاشِ النَّبِيِّ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ تِلْكَ اللَّيْلَةَ

خبر كړ، هغه شپه د نبي كريم ﷺ پر بستره حضرت علي ﷛ تيره كړه

وَخَرَجَ النَّبِيُّ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ حَتَّى لَحِقَ بِالْغَارِ وَبَاتَ الْمُشْرِكُونَ يَحْرُسُونَ

او نبي كريم ﷺ د مكې څخه ووتی په غار ثور كي يې شپه تېره كړه، دلته كفارو ټوله شپه د

عَلِيًّا يَحْسَبُونَهُ النَّبِيَّ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ فَلَمَّا أَصْبَحُوا ثَارُوا عليه فَلَمَّا رَأَوْا

حضرت علي ﷛ چوكيداري كول په دې ګمان چي دا نبي ﷺ دی، هغوئ پر رسول الله ﷺ راغلل مګر د رسول الله ﷺ پر ځای يې حضرت علي ﷛ وليدی

عَلِيًّا رَدَّ اللّٰهُ مَكْرَهُمْ فَقَالُوا أَيْنَ صَاحِبُكَ هٰذَا قَالَ لَا أَدْرِي فَاقْتَصُّوا أَثَرَهُ فَلَمَّا

، نو الله جلاله د هغوئ مكر او چم هم پر هغوئ واچوئ او هغوئ حيران پاته سول ، بيا هغوئ د حضرت علي رضي الله عنه څخه پوښتنه وکړه چي ستا دوست څه سو؟ حضرت علي رضي الله عنه ورته وويل نه يم خبر، ددې اوريدو سره كفارو

بَلَغُوا الْجَبَلَ اختلط عَلَيْهِمْ فَصَعِدُوا الْجَبَلَ فَمَرُّوا بِالْغَارِ فَرَأَوْا عَلَى بَابِهِ نَسَجَ

د رسول الله ﷺ پر قدم باندي د لټولو لپاره روان سول جبل ثور ته چي ورسيدل نو پل ورته مشتبه سو ، بيا هغوئ پر غره سربيره وختل او د غار ثور خولې ته ورسيدل د غار پر خوله يې د

الْعَنْكَبُوتِ فَقَالُوا لَوْ دَخَلَ هَاهُنَا لَمْ يَكُنْ نَسْجُ الْعَنْكَبُوتِ عَلَى بَابِهِ فَمَكَثَ فِيهِ

ثَلَاثَ لَيَالٍ. رواه احمد.

جولاګي (عنكبوت) جاله وليدل نو په خپلو كي يې وويل كه هغه په دغه غار كي ننوتلى وي نو د جولاګي جاله به دلته نه واى ، رسول الله ﷺ په دغه غار كي درې شپې دننه وو . احمد

تخريج: احمد في مسنده ١\٣٤٨.

د لغاتو حل: الوثاق: وهو ما يشد به.

تشريح:د رسول الله ﷺ د هجرت مختصر حالات داذي چي د مكې مشركينو ته دا معلومه سول چي د محمد (ﷺ) د اسلام دعوت تر مدينې پوري رسېدلى دى او د هغه ځاى ډېر غټ خلک په اسلام كي داخل سوي دي، نو هغوئ سخت پريشانه سول، پر دغه مسئله باندي د غور او فكر او د رسول الله ﷺ په اړه د يوې حتمي فيصلې كولو لپاره د هغوئ ټول سرداران او مشران راجمع سول، كله چي د مكې د سردارانو او مشرانو مشوره پيل كېدونكې وه نو ابليس د يو سپين ږيري او تجربه لرونكي سړي په صورت كي هغه مجلس ته ورسېدى او هغه وويل: زه د نجد څخه راغلى يم، ما ته چي ستاسو د مشورې خبر وسو نو زما خواهش سو چي زه هم ستاسو په دغه مشوره كي په کډون كولو سره مناسبه رايه وړاندي كړم، بېله شكه په عقل او پوهه كي هيڅوک تر ما زيات نه دى ، د مجلس حاضرين د ابليس په دغه خبره ډېر متاثر سول او په عزت او احترام يې په منځ كي هغه ته ځاى وركړ، ددې څخه وروسته د هغه مجلس كاروايي پيل سول او د مختلفو خلكو له خوا د خپل رايي بيانولو لړۍ پيل سول، ابو البختري وويل: زما رايه داده چي دغه سړى (محمد ﷺ) بندي كړل سي او په يوه داسي تاريكه خونه كي بند كړل سي چي په هغه كي د تګ راتګ هيڅ ذريعه او هيڅ دروازه خلاصه نه سي، يوازي يو داسي

سوري دي پاته سي چي په هغه کي د خوراک او څښناک شيان ورکول کيږي، او په هغه خونه کي دي تر هغه وخته پوري بندي وساتل سي تر څو چي په هغه کي مړ نه سي.

د دې په اوريدو سره هغه نجدي سړي (يعني ابليس) وويل: دغه رايه نامناسب ده ځکه که تاسو هغه بندي کړئ نو دهغه د کورنۍ خلک به پر تاسو حمله وکړي او د جګړې په ذريعه به هغه بوځي، بيا هشام ابن عمرو دا رايه ورکړه چي دغه سړی ښه ذليل او خوار کړل سي او پر اوښ باندي سپور کړل سي او ددغه مځکي څخه وايستل سي، هغه ددغه ځای څخه په جلا وطنه کولو سره بل ځای ته وايستل سي، ابليس ددغه رايي هم مخالفت وکړ او هغه وويل: په داسي کولو به دغه سړي ته د خپل مقصد پوره کولو ښه موقع په لاس ورسي او ددغه ځای څخه په تللو سره به د خپل مظلوميت قصې کوي او خلک به ځان ته متوجه کوي، که څه هم ددغه ځای خلک به دهغه د دعوت څخه خوندي سي مګر هغه به د بل ځای خلک تيار کړي او بيا د هغه خلکو په مرسته به پر تاسو حمله وکړي، په پای کي ابوجهل لعين وويل: تاسو د هري قبيلې او کورنۍ څخه يو سړی وټاکئ او هغوئ ټولو ته توري ورکړئ او بيا ورته ووايا ست چي ټول په يو وار په خپلو تورو سره پر دغه سړي حمله وکړئ نو په داسي کولو سره به د هغه وژنه په ټولو قبيلو کي خپره سي يعني د هغه د قتل به يو خاص قبيله او کورنۍ ذمه داره نه وي، او په دغه صورت کي به بني هاشم د ټولو قريشو قبيلو او کورنيو سره په يو وار د جګړې کولو او دهغه سړي د وژني د بدلې اخيستلو څخه عاجز وي، او په مجبورۍ کي به پر ديت اخيستلو راضي سي، کله چي هغوئ ديت وغواړي نو موږ به ټول يو ځای ديت ورکړو او قصه به ختمه سي، ابليس ددغه رايي ډېر تعريف وکړ او هغه وويل: دغه زلمی بالکل صحيح خبره وکړل، بيا ټول خلک د ابوجهل پر رايه متفق سول او دا فيصله وسول چي نن شپه دي د محمد (ﷺ) کور محاصره کړل سي او تر سهار پوري دي پر هغه حمله وکړل سي او قصه دي ختمه کړل سي، مګر الله ﷻ د حضرت جبرائيل علیه السلام په رالېږلو سره د قريشو په دغه فلان رسول الله ﷺ خبر کړ چي تاسو پر خپله بستره باندي د حضرت علي رضی الله عنه په پرې ايستلو سره د ابوبکر صديق رضی الله عنه سره د هجرت په اراده د شپې له مکې څخه ووځئ، د قرآن کريم په دغه آيت کي دې ته اشاره سوې ده:

وَإِذْ يَمْكُرُ بِكَ الَّذِينَ كَفَرُواْ لِيُثْبِتُوكَ أَوْ يَقْتُلُوكَ أَوْ يُخْرِجُوكَ

او کله چي د مکې کافرانو ستاسو په اړه دا فلان جوړ کړ چي تاسو بندي کړي يا مو قتل کړي يا تا د هيواد څخه وباسي.

نو رسول الله ﷺ پر خپله بستره باندي حضرت علي رضي الله عنه پرې ايستی او خپله د حضرت ابوبکر رضي الله عنه سره د شپې د مکې څخه په وتلو سره د جبل ثور په يو غار کي پټ سول، هغه وخت د قريشو يوې خطرناکه ډلي د رسول الله ﷺ د کور محاصره کړې وه ، د رسول الله ﷺ د کور څخه وتل او د هغه کافرانو د رسول الله ﷺ د کور څخه وتونکی ليدل بيا له هغوئ سره د رسول الله ﷺ خبري کول او د هغوئ په مخ کي تېرېدل يوه حيرانوونکې قصه او لويه معجزه وه چي د هغه تفصيل د تاريخ او سيرت په کتابو کي ذکر سوی دی.

په هر حال د مکې قريشو د خپل ګمان سره سم چي محمد ﷺ په کور کي بېده دی، ټوله شپه د رسول الله ﷺ د کور څارنه کول ، د هغوئ اراده وه چي يوه شپه د رسول الله ﷺ د کور څارنه وکړل سي او د سهار په وخت کي کور ته دننه ورسي او کار يې خلاص کړي، نو په سهار کېدو سره هغوئ په کور کي دننه حمله وکړل نو هلته د حضرت علي رضي الله عنه په لېدو سره حيران سول او سمدستي د رسول الله ﷺ په پلټنه پسي ووتل، هغوئ د رسول الله ﷺ د قدمونو د نښو په لېدو سره جبل ثور ته ورسېدل او د بيا د هغه غار خولې ته ورسېدل چيري چي رسول الله ﷺ او ابوبکر صديق رضي الله عنه پټ سوي وه، د هغه غار خوله يوه لويشت پلنه او يو لاس اوږده ده، الله جل جلاله هغه وخت دوې کوترې را واستولې چي د غار په خوله کي يې هګۍ واچولې او د الله جل جلاله په حکم سره يو جولاګی راغلی او د غار په خوله کي يې ځاله جوړه کړه، په دغه صورت کي د قريشو د سپاهيانو دا خيال هم نه سو چي په دغه غار کي دوه انسانان پټ دي نو د هغه ځای څخه په نااميده کېدو سره ستانه سول، په يوه روايت کي دا هم راغلي دي چي کله چيري د قريشو هغه سپاهيانو خپلو پښو ته کتلي وای نو په ډېره اساني به يې رسول الله ﷺ او ابوبکر صديق رضي الله عنه ليدلي وای، حضرت ابوبکر صديق رضي الله عنه په غار کي دننه هغه لېدل ، هغه ته د رسول الله ﷺ په اړه سخته پريشانه پيدا سول او د خپل بيري اظهار يې وکړ، نو رسول الله ﷺ ورته وفرمايل: د هغه دوو کسانو په اړه ستا څه خيال دی چي د هغوئ دريم ملګری الله جل جلاله دی، نو الله جل جلاله هغه کافران داسي ړانده کړل چي هغوئ د غار څلورو خواوو ته په کتلو سره ګرځېدل مګر په غار کي دننه رسول الله ﷺ او حضرت ابوبکر صديق رضي الله عنه يې ونه لېدل.

په بحر العلوم تفسير کي د دغه آيت (اذ يقول لصاحبه لاتحزن ان الله معنا) په اړه ليکلي دي چي په دغه آيت کي د صاحب (ملګري) څخه مراد حضرت ابوبکر صديق رضي الله عنه دی چي د هجرت په شپه ، کله چي کفارو د رسول الله ﷺ د وژني پخه اراده وکړل نو له رسول الله ﷺ سره د مکې څخه روان سو او دواړه د ثور په غار کي پټ سول، کله چي حضرت ابوبکر صديق رضي الله عنه ولېدل

چي د مکې کفار د غار خولې ته را رسېدلي دي نو رسول الله ﷺ ته يې وويل: که چيري کفار خپلو پښو ته وګوري نو هغوئ به يقينا موږ ووينې، په دغه وخت کي رسول الله ﷺ، حضرت ابوبکر صديق رضی اللہ عنہ ته په ډاډ ورکولو سره وفرمايل چي د فکر او پريشانۍ خبره نسته، (الله جل جلاله زموږ سره دی) او رسول الله ﷺ وفرمايل: اې ابوبکر! د هغه دوو کسانو په اړه ستا څه خيال دی چي د هغوئ دريم ملګری الله جل جلاله وي، له دې څخه دا ثابتيږي چي د حضرت ابوبکر صديق رضی اللہ عنہ د صحابيت منکر د نص قرآن د انکار په سبب کافر دی حال دا چي د نورو صحابه کرامو منکر ته کافر نه بلکه مبتدع ويل کيږي.

د هجرت د پيښي په اړه چي کوم روايت د بي بي عائشې رضی اللہ عنہا څخه منقول دی په هغه کي دا بيان دی چي زما مور او پلار د عقل او بلوغ له وخت څخه ديندار وه او هيڅ ورځ به داسي نه تېرېدل چي رسول الله ﷺ به سهار او ماښام زموږ کره نه راتلی، کله چي پر مسلمانانو باندي د مکې د کفارو ظلم او ستم زيات سو نو رسول الله ﷺ يوه ورځ زما پلار ابوبکر رضی اللہ عنہ ته وفرمايل: ستا دار الهجرت ما ته ښودل سوی دی، هغه د دوو ډبرينو مځکو په منځ کي د خرماوو د باغو يو کلی دی، ددې څخه وروسته د رسول الله ﷺ په حکم سره مدينې ته د مسلمانانو د هجرت لړۍ پيل سول او حبشې ته هجرت کونکي هم مدينې ته راغلل، له دې کبله حضرت ابوبکر صديق رضی اللہ عنہ هم مدينې ته د هجرت تياري پيل کړل مګر رسول الله ﷺ ورته وفرمايل: اې ابوبکر! ته اوس ودرېږه، زه اميد لرم چي ما ته هم د هجرت اجازه تر لاسه کېدونکې ده، د هغه ورځي څخه د حضرت ابوبکر رضی اللہ عنہ دا حال سو چي هغه به هر وخت د رسول الله ﷺ په خدمت کي حاضر وو چي هيڅکله به نه ور څخه بېلېدی، ددې څخه ماسوا هغوئ دوه اوښان تيار کړي وه چي د روانېدو څخه څلور مياشتي مخکي په کور کي تړلي وه تر دې چي يوه ورځ د غرمې په وخت کي رسول الله ﷺ د حضرت ابوبکر صديق رضی اللہ عنہ کور ته راغلی او ويې فرمايل: د الله جل جلاله له خوا ما ته د هجرت اجازه سوې ده نو ابوبکر صديق رضی اللہ عنہ يو اوښ د رسول الله ﷺ په خدمت کي وړاندي کړ، په عائشې او اسماء باندي يې د لاري توښه تياره کړل او بيا په هغه ورځ چي د ربيع الاول ثورلسم نبوي کال لومړی تاريخ وو او د پنجشنبې ورځ وه د شپې رسول الله ﷺ د خپل کور څخه ووتی او د حضرت ابوبکر صديق رضی اللہ عنہ کور ته ورغلی، او د هغه ځای څخه دواړه روان سول او په جبل ثور کي پټ سول، د الله جل جلاله په قدرت سره په هغه شپه کي د هغه غار په خوله کي د کيکر درخته شنه سول، ځنګلي کوتري د غار په خوله کي په ځالي جوړولو سره هګۍ واچولې او جولاګي ځاله جوړه کړه، د مکې کفار چي غار ته نژدې ورسېدل نو هلته د داسي نښو په لېدو

سره چي په غار کي دننه د يو چا موجودتيا نفي يې کول، محروم او مايوس ستانه سول.
کله چي رسول الله ﷺ او حضرت ابوبکر صديق رضي الله عنه د شپې په تياره کي د مکې څخه روان سول نو په ټوله لاره کي کله به حضرت ابوبکر رضي الله عنه د رسول الله ﷺ څخه مخکي تلی او کله به تر شا روان وو، او د هغه مقصد دا وو چي يو کافر د شا څخه يا د مخ له خوا څخه حمله ونه کړي، بيا کله چي غار ته نژدې ورسېدل نو رسول الله ﷺ يې دباندي ودروی او خپله غار ته دننه ورغلی او هغه يې پاک کړ، بيا رسول الله ﷺ غار ته دننه سو، دواړه تر درو شپو پوري په هغه غار کي پټ وه، هغوئ خپل دواړه اوښان د بني الدئل يو سړي ته سپارلي وه او هغه يې په دې پوه کړی وو چي د درو شپو تېرېدو وروسته اوښان غار ته نژدې راولي او هغه ته معقول معاوضه ورکړل سول، او ددې لپاره يې هم اماده کړی وو چي هغه تر مدينې پوري د لارښوونې دنده تر سره کړي، د غار ثور د قيام په دوران کي په درو سره شپو کي حضرت عبدالله ابن ابوبکر رضي الله عنه د مکې د کفارو ټول حالات او د ټولي ورځي د کړنو څخه د شپې په راتللو سره خبرول، بيا د درو شپو وروسته دواړه پر خپل خپل اوښ سپاره سول او د هغه لارښوونکي په مرسته د عامي لاري پر ځای د درياب د غاړي د لاري په ذريعه مدينې ته روان سول، کله چي د بني مدلج سيمو ته ورسېدل نو تر شا سراقه ابن مالک راورسېدی چي د مکې د قريشو له خوا د رسول الله ﷺ او ابوبکر رضي الله عنه او يا د دواړو څخه د يوه د ژوندي يا مړه نيولو په بدله کي د غټ انعام قول ورکړی وو، کله چي هغه دواړو ته نژدې راغلی نو ناڅاپه د هغه آس نوک ووهی او هغه پر مځکه را ولوېدی، هغه بيا را پورته سو او پر آس سپور سو او دومره نژدې را ورسېدی چي د رسول الله ﷺ خبري يې اورېدلې، او عين هغه وخت چي هغه حمله کول غوښتل نو د هغه د آس دواړي پښې تر زنګنو پوري په مځکه کي ننوتلې او سراقه پوړموخی پر مځکه ولوېدی، اوس هغه ته خبرداری وسو او هغه په زاری او عاجزی سره امان غوښتل پيل کړ، رسول الله ﷺ او حضرت ابوبکر صديق رضي الله عنه د هغه د آواز په اورېدو سره ودرېدل، سراقه هغه ته صورت حال بيان کړ او د مکې د قريشو په اړه يې تفصيلي حالات ورته بيان کړل، هغه په توبې کولو سره د هغوئ دواړو په خدمت کي د لاري د توښې وړاندي کول وغوښتل مګر رسول الله ﷺ هغه قبول نه کړ مګر د هغه په معافولو سره يې دا حکم ورته وکړ چي زموږ په اړه چا ته مه وايه نو سراقه د هغه ځای څخه ولاړی او په لاره کي کوم کافر چي به يې د رسول الله ﷺ په پلټنه کي لېدی نو هغه به يې په تدبير سره ستنوی، همدارنګه رسول الله ﷺ او ابوبکر صديق رضي الله عنه په حفاظت سره مدينې منورې ته ورسېدل.

د خیبر د یهودیانو سره اړوند معجزه

﴿۵۶۸۳﴾: وَعَنْ أَبِي هُرَيْرَةَ قَالَ لَمَّا فُتِحَتْ خَيْبَرُ أُهْدِيَتْ لِرَسُولِ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ

د حضرت ابو هریره رضي الله عنه څخه روایت دی چي د خیبر د فتح څخه وروسته رسول الله ﷺ ته په تحفه کي ور کړل سول

عَلَيْهِ وَسَلَّمَ شَاةٌ فِيهَا سَمٌّ فَقَالَ رَسُولُ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ اجْمَعُوا لِي مَنْ

د پسه غوښه چي په هغه کي زهر ګډ سوي وه، رسول الله ﷺ وویل چي په خیبر کي د ننه څومره

كَانَ هَا هُنَا مِنَ الْيَهُودِ فَجُمِعُوا لَهُ فَقَالَ لَهُمْ رَسُولُ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ إِنِّي

یهودیان دي هغوئ دي ټول ما ته راوستل سي، کله چي ټول یهود جمع کړل سول نو رسول الله ﷺ ورته وفرمایل: زه

سَائِلُكُمْ عَنْ شَيْءٍ فَهَلْ أَنْتُمْ صَادِقِيَّ عَنْهُ فَقَالُوا نَعَمْ يَا أَبَا الْقَاسِمِ فَقَالَ لَهُمْ

ستاسو څخه د یوې خبري پوښتنه کوم د هغې جواب راکړئ، او ورسره دا هم درته وایم که تاسو غلط جواب راکړئ او ما د هغه رد وکړ نو ایا تاسو به زما د اطلاع تصدیق وکړئ؟ هغوئ وویل هو اې ابو القاسم! نو رسول الله ﷺ ورته وفرمایل:

رَسُولُ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ مَنْ أَبُوكُمْ قَالُوا فُلَانٌ قَالَ كَذَبْتُمْ بَلْ أَبُوكُمْ

ستاسو پلار څوک دی؟ هغوئ ورته وویل فلانی سړی، رسول الله ﷺ ورته وفرمایل تاسو دروا غ وویل ستاسو پلار فلانی سړی دی

فُلَانٌ فَقَالُوا صَدَقْتَ وَبَرِرْتَ قَالَ هَلْ أَنْتُمْ صَادِقِيَّ عَنْ شَيْءٍ إِنْ سَأَلْتُكُمْ عَنْهُ

هغوئ وویل هو تا رښتیا وویل او ښه دي وویل، بیا هغوئ ته رسول الله ﷺ وفرمایل: که زه ستاسو څخه د یوې خبري پوښتنه وکړم

فَقَالُوا نَعَمْ يَا أَبَا الْقَاسِمِ وَإِنْ كَذَبْنَاكَ عَرَفْتَ كَذِبَنَا كَمَا عَرَفْتَهُ فِي أَبِينَا فَقَالَ

نو تاسو به زما د اطلاع تصدیق وکړئ؟ هغوئ وویل هو، که موږ دروا غ وویل نو ته به زموږ دروا غ معلوم کړئ، څرنګه چي زموږ د پلار په باره کي دي زموږ دروا غ معلوم کړل نو رسول الله

لَهُمْ مَنْ أَهْلُ النَّارِ فَقَالُوا نَكُونُ فِيهَا يَسِيرًا ثُمَّ تَخْلُفُونَنَا فِيهَا قَالَ رَسُولُ اللَّهِ

ﷺ هغوئ ته وفرمايل : دوږخي څوک دي؟ هغوئ وويل په دوږخ کي به لږ ورځي موږ يو او بيا تاسو به زموږ جانشين ياست، رسول الله ﷺ ورته وفرمايل:

صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ اخْسَئُوا فِيهَا وَاللَّهِ لَا نَخْلُفُكُمْ فِيهَا أَبَدًا ثُمَّ قَالَ لَهُمْ

زيان کاره به او سئ پکښي قسم په خداى موږ به هيڅکله په دوږخ کي ستاسو جانشين نه يو ، بيا ورته رسول الله ﷺ وفرمايل : که زه ستاسو څخه د يوې خبري پوښتنه وکړم

فَهَلْ أَنْتُمْ صَادِقِيَّ عَنْ شَيْءٍ إِنْ سَأَلْتُكُمْ عَنْهُ قَالُوا نَعَمْ فَقَالَ هَلْ جَعَلْتُمْ فِي

نو ايا تاسو به زما د بيان تصديق وکړئ ؟ هغوئ وويل هو ، اې ابو القاسم ، نو رسول الله ﷺ

هَذِهِ الشَّاةِ سَمًّا فَقَالُوا نَعَمْ فَقَالَ مَا حَمَلَكُمْ عَلَى ذَلِكَ فَقَالُوا أَرَدْنَا إِنْ كُنْتَ كَاذِبًا نَسْتَرِيحُ مِنْكَ وَإِنْ كُنْتَ صادقا لَمْ يَضُرَّكَ. رواه البخاري، متفق عليه.

پوښتنه ځيني وکړه ايا تاسو په دغه غوښه کي زهر ګډ کړي دي ؟ هغوئ وويل هو ، رسول الله ﷺ پوښتنه وکړه په کوم خيال مو پکښي زهر اچولي وه؟ هغوئ وويل : زموږ دا خيال وو که ته درواغجن يې نو موږ به در څخه خلاص سو او که ته ريښتوني يې نو زهر ضرر در ونه رسوي . بخاري .

تخريج: صحيح البخاري (فتح الباري): ٦\٢٧٣، رقم: ٣١٦٩.

تشريح:هو ، اې ابو القاسم، د رسول الله ﷺ د مخاطب کولو د يهوديانو دغه خاص طرز وو ، هغه بدبختو د محمد ﷺ په ويلو سره رسول الله ﷺ نه مخاطب کوی ځکه چي دغه نوم په تورات او انجيل کي مذکور او مشهور وو، چي د رسول الله ﷺ د نبوت د دعوې څرګند دليل وو، د تعصب او دښمنۍ په وجه هغوئ ته دا خوښه نه وه چي هغوئ په خپله ژبه سره د دغه نوم اظهار وکړي چي خپله د هغوئ د آسماني کتابونو له موخي د پيغمبر آخر زمان ﷺ د صداقت علامه وه

بيا زما همنشين به تاسو ياست، يهوديانو به مسلمانانو ته دا ويل چي د جنت اصل مستحق موږ يو که موږ د خپل بدعملۍ په وجه په دوږخ کي داخل سو نو هغه به د څوورځو سزا وي ، کله چي موږ د خپلي سزا پوره کولو وروسته د دوږخ څخه وايستل سو نو بيا به تاسو مسلمانان په دوږخ کي واچول سئ تاسو به هلته تل ياست ، د هغوئ دغه خبره په قرآن کريم کي

هم داسي نقل سوې ده : (لَن تَمَسَّنَا النَّارُ إِلاَّ أَيَّاماً مَّعْدُودَةً) ، يعني يهوديان داسي وايي چي موږ ته به يوازي ترڅو ورځو پوري د دوږخ اوروي.

دا د هغه يهودو عقيده وه چي د حقيقت په اعتبار د باطلي عقيدې او فاسد ګمان څخه يې پرته بل ارزښت نه درلود، بيا هم هغوئ دخپلي عقيدې سره سم چي کومه خبره صحيح ګڼل او د رسول الله ﷺ د سوال کوم جواب چي د هغوئ په نزد صحيح وو هغه يې بيان کړ.

نو دغه زهر تاسو ته هيڅ تاوان نه سي رسولای، د يهوديانو ددغه جواب مطلب دا وو چي موږ خو محض د امتحان په وجه په غوښو کي زهر ګډ کړي وه ، که تاسو دخپل نبوت په دعوه کي درواغجن ياست نو ددغه زهري په خوړلو سره به هلاک سئ او په دغه صورت کي به موږ ستاسو څخه خلاصون تر لاسه کړو او که تاسو په خپل نبوت کي ريښتوني ياست نو دغه زهر به پر تاسو اثر ونه کړي، په دغه صورت کي به موږ تا نبي ومنو ، دا خو د يهوديانو خبره وه او هغوئ په خپل دغه قول کي تر کومي درجې ريښتوني وه ، ددې اندازه خو ددې څخه لګېدای سي چي زهرو په رسول الله ﷺ اثر ونه کړ نو د هغوئ د خپلي وينا سره سم د رسول الله ﷺ نبي کېدل ريښتيا ثابت سول مګر هغه خلکو په رسول الله ﷺ ايمان نه راوړ او نه د اسلام او مسلمانانو له دښمنۍ څخه منع سول.

تر قيامته پوري د ټولو واقعو خبر ورکولو معجزه

﴿۵۶۸۴﴾: وَعَنْ عَمْرِو بْنِ أَخْطَبَ الانصاري قَالَ صَلَّى بِنَا رَسُولُ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ

د حضرت عمرو بن اخطب انصاري رضي الله عنه څخه روايت دی چي يوه ورځ نبي کريم ﷺ لمونځ راکړ .

عَلَيْهِ وَسَلَّمَ يوما الْفَجْرَ وَصَعِدَ على الْمِنْبَرِ فَخَطَبَنَا حَتَّى حَضَرَتْ الظُّهْرُ

موږ ته د سهار بيا منبر ته وختی او وعظ يې وکړ چي دا لړۍ د ماپښين د لمانځه تر وخته پوري

فَنَزَلَ فَصَلَّى ثُمَّ صَعِدَ الْمِنْبَرَ حَتَّى حَضَرَتْ الْعَصْرُ ثُمَّ نَزَلَ فَصَلَّى ثُمَّ صَعِدَ

جاري وه، بيا رسول الله ﷺ د منبر څخه راکښته سو او د ماپښين لمونځ يې راکړ نو بيا يې منبر ته تشريف يوووړ او بيان يې راته وکړ تر دې چي د مازديګر د لمانځه وخت سو بيا رسول لله ﷺ د منبر څخه راکښته سو او لمونځ يې راکړ او بيا يې

الْمِنْبَرَ فَخَطَبَنَا حَتَّى غَرَبَتْ الشَّمْسُ فَأَخْبَرَنَا بِمَا هُوَ كَائِنٌ الى يوم القيامة

قال فَأَعْلَمُنَا أَحْفَظُنَا. رواه مسلم.

منبر ته تشريف يوور، تر دې چي لمر ولويدی ، په دغه وعظ کي رسول الله ﷺ د هغه ټولو خبرو ذکر وکړ کومي چي تر قيامته پوري راتلونکي دي ، د عمرو بن اخطب ﷜ بيان دی چي په موږ کي (نن) تر ټولو زيات علم والا سړی هغه دی چي هغه خبري يې په ياد کړي وي . مسلم

تخريج: صحيح مسلم ۴\۲۲۱۷، رقم: ۲۵- ۲۸۹۲.

تشريح: حضرت عمرو ابن اخطب ﷜ چي يو انصاري صحابي دي په خپل کنيت ابوزيد اعرج سره زيات مشهور وو، د رسول الله ﷺ په غزاوو کي يې ګډون کوی ، نقل سوی دی چي په ديارلس غزاوو کي يې ګډون په برخه سوی دی، يوه ورځ رسول الله ﷺ د هغه پر سر خپل مبارک لاس را تېر کړ او د ښکلا دعا يې ورته وکړل، د هغه برکت هغه ته داسي ښکلا تر لاسه سول چي سلو کالو د هغه عمر زيات سو او تر پايه يې مخ د ګلاب په ډول تازه وو، د سر او ږيري وېښتان يې هم يو څو دانې سپين سوي وه.

په هغه ورځ رسول الله ﷺ د ماپښين او مازديګر د لمونځو څخه ماسوا نور ټول وخت په وعظ کي تېر کړ او ددې تفصيلي وعظ په دوران کي رسول الله ﷺ د هغه ټولو مهمو ديني او ملي پېښو تفصيلي او اجمالي بيان وفرمايه چي په راتلونکې زمانه کي تر قيامته پوري پېښېدونکي دي، دا د رسول الله ﷺ لويه معجزه وه چي رسول الله ﷺ د واقع کېدو څخه مخکي دومره خبري بيان کړلې.

د يهوديانو د راتګ خبر د درختي په ذريعه

﴿۵۶۸۵﴾: وَعَنْ مَعْنِ بْنِ عَبْدِ الرَّحْمَنِ قَالَ سَمِعْتُ أَبِي قَالَ سَأَلْتُ مَسْرُوقًا

د حضرت معن بن عبد الرحمن ﷜ څخه روايت دی چي ما د خپل پلار څخه دا اوريدلي دي چي ما د مسروق څخه پوښتنه وکړه چي

مَنْ آذَنَ النَّبِيَّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ بِالْجِنِّ لَيْلَةَ اسْتَمَعُوا الْقُرْآنَ فَقَالَ حَدَّثَنِي

نبي کريم ﷺ ته چا په هغه شپه د پېريانو خبر ورکړی وو کوم وخت چي هغوئ قرآن کريم ته غوږ

أَبُوكَ يَعْنِي عَبْدَ اللَّهِ ابن مسعود أَنَّهُ قال آذَنَتْ بِهِمْ شَجَرَةٌ. متفق عليه.

نيولی وو مسروق وويل ما ته ستا پلار يعني عبد الله بن مسعود ﷜ بيان وکړ چي رسول الله ﷺ

ته د پيريانو د راتلو خبر يوې درختي ورکړې وو. بخاري او مسلم

تخريج: صحيح البخاري (فتح الباري): ۱۷۱\۷، رقم: ۳۸۵۹، ومسلم ۱۱\۳۳۳، رقم: ۱۵۳- ۴۵۰.

د لغاتو حل: آذن: اي من اعلم.

تشريح: يعني د معجزې په توګه يوې درختي خبر ورکړ چي اې داالله رسوله! پيريانو ايمان راوړ او د قرآن کريم د اورېدو لپاره راغلي دي، نو نبي کريم ﷺ د ښار څخه دباندي ولاړ او يو ځای ته په رسېدو سره يې پيريان ولېدل او د هغوئ په وړاندي يې قرآن کريم ووايه.

د جنګ څخه مخکي د مړ کېدونکو کافرانو نومونه او ځايونه ښودل

﴿۵۶۸۶﴾: وَعَنْ أَنَسٍ قَالَ كُنَّا مَعَ عُمَرَ بَيْنَ مَكَّةَ وَالْمَدِينَةِ فَتَرَاءَيْنَا الْهِلَالَ

د حضرت انس رضي الله عنه څخه روايت دی چي موږ د عمر بن خطاب رضي الله عنه سره په مينځ د مکه او مدينه کي وو چي موږ د مياشتي د ليدو کوښښ وکړ

وَكُنْتُ رَجُلًا حَدِيدَ الْبَصَرِ فَرَأَيْتُهُ وَلَيْسَ أَحَدٌ يَزْعُمُ أَنَّهُ رَآهُ غَيْرِي فَجَعَلْتُ

زه په ټولو خلکو کي تيز نظره وم، ما مياشت وليدل او په موږ کي يو سړی هم داسي نه وو چي هغه مياشت ليدلې وای،

أَقُولُ لِعُمَرَ أَمَا تَرَاهُ فَجَعَلَ لَا يَرَاهُ قَالَ يَقُولُ عُمَرُ سَأَرَاهُ وَأَنَا مُسْتَلْقٍ عَلَى

ما عمر بن خطاب رضي الله عنه ته مياشت ور ښودله او ورته وه مي ويل: ايا تاسو مياشت نه وينئ مګر هغه ته په نظر رانغله هغه وويل کله چي زه پر

فِرَاشِي ثُمَّ أَنْشَأَ يُحَدِّثُنَا عَنْ أَهْلِ بَدْرٍ قَالَ إِنَّ رَسُولَ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ

خپله بستره پريوځم نو ضرور به يې ووينم، ددې څخه وروسته عمر بن خطاب رضي الله عنه د بدر پېښي بيانولې او وه يې فرمايل چي رسول الله ﷺ

كَانَ يُرِينَا مَصَارِعَ أَهْلِ بَدْرٍ بِالْأَمْسِ يَقُولُ هَذَا مَصْرَعُ فُلَانٍ غَدًا إِنْ شَاءَ اللَّهُ

د جنګ څخه يوه ورځ مخکي موږ ته هغه ټول ځايونه ښودلي وه په کومو ځايو کي چي به مشرکان قتليدل، نو رسول الله ﷺ وفرمايل: سبا به دلته انشاء الله فلانی سړی مړ کيږي

هَذَا مَصْرَعُ فُلَانٍ غَدًا إِنْ شَاءَ اللَّهُ قَالَ عُمَرُ وَالَّذِي بَعَثَهُ بِالْحَقِّ مَا أَخْطَئُوا

او سبا به دلته انشاء الله د فلاني سړي مړی پروت وي، او سبا به انشاء الله پر دغه ځای فلانی مشرک مړ پروت وي، د حضرت عمر رضي الله عنه بیان دی قسم په هغه ذات چي هغه رسول د خدای په

الْحُدُودَ الَّتِي حَدَّهَا رَسُولُ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ قَالَ فَجُعِلُوا فِي بِئْرٍ بَعْضُهُمْ

حق سره راليږلی دی کوم ځايونه چي رسول الله ﷺ ښودلي وه د هغه څخه د ذرې په اندازه هم تجاوز ونه سو، بيا هغه کافران په څاه کي يو پر بل سربيره وغورځول سول،

عَلَى بَعْضٍ فَانْطَلَقَ رَسُولُ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ حَتَّى انْتَهَى إِلَيْهِمْ فَقَالَ يَا

بيا رسول الله ﷺ هغه څاه ته ورغلی او وه يې فرمايل: اې فلانی

فُلَانَ بْنَ فُلَانٍ وَيَا فُلَانَ بْنَ فُلَانٍ هَلْ وَجَدْتُمْ مَا وَعَدَكُمُ اللَّهُ وَرَسُولُهُ حَقًّا

د فلاني زويه! اې فلانی د فلاني زويه! ايا تاسو هغه شی حق او درست وليدی چي د هغه وعده خدای او د هغه رسول در سره کړې وه،

فَإِنِّي قَدْ وَجَدْتُ مَا وَعَدَنِي اللَّهُ حَقًّا فَقَالَ عُمَرُ يَا رَسُولَ اللَّهِ كَيْفَ تُكَلِّمُ أَجْسَادًا

ما خو هغه شی حق او درست وليدی چي د هغه وعده خدای را سره کړې وه، ددې اوريدو سره حضرت عمر رضي الله عنه عرض وکړ اې دالله رسوله! تاسو د چا سره خبري کوئ؟

لَا أَرْوَاحَ فِيهَا فَقَالَ مَا أَنْتُمْ بِأَسْمَعَ لِمَا أَقُولُ مِنْهُمْ غَيْرَ أَنَّهُمْ لَا يَسْتَطِيعُونَ أَنْ يَرُدُّوا عَلَيَّ شَيْئًا. رواه مسلم.

دا خو داسي بدنونه دي چي روح پکښي نسته، رسول الله ﷺ ورته وفرمايل څه چي زه وايم هغوئ يې ستاسو څخه زيات اوري اوري مګر په دوی کي د جواب ورکولو قدرت نسته. مسلم

تخريج: صحيح مسلم ۴\۲۲۰۲، رقم: ۷۶- ۲۸۷۳.

تشريح: زه خو د هر ژر پر خپله بستره باندي ...الخ: د دغه الفاظو په ذريعه حضرت عمر رضي الله عنه د هغه مياشتي د لېدو لپاره زياته هڅه کول غير ضروري وګڼل، د هغوئ دا مطلب وو چي کومو خلکو په خپلو سترګو سره مياشت ليدلې ده د هغوئ پر شاهدي به روايت ثابت سي يا دا چي زه به خپله نوې مياشت وينم، نو څو ورځي وروسته يا بله ورځ چي مياشت لويه او ځلانده سي او په

اساني سره به معلومه سي نو زه به يې هم ووينم، دا وخت چي زه مياشت نه وينم نو ددې لپاره د زيات كوښښ كولو ضرورت نسته، ددې څخه معلومه سول چي كوم شی ضروري نه وي د هغه په پلټنه كي خپل وخت او خپل طاقت ضائع كول په يو بې معنی شي كي وخت او توان برباد ول دي .

يوه پشكوئي او د هغې صداقت

﴿۵۶۸۷﴾: وَعَنْ أُنَيْسَةَ بِنْتِ زَيْدِ بْنِ أَرْقَمَ عَنْ أَبِيهَا أَنَّ النَّبِيَّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ

حضرت بي بي انيسه لور د زيد بن ارقم (رض) د خپل پلار څخه روايت كوي چي رسول الله ﷺ

وَسَلَّمَ دَخَلَ عَلَى زَيْدٍ يَعُوْدُهُ مِنْ مَرَضٍ كَانَ بِهِ قَالَ لَيْسَ عَلَيْكَ مِنْ مَّرَضِكَ

د زيد بن ارقم ﷺ د ناروغۍ پوښتني ته راغلی او وه يې فرمايل : ستا ناروغي خطرناكه نه ده

بَأْسٌ وَلٰكِنْ كَيْفَ لَكَ إِذَا عُمِرْتَ بَعْدِيْ فَعَمِيْتَ قَالَ أَحْتَسِبُ وَأَصْبِرُ قَالَ

مگر هغه وخت به ستا څه حال وي چي زما څخه وروسته ستا عمر اوږد وي او ته ړوند سې، زيد بن ارقم ﷺ عرض وكړ زه به د الله ﷻ څخه د ثواب غوښتونكی يم او صبر به كوم ، رسول الله ﷺ

إِذَنْ تَدْخُلُ الْجَنَّةَ بِغَيْرِ حِسَابٍ قَالَ فَعَمِيَ بَعْدَ مَا مَاتَ النَّبِيُّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ ثُمَّ رَدَّ اللهُ بَصَرَهُ ثُمَّ مَاتَ.

ورته وفرمايل بيا خو به ته بې حسابه جنت ته ځې، د راوي بيان دی چي د نبي كريم ﷺ د وفات څخه وروسته د زيد بن ارقم بينايي ختمه سوه او څه وخت وروسته بيا الله تعالی هغه ته بينايي وركړه او د هغه وروسته هغه مړ سو . بيهقي

تخريج: رواه البيهقي في دلائل النبوة.

تشريح: د رسول الله ﷺ ذكر سوې وړاند وينه ټكي په ټكي رښتونې سول چي په كومه ناروغۍ كي رسول الله ﷺ د زيد بن ارقم ﷺ پوښتني ته ورغلی وو په هغه سره هغه روغ سو، بيا د رسول الله ﷺ د وفات څخه وروسته د هغه بينائي ختمه سول ، بيا هم رسول الله ﷺ ددغه وړاندي ويلو پر وخت د زيد بن ارقم ﷺ په مخكي د هغه د بينائي بيا راتللو چي ذكر ونه فرمايه نو ددې وجه كيدای سي د رسول الله ﷺ دا خواهش وو چي په دغه صورت كي زيد بن ارقم ﷺ په صبر كي زيات تكليف وزغمي او بيا تر دې وروسته هغه ته زيات اجر او ثواب تر لاسه سي

كه هغه ته دا خبره مخكي هم معلومه سوې وي چي د بينائي تللو څخه وروسته به بيا ورته راسي نو هغه ته به دومره زياته پريشاني نه واى او د كامل صبر هغه مقام به يې نه په برخه كېدلاى چي د هغه په سبب د الله ﷻ له مرسته او نصرت ورته ترلاسه سو .

پر نبي ﷺ د درواغ ويلو عذاب

﴿۵۶۸۸﴾: وَعَنْ أُسَامَةَ بْنِ زَيْدٍ قَالَ قَالَ رَسُوْلُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ مَنْ

د حضرت اسامه بن زيد رضي الله عنه څخه روايت دئ چي رسول الله ﷺ وفرمايل : څوک چي

تَقَوَّلَ عَلَيَّ مَالَمْ أَقُلْ فَلْيَتَبَوَّأْ مَقْعَدَهُ مِنَ النَّارِ وَذٰلِكَ أَنَّهُ بَعَثَ رَجُلاً فَكَذَبَ

ما ته يو داسي خبره منسوبه كړي چي ما نه وي كړې نو هغه ته پكار ده چي خپل ځاى په دوږخ كي تيار كړي او د رسول الله ﷺ دا فرمايل پر يو پېښه مبني دي چي رسول الله ﷺ يو سړى ليږلى

عَلَيْهِ فَدَعَا عَلَيْهِ رَسُوْلُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ فَوَجَدَ مَيِّتًا وَقَدِ انْشَقَّ بَطْنُهُ وَلَمْ تَقْبَلْهُ الْأَرْضُ . رواهما البيهقي في دلائل النبوة.

وو هغه د رسول الله ﷺ د طرف څخه د درواغ خبره وكړل ، رسول الله ﷺ هغه ته ښيرا وكړل بيا هغه مړ وليدل سو په داسي حال كي چي د هغه نس چاودلى وو او ځمكي قبول كړى نه وو . بيهقي.

تخريج: رواه البيهقي في دلائل النبوة.

تشريح: د روايت آخري الفاظ ددې خبري علامه ده چي هغه سړى د تل لپاره دوږخي وګرځېدى، په دې اعتبار دغه روايت د هغه قول تائيد كوي چي د هغه خلاصه داده: په قصد سره رسول الله ﷺ ته د درواغ د خبري نسبت كونكى كافر كيږي .

د بركت معجزه

﴿۵۶۸۹﴾: وَعَنْ جَابِرٍ أَنَّ رَسُوْلَ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ جَاءَهُ رَجُلٌ يَسْتَطْعِمُهُ

د حضرت جابر رضي الله عنه څخه روايت دى چي رسول الله ﷺ ته يو سړى راغلى او خوراک يې

فَأَطْعَمَهُ شَطْرَ وَسْقِ شَعِيْرٍ فَمَا زَالَ الرَّجُلُ يَأْكُلُ مِنْهُ وَامْرَأَتُهُ وَضَيْفُهُمَا حَتَّى

وغوښتى، رسول الله ﷺ ورته نيم وسق اوربشي وركړې ، چي د هغه څخه به هغه د هغه ښځي او

د هغه ميلمنو هميشه خوراک کوی تر دې چې

كَالَهُ فَأَتَى النَّبِيَّ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ فَقَالَ لَوْ لَمْ تَكِلْهُ لَأَكَلْتُمْ مِنْهُ وَلَقَامَ لَكُمْ . رواه مسلم .

يوه ورځ هغه سړی اوربشي پيمانه کړې نو بيا هغه ژر ختمي سوې ، هغه سړی د نبي کريم ﷺ په خدمت کي حاضر سو ، رسول الله ﷺ ورته وفرمايل : که تا هغه نه وای پيمانه کړې نو تاسو خلکو به هميشه د هغه څخه خوړلای او هغه اوربشي به هم هغسي پر خپل حال وای . مسلم

تخريج: صحيح مسلم ۱۴\۱۷۸۴، رقم: ۹- ۲۲۸۱.

د لغاتو حل: لقام: اي علی وجه الدوام ببرکة.

مشتبه خوراک تر حلق کښته نه سو

﴿۵۶۹۰﴾: وَعَنْ عَاصِمِ بْنِ كُلَيْبٍ عَنْ أَبِيهِ عَنْ رَجُلٍ مِنَ الْأَنْصَارِ قَالَ خَرَجْنَا

عاصم بن کليب رضي الله عنه د خپل پلار څخه او د هغه د يو انصاري سړي څخه روايت کوي چې موږ

مَعَ رَسُولِ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ فِي جَنَازَةٍ فَرَأَيْتُ رَسُولَ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ

د رسول الله ﷺ سره د يو جنازې لمانځه ته ولاړو بيا ما وليدل چې نبي کريم ﷺ د قبر سره ولاړ

وَسَلَّمَ وَهُوَ عَلَى الْقَبْرِ يُوصِي الْحَافِرَ يقول أَوْسِعْ مِنْ قِبَلِ رِجْلَيْهِ أَوْسِعْ مِنْ قِبَلِ

دی او قبر کنبونکی ته وصيت کوي يعني دا چې د سر خوا ته قبر پراخ کړه،

رَأْسِهِ فَلَمَّا رَجَعَ اسْتَقْبَلَهُ دَاعِي امْرَأَةٍ فاجاب ونحن معه فَجِيءَ بِالطَّعَامِ فَوَضَعَ

کله چې رسول الله ﷺ راوګرځيدی نو د ښځي د لوري يو سړی رسول الله ﷺ ته د دعوت ورکولو لپاره راغلی ، رسول الله ﷺ يې دعوت قبول کړ او موږ د رسول الله ﷺ سره د خوراک لپاره ولاړو ،

يَدَهُ ثُمَّ وَضَعَ الْقَوْمُ فَأَكَلُوا فنظرنا الى آبَاؤُنَا رَسُولَ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ

خوراک چې د رسول الله ﷺ مخته کښېښودل سو نو لاس مبارک يې ور وړاندي کړ او نورو خلکو هم خوراک پيل کړ ، ناڅاپه په خوړلو خوړلو کي خلکو وکتل چې رسول الله ﷺ

يَلُوكُ لُقْمَةً فِي فَمِهِ ثُمَّ قَالَ أَجِدُ لَحْمَ شَاةٍ أُخِذَتْ بِغَيْرِ إِذْنِ أَهْلِهَا فَأَرْسَلَتْ الْمَرْأَةُ

په خوله کي دننه ګوله ګرځوي راګرځوي او تيروي يې نه، ددې څخه وروسته رسول الله ﷺ وفرمايل: ما ته دا د داسي پسه غوښه ښکاريږي چي د مالک د اجازې څخه پرته اخيستل سوې وي، د کور مالکي د رسول الله ﷺ په خدمت کي يو سړی وليږی

تقول يَا رَسُولَ اللَّهِ إِنِّي أَرْسَلْتُ إِلَى النَّقِيعِ وهو موضع يُبَاعُ فِيهِ الْغَنَم يَشْتَرِي

او وه يې ويل اې دالله رسوله ! ما نقيع ته يو سړی د پسو اخيستلو لپاره ليږلی وو په نقيع کي به

لِي شَاةً فَلَمْ توجد فَأَرْسَلْتُ إِلَى جَارٍ لِي قَدْ اشْتَرَى شَاةً أَنْ يرسل بِهَا بِثَمَنِهَا فَلَمْ

پسونه خرڅېدل مګر هلته يې نه کړه پيدا بيا ما خپل همسايه ته يو سړی وليږی چي يو پسه يې اخيستی وو چي دا را وليږه ما ته په قيمت سره يې

يُوجَدْ فَأَرْسَلْتُ إِلَى امْرَأَتِهِ فَأَرْسَلَتْ إِلَيَّ بِهَا فَقَالَ رَسُولُ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ أَطْعِمِيهِ هذه الطعام الْأَسْرَى .رواه ابوداؤد والبيهقي في دلائل النبوة.

مګر هغه همسايه هم پر خپل کور نه وو بيا ما د خپل همسايه ښځي ته سړی واستوی هغې هغه پسه ما ته را وليږی ، ددې اوريدو سره رسول الله ﷺ وفرمايل : دا خوراک بنديانو ته ورکړئ . بيهقي.

تخريج: سنن ابي داود ۳\ ۶۲۷، رقم: ۳۳۳۲.

د لغاتو حل: داعي امراته: اي زوجة المتوفي . (مړه مېړمن).

تشريح: ملا علي قاري رحمة الله عليه ليکلي دي د مړي د ډوډۍ ورکولو په اړه د فقهاؤ چي کوم قولونه نقل سوي دي په ظاهره دغه حديث د هغه خلاف دی، د مثال په توګه په بزازيه کي ليکلي دي چي د مړي د وارثانو له خوا په لومړنۍ ورځ يا دريمه ورځ او اوومه ورځ خلکو ته ډوډۍ ورکول مکروه دي، همدارنګه په خلاصه کي مذکور دی، په دريمه ورځ ناسته کي څه پروا نسته په شرط ددې چي منع شيان پېښ نه سي لکه کوربچې غوړول او ددعوت او مېلمستيا بندوبست کول او ابن همام هم ليکلي دي چي د اهل ميت مېلمستيا کول مکروه دي ، فقهاؤ دا علت بيان کړی دی چي مېلمستيا په خوشحالۍ کي جائز ده نه په غم کي، او ابن همام دا هم ويلي دي چي د اهل ميت مېلمستيا بدعت دی او امام احمد او ابن ماجه په صحيح سند سره د حضرت جرير ابن

عبد الله ﷺ څخه دا روايت نقل کړی دی چي د مړي په کور کي د خلکو په جمع کېدو او د مړي د کورنۍ له خوا خوراک ورکول موږ په نوحه کي شمېرو، چي د هغه سخته منع منقول ده، نو د عاصم ابن کليب روايت سوی مذکوره حديث د فقهاؤ د هغه اقوالو خلاف ګرځي، ضروري دي چي د فقهاؤ اقوال يا خو خاص نوعيت سره مقيد کړل سي مثال دا وويل سي چي د فقهي روايتونو مطابق د مړي په کور کي د خلکو راجمع کولو چي کومه منعه ده، هغه په دغه صورت کي ده کله چي خلک محض په رسمي توګه سره يا په ظاهره د مړي په کور کي راجمع سي او اهل ميت د هغوئ د خوراک بندوبست کولو باندي مجبور کړل سي، يا هغه فقهي روايتونه پر هغه صورت باندي محمول کړل سي چي په هغه کي د خوراک بندوبست د مړي د ميراث څخه وي او په وارثانو کي يو کم عمره وي يا موجود نه وي يا د هغوئ اجازه او رضا معلومه نه وي يا دا چي د خوراک بندوبست يو سړی د خپل ذاتي مال څخه نه وي کړی بلکه د مړي د مال څخه يې کړی وي چي د وارثانو په منځ کي تر اوسه ويشل سوی نه وي،

ددې څخه ماسوا څه نور صورتونه هم سته چي په هغه کي د مړي خوراک د مختلفو اسبابو په وجه مکروه دی لکه څرنګه چي زموږ په ځينو مقاماتو کي رواج دی چي پر ځينو ټاکل سوو تاريخو باندي يا د هغه څخه لږ مخکي يا وروسته خوراک پخېږي او په خلکو خوړل کېږي يا ويشل کېږي او ځيني خلک په پور کولو سره داسي کار کوي او د قاضي خان دغه قول هم پر دغه صورتو باندي محمول دی چي د غم او مصيبت په ورځو کي د مېلمستيا بندوبست کول مکروه دي ځکه چي هغه ورځي د غم د اظهار دي او کوم شی چي د خوشحالۍ او مسرت په موقع غمازوي هغه د غم پر موقع اختيارو نامناسب دي، مګر که مړي ته د ثواب رسولو په نيت په فقيرانو باندي د خوراک کولو لپاره د خوراک بندوبست وکړل سي نو دا به ښېله ښکه ښه کار وي، او کوم چي ددغه صورت تعلق دی که يو سړی دا وصيت وکړي چي د هغه د مرګ څخه وروسته د هغه د مال څخه دي د خوراک بندوبست وکړل سي او په خلکو دي تر درو ورځو پوري خوراک وکړل سي نو د زيات صحيح روايت سره سم دغه وصيت باطل ګرځول کېږي، که څه هم ځينو حضراتو ويلي دي چي وصيت به په دريمه برخه مال کي جائز وي او دا قول زيات مناسب معلومېږي، تر دغه ځايه چي څه نقل سوي دي هغه د ملا علي قاري رحمة الله عليه د خبرو خلاصه ده مګر ددې څخه دا ګڼل نه دي پکار چي هغوئ د فقهي روايتو پر څو صورتو باندي په محمول کولو سره په پاته نورو صورتو کي د اهل ميت له خوا د خوراک بندوبست کول مطلق جائز ګرځولي دي بلکه په هغه صورتو کي دي غور وکړل سي کوم ته چي مکروه او ممنوع ويل سوي

دي نو حقیقت به څرګند سي چي د مړي د خوراک کوم صورتونه او ډولونه په موږ کي رواج دي هغه د یو شي سره او په یو سبب د منع او مکروه صورتونو د دائرې څخه وتلي نه دي چیري چي د منع او کراهت یو سبب تر لاسه سي او چیري چي زیات اسباب تر لاسه سي نو د دغه حقیقت په خپله دغه حدیث کي د فکر څخه وروسته څرګندیږي او هغه دا چي په حدیث کي د خوراک ورکولو د هغه صورت ذکر دی چي د هغه په اړه قاضي خان رحمه الله لیکلي دي : که د مړي د ثواب رسولو په نیت په فقیرانو باندي خوراک وکړل سي نو دا به ښه عمل وي نو په ظاهره دا خبره زیاته صحیح معلومیږي چي په دغه حدیث کي د کوم خوراک ذکر دی هغه دمړي د ښځي د ایصال ثواب په نیت سره فقیرانو او مسکینانو ته د صدقې په توګه ورکول دي او د رسول الله ﷺ په خدمت کي هغه خوراک د تحفې په توګه وړاندي کړل سو په دې وجه خپله هغه د صحابه کرامو سره چي ضرورتمند او مفلس وه د مړي کور ته د هغه خوراک لپاره بوتلل،

ددې څخه ماسوا ځینو فقهاؤ دا لیکلي دي چي کوم خلک په تجهیز او تکفین کي شریک وي د هغوئ لپاره د اهل میت له خوا وړاندي کېدونکي خوراک صحیح دی یوازي دا نه بلکه کوم فقهاء چي د مصیبت خوراک ته مکروه وایي هغوئ هم دا صورت مستثنی کړی دی نو د مړي کور ته د خوراک لپاره در سول الله ﷺ او صحابه کرامو تلل پر دغه صورت باندي هم محمول کیدای سي چي هغوئ ټول په تجهیز او تکفین کي شریک وه ځکه د اهل میت پر دعوت خوراک کولو ته ورغلل ، ددغه بحث په رڼا کي دا څرګنده سول چي په دغه حدیث کي او فقهي روایتو کي هیڅ تضاد نسته ،

وهو موضع یباع فیه الغنم، هغه د یو ځای نوم دی ي هلته د څارویو رانیول او پلورل کیږي، دغه الفاظ د اصل روایت نه دي بلکه یو راوي د نقیع د وضاحت لپاره ویلي دي، څرګنده دي وي چي نقیع د مدینې منورې څخه د عقیق د شیلې خوا ته تقریبا پر شل میله فاصله باندي د یو ځای نوم دی چي په پخوانی زمانه کي د څارویو رانیولو او پلورلو لپاره وو ، نقیع د هغه بقیع څخه ماسوا دی چي د هغه اول حرف ب دی او هلته د مدینې منورې مشهوره هدیره ده .

او هغې هغه پسه ما ته را واستوی، د مړي ښځي چي د پسه کوم تفصیل بیان کړ د هغه څخه ثابته سول چي هغه پسه په صحیح توګه اخیستل سوی نه وو ځکه د هغه همسایه چي د پسه اصل مالک وو د هغه پسه د پلورلو لپاره صریحا اجازه نه وه تر لاسه کړل سوې د هغه پسه د پلورلو او رانیولو په مذکوره معامله کي دا ویل کیدای سي چي ددې صورت نژدې وو چي فقهاؤ په بیع فضولي سره تعبیر کړی وای او په دغه صورت کي د بیع صحیح کېدل د مالک پر

اجازې باندې موقوف دې، په هر حال دا خبره فیصله وه چې د هغه پسه غوښه مشبه مال وو او په دې وجه الله ﷻ د معجزې په توګه د رسول الله ﷺ نس ته د تللو څخه منع کړ.

دغه خوراک په بندیانو خورئ، په دې کې د بندیانو څخه مراد جنګې بندیان دې او دهغوئ په اړه غالب ګمان دادی چې هغوئ مفلس وه او څرنګه چې طیبي رحمة الله علیه لیکلي دي چې هغوئ کافران هم وه، مطلب دا چې هغه وخت د پسه اصلي مالک موجود نه وو چې د هغه د اجازې په تر لاسه کولو سره د پسه اخیستل صحیح ګرځول سوي وای او د هغه د غوښو څخه تیار سوی خوراک د رسول الله ﷺ او صحابه کرامو لپاره روا سوی وای او که د مالک د راتللو انتظاریې کړی وای نو د هغه خوراک د خرابېدو په وجه د خوراک او مصرف څخه پاته کېدی، بلې خوا ته د هغه بندیانو د خوراک بندوست کول هم وو ځکه رسول الله ﷺ هغه ټول خوراک په بندیانو د خوړلو حکم وکړ بیا هم دهغه پسه د ضائع کېدو په وجه مالک ته د هغه پوره قیمت ادا کول د هغه ښځې پر ذمه ضروري ګرځې چې هغې ادا کړ نو د هغې خوراک په هغه بندیانو د خوړلو د هغه ښځې له خوا د صدقې په حکم کې سو.

د ام معبد د میږې اړوند یوه معجزه

﴿۵۶۹۱﴾: وَعَنْ حِزَامِ بْنِ هِشَامٍ عَنْ أَبِيهِ عَنْ جَدِّهِ حُبَيْشِ بْنِ خَالِدٍ وَهُوَ أَخُ أُمِّ

حضرت حزام بن هشام رضی الله عنه د خپل پلار څخه او هغه د خپل پلار څخه هغه د نیکه څخه چې جیش ابن خالد وو او دی وررور وو د

مَعْبَدٍ أَنَّ رَسُوْلَ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ حِيْنَ أُخْرِجَ مِنْ مَكَّةَ خَرَجَ مُهَاجِرًا

ام معبد روایت کوي چې کله رسول الله ﷺ د مکې څخه په هجرت مدینې ته روان سو نو

إِلَى الْمَدِيْنَةِ هُوَ وَأَبُوْ بَكْرٍ وَّمَوْلَى أَبِيْ بَكْرٍ عَامِرُ بْنُ فُهَيْرَةَ وَدَلِيْلُهُمَا عَبْدُ اللهِ

ورسره ابوبکر رضی الله عنه او د ابوبکر رضی الله عنه ازاد سوی غلام عامر بن فهیره او عبد الله لیثي لار ښودونکي د دواړو وو،

اللَّيْثِيُّ مَرُّوْا عَلَى خَيْمَتَيْ أُمِّ مَعْبَدٍ فَسَأَلُوْهَا لَحْمًا وَتَمْرًا لِيَشْتَرُوْا مِنْهَا فَلَمْ

د مدینې په لاره کې د ام معبد د دوو خیمو سره تېرېدل هغوئ د خیمو والا څخه پوښتنه وکړه که د هغوئ سره غوښه او خرماوې وي نو د هغوئ څخه به رانیول سي

يُصِيبُوا عِندَهَا شَيْئًا مِنْ ذٰلِكَ وَكَانَ الْقَوْمُ مُرْسِلِيْنَ مُسْنِتِيْنَ فَنَظَرَ رَسُوْلُ اللّٰهِ

مګر د هغوئ سره هيڅ شی نه وو، دغه قوم لوږي او وچ کالی وهلي وه، ناڅاپه د رسول الله ﷺ

صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ إِلَى شَاةٍ فِيْ كِسْرِ الْخَيْمَةِ فَقَالَ مَا هٰذِهِ الشَّاةُ يَا أُمَّ مَعْبَدٍ

نظر پر يوې ميږي ولويدی چي د خيمې يو خوا ته ولاړه وه، رسول الله ﷺ پوښتنه وکړه اې ام معبد! دا

قَالَتْ شَاةٌ خَلَّفَهَا الْجُهْدُ عَنِ الْغَنَمِ قَالَ هَلْ بِهَا مِنْ لَبَنٍ قَالَتْ هِيَ أَجْهَدُ مِنْ

ميږه څنګه ده؟ام معبد وويل د ډيري کمزورۍ له کبله د رمې سره نه سي تللای، رسول الله ﷺ پوښتنه ځيني وکړه ايا دا شيدې کوي ؟ ام معبد وويل په کوم مصيبت کي چي دا اخته ده

ذٰلِكَ قَالَ أَتَأْذَنِيْنَ لِيْ أَنْ أَحْلُبَهَا قَالَتْ بِأَبِيْ أَنْتَ وَأُمِّيْ إِنْ رَأَيْتَ بِهَا حَلْبًا فَاحْلُبْهَا

د هغې په وجه په دې کي شيدې چيري دي، رسول الله ﷺ ورته وفرمايل: ايا ته اجازه کوې چي زه يې شيدې ولويشم؟ ام معبد وويل: زما مور او پلار دي پر تاسو قربان وي که تاسو ته ددې په تيانو کي شيدې معلوميږي نو وه يې لويشئ،

فَدَعَا بِهَا رَسُوْلُ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ فَمَسَحَ بِيَدِهِ ضَرْعَهَا وَسَمَّى اللّٰهَ تَعَالٰى

رسول الله ﷺ د هغه پر تيانو لاس مبارک را تيرولو سره بسم الله وويل او د برکت دعاء يې وکړل

وَدَعَا لَهَا فِيْ شَاتِهَا فَتَفَاجَّتْ عَلَيْهِ وَدَرَّتْ وَاجْتَرَّتْ فَدَعَا بِإِنَاءٍ يُرْبِضُ الرَّهْطَ

نو د شيدو ورکولو لپاره ميږي خپل پښې خلاصي کړې او شخوند يې شروع کړ، رسول الله ﷺ يو لوی لوښی وغوښتی چي ډير خلک ماړه کړي

فَحَلَبَ فِيْهِ ثَجًّا حَتّٰى عَلَاهُ الْبَهَاءُ ثُمَّ سَقَاهَا حَتّٰى رَوِيَتْ وَسَقٰى أَصْحَابَهُ حَتّٰى رَوُوْا

او په هغه کي يې شيدې ولويشلې چي لوښي ډک سو او د هغه سربيره ځګ راغلی ، ددې څخه وروسته يې هغه شيدې لومړی په ام معبد وڅښلې چي ښه ماړه سول بيا يې په اصحابو باندي و چيښلې تر هغو چي ښه او به سول

ثُمَّ شَرِبَ آخِرَهُمْ ثُمَّ حَلَبَ فِيْهِ ثَانِيًا بَعْدَ بَدْءٍ حَتّٰى مَلَأَ الْإِنَاءَ ثُمَّ غَادَرَهُ

او تر ټولو اخر کي يې په خپله وڅښلې، لږ وخت وروسته دوهم وار هغه بيا په هغه لوښي کي شيدې ولويشلې چي لوښی د شيدو څخه ډک سو نو بيا رسول الله ﷺ

عِنْدَهَا وَبَايَعَهَا وَارْتَحَلُوْا عَنْهَا . رواه في شرح السنة وابن عبد البر في الإستيعاب وابن الجوزي في كتاب الوفاء وفي الحديث قصة.

هغه شيدې ام معبد ته پريښودلې او بيعت يې ورسره وکړ او ځيني ولاړل. شرح السنه.

تخريج: البغوي في شرح السنة ۱۳\۲۶۱، رقم: ۳۷۰۴.

د لغاتو حل: مسنتين: اي اصابهم القحط (وچ کالي وهلي). ثجا: اي حلبا ذا سيلان. البهاء: اي الرغوة.

تشريح: د ام معبد اصلي نوم عاتکه بنت خالد خزاعيه دی، رسول الله ﷺ د خپل هجرت د سفر په دروان کي د هغې خيمې ته تشريف راوړی وو او هغه يې په اسلام مشرفه کړې وه، ام معبد ډېرو ټينګو عصابو او قوي زړه څښتنه وه او په هغه دښت کي اوسېدل، هغه به دخپلي خيمې څخه دباندي کښېنستل او پر لاره تلونکي هر ضرورتمند او مسکين د خوراک او څښاک بندوبست به يې کوی.

په دغه حديث کي د پېښي نور تفصيل هم سته او هغه دادی چي کله رسول الله ﷺ د ام معبد ﷺ د خيمې څخه مخکي په سفر روان سو او ام معبد خپل خاوند ابومعبد ته ټوله پېښه بيان کړل او په ډېر فصيح او بليغ الفاظو کي يې د رسول الله ﷺ د اوصافو او فضائلو په بيانولو سره وويل چي يو ډېر برکتمن ذات زموږ خيمې ته راغلی وو او دغه شيدې د هغه مبارک د راتګ په طفيل دی، ابومعبد ددغه خبرو په اورېدو سره وويل: يقينا هغه ذات د قريشو څخه هغه سړی دی چي د هغه ډېر صفتونه ما په مکه کي اورېدلي دي که زما د تللو توان وسي نو زه به د هغه ذات په خدمت کي خامخا حاضر سم.

په يوه روايت کي منقول دي چي کله رسول الله ﷺ د هجرت په شپه د حضرت ابوبکر صديق رضي الله عنه په روانېدو سره دمکې څخه روان سو، او د مکې کفار د رسول الله ﷺ په معلومات کولو کي ناکام سول چي رسول الله چيري دی او کومي خوا ته تللی دی نو يو مسلمان پيري د ابو قيس غره ته په ختلو سره په زوره اشعار ويل پيل کړل، دمکې خلکو په حيرت سره د هغه آواز اورېدی چي د هغوئ غوږو ته راتلی مګر هغه آواز چي د کومي خوا څخه راتلی هلته هيڅوک نه معلومېدی، په هغه اشعارو کي دوه شعرونه دادي:

جزى الله رب الناس خير جزائه رفيــقين حلا خيمتى ام معبد

هما نزلا بالهدى واهتديــت به فقد فاز من امسى رفيق محمد

============